هٰذَا بَيَانٌ لِّلنَّاسِ وَهُدًى وَّمَوْعِظَةٌ لِّلْمُتَّقِيْنَ

تفہیم القرآن

سید ابوالاعلیٰ مودودیؒ

اوّلہ حصہ

دسورۃ الفاتحہ — سورۃ الانعام پورے

پُښتو ترجمہ

پروفیسر شفیق الرحمٰن
تخت بھائی ۔ مردان

(دَ تفهیم القرآن اوُ دَ هغے دَ پښتو ترجمے په باره کښے مختصره تبصره)

۲۹ / ۶ / ۲۰۰۰

مولانا مودودیؒ دَ خپل دَور یو لوئے حق پرست او حق کو عالم وو ، دهٔ دَ قرآن کریم دَ اصولو مطابق یو اسلامی تحریک هم شروع کړے وو اوُ دَ سلف صالحینُ دَ طریقے مطابق دَ قرآن کریم یو تفسیر هم لیکلے وو چه نوم ئے تفهیم القرآن دے ضروری نه ده چه دَ مولانا ئے مرحوم دَ هرے خبرے سره او دَ تفهیم القرآن دَ هر یو تاویل او توجیه سره زما اتفاق وی لیکن دا خبره زهٔ په اعتماد او یقین سره کولے شم چه په دے تفسیر کښے دَ اصول تفسیر او دَ اصول اهل سنت نه خلاف څهٔ خبره مانهٔ ده لیدلے ـ دَ دے تفسیر اسلوب تحقیقی هم دے اوُ زړه راخونکے هم دے دَ دے نوے دور مُنَوِّرِین او متجدِّدین یعنی تش دَ نوم روشن خیال دانشوران او جدیدیت پسنده مصنفین په خپلو کتابونو اوُ تفسیرونو کښے چه کوم تجدُّد او آزادانه اجتهاد اختیار کړے دے دَ مولانا مودودیؒ تفسیر اوُ کتابونه دَ دے قسم خرابونه محفوظ دی فالحمد لله البته دَ مسائلُ اوُ مباحثُ تحقیق و تنقیح مولانا په جدید اسلوب تحریر کښے او جدید اصطلاحاتُ کښے په ډیر ښکلی او خوږ انداز سره کړیدے الله تعالی دے مولانا مرحوم ته دَ دے اجر موعود ورکړی اوُ دَ دوی محنت اوُ سعی مشکور اوُ مقبول اوُ کرزوی آمین .

دا تفسیر په اُردو ژبه کښے لیکلے شوے وو لیکن پروفیسر شفیق الرّحمٰن صاحب دَ دے ترجمه په فصیحه او سلیسه پښتو ژبه کښے کړیده دا ترجمه ما خو مکمل نده کتلے لیکن دَ بعضے مقاماتو دَ مطالعے نه ما اندازه ګولے ده چه ترجمه صحیح هم ده مربوطه هم ده او عام فهمه هم ده ـ مولانا مودودیؒ دَ قرآن کریم دَ کلماتُ لفظی ترجمے په ځائے دَ ترجمانئے او دَ تفهیم طریقه اختیار کړے وه یعنی دَ آیاتُ مفهوم ئے په اُردو محاوره کښے واضح کړیدے لیکن لغوی اوُ لفظی معنے هم ملحوظ ساتلی ساتلی دی ـ پروفیسر شفیق الرحمٰن صاحب هم په خپله ترجمه دَ مولانا اسلوب برقرار ساتلے دے او په پښتو محاوره کښے دَ « تفهیم القرآن » ترجمانی کړیده امید دے چه لوستونکی به دَ دے ترجمے نه فائده بیا مومی ـ دَ دے ترجمے دِرے ړومبنی جلدونه اول کښے جماعت اسلامی تخت بهائی شائع کړے وه لیکن اوُس دا ترجمه مکمل شکل کښے (پوراسٹ) مکتبهٔ الهُدیٰ مردان دَ طرفه نه شائع کیږی ـ زما دُعا ده چه الله تعالی موږ ټولو ته دَ قرآن صحیح فهم اوُ علم نصیب کړی دَ قرآن دَ تعلیماتو مطابق ژوند تیرولو توفیق او بخی او دَ قرآنی نظام دَ غلبے او قیام دَ پاره دَ جد وجهد کولو توفیق راکړی آمین

مولانا ګوهر رحمٰن
شیخ القرآن والحدیث جامعه تفهیم القرآن مردان

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

دیباچه

تراوسه پورے زموږ په ژبه کښے دَ قرآن مجید دومره ډیرے ترجمے او تفسیرونه شویدی چه که چرے اوس یو سړے یوه نوی ترجمه یا یو نوے تفسیر دَ برکت او دَ ثواب کټلو د پاره لیکی نو هغه به داسے ښکاری لکه چه خپل وخت او محنت په صحیح ځائے کښے نۀ لګوی. په دے لړ کښے به نور زیات کوشش صحیح او مناسب هله وی چه سړے دَ قرآن مجید دَ تفسیر داسے کمے پوره کړی چه هغه دَ مخکینو ترجمه کونکو او تفسیر لیکونکو نه پاتی شوے وی او یا دَ نن صبا دَ قرآن دَ طالبانو یو داسے ضرورت وی چه په مخکینو تفسیرونو کښے نۀ پوره کیږی.

په دے کتاب کښے دَ قرآن مجید دَ ترجمے او په قرآن مجید دَ پوهے راوستلو ټول کوشش هم په دے بنیاد باندِ دے. دَ یوے مودے راسے ما دا محسوسه وله چه زموږ په عام تعلیم یافته خلقو کښے دا شوق راپیدا شوے دے او دا شوق ورځ په ورځ نور هم زیاتیږی، چه دَ قرآن مجید په حقیقی مطلب او مدّعا ځان پوهه کړی، خو دَ موجوده قابل قدر و ترجمو او تفسیرونو نه دَ هغوئ دا شوق تراوسه پورے پوره نۀ شو. د دے سره سره ما ته دا هم ښکاریدله چه دَ دوئ دَ دے شوق پوره کولو د پاره زۀ هم څه خدمت کولے شم. دا دوه وجے دے چه ما تفهیم القرآن کتاب او لیکلو او د دے کتاب په وجه که خلق په قرآن مجید څه لږ هم پوهه شو نو دا به زما د پاره ډیره لویه خوش نصیبی وی.

په دے کار کولو کښے زما دا مقصد نۀ دے چه کوم خلق عالمان دی، تحقیق کونکی دی او یا دَ عربئ ژبے او دَ دینی علم پوره کولو نه روستو په قرآن مجید یو ژورا و تحقیقی نظر اچول غواړی، کنی دَ هغوئ ټول ضرورتونه به په دے کتاب سره پوره شی. دَ دے حضراتو دَ ضرورت پوره کولو دپاره دَ مخکښے نه ډیر کار شوے دے. زۀ چه دَ کومو خلقو دپاره خدمت کووم هغه دَ منځنئ درجے تعلیم یافته خلق دی چه دَ عربئ ژبے نه ناخبره دی او دَ هغوئ دپاره دا ممکنه نۀ ده چه دَ قرآن دَ علمونو نه فائده واخلی. دَ داسے خلقو ضرورت پوره کول په دے کتاب کښے زما مقصد دے. او دَ دے وجے نه مَا ډیر داسے تفسیری بحث هډو کړے نۀ دے چه دَ علم تفسیر دپاره خو ډیر ضروری او اهم دے خو دَ دے طبقے دَ خلقو دپاره هیڅ ضروری نۀ دے. په دے کتاب کښے زما دا مقصد دے چه که چرے یو عام سړے دا کتاب لولی نو چه ورسره ورسره دَ قرآن په مطلب او مُدّعا هم پوهه شی او په زړۀ ئے هغه اثر وشی کوم چه دَ قرآن په اوریدلو سره کیږی. هم دا رنګے چه دَ لوستلو په دوران کښے کوم مشکلات دۀ ته مخے ته راشی هغه په هغے ځائے صفا شی، او که په ذهن کښے ئے څه سوال راپیدا شی نو دَ هغے جواب ورته په وخت ملاؤ شی. دا زما کوشش دے. او س دا فیصله عام لوستونکی خلق کولے شی چه په دے کوشش کښے زۀ ترکومه پورے کامیاب یم. هر څنګه چه وی زما دا کوشش آخری ټکے نۀ دے. هر لوستونکی ته دا زما درخواست دے چه په کوم ځائے کښے څه کمے وی، یا چرته دَ یو سوال جواب نۀ وی، یا چرته مقصد بنۀ نۀ پوره کیږی، نو دَ هغے نه دِ ما خبر کړی چه زۀ ئے دَ بنه کولو کوشش اوکړم. دا درخواست زما علمائے کرامو ته هم دے چه ما دِ دَ خپلو غلطونه خبر کړی.

دَ ترجمے کولو او دَ مطلب بیانولو په حقله یو څو خبرے

په دے کتاب کښے ما دَ ترجمے دَ زړے طریقے په ځائے دَ ترجمانئ یوه آزاده طریقه اختیار کړیده. د دے دا وجه نۀ ده چه زۀ دَ لفظ دَ پابندئ سره دَ قرآن ترجمے کولو ته غلط وایم. بلکه اصل وجه دا ده چه زما نه مخکښے ډیرو بزرګانو دَ قرآن ښکلے ښکلے ترجمے کړی دی او س دَ دغے شان ترجمو کولو ضرورت نۀ دے پاتے شوے. په فارسی ژبه کښے دَ شاه ولی الله صاحب

ترجمه، په اردو ژبه کښے د شاه عبدالقادر صاحب، شاه رفیع الدین صاحب، مولانا محمود الحسن صاحب، مولانا اشرف علی صاحب او د حافظ فتح محمد صاحب جالندهری ترجمه هغه مقصد و نه بشپړوره کوی د کوم د پاره چه د لفظی ترجمے ضرورت وی لیکن څه ضرورتونه داسے دی چه د لفظی ترجمے سره نه پوره کیږی او نه به پوره شی. دده ضرورتونو پوره کولو پاره ما دا آزاده ترجمانئ کوشش کړے دے.

د لفظی ترجمے اصل فائده دا ده چه سړی ته د هر لفظ مطلب معلوم شی، او د هر آیت لاندے چه لیکلی شوی ترجمه وائی نو د هغے آیت په مطلب هم پوهه شی. لیکن دده فائدے سره د لفظی ترجمے څه نقصانات هم دی چه د هغے په وجه د عربئ نه ناواقفه سړے د قرآن مجید نه ښه فائده نشی اخیستلے.

په لفظی ترجمه کښے د ټولو نه اول داسے دی چه نه په عبارت کښے روانی وی، نه په وینا کښے څه زور وی. نه په خبرو کښے خوږ والے وی او نه د ئے کلام څه اثر لری. د قرآنی ټکو نه لاندے داسے بے مزه عبارت وی چه سړے ئے وائی نو نه ئے روح کښے کږی راځی، نه ئے غوږونه زبردیږی، نه ئے د ستر کونه اوښکے بهیږی، نه ئے په جذباتو کښے حرکت راځی، او نه په دے پوهیږی چه زما نه د ته یو داسے شیز کوزیږی چه عقل او فکر بدلونکے دے. په نه د هغه نکے اثر کول خو لا پرے پرے دده غرض ترجمے د ئیلو په وخت کښے اکثر د سړی په زړه کښے دا راځی چه ریښتیا دا هغه کتاب دے چه تولے دنیا ته دا ویلے شوی وو چه دده په شان دده کتاب په مقابله کښے یو کتاب او نیکئ؟ دده وجه دا ده چه په لفظی ترجمه کښے خو صرف وچ مطلب بیان شوے وی، په هغے کښے د ادبی ژبے هغه خوند ناک خوږ والے نه وی کوم چه د قرآن په اصلی عبارت کښے موندلے شی. حالانکه قرآن د خپل پاک تعلیم او د خپل اوچتو مضمونونو په وجه څه اثر لری نو په هغے کښے د ادبی رنګ هم ډیره لویه برخه ده. دا خو په قرآن کښے ادبی رنګ وو چه د سړی د سخت نه سخت زړه ښے نرمه ولو، او د آسمانی تندر پشان په ئے د عربو تولنه زمکه رټوله، او دغه اثری طاقت ئے د قرآن مخالفینو هم منلے وو. ځکه خو هغوئ دده نه یرېدل چه داد جادو پشان اثر لرونکے کلام هر چا چه اوریدلے دے په هغه ئے ضرور اثر کړے دے. دا ادبی زور که په قرآن کښے نه وے او د ترجمے په رنګ یوه ژبه کښے نازل شوے وے نو نه به ئے د عربو په زړونو کښے نری او جوش پیدا کړے وے او نه به ورته هغه شان کامیابی حاصله شوی وه کومه

چه ورته په حقیقت کښې حاصله شوی ده.

دَ لفظي ترجمې دَ بې اثرئ یوه وجه دا هم ده چه اکثرے ترجمې دَ دَوُو کو خو په منځ کښې لیکلی شوی وی، او یا دَ نوے طریقے مطابق دَ صفحے په یو طرف کښې قرآني عبارت او بل طرفته مخامخ دَ هغے ترجمه لیکلی شوی وی. دا طریقه خو دَ لفظي ترجمې د پاره ډیره مناسبه ده ځکه چه دَ هر لفظ او دَ هر آیت په مقابله کښې دَ هغے لیکلی شوی ترجمه ملاویګی. لیکن ددے نقصان دا دے چه څه رنګے یو سړے نور کتابونه وائی او دَ وینا سره سره دَ هغے په مطلب باندې پوهیږی او اثر هم قبلوی، نو دغه رنګے نهٔ خو سړے یوه ترجمه مسلسله روانه وئیلے شی او نهٔ په سړی څه اثر کوی، ځکه چه دَ مطلب اغستلو په دوران کښې لوستونکی ته یوه ناآشنا ژبه بیا بیا مخے ته راځی. دَ انګریزئ ترجمې ددے نه زیاتے بے اثره وی. په هغے کښې خو دَ یو یو آیت ترجمه بیله بیله نمبروار دَ انجیل دَ ترجمې په شان لیکلی شوی وی. که دَ ښهٔ نه ښهٔ مضمون وی خو چه ته دَ هغے فقرے ځان له ځان له نمبروار بره لاندې اولیکے او بیائے وائے نو تا ته به پخپله پته اولګی چه دَ مسلسل روان عبارت نه څومره اثر ستا په ذهن کیږی دَ هغے په نیمه اثر هم دوغے مضمون دَ نمبروار فقرو نه نهٔ حاصلیږی.

دَ لفظي ترجمې دَ بے اثرئ یوه بله غټه وجه دا ده چه دَ قرآن دَ وینا طرز تحریری نهٔ دے بلکه تقریری دے. که چرے دَ ترجمې کولو په وخت کښې دَ تقریر بیان دَ تحریر بیان کښې بدل نهٔ کړے شی او هُو به هُو لفظي ترجمه اوکړے شی نو ټول عبارت به جُدا جُدا بے مزے شی. دا خو هر چا ته معلومه ده چه دا ول سر نه قرآن دَ کتابچو په شکل کښې تقسیم شوے نهٔ وُو، بلکه قرآن به لږ لږ، وخت په وخت دَ ضرورت مطابق یو یو تقریر په نبي صلی الله علیه وسلم باندې نازلیدلو او هغه به خلقو ته خطابي شکل کښې اورولو. دَ تقریر په وینا او دَ تحریر په لیکلو کښې ښکاره ډیر لوئے فرق وی. مثلاً په تحریر کښې چه یو شک بیان شی نو هغه ختم شی. لیکن په تقریر کښې خو شک شُبهه کونکی مخے ته حاضر ناست وی، او ددے خبرے کولو هډو ضرورت نهٔ راځی چه "خلق دا سے وائی" بلکه تقریر کونکے په خپلو روانو خبرو کښې دا سے یوه خبره اوکړی چه دَ خلقو شک په خپله ختم شی. دَ تحریر په دوران کښې که یوے دا سے خبرے لیکلو ته ضرورت راشی چه دَ روانو خبرو نه ئے مطلب جُدا وی، نو هغه خبره دَ روان عبارت نه بیله په دا سے رنګ

کښې اولیکلے شي چه اصلي عبارت روان پاتے شي او مطلب ئې هډوګډ وډ نشي. دغه جملے ته جمله معترضه وائي. لیکن یو تقریر کونکے د خپل تقریر په دوران کښې ډیرے ډیرے خبرے د خپلے موضوع نه بدلے بدلے په داسے طرز وکړي چه تقریر مسلسل روان پاتے شي او هډو د موضوع نه بدل نه ښکاري. په تحریر کښې چه خبره د ماحول سره یو شان کول غواړے نو د لفظونو د استعمال نه به کار اخلے. لیکن د تقریر په دوران کښې ماحول پخپله د خبرے سره یو شان کیږي، که تقریر کونکے خپل ماحول ته څه اشاره او نه کړي او خپلے خبرے جاري او ساتي نو په مطلب کښې ئې څه فرق نه راځي. تقریر کونکے چه د یوے ډلے بحث کوي نو کله ئې د غائب په حیثیت یاده وي او کله ئې د حاضر په حیثیت، کله یو سړي ته اشاره کوي او کله ډیر مخلوق ته، کله به د چا وینا په داسے رنګ کوي چه ته به وائے چه دا هغه سړے په خپله لګیا دے، کله به د یوے ډلے د طرفنه خبرے کوي، کله به د یو بالائي طاقت نمائندګي ښکاري، او کله به دومره درنے خبرے شروع کړي لکه چه دے پخپله یو بالائي طاقت وي. په تقریر کښې خو دا ټولے خبرے ښه ښکاري لیکن په تحریر کښې ډیرے بدي لږي. هم دا وجوهات دي چه کله څوک د چا تقریر هُو به هُو اولیکي او بیا هغه لیکلے شوے تقریر څوک بل څوک وائي نو ډیر ګډ وډ ورته ښکاري ځکه چه هغه ویونکے خو د تقریر د حالاتو نه او د ماحول نه ناخبره وي. دغه شان هم دا وجه ده چه څوک ناپوهه خلق د عربئ ژبے قرآن وائي نو ورته بے ربطه او ګډ وډ ښکاري. د قرآن په اصلي عبارت کښې کمے زیاتے راوستل خو حرام دي نو ځکه د ربط راوستلو د پاره د قرآن د اصلي عبارت نه یوے ډډے ته حاشیه لیکلے شي. لیکن دا ربط راوستل به نور هم ښه آسان شي که چرے د ترجمے کولو په وخت کښې د قرآن مجید تقریري انداز په تحریري انداز کښې بدل کړے شي.

لکه څنګه چه ما اوس وئیلي دي چه د قرآن مجید هر سورت په اصل کښې یو تقریر وو. دا تقریر به هله نازلیدلو چه کله به د اسلام د خوَرَولو په کار کښې څه واقعه پیښه شوه او یا به څه ضرورت مخے ته راغے نو د دغے ضرورت د پوره کولو د پاره به یو سورت نازل شو. د خپل خپل سورة د خپلو خپلو حالاتو او واقعاتو سره دومره مضبوط تړون دے چه که چرے یو اځے د قرآني الفاظو ترجمه اوشي او خپل واقعات ورسره بیان نشي نو ډیر ځایونه به پکښې داسے راشي چه په هغے به هډو سړے پوهه نشي او ډیر ځایونه به داسے راشي چه سړے به ترے غلط او اپوټه مطلب واخلي. او دا هم ډیره

ممکنه ده چه سړے هډو دَ قرآن په مطلب باندِ پوهه نشي. په قرآن کښے دا قسمه مشکلات دَ تفسیر په ذریعه لرے کیدے شي ځکه چه دَ قرآن په اصلي عبارت کښے څه کمے زیاتے خو کیدے نشي لیکن دَ قرآن دَ ترجمے کولو په معامله کښے موږ ده دومره آزاده ترجمه هم کولے شو چه په هغے کښے تر ډیره حده پورے دَ شانِ نزول او دَ متعلقه واقعاتو تشریح هم وي او بیا د لوستونکي د پاره دغه ترجمه وزنداره او مزیداره وي.

یوه خبره دا هُم ده چه دَ قرآن ژبه عربي مبین خوده لیکن ورسره ورسره یو خاص اصطلاحي شان هم لري. قرآن کښے دا سے ډیر لفظونه استعمال شوي دي چه معنیٰ ئے اصلي دَ لغوي معنیٰ نه بدله وي او کله خو دَ یو لفظ معنیٰ په یو ځائے کښے یو شان او بل ځائے کښے بل شان وي. نو کومے ترجمے چه دَ لفظ دَ پابندئ سره کیږي په هغے کښے دا اصطلاحي شان برقرار ساتل ډیر مشکل وي. او دغه وجه ده چه څوک لفظي ترجمے لولي هغه ته په مطلب پوهیدل ډیر گران وي. مثلاً یو لفظ دَ "کفر" واخله، چه په قرآن کښے دا لفظ دَ عربئ دَ لغت نه او دَ فقهاؤ او دَ متکلمینو دَ اصطلاح نه بالکل په مختلفه او بدله اصطلاح کښے استعمال شوے دے، په هر ځائے کښے یو شان معنیٰ نه لري، چه یو ځائے کښے تر مراد دَ ایمان نه خالي حالت وي نو بل ځائے کښے تر مراد صرف انکار وي، یو ځائے کښے ئے مطلب ناشکري وي او بل ځائے کښے ئے مطلب دَ اسلام حکمونه نه پوره کول وي، کله ئے دا لفظ دَ انسان دَ هغے حالت د پاره استعمال کړے وي چه عقیده ئے درسته وي خو عمل ئے دَ نافرمانو خلقو په شان وي، او کله ئے دَ انسان دَ هغے حالت ښکاره کولو د پاره استعمال کړے وي چه هغه حالت په ظاهره درست ښکاري خو دَ انسان خپله عقیده درسته نه وي - اوس که چرے دَ قرآن په هر ځائے کښے دَ لفظ "کفر" ترجمه یوه خاصه معنیٰ کیږي نو دا ترجمه به په خپل ځائے باندِ صحیح خو وي لیکن ترجمے لوستونکي به په ځنے ځائے کښے په مطلب نه پوهیږي، په ځنے ځائے کښے به غلط مطلب اخلي او کله به په شک کښے پریوزي.

دَ لفظي ترجمے دَ دے کمي پوره کولو د پاره ما دَ آزادے ترجمانئ طریقه اختیار کړیده. دَ قرآني الفاظو نه دَ اُردو الفاظو جوړولو په ځائے ما دا کوشش کړے دے چه دَ قرآن دَ لوستلو نه کوم مطلب زما ذهن ته راغلے دے او دَ هغے کوم اثر زما په زړهٔ باندِ شوے دے، ما هم هغه مطلب او اثر په خپلو الفاظو کښے بیان کړے دے.

یوه ترجمه کوری. دَ دے نه روستو دِ دَ تفهیم القرآن صرف ترجمه دَ یو روان عبارت په شان اووائي چه دَ خپل سبق په مطلب پوره پوهه شي بیا پس دَ هغے نه دِ دَ یو یو آیت دَ تفصیل دپاره حاشیے اوکوري. امیدلرم چه په دا شان لوستلو به که عالمانه پوهه نهٔ وي نو عامه پوهه خو به انشاء الله ډیره ښه راشي.

دا کتاب ما په محرم سنه ۱۳۶۱ھ (فروري سنه ۱۹۴۲ء) کښے شروع کړے وُو. دَ پنځو کالو نه دَ زیاتے موده پورے دا کار جاري وُو. اَن تر دے چه دَ صورت یوسف دَ آخره پورے دَ ترجمانئ او دَ تفهیم کار تیار شو. دے نه روستو څه دا سے اسباب جوړ شو چه نهٔ راته دَ مخکښے لیکلو موقع په لاس راغله او نهٔ دومره وزګار شوم چه شوے کار دوباره اوګورم او په کتابي شکل کښے ئے خلقو ته وړاندِ کړم. او س که تهٔ دے ته ښهٔ وائے او که بد، په اکتوبر سنه ۱۹۴۸ء کښے زهٔ ناسا په دَ پبلک سیفتي ایکټ لاندِ اونیوے شوم او په جیل کښے وردننه کړے شوم، نو په جیل کښے راته ښه وخت ملاؤ شو او کتاب مِ دَ چاپ کولو قابل کړو. زهٔ دَ خدائے نه دا دُعا غواړم چه ما دا محنت دَ څه غرض دپاره کړے دے هغه دِ خدائے پوره کړي او خدائے دِ کړي چه ددے کتاب په مدد خلق په قرآن مجید پوهه شي.

وَمَا تَوْفِيْقِيْ اِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْمِ۔

ابُو الاعلیٰ

نیو سنټرل جیل ملتان

۱۷ ذی القعده سنه ۱۳۶۸ هجری (۱۱ ستمبر سنه ۱۹۴۹ء)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

مُقَدِّمَه

دَ مقدمے دَ لفظ په لیدلو سره دِ څوک پدے نۀ دوکه کیږی چه کنی زۀ دَ قرآن مقدمه لیکم. دا دَ قرآن مقدمه نۀ ده، دَ تفهیم القرآن مقدمه ده. او دَ دے دَ لیکلو نه زما دوه مقصدونه دی:

یو دا چه یو عام قرآن لوستونکے دَ قرآن شروع کولو نه مخکښے دَ هغه خبرونه ښه خبر شی کومے چه دَ قرآن په پوهیدلو کښے آسانتیا راولی. که دا سے اُو نۀ شی نو هوم دا خبرے به دَ قرآن دَ لوستلو په دوران کښے سړی ته بیا بیا مخے مخے ته کیږی، او اکثر خو دا سے اُو شی چه دَ دے خبرو دَ نۀ پوهیدو په وجه سړے دَ ډیرے مودے پورے په قرآن سرسری تیریږی راتیریږی خو په ژور مطلب ئے نۀ پوهیږی.

دویم دا چه دَ دا سے قسمه سوالُونو جوابونه دا ول نه اوکړے شی کوم چه عام طور دَ خلقو په ذهن کښے عین په هغه وخت کښے پیدا کیږی کله چه هغوئ په قرآن باندِ دَ پوهیدلو کوشش کوی. په دے مقدمه کښے خو زۀ صرف دَ هغے سوالُونو جوابونه لیکم کوم چه اول اول زما په ذهن کښے راغلی وُو او یا روستو زما ذهن ته راغلل. د دے نه علاوه که چرته دَ نورو سوالونو جوابونه پاتی شوی وی نو دَ هغے نه ما خبر کړئ. د هغے جوابونه به انشاءالله هم په دے مقدمه کښے اولیکم کله چه بیا دا کتاب چاپ کیږی.

عام طور چه مونږه دَ کومو کتابونو لوستلو عادت یو، په هغے کښے دَ یو خاص موضوع لاندِ څه معلومات، خیالات او دلائل په یو خاص ترتیب سره لیکلی شوی وی. دغه وجه ده چه کله دَ قرآن مجید نه یو نا اشنا سړے په اول ځل دَ دے کتاب دَ کتلو اراده اوکړی، نو دَ هغه په خیال کښے دا وی چه دا هم یو کتاب دے، په دے کښے به دَ نورو

کتابونو په شان یو خاص موضوع وی، بیا به په ډیرو حصو کښې تقسیم شوی وی، او په یوه یوه مسئله به ځان له ځان له بحث شوے وی، د ژوند مختلفے څانګے به جُدا جُدا لیکلی شوی وی او د هرے څانګے حکمونه به پکښې بَیل بَیل بیان شوی وی. خو چه کله هغه کتاب د کتلو د پاره بیرته کړی نو ګوری چه د کتاب ټول انداز سراسر بدل دے، ټول کتاب ورته ناآشنا ښکاره شی. هغه وینی چه په کتاب کښې د عقیدے مسئلے، اخلاقی خبرے، د شریعت حکمونه، اسلام ته بلنه، د نصیحت او د عبرت خبرے، تنقید او ملامتیا، یَرول، زیرے ورکول، دلیلونه تاریخی قیصے او د قدرت کاریګری ته اشارے کول، په یو بل پسے بیا بیا راغلی دی. یوه خبره په بَیل بَیل طرز کښې په نورو نورو الفاظو سره دوباره دوباره شویده. ذکر د یوے خبرے کیږی او ناسا په پکښې بله بله خبره شروع شی، د خبرے مینځ کښې بله خبره شروع شی. خبری د یُونکے کله یو څوک وی او کله بل څوک، او چه چا ته خبری کیږی هغه هم کله څوک وی او کله څوک. د کتاب بَیلو بیلو حصو کښې تقسیم نشته، تاریخ پکښې د تاریخ په طرز نشته، د فلسفے او آخرت (ومابعد الطبیعیات) بحث پکښې د منطق او فلسفے په شان نه دے، د انسان او د دُنیاوی څیزونو ذکر پکښې د سائنسی علومو په طریقه شوے نه دے، د سیاست او د استوګنی خبری پکښې د عمرانی علومو په طرز نه دی شوی، د قانون اصول او د قانون حکمونه د قانون سازانو د طریقو نه بالکل بدل دی، د اخلاقو تعلیم د فلسفهٔ اخلاق د کتابونو د انداز نه بیخی بل شان دے. دا ټولے خبرے چه سړے په قرآن کښې د خپل خیال نه بدلے په بل طرز کښې اُووینی نو حیرانه او پریشانه شی، هغه ته داسے ښکاری چه دا ځان له ځان خورے وَرے خبری دی خو په روان عبارت کښې لیکلے شویدی د چا چه په قرآن ایمان نه وی او قرآن ګوری نو هغه هم د دی خبرو نه خپل اعتراضات شروع کړی. او د چا چه په قرآن ایمان وی نو هغه خو کله معنو ته خیال نه کوی نو د شکو نو نه ځان اُو ساتی، کله د دے خوَرو وَرو خبرو وجے بیان کړی، او کله خو دا اُومنی چه قرآن هم دغه خورے ورے خبرے دی او د دے وجے نه د قرآن هر یو آیت د ډیرو معنو داسے مرکز جوړ شی چه د ویُونکی د خیال نه مخالف وی.

په کتاب د بنهٔ پوهیدو د پاره دا ضروری ده چه کتاب لوستونکی ته د کتاب موضوع

معلوم وی، دَ کتاب دَ مقصد او مدّعا نه خبر وی، دَ کتاب دَ انداز بیان، دَ اصطلاحی ژبے او دَ تشریحی انداز سره آشنا وی، او دَ کتاب دَ بیاناتو په مخکښے ورستو حالاتو ئے نظر هم وی. مونږ چه عام طور کوم کتابونه لولُو په هغے کښے دا ټولے خبرے موجود وی نو ځکه ئے په مطلب ښهٔ پوهیږو او په پوهیدو کښے را ته څه تکلیف نهٔ وی. خو لیکن په قرآن مجید کښے دا ټولے خبرے په هغے طرز نهٔ وی په کوم طرز چه مونږ په نورو کتابونو کښے وینو کورو. هم دغه وجه ده که څوک په دے عام خیال سره قرآن مجید لوستل شروع کړی نو ورته پکښے دَ کتاب موضوع او مدعا نهٔ ښکاریږی، دَ کتاب اندازِ بیان ورته ناآشنا لږی او په ډیرو ځایونو کښے ترِ دَ عبارت پس منظر پناشی. نتیجه ئے دا را اُوځی چه دَ قرآن په آیتونو کښے کوم حکمت او پوهه پرته ده دَ هغے نه خو څه لږه ډیره فائده سړے واخلی. خو لیکن دَ الله تعالیٰ دَ کلام ویخ او مطلب ته اُو نهٔ رسیدے شی، دَ قرآن دَ اصلی عِلم نه خبر نهٔ شی، او صرف په یو څو هغه دغه فائدو باندِ صبر اُو کړی، بلکه اکثر چه کوم خلق دَ قرآن کتلو نه وروستو په شک کښے پریوزی او په شاړو سر شی دَ هغے یوه وجه دا هم ده چه هغوئ دَ قرآن د دے بُنیادی او ضروری خبرو نه ناخبره وی ځکه خو چه هغوئ کله قرآن لولی نو دَ قرآن ټول مضمونونه ورته خواره واره ښکاری، دَ ډیرو آیتونو په مطلب پوهه نهٔ شی، ډیر آیتونه ورته په خپل ځائے دَ حکمت نه ډک معلومیږی خو په روان عبارت کښے ورته بے ځایه او ګډ وډ ښکاره شی، ځکه خو دَ قرآن په ځنو ځایونو کښے هغوئ دَ اصل مطلب نه لرے چرته بل طرفته لاړ شی او په سخته دوکه کښے پریوزی.

قرآن کوم قسم کتاب دے؟ قرآن څنګه نازل شوے دے او په کوم ترتیب سره لیکلے شوے دے؟ قرآن وائی څهٔ؟ او غواړی څهٔ؟ دا بے شماره او قسما قسم مضمونونه دَ کوم مرکزی مضمون سره تړلی دی؟ دَ خپلے مدّعا د پاره څنګه دلیلونه وائی او په کوم طرز خبری کوی؟ دَ دے او دَ دے قسمه دَ نورو سوالونو جوابونه که سړی ته په اول کښے صفا صفا ملاؤ شی نو سړے

به د ډیرو خطراتو نه بچ شی او د پوهے او د سوچ ډیرے لارے به ورته پرانستے شی. څوک چه په قرآن کښے د لیکلو ترتیب پکوری او بیا په قرآن کښے هغه ترتیب وُنړ وینی نو پریشانه شی. د پریشانئ وجه ئے هم دغه ده چه دے د قرآن د بُنیادی خبرو نه ناخبره دے. هغه په دے گمان قرآن کتل شروع کړی چه دا د "مذهب یوکتاب دے" او د مذهبی کتاب په باره کښے چه عام طور کوم خیال دے، دۀ ټته قرآن د هغے نه بالکل بدل او مختلف کتاب بنکاره شی، نو نړ د قرآن په مضمون پوهیږی او نړ د قرآن د طرز سره ځان آشنا کولے شی، بلکه د یو ناآشنا مسافر پشان چه هغه د یوے نوے بنار ئے په کوڅو کښے ورک شوے وی، دے هم خیالی طور د قرآنی آیتونو په منځ کښے کډ وډ او خطا رسا کرزی. د دے بے مطلبه او خطا گرځید و نه به دے هله بچ شی چه د قرآن شروع کولو نه وړاندے دۀ ټته دا اُوخودلے شی، چه دا کوم کتاب (قرآن) ټئ وایئ دا د دُنیا د ټولو کتابونو نه د ځان له طرز، د ځُدا موضوع او د بدل ترتیب یوبل شان کتاب دے. دا ستاپه ذهن کښ چه د دُنیا د کتابونو نه کوم خیال جوړ شویدے د هغے په مدد تئ په قرآن نشی پوهیدلے. که په قرآن پوهیدل غواړے نو دغه ټول خیالونه د ذهن نه لرے کړه، پس د هغے به د قرآن د بنکلی خاصیتونو نه خبر شے.

په دے لړکښے قرآن لوستونکی له د ټولونه اول دا پکار دی چه د قرآن په اصل ځان پوه کړی. که په قرآن ئے ایمان وی او کړنړ خو چه څوک په قرآن ځان پوهه کول غواړی نو د هغے د پاره دا ضروری ده چه ټولے هغه خبرے اُو منی کومے چه پخپله قرآن او مُحمّد صلی اللہ علیہ وسلم بیان کړی دی. هغه ضروری او اصولی خبری دا دی:

۱۔ خدائے پاک د ټول کائنات پیدا کونکے او بادشاه او چلونکے دے، د هغے بے حده فراخه بادشاهی ده، هغه د کائنات نه په یوه حصه کښے، چه ورته دُنیا وایئ، انسان پیدا کړو، دے انسان ته ئے د پیژندګلو، د سوچ

اوفکر کولو او دَ پوهے طاقتو نه ورکړل. دَ بنهٔ اوبد پیژندلو طاقت ئے ورکړو، دَ خوښولو او ارادے کولو آزادی ئے ورکړه، په خپله خوښه دَ کارکولو اختیارات ئے ورکړل، او یو قسم خود اختیاره انسان ئے په زمکه کښے خپل خلیفه کړو۔

۲۔ الله پاک چه کله انسان دَ خلافت په دے منصب مقرر کړو نو دا ئے ورته بنهٔ په صفا الفاظو اُورئیل چه ستا او دَ ټول جهان مالک، دَ عبادت لائق، او حکم کونکے زهٔ یم۔ زما په دے بادشاهئ کښے نهٔ ته پخپله هرڅه هرڅه ئے، نهٔ دَ بل غلام ئے او نهٔ زمانه بغیر دا سے څوک شته چه ته دَ هغهٔ وُ ځے، او بندگی یا عبادت ئے وکړے۔ دَ دُنیا دا ژوند ستا د پاره دَا امتحان او دَ آخرت ژوند ستا د پاره دَا امتحان دے۔ که ته په دے دُنیا کښے په ښه کارونو کښے ښه کامیابئ حاصل کړے نو بیا به روستو ته مالِ واپس راکړے شے، زهٔ به ستا عمل (کار) ګورم، بیا به روستو په امتحان کښے ستا دَ کامیابئ او ناکامئ فیصله کوم، ستا د پاره دَ کارکولو صحیح طریقه دا ده چه ته ما خپل یو معبود او حاکم وُمنه۔ زهٔ چه درته دَ کومو کارونو حکم کوم په دُنیا کښے هغه کوه، دُنیا دَا امتحان ګاه ګڼره، او په دے مقصد ژوند تیره وه چه زما په آخری فیصله کښے کامیاب شے۔ دَ دے نه بله هر یوه طریقه ستا د پاره غلطه ده۔ که دَ کارکولو او له طریقے څخه پخپله خوښه اختیار کړه نو په دُنیا کښے به امن او اطمینان درته نصیب شی، او چه کله ماله واپس راشے نو زهٔ به درته دَ همیشه خوشحالو کو رجنت درکړم۔ او که نهٔ چرته په بله لاره په خپله خوښه لاړلے نو دَ دُنیا ژوند به دَ فساد او دَ بے آرامئ نه پک وی او کله چه دَ دُنیا نه آخرت ته راشے نو دَ همیشه تکلیفونو مصیبتونو ځائے دوزخ کښے به پریوزے۔

۳۔ دَ جهانونو بادشاه انسان ته دا نصیحت او کړو او په زمکه کښے ئے آباد کړو، او دَ انسان اولنۍ دوُ کسانو (آدم او حوا) ته ئے هغه صحیح طریقه هم اُوخودله چه دَ کوم مطابق هغوئ ته او دَ هغوئ اولاد ته په زمکه کښے ژوند تیرول پکار وُو۔ دا اولنی دوه کسان ناپوهه او جاهلان نهٔ وُو پیدا کړے شوی بلکه خدائے پاک ورته دَ اوله نه دَ ژوند روښانه لار خودلی وه۔ هغوئ دَ حقیقت نه خبر وُو۔ په دُنیا کښے ئے ورته دَ ژوند تیرولو قانون خودلے وُو۔ هغوئ دَ ژوند تیرولو لپاره دَ خدائے اطاعت (یعنی اسلام) وُو، او خپل اولاد ته ئے هم

وئیلی وُوچه دَخدائے اطاعت کونکی (مسلمانان) جوړشئ. لیکن دیرے پیړئ روستو رُو رُوانسان دَ ژوند دَ صحیح لارے (دین) نه په ډډه شو اوپه مختلفو غلطو لارو روان شو. دغه صحیح لار ترِدَ بے پرواهئ دَ وجهنه ورکړ شوله اودَ هغوئ دَشرارتونو په وجه دَلارے خپل شکل هم بدل شو. دے انسانانو د خدائے سره په خدایئ کښے دیر خیالی خدایان شریک کړل. خدائے چه دَحقیقت کوم علم دوئ له ورکړے وُو دَ هغے سره ئے خپل دهونه، نظریئے او فلسفے شریکے کړے اودیر مذهبونه ئے جوړ کړل. خدائے پاک چه دوئ تر دَ اُوسیدو دپاره کوم دَانصاف اصول (شریعت) خو دلی وُو هغه دوئ پریښودل یائے بدل کړل او دَخپلو خواهشاتو اوتعصباتو مطابق ئے دا سے قانونونه جوړ کړل چه دَخدائے زمکه سراسر دَظلم اوزیاتی نه پکه شوه.

۴۔ خدائے چه انسان له څه لپاره پیدا کړے وے نو دا مناسبه نه وه چه دا اختیار ئے ترِ افتلے وے اوپه زُورئے صحیح لارے ته راآړولے وے. دغه شان چه خدائے پاک انسان تر په دُنیا کښے دَوخت ټیرولو څه مُهلت ورکړے دَے نو دا هُم مناسبه نه وه چه دا مهلت ئے ورله ختم کړے وے اودَنافرمانئ شروع کولو سره ئے مړه کړی وے. بیا لکه څنګه چه خدائے پاک چه خان دالازمی کړیده چه نه په دَانسان نه خو دا اختیاری واپس اخلی اونه په دَے مقرر وخت له مخکښے مړ کوی بلکه دَ دُنیا وی ژوند پر دوران کښے به انسان تر دَصحیح لارے خودلو انتظام کوی. نو دَے مقصد پوره کولو دپاره الله تعالیٰ په انسانانو کښے څه خلق خپل نمائنده جوړ کړل، دَصحیح لارے ښودلو دپاره ئے ورته خپل پیغامات راوُلیږل، دَحقیقت دَعلم نه ئے خبر کړل، دَژوند تیرولو صحیح قانون ئے ورکړو، اوپه دے کار ئے مامور کړل چه انسان هغے صحیح لارے ته راوآړی چه دَکومے نه هغوئ بے لارے شوی دی.

۵۔ دا پیغمبران په مختلفو قومونو او ملکونو کښے پیدا کیدل دَ زرګونو کالو پورے په دُنیا کښے دا سلسله جاری وه. په زرګونو پیغمبران راغلل. دَهغوئ ټولو ښو دین وُو یعنی دَ ژوند هغه صحیح لاره چه انسان ته دا ولے وړئ نه خودلے شوی وه یوه وه. هغوی ټول دَیوخدائے حکم منونکی وُو. دَهغوئ ټولو دا یومقصد وُوچه صحیح لارے (دین) اودَخدائے حکمونو (هدایت) طرفته انسانان راوُبلی، اوچه

څوک بلنه قبول کړي نو دَ هغوی نه داسے مضبوط اُمّت جوړ شي چه په خپله هم دَ خدائے دَ قانون پابند وي او دا کوشش هم کوي چه په دُنیا کښے دَ خدائے قانون قایم شي۔ دے پیغمبرانو په خپله خپله زمانه کښے دا مقصد ډیر ښه سرته وُرسوؤ، خو اکثر داسے اُوشوه چه ډیرو انسانانو دَ هغوئ دا بلنه (دعوت) قبول نه کړه، او چا چه دا بلنه قبول کړه دَ هغوی نه یو اُمت جوړ شو خو بیا رُو رو هغوئ هم پخپله خراب شو، دَ چا نه دَ خدائے خو دلی شوی لار بالکل ورکه شوه او چا دَ خدائے تعالیٰ دَ حکمونو سره خپل خواهشات ګډ کړل۔

۶۔ دَ ټولو په آخر کښے دَ جهانونو بادشاه دَ عرب په زمکه حضرت محمّد صلّی الله علیه وسلم دَ دے کار د پاره را اُوچت کړو، دَ هغهٔ دا کار وُو چه عامو انسانانو ته او دَ تیرو شوؤ پیغمبرانو بے لارے خلقو ټولو ته دَ ژوند صحیح لاره اُو ښائی، او دَ خدائے حکمونه ورته وُرسوی۔ او څوک چه دَ هغه دا بلنه قبول کړي نو دَ هغوی نه داسے مضبوط اُمّت جوړ کړي چه په خپله هم دَ خدائے تعالیٰ په حکمونو عمل کوي او ورسره ورسره دَ ټولے دُنیا دَ حالاتو درست کولو کوشش هم کوي۔ دَ داسے قسمه بلنے او لار خودنے کتاب دا قرآن دے چه الله تعالیٰ په محمّد صلی الله علیه وسلم نازل کړے دے۔

دَ قرآن په دے اصل بُنیاد چه لوستونکے پوهه شي نو هغه ته بیا دا آسانه شي چه دَ قرآن موضوع څهٔ ده، مرکزي مضمون ئے څه دے، او غواړي څهٔ۔

انسان دَ قرآن موضوع ده۔ قرآن دا وائي چه په حقیقت کښے دَ انسان کامیابي او ناکامي به څه څیز کښے ده۔

دَ انجام په پاک انسان نه هغه وخت خودے وو چه هغه انسان خلیفه کړو۔ او

لحاظ سره د انسان د پاره صحیح لار هغه ده چه تشریح ئې مونږ په مخکښو صفحو کښے کړیده.
د قرآن مدّعا اده چه انسان هغے صحیح لارے ته راوبلی کومه لاره چه د بے پرواهئ په وجه د هغهٔ نه ورکه شویده. او د غه شان د خدائے هغه حکمونه ورته وراندے کړی کوم چه د انسان د شرارت او د نافرمانئ په وجه بدل شویدی.

دا درے خبرے چه د سړی پر ذهن کښے وی او بیا ورو ستو قرآن کوری نو هغه ته به صفا معلومه شی چه قرآن د خپلے موضوع، مدّعا او مرکزی مضمون نه علاوه نورے خبرے هډو کوی نهٔ. د اول نه تر آخره پورے د قرآن مختلف او قسما قسم متول مضمونونه د مرکزی مضمون سره داسے تړلی شوی دی لکه چه رنګا رنګ ملغلرے په یو اصیل کښے پټلے شوی وی. قرآن د زمکے او د آسمانونو ساخت، د انسان پیدائښ د کائناتو ذکر او د تدبیر و شؤو قو مونو بیان کوی. د غه شان د مختلف قومونو په عقیدو، اخلاقو او عملونو تنقید کوی. د آخرت واقعات او مثلے بیانوی خو دا متول بیان د دے د پاره نهٔ کوی چه انسان ته د طبیعیاتو یا د تاریخ یا د فلسفے یا د بل څه فن تعلیم ورکړی بلکه قرآن دا متول بحث د دے د پاره کوی چه اصل حقیقت د انسان په ذهن کښے کینی، انسان چرته د حقیقت په باره کښے دوکه نهٔ شی، چه انسان د مغلط لارے د انجام نه خبر کړی او ورته د صحیح لارے د بنهٔ انجام بلنه ورکړی. دا وجه ده چه قرآن د هر څیز ذکر د خپلے مدّعا تر حدّه پورے کوی، د ضرورت نه زیات تفصیلات پریږدی، خپل مقصد او مرکزی مضمون ته بیا بیا واپس راځی. او د غه شان د قرآن متول بیان د خپل "دعوت" نه کیر چاپیره تاویږی.

خو تر هغے پورے سړے د قرآن په طرز بیان، په ترتیب او په دیر و مضمونونو نه نهٔ پوهیږی تر څو پورے چه د قرآن په شانِ نزول نهٔ پوهه شوے نهٔ وی.
دا قرآن دا سے کتاب نهٔ دے چه کنی الله تعالیٰ په یو ځل اُولیکوا و محمّد صلی الله علیه وسلم له ئے ورکړو او ورته ئے اُووے چه دا په خلقو کښے خور کړه چه هغوئ دے مطابق ژوند تیر کړی. د غه وجه ده چه نهٔ پکښے تصنیفی ترتیب

شته او نۀ کتابي طرز. په اصل کښې قرآن يو داسې کتاب دے چه الله تعالیٰ د عربو د مکے په ښار کښې خپل يو بنده د پيغمبرۍ دپاره خوښ کړو، هغه ته ئې حکم وکړو چه د خپل ښار او د خپلے قبيلے (قريشو) نه د "دعوت" شروع وکړه. په اول کښې چه د دے کار دپاره د کومو خبرو (هدايا تو) ضرورت وُو صرف هغه ئې ورته اُوکړے چه زيات نه زيات درے خبرے دی.

يو، پيغمبر ته د دے خبرے تعليم دے چه د دے عظيم الشان کار دپاره ځان ځنګ تيار کړی او په کوم طرز دا کار وکړی.

دويم، د اصل بنيادی حقيقت په باره کښې پيژندګلو ده. د حقيقت په حقله چه د خواؤ شا په خلقو کښې کومه غلط فهمی وه او د هغے په وجه په غلطه لار روان وُو، د هغے يو لنډ ترديد دے.

دريم، صحيح لارے ته بلنه ده او د اخلاقو د هغے بُنيادی اُصولو بيان دے چه پکښې د انسان کاميابی او سعادت دے.

چونکه د دعوت اولنۍ ورځے وے نو په شروع شروع کښې به دا پيغامونه يو څو وړے وړے او لنډے لنډے فقرے وے، دا فقرے او مقولے به ډيرے مزيدارے، خوږے، د اثر نه ډکے او د قوم د طبيعت مطابق وے. دا رنګے ښکلے او رنګينه وينا به د دے دپاره وه چه د خلقو په زړونو کښې د غشو پشان خښنه شی، د ډير خوږوالی په وجه غوږونو ته پخپله ورننوځی او د ډيرے مينے په سبب په ژبو بے اختياره اُووئيلے شی. دغه وينا د مقامی خلقو د وينا په رنګ وه. اګرچه پکښې عالمګيرے خبرے بيان شويدی ليکن د هغے دپاره هغه دليلونه او مثالونه بيان شويدی کوم چه د دغے ځائے خلقو ښۀ پيژندل. د دغه ځائے د خلقو تاريخ، روايات، عام آثار، او د هغوئ د عقيدو او د اخلاقو خرابيانے پکښے په دے وجه بيان شوی دی چه هغوئ د هغے نه ښۀ اثر واخلی.

د دعوت دا اولنۍ ورځے تقريبًا د څلورو پنځو کالو پورے جاری وے، او په دے ورځو کښې د نبی صلی الله عليه وسلم د تبليغ درے اثرات ښکاره شو.

(۱) يو څو نيکانو خلقو دا دعوت قبول کړو او د اُمّتِ مُسلمه جوړيدو دپاره تيار شول

(۲) ډیرو جاهلانو، خود غرضو او دَ پلارنیکه دَ طریقو سره مینه لرونکو خلقو دَ اسلام مخالفت ته ملا او تړله۔

(۳) دَ دے نوی دَعوت آواز دَ مکے او دَ قریشو دَ حدونو نه بهر تر ډیره لرے لرے پورے اُورسیدو۔

دَ دے ځائے نه دَ دعوت دویمه مرحله شروع کیږی۔ په دے مرحله کښے دَ اسلام او دَ جاهلیت په منځ کښے یوه سخته مقابله شروع شوه چه دَ اَتو نهو کالو پورے وه۔ نه یوازے په مکه کښے او نه یوازے دَ قریش قبیلے خلقو، بلکه دَ عربو په اکثرو ځایونو کښے چه کومو خلقو ته جاهلیت ښه ښکاریدو، هغوی ټولو دَ اسلام دَ ختمولو کوشش شروع کړو۔ دَ اسلام دَ دباوهلو دپاره ئے هره شیطانی حربه استعمال کړه۔ دَ ددروغو پروپیګنډے ئے اوکړے، الزامونه ئے وُلګول، شک شوبے او اعتراضونه ئے وُکړل، دَ خلقو په زړونو کښے ئے قسما قسم وسوسے واچولے۔ ساده خلق ئے دَ نبی صلی الله علیه وسلّم دَ خبرو اَوریدو نه منع کول، چه چا به اسلام قبول کړو په هغوی به ئے سخت ظلمونه کول، تر دے پورے چه دَ اغستلو او خرڅولو او دَ اُوسیدلو بائیکاټ ئے ورسره اُوکړو، دومره ئے تنګ کړل چه ډیرو مسلمانانو خپل کورونه دوه ځله پریخودل او حبشو ته لاړل، او په آخر کښے په دریم ځل ټول مسلمانان مدینے نه په تللو مجبور شول۔ لیکن دَ دے سختے مقابلے با وجود اسلام خوریدو۔ په مکه کښے یو خاندان او یو کور داسے پاتے نه شو چه یو کس پکښے اسلام نه وُو قبول کړے۔ دَ اکثرو خلقو دَ اسلام سره سخته دُشمنی په دے وجه وه چه دَ هغوی خپل رُو نړه، وریرُونه، ځامن، لُونړه، خویندے او اُوخی په اسلام سر قربانه وُونکی وُو۔ او دَ [illegible] تر دَ هغوی سره جنګ ته تیار وُو۔ او بیا مزه دا وه چه کوم

خپل نبی باندِ د موقعے او د ضرورت مطابق د ځوش نه وکے وکے خطبے نازِ لولے۔ دا خطبے به د اوبو پشان روانے، د سیلاب پشان طاقتور وے او د تیز وُور پشان اثر لکے وے۔ په دے خطبو کښے مؤمنانو ته خپل فرائض خو دلے شویدی، د یو موتی کید و سبق ورکړے شویدے د ګناه نه د ځان ساتلو (تقوی) د ښو اخلاقو او د پاک خوئ تعلیم ورکړے شویدے، د حق دین د خورولو طریقے ورته خودلی شویدی، د کامیابئ او د جنت ملاویدو په وجه د هغوی هِمّتونه مضبوط کړے شویدی، د الله په لار کښے د ډیر صبر او د اُوچتے حوصلے ساتلو تلقین شویدے۔ او پس مؤمنانو کښے د قربانئ داسے زبردست او زُوَر ور جوش پیدا کړے شویدے چه هغوی د هر قسم مصیبت وُړلو او د سخت نه سخت مخالفت مقابلے کولو ته تیار شول۔ بل طرفته په دے خطبو کښے د اسلام مخالفینو ته، بے لارے او د غفلت په خوب اُوده خلقو ته د هغه خلقو انجام خو دلے شوے دے چه د هغوی د تاریخ نه دوئ ښه خبر وُو، د هغے تباه شوو کلو د کنډ راتو نه د عبرت اغستلو سبق ورکړے شوے دے په کومو کنډ راتو چه به شپه او ورځ دوئ ټیریدل راتیریدل، د توحید او د آخرت دلیلونه ئے د هغے ښے ښانونه پیش کړیدی چه هغه شپه او ورځ په زمکه او آسمان کښے د هغوئ ستر کو ته وړاندِ دُو او هروخت ئے په خپلو ستر کو لیدل کښل، شرک، خو د اختیاری، د آخرت نه انکار، د پلار نیکه پیروی دا ټولے غلطیانے په دا سے دلیلونو ثابتے کړے شویدی چه زړونه غوښه دی او په دماغو کښے خښیږی. بیا ئے د هغوئ یو یو شک لرے کړو، د یو یو اعتراض مناسب جواب ئے ورکړو، د هغوئ یو یو مشکل ئے حل کړو، او جاهلیت ئے د هر طرفنه دومره راتنګ کړو چه بیا د جاهلیت دپاره په عقلی دُنیا کښے ځائے ورک شو (یعنی بیا د هر چا عقل دا ؤ منلے چه د اسلام په مقابله کښے د جاهلیت ژوند هیڅ نه دے) بیا د دے سره سره ئے د خدائے د غضب، د قیامت د سختو او د دوزخ د عذاب نه ویرول، هغوی ئے په بدو اخلاقو، په غلطو رسمونو دیوا بولو، او د اسلام سره په دُشمنئ کولو او د مؤمنانو په آزارولو ملامته کړل، او هغوئ ته ئے صفه اخلاقی او د ژوند تیرولو لوئ لوئ بنیادی اُصول وُړاندِ کړل چه په هغے باندِ همیشه د خدائے د نیکو بندګانو د ژوند مانړئ آباد پیږی۔

په دے مرحله کښے دیرمنزلونه وُو په هر منزل کښے به د عرت ښه خورنید و مقابله

به نوره هُم سختید له، دَ هر قسمه ناآشنا عقیدے لرونکی خلق یه مخے ته راتلل، او هم ددے مطابق به دَ الله تعالیٰ دَ طرفنه قسما قسم پیغامونه نور نور راتلل ـــــ دا دَ قرآن مجید دَ مکی سورتونو پس منظر دے۔

په مکه کښے دیارلس کاله تیر شوی وُو چه ناسا په په مدینه کښے مسلمانانو ته یو مرکز ملاؤ شو. نبی صلی الله علیه وسلم او دَ اسلام ډیرو پیروکارانو دَ مکے نه مدینے ته هجرت اُوکړو، او دَ عربو دَ هر ځائے نه مسلمانان په مدینه کښے یو ځائے ته راجمع شو او یو مضبوط طاقت جوړ شو. په دا شان دَ اِسلامی دعوت دریمه مرحله شروع شوه۔

په دے مرحله کښے حالات بالکل بدل شو. اُمّتِ مسلمه په خپل یو ریاست جوړولو کښے کامیاب شو. دَ جاهلیت دَ سردارانو سره دَ تورے مقابله شروع شوه. دَ تیرو شوؤ پیغبرانو اُمّتونه (یهود او نصاریٰ) مخے ته راغلل دَ منافقانو سره جنګونه وُ شوه، دا سخته مقابله لس کاله وه، په آخر کښے مسلمانان دَ کامیابئ هغه مقام ته وُرسیدل چه ټول عرب ورته سلامی شول. او ټولے دُنیا ته دَ اِسلامی دعوت ورکولو دپاره ورته دروازے پرانستے شوے. په دے مرحله کښے ډیر منزلونه وُو، او په هر منزل کښے به دَ الله تعالیٰ دَ طرفنه په نبی صلی الله علیه وسلم باندِ تقریرونه نازلیدل. دَ دغے تقریرونو انداز به کله دَ وُور دَ لمبے په شان تیز وُو، کله به دَ شاهانه حُکمونو په شان سخت وُو، کله به دَ سبق او دَ تعلیم ورکولو په غرض دَ پوهے په انداز وُو، او کله به دَ اصلاح او دَ پوهے راوستلو په سبب نرم نرم وُو. په دے تقریرونو کښے ئے مسلمانانو ته دا وُخودله چه یو نیک صالح جماعت، ریاست او وطن څنګه جوړیدے شی، دَ ژوند دَ مختلفو څانګو دپاره کوم اُصول او ضابطے پکار دی، دَ منافقانو، دَ ذمیانو او دَ کافرانو سره څه سلوک پکار دے، دَ اهلِ کتابو سره دِ څه رنګے تعلقات اُوساتلے شی، جنګ کونکی دُشمنانو سره او دَ کوموقومونو سره چه دَ جنګ نه کولو وعدے شوی وی دَ هغوی سره دِ څه طرز عمل اختیار کړے شی او مؤمنان دِ په دُنیا کښے دَ الله تعالیٰ دَ خلافت دپاره ځان څنګ تیار کړی. په دے

به ورته خبره دارے ورکړے کیدو، دَ خدائے په لار کښے به په چنل مال او بدن سره دَ جهاد کولو ترغیب ورکړے کیدو، هغوی ته به دَ ګټے او دَ بیلات، دَ خوشحالئ او دَ مصیبت دَ امن او دَ یرے، غرض دا چه په هرحالت کښے دَ مناسبو اخلاقو ساتلو سبق ورکړے کیدو، او په داسے رنګ دَ هغوئ تیارے کیدو چه دَ نبی صلی الله علیه وسلم نه وُرستو هغوی دَ اسلامی بلنے او دَ اصلاحی کار قابل شی. بل طرفته چه کوم خلق دَ اسلام دَ حد نه بهر وُو، یعنی اهلِ کتاب، منافقان، کافران او مشرکان وُو، دَ هغوئ دَ پوهے دپاره به هغوئ ته ډیر په نرمئ سره دَ اسلام دعوت ورکړے کیدو، نصیحت به ورته کیدو، په غلطو کارونو به ورته ملامتیا ورکړے کیده، دَ خدائے دَ عذاب نه به یَروَلے کیدل او دَ عبرت اغستو دپاره به ورته عبرتناکے قیصئ او واقعے بیانیدلے، دا ټول کوشش نه دَ دے دپاره وُو چه په هغوئ باندِ حجت پوره کړے شی.

دا دے دَ قرآن مجید دَ مدنی سورتونو پس منظر

دَ دے ټول بیان نه دا معلومه شوه چه دَ یو دعوت سره دَ قرآن مجید نازلیدل شروع شو، دَ اول نه تر آخره پورے دَ دیریشت[۲۳] کالو په موده کښے په دے دعوت چه کومے مرحلے تیریدلے او کوم قسما قسم ضرورتونه ورته پیښیدل، دَ هغے مطابق به دَ قرآن مختلفے حصے نازلیدلے، نبکاره خبره ده چه په دا رنګے کتاب کښے هغه تصنیفی (لیکلوالی) ترتیب نشی کیدلے کوم ترتیب چه دَ ډاکټریټ دَ ډګرئ اغستلو دپاره په یوه مقاله (کتابچه) کښے وی. بیا دَ دے دعوت دَ خوریدو سره سره چه دَ قرآن کومے وړے لوئے حصے نازلیدلے هغه هُم دَ وَړو وَړو رسالو په شکل کښے نه وے، بلکه هغه به دَ تقریرونو په شکل کښے بیانیدلے، او خوریدلے، نو ځکه دَ قرآن دَ هغه وَړو وَړو حصو طرز (اُسلُوب) هم تحریری نه وُو بلکه تقریری یا خطابی وُو. بیا دا خطابت هُم دَ یو پروفیسر دَ تقریر (لیکچر) پشان نه وُو بلکه دَ یو بلونکی دَ خطبو پشان وُو چه دَ سړی زړه او دماغ، عقل او جذبات هر یو ته اپیل کوی، چه پکښے دَ هر قسم ذهن والا سړی سره معامله راځی، چه پکښے په مختلفو حالاتو کښے دَ دعوت خورولو کار کول راځی. خپله خبره دَ خلقو په زړونو کښے کینول، دَ خلقو دَ خیالاتو دُنیا بدله ول، دَ جذباتو سیلاب راوُچتول، دَ خلاف خبرو زُور ختمول، دَ خپلو ملګرو اصلاح او تربیت کول، په هغوی کښے جوش

او کلکه اراده پیدا کول، دُشمنان خپل دوستان جوړول، په نهٔ منونکو خپله خبره منل، دَ مخالفینو دَ دلیل جواب ورکول، او دَ هغوی اخلاقی طاقت ختمول، غرض دا ټول کارونه دَ هغه چا د پاره ضروری دی چه څوک دَ دعوت ورکولو او دَ تحریک چلولو کار کوی. دغه وجه ده چه الله تعالیٰ په خپل پیغمبر کوم تقریرونه نازل کړیدی دَ هغے طرز خطابت هُم دَ دعوت دَ حال سره مناسب وُو. دَ کالج دَ تقریرونو په شان نهٔ وُو.

دَ دے نه دا خبره هم معلومه شوه چه په قرآن مجید کښے مضمونونه بار بار په تکرار سره ولے راغلی دی. یو دعوت او تحریک له دا پکار دی چه په کوم وخت او کومه مرحله کښے روان وی نو دَ هغے وخت او مرحلے د پاره چه کومے خبرے مناسب وی صرف هغه خبرے دِ کوی، او تر څو چه دعوت په دغه مرحله کښے وی تر هغے دِ دَ بلے مرحلے خبرے نهٔ کوی، بلکه هُم دَ دغے مرحلے خبرے دِ بیا بیا کوی اګرچه پرِ میاشتے او کلُونه اُونکی. بیا که چرے سړے یوه خبره په یو طرز بیا بیا اوری نو دَ اوریدو نه ئے زړهٔ زر مړیږی. دَ دے وجے نه دا ضروری ده چه دَ دعوت په کومه مرحله کښے کومے خبرے بیا بیا کول وی نو هغه دِ هر ځل په نوی طرز، په نوی لفظونو او په نوی شان سره کیږی چه دَ خلقو په زړونو کښے ښهٔ کینی او محکم پاتے شی. دَ دے سره دا هم ضروری ده چه دَ دعوت کوم بُنیادی عقیدے او اُصول دی هغه دِ دَ اول قدم نه تر آخر منزل پورے هر وختے دَ سترګو وړاندِ وی او دَ دعوت په هره مرحله کښے دِ بار بار کیږی. دا وجه ده چه دَ اسلامی دعوت په یوه مرحله کښے دَ قرآن څو مره سورتونه نازل شویدی په هغے ټولو سورتونو کښے یو قسم مضمون په بدلو بدلو الفاظو بیان شویدے، خو دَ توحید او دَ الله دَ صفتونو، په آخرت کښے دَ تپوس او دَ جزا سزا ورکولو، په رسول او په کتاب دَ ایمان راوړلو، دَ تقویٰ دَ صبر او دَ اعتماد ساتلو، او دا قسمه نور بنیادی مضمونونه بار بار په ټول قرآن کښے راځی، دا ځکه چه دَ اسلامی تحریک په یوه مرحله کښے هم دَ دے نه بے پرواهی نشی کیدلے. دا بنیادی تصورات چه لږ هم کمزوری شی نو بیا دا سلام دا تحریک په صحیح طریقه په اصلی معنو کښے نشی چلیدلے.

که غور او کړے شی نو دَ دے بیان نه دا سوال هم حل کیږی چه نبی صلی الله علیه وسلم

قرآن په هغې ترتیب ولے وُنه لیکلو په کوم ترتیب سره چه نازل شوے وُو۔

دَپورته بیان نه تاسو ته معلومه شویده چه دَ دیریشت[۲۳] کالو پورے قرآن په هغې ترتیب نازلید و په کوم ترتیب سره چه دَ اسلام دعوت شروع شوا وبیا خوریدو۔ اوس دا بنکاره خبره ده چه دَ دعوت پوره کیدو نه روستو دَ دغه نازلو شوُ حصو لیکل په هغې ترتیب سرُه مناسب نه وُو په کوم ترتیب سره چه دَ دعوت دَ خوریدو دپاره دا حصے نازلے شوے وے۔ اُوس خو دَ هغې دَ لیکلو دپاره یو داسے ترتیب پکار وُو چه دَ هغې حالت سره مناسب وی کوم چه دَ دعوت پوره کیدو نه وُروستو جوړیږی۔ په شروع کښے خو قرآن هغه چا نه لکیا وُو (مخاطب وُو) چه دَ اسلام نه بیخی ناآشنا وُو، او حُکمونه دَ اَول سر نه تعلیم او تلقین شروع کړو۔ خو دَ دعوت پوره کیدو نه وُروستو دَ قرآن اول مخاطبین هغه خلق شو کوم چه په قرآن ایمان راوړے وُو او بیا اُمّت جوړ شوے وُو او دَ هغې کار جاری ساتلو ذمه داران وُو کوم چه پیغمبر هغوئی ته دَ تطبیق او دَ عمل او دَ هر حیثیت نه مکمل حواله کړے وُو۔ اُوس دَ هُغو نه وروسته او مُقدّم څیز دا ضروری شو چه اول داخلق دَ خپلو فرضو، دَ خپلو حقونو، دَ قانون او دَ هغې شرفساد و نو نه بنځ خبر شی کوم چه دَ مخکښو پیغمبرانو په اُمّتونو کښے وُو، او بیا وروستو دَ اسلام نه ناخبره خلقوته دَ خدائے حکم دَ وړاندے کولو دپاره مخکښے روان شی۔

دَدے نه علاوه که سړے په دے بنځ پوهه شی چه قرآن دَ کوم طرز کتاب دے نو دا حقیقت به هغه ته پخپله بنکاره شی چه یو قسم مضمونونه په یو یو ځائے کښے جمع کول دَدے کتاب دَ مزاج سره مطابقت نه لری۔ دَدے کتاب مزاج خو دا غواړی چه دَ لوستونکی په مخکښے دِ دَ مدنی دَور خبرے دَ مکی دور دَ تعلیمونو په منیځ کښے، او دَ مکی دَور خبرے دِ دَ مدنی دَور دَ تقریرونو په منیځ کښے، دَ شروع خبرے دِ دَ آخری خبرو په منیځ کښے، او دَ آخر خبرے دِ دَ شروع په تعلیمونو کښے یار بار راځی، چه دَ اسلام پوره او مکمله نقشه هر وخت دَ لوستونکی دَ سترګو په وړاندے وی او په هیڅ یو وخت کښے دَ یو طرفنه ناخبره پاتے نه شی۔

بیا که چیرے قرآن دَ نازلید و په ترتیب لیکلے شوے وے نو دَ وُروستو زمانے خلقو دَ هغې نه هله فائده اخستلے شوه چه دَ قرآن سره دَ نازلید و پوره تاریخ او دَ قرآن دَ یوے یوے حصے سره دَ نازلید و حالت او شان نزول لیکلے شوے وے اولازمی طور هغه دَ قرآن یوه ضمیمه وے۔ دا کار به دَ هغې مقصد نه

بالکل خلاف وُو، چه دَ کوم مقصد دپاره الله تعالیٰ دَ خپل کلام دا مجموعه په ترتیب کړے او محفوظ کړے وه. دَ قرآن خو دا مقصد وُو چه خالص دَ خدائے کلام دَ بل چا دَ کلام دَ ګډون نه بغیر په یو داسے لنډ او مختصر شکل کښے په ترتیب سره وُلیکلے شی چه واړه، ځوانان، بوډاګان، ښځے، نر، دَ ښارئے، دَ باندے، عام او عالم هر سړے ئے په هره زمانه کښے، په هر ځائے کښے، او په هر حالت کښے وائی او کم نه کم دا خبره ضرور وُ پیژنی چه خدائے دَ هغه نه څه غواړی او څه تر نهٔ غواړی. ښکاره خبره ده چه دا مقصد به هډو پوره شوے نه وے که چرے دَ قرآن سره یو اُوږد تاریخ هم لیکلے شوے وے او دَ هغے تلاوت هم په خلقو لازم وے.

حقیقت دا دے چه دَ قرآن په موجوده ترتیب باندِ کوم خلق اعتراض کوی نو هغوئ نهٔ یواځے دے کتاب دَ مقصد او مدّعا نه ناخبره دی بلکه داسے معلومیږی چه هغوی په دے دوکه کښے پراته دی چه دا کتاب صرف دَ علم تاریخ او دَ فلسفهٔ عمران دَ طلباؤ دپاره نازل شویدے.

قرآن لوستونکو ته دِ دا خبره معلومه وی چه دَ قرآن دا ترتیب روستنو خلقو نهٔ دے لیکلے بلکه نبی صلی الله علیه وسلم پخپله دَ الله تعالیٰ دَ خود نے مطابق مرتب کړے وُو. طریقه ئے دا وه چه کله به یو سورة نازل شونو نبیؐ به په هغے وخت دَ خپلو کاتبانو نه څوک را وُغوختو او په هغوئ به ئے ټیک ټیک وُلیکلو، بیا به ئے ورته وُفرمائیل چه دا سورة دَ فلانی سورة نه روستو یا دَ فلانی سورة نه وړاندِ کیده. دغه شان چه کله به دَ قرآن یوه داسے حصه نازله شوه چه هغه به ځان له یو مستقل سورة نهٔ وُو، نو نبیؐ به وُفرمائیل چه دا حصه په فلانی سورة کښے په فلانی ځائے کښے درج کړه. بیا به نبیؐ پخپله هم په دغے ترتیب سره په مانځه کښے او دَ تلاوت په دوران کښے دَ قرآن تلاوت کولو او صحابه کرامؓ به هم په دغے ترتیب سره یادَ ولو. په دے وجه دا یو ثابت شوے حقیقت دے چه دَ قرآن مجید نزول په کومه ورځ مکمل شو هم په هغه ورځ دَ قرآن ترتیب مکمل شو. چه قرآن چا نازل کړے وُو هم هغه په ترتیب کښے را وستلے وُو چه دَ چا په زړهٔ نازل کړے شوے وُو هم دَ هغه په لاسونو ئے په ترتیب کړے وُو. دَ بل چا دا طاقت نهٔ وُو چه پکښے څه دخل مداخلت وُ کړی.

مونځ چونکه د اول نه په مسلمانانو باندې فرض[1] وو، او په مانځه کښې د قرآن تلاوت یوه ضروري حصه کرځولے شوی وه نو ددے وجه نه د قرآن د نازلیدو سره په مسلمانانو کښې د قرآن د یادولو سلسله شروع شوه او چه څنګ به قرآن نازلید هغه شان به مسلمانانو یاده وو. دغه شان قرآن مجید یواځے د کجورو په هڼو پاڼو، هډوکو او د خرمے په هڼو تنو کره باندې چې د نبی صلی الله علیه وسلم په اشاره کاتبانو لیکلے وو، محفوظ نه وو بلکه د نازلیدو سره اول د لږو یادیږو، بیا د زړګونو لکونو خلقو په زړونو کښې نقش شوے وو او دا هیڅ امکان نه وو چه یو شیطان پکښې چرته یو لفظ بدل کړے وے.

د نبی صلی الله علیه وسلم د وفات نه روسته کله چه په عربو کښې د خلقو بیا کفر ته د اوړیدو سلسله شروع شوه او د هغه د څلمیدو د پاره چه صحابه کرامو کوم خونړی جنګونه وکړل، په هغے کښے دا سے درې سو صحابه شهیدان شول چه قرآن ورته پوره پوره یاد وو. دغه نه د حضرت عمرؓ په زړه کښے داخیال پیدا شو چه د قرآن د حفاظت په باره کښے صرف په یوه ذریعه یعنی سینو کول مناسب نه دی، بلکه د یادولو سره سره په کاغذ باندې د لیکلو انتظام هم پکار دے. نو هغه حضرت ابوبکرؓ ته دغه کار ضرورت په کوته کړو چه هغه د یرسوچ نه روسته د حضرت عمرؓ د سوچ سره اتفاق وکړو او بیائے حضرت زید بن ثابت انصاریؓ ته چه د نبی صلی الله علیه وسلم لیکوال (سکرټری) پاتے شوے وو، دا خدمت حواله کړو. طریقه دا مقرر کړے شوه چه یو طرفته د هغه ټولے لیکلے شوے حصے راجمع کړے شی کوم چه نبی صلی الله علیه وسلم پرینجولے وے، او بل طرفته چه په صحابه کرامو کښې د چا سره د قرآن څه لیکلے حصے وے، هغه د هغوی نه واخستلے[2] او بیا د قرآن د حافظانو نه مدد هم واخستے شی، او دغه دواړه ذریعو په کواهئ باندې چه دا یقین راشی چه بالکل پوره او صحیح دے نو پس د هغے د قرآن یو یو لفظ په کتاب (مصحف) کښې ولیکی. دغه تجویز مطابق د قرآن مجید یو نسخه د ام المؤمنین حضرت حفصه رضی الله عنها په کور کښې کیښودے شوه.

---

[1] یاد لرئ چه پنځه وخته مونځ د نبوت نه څو کاله روسته فرض شوے وے، لیکن مونځ چې ځائے د اوله ورځه نه فرض وو. د اسلام یو وخت چرته دے نه وے تیر شوے چه په هغے کښے مونځ فرض نه وو.

[2] داخبر د معتبرو روایتونو نه معلومه ده چه د نبی په ژوندے کښے ډیرو صحابو قرآن یاد کړے وو د غه شان مګر لیکلے وے. په دے سلسله کښے د حضرات عثمان، علی، عبدالله ابن مسعود، عبدالله بن عمرو بن عاص، سالم مولیٰ حذیفه، زید بن ثابت، معاذ بن جبل، اُبی بن کعب او ابوزید قیس بن السکن رضی الله عنهم نومونه ملاویږی.

او عامو خلقو ته دا اجازت ورکړے شو چه که څوک غواړی نو دَ هغے نه دِ ځان له نقل اوکړی او که څوک غواړی نو دَ قرآن خپله نسخه دِ دَ هغے نه صحیح کړی.

دَ عربو دَ مختلفو علاقو او قبیلو په ژبو کښے دغه شان فرق وُو لکه څنګه چه زموږ په ملک کښے دَ ښار ښار او دَ ضلعے ضلعے په ژبو کښے فرق دے حالانکه ژبه هم هغه یوه، اُردو یا پنجابی یا بنګالی وغیره ده. قرآن مجید اګرچه په هغه ژبه کښے نازل شوے وُو کومه چه په مکه کښے قریشو ویله، لیکن په اول کښے ددے خبرے اجازت ورکړے شوے وُو چه دَ نورو علاقو او قبیلو خلق دِ قرآن دَ خپلے ژبے په طرز او محاورو کښے وائی، ځکه چه په معنو کښے څه فرق نۀ راتلو صرف په عبارت کښے دَ هغوئ د پاره نرمی پیدا کیدله. لیکن رُو رُو چه کله اسلام خور شو او دَ عربو خلقو دَ خپل ریګستان نه بهر دَ دُنیا ډیره حصه فتح کړله، او دَ نورو خلقو قومونه هم په اسلام کښے شامل شول، او دَ عربو او دَ عجمو دَ ګډون دَ وجے نه عربی ژبه متأثره شوه، نو دا خطره پیدا شوه چه که چرے اوس هم دَ نورو ژبو په طرزونو او محاورو کښے دَ قرآن دَ لوستلو اجازت برقرار پاتے شو نو قسما قسم ډیرے فتنے به راپورته شی. مثلاً که یو سړے دَ ژبے په خپل طرز کښے دَ قرآن تلاوت کوی نو بل سړے به ورسره په دے ګمان جګړه کوی چه ګنی دے په قصد باندِ په کلام الله کښے بدلے راولی. یا دا لفظی اختلافات به رُو رُو په رښتیا دَ کلام الله دَ بدلید ود پاره سبب جوړ شی. یا دا چه دَ عربو او دَ عجمو دَ ګډون په وجه دکومو خلقو ژبه ګډه وډه شی نو هغوی به دَ خپلے ګډے وډے ژبے په وجه دَ قرآن دَ کلام ښائیست خراب کړی. ددے د جوهاتو په وجه حضرت عثمان رض دَ صحابه کرامو په مشوره دا فیصله اوکړه چه په ټولو اسلامی ملکونو کښے دِ دَ قرآن هغه معیاری نسخه خوره کړے شی کومه چه دَ حضرت ابوبکر رض په حکم لیکلے شوی وه، او دَ نورو ټولو نسخو اشاعت دِ منع کړے شی.

لن چه کوم قرآن ستاسو په لاسونو کښے دے. دا ټیک ټیک دَ هغے مُصحَفِ صدیقی مطابق دے چه دَ هغے نقلونه حضرت عثمان رض په سرکاری حکم په ټولو کلو او ښارونو کښے خواره کړی وُو. لن هم دَ دُنیا په ډیرو ځایونو کښے دَ قرآن هغه مستند نسخے موجود دی. که چرے دَ قرآن په محفوظیت دَ چا څه شک وی نو هغه دِ خپل شک په دے طریقه اوباسی چه په مغربی افریقه کښے دِ دَ یو کتاب فروش نه دَ قرآن یوه نسخه واخلی، او په جاوا وطن

کښې دِ دَ یو حافظ نه قرآن په یاد واوروی او بیا دِ ئے مقابله اوکړی، او بیا دِ دَ دُنیا په لویو لویو کتب خانو کښې دَ حضرت عثمان رضه دَ وخت نه راواخله ترنن وخته پورے چه په مختلفو صدو کښې کومے نسخے ایښودلے شوی دی، دَ هغے سره دِ مقابله اوکړی. که چرے دَ یو حرف فرق ئے پکښې بیا موندلو نو دَ هغه دا فرض دی چه ټولے دُنیا ته دغه فرق ښکاره کړی. یو شک کونکے که دا شک کوی چه قرآن دَ الله تعالیٰ دَ طرفنه نازل شوی دے او که نهٔ دے نو کولے شی؟ خو لیکن دا خبره چه کوم قرآن اوس زمونږ په لاس کښې دے دا بغیر دَ څه کمی زیاتی بالکل هغه قرآن دے چه محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم دُنیا ته وړاندِ کړے وُو، دا یو داسے تاریخی حقیقت دے چه په دے کښې پوټے شک نشی کیدے. په ټول انسانی تاریخ کښې بل یو څیز دَ قرآن پشان مضبوط ثبوت والا نشته. که څوک دَ قرآن په صحیح والی کښې شک کوی نو هغه بیا دا شک هم کولے شی چه دَ رومن امپائر نومے یوه بادشاهی په دُنیا کښې چرته وه، او بیا هندوستان باندِ مغلو چرته حکومت کړے وُو، او "نپولین" نومے یو سړے په دُنیا کښې وُو او که نهٔ. په داسے تاریخی حقیقتونو باندِ شک کول دَ علم نښه نهٔ ده دَ جهالت نښه ده۔

قرآن یو داسے کتاب دے چه په دُنیا کښې بے شمارهٔ انسانان خپل خپل مقصد ونه دَ دے نه پوره کوی، دَ انسانانو دَ ټولو ضرورتونو او غرضونو مطابق چا ته یوه مشوره ورکول آسانه څه بلکه ممکنه نهٔ ده. په دے ټولو انسانانو کښې زما صرف دَ هغه چا سره دلچسپی او مینه ده چه په دے پوهیدل او دا معلومیدل غواړی چه دا کتاب انسان ته دَ ژوند دَ تیرولو کومه لار ښائی. په دے کتاب کښې به زهٔ هم داسے خلقو ته دَ قرآن دَ لوستلو دَ طریقو په باره کښې مشورے ورکوم او هم په دے باره کښې چه کوم مشکلات هغوی ته نمے له راځی دَ هغے دَ حل کولو کوشش به کوم۔

یو سړے که په قرآن پوهیدل غواړی، خواه که دَ هغه په قرآن ایمان وی او که نهٔ وی، دَ هغه د پاره دَ ټولو نه اول دا کار پکار دے چه اولنئ ټولے نظریئے او تصورات دَ قرآن سره موافق یا مخالف ټول خیالات دَ زړهٔ نه لری کړی او خاص دَ زړهٔ دَ اخلاصه دِ دَ پوهے په مقصد قرآن لوستل شروع کړی. ځکه چه کوم خلق دَ خاص قسم خیالاتو سره قرآن لولی نو هغه ته دَ قرآن دَ کرخو په منځ کښې خپل خیالات ښکاریږی او دَ قرآن دَ مقصد نه هډو

خبریږی نۀ. دَ کتاب دَ لوستلو دا طریقه دَ یو کتاب د پاره هم صحیح نۀ ده، خو خاص طور چه څوک قرآن په دے طریقه لولی نو هغه دَ قرآن دَ یو ټکی په مطلب نشی پوهیدلے.

چه څوک په قرآن سرسری پوهیدل غواړی نو دَ هغه د پاره خو یو ځل لوستل کافی کیدے شی، لیکن څوک چه دَ قرآن په ژور مطلب پوهیدل غواړی دَ هغه د پاره درے څلور ځله لوستل هم کافی کیدے نشی. دَ هغه د پاره پکار دی چه قرآن بار بار وائی، هر ځل ئے په یو خاص طرز وائی او دَ یو طالب علم پشان پنسل او کاپی په لاس کښے واخلی او ضروری نکتے دَ ځان سره لیکی. په دے طریقه چه څوک لوستلو ته تیاروی نو هغه دِ ټول قرآن کم نه کم دوه ځله په دے غرض ؤ لولی چه دَ فکر او دَ عمل هغه ټول نظام دَ دۀ مخے ته راشی کوم چه دا قرآن پیش کوی. دَ دے اولنی لوستلو په دوران کښے دِ دا کوشش کوی چه دَ قرآن پوره نقشه دَ دۀ په ذهن کښے کینی او دَ قرآن په هغے بنیادی تصوراتو پوهه شی په کوم چه دَ ژوند نظام جوړیږی. په دے دوران کښے که یو سوال په ذهن کښے راشی نو دَ هغے فیصله دِ په هغه وخت نۀ کوی بلکه هغه سوال دِ دَ ځان سره اولیکی او ښۀ په صبر او اطمینان دِ قرآن کوری. ډیر غالب گمان دا دے چه مخکښے به دۀ ته چرته دَ دے سوال جواب ملاؤ شی که جواب ملاؤ شی نو دَ خپل سوال سره دِ اولیکی. خو که په اول ځل په ټول قرآن لوستلو کښے دۀ ته دَ یو سوال جواب ملاؤ نۀ شی نو ښۀ په صبر سره دِ دویم ځلے اُووائی. زۀ دَ خپلے تجربے نه دا وایم چه په دریم ځلے لوستلو کښے به دَ ډیر کم کوز سوال جواب چرته پاتے شی.

دغه شان چه دَ قرآن پوره نقشه په ذهن کښے کینی نو بیا روستو تفصیلی مطالعه شروع کول پکار دی. په تفصیلی مطالعه کښے لوستونکی له پکار دی چه دَ قرآن دَ تعلیماتو یو یو اَرخ دِ په ذهن کښے کینوی او دَ ځان سره دِ اولیکی. مثلاً که چرے دَ دے خبرے کوشش کوی چه دَ قرآن په نظر کښے کوم انسان ښه دے او کوم نا ښه دے نو هغه له پکار دی چه په خپله کاپئ کښے یو طرفته "خوښ انسان" اولیکی او بل طرفته "ناخوښ انسان" اولیکی. او بیا لاندِ دِ دَ دواړو خصوصیات یو بل ته مخامخ لیکل شروع کړی. یا مثلاً که چرے دا معلومه ول غواړی چه دَ قرآن په نزد دَ انسان دَ کامیابئ د پاره کوم کارونه په کار دی او کوم څیزونه دَ انسان دَ نقصان او دَ بربادئ ذریعه ده. نو په تفصیل سره دَ دے دَ صحیح لیکلو طریقه دا ده چه سرے په خپله کاپئ کښے

یو طرفته "دَ کامیابئ کارونه" او بل طرفته "دَ بربادئ ذرائع" او لیکی او بیا دَ قرآن دَ کتلو په دوران کښې هره ورځ دَ دواړو قسمو عنوانا تو لاندِ لیکل شروع کړی. دغه شان دَ عقیدو، دَ اخلاقو، دَ حقرنو، دَ فرائضو، دَ اوسیدو، دَ لین دین، دَ سیاست، دَ قانون، دَ جماعت دَ نظم، دَ صلحے او دَ جنګ او دَ ژوند دَ نورو مسئلو په حقله چه قرآن کومه خو دنه کړیده هغه دِ ځان سره لیکی او په دِے دِ ځان پوهه کوی چه دَ هرے یوے څانګے مجموعی شکل څه جوړیږی او بیا چه دا ټولے څانګے یو ځائے شی نو دَ ژوند پوره نقشه څه جوړیږی.

بیا که چرے یو سړے دَ ژوند دَ خاصے مسئلے په باره کښې تحقیق کول غواړی چه قرآن دَ هغے باره کښې څه وائی نو دَ هغے دپاره ښه طریقه دا ده چه اول دِ هغه دَ دغے مسئلے په حقله پخوانی او نوی کتابونه په ژور نظر اوګوری او دا دِ معلومه کړی چه دَ دے مسئلے بنیادی نکات څه دی، انسان تر اُسه پورے په دے څه سوچ کړیدے او څه پوهه شویدے، کومے خبرے پکښې معلومول پکار دی، او دَ کوم ځائے پورے پکښې انسان خپل فکر زغلولے دے چه اخوا بیا نور نشی تللے. ددے نه روستو چه دا کومے خبرے پکښې معلومول پکار دی، دَ هغے دپاره دِ قرآن اوګوری. زما خپله تجربه ده چه دَ داسے قسمه مسئلو دپاره سړے قرآن کتل شروع کړی. نو هغه ته به په داسے داسے آیتونو کښې دَ خپلو سوالونو جوابونه ملاؤ شی چه هغه به ددے نه مخکښې هغه شل ځله لوستلی وی خو یو ځلے به ئے هم په خیال کښې دا نه وی راغلی چه دا مضمون هم ګنی په دے کښې پټ پروت دے.

لیکن په قرآن دَ پوهیدو دَ دے ټولو تدبیرونو باوجود سړے دَ قرآن په رُوح تر هغے نشی پوهیدلے تر څو چه هغه عملاً هغه کار اُونکړی دَ کوم دپاره چه قرآن راغلے دے. دا صرف دَ نظریاتو او خیالاتو کتاب نه دے چه ته په کرسئ کښې په آرام کښې او کتاب شروع کړے او په ټولو خبرو ئے ځان پوهه کړے. دا یو مذهبی کتاب هم نه دے، لکه څنګ چه دَ دُنیا دَ عامو خلقو په خیال کښې یو مذهبی کتاب وی، چه په مدرسو او خانقاهونو کښې وئیلے کیږی. لکه څنګه چه دَ مقدمے په اول کښې مویږ وئیلی دی، دا د دعوت او دَ تحریک یو کتاب دے. دے کتاب په راتلو سره په خلقو کښې خاموش طبع او نیکان خلق دَ ګو ټونو نه راا ُوو یستل او په ټوله دُنیا کښې ئے دَ هغه خلقو سره مقابلے ته وَدرَول چه دَ خدائے تعالیٰ نه پَشاوُو. دَ باطل

خلاف آوازونو پورته کولو ته ئے تیار کړل او دَ کافرانو، نافرمانو او گمراهانو خلاف ئے او جنګول دَ یو یو کور نه ئے نیکان او پاکان خلق را جمع کړل او دَ حق دَ بلونکی دَ جنډے لاندِ ئے وَدرول. دَ یو یو کوټ نه ئے یو یو شر لټونکے او فساد اُوچتوونکے را پورته کړو او دَ حق دَ حامیانو سره ئے اُو جنګه وُو. دے کتاب دَ یو سړی دَ شروع کړو او دَ خلافت الٰهیه قایمه ولو پورے ئے پوره دیریشت[۲۳] کاله دَ دے عظیم الشان تحریک خُود نه کوله، او دَ حق او دَ باطل په دے اُوږد جنګ کښے دے کتاب دَ ورانئ طریقے او دَ ودانئ نقشے اُو خود لے. اُوسے دا کله ممکن کیدے شی چه تهٔ دِ دَ سره دَ کفر او دَ اِسلام په میدانِ جنګ کښے قدم نهٔ بږدے او دَ جنګ دَ یو حالت نه خبر نهٔ شے او صرف دَ قرآن دَ الفاظو په وینا دِ دَ کفر او دَ اسلام دَ جنګ دَ ټولو حقیقتونو نه خبر شے. دَ دے نه خو به هله خبر شے چه دا کتاب را واخلے او را پاسے او دَ دعوت اِلَی الله کار شروع کړے او هغه شان قدم بږدے چه څنګ درته دا کتاب وائی. پس دَ هغے نه به هغه ټولے تجربے په تا راشی کومے چه دَ قرآن دَ نازلیدو په وخت وړاندِ راغلے وے دَ مکے، دَ حبشو او دَ طائف واقعے به هم اُووینے او دَ جنګِ بدر او اُحد نه را واخله تر دَ حُنین او دَ تبوک پورے مرحلے به درله هم مخے له راشی. دَ ابوجهل او دَ ابُولَهَب سره به دِ هم معامله راشی، دَ منافقینو او دَ یهودو سره به هم ملاؤ شے، او دَ سابقین اولین نه را واخله تر دَ مؤلّفة القلوب پورے هر څنګه انسانی نمونے به هم اُووینے او هم به ورسره ژوند تیر کړے. دا یو بل قسم "سلوک" دے، چه زهٔ ورته "سُلوکِ قرآنی" وائیم. دَ دے سُلوک دا شان دے چه تهٔ دَ دے دَ کوم منزل نه تیر یږے نو دَ قرآن څهٔ آیتونه او څه سورتونه به درله داسے مخے له راشی چه تا ته به پخپله معلومه شی چه دا په دے منزل کښے نازل شوی دی او دا خود نه کوی. په دغه وخت کښے دا ممکنه ده چه دَ لغت، دَ نحوے، دَ معنو او دَ بیان څه نکتے دَ سالک دَ نظر نه پټے پاتے شی، خو دا هیچرے ممکنه نهٔ ده چه دے به دَ قرآن په روح (اصل مطلب) پوهه نشی.

بیا دَ دے قاعدے کلیے مطابق سړے دَ قرآن په حکمونو، دَ قرآن په اخلاقی تعلیمونو، دَ قرآن دَ اوسیدو په طریقو او دَ ژوند دَ مختلفو اړخونو په باره کښے دَ قرآن په ښودلی شوی اُصولو او قوانینو باندِ تر هغے پوهیدلے نشی چه تر څو ئے په هغے عمل نهٔ وی کړے. نهٔ هغه سړے په دے کتاب پوهیدلے شی چه خپل ژوند ئے دَ قرآن نه آزاد ساتلے وی او

نۀ هغه قوم دَ قرآن نه فائده اغستے شي چه دَ هغوئ ټولے اجتماعي ادارے دَ قرآن دَ خودلي شوي طريقے نه خلاف چلیږي.

دَ قرآن دا دعوه ده چه زۀ دَ ټول انسانيت دَ لارخُودنے دپاره راغلے يم، او دَ هغه دَ دے دعوے نه هر وړوکے او غټ سړے بنه خبر دے. خو ليکن کله چه سړے قرآن لوستلو ته کيني نو کوري چه دَ قرآن زياتے خبرے دَ خپلے نازليدو دَ زمانے اهل عربو طرفته دي. کله نا کله بني آدم او عامو خلقو ته هم آواز کوي خو اکثر خبرے ئے داسے دي چه دَ عربو دَ طبيعت، دَ عربو دَ ماحول، دَ عربو دَ تاريخ او دَ عربو دَ رسم ورواج سره ډير سمون خوري. دا چه سړے اُووينې نو په دے سوچ کښے پريوزي چه کوم څيز دَ عام انسانيت دَ لارخودنے دپاره راغلے دے په هغے کښے دا دومره ډير وختي، مقامي او قومي څيزونه وَلي دي؟ په دے حقيقت باندِ نۀ پوهيدو په وجه بعضے خلق په دے شک کښے پريوزي چه کيدے شي چه قرآن په اصل کښے دَ خپلے زمانے دَ عربو دَ اصلاح دپاره ؤو، ليکن روستو بيا خلقو په زور باندِ دَ ټولو انسانانو دپاره دَ هميشه هميشه دپاره دَ هدايت کتاب ؤ کرځوؤ.

کوم سړے چه دا اعتراض صرف دَ اعتراض دپاره نۀ کوي بلکه ځان پوهه کول غواړي نو زۀ هغه له مشوره ورکوم چه دے دِ اول قرآن په خپله اُولولي او په هغه ځايونو دِ نښے اُولګوي کوم ځائے کښے چه ورته يوه داسے عقيده، يا خيال يا تصوّر، يا يو اخلاقي اصول يا يوه عملي قاعده، ښکاره شي چه هغه صرف دَ عربو دپاره وي، يا دَ يو وخت، دَ يوے زمانے او دَ يو ځائے سره محدود کړے شوے وي. صرف دا خبره چه قرآن دَ يو خاص ځائے او دَ يوے خاص زمانے خلقو ته خطاب کوي او دَ هغوئ مشرکانه عقيدو او رسمونو ته بدوائي، او دَ هغوئ دَ خواؤ شا څيزونه دَ توحيد دپاره دَ دليلونو په طور پيش کوي، دَ دے فيصلے کولو دپاره کافي نۀ ده چه دَ قرآن ټول دعوت او اپيل هم دَ يو وخت او دَ يو ځائے دپاره دے. کتل پکار دي چه دَ شرک په ترديد کښے څه چه قرآن وائي آيا هغه دَ ټولے دُنيا دَ هر شرک په باره کښے هغه شان صحيح نۀ دي لکه څنګ چه دَ عربو دَ شرک په باره کښے صحيح دي؟ آيا هم دغه دليلونه مونږ دَ هرے زمانے او دَ هر وطن دَ مشرکانو دَ اصلاح دپاره استعماله و[illegible] شو؟ او آيا دَ خدائے دَ يو والي دَ ثبوت دپاره دَ قرآن پيش کړے شوي مثالونه هر وختِ او هر ځائے کښے پکار راوستلے نشي؟ که چرے شي نو بيا يوه وجه داسے نشته چه يو عالمګير تعليم صرف

په دے وجه دَ یو وخت او دَ یو ځائے دپاره اوکنړلے شي چه هغه په یو خاص وخت کښے دَ یو خاص قوم دَ وړاندِ پیش کړے شوے وُو. په دُنیا کښے یوه فلسفه، دَ ژوند یو نظام او دَ فکر یوه طریقه داسے نشته چه دَ هغے ټولے خبرے دَ اوّل نه تر آخره پورے په نالیدلی طرز (ABSTRACT) بیان کړے شوی وی او په یو خاص حالت یا صورت باندے وضاحت نهٔ وی شوے. داسے مکمل تجرید اول خو ممکن نهٔ دے او که چرے ممکن وی هم نو کوم څیز چه په تجریدی طریقے سره پیش کړے شي هغه صرف دَ کاغذ په مخ باندِ وی، دَ انسانانو په ژوند کښے ئے عمل دخل مشکل وی.

بیا که چرے دَ ټولے دُنیا دَ قومونو په منځ کښے دَ فکر، دَ اخلاقو او پخپلو کښے دَ اوسیدو دَ یو تحریک خورول مقصود وی، نو دَ هغے دپاره دا ضروری نهٔ ده، بلکه فائده منده هم نهٔ ده، چه دَ اول شروع نه دِ دَ دغه تحریک دَ خورولو کوشش په ټوله دُنیا کښے شروع کړے شي. په حقیقت کښے په هغے باندِ دَ کارکولو صحیح طریقه صرف یو ده، او هغه دا ده چه دغه تحریک دَ انسان دَ ژوند نظام په کومو فکرونو، خیالاتو او اُصولو باندِ قایمه ول غواړی، هغه دِ اول پخپله په هغه ملک کښے پیش کړے شي په کوم ملک کښے چه دغے تحریک طرفته بلنه شوی وی، دَ هغے خلقو په ذهن کښے دِ دغه اُصول کینولے شي دَ چا دَ ژبے، دَ طبیعت او دَ خوئی خصلت نه چه بلونکے ښه واقف وی، او بیا دِ هم په خپل وطن کښے په دغه اُصولو کار شروع کړ شي او دَ ژوند یو کامیاب نظام دِ روان کړے شي او دُنیا ته دِ یوه ښونه وړاندِ کړ یشي. پس دَ هغے به نور قومونه دے تحریک ته توجه وُکړی، هوښیاران خلق به پرِ ځان پوهه کړی او په خپل ملک کښے به دَ رواج ورکولو کوشش وُکړی. ځکه خو صرف دا خبره چه دَ فکر وعمل یو نظام اول دَ یو قوم په وړاندِ پیش کړے شوے وُو او هم دَ هغے قوم دَ پوهه کولو او دَ هغوئ دَ مطمئن کولو دپاره ئے زور لګولے وُو، دَ دے خبرے دلیل نهٔ دے چه ګنی دغه نظام صرف دَ یو قوم دپاره دے. په حقیقت کښے دَ یو قومی نظام او دَ بین الاقوامی نظام دَ یو وقتی نظام او دَ ابدی نظام ځان له ځان له خاصیتونه دی چه په هغے پیژندے شي. قومی نظام یا خو دَ یو قوم دَ اوچتوالی او دَ هغے دَ خاص حقونو دعوه کوی او یا ئے داسے اُصول او نظریات خپل کړی وی چه په نورو قومونو نشی چلیدلے. دَ دے نه برعکس بین الاقوامی نظام ټولو انسانانو ته یو شان درجه او یو شان حقونه ورکوی او داسے اصول خپله وی چه په ټوله دُنیا کښے دَ چلیدو قابل وی. دغه شان دَ یو وختی نظام داسے اصول وی

چه دَ وخت په تیرید و دَ عمل کولو قابل نهٔ پاتی کیږی. دَ دے نه برعکس دَ اَبدی نظام اُصول په هیڅ حالت کښے نهٔ بدلیږی. دا خاصیتونه چه دَ چا په نظر کښے وی هغه دِ پخپله قرآن ولولی او هغه ټول ځایونه دِ په کوته کړی چه دَ کومو په وجه واقعی دا گمان کیدیشی چه قرآن یو وختی او قومی نظام پیش کړے دے.

دَ قرآن په حقله دَ یو عام لوستونکی په غوږ کښے دا خبره هم پرته وی چه دا یوه مفصله هدایت نامه او دَ آئین یو کتاب دے. خو چه کله لوستونکے قرآن لولی نو په قرآن کښے ورته پخپلو کښے دَ وُسیدو، دَ سیاست او دَ معیشت وغیره حکمونه او قاعدے په تفصیل سره نهٔ ښکاری. بلکه هغه وینی چه په کومو فرضو باندِ قرآن ډیر زور ورکوی لکه مونځ او رُوژه دَ هغے په حقله پکښے یوه داسے قاعده ضابطه نشته چه په هغے کښے دَ مونځ رُوژے ټول ضروری حکمونه درج وی. دا خبره هم دَ سړی په ذهن کښے دا شک راپیدا کوی چه دا قرآن آخر څنګه هدایت نامه ده.

دا شک ځکه پیدا کیږی چه دَ سړی نه دَ حقیقت یوه ډډه بالکل پناپاتی کیږی، او هغه دا چه الله تعالی صرف کتاب نهٔ وُو نازل کړے بلکه یو پیغمبر ئے ورسره هم رالیږلے وُو، که چرے اصل سکیم دا وے چه یوه نقشه دِ خلقو له ورکړے شی او خلق دِ پخپله دَ هغے مطابق آبادی اُوکړی نو بیا دا پکار وه چه دَ آبادئ دَ یوے یوے حصے تفصیل ئے مونږ له راکړے وے. لیکن کله چه دَ آبادئ دَ هدایا تو سره سره یو انجنیئر هم سرکاری طور مقرر کړے شی او هغه انجنیئر دَ دغے هدایا تو مطابق یوه آبادی جوړه کړی، او بیا تهٔ دَ انجنیئر دغے جوړے شوے آبادئ ته نهٔ ګورے او صرف په نقشه کښے دَ هرے حصے تفصیل لټوے او هغه تفصیل درته ملاؤ نهٔ شی او بیا دا وائے چه دا ټوله نقشه نامکمله ده، نو ستا دا ټول شک او شکایت غلط دے قرآن یو داسے کتاب نهٔ دے چه پکښے دِ دَ وړو وړو خبرو تفصیل هم وی بلکه دا دَ اُصولو او دَ کلیاتو کتاب دے. دَ قرآن اصل کار دا دے چه دَ اسلامی نظام فکری او اخلاقی بنیادونه ښهٔ په وضاحت سره پیش کړی او په عقلی دلیلونو او جذباتی اپیلونو ئے ښهٔ مضبوط او مستحکم کړی. پاتے شو دَ اسلامی ژوند عملی شکل، نو پدے کښے قرآن په دے طریقه انسان ته لار نهٔ ښائی چه دَ ژوند دَ یوے یوے څانګے قاعدے قانونونه ښهٔ په تفصیل سره بیان کړی، بلکه قرآن دَ ژوند دَ هرے څانګے حدونه ښائی او چارچاپیره تر په یو څو ګوټونو کښے دَ نشان

په طور یو څو غټ غټ کانړی وَ دَ رَوی، او دَ دغه کانړو دا مطلب وی چه دَ الله تعالیٰ دَ مرضئ مطابق په دے حدونو آبادی پکار ده. دَ الله تعالیٰ دَ هدایاتو مطابق عملاً دَ اسلامی ژوند شکل جوړول دَ نبی صلی الله علیه وسلم کار وُو. هغه ته دا حکم وُو چه دَ قرآن دَ اُصولو مطابق دَ خپل ځان دَ خوئ خصلت جوړولو، دَ یوے معاشرے او دَ ریاست جوړولو، یوه ښکلی نمونه ټولے دُنیا ته پیش کړی.

عام طور دَ خلقو په ذهن کښے یو بل سوال راځی، هغه دا چه یو طرفته قرآن هغه خلقو ته ډیر بد وائی چه دَ خدا ئے دَ کتاب دَ راتلو نه روستو ډلے ډلے شی او دَ یو بل سره اختلافات شروع کړی او خپل دین ټوکړے ټوکړے کړی، او بل طرفته دَ قرآن دَ حکمونو په تفسیر کښے دَ روستنو او دَ پخوانو عُلماؤ، دَ تابعینو او دَ صحابو په مینځ کښے دومره اختلافات دی چه شاید دَ قرآن دَ حکمونو یو آیت به هم داسے ملاؤ نشی چه مختلفو علماؤ به دَ هغے یو تفسیر په اتفاق سره کړے وی نو آیا دا ټول عُلماء هغه شان بد دی لکه څنګه چه په قرآن کښے اختلاف کونکو ته بد وئیلے شوی دی؟ که چرے دا ټول بد نه دی نو بیا هغه کومه ډله ده او هغه کوم اختلاف دے چه بَد دے او قرآن تر منع کړیده.

دا ډیره لویه مسئله ده او په دے باندِ په تفصیل سره دَ بحث کولو دا موقع نه ده. دلته دَ قرآن دَ یو عام طالب علم دَ شک لرے کولو دپاره صرف دومره اشاره کافی ده چه قرآن دَ هغے صحیح او فائده مند اختلاف مخالف نه دے کوم چه صرف دَ حکمونو او دَ قوانینو په تشریح کښے دَ مخلصانه تحقیق په وجه شوے وی خو په دین کښے ئے اتفاق او په اسلامی نظام جماعت کښے ئے اتحاد برقرار ساتلے وی، بلکه قرآن دَ هغے اختلاف مخالف دے کوم چه دَ نفسانی خواهشاتو او دَ بدنیت نه شروع شوے وی او نوبت ئے ډلے پَرو او جنګ جګړو ته رسیدلے وی، دَ دے دواړو قسمو اختلافاتو حقیقت یو شان نه دے او نه ئے آخری انجام دَ یو بل سره مشابهت لری نو ځکه دواړو اختلافاتو ته په یو شان سترګه نشی کتلے کیدے. اولنے قسم اختلافات دَ ترقئ دپاره ضروری او دَ ژوند دپاره لازمی دے. دا قسم اختلاف په هغه خلقو کښے موندے شی کوم چه عقل لرونکی او فکر کونکی خلق وی. په خلقو کښے چه دا قسم اختلاف موجود وی نو دا دهغوی دَ ژوند یوه نښه ده، او چه پکښے موجود نه وی نو دَ هغوی مثال بیا دَ وچولړ کو وی. پاتے شو دا دویم قسم اختلاف نو دا ټوله دُنیا دا پیژنی، چه دے اختلاف په کومو خلقو کښے سر اُوچت کړے دے نو هغه ئے

تار تار کړی دی. دا دَ صحت نښه نۀ ده بلکه دَ مرض نښه ده، او دَ دے آخری انجام دَ یو اُمت دپاره هم نۀ دے فایدهمند شوے. دَ دے دواړو قسمو اختلافاتو فرق داسے وُګڼړه چه:

دَ اختلاف یو شکل خو دا دے چه دَ ډلے ټول خلق دَ خدائے او دَ رسول په اطاعت متفق وی، او قرآن او سنت په اتفاق سره دَ حکمونو ماخذ منی، او بیا دوه عالمان دَ یوے وړے جزوی مسئلے په تحقیق کښے، یا دوه قاضیان دَ یوے مقدمے په فیصله کښ د یو بل نه اختلاف وُکړی، خو په هغوئ کښے یو هم خپلے مسئلے یا خپلے رائے ته دین نه وائی، او نۀ هغه خلق چه دَ هغوئ دَ رائے نه اختلاف لری دَ دین نه بهرګنړی، بلکه دواړه دَ خپله رسه پورے ښۀ په دلیلو نو سره تحقیق وُکړی، او دا خبره خلقو ته پریږدی، او یا که عدالتی مسئله وی نو دَ ملک آخری عدالت ته ئے پریږدی، او که اجتماعی معامله وی نو نظامِ جماعت ته ئے پریږدی، چه په دواړو رایو کښے کومه رائے قبلول غواړی هغه دِ قبوله کړی، یا دِ دواړو ته جائز اُووائی.

دَ اختلاف دویم شکل دا دے چه اختلاف دَ دین په بنیادونو کښے وُکړیشی، یا دا چه یو عالم یا یو صوفی یا یو مفتی یا یو متکلم یا دَ قام یو مشر په یوه داسے مسئله کښے خپله رائے اختیار کړی چه هغه مسئله خدائے او رسول دَ دین بنیادی مسئله نۀ وی ګرځولی خو دے ئے خامخا دَ دین مسئله جوړه وی، او دَ هغے نه چه څوک اختلاف کوی هغه دَ دین نه بهرګنړی، او دَ خپل خیال دَ ملګرونه یوه ډله جوړه کړی او وائی چه اصلی اُمّتِ مُسلمه هم دا دے او باقی ټول دوزخیان دی، او په جار خلقو ته وائی که مسلمانان یئ نو په دے ډله کښے شامل شئ که نئ نو بیا دَ سره مسلمانان هم نۀ یئ.

قرآن چه په هر ځائے کښے دَ کوم اختلاف او دکومے ډلے پرے مخالفت کړیدے دَ هغے نه مراد دا دویم قسمه اختلاف دے. پاتے شو اولنے قِسم اختلاف، نو د هغے بے شمیره مثالونه پخپله نبی صلی الله علیه وسلم ته وړاندِ راغلی وُو، او هغه ورته نه صرف دا ویلی وُو چه دا جائز دی بلکه هغه ورته ډیر شاباسے هم ورکړے وُو. دا ځکه چه د دے قِسم اختلاف دَ موجودیدو نه دا معلومیږی چه په جماعت کښے دَ غور و فکر کولو، دَ تحقیق او دَ تجسّس کولو، او دَ پوهے دَ صلاحیتونو لرلو خلق شته دے. دَ جماعت دَ هوښیارانو خلقو دَ خپل دین سره

او دَ دین دَ حکمونو سره مینه شته دے، هغوئ دَ خپل ژوند دَ مسئلو حل دَ دین نه بهر نهٔ بلکه په دین کښے دننه لټوی، او جماعت په دے زرینے قاعدے باندِ عمل کوی چه په اُصولو باندِ متفق دی او په خپلو کښے اتحاد برقرار ساتی او دَ ترقئ دپاره خپلو علماؤ او مفکرینو ته دَ صحیح حدونو دننه دننه دَ تحقیق او دَ اجتهاد آزادی ورکوی. هذا ما عندی والعلم عند الله علیه توکلت والیه انیب.

زمادا مطلب نهٔ دے چه په دے مقدمه کښے دِ هغه ټولے مسئلے صفاشی کومے چه دَ قرآن لوستلو په دوران کښے دَ یو عام لوستونکی په ذهن کښے راپیدا کیږی. ځکه چه اکثر سوالونه دے دی چه دَ یو آیت یا دَ سورة لوستلو په دوران کښے په ذهن کښے راځی، او دَ هغے جواب په تفهیم القرآن کښے په موقع باندِ ورکړے شوے دے. دَ دے وجے نه ماداسے سوالونه پرېخودی دی او دلتهِ م صرف هغه جامع مسئلے بیان کړی دی چه مجموعی طور دَ ټول قرآن سره تعلق لری. لوستونکو حضراتو ته زمادا درخواست دے چه یواځے دَ دے مقدمے په لوستلو سره دا فیصله مهٔ کوئ چه دا مقدمه کمه ده او پکښے دَ ټولو سوالونو جوابونه نشته، بلکه ټول کتاب اوکوری او دَ هغے نه روستو چه دَ یو سوال جواب نهٔ وی شوے، یا درته دَ یو سوال جواب نیمکړے ښکاره شی، نو دَ هغے نه ماخبر کړئ.

تفهم القرآن الكريم

الفاتحة ——— ①

البقرة ——— ②

الفاتحة

نوم | دا نوم "الفاتحه" دَ دے سورة دَ مضمون سره دَ مناسبت په وجه ایښودلے شوے دے. "فاتحه" هغه څیز ته وئیلے شی چه دَ هغے نه دَ یو مضمون یا دَ یو کتاب یا دَ یو بل څیز افتتاح یعنی شروع شوی وی. یا خو داسے اوکنړه چه دَ دے نوم معنیٰ دَ "دیباچے" او دَ "آغازِ کلام" پشان ده.

دَ نازلیدو زمانه | دا سورت دَ حضرت محمد صلی الله علیه وسلم دَ نبوت په اولو ورځو کښے نازل شوے دے. بلکه دَ معتبرو روایتونو نه دا معلومیږی چه په محمد صلی الله علیه وسلم باندِ دَ ټولو نه اول مکمل او پوره سورت دا نازل شوے دے. دَ دے نه اول صرف جُدا جُدا آیاتونه نازل شوی وُو چه هغه اُوس په سورهٔ علق او سورهٔ مزمل او سورهٔ مدثر وغیره کښے شامل دی.

مضمون | په اصل کښے دا سورت یوه دُعا ده چه خدائے پاک هغه چا ته ښودلے ده چه څوک په دے کتاب شروع کوی. او دَ کتاب په اول سر کښے دَ ایښودلو مطلب ئے دا دے چه که چرے تا سو دَ دے کتاب نه واقعی فائده اغستل غواړئ نو اول دَ جهانونو دَ بادشاه نه دا دُعا وُ غواړئ.

دا دَ انسان عادت دے چه دَ یو څیز طلب او خواهش ئے کله په زړهٔ کښے راشی نو دَ هغے دپاره دُعا ګانے کوی، او دُعا دَ هغه چا نه غواړی چه دَ چا په اختیار کښے هغه څیز وی. نو دَ قرآن په اول سر کښے دا دُعا غوښتل داسے دی لکه چه انسان ته دَ الله دَ طرفنه دا ښودنه شوی ده چه انسان دِ دا کتاب صرف دَ صحیح لارے لټولو دپاره وائی، او دَ لوستلو په دوران کښے دِ دَ هغه په ذهن کښے صرف دَ حق تلاش وی، او دا دِ وُمنی چه ټول علمونه دَ جهانونو دَ بادشاه سره دی، او هم دغے بادشاه ته دِ دا درخواست وُکړی چه هغه ته نیغه لار اُښائی او بیا دِ دا قرآن شروع کړی.

په دے مضمون دَ پوهیدو نه روستو دا خبره په خپله معلومه شوه چه سورة فاتحه دَ قرآن پاک مقدمه نه ده بلکه یوه دُعا ده چه بنده ئے دَ الله نه غواړی او په جواب کښے دَ الله تعالیٰ دَ طرفنه ټول قرآن را وړاندِ شی. بنده دُعا وُ غواړی چه اے پروردګاره! ما ته سمه لار اُوښایه، په جواب کښے ورته پروردګار ټول قرآن وړاندِ کړی. چه دا دے هغه هدایت او سمه لاره چه دَ کومے تا ما ته درخواست کړے دے.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝۱ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝۲

دَ الله دَ نوم نه چه رحمٰن او رحیم دے[1]

تعریف خاص دَ الله دے[2]، چه دَ ټولو کائناتو رب دے[3]، رحمٰن او رحیم دے[4]،

[1] اسلام چه انسان ته کوم تهذیب بنائی په هغے کښے یوه قاعده دا هم ده چه انسان دِ دَ خپل هر کار شروع دَ خدائے دَ نوم نه کوی. که دَ دے قاعدے پابندی په رښتیا او په اخلاص سره وُشی نو دے فائدے به لازماً حاصلے شی. یوه دا چه سړے به دَ ډیرو غلطو کارونو نه بچ شی، ځکه چه په هر کار باندِ په شروع کولو سره دَ خدائے نوم اغستل به دَ سړی عادت جوړ شی او دا عادت به بیا سړے په دے فکر کولو مجبور کوی چه آیا په دے کار باندِ دَ خدائے نوم اغستل ماله جائز دی او که نه؟ دویم دا چه څوک په جائز او نیکو کارونو باندِ دَ شروع کولو په وخت دَ خدائے نوم اخلی نو دَ هغه ذهن به په صحیح طرف وی او دَ خپل هر کار شروع به دَ صحیح بنیاد نه کوی. دریمه او دَ ټولو نه لویه فائده دا ده چه څوک دَ خدائے دَ نوم نه خپل کار شروع کوی نو دَ هغه سره به دَ خدائے امداد او طاقت مل وی، دَ هغه په هر کار کښے به برکت وی او هغه به دَ شیطان دَ دوکو فسادونو نه بچ وی دَ خدائے دا طریقه ده چه کله بنده خدائے ته مخه کړی نو خدائے بنده ته مخه کړی

[2] لکه څنګه چه په دیباچه کښے مونږ وئیلی دی چه سورة فاتحه یوه دُعا ده، خو په دُعا کښے اول دَ هغے ذات تعریف کیږی دَ کوم ذات نه چه مونږ دُعا غواړو. نو ګویا دا دَ دے خبرے ښودنه ده چه کله دُعا غواړئ نو په ښکلے طریقه ئے غواړئ. دا څه ښکلے طریقه نه ده چه سړے دَ خولے پرانستلو سره خپل مطلب شروع کړی. ښه طریقه دا ده او ښه سړیتوب هم دے ته وائی چه سړے دَ چا نه دُعا غواړی نو اول دِ دَ هغه نیکئ، احسانات او مرتبه بیان کړی، او بیا دِ دَ هغه احسانات او مرتبه اُومنی.

مونږ چه دَ چا تعریف کوؤ نو دَ هغے دوه وجے وی. یوه دا چه څوک پخپله دَ ښه خُو بو او کمال مالک وی، نو بیا مونږ دَ دے پروا نه لرو چه دَ هغه دَ کمال او دَ خو بو مونږ ته څه فائده شته او که نه خو تعریف ئے کوؤ. دویمه دا چه چا زمونږ سره نیکی کړی وی نو دَ هغے نیکئ په بدله کښے ئے مونږ تعریف کوؤ، دَ الله تعریف دے دواړو وجو نه دے. مونږ له پکار دی چه یو خو دَ الله دَ حُسن و کمال په وجه دَ هغه تعریف وُکړو او بل دَ الله دَ احسان په وجه هر وخت دَ هغه په تعریف ګویان شو.

صرف دا نه چه تعریف دَ الله دے بلکه صحیح خبره دا ده چه "تعریف خاص دَ الله" دے. په دے دنیا سره الله ډیر لوئے حقیقت ښکاره کړے دے، او هغه دا چه دَ مخلوق پرستئ بنیاد ئے ختم کړے دے. دَ دُنیا په

مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ ۝۳ اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ ۝۴

دَ ورځے دَ جزا مالک دے[5].

مونږه خاص ستا عبادت[6] کوؤ او خاص ستا نه مدد غواړو[7].

هر ځائے او په هر څیز کښے چه څه قسمه خوبی او کمال موندلے شی دَ هغے اصل دَ الله ذات دے، دَ الله په مخلوق کښے، خواه که هغه انسان دے یا فرښته ده یا یوه سیّاره ده، په دے مخلوق کښ چه څه کمال او خوبی ده، دا دَ دے مخلوق ذاتی څیز نه دے بلکه دا دَ الله تعالیٰ دَ طرفنه ورکړے شوی عطیه ده. نو ځکه خو یو الله، خالقِ کمال، دَ دے مستحق دے چه مونږه ئے غلامان شو، احسان ئے اُومنو، شکر ئے اُوباسو عبادت ئے وُکړو او صرف دَ هغه خادمان شو، بل هیڅ څوک، صاحبِ کمال دَ دے مستحق نه دے.

[3] په عربئ ژبه کښے دَ "رب" درے معنیٰ دی. (۱) مالک او آقا. (۲) مُربی. پالونکے، خبر اغستونکے او ساتونکے. (۳) بادشاه، حاکم، تدبیر او انتظام کونکے. په دے ټولو معنو سره الله دَ کائناتو رب دے.

[4] دَ انسان په نظر کښے چه کوم څیز ډیر زیات وی نو دَ هغے بیان په مبالغے سره کوی، او که چرے هغه څیز دومره ډیر زیات وی چه په یوه مبالغه ئے تسلی نه کیږی نو بیا دَ خپلے تسلئ کولو دپاره یو بل لفظ بیان کړی چه دَ هغے زیاتوالی کے پرپوره شی. دَ الله په تعریف کښ دَ رحمان لفظ نه روستو دَ رحیم لفظ استعمالول هم دغه حیثیت لری. په عربئ کښ رحمٰن دَ ډیرے مُبالغے صیغه ده. خو دَ خدائے رحمت او مهربانی په مخلوق دومره ډیره، فراښه او بے حسابه ده چه دَ لوئے نه لویه مبالغه ئے هم نشی ادا کولے. ځکه ورپسے بل لفظ رحیم استعمال شوے دے چه دَ الله دَ رحمت دَ فراښئ حق ادا شی. دَ دے مثال داسے دے لکه چه یو سړے ډیر سخی وی او دَ هغه دَ سخاوت په بیان کښ مونږ دا اُووایو چه "هغه یو سخی سړے دے"، خو لفظ سخی راته دَ هغه دَ سخاوت په مقابله کښ کم ښکاره شی نو زر اُووایو چه "هغه خو یو دریاب دے"، دغه شان دَ تیز رنګ په باره کښ چه صرف لفظ "سُور" راته کم ښکاره شی نو ورسره لفظ "تک" زیات کړو او "تک سُور" اُووایو. او دَ دنګ قد په ذکر کښ چه راته لفظ دنګ کم ښکاره شی نو لفظ "لوړ" ورسره زیات کړو او "دنګ لوړ" اُووایو.

[5] یعنی دَ هغے ورځے مالک دے چه په کومه ورځ به وړاندے روستو ټول نسلونه راجمع کړیشی، دَ عملونو حساب به کیږی او هر انسان ته به دَ هغه دَ عمل پوره پوره بدله ورکړے کیږی. دَ خدائے په صفت کښ دَ رحمٰن او رحیم نه روستو دَ "مالک دَ ورځے دَ جزا" وئیلو مطلب دا دے چه هغه تش مهربانه نه دے بلکه داسے اختیار والا انصاف کونکے هم دے چه دَ آخری فیصلے په ورځ به دَ پوره اقتدار مالک وی، که چاله سزا ورکوی نو څوک به ئے مخے له نشی راتلے او که چاله جزا ورکوی نو څوک به ئے نشی منع کولے. ځکه خو یو طرفته دَ هغه دَ پالنے او دَ رحم په وجه مونږه دَ هغه سره مینه او محبت لرو، او بل طرفته دَ هغه دَ انصاف په وجه دَ هغه نه یَریږو. وهم او دا احساس په زړه کښ لرو چه زمونږه ښه او بد دواړه انجامونه پوره پوره دَ الله په اختیار کښ دی.

[6] دَ عبادت لفظ هم په عربئ ژبه کښ په درے معنو کښ استعمالیږی. (۱) دَ عبادت ظاهری طریقه، پرستش. (۲) اطاعت او فرمانبرداری (۳) بندګی او غلامی دلته دَ عبادت نه مراد

اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ ۙ﴿۵﴾ صِرَاطَ الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ ۙ غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَ لَا الضَّآلِّيْنَ ﴿۶﴾ ع

مونږ ته نیغه لاره وُښایه[۸]، دَ هغه خلقو لار چه تا په هغوئ باندِ انعام کړے[۹] دے، چه هغوئ له سزا نهٔ ده ورکړے شوی او نهٔ بے لارے شوی[۱۰] دی. ع

دا درے واړه معنے دی، یعنی مونږه ستا عبادت کونکی، ستا فرمان منونکی او ستا بندګان غلامان یُو. او خبره صرف دا نهٔ ده چه زمونږه ستا سره دَ عبادت دا تعلق دے بلکه حقیقت دا دے چه زمونږه دَ عبادت دا تعلق هم صرف ستا سره دے، په دے درے واړو معنو سره هم تهٔ زمونږه معبود ئے بل هیڅوک نشته.

[۷] یعنی زمونږه تعلق ستا سره یواځے دَ عبادت نهٔ دے بلکه دَ امداد غوښتلو تعلق موهم ستا سره خاص دے. مونږ ته معلومه ده چه دَ ټولو کائناتو پالونکے تهٔ ئے، ټول طاقتونه ستا سره دی، دَ ټولو نعمتونو یواځے تهٔ مالک ئے، ځکه خو مونږه دَ خپلو ټولو حاجتونو پوره کولو د پاره تا ته درځو، دَ غوښتنے د پاره تا ته لاس نیسو، او صرف ستا په مدد باندِ موبروسه ده. او هم دا وجه ده چه دا درخواست په لاس ستا خدمت کښ حاضر یُو.

[۸] یعنی دَ ژوند په هر اړخ کښ مونږ ته دَ صحیح خیال، دَ نیک عمل او دَ ښهٔ سلوک کولو داسے طریقه اُوښایه چه دَ غلطئ پکښ هیڅ خطره نهٔ وی بلکه انجام ئے کامیابی او نیک بختی وی ـــــ دا هغه درخواست دے چه بنده ئے خپل رب ته هغه وخت کوی کله چه هغه قرآن پاک شروع کوی. بنده درخواست کوی چه اے ربه تهٔ مونږ ته نیغه لار اُوښایه. او مونږه په دے پوه کړه چه دَ کمانی علمونو په تاؤ را تاؤ لاره کښ اصلی حقیقی لاره کومه یوه ده، په دے مختلفو اخلاقی نظریو کښ صحیح اخلاقی نظام څه دے، او دَ ژوند دَ بے شمیره نرو نرو لارو په منځ کښ دَ فکرو عمل سیده صفا اولو یه لاره کومه یوه ده.

[۹] دا د هغه نیغے او صفا لارے تعریف دے چه دَ کومے لارے مونږه دَ الله نه غوښتنه کړیده. یعنی هغه لار چه په هغے همیشه ستا انعام اغوستونکی او خوښے او غوره خلق ځی.

[۱۰] یعنی دَ انعام موندونکو خلقو نه زمونږه مراد هغه خلق نهٔ دی چه په ظاهره ورسره ستا دَ دُنیا نعمتونه ډیروی خو په حقیقت کښ هغوئ ستا دَ غضب مستحق وی او دَ کامیابئ د لارے نه بے لارے وی. د دے تشریح نه دا معلومه شوه چه دَ "انعام" ته زمونږه مراد هغه حقیقی او پائیداره انعامات دی چه هغه، هغه چا ته ملاویږی چه په صراط مستقیم لاړ شی او دَ الله رضا ورته حاصله شی، او هغه عارضی انعامات مراد نهٔ دی کوم چه اول دَ فرعون، دَ نمرود او دَ قارون غوندِ خلقو ته ملاویدل، او اوس هم زمونږ په مخکښ ډیرو ډیرو ظالمانو، بدکارانو او گمراهانو ته ملاویږی.

البقرة

نوم او دَ نوم وجه دَ دے سورة نوم "بقره" ځکه ایښودلے شوے دے چه په دے کښے په یو ځائے کښے دَ غوا ذکر راغلے دے. دَ قرآن مجید په هر سورة کښے دومره ډیر مضمونونه بیان شوی دی چه دَ هغے دپاره دَ مضمون په مناسبت سره جامع عنوانات نشی کتلے کیدے. عربي ژبه اګرچه دَ خپل لغت په اعتبار سره ډیره مالداره ژبه ده. خو بهرحال ده یوه انساني ژبه. انسان چه کومه ژبه وائي هغه دومره لنډه تنګه ده چه په هغے کښے داسے الفاظ او فقرے نشته چه دَ دے فراخه مضمونونو دپاره جامع عنوان جوړ کړے شي. دَ دے وجے نه نبي صلی الله علیه وسلم دَ الله تعالیٰ په اشاره باندِ دَ قرآن دَ ډیرو سورتونو دپاره دَ عنواناتو په ځائے نومونه ایښودلی دی چه په هغے صرف یو سورة پیژندلے شي. دے سورة ته دَ سورة بقرے وئیلو مطلب دا نه دے چه په دے کښے دَ غوا مسئلے بیان شوی دی بلکه دَ دے مطلب صرف دا دے چه "هغه سورة چه په هغے کښے دَ غوا ذکر راغلے دے".

دنازلیدو زمانه دَ دے سورة ډیره حصه مدینے ته دَ هجرت کولو نه روستو بالکل په اولنی دور کښے نازله شوی ده، او ډیره کمه حصه داسے ده چه هغه روستو نازله شوی ده او دَ مضمون سره دَ مناسبت په لحاظ په دے کښے شامله کړے شویده. تر دے پورے چه دَ سُود دَ ممانعت په سلسله کښے کوم آیتونه نازل شوی دی هغه هم په دے سورة کښے شامل دی حالانکه هغه دَ نبي صلی الله دَ ژوند په آخره زمانه کښے نازل شوی وُو سورة چه په کومو آیتونو ختم شوے دے هغه دَ هجرت نه مخکښے په مکه کښے نازل شوی وُو لیکن دَ مضمون دَ مناسبت په وجه هغه هم په دے سورة کښے شامل کړے شوی دی.

شانِ نزول په دے سورة باندِ دَ پوهیدلو دپاره اول دَ دے سورة په تاریخي حالاتو باندِ ځان ښه پوهه کول پکار دی.

(۱) دَ هجرت نه مخکښے په مکه کښے زیات تر خطاب دَ عربو مشرکانو ته وُو چه اسلام دهغوئ دپاره یو نوے او ناآشنا آواز وُو. او س دَ هجرت نه روستو پکښے یهودیان راغلل چه کلی ئے دَ مدینے سره بالکل جوخت وُو. دا یهودیان دَ توحید، رسالت، وحی، آخرت او دَ فرښتو قائل وُو، دَ شریعت هغه قانون ئے منلو چه دَ خدائے دَ طرفنه دَ هغوئ په نبي موسیٰ علیه السلام باندِ نازل شوے وُو او دین ئے هم هغه اسلام وُو دَ کوم تعلیم چه حضرت محمد صلی الله علیه وسلم خلقو ته ورکولو. لیکن دَ ډیرے مودے دَ تنزل په وجه هغوئ دَ اصلي دین نه ډیر لرے تلی وُو.[1] دَ هغوئ په عقیدو کښے ډیر داسے غیر اسلامي کارونه شامل شوی وُو چه دَ هغوئ سره ئے په توراة کښے څه سند موجود نه وُو. دَ هغوئ په ژوند کښے داسے رسمونه او ریواجونه شامل شوی وُو چه نه په اصل دین کښے وُو او نه ئے په توراة کښے څه ثبوت وُو. پخپله توراة هغوئ دَ انساني کلام سره خلط ملط کړے وُو. او دَ خدائے کلام چه دَ څه حده پورے لفظاً یا معنیً محفوظ وُو هغه هم هغوئ دَ خپلے خوښے په تفسیرونو او غلطو معنو باندِ بدل کړے

---

[1] په دغه وخت کښے دَ حضرت موسیٰ نه روستو تقریباً نورلس ۱۹ صدئ تیرے شوے وے. دَ اسرائیلي تاریخ په حساب سره حضرت موسیٰ په سنه ۱۲۹۲ قبل مسیح کښے وفات شوے وُو او نبي صلی الله علیه وسلم ته په سنه ۶۱۰ بعد مسیح کښے نبوت ملاؤ شوے وُو.

وُو. دَ دین حقیقی روح دَ هغوئ نه وتلے وُو او دَ ظاهری مذهب صرف یو مړکالبوت باقی وُو چه هغه ئے دَ سینے سره نکولے وُو. دَ هغوئ دَ عالمانو او بزرګانو، دَ هغوئ دَ قوم دَ سردارانو او دَ عامو خلقو، دَ ټولو عقیدے، اخلاق او عملونه خراب شوی وُو، او دے خپل خراب حالت سره ئے دومره مینه وه چه هیڅ یو اصلاح قبلولو ته نه تیاریدل. دَ ډیرے مودے راسے دا کار وُو چه کله به دَ الله یو بنده هغوئ ته دَ دین دَ نیغے لارے خودلو دپاره راغے نو هغه به دوئ دَ ټولو نه لوئ خپل دُشمن کنړلو او دا کوشش به ئے کولو چه په هیڅ شان سره هغه په اصلاح راوستلو کښے کامیاب نشی. دا یهودیان په حقیقت کښے خراب شوی مسلمانان وُو. دوئ په دین کښے نوے خبرے پیدا کړے وے او خپل دین ئے بدل کړے وُو، په معمولی خبرو باندِ به ئے بے مطلبه بحثونه کول، ټول ډلے ډلے شوی وُو، دَ خپلو پلارانو او نیکونو په کار باندِ به ئے هسے فخر کولو، خدائے تعالیٰ ئے هیر کړے وُو، او دَ دُنیا سره ئے مینه وه، نو په دے وجه دومره تنزل ته رسیدلی وُو چه هغوئ خپل اصلی نوم "مسلمان" هیر کړے وُو، صرف "یهودی" نوم ئے پاتے شوے وُو او دَ الله دین ئے صرف دَ خپل نسل دَ اسرائیلو دَ پلار نیکۀ وراثت جوړ کړے وُو. کله چه نبی صلی الله علیه وسلم مدینے ته راغے نو الله تعالیٰ ورته دا فرمان راوُلیږ. لو چه دا یهودیان اصل دین طرفته راوُبله، چنانچه دَ سورة بقرے په اولنو نیځلس شپاړسو رکوعګانو کښے دا بلنه ده. په دے رکوعګانو کښے دَ یهودیانو په تاریخ او دَ هغوئ په اخلاقو او مذهبی حالت باندِ تنقید شوے دے، دَ هغوئ دَ مذهب او دَ اخلاقو په مقابله کښے دَ حقیقی دین اُصول بیان شوی دی، خو دا ټول پداسے طریقه بیان شوی دی چه هر څوک پدے پوهه شو چه دَ یو پیغمبر په اُمت کښے خرابتیا په څه شکل پیدا کیږی، دَ رسمی دینداری په مقابله کښے حقیقی دینداری څه ته وائی، دَ دین حق بنیادی اُصول کوم کوم دی او خدائے تعالیٰ سره دَ کومو څیزونو قدر دے.

(۲) په مدینه کښے دَ اسلامی دعوت یو نوی مرحله وه، په مکه کښے خو صرف دَ دین دَ اُصولو تبلیغ او دَ دین دَ قبلونکو اخلاقی تربیت وُو، خو دَ هجرت نه روستو دَ عربو دَ مختلفو ځایونو مسلمانان یو ځائے ته راجمع شول او دَ انصارو په مدد یو وړوکے شان اسلامی ریاست جوړ شو نو الله تعالیٰ دَ یو ځائے دَ وُسیدو، دَ کټے او دَ تاوان، دَ قانون او دَ سیاست په حقله فرمانونه رالیږل شروع کړل او دَ اسلام په بنیاد باندِ دَ نوی نظام دَ آبادئ خُود نه ئے وکړه. دَ دے سورة په آخری دیریشت رکوعګانو کښے دا هدایات دی چه ډیر پکښے په اول کښے رالیږلی شوی وُو او بعضے دَ ضرورت مطابق یو یو راتللو.

(۳) دَ هجرت نه روستو دَ اسلام او دَ کفر مقابله هم یو نوی مرحله وه. دَ هجرت نه مخکښے دَ اسلام دعوت دَ کفر په کور کښے کیدو او دَ مختلفو قبیلو مسلمانانو په خپل خپل ځائے کښے دَ دین تبلیغ کولو او دَ کافرانو دَ طرفنه به پرِ مصیبتونه او ظلمونه کیدل. خو دَ هجرت نه روستو کله چه دا خواره واره مسلمانان په مدینه کښے راجمع شول او خپل یو وړوکے آزاد ریاست ئے جوړ کړو نو حالات څه دا رنګے شو چه یو طرفته یو وړوکے کلے وُو او بل طرفته ټول عرب وُو.

چہ د مسلمانانو د ختمولو نیت ئے کړے وُو. اُوس د دے لپاره د مسلمانانو د کامیابئ او د باقی پاتے کیدو اخصاء ده خبره ده چه اول هغوئ بنڼه په هوش او په مینه د اسلام تبلیغ او کړی او د نیات نه زیات خلق په عقیده کښے خپل منکری جوړ کړی. دویم چه هغوئ خپل مخالفین په داسے طریقه په غلطه ثابت کړی چه د یو عقلمند انسان پکښے شک پاتی نشی. دریم د دے کوړ کیدو او د قبول مکڼ شمنی په خپل سود اعتماد په وجه چه کومه لوبده تنده او هر ډول بے امنی او پریشانی په هغوئ راغلی وه، او په کومو مرحلو کښے چه کیږلے شوی وُو، په هغے وار خطا نشی. بلکه پوره په صبر او استقامت سره د حالاتو مقابله او کړی او په خپلو کلکو اراده کښے لرزان راته ونی. څلورم چه هغوئ بنڼه په زړه ورتیا سره هر هغه مقابله ته ځان تیار وُساتی کوم چه د هغوئ د دعوت د ناکام کولو د پاره راپورته کیږی، او د مخالفینو د تعداد او د طاقت هیڅ پروا ئے نه ساتی. پنځم چه په هغوئ کښے دومره همت پیدا کړے شی چه کله چې د عربو خلق هغه نوے نظام، چه اسلام ئے قایم کړلو وار ی، په پوره کولو سره قبول نه کړی، نو چه هغوئ د جاهلیت دغه غلط نظام، په زور باندے خپلو لوتهم تیار وی ـــــ الله تعالیٰ په دے سوره کښے د دے پنځو واړو خیرونو په متعلق په اول کښے هدایات ورکړی دی.

(۴) د دعوت اسلامی په دے مرحله کښے یو نوے خلق بنکاره کیدل هم شروع شوی وُو، چه ورته منافقان ویلے شی. اګرچه د نفاق اول اول اثر د مکے په آخره زمانه کښے هم شروع شوے وُو، خو حقیقت ځرغه قسم منافقان وُو چه اسلام ئے حق منلو او د ایمان اقرار ئے هم کولو لیکن د دے تیار نه وُو چه د حق پاره خپلے فائدے قربانی کړی او خپل دنیوی تعلقات د خلقو سره پریږدی او هغه معیشتونه او هغه تیږی کړی کوم چه د حق قبلولو سره راځی. په مدینه کښے دریم قسم منافقانو نه علاوه نور قسم منافقان هم د مسلمانانو په جماعت کښے بنکاره کیدل شروع شو. یو قسم منافقان هغه وُو چه د اسلام نه بیخی منکر وُو او صرف د شر فتنے پورته کولو پاره د مسلمانانو په جماعت کښے داخلیدل. دویم قسم منافقان هغه وُو چه د مسلمانانو په اقتدار کښے راغلی وُو او د دے په وجه هغوئ خپله فائده په دے کښے لیدله چه یو طرفته ځان د مسلمانانو سره ثابتول کړی او بل طرفته د اسلام مخالفینو سره هم رابطه وُساتی او په دواړو رنګ د دواړو طرفونه فائده واخلی او د دواړو طرف د خطرونه محفوظ پاتے شی. دریم قسم د هغه خلقو وُو چه د اسلام او د جاهلیت په منځ کښے شکمن وُو. هغوئ د اسلام په حق منلو کښے پوره مطمئن نه وُو. خو د خپلے قبیلے یا د خپل خاندان د پریخلق ئے مسلمانان شوی وُو نو ځکه دوئ هم مسلمانان شوی وُو. پنځلورم قسم کښے هغه خلق شامل وُو چه د اسلام د حقانیت قایل وُو خو د جاهلیت طریقو او دهمو نورسمو لو پریښودلو ته تیار نه وُو او اخلاقی پابند و، نفسونو ته ضعیفه او د روته ئے غاړه نه ایښودله.

د سورۃ بقره د نازلیدو په وخت کښے د دے قسم منافقانو پیدا کیدو ابتدا وه د دے وجه نه الله تعالیٰ د هغوئ طرفته صرف اجمالی اشاره کړی ده. روستو چه بیا څومره د منافقانو شیطانی حرکات زیاتیدل هغومره به بیا په روستنو سورتونو کښے بنڼه په تفصیل سره د هر قسم منافق په حقله بحث او هدایات راتلل.

آیاتها ۲۸۶ سُوْرَةُ الْبَقَرَةِ مَدَنِيَّةٌ رکوعاتها ۴۰

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الٓمّٓ ذٰلِكَ الْكِتٰبُ لَا رَيْبَ ۛ فِيْهِ ۛ هُدًى

الف، لام، میم[1]. دا دَ الله کتاب دے، په دے کښے هیڅ شک نشته[2]. لارښودونکے دے

[1] دا حُرُوفِ مُقَطَّعَات دَ قرآن مجید دَ بعضے سورتونو په شروع کښ شته دے. قرآن مجید چه په کومه زمانه کښ نازل شویدے او په هغه زمانه کښ چه په کوم طرز بیان کیدلو په هغے کښ دَ دے قسم دَ حُروفو مقطعاتو استعمال عام وُو. خطیبانو او شاعرانو ټولو به دَ دے طرزِ بیان نه کار افستلو. چنانچه اوس هم دَ جاهلیت دَ زمانے کومے نمونے چه محفوظے دی په هغے کښ د دے مثالونه ملاویږی د دے عام استعمال په وجه دَ مقطعاتو په مطلب هر ویُونکے ادهر اوریدونکے پوهیدو. دا وجه ده چه دَ نبی صلی الله علیه وسلم دَ زمانے په مخالفینو کښ دَ قرآن خلاف هیچا دا اعتراض نه وُو کړے چه دا بے مطلبه حرفونه څه دی چه ته ئے دَ بعضے سورتونو په شروع کښ وائے. او دا وجه ده چه اصحابِ کرامو هم دَ نبی صلی الله علیه وسلم نه دَ دے دَ معنو تپوس هیچرے نه دے کړے. روستو دا طرزِ بیان په عربئ ژبه کښ رُو رُو ختم شو او په دے وجه دَ مفسرینو د پاره د دے حروفو معنے کول مشکل شو. لیکن دا ظاهره ده چه نه خو دَ قرآن نه هدایت حاصلول دَ دے حروفو په مطلب کښ پروت دے او نه دا خبره ده چه که څوک دَ دے په معنیٰ نه پوهیږی نو دَ هغه په نیغه لارباندِ په تللو کښ څه کمے دے. لهذا دَ یو عام لوستونکی د پاره څه ضروری نه ده چه هغه دِ د دے ټکو په تحقیق کښ سرګردانه شی.

[2] دَ دے خو یو سیده ساده مطلب دا دے چه "بیشکه دا دَ الله کتاب دے" خو یو مطلب دا هم کیدے شی چه دا یو داسے کتاب دے چه په دے کښ دَ شک څه خبره نشته دے. په دُنیا کښ چه څومره کتابونه دَ دُنیا دَ څیزونو نه علاوه دَ نورو څیزونو بحث کوی او دَ هغے حقیقتونو بحث کوی چه هغے ته وَر رسیدل دَ انسان دَ وس نه بهر وی، نو هغه ټول قیاسونه اوګمانونه وی، دَ دے وجے نه دَ هغے لیکونکے هم دَ خپلو بیاناتو په باره کښ دَ شک نه پاک نشی کیدے اګر که هغه پخپله دَ ډیر یقین اظهار کوی. لیکن دا قرآن یو داسے کتاب دے چه ټول دَ حقیقت علم دے، دَ دے مصنف هغه دے چه دَ ټولو حقیقتونو علم لری، دَ دے وجے نه پدیکښ دَ شک ځائے نشته دے، دا بیله خبره چه یو انسان دَ خپلے بے وقوفتیا په وجه دَ قرآن په بیاناتو کښ شک کوی.

لِلْمُتَّقِيْنَ ۙ﴿۲﴾ الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِالْغَيْبِ وَيُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ
وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ۙ﴿۳﴾ وَالَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِمَآ اُنْزِلَ

د پاره دَ هغه پرهیزګارانو[۳] چه په غیبو ایمان راوړی[۴]، مونځ قایموی[۵]، چه کوم رزق مونږ هغوئ له ورکړے دے دَ هغے نه خرچ کوی[۶]، چه کوم کتاب په تا نازل کړے شوے (یعنی قرآن)

[۳] یعنی دا کتاب لار خودونکے دے، خو دَ دے کتاب نه دَ فائدے اغستلو د پاره دا ضروری ده. چه په سړی کښے څه صفتونه وی. په دغے صفتونو کښے اولنے صفت دا دے چه سړے "پرهیزګاره" وی. په بنه او بد کښے تمیز کوی. دَ بدئ نه ځان ساتل غواړی. دَ نیکئ طلبګار وی او په هغے باندِ دَ عمل کولو خواهش لری. پاتی شو هغه خلق چه په دُنیا کښے دَ ځناورو په شان ژوند تیره وی، دَ هغوی سره دا فکر هیڅکله نه راځی چه دا مونږه څه کوو چه دا ټیک هم دی او که نه، بس خو چه دُنیا کوم خوا روانه وی، یا ورته خپل زړه څه اُووائی، یا ئے هسے یو طرفته خپه اُچته شی نو هغے طرفته روان شی، نو دَ داسے خلقو د پاره په قرآن کښے هیڅ رهنمائی نشته.

[۴] دا دَ قرآن نه دَ فائدے اغستلو د پاره دویم شرط دے. دَ "غیب" نه مراد هغه حقیقتونه دی چه دَ انسان نه په ظاهره کښے پټ دی او عام انسانان ئے په دُنیا کښے هیچرے لیدے نشی، مثلاً دَ خدائے ذات او صفتونه، فرښتے، وحی، جنّت، دوزخ وغیره. دا حقیقتونه بغیر دَ لیدو نه منل او دَ دے په باره کښے دَ نبی په خبرو بروسه کول، ایمان بالغیب دے. دا آیت مطلب دا دے چه څوک دا نالیدلی حقیقتونه منی نو هغه دَ قرآن دَ رهنمائی نه فائده اَغستلے شی. او هغه سړے چه بغیر دَ لیدلو، څکلو او بویولو نه منلو ته تیار نه وی او دا وائی چه زه هیڅ داسے یو څیز نشم منلے چه نه ناپ کیدیشی او نه تَلَلے کیدیشی نو هغه دَ دے کتاب نه هدایت نشی موندلے.

[۵] دا دریم شرط دے. دَ دے مطلب دا دے چه کوم خلق دَ منلو نه روستو په ځائے کینی هغوی دَ قرآن نه فائده نشی اَغستلے. دَ قرآن نه دَ فائدے اَغستلو د پاره دا ضروری ده چه سړے دَ ایمان راوړلو نه روستو فوراً کار کولو ته تیار شی. او دَ کار کولو اولنئ او همیشه نښه مونځ دے. په ایمان لا یو څو کیښتے نه وی تیرے شوی چه دَ مونځ د پاره اذان وشی او په دغے وخت دا فیصله کیږی چه ایمان راوړونکے فرمان منلو ته تیار هم دے او که نه. بیا دا چه آذان روزانه پنځه وخته کیږی، او چه کله انسان په دے آذان مانځه له رانشی نو په هغے وخت دا معلومه شی چه دَ ایمان دعوه کونکی فرمان منلو ته غاړه کیښښوده. یعنی مونځ پریښودل په اصل کښے فرمان نه منل دی، او ښکاره خبره ده چه یو سړے دَ چا په ښه خبره باندِ عمل کولو ته تیار نه وی نو دَ هغه د پاره ښه خبره کول او نه کول برابر دی.

دلته په دے هم ځان پوه کول پکار دی چه مونځ قایمول یو، جامع اصطلاح ده. دَ دے یو لاځے دا معنیٰ نه ده چه سړے د پخپله په پابندئ سره مونځ وکړی بلکه دَ دے دا مطلب دے چه په جمع باندِ دَ مونځ با قاعده نظام قایم کړے شی. که په یو کلی کښے یو سړے ځان له د مونځ پابند وی او په جماعت سره دَ دے فرض ادا کولو انتظام

اِلَيْكَ وَمَآ اُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ ۚ وَبِالْاٰخِرَةِ هُمْ يُوْقِنُوْنَ ؕ ﴿۴﴾
اُولٰٓئِكَ عَلٰى هُدًى مِّنْ رَّبِّهِمْ ۗ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿۵﴾

او کوم کتابونه چه ستا نه مخکښې نازل کړے شوی وُو په هغے ټولو باندِ ایمان راوړی[۷] او په آخرت باندِ یقین لری[۸]. داسے خلق دَ خپل رب دَ طرفنه په صحیح لار باندِ دی او هم هغوئ خلاصے موندونکی دی.

نه وی نو دا څوک نشی وئیلے چه دلته مونځ قائمیږی.

[۶] دا دَ قرآن دَ رهنمائی نه دَ فائدے اغستلو دپاره څلورم شرط دے چه سړے زړه تنګے نه وی، زرپرست نه وی، دَ هغه په مال کښې چه دَ خدائے او دَ بندیانو کوم حقونه دی دَ هغے ورکولو ته تیار وی، په کوم څیز باندِ چه ئے ایمان راوړے دے دَ هغے دپاره دَ خپل مال قربانولو نه مخ نه اړوی.

[۷] دا پنځم شرط دے چه سړے دا اُومنی چه هغه ټول کتابونه حق دی کوم چه دَ وحی په ذریعه الله تعالیٰ په محمد صلی الله علیه وسلم باندِ او دَ هغه نه وړاندِ په نورو پیغمبرانو باندِ په مختلفو زمانو او ملکونو کښې نازل کړی دی. دَ دے شرط په وجه قرآن هغه ټولو خلقو ته هدایت نه کوی څوک چه دا وائی چه انسان ته دَ خدائے دَ طرفنه دَ هدایت څه ضرورت نشته، یا وائی چه دَ هدایت ضرورت شته خو دَ دے دپاره دَ وحی او دَ پیغمبرئ څه ضرورت نشته او پخپله څه نظریئے جوړے کړی او هغے ته دَ خدائے هدایت وائی. او یا خو آسمانی کتابونه هم منی خو صرف په هغے کتاب یا کتابونو ئے ایمان وی په کومو چه دَ هغوئ پلارنیکونو ایمان راوړے وی او نور کتابونه نه منی حالانکه دَ ټولو کتابونو سرچشمه یوه ده. دَ دے قسمه خلقونه علاوه قرآن صرف هغه خلقو ته فائده رَسوی چه خپل ځان دَ خدائے هدایت ته محتاجه ګڼړی، او دا هم منی چه دَ خدائے دا هدایت هر انسان ته ځان له ځان له نه راځی بلکه دَ پیغمبرانو او دَ آسمانی کتابونو په ذریعه انسان ته راځی، او بل دَ نسلی او قومی ډلے پَرے ملګرے هم نه وی بلکه خالص دَ حق ملګرے وی، چه په کوم کوم ځائے کښې ورته حق ښکاریږی دَ هغے ملګرتیا کوی.

[۸] دا شپږم او آخری شرط دے. "آخرت" یو جامع لفظ دے په دے کښې لاندینئ عقیدے شاملے دی

(۱) یو دا چه انسان په دے دُنیا کښې غیر ذمه دار نه دے دَ خپلو ټولو عملونو به خدائے له جواب ورکوی

(۲) بل دا چه دُنیا همیشه نه ده، په یو مقرر وخت به ختمیږی، دَ دغے وخت علم الله تعالیٰ سره دے.

(۳) بل دا چه دَ دے جهان دَ ختمیدو نه روستو به الله تعالیٰ بل جهان جوړه وی او په هغه کښې به ټول انسانان دَ اول نه تر قیامته پورے چه څومره انسانان په زمکه پیدا شوی دی، په یو وخت دُوباره راپیدا کړی، او ټول به را جمع کړی، دَ هغوی دَ عملونو حساب کتاب به وشی او هر یو ته به دَ هغه دَ خپل خپل کار پوره پوره بدله ورکړیشی.

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا سَوَاءٌ عَلَيْهِمْ أَأَنذَرْتَهُمْ أَمْ لَمْ تُنذِرْهُمْ
لَا يُؤْمِنُونَ ۝٦ خَتَمَ اللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ وَعَلَىٰ سَمْعِهِمْ ۖ وَ
عَلَىٰ أَبْصَارِهِمْ غِشَاوَةٌ ۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ۝٧ وَمِنَ
النَّاسِ مَن يَقُولُ آمَنَّا بِاللَّهِ وَبِالْيَوْمِ الْآخِرِ وَمَا هُم

کومو خلقو چې (دومه خبرو منلونه) انکار وکړو، (۴) دَ هغوی د پاره یو شان ده، که تَه هغوی خبرداره ئې اوکه نه ئې خبردار ره ئې، بهرحال هغوی منونکی نه دی. الله تعالیٰ دَ هغوی په زړونو او دَ هغوی په غوږونو باندِ مُهر لګولے دے (۵) او دَ هغوی په سترګو باندِ پرده پرته ده. هغوی دَ سخته سزا مستحق دی۔ (۶)

بعضے خلق داسے هم دی چې وایی چې مونږ ده په الله باندِ او دَ آخرت په ورځ باندِ ایمان راوړے دے، او حال دا دے چې په حقیقت کښے هغوی

(۴) بل دا چې څوک دَ خدائے په فیصله باندِ نیکان ثابتیږی هغوی به جنت ته ځی او چې څوک بدان ثابتیږی هغوی به دوزخ ته ځی۔

(۵) بل دا چې دَ دنیا خوشحالئ او بدحالئ ته کامیابی او ناکامی نشی ویلے، په حقیقت کښے هغه انسان کامیاب دے چې دَ خدائے تعالیٰ په آخری فیصله کښے کامیاب شی او ناکام انسان هغه دے چې په آخری فیصله کښے ناکام شی۔

(۶) عقیده چې دَ کومو خلقونه وی هغوی دَ قرآن نه فائده نشی اخستلے حکمه چې دَ دے عقیدے نه انکار خو لویه خبره ده، که دَ سړی په زړه کښے دَ دے عقیدے پیدا شی نو بیا دَ قرآن دَ هغه هم دَ قرآن په ښودلی شوی لار نشی تللے۔

۹ یعنی دا بره شپږ شرطونه ئې پوره نه کړل، او دا ټول یا په دے کښے دَ یو دَ منلونه ئې انکار وکړو۔

۱۰ دَ دے دا مطلب نه دے چې دَ الله دَ مُهر دَ لګولو وجې نه هغوی د منلونه انکار وکړو بلکه دَ دے مطلب دا دے چې کله هغوی دا پورته بنیادی خبرې وَنه منلے، او دَ خپل ځان د پاره ئې دَ قرآن دَ لارې نه خلاف بلله لاره خوښه کړله نو الله تعالیٰ دَ هغوی په زړونو او غوږونو نو باندِ مُهر او لګولو دَ دے مُهر لګیدلو حالت هغه چا ته معلوم وی چې چرته چا ته ئې تبلیغ کړے وی. کله چې ته بیا بیا دَ هغه سره یوه طریقه وراندِ کړے او هغه په هغے نه پوه نه شی او بیا ئې رد کړی، نو دَ هغے نه روستو دَ هغه ذهن په دا سے مخالف طرف روان شی چې بیا ستا یوه خبره هم دَ هغه په زړه کښ نه کیږی ستا دَ خبرې د پاره دَ هغه غوږونه کانړه شی، او ستا دَ طریقے چې څه خوبئ دی دَ هغے دَ لیدلو د پاره دَ هغه سترګے ړندے شی او دا سے بنکاری لکه چې په زړه باندِ ئې مُهر لګیدلے وی۔

بِمُؤْمِنِيْنَ ۘ ﴿۸﴾ يُخٰدِعُوْنَ اللّٰهَ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۚ وَمَا يَخْدَعُوْنَ
اِلَّآ اَنْفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۹﴾ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ ۙ فَزَادَهُمُ اللّٰهُ
مَرَضًا ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۢ بِمَا كَانُوْا يَكْذِبُوْنَ ﴿۱۰﴾ وَاِذَا قِيْلَ
لَهُمْ لَا تُفْسِدُوْا فِي الْاَرْضِ ۙ قَالُوْٓا اِنَّمَا نَحْنُ مُصْلِحُوْنَ ﴿۱۱﴾
اَلَآ اِنَّهُمْ هُمُ الْمُفْسِدُوْنَ وَلٰكِنْ لَّا يَشْعُرُوْنَ ﴿۱۲﴾ وَاِذَا

مومنان نۀ دی هغوی دَ الله او دَ ایمان والو سره دوکه بازی کوی، خو په اصل کښے هغوی پخپله
خپل ځان له دوکه ورکوی او هغوی ته دَدے پته نۀ لږی[۱۱]۔ دَ هغوی په زړونو کښے یوه بیماری
ده چه هغه الله نوره هم زیاته کړه[۱۲]، اوکوم دروغ چه هغوی وائی، دَ هغے په بدله کښے دَ
هغوی دپاره دردناکه سزا ده۔ هر کله چه هغوی ته دا ووئیلے شو چه په زمکه کښے فساد
مه پورته کوئ، نو هغوی دا ووئیل چه موږ خو اصلاح کونکی یُو ـــــ خبردار!
په حقیقت کښے هم داخلق فساد کوونکی دی خو دوئ ته پته نۀ لږی۔ اوکله چه هغوی ته

[۱۱] یعنی هغوی ځان له په دے دوکه ورکوی چه زموږ دَ منافقت دا کار به زموږ دپاره
فائیده مند وی، حال دا دے چه په اصل کښے دَ منافقت دا کار به هغوئ ته په دُنیا کښے هم نقصان
ورکړی او په آخرت کښے هم۔ په دُنیا کښے یو منافق خودَ څو ورځو دپاره خلقو له دوکه ورکولے شی
لیکن دَ همیشه دپاره دَ هغه دوکه نۀ چلیږی۔ آخر نه آخر دَ هغه دَ منافقت راز بشکاره کیږی۔
او بیا په خلقو کښے دَ هغه هیڅ قدر پاتے نشی۔ پاتے شو آخرت، نو هلته صرف په ژبه باندے دَ ایمان
دعوی هیڅ قیمت نۀ لری که چرے عمل دَ ایمان دَ دعوے نه خلاف وی۔

[۱۲] دَ بیماری نه مراد دَ منافقت بیماری ده۔ او" الله دا بیماری نوره هم زیاته کړه" دَدے
مطلب دادے چه الله منافقانو له فوراً سزا نۀ ورکوی بلکه هغوی له مهلت ورکوی او دَدے مهلت
نتیجه دا ده چه منافقان خلق پـه ظاهره خپل کارونه کامیاب ویني او بنه پاځه منافقان جوړیږی۔

قِيْلَ لَهُمْ اٰمِنُوْا كَمَآ اٰمَنَ النَّاسُ قَالُوْٓا اَنُؤْمِنُ كَمَآ اٰمَنَ
السُّفَهَآءُ ؕ اَلَآ اِنَّهُمْ هُمُ السُّفَهَآءُ وَلٰكِنْ لَّا يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۳﴾
وَاِذَا لَقُوا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قَالُوْٓا اٰمَنَّا ۚۖ وَاِذَا خَلَوْا اِلٰى شَيٰطِيْنِهِمْ ۙ
قَالُوْٓا اِنَّا مَعَكُمْ ۙ اِنَّمَا نَحْنُ مُسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۱۴﴾
اَللّٰهُ يَسْتَهْزِئُ بِهِمْ وَيَمُدُّهُمْ فِيْ طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُوْنَ ﴿۱۵﴾

اُووئیلے شو چه لکه څنګه نورو خلقو ایمان راوړے دے دغه شان تاسو هم ایمان را وړئ[۱۳] نو هغوی دا جواب ورکړو چه آیا مونږ دَ بیوقوفانو په شان ایمان راوړو؟[۱۴] خبردار! په حقیقت کښے دوئ پخپله بیوقوفان دی، خو دوی پوهیږی نه. کله چه دوی دَ مومنانو سره ملاویږی نو وائی چه مونږ ایمان راوړے دے، او کله چه دوئ ځان له دَ خپلو شیطانانو[۱۵] سره ملاویږی نو وائی چه په اصل کښے خو مونږه ستاسو سره یُو او دَ دے خلقو سره هسے ټوټے کوؤ —— الله دَ دوئ سره ټوټے کوی، هغه دوی له مهلت ورکوی او دوئ په خپله سرکشئ کښے دَ ړند و په شان ګډوډ روان دی.

[۱۳] یعنی لکه څنګه چه ستاسو دَ قوم نور خلق دَ زړهٔ دَ اخلاصه په رښتنی مسلمانان شوی دی دا سے که تاسو هم اسلام قبلوئ نو په ایمانداری سره ئے دَ زړهٔ دَ اخلاصه قبول کړئ.

[۱۴] هغوی ته به هغه خلق بیوقوفان ښکاریدل چه په رښتیا سره ئے اسلام قبول کړے وُو او خپل ځانونه ئے په تکلیفونو، سختو او خطرو کښے اچولی وُو. دَ هغوی په خیال کښے دا سراسر دَ بیوقوفانو کار وُو چه صرف دَ حق سره دَ منګرتیا په وجه دَ ټول ملک دُشمنی په سر واخستے شی. دَ هغوی په خیال کښے دَ هوښیارتیا کار دا وُو چه سړے ډ دَ حق او دَ باطل سره څنګار نه لری صرف خپلو مفادو ته ډګوری.

[۱۵] شیطان په عربئ ژبه کښے سرکشه، ناړامه او سودائی ته وائی. دا لفظ دَ انسانانو او پیریانو دپاره استعمالیږی. اګرچه دا لفظ په قرآن کښے زیات تر دَ پیریانی شیطانانو دپاره استعمال شویدے، لیکن په بعضے ځایونو کښے دَ هغے انسانانو دپاره هم استعمال شویدے په کومو کښے چه دَ شیطان صفتونه وی، او دا دَ وړاندے روستو عبارت نه په آسانه معلومیږی چه دلته دَ شیطان له مطلب انسانی شیطان دے او دلته پیریانی شیطان. دلته په دے ځائے کښے دَ شیاطین لفظ دَ هغے لویو لویو سردارانو دپاره استعمال شویدے کوم چه په هغے وخت کښے دَ اسلام په مخالفت کښے وړاندے وړاندے وُو.

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ اشْتَرَوُا الضَّلَالَةَ بِالْهُدَىٰ فَمَا رَبِحَت
تِّجَارَتُهُمْ وَمَا كَانُوا مُهْتَدِينَ ﴿١٦﴾ مَثَلُهُمْ كَمَثَلِ الَّذِي
اسْتَوْقَدَ نَارًا فَلَمَّا أَضَاءَتْ مَا حَوْلَهُ ذَهَبَ اللَّهُ بِنُورِهِمْ
وَتَرَكَهُمْ فِي ظُلُمَاتٍ لَّا يُبْصِرُونَ ﴿١٧﴾ صُمٌّ بُكْمٌ عُمْيٌ فَهُمْ لَا
يَرْجِعُونَ ﴿١٨﴾ أَوْ كَصَيِّبٍ مِّنَ السَّمَاءِ فِيهِ ظُلُمَاتٌ وَرَعْدٌ
وَبَرْقٌ يَجْعَلُونَ أَصَابِعَهُمْ فِي آذَانِهِم مِّنَ الصَّوَاعِقِ

دا هغه خلق دی چه دوئ د هدایت په بدله کښے گمراهی اختیار کړه ، خو دا سودا دوئ له فایده ورکولو والا نه ده او دوئ هرگز په صحیح لار باندې نه دی. د دوئ دا حال مثال دے لکه چه یو سړی اُور بل کړو او کله چه هغے خواؤ شا ټول ځایونه روښانه کړل نو الله تعالیٰ د هغوئ نه د لیدلو طاقت واخستلو او هغوئ ئے په داسے حال کښے پریښودل چه په تیاره کښے ورته هیڅ په نظر نه راتلل[۱۵]. دوئ کانړه دی، چارا کان دی، راندې دی[۱۶]، دوئ اُوس نه واپس کیږی. یا بیا د دوئ مثال داسے وُکړه لکه چه د آسمان نه بنه د زور باران وریږی او د هغے سره تورے تیارے او ګړ زار او بریښنا هم وه ، د آسمان ګړ زار چه دوئ واوری نو د مرګ د یرے نه خپلے ګوتے په غوږونو کښے کیږ دی

[۱۵] مطلب دا دے چه کله د الله تعالیٰ یو بنده رنړا بلکړه، او حق او باطل صحیح او غلط، نیغه لار او کږه لار بیکاره شوه ، نو د چا چه نظر لکید و هغوئ ته ټول حقیقتونه بیکاره شول، لیکن دا هه منافقانو، چه خپله فائده راندې کړی وُو، په دے رنړا کښے هیڅ په نظر را نه غلل ۔" الله د هغوئ نه د لیدلو طاقت واخستلو" د دے الفاظو نه څوک په غلطئ سره دا مطلب واخلی چه د دوئ د ښے لارے کیدو ذمه دار الله پاک دوئ نه وی. الله خو د هغه چا نه د لیدلو طاقت اخلی، چه په هغه د حق طلبګار نه وی، د هدایت په ځای ګمراهی خان له خوښوی، او د صداقت رنړا لیدل نه غواړی. کله چه هغوئ د حق د رنړا نه مخ واړه وُو او د باطل په تیارو کښے ئے ټکرے خوړل غوره کړل، نو الله تعالیٰ هغوئ له هُم دغسے توفیق ورکړو.

[۱۶] د حق خبرے د اوریدو د پاره کانړه، د حق وینا د پاره چارا کان او د حق لیدلو د پاره راندګه دی.

حَذَرَ الْمَوْتِ ۭ وَاللّٰهُ مُحِيْطٌۢ بِالْكٰفِرِيْنَ ﴿۱۹﴾ يَكَادُ الْبَرْقُ
يَخْطَفُ اَبْصَارَهُمْ ۭ كُلَّمَآ اَضَاۗءَ لَهُمْ مَّشَوْا فِيْهِ ۙ
وَاِذَآ اَظْلَمَ عَلَيْهِمْ قَامُوْا ۭ وَلَوْ شَاۗءَ اللّٰهُ لَذَهَبَ
بِسَمْعِهِمْ وَاَبْصَارِهِمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۲۰﴾

او الله تعالیٰ دا منکرینِ حق دَ هر طرفنه په کیر وکښے اغستلی دی[۱۸] دَ دې برېښنا په څېر دی چې نه تږه وَ ځي چې برېښنا به اوس دَ دوئ دَ ستر کو نظر ویسی. کله چې دوئ ته لږه رڼا شی نو په هغې کښے څه لږ لرے لاړ شی او کله چې اندېښنا ناکه تیارۀ شی نو ودرېږی[۱۹] ـــــ که الله غواختلے نو دَ دوئ نه به ئے دَ اوریدلو او دَ لیدلو طاقت بالکل اغستلے وُ[۲۰] دا یقینی ده چې هغه په هر شیز باندې قادر دے۔

[۱۸] یعنی په غور وونکښے کوتے کیږی او دَ څه لنګ وخت دپاره ځان په دے دوکه کښے واچوی چې دَ هلاکت نه بچ شی خو په حقیقت کښے هغوئ په دے پېچ کښے نشی ځکه چې الله دَ خپلو ټولو طاقتو نو سره په هغوئ باندې احاطه کونکے دے۔

[۱۹] اولنے مثال دَ هغې منافقانو وُ وچه دَ زړۀ نه قطعی کافران وُ خو دَ څه غرض او مصلحت دپاره ئے ځانونه دَ مسلمانانو سره شامل کړی وُ۔ دا دویم مثال دَ هغې منافقانو دے چې په شک کښے وُ، ایمانونه ئے کمزوری وُ، څه لږ و پرې دَ حق هُم قائل وُ خو دَ حق دپاره تکلیفونو او مصیبتونو برداشت کولو ته تیار نه وُ۔ په دے مثال کښے دَ باران نه مُراد اسلام دے چې دَ ټولو انسانانو دَ پاره دَ رحمت په طور راغلے دے۔ دَ تُندو تیرو، کړکیچ او دَ برېښنا نه مُراد هغه مصیبتونه او مشکلات او سخت کوشش دے چې دَ تحریک اسلامی په مقابله کښے به دَ ډاهلانو دَ لاسه پیښیدل۔ دَ مثال په آخره کښے ئے دَ دے منافقانو هغه حالت خودلے دے چې کله آسانتیا وی لو دوئ روان شی، او چې کله سختی او مشکلات وی، یا د اسے حکمونه راشی چې دَ دوئ دَ خواهشاتو او دَ جاهلیت نه خلاف وی نو په ځائے ودرېږی۔

[۲۰] یعنی لکه څنګه چې ئے دَ اولنی قسم منافقانو نه دَ لیدلو طاقت بالکل واغستو، دغه شان دوئ ته هم دَ حق نه ډاندې کانړه جوړه ولے شو۔ خو دَ الله تعالیٰ دا قاعده نه ده چې څوک دَ څه حد پورے لیدل او اوریدل غواړی او دَ هغې حد پورے ئے هم لیدلو او اوریدلو ته پرے نه ږدی۔ څومره چې دَ حق دَ لیدلو او دَ حق دَ اوریدلو دپاره دوئ په خپله تیار وُ هغه هومره الله تعالیٰ دَ هغوئ سره دَ اوریدلو او دَ لیدلو طاقت پرېښنسو دو۔

يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوْا رَبَّكُمُ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ وَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ
لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿۲۱﴾ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ فِرَاشًا وَّالسَّمَآءَ بِنَآءً
وَّاَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَخْرَجَ بِهٖ مِنَ الثَّمَرَاتِ رِزْقًا لَّكُمْ
فَلَا تَجْعَلُوْا لِلّٰهِ اَنْدَادًا وَّاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۲۲﴾ وَاِنْ كُنْتُمْ فِيْ
رَيْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلٰى عَبْدِنَا فَاْتُوْا بِسُوْرَةٍ مِّنْ مِّثْلِهٖ وَادْعُوْا

[۲۱] اے خلقوا دَ خپل هغے رب بندګی اختیار کړئ چه ستاسو او ستاسو نه مخکښے کوم خلق تیر شوی دی دَ هغے ټولو خالق دے، اُمید دے چه په دے[۲۲] صورت تاسو بچ شئ۔ دا خو هُم هغه دے چه ستاسو دپاره ئے دَ زمکے فرش اُغوړه وُو، دَ آسمان چت ئے جوړ کړو، دَ بره نه ئے اُوبه اُووَرَ ولے او دَ اُوبو په ذریعه ئے هر قسم پیداوار راؤ ټو کوؤ او ستاسو دپاره ئے دَ رزق تیاره اُوکړو۔ چه په دے پوهیږئ نو دَ الله تعالیٰ سره بل څوک مقابل[۲۳] مه جوړوئ۔

او که ستاسو دا شک وی چه دا کتاب، کوم چه موږ ته په خپل بنده نازل کړے دے، چه دا زموږ ته دے او که نه دے، نو دَ دے پشان فقط یو سورت جوړ کړئ او رائے وړئ، او خپل تول

[۲۱] اګرچه دَ قرآن دعوت دَ ټولو انسانانو دپاره عام دے، خو دَ دے دعوت نه فایده اغستل یا نه اغستل دَ خلقو په خپل میلان باندِ دی او دَ دے میلان مطابق دَ الله په توفیق باندِ دی۔ دَ دے وجے نه ئے دَ ټولو نه مخکښے په انسانانو کښے فرق اُوښودلو چه کوم قسم خلق دَ قرآن نه فایده اغستے شی او کوم قسم خلق نشی اغستے۔ دَ دے نه روستو اُوس ټولو انسانانو ته هغه اصلی خبره وړاندِ کوی چه دَ کومے دپاره قرآن راغلے دے۔

[۲۲] یعنی په دنیا کښے دَ غلطو خیالاتو او دَ غلطو عملونو نه دَ بچ کیدو اُمید او په آخرت کښے دَ خدائے دَ عذاب نه دَ بچ کیدو اُمید۔

[۲۳] یعنی چه تاسو هم په خپله په دے خبره قایل یئ او دا تاسو ته معلومه ده چه دا ټول کار خاص دَ الله تعالیٰ دے، نو بیا تاسو له پکار دی چه دَ هغه بندګی وُکړئ، بل څوک داسے حقدار کیدیشی چه تاسو ئے بندګی وُکړئ؟ بل څوک دَ الله دَ مقابل جوړولو نه مراد دا دے چه دَ خدائے نه علاوه دَ بل چا بندګی او عبادت په داسے طریقه وُکړے شی لکه څنګ چه دَ الله بندګی پکار ده۔ دا تفصیل به په قرآن کښے وړاندِ په خپله معلوم شی چه دَ عبادت هغه کوم کوم قسمونه دی چه صرف دَ الله دپاره مخصوص دی او په هغے کښے بل څوک شریک کول هغه شرک دے چه دَ هغے نه دَ منعے کولو دپاره قرآن راغلے دے۔

شُهَدَآءَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۲۳﴾ فَاِنْ لَّمْ
تَفْعَلُوْا وَلَنْ تَفْعَلُوْا فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِيْ وَقُوْدُهَا النَّاسُ وَ
الْحِجَارَةُ ۚۖ اُعِدَّتْ لِلْكٰفِرِيْنَ ﴿۲۴﴾ وَبَشِّرِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا
الصّٰلِحٰتِ اَنَّ لَهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ؕ كُلَّمَا رُزِقُوْا
مِنْهَا مِنْ ثَمَرَةٍ رِّزْقًا ۙ قَالُوْا هٰذَا الَّذِيْ رُزِقْنَا مِنْ قَبْلُ ۙ
وَاُتُوْا بِهٖ مُتَشَابِهًا ؕ وَلَهُمْ فِيْهَآ اَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ ۙ وَّهُمْ فِيْهَا

مکړی را اُغواړئ، دَ یو الله نه سِوا دَ هر چا نه چه مدد غواړئ نو اُغواړئ، که تاسو ریښتینی یئ نو دا[۲۴] کار اوکړئ. خو که چرے داسے موږ نه کړل، او دا یقینی ده چه چرے ئے هم نشئ کولے، نو دَ هغه وُورنه وُیَریږئ چه خشاک به ئے انسانان اوکانړی وی[۲۵] او چه تیار شویدے دَ حق نه دَ انکار کوونکو دپاره.

او اے پیغمبره! کوم خلق چه په دے کتاب باندِ ایمان راوړی او (دَ دے مطابق) خپل عملونه ټیک کړی، هغوئ له زیرے ورکړه چه دَ هغوئ دپاره داسے باغونه دی چه لاندِ به تِرولے بهیږی. دَ دے باغونو میوے به په شکل کښے دَ دُنیا دَ میوو سره یو شان وی کله چه هغوئ ته دَ خوراک دپاره یوه میوه ورکړیشی نو هغوئ به وائی چه په دُنیا کښے به هم داسے میوے مونږ ته راکړے کیدے شوے[۲۶] هلته به دَ هغوئ دپاره پاکے بیبیانے[۲۷] وی، او هلته به

[۲۴] دَ دے نه مخکښے په مکه کښے څو څو ځله داوئیلی شوی وُو چه که چرے ستاسو دا خیال وی چه دا قرآن انسان دَ ځانه لیکلے دے نو دَ دے پشان یو کلام تاسو هم وُلیکئ او وے بنایئ. اُوس په مدینه کښے بیا دَ دے خبرے ذکر کیږی. (اوګورئ سُورهٔ یونس، آیت ۳۸، سورهٔ هُود، آیت ۱۳. بنی اسرائیل، آیت ۸۸. الطور، آیت ۳۳، ۳۴)

[۲۵] په دے کښے دا نرئ اشاره ده چه هلته به دَ دوزخ خشاک یو اځے تاسو نه یئ بلکه ستاسو هغه بُتان به هم ستاسو سره وی کو موته چه تاسو سجدے لګولے او خدایان مو تِرجوړ کړی وُو. په هغے وخت به تاسو ته پخپله معلومه شی چه په خدایئ کښے دَ دوئ څو مره لاس رسی.

[۲۶] یعنی داسے نا اشنا او عجیبه میوے به نه وی چه دوئ به نه وی لیدلی. شکل به ئے دَ هغه میوو په شان وی کومے چه په دنیا کښے وے. خو خوند به ئے دَ هغے نه په څو څو چنده زیات بهتر وی. په ظاهره به مثلاً اَم یا انار یا سنګتره وی.

خٰلِدُوْنَ ﴿۲۵﴾ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَسْتَحْيٖٓ اَنْ يَّضْرِبَ مَثَلًا مَّا بَعُوْضَةً
فَمَا فَوْقَهَا ؕ فَاَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فَيَعْلَمُوْنَ اَنَّهُ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّهِمْ ۚ
وَاَمَّا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فَيَقُوْلُوْنَ مَاذَآ اَرَادَ اللّٰهُ بِهٰذَا مَثَلًا ۘ
يُضِلُّ بِهٖ كَثِيْرًا ۙ وَّيَهْدِيْ بِهٖ كَثِيْرًا ؕ وَمَا يُضِلُّ بِهٖٓ

وقف لازم

هغوئ همیشه وی.

هَو، الله په دے هرګز نهٔ شرمیږی چه دَ ماشی یا دَ دے نه هُم دَ زیات سپک څیز مثالونه[۲۸] بیان کړی. کوم خلق چه دَ حق خبرے قبلونکی دی هغوئ چه دا مثالونه واوری نو پوهشی چه دا حق دے چه دَ هغوئ دَ رب دَ طرفنه راغلے دے، او کوم خلق چه نهٔ منونکی دی هغوئ چه دا واوری نو وائی چه دَ دا سے مثالونو بیانولو سره دَ الله څه کار دے؟ دغه شان الله هم په یوه خبره ډیر بے لارے کوی او ډیرو ته صحیح لار[۲۹] ښائی. او بے لارے کوی

هره میوه چه جنتیان اُووینی نو پیژنی بهٔ چه دا ام دے دا انار دے او دا سنګتره ده. خو په مزه او خوند کښے به دَ دُنیا دَ آمونو، انارو او سنګترو نه ډیرے ښے وی.

[۲۷] لفظ "ازواج" استعمال شویدے چه معنیٰ ئے "جوړه" ده. او دا لفظ دَ خاوند او ښځے دواړو دپاره استعمالیږی. دَ خاوند دپاره ښځه "زوج" ده او دَ ښځے دپاره خاوند "زوج" دے. خو په جنت کښے به دا جوړه دَ پاکوالی دَ صفت په وجه یو ځائے وی. که چرے په دُنیا کښے یو سړے نیک دے او ښځه ئے نیکه نهٔ ده نو په آخرت کښے به هغوئ ښځه خاوند نهٔ وی، دغه نیک سړی له به بله یوه نیکه ښځه ورکړے کیدیشی. او که چرے دلته په دُنیا کښے یوه ښځه نیکه ده او خاوند ئے بد دے نو هلته په جنت کښے به دغه ښځه دَ دغے خراب خاوند سره نهٔ وی بلکه یو نیک سړے به دَ دے دَ ژوند شریک جوړ کړیشی. او که چرے په دُنیا کښے ښځه او خاوند دواړه نیکان وی نو په جنت کښے به دَ هغوئ دغه رشته دَ همیشه دپاره وی.

[۲۸] دلته اعتراض بیان شوے نهٔ دے خو جواب ئے ورکړے شویدے. په قرآن کښے په یو څو ځایونو کښے دَ جولاګی، دَ مچئ او دَ ماشی وغیره مثالونه دَ وضاحت دپاره بیان شویدی، په دے مثالونو دَ مخالفینو دا اعتراض وُو چه دا څنګ دَ الله کلام دے چه پکښے دَ دا سے سپکو څیزونو مثالونه دی. هغوئ به وے که چرے دا دَ خدائے کلام وے نو په دے کښے به دا فضولیات نهٔ وُو.

[۲۹] یعنی کوم خلق چه په خبره پوهیدل نهٔ غواړی، دَ حقیقت تلاش په زړهٔ کښے نهٔ لری، دَ هغوئ نظر په ظاهری الفاظو باندِ وُنخلی او دَ دغه څیزونو نه اُلټا نتیجے واخلی

اِلَّا الْفٰسِقِيْنَ ﴿۲۶﴾ الَّذِيْنَ يَنْقُضُوْنَ عَهْدَ اللّٰهِ مِنْۢ بَعْدِ
مِيْثَاقِهٖ ۠ وَيَقْطَعُوْنَ مَآ اَمَرَ اللّٰهُ بِهٖٓ اَنْ يُّوْصَلَ وَيُفْسِدُوْنَ
فِى الْاَرْضِ ؕ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿۲۷﴾ كَيْفَ تَكْفُرُوْنَ بِاللّٰهِ
وَكُنْتُمْ اَمْوَاتًا فَاَحْيَاكُمْ ۚ ثُمَّ يُمِيْتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيْكُمْ ثُمَّ

هغه خلق چه فاسقان دی[۳۰]، د الله وعده د پوخوالی نه روستو ماتوی[۳۱]، الله چه د کوم څیز د تړلو حکم کړیدے هغه پریکوی[۳۲] او په زمکه کښے فساد راپورته کوی[۳۳]، په حقیقت کښے دا خلق نقصان موندونکی دی تاسو د الله سره د کفر رویه څنګه اختیاره وئ، حال دا دے چه په تاسو کښے روح نه ؤو، هغه تاسو له ژوند درکړو، بیا به هغه ستاسو نه روح واخلی، بیا به تاسو له دوباره ژوند درکړی

او د حق نه نور هم لری لاړشی. د دے نه برعکس کوم خلق چه د حقیقت په تلاش کښے دی او په صحیح خبره پوهیږی هغوئ ته هم په دے خبرو کښے حکمت او پوهه ښکاریږی او هغوئ د زړهٔ نه دا ګواهی کوی چه دا د حکمت نه ډکے خبرے خو صرف د یو الله ګیدیشی.

۳۰ فاسق: نافرمانه او د منلو د حد نه وتونکے.

۳۱ بادشاه چه د خپلو نوکرانو او رعیت په نوم کوم فرمان یا هدایات جاری کوی هغے ته په عربی ژبه کښے عهد وائی، ځکه چه د هغے منل په رعیت باندې واجب وی. دلته د عهد لفظ په دے معنی کښے استعمال شویدے. د الله د عهد نه مراد د الله هغه مستقل فرمان دے، چه د هغے په وجه ټولو انسانانو ته دا حکم شویدے چه صرف د یو الله بندګی، اطاعت او عبادت به کوی. "د پوخوالی نه روستو" اشاره ده دے طرفته چه د آدمؑ د پیدائش په وخت کښے د ټولو انسانانو نه د دے فرمان د پابندئ اقرار اغستے شوے ؤو. په سورهٔ اعراف آیت ۱۷۲ کښے په دے وعدے او اقرار باندې نسبتاً زیات تفصیل بیان شوے دے.

۳۲ یعنی د کوم تړون د مضبوطیا په وجه چه د ټولو انسانانو کامیابی ده، او چه الله د هغے د صحیح سالم ساتلو حکم هم کړے دے، هغه تړون دا خلق ټوټے ټوټے کوی. دا وړه جمله دومره فراښه ده چه د دوؤو سړو د تعلق نه واخله د ټولے دنیا د قومونو تر منځه تعلقات، او د انسان د یو ځائے د اوسیدو او د اخلاقو ټولنه دنیا صرف په دے یوه جمله کښے راځی، د تعلق پریښودو نه مراد صرف د انسانی تعلقاتو پریښودل نه دی، بلکه د تعلقاتو ساتلو چه کومے صحیح او جائزے طریقے دی د هغے نه سواهره یوه طریقه چه اختیار کړیشی هغه ټولے په تعلق پریښودلو کښے راځی، ځکه چه د ناجائزه او غلطو تعلقاتو انجام هم هغه دے کوم چه د تعلقاتو پریښودلو دے، یعنی د خلقو تر منځه د معاملاتو خرابی او د کلی والئ تباهی او د اخلاقو بربادی.

اِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۲۸﴾ هُوَ الَّذِيْ خَلَقَ لَكُمْ مَّا فِي الْاَرْضِ
جَمِيْعًا ق ثُمَّ اسْتَوٰٓى اِلَى السَّمَآءِ فَسَوّٰىهُنَّ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ ط
وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿۲۹﴾ ع وَاِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلٰٓئِكَةِ اِنِّيْ

بیا به دَ هغه طرفته واپس ځئ. دا خو هغه دے چه ستاسو د پاره ئے دَ زمکے ټول څیزونه پیدا کړل، بیا ئے پورته توجه اُوکړه او اُووه آسمانونه ئے جوړ کړل. او هغه دَ هر څیز علم لرونکے دے.[۳۵]

بیا لږ شان[۳۶] هغه وخت په خیال کښے راوله کله چه ستا رب فرښتو ته وئیلی وُو چه "زهٔ

[۳۳] په دے دریو جُملو کښے دَ فسق او دَ فاسق مکمل تعریف بیان کړے شویدے. څوک چه دَ خدائے او دَ بنده په منځ کښے تعلق پریکوی یا خرابوی او یا دَ یو انسان او دَ بل انسان په منځ کښے تعلق پریکوی یا خرابوی نو ضرور نه ضرور نتیجه به ئے دَ فساد وی، او دا فساد چه څوک پورته کوی هغه ته فاسق وائی.

[۳۴] دَ اُوّوُ آسمانونو دَ حقیقت په باره کښے دا خبره څوک نشی کولے چه ټیک هم په دے شکل اُووه آسمانونه جوړ شوی دی. هر انسان په خپله خپله زمانه کښے دَ آسمان په باره کښے او دَ زمکے نه پورته دَ نورو څیزونو په باره کښے دَ خپل قیاس او گمان مطابق مختلف مختلف خیالات ظاهر کړی دی او دغه خیالات برابر وخت په وخت بدلیږی. دغه وجه ده چه په دے خیالونو کښے دَ یو خیال مطابق دَ قرآن دَ دے لفظونو تشریح کول به صحیح نه وی. بس دومره لنډه پوهه پکار ده چه یا خو دَ دے مطلب دا دے چه دَ زمکے نه پورته څومره کائنات دی، هغه ټول الله تعالیٰ په اُوّوُ مضبوطو طبقو کښے تقسیم کړیدی، او یا دا مطلب دے چه دَ دے کائناتو په کومه حلقه کښے زمکه پرته ده، هغه په اُوّو طبقو کښے تقسیم ده.

[۳۵] په دے فقره کښے په دَ وُو حقیقتونو باندے خبردارے دے. یو دا چه تهٔ دَ نافرمانئ او سرکشئ لار اختیاره وے نو دَ هغه خدائے په مقابله کښے دا زړورتیا څنګه کوے چه هغه ستا دَ هر کار نه خبر دے او چه ستا یو حرکت هم دَ هغه نه پټ نشی پاتے کیدے. دویم دا چه دَ کوم خدائے سره دَ ټولو حقیقتونو علم دے، او چه په حقیقت کښے هغه دَ علم سرچشمه ده، دَ هغه نه مخ اړه ول خو دَ جهالت په تیرو کښے ټکرے خوړل دی. نو چه دَ هغه نه بغیر بله دَ علم خزانه نشته، او دَ هغه نه بغیر بله هغه رڼا نشته چه تهٔ پرے دَ خپل ژوند لاره صفا اُووینی، نو بیا دَ هغه نه په مخ اړه ولو کښے تا ته څه فائده ښکاری.

[۳۶] په تیره شوی رکوع کښے دَ بندګئ کولو وجه دا بیان شوی وه چه الله ستاسو خالق دے،

جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً ۖ قَالُوا أَتَجْعَلُ فِيهَا مَنْ يُفْسِدُ فِيهَا وَيَسْفِكُ الدِّمَاءَ ۖ وَنَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ

پہ زمکہ کښے یو خلیفہ[۳۸] جوړہ ؤنکے یم" ـ هغوئ اُووئیل: "چه آیا پہ زمکہ کښے داسے څوک مقرر یئے چه دَ زمکے نظام بہ خرابہ وی او وینے بہ تویہ[۳۹] وی؟ مونږ خوستا دَ ثنا سره تسبیح وایو۔

پالونکے دے، ستاسو مرګ او ژوند دَ هغه پہ لاس کښے دی، او تاسو چه پہ کومه دُنیا کښے ؤسیږئ دَ هغے مالک او چلونکے هغه دے، نو پہ دے وجه ستاسو دپاره دَ هغه دَ بندګئ نه علاوه بله یوه طریقه هم صحیح نشی کیدے۔ اُوس پہ دے رکوع کښے دَ الله دَ بندګئ دا وجه بیانیږی چه پہ دے دُنیا کښے الله پاک تاسو خپل خلیفګان جوړ کړئ، دَ یو خلیفه پہ حیثیت ستاسو یواځے دا کار نه دے چه صرف بندګی ؤکړئ، بلکه دا هم دے چه دَ الله تعالیٰ دَ رالیږلی شوی هدایت مطابق کار ؤکړئ۔ که چرے تاسو داسے ؤنه کړئ او دَ خپل ازلی دشمن شیطان پہ اشاروباندِ عمل ؤکړئ، نو دَ ډیرنا کاره بغاوت مجرمان بہ شئ او ډیرنا کاره انجام بہ اُووینئ۔

دَ انسان حقیقت ټیک ټیک بیان کړے شو او پہ کائنا تو کښے دَ انسان حیثیت ټیک ټیک ؤښودلے شو او دَ انسانیت پہ تاریخ کښے هغه دروازه پرانستے شوه چه دَ هغے دَ معلومولو دپاره دَ انسان سره بله هیڅ ذریعه نشته۔ دَ دے دروازے نه هغه اهم حقیقتونه ښکاره شو چه دَ هغے اندازونه ډیر بهتر او واضحه دی کومے اندازے چه خلق دَ انسانانو دَ زړو او پخوانو هډوکو نه لګوی۔

[۳۷] دَ مَلَك اصلی معنی پہ عربئ کښے "پیغام وُړونکے" ده۔ دَ دے لفظی ترجمه استازے یا فرښته ده۔ دا صرف تش پہ نوم طاقتونه نه دی چه شخصیت نه لری، بلکه دا شخصیت لرونکی هغه هستئ دی چه دَ هغوئ نه الله پاک دَ دے خپل عظیم الشان سلطنت دَ چلولو او دَ انتظام کار اخلی۔ داسے ؤګڼړه چه دا دَ الله پاک دَ بادشاهئ کارنده دی چه دَ الله حکمونه نافذ کوی۔ جاهلو خلقو دا فرښتے پہ غلطئ سره پہ خدایئ کښے حصه دارے ؤګڼړلے او بعضو خلقو اووئیل چه دا دَ خدائ رشته داری دی نو پہ دے وجه ئے دَ هغوئ عبادت شروع کړو۔

[۳۸] خلیفه: هغه کس چه دَ اصلی مالک دپاره دَ یو نائب پہ حیثیت کار کوی او هغه اختیارات استعمالوی کوم چه ورته اصلی مالک سپارلی وی۔ خلیفه مالک نه وی بلکه دَ اصلی مالک نائب وی۔ هغه ته دَ خپلے رضا کولو حق نه دے حاصل، بلکه دَ هغه کار دَ خپل مالک رضا پوره کول وی۔ که چرے هغه پہ خپله مالک جوړشی او سپارلی شوی اختیارات پہ خپله طبعه استعمالول شروع کړی، یا دَ اصلی مالک نه علاوه بل څوک خپل مالک اُومنی او دَ هغه رضا کول شروع کړی نو دا ټول دَ غدارئ او دَ سرکشئ او دَ بغاوت کارونه دی۔

[۳۹] دا دَ فرښتو اعتراض نه ؤو بلکه یو تپوس ؤو۔ دَ فرښتو څه طاقت دے چه دَ خدائے پہ خبره

وَنُقَدِّسُ لَكَ ۖ قَالَ إِنِّي أَعْلَمُ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٣٠﴾ وَعَلَّمَ
آدَمَ الْأَسْمَاءَ كُلَّهَا ثُمَّ عَرَضَهُمْ عَلَى الْمَلَائِكَةِ ۖ فَقَالَ
أَنْبِئُونِي بِأَسْمَاءِ هَٰؤُلَاءِ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ ﴿٣١﴾ قَالُوا

اوستا پاکی بیانه وُو." الله اُو فرمایئل، "چه په کوم شیز باندِ تاسو نه پوهیږئ په هغے زهٔ پوهیږم."
دَدے نه روستو الله تعالیٰ آدم ته دَ ټولو شیزونو نومونه وُښودل، بیا ئے هغه فرښتو ته وراندِ
کړل او ورته ئے وُفرمایئل" که چرے ستاسو دا خیال صحیح دے (چه دَ یو خلیفه په مقرر کولو
به دَ زمکے نظام خراب شی) نو دَدے شیزونو نومونه راته وُ بیایئ." فرښتو عرض وُ کړو

اعتراض وُکړی. هغوئ دَ "خلیفه" لفظ نه په دے پوه شوی وُوچه الله په زمکه کوم مخلوق پیدا
کوی نو هغوئ ته یه څه اختیارات ضرور حواله کوی، خو دَ هغوئ په ډاګه ماغوکښے داخبره نه ړاتلله
چه دَ کائنا تو په بادشاهئ کښے به بل اختیاره مخلوق څنګه راشی، او دَ بادشاهئ په کوم ځائے کښے
چه چاله څه اختیارات ورکړیشی، هلته به انتظام څنګه خراب شی، پدے خبره هغوئ ځان پوهه کول

دَدے وبیانه دَ فرښتو دا مطلب نه وُو چه دَ خلافت مونږ مستحق یو او خلافت دے مونږ
ته راکړیشی، بلکه دَ هغوئ مطلب دا وُو چه دَ حضور فرمان مونږ کیږی، مونږ په ښه طریقه ستا
حکمونه پځائے راوړو، ستا دَ مرضئ مطابق ټول جهان پاک صاف ساتو او ورسره ورسره دیرښه ادب
ستا ثنا او پاکی بیانوو، اُوس زور دَ څه شیز کیږی دے چه دَ هغے دپاره دَ خلیفه ضرورت دے؟
مونږ نه دَدے په مصلحت پوهه نه شو. (دَ "تسبیح" دَ لفظ دوه معنے دی. یوه معنے ئے پاکی بیانول
دی او بله معنے ئے دَ زړهٔ دَ اخلاصه کار او کوشش کول دی. دغه شان دَ تقدیس دوه معنے دی،
یو دَ بزرګئ اظهار او بیان، او دوئیم پاکول).

دَ فرښتو دَ دوئے شُبهے جواب دے. یعنی الله وُ فرمایئل چه دَ خلیفه مقرر کولو
په ضرورت او مصلحت زهٔ پوهیږم تاسو په دے نه پوهیږئ. تاسو چه کوم خپل خدمتونه
یادوئ هغه کافی نه دی، دَ هغے نه زیات څه پکار دی. دَ دے وجے نه په زمکه کښے دَ دے مخلوق
پیدا کولو اراده شویده چه دَ هغوئ سره څه اختیارات هم وی.

په اصل کښے دَ انسان علم دادے چه هغه دَ نومونو په ذریعه دَ څیزونو علم
په ذهن کښے راولی. دَدے وجے نه دَ انسان ټول معلومات په اصل کښے دَ څیزونو نومونه دی.
آدم ته ټول نومونه ښودل دادے دی لکه چه هغه ته دَ ټولو څیزونو علم وُ بنایئ.

سُبْحٰنَكَ لَا عِلْمَ لَنَآ اِلَّا مَا عَلَّمْتَنَا ؕ اِنَّكَ اَنْتَ الْعَلِيْمُ
الْحَكِيْمُ ﴿۳۲﴾ قَالَ يٰٓاٰدَمُ اَنْۢبِئْهُمْ بِاَسْمَآئِهِمْ ۚ فَلَمَّآ اَنْۢبَاَهُمْ
بِاَسْمَآئِهِمْ ۙ قَالَ اَلَمْ اَقُلْ لَّكُمْ اِنِّيْٓ اَعْلَمُ غَيْبَ السَّمٰوٰتِ وَ
الْاَرْضِ ۙ وَاَعْلَمُ مَا تُبْدُوْنَ وَمَا كُنْتُمْ تَكْتُمُوْنَ ﴿۳۳﴾ وَاِذْ
قُلْنَا لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ فَسَجَدُوْٓا اِلَّآ اِبْلِيْسَ ؕ اَبٰى

"د نقص نه پاک خو هم ستا ذات دے، مونږ ه خو بس هغو مره علم لرو، څو مره چه تا مونږ له
راکړے[۴۳] دے. په حقیقت کښے هر څه پیژندونکے او په هر څه پوهیدونکے ستا نه بغیر بل څوک
نشته." بیا الله آدم ته اُووئیل: "ته دوئ ته د دے څیزونو نومونه وُښایه." کله چه
هغه هغوئ ته د هغے ټول نومونه وُښودل[۴۴]، نو الله وُ فرمائیل: "ما تاسو ته وئیلی نه وُو چه
ما ته د آسمانونو او د زمکے هغه ټول حقیقتونه معلوم دی کوم چه ستاسو نه پټ دی، څه
چه تاسو ظاهره وئ هغه هم ما ته معلوم دی او څه چه تاسو پټه وئ هغه هم زه پیژنم."
بیا چه کله مونږ فرښتو ته حکم وُکړو چه د آدم مخے ته تیټے شئ نو ټولے تیټے شوے[۴۵]، خو ابلیس[۴۶] انکار وُکړو

[۴۳] دا سے معلومیږی چه د هرے فرښتے علم صرف د خپل کار د حدود پورے محدود دے او دغه شان
د هر قسم فرښتو تعلق د خپل خپل کار سره دے. مثلاً د کومو فرښتو په اختیار کښے چه د هوا انتظام
دے هغوئ د هوا په حقله په هر څه پوهیږی، خو د اُوبو په حقله په هیڅ نه پوهیږی. دغه حال د
نورو څانګو د فرښتو دے. د دے نه برعکس انسان ته پوره او جامع علم ورکړے شوے دے. داکیدے
شی چه د یوے یوے څانګے په حقله انسان د هغے څانګے د فرښتو نه کم علم لری، خو د دُنیا په ټولو
څیزونو باندے جامع علم انسان له ورکړے شوے دے فرښتو له نه دے.

[۴۴] دا کار د فرښتو د اولنئ شُبهے جواب وُو. په دے طریقه الله پاک هغوئ ته وُښودله چه زه آدم
ته صرف اختیارات نه ورکوم بلکه علم ورسره هم ورکوم. د آدم د مقرر کولو نه چه ستاسو په دماغو
کښے د فساد کوم خیال راپیدا شو دا د دے کار صرف یو اړخ دے. بل اړخ د اصلاح هم دے چه د فساد
نه زیات وزندار او زیات قیمتی دے. د حکیم دا کار نه دے چه د وړے خرابئ د وجے نه د لوئے
فائدے کار پریږدی.

[۴۵] د دے مطلب دا دے چه په زمکه کښے او د زمکے سره چه څو مره علاقه تعلق لری په هغے
ټوله علاقه کښے چه څو مره فرښتے کار کوی هغوئ ټولو ته دا حکم وُشو چه د انسان به تابع یئ او
د هغه فرمان به منئ. چونکه په دے علاقه کښے د الله په حکم انسان خلیفه جوړیدونو د دے وجے

وَاسْتَكْبَرَ ق ز وَكَانَ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۳۴﴾ وَقُلْنَا يٰٓاٰدَمُ اسْكُنْ اَنْتَ
وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ وَكُلَا مِنْهَا رَغَدًا حَيْثُ شِئْتُمَا ص وَلَا تَقْرَبَا

هغه دَ خپل لوئ والی غرور وکړو او په نافرمانو کښې شامل شو[۴۷]
بیا موږ آدم ته اووئیل چه "ته او ستا ښځه دواړه په جنت کښې وسیږئ او دلته چه څه غواړئ فراخه ئې خوړئ

نه دا فرمان جاری شو چه که انسان په صحیح کار کښې یا په غلط کار کښې خپل هغه اختیارات استعمالول غواړی کوم چه ورله موږ ورکړی دی، او موږ ورله دَ هغه کار کولو موقع ورکړله، نو بیا ستاسو فرض دی چه دَ خپل خپل حده پورې دَ انسان سره په هغه کار کښې ملګری شئ. که هغه غلا کول اُو غواړی یا دَ مونځ کولو اراده وکړی، که دَ نیکئ اراده اُوکړی او که په بدئ پسې روان شی، هر څه چه کوی خو ترڅو چه موږ ده انسان ته دَ هغه دَ خوښې دَ کار کولو اجازت ورکوو، تاسو به هغه ته دَ کار کولو دپاره لاره هواره وئ. دَ مثال په طور داسې فرض کړه چه یو بادشاه کله دَ خپل ملک په یو صوبه یا یوه ضلع کښې څوک حاکم مقرره وی، نو په هغه علاقه کښې چه دَ حکومت څومره نوکران وی دَ هغوئ ټولو دا فرض وی چه دَ هغې حاکم اطاعت وکړی، او ترڅو چه دَ بادشاه دا خوښه وی چه دغه حاکم دِ خپل اختیارات استعمالوی، نو تر هغې وخته پورې دِ نوکران دَ هغه ملګری وی، خواه که دغه حاکم خپل اختیارات په صحیح کار کښې استعماله وی او که په غلط کار کښې. البته کله چه دَ یو کار په باره کښې دَ بادشاه حکم وشی چه حاکم دِ داسې نه کوی نو بیا دغلته دَ حاکم صاحب اقتدار ختم شی او هغه داسې ښکاره شی لکه چه دَ ټولې علاقې نوکرانو هړتال کړې وی. او کله چه دَ بادشاه دَ طرفنه دَ دغې حاکم صاحب دَ لرې کولو او نیولو حکم وشی، نو بیا هغه نوکران او خادمان چه دَ پرونه پورې ئې دَ حاکم په حکم کار کولو، دَ حاکم په لاسو کښې هتکړئ واچوی او جیل (دارُ الفاسقین) ته ئې روان کړی. فرښتو ته چه کوم حکم شوې وو چه آدم ته سجده وکړئ هغه کدې قسمه حکم وو. ممکنه ده چه صرف تابع کیدو ته ئې سجده وئیلی وی. او دا هم ممکنه ده چه دَ تابع کیدو دپاره ئې دَ څه ظاهری کار کولو حکم هم ورکړې وی، او دا زیاته صحیح معلومیږی

[۴۶] اِبلیس: لفظی ترجمه "انتهائی ناامیده" په اصطلاح کښې دا دَ هغې جِنّ (پیری) نوم دے چه دَ الله حکم ئې ونه منلو او دَ آدم او دَ آدم دَ اولاد دَ تابع کیدو نه ئې انکار وکړو، او دَ الله تعالیٰ نه ئې تر قیامته پورې دا مهلت وغوښتلو چه ما ته دِ دَ انسانانو دَ دوکه کولو او دَ بې لارې کولو موقع په لاس راکړلې شی. دهٔ ته "الشیطان" هم وئیلې شی. په حقیقت کښې شیطان او ابلیس هم تش په نوم یو طاقت او قوت نه دے بلکه دا هم دَ انسان پشان یوه جوسه داره هستی ده. دا رنګې څوک دِ په دے غلط فهمئ کښې نه پریوزی چه شیطان دَ فرښتو نه وو. مخکښې چه او ګورے نو قرآن په خپله دا بیان صفا کړے دے چه شیطان دَ پیریانو نه وو، چه دَ فرښتو نه ځان له یو مستقل قسم مخلوق دے.

هٰذِهِ الشَّجَرَةَ فَتَكُوْنَا مِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۳۵﴾ فَاَزَلَّهُمَا الشَّيْطٰنُ

خودے وُنے نه مه[۴۸] ورځئ، کنئ نو په ظالمانو کښے[۴۹] به شمار شئ." آخر دا چه شیطان هغوئ دواړه

[۴۷] دَ دے الفاظونه داسے معلومیږی چه غالباً ابلیس دَ سجدے نه په انکار کولو کښے یواځے نه وُو، بلکه دَ پیریانو یوه ډله نافرمانئ ته تیاره شوی وه او دَ ابلیس نوم صرف دَ دے وجے نه اغستلے شویدے چه هغه دَ هغوئ سردار وُو او په بغاوت کښے دَ ټولو نه مخکښے مخکښے وُو. لیکن دَ دے آیت دوئیه ترجمه دا هم کیدیشی چه "هغه دَ کافرانو نه وُو." مطلب ئے دا دے چه دَ پیریانو یوه نافرمانه او سرکشه ډله دَ اول نه موجود وه او دَ ابلیس تعلق دَ دغے ډلے سره وُو. په قرآن کښے عام طور دَ "شیاطین" لفظ دَ دے پیریانو او دَ هغوی دَ بچو دپاره استعمال شویدے، او په کوم ځائے کښے چه دَ شیاطین نه دَ شیطان انسان مراد اغستلو څه اشاره نه وی، هلته تر شیاطین جن مُراد وی.

[۴۸] دَ دے نه دا معلومیږی چه په زمکه باندے دَ خلیفه جوړیدو نه مخکښے دا دواړه دَ دے آزمیښت دپاره په جنت کښے وُسیدل چه دَ طبیعتونو پته ئے وُلږی. دَ دے آزمیښت دپاره یوه ونه خوښه کړے شوه او حکم وُشو چه دَ دے ونے خواله مه ورځئ، او دَ دے انجام ورته هم وُښودلے شو چه که چرے داسے مو وُکړل نو بیا به زمونږ په نظر کښے ظالمان یئ. دے بحث کولو ته ضرورت نشته چه کومه ونه وه او په هغے کښے کومه خاص خبره وه چه دَ هغے په وجه دوئ دَ دغے وُنے نه منع کړے شول. دَ منع کولو دا وجه نه وه چه دَ ونے په خاصیت کښے څه خرابی وه او دَ هغے په وجه آدم او حوّا ته دَ نقصان رسیدلو خطره وه. اَصل غرض دَ دے خبرے آزمیښت وُو، چه دوئ دَ شیطان دَ لمسون په مقابله کښے دَ کومه حده پورے دَ الله حکم منی. دَ دے مقصد دپاره دَ یو څیز منتخب کول کافی وُو. دَ دے وجے نه الله پاک دَ ونے نوم او دَ هغے دَ خاصیت څه ذکر وُ نه کړو.

دَ دے امتحان دپاره جنت دَ ټولو نه زیات موزون وُو. په اصل کښے دَ امتحان دپاره دَ جنت دَ مقرر ولو مقصد دا وُو چه دَ انسان په ذهن کښے دا حقیقت کینوی چه ستاسو دَ وُسیدو دپاره مناسب ځائے جنت دے. لیکن که چرے دَ شیطان دَ لمسون په مقابله کښے تاسو دَ الله دَ نافرمانئ لار اختیار کړله، نو لکه څنګه چه په اول کښے دَ جنت نه محروم کړے شوئ دغه شان به په آخر کښے هم محروم پاتے شئ. تاسو دا خپل مناسب او لائق ځائے صرف په دے طریقه دوباره حاصلولے شئ چه دَ خپل هغے دشمن کامیابه مقابله وُکړئ چه هغه دَ فرمان برداری دَ لارے نه ستاسو دَ لرے کولو کوشش کوی.

[۴۹] دَ ظالم لفظ لو یه معنیٰ لری. "ظلم" په اصل کښے دَ چا حق خوړلو ته وائی. ظالم هغه دے چه دَ چا حق خوری. څوک چه دَ خدائے فرمان نه منی، هغه په اصل کښے درے لوئے بنیادی حقونه ضائع کوی. اوّل دَ خدائے حق، ځکه چه هغه دَ دے حقدار دے چه دَ هغه حکم دِ وُمنلے شی. دوئیم دَ هغے ټولو څیزونو حقونه کوم چه دَ الله په نافرمانئ

عَنْهَا فَاَخْرَجَهُمَا مِمَّا كَانَا فِيْهِ ۠ وَقُلْنَا اهْبِطُوْا بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ
عَدُوٌّ ۚ وَلَكُمْ فِي الْاَرْضِ مُسْتَقَرٌّ وَّمَتَاعٌ اِلٰى حِيْنٍ ﴿۳۶﴾
فَتَلَقّٰٓى اٰدَمُ مِنْ رَّبِّهٖ كَلِمٰتٍ فَتَابَ عَلَيْهِ ۭ اِنَّهٗ هُوَ التَّوَّابُ

دغه دُنے نږ وَلمسول او زمونږ دَ حکم منلو نږ ے وارِ ول او هغوئ ے را باندِ دَهغے حالت نه راوُ ښکل په کوم حالت کښے چه وُو. مونږ ورته حکم وُکړو چه "اُوس تاسو ټول دَه ځائے نه کوز شئ، تاسو دَیو بل[۵۰] دُشمنان یئ او تاسو به دَیو خاص وخته پورے په زمکه کښے یئ او هلته به ژوند تیره وئ". په دغے وخت آدم دَ خپل رب نه یو شو کلمے زده کړلے او توبه ے وُ ښکله[۵۱] چه دَ هغه رب قبوله کړله، ځکه چه هغه ډیر معاف کونکے او رحم کونکے دے[۵۲]۔

کښے دَه استعمال کړل۔ دَه دَ بدن دَ خپل اندامونو، دَ خپل طاقتونو، دَ خپل کورکلی ښیاد مانو، دَ هغے فرښتو چه دَه دَ ارادے پوره کولو انتظام کوی، او دَ هغے ټولو خیزونو چه په دے کار کښے استعمالیږی، دَ دے ټولو په دَه باندِ داخق وُوچه دے صرف دَ هغوئ دَ مالک دَ مرضئ مطابق په هغوئ باندِ خپل اختیارات استعمال کړی۔ خو کله چه دَه دَ مالک دَ مرضئ نه خلاف په هغوئ باندِ خپل اختیارات استعمال کړل، نو په حقیقت کښے دَه په هغوی باندِ ظلم وُکړو۔ دریم په خپله خپل حق دَه دَ خپل ځان په دَه باندِ دا حق دے چه دا خپل ځان دَ تباهئ نه بچ کړی، خو کله چه دے نافرمانی وُکړی او خپل ځان دَ الله تعالیٰ دَ سزا مستحق کړی نو په اصل کښے دے په خپل ځان ظلم کوی۔ دَ دے وجے نه په قرآن کښے ځائے په ځائے دَ گناه دپاره ظلم او دَ گنهگار دپاره دَ ظالم ټکی استعمال شوی دی۔

۵۰ یعنی دَ انسان دُشمن شیطان او دَ شیطان دشمن انسان۔ دَ شیطان خو دَ انسان سړه دشمنی ښکاره ده چه هغه ے دَ الله دَ لارے نه راآړوی او تباهئ طرفته ے یوځی۔ پاتے شوه دا چه انسان دَ شیطان څنگه دشمن شو، نو په واقعه کښے خو ټول انسانیت دا غواړی چه دَ شیطان سره دشمنی وُکړے شی، خو شیطان چه دَ انسان دَ خواهشاتو دپاره کوے دَ مزے مزے خبرے مخے ته راولی، انسان په هغے دوکه شی او شیطان خپل دوست وُ ګڼی۔ دُدے قسمه دوستئ دا مطلب نه دے چه په حقیقت کښے دشمنی په دوستئ کښے بدله شوه، بلکه دَدے مطلب دا دے چه یو دشمن دَ بل دشمن نه شکست وُ خوړو او دَ هغه دَ دوکے په جال کښے وُ ښتو۔

۵۱ یعنی آدم ته چه کله خپل قصور معلوم شو، او بیائے دَ الله فرمان منل وُ غوښتل، او په زړه کښے ے دا خواهش راپیدا شو چه دَ خپل رب نه دَ خپلے خطا معافی او غواړی، نو هغه له هغه الفاظ نه ورتلل چه دَ الله نه یې دَ خپلے خطا دَ بخښنے دپاره دُعا وُ غواړی۔ الله پرے رحم وُکړو او هغه الفاظ ے ورته وُ ښودل۔

دَ توبے اصلی معنیٰ واپس کیدل دی۔ دَ بنده دَ طرفنه دَ توبے معنیٰ داده چه هغه دَ سرکشئ نه واپس شو او بندگئ طرفته راغے۔ او دَ خدائے دَ طرفنه دَ توبے معنیٰ داده چه الله په خپل هغے بنده رحم وُکړو او په هغه ے بیا دَ مهربانئ نظر وُکړو، څوک چه په خپل کړی کار باندِ شرمنده دے۔

الرَّحِيمُ ﴿٣٧﴾ قُلْنَا اهْبِطُوا مِنْهَا جَمِيعًا ۚ فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُمْ مِنِّي
هُدًى فَمَنْ تَبِعَ هُدَايَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٣٨﴾

مونږ ورته اووئيل چه "تاسو ټول د دے ځائے نه کوز شئ"[۵۳] بيا چه زما د طرفنه څه هدايت تاسو ته درشي، نو کوم خلق چه زما په دغے هدايت پسے روان شي، د هغوئ د پاره به د يرے او د غمژن کيدو هيڅ موقع نه راځي،

[۵۲] قرآن دے خيال ته يو غلط خيال وائي چه د ګناه سزا به انسان ته ضرور رسيږي - انسان د خپله ځانه بے لارے کونکي ډيرے نظريئے جوړے کړيدي، دا هم يوه بے لارے کونکي نظريه ده، ځکه چه سړے يو ځلے د ګناه په ژوند کښے اخته شي، نو دا نظريه هغه د هميشه د پاره نا اميده کوي، هغه که چرے د خپلے غلطئ نه روستو ځان ټيک کول غواړي، نو دا نظريه ورته په زړه کښے دا خبره راولي چه ستا د بچ کيدو اوس هيڅ اميد نشته، تا چه څه کړيدي د هغے سزا به ضرور تا ته رسيږي - قرآن د دے نه برعکس دا وائي چه د نيکئ بدله ورکول او د بدئ سزا ورکول بالکل د الله په اختيار کښے دي - تا ته چه د نيکئ کومه بدله ملاويږي هغه ستا د نيکئ خپله نتيجه نه ده، بلکه د الله فضل دے - د هغه خپله خوښه ده چه په چا فضل کوي او په چا نه کوي - دغه شان تا ته چه د کومے بدئ سزا ملاويږي هغه هم ستا د بدئ خپله نتيجه نه ده چه ضرور به ملاويږي، بلکه الله پوره اختيار لري، د هغه خوښه ده که تا معاف کوي او که سزا درکوي - البته دومره خبره ده چه د الله فضل او رحمت د حکمت نه خالي نه وي - هغه حکيم دے، په ړند وخپل اختيارات نه استعمالوري - کله چه د يوے نيکئ بدله ورکوي نو دا اوکوري چه بنده په ښه نيت د الله د رضا د پاره نيکي کړي وه، او که نه - او کله چه د يوے نيکئ بدله نه ورکوي نو د هغے وجه دا وي چه په ظاهره خو نيکي ښکاريده خو دننه پکښے د الله د رضا خالص جذبه نه وه - دغه شان هغه سزا په هغے قصور ورکوي چه د نافرمانئ او د خود سرئ په نيت وشي او د هغے نه روستو د شرمنده کيدو په ځائے د نور جرم کولو خواهش لري - او په خپله مهربانئ سره هغه قصور معاف کوي چه د هغے نه روستو بنده په خپلو کړو شرمنده وي او آينده د پاره خپلے اصلاح ته تيار وي - د لوئ نه لوئ مجرم او د غټ نه غټ کافر د پاره د خدائے په دربار کښے مايوسه کيدل او نا اميده کيدل نشته، خو شرط پکښے دا دے چه هغه خپله غلطئ ومني، په خپله نافرمانئ شرمنده شي او د سرکشئ لار پريږدي او د اطاعت په لار روان شي -

[۵۳] د دے فقرے دوباره وينا ډيره معنی لري - په بره فقره کښے دا وئيلي شويدي چه آدم توبه وښکله او خدائے قبوله کړه - د دے دا معنی شوه چه آدم د خپلے نافرمانئ په وجه د عذاب مستحق پاتے نه شو، د ګناه کوم داغ چه ئے په لمن لګيدلے وو هغه اوو نيځلے شو - دا داغ نه د هغه په لمن پاتے شو او نه د هغه د نسل په لمن او نه د دے ضرورت پيښ شو چه معاذ الله! د نسل انساني د کفارے ادا کولو د پاره خدائے خپل ځوئے په سولئ او خيژوي - د دے نه برعکس الله تعالی د آدم عليه السلام يوازے توبه قبوله نه کړله بلکه د توبے قبلولو نه روستوئے ورله نبوت هم ورکړو چه خپل نسل ته سيده لار وښائي - اوس چه د جنت نه د وتلو حکم

وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَآ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۳۹﴾ ع

او څوک چه د هغې د قبلولو نه انکار وکړی او زمونږه ایاتو نه[۵۴] دروغژن وګڼړی، هغوی وُورته تلونکے خلق دے، هلته به همیشه وُوسی[۵۵]. ع

بیا دوباره وُ شونو د دے دا مقصد دے چه د توبے قبلولو دا مطلب نه وُو چه آدم د په جنت کښے پاتے شی او زمکے ته د راکوزنشی. زمکه د هغوی د پاره د عذاب ځائے نه وُو، هغه دلته د سزا په طور نه وُو راکوز کړے شوے بلکه هغه خو هم د زمکے د خلافت د پاره پیدا کړے شوے وُو. جنت د هغوی د پاره اصلی د قیام ځائے نه وُو. د جنت نه د وتلو حکم د هغوی د پاره د سزا حیثیت نه لرلو. اصل تجویز خو د هغوی زمکے ته د راکوزیدو وُو. البته د راکوزیدو نه مخکښے هغوی د امتحان په غرض په جنت کښے پاتے شوی وُو. د دغے امتحان ذکر بره په حاشیه نمبر ۴۸ کښے شویدے.

[۵۴] ایات جمع د آیت ده. د آیت اصلی معنیٰ هغه نښه یا علامه ده چه د یو څیز طرفته اشاره کوی. په قرآن کښے د دے لفظ څلور مختلفے معنے راغلی دی. یو ځائے کښے تر صرف علامه یا نښه مراد ده. بل ځائے کښے د کائنا تو څیزونو ته د الله ایات وئیلی شویدی. ځکه چه د قدرت هر څیز هغه حقیقت ته اشاره کوی کوم چه د دے ظاهری پردے نه شاته پټ دے. بل ځائے کښے د انبیاؤ علیهم السلام معجزو ته ایات وئیلی شوی دی، ځکه چه دا معجزے په اصل کښے د دے خبرے علامه وه چه پیغمبران د کائنا تو د بادشاه نمائندګان دی. بل ځائے کښے د کتاب الله فقرو ته ایات وئیلی شوی دی، ځکه چه د قرآن آیتو نه څنګه چه حق او صداقت ښکاره کوی، دغه شان د دے د الفاظو او انداز بیان او طرز عبارت نه د دے د قدر من مصنف د هستئ نښے صفا ښکاریږی ـــــ هر ځائے کښے د وړاندے روستو عبارت نه دا په آسانه معلومیږی چه دلته د لفظ "آیت" کومه معنیٰ ده.

[۵۵] دا د نسل انسانی په باره کښے د قیامته پورے د الله تعالیٰ یو مستقل فرمان دے، او په دریمه رکوع کښے ئے دے فرمان ته د الله "وعده" وئیلی ده. پخپله لار خوښول د انسان کار نه دے، انسان د الله بنده او د الله خلیفه دے، د دے دواړو حیثیتونو په وجه هغه ته دا حکم شویدے چه هغه به په هغه لار ځی کومه چه ورله خپل رب خوښه کړله. او د دے لارے د معلومیدو بس دوه طریقے کیدیشی: یا خو چه نیغ په نیغه انسان ته د الله تعالیٰ د طرفنه وحی راشی، یا به بیا په هغے انسان پسے ځی چا ته چه وحی راغلی وی. بله دریمه طریقه د رب د رضا معلومولو نشته. د دے دوو طریقونه علاوه بله هره یوه طریقه غلطه ده، سراسر بغاوت دے، سزائے د جهنم نه سوا بل څه نه ده.

يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اذْكُرُوْا نِعْمَتِيَ الَّتِيْٓ اَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ

اے بنی اسرائیلو![۵۶] لږ خیال اوساتئ زما دَ هغے نعمت چه ما تاسو له درکړے وُو،

په قرآن مجید کښے دَ آدم دَ پیدائش او دَ نسلِ انسانی دَ ابتدا دا قصه په اُوّو ځایونو کښے راغلی ده په هغے کښے اول ځائے دا دے او باقی ځایونه لاندِ دی: الاعراف، رکوع ۲. الحجر، رکوع ۳. بنی اسرائیل، رکوع ۷. الکهف، رکوع ۷. طٰهٰ، رکوع ۷. صٓ، رکوع ۵. دَ بائیبل دَ کتابِ پیدائش په اول، دویم، دریم بابونو کښے هم دا قصه بیان شوی ده، خو که دَ دواړو کتابونو مقابله اُوکړے شی نو هر پوهه انسان دا معلومه ولے شی چه په دواړو کتابونو کښے څه فرق دے.

(باقی حاشیه اوګورئ په صفحه ۲۲۶ کښے)

[۵۶] دَ اسرائیل معنی ده دَ الله بنده. اسرائیل دَ حضرت یعقوب لقب وُو چه ورته دَ الله تعالیٰ دَ طرفنه ملاؤ شوے وُو. هغه دَ حضرت اسحٰقؑ ځوئے او دَ حضرت ابراهیمؑ نوسے وُو. دَ دوئ نسل ته بنی اسرائیل وائی. په تیرو شوو څلورو رکوعګانو کښے تمهیدی تقریر وُو چه عامو انسانانو ته وُو. اُوس دَ دے ځائے نه دَ څوارلسمے رکوع پورے مسلسل یو تقریر بنی اسرائیلو ته شویدے په دے تقریر کښے ځائے په ځائے عیسایانو ته او دَ عربو مشرکانو ته هم خبری شویدی او دَ موقعے مطابق هغه خلقو ته هم خطاب شویدے چه دَ حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په دعوت ئے ایمان راوړے وُو. دَ دے تقریر دَ وینا په دوران کښے لاندینئ خبرے خاص طور په خیال کښے ساتل پکار دی

اول دَ دے تقریر منشا دا ده چه دَ مخکښی پیغمبرانو په اُمت کښے کوم لږ ډیر نیکان خلق پاتی شویدی هغوئ ته دِ په هغے صداقت باندِ دَ ایمان راوړلو او په هغے کار کښے دَ شریک کیدلو دعوت ورکړے شی کوم چه محمد صلی الله علیه وسلم کولو. دَ دے وجے نه هغوئ ته دا وئیلے کیږی چه دے قرآن او دے نبی هغه پیغام او هغه کار راوړے دے کوم چه دَ دے نه مخکښے ستاسو پیغمبرانو او صحیفو راوړے وُو. اول دا کار تاسو ته حواله شوے وُو چه تاسو پرِ پخپله هم روان شئ او ټولے دُنیا ته غږ وُکړئ او په دے باندِ دَ ټولے دُنیا دَ روانولو کوشش وُکړئ. لیکن تاسو دُنیا ته خو لار ښودله، خو پخپله په نیغه لار قایم پاتے نه شوئ او بے لارے شوئ. ستاسو تاریخ او ستاسو دَ قوم موجوده اخلاقی او دینی حالت پخپله په تاسو دَ خرابئ ګواهی کوی. اُوس الله هم دغه کار او خدمت خپل یو بل بنده ته سپارلے دے دا څه نااشنا کار نه دے ستاسو خپل کار دے. سره دَ پوهے دَ حق مخالفت مه کوئ، دا قبول کړئ. کوم کار چه ستاسو دَ کولو وُو، خو چه تاسو وَ نه کړو، نو اُوس چه ئے نور خلق کوی، تاسو دَ هغوئ ملګرتیا وُکړئ.

دویم دَ دے منشا په عامو یهودیانو باندِ غاړه خلاصول او دَ هغوئ دینی او اخلاقی حالت ښکاره کول دی. په هغوئ باندِ دا ثابتوی چه دا هغه دین دے چه ستاسو پیغمبرانو راوړے وُو. دَ دین په اُصولو کښے یوه خبره هم دا سے نشته، چه په هغے کښے دَ قرآن تعلیم دَ تورات دَ تعلیم نه مختلف وی. په هغوئ باندِ دا

وَاَوْفُوْا بِعَهْدِیْٓ اُوْفِ بِعَهْدِكُمْ ۚ وَاِیَّایَ فَارْهَبُوْنِ ﴿۴۰﴾

زما سره چه ستاسو کومه وعده وه هغه تاسو پوره کړئ، نو زما چه کومه وعده ستاسو سره وه هغه به زهٔ پوره کړم او خاص زما نه تاسو وَیَرِیږئ۔

ثابتوی چه تاسو ته دَ هدایت او دَ مشرئ کوم منصب ورکړے شوے وُو تاسو دَ هغے حق ادا نه کړو او ناکامه شوی یئ۔ دَ دے په ثبوت کښے داسے لوئے واقعے بیان کړے شویدی چه دَ هغے نه هغوئ مخ نه شواړه ولے بیا چه سره دَ حق پیژندلو هغوئ دَ حق په مخالفت کښے کوم سانشونه کول، دَ خلقو په زړونو کښے ئے کوم شکونه پیدا کول سمه خبره ئے وَرانوله او دوکه بازی او مکاری ئے کوله، او دا کوشش ئے کولو چه په څه طریقه دَ محمد کار کامیاب نشی، نو دا تولے خبری په ډاګه کړے شوے، دَ دے نه دَ دے خبرے پته اونکیدله چه دَ دوئ دَ مذهب دا ظاهری رنګ هسے دوکه ده، په دوئ کښے دَ دیانت او دَ حق پرستئ په ځائے ضد، ډله بازی او نفس پرستی پرته ده او په حقیقت کښے دوئ دا نه غواړی چه دَ نیکئ څه کار دِ ترقی وَکړی۔ دَ دے په وجه دا فائده وَشوه چه یو خو پخپله په دے قوم کښے کوم نیکان خلق وُو دَ هغوئ سترګے وَغړیدلے او حقیقت ورته ښکاره شو، او دویم دا چه دَ مدینے په عوامو باندِ او خاص طور دَ عربو په مشرکانو باندِ چه دَ دے خلقو کوم مذهبی او اخلاقی اثر وُو هغه ختم شو، او دریم دا چه هغوئ ته پخپله خپل ځان ښکاره شو او دومره ئے خپلے حوصلے او بائیللے چه هغوئ بیا هیچرے هغه شان په زړهٔ ورتیا سره مقابله وَنه کړے شوه لکه څنګه چه هغه سړے په بهادرئ مقابله کوی چه دَ هغه دا یقین وی چه زهٔ په حقه یم۔

دریم، مخکښے په څلورو رکوعګانو کښے چه انسان ته دَ دعوت په باره کښے څه وئیلی شوی وُو، هم په دے سلسله کښے دَ یو خاص قوم یو خاص مثال بیا منیږی چه کوم قوم دَ خدائے دَ رالیږلی شوی هدایت نه مخ واړوی نو دَ هغے قوم څه انجام وی۔ په ټولو قومونو کښے دَ بنی اسرائیلو دَ مثال بیا نولو وجه داده چه په دُنیا کښے صرف بنی اسرائیل یو داسے قوم دے چه دَ څلورو زرو کالو راسے دَ ټولے دُنیا دَ قومونو د پاره دَ عبرت نمونه ده۔ دَ خدائے په لاره باندِ دَ تللو او دَ نه تللو هغه ټولے سختئ او مصیبتونه دَ دے قوم په عبرتناک تاریخ کښے ښکاریږی۔

څلورم دَ دے تقریر مقصد دا دے چه دَ محمد صلی الله علیه وسلم اُمتیانو ته دا سبق ورکړی چه دَ پخوانو پیغمبرانو دَ اُمتیانو په شان دَ تنزل په کنده کښے چرته پرینوځئ۔ دَ یهودیانو اخلاقی کمزورئ، مذهبی غلطیانے او دَ هغوئ دَ عقیدو او عملونو یوه یوه خرابی ئے ورته په ګوته کړه او دَ هغے په ځائے ورته حق دین بیان کړو چه مسلمانان خپله نیغه لار اُووینی او دَ غلطو لارو نه بچ بچ لاړ شی۔ په دے سلسله کښے قرآن چه کوم تنقید په یهود او نصاریٰ باندِ کوی، دَ هغے دلو ستلو په وخت کښے مسلمانانو له پکار دی چه دَ نبی صلی الله علیه وسلم هغه حدیث یاد کړی چه په هغے کښے هغوئ فرمائیلی دی چه په آخره کښے به تاسو هم دَ مخکینو اُمتیانو په طریقه روان شئ تر دے پورے چه که چرے هغوئ دَ پلیتئ په یوه سُوړه کښے ننوتی وی نو تاسو به پکښے هم ننوځئ۔ اصحابو تپوس اوکړو اے رسول الله، یهود او نصاریٰ دِ مطلب دے؟ هغوئ وَفرمائیل چه نور څوک؟ دَ نبی اکرم دا ارشاد صرف یوه رټنه نه وه بلکه هغه له چه الله کوم بصیرت ورکړے وُو دَ هغے په وجه هغه ته دا معلومه وه چه دَ پیغمبرانو په اُمتونو کښے ورانے په کومو کومو لارو راځی او په کوم کوم شکل کښے ښکاره کیږی۔

وَاٰمِنُوْا بِمَآ اَنْزَلْتُ مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَكُمْ وَلَا تَكُوْنُوْٓا اَوَّلَ كَافِرٍۭ
بِهٖ ۖ وَلَا تَشْتَرُوْا بِاٰيٰتِيْ ثَمَنًا قَلِيْلًا ۫ وَاِيَّايَ فَاتَّقُوْنِ ﴿٤١﴾ وَلَا
تَلْبِسُوا الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ وَتَكْتُمُوا الْحَقَّ وَاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿٤٢﴾

او ما چه کوم کتاب رالیږلے دے په هغے ایمان راوړئ. دا د هغے کتاب تصدیق کونکے دے کوم چه تاسو سره د مخکښے نه موجود وُو، د ټولو نه اول تاسو د دے نه انکار مه کوئ. په لږ قیمت باندِ زما آیتونه مه خرڅوئ[٥٧] او زما د غضب نه ځان وساتئ. حق له د باطل رنګ مه ورکوئ چه شکمن شی او سره د پوهے د حق پټولو کوشش مه کوئ[٥٨].

[٥٧] د لږ قیمت مطلب د دُنیا فائدے دی. دے خلقو به د الله حکمونه او هدایات پریښودل او د دُنیا فائدے به ئے اغستلے. د حق خرڅولو په بدله کښے که انسان د ټولے دُنیا دولت واخلی خو هغه ډیر لږ قیمت دے، ځکه چه حق د دُنیا نه ډیر قیمتی څیز دے.

[٥٨] په دے آیت باندِ د پوهیدلو د پاره دا خبره یاد ساتل پکار دی چه د عربو عام خلق په لیکلو لوستلو نه پوهیدل او د هغوئ په مقابله کښے په یهودیانو کښے د تعلیم ډیره چرچا وه او په هغوئ کښے دا سے لوئ لوئ قدر من عالمان وُو چه شهرت ئے د عربو نه بهر ته رسیدلے وُو. د دے وجه نه په عربو باندِ د یهودیانو ډیر لوئ علمی رُعب پروت وُو. بیا د هغوئ عالمانو او بزرګانو چه د خپلو مذهبی دربارونو کوم ظاهری شان جوړ کړے وُو او د دم تعویذ کوم کارئے شروع کړے وُو د هغے په وجه د هغوئ رُعب نور هم زیات شوے وُو. خاص طور مدینے والا ډیر د هغوئ په رُعب کښے وُو، ځکه چه هغوئ ته نزدے نزدے د یهودیانو لوئے لوئے قبیلے آبادے وے، شپه او ورځ به د هغوئ سره ملاویدل، او د دے میل ملاپ په وجه مدینے والا د هغوئ نه دا سے متأثره وُو لکه څنګه چه جټ خلق د تعلیم یافته خلقو او د مذهبی خلقو نه متاثره وی. په دے حالاتو کښے چه کله نبی صلی الله علیه وسلم د نبوت دعوه وکړه او خلق ئے اسلام طرفته رابلل شروع کړل، نو قدرتی خبره وه چه دے جټو عربیانو به د اهل کتابو یهودیانو نه دا تپوس کوُو چه تاسو خو هم په یو پیغمبر پسے ځئ او یو کتاب مَنئ، تاسو مونږ ته دا اُووائیئ چه زمونږ دے صاحب چه د نبوت دعوه کړیده، د دهٔ په حقله او د دهٔ د تعلیم په حقله ستاسو څه خیال دے. دا سوال به د مکے خلقو هم د یهودیانو نه بار بار کوُو، او چه کله نبی صلی الله علیه وسلم مدینے ته تشریف راوړو، نو دلته هم ډیرو خلقو د یهودی عالمانو نه دا تپوس کولو. خو دے عالمانو یو ځلے هم خلقو ته صحیح لار نه وه ښودلے. هغوئ خو دا وئیلے نه شو چه کوم توحید محمد صلی الله علیه وسلم پیش کوی هغه غلط دے، یا د پیغمبرانو او آسمانی کتابونو او د فرښتو او د آخرت په باره کښے چه هغوئ څه وائی، په

وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَارْكَعُوْا مَعَ الرَّاكِعِيْنَ ﴿۴۳﴾
اَتَاْمُرُوْنَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَتَنْسَوْنَ اَنْفُسَكُمْ وَاَنْتُمْ تَتْلُوْنَ
الْكِتٰبَ ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۴۴﴾ وَاسْتَعِيْنُوْا بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوةِ ؕ وَ

مونځ قائم کړئ، زکوٰة ورکړئ،[۵۹] او کوم خلق چه ما ته ښکته کیږی تاسو هم د هغوئ سره ښکته شئ. تاسو نورو خلقو ته خو د نیکئ لار ښایئ خو پخپله خپل ځان هیروئ؟ حالانکه تاسو د کتاب تلاوت کوئ. آیا تاسو د عقل نه هډوکار نه اخلئ؟ د صبر او د مونځ په ذریعه امداد[۶۰] حاصل کړئ.

دے کښے څه غلطی ده، یا چه هغه کوم اخلاقی اصول خلقو ته ښائی په هغے کښے څه څیز غلط دے. لیکن هغوئ هغے حقیقت منلو ته هم تیار نه وُو کوم چه محمد صلی الله علیه وسلم پیش کوو. هغوئ د حقیقت نه صفا انکار هم نشو کولے او نه ئے د زړه د اخلاصه منلو ته تیار وُو. هغوئ د دواړو په منځ منځ کښے دا طریقه اختیار کړی وه چه د هر سړی په زړه کښے به ئے د نبی صلی الله علیه وسلم خلاف، د هغه د ډلے خلاف، او د هغه د کار خلاف څه نه څه شک اچولو، څه الزام به ئے په هغه باندے لګولو، څه دا سے خبره به ئے مشهوره کوله چه خلق به په شک کښے پریوتو، او دا سے قسما قسم سوالونه به ئے چیړل چه خلق پخپله هم شکمن شی او نبی صلی الله علیه وسلم او د هغه پیروکاران هم په شک کښے واچوی. دا د هغوئ کار وُو او په دے وجه ورته دا ویلے کیږی چه په حق باندے د باطل پرده مه اچوئ، د خپلو دروغو پرو پیکنډو او د شر نه ډک شک شبهو او اعتراضونو په ذریعه د حق د ختمولو او د حق د پټولو کوشش مه کوئ، حق او باطل مه یو ځائے کوئ او خلقو له دوکه مه ورکوئ.

[۵۹] مونځ او زکوٰة په هره زمانه کښے د دین اسلام د ټولو نه اهم ارکان پاتے شویدی. د بنی اسرائیلو پیغمبرانو هم د نورو پیغمبرانو په شان د دے سخت تاکید کړے وُو. خو یهودیانو د دے پرواه نه وه ساتلے. د امامتئ د مونځ نظام په هغوئ کښے تقریباً ختم شوے وُو. د قوم ډیرو خلقو ځان له مونځ هم پریښودلے وُو. او د زکوٰة ورکولو په ځائے دے خلقو سُود اغستل شروع کړی وُو.

[۶۰] یعنی د نیکئ په لار کچرے تاسو ته تلل مشکل وی نو د دے مشکل علاج صبر او مونځ دے د دے دواړو په ذریعه به تاسو ته هغه طاقت ملاؤ شی چه د هغے په وجه به دا لار آسانه شی.

په لغت کښے د صبر معنیٰ منع کول او تړل دی، او د دے نه مراد دا سے مضبوطه او پخه اراده، او په نفسانی خواهشاتو باندے دا سے قابو ساتل دی چه سړے د خپل نفس د لمسون او د بهرنی مشکلاتو په مقابله کښے د خپل زړه په خوښه کړے شوی لاره باندے مسلسل او برابر روان پاتے شی. د ارشادِ الٰهی مدعا دا ده چه دا اخلاقی صفت ځان کښے پیدا کړئ او دا صفت په ځان کښے د مضبوطولو دپاره د مونځ پابندی کوئ.

إِنَّهَا لَكَبِيرَةٌ إِلَّا عَلَى الْخَاشِعِينَ ﴿٤٥﴾ الَّذِينَ يَظُنُّونَ أَنَّهُم
مُّلَاقُو رَبِّهِمْ وَأَنَّهُمْ إِلَيْهِ رَاجِعُونَ ﴿٤٦﴾ يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ اذْكُرُوا
نِعْمَتِيَ الَّتِي أَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَأَنِّي فَضَّلْتُكُمْ عَلَى الْعَالَمِينَ ﴿٤٧﴾
وَاتَّقُوا يَوْمًا لَّا تَجْزِي نَفْسٌ عَن نَّفْسٍ شَيْئًا وَلَا يُقْبَلُ
مِنْهَا شَفَاعَةٌ وَلَا يُؤْخَذُ مِنْهَا عَدْلٌ وَلَا هُمْ يُنصَرُونَ ﴿٤٨﴾

بیشکه مونځ یو ډیر کران کار دے، خو دهغو فرمانبردارۍ بنده کانو دپاره مشکل نه دے چې دا ئے خیال وی چه آخر به دخپل رب سره ملاویږی او دهغه طرفته به[۶۱] واپس ځی ع

اے بنی اسرائیلو! یاد کړئ زما هغه نعمت، چه ما په تاسو کړے وُو او دا خبره چه ما تاسو ته دَ نړیو له دُنیا په قومونو باندې فضیلت درکړے[۶۲] وُو. او وَیرږئ دَهغې ورځې نه چه څوک به دَچا په کار نه راځی، نه به دَچا دَ طرفنه سفارش قبلیږی او نه به څوک په فدیه ورکولو پریښودلے کیږی، او نه به مجرمانو ته دَ یوې لمنې نه مدد ملاویږی[۶۳]

[۶۱] یعنی کوم سړے چه دَ خدائے حکم منونکے نه وی او په آخرت عقیده نه لری، دَهغه دپاره دَ مونځ پابندی یو لوئے مصیبت دے. او چاچه په خپله رضا او خوښه دَ خدائے حکم ته غاړه کیښودلی وی او دَ مرګ نه روستو دَ خدائے سره دَ ملاقات یقین ئے هم وی نو دَهغه دپاره مونځ کول مشکل نه وی بلکه مونځ پریښودل مشکل وی.

[۶۲] دا دَ بنی اسرائیلو هغه دورته اشاره ده کله چه هغوی دَ نړیو له دُنیا په قومونو کښے یو داسے قوم وُو چه الله تعالیٰ ورله دَ حق علم ورکړے وُو او دَ نړیو له دُنیا دپاره ئے امام او پیشوا جوړ کړے وُو، دپاره دَدے چه ټول قومونه دَ الله لارے ته راوبلی او دَ الله په لاره ئے روان کړی

[۶۳] دَ بنی اسرائیلو دَ خرابئ یوه لویه وجه دا وه چه دَ آخرت پرځای دَهغوی عقیده خرابه شوی وه. هغوی په دے طمع ژوند تیرولو چه موږ دَ پیغمبرانو اولادیو، دَ لویو لویو اولیاؤ صالحانو اولادیو، دَ بزرګانو سره موتعلق دے، موږ به دَدے بزرګانو په وجه بښلے کیږو، دَدے بزرګانو لمنې چه څوک ونیسی هغه سزا نلی خوړلے. دے غلطو برو سوهغوی دَ دین نه بے پروا کړی وُو. او په ګناهونو کښے ئے اخته کړی وُو. دَدے وجے نه دَ نعمت وریاد ولو سره فوراً خپله غلطی ئے ورته په کوته کړله.

وَاِذْ نَجَّيْنٰكُمْ مِّنْ اٰلِ فِرْعَوْنَ يَسُوْمُوْنَكُمْ سُوْٓءَ الْعَذَابِ يُذَبِّحُوْنَ
اَبْنَآءَكُمْ وَيَسْتَحْيُوْنَ نِسَآءَكُمْ ۭ وَفِيْ ذٰلِكُمْ بَلَآءٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ
عَظِيْمٌ ﴿۴۹﴾ وَاِذْ فَرَقْنَا بِكُمُ الْبَحْرَ فَاَنْجَيْنٰكُمْ وَاَغْرَقْنَآ اٰلَ
فِرْعَوْنَ وَاَنْتُمْ تَنْظُرُوْنَ ﴿۵۰﴾ وَاِذْ وٰعَدْنَا مُوْسٰٓى اَرْبَعِيْنَ
لَيْلَةً ثُمَّ اتَّخَذْتُمُ الْعِجْلَ مِنْۢ بَعْدِهٖ وَاَنْتُمْ ظٰلِمُوْنَ ﴿۵۱﴾ ثُمَّ عَفَوْنَا

یاد کړئ[۶۳] هغه وخت، کله چې موښه تاسو د فرعونیانو[۶۵] غلامئ نه آزاد کړئ ـــــ هغوئ تاسو په سخت عذاب کښے ښولی وئ، ستاسو هلکان به ئے وژل او ستاسو جینکئ به ئے ژوندئ پریښودلے او په دے حالت کښے ستاسو د رب د طرفنه په تاسو لوئ آزمینښت[۶۶] وو۔

یاد کړئ هغه وخت، کله چې موښه سمندر ډوبلو او ستاسو د پاره مولا رجوړه کړله، بیا مو دهغے نه تاسو په خیریت سره پورے باسلئ، بیا مو د غلته ستاسو د راښکاره فرعونیان غرق کړل۔

یاد کړئ، کله چې موښه موسیٰ د څلویښتو شپو وعده راوغوښتلو[۶۷]، نو د هغه نه روستو تاسو د غوا د بچی نه ځان له خدائے[۶۸] جوړ کړو۔ د هغه وخت تاسو په زیاتے کړے ظالمان یاست

[۶۴] دده نه روستو د پیرو کوعکانو پورے چې کومو واقعاتو ته مسلسل اشارے شویدی هغه ټولے د بنی اسرائیلو د تاریخ د هغے مشهورے واقعے دی چه د هغے قوم بچی بچی ته معلومے دے دده وجے نه د تفصیل بیانولو په ځائے یوے یوے واقعے ته مختصره اشاره شویده۔ په اصل کښے د دے تاریخ بیانولو مقصد دا دے چه یو طرفنه په تاسو باندے د الله تعالیٰ دا احسانات دی او بل طرفنه د دے احساناتو په جواب کښے ستاسو دا غلط کارونه دی۔

[۶۵] د "اٰلِ فرعون" ترجمه موښه فرعونیان کړیده۔ په دے کښے د فرعونیانو خاندان او د مصر حکمران طبقه دواړه شامل دی۔

[۶۶] آزمینښت د دے خبرے چه په دے سختو کښے تاسو څوچه مسلمانان پاتے کیږئ او که نه؟ او آزمینښت د دے خبرے چه د دے دومره لوئے مصیبت نه خلاص شوئ نو د الله شکر گذاره بندگان جوړیږئ او که نه؟

[۶۷] کله چه بنی اسرائیل د مصر نه اوتل او سینا ته ورسیدل نو الله تعالیٰ حضرت

عَنْكُمْ مِّنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۵۲﴾ وَاِذْ اٰتَيْنَا مُوْسَى
الْكِتٰبَ وَالْفُرْقَانَ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ ﴿۵۳﴾ وَاِذْ قَالَ مُوْسٰى
لِقَوْمِهٖ يٰقَوْمِ اِنَّكُمْ ظَلَمْتُمْ اَنْفُسَكُمْ بِاتِّخَاذِكُمُ الْعِجْلَ
فَتُوْبُوْٓا اِلٰى بَارِئِكُمْ فَاقْتُلُوْٓا اَنْفُسَكُمْ ؕ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ عِنْدَ
بَارِئِكُمْ ؕ فَتَابَ عَلَيْكُمْ ؕ اِنَّهٗ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ ﴿۵۴﴾

تاسو معاف کړئ شاید چه اوس شکر وباسئ۔

یاد کړئ چه (ټیک په دغه وخت کله چه تاسو دا ظلم کولو) مونږه موسیٰ له کتاب[۶۹] او فرقان دَدے دپاره ورکړو چه تاسو دَ دے په ذریعه نیغه لار بیا مومئ۔

یاد کړئ کله چه موسیٰ (دَدے نعمت سره واپس شو، نو هغه) خپل قوم ته اُووئیل چه "اے خلقو، تاسو دَ غوا دَ بچی دَ عبادت په وجه پخپل ځان سخت ظلم کړیدے، نو خپل خالق ته توبه وباسئ او خپل ځانونه مره کړئ، په دے کښے ستاسو دَ خالق په نزد ستاسو بهتری ده" هغه وخت ستاسو خالق ستاسو توبه قبوله کړله ځکه چه هغه ډیر معاف کونکے او ډیر رحم کونکے دے۔

موسیٰ دَ څلویښتو شپو ورځو دپاره کوه طور ته دَدے دپاره راوغوختلو چه هلته ورله دَ نوی آزاد شوی قوم دپاره دَ شریعت قانون او دَ ژوند تیرولو هدایات ورکړی۔

۶۸ دَ بنی اسرائیل کاونډی قومونو دَ غوا او دَ غوبئ عبادت کولو۔ په مصر او کنعان کښے دَدے عام رواج وُو۔ دَ حضرت یوسفؑ نه روستو په بنی اسرائیلو تنزل شروع شو او رُو رُو دَ قبطیانو غلامان شو۔ قبطیانو به دَ غوا عبادت کولو نو دَ بنی اسرائیلو په زړونو کښے هم دَ غوا قدر او عزت پیدا شو۔ (دَ سخی دَ عبادت واقعه دَ بائیبل په کتاب خروج، باب ۳۲ کښے هم په تفصیل سره ذکر شویده)۔

۶۹ فرقان: هغه څیز چه دَ هغے په ذریعه دَ حق او دَ باطل فرق راښکاره شی۔ په اُردو ژبه کښے ورته "کسوټی" وائی، (او دا لفظ په پښتو کښے هم مشهور دے)۔ دلته دَ فرقان مطلب هغه علم او پوهه ده چه دَ هغے په ذریعه سړے په حق او په باطل کښے تمیز کولے شی۔

۷۰ یعنی خپل هغه خلق قتل کړئ چا چه سخی ته خدائے وئیلے وُو او دَ هغه عبادت ئے کولو۔

وَاِذْ قُلْتُمْ يٰمُوْسٰى لَنْ نُّؤْمِنَ لَكَ حَتّٰى نَرَى اللّٰهَ جَهْرَةً فَاَخَذَتْكُمُ
الصّٰعِقَةُ وَاَنْتُمْ تَنْظُرُوْنَ ﴿۵۵﴾ ثُمَّ بَعَثْنٰكُمْ مِّنْۢ بَعْدِ مَوْتِكُمْ
لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۵۶﴾ وَظَلَّلْنَا عَلَيْكُمُ الْغَمَامَ وَاَنْزَلْنَا عَلَيْكُمُ الْمَنَّ
وَالسَّلْوٰى ؕ كُلُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا رَزَقْنٰكُمْ ؕ وَمَا ظَلَمُوْنَا

یاد کړئ کله چه تاسو موسیٰ ته وئیلی وُو چه مونږه ستا په وینا هرګز یقین نه کوو تر څو چه مونږه په خپلو سترګو خدائے (ستا سره په خبرو کولو) ښکاره وُ نه وینو. په دغه وخت کښے تاسو کتل چه یوے زبردستے چغے تاسو راګیر کړئ. تاسو مړه پراته وئ، خو مونږ بیا تاسو ژوندی راوُچت کړئ، پکار دی چه دَ دے احسان نه روستو تاسو شکر ګذاره شئ[۱]

مونږ په تاسو باندِ دَ وریځو سُورے وُ کړو[۲]، دَ مَن و سلویٰ خوراک مو درته راوُلیږدو[۳] او تاسو ته مو وُ وئیل چه مونږ درله کوم پاک څیزونه درکړی دی، هغه خورئ (خو ستاسو پخوانو مشرانو چه

---

[۱] دا اشاره چه کومے واقعے ته ده دَ هغے تفصیل دا دے چه کله حضرت موسیٰؑ دَ څلویښت شپو ورځو په وعده طُور ته تشریف وړے وُو نو هغه ته دا حُکم شوے وُو چه دَ ځان سره دَ بنی اسرائیلو اَویا کسان نمائیندګان هم راوله. بیا چه کله الله تعالیٰ موسیٰ علیه السلام ته کتاب او فُرقان ورکړو، نو هغه دغه کتاب دَ بنی اسرائیلو نمائیندګانو ته وړاندِ کړو. په دے موقع باندِ قرآن وائی چه په بنی اسرائیلو کښے څه شریرانو خلقو دا اُووئیل چه مونږ صرف ستا په وینا باندِ دا څنګه اُومنو چه خدائے ستا سره خبرے کړے دی. په دے باندِ دَ الله تعالیٰ غضب نازل شوا و هغوی ته ئے سزا ورکړه. لیکن بائیبل وائی چه:

"هغوی دَ اسرائیلو خدائے وُلیدو. دَ هغه دَ خپولاندِ دَ نیلم دَ کانړی ډبه شان وه چه دَ آسمان په شان صفا وه. او هغه دَ بنی اسرائیلو شریفانو ته هیڅ وُنه وئیل. دغه شان هغوی خدائے وُلیدو او خوراک څکاک ئے وُکړو" (خروج، باب ۲۴ - آیت ۱۰-۱۱)

خو عجیبه دا ده چه هم په دے کتاب کښے مخکښے لیکی چه کله حضرت موسیٰؑ خدائے ته عرض وُکړو چه ما ته خپل شان وُښایه، نو خدائے ورته وُفرمائیل چه ته ما نشی لیدلے (اوګوزه خروج، باب ۳۳ - آیت ۱۸-۲۳).

[۲] یعنی دَ سینا په صحرا کښے، چه هلته دَ نمر نه دَ بچ کیدو دپاره څه ځائے نه وُو، مونږ دَ وریځے په ذریعه ستاسو دَ بچ کیدو انتظام وُکړو. یاد ساتئ چه په دے موقع باندِ بنی اسرائیل دَ لکونو په تعداد کښے دَ مصر نه راوتلی وُو، او دَ سینا په علاقه کښے کورونه خو پریږده، دَ هغوی سره دَ سر پټولو دپاره خیمے هم نه وے. په دغے زمانه کښے که چرے خدائے پاک په آسمان باندِ دَ څه مردے پورے

وَلٰكِنْ كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿۵۷﴾ وَاِذْ قُلْنَا ادْخُلُوْا هٰذِهِ
الْقَرْيَةَ فَكُلُوْا مِنْهَا حَيْثُ شِئْتُمْ رَغَدًا وَّادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا
وَّقُوْلُوْا حِطَّةٌ نَّغْفِرْ لَكُمْ خَطٰيٰكُمْ ؕ وَسَنَزِيْدُ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۵۸﴾

څه وکړل) هغه په مونږ باندې هغوی ظلم نهٔ وُو، بلکه پخپله په خپل ځان باندې ظلم اوکړو.
بیا را یاد کړئ کله چه مونږ وئیلی وُو چه "دے مخامخ کلی[۷۳] ته داخل شئ، دَ دے پیداوار
چه څه رنګ ستاسو خوښه وی هغه رنګ ئے په مزے سره خورئ، خو دَ کلی په دروازه تیټ
تیټ ننوځئ او حِطَّةٌ حِطَّةٌ وائیئ[۷۴]، مونږ به ستاسو خطاګانے معاف کړو، او په نیکانو خلقو به نور فضل وکرم وکړو."

وریځے نهٔ راوستلے نو دا قوم به دَ نمر دَ تاؤنه مړ شوے وُو۔
[۷۳] مَنّ او سلوی قدرتی خوراکونه وُو چه دے خلقو ته مسلسل دَ څلویښتو کالو پورے ملاویدل
مَنّ دَ دنړیا دَ تخم پشان یو څیز وُو چه دَ پرخے پشان به په زمکه باندې غوټئ غوټئ پریوتلو۔ او
سلوی دَ مړزو دَ قسم یوه مرغئ وه۔ دا مرغئ دَ خدائے په فضل دومره ډیرے وے چه ټول قوم صرف
په دے خوراک ژوند تیره وُوا و لوږه پرنهٔ وه راغلے، حال دا دے که نن صبا یو مالدار ملک ته هم ناسا په
یو څو لکه مهاجر راشی نو دَ هغوی دَ خوراک انتظام مشکل شی۔ (دَ مَنّ او سلوی دَ تفصیلی بحث دپاره اوکورئ
بائیبل، کتاب خروج، باب ۱۶۔ ګنتی، باب ۱۱، آیت ۷-۹ و ۳۱، ۳۲ ویشوع، باب ۵، آیت ۱۲)۔
[۷۴] تر اُوسه پورے دا پته نهٔ ده لګیدلے چه دا کوم کلے دے۔ دَ کومو واقعاتو چه ذکر کیږی
نو په دغے وخت کښے بنی اسرائیل دَ سینا په صحرا کښے وُو۔ په دے وجه غالب ګمان دا دے چه دا کلے به
دَ سینا یو ښار وُو۔ خو دا هم ممکنه ده چه دَ دے نه مراد شطیم وی، چه یریحو ته مخامخ دَ دریائے
اُردُن نمرخا ته طرفته آباد وُو۔ په بائیبل کښے ئے لیکلی دی چه بنی اسرائیلو دا ښار دَ حضرت موسیٰؑ
دَ ژوند په آخر وخت کښے فتح کړو او هلته ئے ډیر داسے بد بد کارونه وکړل چه دَ هغے په وجه پرِ
خدائے وبار او ستله او څلیریشت زره خلق مړهٔ شول۔ (ګنتی۔ باب ۲۵، آیت ۱-۸)۔
[۷۵] یعنی حکم دا وُو چه دَ ظالمانو وطن ګټونکو پشان په غرور دے ښار ته مه ننوځئ بلکه
دَ خدائے نه دَ یریدونکو خلقو پشان په عاجزئ سره ننوځئ لکه چه څنګه حضرت محمد صلی الله علیه
وسلم دَ مکے دَ فتح کولو په موقع مکے ته په عاجزئ داخل شو۔ او دَ حِطَّةٌ دوه مطلبه کیدے شی
یو دا چه دَ خدائے نه دَ خپلو ګناهونو معافی غواړئ او ځئ، بل دا چه دَ لوټ مار او دَ قتلِ
عام په ځائے باندې دَ دغے کلی خلقو ته معافی وکړئ او دغے کلی ته ورننوځئ۔

فَبَدَّلَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا قَوْلًا غَيْرَ الَّذِيْ قِيْلَ لَهُمْ فَاَنْزَلْنَا عَلَى
الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا رِجْزًا مِّنَ السَّمَآءِ بِمَا كَانُوْا يَفْسُقُوْنَ ﴿۵۹﴾ وَاِذِ اسْتَسْقٰى
مُوْسٰى لِقَوْمِهٖ فَقُلْنَا اضْرِبْ بِّعَصَاكَ الْحَجَرَ ؕ فَانْفَجَرَتْ مِنْهُ
اثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا ؕ قَدْ عَلِمَ كُلُّ اُنَاسٍ مَّشْرَبَهُمْ ؕ كُلُوْا وَاشْرَبُوْا
مِنْ رِّزْقِ اللّٰهِ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْاَرْضِ مُفْسِدِيْنَ ﴿۶۰﴾ وَاِذْ
قُلْتُمْ يٰمُوْسٰى لَنْ نَّصْبِرَ عَلٰى طَعَامٍ وَّاحِدٍ فَادْعُ لَنَا رَبَّكَ
يُخْرِجْ لَنَا مِمَّا تُنْۢبِتُ الْاَرْضُ مِنْۢ بَقْلِهَا وَقِثَّآئِهَا وَفُوْمِهَا وَ

خوکو مه خبره چه وئیلے شوی وه، ظالمانو هغه بدله کړه او نور څه ئے تر جوړ کړه. آخر مونږه په ظالمانو باندِ دَ آسمان نه عذاب نازل کړو. دا دَ هغوئ دَ نافرمانئ کولو سزا وه ع

یاد کړئ کله چه موسیٰؑ دَ خپل قوم دپاره دَ اُوبو دُعا وُکړه نو مونږه اُووئیل چه په خپله همسا فلانے ګټ اُووهه. نو دَ هغے نه دولس چینے روانے شوے او هرے قبیلے ته دَ خپلو خپلو اُوبو ځائے معلوم شو. (هغه وخت دا وئیلی شوی وُو چه) الله کوم رزق درکړے دے هغه خورئ څکئ او په زمکه کښے فساد مه خوروئ.

یاد کړئ کله چه تا سو وئیلی وُو چه اے موسیٰؑ، مونږه په یوشان خوراک صبر نه شو کولے. دَ خپل رب نه دُعا وُغواړه چه زمونږ دپاره دَ زمکے پیداوار ساګ ترکاری، خټکی، غنم،

ع ۶ ۱۳ ۶

ع ۶ هغه ګټ یا کمر دَ اُوسه پورے په سینا کښے شته دے. سیلانیان ځی هغه وینی او دَ چینو نښے پکښے اوس هم ښکاری. په دولسو چینو کښے دا فائده وه چه دَ بنی اسرائیلو قبیلے هم دولس وے. خدائے دَ هرے قبیلے دپاره ځان له ځان له چینه را پیدا کړله چه دَ هغوی په منځ کښے په اوبو باندِ جګړه رانشی.

عَدَسِهَا وَبَصَلِهَا ۭ قَالَ اَتَسْتَبْدِلُوْنَ الَّذِيْ هُوَ اَدْنٰى
بِالَّذِيْ هُوَ خَيْرٌ ۭ اِهْبِطُوْا مِصْرًا فَاِنَّ لَكُمْ مَّا سَاَلْتُمْ ۭ وَ
ضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ وَالْمَسْكَنَةُ ۤ وَبَآءُوْ بِغَضَبٍ مِّنَ اللّٰهِ ۭ
ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ كَانُوْا يَكْفُرُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَيَقْتُلُوْنَ النَّبِيّٖنَ
بِغَيْرِ الْحَقِّ ۭ ذٰلِكَ بِمَا عَصَوْا وَّكَانُوْا يَعْتَدُوْنَ ﴿٦١﴾

اوګه، دال او پیاز وغیره پیدا کړي؟" نو موسیٰ اووئیل: "آیا دَ یو بهتر څیز په ځای باندې تاسو دَ ادنیٰ درجے څیزونه اغستل غواړئ؟[۶۸] بښنده ، دَ یوے بنارئے آبادئ ته لاړ شئ۔ تاسو چه څه غواړئ هلته به درته ملاوُ شي." آخر دا چه خبره دے ته وَ رسیده چه په هغوئ باندې دَ ذلت، دَ خواریُ، دَ نادارئ اوَ دَ بد حالئ ژوند راځے اوَ دَ اللہ په غضب کښے راګیر شو. دا نتیجه وه دَ دے خبرے چه هغوئ دَ اللہ دَ آیاتونو[۶۹] سره کفر وُکړو او برناحقه ئے پیغمبران قتلول شروع[۷۰] کړل. دا دَ هغوئ دَ نافرمانئ نتیجه وه اوَ دَ هغوئ دَ دے خبرے نتیجه وه چه دَ شریعت دَ حدونو نه بهرتر وتل۔[۷۱]

[۶۸] دا مطلب نۀ دے چه مَن اوسلوئ چه بے مشقته درته ملاویږي هغه پریږدئ، اوهغه څیزونه غواړئ چه دَ هغے دپاره یې دَ کرکیلے محنت ضروري وي، بلکه دَ دے مطلب دا دے چه دَ کوم لوئ مقصد دپاره تاسو په دے صحرا کښے دَ ژوند تیرولو دپاره راحصار کړے شوی یئ، دَ هغے په مقابله کښے تاسو ترسکون خوراک دومره خوښ دے چه هغه لوئ مقصد پریښود لو ته تیار یئ اوَ دَ بدے مُودے دپاره هم دَ دے څیزونو نه ځان صبر نه ولے نشئ؟ (دَ تقابل دپاره وُګورئ کنتی، باب ۱۱، آیت ۴-۹)۔

[۶۹] دَ آیتونو سره دَ کفر کولو مختلف صورتونه دی مثلاً یو دا چه دَ خدائے په رالیږلی شوی تعلیما توکښے څه خبره چادَ څه خیالا تو اوخواهشا تو خلاف وَ موندله، اوَ دَ هغے دَ منلونسئے صفا انکار وُکړو بل دا چه سړي ته دا معلوم وي چه دَ خدائے حکم دے، خو په ضد او په سرزوري دَ هغے خلاف ورزي کوي اوَ دَ خدائے دَ حکم څه پروا نۀ ساتي۔ دریم دا چه دَ خدائے حکم ورته نه معلوم وي او په مطلب ئے هم نه پوهیږي خو سره دَ دے ئے دَ خپل خواهش مطابق بدلَوي۔

[۷۰] بنی اسرائیلو دا خپل جُرم په خپل تاریخ کښے نه پټ کړے دے۔ دَ مثال په طور موږ دَ بائبل نه یوځو واقعات دلته لیکو:

(۱) دَ حضرت سلیمانؑ نه روسته کله چه دَ بنی اسرائیلو بادشاهي په دوُو ریاستونو کښے تقسیم شوله (یو دَ یروشلم حکومتِ یهودیه اوبل دَ سامریه حکومتِ اسرائیل) نو دَ هغوئ دَ یو بل سره

دَ جنګونو سلسله شروع شو له او خبره دے ته راؤ رسیدله چه ریاستِ یهودیه دَ خپلو رونړو خلاف دَ دمشق دَ ارامی سلطنت نه مدد وُغوختلو. په دے باندِ حنانی نبی دَ یهودیه آسا نومے بادشاه ته دَ خدائے دَ طرفنه سخت خبردارے ورکړو. خو آسا دغه خبردارے قبول نه کړو او دَ خدائے پیغمبرئے جیل ته وُلیږلو. (۲. تواریخ، باب ۱۷. آیت ۷-۱۰).

(۲) حضرت الیاس (ایلیاه ELLIAH) علیه السلام چه کله دَ سخی په عبادت کولو یهودیان ملامته کړل او خلقو ته ئے دَ توحید تعلیم دَ نوی سر نه بیا شروع کړو نو دَ سامریه اسرائیلی بادشاه چه نوم ئے اخی آب وُو، دَ خپلے مُشرکے ښځے په وینا دَ هغه په مرګ پسے ورپسے شو، نو دے پورے چه هغه ترِ دَ سینا په غرونو کښے پناه واغستله. په دے موقع باندِ چه حضرت الیاس کومه دُعا غونښتلے وه، دَ هغے الفاظ دا دی:

"بنی اسرائیلو ستا وعده پریښودله ..... او ستا پیغمبران ئے په توره قتل کړل، یوزه بچ پاتے شوے یم. اوس زما په مرګ پسے را پسے دی." (۱. سلاطین، باب ۱۹. آیت ۱-۱۰)

(۳) دے اخی آب بادشاه یو بل پیغمبر حضرت میکایاه دَ حق وینا په وجه جیل ته وُلیږلو او دا حکم ئے وُکړو چه دَه ته تکلیف ورکونکی ډوډئ او تکلیف ورکونکی اُوبه ورکوئ. (۱. سلاطین باب ۲۲ آیت ۲۶-۲۷)

(۴) بیا دَ یهودیه په ریاست کښے چه ښکاره بُتانو ته سجدے کول او بدکاری شروع شوه او زکریا نبی دَ هغے خلاف آواز وُچت کړو، نو هغه دَ یوآس نومے یهوداه بادشاه په حکم باندِ خاص په هیکل سلیمانی کښے دَ "مَقدِس" او "قربان ګاه" په منځ کښے په کانړو وُ ویشتلے شو (۲. تواریخ، باب ۲۴. آیت ۲۱)

(۵) دَ دے نه روستو کله چه دَ سامریه اسرائیلی ریاست دَ اُشوریانو دَ لاسه ختم شو او دَ یروشلم یهودی ریاست تباه کیدونکے وُو، نو "یرمیاه" نبی راوُچت شو او دَ خپل قوم په زوال باندِ ئے ماتم جوړ کړو او کوڅه په کوڅه ئے هغوئ ته آواز وُکړو چه ځان ټیک کړئ کښئ نو ستا سو انجام به دَ سامریه نه هم بد وی. خو دَ قوم دَ طرفنه نه چه ورته کوم جواب ملاؤ شو هغه دا وُو چه دَ هر طرفنه په هغوئ باندِ دَ لعنت ملامت باران شروع شو، وُوهلے شو، قید کړے شو، دَ خټو نه ډک تالاب کښے په رسئ تړلی دَ دے دپاره آویزان کړے شو چه دَ لوږے تندے نه وُتړقیږی او مړه شی، او په هغوئ دا الزام وُلګولے شو چه دا دَ قوم غداران دی او دَ بهرنو دُشمنانو سره ملاؤ دی. (یرمیاه، باب ۱۵، آیت ۱۰، باب ۱۸، آیت ۲۰، آیت ۱-۱۸، باب ۳۶ تا باب ۴۰)

(۶) دَ یو بل نبی حضرت عاموس په حقله ئے لیکلی دی چه کله هغه دَ سامریه دَ اسرائیلی ریاست خلق په خپلو ګمراهو او بدو کارونو باندِ وُټوکلو او دَ خپلو بدو کارونو دَ بد انجام نه ئے خبر کړل نو هغوئ ورته وُوئیل چه دَ ملک نه وُځه او چرته بهر نبوت کوه. (عاموس، باب ۷. آیت ۱۰-۱۳)

(۷) حضرت یحیی (یوحنا) علیه السلام چه کله دَ هغے بد اخلاقو خلاف آواز وُچت کړو کوم چه دَ یهودیه هیرودیس نومے بادشاه په دربار کښے ښکاره کیدل، نو هغه اول قید کړے شو او بیا بادشاه دَ خپلے معشوقے په وینا باندِ دَ دے نیک انسان نه سر پریکړو او دَ نذرانے په طور ئے هغے ته په تالی کښے پیش کړو. (مرقس، باب ۶، آیت ۱۷-۲۹)

(۸) په آخر کښے په حضرت عیسی علیه السلام باندِ دَ بنی اسرائیلو علماؤ او دَ قوم دَ سردارانو غصه ځکه راوُچته شوه چه هغه به هغوئ دَ ګناهونو او دَ ریاکارئ نه منع کول او دَ ایمان او دَ صداقت خبرے به ئے ورته کولے. دَ هغه دَ دے قصور په وجه دَ هغه خلاف دَ دروغو مقدمه تیاره کړے شوه، او دَ رومی عدالت

اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَالَّذِيْنَ هَادُوْا وَالنَّصٰرٰى وَالصّٰبِـِٕيْنَ
مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَعَمِلَ صَالِحًا فَلَهُمْ اَجْرُهُمْ
عِنْدَ رَبِّهِمْ ۚ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿۶۲﴾

یقین وُکړئ که دَ نبی عربی منونکی دی او که یهودیان دی، که عیسایان دی او که صابیان دی، چاچه په الله او په ورځ دَ آخرت باندِ ایمان راوړو او نیک عمل ئے وُکړو نو دَ هغه بدله دَ خپل رب سره ده او دَ هغه د پاره دَ څه یَرے او دَ څه غم موقع نشته ۸۰

نه دَ هغه دَ قتل فیصله وُکړیشوه، او کله چه دَ روم حاکم پیلاطس یهودیانو ته وُوئیل چه زهٔ نن دَ اختر په ورځ ستاسو د پاره یسُوع یا براباّ ډاکو، په دواړو کښے کوم یو دَ قید نه راخلاص کړم نو دَ یهودیانو پوره ډلے په اتفاق سره دا وُوئیل چه براباّ ډاکو پریږده او یسوع له پانسی ورکړه. (متی، باب ۲۷، آیت ۲۰ تا ۲۶)

دا دی دَ دے قوم دَ جُرمونو شرمناکے قیصے، او دَ قرآن په دے آیت کښے دے قیصو ته مختصره اشاره شوے ده. اوس دا ظاهره خبره ده چه کوم قوم خپل فاسقان او فاجران خلق دَ سرداری او دَ مشری د پاره خوښ کړی او خپل نیکان او صالحان خلق دَ جیل او دَ دار د پاره خوښ کړی، نو چه الله تعالیٰ په هغے قوم باندِ خپل لعنت نهٔ رالیږی نو آخر څه راوُلیږی.

۸۰ دَ روان عبارت نه دا خبره په خپله معلومیږی چه دلته دَ ایمان او دَ نیک عملونو تفصیل بیانول مقصد نهٔ دی چه سړے هغه کومے کومے خبرے وُمنی او کوم کوم عملونه وُکړی چه دَ خدائے په دربار کښے دَ اجر مستحق شی. دا خبرے به په خپله خپله موقع بشمه په تفصیل سره راشی. دلته دَ یهودیانو دا غلط خیال لرے کول مقصد دے چه هغوئ صرف دَ خپلے ډلے د پاره نجات او خلاصے یوه ټیکه داری ګڼړله. هغوئ په دے غلط خیال کښے پراتهٔ وُو چه دَ یهودیانو دَ الله سره څه داسے خاص رشته ده چه دَ نورو انسانانو ورسره نشته، او دَ دے رشتے په وجه چه څوک دَ یهودیانو دَ ډلے سره تعلق لری، نو که عملونه او عقیدے ئے هر څنګه وی خو نجات او خلاصے به بیا مومی، او باقی نور ټول انسانان چه دَ یهودیانو دَ ډلے نه بهر دی هغه صرف دَ دوزخ دَ خشاک د پاره پیدا شویدی. دَ دے غلط خیال دَ لرے کولو د پاره ورته دا وئیلے کیږی چه دَ الله په دربار کښے دا ستاسو ډلے اصل څیز نهٔ دے بلکه هلته چه څه اعتبار دے، هغه دَ ایمان او دَ نیک عمل دے. دَ ایمان او دَ نیک عمل سره چه کوم انسان دَ الله په دربار کښے حاضر شی هغه ته به خپل اجر ملاویږی. دَ خدائے په دربار کښے به فیصله دَ سړی په صفتونو باندِ کیږی، ستاسو دَ مردم شمارئ په رجسټرونو باندِ به نهٔ کیږی.

وَاِذْ اَخَذْنَا مِيْثَاقَكُمْ وَرَفَعْنَا فَوْقَكُمُ الطُّوْرَ ؕ خُذُوْا مَآ
اٰتَيْنٰكُمْ بِقُوَّةٍ وَّاذْكُرُوْا مَا فِيْهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿۶۳﴾ ثُمَّ
تَوَلَّيْتُمْ مِّنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ ۚ فَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ
لَكُنْتُمْ مِّنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿۶۴﴾ وَلَقَدْ عَلِمْتُمُ الَّذِيْنَ اعْتَدَوْا مِنْكُمْ
فِي السَّبْتِ فَقُلْنَا لَهُمْ كُوْنُوْا قِرَدَةً خٰسِـِٕيْنَ ﴿۶۵﴾ ۚ فَجَعَلْنٰهَا

یاد کړئ هغه وخت، کله چه مونږ ه طور ستاسو د پاسه وچت کړے وو او ستاسو نه مونږ چه وعده اغستلی وه او دا مو[۸۱] درته وئیلی وو چه "کوم کتاب مونږ تاسو له درکوو هغه مضبوط اونیئ او کوم حکمونه او ښه خبرے چه په دے کښے درج دی هغه یاد ے کړئ. په دے ذریعه دا توقع کیدے شی چه تاسو د پرهیزکارئ په لاره روان شئ" خو د دے نه روستو تاسو د خپلے وعدے نه په شا شولئ. د دے باوجود د الله فضل او د هغه رحمت ستاسو سره مل وو، که نئ نو تاسو به پخوا تباه شوی وئ. بیا تاسو ته د خپل قوم د هغے خلقو قصه خو معلومه ده کنه چه د سبت[۸۲] قانون ئے مات کړے وو. مونږ هغوئ ته وئیل چه شا دوکان شئ او په داسے حالت کښے وسیږئ چه په تاسو باندے د هر طرفنه[۸۳] لعنت وی. دغه شان

[۸۱] دا واقعه چه په قرآن کښے په مختلفو ځایونو کښے په کوم انداز بیان کړیشویده د هغے نه دا خبره صفا ظاهر بږی چه په دغه وخت کښے په بنی اسرائیلو کښے دا یوه مشهوره واقعه وه. لیکن اوس د دے واقعے تفصیلی حالت معلومول گران دی. بس مختصر داسے وئیل پکار دی چه د غره په لمن کښے د وعدے اغستلو په وخت کښے یو داسے د یرے حالت پیدا کړے شوے وو چه هغوی ته داسے ښکاریدله چه کښی غر پرے راپریوځی. د سورة اعراف په آیت ۱۷۱ کښے څه دا رنګے نقشه ښودلے شوی ده. (اوګوره سورة اعراف، حاشیه نمبر ۱۳۲)

[۸۲] سبت یعنی د خالی ورځ. د بنی اسرائیلو د پاره دا قانون مقرر کړے شوے وو چه د خالی په ورځ د صرف آرام او عبادت کوی. په دغه ورځ د هیڅ قسم د دنیا کار نه کوی، تر دے پورے چه د ډوډئ پخولو کار د نه پخپله کوی او نه د د نو کرانو نه کار اخلی. په دے باره کښے دومره تاکیدی حکمونه وو چه کوم سړی به د دے پاکے ورځے عزت و نه کړو نو د هغه قتلول به واجب وو. (اوګوره خروج، باب ۳۱، آیت ۱۲-۱۷) لیکن کله چه په بنی اسرائیلو باندے اخلاقی او دینی تنزل راغے نو هغوئ ښکاره د سبت د ورځے بے عزتی شروع کړه تر دے پورے چه د هغوئ په ښارونو کښے د سبت په ورځ ښه په آزادئ سره تجارت شروع شو.

[۸۳] د دے واقعے تفصیل وړاندے د سورة اعراف په رکوع ۲۱ کښے راځی. د هغوئ نه د

نَكَالًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهَا وَمَا خَلْفَهَا وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿٦٦﴾
وَاِذْ قَالَ مُوْسٰى لِقَوْمِهٖٓ اِنَّ اللّٰهَ يَاْمُرُكُمْ اَنْ تَذْبَحُوْا بَقَرَةً ؕ قَالُوْٓا
اَتَتَّخِذُنَا هُزُوًا ؕ قَالَ اَعُوْذُ بِاللّٰهِ اَنْ اَكُوْنَ مِنَ الْجٰهِلِيْنَ ﴿٦٧﴾
قَالُوا ادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّنْ لَّنَا مَا هِيَ ؕ قَالَ اِنَّهٗ يَقُوْلُ اِنَّهَا بَقَرَةٌ
لَّا فَارِضٌ وَّلَا بِكْرٌ ؕ عَوَانٌۢ بَيْنَ ذٰلِكَ ؕ فَافْعَلُوْا مَا تُؤْمَرُوْنَ ﴿٦٨﴾
قَالُوا ادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّنْ لَّنَا مَا لَوْنُهَا ؕ قَالَ اِنَّهٗ يَقُوْلُ

مونږه دَ هغوئ انجام دَ هغے زمانے دَ خلقو دپاره او دَ روستو راتلونکی نسل دپاره یو عبرت جوړ کړو او دَ یریدونکو خلقو دپاره مو یو نصیحت پریښودو۔

بیا هغه واقعه یاده کړئ، کله چه موسیٰ خپل قوم ته وُوئیل چه الله تاسو ته حکم کوی چه یوه غوا ذبح کړئ. دوئ وُوئیل چه آیا ته زمونږ سوه ټوټے کوے؟ موسیٰ وُوئیل: چه زهٔ په خدائے پورے دَ دے نه پناه غواړم چه دَ جاهلانو په شان خبرے وُکړم. هغوئ اُووئیل چه ډیره ښهٔ ده، خپل رب ته درخواست وُکړه چه هغه مونږ ته دَ دغے غواڅه تفصیل وُ ښائی. موسیٰ اُووئیل دَ الله فرمان دے چه هغه دِ داسے غوا وی چه نهٔ بوډئ وی او نهٔ بچئ وی بلکه دَ منځنی عمر والا دِ وی. او کوم حکم چه درته کیږی هغه اُومَنئ. هغوئ بیا وُوئیل چه دَ خپل رب نه دا تپوس هم وُکړه چه دَ هغے رنګ به څنګ وی. موسیٰ اُووئیل الله وائی،

شادوګانو جوړیدو په حالت کښے اختلاف دے. څوک دا وائی چه دَ هغوئ جسمانی شکل دَ شادوګانو په شان شوے وُو او څوک دَ دے نه دا مطلب اخلی چه په هغوئ کښے دَ شادوګانو پشان صفتونه پیدا شوی وُو. لیکن دَ قرآن دَ الفاظو او دَ اندازِ بیان نه دا سے معلومیږی چه دا بدلیدل صرف دَ اخلاقو بدلیدل نهٔ وُو بلکه جسمانی بدلیدل وُو. زهٔ وائیم چه دا خبره قیاس ته ډیره نزدے ده چه دَ هغوی دماغ به په خپل حال باندِ پریښودلے شوی وی لکه څنګه چه مخکښے وُو. او جسم به ئے دَ شادوګانو پشان شوے وی۔

إِنَّهَا بَقَرَةٌ صَفْرَاءُ ۙ فَاقِعٌ لَّوْنُهَا تَسُرُّ النَّاظِرِينَ ﴿٦٩﴾ قَالُوا ادْعُ لَنَا
رَبَّكَ يُبَيِّنْ لَّنَا مَا هِيَ ۙ إِنَّ الْبَقَرَ تَشَابَهَ عَلَيْنَا ۚ وَإِنَّا إِن شَاءَ اللَّهُ
لَمُهْتَدُونَ ﴿٧٠﴾ قَالَ إِنَّهُ يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٌ لَّا ذَلُولٌ تُثِيرُ الْأَرْضَ
وَلَا تَسْقِي الْحَرْثَ ۚ مُسَلَّمَةٌ لَّا شِيَةَ فِيهَا ۚ قَالُوا الْئَٰنَ
جِئْتَ بِالْحَقِّ ۚ فَذَبَحُوهَا وَمَا كَادُوا يَفْعَلُونَ ﴿٧١﴾ وَإِذْ قَتَلْتُمْ
نَفْسًا فَادَّارَأْتُمْ فِيهَا ۚ وَاللَّهُ مُخْرِجٌ مَّا كُنتُمْ تَكْتُمُونَ ﴿٧٢﴾

چه غوا دَ زیړ رنګ پکار ده، چه داسے شوخ رنګ ئے وی چه دَ کتونکو پرِ زړهٔ خوشحالیږی. هغوئ بیا اُووئیل چه دَ خپل رب نه صفا صفا تپوس وُکړه چه کوم قسم غوا پکار ده، موږ په دے غوا پیدا کولو کښے حیران شوی یو. که دَ الله خوښه شوه نو موږ ته به دَ دے پته ولږی. موسیٰؑ جواب ورکړو: الله وائی چه هغه داسے غوا ده چه کار خدمت ترِ نهٔ اغستے کیږی، نهٔ زمکه اړوی او نهٔ اُوبهٔ را وُباسی، صحیح سالمه او بے داغه ده. په دے باندِ ئے چغے کړے چه اَو اوس دِ ټیک پته وُښودله. بیا هغوئ هغه ذبح کړله، که نئ نو هسے خو هغوئ داسے نهٔ معلومیدل چه دائے کړے وے[۸۴]

او هغه واقعه تاسو ته یاده ده کله چه تاسو یو سړے مړ کړے وُو، او بیا دَ هغه په باره کښے مو جګړے کولے او په یو بل مو دَ قتل الزام لګولو، او الله دا فیصله کړی وُه چه څه تاسو پټوئ هغه به الله ښکاره کوی

[۸۴] دَ خپل ګاونډی قومونو په وجه دَ دے خلقو په دماغو کښے دَ غوا لوئ والے او پاکوالے او دَ غوا عبادت پروت وُو او په دے وجه هغوئ ته حکم ورکړے شو چه غوا ذبح کړئ. دَ هغوئ دَ ایمان امتحان هم په دے طریقه اَغستے کیدے شو چه که چرے واقعی هغوئ دَ یو خدائے نه سوا بل څوک دَ عبادت لائق نهٔ مَنی، نو اول دِ هغه بُت په خپلو لاسو مات کړی کوم چه دوئ دَ عبادت لائق ګڼلو. دا ډیر سخت امتحان وُو. دَ هغوئ زړونو ته لا ایمان پوره نهٔ وُو کوز شوے نو ځکه ئے بهانے کول شروع کړل او زیاتی خبرے به ئے تپوسلے. خو چه څو مره به ئے تپوسونه زیات کول دومره به دوئ زیات کیریدل، تر دے پورے چه په آخره کښے په هغے خاص قسم زیړ رنګے غوا باندِ ورته ګوته کیښودلے شوه، چه په هغے زمانه کښے به خاص دَ هغے عبادت کیدلو، او ورته وُوئیلے شو چه هم دا قسم غوا ذبح کړئ. بائیبل کښے هم دے واقعے طرفته اشاره شوی ده. خو هلته پکښے دا نشته چه بنی اسرائیلو په کومو کومو بهانو دَ دے حکم دَ نهٔ منلو کوشش کوؤ. (اوګوره ګنتی، باب ۱۹، آیت ۱-۱۰).

فَقُلْنَا اضْرِبُوْهُ بِبَعْضِهَا ؕ كَذٰلِكَ يُحْيِ اللّٰهُ الْمَوْتٰى ۙ وَيُرِيْكُمْ اٰيٰتِهٖ
لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿۷۳﴾ ثُمَّ قَسَتْ قُلُوْبُكُمْ مِّنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ فَهِيَ
كَالْحِجَارَةِ اَوْ اَشَدُّ قَسْوَةً ؕ وَاِنَّ مِنَ الْحِجَارَةِ لَمَا يَتَفَجَّرُ مِنْهُ
الْاَنْهٰرُ ؕ وَاِنَّ مِنْهَا لَمَا يَشَّقَّقُ فَيَخْرُجُ مِنْهُ الْمَآءُ ؕ وَاِنَّ مِنْهَا لَمَا
يَهْبِطُ مِنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ ؕ وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿۷۴﴾

پہ هغے وخت مونږه حکم وکړو چه دَ دے په یوه حصه باندِ مړے اُووهئ. اُو کورئ، په دے طریقه الله تعالیٰ مړي ژوندي کوي او تاسو ته خپلے نښے نښانے دَ دے دپاره ښائي چه تاسو پوهشئ[۸۵] ـــــ خو آخر دا چه دَ داسے نښو لیدلو نه روستو هم ستاسو زړونه سخت شو، دَ کانړو پشان سخت شو، بلکه په سختئ کښے دَ هغے نه هم زیات سخت شو، ځکه چه په کانړو کښے څه داسے هم دي چه دَ هغوئ نه چینے بهیږي، څه داسے دي چه وُچوي او دَ هغے نه اُوبه راوځي، او څه دَ خدائے دَ یرے نه ښکته راپریوځي. الله ستاسو دَ کارونو نه ناخبره نه دے.

[۸۵] په دے ځائے کښے دا خبره ښکاره معلومیږي چه په دغه مړي کښے دوباره دَ دومره ساعت دپاره روح واچولے شو چه هغه خپل قاتل وُ ښائي. لیکن دَ دے دپاره چه کومه طریقه ښودلے شوي وه، یعني "دَ دے په یوه حصه باندِ دَ مړي بدن اُووهئ". نو په دے الفاظو کښے خبره پوره نه صفا کیږي. بیا هم دَ دے دَ ټولو نه زیات نزدے مطلب هغه دے کوم چه پخوانو مُفسرینو بیان کړیدے، یعني دا چه دَ کومے غوا دَ ذبح کولو حکم شوے وُو هم دَ هغے په غوښه باندِ دَ مړي دَ بدن وهلو حکم وُ شو. په دے طریقه په یو غشي دوه ښکارونه وُ شو. یو دا چه دَ الله دَ قدرت یوه نښه هغوی ته ښکاره شوله. بله دا چه دَ غوا لوئ والے، پاکوالے او خدائي خفته شوله، ځکه که چرے غوا دَ خدائي څه لږ طاقت هم لرلے نو پکار وه چه دَ هغے دَ ذبحه کولو سره یو آفت راغلے وے، نه دا چه دَ هغے ذبح کول اُلټا فائده مند ثابت شو.

اَفَتَطْمَعُوْنَ اَنْ يُّؤْمِنُوْا لَكُمْ وَقَدْ كَانَ فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ يَسْمَعُوْنَ
كَلٰمَ اللّٰهِ ثُمَّ يُحَرِّفُوْنَهٗ مِنْۢ بَعْدِ مَا عَقَلُوْهُ وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿۷۵﴾

اے مسلمانانو! اوس هم دَ دے خلقونه تاسو دا اُمید لرئ چه دوئ به ستاسو په وینا باندِ ایمان راوړی؟[۸۶] حالانکه په دوئ کښے دَ یوے ډلے دا طریقه پاتے شویده چه دَ الله کلام ئے واوریدو او بیا قصداً ئے سره دَ پوهے په هغے کښے بدلون[۸۷] راوستلو

[۸۶] دا خطاب دَ مدینے هغه نوی مسلمانانو ته دے چه څه لږه موده شوی وه چه په نبی عربی صلی الله علیه وسلم باندِ ئے ایمان راوړے وُو. دَ هغوئ په غوږونو کښے چه دَ مخکښے نه دَ نبوت، دَ کتاب، دَ فرښتو، دَ آخرت او دَ شریعت کومے خبرے پرتے وے، هغه ټولے هغوئ دَ خپلو کاونډیانو یهودیانو نه اوریدلے وے. او دا ئے هم دَ یهودیانو نه اوریدلی وُو چه دُنیا ته به یو بل پیغمبر راځی، او کومو خلقو چه دَ هغه ملګرتیا وکړه هغوئ به په ټوله دُنیا کښے خوریږی. دا وجه وه چه کله مدینے والو دَ نبی صلی الله علیه وسلم دَ نبوت شهرت واوریدو نو هغه له پخپله په ډلو ډلو کښے را غلل او ایمان ئے راوړو. اُوس خو هغوئ دا اُمید لرلو چه کوم خلق دَ مخکښے نه په پیغمبرانو او په آسمانی کتابونو پسے روان دی او چه دَ هغوئ دَ وجے نه دَ ایمان لوئ نعمت موږ ته نصیب شویدے، نو هغوئ به ضرور زموږ ملګرتیا کوی بلکه په دے لار کښے به زموږ نه مخکښے وی. نو دَ دے اُمید و نو سره به دا نوی جُوشیان مسلمانان خپلو کاونډی او دوستانو یهودیانو له تلل او هغوئ ته به ئے دَ اسلام دعوت ورکولو. خو چه کله به هغوئ دَ دعوت قبلولو نه انکار وکړو نو دَ اسلام مخالفینو او منافقانو به ویئل چه دا معامله څه شکمنه شان ده، که چرے واقعی دے نبی وے نو آخر ولے به دَ اهلِ کتابو عالمانو اکابرینو او بزرګانو سره دَ پوهے دَ ایمان راوړلو نه مخ اړه ولو او خپل انجام به ئے خرابولو. دغه وجه ده چه اول دَ بنی اسرائیلو تاریخی قیصئ بیان کړیشوه، او اوس سادو مسلمانانو ته ویئلے کیږی چه دَ کومو خلقو پخوانی کارونه څه دا رنګے دی، تاسو دَ هغوئ نه لوئ لوئ اُمید ونه مه ساتئ، که نئ نو دَ هغوی دَ نه منلو په وجه به ستاسو زړونه مات شی. دا خلق دَ ډیرو پیړو راسے خراب دی. دَ الله کوم آیا تو نه چه تاسو واوری او په تاسو لرزان راشی، هم دَ دغے آیا تو نو سره به دَ دوئ تیرو شوو نسلونو لوبے ټوقے کولے. دوئ حق دین دَ خپلو خواهشاتو مطابق بدل کړیدے، او په دے وران شوی دین کښے په دے اُمید ژوند تیره وی چه ګنی کامیاب هم دوئ دی. دَ دوئ نه دا امید ساتل فضول دی چه ګنی دَ حق دَ آواز پورته کیدو سره به دَ هر طرفنه په منډه منډه راشی.

[۸۷] دَ "یوے ډلے" نه مراد دَ هغوی عالمان او په شریعت پوهه خلق دی. دَ "کلام الله" نه مراد تورات زبور او نور هغه کتابونه دی چه دوئ ته دَ خپلو پیغمبرانو په ذریعه را رسیدلی دی. دَ "تحریف" مطلب دا دے چه دَ خبرے خپل اصلی مطلب پریږدی او دَ خپلے مرضا مطابق تر بل هغه مطلب واخلی چه هغه دَ وَیُونکی دَ مطلب نه خلاف وی. دغه رنګ په الفاظو کښے ادلی بدلی راوستو ته هم تحریف وائی. دَ

وَاِذَا لَقُوا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قَالُوْٓا اٰمَنَّا ۚ وَاِذَا خَلَا بَعْضُهُمْ اِلٰى بَعْضٍ
قَالُوْٓا اَتُحَدِّثُوْنَهُمْ بِمَا فَتَحَ اللّٰهُ عَلَيْكُمْ لِيُحَآجُّوْكُمْ بِهٖ عِنْدَ رَبِّكُمْ ۭ
اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿٧٦﴾ اَوَلَا يَعْلَمُوْنَ اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا يُسِرُّوْنَ وَمَا
يُعْلِنُوْنَ ﴿٧٧﴾ وَمِنْهُمْ اُمِّيُّوْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ الْكِتٰبَ اِلَّآ اَمَانِيَّ وَاِنْ هُمْ
اِلَّا يَظُنُّوْنَ ﴿٧٨﴾ فَوَيْلٌ لِّلَّذِيْنَ يَكْتُبُوْنَ الْكِتٰبَ بِاَيْدِيْهِمْ ۤ

(چه په محمد رسول الله باندې) ایمان راوړونکو خلقو سره ملا ربړی نو وایې چه مونږ ده هم هغه ډلې
او کله چه په خپلو کښې ډیوبل سره ځان له ځانه کښې خبرې کوی نو وایې چه ایا تاسو نه
نه یئ؟ تاسو دے خلقو ته هغه خبرې بنایئ چه الله تاسو ته بنوولی دی او چه صبا لمنځ ستاسو
خلاف ستاسو د رب په دربار کښې د دلیل په طور پیش کړی؟[۸۸] ـــــ او ولے دوئ ته معلومه نه ده
چه الله ډهغ ټولو خبرو نه خبردار دے کوے چه دوئ پټوی او کوے چه دوئ بڼکاره کوی؟
په دوئ کښې یوه بله ډله د امیانو ده، چه په کتاب خو پوهیږی نه، پرته له بنیاد و اُمیدونو
او آرزوګانو نه پرے ورپرے دی او صرف په وهمونو کښې نوموړی باندې روان دی ژوند تیروی. نو هلاکت
او تباهی ده د هغے خلقو د پاره چه په خپلو لاسونو باندې د شرعے کتاب لیکی

بنی اسرائیلو عالمانو په کلام الٰهی کښے دا دوارہ قسمه تحریفونه کړی دی.

۸۸ یعنی هغوی به پخپلو کښے یو بل ته داویل چه د دے نبی په حقله په تورات او په نورو آسمانی کتابونو کښے کوے پیشګوئی یا نے دی، یا چه زمونږ په مقدسو کتابونو کښے کوم آیاتونه او کوے خبرے مانے دی چه زمونږ موجوده ژوند د هغے نه خلاف دے، هغه د مسلمانانو په هکښے مه کوئ، کرنئ نو بیا به دوئ هم داخبرے ستاسو د رب په دربار کښے ستاسو خلاف د دلیل په طور پیش کوی. دا وو د دے ظالمانو د الله په بارہ کښے د خرابے او غلطے عقیدے حال. لکه چه د هغوئ داخپل خیال وو چه که چرے دوئ په دُنیا کښے خپل تحریفونه او د حق پټولو کار پټ و ساتلو، نو په آخرت کښے به په هغوئ مقدمه ونه چلولے شی. ځکه خو په ورپے جمله کښے هغوئ ته داخبرداری ورکړے شوے دے چه ستاسو څه خیال دے چه الله ګنی بے خبره دے.

۸۹ دا د هغوئ دعوا موحال وو. هغوئ د کتاب د علم نه خالی وو. هیڅ په دے نه پوهیدل چه الله په خپل کتاب کښے د دین څه اُصول بنوولی دی، د اخلاقو او د شریعت ټے کوے قاعدے بنوولی دی او د انسان د کامیابئ او د ناکامئ د پاره کوم څیزونه ضروری دی. د دے علم نه لرلو په وجه هغوئ د خپلو خواهشاتو مطابق د ځان نه څه خبرے جوړے کړے دے او هغے ته ے دین وئیلو او د دروغو په اُمیدونو ژوند تیرولو.

ثُمَّ يَقُوْلُوْنَ هٰذَا مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ لِيَشْتَرُوْا بِهٖ ثَمَنًا قَلِيْلًا ؕ
فَوَيْلٌ لَّهُمْ مِّمَّا كَتَبَتْ اَيْدِيْهِمْ وَوَيْلٌ لَّهُمْ مِّمَّا يَكْسِبُوْنَ ﴿۷۹﴾
وَقَالُوْا لَنْ تَمَسَّنَا النَّارُ اِلَّآ اَيَّامًا مَّعْدُوْدَةً ؕ قُلْ اَتَّخَذْتُمْ
عِنْدَ اللّٰهِ عَهْدًا فَلَنْ يُّخْلِفَ اللّٰهُ عَهْدَهٗٓ اَمْ تَقُوْلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ
مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۸۰﴾ بَلٰى مَنْ كَسَبَ سَيِّئَةً وَّاَحَاطَتْ بِهٖ خَطِيْٓئَتُهٗ

بیا خلقوته وائي چه دا د الله د طرفنه راغلے دے، دا ځکه چه د دے په بدله کښے څه لږه شان فائده حاصله کړي[۹۰]. د هغوئ د خپلو لاسونو دا لیکل هم د هغوئ د پاره د تباهئ سامان دے او د هغوئ د اکټه هم د هغوئ د پاره د هلاکت سبب دے. هغوئ وائي چه د دوزخ وور به موږ سره هډو لږی نه او که لږی نو د یو څو ورځو سزا به وی نو وی دی[۹۱]. د دوئ نه تپوس وکړه چه آیا تاسو د الله نه څه داسے وعده اغستلی ده چه هغه د هغے خلاف ورزی نه شی کولے؟ یا دا خبره ده چه تاسو په الله پورے داسے خبرے کوئ چه د هغے په حقله تاسو ته دا پته نشته چه هغه تعالیٰ د دے ذمه اغستلے ده او که نه ده؟ آخر په تاسو پورے به د دوزخ وورولے نه لږی؟ هر چا چه بدی وکړه او د خپلو غلطو کارونو په چکر کښے پریوتو،

[۹۰] دا خبره د هغوئ د عالمانو په حقله ده. دے خلقو یواځے دا نه وه کړي چه صرف د الله د کلام معنے ئے د خپلے مرضا مطابق بدلے کړے وے، بلکه دا ئے هم کړي وه چه په بائیبل کښے ئے خپل تفسیرونه، د خپل قوم تاریخ، خپل وهمونه او قیاسونه او خپل خیالات او په خپل کوشش جوړ کړے شوی قانونونه د الله د کلام سره ګډ وډ کړي وو او دا ټول څیزونه ئے خلقو ته په داسے رنګ کښے پیش کول چه ګنی دا ټول څیزونه د الله د طرفنه راغلی دی. دغه شان په بائیبل کښے د هرے تاریخی قیصئ نه، د هر مفسر د قول نه، او د هر قانون دان د قانونی کوشش نه د خدائے قول (Word of God). جوړ شو. په هغے باندے ایمان راوړل فرض شو او د هغے نه په شاکیدل د دین نه په شاکیدل شو.

[۹۱] دا د یهودیانو د عامے غلطئ بیان دے. په دے غلطئ کښے د یهودیانو عام خلق او عالمان ټول اخته وو. هغوئ به وئیل که موږ ده هر څه چه کوو خو د

فَاُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿٨١﴾ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا
وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿٨٢﴾ ع
وَاِذْ اَخَذْنَا مِيْثَاقَ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ لَا تَعْبُدُوْنَ اِلَّا اللّٰهَ قف وَ
بِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا وَّذِي الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنِ وَقُوْلُوْا
لِلنَّاسِ حُسْنًا وَّاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ ؕ ثُمَّ تَوَلَّيْتُمْ اِلَّا
قَلِيْلًا مِّنْكُمْ وَاَنْتُمْ مُّعْرِضُوْنَ ﴿٨٣﴾ وَاِذْ اَخَذْنَا مِيْثَاقَكُمْ لَا
تَسْفِكُوْنَ دِمَآءَكُمْ وَلَا تُخْرِجُوْنَ اَنْفُسَكُمْ مِّنْ دِيَارِكُمْ ثُمَّ
اَقْرَرْتُمْ وَاَنْتُمْ تَشْهَدُوْنَ ﴿٨٤﴾ ثُمَّ اَنْتُمْ هٰٓؤُلَآءِ تَقْتُلُوْنَ

هغه دوزخي دے او په دوزخ کښے به همیشه وي. او کومو خلقو چه ایمان راوړو او نیک عملونه ئے وکړل هغه جنتیان دي او په جنت کښے به همیشه وسي ع

یاد کړئ، د اسرائیل د اولاد نه مونږه دا پخه وعده اغستلی وه چه د الله نه بغیر د بل چا عبادت مه کوئ، د مور او پلار، د رشته دارانو، د یتیمانو او مسکینانو سره ښه سلوک کوئ، خلقو سره ښے خبرے کوئ، مونځ قایمو ئ او زکوٰة ورکوئ، خو د لږ و خلقو نه بغیر تاسو ټول د دے وعدے نه په شا شولئ او ترو سه پورے په شا کرځئ. بیا لږ شان را یاد کړئ مونږه ستاسو نه دا مضبوطه وعده اغستلی وه چه په خپلو کښے د یو بل وینے مه تویه وئ او مه یو بل د خپلو کورونو نه وباسئ. تاسو د دے اقرار کړے وو، په دے باندے تاسو پخپله ګواهان یئ. خو نن هم تاسو یئ چه خپل رونړه

د جهنم وور په مونږ باندے حرام دے - ځکه چه مونږه یهودیان یو - او که چرے مونږ له سزا هم را کړے شوه خو بس یو څو ورځے به دوزخ ته لاړ شو او بیا به سیده جنت ته ولیږ لے شو.

اَنْفُسَكُمْ وَتُخْرِجُوْنَ فَرِيْقًا مِّنْكُمْ مِّنْ دِيَارِهِمْ ز تَظٰهَرُوْنَ عَلَيْهِمْ
بِالْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ ط وَاِنْ يَّاْتُوْكُمْ اُسٰرٰى تُفٰدُوْهُمْ وَهُوَ مُحَرَّمٌ
عَلَيْكُمْ اِخْرَاجُهُمْ ط اَفَتُؤْمِنُوْنَ بِبَعْضِ الْكِتٰبِ وَتَكْفُرُوْنَ
بِبَعْضٍ ج فَمَا جَزَآءُ مَنْ يَّفْعَلُ ذٰلِكَ مِنْكُمْ اِلَّا خِزْيٌ فِي الْحَيٰوةِ
الدُّنْيَا ج وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ يُرَدُّوْنَ اِلٰٓى اَشَدِّ الْعَذَابِ ط وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ
عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿۸۵﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ اشْتَرَوُا الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا بِالْاٰخِرَةِ ز

قتلوئ، دَ خپلے رُورولئ څه مخلق دَ خپلو کورونو نه بے کوره کوئ، سره دَ ظلم او زیاتی دَ هغوئ خلاف ولے جوړه وئ، او کله چه هغوئ په جنګ کښے وُنیولے شی او تاسو له راوستلے شی، نو دَ هغوئ دَ خلاصی دپاره فدیه اخلئ او ورکوئ، حالانکه هغوئ دَ خپلو کورونو نه ایستل دَ سر نه په تاسو باندِ حرام وُو. نو آیا تاسو دَ کتاب په یوه حصه باندِ ایمان راوړئ او دَ بلے حصے سره کفر کوئ؟[۹۲] بیا چه په تاسو کښے کوم خلق داسے کار کوی دَ هغوئ سزا دَ دے نه بغیر بله څه ده چه دَ دُنیا په ژوند کښے خوار او ذلیله ژوند تیر کړی او په آخرت کښے دَ سخت نه سخت عذاب ته وُلیږولے شی؟ الله دَ هغے کارونو نه ناخبره نه دے کوم چه تاسو کوئ — دا هغه خلق دے چه آخرت ئے خرڅ کړے دے او دَ دنیا ژوند ئے اغستلے دے

[۹۲] دَ نبی صلی الله علیه وسلم دَ راتلو نه مخکښے دَ مدینے دَ خراؤ شا یهودی قبائلو دَ خپلو کاونډی عربو قبیلو (اَوْس او خَزْرَج) سره دَ دوستانے تعلقات قائم کړی وُو. کله چه به دَ عربو یوه قبیله دَ بلے قبیلے سره په جنګ شوله نو دَ دواړو طرفو یهودی دوستان به هم دَ خپلو خپلو عربی دوستانو ملګری شول او دَ یو بل مقابله کښے به په جنګ شول. دَ هغوئ دا کار ښکاره دَ الله دَ کتاب نه خلاف وُو او هغوئ به قصداً دَ کتاب خلاف ورزی کوله. خو دَ جنګ نه روستو چه به کله دَ یوے یهودی قبیلے جنګی قیدیان دَ بلے یهودی قبیلے په لاس ورغلل، نو زوره ورے قبیلے به هغه قیدیان په فدیئے اغستلو سره پریښودل او کمزورے قبیلے به په فدیئے ورکولو خلاصه ول، او دَ دے فدیئے اغستلو او ورکولو دَ جواز دپاره به یئے دَ کتاب الله نه دلیلونه پیش کول. ته به وائے لکه چه هغوئ دَ کتاب الله دا خبره په سر سترګو منله چه جنګی قیدیان دِ په فدیئے اغستلو سره پریښودے شی، خو دا حکم ئے نه منلو چه په خپلو کښے دِ هډو جنګ وُ نه کړے شی.

فَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ وَلَا هُمْ يُنْصَرُوْنَ ﴿۸۶﴾ ع وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى
الْكِتٰبَ وَقَفَّيْنَا مِنْۢ بَعْدِهٖ بِالرُّسُلِ ز وَاٰتَيْنَا عِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ
الْبَيِّنٰتِ وَاَيَّدْنٰهُ بِرُوْحِ الْقُدُسِ ط اَفَكُلَّمَا جَآءَكُمْ
رَسُوْلٌۢ بِمَا لَا تَهْوٰٓى اَنْفُسُكُمُ اسْتَكْبَرْتُمْ ج فَفَرِيْقًا كَذَّبْتُمْ ز
وَفَرِيْقًا تَقْتُلُوْنَ ﴿۸۷﴾ وَقَالُوْا قُلُوْبُنَا غُلْفٌ ط بَلْ لَّعَنَهُمُ اللّٰهُ
بِكُفْرِهِمْ فَقَلِيْلًا مَّا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۸۸﴾ وَلَمَّا جَآءَهُمْ كِتٰبٌ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ

نو نۀ به دَ دوئ په سزا کښے څه کمے وکړے شي او نۀ به دوئ ته څه امداد ورو رسيدے شي ع
موږ موسیٰ له کتاب ورکړو، دَ هغه نه مو روستو پرله پسے رسولان راولیږل، او په آخر کښے مو
عیسیٰ دَ مریم ځوئ سره دَ روښانه نښو راولیږو او په پاک روح سره مو دَ هغه مدد[۹۳] وکړو. بیا دا
ستاسو څه طریقه ده چه کله هم تاسو ته یو رسول ستاسو دَ نفس دَ خواهشاتو خلاف یو څیز راوړے دے
نو تاسو دَ هغے په مقابله کښے سرکشی کړیده، څه مو دروغژن کړل او څه مو قتل کړل؛ ـــــ هغوئ
وائي، زمونږه زړونه محفوظ[۹۴] دي. نۀ، بلکه اصل خبره دا ده چه دَ دوئ دَ کفر په وجه په
دوئ باندِ دَ الله لعنت دے، دغه وجه ده چه دوئ لږ ایمان راوړي. او اوس چه کوم کتاب
دَ الله دَ طرفنه دوئ ته راغلے دے، دَ هغے سره دَ دوئ څه سلوک دے؟

۹۳ دَ روح پاک نه مراد دَ وحی علم هم دے، او جبریل هم چه دَ وحی علم به ئے راوړلو او پخپله
دَ حضرت مسیح خپل پاک روح تر هم مراد دے، چه هغه الله دَ پاکو صفتونو مالک جوړ کړے وو.
دَ "روښانه نښو" نه مراد هغه ښکاره ښکاره علامے دي چه دَ هغے په لیدلو هر رښتیني او حق
پسند انسان دا پیر ښدلے شوه چه مسیح علیه السلام دَ الله نبي دے.

۹۴ یعنی زمونږه خپل خیال او عقیده دومره مضبوطه ده که تاسو هر څه وائي خو زمونږ
په زړونو باندِ به ستاسو دَ خبرے څه اثر نۀ وي. دا خو هم هغه خبره ده چه ټول هغه ضد ناک
خلق ئے وائي څرک چه دَ جاهلیت سره دَ زړۀ مینه لري. دوئ دے ته دَ عقیدے مضبوطیا وائي
او یوه ښۀ خبره ورته ښکاري. حالانکه دَ یو سړي دپاره دَ دے نه لوئ عیب بل نشته چه هغه
دَ خپل پلار نیکه په عقیده باندِ ټینګ ودریږي، اګر که دَ هغه دَ پلار نیکه عقیده په قوي دلیلونو
سره غلطه ثابته کړے شي.

مُصَدِّقٌ لِّمَا مَعَهُمْ ۙ وَكَانُوْا مِنْ قَبْلُ يَسْتَفْتِحُوْنَ عَلَى الَّذِيْنَ
كَفَرُوْا ۚ فَلَمَّا جَآءَهُمْ مَّا عَرَفُوْا كَفَرُوْا بِهٖ ۫ فَلَعْنَةُ اللّٰهِ عَلَى
الْكٰفِرِيْنَ ﴿۸۹﴾ بِئْسَمَا اشْتَرَوْا بِهٖٓ اَنْفُسَهُمْ اَنْ يَّكْفُرُوْا بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ

سره دَ دے چه هغه دَ هغے کتاب تصدیق کوی کوم چه دَ دوئ سره دَ مخکښے نه موجود وُو، سره دَ دے چه دَ دے کتاب دَ راتلو نه مخکښے به دوئ په خپله دَ کافرانو په مقابله کښے دَ فتحے او دَ امداد دعاګانے غوښتلے، خو چه کله هغه دوئ ته راغے، او دوئ ښه وُ پیژندوهم، نو دَ هغے دَ منلو نه یے انکار وُ کړو[۹۵] دَ خدائے لعنت دَ وی په دے منکرینو باندِ، دا څومره خرابه ذریعه ده چه دوئ پرځان له تسلی راولی[۹۶] چه کوم هدایت الله نازل کړیدے

[۹۵] دَ نبی صلی الله علیه وسلم دَ راتلو نه مخکښے یهودیان په بے قرارئ سره دَ هغے نبی په انتظار کښے وُو دَ کوم دَ راتلو چه هغوئ ته خپلو نبیانو پیشن ګویانے کړے وے. دَ هغه دَ زر راتلو دپاره به ئے دُعاګانے غوښتلے چه دَ کافرانو غلبه ختمه شی او بیا دَ هغوئ دَ ترقئ دور شروع شی. پخپله مدینے والا دَ دے خبرے ګواهان دی چه دَ محمدؐ دَ نبوت نه مخکښے به دَ هغوئ دے یهودیانو ګاونډیانو دَ راتلونکی نبی په اُمید باندِ ژوند تیرولو او چه خلقو سره به ئے خبرے کولے نو وئیل به ئے چه "ښه ده، اوس چه څوک زموږ سره ظلم کوی نو کوی دی، کله چه هغه نبی راشی نو بیا به موږ دَ دے ظالمانو سره ګورو" مدینے والو دَ هغوئ دا خبرے اَوریدلے وے، دغه وجه وه چه کله هغوئ ته دَ نبی صلی الله علیه وسلم حالات معلوم شول نو په خپلو کښے ئے یو بل سره اُووئیل چه چرته دا یهودیان زموږ نه مخکښے نه شی، راځئ چه اول موږ ته په دے نبی باندِ ایمان راوړو. خو دا هغوئ ته ډیره عجیبه خبره ښکاره شوله، چه هغه یهودیان، چه دَ راتلونکی نبی په انتظار کښے به ئے شپے ورځے تیرولے دَ هغه په راتلو باندِ دَ ټولو نه زیات دَ هغه مخالف شول.

او دا چه ئے فرمائیلی دی چه "هغه دوئ ښه وُ پیژندوهم" نو دَ دے ډیر ثبوتونه په هغه زمانه کښے ملاوُ شوی وُو. دَ ټولو نه زیات معتبر شهادت دَ اُمّ المؤمنین حضرت صَفِیّه دے، چه پخپله دَ یو لوئ یهودی عالم لور او دَ بل عالم وریره وه. هغه فرمائی چه کله نبی صلی الله علیه وسلم مدینے ته تشریف راوړو، نو زما پلار او تره دواړه دَ هغه سره دَ ملاویدو دپاره لاړل. ډیر ساعت ئے دَ هغه سره خبرے وُ کړلے. بیا چه کله واپس کور ته راغلل نو ما پخپلو غوږونو واوریدل چه دواړو دا خبرے کولے:

تره: دا واقعی هغه نبی دے چه زموږ په کتابونو کښے ئے خبر ورکړے شویدے؟
پلار: په خدائے مِ دِ قسم وی، هَو.
تره: په دے ستا یقین دے؟

بَغْيًا اَنْ يُّنَزِّلَ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ ۚ فَبَآءُوْ
بِغَضَبٍ عَلٰى غَضَبٍ ۭ وَلِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ﴿۹۰﴾ وَاِذَا قِيْلَ
لَهُمْ اٰمِنُوْا بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ قَالُوْا نُؤْمِنُ بِمَآ اُنْزِلَ عَلَيْنَا وَ
يَكْفُرُوْنَ بِمَا وَرَآءَهٗ ۤ وَهُوَ الْحَقُّ مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَهُمْ ۭ قُلْ فَلِمَ
تَقْتُلُوْنَ اَنْۢبِيَآءَ اللّٰهِ مِنْ قَبْلُ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۹۱﴾ وَلَقَدْ

دَ هغے دَ منلو نه صرف دَ دے ضد په وجه انکار کوی چه الله خپل فضل (وحی او رسالت) دَ خپلے خوښے په بنده یا ندِ راولیږی[۹۶]. نو دوئ اوس دَ یو غضب دَ پاسه دَ بل غضب مستحق شویدی او دَ داسے کافرانو دپاره سخته دَ ذلت سزا مقرر ده.

کله چه دوئ تر اُوویلے شی چه څه الله نازل کړیدی په هغے باندِ ایمان راوړئ، نو دوئ وائی "موږ نه خو صرف په هغے شیز باندِ ایمان راوړو چه په موږ نه (یعنی دَ اسرائیل په نسل) باندِ نازل شویدے"، دَ هغے نه علاوه چه څه راغلی دی، هغوئ دَ هغے دَ منلو نه انکار کوی، حالانکه هغه حق دی او دَ هغے تعلیم تصدیق او تائید کوی کوم چه دَ هغوئ سره دَ مخکښے نه موجود وُو. دیره ښه ده، دوئ تر وُوایه: که چیرے ستاسو په هغے تعلیم باندِ ایمان وی کوم چه تاسو ته راغلے وُو نو دے نه مخکښے موږ الله هغه پیغمبران (کوم چه په خپله په بنی اسرائیلو کښے پیدا شوی وُو) ولے قتلول؟

پلار: هو۔

تره: بیا ستاسه اراده ده؟

پلار: ترڅو چه په ماکښے ساه وی ترهغے به دَ دَ ۀ مخالفت کوم او دَ دَ ۀ خبره به خو ریږد و ته نۀ پریږدم۔ (ابن هشام، جلد دوم، صفحه ۱۶۵، طبع جدید)۔

[۹۵] دَ دے آیت دویمه ترجمه داهم کیدے شی: "څنګه خراب شیز دے چه دَ هغے په وجه ئے خپل ځانونه خرڅ کړل"، یعنی خپله کامیابی او نیک بختی او خپل خلاصے ئے قربانی کړل۔

[۹۶] دے خلقو دا غوښتل چه را تلونکے نبی ﷺ دَ دوئ په قوم کښے پیدا شی۔ خو چه کله هغه په بل دے قوم کښے پیدا شو چه دوئ په خپله مقابله کښے څه قوم نۀ ګڼل نو دَ هغه نۀ منلو تیار شو۔ لکه چه دَ هغوئ دا مطلب وُو چه دَ نبی رالیږلو نه په وخت کښے ﷺ خدائے دَ هغوئ نه تپوس کړے وے، خو چه کله خدائے دَ هغوئ نه تپوس ونۀ کړو او چه څوک ئے خوښ وُو خپل فضل ئے په هغه وُکړو، نو دوئ خفه شو۔

جَآءَكُمْ مُّوْسٰى بِالْبَيِّنٰتِ ثُمَّ اتَّخَذْتُمُ الْعِجْلَ مِنْۢ بَعْدِهٖ وَاَنْتُمْ
ظٰلِمُوْنَ ﴿۹۲﴾ وَاِذْ اَخَذْنَا مِيْثَاقَكُمْ وَرَفَعْنَا فَوْقَكُمُ الطُّوْرَ ؕ
خُذُوْا مَآ اٰتَيْنٰكُمْ بِقُوَّةٍ وَّاسْمَعُوْا ؕ قَالُوْا سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا ۗ
وَاُشْرِبُوْا فِيْ قُلُوْبِهِمُ الْعِجْلَ بِكُفْرِهِمْ ؕ قُلْ بِئْسَمَا يَاْمُرُكُمْ بِهٖٓ
اِيْمَانُكُمْ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۹۳﴾ قُلْ اِنْ كَانَتْ لَكُمُ الدَّارُ
الْاٰخِرَةُ عِنْدَ اللّٰهِ خَالِصَةً مِّنْ دُوْنِ النَّاسِ فَتَمَنَّوُا الْمَوْتَ
اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۹۴﴾ وَلَنْ يَّتَمَنَّوْهُ اَبَدًا بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْهِمْ ؕ

تاسو تہ موسیٰ څنګه څنګه روښانه نښے راوړلے ۔ بیا هم تاسو داسے ظالمان وئ چه دَ هغه دَ تلو سره مو دَ غوا دَ بچی عبادت شروع کړو ۔ بیا لږه شان هغه وعده را یاده کړئ چه طور مو ستاسو دَ پاسه اُوچت کړے وُو او وعده مو درنه اغستلی وه ۔ مونږ د رته وئیلی وُو چه کوم هدایات مونږ در لیږو ، دَ هغے په سختئ سره پابندی کوئ او په غوږونو ئے واوُرئ ۔ ستاسو مشرانو اُووئیل مونږه واوریدل خو منو به ئے نۀ ۔ او دَ هغوئ دَ کفر دا حال وُو چه دَ هغوئ په زړونو کښے دَ غوا دَ بچی مینه ناسته وه ۔ ورته وُوایه : که چرے تاسو مؤمنان یئ ، نو دا خو عجیبه ایمان دے چه تاسو ته دَ داسے خرابو کارونو حکم کوی ۔

دوئ ته وُوایه که چرے واقعی دَ الله په نږ دَ آخرت کور دَ ټولو انسانانو نه علاوه خالص ستاسو دپاره وی ، نو بیا تاسو له پکار دی چه دَ مرګ آرزو وکړئ ۹۸ که چرے تاسو په خپل خیال کښے رښتنی یئ ـــــ یقین وُکړئ چه دوئ به هیڅ کله دَ دے آرزو وُنه کړی په دے وجه چه دوئ پخپلو لاسونو کومه ګټه ځان له هلته لیږلی ده هغه دوئ دَ دے نه منع کوی (چه هلته دَ تلو آرزو وُکړی) ۔

۹۸ دا دَ هغوئ په دنیا پرستئ باندے یو نرم او معمولی اعتراض دے ۔ دَ کومو خلقو چه واقعی دَ آخرت سره مینه وی هغه په دُنیا پسے نۀ مری او نۀ دَ مرګ نه یَریږی ۔ خو دَ یهودیانو حال دَ دے نه بدل وُو او اُوس هم بدل دے ۔

وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِالظّٰلِمِيْنَ ﴿۹۵﴾ وَلَتَجِدَنَّهُمْ اَحْرَصَ النَّاسِ عَلٰى
حَيٰوةٍ ۛ وَمِنَ الَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا ۛ يَوَدُّ اَحَدُهُمْ لَوْ يُعَمَّرُ اَلْفَ سَنَةٍ ۚ
وَمَا هُوَ بِمُزَحْزِحِهٖ مِنَ الْعَذَابِ اَنْ يُّعَمَّرَ ؕ وَاللّٰهُ بَصِيْرٌۢ بِمَا
يَعْمَلُوْنَ ﴿۹۶﴾ ع قُلْ مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِّجِبْرِيْلَ فَاِنَّهٗ نَزَّلَهٗ عَلٰى قَلْبِكَ
بِاِذْنِ اللّٰهِ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ وَهُدًى وَّبُشْرٰى لِلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۹۷﴾



الله دَ دے ظالمانو دَ حال نه ښه خبر دے. تهٔ به اُووینی چه دوئ دَ ټولو خلقو نه زیات په ژوند مَیَن دی[۹۹]، تر دے پورے چه په دے معامله کښے دَ مشرکانو نه هم زیات حَریصان دی. دَ دوئ هر یو سړے دا غواړی چه زرکاله ژوندے وے، حالانکه دا اُوږد عمر خوشه دوئ دَ عذاب نه لوے نشی وړلے. هر څنګه عملونه چه دوئ کوی الله هغه وینی ع

دوئ ته وُوایه چه څوک دَ جبریل سره دوشمنی[۱۰۰] ساتی، هغوئ ته دِ دا معلومه وی، چه جبریل دَ الله په حکم سره دا قرآن ستا په زړه باندِ نازل کړے[۱۰۱] دے چه دَ مخکینو کتابونو تصدیق او تائید کوی[۱۰۲]، او دَ مؤمنانو دپاره دَ هدایت او دَ کامیابئ زیرے دے[۱۰۳]

[۹۹] په اصل کښے علیٰ حَیٰوةٍ لفظ استعمال شوی دے چه معنیٰ ئے ده په څه طریقه ژوند. یعنی دَ هغوئ سره صرف دَ ژوند حرص دے، که هغه هر څنګه ژوند وی که دَ عزت وی او که دَ ذلت

[۱۰۰] یهودیانو صرف نبی صلی الله علیه وسلم ته او په هغه باندِ ایمان راوړونکو ته بد نه وئیل بلکه دَ خدائے غورے فرښتے جبریل ته به ئے هم کنځلے کولے او وئیل به ئے چه هغه زمونږ دشمن دے، هغه دَ رحمت فرښته نه ده، دَ عذاب فرښته ده.

[۱۰۱] یعنی په دا شان ستاسو کنځلے جبریل ته نه دی بلکه دَ خدائے لوئ ذات ته دی.

[۱۰۲] مطلب دا دے چه دا کنځلے ځکه تاسو کوئ چه جبریل دا قرآن راوړے دے او حال دا دے چه دا قرآن دَ تورات په تائید کښے دے. نو ستاسو دا کنځلے تورات ته هم راځی.

[۱۰۳] په دیکښے دے طرفته نرئ اشاره ده چه اے بے وقوفانو، په اصل کښے ستاسو نارامنګی دَ هدایت او دَ نیغے لارے نه خلاف ده. تاسو دَ هغے صحیح رهنمایئ خلاف جنګیږئ چه که چرے تاسو دغه رهنمائی وُمنله، نو ستاسو دپاره دَ کامیابئ زیرے دے.

مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِّلّٰهِ وَمَلٰٓئِكَتِهٖ وَرُسُلِهٖ وَجِبْرِيْلَ وَمِيْكٰىلَ
فَاِنَّ اللّٰهَ عَدُوٌّ لِّلْكٰفِرِيْنَ ﴿۹۸﴾ وَلَقَدْ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ اٰيٰتٍۢ بَيِّنٰتٍ ۚ
وَمَا يَكْفُرُ بِهَآ اِلَّا الْفٰسِقُوْنَ ﴿۹۹﴾ اَوَكُلَّمَا عٰهَدُوْا عَهْدًا
نَّبَذَهٗ فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ ؕ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۰۰﴾ وَلَمَّا جَآءَهُمْ
رَسُوْلٌ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ مُصَدِّقٌ لِّمَا مَعَهُمْ نَبَذَ فَرِيْقٌ مِّنَ الَّذِيْنَ
اُوْتُوا الْكِتٰبَ ۙ كِتٰبَ اللّٰهِ وَرَآءَ ظُهُوْرِهِمْ كَاَنَّهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۰۱﴾
وَاتَّبَعُوْا مَا تَتْلُوا الشَّيٰطِيْنُ عَلٰى مُلْكِ سُلَيْمٰنَ ۚ وَمَا كَفَرَ سُلَيْمٰنُ

(که چرے دَ جبریل سره دَ دوئ دَ دُشمنئ دا وجه وی، نو ورته اُووایه چه) څوک دَ الله او دَ هغه دَ فرښتو او دَ هغه دَ رسولانو او دَ جبریل او دَ میکائیل دشمنان دی، الله دَ دغے کافرانو دشمن دے موږه تا ته داسے آیاتونه نازل کړی دی چه حق صفا صفا ظاهره ونکی دی۔ په هغے باندِ دَ عمل کولو نه هغه خلق انکار کوی چه فاسقان دی۔ ولے همیشه داسے نه ده شوے چه کله هغوئ یوه وعده کړیده، نو په هغوئ کښے دَ یوے نه یوے ډلے ضرور هغه هیره کړیده؟ بلکه اکثر خو پکښے داسے دی، چه په رښتیا سره ئے دَ زړهٔ نه ایمان نه دے راوړے۔ او چه کله دوئ ته دَ الله دَ طرفنه یو رسول سره دَ داسے کتاب راغے چه هغه دَ دوئ دَ کتاب تصدیق او تائید کوی، نو په دے اهل کتابو کښے یوے ډلے دَ الله کتاب شاته داسے غوزار کړو لکه چه هغوئ هډوڅه پیژنی نه۔ او په هغے څیزونو پسے ورپسے شو چه شیطانانو به دَ سلیمٰن دَ بادشاهئ په نوم پیش کولو،[۱۰۴] حالانکه سلیمٰن هیچرے کفر نه وُو کړے،

[۱۰۴] دَ شیطانونه مراد پیریانی شیطانان او انسانی شیطانان دواړه کیدے شی۔ او دلته تر دواړه قسمه شیطانان مُراد دی۔ کله چه په بنی اسرائیلو دَ اخلاقی خرابئ او دمالی تنزل دور راغے او دَ جهالت، دَ غلامئ، دَ خوارئ غریبئ او دَ ذلت او دَ بد حالئ په وجه په هغوئ کښے اُوچتے حوصلے او کلکے ارادے پاتے نه شولے، نو دَ هغوئ خیال جادُو، ټوټکو، تعویذونو بندونو او دمونو منترونو طرفته لاړو۔ هغوئ دَ داسے سوچونو په تلاش کښے شروع شول، چه بغیر دَ کوشش نه او بغیر دَ محنت او مشقت نه صرف په پوکو او منترونو باندِ کار وُشی، دغه

وَلٰكِنَّ الشَّيٰطِيْنَ كَفَرُوْا يُعَلِّمُوْنَ النَّاسَ السِّحْرَ ۗ وَمَآ اُنْزِلَ
عَلَى الْمَلَكَيْنِ بِبَابِلَ هَارُوْتَ وَمَارُوْتَ ؕ وَمَا يُعَلِّمٰنِ مِنْ
اَحَدٍ حَتّٰى يَقُوْلَآ اِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ فَلَا تَكْفُرْ ؕ فَيَتَعَلَّمُوْنَ

کفر خو هغه شیطانانو کوؤ چه خلقو ته به ئے دَ جادو تعلیم ښودلو. هغوئ په هغه څیز پسے ورپسے شو چه په بابل کښے په دوؤ فرښتو، هاروت او ماروت باندِ نازل کړے شوے وُو، حالانکه هغه (فرښتو) به چه کله چا ته دَ هغے تعلیم ورکولو نو اول به ئے ورته صفا وئیل چه "ګوره، موږ ه یو آزمیښت یُو، تهٔ په کفر کښے اخته[۱۰۵] نهٔ شے" بیا به هم دے خلقو

وخت وُو چه شیطانانو دوئ له دوکه ورکول شروع کړل، دوئ ته به ئے وئیل چه دَ سلیمان علیه السلام عظیم الشانه بادشاهی او دَ هغه لوئ لوئ طاقتونه خو دَ یو څو نقشونو او منترونو په وجه چلیدل، او دغه منترونه او نقشونه موږ ه تاسو ته ښایُو. نو دے خلقو دا لوئ نعمت وګڼرو او په دے څیزونو پسے ورپسے شول، بیا ئے نهٔ دَ الله دَ کتاب سره څه دلچسپی پاتے شوه او نهٔ ئے دَ داعیٔ حق آواز اوریدلو.

[۱۰۵] دَ دے آیت په تاویل (معنو) کښے مختلف قولونه دی، خو څو مره چه زما پوهه ده، هغه دا ده، چه په کومه زمانه کښے دَ بنی اسرائیلو ټول قوم په بابل کښے قیدیان او غلامان شوی وُو، په هغے زمانه کښے به الله تعالیٰ یو دوه فرښتے دَ انسان په شکل کښے دَ هغوئ دَ آزمیښت د پاره رالیږلی وی. او لکه څنګه چه دَ لوط قوم ته فرښتے دَ ښائیستو هلکانو په شکل کښے تلے وے، دغه شان به دے اسرائیلو ته دَ پیرانو او فقیرانو په شکل کښے تلی وی. او کیدے شی چه دے فرښتو به یو طرفته دَ جادوګرئ په بازار کښے خپل دَ جادوګرئ دکان لګولے وی او بل طرفته به ئے دَ دلیل په طور هر یو جادو زده کولکی ته دا وئیل چه ګوره، موږ ستاسو د پاره یو آزمیښت یُو، جادو مهٔ زده کوئ او خپل آخرت مهٔ خرابه وئ. خو کیدے شی چه دے خلقو به سره دَ دے خبرداری دغه جادو، ټوټکے، نقشونه او تعویذونه زده کول.

دَ فرښتو په انسانی شکل کښے راتلل او کارکول څه دَ حیرانتیا خبره نهٔ ده. هغه دَ الله تعالیٰ دَ بادشاهی کارنده دی. دَ خپل کار سرته رسولو په باره کښے چه دَ څه وخت او دَ څه شکل ضرورت وی هغه اختیاره وی. موږ ه څه خبر یو چه په دے وخت کښے به زموږ نه ګیر چا پیره څو مره فرښتے په انسانی شکل کښے دَ کارکولو د پاره راغلی وی. پاتے شوه دا خبره چه فرښتو به یو داسے څیز خلقو ته ښودلو چه هغه پخپله بد وُو، نو دَ دے داسے مثال دے لکه چه بغیر دَ وردئ نه دَ پولیسو یو سپاهی یو رشوت خور حاکم څه نو ټو نه دَ رشوت په طور ورکړی او په هغے ئے پټه نښه لګولی وی، او مطلب ئے دا وی چه دَ رشوت په جُرم کښے ئے پخپله وُنیسی او هغه بے عذره شی.

مِنْهُمَا مَا يُفَرِّقُونَ بِهٖ بَيْنَ الْمَرْءِ وَزَوْجِهٖ ؕ وَمَا هُمْ بِضَآرِّيْنَ بِهٖ
مِنْ اَحَدٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ وَيَتَعَلَّمُوْنَ مَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنْفَعُهُمْ ؕ
وَلَقَدْ عَلِمُوْا لَمَنِ اشْتَرٰىهُ مَا لَهٗ فِي الْاٰخِرَةِ مِنْ خَلَاقٍ قف ؕ
وَلَبِئْسَ مَا شَرَوْا بِهٖٓ اَنْفُسَهُمْ ؕ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۰۲﴾

دَ هغوئ نه هغه څه زده کول چه په هغے سره دَ خاوند او دَ ښځے په منځ کښے جدائی راولی[۱۰۶] ظاهره خبره وه چه په دے ذریعه هغوئ دَ خدائے دَ حکم نه بغیر هیچا ته ضرر نه شو رسولے، خو سره دَ دے به هغوئ داسے څیز زده کولو چه پخپله دَ هغوئ دپاره فائده ورکولو والا نه، بلکه نقصان ورکولو والا وُو، او هغوئ ته دا ښه معلومه وه چه څوک دَ دے څیز خریدار شو نو دَ هغوئ دپاره په آخرت کښے هیڅ حصه نشته. څو مره خراب سامان وُو چه دَ هغے په بدله کښے هغوئ ځانونه خرڅ کړل، افسوس چه هغوئ ته معلومه وے!

[۱۰۶] مطلب دا دے چه په دے بازار کښے دَ ټولو نه زیات کوم څیز غوښتلے کیدو هغه دا وُو چه څه داسے عمل یا تعویذ ملاؤ شی چه په هغے باندے یو سړے دَ بل سړی ښځه دَ هغه نه تُوری کړی او په خپل ځان باندے عاشقه کړی. دا دَ هغوئ دَ اخلاقو حال وُو چه پکښے ټول خلق اخته وُو. دَ دے نه لاندے مرتبه دَ بد واخلاقو بله یوه هم نشی کیدے چه دَ یو قوم دَ خلقو دَ ټولو نه زیات دلچسپ کار دَ پردو ښځو سره سترګے جنګول شی او دا دَ ټولو نه لویه کامیابی ګڼړی چه په نکاح بنده ښځه دَ خاوند نه تُوری کړی او په خپل کور کښے ئے کینوی.

دَ ښځو او دَ خاوندانو تعلق په حقیقت کښے دَ خلقو دَ کلی والئ (انسانی تمدن) بنیاد دے. که دَ ښځو او دَ خاوندانو تعلقات صحیح وُو خو دَ ټولو خلقو کلی والی ژوند به صحیح وی او که دَ هغوئ تعلقات خراب وُو نو دَ ټولو خلقو کلی والی ژوند به خراب وی. دَ دے وجے نه هغه سړے دَ ټولو نه زیات فساد کونکے دے چه دَ هغے ونے جرړے پریکوی چه کومه پخپله دَ دهٔ او دَ ټول اُولسے دَ ژوندون ذریعه وی. په حدیث کښے راځی چه ابلیس دَ خپل مرکز نه دَ زمکے هر ګوټ ته خپل کارنده لیږی. بیا هغه کارنده واپس راشی او خپل خپل کارونه اوره وی. څوک وائی: ما فلانے شر جوړ کړو. څوک وائی: ما فلانے وران کارو کړو. خو ابلیس هر یو ته وائی چه تا هیڅ نه دی کړی. بیا یو راشی او وائی چه ما دَ یوے ښځے او دَ خاوند په منځ کښے جدائی را وستله. دَ دے په اوریدلو سره ابلیس هغه دَ سینے سره جوخت کړی او وائی چه کار تا کړے دے. په دے حدیث چه سړے غور وُ کړی نو په دے خبره سړے ښه پوهه شی چه دَ بنی اسرائیلو دَ آزمیښت دپاره کومے فرښتے رالیږلے شوے وے هغوئ دَ ښځو او دَ خاوندانو په منځ کښے دَ جدائی راوستلو "عمل" هغوئ ته ځکه وړاندے کړو چه په اصل کښے هم دا یوه ذریعه وه چه په هغے دَ هغوئ اخلاق ټیک ټیک معلومیدے شو.

وَلَوْ اَنَّهُمْ اٰمَنُوْا وَاتَّقَوْا لَمَثُوْبَةٌ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ خَيْرٌ لَّوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۰۳﴾ ع
يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَقُوْلُوْا رَاعِنَا وَقُوْلُوا انْظُرْنَا وَاسْمَعُوْا

که چرے هغوئ ایمان او تقوی اختیار کړے وے، نو دَ الله په دربار کښے چه دَ هغے کومه بدله ملاویدله، هغه دَ هغوئ دپاره ډیره بهتره وه۔ افسوس چه هغوئ خبر وے ع
اے مومنانو! رَاعِنَا مه وایئ، بلکه اُنْظُرْنَا وایئ، او خبره په توجه سره اورئ،

۱۰۷ په دے رکوع کښے او دَ دے نه په دے روستو رکوع کښے دَ نبی صلی الله علیه وسلم مسلمانان ملګری دَ هغے شرارتونو نه خبردار کړے شوی دی کوم چه دَ اسلام او دَ اسلامی ډلے خلاف دَ یهودیانو دَ طرفنه کیدل، او دَ هغے شکونو جوابونه ورکړے شوی دی کوم چه به دے خلقو دَ مسلمانانو په زړونو کښے دَ راپیدا کولو کوشش کولو، او هغه خاص خاص خبرے بیان کړے شوی دی چه مسلمانانو او یهودیانو به یو بل سره کولے په دے موقع باندے دے خبرے ته خیال پکار دے چه کله نبی صلی الله علیه وسلم مدینے ته ورسید و او دَ مدینے په اطرافو کښے اسلام خوریدل شروع شو، نو یهودیانو به ځائے په ځائے دا مسلمانان په مذهبی بحثونو کښے په جګړه کول، دا سیده ساده او رښتنے خلق به ئے په بے مطلبه بحثونو په شک شوبو او په خبره کښے دَ خبرے راپیدا کولو په مرض کښے اخته کول، او پخپله دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم په مجلس کښے به ئے دَ فریب او دوکے او دَ مکارئ خبرے کولے، او په دا شان ئے خپل ځان دَ لاندے ذهنیت خلق ثابتولو۔

۱۰۸ کله چه به یهودیان دَ نبی صلی الله علیه وسلم مجلس ته راتلل نو په سلام اچولو کښے او هسے په نورو خبرو کښے به چه څومره کیدے شوه نو دَ خپل زړهٔ براس به ئے ایستلو۔ په خبرو کښے به ئے دا سے الفاظ وئیل چه ډیر مطلبونه به ئے کیدے شول، په زوره به ئے یو څه اُودئیل او پټ دَ ځان سره به ئے بل څه؟ په ظاهره به ئے ادب کولو او پټ به ئے دَ نبی صلی الله علیه وسلم سپکاوے هر وخت په خیال کښے ساتلو مخکښے په قرآن کښے دَ دے ډیر مثالونه بیان کړے شویدی۔ دلته دَ یو دا سے لفظ دَ استعمال نه مسلمانان منع کړے شویدی چه دَ هغے ډیرے معنے وے۔ کله چه به نبی صلی الله علیه وسلم خبرے کولے او دَ خبرو په دوران کښے به یهودیانو نبی ته دا خبره کول غوښتل چه صبر وکړه، لږ په دے خبره موږ پوهه کړه، نو هغوئ به لفظ رَاعِنَا وئیلو۔ دَ دے لفظ ظاهری مطلب خو دا وُو چه لږ زموږ لحاظ وکړه یا زموږ خبره واوره خو دَ دے لفظ نه نورے معنے هم راوتلے۔ مثلاً په عبرانئ ژبه کښے دَ دے سره یو شان یو لفظ وُو چه معنی ئے دا وه چه "ته کونړ شے، لږ دا واوره"۔ او په خپله په عربئ ژبه کښے هم دَ دے یوه بله معنی مغروره او ناپوهه او بے وقوفه وه۔ او په خبرو کښے به دا ټکے په دا سے موقع کښے وئیلے کیدو کله چه به دا مطلب وُو چه ته زموږ واوره، نو موږ به ستا واورو۔ او ژبے له به ئے لږ ټال ورکړو او رَاعِنَا به ئے تر جوړ کړو چه معنی ئے دا وه چه "اے زموږ ه شپونکیه" دَ دے وجے نه مسلمانانو ته دا حکم وُشو چه تاسو دَ دے لفظ دَ استعمال نه پرهیز وکړئ او دَ دے په ځائے باندے اُنْظُرْنَا وایئ۔ یعنی موږ ته توجه وکړئ یا لږ موږ پوهه کړئ۔ بیا الله وفرمائیل چه "خبره په توجه سره اورئ"

وَلِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۱۰۴﴾ مَا يَوَدُّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ اَهْلِ
الْكِتٰبِ وَلَا الْمُشْرِكِيْنَ اَنْ يُّنَزَّلَ عَلَيْكُمْ مِّنْ خَيْرٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ ؕ
وَاللّٰهُ يَخْتَصُّ بِرَحْمَتِهٖ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ﴿۱۰۵﴾
مَا نَنْسَخْ مِنْ اٰيَةٍ اَوْ نُنْسِهَا نَاْتِ بِخَيْرٍ مِّنْهَآ اَوْ مِثْلِهَا ؕ اَلَمْ تَعْلَمْ
اَنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۱۰۶﴾ اَلَمْ تَعْلَمْ اَنَّ اللّٰهَ لَهٗ مُلْكُ

دا کافران خو دَ دردناک عذاب مستحق دی. کومو خلقو چه دَ حق نه انکار کړے دے، که هغه اهلِ کتاب دی او که مشرکان دی، هغوئ هرگز دا نهٔ خو بیموی چه ستاسو دَ رب دَ طرفنه په تاسو باندِ څه خیر نازل شی، خو الله چه څوک غواړی هغه دَ خپل رحمت دپاره غوره کوی او هغه لوئ فضل والا دے۔

مونږه چه خپل کوم آیتونه منسوخ کوو یا ئے دَ خلقو نه هیرَ وو، نو دَ هغے په ځائے دَ هغے نه غوره یا کم نه کم دَ هغے پشان آیتونه راوړو. ولے تاسو په دے نه یئ پوه چه الله په هر څیز باندِ طاقت لری؟ ولے تاسو ته پته نه ده چه دَ زمکے او دَ آسمانونو بادشاهی

یعنی یهودیانو ته بیا بیا دَ دے خبرے ضرورت ځکه راځی چه هغوئ دَ نبی خبرے ته توجه نه کوی او دَ رسول دَ تقریر په دوران کښے هغوئ په خپلو خیالاتو کښے مختلی وی، خو تاسو له پکار دی چه دَ نبی خبرے په غور سره اورئ چه دَ دے وینا در ته هډو ضرورت نه راځی۔

۱۰۵ دا دَ هغے خاصے شبهے جواب دے چه یهودیانو به دَ مسلمانانو په زړونو کښے دا چولو کوشش کولو. دَ هغوئ دا اعتراض وو چه که دا مخکنی کتابونه دَ الله دَ طرفنه راغلی وی او دا قرآن هم دَ الله دَ طرفنه راغلے دے، نو دَ هغے کتابونو دَ حکمونو په ځائے په دے کښے دا نور حکمونه ولے ورکړے شویدی؟ په مختلفو وختونو کښے مختلف حکمونه دَ یو خدائے دَ طرفنه څنګه کیدے شی؟ بیا ستاسو قرآن دا دعوی کوی چه دَ یهودیانو او عیسایانو نه دَ خپل تعلیم یو حصه هیره شوله۔ آخر دا څنګ کیدے شی چه یو تعلیم خدائے چا ته ورکړے وی او هغه د دَ حافظانو نه هیر شی؟ دا ټولے خبرے هغوئ دَ دے دپاره نه کولے چه مسلمانان پرِ غور وکړی بلکه دَ دے دپاره ئے کولے چه مسلمانان په دے شک کښے پریوځی چه دا قرآن دَ الله دَ طرفنه دے او که نه دے؟ دَ دے په جواب کښے الله فرمائی چه زهٔ مالک یم، دا زما اختیار دے چه زهٔ خپل حکم منسوخ کوم او که دَ خلقو نه ئے هیرَ وم. خو کوم څیز چه زهٔ دَ خلقو نه هیره وم او یا ئے منسوخ کوم، دَ هغے په ځائے دَ هغے نه بهتره څیز راوړم او که نه ئی نو دا نوے حکم په خپل ځائے دومره مناسب وی څومره چه اولنے حکم په خپل ځائے مناسب وو۔

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَمَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا
نَصِيْرٍ ﴿١٠٨﴾ اَمْ تُرِيْدُوْنَ اَنْ تَسْـَٔلُوْا رَسُوْلَكُمْ كَمَا سُئِلَ مُوْسٰى
مِنْ قَبْلُ ؕ وَمَنْ يَّتَبَدَّلِ الْكُفْرَ بِالْاِيْمَانِ فَقَدْ ضَلَّ سَوَآءَ
السَّبِيْلِ ﴿١٠٩﴾ وَدَّ كَثِيْرٌ مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ لَوْ يَرُدُّوْنَكُمْ مِّنْۢ بَعْدِ
اِيْمَانِكُمْ كُفَّارًا ۚ حَسَدًا مِّنْ عِنْدِ اَنْفُسِهِمْ مِّنْۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ
لَهُمُ الْحَقُّ ۚ فَاعْفُوْا وَاصْفَحُوْا حَتّٰى يَاْتِيَ اللّٰهُ بِاَمْرِهٖ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

دَ الله ده او دَ هغه نه بغير بل هيڅوک ستاسو خبر اغستونکے او ستاسو مدد کونکے نشته؟
آيا تاسو دَ خپل رسول نه هغه شان تپوسونه کول غواړئ لکه څنګه چه دَ دے نه مخکښے
دَ موسیٰؑ نه شوی وو؟ [١١٠] حالانکه چه چا دَ ايمان لار دَ کفر په لار باندِ بدله کړه، هغه دَ
صحيح لارے نه بے لارے شو. په اهل کتابو کښے ډير خلق دا غواړی چه په څه طريقه تاسو
دَ ايمان نه کفر طرفته واپس بيا واړه وی. اګرچه حق هغوئ ته ښکاره شوے دے خو
دَ خپل نفس دَ حسد دَ وجے نه هغوئ ستاسو د پاره دا غواړی. دَ دے په جواب کښے تاسو تر
هغے پورے دَ معافئ او دَ چشم پوشئ [١١١] نه کار واخلئ چه الله پخپله خپله فيصله جاری کړی. يقين لرئ

[١١٠] يهوديانو به په معمولی خبرو بحثونه کول او قسما قسم خبرے به ئے مسلمانانو ته وړاندِ کولے
او ورته به ئے وئيل چه دَ خپل نبی نه دا تپوس وکړئ او دا تپوس وکړئ او دا تپوس وکړئ
الله تعالیٰ دَ دے نه مسلمانان خبره وی چه په دے معامله کښے په يهوديانو پسے مه ځئ. دَ دے
څيز نه نبی صلی الله عليه وسلم پخپله هم مسلمانان بيا بيا خبره ول چه مخکينی اُمتونه، دَ قيل وقال
دَ خبرو په وجه او په معمولی خبرو کښے دَ جګړو په وجه تباه شوی دی، او تاسو دے نه
ځان وساتئ. دَ کومو خبرو چه الله او دَ هغه رسولؐ بحث نه دے کړے دَ هغے په تلاش
کښے مه اخته کيږئ. بس چه څه حکم درته کيږی هغه منئ او چه دَ څه نه منع کړے
شوئ دَ هغے نه منع شئ، بے کاره خبرے پريږدئ او دَ کار خبرو ته توجه وکړئ.

عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۱۰۹﴾ وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ ؕ وَمَا
تُقَدِّمُوْا لِاَنْفُسِكُمْ مِّنْ خَيْرٍ تَجِدُوْهُ عِنْدَ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بِمَا
تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿۱۱۰﴾ وَقَالُوْا لَنْ يَّدْخُلَ الْجَنَّةَ اِلَّا مَنْ كَانَ
هُوْدًا اَوْ نَصٰرٰى ؕ تِلْكَ اَمَانِيُّهُمْ ؕ قُلْ هَاتُوْا بُرْهَانَكُمْ اِنْ كُنْتُمْ
صٰدِقِيْنَ ﴿۱۱۱﴾ بَلٰى ۚ مَنْ اَسْلَمَ وَجْهَهٗ لِلّٰهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ فَلَهٗٓ
اَجْرُهٗ عِنْدَ رَبِّهٖ ۪ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿۱۱۲﴾ ع



چه الله (تعالیٰ) په هرڅیز باندِ طاقت لری. مونځ قایموئ او زکوٰة ورکوئ. تاسو چه دَ آخرت دپاره کومه نیکی ځان له مخکښے لیږئ، هغه به الله سره بیا مومئ. تاسو چه څه کوئ هغه دَ الله په نظر کښے دی.

دوئ وایئ چه هیڅ څوک به جنت ته نه ځی ترڅو چه هغه یهودی نه وی یا (دَ عیسایانو دَ خیال مطابق) عیسائی نه وی. دا دَ دوئ آرزوګانے دی[۱۱۲] دوئ ته اُووایه چه خپل دلیل پیش کړئ که چرے تاسو په خپله دعوٰی کښے رښتنے یئ (په اصل کښے نه تاسو خاص خلق یئ او نه بل څوک) حق دا دے چه چا خپل ځان دَ الله فرمان ته وسپارو او عملاً په نیکه لار روان شو، نو دَ هغه دپاره دَ دے اجر دَ خپل رب سره دے او دَ داسے خلقو دپاره دَ څه یرے یا دَ څه غم هیڅ موقع نشته ع

[۱۱۱] یعنی دَ هغوئ دَ عناد او دَ حسد په وجه غصه کیږئ مه، خپله حوصله مه بائیلئ، دَ هغوئ سره په بحثونو، مناظرو او جګړو کولو کښے خپل قیمتی وخت او خپل قدر عزت مه ضایع کوئ، په صبر سره انتظار کوئ چه الله څه کوی. خپل توتونه په فضولیاتو کښے دَ لګولو ځائے دَ خدائے په ذکر او په ښه کارونو کښے ولګوئ ځکه چه دَ خدائے په دربار کښے دا پکار راځی هغه نه.

[۱۱۲] یعنی په اصل کښے دا همے دَ هغوئ دَ زړهٔ خواهشات او آرزوګانے دی، خو هغوئ ئے په داسے طریقه بیانوی چه ته به وایئ چه ګنی په رښتیا به داسے وشی.

وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ لَيْسَتِ النَّصٰرٰى عَلٰى شَيْءٍ ۖ وَّقَالَتِ النَّصٰرٰى لَيْسَتِ
الْيَهُوْدُ عَلٰى شَيْءٍ ۙ وَّهُمْ يَتْلُوْنَ الْكِتٰبَ ؕ كَذٰلِكَ قَالَ الَّذِيْنَ
لَا يَعْلَمُوْنَ مِثْلَ قَوْلِهِمْ ۚ فَاللّٰهُ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فِيْمَا كَانُوْا
فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ﴿۱۱۳﴾ وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ مَّنَعَ مَسٰجِدَ اللّٰهِ اَنْ يُّذْكَرَ
فِيْهَا اسْمُهٗ وَسَعٰى فِيْ خَرَابِهَا ؕ اُولٰٓئِكَ مَا كَانَ لَهُمْ اَنْ
يَّدْخُلُوْهَآ اِلَّا خَآئِفِيْنَ ؕ لَهُمْ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ وَّلَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ

یهودیان وائی چه دَ عیسایانو سره څه نشته. عیسایان وائی چه دَ یهودیانو سره څه نشته ـــــ حالانکه دواړه کتاب لولی ـــــ او دا قسم دعوے هغه خلق هم کوی چه دَ هغوئ سره دَ کتاب علم نشته دے[۱۱۳]. په کومو اختلافاتو کښے چه دوئ اخته دی، دَ هغے فیصله به الله دَ قیامت په ورځ وکړی.

او دَ هغے سړی نه به زیات ظالم څوک وی چه دَ الله تعالیٰ په عبادت خانو کښے دَ الله دَ نوم یا دَ ولو نه خلق منع کوی او دَ هغے په ورانولو پسے ورپسے وی؟ دا خلق په دے عبادت خانو کښے دَ قدم ایښودلو قابل نه دی او که چرے دے عبادت خانو ته لاړهم شی نو چه یره ورسره[۱۱۴] وی. دَ دوئ دپاره په دُنیا کښے شرمندګی ده او په آخرت کښے

[۱۱۳] یعنی دَ عربو مشرکان.

[۱۱۴] یعنی پځائے دَ دے چه عبادت خانے دَ دا سے قسمه ظالمانو خلقو په قبضه او اختیار کښے وی او دوئ دَ هغے سرپرستان وی، پکار دا ده چه اقتدار دِ دَ خدا پرستو او دَ خدائے نه دَ یریدونکو خلقو په لاس کښے وی او هغوئ دِ دَ عبادت خانو سرپرستان وی، بیا که چرے دا شریران خلق هلته لاړهم شی نو چه دا یره ورسره وی چه که شرارت کوؤ نو سزا به خورو ـــــ دلته دَ مکے دَ کافرانو دے ظلم طرفته هم نرئ اشاره ده چه هغوئ دَ خپل قوم هغه خلق چه اسلام ئے قبول کړے وُو، دَ بیت الله دَ عبادت نه منع کړی وُو.

عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١١٤﴾ وَلِلّٰهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ ۚ فَأَيْنَمَا تُوَلُّوا
فَثَمَّ وَجْهُ اللّٰهِ ۚ إِنَّ اللّٰهَ وَاسِعٌ عَلِيمٌ ﴿١١٥﴾ وَقَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا
سُبْحَانَهُ ۖ بَل لَّهُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ۖ كُلٌّ لَّهُ قَانِتُونَ ﴿١١٦﴾
بَدِيعُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ۖ وَإِذَا قَضٰى أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ كُن
فَيَكُونُ ﴿١١٧﴾ وَقَالَ الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ لَوْلَا يُكَلِّمُنَا اللّٰهُ أَوْ تَأْتِينَا

لوئ عذاب۔

مشرق او مغرب ټول د الله دی. کوم طرفته چې تاسو مخ کوئ هغې طرفته د الله مخ دے۔[۱۱۵]
الله پېرے فراخئ والا او هرڅه پېژندونکے دے۔[۱۱۶]

د دوئ ویناده چې الله ځان له څوک ځوے نیولے دے۔ الله ددے خبرونه پاک دے. اصل حقیقت دادے چې په زمکه او په آسمانونو کښے هرڅه د الله دی، ټول د هغه فرمان منونکی دی، هغه د آسمانونو او د زمکے پیدا کونکے دے، او د کوم خبرے چې هغه فیصله کوی نو د هغې دپاره دا حکم وکړی چې "شه" نو بس هغه شی۔

ناپوهه وایی چې الله پخپله زمونږ سره خبرے ولے نه کوی یا یوه نښه ولے مونږ ته

[۱۱۵] یعنی الله نه په مشرق کښے دے او نه په مغرب کښے دے۔ هغه د ټولو طرفونو او د هرځائے مالک دے، لیکن پخپله په یو طرف یا په یو ځائے کښے خاص مقید نه دے۔ دغه وجه ده چې د هغه د عبادت د پاره د یو طرف یا د یو ځائے مقرر کول دا مطلب نه دے چې الله هغې طرفته یا په هغې ځائے کښے دے۔ او نه دا د څه جګړے او د څه بحث کولو خبره ده چې اول تاسو هلته یا هغې طرفته عبادت کولو او اوس تاسو ولے هغه ځائے یا طرف بدل کړو۔

[۱۱۶] یعنی الله تعالیٰ په خاص ځائے کښے محدود، بخیل او نادار نه دے لکه څنګه چې تاسو په خپل خیال کښے کنړئ، بلکه د خدائے خدائی فراخه ده او د هغه نظر او سخاوت فراخه ده او هغه ته دا علم هم شته چې د هغه کوم بنده په کوم ځائے کښے په کوم وخت کښے او په کوم نیت سره هغه یاد وی۔

آیَةً ؕ كَذٰلِكَ قَالَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ مِّثْلَ قَوْلِهِمْ ؕ تَشَابَهَتْ
قُلُوْبُهُمْ ؕ قَدْ بَيَّنَّا الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يُّوْقِنُوْنَ ﴿۱۱۸﴾ اِنَّآ اَرْسَلْنٰكَ
بِالْحَقِّ بَشِيْرًا وَّنَذِيْرًا ۙ وَّلَا تُسْـَٔلُ عَنْ اَصْحٰبِ الْجَحِيْمِ ﴿۱۱۹﴾ وَلَنْ
تَرْضٰى عَنْكَ الْيَهُوْدُ وَلَا النَّصٰرٰى حَتّٰى تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ ؕ قُلْ اِنَّ

۱۱۷ نۀ راځی؛ هم دا سے خبرے دَ دوئ نه مخکښے خلقو هم کولے. دَدے ټولو (مخکښے روستو کړا هانو) زړونه یوشان[۱۱۸] دی. دَیقین والوُ پاره خو موږ نه ښے صفا صفا بیان کړی دی[۱۱۹]. (دَدے نه لویه ښه به څه وی چه) موږ نه ټ دَحق علم سره زیږے ورکونکے او یَرُونکے وُلیږلے[۱۲۰]. اوس چه کومو خلقو دَ جهنّم سره ځان ترلے دے، دَهغوئ دَ طرفنه پرتاځه ذمه واری نشته. او نۀ به ستا نه دَهغوئ تپوس کیدے شی.

یهودیان او عیسایان به ستا نه ترهغے پورے راضی نۀ شی ترڅوچه تۀ دَهغوئ په طریقه باندِ روان نۀ شے[۱۲۱]. صفا ورته اووایه چه

۱۱۷ دَهغوئ مطلب داوُوچه اے خدایا، یاخو تۀ پخپله موږ تر مخاطب اُووایه چه دا زما کتاب دے، اودا زما حکومونه دی او تا سوپه دے پیغمبر واړوله شی، یادِ بیا موږ تر دا سے نښه وُښودله شی، چه په هغے سره زمونږ دا یقین راشی چه محمد صلی الله علیه وسلم څه وائی هغه دَخدائے دَ طرفنه دی.

۱۱۸ یعنی دَ تر زمانے کمراهانو یوداسے اعتراض اویوه داسے مطالبه نۀ ده کړے چه هغه مخکښی کمراهانونۀ وی پیش کړی. دَ پخوانئ زمانے نۀ تر اوُسه پورے دَ کمراهئ یو مزاج دے او هغه بار بار دغه یو قسم شک شوبے اواعتراضونه اوسوالونه اَروی راایره وی.

۱۱۹ "خدائے په خپله زمونږ سره خبرے ولے نۀ کوی" دا دومره بے مطلبه خبره ده چه دَدے جواب ورکولو ته حاجت نۀ وُو. جواب صرف دَدے خبرے ورکړے شوے دے چه موږ تر نښه ولے نۀ ښودلے کیږی. او جواب ټ داد ے چه نښے خو بے شماره دی، خو چه څوک منلو ته تیار نۀ وی هغه ته به آخر کومه نښه سرے وُښایئ.

۱۲۰ یعنی نورے نښے څه کوے، دَ تولو نه بشکاره نښه خو محمد صلی الله علیه وسلم پخپله ده. دَ هغه دَ نبوت نه مخکښی حالات، په کوم قوم او ملک کښے چه هغه پیدا شوے وُو دَ هغے قوم او دَ ملک حالات، او په کومو حالاتو کښے چه هغه لوئ شو او څلویښت کاله ژوند ټ تیر کړو، او بیا دَ نبی جوړیدو نه روستو چه هغه کومه عظیم الشانه کارنامه وُکړه، دا تولے داسے صفا نښے دی چه

هُدَى اللّٰهِ هُوَ الْهُدٰى ؕ وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ اَهْوَآءَهُمْ بَعْدَ الَّذِىْ
جَآءَكَ مِنَ الْعِلْمِ ۙ مَا لَكَ مِنَ اللّٰهِ مِنْ وَّلِىٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ ﴿۱۲۰﴾
اَلَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ يَتْلُوْنَهٗ حَقَّ تِلَاوَتِهٖ ؕ اُولٰٓئِكَ
يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ ؕ وَمَنْ يَّكْفُرْ بِهٖ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿۱۲۱﴾ ع

وقف منزل

لارخو بس هغه ده چه الله ښودلی ده. که چرے تا دَ هغے علم نه روستو چه تا ته راغلے دے، دَ هغوئ دَ خواهشا تو پیروی وَکړه، نو ستا د پاره دَ الله دَ گرفت نه یو بچ کونکے دوست او مددگار نشته دے. چاله چه مونږ کتاب ورکړے دے، هغوئ هغه په هغه شان سره وائی لکه څنګ چه دَ هغے دَ وینا حق دے. هغوئ په هغے باندِ دَ زړهٔ نه ایمان راوړی[۱۲۲]. او چا چه دَ هغے سره دَ کفر رویّه اختیار کړه هغوئ په اصل کښے نقصان موندونکی دی ع

دَ هغے نه روستو دَ نورو نښو حاجت نهٔ پاتی کیږی.

[۱۲۱] مطلب دا دے چه دَ هغوئ دَ خفګان وجه خودا نهٔ ده چه ګنی هغوئ په رښتیا حق ګوری او تا هغوئ ته په حق ښکاره کولو کښے څه کمے کړے دے. هغوئ خو پدے وجه ستا نه خفه دی چه تا دَ الله دَ آیا تو نو او دَ الله دَ دین سره دَ هغوئ پشان منافقت وَلے وُ نهٔ کړو، او دَ خدا پرستئ په پرده کښے دِ دَ هغوئ پشان خود پرستی وَلے وُ نهٔ کړه، دَ دین اُصول او حکمونه دِ دَ هغوئ پشان دَ خپلو خیالاتو او خواهشا تو مطابق ولے بدل نهٔ کړل، او دَ هغوئ پشان ریا کاری دِ ولے اختیار نهٔ کړه. نو په دے وجه تهٔ دَ هغوئ دَ رضا کولو فکر پر پږده، ځکه چه تر څو تا دَ هغوئ پشان طریقه نهٔ وی اختیار کړی او دَ دین سره دِ دَ هغوئ پشان معامله نهٔ وی کړی، او دَ هغوئ پشان په غلطو عقیدو او غلطو عملونو کښے نهٔ ئے اخته شوے، نو تر هغے پورے دَ هغوئ ستا نه راضی کیدل مشکل دی.

[۱۲۲] دا دَ اهلِ کتابو نیکانو خلقو ته اشاره ده چه هغوئ په ایمانداری او په راستئ سره دَ خدائے کتاب لولی. دغه وجه ده چه څه ته دَ الله کتاب حق وائی هغه هغوی منی چه حق دی.

يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اذْكُرُوْا نِعْمَتِيَ الَّتِيْٓ اَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَاَنِّيْ فَضَّلْتُكُمْ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۲۲﴾ وَاتَّقُوْا يَوْمًا لَّا تَجْزِيْ نَفْسٌ عَنْ نَّفْسٍ شَيْـًٔا وَّلَا يُقْبَلُ مِنْهَا عَدْلٌ وَّلَا تَنْفَعُهَا شَفَاعَةٌ وَّلَا هُمْ يُنْصَرُوْنَ ﴿۱۲۳﴾

۱۲۲ اے بنی اسرائیلو یاد کړئ زما هغه نعمت چه ما په تاسو باندې کړے وُو، او دا چه ما د دُنیا په ټولو قومونو باندې تاسو غوره کړي ړئ. او د هغے ورځے نه وېرېږئ چه څوک به د چا هیڅ په کار نه راځئ، نه به د چا د طرفنه فدیه قبلیدلے شی، نه به سفارش چا ته فایده ورکوی، او نه به مجرمانو ته څه مدد ورسیدے شی۔

۱۲۳ د دے ځائے نه د تقریر دوئیم سلسله شروع کیږی، په دے باندې د پوهید لو د پاره لاندنئ خبرے نه په ذهن کښے کینول پکار دی:

(۱) د حضرت نوحؑ نه روستو حضرت ابراهیمؑ اولنے پیغمبر وُو چه الله تعالیٰ په ټوله دنیا کښے د اسلام د خوره ولو د پاره مقرر کړے وُو۔ اول هغه پخپله د عراق نه د مصر پورے او د شام او د فلسطین نه راوالله د عربو په مختلفو کوټونو کښے ډک خُپید و او خلقو ته ئے د الله د فرمان منلو (یعنی د اسلام) دعوت ورکړو او بیا ئے د خپل دے پیغام خورَولو د پاره په مختلفو علاقو کښے خلیفگان مقرر کړل. په شرقی اُردن کښے ئے خپل وراره حضرت لوطؑ، په شام او فلسطین کښے ئے خپل خُوئے حضرت اسحاقؑ او په عربو کښے د ننه ئے خپل مشر خُوئے حضرت اسماعیلؑ مقرر کړلو۔ او بیا ئے د الله تعالیٰ په حکم باندې په مکه کښے هغه کور جوړ کړو چه نوم ئے کعبه دے او هم هغه ئے د خدائے په حکم د دے پیغمبرۍ کار مرکز مقرر کړو۔

(۲) د حضرت ابراهیمؑ د نسل نه دوه لوئے څانګے جوړے شوے: یو د حضرت اسماعیلؑ اولاد چه په عرب کښے پاتے شو۔ د قریشو او د ځینو عربو قبائلو تعلق د دے څانګے سره وُو۔ او کوم عرب قبیلے چه د نسل په لحاظ سره د حضرت اسماعیلؑ د اولاد نه نه وے خو زیات تر د دوئ د مذهب نه متاثر شوئ به هم خپله سلسله د دوئ سره تړله۔ بل د حضرت اسحاقؑ اولاد، چه پکښے حضرت یعقوبؑ یوسفؑ، موسیٰؑ، داؤدؑ، سلیمانؑ، یحییٰؑ، عیسیٰؑ او نور ډیر پیغمبران علیهم السلام پیدا شول، او لکه څنګه چه دا خبره مخکښے بیان شویده چه د حضرت یعقوبؑ نوم خو اسرائیل وُو نو د دے وجے نه دا ټول نسل د بنی اسرائیل په نوم مشهور شو۔ د دوئ د تبلیغ د وجے نه چه کوم قومونو د هغوئ دین قبول کړو، هغوئ خو یا ټول په هغوئ کښے د ننه ورننوتل، او یا خو نسل په لحاظ سره د هغوئ نه جدا وُو خو په مذهب کښے د هغوئ تابع وُو۔ په دے څانګه چه کله د تنزل او لاندې کیدو زمانه راغله نو اول پکښے یهودیت پیدا شو او بیا پکښے عیسائیت سر راپورته کړو۔

(۳) د ابراهیمؑ اصل کار دا وُو چه د ټولے دنیا خلقو ته دعوت ورکړي چه د الله حکم ومنی او د الله د طرفنه چه کوم هدایت راغلے دے د هغے مطابق ټول انسانان ځان له ځان لره او په شریکه هم چټل ژوند جوړ کړي. هغه پخپله د الله حکم منو، الله چه کوم علم ورکړے وُو د هغے مطابق ئے ژوند تیر ولو،

په ټوله دنیا کښې ئې دغه علم خورولو او دا کوشش ئې کولو چه ټول انسانان د کائناتو د بادشاه منونکی شي. دا خدمت وو چه د هغې دپاره هغه د ټولې دنیا امام او پیشوا جوړ کړے شوے وو. د هغه نه روستو د امامت دا منصب د حضرت اسحاقؑ او د حضرت یعقوبؑ نسل ته ملاؤ شو او نوم ئې بنی اسرائیل شو. په دے نسل کښې پیغمبران پیدا کیدل، هم دے نسل ته د نیغې لارے علم ورکړے شو او دا خدمت ورحواله کړے شو چه د ټولې دنیا قومونو ته دا نیغه لار ورو ښائی، او دا هغه لوئ نعمت وو چه الله تعالیٰ ئې د دے نسل خلقو ته بار بار وریاده وی. دے نسل د حضرت سلیمانؑ په زمانه کښې بیت المقدس ځان له خپل مرکز جوړ کړو. او تر څو چه دا نسل د امامت په منصب باندې قائم وو تر هغې پورے بیت المقدس د مسلمانانو قبله وه او د الله طرفته د دعوت مرکز وو.

(۴) په تیرو لسو رکوعګانو کښې الله تعالیٰ بنی اسرائیلو ته د هغوئ تاریخی جرمونه او د هغوئ هغه حالت چه د قرآن د نازلیدلو په وخت کښې وو، بالکل ټیک ټیک پیش کړو او هغوئ ته ئې دا ظاهره کړه چه مونږ تاسو له کوم نعمت درکړے وو، تاسو د هغې هډو قدر ونه کړو، یو اځے دا نه چه تاسو د امامت د منصب حق ادا نه کړو بلکه پخپله هم د حق نه پشا شوئ. او اوس د ډیرو لږ ونیکانو خلقونه علاوه ستاسو په ټول امت کښې څه لیاقت او صلاحیت نه دے پاتے شوے.

(۵) د دے نه روستو هغوئ ته اوس دا ظاهره وی چه امامت څه د ابراهیمؑ د نسل میراث نه دے بلکه دا د هغې رښتنے فرمانبرداری نتیجه ده کوم چه زمونږ بنده ابراهیمؑ کړی وه، او د دے امامت حقدار صرف هغه خلق دی، څوک چه پخپله د ابراهیمؑ په طریقه روان شو او دا کوشش ئې وکړو چه د ټولې دنیا خلق په دے لاره روان شي. خو اوس تاسو دغه طریقه پریښودلے ده او د دغے خدمت کولو لیاقت درکښې نشته، نو د دے وجے نه د امامت منصب ستاسو نه اغستلے کیږی.

(۶) ورسره په اشارو اشارو کښې دا هم ښائی چه غیر اسرائیلی قومونه د موسیٰ او د عیسیٰ علیهما السلام په واسطه ځان د حضرت ابراهیمؑ سره تړی، هغوئ هم ابراهیمی طریقه پریښودلی ده. دغه شان د عربو مشرکان هم دی چه صرف د ابراهیمؑ او اسماعیل علیهما السلام سره په تعلق باندې او په نسل او نسب باندې فخر کوی، خو اوس د ابراهیمؑ او د اسماعیلؑ د طریقو نه ډیر لرے تلی دی. په دے وجه باندې په دوئ کښې هم څوک د امامت حقدار نه دی.

(۷) بیا دا خبره کیږی چه اوس مونږه د ابراهیمؑ په بل شاخ بنی اسماعیلؑ کښې هغه رسولؐ پیدا کړے دے، چه د هغې دپاره ابراهیمؑ او اسماعیلؑ دعا کړی وه. د هغه طریقه هم هغه ده کومه چه د ابراهیمؑ، اسماعیلؑ، اسحاقؑ، یعقوبؑ او د نورو پیغمبرانو وه. هغه او د هغه امتیان د هغې ټولو پیغمبرانو تصدیق کوی کوم چه د خدائے د طرفنه دنیا ته راغلی دی او د خدائے لارے ته خلق رابلی. نو اوس په دے وجه د امامت حقدار صرف هغه خلق دی څوک په دے رسول پسے روان شو.

(۸) د امامت د بدلیدو د اعلان سره قدرتی طور د قبلے د بدلیدو اعلان هم ضروری وو. تر څو پورے چه د بنی اسرائیلو د امامت دور وو تر هغې بیت المقدس د اسلام مرکز وو او د مسلمانانو قبله هم وه. پخپله د نبی عربی صلی الله علیه وسلم او د هغه د امتیانو د دغے وخته پورے بیت المقدس قبله وه. خو کله چه د بنی اسرائیلو نه د امامت منصب واغستلے شو نو د بیت المقدس د مرکز حیثیت پخپله ختم شو.

وَاِذِ ابْتَلٰٓى اِبْرٰهٖمَ رَبُّهٗ بِكَلِمٰتٍ فَاَتَمَّهُنَّ ؕ قَالَ اِنِّىْ جَاعِلُكَ
لِلنَّاسِ اِمَامًا ؕ قَالَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِىْ ؕ قَالَ لَا يَنَالُ عَهْدِى الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۲۴﴾
وَاِذْ جَعَلْنَا الْبَيْتَ مَثَابَةً لِّلنَّاسِ وَاَمْنًا ؕ وَاتَّخِذُوْا مِنْ مَّقَامِ

یاد کړئ کله چه ابراهیم خپل رب په څو خبرو کښے وآزمائیلو او هغه[۱۲۴] په هغے ټولو کښے پوره وختلو، نو الله ورته وویل: "زه د ټولو خلقو د پاره تا پیشوا جوړه وم." ابراهیم عرض وکړو: "آیا دا وعده زما د اولاد سره هم ده." الله جواب ورکړو: "زما وعده د ظالمانو سره تعلق نه لري[۱۲۵]."
او دا (یاد کړئ) چه مونږ دا کور (کعبه) د خلقو د پاره مرکز او د امن ځائے ګرزولے وو او خلقو ته مو دا حکم کړے وو

د دے وجے نه دا اعلان وشو چه اوس د الله د دین مرکز هغه ځائے دے د کوم ځائے نه چه د دے رسول دعوت شروع شو. او په اول کښے خو د ابراهیمؑ د دعوت مرکز هم دا ځائے وو نو په دے وجه د اهلِ کتابو او د مشرکانو بغیر د دے نه بله لار نشته چه دا ومنی، چه د قبلے جوړیدلو د پاره زیات حق د کعبے دے. د ضد خبره بیله ده چه هغوئ حق حق منی او بیا هم اعتراض کوی.

(۹) کله چه د محمد صلی الله علیه وسلم د اُمتیانو د امامت او د کعبے د مرکز جوړیدو اعلان وشو نو د هغے نه روستو الله تعالیٰ د نور لسمے رکوع نه راواخله تر د سورة بقرے د آخره پورے مسلسل دے اُمت ته هغه هدایات ورکړی دی، چه په هغے باندِ هغوئ له عمل کول پکار دی.

[۱۲۴] د ټولو انسانانو د امام او د رهنما جوړیدلو د پاره چه حضرت ابراهیمؑ د کومو سختو آزمیښتونو نه تیر شویدے او ځان ئے د امامت اهل ثابت کړے دے د هغے ټولو سختو تفصیل په قرآن کښے په مختلفو ځایونو کښے بیان شوے دے. حق چه د کوم وخت نه هغه ته ښکاره شوے دے د هغے وخت نه راواخله تر د مرګه پورے د هغه ټول ژوند بس قربانی قربانی وه. په دُنیا کښے چه انسان د څومره څیزونو سره محبت لری، په هغے کښے داسے یو څیز نه وو چه هغه ابراهیمؑ د حق د پاره قربان کړے نه وو او په دُنیا کښے چه انسان د څومره خطرونه برېږی، په هغے کښے یوه خطره هم داسے نه وه چه هغه ابراهیمؑ د حق په لار کښے برداشت کړی نه وه.

[۱۲۵] یعنی دا وعده ستا د نیکانو صالحانو اولاد سره تعلق لری. ستا په اولاد کښے چه کوم ظالمان وی د هغوئ د پاره دا وعده نه ده. د دے نه دا خبره پخپله ظاهره شوه چه ګمراهه یهودی او مشرک بنی اسماعیل په دے وعده کښے نشی راتلے.

إِبْرٰهِمَ مُصَلًّى ۖ وَعَهِدْنَآ إِلٰٓى إِبْرٰهِمَ وَإِسْمٰعِيلَ أَن طَهِّرَا بَيْتِىَ
لِلطَّآئِفِينَ وَالْعَٰكِفِينَ وَالرُّكَّعِ السُّجُودِ ﴿١٢٥﴾ وَإِذْ قَالَ إِبْرٰهِمُ
رَبِّ ٱجْعَلْ هٰذَا بَلَدًا ءَامِنًا وَٱرْزُقْ أَهْلَهُۥ مِنَ ٱلثَّمَرَٰتِ مَنْ
ءَامَنَ مِنْهُم بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ ۖ قَالَ وَمَن كَفَرَ فَأُمَتِّعُهُۥ
قَلِيلًا ثُمَّ أَضْطَرُّهُۥٓ إِلٰى عَذَابِ ٱلنَّارِ ۖ وَبِئْسَ ٱلْمَصِيرُ ﴿١٢٦﴾

چه ابراهیمؑ په کوم ځائے کښے د عبادت دپاره ودریږی دهغے ځائے نه مستقل د مونځ ځائے جوړ کړی، او ابراهیمؑ او اسمٰعیلؑ نه موده تاکید کړے وو چه زما دا کور د طواف اوه اعتکاف کونکو اود رکوع اوه سجدے کونکو دپاره پاک ساتئ۔[۱۲۶]

او دا (یاد کړئ) چه ابراهیمؑ دُعا وکړه: "اے زما ربه، دے بنار نه د امن بنار جوړ کړے، او دے په وسیدونکو کښے چه څوک الله او آخرت منی، هغوئ ته د هر قسم میوے ورکړے۔" په جواب کښے خپل رب وفرمائیل: "او چه چا وُنه منل هغه له به هم د دنیا د ژوند سامان ورکوم،[۱۲۷] خو آخر به ے د جهنّم عذاب ته راکاږم، او هغه بد ترین ځائے دے۔"

۱۲۶ د پاک ساتلو مراد صرف دا نه دے چه د خزلو نه د پاک وساتے شی۔ د خدائے د کور اصل پاکی داده چه په هغے کښے د خدائے د نوم نه بغیر د بل چا نوم وانه خستلے شی۔ چا چه د خدائے په کور کښے د خدائے نه بغیر بل چا ته د مالک، د معبود، د حاجت پوره کونکی او د فریاد اورېدونکی په حیثیت آواز کړو، هغه په حقیقت کښے د خدائے کور کنده کړو۔ په دے آیت کښے د قریشو د مشرکانو دے جُرم ته یوه زمه نشان اشاره شوی ده چه دا ظالمان خو د ابراهیمؑ او اسمٰعیلؑ په میراث باندے فخر کوی، خو دوئ د میراث د حق ادا کولو پسے ځائے الټاد غه حق تباه کوی۔ د غه وجه ده چه کومه وعده د ابراهیمؑ سره شوی وه، په د غه وعده کښے لکه څنګه چه بنی اسرائیل نه راځی، د غه شان دا مشرکان د بنی اسماعیل پکښے هم نه راځی۔

۱۲۷ حضرت ابراهیم علیه السلام چه د امامت د منصب په باره کښے کوم تپوس کړی وو، د هغے په جواب کښے ورته وئیلے شوی وو چه د دغے منصب وعده صرف ستا د نیکانو صالحانو اولادره ده، د ظالمانو سره نه ده۔ نو بیا چه کله حضرت ابراهیمؑ د رزق دپاره دُعا کوله نو د خدائے د دغه فرمان خیال ئے وساتلو او صرف د مومن اولاده پاره ئے دُعا وغوښتله، خو خدائے ورله د رجواب ورکړو او دا ئے ورته وئیل چه دوکه نه څه نیک صالح امامت خان له څیز دے

وَاِذْ يَرْفَعُ اِبْرٰهٖمُ الْقَوَاعِدَ مِنَ الْبَيْتِ وَاِسْمٰعِيْلُ ؕ رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا
اِنَّكَ اَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿۱۲۷﴾ رَبَّنَا وَاجْعَلْنَا مُسْلِمَيْنِ لَكَ وَمِنْ
ذُرِّيَّتِنَآ اُمَّةً مُّسْلِمَةً لَّكَ ۖ وَاَرِنَا مَنَاسِكَنَا وَتُبْ عَلَيْنَا ۚ اِنَّكَ
اَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ ﴿۱۲۸﴾ رَبَّنَا وَابْعَثْ فِيْهِمْ رَسُوْلًا مِّنْهُمْ يَتْلُوْا عَلَيْهِمْ
اٰيٰتِكَ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَيُزَكِّيْهِمْ ؕ اِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِيْزُ
الْحَكِيْمُ ﴿۱۲۹﴾ ع وَمَنْ يَّرْغَبُ عَنْ مِّلَّةِ اِبْرٰهٖمَ اِلَّا مَنْ سَفِهَ نَفْسَهٗ ؕ

او یاد کړئ کله چه ابراهیمؑ او اسمٰعیلؑ دَ دے کور دیوالونه وَچتول، نو دُعا به ئے کوله: "اے زمونږ ه ربه، زمونږ دَ طرفنه دا خدمت قبول کړے، تهٔ دَ هر چا خبرے اوریدونکے او په هر څه پوهیدونکے یئے۔ اے ربه، مونږ دواړه خپل مسلمانان (فرمانبرداران) جوړ کړے، زمونږ دَ نسل نه یو داسے قوم راپورته کړے چه ستا فرمان منونکی مسلمانان یئ، مونږ ته دَ خپل عبادت طریقے وَښایه، زمونږ ګناهونه مونږ ته معاف کړه، تهٔ ډیر معاف کونکے او رحم کونکے یئ۔ او اے ربه، په دے خلقو کښے دَ دے خپل قوم نه یو داسے رسول راپورته کړے چه هغوئ ته ستا آیتونه واوره وی، هغوئ ته دَ کتاب او دَ حکمت تعلیم ورکړی او دَ هغوئ ژوند پاک او صفا کړی۔[۱۲۸] تهٔ ډیر طاقت والا او حکمت والا یئے۔[۱۲۹]

او س داسے څوک دی چه دَ ابراهیمؑ دَ طریقے نه نفرت وَکړی؟ دَ هغه چا نه بغیر چه ځان ئے پخپله بیوقوف کړے او جاهل کړے وی، بل څوک دا حرکت کولے شی؟

او دَ دُنیا رزق ځان نه څیز دے۔ نیک صالح امامت به صرف نیکانو مؤمنانو ته ملاویږی، خو دَ دُنیا رزق به مؤمنانو او کافرانو ټولو ته ورکړے کیږی۔ دَ دے نه دا خبره پخپله معلومه شوه چه که چرے چا ته دَ دُنیا رزق ډیر ملاویږی نو هغه ډیر په دے نهٔ دوکه کیږی چه الله ګنی دَ دَ ئه نه راضی هم دے او دَ امامت مستحق هم دے۔

[۱۲۸] دَ پاک او صفا ژوند نه مراد دا دے چه دَ خلقو خیالات، اخلاق، عادتونه، یو بل سره میل ملاپ، کلے کلونیغی، سیاست، غرض دا چه هر څیز پاک او صحیح شی۔

وَلَقَدِ اصْطَفَيْنٰهُ فِي الدُّنْيَا ۚ وَاِنَّهٗ فِي الْاٰخِرَةِ لَمِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۱۳۰﴾
اِذْ قَالَ لَهٗ رَبُّهٗٓ اَسْلِمْ ۙ قَالَ اَسْلَمْتُ لِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۳۱﴾ وَوَصّٰى بِهَآ
اِبْرٰهٖمُ بَنِيْهِ وَيَعْقُوْبُ ؕ يٰبَنِيَّ اِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰى لَكُمُ الدِّيْنَ
فَلَا تَمُوْتُنَّ اِلَّا وَاَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴿۱۳۲﴾ ؕ اَمْ كُنْتُمْ شُهَدَآءَ اِذْ حَضَرَ
يَعْقُوْبَ الْمَوْتُ ۙ اِذْ قَالَ لِبَنِيْهِ مَا تَعْبُدُوْنَ مِنْۢ بَعْدِيْ ؕ قَالُوْا
نَعْبُدُ اِلٰهَكَ وَاِلٰهَ اٰبَآئِكَ اِبْرٰهٖمَ وَاِسْمٰعِيْلَ وَاِسْحٰقَ اِلٰهًا

ابراهیمؑ خو هغه سړے دے، چه مونږه په ټوله دُنیا کښے دَ خپل کار دپاره غوره کړے وُو او په آخرت کښے به هغه په صالحانو کښے شماریږی. دَ هغه دا حال وُو چه کله ورته خپل رب اُووئیل چه مسلمان شه[۱۳۰]، نو زرئے اُووئیل چه "زهٔ دَ کائناتو دَ مالک مُسلمان شوم". هغه خپل اولاد ته په دے طریقه باندِ دَ تللو وصیت کړے وُو او هم دغه وصیت یعقوبؑ[۱۳۱] خپل اولاد ته وکړو. هغه ورته وئیلی وُو چه "زما بچو، الله ستاسو دپاره دا[۱۳۲] دین غوره کړیدے دے. لهٰذا دَ مرګه پورے مسلمانان وُ سیږئ". بیا وَلے تاسو په هغه وخت کښے موجود وئ څه چه کله یعقوبؑ دَ دے دُنیا نه رخصتیدلو؟ هغه دَ مرګ په وخت کښے دَ خپلو بچو نه تپوس وکړو چه: "بچو، زما نه روستو به تاسو دَ چا بندګی کوئ؟" هغوئ ټولو په جواب کښے اُووئیل چه: "مونږ به دَ هغے یو خدائے بندګی کوُو کوم چه ستا او ستا دَ مشرانو دَ ابراهیمؑ، دَ اسماعیلؑ او دَ اسحاقؑ خدائے وُو.

۱۲۹ دَ دے مقصد دا دے چه دَ محمد صلی الله علیه وسلم دنیا ته راتلل په اصل کښے دَ حضرت ابراهیم علیه السّلام دَ دُعا جواب دے.

۱۳۰ مُسلِم: هغه ته وائی چه خدائے ته دَ فرمانبرداری سرښکته کړی، خدائے خپل مالک، آقا، حاکم او دَ عبادت لائق وُ منی، چه خپل ځان ټول خدائے ته حواله کړی او دَ خدائے دَ طرفنه چه کوم هدایت راغلے دے دَ هغے مطابق په دُنیا کښے ژوند تیر کړی. په دے طریقه عمل کول او دا عقیده ساتل "اسلام" دے او هم دا دَ ټولو هغو پیغمبرانو دین وُو کوم چه دَ دنیا مختلف ملکونو او قومونو ته راغلی دی.

۱۳۱ دَ حضرت یعقوبؑ ذکر ئے پکښے خاص طور ځکه وکړو چه بنی اسرائیل دَ دهٔ اولاد وُو.

۱۳۲ دین، یعنی دَ ژوند تیرونو طریقه، دَ ژوند نظام، هغه آئین چه په هغے باندِ په دُنیا کښے انسان دَ خپلو ټولو فکرونو او دَ خپلو ټولو کارونو بنیاد جوړ کړی.

وَّاحِدًا ۚ وَّنَحْنُ لَهٗ مُسْلِمُوْنَ ﴿۱۳۳﴾ تِلْكَ اُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ ۚ لَهَا مَا
كَسَبَتْ وَلَكُمْ مَّا كَسَبْتُمْ ۚ وَلَا تُسْـَٔلُوْنَ عَمَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۳۴﴾ وَقَالُوْا
كُوْنُوْا هُوْدًا اَوْ نَصٰرٰى تَهْتَدُوْا ؕ قُلْ بَلْ مِلَّةَ اِبْرٰهٖمَ حَنِيْفًا ؕ وَمَا

او مونږه هم دَ هغه مُسلمانان یُو" ۱۳۳

هغه خو څه خلق وُو، چه تیر شول. څه چه هغوئ کټلی، هغه دَ هغوئ دپاره دی او څه چه تاسو کټئ هغه به ستاسو دپاره وی. ستاسو نه به دا تپوس نهٔ کیږی چه هغوئ څه کول ۱۳۴

یهودیان وائی که یهودیان شوئ نو هله به صحیح لارے ته راشئ. عیسایان وائی که عیسایان شوئ نو هله به درته هدایت نصیب شی. دوئ ته اُووایه چه "نا، داسے نهٔ ده هر څه پریږدئ یوه دَ ابراهیم طریقه ده.

۱۳۳ په بائیبل کښے دَ حضرت یعقوبؑ دَ وفات حال ډیر په تفصیل سره لیکلے شوے دے، خو دَ دے وصیت پکښے هډو ذکر نشته. البته په تلمود کښے چه دَ وصیت کوم تفصیل درج دے هغه دَ ډیره حده پورے دَ قرآن دَ بیان سره یو شان دے. په هغے کښے دَ حضرت یعقوبؑ دَ خُلے دا الفاظ دی:

"دَ خپل مالک خدائے بندګی کوئ، هغه به تاسو دَ ټولو آفتونو نه داسے بچ کړی لکه څنګه چه ستاسو پلارنیکو نه بچ کوی..... دَ خپلو بچو دَ خدائے سره محبت پیدا کړئ او دَ خدائے دَ حکمونو تعلیم ورله ورکړئ چه ژوندئے ډیر شی، ځکه چه خدائے دَ هغه چا حفاظت کوی چه دَ حق سره کار کوی او دَ خدائے په لاره باندِ ټیک ټیک روان وی." په جواب کښے ورته خپلو بچو اُووئیل: "څه چه راته تا اووئیل مونږ به دَ هغے مطابق عمل کوو. خدائے دِ زمونږ مل وی." بیا یعقوبؑ اُووئیل: "که چرے تاسو دَ خدائے دَ لارے نه اخوادیخوانهٔ شولئ نو خدائے به ضرور ستاسو مل وی."

۱۳۴ یعنی که تاسو دَ هغوئ اولاد هم یئ خو په حقیقت کښے دَ هغوئ ستاسو سره څه واسطه نشته. چه تاسو دَ هغوئ په طریقه باندِ نهٔ ځئ نو دَ هغوئ دَ نوم اغستلو حق هم تاسو ته نشته. دَ خدائے په دربار کښے به ستاسو نه دا تپوس نهٔ کیږی چه ستاسو پلارنیکو نو څه کول، بلکه دا تپوس به کیږی چه تاسو څهٔ کول.

او دا چه وے فرمائیل چه "څه هغوئ کټلی هغه دَ هغوئ دپاره دی او څه چه تاسو کټئ هغه به تاسو دپاره وی." نو دا دَ قرآن دَ بیان یو خاص انداز دے. مونږ چه کوم څیز ته کار یا عمل وایو، قرآن په خپله ژبه کښے هغے ته کسب یا کټه وائی. زمونږ دهر کار بنه یا خرابه نتیجه وی، چه دَ خدائے دَ خوشحالئ یا دَ خفګان په شکل کښے به ظاهر یږی. دغه نتیجه زمونږ کټه ده. دَ قرآن په نظر کښے اصلی اهمیت دَ دے نتیجے دے، او په دے وجه هغه اکثر زمونږ کارونو ته دَ "عمل یا دَ فعل" پځائے دَ "کسب" لفظ استعمالوی.

كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿۱۳۵﴾ قُوْلُوْٓا اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَمَآ اُنْزِلَ اِلَيْنَا وَمَآ
اُنْزِلَ اِلٰٓى اِبْرٰهٖمَ وَاِسْمٰعِيْلَ وَاِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ وَالْاَسْبَاطِ وَمَآ اُوْتِيَ
مُوْسٰى وَعِيْسٰى وَمَآ اُوْتِيَ النَّبِيُّوْنَ مِنْ رَّبِّهِمْ ۚ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ اَحَدٍ

او ابراهیمؑ دَ مشرکانو نه نۀ ۱۳۵ وُو. "اے مُسلمانانو اُووایئی چه "مونږ ایمان راوړے دے په الله باندِ او په هغے هدایت باندِ چه مونږ ته نازل شوے دے، او چه ابراهیمؑ، اسماعیلؑ، اسحٰقؑ، یعقوبؑ او دَ یعقوبؑ اولادَ ته نازل شوے وُو، او چه موسیٰؑ او عیسیٰؑ او نورو ټولو پیغمبرانو ته دَ خپل رب دَ طرفنه ورکړے شوے وُو. مونږ دَ هغوئ په مینځ کښے هیڅ فرق

۱۳۵ په دے جواب کښے یوه ښکلے باریکی ده، په هغے باندِ دَ ځان پوهه کولو دپاره دوه خبرے په خیال کښے ساتئ یوه دا چه یهودیت او عیسائیت دواړه مذهبونه روستو پیدا شوی دی. "یهودیت" چه دَ کوم مذهب او دَ کومو رسمونو ریواجونو نوم دے هغه دَ مسیح نه مخکښے په دریمه څلورمه صدئ کښے پیدا شوے دے. او "عیسائیت" چه دَ کومو عقیدو او مذهبی خیالاتو نوم دے دا خو دَ مسیحؑ نه هم ډیره موده روستو پیدا شوے دے. اوس دا سوال پخپله پیدا کیږی چه که چرے یهودیت یا عیسائیت دَ انسان دَ هدایت دپاره شرط شی، نو حضرت ابراهیمؑ او نور پیغمبران او نیکان خلق چه دَ دے مذهبونو نه ډیرے صدئ مخکښے پیدا شوی وُو او دا یهودیان او عیسایان هم دا منی چه هغوئ په هدایت باندِ وُو، نو آخر هغوئ دا هدایت دَ کوم ځائے نه حاصل کړے وُو؟ ښکاره خبره ده چه هغه یهودیت او عیسائیت خو نۀ وُو. دا خبره پخپله واضحه شوه چه دَ انسان دَ هدایت دپاره هغه مذهبی خاصیتونه شرط نۀ دی چه دَ هغے په وجه دا یهودیان او عیسایان وغیره په خپله ډیرے ډلے جوړے شولے، بلکه دَ انسان دَ هدایت دپاره په هغے نیغه لارتلل شرط دی کومے ته چه صراط مستقیم وائی او په کومه باندِ چه هر کله انسان تلے دے نو هدایت ئے موندلے دے.

بله دا چه په خپله دَ یهودیانو او دَ عیسایانو خپل کتابونه په دے ګواه دی چه ابراهیمؑ دَ یو الله نه بغیر دَ بل چا عبادت، پاکوالے، بندګی او اطاعت نۀ منلو او دَ هغه تبلیغی کار دا وُو چه دَ خدائے په صفتونو کښے دَ الله سره بل څوک شریک نۀ شی. اوس دا بالکل ظاهره ده چه یهودی او عیسائی مذهبونه دواړه دَ حضرت ابراهیمؑ دَ لارے نه بے لارے شوی دی ځکه چه په دواړو مذهبونو کښے دَ شرک ګډون شوے دے.

مِنْهُمْ ۖ وَنَحْنُ لَهٗ مُسْلِمُوْنَ ﴿۱۳۶﴾ فَاِنْ اٰمَنُوْا بِمِثْلِ مَآ اٰمَنْتُمْ بِهٖ
فَقَدِ اهْتَدَوْا ۚ وَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنَّمَا هُمْ فِيْ شِقَاقٍ ۚ فَسَيَكْفِيْكَهُمُ اللّٰهُ
وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿۱۳۷﴾ ؕ صِبْغَةَ اللّٰهِ ۚ وَمَنْ اَحْسَنُ مِنَ اللّٰهِ صِبْغَةً ۫

نه کوؤ او[۱۳۶] مونږ دَ الله مسلمانان یُو."

بیا که چرے هغوئ دغه شان ایمان راوړو لکه څنګه چه تاسو راوړے دے، نو په هدایت باندې دی، او که چرے دَ دے نه ئے مخ واړه وُو، نو صفا خبره ده چه هغوئ په ضد کښے پراته دی. خو اطمینان لرئ چه دَ هغوئ په مقابله کښے الله ستاسو دَ حمایت دپاره کافی دے. هغه هر څه اوری او په هر څه باندې پوهه دے.

ورته اُووایه چه "دَ الله په رنګ کښے رنګ شئ"[۱۳۷] دَ هغه دَ رنګ نه به بل ښه رنګ دَ چا وی؟

---

۱۳۶ دَ پیغمبرانو په منځ کښے دَ فرق نه کولو مطلب دا دے چه مونږ دَ هغوئ په منځ کښے داسے فرق نه کوؤ چه فلانے په حقه وُو او فلانے په حقه نه وُو یا دا چه مونږ فلانے منو او فلانے نه منو. دا خو هر چا ته معلومه ده چه دَ خدائے دَ طرفنه څو مره پیغمبران راغلی دی هغوئ ټولو یو صداقت او یوے نیغے لارے ته خلق رابللی دی. نو کوم سړے چه په صحیح معنو کښے حق پرست وی، دَ هغه دپاره بغیر دَ دے نه بله لار نشته چه ټول پیغمبران په حقه ومنی. کوم خلق چه یو پیغمبر منی او بل نه منی، هغوئ په حقیقت کښے په هغے پیغمبر پسے هم نه ځی کوم چه هغوئ منی، ځکه چه هغوئ په اصل کښے هغه صراط مستقیم نه دے موندلے. کوم چه حضرت موسیٰ یا حضرت عیسیٰ یا نورو پیغمبرانو خلقو ته ښودلے وُو، بلکه هغوئ صرف دَ پلار نیکه دَ پیروئ په وجه یو پیغمبر منی. دَ هغوئ اصلی مذهب دَ نسل پرستئ طرفداری ده او دَ پلار نیکه په پټو سترګو پیروی ده، دَ یو پیغمبر پیروئ ئے مذهب نه دے.

۱۳۷ دَ دے آیت دوه ترجمے کیدے شی، یوه دا چه "مونږ دَ الله رنګ اختیار کړو"، بله دا چه "دَ الله په رنګ کښے رنګ شئ." دَ عیسائیت نه مخکښے دَ یهودیانو داریواج وُو چه څوک به دَ هغوئ په مذهب کښے داخل شو نو هغه له به ئے غسل ورکولو او دَ هغوئ په خیال کښے دَ دے غسل ورکولو مطلب دا وُو چه دَ دهٔ نه ګناهونه لرے شول او دهٔ دَ ژوندیو نوے رنګ اختیار کړو. روستو داریواج عیسائیانو هم شروع کړو دے ته هغوئ اصطباغ یعنی بپتسمه وائی. دا اصطباغ به ئے هغه خلقو له هم ورکولو چه دَ هغوئ په مذهب کښے به داخل شوا وخپلو بچو له به ئے هم ورکولو (دَ اصطباغ نه مراد غسل ورکول دی) دَ دے په حقله ورته قرآن وائی چه په دے رسمی او ریواجی رنګ ورکولو کښے څه دی؟ دَ الله په رنګ کښے رنګ شئ، دا داسے رنګ دے چه په غسل ورکولو سره پرِ سړے نه رنګ کیږی بلکه دَ الله په بندګئ سره پرِ سړے رنګ کیږی.

وَنَحْنُ لَهٗ عٰبِدُوْنَ ﴿۱۳۸﴾ قُلْ اَتُحَآجُّوْنَنَا فِی اللّٰهِ وَهُوَ رَبُّنَا وَرَبُّكُمْ ۚ وَلَنَا
اَعْمَالُنَا وَلَكُمْ اَعْمَالُكُمْ ۚ وَنَحْنُ لَهٗ مُخْلِصُوْنَ ﴿۱۳۹﴾ اَمْ تَقُوْلُوْنَ اِنَّ
اِبْرٰهٖمَ وَاِسْمٰعِیْلَ وَاِسْحٰقَ وَیَعْقُوْبَ وَالْاَسْبَاطَ كَانُوْا هُوْدًا اَوْ
نَصٰرٰی ؕ قُلْ ءَاَنْتُمْ اَعْلَمُ اَمِ اللّٰهُ ؕ وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ كَتَمَ شَهَادَةً

او مونږ دَ هغه بندګی کونکی مخلوق یُو."

اے نبیؐ ادوئ ته وُوایه چه "آیا تاسو دَ خدائے په باره کښے زمونږ سره جګړے کوئ؟ حالانکه هغه زمونږه رب هم دے او ستاسو رب هم دے[۱۳۸]. زمونږ عملونه زمونږ د پاره دی، او ستاسو عملونه ستاسو د پاره دی، او مونږه بندګی خالص دَ الله د پاره کوؤ[۱۳۹]. او که نه تاسو دا وایئ چه ابراهیمؑ، اسماعیلؑ، اسحٰقؑ، یعقوبؑ او دَ یعقوبؑ اولاد ټول یهودیان یا عیسایان وُو؟ ورته وُوایه چه تاسو زیات عِلم لرئ که الله؟[۱۴۰] دَ هغه سړی نه به بل زیات ظالم څوک وی، چه دَ هغه په ذمه باندِ دَ الله دَ طرفنه یوه ګواهی وی او دے

---

[۱۳۸] یعنی مونږ خو دا وایو چه الله زمونږ دَ ټولو رب دے او دَ هغه فرمان منل پکار دی. دا هم څه خبره ده چه په دے باندِ تاسو زمونږ سره جګړه کوئ؟ که جګړه کوؤ نو مونږ له پکار دی چه جګړه وُکړو، تاسو له نه دی پکار، ځکه چه دَ الله نه بغیر بل څوک دَ بندګئ لائق تاسو جوړه وئ مونږه ئے نه جوړه وُو.
دَ "اَتُحَآجُّوْنَنَا فِی اللّٰهِ" یوه ترجمه دا هم کیدے شی چه "آیا ستاسو جګړه زمونږ سره فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ ده؟" دَ دے ترجمے مطابق به ئے مطلب دا وی چه که چرے واقعی ستاسو دا جګړه دَ خدائے د پاره ده او دَ خپل نفس د پاره نه ده، نو بیا دا ډیره په آسانه حل کیدے شی.

[۱۳۹] یعنی تاسو دَ خپلو عملونو ذمه وار یئ او مونږه دَ خپلو عملونو. تاسو که خپله بندګی تقسیم کړیده او دَ الله سره مونږ څوک په خدائیئ کښے شریک کړی دی او دَ هغوئ عبادت او اطاعت کوئ، نو دا ستاسو خپله خوښه ده، دَ دے انجام به پخپله اُوونئ. مونږه په زور دَ دے نه تاسو نه منع کوؤ. لیکن مونږه خپله بندګی، اطاعت او عبادت خالص دَ الله د پاره کوؤ. که چرے تاسو دا وُمنئ چه مونږ له هم دَ داسے کولو اختیار شته دے، نو بیا به دا جګړه پخپله ختم شی.

[۱۴۰] دا خبره هغه جاهلانو یهودیانو او عیسایانو ته شوی ده چه واقعی دَ هغوئ دا خیال وُو چه پیغمبران ټول یهودیان او عیسایان وُو.

عِنْدَهٗ مِنَ اللّٰهِ ؕ وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۴۰﴾ تِلْكَ اُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ ۚ
لَهَا مَا كَسَبَتْ وَلَكُمْ مَّا كَسَبْتُمْ ۚ وَلَا تُسْـَٔلُوْنَ عَمَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۴۱﴾ ع

سَيَقُوْلُ السُّفَهَآءُ مِنَ النَّاسِ مَا وَلّٰىهُمْ عَنْ قِبْلَتِهِمُ الَّتِيْ
كَانُوْا عَلَيْهَا ؕ قُلْ لِّلّٰهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ ؕ يَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ
اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۱۴۲﴾ وَكَذٰلِكَ جَعَلْنٰكُمْ اُمَّةً وَّسَطًا

هغه پته کړي؛ ستاسو د کارونو نه الله څه نا خبره خو نه ده[۱۴۱] ـــــ هغه څه خلق وُوچه ټير شول. د هغوئ کتّه د هغوئ ډاډ وه او ستاسو کتّه ستاسو ډاډ ه. ستاسو نه به د هغوئ د عملونو په باره کښه تپوس نه کيږي ع.

ناپوهو خلق به ضرور دا وائي چه دا په دوئ څه وُشول چه د مونځ کولو د دغه قبلے نه مونځ کولو ته يې مخ واړول[۱۴۲]؟ اے نبيؐ دوئ ته وُوايه چه "مشرق او مغرب ټول د الله دی. د الله چه چا نه خوښ وی هغه نه سيده لاره بنائي"[۱۴۳]. او دغه شان خو مونږه ستاسو نه "اُمّتِ وَسَط" جوړ کړے دے

[۱۴۱] دا خطاب د هغوئ عالمانو نه دے، هغوئ پخپله د دے حقيقت نه بښه خبر وُوچه موجوده يهودی او عيسائی مذهبونه د پيروستو پيدا شوی دی، خو بيا هم د هغوئ دا خيال وُوچه حق زمونږ په ډلو کښے دے، او عوام بهٔ هم په دے دوکه کښے ساتل چه د پيغمبرانو نه د پيروه موده روستو د هغوئ عالمانو او صوفيا نو چه کوم عقيدے، کوم طريقے او کوم اجتهادی قاعدے جوړ کړی دی، د هغے مطابق به ژوند تيرولو کښے د انسان کاميابی او خلاصے دے. د دے عالمانو نه چه به کله دا تپوس وُشو، چه کله د اخبره وی، نو بيا حضرت ابراهيم، اسمٰعيل، اسحٰق، يعقوب وغيره پيغمبرانو عليهم السلام ستاسو کوم ډلے سره تعلق لرلو، نو دده به تپوس د جواب نه به ئے څان ساتلو، ځکه چه د علم په وجه به هغوئ دا نه شو وئيلے چه دده بزرګانو تعلق زمونږ د ډلے سره وُو. ليکن که چرے صفائے دا سے وئيلے چه دا پيغمبران خو نه يهوديان دی او نه عيسايان، نو بيا خو به د ټولو عقيدے لو

[۱۴۲] د هجرت نه روستو په مدينه طيبه کښے نبی صلی الله عليه وسلم د شپاړسو يا اُووُلسو مياشتو پورے بيت المقدس ته مونځ کولو. بيا کجے طرفته د مونځ کولو حکم راغے، د دے تفصيل مخکښے راځی.

[۱۴۳] دا د دے ناپوهانو د اعتراض اولنے جواب دے. د هغوئ سوچ او نظر لږ وُو، د خاص طرف او د خاص ځائے بندکان جوړ شوی وُو. د هغوئ داګمان وُوچه خدائے په يو خاص طرف کښے دے. دا د هغوئ د ناپوهتيا يو اعتراض وُو، د دے وجه نه د ټولو نه روبے د دے اعتراض جواب ورکړے شو چه مشرق او مغرب ټول د الله دی. د يو "طرف" نه د قبلے جوړولو مطلب دا نه دے چه الله په يو طرف

لِتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا ۗ

چه تاسو د دنیا په خلقو باندې گواهان شئ او رسول ۳ په تاسو باندې گواه شي ۱۴۳

گنډه ده - گومو خلقو ته چه الله هدایت کړے دے په هغوئ گنډه انسم تنگ نظری نشته، او د هغوئ دپاره هغه لا رفیع نه ده چه هغوئ پر عالمگیر حقیقتونو نه رسیدے شی۔ (او گورئ حاشیه ۱۱۵، ۱۱۶)

۱۴۳ ۱ د محمد صلی الله علیه وسلم د اُمتیانو د امامت اعلان دے۔ د لفظ "دغه شان" اشاره دوو طرفونو ته ده، د الله د رهنمایئ طرف ته هم اشاره ده چه د محمد صلی الله علیه وسلم د پیروئ په وجه مؤمنانو ته نیغه لار معلوم شوه او ترڅ ئے گولهٔ گولهٔ حتیٰ چه دے مرتبے ته راورسیدل چه "اُمتِ وسط" ترجمه کړے شو، او د قبلے د بدلیدو طرف ته هم اشاره ده چه ناپوهانو خو صرف داوتو طرفنه یاد طرفنه گرزول گنډل، خو په اصل کښے د بیت المقدس په ځائے د کعبے نه قبله جوړول د امعنیٰ لری چه الله د بنی اسرائیلو نه د پیشوایئ منصب واخستو او اُمتِ محمدؐ ته ئے حواله کړو۔

په لفظ "اُمتِ وسط" کښے دومره لویه معنیٰ پرته ده چه په ترجمے سره یو لفظ دغه معنیٰ نشی اداکولے۔ د اُمت وسط نه مراد یوه داسے اعلیٰ او غوره ډله ده، چه د عدل او د انصاف په لاره باندې ولاړه وی، چه د دنیا په قومونو کښے د صدر حیثیت لری، چه د تولو سره ئے یو شان د حق او د راستئ تعلق وی، ناروا او ناحقه تعلق ئے د هیڅ سره نه وی۔

او داچه ئے ولے دی چه تاسوم "اُمتِ وسط" د دے دپاره جوړ کړی یئ چه تاسو په خلقو باندې گواهان شئ او رسول په تاسو باندې گواه شی؟ نو د دے مطلب دادے چه کله په آخرت کښے د تولو انسانانو نه حساب افتتاح کیږی نو په هغے وخت کښے به رسول په تاسو باندې د گواهئ کوی چه هغه تاسو ته زما د طرفنه د صحیح فکر کولو، د نیک عمل کولو او د انصاف والا انتظام قایمولو تعلیم تیک تیک اپوره پوره د رسولے دے او د رسولئ تاسو ته عملی نمونه هم پیش کړی ده۔ د دے نه روستو، چونکه تاسو د رسول قایم مقام یئ، نو تاسو به په تولو انسانانو باندې د گواهئ کوئ چه رسول تاسو ته څه د رسولی وو هغه تاسو د دوئ ته پوره پوره رسولی دی او چه څنگ نمونه رسول تاسو ته پیش کړی وه هغه شان نمونه تاسو د دوئ ته پیش کړی ده۔

په دے دُنیا کښے چه څوک د خدائے د طرفنه د گواهئ کولو دپاره مقرر کړے شو، نو دا په حقیقت کښے هغه ته امامت او پیشوایئ د سپارلے شوه، په دے پیشوایئ کښے چه څومره فضیلت او عزت دے هغومره پکښے د ذمه واری لوئی بوج هم دے۔ د دے مطلب دادے لکه څنگه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د خدائے نه پیرے یا لو، په نیغه روان او په انصاف قایم وو او د حق منکرے وو، دغه شان دے اُمت له هم پکار دی چه د تولے دنیا دپاره یو نمونه جوړه شی، چه د دوئ قول او عمل ته او د خلقو سره سلوک کولو ته او د دوئ هر څیز ته د دنیا خلق د گورئ او دا ورته معلومه شی چه د خدائے نه پیرے دے ته راوئ، صحیح ژوند دا دے وی، انصاف او د حق منکر تیا خلق دا دے کوی۔ او د دے دا مطلب هم کیدے شی لکه څنگه چه د خدائے هدایت موږ ته په رسولو کښے د رسول الله صلی الله علیه وسلم ذمه واری ډیره سخته وه، که هغه

وَمَا جَعَلْنَا الْقِبْلَةَ الَّتِي كُنْتَ عَلَيْهَا إِلَّا لِنَعْلَمَ مَنْ يَتَّبِعُ الرَّسُولَ مِمَّنْ يَنْقَلِبُ عَلَىٰ عَقِبَيْهِ ۚ وَإِنْ كَانَتْ لَكَبِيرَةً إِلَّا عَلَى الَّذِينَ هَدَى اللَّهُ ۗ وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ ۚ

اول چه تاسو کوم طرفته مخ کولو، هغه خو مونږ صرف دَ دے کتلو د پاره قبله مقرر کړی وه چه څوک په رسول پسے ځی او څوک اُلټا پشا ځی۔ [۱۴۵] دا کار خو وُو ډیر سخت، خو دَ هغه خلقو د پاره هیڅ سخت نه وُو چا ته چه الله هدایت نصیب کړے وُو۔ الله به ستاسو دا ایمان هرګز نه ضایع کوی،

پکښے لږه سستی هم کړے وے نو دَ خدائے په ګرفت کښے راتلو، دغه شان دا هدایت ټولے دُنیا ته رَسول زمونږه ذمه واری ده۔ که چرے مونږ دَ خدائے په عدالت کښے دَ دے خبرے ګواهی وُنه کړے شوه چه کوم هدایت دَ الله رسول مونږ ته را رسولے وُو هغه مونږه دَ ټولے دُنیا انسانانو ته پوره پوره رسولے دے، نو مونږ به په ډیر سخت ګرفت کښے را شو، او دا دَ امامت فخر به راله دَ ډوبیدلو ذریعه جوړه شی۔ زمونږ دَ امامت په دور کښے که زمونږ دَ سستئ په وجه څومره غلطے عقیدے او غلط کارونه په دُنیا کښے خوارهٔ شول، او څومره فسادونه او فتنے دَ خدائے په زمکه کښے را پورته شولے، نو دَ نورو شریرانو او شیطانانو سره به مونږه هم په ګرفت کښے را ځو۔ مونږ نه به دا تپوس کیږی چه کله په دُنیا کښے دا دَ ګناهونو دَ ظلمونو او دَ ګمراهئ طوفان راوچت شوے وُو نو تاسو چرته مړهٔ شوی وئ۔

[۱۴۵] یعنی دَ دے دا مقصد وُو چه کوم خلق دَ جاهلیت یا دَ وینے یا دَ خاوُرے ملګرتیا کوی، او کوم خلق دَ دے پروانه ساتی او دَ حقیقت صحیح پیژندګلو کوی۔ یو طرفته دَ عربو خلق دَ خپل وطن او دَ خپل نسل په فخر کښے اخته وُو، هغوئ ته دَ عربو کعبه پریښودل او بهر بیت المقدس قبله جوړه ول ډیر ګران وُو، دا دَ هغوئ دَ قوم پرستئ بُت ماتول وُو۔ بل طرفته بنی اسرائیل دَ نسل پرستئ په غرور کښے نختی وُو او خپله دَ پلار نیکهٔ قبله بدلول ورته مشکل وُو۔ ښکاره خبره ده چه دَ کومو خلقو په زړونو کښے دَ قوم پرستئ او دَ نسل پرستئ دا خبرے وی هغوئ په هغه لاره نه شو تللے په کومه لاره چه دَ الله رسول دوئ بوتلل غوښتل۔ نو په دے وجه الله اول بیت المقدس قبله مقرر کړه چه په کومو خلقو کښے عرب قومیت وُو چه هغه دَ حق پرستو نه بیل شی۔ او بیائے دا قبله پریښودله او کعبه ئے قبله مقرر کړه چه کوم خلق دَ اسرائیل نسل پرستی کوی هغه هم دَ حق پرستو نه بیل شی۔ دغه شان دَ رسول سره هغه خلق پاتے شو چه دَ یو بُت مینه ئے په زړهٔ کښے نه وه صرف دَ خدائے مینه ئے په زړهٔ کښے وه او صرف دَ هغهٔ عبادت ګذار وُو۔

إِنَّ اللَّهَ بِالنَّاسِ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿١٤٣﴾ قَدْ نَرَىٰ تَقَلُّبَ وَجْهِكَ
فِي السَّمَاءِ ۖ فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضَاهَا ۖ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ
الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۚ وَحَيْثُ مَا كُنتُمْ فَوَلُّوا وُجُوهَكُمْ شَطْرَهُ ۗ

یقین وُکړئ چه الله دَ خلقو په حق کښې ډیر مهربانه او رحم والا دے۔

دا ستا دَ مخ بار بار آسمان طرفته وُچتیدل موږ ه وینو۔ نو بس، موږ ه هغه قبلے ته تا اړه وُو کومه چه ستا خوښه ده۔ مسجدِ حرام طرفته مخ واړه وه۔ اوس چه په کوم ځائے کښې تا سو یئ نو په مانځه کښې مخ هغے طرفته کوئ۔[۱۴۶]

[۱۴۶] دا هغه اصل حکم دے چه دَ قبلے بدلولو په باره کښې شوے وُو۔ دا حکم دَ هجرت په دویم کال په زبرګه یا دَ شوقدر په میاشت کښې نازل شو۔ دَ ابن سعد نه روایت دے، هغه وائي چه نبي صلی الله علیه وسلم دَ بشر بن براء بن مَعْرُور کړه په دعوت تلے وُو۔ هلته دَ ماسپخین وخت راغے، نبیؐ خلقو له دَ ماسپخین مونځ ورکولو، دوه رکعتونه شوی وُو او په دریم رکعت کښې دَ وحی په ذریعه دا آیت نازل شو، او هم په دغے وخت کښې نبیؐ او هغه ټولے جمعے دَ بیت المقدس نه کعبے ته مخ واړه وُو۔ دَ دے نه روستو ئے په مدینه کښې او دَ مدینے په خواؤ شا علاقه کښې دَ دے عام اعلان وُکړو۔ براء بن عازب وائي چه یو ځائے ته دَ اعلان آواز په داسے حالت کښې وُرسید وچه خلق په رکوع کښې وُو۔ دَ حکم دَ اوریدلو سره ټول خلق دَ رکوع په حالت کښې کعبے طرفته واوریدل۔ انس بن مالك وائي چه بنی سَلَمه قبیلے ته دا اطلاع په دویمه ورځ دَ سحر دَ مانځه په وخت کښې ورُ رسید له، خلقو یو رکعت کړے وُو چه په غوږونو کښې ئے دا آواز راغے چه: "خبردار شئ قبله بدله شوی ده اوس کعبه قبله ده۔" دَ دے په اوریدلو سره ټولو خلقو خپل مخ کعبے ته واړوَلو۔

بیت المقدس دَ مدینے نه شمال طرفته دے او کعبه جنوب طرفته ده۔ اوس کوره دَ قبلے دَ بدلیدو په وجه به امام دَ مقتدیانو نه شاته ځی او مقتدیان به هم دَ صفونو ټیک کولو دپاره څه نه څه مزل کوی۔ دغه وجه ده چه په بعضے روایتونو کښې دَ دے پوره تفصیل هم ذکر شوے دے۔

دَ دے وینا نه چه "ستا دَ مخ بار بار آسمان طرفته وُچتیدل موږ ه وینو" او دا چه: "موږ ه هغه قبلے ته تا اړوُو کومه چه ستا خوښه ده۔" دَ دے نه دا خبره صفا معلومه شوله چه دَ قبلے دَ بدلیدلو دَ حکم نه مخکښې نبي صلی الله علیه وسلم دَ دے په انتظار کښې وُو۔ دَ هغه پخپله دا خیال وُو چه دَ بنی اسرائیلو دَ امامت دور ختم شوے دے او دَ دے سره بیت المقدس هم ختم شو۔ اوس اصلی ابراهیمی مرکز طرفته دَ مخ کولو وخت راغلے دے۔

دَ مسجد حرام معنی ده دَ حُرمت او عزت والا جُومات۔ دَ دے نه مراد دَ عبادت هغه ځائے دے چه په منځ کښې ئے خانه کعبه پرته ده۔

وَاِنَّ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ لَيَعْلَمُوْنَ اَنَّهُ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّهِمْ ؕ وَمَا اللّٰهُ
بِغَافِلٍ عَمَّا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۴۴﴾ وَلَئِنْ اَتَيْتَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ
بِكُلِّ اٰيَةٍ مَّا تَبِعُوْا قِبْلَتَكَ ۚ وَمَآ اَنْتَ بِتَابِعٍ قِبْلَتَهُمْ ۚ وَمَا
بَعْضُهُمْ بِتَابِعٍ قِبْلَةَ بَعْضٍ ؕ وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ اَهْوَآءَهُمْ
مِّنْ بَعْدِ مَا جَآءَكَ مِنَ الْعِلْمِ ۙ اِنَّكَ اِذًا لَّمِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۴۵﴾ م

وقف لازم

کومو خلقو ته چه کتاب ورکړے شوے دو، هغوئ بنهٔ پیژنی چه (د قبلے د بدلیدلو) دا حکم د هغوئ د خپل رب د طرفنه دے او حق دے، خو د دے باوجود چه هغوئ څه کوی الله د هغے نه ناخبره نهٔ دے. که تهٔ دے اهل کتابو ته هر څنګه نښه راوړے، خو ممکنه نهٔ ده چه دوئ ستا د قبلے پیروی اوکړی او نهٔ ستا د پاره دا ممکنه ده چه تهٔ د هغوئ د قبلے پیروی اوکړے او په هغوئ کښے یوه ډله هم د بلے ډلے د قبلے پیروئ کولو ته تیار نهٔ دی، او کوم علم چه تا ته راغلے دے، د هغے د راتلو نه روستو که چرے تا د هغوئ د خواهشاتو پیروی وکړه نو دا یقینی ده چه تهٔ به په ظالمانو کښے شمار شے[۱۴۷]

کعبے طرفته د مخ کولو مطلب دا نهٔ دے چه که سړے د دنیا په هر ګوټ کښے وی نو بالکل د پوزے په سید کښے د کعبے طرفته مخ کوی. ښکاره خبره ده چه دا سے کول د هر سړی د پاره په هر ځائے کښے او په هر صورت کښے ګران دی. دغه وجه ده چه د کعبے طرفته د مخ کولو حکم شوے دے، او بالکل کعبے ته د سیدهٔ کیدو حکم نه دے شوے، د قرآن د ارشاد مطابق خو به سربزه ضرور ترمنځه وسه پورے د کعبے د صحیح طرف معلومولو کوشش کوو، خو دا څه ضروری نهٔ ده چه بالکل کعبے ته سیده طرف د معلوم کړو. چه د یو طرف په حقله د سړی دا یقین راشی چه دے طرفته کعبه ده نو بس هغے طرفته مونځ کول صحیح دی. او که چرے قبله معلومول مشکل شی، یا قبلے ته مخ کول ګران شی (مثلاً په ګاډی کښے یا په کشتئ کښے)، نو په کوم طرف باندے چه ئے د قبلے ګمان راشی یا کوم طرفته ورته مخ کول آسان شی، نو هغه طرفته د مونځ کوی. هر دومره خبره ده چه که چرے د مانځه په دوران کښے ورته د قبلے صحیح طرف معلوم شی، یا صحیح طرفته مخ کول ورته آسان شی، نو پکار دی چه په مانځه کښے هغے طرفته مخ کړی.

[۱۴۷] مطلب دا دے چه دا خلق د قبلے په باره کښے کومے خبرے کوی د هغے فیصله نهٔ دا سے کیدے شی چه تهٔ ئے په دلیلونو سره مطمئن کړے، ځکه چه هغوی ضد او طرفداری کوی او په هیڅ دلیل هغوئ د خپلے ډلے پریښودلو ته تیار نهٔ دی. او نهٔ فیصله دا سے کیدے شی چه تهٔ د هغوئ قبلے ته واوړے، ځکه چه د هغوئ څه یوه قبله خو نهٔ ده چه تهٔ د هغوئ قبلے ته واوړے او بیا د قبلے جګړه ختمه شی.

اَلَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ يَعْرِفُوْنَهٗ كَمَا يَعْرِفُوْنَ اَبْنَآءَهُمْ ؕ
وَاِنَّ فَرِيْقًا مِّنْهُمْ لَيَكْتُمُوْنَ الْحَقَّ وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۴۶﴾ اَلْحَقُّ
مِنْ رَّبِّكَ فَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُمْتَرِيْنَ ﴿۱۴۷﴾ ع وَلِكُلٍّ وِّجْهَةٌ
هُوَ مُوَلِّيْهَا فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرٰتِ ؕ اَيْنَ مَا تَكُوْنُوْا يَاْتِ
بِكُمُ اللّٰهُ جَمِيْعًا ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۱۴۸﴾

وقف منزل
وقف النبی صلی اللہ علیہ وسلم

کومو خلقو تہ چہ موږ ہ کتاب ورکړے دے، هغوئ هغه ځائے (چه دکومے نه موږ ه قبله جوړه کړیده) دا سے پیژنی لکه څنګه چه خپل اولاد پیژنی[۱۴۸]، خو په هغوئ کښے یوه ډله سره د پوهے قصداً حق پټوی. دا بالکل ستا د رب د طرفنه یو حق امر دے، نو د دے په حقله هرګز په شک کښے مه پریوځه[۱۴۹]. د هر چا د پاره یو طرف دے چه هغه هغے طرفنه مخ اړه وی. نو تاسو نیکو طرفنه مخ کښے والے کوئ. په کوم ځائے کښے چه تاسو یئ، الله به تاسو ومومی. د هغه د قدرت نه څه څیز بهر نشته.

د هغوئ ډیرے ډلے دی او د هرے ډلے ځان نه ځان نه قبله ده که د یوے ډلے قبلے ته واوړے نو بس یوه ډله به راضی کړے، او د نورو ډلو جګړه به پخپل ځائے پاتے شی. او د ټولو نه لویه خبره دا ده چه ستا دا کارنه دے چه خلق به رضا کوے او کله به ته د هغوئ منے او کله به هغوئ ستا منی. ته پیغمبر ئے ستا کار دا دے، چه موږ کوم علم تاله درکړے دے په هغے باندې ټینګ د دریږه او د چا پروا مه ساته. او که د خلقو د رضا کولو په فکر کښے د دغے علم نه اخوا دیخوا اوړے را اوړے نو دا د پیغمبرئ د شان سره مناسب نه ده، او د دنیا د امامت کوم نعمت چه موږ درکړے دے دا به د هغے نعمت ناشکری وی.

[۱۴۸] دا د عربو عامه ژبه ده، چه کوم څیز په یقین سره بیشکه بے شبهے پیژنی، نو وائی، چه هغه دا څیز دا سے پیژنی لکه چه خپل اولاد پیژنی. یعنی لکه څنګه چه د خپل اولاد په پیژندلو کښے نه دوکه کیږی دغه شان د دے څیز په پیژندلو کښے نه دوکه کیږی. په حقیقت کښے د یهو دیانو او د عیسایانو عالمان د دے نه ښه خبر وو چه کعبه ابراهیمؑ جوړه کړی ده، او د هغے نه دیارلس سوه کاله روستو حضرت سلیمانؑ بیت المقدس جوړ کړو او هم د هغه په زمانه کښے قبله مقرر کړے شوله. دا یوه تاریخی واقعه وه او په دے کښے د هغوئ هیڅ شک نه وو.

وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۖ وَ
إِنَّهُ لَلْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ ۗ وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿١٤٩﴾ وَمِنْ
حَيْثُ خَرَجْتَ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۖ وَحَيْثُ مَا
كُنْتُمْ فَوَلُّوْا وُجُوْهَكُمْ شَطْرَهٗ ۙ لِئَلَّا يَكُوْنَ لِلنَّاسِ عَلَيْكُمْ
حُجَّةٌ ۙ إِلَّا الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مِنْهُمْ فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِيْ ۙ وَ

تړچه په کوم ځائے ورځئے هم دهغے ځائے نړخ (مخ) دَ ما ځخه په وخت کښے) مسجد حرام
طرفته واړوه ، ځکه چه داستا دَ رب حقه فیصله ده او الله ستاسو دَ عملونو نه ناخبره
نۀ دے . او په کوم ځائے چه ورځئے نو خپل مخ مسجد حرام تر اکړ وه ، او په کوم ځائے کښے
چه یئ نو مسجد حرام تر مخ کوئ او مونځ کوئ دپارهٔ دے چه خلقو ته ستاسو خلاف حُجّت[۱۵۰]
ملا وُنشی ——— او چه څوک ظالمان دی دَ هغوئ ژبه به په هیڅ حال کښے
بنده نشی . خو تاسو دَ هغوئ نه مه یَریږئ ، بلکه زما نه یَریږئ ——— او

[۱۴۹] دَ اولنئ فقره او دَ دویمے فقرے په منځ کښے لږ شان خالی ځائے دے ، په دغے خالی ځائے کښے چه
اوریدونکے لږ غور فکر وکړی نو خپله ځے دکلو لے شی . مطلب دا دے چه څوک مونځ کوی خامخا به یو
طرف ته مخ کوی . خو اصل څیز دغه مخ کول نۀ دی ، بلکه اصل څیز هغه نیکئ دی چه دَ هغے دَ حاصلولو
دپارهٔ تاسو مونځ کوئ . نو تاسو له پکار دی چه په طرفونو او مقامونو باندے بحث کولو په ځائے دَ نیکو
حاصلولو فکر وکړئ .

[۱۵۰] یعنی زمونږ دے حکم پوره پابندی کوئ . هغه نه چه په تاسو کښے څوک دَ دغے مقرر طرف
نه بغیر بل طرف ته مونځ وکړی . که په تاسو کښے څوک دا سے اُولیدے شو نو ستاسو دُشمنان به بیا په
تاسو دا اعتراض کوی چه دا څنګه اُمتِ وسط دے او دا څنګه دَ حق پرستئ گواهان دی ، چه دا هم
وایئ چه دا حکم دَ الله دَ طرفنه راغلے دے او بیا دَ هغے خلاف ورزی هم کوی .

لِاُتِمَّ نِعْمَتِیْ عَلَیْكُمْ وَلَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ ﴿۱۵۰﴾ كَمَآ اَرْسَلْنَا فِیْكُمْ
رَسُوْلًا مِّنْكُمْ یَتْلُوْا عَلَیْكُمْ اٰیٰتِنَا وَیُزَكِّیْكُمْ وَیُعَلِّمُكُمُ
الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَیُعَلِّمُكُمْ مَّا لَمْ تَكُوْنُوْا تَعْلَمُوْنَ ﴿۱۵۱﴾
فَاذْكُرُوْنِیْٓ اَذْكُرْكُمْ وَاشْكُرُوْا لِیْ وَلَا تَكْفُرُوْنِ ﴿۱۵۲﴾ یٰٓاَیُّهَا
الَّذِیْنَ اٰمَنُوا اسْتَعِیْنُوْا بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوةِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ مَعَ

معانقه ۳

دَ پاره دے چه زه په تاسو باندِ خپل نعمت پوره کړم[۱۵۱] او په دے امید چه زما د دے حکم په منلو سره[۱۵۲]
به تاسو هغے دَ فلاح لار بیا مومئ لکه څنګه چه (تاسو ته په دے څیز سره فلاح نصیب شوه چی)
مونږ په تاسو کښے پخپله ستاسو نه یو رسول راؤلیږو، چه تاسو ته زمونږ ایاتونه اوره وی،
ستاسو ژوند پاک او ښائسته کوی، او تاسو ته دَ کتاب او دَ حکمت تعلیم درکوی، او تاسو
ته هغه خبرے ښائی چه تاسو ته معلومے نه وے. نو تاسو ما یاد ساتئ، زه به تاسو یاد
ساتم، او زما شکر ادا کړئ او دَ نعمتونو ناشکری مه کوئ؟
اے[۱۵۳] هغه خلقو چه ایمان مو راوړے دے، په صبر او په مانځه سره مدد حاصل کړئ. الله دَ

[۱۵۱] دَ نعمت نه مراد هغه امامت او پیشوائی ده چه دَ بنی اسرائیلو نه ئے اغستلی وه او دے اُمت ته ئے حواله
کړی وه. چه یو اُمت دَ الله دَ دین دَ کار په وجه دَ ټولے دُنیا دَ قومونو رهنما او پیشوا جوړ شی او دا خدمت ورته
حواله شی چه انسانان به دَ خدائے عبادت ته او دَ نیکئ لارے ته راا ړه وی، نو دا په دُنیا کښے دَ هغے اُمت دَ
صحیح والی او دَ راستئ لویه فائده ده. دا عهده چه کوم اُمت ته ورکړے شوه، په حقیقت کښے په هغے اُمت
باندِ الله خپل فضل او انعام پوره کړو. دلته الله دا فرمائی چه دَ قبلے دَ بدلیدلو دا حکم په اصل کښے
یوه نښه ده د دے خبرے چه الله تاسو له دغه عهده درکړله، نو تاسو له پکار دی چه زمونږ دَ حکم پیروی
ؤکړئ چه هسے نه دَ نافرمانئ په وجه دغه عهده ستاسو نه واغستلے شی. که زما فرمان مومنلو نو
دا نعمت به په تاسو باندِ پوره کړے شی.

[۱۵۲] یعنی دَ دے حکم دَ پیروئ سره دا اُمید ساتئ. دا دَ بادشاهانو په طرز یوه خبره ده.
بادشاه که یو نوکر ته داؤوائی چه زمونږ دَ طرفنه دَ فلانئ مهربانئ یا انعام اُمید لره، نو بیا هغه
نوکر له دا پکار دی چه دَ بادشاه په دے خبره خپل کور کښے خوشحالیانے ؤکړی او خلق ډورنه اُمبارکئ ورکړی.

[۱۵۳] دَ امامت دَ عهدے ورکولو نه روستو اوس دے اُمت ته ضروری خبری ښودلے کیږی.
دَ ټولو نه روښے ورته دا خبره ښودلے کیږی چه دا څه دَ ګلو نو بستره نه ده چه تاسو پرِ سمَلئ. دا خو
یو عظیم الشان او دَ خطرے نه ډک خدمت دے. دَ دے خدمت دَ ذمه وارئ اغستلو سره به په تاسو

الصّٰبِرِيْنَ ﴿۱۵۳﴾ وَلَا تَقُوْلُوْا لِمَنْ يُّقْتَلُ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَمْوَاتٌ ؕ
بَلْ اَحْيَآءٌ وَّلٰكِنْ لَّا تَشْعُرُوْنَ ﴿۱۵۴﴾ وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ بِشَيْءٍ مِّنَ
الْخَوْفِ وَالْجُوْعِ وَنَقْصٍ مِّنَ الْاَمْوَالِ وَالْاَنْفُسِ وَالثَّمَرٰتِ ؕ
وَبَشِّرِ الصّٰبِرِيْنَ ﴿۱۵۵﴾ الَّذِيْنَ اِذَآ اَصَابَتْهُمْ مُّصِيْبَةٌ ۙ قَالُوْٓا

صبر کونکو سره[۱۵۴] دے ۔ او کوم خلق چه د الله په لار کښې قتل کړے شي، هغوئ ته مړه مه وایئ، داسے خلق په حقیقت کښې ژوندی دی، خو تاسو ته د هغوئ د ژوند پته نه لږی[۱۵۵] ۔ او مونږ به په تاسو باندې یره ترهه، لوږه، د مال او د سر نقصان او په آمدنونو کښې کمے ضرور راولو۔ او ستاسو آزمیښت به پکښې کوو۔ په داسے حالاتو کښې چه څوک صبر وکړی، او چه کله پر مصیبت راشی، نو وائی چه

د پر مصیبتونه راځی، سخت آزمیښتونه به درباندې کیږی او قسما قسم نقصانات به درباندې راځی۔ خو چه کله تاسو د دغے مشکلاتو مقابله په صبر او په کلکے ارادے سره وکړه او د خدائے په لار کښې مخکښې روان شولئ، نو پس د هغے به په تاسو عهربانیانے راوو ریږی۔

[۱۵۴] یعنی د دے درون خدمت دپاره چه د کوم طاقت ضرورت دے هغه به تاسو ته د دوو څیزونو نه حاصل شي۔ یو دا چه د صبر صفت په ځان کښې پیدا کړئ۔ بل دا چه د مونځ په ذریعه خپل ځان مضبوط کړئ۔ وړاندې به په مختلفو ځایونو کښې راشي چه د صبر په ذریعه د یرښه اخلاقی صفتونه پیدا کیږی۔ او په حقیقت کښې صبر د کامیابئ دپاره کنجی ده چه د دے نه بغیر یو سړے هم په یو مقصد کښې نشی کامیابیدلے۔ دغه شان وړاندې به د مونځ په باره کښې هم تفصیل راشي چه د دے عظیم الشان کار دپاره مونځ په کومه طریقه مسلمانان تیاره وی۔

[۱۵۵] د مرګ لفظ او د مرګ خیال په ذهن کښې راوستل د انسان همت او حوصله خرابوی۔ دغه وجه ده چه مسلمانانو ته اووئیلے شو چه د الله په لار کښې شهیدانو ته مړه مه وایئ، هسے نه چه د دے په وجه د مسلمانانو په زړونو کښې د جنګ او د جهاد او د روح ورکولو جذبه کمه شي۔ د دے په ځائے د مؤمنان په زړه کښې دا ټینګ یقین ساتی چه کوم سړے د الله په لار کښې ساه ورکړی، نو په حقیقت کښې هغه ته همیشه ژوند نصیب شي۔ دا تصور د حقیقت مطابق هم دے او دے سره په سړی کښې بهادری هم راځی۔

اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّآ اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ ﴿۱۵۶﴾ اُولٰٓئِكَ عَلَيْهِمْ صَلَوٰتٌ مِّنْ
رَّبِّهِمْ وَرَحْمَةٌ ۟ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُهْتَدُوْنَ ﴿۱۵۷﴾ اِنَّ
الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَآئِرِ اللّٰهِ ۚ فَمَنْ حَجَّ الْبَيْتَ اَوِ
اعْتَمَرَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ اَنْ يَّطَّوَّفَ بِهِمَا ؕ وَمَنْ تَطَوَّعَ

مونږ د الله یو او هم د الله طرفته به واپس ځو[۱۵۶]" نو هغوئ ته د خوشحالئ زیرے ورکړه. په هغوئ باندې به د خپل رب د طرفنه ډیرے مهربانئ وی، د الله رحمت به پرې سورے وی، او هم دغه خلق په نیغه لار روان دی.

بے شکه، صفا او مروه د الله په نښو کښے شاملے دی. نو څوک چه د بیت الله حج[۱۵۷] یا عمره کوی، د هغه د پاره داځه د کناه خبره نه ده چه د دے غونډو په منځ کښ سعی[۱۵۸] وکړی او څوک چه په خپله رضا د خیر څه کار

[۱۵۶] صرف په ژبه دا الفاظ وئیل مطلب نه دی، بلکه د زړه نه د دے خبرے قایل کیدل دی چه "مونږ د الله یو"، او د الله په لار کښے چه زمونږ څه څیز قربان شو هغه په ټیک ځائے کښے قربان شو، چه د چا څیز وو هم د هغه په کار باندې راغے. او دا چه "مونږ به د الله طرفته واپس ځو"، د دے مطلب دا دے چه په دنیا کښے همیشه وسیدل نشته، مخکښے یا روستو خو خامخا به الله ته ځو. نو دا سے ولے نه کوو چه د الله په لار کښے ځان قربان کړو او د الله په دربار کښے حاضر شو. دا د دے نه ډیره بهتره خبره ده چه مونږ د خپل نفس په پالنه کښے لګیا شو او هم په دغه حالت کښے مړه شو.

[۱۵۷] د ذوالحجے د میاشتے په مقرر ورځو کښے چه د کعبے زیارت کیږی هغے ته حج وائی، او د دغے ورځو نه علاوه په نورو ورځو کښے چه کوم زیارت کیږی هغے ته عمره وائی.

[۱۵۸] صفا او مروه د مسجد حرام خوا ته دوه غونډئ دی، د دے دواړو غونډو په منځ کښے منډه وهل د حج د کارونو نه یو کار وو، چه الله تعالیٰ د حج د پاره حضرت ابراهیمؑ ته ښودلے وو. روستو چه بیا کله په مکه کښے او د مکے په خواؤ شا علاقو کښے د شرک جاهلیت خور شونو په صفا باندې د "اساف" بت او په مروه باندې د "نائله" بت دربارونه جوړ شو او د هغے نه چارچاپیره طوافونه شروع شول. بیا چه کله د نبی صلی الله علیه وسلم په ذریعه د اسلام رڼا اهل عربو ته راورسیدله نو د مسلمانانو په زړونو کښے دا شک پیدا شو چه دا د صفا او د مروه په منځ کښے منډه وهل د حج په اصلی کارونو کښے دی او که هسے د شرک د زمانے یو کار دے، هسے نه چه دا سعی پکښے د شرک یو کار وی. د حضرت عائشهؓ د روایت نه دا معلومیږی چه د مدینے والو په زړونو کښے د مخکښے نه د صفا او د مروه په منځ کښے د منډے وهلو کوکه موجود وه، وجه ئے دا وه چه هغوئ

خَيْرًا ۙ فَاِنَّ اللّٰهَ شَاكِرٌ عَلِيْمٌ ﴿۱۵۸﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ يَكْتُمُوْنَ مَآ
اَنْزَلْنَا مِنَ الْبَيِّنٰتِ وَالْهُدٰى مِنْۢ بَعْدِ مَا بَيَّنّٰهُ
لِلنَّاسِ فِى الْكِتٰبِ ۙ اُولٰٓئِكَ يَلْعَنُهُمُ اللّٰهُ وَيَلْعَنُهُمُ
اللّٰعِنُوْنَ ﴿۱۵۹﴾ اِلَّا الَّذِيْنَ تَابُوْا وَاَصْلَحُوْا وَبَيَّنُوْا
فَاُولٰٓئِكَ اَتُوْبُ عَلَيْهِمْ ۚ وَاَنَا التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ ﴿۱۶۰﴾

ؤکړی،[۱۵۹] هغه دَ الله په علم کښې دے او الله دَ هغے قدر کونکے دے۔

موږ چه کوم روښانه تعلیمات او هدایات رالیږلی دی او هغه موخلقو ته دَ لار ښودلو دپاره په خپل کتاب کښې بیان کړی هم دی او پس دَ هغے نه هغه څوک پټوی نو یقین اُوکړئ چه الله هم په هغوئ باندِ لعنت وائی او ټول لعنت کونکی هم په هغوئ باندِ لعنت لیږی[۱۶۰]۔ البته چه څوک دَ دے کار نه منع شول او دَ خپل عمل اصلاح ئے ؤکړه او چه څه ئے پټول هغه ئے ښکاره بیان کړل، نو زهٔ به هغوی معاف کړم او زهٔ ډیر معاف کونکے او رحم کونکے یم

"مناة" "بُت منلو او" اساف" او" نائله" بتان ئے نهٔ منل۔ دا وجه وه چه کله مسجد حرام قبله مقرر شوه نو دا ضروری وه چه هغه ټولے خبرے صفا شی کومے چه دَ صفا او دَ مروه په باره کښې دَ خلقو په ذهن کښې پرتے وے۔ خلقو ته اُوویلے شو چه دَ دے دواړو غونډو په منځ کښې منډے وهل دَ حج اصلی کار دے، او دَ دے ځایونو تقدس او پاکی دَ الله دَ طرفنه ده، دَ جاهلانو دَ دروغو قصه نهٔ ده۔

[۱۵۹] یعنی ښه خبره دا ده چه دا کار دَ زړهٔ په مینه ؤکړئ، که نئی نو دَ حکم منلو دپاره به ئے خامخا کوئ۔

[۱۶۰] دَ یهودی عالمانو دَ ټولو نه لویه گناه دا وه چه هغوئ دَ الله دَ کتاب حکم نهٔ خورولو بلکه دَ خپلو بزرگانو او دَ مذهبی پیشے دَ خلقو دپاره ئے خاص کړے ؤو، عام خلق خو لا څه کوے چه پخپله یهودی عوامو ته ئے هم نهٔ ښودلو۔ بیا چه کله دَ عام جهالت په وجه هغوئ بے لارے شول، نو علماؤ نهٔ یوائے دَ هغوئ دَ اصلاح کوشش اُونهٔ کړو، بلکه په عوامو کښې دَ خپل شهرت برقرار ساتلو دپاره په هر بدعت او دَ گمراهئ په هر کار باندِ خاموش پاتے شول او په خپل قول او عمل باندِ ئے دغه لوی کارونه جائز کړل۔ مسلمانانو ته ویلے کیږی چه دَ دا سے قسم کارونو نه ځان ساتئ۔ دُنیا ته دَ نیغے لارے ښودلو کار چه کوم اُمت ته ؤسپارلے شی نو دَ هغوئ دا فرض وی چه دغه هدایت په دُنیا کښې خور کړی نهٔ دا چه دَ بخیل دَ مال پشان ئے پټ کړی۔

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَمَاتُوا وَهُمْ كُفَّارٌ أُولَٰئِكَ عَلَيْهِمْ لَعْنَةُ اللَّهِ
وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ ﴿١٦١﴾ خَالِدِينَ فِيهَا ۖ لَا يُخَفَّفُ

چه کومو خلقو کفر عمل[۱۶۱] اختیار کړو او د کفر په حالت کښے مړه شول، په هغوئ باندے د الله او د فرښتو او د ټولو خلقو لعنت دے۔ د لعنت په دے حالت کښے به هغوئ همیشه وی، نه به

[۱۶۱] د "کفر" اصلی معنی پټول دی۔ دے نه د انکار معنی پیدا شوه او بیا د الفظ د ایمان په مقابله کښے استعمالیدل شروع شول۔ د ایمان معنی منل، او قبلول دی او دے برخلاف د کفر معنی نه منل او نه قبلول او انکار کول دی۔ د قرآن په نزاکښے د کفر د حالت مختلف صورتونه دی:

یو داچه انسان د سرنه خدائے نه منی، یا د هغهٔ اقتدار اعلیٰ منلو ته تیار نه وی او هغه خپل مالک او معبود او د ټولو کائناتو مالک او معبود نه منی، یا هغه یواځے یو مالک او یواځے یو د عبادت لائق نه منی۔

دویم داچه الله منی خو دا نه منی چه د الله حکمونه او د هغه هدایات یواځے د علم او د قانون خزانه ده۔

درئیم داچه د اخبره هم منی چه د الله حکمونه منل پکار دی خو د الله حکمونه چه په کومه ذریعه را رسیدلی دی هغه ذریعه یعنی پیغمبران نه منی۔

څلورم داچه په پیغمبرانو کښے فرق کوی او د خپلے خوښے یا د ځنډ په وجه څه منی او څه نه منی۔

پنځم داچه پیغمبرانو د خدائے د طرفنه د عقیدے، د اخلاقو او د ژوند د قانون په حقله کوم تعلیمونه بیان کړی دی، هغه ټول یا په هغے کښے څه لږ څیز نه منی۔

شپږم داچه نظریاتی طور خو دا ټول څیزونه منی خو عمل پرے نه کوی او قصداً د الله د حکمونو نه همیشه نافرمانی کوی او په دنیا کښے خپل ژوند په اطاعت نه بلکه په نافرمانئ تیروی۔

د ذکر او د عمل دا ټولے مختلفے طریقے د الله په مقابله کښے د نافرمانئ او د سرکشئ طریقے دی او په دے کښے هرے طریقے ته قرآن کفر وایی۔ دے نه علاوه د قرآن په بعضو ځایونو کښے د کفر معنی د نعمت ناشکری ده او د شکر په مقابله کښے لفظ کفر استعمال کړے شوے دے۔ د شکر معنی دا ده چه انسان له چا نعمت ورکړے وی، چه د هغهٔ احسان ومنی او د هغهٔ د احسان قدر وکړی او د هغه نعمت د هغهٔ د رضا مطابق استعمال کړی او په زړهٔ کښے د خپل احسان کونکی سره د وفادارئ جذبه ولری۔ دے نه په مقابله کښے کفر یا د نعمت ناشکری دا ده چه سړے یا خو د خپل احسان کونکی احسان نه منی او د هغه نعمت د خپل قابلیت یا د بل چا د مهربانئ او د سفارش نتیجه کنړی، یا د نعمت قدر و نه کړی او هغه بے فائدے ضائع کړی، یا د هغه نعمت د هغهٔ د رضا نه خلاف استعمال کړی، یا د هغهٔ د احسانا تو باوجود د هغهٔ سره دوکه او بے وفائی وکړی۔ دے قسمه کفرته ژمونږ په ژبه کښے عام طور احسان هیروول، نمک حرامی، دوکه بازی او ناشکری وایی۔

عَنْهُمُ الْعَذَابُ وَلَا هُمْ يُنْظَرُوْنَ ﴿۱۶۲﴾ وَاِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ لَآ اِلٰهَ
اِلَّا هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِيْمُ ﴿۱۶۳﴾ ع اِنَّ فِيْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ
وَاخْتِلَافِ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَالْفُلْكِ الَّتِيْ تَجْرِيْ فِي الْبَحْرِ بِمَا يَنْفَعُ
النَّاسَ وَمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ مِنَ السَّمَآءِ مِنْ مَّآءٍ فَاَحْيَا بِهِ الْاَرْضَ
بَعْدَ مَوْتِهَا وَبَثَّ فِيْهَا مِنْ كُلِّ دَآبَّةٍ وَّتَصْرِيْفِ الرِّيٰحِ وَالسَّحَابِ
الْمُسَخَّرِ بَيْنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ﴿۱۶۴﴾

دَ هغوئ په سزا کښے سپکوالے راوستلے شي او نه به هغوئ له نور مهلت ورکړے شي۔
ستاسو خدائے بس یو خدائے دے، دَ هغے رحمٰن او رحیم نه سوا بل خدائے نشته. (دَ دے حقیقت پیژندلو دپاره که چرے څه دَ نښے نښانے ضرورت وي نو) چه کوم خلق دَ عقل نه کار اخلي، دَ هغوئ دپاره دَ آسمانونو او دَ زمکے په پیدائش کښے، دا شپه او ورځ چه په یو بل پسے مسلسل ځي راځي په دے کښے، دا کشتئ چه دَ انسان دَ فائدے څیزونه په دریابونو او سمندرونو کښے وړي راوړي په دے کښے، دَ باران په دے اوبو کښے، چه الله ئے دَ بره نه راوروي بیا په هغے مړه زمکه ژوندئ کوي او دَ دے انتظام په برکت په زمکه کښے دَ هر قسم دَ سا مخلوق خور وي، دَ هوا کانو په دے چلن کښے او په دے وریځو کښے چه دَ آسمان او دَ زمکے په منځ کښے فرمان منونکي ولاړے دي، بے شمیره نښے دي[۱۶۲]

[۱۶۲] یعني که چرے انسان دَ کائناتو دے کارخانے ته، چه شپه ورځ ئے په سترګو باندے وینی چه روانه ده چلیږي، دے ته دَ ځناور په نظرو نه ګوري بلکه دَ عقل نه کار واخلي او په آزاد سرچ او فکر سره په دے ټول نظام غور وکړي، نو دا ټول څیزونه چه دے ئې وینی ګوري دَ دے خبرے دپاره بالکل کافي دي چه دا عظیم الشان نظام دَ یو طاقتور حکیم په حکم چلیږي، ټول اختیارات او اقتدار دَ هغه په لاس کښے دے، په دے انتظام کښے دَ بل چا کل اختیاري مداخلت یا حصه داري نشته، په دے وجه هم دغه یو خدائے په حقیقت کښے دَ ټولو کائناتو خدائے دے دَ هغه نه بغیر دَ بلے هستئ هډو دا اختیار نشته چه دَ هغه سره په خدائئ او په اُلوهیت کښے شریک شي۔

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّتَّخِذُ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَنْدَادًا يُّحِبُّوْنَهُمْ كَحُبِّ اللّٰهِ ؕ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَشَدُّ حُبًّا لِّلّٰهِ ؕ وَلَوْ يَرَى الَّذِيْنَ

(خودا کومے نښے چه دَ خدائے په یووالی دلالت کوی ددے باوجود هم) څه خلق داسے دی چه دَ الله نه بغیر بل څوک دَ هغهٔ مقابله کښے دَ هغهٔ برابر جوړه[۱۶۳] وی او دَ هغوئ سره داسے مینه کوی لکه څنګه چه دَ الله سره مینه پکار ده ـــــ خوچه په چا کښے ایمان وی هغوئ دَ ټولو نه زیاته مینه دَ الله سره[۱۶۴] لری ـــــ ارمان افسوس دے، چه کوم عذاب به دوئ په سترګو

[۱۶۳] یعنی دَ خدائیئ چه کوم صفتونه خاص دَ الله دپاره دی نو وائی چه په دغے کښے ځنے صفتونه دَ بل چا هم کیدے شی، او دَ الله تعالیٰ چه په بندګانو باندِ څه حقونه دی، هغه ټول حقونه یا په هغے کښے ځنے حقونه دوئ خپلو جوړو کړے شو وُ خدایانو له ورکوی. مثلاً سبب جوړه ول، حاجت پوره کول، مشکل آسانول فریاد اوریدل، دُعاګانے قبلول، دَ پټ او دَ ښکاره دَ هر څیز نه خبریدل، دا ټول دَ الله خاص صفتونه دی. دا حق صرف دَ یو الله دے چه خلق هغهٔ دَ ټولو نه لوئ او دَ برتر طاقت هستی ؤ منی، صرف دَ هغهٔ بندګی اختیار کړی، دَ هغهٔ نه خپل حاجتونه ؤ غواړی، دَ امداد دپاره هغهٔ ته آواز او کړی، په هغهٔ بروسه او ساتی، دَ هغهٔ نه دَ اُمیدونو طمع او کړی او په پټه او په ښکاره دَ هغهٔ نه اُویریږی. دغه شان الله دَ جهانونو بادشاه دے، او دَ بادشاه په حیثیت دا دَ الله کار دے چه دَ خپل رعیت دپاره حلال او حرام مقرر کړی، دَ رعیت کار او دَ رعیت حقونه مقرر کړی، رعیت ته دَ کولو او دَ نهٔ کولو کارونه ؤ ښائی، او دا ورته ؤ ښائی چه دَ الله ورکړے شوی طاقتونه او ذرائع په کومه طریقه استعمال کړی، په کومو کارونو کښے ئے استعمال کړی او دَ څه مقصد دپاره ئے استعمال کړی. او دا صرف دَ الله حق دے چه خلق هغهٔ خپل حاکم ؤ منی، دَ هغهٔ حکم ته قانون وُوائی، دَ حکم کولو او دَ منع کولو اختیارمند هغهٔ ؤ منی، دَ خپل ژوند دَ معاملو فیصلے دَ الله دَ حکم مطابق وکړی او په نیغه لار باندِ دَ تللو دپاره الله ته رجوع او کړی. څوک چه دَ خدائے دَ دے صفتونو نه یو صفت هم بل چا له ثابتوی، او دَ خدائے دَ حقونو نه یو حق هم بل چا ته ورکوی هغه په اصل کښے دَ الله په مقابله کښے دَ الله برابر جوړه وی. او دغه شان چه کوم سړے یا یوه ډله دَ الله په دے صفتونو کښے دَ یو صفت دعویٰ کوی، او دَ خدائے په حقونو کښے دَ یو حق مطالبه دَ انسانانو نه کوی هغه هم په اصل کښے دَ خدائے مقابل او برابر جوړیږی خواه که هغه په خپله ژبه دَ خدائیئ دعویٰ کوی او که نهٔ کوی.

[۱۶۴] یعنی چه ایمان ئے راوړو نو هغهٔ له پکار دی چه په هر څه کښے دَ ټولو نه مخکښے دَ الله رضا لټوی، او په خپل زړهٔ کښے دَ الله محبت دومره پیدا کړی چه بیا دَ هغے دپاره دَ هر څیز محبت قربانولے شی.

ظَلَمُوْٓا اِذْ يَرَوْنَ الْعَذَابَ اَنَّ الْقُوَّةَ لِلّٰهِ جَمِيْعًا ۙ وَّاَنَّ اللّٰهَ
شَدِيْدُ الْعَذَابِ ﴿١٦٥﴾ اِذْ تَبَرَّاَ الَّذِيْنَ اتُّبِعُوْا مِنَ الَّذِيْنَ
اتَّبَعُوْا وَرَاَوُا الْعَذَابَ وَتَقَطَّعَتْ بِهِمُ الْاَسْبَابُ ﴿١٦٦﴾
وَقَالَ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْا لَوْ اَنَّ لَنَا كَرَّةً فَنَتَبَرَّاَ مِنْهُمْ كَمَا
تَبَرَّءُوْا مِنَّا ۗ كَذٰلِكَ يُرِيْهِمُ اللّٰهُ اَعْمَالَهُمْ حَسَرٰتٍ
عَلَيْهِمْ ۭ وَمَا هُمْ بِخٰرِجِيْنَ مِنَ النَّارِ ﴿١٦٧﴾ ع ۲۰

باندِ وینې هغه نن دے ظالمانو اولیدلے چه ټول طاقتونه او ټول اختیارات خو د الله په قبضه کښے دی او په سزا ورکولو کښے هم الله ډیر سخت دے۔ چه بیا کله هغه سزا ورکوی هغه وخت به داسے حال وی چه په دنیا کښے په کوم مشرانو پسے خلق تللی وی، هغه مشران به د خپلو پیروکارو خلقو نه خان خلاصوی، خو سزا به ورته خامخا ملا ویږی او د هغوئ ټولے ذریے او سببونه به ختمیږی۔ او کوم خلق چه په دُنیا کښے په هغوئ پسے روان وُو، هغوئ به وایی چه هائے افسوس که چرے بله موقعه موږ له را کړے کیدے شوه نو موږ به دوئ نه خپله بیزاری وغځے ښودلی وه لکه څنګه چه نن دوئ زمونږ نه بیزاره کیږی[۱۶۵]۔ په دے طریقه به الله دے خلقو ته د دوئ د دُنیا عملونه په داسے شان ښکاره کوی چه دوئ به د ارمانونو او د ښیمانتیا لاسونه مروړی خو د وُورته به د وتللو لار نه وی۔ ع

[۱۶۵] دلته خاص طور د گمراه کونکو مشرانو اولیدرانو انجام او د هغوئ د ناپوهه پیروکارو انجام په دے وجه ذکر شوے دے چه د کوم غلطئ په وجه مخکینی اُمتونه بے لارے شوی دی د هغے غلطئ نه مسلمانان خان وساتی او په خپلو مشرانو او لیدرانو کښے نیکان خلق و پیژنی او په غلطو مشرانو پسے د نه تللو نه څان بچ کړی۔

يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ كُلُوْا مِمَّا فِي الْاَرْضِ حَلٰلًا طَيِّبًا ۖ وَّلَا
تَتَّبِعُوْا خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ ؕ اِنَّهٗ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ﴿١٦٨﴾
اِنَّمَا يَاْمُرُكُمْ بِالسُّوْٓءِ وَالْفَحْشَآءِ وَاَنْ تَقُوْلُوْا عَلَى اللّٰهِ
مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿١٦٩﴾ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمُ اتَّبِعُوْا مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ
قَالُوْا بَلْ نَتَّبِعُ مَآ اَلْفَيْنَا عَلَيْهِ اٰبَآءَنَا ؕ اَوَلَوْ كَانَ
اٰبَآؤُهُمْ لَا يَعْقِلُوْنَ شَيْئًا وَّلَا يَهْتَدُوْنَ ﴿١٧٠﴾ وَمَثَلُ
الَّذِيْنَ كَفَرُوْا كَمَثَلِ الَّذِيْ يَنْعِقُ بِمَا لَا يَسْمَعُ اِلَّا

اے خلقو! پہ زمکہ کښے چہ کوم حلال او پاک څیزونہ دی هغہ خورئ او دَ شیطان پہ ښودلو شوو لارو باندِ مہ ځئ[١٦٦] هغہ ستاسو ښکارہ دشمن دے، تا سو تہ دَ بدئ او دَ بے حیائئ حکم کوی او دا درتہ وائی چہ هغہ خبرے هم پہ الله باندِ ور اړوئ دَ کومو خبرو پہ حقلہ چہ تا سو تہ دا علم نشتہ چہ دا الله وئیلی دی[١٦٧]

کلہ چہ دوئ تہ وُوئیلے شی چہ الله کوم حکمونہ نازل کړی دی پہ هغے پسے روان شئ نو پہ جواب کښے دوئ وائی چہ موږ خو بہ پہ هغہ طریقو پسے ځو پہ کومو طریقو چہ موږ ہ خپل پلاران او نیکونہ لیدلی دی[١٦٨] ډیرہ ښہ دہ! خو کہ چرے دَ دوئ پلارانو او نیکونو دَ عقل نہ کار نہ وی اغتلے او نیغہ لارہ ئے نہ وی موندلی نو آیا بیا بہ هم دوئ پہ هغوئ پسے ځی؟ دے کومو خلقو چہ دَ خدائے پہ ښودلے شوی لار باندِ دَ تللو نہ انکار کړے دے دَ دوئ مثال بالکل داسے دے لکہ چہ یو شپونکے ځناورو تہ آواز کوی او هغہ ځناور دَ هاهُو دَ آواز نہ علاوہ

[١٦٦] یعنی دَ خوراک څکاک پہ معاملہ کښے دَ خپلو وهمونو او دَ جاهلانہ رسمونو ټولے پابندئ ماتے کړئ۔

[١٦٧] یعنی دَ خپلو خیالی رسمونو او خیالی پابندو پہ بارہ کښے دا خیال کول چہ دا دَ خدائے دَ طرفنہ مذهبی کارونہ دی، دا پہ اصل کښے دَ شیطان لویہ کارنامہ دہ۔ ځکہ چہ پہ حقیقت کښے دَ دے هیڅ سند نشتہ چہ دا دَ الله دَ طرفنہ دی۔

[١٦٨] یعنی دَ دے خپل خیالی پابندو د پارہ دَ هغوئ سرہ دَ دے نہ سوا بل هیڅ سند او دلیل نشتہ چہ خبرہ بس دَ پلارنیکونو نہ هم دغسے را روانہ دہ۔ نا پوهان پہ دے کښے پراتہ دی چہ کښی پہ یوہ طریقہ باندِ دَ تللو د پارہ دا دلیل بالکل کافی دے۔

دُعَآءً وَّنِدَآءً ؕ صُمٌّۢ بُكْمٌ عُمْيٌ فَهُمْ لَا يَعْقِلُوْنَ ﴿۱۷۱﴾ يٰۤاَيُّهَا
الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُلُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا رَزَقْنٰكُمْ وَاشْكُرُوْا
لِلّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ اِيَّاهُ تَعْبُدُوْنَ ﴿۱۷۲﴾ اِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ

بل هیڅ نه اوری[۱۶۹] دا کانړه دی چا ړاګان دی، ړانده دی، ځکه ئے خبره په عقل کښے نه راځی.
اے مؤمنانو، که چرے تاسو په حقیقت کښے د الله بندګی کونکی یئ نو کوم پاک څیزونه چه موږ
تاسو له درکړی دی هغه بے تکلیفه خورئ او د الله شکر وباسئ[۱۷۰] د الله د طرفنه
که څه پابندی په تاسو باندې ده نو هغه دا ده

[۱۶۹] د دے مثال دوه اړخونه دی. یو دا چه د دے خلقو مثال د هغے بے عقله ځناورو دے چه په خپلو شپونکو
پسے روستو روان وی او د هغوئ په آوازونو باندې اخرادیخوا حرکت کوی خو په مطلب ئے هیڅ نه پوهیږی. او
بل مطلب ئے دا دے چه کله سړے دوئ ته د دعوت او د تبلیغ خبرے کوی نو دا سے معلومیږی لکه چه څوک
ځناورو ته آواز کوی چه هغوئ آواز خو اوری خو په دے نه پوهیږی چه د آواز کونکی څه مطلب ئے
الله تعالیٰ دا سے الفاظ استعمال کړی دی چه دا دواړه مطلبونه پکښے راځی.

[۱۷۰] یعنی که چرے تاسو ایمان راوړے وی او د خدائے قانون منئ، لکه څنګه چه تاسو دعویٰ کوئ،
نو بیا چه د هندو مذهب عالمانو، د عیسائی مذهب عالمانو، جوګیانو او دنیا پریښودونکو راهبانو او
پچنله ستاسو پلارانو نیکونو د ځان نه کوم د ذات پات او د جاهلیت د زمانے پابندئ ایښودلی دی، هغه
ټولے پابندئ ماتے کړئ. څه چه خدائے حرام کړی دی د هغے نه خو ضرور ځان ساتئ، خو چه کوم څیزونه
الله حلال کړی دی په هغے کښے شک مه کوئ هغه بے منعے خورئ څکئ. دے خبرے ته د نبی صلی الله
علیه وسلم دا حدیث هم اشاره کوی. نبیؐ فرمائی مَنْ صَلّٰى صَلٰوتَنَا وَاسْتَقْبَلَ قِبْلَتَنَا وَاَكَلَ
ذَبِيْحَتَنَا فَذٰلِكَ الْمُسْلِمُ الخ یعنی څوک چه هغه مونځ کوی کوم چه موږ کوو او هغه قبلے ته مخ کوی کوم
ته چه موږ مخ کوو او زموږ د لاس ذبحه خوری هغه مسلمان دے. مطلب دا دے که یو سړے مونځ
هم کوی او قبلے ته هم مخ کوی خو تر هغه وخته پورے چه اسلام کښے پوره داخل نه دے تر څو چه هغه
د خوراک څښاک په معامله کښے د جاهلیت د وهمونو او پابندونه ځان نه وی خلاص کړے. ځکه
چه د جاهلیت په پابندو باندې ټینګ وسیدل د دے خبرے علامه ده چه لا تر اوسه پورے
د ده د بدن د رګونو نه د جاهلیت زهر نه دی وتلی.

الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنْزِيرِ وَمَآ اُهِلَّ بِهٖ لِغَيْرِ اللّٰهِ ۚ فَمَنِ
اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَّلَا عَادٍ فَلَآ اِثْمَ عَلَيْهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۷۳﴾
اِنَّ الَّذِيْنَ يَكْتُمُوْنَ مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ مِنَ الْكِتٰبِ وَيَشْتَرُوْنَ
بِهٖ ثَمَنًا قَلِيْلًا ؕ اُولٰٓئِكَ مَا يَاْكُلُوْنَ فِيْ بُطُوْنِهِمْ اِلَّا النَّارَ

چه مُردارهٔ مه خورئ، دَ وینے او دَ خنزیر دَ غوښے نه ځان ساتئ او هغه څیز مه خورئ چه په هغے باندِ دَ الله دَ نوم نه علاوه دَ بل چا نوم اغستلے شوے[۱۷۱] وی. هن چه کوم سړے مجبوره وی، او دَ قانون ما تولو اراده ئے نه وی یا دَ ضرورت نه زیاتے نه کوی، نو که هغه د دے څیزونو نه څه وَخوری، نو گناه پرِ نشته، الله تجنبونکے او رحم کونکے دے[۱۷۲]

حق دا دے چه کوم خلق هغه حکمونه پټوی چه الله په خپل کتاب کښے نازل کړی دی، او دَ دُنیا په لږه فایده باندِ هغه قربانوی، هغوئ په اصل کښے په خپلو کیډو کښے وُور اَچوی[۱۷۳]

[۱۷۱] په دے کښے دَ هغه ځناور غوښه هم شامل ده چه دَ خدائے دَ نوم نه علاوه دَ بل چا په نوم باندِ ذبح شوے وی، او هغه خوراک پکښے هم شامل دے چه دَ الله دَ نوم نه علاوه دَ بل چا په نوم باندِ نذر شوے وی. حقیقت دا دے که ځناور وی، که غله وی یا بل دَ خوراک څه څیز وی، په اصل کښے دَ هغے مالک الله تعالیٰ دے، او الله دغه څیز مونږ له راکړے دے. نو په دے وجه مونږ له پکار دی که دَ نعمت شکر یه ادا کوو یا خیرات کوو یا نذر منو، نو چه صرف دَ الله په نوم ئے کوو. دَ الله نه بغیر دَ بل چا دَ نوم اغستلو مطلب دا دے چه مونږه دَ خدائے په ځائے باندِ یا دَ خدائے سره دَ بل چا لوئ والے هم منو او په بل چا هم دَ نعمت ورکولو یقین لرو.

[۱۷۲] په دے آیت کښے دَ حرامو څیزونو دَ استعمالو لو د پاره درے شرطونه دی. یو دا چه سړے واقعی مجبوره وی. مثلاً دَ لوږے یا دَ تندے نه دَ مرگ خطره وی، یا دَ بیمارئ په وجه دَ مرگ خطره وی او په دے حالت کښے دَ حرام څیز نه علاوه بل څیز نه ملاویږی. بل دا چه دَ خدائے دَ قانون دَ ماتولو اراده ئے په زړه کښے نه وی. دریم دا چه دَ ضرورت نه زیاتے نه کوی، مثلاً دَ حرام څیز په یو څو نوړو یا په څو څاڅکو یا په یو څو کوټونو باندِ که پرے دَ مرگ خطره ورکیدے شی نو چه دَ هغے نه زیات دَ هغے څیز استعمال وُ نه کړی.

[۱۷۳] مطلب دا دے چه په عامو خلقو کښے څو مره غلط توهمات خواره شوی دی او غلط رسمونه ریواجونه جوړ شوی دی او دَ بے ځایه پابندو کومے نوے نوے لارے جوړے شوی دی دَ دے ټولو ذمه واری په هغے عالمانو باندِ ده چه دَ هغوئ سره دَ الله دَ کتاب علم وُو لیکن عامو خلقو ته ئے وُ نه رسولو.

وَلَا يُكَلِّمُهُمُ اللّٰهُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَلَا يُزَكِّيْهِمْ ۚ وَلَهُمْ
عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۱۷۴﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ اشْتَرَوُا الضَّلٰلَةَ
بِالْهُدٰى وَالْعَذَابَ بِالْمَغْفِرَةِ ۚ فَمَآ اَصْبَرَهُمْ عَلَى النَّارِ ﴿۱۷۵﴾
ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ نَزَّلَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ ؕ وَاِنَّ الَّذِيْنَ اخْتَلَفُوْا
فِي الْكِتٰبِ لَفِيْ شِقَاقٍۭ بَعِيْدٍ ﴿۱۷۶﴾ ع لَيْسَ الْبِرَّ اَنْ تُوَلُّوْا
وُجُوْهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَلٰكِنَّ الْبِرَّ



دَ قیامت پہ ورځ بہ اللہ ھرګز دَ ھغوئ سرہ خبری وُ نہ کړی او نہ بہ ئے پاکیزہ وُ ګرځوی[۱۷۴]، او دَ ھغوئ دپارہ دردناکہ سزا دہ۔ دا ھغہ خلق دی چہ دَ ھدایت پہ بدلہ کښے ئے ګمراھی واغستلہ او دَ بخشش پہ بدلہ کښے ئے عذاب واغستلو۔ دَ دوئ څہ عجیبہ حوصلہ دہ چہ دَ دوزخ عذاب تہ ټینګ دی۔ دَ دے ټولو وجہ دا دہ چہ اللہ تعالیٰ خو ټیک ټیک دَ حق مطابق کتاب نازل کړے وُو خو چہ کومو خلقو پہ کتاب کښے اختلافات راوُخکل ھغوئ پہ خپلو جګړو کښے دَ حق نہ ډیر لرے لاړل ع

نیکی دا نہ دہ چہ تاسو خپل مخونہ نمر خاتہ تہ کړئ یا مغرب[۱۷۵] تہ، بلکہ نیکی دا دہ چہ

او بیا چہ کلہ دَ جہالت پہ وجہ پہ خلقو کښے غلطے طریقے او غلط ریوا جونہ شروع شول نو پہ ھغے وخت کښے ھم دے ظالمانو دَ خولے نہ غږ نہ ایستلو۔ بلکہ ډیرو پکښے خپلہ فائدہ پہ دے کښے لیدلہ چہ دَ اللہ دَ کتاب پہ حکمونو باندِ پردہ پرتہ وی نو ښہ دہ۔

[۱۷۴] دے پیشواګانو چہ دَ خپل ځان پہ حقلہ پہ عامو خلقو کښے کومے دَ دروغو خبرے خورے کړے دی، دا پہ اصل کښے دَ ھغے جواب دے۔ دا پیشواګان دا کوشش کوی چہ دَ خلقو پہ زړونو کښے دا خبرہ کینوی چہ دوئ ډیر پاک او مقدس خلق دے، چا چہ دَ دوئ لمن وُ نیولہ دوئ بہ دَ ھغہ سفارش کوی او ھغہ بہ پہ اللہ باندِ بخښی۔ او دغہ شان دَ ډیرو خلقو دَ ھغوئ پہ حقلہ دا خیال پیدا شوے ھم وُو۔ دَ دے پہ جواب کښے اللہ تعالیٰ فرمائی چہ مونږ بہ ھرګز دَ دوئ سرہ نہ مخا مخیږو او نہ بہ دوئ تہ پاک او مقدس خلق اُووایو۔

[۱۷۵] نمر خاتہ او نمر پریوا تہ طرفونو تہ مخ کول ئے ھسے دَ مثال پہ طور وئیلی دی اصلی مقصد دا پہ ذھن کښے کینول دی چہ دَ مذھب یو څو ظاھری رسمونہ ادا کول او یو څو خاص مذھبی کارونہ کول او دَ پرھیزګارئ څہ خاص شکل جوړہ ول ھغہ حقیقی نیکی نہ دہ کومہ چہ دَ اللہ سرہ وزن او قدر لری۔

مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَالْمَلٰٓئِكَةِ وَالْكِتٰبِ وَ
النَّبِيّٖنَ ۚ وَاٰتَى الْمَالَ عَلٰى حُبِّهٖ ذَوِي الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى
وَالْمَسٰكِيْنَ وَابْنَ السَّبِيْلِ ۙ وَالسَّآئِلِيْنَ وَفِي الرِّقَابِ ۚ وَاَقَامَ
الصَّلٰوةَ وَاٰتَى الزَّكٰوةَ ۚ وَالْمُوْفُوْنَ بِعَهْدِهِمْ اِذَا عٰهَدُوْا ۚ
وَالصّٰبِرِيْنَ فِي الْبَاْسَآءِ وَالضَّرَّآءِ وَحِيْنَ الْبَاْسِ ۗ اُولٰٓئِكَ
الَّذِيْنَ صَدَقُوْا ۗ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُتَّقُوْنَ ﴿۱۷۷﴾
يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ فِي الْقَتْلٰى ۗ

سړے په الله باندې او په ورځ د آخرت باندې او په فرښتو باندې او د الله په نازل کړے شوی کتاب باندې او د هغه په پیغمبرانو باندې د زړه د اخلاصه ایمان راوړی، او د الله په محبت کښ خپل غوره مال په رشته دارانو او یتیمانو باندې، په مسکینانو او مسافرانو باندې، چه څوک د اصدادو پاره لاس ونیسی په هغوی باندې او د غلامانو په آزادولو باندې خرچ کړی، مونځ قائم کړی او زکوٰة ورکړی. او یکان خلق هغه دی چه کله وعده وکړی نو هغه پوره کوی، او د غریبۍ او د مصیبت په وخت کښے او د حق او د باطل په جنګ کښے صبر کوی. دا رښتینی خلق دی او هم دا خلق پرهیزګاران دی.

اے هغه خلقو چه ایمان مو راوړے دے. ستاسو پاره د قتل په مقدمو کښے د قصاص[۱۷۶] حکم لیکلے شوے دے

[۱۷۶] قصاص، یعنی د وینے بدله، مطلب دا چه د سړی سره هغه کار وکړے شی کوم چه ده د بل سره کړے وی. خو دے دا مطلب نۀ دے چه قاتل په کومه طریقه سړے وژلے وی هم په هغه طریقه د قاتل اووژلے شی، بلکه مطلب ئے صرف دا دے چه د روح افسلو کوم کار ده د مقتول سره کړے دے هغه د ده سره اوکړے شی.

اَلْحُرُّ بِالْحُرِّ وَالْعَبْدُ بِالْعَبْدِ وَالْاُنْثٰى بِالْاُنْثٰى ؕ فَمَنْ عُفِيَ لَهٗ مِنْ اَخِيْهِ شَيْءٌ فَاتِّبَاعٌۢ بِالْمَعْرُوْفِ وَاَدَآءٌ اِلَيْهِ بِاِحْسَانٍ ؕ

که آزاد سړی قتل کړے وی نو دَ دغے آزاد سړی نه دِ بدله واغستلے شی، که قاتل غلام وی نو دغه غلام دِ قتل کړے شی، او که ښځه دا جُرم وُکړی نو دَ دغے ښځے نه دِ بدله[۱۷۷] واغستلے شی. هَن که چرے دَ قاتل سره دَ هغه رُور دَ څه نرمئ کولو دپاره تیار وی[۱۷۸]، نو پکار دی چه په ښه[۱۷۹] طریقه دَ وینے دَ تاوان فیصله وُشی او دَ قاتل دپاره ضروری ده چه په راستئ سره دَ وینے تاوان ادا کړی.

[۱۷۷] دَ جاهلیت په زمانه کښے دَ خلقو دا طریقه وه چه دَ یوے ډلے یا دَ یو خاندان سړی به دَ بلے ډلے یا دَ بل خاندان سړے مړکړو نو دَ مړی دَ طرف خلقو به دَ قاتل دَ ډلے نه دَ خپلے خوښے قیمت اغستلو. صرف دَ مړی په بدله کښے دَ قاتل په مړکولو دَ هغوئ زړهٔ نه یخیدو. هغوئ به دَ خپل مړی په بدله کښے په سوؤنو خلق مړهٔ کول غوښتل. که چرے دَ هغوئ یو عزت مند سړے به دَ بلے ډلے دَ یو معمولی سړی دلاسه مړشو نو بیا به دَ هغوئ دَ اصلی قاتل په مړکولو تسلّی نهٔ کیدله، هغوئ به دا غوښتله چه دَ قاتل دَ ډلے نه دِ هم یو داسے معزز سړے مړکړے شی او که داسے نهٔ وی نو بیا دِ دَ دغے معزز سړی په بدله کښے ډیر سړی مړه کړے شی. او که چرے داسے به وُشوه چه یو عزت مند سړی به یو ادنےٰ سړے مړکړو نو هغوئ به دا نهٔ خوښوله چه دَ دغے ادنےٰ مړی په بدله کښے دِ دغه عزت مند قاتل مړکړے شی. دا حالت یوا ځے دَ پخوانی جاهلیت نهٔ وُو، موجوده زمانه کښے چه کوم قومونه ډیر مهذب ګڼړلے شی، هغوئ اکثر په خپلو سرکاری اعلانونو کښے دا خبره بغیر دَ څه شرم نه دُنیا ته اوره وی چه که چرے زمونږه یو سړے مړکړے شو نو مونږ به دَ هغے په بدله کښے پنځوس سړی مړه کوؤ. اکثر دا خبرونه مونږ په خپلو غوږونو اَوروچه دَ یو سړی په قتل باندِ دومره دومره ګانړه شوی کسان په ګولئ وُویشتلے شو. یو "مهذب" قوم په دے شَلَمَه صدئ کښے دَ خپل یو سړی (سرلی اسټیک) بدله دَ ټول مصری قوم نه واغستله. بل طرفته دَ دے تش په نوم مهذب قومونو په عدالتونو کښے دا کار کیږی چه که قاتل دَ حاکم قوم سړے وی او مقتول دَ محکوم قوم نه وی نو دَ هغوئ ججان صاحبان دَ قصاص دَ فیصلے نه ځان ساتی. دا خرابئ دی چه دَ دے دَ ختمو لو حکم الله تعالیٰ په دے آیت کښے کړے دے. فرمائی چه دَ مړی په بدله کښے دے ته مهٔ ګورئ چه قاتل څوک دے او مقتول څوک دے خو صرف او صرف صحیح قاتل مړکوئ.

[۱۷۸] په ډیره ښکلے طریقے سره ئے دَ "رُور" په وئیلو دَ نرمئ سفارش هم کړے دے. مطلب دا دے چه که ستا او دَ بل سړی په منځ کښے دَ پلار دَ مړک دوشمنی هم وی خو بیا هم هغه ستا انسانی رُور دے. په دے وجه که چرے دَ خپل یو خطا کار رُور په مقابله کښے دَ بدلے اغستلو اراده پریږدے نو دا ستا دا انسانیت سره ډیره مناسبه ده —— دَ دے آیت نه دا هم معلومه شوه چه دَ اسلام دَ سزا په قانون کښے دَ قتل پورے دَ لوئ جرم په معامله کښے راضی نامه

ذٰلِكَ تَخْفِيفٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَرَحْمَةٌ ؕ فَمَنِ اعْتَدٰى بَعْدَ
ذٰلِكَ فَلَهٗ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۱۷۸﴾ وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيٰوةٌ
يّٰٓاُولِي الْاَلْبَابِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿۱۷۹﴾ كُتِبَ عَلَيْكُمْ اِذَا حَضَرَ
اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ اِنْ تَرَكَ خَيْرَا ۨ ۚ الْوَصِيَّةُ لِلْوَالِدَيْنِ

داستاسو دَ رب دَ طرفنه آسانتیا او رحمت دے. دَ دے نه روستو هم که چا زیاتے وُکړو[180] نو دَ هغه دپاره دړدمنده سزا ده ـــــ اے عقل والو! ستاسو دپاره په قصاص کښے ژوندون دے[181]. اُمید دے چه تاسو به دَ دے قانون دَ خلاف ورزئ نه ځان وُساتئ.

په تاسو باندِ فرض کړے شوی ده چه کله په تاسو کښے هَچا دَ مرګ وخت راشی او دَ هغه نه مال پاتے کیدو، نو دَ مور او پلار او دَ رشته دارانو دپاره دِ په ښه طریقے سره

کیدے شی. دَ مړی وارثانو ته دا حق حاصل دے چه قاتل معاف کړی او چه کله ئے معاف کړو نو بیا دَ عدالت دپاره دا جائز نه دی چه دَ قاتل په مرګ باندِ خامخا زور وُلګوی. هَن دومره ده که چرے وارثانو قاتل معاف کړو نو قاتل به دَ وینے قیمت ورکوی، لکه څنګه چه په روستو آیت کښے ارشاد شوے دے.

۱۷۹ دَ "مَعْرُوْف" لفظ په قرآن کښے ډیر ځله استعمال شوے دے. دَ دے نه مراد په صحیح طریقے سره ښکلے کار کول دی، دا سے ښکلے کار چه دَ هغے نه عام خلق خبروی او چه دَ هغے په حقله یو منځګړے سړے، چه یو طرفته ئے هم څه ذاتی فائده نه وی، دا اُووائی چه بیشکه حق او انصاف هم دا دے او دا مناسبه او ښکلی طریقه ده. دَ اسلام په اصطلاح کښے عام رواج (Common Law). ته هم "عرف" او "معروف" وئیلے شی، خو دا صرف په هغه معاملو کښے استعمالیدے شی چه دَ کومو په باره کښے شریعت څه خاص قاعده نه وی مقرر کړی.

۱۸۰ مثلاً دا سے چه دَ مړی وارث دَ تاوان اغستلو نه روستو بیا دَ بدلے اغستلو کوشش وُکړی، یا قاتل په تاوان ورکولو کښے هغه دَ غه اُوکړی او دَ مړی دَ وارث احسان هیر کړی.

۱۸۱ دا دَ یوے بلے جاهلے خبرے رد دے چه پخوا هم په ډیرو خلقو کښے وه او لن صبا هم په ډیرو خلقو کښے شته. لکه څنګه چه دَ جاهلانو یوے ډلے په بدله اغستلو کښے ډیره سختی اختیار کړیده دغه شان یوے بلے ډلے دَ معافئ په طرف ډیره نرمی اختیار کړیده او دَ مرګ دَ سزا خلاف ئے دومره تبلیغ کړے دے چه ډیر خلق دَ مرګ سزا ته په ښه نظر نه ګوری او دَ دُنیا ډیرو ملکونو دا سزا بالکل ختم کړی ده. دغه وجه ده چه قرآن عقل والو ته خبردارے ورکوی چه په قصاص کښے دَ خلقو دپاره ژوندون دے. کوم خلق چه دَ هغے انسان روح عزتمند ګڼړی چا ته چه پخپله دَ انسان روح عزتمند نه دے، هغوئ په اصل کښے خپل دشمن ځان ته غټوی. ځکه چه یو قاتل دَ مرګ نه مچ کول دَ ډیرو بے ګناه انسانانو دَ سر خطره پیدا کول دی.

وَالْاَقْرَبِيْنَ بِالْمَعْرُوْفِ ۚ حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِيْنَ ﴿۱۸۰﴾ فَمَنْۢ بَدَّلَهٗ بَعْدَ
مَا سَمِعَهٗ فَاِنَّمَآ اِثْمُهٗ عَلَى الَّذِيْنَ يُبَدِّلُوْنَهٗ ؕ اِنَّ اللّٰهَ
سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۱۸۱﴾ فَمَنْ خَافَ مِنْ مُّوْصٍ جَنَفًا اَوْ اِثْمًا
فَاَصْلَحَ بَيْنَهُمْ فَلَآ اِثْمَ عَلَيْهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۸۲﴾ ع



وصیّت وُکړی۔ دا حق دے په پرهیزګارانو خلقو باندِ[۱۸۲]۔ بیا چه چا وصیّت واوریدو او روستو ئے هغه بدل کړو نو دَ هغے ګناه په هغے بدلونکو باندِ ده۔ الله هرڅه اوری او په هرڅه پوهه دے۔ البته دومره ده که دَ چا سره دا یره وه چه وصیت کونکی په خطایا په قصد باندِ بے انصافی کړی ده، او بیا هغهٔ دَ هغے خلقو په منځ کښے چه دَ چا سره دا معامله تعلق لری، اصلاح وُکړی، نو په هغه باندِ څه ګناه نشته، الله بښونکے او مهربانه دے۔ ع

[۱۸۲] دا حکم په هغے زمانه کښے شوے وُو چه دَ میراث دَ تقسیم دپاره څه قانون نهٔ وُو مقرر شوے۔ په هغے وخت کښے په هرسړی باندِ دا فرض کړے شوه چه دَ وصیت په ذریعه دِ دَ خپلو وارثانو حصے مقرر کړی چه دَ هغهٔ دَ مرګ نه روستو بیا په خاندان کښے جګړے نهٔ وی او دَ چا حق دار حق وُنهٔ وهلے شی۔ روستو چه بیا کله الله تعالیٰ په خپله دَ میراث دَ تقسیم دپاره یو قانون جوړ کړو (چه مخکښے په سورة نساء کښے به راشی) نو نبی صلی الله علیه وسلم دَ وصیت دَ حکمونو او دَ میراث دَ حکمونو دوه قاعدے بیان کړلے۔

یوه دا چه اُوس دَ وارث په حق کښے څوک وصیّت نشی کولے، یعنی دَ کومو رشته دارانو حصے چه په قرآن کښے مقرر کړے شوی دی، دَ هغوئی په حصو کښے نهٔ دَ وصیّت په ذریعه څه کمے زیاتے کیدے شی، نهٔ یو وارث دَ میراث نه محرومه کیدے شی او نهٔ یو وارث ته دَ هغهٔ دَ خپلے حصّے نه علاوه بل څه څیز دَ وصیّت په ذریعه ورکړے کیدے شی۔

بله دا چه وصیّت صرف دَ ټول جائیداد دَ دریئے حصّے پورے کیدے شی۔

دَ دے دَ وُو قاعدو نه روستو اوس دَ دے آیت مطلب او منشا دا ده چه سړے دِ خپل دوه برخے مال دَ دے دپاره پریږدی چه دَ هغهٔ دَ مرګ نه روستو دَ قاعدے مطابق دَ هغه په وارثانو باندِ تقسیم شی او دَ یوے حصے دَ مال وصیّت دِ دَ هغه رشته دار په حق کښے وُکړی چه په میراث کښے ئے حصّه نهٔ رسی خو دَ امداد ورکولو مستحق وی، یا څوک غیر رشته دار وی خو دَ امداد محتاجه وی یا دَ عامے فائدے دَ کارونو نه په یو کار کښے دَ لګولو وصیت دِ وُکړی۔ روستنو خلقو دَ وصیت دا حکم دَ سفارش فوندِ یو حکم وُګڼړو او بیا رُو رُو ورپسے دَ وصیت دا طریقه عام طور ختمه شوه۔ لیکن په قرآن مجید کښے دا حکم دَ خدائے تعالیٰ دَ طرفه په پرهیزګارانو باندِ یو حق ګرځولے شوے دے۔ که چرے دا حق ورکول شروع شول نو ډیرے دا سے خبرے به پخپله حل شی چه هغه دَ میراث په باره کښے خلق په پریشانئ کښے اچوی۔ مثلاً دَ هغه نوسو معامله چه نیکو نه ئے ژوندی وی او مور پلار ئے مړهٔ شی۔

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ
عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ۙ﴿۱۸۳﴾ اَيَّامًا
مَّعْدُوْدٰتٍ ؕ فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَّرِيْضًا اَوْ عَلٰى سَفَرٍ
فَعِدَّةٌ مِّنْ اَيَّامٍ اُخَرَ ؕ وَعَلَى الَّذِيْنَ يُطِيْقُوْنَهٗ فِدْيَةٌ
طَعَامُ مِسْكِيْنٍ ؕ فَمَنْ تَطَوَّعَ خَيْرًا فَهُوَ خَيْرٌ لَّهٗ ؕ

اے هغه خلقو چه ایمان مو راوړے دے، په تاسو باندې روژے فرض کړے شوے، لکه څنګه چه ستاسو نه وړاندې د پیغمبرانو په اُمتونو باندې فرض کړے شوی وے۔ امید دے چه د دے نه په تاسو کښے د تقوٰی صفت پیدا شی[۱۸۳]۔ یو څو مقررے ورځے روژے دی. که په تاسو کښے څوک بیمار وی یا په سفر کښے وی نو په نورو ورځو کښے دِ هغو مره پوره روژے ونیسی۔ او کوم خلق چه د روژے نیولو طاقت لری (او نه ئے نیسی) نو هغوئ دِ فدیه ورکړی۔ د یوے ورځے فدیه یو مسکین ته خوراک ورکول دی، او څوک چه پخپله خوښه زیاته نیکی وکړی[۱۸۴]، نو دا د هغه د پاره بهتره ده۔

[۱۸۳] د اسلام د نورو ډیرو حکمونو پشان روژه هم رُو رُو فرض کړے شوی ده. نبی صلی الله علیه و سلم په اول کښے مسلمانانو ته حکم کړے وو چه په هره میاشت کښے صرف درے ورځے روژے نیسئ، خو دا روژے فرض نه وے۔ بیا د هجرت په دویم کال کښے د رمضان د روژو دا حکم نازل شو، خو په دے کښے دومره رعایت وساتلے شو چه کوم خلق د روژے نیولو طاقت لری او بیا هم روژے نه نیسی، نو هغوئ دِ د یوے روژے په بدله کښے په یو مسکین باندې ډوډئ اُخروی۔ روستو بیا بل حکم نازل شو او د اعام رعایت منسوخ کړے شو۔ لیکن مریض او مسافر او امید وار ښځه یا بچی له پئی ورکونکی ښځه او داسے بوډاګان خلق چه د روژو نیولو طاقت نه لری، د هغوئ د پاره دا رعایت هم دغه شان باقی وساتلے شو، او هغوئ ته دا حکم وشو چه کله بیا دا عذر ختم شی نو بیا دِ هغو مره قضا روژے ونیسی څومره چه تر د رمضان په میاشت کښے قضا شوی وی۔

[۱۸۴] یعنی د یو نه په زیاتو خلقو باندې ډوډئ اُخوروی او یا دا مطلب دے، چه روژه هم ونیسئ او په مسکین ډوډئ هم اُوخوروی۔

وَاَنْ تَصُوْمُوْا خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۱۸۴﴾ شَهْرُ رَمَضَانَ
الَّذِيْٓ اُنْزِلَ فِيْهِ الْقُرْاٰنُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنٰتٍ مِّنَ
الْهُدٰى وَالْفُرْقَانِ ۚ فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ ۭ وَ
مَنْ كَانَ مَرِيْضًا اَوْ عَلٰي سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ اَيَّامٍ اُخَرَ ۭ

لیکن که تاسو پوهیږئ نو تاسو په حق کښے دا دیره بنه ده چه روژه ونیسئ [۱۸۵]
رمضان هغه میاشت ده، چه پکښے قرآن نازل کړے شوچه هغه د انسانانو د پاره سراسر هدایت دے او په هغے کښے داسے صاف صاف د ښوونے خبرے دی چه سړی ته ښیغه لار ښائی او د حق او د باطل په منځ کښے فرق ښکاره کوی. نو د اوس نه چه په کوم سړی دا میاشت راشی، په هغه باندے لازم دی چه د دے تولے میاشتے روژے ونیسی. او څوک چه مریض وی یا په سفر باندے وی، نو هغه د په نورو ورځو کښے د هغومره روژو تعداد پوره کړی [۱۸۶]

[۱۸۵] د دے ځائے پورے الله تعالیٰ حکم دے چه د رمضان د روژو په باره کښے په دویمه هجرۍ کښے د جنګ بدر نه مخکښے نازل شوے وُو. د دے نه دا روستنی آیتونه د دے نه یو کال روستو نازل شوی دی خو د دے مضمون د مناسبت په وجه په دے بیان کښے شامل کړے شول.

[۱۸۶] په سفر کښے روژه نیول یا نه نیول د سړی په خپل اختیار باندے پرینښودلے شوی ده. د نبی صلی الله علیه وسلم سره چه به کوم صحابه ؓ په سفر تلل په هغوی کښے به چا روژه نیوله او چا به نه نیوله خو هیڅوا به په بل اعتراض نه کولو. په حنیله نبی ؐ به په سفر کښے کله روژه نیوله او کله به ئے نه نیوله. په یو سفر کښے د یو سړی حال خراب شوا د را پریو تلو او چا چا پیره تر خلق راجمع شو. نبی صلی الله علیه وسلم چه دا حال وُلید نو وے فرمایئل، چه دا ولے؟ خلقو ورته وُویل چه دا د روژے د وجے نه. نبی ؐ فرمایئل چه دا نیکی نه ده - او د جنګ په موقع کښے خو به نبی ؐ حکم کولو چه روژے مه نیسئ چه په جنګ کښے دشمن ته کمزوری نه ښکی. د حضرت عمر ؓ نه روایت دے هغه وائی چه موږ د نبی صلی الله علیه وسلم سره دوه ځله په رمضان کښے جنګ ته تلی یو. یو ځل په جنګ بدر کښے او بل ځل د مکے د فتح کولو په موقع باندے، او په دواړو کښے موږ روژے پرینښودلے وے. د عمر ځوئے بیان کوی چه د مکے د فتح کولو په موقع باندے نبی ؐ فرمایئلی وُو چه " انکم یوم قتال فافطروا " په نورو روایتو نو کښے دا الفاظ دی چه " انکم قد دنوتم من عدوکم فافطروا اقوی لکم " یعنی د دشمن سره مقابله راپیښه ده، روژے پریږدئ چه په جنګ کښے طاقتور ئے.

يُرِيْدُ اللّٰهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيْدُ بِكُمُ الْعُسْرَ ز وَلِتُكْمِلُوا الْعِدَّةَ
وَلِتُكَبِّرُوا اللّٰهَ عَلٰى مَا هَدٰىكُمْ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۱۸۵﴾

الله ستاسو سره نرمی کول غواړی، سختی کول نهٔ غواړی. دَ دے وجے نه تاسو ته دا طریقه خُودلے کیږی چه تاسو دَ روژو تعداد پوره کړے شئ او کوم هدایت چه الله تاسو له درکړے دے په هغے باندِ دالله دَ لُویئ اظهار وکړئ او دَ الله لویئ ومنئ او شکر ایستونکی شئ ۱۸۷ے

دَ عام سفر په معامله کښے دا خبره دَ نبیؐ دَ یو ارشاد نه نهٔ واضحه کیږی چه دَ څومره فاصلے په سفر کښے روژه پریښودلے شی او دَ صحابه کرامو عمل په دے باره کښے دَ یو بل نه مختلف دے. صحیح خبره دا ده چه څومره فاصلے ته عام خلق سفر وائی او په کومه فاصله کښے چه دَ سفر بوج په سړی باندِ راځی، هغه فاصله دَ روژے دَ نهٔ نیولو دپاره کافی ده.

په دے خبره اتفاق شوے دے چه په کومه ورځ سړے سفر شروع کوی دَ هغے ورځے دَ نهٔ نیولو سړی ته اختیار دے. که ئے خوښه شی نو په کور کښے دِ خوراک وکړی او بیا دِ روان شی او که ئے خوښه شی نو دَ کور دَ وتلو نه دِ روستو خوراک وکړی. دواړه کارونه دَ صحابوؓ نه ثابت دی.

که چرے په یو ښار باندِ دشمن حمله وکړی نو آیا دَ هغے ښار خپل خلق دَ جهاد په وجه روژه پریښودے شی او که نهٔ؟ دَ دے خبرے په باره کښے دَ علماؤ په منځ کښے اختلاف دے. ځنے عالمان دَ روژے دَ نهٔ نیولو اجازت نهٔ ورکوی. خو علامه ابن تیمیه په ډیرو قوی دلیلونو سره فتوی ورکړی ده چه روژه نهٔ نیول بالکل جائز دی.

۱۸۷ے یعنی الله یواځے دَ رمضان میاشت دَ روژے دپاره خاص کړی نهٔ ده، بلکه کوم خلق چه دَ رمضان په میاشت کښے دَ څه شرعی عذر په وجه روژے وُ نهٔ نیسی، هغوئ په نورو ورځو کښے دَ هغے قضا راوړے شی. ځکه چه قرآن یو نعمت دے او الله تاسو له درکړے دے، هسے نه چه دَ دے نعمت دَ ادا کولو دَ قیمتی موقعے نه تاسو بے نصیبه پاتے شئ.

دلته په دے خبره ځان پوهه کول پکار دی چه دَ رمضان دَ میاشتے روژے یواځے عبادت او یواځے دَ پرهیزګارئ تربیت نهٔ دے، بلکه دَ قرآن په ذریعه چه الله تعالیٰ موږ ته کومه نیغه لار ښودلی ده دا یو عظیم الشان لوئ نعمت دے، او دا روژے نیول دَ دے لوئ نعمت شکریه ادا کول هم دی. حقیقت دا دے چه یو هوښیار انسان په ښهٔ طریقے سره دَ چا دَ نعمت شکر وباسی او دَ چا احسان منی، نو هغهٔ دَ هغے مقصد پوره کولو کوشش کوی دَ کوم مقصد دپاره چه ورله چا نعمت ورکړے وی. قرآن موږ ته دَ دے مقصد دپاره راکړے شوے دے چه موږ دَ الله دَ رضا لار وپیژنو، پخپله پرِ روان شو او دُنیا پرِ هم دَ ځان سره روانه کړو. دَ دے مقصد پوره کولو دپاره دَ ټولو نه ښهٔ ذریعه روژه ده. دغه وجه ده چه دَ قرآن دَ نازلیدو په میاشت کښے زموږ ته روژے نیول یواځے عبادت نهٔ دے او نهٔ یواځے دَ اخلاقو تربیت دے بلکه دَ دے سره دَ قرآن، چه یو لوئ نعمت دے، صحیح او مناسب شکر ایستل هم دی.

وَاِذَا سَاَلَكَ عِبَادِیْ عَنِّیْ فَاِنِّیْ قَرِیْبٌ ؕ اُجِیْبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ
اِذَا دَعَانِ ۙ فَلْیَسْتَجِیْبُوْا لِیْ وَلْیُؤْمِنُوْا بِیْ لَعَلَّهُمْ یَرْشُدُوْنَ ﴿۱۸۶﴾
اُحِلَّ لَكُمْ لَیْلَةَ الصِّیَامِ الرَّفَثُ اِلٰی نِسَآئِكُمْ ؕ
هُنَّ لِبَاسٌ لَّكُمْ وَاَنْتُمْ لِبَاسٌ لَّهُنَّ ؕ عَلِمَ اللّٰهُ

او اے نبی، که چرے ستا نه زما بندگان زما په حقله تپوس وکړی، نو هغوئ ته ووایه چه زهٔ هغوئ ته نزدے یم. آواز کونکے چه کله ما ته آواز کوی نو زهٔ د هغه آواز اورم او جواب ورکوم نو په دے وجه هغوئ له هم پکار دی چه زما بلنه قبوله کړی او په ما باندِ ایمان راوړی[۱۸۸]. دا خبره ورته ته واوره وه کیدے شی چه په نیغه لار روان شی[۱۸۹].

د روژو په دوران کښے د شپے د چنلو نیځو سره ملاویدل ستاسو دپاره حلالی کړے شوی دی. هغوئ ستاسو دپاره جامے دی، او تاسو د هغوئ دپاره جامے یئ[۱۹۰] الله ته معلومه شوه چه

[۱۸۸] یعنی اگرچه نهٔ تاسو ماله کوتے راوړے شئ او نهٔ م په سترګو لیدے شئ، خو دا خیال مهٔ کوئ چه زهٔ ستاسو نه لرے یم. نا، بلکه زهٔ خپل هر بنده ته دومره نزدے یم چه هر وختے زما نه خپل حاجت غوښتلے شی، نزدے پورے چه که په زړهٔ کښے دننه زما نه څه اوغواړی نو زهٔ هغه هم اورم، او یوا ځے اورم نهٔ بلکه د هغے مطابق فیصله هم کوم. کومے بے اختیاره او بے حقیقته هستئ چه تاسو پخپله ناپوهتیا ځان له معبودان او پالونکی جوړ کړی دی، د هغوئ دربارونو ته د خپل حاجت غوښتلو دپاره خو تاسو مزلونه کوئ او ځئ، او بیا هم نهٔ هغوئ ستاسو خبره اوریدے شی او نهٔ پکښے دا طاقت شته چه ستاسو د درخاسونو مطابق څه فیصله وکړے شی. لیکن زهٔ، د دے فراخے دُنیا یو بادشاه او د ټولو اختیاراتو او طاقتونو مالک یم، تاسو ته دومره نزدے یم چه تاسو په هر وخت کښے او په هر ځائے کښے بغیر د څه ذریعے او سفارش نه نیغ په نیغه ما ته خپل فریادونه رارسولے شئ. نو په دے وجه تاسو د دے بے اختیاره او د دروغو خدایانو در ته تلل پریږدئ او دا ناپوهتیا مهٔ کوئ. زهٔ چه کوم څیز ته تاسو را بلم هغه قبول کړئ، په ما پورے ځان ټینګ کړئ، زما طرفته راشئ، په ما بروسه وکړئ، زما بندګی اختیار کړئ او زما فرمان ومنئ.

[۱۸۹] یعنی چه ستا په ذریعه ورته حقیقت معلوم شی او سترګے ئے وغړیږی او هغه نیغے لارے ته راشی په کومه کښے چه دوئ ته پخپله فائده ده.

أَنَّكُمْ كُنْتُمْ تَخْتَانُونَ أَنْفُسَكُمْ فَتَابَ عَلَيْكُمْ وَعَفَا عَنْكُمْ ۚ فَالْآنَ بَاشِرُوهُنَّ وَابْتَغُوا مَا كَتَبَ اللَّهُ لَكُمْ ۚ وَكُلُوا وَاشْرَبُوا حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الْأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الْأَسْوَدِ مِنَ الْفَجْرِ ۖ

تاسو د خپل ځان سره پټ په پټه خیانت کوئ، خو هغه مو تاسو غلطی معاف کړه او په تاسو مے چشم پوشی وکړه ۔ اوس تاسو خپلو ښځو ته د شپے ورځئ او کومه مزه چه الله مو تاسو د پاره جائز کړی ده هغه اخلئ[۱۹۱] هم دغه رنګه د شپے ترهغے پورے خورئ څښئ کله چه د تورے تیرے شپے نه د صبا سپینه رنړا ښکاره شی[۱۹۲] ۔

۱۹۰ یعنی لکه څنګه چه د جاهلیت او د بدن په منځ کښے بلکه پرده نشته، دواړه یو بل سره فائده یو خاتے وی، دغه شان تعلق تاسو د ښځو او تاسو هم د یو بل سره دے ۔

۱۹۱ په اول کښے اګرچه د دے قسمه څه صفاحکم موجود نه وو چه د رمضان د میاشتے په شپو کښے د ښځو سره نه ملاویږی، خو د خلقو په خپله د خیال وو چه کنی په رمضان کښے د شپے ښځو سره ملاویدل جائز نه دی. خو د دے خیال باوجود به هغوئ اکثر د خپلو ښځو سره ملاویدل. د دا سے وه لکه چه پخپله د خپل ځان سره خیانت کوی او د دے نه دا ډیره پیدا کیدله چه په دوئ کښے به د جُرم او د ګناه ذهن پوخ شی ۔ دغه وجه ده چه اول ورته الله تعالیٰ دغه خپل خیانت په کوتاه کړو او بیا ئے ورته وفرمایئل چه د رمضان په میاشت کښے د خپلو ښځو سره ملاویدل ستاسو د پاره جائز دی ۔ اوس دا کار په خپل خیال کښے بدمذهبی کنړئ، بلکه د الله د اجازت نه فایده واخلئ او په صفا زړه سره ملاویږئ ۔

۱۹۲ په دے باره کښے هم اول اول خلق په غلطئ کښے پراته وو د چا د خیال وو چه د ماسختن د مانځه نه روسته خوراک څکاک حرامیږی او د چا د خیال وو چه د شپے ترخو پورے سړے ویخ وی ترهغے پورے خوراک څکاک کولے شی خو چه کله اوده شو او بیا د وبار راپاسیدو نو بیا څه خوراک نه شی کولے ۔ د احکمونه خلقو په خپله په خپل خیال کښے جوړ کړی وو او د دے په وجه به اکثر وګړی په تکلیف کښے وو ۔ په دے آیت کښے د دے قسمه غلطئ ختمے کړے شوی دی ۔ په دے کښے د روژے حد د صبا ختلو نه را واخله تر د نمر پریوتلو پورے مقرر کړے شو او د نمر پریوتلو نه تر د صبا ختلو پورے نو له شپه د خوراک څکاک او د خپلو ښځو سره د ملاویدلو آزادی ورکړے شوه ۔

۱۹۳ اسلام د خپلو عبادتونو د پاره د وختونو داسے طریقه مقرر کړی ده چه د هغے نه په نیولو دنیا کښے د هر قسمه خلق په هر وخت او په هر ځائے کښے ځان له وختونه مقرره ملے شی ۔ اسلام په کهړو باندے د وخت مقرره ولو په ځائے د هغے نیولو په ذریعه وخت مقرره وی چه هغه

ثُمَّ اَتِمُّوا الصِّيَامَ اِلَى الَّيْلِ ۚ وَلَا تُبَاشِرُوْهُنَّ وَاَنْتُمْ

بیا دا ټول کارونه پریږدئ او دَ شپے پورے خپله روژه پوره کړئ ۔ او کله چه تاسو
په جماتونو کښے اعتکاف کونکی یئ، نو دَ خپلو ښځو سره

په ټوله دنیا کښے ښکاره په نظر راځی ۔ خو څه ناپوه خلق دَ وخت معلومولو په دے طریقه باندِ عام طور دا
اعتراض کوی چه کومے علاقے قُطبین ته نزدے دی په هغے کښے پدے طریقه وختونه نشی معلومیدلے ځکه
چه هلته شپے ورځے په څوڅو میاشتو وی ۔ حالانکه دا اعتراض هغه خلق کوی چه دَ ملکونو په حالاتو پوره علم
نه لری ۔ په حقیقت کښے هلته نه هغه شان شپږ میاشتے شپه وی او نه هغه شان شپږ میاشتے ورځ لکه
څنګه چه دلته زمونږ دَ خطِ استوا سره خو او شاته دَ وسیدونکو خلقو شپه او ورځ وی ۔ هلته که دَ شپے
دوروی او که دَ ورځے خو با قاعده دَ سحر او دَ ماښام پته لګی او هم دَ دغے سحر او ماښام په وجه دَ هغے ځائے
خلق زمونږ په شان ځان له دَ اُودهٔ کیدلو او دَ پاسیدلو او دَ کارکولو وختونه مقرره وی ۔ کله چه دَ ګهړو
رواج عام نه وُو په هغے وخت کښے هم دَ "فن لینډ" دَ "ناروے" او دَ "ګرین لینډ" وغیره خلقو خپل وختونه
معلومول او دَ وختونو معلومولو ذریعه ئے هم دغه دَ آسمان دَ لمنو سره دَ تیرے او دَ رڼا نښے وے ۔ نو لکه
څنګه چه په نورو معاملاتو کښے هغوئ ځان له دَ دے نښونه وختونه مقرره وی دغه شان دَ مانځه او دَ
پیشمنی او دَ روژه ماتی دپاره هم دَ دے نښونه وختونه ځان له مقرره ولے شی ۔

۱۹۴ دَ شپے پورے دَ روژے پوره کولو مراد دا دے چه دَ کوم ځائے نه دَ شپے حد شروع کیږی په
هغه ځائے ستاسو دَ روژے حد ختم شو ۔ او دا خو هر چا ته معلومه ده چه دَ شپے حد دَ نمر پریوتلو
نه شروع کیږی ۔ نو دَ نمر پریوتلو سره روژه ماتول پکار دی ۔ دَ پیشمنی او دَ روژه ماتے صحیح
علامه دا ده چه کله په آخره شپه کښے نمر خاته طرفته دَ آسمان په لمنه کښے دَ صبا سپینوالے راوځیژی
نو دَ پیشمنی وخت ختم شی او کله چه دَ ورځ په آخر وخت کښے دَ نمر خاته طرفته دَ شپے تیارهٔ په
پورته کیدو شی نو دَ روژه ماتی وخت شی ۔ نن صبا خلقو دَ پیشمنی او دَ روژه ماتی په وختونو
کښے دَ ډیر احتیاط په وجه بے ځایه سختی شروع کړیده ۔ خو لیکن شریعت دَ دے دواړو وختونو
دپاره څه داسے وختونه نه دی مقرر کړی چه ګنی دَ یو څو سیکنډونو یا دَ یو څو منټونو اخوا دیخوا
کیدلو په وجه به دَ سړی روژه خرابه شی ۔ دَ شپے دَ تیارے نه چه دَ صبا سپینوالے راښکاره کیږی نو په دے
کښے ډیر وخت لګی که چرے یو سړے عین دَ صبا ختلو په وخت کښے راویخ شی نو دَ هغه دپاره دا بالکل صحیح ده
چه زر راپاسی او څه وخوری وُڅکی ، دا حدیث دے چه نبیؐ فرمائیلی دی که په تاسو کښے څوک
پیشمنے کوی او آذان واوری نو فوراً دِ نه بس کوی بلکه دَ خپل حاجت مطابق دِ وُخوری وُڅکی ۔
دغه شان دَ روژه ماتی په وخت کښے هم دَ نمر پریوتلو نه روستو دَ رڼا ختمیدلو پورے انتظار کولو ته
ضرورت نشته ۔ نبی صلی الله علیه وسلم به دَ نمر پریوتلو سره بلالؓ ته آواز کولو چه راوړه
زما شربت ۔ بلالؓ به عرض وُکړو چه یا رسول الله اوس خولا دَ ورځے رڼا ده ۔ نبیؐ به وُفرمائیل
چه کله دَ شپے تیارهٔ دَ نمر خاته نه په راپورته کیدو شی نو دَ روژے وخت ختم شی ۔

عٰكِفُوْنَ ۙ فِي الْمَسٰجِدِ ؕ تِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ فَلَا تَقْرَبُوْهَا ؕ كَذٰلِكَ
يُبَيِّنُ اللّٰهُ اٰيٰتِهٖ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ ﴿۱۸۷﴾ وَلَا تَاْكُلُوْٓا
اَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ وَتُدْلُوْا بِهَآ اِلَى الْحُكَّامِ

مهٔ یو ځائے کیږئ۔[۱۹۵] دا دَ الله تړلی شوی حدونه دی، دے ته مهٔ نزدے کیږئ۔[۱۹۶] دغه شان الله تعالیٰ خپل حکمونه ښهٔ په تفصیل سره خلقو ته بیانوی اُمید دے چه هغوئ به دَ غلطو طریقونه بچ شی۔

او تاسو په خپلو کښے دَ یو بل مالونه په ناروا طریقه مهٔ خورئ او مهٔ ئے حاکمانو ته دَ دے

[۱۹۵] په اعتکاف کښے دَ ناستے مطلب دا دے چه سړے دَ رمضان آخری لس ورځے په جمات کښے تیری کړی او دا ټولے ورځے دَ الله دَ یادولو دپاره وقف کړی۔ دا اعتکاف په حالت کښے سړے دَ خپلو انسانی حاجتونو پاره دَ جمات نه بهر ته وتلے شی، خو دا لازمی ده چه ځان به دَ شهوتی خوندونو نه لرے ساتی۔

[۱۹۶] دا ئے وُ نهٔ فرمایئل چه دَ دے حدونو نه وا نوړئ، بلکه دا ئے اُو فرمایئل چه دے ته مهٔ نزدے کیږئ۔ دَ دے دا مطلب دے چه دَ کوم ځائے نه دَ ګناه حد شروع کیږی، بالکل دَ هغه ځائے په آخری غاړو کوزیدل دَ سړی دپاره خطرناک دی۔ سړے هله روغ پاتے کیدے شی چه دَ سرحد نه دومره لرے اُووسی چه په هیره ئے هم قدم دَ حد نه بهر ته وُ نهٔ وُځی۔ دا خبره په هغے حدیث کښے بیان شویده چه په هغے کښے نبی صلی الله علیه وسلم فرمایئلی دی چه "لِكُلِّ مَلِكٍ حِمًى وَاِنَّ حِمَى اللّٰهِ مَحَارِمُهٗ۔ فَمَنْ رَتَعَ حَوْلَ الْحِمٰى، يُوْشِكُ اَنْ يَّقَعَ فِيْهِ" په عربئ ژبه کښے حِمٰی هغه چمن ته وائی چه هغه یو سردار یا یو بادشاه دَ عامو خلقو دپاره منع کړے وی۔ نبی دا تشبیه استعمال کړی ده او فرمائی چه "دَ هر بادشاه یو چمن وی او دَ الله چمن (حِمٰی) دَ الله هغه حدونه دی چه هغه دَ حلالو او دَ حرامو او دَ فرمانبرداری او دَ نافرمانئ فرق ښکاره کوی۔ کوم ځناور چه دَ چمن نه چاپیره څریږی کیدے شی چه یوه ورځے په چمن کښے دننه داخل شی۔" افسوس دے چه ډیر داسے خلق چه دَ شریعت دَ اصلی مطلب نه ناخبره دی، هغوئ همیشه دَ اجازت دَ آخری حدونو پورے تللو ته زور لګوی، او ډیر عالمان او بزرګان هم دَ دے غرض دپاره سندونه ګوری۔ او هغوئ ته دَ جواز آخری حدونه ښائی چه هغوئ په هغه نوئ کرخه ګوزیدل شروع کړی په کومه کرخه چه دَ فرمان او دَ نافرمانئ په منځ کښے صرف دَ ویخته هر مره فاصله پاتی کیږی۔ نتیجه ئے دا ده چه اکثر خلق په ګناه کښے اخته دی او دَ ګناه نه هم دروړاندے په ګمراهئ کښے مبتلا دی ځکه چه دَ دغے حدونو نوئ کرخه پیژندل او ګناه ته ځان قابو کښے ساتل دَ هر چا دَ وس کار نهٔ دے

لِتَاْكُلُوْا فَرِيْقًا مِّنْ اَمْوَالِ النَّاسِ بِالْاِثْمِ وَاَنْتُمْ
تَعْلَمُوْنَ ﴿۱۸۸﴾ ع يَسْئَلُوْنَكَ عَنِ الْاَهِلَّةِ ؕ قُلْ هِيَ مَوَاقِيْتُ
لِلنَّاسِ وَالْحَجِّ ؕ وَلَيْسَ الْبِرُّ بِاَنْ تَاْتُوا الْبُيُوْتَ مِنْ

غرض دَ پاره وړئ چه تاسو په قصد او په زیاتی سره دَ بل دَ مال څه حصه وُ خورئ[۱۹۷]
خلق ستا نه دَ سپوږمئ دَ لوئیدو او دَ وړیدو په باره کښے تپوس کوی، ورته اُووایه چه
دا دَ خلقو د پاره دَ تاریخونو مقرره ولو او دَ حج علامتونه دی[۱۹۸]۔ هم دغه رنګے دوئ ته
اُووایه چه دا څه دَ نیکئ کار نه دے چه تاسو خپلو کورونو ته

[۱۹۷] دَ دے آیت یو مطلب خو دا دے چه دا کوشش مه کوئ چه دَ حاکمانو نه دَ رشوت په ذریعه ناجائزه فائدے واخلئ. او بل مطلب ئے دا دے چه کله تا ته دا بنه پته وی چه دا مال دَ بل سړی دے، خو دَ هغه سره دَ خپل ملکیت ثبوت نشته یا تر ته په چالاکئ دغه مال خوړلے شے، نو دغه مقدمه عدالت ته مه وړه۔ کیدے شی چه دَ عدالت حاکم په ظاهره دَ دغے مال فیصله ستا په حق کښے وکړی خو په اصل کښے به دغه فیصله دَ غلط بیانئ وجه وی۔ نو که عدالت ستا په حق کښے فیصله هم کړی وی خو په حقیقت کښے ته دَ دغے مال جائز مالک نشے جوړیدلے۔ دَ خدائے په نزد به دغه مال ستا د پاره حرام وی۔ حدیث دے چه نبی صلی الله علیه وسلم وُ فرمائیل "انما انا بشر وانتم تختصمون الی ولعل بعضکم یکون الحن بحجته من بعض، فاقضی له علی نحو ما اسمع منه. فمن قضیت له بشئ من حق اخیه، فانما اقضی له قطعة من النار" یعنی بهرحال زه یو انسان یم۔ کیدے شی چه تاسو ماله یوه مقدمه راوړئ او په تاسو کښے دَ یوے ډلے چالاکی دَ بلے ډلے نه ډیره وی او زه دَ هغوئ دَ دلیلونو مطابق دَ هغوئ په حق کښے فیصله وُ کړم۔ خو په دے بنه ځان پوهه کړئ که چرے دغه شان تاسو دَ خپل یو رُور حق زما دَ فیصلے په ذریعه واغستلو نو په اصل کښے تاسو دَ دوزخ یوه ټوکړه واغستله۔

[۱۹۸] دَ سپوږمئ وړیدل او لوئیدل یو داسے منظر دے، چه په هره زمانه کښے ورته دَ انسان خیال شویدے او دَ دے په حقله قسما قسم وهمونه، خیالونه او رسمونه دَ دنیا په قومونو کښے مخکښے هم وُو او اوس هم شته۔ په عربو کښے هم دَ دے قسمه وهمونه وُو۔ په سپوږمئ بنه او بد فال نیول، دَ میاشتے ځنے ورځے نیک بختے او ځنے بد بختے ګڼړل، څه خاص ورځ دَ سفر د پاره یا دَ څه کار شروع کولو د پاره یا دَ واده کوئیدن د پاره نیکه یا بده ګڼړل، او دا یقین ساتل چه دَ انسان په قسمتونو باندے دَ سپوږمئ دَ ختلو او دَ پریوتلو او دَ سپوږمئ دَ وړیدلو او لوئیدلو او دَ سپوږمئ دَ رفتار او دَ تندرنیولو اثر دی دا قسمه ټولے خبرے دَ نورو جاهل قومونو پشان په عربو کښے هم وے او په هغوئ کښے دَ دے په حقله مختلف وهمی او خیالی رسمونه موجود وُو۔ دَ نبی صلی الله علیه وسلم نه دَ دے خبرو دَ حقیقت په باره

ظُهُوْرِهَا وَلٰكِنَّ الْبِرَّ مَنِ اتَّقٰى ۚ وَاْتُوا الْبُيُوْتَ مِنْ اَبْوَابِهَا ۠
وَاتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿۱۸۹﴾ وَقَاتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ
الَّذِيْنَ يُقَاتِلُوْنَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوْا ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ

دَ شادَ طرفنه ورننوځئ. نیکی خو په اصل کښے داده چه سړے دَ الله دَ ناراضګئ نه بچ شي نو خپلو کورونو ته په دروازه باندِ ورځئ. البته دَ الله نه بَریږئ. کیدے شي چه ستاسو خلاصے نصیب شي[۱۹۹]

او تاسو دَ الله په لار کښے دَ هغے خلقو سره جنګیږئ چه ستاسو سره جنګیږي[۲۰۰]، خو زیاتے مه کوئ ځکه چه الله

کښے تپوس وکړے شو. نو په جواب کښے ورته الله وفرمائیل چه دَ سپوږمئ وریدل او لوئیدل ستاسو دپاره یوه قدرتي جنتري ده بل هیڅ نه دي، چه په آسمان کښے ښکاره شي نو دَ ټولے دنیا خلقو ته په یووخت دَ هغوئ دَ ورځو حساب ښائي. دَ حج ذکر ئے پکښے خاص طور دَ دے دپاره وکړو چه دَ عربو په مذهبي، کلي والئ او دَ کتے وتے په ژوند کښے دَ حج ډیر لوئ اهمیت وو. دَ کال څلور میاشتے دَ حج او دَ عمرے دپاره خاص وے. په دغه میاشتو کښے به جنګونه بند وو، په لارو کښے به څه خطره نه وه او دَ امن په وجه به کارو بار ډیر فائده مند وو.

۱۹۹ دَ کوم وهمي رسمونو چه په عربو کښے رواج وو په هغے کښے یو دا وو چه هغوئ به کله دَ حج دپاره احرام وتړلو نو بیا به خپلو کورونو ته په دروازه نه ورننوتل، بلکه دَ شا دَ طرفنه به یا په دیوال ور اوړیدل او یا به ئے دَ شا په دیوال کښے کهړکئ جوړه کړه او په هغے به ورننوتل. دغه رنګے چه کله به دَ سفر نه واپس راغلل نو خپلو کورونو ته به دَ شا دَ طرفنه ورننوتل. په دے آیت کښے نه یواځے دا رسم ختم کړے شوے دے، بلکه دَ دے وینا سره ټول وهمونه ختم کړے شوي دي چه نیکي په اصل کښے دَ الله نه دَ یرے او دَ الله دَ حکمونو دَ خلاف ورزئ نه دَ بچ کیدو نوم دے. دَ پلار نیکه نه پاتي شوي رسمونه هیڅ نیکي نه ده او نه دَ دغے رسمونو دَ انسان دَ نیک بختئ او بدبختئ سره څه تعلق شته

۲۰۰ یعني څوک چه دَ خدائے په کار کښے ستا لار بنده وي او په دے وجه ستا دشمنان وي چه ته دَ خدائے دَ حکم مطابق دَ ژوند اصلاح کول غواړے، او هغوئ دَ دے اصلاحي کار دَ بند ولو دپاره زور ظلم استعماله وي نو ته ورسره هم جنګ وکړه. دَ دے نه مخکښے چه مسلمانان کمزوري او خواره وارهٔ وو هغوئ ته دا حکم وو چه صرف تبلیغ کوئ او دَ مخالفینو په زور زیاتي باندِ صبر کوئ. خو چه کله په مدینه کښے دَ مسلمانانو یو وړوکے شان ریاست جوړ شو نو په اول ځل ورته دا حکم کیږي چه کوم خلق دَ دے اصلاحي کار په لار کښے سره دَ وسلے مخے ته راځي نو هغوئ له دَ تورے جواب په توره ورکړئ. دَ دے نه روستو دَ بدر جنګ وشو، او دَ

الْمُعْتَدِيْنَ ﴿۱۹۰﴾ وَاقْتُلُوْهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوْهُمْ وَاَخْرِجُوْهُمْ
مِّنْ حَيْثُ اَخْرَجُوْكُمْ وَالْفِتْنَةُ اَشَدُّ مِنَ الْقَتْلِ ۚ
وَلَا تُقٰتِلُوْهُمْ عِنْدَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ حَتّٰى يُقٰتِلُوْكُمْ
فِيْهِ ۚ فَاِنْ قٰتَلُوْكُمْ فَاقْتُلُوْهُمْ ؕ كَذٰلِكَ جَزَآءُ
الْكٰفِرِيْنَ ﴿۱۹۱﴾ فَاِنِ انْتَهَوْا فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۹۲﴾

زیاتی کونکی نۂ خونبہ[۲۰۱] وی. دَ هغوئ سره جنګ کوئ کوم ځائے کښے چه ستاسو دَ هغوئ سره مقابله راشی او دَ هغه ځائے نه هغوئ وُ باسئ دَ کوم ځائے نه چه هغوئ تاسو ایستلی یئ ځکه چه قتل کول اګرچه بدکار دے، خو فتنه دَ هغے نه هم زیات بدکار دے[۲۰۲]. او دَ مسجد حرام په خوا کښے چه هغوئ ستاسو سره ترڅو پورے جنګ نۂ کوی نو تاسو ورسره هم جنګ مه کوئ خو که هغوئ هلته هم دَ جنګ نه منع نۂ شول نو بیا تاسوئے هم په خلاص مټ وژنئ ځکه چه دَ داسے کافرانو سزا هم دا ده. بیا که چرے هغوئ منع شول نو یقین ساتئ چه الله معاف کونکے او رحم کونکے دے[۲۰۳]

او دَ جنګونو سلسله شروع شوه.

[۲۰۱] یعنی دَ خپل دینوی او ذاتی غرضونو د پاره جنګ مه کوئ. دَ هغه خلقو سره جنګ مه کوئ چه دَ دینِ حق لار نۂ بنده وی او مه په جنګ کښے دَ جاهلیت طریقے استعماله وئ. په ښځو او بچو، بو ډاګانو او زخمیانو باندِ ظلم کول، دَ دُشمنانو دَ مړو نه اندامونه پریکول، پټی او مالونه تباه کول او نور داسے دَ ظلم کارونو ته "دَ حد نه زیاتے" وائی، او په حدیث کښے دَ دے ټولو کارونو نه منع کړے شوی ده. دَ آیت مطلب دا دے چه طاقت په هغه ځائے کښے استعمالول پکار دی چه کوم ځائے کښے ضروری وی او هغو مره دِ استعمال کړے شی چه څو مره پکار وی.

[۲۰۲] دلته دَ فتنے دلفظ مطلب دَ انګریزئ دَ دے لفظ (Persecution). پشان دے، یعنی چه یوه ډله یا یو سړے وی او هغه ته دَ موجوده وخت دَ خیالاتو او نظریاتو په ځائے څه نور خیالات او نظریات حق ښکاره شوی وی او هغه ئے قبول کړی وی. او بیا هغه په خپلو خلقو کښے تش دَ خولے په تبلیغ سره دَ اصلاح کولو کوشش کوی او بل څوک دے په ظلم زور دَ دے نه منع کوی نو دے ته فتنه وائی. دَ آیت مطلب دا دے چه دَ انسان وینه تو یه ول بیشکه ډیر بدکار دے، خو چه څوک دَ حق نه خلق په زور منع کوی او په زبردستئ سره خپله خبره په خلقو منی، نو دا دَ قتل نه ډیر زیات بدکار دے، او داسے خلق دَ تورے په زور لرے کول بالکل جائز دی.

وَقٰتِلُوْهُمْ حَتّٰى لَا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ وَّيَكُوْنَ الدِّيْنُ لِلّٰهِ ؕ فَاِنِ انْتَهَوْا فَلَا عُدْوَانَ اِلَّا عَلَى الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۹۳﴾

تاسو دَ هغوئ سره جنګ کوئ تر هغے پورے چه فتنه پاتے نشي او دين دَ الله دپاره شي[۲۰۳]. بیا که چرے هغوئ منع شول، نو ځان پوهه کړئ چه دَ ظالمانو نه بغیر په بل چا زیاتے کول جائز نهٔ دي[۲۰۴]

[۲۰۳] یعنی تاسو چه په کوم خدائے ایمان راوړے دے دَ هغه دا صفت دے چه که دَ لویو نه لوئ مجرم او ګنهګار دَ خپلو غلطو کارونو نه واپس شي او توبه وباسي نو هغه ئے معاف کوي. دا صفت تاسو هم پخپل ځان کښے پیدا کړئ. "تخلقوا باخلاق الله". تاسو دَ بدلے اغستلو دپاره جنګ مهٔ کوئ بلکه دَ خدائے دَ دین دَ لارے دَ صفا کولو دَ پاره جنګ کوئ. تر کومه پورے چه څوک دَ خدائے په لار کښے رکاوټ او بندیز پیدا کوي تر هغے پورے تاسو دَ هغهٔ سره جنګیږئ، خو چه کله هغه خپله رویه بدله کړي او مشکلات نهٔ پیدا کوي نو بیا ورته څه مهٔ وائئ.

[۲۰۴] دلته دَ فتنے لفظ دَ مخکینی نه لږ په بدله معنی استعمال شوے دے، دَ مخکښے روستو عبارت نه صفا پته لږي چه دلته دَ "فتنے" نه مراد هغه حالت دے چه په هغے کښے دین دَ الله پځائے دَ بل چا دَ پاره وي، او دَ جنګ مقصد دا دے چه دا فتنه ختمه شي او دین صرف دَ الله دپاره شي. په عربئ ژبه کښے دَ "دین" معنی "حکم منل" دي او په عام استعمال کښے دَ دین نه مراد دَ ژوند هغه نظام دے چه څوک بالاتر او منلے شي او بیا دَ هغه دَ حکمونو او دَ قانون لاندې ژوند تیریږي. دَ دین دَ دے تشریح نه دا خبره معلومه شوه چه دَ خلقو هغه حالت چه په هغوئ باندې دَ بنده حکم چلیږي، او دَ الله دَ قانون مطابق ژوند پکښے نشي تیریدلے، نو دغه دَ فتنے حالت دے او دَ اسلامي جنګ اصلي مقصد دا دے چه دَ دے فتنے په ځائے دا سے حالت قایم شي چه په هغے کښے دَ خدائے مخلوق دَ خدائے دَ قانون لاندې ژوند تیر کړي.

[۲۰۵] دَ منع کیدلو نه مطلب دا نهٔ دے چه کافران دَ خپل کفر او شرک نه منع شي، بلکه دا ئے مطلب دے چه دَ فتنے نه منع شي. کافر، مشرک، او دهریه، هر چا ته دا اختیار حاصل دے چه پخپله څه عقیده لري، لري دي او چه دَ چا عبادت کول غواړي دَ هغه عبادت دِ کوي او یا که دَ هیچا عبادت نهٔ کوي نو نهٔ دِ کوي. دده نیغے لارے ته دَ راوستلو دپاره به مونږ دے پوهه کوؤ او دهٔ ته به نصیحت کوؤ، خو دَ دهٔ سره به جنګ نهٔ کوؤ. لیکن دهٔ ته دا حق هرګز نشته چه دَ خدائے په زمکه باندې دَ خدائے دَ قانون په ځائے بل باطل قانون جاري کړي او دَ خدائے بندګان دَ خدائے نه بغیر دَ بل چا بندګان جوړ کړي. دَ دے فتنے دَ لرے کولو دپاره به دَ موقعے او دَ وس مطابق دَ تبلیغ او دَ تورے دواړو نه کار اغستلے کیږي او مومن به دَ هغے وخته پورے په آرام نهٔ کیني تر څو چه کفار دَ دے فتنے نه منع شوي نهٔ وي.

او دا چه وے فرمائیل که چرے هغوئ منع شول نو "دَ ظالمانو نه بغیر په بل چا زیاتے کول جائز نهٔ دي" نو دَ دے نه دا مطلب راوځي چه کله دَ باطل نظام پځائے دَ حق نظام قایم شي نو عام خلق خو به معاف کړے شي. لیکن حق والو ته دا حق حاصل دے چه دا سے خلقو له سزا ورکړي کومو چه دَ خپل اقتدار په وخت کښے دَ حق دَ لارے بندولو دپاره ډیر ظلم او زیاتے کړے وي، اګر چه په

اَلشَّهْرُ الْحَرَامُ بِالشَّهْرِ الْحَرَامِ وَالْحُرُمٰتُ قِصَاصٌ ؕ فَمَنِ
اعْتَدٰى عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُوْا عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدٰى عَلَيْكُمْ ۪
وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ مَعَ الْمُتَّقِيْنَ ﴿۱۹۴﴾

دَ عزت دَ میاشتے بدلہ هم دَ عزت میاشت دہ او دَ ټولو عزتونو لحاظ بہ یو شان برابر کیږی ۲۰۶ نو چا چہ پہ تاسو باندِ زیاتے وکړو، تاسو هم هغہ شان زیاتے پہ هغہ باندِ وکړئ. لیکن دَ الله نہ یَرہ کوئ او پہ دے پوهہ شئ چہ هغہ دَ هغے خلقو سرہ دے چہ دَ هغہ دَ حدونو ماتولو نہ ځان ساتی.

پہ دے معاملہ کښے هم دَ نیک صالحہ مومنانو سرہ دا بنائی چہ دَ معافئ نہ کار واخلی او دَ ظالمانو نہ بدلہ وانہ خلی. خو چہ چاډیر زیات جرمونہ کړی وی هغوئ تہ سزا ورکول بالکل جائز دی او نبی صلی الله علیہ وسلم پخپلہ دَ دے اجازت نہ فایدہ اغستلی دہ چہ دَ هغہ نہ زیات معافی کونکے بل څوک نہ وُو. دَ جنګِ بدر پہ قیدیانو کښے عُقبہ بن ابی مُعیط او نضر بن حارث قتل کړے شو او دَ فتح مکے نہ روستو اُوولس ۱۷ کسان پہ عام معافئ کښے رانہ غلل او بیا پہ هغوئ کښے ئے څلورو کسانو تہ دَ مرګ سزا ورکړہ. دا ټول دَ دے اجازت وجہ وہ.

۲۰۶ پہ عربو کښے دَ حضرت ابراهیمؑ دَ وخت نہ دا طریقہ را روانہ وہ چہ دَ ذی القعدے او دَ ذی الحجے او دَ محرم درے میاشتے دَ حج دپارہ مقرر وے او دَ رجب میاشت دَ عُمرے دپارہ مقرر کړے شوی وہ او پہ دے څلورو واړو میاشتو کښے جنګ جګړہ او لُوټ مار پہ دے وجہ منع وُو چہ دَ کعبے زیارت کونکی پہ امن سرہ دَ خدائے کور تہ لاړ شی او پہ امن سرہ واپس کور تہ راشی. دا وجہ وہ چہ دے میاشتو تہ بہ دَ عزت میاشتے (حرام میاشتے) وئیلے کیدے. دَ آیت مطلب دا دے کہ کافران دے میاشتے عزت کوی نو مسلمانان دِ هم عزت کوی او کہ چرے کافران ئے عزت نہ کوی او پہ دے میاشتو کښے پہ مسلمانانو زیاتے کوی نو مسلمانانو تہ هم پہ دے عزتمنو میاشتو کښے دَ بدلے اغستلو اجازت دے.

دَ دے اجازت ضرورت پہ دے وجہ پیښ شو چہ عربو دَ جنګ جګړے او دَ لوټ مار دپارہ دَ "نسی" یوہ قاعدہ جوړہ کړی وہ. دا داسے یوہ طریقہ وہ چہ هغوئ بہ دَ چانہ بدلہ اغستلہ یا بہ ئے دَ لوټ مار نیت وُو نو پہ دے عزتمنو میاشتو کښے بہ ئے حملہ وکړہ او بیا بہ ئے دَ دے میاشتے پہ بدلہ کښے پہ نورو میاشتو کښے یوہ میاشت پہ ځان جنګ وغیرہ حرام کړل، او پہ دے طریقہ بہ ئے دَ عزتمنے میاشت بدل پورہ کولو. پہ دے وجہ مسلمانانو وئیل چہ کفار خو دَ نسی طریقے پہ بهانہ پہ حرامو میاشتو کښے جنګ کوی خو مو بڑ څہ وکړو. دَ دے جواب پہ دے آیت کښے شوے دے.

وَاَنْفِقُوْا فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ وَلَا تُلْقُوْا بِاَیْدِیْكُمْ اِلَى التَّهْلُكَةِ ۛۚ
وَاَحْسِنُوْا ۛۚ اِنَّ اللّٰهَ یُحِبُّ الْمُحْسِنِیْنَ ﴿۱۹۵﴾ وَاَتِمُّوا الْحَجَّ
وَالْعُمْرَةَ لِلّٰهِ ؕ فَاِنْ اُحْصِرْتُمْ فَمَا اسْتَیْسَرَ مِنَ الْهَدْیِ ۚ
وَلَا تَحْلِقُوْا رُءُوْسَكُمْ حَتّٰى یَبْلُغَ الْهَدْیُ مَحِلَّهٗ ؕ

دَ اللہ پہ لار کښے خرچ کوئ او خپل ځان پہ خپلو لاسونو مَہ ہلاکہ وئ[۲۰۷]. دَ احسان طریقہ اختیار کړئ ځکہ چہ اللہ احسان کونکی خوښوی[۲۰۸].

دَ اللہ دَ رضا دپارہ چہ کلہ دَ حج او دَ عُمرے نیت وکړئ نو ھغہ پورہ کوئ، او کہ چرے پہ یو ځائے کښے رابند کړے شوئ نو بیا چہ څہ قربانی درتہ آسانہ وی ھغہ اللہ تہ پیش کړئ[۲۰۹] او تر ھغے پورے خپل سرونہ مَہ خَرَوئ تر کومہ پورے چہ قربانی خپل ځائے تہ رسیدلی نہ وی[۲۱۰].

---

۲۰۷ دَ اللہ پہ لار کښے دَ خرچ کولو نہ مراد دَ اللہ دَ دین دَ قایمہ ولو پہ کوشش کښے خپل مال ګکول دی. دَ آیت مطلب دا دے کہ چرے تاسو دَ خدائے دَ دین دَ وُچتولو دپارہ خپل مالونہ نہ ګکوئ او دَ دین پہ مقابلہ کښے درتہ خپلے ذاتی فایدے غورہ ښکاری نو دا بہ ستاسو دپارہ پہ دُنیا کښے ھم دَ ھلاکت سبب وی او پہ آخرت کښے ھم. پہ دنیا کښے بہ دَ کافرانو غلامان او ذلیلہ شئ او پہ آخرت کښے بہ درنہ سخت تپوس کیږی.

۲۰۸ دَ احسان لفظ دَ حُسن نہ وتلے دے، او معنیٰ ئے یو کار پہ ښہ طریقہ سرہ کول دی. دَ کار یوہ درجہ دا دہ چہ سړی تہ کوم خدمت حوالہ شوے وی، بس ھغہ وکړی. او دَ کار بلہ درجہ دا دہ چہ ھغہ پہ ښہ طریقے سرہ وکړی پہ ھغے کښے خپل پورہ قابلیت او خپل ټول ذرائع استعمال کړی او دَ ھغے کار دَ پورہ کولو کوشش دَ زړہ دَ اخلاصہ وکړی. او لہ درجہ صرف دَ حکم منلو درجہ دہ، چہ دَ ھغے دپارہ صرف تقویٰ او یرہ کافی دہ. او دا دویمہ درجہ دَ احسان درجہ دہ، چہ دَ ھغے دپارہ محبت او دَ زړہ مینہ پکار دہ.

۲۰۹ یعنی کہ چرے پہ لارہ کښے څہ داسے سبب پیښ شی چہ دَ ھغے پہ وجہ سړے وړاندے نشی تللے او دَ مجبورئ نہ را منع شی نو دَ اوښ، غوا، چیلئ نہ چہ کوم درتہ آسان وی ھغہ دِ دَ اللہ دپارہ قربانی کړی.

۲۱۰ پہ دے خبرہ کښے اختلاف دے چہ دَ قربانئ خپل ځائے تہ دَ رسیدلو نہ څہ مراد دے. حنفی علماء وائی چہ دَ دے ځائے نہ مراد حرم شریف دے. یعنی کہ چرے سړے پہ لارہ کښے دَ مجبورئ دَ وجہ نہ منع شی نو دَ قربانئ څاروے یا دَ ھغے قیمت دِ ولیږی چہ دَ حرم پہ حدونو کښے دَ دہ دَ طرفنہ قربانی وکړے شی. او امام مالکؒ او امام شافعیؒ وائی چہ سړے پہ کوم ځائے کښے رابند کړے شوے وی ھلتہ دِ قربانی وکړی.

فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَّرِيْضًا اَوْ بِهٖٓ اَذًى مِّنْ رَّاْسِهٖ
فَفِدْيَةٌ مِّنْ صِيَامٍ اَوْ صَدَقَةٍ اَوْ نُسُكٍ ۚ فَاِذَآ
اَمِنْتُمْ ۪ فَمَنْ تَمَتَّعَ بِالْعُمْرَةِ اِلَى الْحَجِّ فَمَا اسْتَيْسَرَ
مِنَ الْهَدْيِ ۚ فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلٰثَةِ اَيَّامٍ فِي
الْحَجِّ وَسَبْعَةٍ اِذَا رَجَعْتُمْ ۗ تِلْكَ عَشَرَةٌ كَامِلَةٌ ۗ
ذٰلِكَ لِمَنْ لَّمْ يَكُنْ اَهْلُهٗ حَاضِرِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۗ

خوچه څوک مریض وی یا د ځپا په سر کښے څه تکلیف وی او په دے وجه هغه خپل سر وخړوی
نو هغه ته کار دی چه په عوض د کښے روژے وٹنسی یا صدقه ورکری یا قرباني وکړی [۲۱۱] سلکه چرے

[redacted]

ه ځپا د پاره دے چه ځپا نورونه مسجد حرام سره تړلے نه وی

ت کول او صفا ئی کول دی ۔ مطلب دا دے چه ترڅو موتر بالی نه وی
وی ۔
ی چه نبی صلی الله علیه وسلم په دے حالت کښے د ډیر ورځو روژو
ړی ورکولو یا د ډیوے چیلئی ذبح کولو حکم کړے دے ۔
شی چه د هغے په وجه تاسو به لاره کښے بند شوی وی ۔ په هغه
شمنانو د حج لاره بند کړله او حاجیان ښه د حج نه منع کول نو په
الی د "بندیدلو" الفاظ او د هغے په مقابله کښے د "امن نصیب کیدلو"
ن نه علاوه د حج نه د بندیز نورے ډیر هم کیدے شی ، او دغه شان
وی د هغے وجه لرے کیدل امن نصیب کیدل دی ۔
ۀ خلقو ډاډ خیال وو چه په یو سفر کښے حج او عمره دواړه کول ډیره
ړشوی شریعت کښے د عمرے د پاره څانګړله او د حج د پاره څانګړله سفر
قید ختم کړو او د ډیرو نه راتلونکو خلقو سره ئے د رعایت وکړو

د وٹنیسی ۔ د رعایت د هغ

د سر خړولو نه مراد ویښته ک
کړی ترهغے پورے چه احرام مړ ک
۲۱۱ د حدیبیه نه معلومیږ
نیولو یا شپږو مسکینانو ته د ډو
۲۱۲ یعنی هغه سبب لری
زمانه کښے به زیات تر د اسلام د
دے وجه په برخلاف آیت کښے الله تع
الفاظ استعمال کړی دی ۔ لیکن د دشم
چه په کومه وجه سره منع شوے
۲۱۳ د جاهلیت په زمانه ک
لویدکنا ، ده ۔ د هغوئ په خپل جر
کول ضروری دی ۔ الله تعالیٰ د

وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿۱۹۶﴾ ع اَلْحَجُّ
اَشْهُرٌ مَّعْلُوْمٰتٌ ۚ فَمَنْ فَرَضَ فِيْهِنَّ الْحَجَّ فَلَا رَفَثَ وَلَا
فُسُوْقَ ۙ وَلَا جِدَالَ فِي الْحَجِّ ؕ وَمَا تَفْعَلُوْا مِنْ خَيْرٍ يَّعْلَمْهُ اللّٰهُ ؕ
وَتَزَوَّدُوْا فَاِنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوٰى ۫ وَاتَّقُوْنِ يٰٓاُولِي الْاَلْبَابِ ﴿۱۹۷﴾

وقف النبی صلی اللہ علیہ وسلم

دَ اللہ دَ دے حکمونو دَ خلاف ورزئ نہ ځان ساتئ او ښہ ځان پوهه کړئ چه الله سخت سزاور کولو والا دے ع

دَ حج میاشتے ټولو ته معلومے دی. څوک چه په دے مقرر و میاشتو کښے دَ حج نیت وکړی هغه له ځان خبره ول پکار دی چه دَ حج په دوران کښے دَ هغه نه څه شهوتی کار، څه بد عمل[۲۱۵] او دَ جنګ جګړے خبره[۲۱۶] وُ نه شی او تاسو چه کوم نیک کار کوئ، الله په هغے پوهه دے. دَ حج دَ سفر د پاره دَ لارے توښه دَ ځان سره واخلئ او دَ ټولو نه بهتره توښه پرهیزګاری ده. نو اے عقلمندو! زما دَ نافرمانئ نه ځان وساتئ[۲۱۷]

چه هغوئ په یو سفر کښے عُمره او حج دواړه کولے شی. لیکن دَ هغے خلقو سره ئے دا رعایت وُ نه کړو څوک چه دَ میقاتونو په حدونو کښے د ننه دَ مکے خواؤ شا کښے وُ سیږی ځکه چه دَ هغوئ د پاره عُمرے له ځان له سفر کول او حج له ځان له سفر کول څه ګرانه خبره نه ده.

دَ حج دَ ورځو دَ راتللو پورے په دغه وخت کښے دَ عُمرے کولو مطلب دا دے چه سړے عُمره وُ کړی او بیا احرام مات کړی او دَ احرام دَ پابندو نه ځان آزاد کړی. بیا چه کله دَ حج ورځے راشی نو بیا دِ نوے احرام وُ تړی.

۲۱۴ دَ احرام په حالت کښے نه یواځے دَ ښځے خاوند دَ یو بل سره په شهوت ملاویدل منع دی، بلکه هغوئ له پکار دی چه شهوتی خبرے دِ هم نه کوی.

۲۱۵ دَ ګناه کارونه خو هسے هم ناجائزه دی، لیکن دَ احرام په حالت کښے دَ هغے ګناه نوره هم سخته شی.

۲۱۶ تر دے پورے چه نوکر ته سخته خبره کول هم جائز نه دی.

۲۱۷ دَ جاهلیت په زمانه کښے دَ حج په سفر کښے دَ لارے توښه دَ ځان سره وړل یو دُنیا والا کار کڼړے شو او دَ یو مذهبی سړی نه به خلقو دا امید ساتلو چه هغه خو بد دَ خدائے کور ته دَ دنیا سامان هډو وُړی نه. په دے آیت کښے دے خیال ته غلط وئیلی شوی دی او دا حکم شوے دے چه دَ لارے توښه نه وړل څه نیکی نه ده. اصل نیکی دَ خدائے نه یره، دَ خدائے دَ حکمونو دَ خلاف ورزئ نه ځان ساتل او پاک ژوند تیره ول دی. کوم مسافر چه خپل اخلاق نه صحیح کوی، دَ خدائے نه نه یریږی او بد کارونه

لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ اَنْ تَبْتَغُوْا فَضْلًا مِّنْ رَّبِّكُمْ ؕ
فَاِذَآ اَفَضْتُمْ مِّنْ عَرَفٰتٍ فَاذْكُرُوا اللّٰهَ عِنْدَ الْمَشْعَرِ
الْحَرَامِ ۠ وَاذْكُرُوْهُ كَمَا هَدٰىكُمْ ۚ وَاِنْ كُنْتُمْ مِّنْ قَبْلِهٖ
لَمِنَ الضَّآلِّيْنَ ﴿۱۹۸﴾ ثُمَّ اَفِيْضُوْا مِنْ حَيْثُ اَفَاضَ

اوکہ دَ حج سرہ سرہ تاسو دَ خپل رب نه څه فضل هم دَ غواړئ نو په دے کښے څه گناه نشته[۲۱۸] بیا چه کله دَ عرفات نه روان شئ نو دَ مشعرِ حرام (مُزدَلفے) سره وَدریږئ، اللہ یاد کړئ، او هغه شان ئے یاد کړئ چه څنگه هغه تاسو ته هدایت کړے دے، کنئ نو دَ دے نه وړاندے خو تاسو په شاړو[۲۱۹] سره وئ۔ بیا چه دَ کوم ځائے نه نور ټول خلق واپس کیږی دَ هغے ځائے نه تاسو هم

کوی، هغه که دَ ځان سره دَ لارے توښه وے نبی اوپه ظاهره ځان فقیر بنکاره کړی نو هیڅ فائده ئے نشته۔ دَ خدائے اوده خلقو په نظر کښے بر ذلیله وی اوخپل هغه مذهبی کلابه سپک کړی دَ کوم دپاره چه دے سفر کوی. لیکن دَ چا په زړه کښے چه دَ خدائے یره وی اواخلاق ئے صحیح وی نو دَ خدائے سره به هم دَ هغه عزت وی اوخلق به هم دَ هغه عزت کوی اګر که یے دَ ځان سره دَ لارے توښه وړیره اغستلی وی۔

[۲۱۸] دا هم دَ پخوا نو عربو یو جاهلانه خیال وُو چه دَ حج په سفر کښے به ئے د رزق کتلو کار بند کړلو، څکه چه دَ هغوی په خیال کښے رزق کتل یو دُنیا والا کار وُو اودَ حج پشان یو مذهبی کار کښے دَ دُنیا کار کول بنه نه وُو۔ قرآن دے خیال ته غلط وایی، هغه وایی چه یو خدا پرست سړے چه دَ خدائے تعالیٰ دَ قانون احترام کوی، هغه که دَ خپل رزق دپاره څه کوشش کوی نو دا په اصل کښے هغه دَ خپل رب فضل تلاش کوی، اوپه دے کښے هیڅ گناه نشته چه یو سړے دَ خپل رب دَ رضا دپاره سفر کوی او ورسره ورسره دَ خپل رب فضل هم تلاش کوی۔

[۲۱۹] یعنی دَ جاهلیت په زمانه کښے چه دَ خدائے دَ عبادت سره دَ شرک اودَ جاهلیت کوم کارونه شریک شوی وُو هغه ټول پریښودئ اوکوم هدایت چه اللہ تاسو ته نصیب کړے دے دَ هغے مطابق خاص دَ یو اللہ عبادت کوئ۔

النَّاسُ وَاسْتَغْفِرُوا اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۹۹﴾ فَاِذَا
قَضَيْتُمْ مَّنَاسِكَكُمْ فَاذْكُرُوا اللّٰهَ كَذِكْرِكُمْ اٰبَآءَكُمْ اَوْ
اَشَدَّ ذِكْرًا ؕ فَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّقُوْلُ رَبَّنَآ اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا
وَمَا لَهٗ فِي الْاٰخِرَةِ مِنْ خَلَاقٍ ﴿۲۰۰﴾ وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّقُوْلُ

واپس شئ او دَ الله نه معافي غواړئ،[۲۲۰] يقيناً هغه معاف کونکے او رحم کونکے دے۔ بیا چه کله دَ خپل حج ارکان پوره کړئ، نو لکه څنګه چه به مو مخکښے دَ پلارنیکو نو ذکر کولو دغه شان اوس دَ الله ذکر کوئ، بلکه دَ هغے نه ئے هم زیات کوئ۔[۲۲۱] (خو دَ خدائے په یادَ وونکو خلقو کښے هم ډیر فرق دے) په هغوئ کښے څوک داسے دی چه وائي چه اے زمونږ ه ربه مونږ ته په دنیا کښے ټول هر څه راکړے۔ دَ داسے سړی دپاره په آخرت کښے هیڅ حصه نشته او څوک وائي،

[۲۲۰] دَ حضرت ابراهیمؑ او دَ حضرت اسماعیلؑ دَ زمانے نه دَ عربو دَ حج عامه طریقه دا وه چه په نهمه ذی الحجه به دَ منیٰ نه عرفات ته تلل۔ او شپے له به مزدلفے ته واپس کیدل او هلته به ئے شپه کوله۔ خو چه روستو کله رُو رُو دَ قریشو عزت قایم شو نو هغوئ اُووئیل چه مونږ ه اهل حرم یُو، دا زمونږ دَ شان سره نه ښائیږی چه مونږ ه دَ عامو عربیانو سره عرفات ته لاړ شو۔ نو هغوئ په دے طریقه ځان له خپل شان قایم کړو چه دَ مُزدلفے پورے به لاړل نو دوئ به دَ دغه ځائے نه واپس شول او دَ عامو خلقو سره به عرفات ته نه تلل۔ او بیا دغه دَ عزت شان بنی خزاعه او بنی کنانه او هغے نورو قبیلو ته هم حاصل شو دَ چا سره چه دَ قریشو دَ واده خپلوی جوړه شوی وه۔ په آخر کښے خبره دے ته او رسید له چه دَ کومو قبیلو به دَ قریشو سره وعده وه، نو تش دَ دے وعدے په وجه به دَ هغوئ شان هم دَ عامو عربیانو نه اوچت شو او هغوئ به هم عرفات ته تلل پریښودل۔ دا فخر او دا غرور په دے آیت کښے ختم کړے شوے دے۔ په آیت کښے دا وینا خاص کر قریشو او دَ هغوئ رشته دارانو او دَ هغوئ حلیف قبائیلو ته ده، او عامه وینا هغه ټولو خلقو ته ده چه کله دا قسم شان ځان له جوړول غواړی، هغوئ ته دا حکم وُ شو چه نور ټول خلق کوم ځائے ته ځی، دَ هغوئ سره تاسو هم ځئ، چه هغوئ کوم ځائے ودریږی هلته تاسو هم ودریږئ او هم دَ هغوئ سره را واپس کیږئ او تر اوسه پورے چه مو دَ سنت ابراهیمی څومره خلاف ورزی کړیده دَ هغے دَ الله نه معافي غواړئ۔

[۲۲۱] عربیان چه به دَ حج نه وزګار شو نو په منیٰ کښے به ئے جلسے کولے، چه په هغے کښے به دَ هرے قبیلے خلقو دَ خپل پلارنیکه کارنامے ډیر په فخر سره بیانولے او په هغے به ئے فخر کولو۔ دَ دے په باره کښے الله فرمائي چه دا جاهلانه خبرے پریږدئ، اول چه به مو کوم وخت په فضول کارونو کښے تیرَوو، اوس هغه دَ الله په یاد او دَ الله په ذکر کښے تیرَوئ۔ دَ دے ذکر نه مراد په منیٰ کښے ذکر کول دی۔

رَبَّنَآ اٰتِنَا فِی الدُّنْیَا حَسَنَةً وَّفِی الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا
عَذَابَ النَّارِ ﴿۲۰۱﴾ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ نَصِیْبٌ مِّمَّا كَسَبُوْا ؕ وَاللّٰهُ
سَرِیْعُ الْحِسَابِ ﴿۲۰۲﴾ وَاذْكُرُوا اللّٰهَ فِیْٓ اَیَّامٍ مَّعْدُوْدٰتٍ ؕ فَمَنْ
تَعَجَّلَ فِیْ یَوْمَیْنِ فَلَآ اِثْمَ عَلَیْهِ ۚ وَمَنْ تَاَخَّرَ فَلَآ اِثْمَ عَلَیْهِ ۙ
لِمَنِ اتَّقٰی ؕ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّكُمْ اِلَیْهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿۲۰۳﴾
وَمِنَ النَّاسِ مَنْ یُّعْجِبُكَ قَوْلُهٗ فِی الْحَیٰوةِ الدُّنْیَا

چه اے زمونږه ربه! مونږه په دُنیا کښې هم ښه کړے او په آخرت کښې هم ښه کړے، او دَ اُور دَ عذاب نه موږ ساتے۔ دَ داسے خلقو به دَ خپلے ګټے مطابق (په دواړو ځائینو کښې) حصه وی او په حساب کولو کښې دَ الله هیڅ وخت نه لګی۔ دا دَ شمار څو ورځے دی، دا تاسو له دَ الله په یاد کښې تیره ول پکار دی۔ بیا که چا تلوار وکړه او په دوه ورځو کښې واپس شو نو خیر دے، او که څوک څه ورځے روستو واپس شو نو هم خیر[۲۲۲] دے څه ګناه پکښې نشته۔ خو شرط پکښې دا دے چه دا ورځے هغه په پرهیزګارئ سره تیرے کړے وی ——— دَ الله دَ نافرمانئ نه ځان ساتئ او کلک یقین لرئ چه یوه ورځ به دَ هغه مخے ته تاسو پیش کیږئ۔ په انسانانو کښې داسے هم شته چه دَ هغه خبرے دَ دنیا په ژوند کښې تا ته ډیرے ښے معلومیږی

[۲۲۲] یعنی په ایام تشریق کښې دَ منیٰ نه مکے ته که څوک دَ ذی الحجے په دولسمه ورځ واپس شو یا دَ ذی الحجے په دیارلسمه[۱۳] نو دا هیڅ خبره نه ده۔ اصل خبره هلته ورځے تیره ول نه دی، بلکه دَ خدائے ذکر کول دی۔ یعنی چه څومره ورځے ته هلته تیره وے نو په هغے کښې دَ خدائے سره ستا څه تعلق دے، آیا دَ خدائے ذکر کوے یا په میلو ټیلو کښې کرځے۔

وَيُشْهِدُ اللّٰهَ عَلٰى مَا فِيْ قَلْبِهٖ ۙ وَهُوَ اَلَدُّ الْخِصَامِ ﴿٢٠٤﴾ وَاِذَا
تَوَلّٰى سَعٰى فِي الْاَرْضِ لِيُفْسِدَ فِيْهَا وَيُهْلِكَ الْحَرْثَ وَ
النَّسْلَ ؕ وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ الْفَسَادَ ﴿٢٠٥﴾ وَاِذَا قِيْلَ لَهُ اتَّقِ اللّٰهَ
اَخَذَتْهُ الْعِزَّةُ بِالْاِثْمِ فَحَسْبُهٗ جَهَنَّمُ ؕ وَلَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴿٢٠٦﴾
وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّشْرِيْ نَفْسَهُ ابْتِغَآءَ مَرْضَاتِ اللّٰهِ ؕ وَ
اللّٰهُ رَءُوْفٌۢ بِالْعِبَادِ ﴿٢٠٧﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا ادْخُلُوْا فِي

او هغهٔ په خپله نیک نیتئ باندِ خدائے هر وخت گواه کوی[٢٢٣]، خو په حقیقت کښے هغهٔ دَ حق بدترین دُشمن وی[٢٢٤]، چه کله ورته اقتدار[٢٢٥] حاصل شی نو په زمکه باندِ ئے ټولے منډے تر ړے دَ دے دپاره وی چه فساد جوړ کړی، فصلونه تباه کړی او دَ انسانانو نسل برباد کړی ——
حالانکه الله تعالیٰ (چه دے ئے ځان له گواه کوی) هرگز فساد نهٔ خوښوی ——
او کله چه هغه ته وُو ئیلے شی چه الله نه وُیَریږه نو دَ خپل عزت خیال ئے په گناه باندِ بنهٔ ټینگ کړی. دَ داسے سړی دپاره خو بس جهنم کافی دے او جهنم ډیر خراب ځائے دے. بل طرفته په انسانانو کښے داسے هم شته چه دَ الله دَ رضا په تلاش کښے خپل ځان وقف کوی او په داسے بندگانو باندِ الله ډیر مهربان دے. اے ایمان والو! تاسو په اسلام کښے پوره

٢٢٣ یعنی وائی چه خدائے گواه دے چه زهٔ صرف خیر لټوم، زما پکښے خپل څه غرض نشته، زهٔ صرف دَ حق دپاره یا دَ خلقو دَ فائدے دپاره کار کوم.

٢٢٤ دَ "اَلَدُّ الْخِصَامِ" معنیٰ ده "هغه دشمن چه دَ ټولو دُشمنانو نه زیات خطرناک وی". یعنی چه دَ حق په مخالفت کښے څه ممکن وی هغه کوی. دروغ وائی، بے ایمانی کوی، دوکه او وعدهٔ خلافی کوی او دَ هیڅ قسم خراب کار نه مخ نهٔ اړه وی.

٢٢٥ دَ "اِذَا تَوَلّٰى" دوه مطلبونه کیدے شی یو هغه چه مونږ په ترجمه کښے بیان کړے دے. او بل مطلب ئے دا هم کیدے شی چه دَ دے مزید ارو خوندَ ورو خبرونه "کله هغه واپس شی" نو بیا دا کارونه کوی.

السِّلْمِ كَآفَّةً ۖ وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ ۚ إِنَّهٗ لَكُمْ عَدُوٌّ
مُّبِيْنٌ ﴿٢٠٨﴾ فَإِنْ زَلَلْتُمْ مِّنْ بَعْدِ مَا جَآءَتْكُمُ الْبَيِّنٰتُ
فَاعْلَمُوْٓا أَنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿٢٠٩﴾ هَلْ يَنْظُرُوْنَ إِلَّآ أَنْ
يَّأْتِيَهُمُ اللّٰهُ فِيْ ظُلَلٍ مِّنَ الْغَمَامِ وَالْمَلٰٓئِكَةُ وَقُضِيَ الْأَمْرُ ۚ

پورہ داخل شئ[۲۲۶] او په شیطان پسے مه ځئ ځکه چه هغه ستاسو ښکاره دښمن دے. کوم صفا او ښکاره هدایات چه تاسو ته راغلی دی، که دهغے نه روستو بیا تاسو بے لاره شوئ، نو یقین لرئ چه الله په هر څه باندے غالب[۲۲۷] او حکمت والا او دانا دے. (دده ټولو نصیحتونو او هدایتونو نه روستو هم چه داخلق نیغ نه شو، نو) آیا دوئ او ددے خبرے انتظار کوی چه الله دځانه او د ورځو په چتریو کښے پخپله دوئ ته راشی او فیصله وکړے شی؟[۲۲۸]

---

۲۲۶ یعنی خپل ټول ژوند د اسلام تابع کړئ. ستاسو نیالونه، ستاسو نظریے (د ژوند اصول)، ستاسو علمونه، ستاسو طور طریقے، ستاسو معاملے او ستاسو هره منډه تره په د اسلام تابع وی. داسے نه چه خپل ژوند په مختلفو حصو کښے تقسیم کړئ څه حصے په اسلام کښے راولئ او څه حصے د اسلام نه بهر وساتئ.

۲۲۷ یعنی هغه زبردست طاقت هم لری او داهم پیژنی چه خپلو مجرمانو له کوم قسم سزا ورکړی.

۲۲۸ یعنی په دے خبره باندے غور پکار دے. په دے کښے یو پیرلوئے حقیقت پروت دے. په دے دُنیا کښے د انسان ټول آزمیښت صرف د دے خبرے دے چه هغه ناليدلے حقیقت منی او که نه، او بیا د حقیقت منلو نه روستو، سره د دے چه د نافرمانئ اختیار ورله شته، دے په خپل اخلاق طاقت حکم منی او که نه. د دے غرض دپاره الله تعالیٰ د پیغمبرانو، د کتابونو او د معجزو په رالیږلو سره د عقل او د اخلاقو امتحان ضرور اخستلے دے خو حقیقت تے هیڅرے داسے نه دے ښکاره کړے چه بیا پرے ایمان راوړل خامخا ضروری وی. ځکه چه د حقیقت د ښکاره کیدو نه روستو خو امتحان بالکل بے مطلبه کیږی او په امتحان کښے د کامیابئ او د ناکامئ هیڅ مطلب نه پاتے کیږی. په دے وجه الله دلته فرمائی چه د هغے وخت انتظار مه کوئ چه کله الله او د هغه د بادشاهئ کارکونکے فرښتے پخپله ستاسو راښکاره راشی، ځکه چه هغه خو به بیا د فیصلے وخت وی، بیا به فیصله کیږی او آزمیښت به ختم شی. د ایمان راوړلو او د حکم منلو قدر خو تر هغه وخته پورے دے تر کومے پورے چه حقیقت ستاسو نه په ظاهره پټ وی او تاسو ته صرف په دلیلونو باندے د منئ او د خپلے عقلمندئ ثبوت ورکړئ، او صرف د پوهے او د نصیحت په خبرو د هغے پیروی شروع کړئ، او د خپل اخلاقی طاقت ثبوت پیش کړئ. خو چه کله حقیقت درته لاښکاره شی او تاسو په ظاهری سترګو اُورنیئ چه خدائے په ځمکه ناست دے، او د ټول کائنات

وَإِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ الْأُمُورُ ﴿٢١٠﴾ سَلْ بَنِي إِسْرَائِيلَ كَمْ آتَيْنَاهُم
مِّنْ آيَةٍ بَيِّنَةٍ ۗ وَمَن يُبَدِّلْ نِعْمَةَ اللّٰهِ مِن بَعْدِ مَا
جَاءَتْهُ فَإِنَّ اللّٰهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ ﴿٢١١﴾ زُيِّنَ لِلَّذِينَ كَفَرُوا
الْحَيَاةُ الدُّنْيَا وَيَسْخَرُونَ مِنَ الَّذِينَ آمَنُوا ۘ وَالَّذِينَ

آخر تولے معاملے خو خاص اللہ تہ پیش کیدونکی دی ع۔

دَبنی اسرائیلونہ پتوس وکړہ چہ څومرہ صفا او بنکارہ نښے مونږہ هغوئ تہ بنودلی دی (او بیادا پتوس تړهم وکړہ چہ) دَاللہ دَ نعمت ملاویدونہ روستو کوم قوم هغہ نعمت پہ بدبختئ کښے بدلوی نو هغوئ تہ اللہ څنګہ سخته سزا ورکوی۔ ۲۲۹

کومو خلقو چہ دَکفر لاره اختیار کړې ده، دَهغوئ دپاره دَدُنیا ژوند ډیره ښائسته جوړ کړے شوے دے۔ داسے خلق پہ مؤمنانو پورے ټوقے کوی، خو دَ قیامت پہ ورځ

یادشاهی دَ هغہ پہ حکم چلیږی، او دا فرښتے دَزمکے او دَ آسمان پہ انتظام کښے کیادی کارکوی، او دَ هغہ دَ طاقت پہ مقابله کښے د رتہ خپل ځان کمزورے بنکاره شی، نو کہ پہ دغہ وخت کښے تاسو ایمان راوړئ او حکم منلو تہ غاړہ کیږدئ، نو دَدغہ ایمان او اطاعت بہ څہ قیمت وی؟ پہ دغہ وخت کښے خو یو سُور کافر او دَ ناکارونہ ناکارہ مجرم او نافرمانہ انسان هم دَحکم منلو نہ انکار نشی کولے۔ دَ ایمان راوړلو او دحکم منلو مُهلت خو بس تر هغے وخته پورے دے تر څو پورے چہ دَ حقیقت بنکارہ کیدو وخت نہ وی راغلے۔ کلہ چہ هغہ وخت راغے نو بیا نہ مُهلت شته او نہ آزمیښت، بلکہ بیا خو هغہ دَ فیصلے وخت دے۔

۲۲۹ داتپوس چہ دَبنی اسرائیل قوم نہ شوے دے، دَدے دوہ وجے دی۔ یوہ داچہ دَکنډ راتو نہ دَ عبرت اغستلو پہ نسبت دَدے ژوندی قوم نہ عبرت اغستل ډیر بهتر دی۔ بلکہ داچہ بنی اسرائیل هغہ قوم دے چہ دَ کتاب او دَ نبوت پہ ذریعہ د رتہ دَدُنیا دَ پیشوایئ منصب حواله کړے شوے وُو، او بیا دغے قوم دَدے نعمت نہ خپل ځان دَ دنیا پرستئ، دَ منافقت او دَ کمراهئ پہ وجہ خرومہ کړو، دَدے قوم نہ روستو اوس چہ کوم ډلے تہ دَ امامت دا منصب حواله شوے دے، هغوئ تہ هم دَدے قوم دَ انجام نہ بنہ سبق ملاویدے شی۔

اتَّقَوْا فَوْقَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ وَاللّٰهُ يَرْزُقُ مَنْ يَّشَآءُ بِغَيْرِ
حِسَابٍ ﴿۲۱۲﴾ كَانَ النَّاسُ اُمَّةً وَّاحِدَةً قف فَبَعَثَ اللّٰهُ النَّبِيّٖنَ
مُبَشِّرِيْنَ وَمُنْذِرِيْنَ ص وَاَنْزَلَ مَعَهُمُ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ لِيَحْكُمَ
بَيْنَ النَّاسِ فِيْمَا اخْتَلَفُوْا فِيْهِ ؕ وَمَا اخْتَلَفَ فِيْهِ اِلَّا الَّذِيْنَ
اُوْتُوْهُ مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ الْبَيِّنٰتُ بَغْيًا ۢ بَيْنَهُمْ ج

به پرهیزګار خلق دَ هغوئ په مقابله کښې په وُچت مقام باندِ وی. پاتے شو دَ دُنیا رزق هغه دَ الله اختیار دے، چه چا ته ئے خوښه وی هغه ته ئے بے حسابه ورکوی.

په اول کښې ټول خلق په یوه طریقه باندِ وُو. (روستو بیا دا حالت پاتے نه شو او اختلافات شروع شو) پس دَ هغے نه الله پیغمبران راوُلیږل چه په صحیح لار تللو باندِ خوشخبری ورکونکی وُو او دَ غلطو تللو دَ انجام نه یَرونکی وُو، او دَ هغوئ سره ئے یو حق کتاب دَ دے دپاره نازل کړو چه دَ حق په باره کښې په خلقو کښې کوم اختلافات راغلی دی، دَ هغے فیصله وُکړی ——— (او دَ دے اختلافاتو پیدا کیدلو وجه دا نهٔ وه چه اول خلقو ته حق نهٔ وُو ښودلے شوے. نهٔ) اختلاف هغه خلقو وُکړو، چا ته چه دَ حق علم ورکړے شوے وُو. هغوئ دَ روښانه هدایاتو ملاویدلو نه روستو صرف په دے وجه حق پرلیښودو او مختلفے طریقے ئے جوړے کړے چه هغوئ په خپلو کښې زیاتے کول غوښتل[۲۳۰] ———

---

[۲۳۰] ناپوهه خلق چه کله دَ "مذهب" تاریخ دَ خپل قیاس او دَ ګمان په بنیاد باندِ لیکی، نو وائی چه انسان اول دَ شرک په تیرو کښې پروت وُو، بیا رُو رُو درجه په درجه دَ شرک تیارهٔ ختمه شوه او رڼا تر دے پورے زیاته شوه چه انسان دَ توحید مقام ته راوُرسیدلو. قرآن دَ دے برخلاف وائی چه په دُنیا کښې دَ انسان ژوند دَ اول نه پوره په رڼا کښې شروع شوے دے. الله تعالیٰ چه دَ ټولو نه اول کوم انسان پیدا کړے وُو هغه ته ئے دا هم ښودلی وُو چه حقیقت څه دے او ستا دپاره صحیح لار کومه یوه ده. دَ هغے نه روستو دَ یوے مودے پورے دَ آدم نسل په نیغه لار باندِ قایم وُو او ټول یو امت وُو. بیا روستو خلقو نوے نوے لارے او مختلفے طریقے جوړے کړلے. دَ هغے وجه دا نهٔ وه چه خلقو ته حقیقت نهٔ وُو ښودلے شوے، بلکه دَ هغے وجه دا وه چه دَ حق پیژندلو نه روستو بعضے خلقو دَ خپل جائز حق نه زیات شان او زیاتے فائدے حاصلول غوښتل او خلق په یو بل باندِ دَ ظلم زیاتی کولو خواهشمند وُو. دَ دے خرابئ لرے کولو دپاره الله تعالیٰ پیغمبران رالیږل شروع کړل. دا

فَهَدَى اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لِمَا اخْتَلَفُوْا فِيْهِ مِنَ الْحَقِّ بِاِذْنِهٖ ؕ
وَاللّٰهُ يَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۲۱۳﴾ اَمْ حَسِبْتُمْ
اَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَاْتِكُمْ مَّثَلُ الَّذِيْنَ خَلَوْا مِنْ
قَبْلِكُمْ ؕ مَسَّتْهُمُ الْبَاْسَآءُ وَالضَّرَّآءُ وَزُلْزِلُوْا حَتّٰى يَقُوْلَ

نو کومو خلقو چه په پیغمبرانو باندِ ایمان راوړو، هغوئ ته الله په خپل حکم دَ هغے حق لار ؤ ښودله چه په هغے کښے خلقو اختلاف کړے ؤو، الله چه چا ته غواړی، هغه ته نیغه لار ښائی۔

۲۳۱ ولے ستاسو څه خیال دے چه تاسو به جنت ته هم دغه شان داخل شئ، او حال دا دے چه په تاسو لا ټول هغه څه نه دی تیر شوی کوم چه ستاسو نه وړاندِ په ایمان والو باندِ تیر شوی دی؟ په هغوئ ډیرے سختئ تیرے شوے، ډیر مصیبتونه پرِ راغلل، ؤ جړقولے شو، تردے پورے چه دَ هغے وخت رسول او دَ هغه

پیغمبران دَ دے دپاره نه ؤو رالیږلی شوی چه هر یو نبی دِ په خپل قوم یو نوے مذهب جوړ کړی او ځان له یو نوے اُمت جوړ کړی۔ بلکه دَ هغوئ دَ رالیږلو غرض دا ؤو چه خلقو ته هغه ؤرکه شوی حقه لار ؤ ښائی او دَ هغوئ نه بیا یو اُمت جوړ کړی۔

۲۳۱ دَ بَرَنی آیت او دَ دے آیت په منځ کښے یوه پوره قیصه ده، چه هغه دلته په دے وجه نه ده ذکر کړے شوی چه دا آیت پخپله هغه قیصئ ته اشاره کوی او دَ قرآن په مکئ سورتونو کښے (چه دَ سورة بقرے نه مخکښے نازل شوی ؤو) دا قیصه په تفصیل سره بیان شوی هم ده۔ پیغمبران چه کله دُنیا ته راغلی دی، نو هغوئ او په هغوئ باندِ ایمان راوړونکو خلقو دَ خدائے دَ باغیانو او سرکشو خلقو سره سخته مقابله کړیده او هغوئ خپل ځانونه په خطره کښے اچولی دی او دَ باطلو طریقو په مقابله کښے ئے دَ حق دین دَ قائمه ولو کوشش کړے دے۔ دَ دے دین لاره په یو وخت کښے هم دَ ګلونو پالنګ نه ؤو چه ګنی چا اٰمَنَّا ؤوئیل او هغه پرِ په آرام سملاستو، بلکه په هره زمانه کښے دَ اٰمَنَّا وئیلو سره دا ضروری ده چه چا په کوم دین ایمان راوړے دے، دَ هغے دین دَ قائمولو کوشش ډ ؤ کړی او چه په لار کښے ورته کوم شیطانی طاقتونه مخے له راځی دَ هغے مضبوطه مقابله ډ ؤ کړی۔

الرَّسُوْلُ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ مَتٰى نَصْرُ اللّٰهِ ؕ اَلَآ اِنَّ نَصْرَ اللّٰهِ
قَرِيْبٌ ﴿۲۱۴﴾ يَسْـَٔلُوْنَكَ مَاذَا يُنْفِقُوْنَ ۬ؕ قُلْ مَآ اَنْفَقْتُمْ
مِّنْ خَيْرٍ فَلِلْوَالِدَيْنِ وَالْاَقْرَبِيْنَ وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنِ
وَابْنِ السَّبِيْلِ ؕ وَمَا تَفْعَلُوْا مِنْ خَيْرٍ فَاِنَّ اللّٰهَ بِهٖ عَلِيْمٌ ﴿۲۱۵﴾
كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ وَهُوَ كُرْهٌ لَّكُمْ ۚ وَعَسٰٓى اَنْ تَكْرَهُوْا
شَيْـًٔا وَّهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۚ وَعَسٰٓى اَنْ تُحِبُّوْا شَيْـًٔا وَّ
هُوَ شَرٌّ لَّكُمْ ؕ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ وَاَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۲۱۶﴾ يَسْـَٔلُوْنَكَ
عَنِ الشَّهْرِ الْحَرَامِ قِتَالٍ فِيْهِ ؕ قُلْ قِتَالٌ فِيْهِ كَبِيْرٌ ؕ وَ

سره ملګری مؤمنان پېچفه شوچه د الله مدد به کله راځی ـــــ په هغه وخت کښے هغوئ له تسلّی ورکړے شوه چه د الله مدد نزدے دے ۔

خلق پتوس کوی چه موږ څه خرچ کړو؟ په جواب کښے ورته اُووایه چه تاسو څه مال خرچ کوئ هغه په چپل موراو پلار باندِ، په رشته دارانو باندِ، په یتیمانو، مسکینانو او مسافرانو باندِ خرچ کوئ. اوتاسو چه څه نیکی کوئ الله د هغے نه خبر دے ۔

تاسو ته د جنګ حکم شوے دے او هغه ستاسو خوښ نه دے ـــــ کیدے شی چه یو څیز ستاسو خوښ نه وی او هغه ستاسو د پاره ښه وی ۔ او کیدے شی چه یو څیز ستاسو خوښ وی او هغه ستاسو د پاره ښه نه وی ۔ الله پوهیږی، تاسو نه پوهیږئ ع

خلق ستا نه پتوس کوی چه په عزتنه میاشت کښے جنګ کول څنګ دی؟ ورته اُووایه چه په دے کښے جنګ کول ډیر بد کار دے، خو

صَدٌّ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَكُفْرٌۢ بِهٖ وَالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۗ وَاِخْرَاجُ
اَهْلِهٖ مِنْهُ اَكْبَرُ عِنْدَ اللّٰهِ ۚ وَالْفِتْنَةُ اَكْبَرُ مِنَ الْقَتْلِ ؕ وَ

دَ خدائے دَ لارے نه خلق منع کول او دَ الله سره کفر کول او دَ مسجد حرام لار په خدا پرستو خلقو باندِ بنده ول او دَ حرم وُ سید ونکی دَ حرم نه وُ بشکل دَ الله په نِز دَ دے نه هم زیات بد کار دے او فتنه دَ وینو تُو یَولو نه ډیره سخته ده ۲۳۲

۲۳۲ دَ دے خبرے تعلق دَ یوے واقعے سره دے. دَ دویمے هجرئ دَ رجب په میاشت کښے نبی صلی الله علیه وسلم دَ اَتو سړو یوه ډله نخله طرفته لیږلے وه (دا نخله دَ مکے او دَ طائف په منځ کښے یو ځائے دے) او ورته ئے دا حکم کړے وُو چه دَ قریشو دَ تیارئ او دَ هغوئ دَ اِرادو پته اُولګوئ. نبیؐ ورته دَ جنګ کولو اجازت نه وُو کړے. خو هغوئ له په لاره کښے دَ قریشو یوه وړوکی شان تجارتی قافله مخے له ورغله، هغوئ پر حمله وُکړه یو سړے یے تر قتل کړو او نور ټول ئے وُنیول او سره دَ مالدئے مدینے ته راوستل. دا واقعه په داسے وخت کښے وُشوه، چه دَ رجب میاشت ختمید له او دَ شعبان میاشت شروع کیدله، او په دیکښے شک وُو چه حمله دَ رجب په (عزتمنه میاشت) کښے شوی ده او که نه ده، خو قریشو اُو سره پټ پټ یهودیانو او دَ مدینے منافقانو هم دَ مسلمانانو خلاف خبرے شروع کړلے، او دا واقعه ئے بنه مشهوره کړله او سخت سخت اعتراضونه ئے شروع کړل، وئیل به ئے چه دا خلق یو طرفته ځان ته الله والا وائی او بل طرفته ئے حال دا دے چه په ماه حرام یعنی عزتمنه میاشت کښے هم دَ وینے تو یولو نه نه یَریږئ. دَ دے اعتراضونو جواب په دے آیت کښے شوے دے. دَ جواب خلاصه دا ده چه بیشکه په ماهِ حرام کښے جنګ کول ډیر بد کار دے، لیکن دا اعتراض دَ هغه چا سره نه بنائی چا چه دیارلس ۱۳ کاله پر له پسے په خپلو رونړو صرف په دے وجه ظلم کولو چه هغوئ په یو خدائے ایمان راوړے وُو، او په خپل وطن کښے ئے دومره تنګ کړل چه هغوئ ئے په وطن پریښودلو مجبور کړل، او چه په دے ئے هم تسلی وُ نه شوله نو په دغے خپلو رونړو باندِ ئے دَ مسجد حرام لار هم بنده کړه، حالانکه مسجد حرام دَ هیچا جائیداد نه دے او په تیرو دوُو زرو کالو کښے داسے نه ده شوے چه څوک دَ دے دَ زیارت نه منع کړے شوے وی. اُوس چه کوم ظالمان دا کارونه کوی، هغوئ په کومه څُله په دے معمولی جګړه دا سخت سخت اعتراضونه کوی، حالانکه په دے جګړه کښے چه څه شوی دی هغه دَ نبی دَ اجازت نه بغیر شوی دی. دا خو بس دومره خبره شوی ده چه دَ مسلمانانو دَ ډلے دَ یو څو کسانو نه دَ خپل طرفته یو کار شوے دے.

په دے ځائے کښے دا خبره هم یاد ساتل پکار دی چه کله دے ډلے قیدیان او مال غنیمت نبی صلی الله علیه وسلم راوړل او په هغه وخت ورته هغوئ وُفرمائیل چه ما خو تاسو له دَ جنګ اجازت نه وُو درکړے. او هغوئ چه کوم مال غنیمت راوړے وُو دَ هغے نه ئے دَ بیت المال حصه هم وا نه غستله. دَ دے نه دا معلومه شوه چه دَ هغوئ دا لوټ ناجائزه وُو. عامو مسلمانانو هم هغوئ په دے خپل کار باندِ سخت ملامته کړی وُو او په مدینه کښے یو داسے څوک نه وُو چه هغوئ دے کار ته ئے بنه وئیلی وُو

لَا يَزَالُوْنَ يُقَاتِلُوْنَكُمْ حَتّٰى يَرُدُّوْكُمْ عَنْ دِيْنِكُمْ اِنِ
اسْتَطَاعُوْا ؕ وَمَنْ يَّرْتَدِدْ مِنْكُمْ عَنْ دِيْنِهٖ فَيَمُتْ وَهُوَ
كَافِرٌ فَاُولٰٓئِكَ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ فِى الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ۚ وَ
اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۲۱۷﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ
اٰمَنُوْا وَالَّذِيْنَ هَاجَرُوْا وَجٰهَدُوْا فِىْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۙ اُولٰٓئِكَ

هغوئ خو به ستاسو سره دَ خپل وَس مطابق تر هغے پورے جنګیږی چه تاسو دَ دے خپل دین نه واړه وی. (او ځان ښه پوه کړئ چه که) په تاسو کښے څوک دَ خپل دین نه واوړید و او هغه دَ کفر په حالت کښے مړ شو نو دَ هغهٔ عملو نه به په دُنیا او په آخرت دواړو کښے ضایع شی. دا قسم خلق ټول دوزخیان دی او همیشه به په دوزخ کښے وی.[۲۳۳] دَ دے نه برخلاف چه کومو خلقو ایمان راوړے دے او دَ خدائے په لار کښے ئے کورو نه پریښودلی دی او جهاد ئے کړے دے[۲۳۴]، هغوئ

۲۳۳ په مسلمانانو کښے چه دَ کومو ساده ګانو خلقو په ذهن کښے دَ نیکئ او دَ صُلحے یو غلط خیال ناست وُو، په هغوئ باندِ دَ مکے دَ کافرانو او دَ یهودیانو دَ اعتراضونو ډیر اثر شوے وُو. په دے آیت کښے هغوئ ته ویلے شوی دی چه تاسو دَ دے خپلو خبرو نه دا اُمید مه لرئ چه ستاسو او دَ هغوئ په منځ کښے به صفائی راشی. هغوئ اعتراضونه دَ صفائی راوستلو په غرض نه کوی هغوئ خو تاسو بدنامول غواړی. هغوئ په دے خبره خفه دی چه تاسو په دے دین باندِ ایمان ولے راوړے دے او په دنیا کښے ئے ولے خوروئ. نو تر څو چه هغوئ په خپل کفر باندِ ټینګ وی او تاسو په دے دین باندِ ټینګ یئ، تر هغے به ستاسو او دَ هغوئ په منځ کښے په هیڅ شان صفائی رانشی. او دا سے دشمنان تاسو معمولی دُشمنان مه ګڼړئ. څوک چه ستاسو نه مال، سره زر یا زمکه په زور اغستل غواړی هغه دَ کے درجے دشمن دے. خو چه څوک تاسو دَ حق دین نه اړه ول غواړی هغه ستاسو دَ ټولو نه غټ دشمن دے. ځکه چه او لنے خو به صرف ستاسو دنیا خرابه کړی، لیکن دا دویم تاسو دَ آخرت په همیشه عذاب کښے اچوی.

۲۳۴ دَ جهاد معنیٰ ده، دَ څه مقصد حاصلولو دپاره خپل پوره کوشش کول. دَ دے معنیٰ صرف جنګ نه ده. دَ جنګ دپاره خو لفظ "قتال" استعمال شوے دے. لفظ جهاد دَ دے نه ډیره فراښه معنیٰ لری او په دے کښے دَ هر قسمه کوشش کول شامل دی. مجاهد هغه سړی ته وائی چه هر وخت دَ خپل مقصد په کار کښے لګیا وی، په دماغو دَ هغے دپاره سوچونه کوی، په ژبه او قلم دَ هغے تبلیغ کوی، په لاسونو او په خپو باندِ دَ هغے دپاره منډه تړه او محنت کوی، خپلے ټولے وسیلے دَ هغے دَ ترقئ دپاره

يَرْجُوْنَ رَحْمَتَ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۲۱۸﴾ يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ
الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ ؕ قُلْ فِيْهِمَآ اِثْمٌ كَبِيْرٌ وَّمَنَافِعُ لِلنَّاسِ ز وَ
اِثْمُهُمَآ اَكْبَرُ مِنْ نَّفْعِهِمَا ؕ وَيَسْـَٔلُوْنَكَ مَاذَا يُنْفِقُوْنَ ۬ؕ قُلِ
الْعَفْوَ ؕ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ الْاٰيٰتِ لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُوْنَ ۙ﴿۲۱۹﴾
فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ؕ وَيَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْيَتٰمٰى ؕ قُلْ اِصْلَاحٌ

په جائزه دی چه دَ الله دَ رحمت امید ولری او الله دَ هغوئ غلطی معاف کونکے او په هغوئ باندِ خپل رحمت کونکے دے.

ستانه پتوس کوی چه دَ شرابو او دَ جوارئ څه حکم دے؟ ورته اُووایه چه په دے دواړو څیزونو کښے ډیره خرابی ده. اګرچه په دیکښے دَ خلقو د پاره څه فایدے هم دی خو دَ دے ګناه دَ دے دَ فایدو نه ډیره زیاته ده.[۲۳۵]

ستانه پتوس کوی چه مونږ دَ خدائے په لار کښے څه ولګوو؟ ورته اُووایه چه څه ستاسو دَ ضرورت نه زیاتی وی. دغه شان الله ستاسو د پاره صفا صفا حکمونه بیانوی، شاید چه تاسو دَ دُنیا او دَ آخرت دَ دواړو فکر وکړئ.

ستانه پتوس کوی چه دَ یتیمانو سره څه معامله وکړو، ورته اُووایه چه په کوم کار کښے دَ هغوئ

استعمالوی، او په دے لار کښے چه ورله څه بندیزمخے له راشی دَ هغے مقابله ښه په طاقت سره کوی، او که دَ سرور کولو ضرورت راشی نو دَ هغے نه هم مخ نه اړه وی. دے ته "جهاد" وائی. او جهاد فے سبیل الله دے ته وائی چه دا ټول هر څه دَ الله دَ رضا د پاره او دَ دے غرض د پاره وکړے شی چه دَ الله دین دَ الله په زمکه قائم شی او دَ الله کلمه په ټولو کلمو باندِ غالبه شی. دَ دے نه سوا بل هیڅ غرض دَ مجاهد نه وی.

[۲۳۵] دا دَ شرابو او دَ جوارئ په حقله اولنے حکم دے، په دے کښے صرف دَ شرابو او دَ جوارئ دَ ناخونبئ اظهار شوے دے. غرض پکښے دا دے چه دَ دے څیزونو دَ حرامولی قبلولو ته دَ خلقو ذهن تیار شی. روستو بیا دَ شرابو په نشه کښے مونځ کول منع کړے شو. او بیا شراب او جواری او دَ دے قسم ټول څیزونه قطعاً حرام کړے شو.

(او ګوره سورة نسآء آیت ۴۳ او سورة مائدة، آیت ۹۰)

لَّهُمْ خَيْرٌ ؕ وَاِنْ تُخَالِطُوْهُمْ فَاِخْوَانُكُمْ ؕ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ الْمُفْسِدَ
مِنَ الْمُصْلِحِ ؕ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَاَعْنَتَكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ
حَكِيْمٌ ﴿۲۲۰﴾ وَلَا تَنْكِحُوا الْمُشْرِكٰتِ حَتّٰى يُؤْمِنَّ ؕ وَلَاَمَةٌ
مُّؤْمِنَةٌ خَيْرٌ مِّنْ مُّشْرِكَةٍ وَّلَوْ اَعْجَبَتْكُمْ ۚ وَلَا تُنْكِحُوا
الْمُشْرِكِيْنَ حَتّٰى يُؤْمِنُوْا ؕ وَلَعَبْدٌ مُّؤْمِنٌ خَيْرٌ مِّنْ مُّشْرِكٍ

ښیګړه وی هغه کار کول بهتر دی.[۲۳۶] که چرے تاسو خپل خرچ او دَ هغوئ خرچ یو ځائے کړئ او یو ځائے وُسیږئ نو دا هم ښهٔ خبره ده. آخر هغه ستاسو په رُورولئ کښے خوراځی. چه څوک بد کونکے وی او څوک ښیګړه راوستونکے وی، دَ دواړو حال الله ته ښکاره دے. که الله غوښتلے نو په دے معامله کښے به ئے په تاسو سختی کړی وه، خو هغه چه څنګ اختیار والا دے دغه شان حکمت والا هم دے.

تاسو دَ مشرکانو ښځو سره هرګز نکاح مهٔ کوئ، تر څو چه هغوئ ایمان نهٔ وی راوړے. یوه مؤمنه وینځه دَ شریف خاندان دَ مشرکے ښځے نه بهتره ده، اګر که هغه ستاسو ډیره خوښه وی. او دَ خپلو ښځو نکاح دَ مشرکانو سړو سره هیچرے مهٔ کوئ، تر څو چه هغوئ ایمان نهٔ وی راوړے. یو مومن غلام دَ شریف مشرک نه بهتر دے

[۲۳۶] دَ دے آیت دَ نازلیدو نه مخکښے په قرآن مجید کښے دَ یتیمانو دَ حقونو دَ حفاظت په باره کښے سخت سخت حکمونه راغلی وُو او تر دے پورے حکم شوے وُو چه "دَ یتیم مال ته نزدے مهٔ ورځئ." او دا حکم چه "کوم خلق دَ یتیمانو مال په ظلم سره خوری هغوئ په خپلو خیټو کښے اُورا چری." دَ دے سختو حکمونو په وجه هغه خلق چه چا دَ یتیمانو بچو تربیت کولو دومره یَرید لی وُو چه هغوئ دَ یتیمانو خوراک څکاک دَ ځان نه بیل کړے وُو او دَ دے دومره احتیاط باوجود هغوئ یرید ل چه چرته دَ یتیم دَ مال څه حصه دَ هغوئ دَ مال سره شریکه نشی. دغه وجه وه چه هغوئ دَ نبی صلی الله علیه وسلم نه تپوس وُکړو چه دَ دے یتیمانو بچو سره صحیح معامله څه رنګے وُکړو.

وَّلَوْ اَعْجَبَكُمْ ؕ اُولٰٓئِكَ يَدْعُوْنَ اِلَى النَّارِ ۖۚ وَاللّٰهُ يَدْعُوْٓا
اِلَى الْجَنَّةِ وَالْمَغْفِرَةِ بِاِذْنِهٖ ۚ وَيُبَيِّنُ اٰيٰتِهٖ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ
يَتَذَكَّرُوْنَ ﴿۲۲۱﴾ ع وَيَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْمَحِيْضِ ؕ قُلْ هُوَ اَذًى ۙ
فَاعْتَزِلُوا النِّسَآءَ فِى الْمَحِيْضِ ۙ وَلَا تَقْرَبُوْهُنَّ حَتّٰى يَطْهُرْنَ ۚ

اګرکه هغه ستاسو ډیرخوښ وی. دا خلق تاسو وُور طرفته رابلی[۲۳۷] او الله په خپل حکم تاسو جنت او مغفرت طرفته رابلی، او هغه خپل حکمونه خلقو ته صفا بیانوی، امید دے چه هغوئ به سبق زده کړی او نصیحت به قبول کړی ع

ستا نه پټوس کوی چه د حیض څه حکم دے؟ ورته وُوایه چه دا د ګندګئ یو حالت دے[۲۳۸] په دے کښے د ښځو نه ځان له وُسیږئ او هغوئ ته مه نزدے کیږئ تر څو چه هغوئ پاکے شوی نه وی[۲۳۹].

[۲۳۷] کوم حکم چه د مشرکانو سره د وادهٔ د نه کولو په باره کښے بره بیان شوے وُو دا د هغے حکم اصلی وجه ده. د ښځے او د سړی په منځ کښے د نکاح تعلق صرف د خپل شهوت دفع کولو یو تعلق نه دے، بلکه دا دیو انسان د بل انسان سره د یو ځائے وُسیدلو په اخلاقو کښے دننه د زړهٔ یو ژور تعلق دے. د یو مؤمن او د بل مشرک په منځ کښے که چرے د زړهٔ دا تعلق جوړ شی، نو لکه څنګه چه دا امکان دے چه د مومن خاوند یا د مومنے ښځے د اثر د وجے نه به مشرکه ښځه یا مشرک خاوند او د هغوئ خاندان او د هغوئ بچی د اسلامی عقیدے او د اسلامی ژوند رنګ واخلی، نو دغه شان دا امکان هم شته چه د مشرک خاوند یا د مشرکے ښځے د خیالاتو او د طور طریقو نه به مومنه ښځه یا مومن سړے، د هغوئ خاندان او د هغوئ بچی رنګ واخلی، او زیات امکان خو د دے خبرے دے چه د دے قسمه. ښځے خاوند د کور نه به د اسلام او د کفر یو داسے نیمچه بچی او نیمچه خاندان راپیدا شی، چه که کافران ئے هر څومره خوښه وی، خو اسلام ئے په هیڅ حال خوښولو ته تیار نه دے. کوم سړے چه صحیح مومن وی هغه صرف د خپلو خواهشاتو پوره کولو د پاره دا خطره په خپل سرنشی اغستلے چه د هغه په کور کښے د کافرانه او مشرکانه خیالات او طور طریقے ترقی وُکړی او پخپله د ده په ژوند باندے د کفر او د شرک اثر وُشی او بالفرض که چرے یو مومن د یو مشرک په عشق کښے اخته شی خو بیا هم هغه له د خپل ایمان په وجه دا پکار دی چه د خپل دین د خاطره خپل عشقی جذبات قربانی کړی.

[۲۳۸] په اصل کښے د اَذٰی لفظ استعمال شوے دے چه د هغے معنیٰ ګندګی هم ده او بیماری هم ده. حیض صرف یوه ګندګی نه ده، بلکه دا په بدنی لحاظ سره یو داسے حالت دے چه په هغے کښے ښځه د جوړوالی په نسبت نا جوړتیا ته ډیره نزدے وی.

فَاِذَا تَطَهَّرْنَ فَاْتُوْهُنَّ مِنْ حَيْثُ اَمَرَكُمُ اللّٰهُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ
التَّوَّابِيْنَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِيْنَ ﴿۲۲۲﴾ نِسَآؤُكُمْ حَرْثٌ لَّكُمْ ۪
فَاْتُوْا حَرْثَكُمْ اَنّٰى شِئْتُمْ ۫ وَقَدِّمُوْا لِاَنْفُسِكُمْ ؕ وَاتَّقُوا اللّٰهَ

بیا چه کله هغوئ پاکے شی، نو په هغه طریقه ورله ورځئ څنګه چه الله تاسو ته حکم کړے دے[۲۴۰]۔ الله هغه خلق خوښوی چه د بدئ نه ځان ساتی او پاک ژوند تیره وی۔ ستاسو ښځے ستاسو پټی دی۔ ستاسو خوښه ده چه څنګه غواړئ هغه شان خپل پټی ته ځئ[۲۴۱]، خو د خپل وړاندِ ژوند فکر کوئ[۲۴۲] او د الله د ناراضګئ نه ځان ساتئ۔

۲۳۹ دا قسمه خبرے قرآن مجید په اشارو اشارو کښے بیانوی او دغه وجه ده چه قرآن "ځان له وسیږئ" او "نزدے مه ورځئ" الفاظ استعمال کړی دی۔ خو د دے مطلب دا نه دے چه د حیض په مرض کښے د بیمارے ښځے سره په یوکټ کښے د ناستے نه او په یو ځائے د خوراک کولو نه ځان ساتئ او لکه د یهودیانو، هندوانو او د نورو قومونو پشان ورله هډوګوتے مه وروړئ۔ نبی صلی الله علیه وسلم چه د دے حکم کومه تشریح کړیده د هغے نه دا معلومیږی چه په دے حالت کښے د ښځے سره د کوروالی کولو نه ځان ساتل پکار دی، باقی نور ټول تعلقات د پخپل ځائے باندِ برقرار وی۔

۲۴۰ دلته د حکم نه مراد شرعی حکم نه دے، بلکه هغه فطری حکم ترِ مراد دے چه د انسان او د حیوان او د هر سا اعضتونکی څیز په طبیعت کښے ایښودلے شوے دے، او بغیر د ښودنے نه ترِ پخپله ښه خبر دے۔

۲۴۱ یعنی الله پاک دا ښځے د سړو د پاره د سیل ځائے نه دے جوړ کړے، بلکه د دواړو په منځ کښے د پټی او د کروندګر پشان تعلق دے۔ پټی ته کروندګر صرف د سیل د پاره نه ځی بلکه د دے د پاره ځی چه د پټی نه پیداوار واخلی۔ د انسانیت پټی ته هم د انسانانو کروندګر له د دے د پاره تله پکار دی چه د هغے نه د انسانانو پیداوار حاصل کړی۔ خدائے دا نه وائی چه ته په دے پټی کښے کر په کومه طریقه کړے، البته دا وائی چه څه پټی ته بل خوا مه ځه او د دے غرض د پاره ځه چه د پټی نه پیداوار واخلے۔

۲۴۲ د دے دوه مطلبونه دی او دواړه یو شان اهم دی۔ یو دا چه د خپل نسل جاری ساتلو د پاره کوشش وکړئ چه ستاسو د دنیا نه د تلو نه مخکښے ستاسو په ځائے نور کارکونکی ودریږی۔ بل دا چه کوم نسل به ستاسو پځائے روستو په دنیا کښے پاتے کیږی د هغوئ نه د ښه دیندار او خوش اخلاقه سړو جوړولو کوشش وکړئ۔ په روستنئ فقره کښے په دے خبره باندِ زور ورکړے شوے دے چه که چرے د دے دواړو فرضو په ادا کولو کښے تاسو په قصد باندِ ناراستی وکړه نو الله به ستاسو نه تپوس کوی۔

وَاعْلَمُوْٓا اَنَّكُمْ مُّلٰقُوْهُ ؕ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۲۲۳﴾ وَلَا تَجْعَلُوا اللّٰهَ
عُرْضَةً لِّاَيْمَانِكُمْ اَنْ تَبَرُّوْا وَتَتَّقُوْا وَتُصْلِحُوْا بَيْنَ النَّاسِ ؕ
وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۲۲۴﴾ لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللّٰهُ بِاللَّغْوِ فِيْٓ اَيْمَانِكُمْ
وَلٰكِنْ يُّؤَاخِذُكُمْ بِمَا كَسَبَتْ قُلُوْبُكُمْ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ حَلِيْمٌ ﴿۲۲۵﴾
لِلَّذِيْنَ يُؤْلُوْنَ مِنْ نِّسَآئِهِمْ تَرَبُّصُ اَرْبَعَةِ اَشْهُرٍ ج

ځان ښۀ پوه کړئ چه یوه ورځ به دَ هغه سره ملاویږئ. او اے نبیؐ، چاچه ستا هدایات ؤ منل هغوئ ته (دَ کامیابئ او دَ نیک بختئ) خوشخبری وا وره وه.

دَ الله نوم دَ داسے قسمونو خوړلو دپاره مه استعمالوئ، چه دَ هغے مقصد دَ نیکئ او دَ پرهیزګارئ او دَ خدائے دَ مخلوق په منځ کښے دَ ښیګړے دَ کارونو نه منع کیدل وی.[۲۴۳] الله ستاسو ټولے خبرے اَوری او په هر څۀ باندِ پوه دے. کوم بے مطلبه قسمونه چه بے ارادے تاسو خورئ، په هغے باندِ الله تاسو نۀ نیسی[۲۴۴]، خو کوم قسمونه چه په رښتیا سره دَ زړۀ نه تاسو خورئ، دَ هغے تپوس به ضرور الله کوی. الله ډیر معاف کونکے او صبرناک دے.

کوم خلق چه دَ خپلو ښځو سره دَ تعلق نۀ ساتلو قسم ؤ خوری، دَ هغوئ دپاره دَ څلورو میاشتو مهلت دے.[۲۴۵]

---

[۲۴۳] دَ صحیح حدیثونو نه معلومیږی چه که چا دَ یوے خبرے قسم ؤ خوړو او بیا روستو هغه ته پته ؤ لګید له چه دَ دے قسم په ماتولو کښے خیر او ښیګړه ده، هغه له پکار دی چه قسم مات کړی او کفاره ورکړی. دَ قسم دَ ماتولو کفاره لس مسکینانو ته خوراک ورکول، یا هغوئ په کپړه پټول یا غلام آزاده ول یا درے ورځے روژے نیول دی. (ؤ ګوره سورة مائده، آیت ۸۹)

[۲۴۴] یعنی دَ تکیه کلام په طور چه کوم قسمونه بے ارادے په خُله راځی، دَ هغے نۀ کفاره شته او نۀ په هغے باندِ خدائے څوک نیسی.

[۲۴۵] دَ شریعت په ژبه کښے دے ته ایلاء وائی. دَ ښځے او دَ خاوند په منځ کښے تعلقات همیشه ښه نشی پاتے کیدے، کله نا کله ضرور په خپل منځ کښے خفګان پیدا کیږی. لیکن دَ خدائے شریعت هغه خفګان نۀ خوښوی چه هسے خو دواړه دَ یو بل سره په قانون کښے تړلی شوی وی خو دَ ژوند په روزګار کښے دِ دَ یو بل نه داسے لرے ؤ سیږی لکه چه هغوئ ښځه خاوند نۀ وی دَ دے قسمه خفګان دپاره الله تعالیٰ دَ څلورو میاشتو وخت مقرر کړو.

فَاِنْ فَآءُوْ فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۲۲۶﴾ وَاِنْ عَزَمُوا الطَّلَاقَ
فَاِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۲۲۷﴾ وَالْمُطَلَّقٰتُ يَتَرَبَّصْنَ بِاَنْفُسِهِنَّ

کہ چرے هغوئ (دَ قسم نہ) واپس شو، نو الله معاف کونکے او مهربانه دے[۲۴۶]۔ او کہ چرے هغوئ دَ طلاقو اراده کړی[۲۴۷] وه نو په دے دِ ځان پوهه کړی چه الله هر څه اوریدونکے او په هر څه پوهه دے[۲۴۸]۔

کو مونځو ته چه طلاق ورکړے شوی وی، هغوئ دِ دَ دریو ځلو میاشتیزے ناجوړ تیا پورے

چه یا خو په دے دوران کښے خپل تعلقات سم کړئ، او که نئ نو دَ ښځے والئ او دَ خاوند والئ رشته ختم کړئ، چه دواړه دَ یو بل نه آزاد شئ او چه دَ چا سره مو خوښه وی دَ هغوئ سره نکاح وکړئ۔

چونکه په آیت کښے دَ "قسم خوړلو" الفاظ استعمال شویدی. نو په دے وجه حنفی او شافعی عالمانو دَ دے آیت نه دا مراد اغستلے دے چه که خاوند دَ ښځے سره دَ ښځے والئ دَ تعلق نه ساتلو قسم خوړلے وی نو هله دا حکم دے، او که قسم یے نه وی خوړلے او دَ ښځے والئ تعلق یے ختم کړو نو بیا که هر څومره ډیره موده تیره شی خو دَ دے آیت حکم به پرِ نه لږی. خو دَ مالکی عالمانو رائے داده چه که قسم یے خوړلے وی او که نه وی، په هر صورت کښے دَ ښځے والئ تعلق پریښودلو دپاره هم دا څلور میاشتے مهلت دے. دَ امام احمد یو قول هم دَ دے په تائید کښے دے۔ (بدایة المجتهد، جلد دوم، ص ۸۸، طبع مصر سنه ۱۳۳۹ھ)

دَ حضرت علی او دَ ابن عباس او دَ حسن بصری دا رائے ده چه دا حکم صرف دَ هغے تعلق پریښودلو دپاره دے چه دَ څه خفګان دَ وجے نه وی۔ او چه په منځ کښے څه خفګان نه وی او تعلقات یے دَ یو بل سره ښه وی، خو دَ څه خیر نښیګړے دَ وجے نه جسمانی رابطه قطع شی نو بیا دَ هغوئ دپاره دا حکم نه دے لیکن دَ نورو دینی عالمانو دا رائے ده چه هر هغه دا سے قسم چه دَ ښځے او دَ خاوند په منځ کښے جسمانی رابطه ختمسوی، هغے ته ایلاء وائی، او دا قسم حالت دَ څلورو میاشتو نه زیات نه دے پکار که په رضا وی او که په نا رضا۔

[۲۴۶] ځینو عالمانو دَ دے نه دا مطلب اغستلے دے چه که په دے موده کښے چا دننه خپل قسم مات کړو او بیا یے دَ ښځے والئ تعلق قایم کړو نو دَ قسم ماتولو کفاره پرِ نشته، الله به یے دا سے معاف کړی۔ لیکن دَ اکثرو فقهاؤ رائے داده چه دَ قسم ماتولو کفاره به ورکوی۔ دَ غفورٌ رّحیم مطلب دا نه دے چه دَ کفاره ورکولو نه معاف کړے شو، بلکه دَ دے مطلب دا دے چه الله به یے کفاره هم قبول کړی او دَ خفګان په دوران کښے چه یے په یو بل کوم زیاتے کړے وی هغه به ورته هم معاف کړے شی۔

[۲۴۷] دَ حضراتو عثمان، ابن مسعود او زید بن ثابت وغیرؤ په نزدَ قسم نه دَ واپس کیدو موقع په څلورو میاشتو کښے دننه دننه ده. دَ دے موده دَ تیریدلو پخپله دا مطلب دے چه خاوند دَ طلاقو ورکولو اراده کړے ده

ثَلٰثَةَ قُرُوْٓءٍ ؕ وَلَا يَحِلُّ لَهُنَّ اَنْ يَّكْتُمْنَ مَا خَلَقَ اللّٰهُ فِيْٓ
اَرْحَامِهِنَّ اِنْ كُنَّ يُؤْمِنَّ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ وَبُعُوْلَتُهُنَّ
اَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ فِيْ ذٰلِكَ اِنْ اَرَادُوْٓا اِصْلَاحًا ؕ وَلَهُنَّ مِثْلُ
الَّذِيْ عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوْفِ ۖ وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ ؕ وَاللّٰهُ

ځان وساتی او دَ هغوئ دپاره دا جائز نه دی چه الله دَ هغوئ په خیټو کښې څه پیدا کړی وی، هغه پټ کړی. داسې کار هغوئ له هرګز نه دے پکار، که هغوئ په الله او په ورځ دَ آخرت باندِ ایمان لری. که دَ هغوئ خاوندان صحیح تعلقات ساتلو ته تیار وی، نو دَ دے عدت په دوران کښې هغوئ دَ دے حقدار دی چه واپس خپلے ښځے واخلی[۲۴۹]

دَ عامے طریقے مطابق دَ ښځو هم هغه شان حقونه دی، لکه څنګه چه دَ سړو حقونه په هغوئ باندِ دی. البته دومره خبره ده چه دَ سړو په ښځو باندِ یوه درجه زیاته ده — او دَ

نو په دے وجه دَ دے مودے دَ تیرید لو سره به طلاق پخپله واقع کیږی، او هغه به طلاق بائن وی، یعنی دَ عدت په دوران کښې به خاوند ته دَ رجوع کولو حق نه وی. هن دومره خبره ده که ښځه خاوند دواړه وغواړی نو دوباره نکاح کولے شی. دَ حضراتو عمر، علی، ابن عباس او ابن عمر نه هم داسے یو قول نقل شوے دے. او حنفی فقهاؤ دا رائے قبوله کړے ده.

سعید بن مسیب، مکحول، زهری وغیره حضرات خو دے رائے سره تر دے حده پورے متفق دی چه دَ څلورو میاشتو تیرید لو نه روستو به طلاق پخپله واقع کیږی، لیکن دوئ وائی چه دا طلاق به رجعی وی، یعنی دَ عدت په دوران کښې به خاوند ته دَ رجوع کولو حق حاصل وی، خو که خاوند رجوع ونه کړی نو بیا دَ عدت تیرید لو نه روستو که دواړه وغواړی نو نکاح کولے شی.

دَ دے نه برخلاف دَ حضرت عائشے، ابوالدرداء او دَ مدینے دَ نورو ډیرو فقهاؤ رائے دا ده چه دَ څلورو میاشتو دَ تیرید لو نه روستو به معامله عدالت ته پیش کړے شی او دَ عدالت حاکم به خاوند ته حکم وکړی چه یا خو خپلے ښځے ته رجوع وکړه او یا ورله طلاق ورکړه. دَ حضرت عمر، دَ حضرت علی او دَ ابن عمر یو قول دَ دے رائے په تائید کښې هم دے. او امام مالک او شافعی دا رائے قبوله کړے ده.

[۲۴۸] یعنی که تاسو خپله ښځه په ناروا خبره باندِ پریښودلی وی، نو دَ خدائے یره دَ زړه نه مه وباسئ هغه ستاسو دَ زیاتی نه ناخبره نه دے.

[۲۴۹] دَ دے آیت په حکم کښې دَ فقهاؤ په منځ کښې اختلاف دے. یوه ډله وائی چه تر څو پورے ښځے دَ دریم حیض نه روستو لامبلی نه وی تر هغے پورے طلاق بائن نه کیږی او خاوند ته دَ رجوع کولو حق حاصل دے. دَ حضراتو ابوبکر، علی، ابن عباس، ابوموسی اشعری، ابن مسعود او دَ لویو لویو صحابو دا رائے ده او حنفی فقهاؤ دا رائے قبوله کړے ده. دَ دے برخلاف بله ډله وائی چه

عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٢٢٨﴾ ع الطَّلَاقُ مَرَّتَانِ فَإِمْسَاكٌ بِمَعْرُوفٍ أَوْ
تَسْرِيحٌ بِإِحْسَانٍ ۗ وَلَا يَحِلُّ لَكُمْ أَنْ تَأْخُذُوا مِمَّا آتَيْتُمُوهُنَّ

ترجمہ: اور اللہ زبردست اور حکیم ہے۔ ع

طلاق دو مرتبہ ہے، پھر یا تو سیدھی طرح عورت کو روک لیا جائے یا بھلے طریقے سے اس کو رخصت کر دیا جائے۔ ۲۵۰

اور رخصت کرتے وقت یہ جائز نہیں ہے کہ تم نے جو کچھ انہیں دیا ہو اس میں سے کچھ واپس لے لو۔

نیچے تر دریم حیض راتلو سره د خاوند د رجوع کولو حق ختم شو۔ دا رایے د حضرت عائشے، ابن عمر او د زید بن ثابت ده۔ او شافعی او مالکی فقهاؤ دا رایے اختیار کړیده خو دا یاد لرئ چه دا حکم هله دے چه کله خاوند نیچے تر یو یا دوه طلاق ورکړی وی۔ او که درے طلاق ئے ورکړی وُو نو بیا خاوند تر د رجوع کولو حق نشته۔

۲۵۰ په دے آیت کښے د یوے لوئ خرابئ اصلاح شوی ده۔ په عربو کښے دا قاعده وه چه یو سړی به خپلے بیخے تر بے شمیره طلاقونه ورکولے شو۔ د کومے بیخے نه به چه کوم خاوند خفه شو نو هغه به ورله بیا بیا طلاقونه ورکول او بیا بیا به ئے ورته رجوع کوله، د بیخے غریبے به نه د هغه سره بنډ ژوند تیرید لو او نه به د هغه نه آزادیدلے شوه چه د بل چا سره نکاح وکړی۔ د قرآن مجید دا آیت د دے ظلم دروازه بنده وی۔ د دے آیت ترڅنګ سړی ته دا حق حاصل دے چه خپلے بیخے له زیات نه زیات دوه ځله طلاق رجعی ورکړی۔ کوم سړی چه خپلے بیخے له دوه ځله طلاق ورکړل او بیا ئے بیخے ته رجوع وُکړه، نو بیا ئے چه په هر څل عمر کښے دغے بیخے ته کله درئیم طلاق ورکړو نو دغه بیخه تر د هیڅه د پاره په دریو طلاقو جدا شوله۔

د قرآن او د حدیث نه چه د طلاقو کومه صحیح طریقه معلومیږی هغه دا ده چه بیخے ته دے د پاکوالی په حالت کښے یو طلاق ورکړلے شی۔ که د بیخے خاوند خفګان په دا سے وخت کښے وُو چه بیخه د حیض په مرض ناجوړه وه نو په دغے وخت کښے طلاق ورکول بنډ نه دی، بلکه د بیخے د پاکوالی پوره انتظار پکار دے۔ بیا که د یو طلاق نه روستو دویم طلاق ورکول غواړی، نو بیا څل دے په دویم پاکوالی کښے یو بل طلاق ورکړی، که څئ نو بنډ خبره خو دا ده چه په یو طلاق صبر وکړی۔ په دے طریقه کښے خاوند ته دا حق حاصل وی که وُغواړی نو په عدت کښے دننه رجوع کولے شی، او که د عدت موده تیره هم شی خو بیا هم د وئ په خپله رضا د وباره نکاح کولے شی۔ لیکن که په دریم پاکوالی کښے ئے په دریم څل طلاق ورکړو نو بیا نه خاوند ته د رجوع کولو حق حاصل دے او نه د وباره بیا نکاح کولے شی۔ پاتے شوه دا خبره چه په یو وخت کښے په یو څل درے طلاقونه ورکړے شی، لکه څنګه چه ټول صباد جاهلانو عامه طریقه ده، نو په شریعت کښے د دے سخته ګناه ده۔ نبی صلی اللہ علیه وسلم په دے ډیر سخت وئیلی دی او د حضرت عمرؓ نه دا خبره تر دے پورے ثابته ده چه د هغه په زمانه کښے به کوم سړی

شَيْئًا اِلَّآ اَنْ يَّخَافَآ اَلَّا يُقِيْمَا حُدُوْدَ اللّٰهِ ؕ فَاِنْ خِفْتُمْ اَلَّا
يُقِيْمَا حُدُوْدَ اللّٰهِ ۙ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا فِيْمَا افْتَدَتْ بِهٖ ؕ
تِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ ۙ فَلَا تَعْتَدُوْهَا ۚ وَمَنْ يَّتَعَدَّ حُدُوْدَ
اللّٰهِ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۲۲۹﴾ فَاِنْ طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهٗ

څه برخه واپس واخلئ[۲۵۱] لیکن دا خبره چه که ښځه خاوند دواړه یریدل چه د الله په قانون باندې به قایم پاتے نشي، دا پکښے شامل نه ده. که چرے دا سے وه چه تاسو یریدئ چه هغوئ دواړه به د الله په حدونو قایم پاتے نشي، نو که هغوئ دواړه په خپل منځ کښے دا معامله وکړي چه ښځه خپل خاوند له څه ورکړي او ځان جدا کړي[۲۵۲] نو په دیکښے څه ګناه نشته، دا د الله مقرر شوي حدونه دي، د دے نه اخوا مه اوړئ. او څوک چه د الله د حدونو نه اخوا اوړي، هغه ظالمان دي.
بیا که چرے (د دویم ځل طلاق ورکولو نه روستو خاوند ښځے له په دریم ځل) طلاق ورکړل،

په یو وخت کښے خپلے ښځے له درے طلاق ورکړل نو هغه به په دُرو وهلو. بیا هم د څلورو واړو امامانو په نزد ګناه سره درے واړه طلاقه کیږي او دا سخت طلاق دي.

[۲۵۱] یعنی مهر او هغه کالی او جامے وغیره چه خاوند خپلے ښځے له ورکړي وي، د هغے نه څه څیز واپس غوښتل د خاوند حق نه دے. دا خبره هسے هم د اسلام د اخلاقي اصولونه خلاف ده چه څوک چاله څه شے د تحفے په طور یا د ښځے په طور ورکړي، او هغه تر بیا واپس غواړي. دا یو ذلیل حرکت دے. او په حدیث کښے د دے حرکت مثال د هغے سپي پشان دے چه خپل قے واپس پخپله سټي. او خاص طور د یو خاوند دپاره خو دا ډیره د شرم خبره ده چه ښځے له طلاق ورکړي او بیا د رخصت کولو په وخت کښے د هغے نه هغه ټول څه منع کول غواړي چه ده ورله پخپله ورکړي وو. د دے برعکس اسلام خلقو ته دا اخلاق بنائي چه سړے کومے ښځے له طلاق ورکړي نو د رخصتولو په وخت کښے ډ ورله څه نه څه ورکړي او بیائے د رخصت کړي. لکه څنګه چه وړاندې په آیت ۲۴۱ کښے فرمائیلی شوي دي.

[۲۵۲] په شریعت کښے دے ته "خُلع" وائي، یعنی چه ښځه خپل خاوند ته څه ورکړي او طلاق تر واخلي. دا کار که چرے د ښځے او د خاوند په منځ کښے په کور د ننه د ننه وشي او پخپلو کښے څه مقرر کړي، نو چه څه مقرر شو، هم هغه ډ ورکوي، لیکن که چرے دا معامله عدالت ته لاړله، نو عدالت به صرف د دے خبرے تحقیق کوي چه آیا دا ښځه په رښتیا د دے سړي نه دومره خفه ده چه د دهٔ سره ئے نوره ګذاره نشي کیدے. چه دا تحقیق وشي نو بیا عدالت ته اختیار دے چه د حالاتو مطابق څه غواړي، هغه ډ مقرر کړي، خاوند به هغه قبلوي او ښځے له به طلاق ورکوي،

مِنْۢ بَعْدُ حَتّٰى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهٗ ؕ فَاِنْ طَلَّقَهَا فَلَا جُنَاحَ
عَلَيْهِمَآ اَنْ يَّتَرَاجَعَآ اِنْ ظَنَّآ اَنْ يُّقِيْمَا حُدُوْدَ اللّٰهِ ؕ وَتِلْكَ
حُدُوْدُ اللّٰهِ يُبَيِّنُهَا لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ﴿٢٣٠﴾ وَاِذَا طَلَّقْتُمُ
النِّسَآءَ فَبَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ فَاَمْسِكُوْهُنَّ بِمَعْرُوْفٍ اَوْ
سَرِّحُوْهُنَّ بِمَعْرُوْفٍ ۪ وَّلَا تُمْسِكُوْهُنَّ ضِرَارًا لِّتَعْتَدُوْا ۚ وَ

نوهغه ښځه د هغه د پاره نه حلالیږی، سوا د دے نه چې هغه ښځه د بل سړی سره نکاح وکړی، او بیا هغه ورله طلاق ورکړی[۲۵۳] د دے نه روستو که چېرې هغه اول خاوند او دا ښځه د اخیال وکړی چې د الله په قانون باندې قایم وسیږی، نو بیا که هغوی یو بل ته رجوع وکړی نو جائز دی. دا د الله مقرر شوی حدونه دی، چې هغه یې د هغه خلقو د هدایت د پاره صفا بیانوی، چې هغوی (د الله د حدونو ما تولو په انجام باندې) پوه دی۔

او کله چې تاسو ښځو له طلاق ورکړئ او د هغوی عدت پوره کیدو ته نزدے شی نو یا ئے په ښه طریقه د ځان سره حصارے کړئ او یا ئے په ښه طریقه رخصت کړئ. خاص د تنګو لو په غرض هغوی مه حصاره وئ ځکه چې دا زیاتے دے، او چې چا دا سے وکړه،

عام طور فقها ؤ دا خبره نه ده خو ښه کړے چې کوم مال خاوند ښځے له ورکړے وی او بیا د هغے نه د ذیات مال مطالبه وکړی۔

د خُلع په مسئله کښے چې کوم طلاق ورکړے کیږی، هغه رجعی نه وی، بلکه طلاق بائن دی۔ چونکه ښځے د اطلاق په پیسو غټلے وی، نو په دے وجه خاوند ته د احق حاصل نه وی چې د دے طلاق نه واپس شی۔ خو که دا سړے او ښځه بیا د یو بل سره راضی شی او دوباره نکاح کول وغواړی. نو دا ورله بالکل جائز دی۔

جمهور علماء وائی چې د خُلع عدت هغه دے کوم چې د طلاقو دے۔ لیکن په ابوداؤد، ترمذی او ابن ماجه وغیره کښے د بیرو روایات دا سے دی چې د هغے نه معلومیږی چې نبی صلی الله علیه وسلم د خُلع عدت یو حیض مقرر کړے ؤ او د دے مطابق حضرت عثمان رض د یوے مقدمے فیصله کړی وه۔ (ابن کثیر جلد اول، ص ۲۷۶۔)

[۲۵۳] د صحیح حدیثونه معلومیږی چې که یو سړی ښځے له دوے طلاق ورکړل او بیا ئے ځان ته د حلالولو د پاره د سازش په طور بل چا ته په نکاح ورکړه، او د هغے نه ئے ورسره دا خبره پخه کړی وه چې د نکاح کولو نه روستو به ورله طلاق ورکوی، نو دا سړے یو ناجائزه کار دے۔ دا نکاح نه ده بلکه زنا ده

مَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهٗ ؕ وَلَا تَتَّخِذُوْٓا اٰيٰتِ اللّٰهِ
هُزُوًا ۫ وَاذْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَمَآ اَنْزَلَ عَلَيْكُمْ مِّنَ
الْكِتٰبِ وَالْحِكْمَةِ يَعِظُكُمْ بِهٖ ؕ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ
بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿۲۳۱﴾ ع وَاِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ فَبَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ
فَلَا تَعْضُلُوْهُنَّ اَنْ يَّنْكِحْنَ اَزْوَاجَهُنَّ اِذَا تَرَاضَوْا بَيْنَهُمْ

هغه په حقیقت کښې په خپل ځان باندې ظلم وکړو۔[۲۵۴] د الله د آیاتونو نه لوبې مه جوړه وئ۔ دا مه هیره وئ چه الله څومره لوئ نعمت په تاسو باندې کړے دے۔ هغه تاسو ته نصیحت کړی چه کوم کتاب او حکمت هغه په تاسو نازل کړے دے، د هغے د عزت خیال ساتئ۔[۲۵۵] د الله نه ویریږئ او پوهه شئ چه الله د هرے خبرے نه خبر دے۔ ع

او کله چه تاسو خپلو ښځو له طلاق ورکړئ او هغوئ خپل عدت پوره کړی، نو بیا تاسو هغوئ د دینه مه منع کوئ چه د خپل خیال مطابق خاوندانو سره نکاح وکړی، هر کله چه هغوئ

او په داسے سازشی نکاح او طلاقو باندې دغه ښځه اولنی خاوند ته هرګز نه حلالیږی۔ د حضرت علی او ابن مسعود او ابوهریره او عقبه بن عامر رضی الله عنهم نه متفقه روایت دے چه نبی صلی الله علیه وسلم په دے طریقه باندې ځان له ښځه حلاله ونکی او په سازشی نکاح اغستونکی سړی باندې لعنت وئیلے دے۔

[۲۵۴] یعنی داسے کول صحیح نه دی چه یو سړے خپلے ښځے له طلاق ورکړی او بیا د عدت تیریدو نه مخکښے ورته صرف په دے غرض رجوع وکړی چه ده له د هغے د تنګولو موقع په لاس ورشی۔ الله فرمائی چه رجوع په دے نیت سره کوئ چه پس د دے نه به بنه ژوند تیره وو۔ کنئ نو بیا بهتره خبره دا ده چه بنه په شرافت سره ئے رخصت کړئ۔ (د زیاتے تشریح د پاره وګورئ حاشیه نمبر ۲۵)

[۲۵۵] یعنی دا حقیقت مه هیره وئ چه الله تاسو له د کتاب او د حکمت تعلیم درکړے دے او د دنیا د مشرئ عظیم الشان منصب ئے درحواله کړے دے۔ تاسو نه ئے "اُمت وسط" جوړ کړے دے۔ تاسو ئے د نیکئ او د راستئ ګواهان جوړ کړی یئ۔ ستاسو دا کار نه دے چه د حیلو بهانو په ذریعه د الله د آیاتونو سره لوبے وکړئ، د قانون د اصلی مطلب نه برخلاف د الفاظو په زور غلط مطلبونه او ناجائزه فائدے واخلئ، او دنیا ته د نیغے لارے بنسودلو پځائے پخپله پخپل کورونو کښے ظالمان او بے لارے شئ۔

بِالْمَعْرُوْفِ ؕ ذٰلِكَ يُوْعَظُ بِهٖ مَنْ كَانَ مِنْكُمْ يُؤْمِنُ
بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ ذٰلِكُمْ اَزْكٰى لَكُمْ وَاَطْهَرُ ؕ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ
وَاَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿٢٣٢﴾ وَالْوَالِدٰتُ يُرْضِعْنَ اَوْلَادَهُنَّ
حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ لِمَنْ اَرَادَ اَنْ يُّتِمَّ الرَّضَاعَةَ ؕ وَعَلَى
الْمَوْلُوْدِ لَهٗ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ ؕ لَا تُكَلَّفُ
نَفْسٌ اِلَّا وُسْعَهَا ۚ لَا تُضَآرَّ وَالِدَةٌۢ بِوَلَدِهَا وَلَا مَوْلُوْدٌ

دَ دستور مطابق دَ يو بل سره په نکاح کولو باندِ راضی شی[٢٥٦]. نصيحت درته کيږی چه داسے کار هيچرے مه کوئ، که چرے تاسو په الله او په ورځ دَ آخرت باندِ ايمان راوړونکی يئ. ستاسو دپاره ښائسته غوريزه او پاکيزه طريقه داده چه دَ دے کار نه منع شئ. الله پوهيږی، تاسو نه پوهيږئ.

کوم پلاران چه غواړی چه دَ هغوئ اولاد دِ پوره موده دَ تی پئ وُخوری، نو مياندے دِ خپلو بچو ته پوره دوه کاله پئ ورکړی[٢٥٧]. په دے مسئله کښے به دَ بچی پلار هغوئ له خوراک او کپړه جامے دَ رواج مطابق ورکوی. خو په چا باندِ دَ هغه دَ وَس نه زيات بوج نه اچول پکار دی. نه خو دِ مور په دے وجه په تکليف کښے واچولے شی، چه بچے دَ هغے دے، او نه دِ پلار

[٢٥٦] يعنی که يوے ښځے له دَ هغے خاوند طلاق ورکړل، او دَ عدت په وخت کښے ئے ورته رجوع وُ نه کړه، بيا دَ عدت تيريدلو نه روستو هغوئ دواړه پخپلو کښے دوباره نکاح کولو ته تيار شو، نو دَ ښځے رشته دارانو له پکار دی چه هغوئ دَ نکاح کولو نه منع نه کړی. د دے دا مطلب هم کيدے شی چه کوم سړی خپلے ښځے له طلاق ورکړل، او ښځه دَ عدت تيريدلو نه روستو آزاده شوه، او هغه بيا چرته بل چا سره نکاح کول غواړی، نو دغے محکينی خاوند له دا نه دی پکار چه هغه په څه چل دغه نکاح خرابه کړی او دا کوشش شروع کړی چه کومه ښځه دهٔ پرينبودلی ده، چه هغه هډو څوک په نکاح قبوله نه کړی.

[٢٥٧] دا دَ هغے مسئلے حکم دے، کله چه ښځه خاوند دَ يو بل نه، دَ طلاقو په ذريعه يا دَ خُلعے په ذريعه يا دَ فسخ او دَ تفريق په ذريعه جُدا شوی وی، او دَ ښځے په غيږ کښے پئ خوړونکے بچے وی.

لَّهٗ بِوَلَدِهٖ ۗ وَعَلَى الْوَارِثِ مِثْلُ ذٰلِكَ ۚ فَاِنْ اَرَادَا فِصَالًا عَنْ
تَرَاضٍ مِّنْهُمَا وَتَشَاوُرٍ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا ؕ وَاِنْ اَرَدْتُّمْ اَنْ
تَسْتَرْضِعُوْٓا اَوْلَادَكُمْ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ اِذَا سَلَّمْتُمْ مَّآ اٰتَيْتُمْ
بِالْمَعْرُوْفِ ؕ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿۲۳۳﴾
وَالَّذِيْنَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُوْنَ اَزْوَاجًا يَّتَرَبَّصْنَ
بِاَنْفُسِهِنَّ اَرْبَعَةَ اَشْهُرٍ وَّعَشْرًا ۚ فَاِذَا بَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ

په دے وجه تنګ کړے شي چه بچے دَ هغهٔ دے ——— دَ پئ ورکونکے ښځے دا حق لکه څنګه چه دَ بچي په پلار باندِ دے، دغه شان دَ هغهٔ په وارث باندِ هم دے[۲۵۸] ——— خو که دواړه په خپله رضا او مشورے سره بچے دَ تِي نه پریکول غواړي، نو خیر دے څه ګناه پکښے نشته. او که چرے تاسو غواړئ چه ستاسو بچوله بله ښځه پئ ورکړي، نو په دے کښے هم څه ګناه نشته خو په دے شرط چه دَ هغے کومه مزدوري مقرر کړئ هغه ورله دَ عامے طریقے مطابق ورکړئ. دَ الله نه ویریږئ او په دے ځان پوهه کړئ چه څه تاسو کوئ په هغے ټولو دَ الله نظر دے.

په تاسو کښے چه څوک مړه شي، او روستو تر ښځے پاتے شي، نو هغوئ دِ خپل ځانونه څلور میاشتے او لس ورځے په انتظار کښے وساتي[۲۵۹] بیا چه کله دَ هغوئ عدت پوره شي،

[۲۵۸] یعنی که چرے پلار مړ شي، نو څوک چه دَ هغه پځائے دَ بچي سرپرست وي هغه به دا حق ادا کوي.

[۲۵۹] دا د مړک نه روستو دَ انتظار عدت پوره کول دَ هغے ښځو دپاره هم دے دَ کومو سره چه خاوندان هډو ملاؤ شوي نه وي. لیکن اُمید واره ښځه په دے حکم کښے شامله نه ده. دَ هغے دَ انتظار عدت دَ بچي دَ پیدا کیدلو پورے دے، خواه که بچے دَ خاوند دَ مړک نه روستو په هغه ورځ پیدا شي او که پکښے څو میاشتے وُلږي.

"دَ خپل ځان په انتظار کښے دَ ساتلو" مطلب یواځے دا نه دے، چه هغه دِ په دے موده کښے دَ چا سره نکاح نه کوي، بلکه دَ هغے نه دا مراد هم دے چه خپل ځان دِ دَ ډول سنګار نه هم وساتي. په احادیثو کښے صفا دا حکمونه دي چه دَ عدت په دوران کښے ښځے له رنګدارے جامے اغوستل، کالي اچول، رانجه، خوشبوئي او تور رنګ پورے کول او ویختو کښے ډول پیدا کول نه دي پکار. البته په دے خبره کښے اختلاف دے چه دَ عدت په دوران کښے ښځه دَ کور نه بهرو تلے شي

فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا فَعَلْنَ فِيٓ أَنفُسِهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ ۗ وَاللَّهُ
بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿٢٣٤﴾ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا عَرَّضْتُم بِهِ
مِنْ خِطْبَةِ النِّسَاءِ أَوْ أَكْنَنتُمْ فِيٓ أَنفُسِكُمْ ۚ عَلِمَ اللَّهُ أَنَّكُمْ
سَتَذْكُرُونَهُنَّ وَلَٰكِن لَّا تُوَاعِدُوهُنَّ سِرًّا إِلَّآ أَن تَقُولُوا
قَوْلًا مَّعْرُوفًا ۗ وَلَا تَعْزِمُوا عُقْدَةَ النِّكَاحِ حَتَّىٰ يَبْلُغَ
الْكِتَٰبُ أَجَلَهُ ۚ وَاعْلَمُوٓا أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِيٓ أَنفُسِكُمْ

نو دَ هغوئ اختیار دے چه دَ خپل ځان په باره کښے په مناسب طریقه څه کول غواړی، هغه دِ وکړی په تاسو باندِ دَ هغے هیڅ ذمه واری نشته. الله ستاسو دَ ټولو دَ عملونو نه خبر دے. دَ عدت په دوران کښے که تاسو دَ دغے کونډ وښځو سره دَ کوئیدن کولو اراده په اشارو کنایو کښے ظاهره کړئ او که په زړه کښے ئے پټه وساتئ، نو خیر دے، دا څه بده خبره نه ده. الله په دے پوهه دے چه دَ دغے کونډ وخیال به ستاسو په زړونو کښے ضرور راځی. خو خیال کوئ چه پټے وعدے لوزونه ورسره ؤ نه کړئ. که څه خبره کول ورسره غواړئ نو په عامه مناسبه طریقه ئے ورسره کوئ. او تر هغے پورے دَ نکاح تړلو فیصله مه کوئ تر څو پورے چه عدت نه وی پوره شوے. ښه پوهه شئ چه الله ستاسو دَ زړونو

او که نه شی. حضرات عمر، عثمان، ابن عمر، زید بن ثابت، ابن مسعود، اُمِّ سلمه، سعید بن مُسَیِّب، ابراهیم نخعی، محمد بن سیرین او څلور واړه امامان (خدائے دِ پرِ رحم اوکړی) دَ دے خبرے قائل دی چه دَ عدت په دوران کښے ښځے له پکار دی چه په هغے کور کښے ؤ سیږی چه په کوم کور کښے ئے خاوند وفات شوے دے. دَ ورځے دَ څه ضرورت دپاره بهروتلے شی، خو ؤ سیدل ورله هم په هغے کور کښے پکار دی. دَ دے برعکس حضرت عائشه، ابن عباس، حضرت علی، جابر بن عبدالله، عطاء، طاؤس، حسن بصری، عمر بن عبدالعزیز او ټول اهل ظاهر دَ دے خبرے قائل دی چه ښځه دَ خپل عدت وخت کوم ځائے غواړی هلته تیرولے شی او دَ عدت په دوران کښے سفر هم کولے شی.

فَاحْذَرُوْهُ ۚ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ حَلِيْمٌ ﴿۲۳۵﴾ ع لَا جُنَاحَ
عَلَيْكُمْ اِنْ طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ مَا لَمْ تَمَسُّوْهُنَّ اَوْ تَفْرِضُوْا
لَهُنَّ فَرِيْضَةً ۚ وَّمَتِّعُوْهُنَّ ۚ عَلَى الْمُوْسِعِ قَدَرُهٗ وَ
عَلَى الْمُقْتِرِ قَدَرُهٗ ۚ مَتَاعًا بِالْمَعْرُوْفِ ۚ حَقًّا عَلَى
الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۲۳۶﴾ وَاِنْ طَلَّقْتُمُوْهُنَّ مِنْ قَبْلِ اَنْ تَمَسُّوْهُنَّ
وَقَدْ فَرَضْتُمْ لَهُنَّ فَرِيْضَةً فَنِصْفُ مَا فَرَضْتُمْ اِلَّآ اَنْ
يَّعْفُوْنَ اَوْ يَعْفُوَ الَّذِيْ بِيَدِهٖ عُقْدَةُ النِّكَاحِ ؕ وَاَنْ

په حال باندِ خبر دے. نو دَ هغه نه وُیریږئ او دَ دے نه هم خبر شئ چه الله ډیر صبرناک دے، وَړے وَړے خبرے معاف کوی ع

ستاسو د پاره په دے کښے هیڅ گناه نشته، چه خپلو ښځو له، مخکښے دَ لاس ورو ړلو نه یا مخکښے دَ مهر مقرره ولو نه، طلاق ورکړئ. په داسے مسئله کښے هغوئ له څه نه څه ضرور ورکول پکار دی[۲۶۰]. مالدار سړے دِ دَ خپل حیثیت مطابق او غریب دِ دَ خپل حیثیت مطابق په عامے مناسبے طریقے سره څه ورکړی، دا حق دے په نیکانو خلقو باندِ. او که چرے تاسو مخکښے دَ لاس ورو ړلو نه ښځے له طلاق ورکړو، لیکن مهر مو ورله مقرر کړے وُو، نو په داسے مسئله کښے به نیم مهر ورکوئ. دا بیله خبره ده چه ښځهٔ دَ نرمئ سلوک وُکړی (او مهر وانخلی) یا هغه سړے چه دَ هغهٔ سره دَ نکاح واک اختیار دے، هغه دَ نرمئ نه کار واخلی (او پوره مهر ورکړی)، او چه تاسو (یعنی سړی)

[۲۶۰] دغه شان دَ خپلوئ کولو نه روستو دَ خپلوئ پریښودلو سره ښځے ته څه نه څه نقصان ضرور رسی، دَ دے وجے نه الله حکم وُکړو چه دَ خپل حیثیت مطابق هغے له څه ورکړئ.

تَعْفُوْٓا اَقْرَبُ لِلتَّقْوٰى ؕ وَلَا تَنْسَوُا الْفَضْلَ بَيْنَكُمْ ؕ اِنَّ
اللّٰهَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿۲۳۷﴾ حٰفِظُوْا عَلَى الصَّلَوٰتِ وَ
الصَّلٰوةِ الْوُسْطٰى ۗ وَقُوْمُوْا لِلّٰهِ قٰنِتِيْنَ ﴿۲۳۸﴾ فَاِنْ خِفْتُمْ

دَ نرمئ نه کار واخلئ، نو دا دَ تقوٰی سره ډیره مناسبه ده. په خپلو معاملاتو کښې سخاوت مهٔ هیروئ[۲۶۱]. ستاسو هر کار الله وینی.

دَ خپلو مونځونو حفاظت کوئ، خصوصاً[۲۶۲] دَ دا سے مونځ چه دَ مانځه ټولے خوبئ پکښے راجمع[۲۶۳] وی. خدائے ته په دا سے طریقه ودریږئ لکه څنګه چه فرمان منونکے غلام ودریږی. چه دَ یرے او دَ بدامنئ حالت وی

۲۶۱ یعنی دَ انسانانو په خپلو کښے دَ ښهٔ تعلقاتو ساتلو دپاره دا ضروری ده چه هغوئ په خپلو کښے دَ سخاوت او دَ فراخدلئ سلوک کوی. که چرے هر یو سړے ټیک ټیک په خپل قانونی حق باندِ ټینګ وُ دریږی، نو په شریکه دَ یوځائے وُ سیدلو ژوند به هیچرے ښهٔ نه شی.

۲۶۲ دَ یو بل سره په شریکه دَ ژوند تیرولو دَ قانون بیانولو نه روستو الله تعالیٰ دا تقریر دَ مونځ کولو په تاکید باندِ ختموی، ځکه چه مونځ هغه ذریعه ده چه په انسان کښے دَ خدائے یره پیدا کوی او په انسان کښے دَ خدائے دَ حکمونو دَ منلو او دَ نیکئ او دَ پاکوالی جذبه پیدا کوی او انسان په صحیح لاره قایم ساتی. که دا ذریعه نه وی نو انسان هیچرے دَ خدائے په قانون باندِ په پابندئ سره کلک نشی پاتے کیدے او آخر به په نافرمانئ کښے هغه طرفته لاړ شی کوم طرفته چه یهودیان تلی وُو.

۲۶۳ په اصل کښے دَ "صَلٰوةُ الْوُسْطٰى" لفظ استعمال شوے دے. بعضے مفسرین وائی چه دَ دے نه مراد دَ سحر مونځ دے. بعضے وائی چه دَ ماسپخین مونځ دے، بعضے وائی چه دَ ماښام مونځ دے او بعضے وائی چه دَ ماسختن مونځ دے. لیکن په دے کښے یو قول هم دَ نبی صلی الله علیه وسلم نه نقل شوے نه دے. صرف دَ تشریح کونکو خبرے دی. دَ ټولو نه زیات قولو نه دَ مازیګر دَ مانځه په حق کښے دی او دا وئیلے کیږی چه نبی صلی الله علیه وسلم دے مونځ ته صلوٰة وُسطیٰ وئیلی دی. دَ هغوئ دلیل دا دے چه په جنګ احزاب کښے نبی صلی الله علیه وسلم دَ مشرکانو دَ حملے دَ وجے نه دومره مشغول وُو چه نمر پریوتو او دَ مازیګر مونځ ئے وُ نه کړے شو. په دغه وخت کښے نبیؐ وُ فرمائیل چه "خدائے دِ ددے خلقو قبرونه او کورونه دَ وَور نه ډک کړی، دوئ زمونږ نه صلوٰة وسطیٰ قضا کړو" دَ دے وجے نه دا خیال وُ کړے شو چه نبیؐ دَ مازیګر مونځ ته صلوٰة وُسطیٰ وئیلی دی، حالانکه زمونږ په نزد دَ دے دا ډیر ښکلے مطلب دے. چه دَ جنګ دے مشغولتیا زمونږ نه دَ اعلیٰ درجے مونځ قضا کړو، بے وخته به ئے وُ کړو او زر زر به ئے وُ کړو خو په خشوع او خضوع او اطمینان او آرام سره به ئے وُ نه کړے شو. دَ وُسطیٰ معنیٰ دَ منځ والا څیز هم دے او دا سے څیز هم چه هغه اعلیٰ او غوریزوی. دَ صلوٰة وُسطیٰ

فَرِجَالًا اَوْ رُكْبَانًا ۚ فَاِذَآ اَمِنْتُمْ فَاذْكُرُوا اللّٰهَ كَمَا عَلَّمَكُمْ
مَّا لَمْ تَكُوْنُوْا تَعْلَمُوْنَ ﴿۲۳۹﴾ وَالَّذِيْنَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُوْنَ
اَزْوَاجًا ۖ وَّصِيَّةً لِّاَزْوَاجِهِمْ مَّتَاعًا اِلَى الْحَوْلِ غَيْرَ اِخْرَاجٍ ۚ
فَاِنْ خَرَجْنَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيْ مَا فَعَلْنَ فِيْٓ اَنْفُسِهِنَّ
مِنْ مَّعْرُوْفٍ ؕ وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿۲۴۰﴾ وَلِلْمُطَلَّقٰتِ مَتَاعٌۢ
بِالْمَعْرُوْفِ ؕ حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِيْنَ ﴿۲۴۱﴾ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ اٰيٰتِهٖ

نوکه پیاده کیدے شی یا په سورلئ د پاسه، څنګه چه د رته آسانه وی مونځ کوئ. او چه کله امن شی نو الله په هغه طریقه یاد وئ چه کومه طریقه هغه تاسو ته ښودلے ده، چه رومبے تاسو ته معلومه نه وه.

په تاسو کښے[۲۶۴] چه کوم خلق مړه کیږی، او روستو ترښځے پاتے کیږی، هغوئ له پکار دی چه د خپلو ښځو په حق کښے دا وصیت وکړی چه د یو کال پورے د ورته ډوډئ او خرچه ورکیدے شی او د کور نه د باهر نشی ایستلے کیدے. بیا که چرے هغوئ پخپله بهر وزی، نو د خپل ځان په حقله چه هغوئ په عامه مناسبه طریقه هرڅه کوی د هغے ذمه واری په تاسو نشته، الله په ټولو باندے غالب اختیار لرونکے او حکیم او دانا دے. دغه شان چه کومو ښځو له طلاق ورکړے شوے وی، هغوئ له دهم د رخصتولو په وخت کښے په مناسبه طریقه څه نه څه ورکړے شی. دا حق دے په پرهیزګارانو خلقو باندے.

دغه شان الله تاسو ته خپل حکمونه صفا صفا بیا نوی.

مطلب منځنے مونځ هم کیدے شی او دا سے مونځ هم کیدے شی چه په صحیح وخت باندے الله تعالیٰ طرفته پوره توجه او خشوع سره ادا کړے شی او چه په هغے کښے د مونځ ټولے خوبئ موجود وی. دا روستئ فقره چه "الله ته د فرمانبردار بندګانو پشان ودریږئ" پخپله د دے تفسیر کوی.

[۲۶۴] د تقریر سلسله بره ختم شوی وه، دا کلام د هغے د زیاتی کړے شوی حصے یعنی تتمے او ضمیمے په طور دے.

لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿۲۴۲﴾ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ خَرَجُوْا مِنْ دِيَارِهِمْ
وَهُمْ اُلُوْفٌ حَذَرَ الْمَوْتِ ص فَقَالَ لَهُمُ اللّٰهُ مُوْتُوْا قف ثُمَّ
اَحْيَاهُمْ ط اِنَّ اللّٰهَ لَذُوْ فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ
النَّاسِ لَا يَشْكُرُوْنَ ﴿۲۴۳﴾ وَقَاتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَاعْلَمُوْٓا

امید دے چه تاسو به په عقل فکر سره کار کوئ. ع

آیا تا ۲۶۵ دَ هغے خلقو په حال باندِ هم څه غور کړے دے، چه دَ مرګ دَ یرے نه یئے چنل کو رونه پریښودلی وُو او دَ زرګو نو په تعداد کښے وُو؟ الله هغوئ ته وَفرمائیل چه مړه شئ. بیا ورله هغه دوباره ژوند ورکړو. ۲۶۶ حقیقت دا دے چه الله په انسان باندِ ډیر لوئے فضل کونکے دے خو اکثر خلق شکر نه ادا کوی ـــــ اے مسلمانانو! دَ الله په لار کښے جنګ کوئ او بنه خبر شئ چه

۲۶۵ دَ دے ځائے نه دَ تقریرونو دویمه سلسله شروع کیږی، په دے تقریرونو کښے مسلمانانو ته دَ الله په لار کښے دَ جهاد کولو او دَ مال قربانولو تلقین شوے دے، او هغوئ ته دا نصیحت شوے دے چه دَ هغے کمزورونه ځان وُساتئ چه دَ هغے په وجه بنی اسرائیلو ته زوال راغے. په دے ځائے باندِ دَ ځان پوهه کولو دپاره دا خبره په خیال کښے ساتل پکار دی چه مسلمانان په دغے وخت کښے دَ مکے نه ایستلے شوی وُو، دَ کال یو نیم کال راسے ئے په مدینه کښے پناه اغستلی وه، او دَ کافرانو دَ ظلمونو دلاسه ئے پخپله څو څو ځله دا مطالبه کړی وه چه موږ ته دِ دَ جنګ اجازت راکړے شی. خو چه کله ورته دَ جنګ کولو حکم وُکړے شو، نو بیا پکښے ځنے خلق یَریدل، لکه څنګه چه دَ شپږ یشتمے رکوع په آخر کښے دی. دَ دے وجے نه دلته دَ بنی اسرائیلو دَ تاریخ دوه لوئے واقعے هغوئ ته دَ عبرت دپاره بیان شوی دی.

۲۶۶ دا دَ بنی اسرائیلو دَ خروج واقعے ته اشاره ده. دَ سورة مائده په څلورمه رکوع کښے الله تعالیٰ دَ دے تفصیل بیان کړے دے. دا خلق په ګڼ تعداد کښے دَ مصر نه وتلی وُو. په دشتونو صحراګانو کښے بے کوره ګرزیدل. پخپله ئے په یو ځائے کښے دَ دیرے اچولو ډیر شوق وُو. خو چه کله ورته دَ الله په اشاره حضرت موسیٰ حکم وُکړو چه ظالمان کنعانیان دَ فلسطین دَ زمکے نه وُباسئ او دغه علاقه ځان له فتح کړئ، نو هغوئ بزدلی ښکاره کړه او دَ مخکښے تللو نه ئے انکار وُکړو. خو آخر دا چه الله تعالیٰ هغوئ دَ څلویښتو ګالو پورے په دغه زمکه کښے سروهلی بروهلی پریښودل، تر دے پورے چه دَ هغوئ یو نسل ختم شو او بل نسل ئے دَ دشتونو صحراګانو نه راوُچت شو. پس دَ هغے نه الله تعالیٰ هغوی له په کنعانیانو باندِ غلبه ورکړه دا سے معلومیږی چه دے معاملے ته مرګ او دوباره ژوندوئیلے شوے دے.

اَنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۲۴۴﴾ مَنْ ذَا الَّذِيْ يُقْرِضُ اللّٰهَ قَرْضًا
حَسَنًا فَيُضٰعِفَهٗ لَهٗٓ اَضْعَافًا كَثِيْرَةً ؕ وَاللّٰهُ يَقْبِضُ وَيَبْصُۜطُ
وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۲۴۵﴾ اَلَمْ تَرَ اِلَى الْمَلَاِ مِنْۢ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ
مِنْۢ بَعْدِ مُوْسٰى ۘ اِذْ قَالُوْا لِنَبِيٍّ لَّهُمُ ابْعَثْ لَنَا
مَلِكًا نُّقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ قَالَ هَلْ عَسَيْتُمْ اِنْ كُتِبَ

وقف لازم

الله هرڅه اوريدونکے او په هرڅه پوهه دے. په تاسو کښے څوک دی چه الله تعالیٰ له قرض حسن ورکړی[۲۶۷]، چه الله ئے ورله بیا په څو څو چنده زیات واپس ورکړی؟ کمول هم د الله په اختیار کښے دی او زیاتول هم، او د هغه طرفته به تاسو واپس ځئ.

بیا تاسو په هغه معامله هم څه غور کړے دے چه د موسیٰ نه روستو د بنی اسرائیلو سردارانو ته پیښه شوی وه؟ هغوئ خپل پیغمبر ته وُوئیل چه مونږ له یو بادشاه مقرر کړه چه مونږ د الله په لار کښے جنګ وکړو[۲۶۸]. پیغمبر تر تپوس وکړو: هسے نه چه تاسو ته د جنګ

[۲۶۷] د "قرض حسن" لفظی ترجمه ده "ښه قرض" او د دے نه مراد داسے قرض دے چه خالص د نیکئ په جذبه بے غرضه چاله ورکړے شی. په دے طریقه چه کوم مال د خدائے په لار کښے خرڅ کړے شی، هغے ته الله تعالیٰ په خپله ذمه قرض وائی او د اوعده کوی چه زه به نه صرف قرض ادا کوم، بلکه په څو څو چنده به ئے زیات ورکوم. لیکن شرط پکښے دا دے چه هغه قرض حسن وی، یعنی د خپل څه غرض دپاره ئے نه ورکوی بلکه صرف د الله د رضا دپاره ئے په هغه کارونو کښے لګوی چه کوم کارونه الله خوښوی.

[۲۶۸] دا تقریباً د مسیح نه زرکاله مخکینئ واقعه ده. په هغه وخت کښے په بنی اسرائیلو باندے عمالقه غالب شوی وُو او هغوئ د اسرائیلیانو نه د فلسطین اکثرے علاقے په زور اغتلے وے. په دغه زمانه کښے سموئیل نبی د بنی اسرائیلو حکومت کولو، خو هغه ډیر بوډا شوے وُو. په دے وجه د بنی اسرائیلو سردارانو دا ضرورت وګڼړو چه څوک بل سړے د هغوئ مشر شی او د هغه په مشرئ کښے دوئ جنګ وکړی. لیکن په دغے وخت کښے په بنی اسرائیلو کښے دومره جاهلیت راغلے وُو او هغوئ د غیر مسلمه قومونو د طور طریقو نه دومره اثر قبول کړے وُو چه د هغوئ د دماغونه د خلافت او د بادشاهئ فرق وتلے وُو. دغه وجه وه چه هغوئ د خلیفه مقرر کولو دپاره نه بلکه د بادشاه مقرر کولو دپاره درخواست کړے وُو. په دے باره کښے چه د بائیبل په کتاب سموئیل اول کښے کوم تفصیلات بیان شوی دی هغه دا دی:

"سموئیل په خپل ټول ژوند کښے د اسرائیلو عدالت کولو.... بیا ټول اسرائیلی مشران بزرګان راجمع شو او په رامه کښے سموئیل ته لاړل او ورته ئے اُووئیل چه ګوره

تهٔ کمزورے شوے یې او ستا ځامن ستا په لار باندې نهٔ ځي. اوس تهٔ موږ له څوک بادشاه مقرر کړه چه دَ نورو قومونو پشان موږ له دَ عدالت کار کوي ..... دا خبره په سموئیل بده وُلګیده او دَ خداوند نه ئې دُعا وَ غوښتله، او خداوند سموئیل ته اووئیل چه دا خلق څه تا ته وائي هغه تهٔ اُو منه ځکه چه هغوئ ستا نهٔ بلکه زما سپکاوے کړے دے چه زهٔ دَ هغوئ بادشاه نهٔ شوم ..... او سموئیل هغے خلقو ته چه بادشاه ئې غوښتلو، دَ خداوند دا ټولے خبرے واورولے او ورته ئې اُووئیل چه کوم بادشاه به په تاسو بادشاهي کوي، دَ هغه به دا طریقه وي چه ستاسو ځامن به دَ خپلو ګاډو دپاره او په خپلو سوَرو کښے نوکران ساتي، او هغوئ به دَ هغهٔ دَ ګاډو نه مخکښے منډے وهي او هغه به هغوئ دَ زرو زرو سرداران او دَ پنځو سو پنځو سو جمعداران جوړه وي، او په چا به یوے کوي او فصلونه به پرِ ریبي او دَ خپل ځان دپاره به پرِ دَ جنګ وسلے او دَ ګاډو سازونه جوړه وي، او ستاسو دَ لونړو نه به دَ وړو اخکلو او دَ ډوډئ ترکارئ پخولو کار اخلي، ستاسو دَ فصلونو او دَ انګورو ښهٔ ښهٔ پټي او دَ زیتون ښهٔ ښهٔ باغونه به ستاسو نه واخلي او خپلو خدمتګارانو له به ئې ورکړي او ستاسو دَ پټو او دَ انګورو دَ باغونو لسمه حصه به خپلو غلامانو او نوکرانو له ورکړي او ستاسو نوکران او وینځے او ستاسو ښکلي ځوانان او ستاسو خره به ستاسو نه واخلي او په خپل کار به ئې وُلګوي او ستاسو دَ ګډو بیزونه به هم لسمه حصه واخلي. نو تاسو به دَ هغهٔ غلامان شئ او بیا به دَ هغے بادشاه نه، چه تاسو ځان له خوښ کړے وي، فریاد کوئ، خو خداوند به تاسو له جواب نهٔ درکوي. دَ دے نه روستو هم خلقو دَ سموئیل خبره وانوریدله او ویوئیل چه نهٔ، موږ خو بادشاه غواړو چه زموږ دپاسه وي او چه موږ دَ نورو قومونو پشان شو، چه موږ له فیصلے کوي، چه زموږ نه مخکښے مخکښے ځي او زموږ دَ طرفنه جنګیږي ..... خداوند سموئیل ته اووئیل چه تهٔ دَ دوئ خبره وَ منه او دوئ له یو بادشاه مقرر کړه." (باب ۷ آیت ۱۵ تا باب ۸ آیت ۲۲)

"بیا سموئیل خلقو ته وَوئیل ..... کله چه تاسو وَلیدل چه دَ بني عمون بادشاه ناحس په تاسو حمله وَکړه، نو تاسو ما ته وَوئیل چه په موږ دِ یو بادشاه بادشاهي کوي، حالانکه خداوند ستاسو خدائے ستاسو بادشاه وُو. نو اوس خپل بادشاه ته ګورئ چه تاسو خوښ کړو او تاسو ورله درخواست کړے وُو. ځئ خداوند په تاسو باندې بادشاه مقرر کړے دے. که چرے تاسو دَ خداوند نه یَریدلئ او دَ هغه عبادت موکولو او دَ هغه خبره مو منله او نافرمانی مونهٔ کوله او تاسو او ستاسو بادشاه په خداوند خپل خدائے پسے روان شوئ، نو خیر دے، لیکن که چرے تاسو دَ خداوند خبره وَ نهٔ منله او دَ هغه نافرمانی مو وَکړه، نو دَ خداوند لاس به ستاسو خلاف شي، لکه څنګه چه هغه ستاسو دَ پلار نیکهٔ خلاف شوے وُو ..... تاسو ته به پته وُلږي او تاسو به ئې وَوینئ هم چه تاسو دَ خداوند په موجودګئ کښے دَ ځان دپاره دَ بادشاه غوښتلو په ذریعه څومره

عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ اَلَّا تُقَاتِلُوْا ؕ قَالُوْا وَمَا لَنَا اَلَّا نُقَاتِلَ فِيْ
سَبِيْلِ اللّٰهِ وَقَدْ اُخْرِجْنَا مِنْ دِيَارِنَا وَاَبْنَآئِنَا ؕ فَلَمَّا
كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقِتَالُ تَوَلَّوْا اِلَّا قَلِيْلًا مِّنْهُمْ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ
بِالظّٰلِمِيْنَ ﴿۲۴۶﴾ وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ اِنَّ اللّٰهَ قَدْ بَعَثَ لَكُمْ

حکم وُکړے شی او بیا تاسو جنګ وُنه کړئ. هغوئ اُووئیل: ښه دا څنګ کیدے شی چه مونږ
دِ دَ خدائے په لار کښے جنګ نه کوؤ، مونږ خو دِ دَ خپلو کورونو نه شړونکی شوی یُو او زمونږ
بال بچ دِ زمونږ نه جُدا کړے شوی وی. خو چه کله هغوئ ته دَ جنګ حکم وُکړے شو،
نو دَ لږ وکسانو نه بغیر نور ټول پشا شو، او الله دَ هغے ظالمانو نه یو یو تن پیژنی.
دَ هغوئ نبی هغوئ ته وُوئیل چه الله طالوت[۲۶۹] ستاسو دپاره بادشاه

لوئے شرارت کړے دے..... اوس پاتے شوم زهٔ، خو خدائے دِ نه کړی چه ستاسو دپاره په دُعا نه
غوښتلو دَ خدائے ګنهګار شم، خو زهٔ به تاسو ته هغه لار، چه هغه ښهٔ نیغه وی ښایم."

(باب ۱۲ آیت ۱۲ تا ۲۳)

دَ کتاب سموئیل دَ دے بیان نه دا معلومیږی چه دَ بادشاهئ دا مطالبه دَ الله او دَ هغهٔ دَ نبی خو ښه نه وه.
اوس پاتے شو دا سوال چه په قرآن مجید کښے په دے ځائے کښے دَ بنی اسرائیلو دَ سردارانو په دے مطالبه باندِ
بَد ولے نه دی وئیلی شوی، نو دَ دے دا جواب دے چه دلته دا قیصه الله تعالیٰ دَ کوم غرض دپاره بیان کړی
ده نو دَ هغے دَ دے سره هیڅ تعلق نشته چه دَ هغوئ دا مطالبه صحیح وه او که نه وه. دلته خو دَ دے قیصے مقصد
دا دے چه بنی اسرائیل څومره بُزدله او یَر زړی شوی وُو او په هغوئ کښے څومره خپل مطلبی راغلی وه
او په هغوئ کښے دَ اخلاقو څومره کمے وُو چه دَ هغے په وجه په آخر کښے هغوئ پریوتل. او دَ دے قیصے
بیانولو غرض دا دے چه مسلمانان دَ دے نه عبرت واخلی او خپل ځان کښے دا قسمه کمزورئ پرے نږدی.

۲۶۹ په بائیبل کښے ددهٔ نوم ساول دے. دا دبن یمین قبیلے دَ ویرشو کالو یو ځوان وُو. "په بنی
اسرائیلو کښے ددهٔ نه بل څوک ښکلے نه وُو او دومره دنګ لوړ وُو چه نور خلق به ددهٔ دَ اوږے پورے
وُو." ددهٔ دَ پلار نه خرورک شوے وُو او دے دَ هغے خرکتلو دپاره راوتلے وُو، په لاره کښے چه کله
دَ سموئیل نبی ځائے ته ورُو رسیدو، نو الله تعالیٰ نبی ته اشاره وُکړه چه دا هغه سړے دے چه مونږ
دَ بنی اسرائیلو دَ بادشاهئ دپاره خوښ کړے دے. سموئیل نبی هغه خپل کور ته راوستلو دَ تیلو
کُوپئ ئے دَ هغهٔ په سر باندِ واړه وله او ښکل ئے کړو او ورته ئے وُوئیل چه "خداوند ته مسیح کړے
دپاره ددے چه ته دَ هغه دَ میراث پیشوا شے." دَ دے نه روستو هغه دَ بنی اسرائیلو په عامه اجتماع کښے دَ
هغه دَ بادشاهئ اعلان وُکړو. (۱- سموئیل، باب ۹ و ۱۰)

طَالُوْتَ مَلِكًا ۭ قَالُوْٓا اَنّٰى يَكُوْنُ لَهُ الْمُلْكُ عَلَيْنَا وَنَحْنُ
اَحَقُّ بِالْمُلْكِ مِنْهُ وَلَمْ يُؤْتَ سَعَةً مِّنَ الْمَالِ ۭ قَالَ اِنَّ
اللّٰهَ اصْطَفٰىهُ عَلَيْكُمْ وَزَادَهٗ بَسْطَةً فِي الْعِلْمِ وَالْجِسْمِ ۭ وَاللّٰهُ
يُؤْتِيْ مُلْكَهٗ مَنْ يَّشَاۗءُ ۭ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ﴿۲۴۷﴾ وَقَالَ لَهُمْ
نَبِيُّهُمْ اِنَّ اٰيَةَ مُلْكِهٖٓ اَنْ يَّاْتِيَكُمُ التَّابُوْتُ فِيْهِ سَكِيْنَةٌ
مِّنْ رَّبِّكُمْ وَبَقِيَّةٌ مِّمَّا تَرَكَ اٰلُ مُوْسٰى وَاٰلُ هٰرُوْنَ تَحْمِلُهُ

مقرر کړے دے. چه دائے واوریدل نو مے وئیل: "په مونږ باندې د بادشاه جوړیدو هغه څنګه حقدار شو؟ د هغه نه خو مونږ زیات د بادشاهئ حقدار یُو. هغه خو څه لوئے مالدار سړے نه دے." پیغمبر ورله جواب ورکړو: "خدائے ستاسو په مقابله کښے هغه خوښ کړے دے او هغه له ئے دماغي او جسماني دواړه قابلیتونه زیات ورکړي دي او د خدائے اختیار دے چه خپله بادشاهي چاته غواړي هغه له ئے ورکوي، الله د یره لویه فراخي لري او هر څه د هغه په علم کښے دي." د دے سره ورته چې پیغمبر دا هم اُوویل چه "د خدائے د طرفه د هغه د بادشاه کیدو نښه دا ده چه د هغه په زمانه کښے به هغه صندوق تاسو ته بیا ملاوُشي چه په هغے کښے ستاسو د رب د طرفه ستاسو د پاره د زړهٔ د اطمینان سامان پروت دے، او چه په کښے د آلِ موسیٰ او د آلِ هرون پریښودلے شوی تبرکات پراته دي، او چه په دے وخت کښے

د اپه بنی اسرائیلو کښے د و یم سړے وُو چه د خدائے په حکم سره "مسح" شو او د مشرئ د پاره مقرر کړے شو. د دے نه وړاندې حضرت هارون د سردار کاهن (Chief Priest). په حیثیت سره مسح کړے شوے وُو، د دے نه روستو درئیم حضرت داؤد علیه السلام مسح کړے شو او څلورم مسیح حضرت عیسیٰ علیه السلام شو. لیکن د طالوت په بارہ کښے دا سے څه تشریح نه په قرآن کښے شته او نه په حدیث کښے چه هغه له نبوت هم ورکړے شوے وُو. صرف د بادشاهئ د پاره د هغه خوښول د دے د پاره کافی نه دی چه هغه د نبی د مثلے شی۔

الْمَلٰٓئِكَةُ ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۲۴۸﴾ ع
فَلَمَّا فَصَلَ طَالُوْتُ بِالْجُنُوْدِ ۙ قَالَ اِنَّ اللّٰهَ مُبْتَلِيْكُمْ
بِنَهَرٍ ۚ فَمَنْ شَرِبَ مِنْهُ فَلَيْسَ مِنِّيْ ۚ وَمَنْ لَّمْ يَطْعَمْهُ

د فرښتو په حفاظت کښ دے۔ که چرے تاسو مؤمنان یئ نو دا ستاسو پاره ډیره لویه نښه ده۔ ع
بیا چه کله طالوت د لښکر سره روان شو نو وے ویل: "چه په یوه دریاب
باندې د الله د طرفه ستاسو آزمیښت کیدونکے دے۔ چا چه د هغے اوبه
وڅکلے، هغه به زما ملګرے نه وی۔ زما ملګرے صرف هغه دے

۲۷۰ ددے په باره کښ د بائیبل بیان د قرآن نه ترڅه حده پورے مختلف دے۔ خو بیا هم د اصلی واقعے
ډیر معلومات دهغے نه کیږی۔ د هغے نه معلومیږی چه د اصندق "چه بنی اسرائیلو به ورته "د بادشاهئ
د زمانے صندق" وئیلو، په یوجنګ کښ فلسطینی مشرکانو د بنی اسرائیلو نه په زور واغستلو۔
لیکن د اصندق چه د مشرکانو په کوم بنار او په کوم کلی کښ کیښودے شو هلته وبارا غله۔ آخر دا چه
هغوئ د یرے نه د اصندق دغوا یا نو په یو کاډی کښ کیښود او کاډے یئ ږشارو۔ غالباً دے کار نه
قرآن په دے الفاظو سره اشاره کړی ده چه په دغه وخت کښ د اصندق د فرښتو په حفاظت کښ وو،
ځکه چه د اکاډے د بغیر د چلونکی نه دغسے روان کړے شوے وو۔ او د الله په حکم د فرښتو کار وو
چه د اکاډے د بنی اسرائیلو طرف ته راولی۔ پاتے شوه د اخبره چه "په دے صندق کښ ستاسو
د پاره د زړهٔ د اطمینان سامان پروت دے"۔ نو دے حقیقت د بائیبل د بیان نه د اسے معلومیږی
چه بنی اسرائیلو د اصندق ډیر برکت والا او د ځان د پاره ئے د ننګے او د کامیابئ نښه ګڼلے۔
کله چه د اصندق د هغوئ د لاس نه اووتلو نو د ټول قوم زړونه پریوتل او دهر اسرائیلی د
خیال پید اشو چه د خدائے رحمت زمونږ نه واپس شو او زمونږ ه خرابے ورتے راغلے۔ پس دے
صندق واپس ملاویدل د اسرائیلیا نو د زړهٔ د مضبوتیا لوئ سبب وو او په دے ذریعه د
هغوئ پریوتلی زړونه بیا پوښته کیدے شو۔

"د ال موسیٰ او د ال هارون پرلیښودلے شوی تبرکات" چه په دے صندق کښ پراته وو، د هغے
نه مراد د کانړی هغه تختئ دی چه په طور سینا کښ الله حضرت موسیٰ له ورکړے وے۔ دے نه علاوه
د تورات هغه اصلی نسخه هم په دے کښ وه چه حضرت موسیٰ په خپله په چا لیکلی وه او بنی لاوی قبیلے
ته ئے سپارلے وه۔ د "من" نه ډک یو بوتل پکښ هم پروت وو د پاره دے چه راتلونکی نسلونه
د الله تعالیٰ هغه احسان یاد کړی، چه هغه په صحرا کښ د هغوئ د پلار نیکونو سره کړے وو۔
او غالباً د حضرت موسیٰ هغه هسا هم پکښ پرته وه چه یوه عظیم الشانه معجزه وه۔

فَاِنَّهٗ مِنِّیْٓ اِلَّا مَنِ اغْتَرَفَ غُرْفَةًۢ بِیَدِهٖ ۚ فَشَرِبُوْا مِنْهُ
اِلَّا قَلِیْلًا مِّنْهُمْ ؕ فَلَمَّا جَاوَزَهٗ هُوَ وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ ۙ
قَالُوْا لَا طَاقَةَ لَنَا الْیَوْمَ بِجَالُوْتَ وَجُنُوْدِهٖ ؕ قَالَ الَّذِیْنَ
یَظُنُّوْنَ اَنَّهُمْ مُّلٰقُوا اللّٰهِ ۙ كَمْ مِّنْ فِئَةٍ قَلِیْلَةٍ غَلَبَتْ
فِئَةً كَثِیْرَةًۢ بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ مَعَ الصّٰبِرِیْنَ ﴿۲۴۹﴾ وَلَمَّا
بَرَزُوْا لِجَالُوْتَ وَجُنُوْدِهٖ قَالُوْا رَبَّنَآ اَفْرِغْ عَلَیْنَا

چه څوک پرتنده مره نه کړی، هن یوه لپه نیمه که څوک وڅکی، نو وَ ډِڅکی" خو د لږو کسانو نه بغیر نور وټولو دَ دغه دریاب نه ځان موړ کړو[۲۷۱]

بیا چه کله طالوت او دهغه ملګری مسلمانان د دریاب نه پورے غاړه لاړل، نو هغوئ طالوت ته اُووئیل چه نن په مونږ کښے دَ جالوت او دهغه د لښکرو سره د مقابلے کولو طاقت نشته[۲۷۲]. لیکن چه څوک په دے پوهه وو چه یوه ورځ به د الله سره مخامخ کیږو، هغوئ اُووئیل" ډیر ځله داسے شوے ده چه یوه وړه ډله د الله په حکم سره په یوه لویه ډله باندِ غالب شوی ده. الله دَ صبر کونکو ملګرے دے" او کله چه هغوئ د جالوت او دهغه دَ لښکرو سره مقابلے ته وُوتل، نو دُعائے وُکړه چه" اے زمونږه ربه په مونږ ه صبر

[۲۷۱] کیدے شی چه د دے نه مراد دریائے اُردُن وی یا یو بل ورکوټے دریاب وی. طالوت دا غوښتله چه دَ بنی اسرائیلو لښکر د دے دریاب نه پورے غاړه پورے باسی، خو هغه ته معلومه وه چه دَ بنی اسرائیلو اخلاق خراب شوی دی، نو په دے وجه ئے دا ازمیښت وُکړو چه د کار والا او بے کاره خلق جُدا جُدا شی. ښکاره خبره ده چه کوم خلق د لږ ساعت د پاره خپله تنده په قابو کښ نشی را وستلے، نو په هغوئ باندِ به څه بروسه وُشی چه د هغے دشمن سره به په بهادری مقابله وُکړی، د کوم دشمن د لاسه چه ئے مخکښے ماتے خوړلے ده.

[۲۷۲] غالباً دا به هغه خلقو وئیلی وی کومو چه په دریاب باندِ اوله خپله بے صبری ښکاره کړی وه.

صَبْرًا وَّثَبِّتْ اَقْدَامَنَا وَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۲۵۰﴾
فَهَزَمُوْهُمْ بِاِذْنِ اللّٰهِ ۙ وَقَتَلَ دَاوٗدُ جَالُوْتَ وَ
اٰتٰىهُ اللّٰهُ الْمُلْكَ وَالْحِكْمَةَ وَعَلَّمَهٗ مِمَّا يَشَآءُ ؕ وَلَوْ
لَا دَفْعُ اللّٰهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ ۙ لَّفَسَدَتِ
الْاَرْضُ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ ذُوْ فَضْلٍ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿۲۵۱﴾

را ووړه وسه، زمونږه خپے کلکے کړے او دکافرانو پرډله باندے مونږ له فتح راکړے"۔ آخر داچه د الله په حکم هغوئ کافرو له ماتے ورکړه او داؤد[۲۶۳] جالوت قتل کړو او الله ورله بادشاهی او حکمت ورکړو او کوم شیزونه چه هغه غوښتل دهغے علم ئے ورله ورکړو ——— که چرے دغه شان الله تعالیٰ دانسانانو یوه ډله د بلے ډلے په ذریعه نه لرے کولے نو دزمکے نظام به خراب شوے[۲۶۴] وو، لیکن د دُنیا په خلقو باندے د الله لوئ فضل دے (چه هغه دغه شان د فساد لرے کولو انتظام کوی)۔

۲۶۳ے په دغه وخت کښ داؤد علیه السلام یوکم عُمر ځلمے وُو۔ دے اتفاقی چرته د طالوت لښکرته ځان په هغه وخت را ورسید و۔ کله چه د فلسطینیانو د فوج غټ پهلوان جالوت (جولیت) د بنی اسرائیلو فوج ته مقابلے له را وتلے وُو او په اسرائیلیانو کښ هیڅوک زړهٔ نه شوکولے چه د دوَّه مقابلے ته را وځی۔ حضرت داؤد چه دا حال ولید و نو یکدم د هغه مقابلے ترمیدان ته راغے او هغه ئے قتل کړو۔ په دے وجه هغه د طالوت لوسترګو تور شو، طالوت خپله لور هغه ته واده کړه او آخر داچه هغه د اسرائیلیانو بادشاه شو۔ (د تفصیل د پاره وګورئه سموئیل اول۔ باب ۱۷ او ۱۸)۔

۲۶۴ے یعنی الله تعالیٰ د زمکے دانتظام برقرار ساتلو د پاره داقانون جوړ کړے دے چه هغه د انسانانو مختلفو ډلو له دیو خاص حد پورے په زمکه کښ غلبه او طاقت ورکوی، خوچه کله یوه ډله د حد نه بهر و تل شروع کړی نو د بلے ډلے په ذریعه هغه د هغے زور ختموی۔ که چرے داسے نه وے چه د یوقوم او د یوے ډلے واک اختیار په زمکه همیشه وے نو دا یقینی ده چه د خدائے په ملک کښ به یو لوئ فساد راپورته شوے وے۔

تِلْكَ اٰيٰتُ اللّٰهِ نَتْلُوْهَا عَلَيْكَ بِالْحَقِّ ؕ وَاِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿٢٥٢﴾

الجزء ٣ وقف لازم

تِلْكَ الرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ ۘ مِنْهُمْ
مَّنْ كَلَّمَ اللّٰهُ وَرَفَعَ بَعْضَهُمْ دَرَجٰتٍ ؕ وَاٰتَيْنَا عِيْسَى ابْنَ
مَرْيَمَ الْبَيِّنٰتِ وَاَيَّدْنٰهُ بِرُوْحِ الْقُدُسِ ؕ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ
مَا اقْتَتَلَ الَّذِيْنَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ مِّنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ
الْبَيِّنٰتُ وَلٰكِنِ اخْتَلَفُوْا فَمِنْهُمْ مَّنْ اٰمَنَ وَمِنْهُمْ مَّنْ كَفَرَ ؕ
وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ مَا اقْتَتَلُوْا قف وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيْدُ ﴿٢٥٣﴾ ع



دا د الله ایتونه دی چه موږ ئے ټیک ټیک تا ته اوره وو، او بیشکه ته د هغه خلقو نه ئے چه د رسول په حیثیت لیږلی شوی دی. دا رسولان (چه زموږ د طرفنه انسانانو ته د نیغے لار ښودلو د پاره مقرر شول) موږ دوئ له د یو بل نه وچتے مرتبے ورکړے. په هغوئ کښ څوک داسے وو چه خدائے ورسره پخپله خبرے وکړے، او چا له ئے په بل حیثیت لوړے مرتبے ورکړے، او په آخر کښ ئے عیسیٰ د مریم ځوی له روښانه نښے ورکړے او په پاک روح سره یئے د هغه مدد وکړو. که چرے الله غوښتلے، نو دا کیدے نشوه چه د دے رسولانو نه روستو کومو خلقو روښانه نښے لیدلے وے، هغوئ په خپلو کښ جنګ کړے وے، خو (د الله طریقه دا نه وه چه هغه خلق په زور باندے د اختلاف کولو نه منع کړی، په دے وجه) هغوئ پخپلو کښ اختلاف وکړو، بیا چا ایمان راوړو او چا د کفر لار اختیار کړه. هو، که الله غوښتلے. نو دوئ به هیچرے جنګ نه کولے، خو الله چه څه غواړی هغه کوی ع ٢٧٥

٢٧٥ مطلب دا دے چه د رسولانو په ذریعه د علم حاصلیدلو نه روستو کوم اختلافات په خلقو کښ راپیدا شول، او دا اختلافاتو نه خبره جنګونو ته ورسیدله، نو د دے وجه دا نه وه چه، توبه خدایه توبه، ګنی خدائے کمزورے وو او د هغه سره د دے اختلافاتو او د دے جنګونو ختمولو طاقت نه وو. نه، که چرے هغه غوښتلے. نو د هیچا دا طاقت نه وو چه د پیغمبرانو د خبرے نه ئے نافرمانی کړے وے او د کفر په لاره تلے وے او د هغه په زمکه کښ ئے فساد پورته کړے وے. خو د الله دا اراده

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْفِقُوْا مِمَّا رَزَقْنٰكُمْ مِّنْ قَبْلِ اَنْ
يَّاْتِيَ يَوْمٌ لَّا بَيْعٌ فِيْهِ وَلَا خُلَّةٌ وَّلَا شَفَاعَةٌ ؕ وَالْكٰفِرُوْنَ
هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۲۵۴﴾ اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ اَلْحَيُّ الْقَيُّوْمُ ۚ

اے هغه خلقو چه ایمان مو راوړے دے، څه مال اسباب چه مونږ تاسوله درکړے دے، دهغے نه ؤلګوئ[۲۷۶] مخکښ ددے نه چه هغه ورځ راشي چه نه به پکښ اغستل خرڅول کیږي، او نه به پکښ دوستي پکار راځي او نه به پکښ سفارش چلیږي. او ظالمان په اصل کښ هم هغه کسان دي چه دکفر لار اختیار وي[۲۷۷]

الله هغه همیشه ژوندے ذات چه ټول کائنات یے په قابو کښ دے، دهغه نه بغیر بل خدائے نشته دے[۲۷۸].

نه وه چه انسانانو نه دا په خپل اختیار سره دکار کولو واک واخلي او هغوئ دیوے خاص لارے په تللو باندې مجبور کړي. الله تعالیٰ د امتحان اغستلو په غرض انسانان په زمکه باندې پیدا کړي وو، ددے وجے نه ئے هغوئ له دهر قسمه عقیدے لولو او دهر قسمه کار کولو آزادي ورکړه، او پیغمبران ئے هغوئ نه ددے دپاره نه دي رالیږلي چه په زور باندې خلق ایمان طرفته راولي، بلکه ددے دپاره ئے رالیږلي دي چه دا کوشش وکړي چه خلق دواضحه او صفا دلیلونو په ذریعه نیغے لارے ته راوبلي. نو دا څومره اختلافات چه پیدا شول او دا څومره جنګ جګړے چه وشوے، ددے وجه دا ده چه الله خلقوله په خپل اختیار دکار کولو کومه آزادي ورکړے وه، نو ددغے آزادئ نه خلقو کار واغستو او په مختلفو مختلفو لارو لاړل، ددے وجه دا نه ده چه الله کښي هغوئ په نیغه لاره سمول غوښتل خو هغه په خپل کار کښ کامیاب نه شو (معاذ الله).

[۲۷۶] مطلب ئے دخدائے په لاره کښ خرڅ کول دي. حکم دا دے چه کومو خلقو دایمان لار اختیار کړي ده، هغوئ له پکار دي چه په کوم مقصد باندې دهغوئ ایمان دے دهغے دپاره مالي قربانی اوکړي.

[۲۷۷] دلته دکفر په لار باندې دتلونکو خلقو نه مراد یا خو هغه خلق دي، چه دخدائے دحکم منلو نه انکار وکړي او خپل مال ورته دالله درضا نه زیات خوږ شي. یا هغه خلق دي چه دقیامت دورځے د راتلو یقین یې نه وي. یا هغه خلق دي چه په دے دوکه کښ پراته دي چه په آخرت کښ به هغوئ ته په څه طریقه دخلاصي موندلو او دوستئ او دسفارش په ذریعه دکار ایستلو موقع ملاؤ شي.

[۲۷۸] یعني بیوقوفانو خلقو که هر څومره خدایان جوړ کړي دي، خو اصل واقعه دا ده چه خدائے پوره په پوره دبل چا دشرکت نه بغیر دهغے لافاني او همیشه هستئ نوم دے، چه ژوند چا ورکړے نه دے بلکه پخپله پخپل ژوند ژوندے دے او چه دهغه په طاقت دکائناتو دا ټول نظام روان دے چلیږي. په خپله بادشاهئ کښ دخدائیئ دټولو اختیاراتو مالک هغه پخپله دے. بل څوک نه دهغه په

لَا تَأْخُذُهٗ سِنَةٌ وَّلَا نَوْمٌ ؕ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ
مَنْ ذَا الَّذِيْ يَشْفَعُ عِنْدَهٗٓ اِلَّا بِاِذْنِهٖ ؕ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ
وَمَا خَلْفَهُمْ ۚ وَلَا يُحِيْطُوْنَ بِشَيْءٍ مِّنْ عِلْمِهٖٓ اِلَّا بِمَا شَآءَ ۚ

هغهٔ له نهٔ خوب ورځی او نهٔ په هغه پرکالی راځی۔[۲۷۹] په زمکه او په آسمانونو کښ چه څه دی، دا دهغه دی۔[۲۸۰] څوک دی چه دَ هغهٔ په دربار کښ دَ هغهٔ د اجازت نه بغیر سفارش وکړے شی؟[۲۸۱] څه چه د خلقو په وړاندِ دی، هغه ئے هم په علم کښ دی، او څه چه د خلقو د سترګو نه پناه دی د هغے نه هم خبر دے او د هغه د علم نه هیڅ څیز د مخلوق په عقل کښ نشی راتلے سوا دَ دے نه چه هغه پخپله د څه څیز علم هغوئ له ورکول وَغواړی۔[۲۸۲]

صفاتو کښ د هغه شریک دے او نهٔ دَ هغهٔ په اختیاراتو کښ او نهٔ د هغه په حقونو کښ۔ دغه وجه ده چه په زمکه یا په آسمان کښ په هر ځائے کښ چه د هغه نه بغیر یا د هغه سره شریک بل څوک د عبادت لائق وګرزولے شو، نو هغه به بالکل دروغ وی او د حقیقت خلاف به جنګ وی۔

[۲۷۹] دا د هغے خلقو د غلطو خیالاتو جواب دے چه د الله تعالیٰ ذات د خپلو ناقصو خدایانو سره یو شان کوی او هغه کمزوری الله سره تړی کوے کمزوری چه د انسانانو سره مناسب دی۔ مثلاً د بائیبل کتاب دا بیان چه خدائے په شپږو ورځو کښ زمکه او آسمان جوړ کړل او په اوومه ورځ ئے آرام وکړو۔

[۲۸۰] یعنی هغه دَ زمکے او د آسمان مالک دے او څه چه په زمکه او آسمان کښ دی، د هغے مالک دے، د هغه په ملکیت، د هغه په انتظام او د هغه په بادشاهئ کښ د چا قطعاً څه حصه نشته۔ د دے نه روستو چه تهٔ په کائناتو کښ د بل چا خیال کولے شے هغه به ضرور د دے کائناتو یو فرد دی، او څوک چه د کائناتو فرد دے، هغه د الله ملکیت او غلام دے، نهٔ چه د الله سره شریک او برابر دے۔

[۲۸۱] کوم مشرکان چه د بزرګانو خلقو یا فرښتو یا د نورو هستو په باره کښ دا خیال او ګمان لوی چه د خدائے په دربار کښ د دوئ ډیر زور چلیږی، په کومه خبره چه ټینګ شی هغه تر هغے نهٔ پریږدی تر څو چه په خدائے یئ نهٔ وی منلے، کوم کار چه وَغواړی هغه په خدائے کولے شی۔ هغوئ ته دا وئیلے کیږی چه د دوئ زور چلیدل خولا پریږده، د لویو نه لوئ یو پیغمبر او یوه مقربه فرښته د زمکے او د آسمانونو د بادشاه په دربار کښ بے اجازته خبره قدر له هم نشی کولے۔

[۲۸۲] د دے حقیقت د ظاهر یدلو نه د شرک بنیاد و نه هم کمزوری شو۔ بره د الله تعالیٰ لا محدوده حاکمیت او د هغه اختیارات دا پیش کړے شوی وُو چه د هغهٔ په حکومت کښ نهٔ خو د همیشه د پاره څوک شریک شته او نهٔ د هغه په دربار کښ د چا داسے زور چلیږی چه هغه په خپلو سفارشونو سره د الله په فیصلو کښ دخل وکړے شی۔ او سے په یو بل حیثیت سره دا ښودلے کیږی چه بل څوک

وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ ۚ وَلَا يَـُٔوْدُهٗ حِفْظُهُمَا ۚ وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيْمُ ﴿٢٥٥﴾ لَآ اِكْرَاهَ فِى الدِّيْنِ ۙ قَدْ تَّبَيَّنَ

د هغه حکومت[۲۸۳] په آسمانونو او په زمکه باندې خوریږي او دده د ساتنې او حفاظت دا دواړه څیزونه هغه ستړي والی کار نه ورکوي. بس هغه یوازې شان والا او لوړ ذات دی[۲۸۴] د دین په معامله کې څه زور زیاتی نشته دی[۲۸۵] صحیح خبرې د غلطو خیالاتو نه

بر دې الله په کار کې دخل څنګه وکړي شی، ځکه چې د بل چا سره هغه علم هدوشته نه دی چې هغې په ذریعه د کائناتو په نظام او مصلحتونو باندې پوه شي- که انسان مه اوکړي په پیړۍ دی، که فرښته ده او که نور مخلوق دی د ټولو علم کم او نیمګړی دی- دا یوازې څوک نشته چې د کائناتو ټول حقیقتونه ورته معلوم وي- او که چیرې په یوه ورځ حصه کې هم دیوبنده سفارش وچلیږي او بنده پکې خپل دخل وکړي نو د ټول جهان نظام به ګډوډ شي. د کائناتو په نظام باندې پوهیدل خو پرته له پریږده، بنده پخپله د خپل ځان په مصلحتونو او حکمتونو باندې نه پوهیږي. د انسان په مصلحتونو باندې خو هم یوالله پوهیږي او د انسان د پاره د دې نه بغیر بله لاره نشته چې د هغه خدائ په وینا باندې اعتماد وکړي چې هغه د علم اصلي خزانه ده-

[۲۸۳] په اصل کې د "کرسي" لفظ استعمال شوی دی، چې د عام طور خلق د حکومت او د اقتدار د پاره وایي په اردو (یا پښتو) ژبه کې هم څوک د کرسي لفظ د وایي نو مطلب د حاکمانه اختیارات وي-

[۲۸۴] د "آیت" د "آیت الکرسي" په نوم مشهور دی په دې کې د الله تعالیٰ د پیژندګلوۍ مکمل تعریف شوی دی چې د هغه مثال نشته. د دې وجې نه په حدیث کې د قرآن د ټولو نه لوړه آیت ګرځولے شوی دی

په دې ځائے کې دا سوال پیدا کیږي چې د الله تعالیٰ د ذات او د صفاتو د ذکر په کوم مناسبت سره راغلے دی؟ د دې پاره یو څو هغه تقریرونه بیا ذکر کوم چې د دوی د رڼا کوع نه راروان دی. اوّل خو مسلمانان دې ته تیار کړے شوی دی چې د حق دین د قایمولو په لاره کې خپلو ځانونو او مالونو سره جهاد وکړي او د هغه کمزورئ نه ځان بچ کړي کومه چې په بنی اسرائیلو کې پیدا شوی وه- بیا په دې حقیقت پوهه کړے شوی دی چې کامیابي د انسانانو په شمار او د سامانونو په ډیرۍ باندې نه ده بلکه د انسان په ایمان، صبر او په پخه اراده باندې ده- بیا دې ټینګ حکمت نه الله تعالیٰ اشاره کړې ده، چې د دنیا نظام برقرار ساتلو د پاره هغه همیشه د انسانانو یوه ډله د یې له په ذریعه دفع کوي، او که نه څرګنده ده چې د یوې ډلې ته د همیشه د پاره اقتدار ملاوځي نو د نورو خلقو د پاره به څوک تیار ول مشکل شي. بیا هغه شک ختم کړے شوے دے چې اکثر به د یې علمه خلقو په زړونو کې راتلو، هغه دا چې که چیرې الله تعالیٰ خپل پیغمبران د اختلافاتو او د جګړو د ختمولو د پاره رالیږلی وو، او د هغوئ د راتلو نه د روستو هم اختلافات او جګړې ختمے نه شوے، نو آیا د الله دومره طاقت نه وو چې هغه د اخرابیاناتو لړۍ کول خو بنده ځنې نه کړے شوے. دې ته د جواب ورکړے شوے چې د الله د سرنه د اراده نه وه چې د خلقو اختلافات په زور ختم کړي او انسانان په زور باندې یوے خاص لارې ته راوړه وي. کینې نو د انسان څه طاقت وو چې د الله د اراده نه خلاف تلے دے. بیا په یوه فقره کې د تقریر اصلي مضمون ته اشاره شوی ده

الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ ۚ فَمَنْ يَّكْفُرْ بِالطَّاغُوْتِ وَيُؤْمِنْۢ بِاللّٰهِ
فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقٰى ۗ لَا انْفِصَامَ لَهَا ؕ وَاللّٰهُ
سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۲۵۶﴾ اَللّٰهُ وَلِيُّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۙ يُخْرِجُهُمْ مِّنَ

جُدا چا نړ کړے شوی پرتی دی. اوس چه څوک د طاغوت نه انکار اوکړی او په الله ایمان راوړی نو هغه داسے مضبوطه ذریعه را ټینګه کړه چه هیڅکله ماتیدونکی نه ده، او الله (چه دهٔ ئے سهارا نیولی ده) هرڅه اوریدونکے او په هر څه باندې پوهدے. کوم خلق چه ایمان راوړی، د هغوئ ملګرے او مددګار الله تعالیٰ دے او هغهٔ هغوئ د تیرونه

چه د الله په لار کښ جانی او مالی د واړه قربانی ډیره ضروری ده. د دے نه روستو اوس دا بیان کیږی چه که د انسانانو عقیدے، نظریے، طریقے او مذهبونه هر څومره مختلف وی خو هغه اصلی حقیقت، چه په هغے باندې د زمکے او د آسمانونو نظام قایم دے، په دے آیت کښ بیان کړے شوے دے. د انسانانو د نه پوهیدو او د غلطو عقیدو په وجه په دے حقیقت کښ څه فرق نه راځی. خو د الله دا منشا نه ده چه د دے حقیقت په منلو باندې د خلق په زور مجبور کړے شی. چه چا دا حقیقت ؤ منلو هغه به په خپله په ګټه کښ پاتے شی او چه چا دا حقیقت ؤ نه منلو هغه ته به پخپله نقصان ورسیږی.

۲۸۵ دلته د "دین" نه مراد د الله په حقله هغه عقیده ده، کومه چه بره په آیت الکرسی کښ بیان شوی ده، او د ژوند هغه ټول نظام تر مراد دے کوم چه د دے عقیدے لاندې جوړیږی. د آیت مطلب دا دے چه د "اسلام" د نظام په زور باندې په چا نشی منلے کیدے ځکه چه دا داسے نهٔ دے چه په چا باندې په زور ورو تپلے شی.

۲۸۶ "طاغوت" په لغت کښ هر هغه سړی ته ویلے کیږی چه هغه د خپل جائز حد نه وتلے وی. قرآن طاغوت هغه انسان ته وائی چه د بندګئ د حد نه وځی، پخپله د خدائی دعوی وکړی او د خدائے د بندګانو نه خپله بندګی اخلی. د خدائے په مقابله کښ د بنده د سرکشئ درے مرتبے دی. اوله مرتبه دا ده چه بنده د خدائے حکم منل حق ګڼړی خو د عمل په لحاظ سره د خدائے د حکمونو خلاف ورزی کوی. دے ته فسق وائی. دویمه مرتبه دا ده چه بنده د خدائے د حکم منلو نه مخ واړه وی یا خو په خپل اختیار ژوند تیره وی او یا د خدائے نه بغیر د بل چا بندګی اختیار کړی. دے ته کفر وائی. دریمه مرتبه دا ده چه بنده د خدائے نه باغی شی او د هغه په بادشاهئ کښ د هغه په مخلوق باندې خپل حکم چلول شروع کړی. دے آخری مرتبے ته چه بنده ؤرسیږی نو دے ته طاغوت وائی او د هیچا په الله باندې صحیح ایمان تر هغے نشی کیدے تر څو چه د دے طاغوت نه هغه انکار ؤ نه کړی.

الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ ؕ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَوْلِيٰٓـُٔهُمُ الطَّاغُوْتُ ۙ
يُخْرِجُوْنَهُمْ مِّنَ النُّوْرِ اِلَى الظُّلُمٰتِ ؕ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ
هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۲۵۷﴾ ع اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْ حَآجَّ اِبْرٰهٖمَ فِيْ



رڼا ته راؤباسي[۲۸۷]. او کوم خلق چه د کفر لار اختیاره وي، د هغوئ ملګري او مددګاران طاغوت[۲۸۸] دي او هغه هغوئ د رڼا نه تیرو طرفته راکاږي. دا وُور ته تلونکے خلق دے هلته به هغوئ همیشه وي.

تا د هغه[۲۸۹] سړي په حال باندِ غور نه دے کړے، چه د ابراهیم سره ئے جګړه کړي وه؟[۲۹۰]

---

[۲۸۷] د تیرو نه مراد د جهالت تیرے دي، چه په دے کښ څوک ورک شي نو هغه بیا د خپلے کامیابئ او د نیک بختئ دلارے نه لرے لاړ شي او بیا خپل ټول طاقتونه او کوششونه په غلطو لارو کښ لګول شروع کړي. او د رڼا نه مراد د حق علم دے او د دے علم په وجه انسان ته خپل ځان، د کائنا تو حقیقت او د خپل ژوند مقصد صفا ښکاري او بیا صحیح عمل شروع کړي.

[۲۸۸] طاغوت دلته د جمعے یعنی د طواغیت په معنیٰ استعمال شوے دے. یعنی چه انسان د خدائے نه مخ واړه وي نو بیا د طاغوت په پنجه کښ نه نخلي، بلکه ډیر طواغیت په هغه باندِ مسلط شي. یو طاغوت شیطان دے چه سړي ته د دروغو نوے نوے خبرے هنګښ کوي او هغه له پیر دوکه ورکوي. دویم طاغوت د انسان خپل نفس دے چه د سړي نه د جذباتو او د خواهشاتو غلام جوړه وي او د ژوند په کږو نیغو لارو ئے روانه وي. او د غسے نور بے شمیره طاغوتان بهر په دنیا کښ هر ځائے موجود دي. ښځه او بچي، خپل خپلوان، رور ولي او خاندان، دوست او آشنا، خلق او قوم، پیشوا او مشران، حکومت او حاکمان، دا ټول د هغه د پاره طاغوت وي، او په دے کښ هر یو د هغه نه د خپل غرض بنده جوړه وي، او د بے شمیره مالکانو دا یو غلام ټول عمر په دے چکر کښ پروت وي چه کوم یو مالک خوشحاله کړي او د کوم مالک د خفګان نه ځان وساتي.

[۲۸۹] بره دا دعوه شوي وه چه د موسیٰ الله پاک ملګرے او مددګار وي او هغه ئے د تیرو نه رڼا ته وباسي، او د کافرانو مددګاران طاغوتان دي او هغه هغوئ د رڼا نه تیرو طرفته راکاږي. او سے د دے په تفصیل کښ د مثال په طور درے واقعے پیش کیږي. په دیکښ اولنے مثال دیو داسے سړي دے چه هغه ته ښه په واضحه دلیلو نو سره حقیقت پیش کړے شو او هغه ورته بے جوابه هم پاتے شو. خو چونکه هغه خپلے واګے د طاغوت په لاس کښ ورکړے وے. نو په دغه وجه هغه د حق واضحه کیدلو نه روستو هم رڼا ته راتغے او په تیرو کښ سرګردانه پاتے شو. روستو دوه مثالونه د داسے دوؤ سړو دي چه هغوی د الله سهارا نیولے وه، نو الله پاک هغوئ د

رَبِّهٖٓ اَنْ اٰتٰىهُ اللّٰهُ الْمُلْكَ ۘ اِذْ قَالَ اِبْرٰهٖمُ رَبِّيَ الَّذِيْ يُحْيٖ وَ

جگړې پرمے خبره باندې وه چه د ابراهيم رب څوک دے، او په دے وجه باندې وه چه هغه سړي ته الله حکومت ورکړے ؤ[۲۹۰]. کوم وخت کښ چه ابراهيم ورته ووئيل چه زما رب هغه دے

ټيرونه رانه ترپه دا سے طريقه راوويستل چه د غيبو پټ حقيقتونه ئے ورته پرسترکو وخودل.

[۲۹۰] دے سړي نه مراد نمرود دے چه د ابراهيمؑ د وطن (عراق) بادشاه ؤ. دکوے دا قصه ذکر چه دلته په قرآن کښ کيږي، د هغے هيڅ ذکر په بائيبل کښ نشته. خو په تلمود کښ دا واقعه موجوده ده او ترډيره حدۍ پورے د قرآن سره يو شان ده - په هغے کښ دی چه د حضرت ابراهيمؑ پلار د نمرود په بادشاهئ کښ د تولو نه لوئے عهده دار (Chief Officer of the State) ؤ. حضرت ابراهيمؑ چه کله بنکاره د شرک مخالفت او د توحيد تبليغ شروع کړو او په بُت خانه کښ ئے بُتان مات کړل، نو دهغه پلار پرمخ له د هغه مقدمه نمرود بادشاه ته پيش کړه او بيا هغه خبره ؤ شوے کوے چه دلته په قرآن کښ بيان شوے ده

[۲۹۱] يعنی په کومه خبره چه جګړه وه هغه دا وه چه ابراهيمؑ چا ته خپل رب وائی. او دا جګړه په دے وجه پيدا شوې وه چه د غه سړي يعنی نمرود ته خدائ حکومت ورکړے ؤ. جګړه چه په کومه خبره وه په هغے باندې د ځان پوهه کولو پاره په لاندنی حقيقتونو نظر سائل پکار دی:

(۱) د پخوانئ زمانے نه ترټولو زمانے پورے تهول مشرکان په شريکه دا خبره منی چه الله تعالیٰ د تولو ربُونو رب دے او د تولو خدايانو خدائے دے خو يوازے هغه رب او خدائے د عبادت لائق نه منی.

(۲) مشرکانو هميشه خدائی په دوو حصو کښ تقسيم کړی ده. يوه د فطرت نه پورته (فوق الفطری) خدائی ده چه په سبب د چا نه د قانون جوړه ولو حکمرانی کوی او چه هغے ته انسانان خپل حاجتونه او مشکلات د مدد کولو پاره پيش کوی. په دے خدائئ کښ مشرکان د الله تعالیٰ سره ارواحان، نرينځه، پيريان، ستوری او نورے ډيره هستئ شريکه وی چه د هغوئ نه د عاګانے غواړی، د هغوئ ريواجی عبادت کوی، او د هغوئ په دربارونو باندې نذرونه منی. بله د شريک کارونو او د سياسی معاملاتو خدائی (حاکميت) ده چه د ژوند د پاره د قانون جوړه ولو د اختيارلری چه حکم منل ئے ضروری وی او په دنيا وی معاملاتو کښ ورته مکمل اختيارات حاصل وی. دا دويم قسم خدائی د دنيا تولو مشرکانو تقريباً په هره زمانه کښ د الله تعالیٰ نه اغستلے ده او د يائے ورسره د شاهی خاندان او مذهبی کارکونکی خلق شريک کړی دی. اکثر شاهی خاندان خلق د دے دويم قسم خدائئ دعوے کړی دی، او د دے خپلے خدائئ د مضبوطولو د پاره ئے ورسره دا دعوی هم کړی ده چه مونږ دا دل قسم خدايانو دلاديو، او په دے کارکښ ورسره مذهبی خلق هم شريک شوی دی.

(۳) نمرود هم د دے دويم قسم خدائئ د عوی کړی وه. هغه د الله تعالیٰ د وجود نه منکر نه ؤ. هغه دا دعوی نه وه کړی چه زه مے او آسمانونو پيدا کونکے او د کائنا تو چلونکے هغه بچنے ده. هغه دا نه ؤ وئيلی چه په سبب نو جوړه ولو حکمرانی زما ده. بلکه هغه د دے خبرے دعوی کړی وه چه

يُمِيتُ ۙ قَالَ أَنَا أُحْيِي وَأُمِيتُ ۖ قَالَ إِبْرٰهِيمُ فَإِنَّ اللَّهَ يَأْتِي بِالشَّمْسِ مِنَ الْمَشْرِقِ فَأْتِ بِهَا مِنَ الْمَغْرِبِ فَبُهِتَ الَّذِي كَفَرَ ۗ

چه د هغه په اختیار کښ ژوندا و مرګ دے، نو هغه ورله جواب ورکړو چه: ژوندا و مرګ زما په اختیار کښ دی." ابراهیم ورته اووئیل چه "ښه، الله نمرد نمرخاته نه راخیژه وی، ته ئے د نمر پریوا ته د طرفنه راوخیژه وه" د دے خبرے په اوریدلو سره هغه د حق نه منکر سړے حیران پاتے شو،[۲۹۲]

د دے وطن عراق او د دے د وسیدونکو خود مختاره حاکم زه ئم، زما خبره قانون دے، زمانه پورته بل داسے اختیار والا نشته چه زمانه تپوس وکړی، او د عراق هر هغه وسیدونکے باغی او غدار دے چه په دے شان سره ما خپل رب نه منی یا زمانه بغیر بل چا ته رب وائی.

(۴) ابراهیم علیه السلام چه ورته کله اووئیل چه زه صرف یو رب العلمین خپل خدائے او رب منم او د هغه نه بغیر د بل چا خدائی قطعاً نه منم، نو دا صرف د قومی مذهب او د مذهبی خدایا نو په باره کښے یوه نوے عقیده نه وه، بلکه د دے خبرے اثر په قومی ریاست او د هغے په مرکزی اقتدار باندے پریوتلو د غه وجه وه چه حضرت ابراهیمؑ د بغاوت په جرم کښ نمرود بادشاه ته پیش کړے شو.

۲۹۲ دا خود حضرت ابراهیمؑ د اولے خبرے نه معلومه شوے وه چه رب د الله تعالیٰ نه بغیر بل څوک نشی کیدے، خو بیا هم نمرود د هغے جواب ډیر په بے ادبئ سره ورکړو. لیکن د ابراهیمؑ د دوئیے خبرے نه روستو د هغه د پاره جواب ورکول مشکل شو. هغه ته پخپله پته وه چه نمر سپوږمئ خو د هغے خدائے په فرمان چلیږی، کوم نه چه ابراهیمؑ رب وئیلے دے. نو بیا که هغه جواب ورکولو نو آخر څه به ئے وئیل؟ خو په دے سره چه کوم حقیقت هغه ته ښکاره شو، د هغے په منلو سره ئے خپله خود مختاره بادشاهی ختمیدله، او د دغے بادشاهئ پریښودلو د پاره ئے د نفس طاغوت تیار نه وو. نو په دے وجه هغه صرف حیران شو، لیکن د خود پرستئ د تیرے نه د حق پرستئ رڼا ته رانغے. که چرے د دے طاغوت په ځائے باندے هغه خدائے خپل ملګرے او مددګار جوړ کړے وے، نو هغه ته به د حضرت ابراهیمؑ د دے تبلیغ په وجه نیغه او صحیح لار ښکاره شوی وه.

په تلمود کتاب کښ دا بیان دے چه د دے نه روستو حضرت ابراهیمؑ د دغے بادشاه په حکم سره قید کړے شو. د لسو ورځو پورے هغه په جیل کښ وو. بیا د بادشاه کونسل د ابراهیمؑ د ژوندی سوزولو فیصله وکړه او د هغه په دور کښ د غورزولو هغه واقعه وشوه کومه چه په سورة انبیاء رکوع ۵، په سورة العنکبوت رکوع ۲، ۳، او په سورة الصافات رکوع ۴ کښ بیان شوی ده.

وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۲۵۸﴾ اَوْ كَالَّذِيْ مَرَّ عَلٰى
قَرْيَةٍ وَّهِيَ خَاوِيَةٌ عَلٰى عُرُوْشِهَا ۚ قَالَ اَنّٰى يُحْيٖ هٰذِهِ اللّٰهُ
بَعْدَ مَوْتِهَا ۚ فَاَمَاتَهُ اللّٰهُ مِائَةَ عَامٍ ثُمَّ بَعَثَهٗ ؕ قَالَ كَمْ
لَبِثْتَ ؕ قَالَ لَبِثْتُ يَوْمًا اَوْ بَعْضَ يَوْمٍ ؕ قَالَ بَلْ لَّبِثْتَ مِائَةَ
عَامٍ فَانْظُرْ اِلٰى طَعَامِكَ وَشَرَابِكَ لَمْ يَتَسَنَّهْ ۚ وَانْظُرْ

خو الله ظالمانو ته سمه او صحیح لار نهٔ ښائی۔

یا د مثال په طور هغه سړی ته کوره، چه په یو داسے کلی باندِ تیر شو، چه چتُو نه ئے پرمخے را پریوتی وُو۔ [۲۹۳] هغه اُووئیل چه دا د دے کلی خلق، چه هلاک شوی دی، دا به الله دوباره څنګه ژوندی کوی؟ [۲۹۴] نو په دے خبره الله د هغهٔ روح قبض کړو او هغه د سلو کالو پورے مړ پروت وُو۔ بیا الله پاک هغه دوباره ژوندے کړو او تپوس ئے تِر وُکړو چه "وایه څومره موده پروت وے؟" هغهٔ اُووئیل چه "یوه ورځ یا یو څو کنټے به پروت ووم۔" الله ورته او فرمائیل چه "په تا باندِ په دے حالت کښ سل کاله تیر شوی دی۔ اوس دِ لږ خپل دے خوراک او اُوبو ته وُکوره چه پکښ لږ تغیر هُم نهٔ دے راغلے۔ بل طرفته لږ شان خپل

[۲۹۳] دا یو غیر ضروری بحث دے چه هغه سړے څوک وُو او هغه کلے کوم یو وُو۔ د کوم اصلی مقصد د پاره چه دلته دا قیصه ذکر شوی ده، هغه صرف دا دے چه الله د چا ولی او ملګرے شو نو الله هغه ته څنګه رنړا ورکړه۔ د دغے سړی او د دغے ځائے د معلومولو نهٔ مونږ سره څه ذریعه شته او نهٔ د هغے څه فائده شته۔ البته دومره خبره ده چه د روستنی بیان نه دا معلومیږی چه دا ذکر د کوم سړی شوے دے هغه به ضرور یو نبی وی۔

[۲۹۴] د دے تپوس دا مطلب نهٔ دے چه دغه بزرګ د مرګ نه روستو د ژوند نه منکر وُو یا د هغه په دے کښ څه شک وُو، بلکه هغه حقیقت په سترګو لیدل غوښتل، لکه څنګه چه انبیاؤ ته خود لے کیږی۔

اِلٰى حِمَارِكَ وَلِنَجْعَلَكَ اٰيَةً لِّلنَّاسِ وَانْظُرْ اِلَى الْعِظَامِ
كَيْفَ نُنْشِزُهَا ثُمَّ نَكْسُوْهَا لَحْمًا ؕ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهٗ ۙ قَالَ اَعْلَمُ
اَنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۲۵۹﴾ وَاِذْ قَالَ اِبْرٰهٖمُ رَبِّ اَرِنِيْ
كَيْفَ تُحْيِ الْمَوْتٰى ؕ قَالَ اَوَلَمْ تُؤْمِنْ ؕ قَالَ بَلٰى وَلٰكِنْ لِّيَطْمَئِنَّ
قَلْبِيْ ؕ قَالَ فَخُذْ اَرْبَعَةً مِّنَ الطَّيْرِ فَصُرْهُنَّ اِلَيْكَ
ثُمَّ اجْعَلْ عَلٰى كُلِّ جَبَلٍ مِّنْهُنَّ جُزْءًا ثُمَّ ادْعُهُنَّ
يَاْتِيْنَكَ سَعْيًا ؕ وَاعْلَمْ اَنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿۲۶۰﴾ ع



خوتہ دِهم ؤکوره (چه دهډوکو پورے خاورے شوے دے) اودا کار مونږ ددے دپاره ؤکړو چه تا د خلقو دپاره یوه نمونه جوړه ول غواړو[۲۹۵]. بیا کوره چه دهډوکو دا پنجره مونږ ده څنګه را اوچتوو او غوښه پوستکے ورته څنګه وراغونده وو" دغه شان چه حقیقت ورته کله بالکل ښکاره شو نو وے وئیل چه: "ما ته معلومه ده چه الله په هر څیز قدرت لري".

او هغه واقعه هم یاده لره، کله چه ابراهیمؑ وئیلي وو چه "اے زما ربه! ما ته وښایه، ته مړي څنګه ژوندي کوے؟" الله ورته وفرمائیل "ولے ته ایمان نه لرے؟" هغه عرض وکړو چه "ایمان لرم خو زړه اطمینان م پکار دے[۲۹۶]." الله وفرمائیل چه "ښه ده څلور مرغئ راونیسه او هغه دځان سره بلدے کړه. بیا د هغوئ یوه یوه حصه په یو یو غرباندکیده. بیا ورته آواز وکړه، نو په منډه به ستا خواله راشي. ښه پوه شه چه الله غالب اختیار والا او حکمت والا دے[۲۹۷]. ع

[۲۹۵] دیو داسے سړي واپس راژوندي کیدل، چه سل کاله مخکښ د دنیا خلقو مړ شمیرلے وو، د خپلے زمانے په خلقو کښ دیوے ژوندئ نمونے دپاره کافي وو.

[۲۹۶] یعني هغه تسلي چه د سترګو په لیدلو سره کیږي.

[۲۹۷] ددے واقعے او ددے نه دپاسنئ واقعے، بعضے خلقو عجیبه عجیبه تشریحګانے کړي دي. لیکن د پیغمبرانو سره چه د الله کوم سلوک دے، که سړے ښه په هغے ځان پوهه کړي، نو بیا داخوا دیخوا خبرو ضرورت نشي راتلے. په دے ژوند کښ چه عامو موسانو له کوم خدمت کول پکار دے، د هغے دپاره خو صرف په غیبو ایمان راوړل (یعني بے لیدو مثل) کافي دي. لیکن پیغمبرانو ته چه الله کوم خدمت حواله کړے وو د هغے دپاره ضروري وه چه پیغمبرانو په خپلو سترګو هغه حقیقتونه لیدلے وے چه په کومو

مَثَلُ الَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ كَمَثَلِ

کوم[۲۹۸] خلق چہ خپل مال[۲۹۹] اللہ په لار کښ لګوی، دهغوی د خرچ مثال داسے دے لکه چه

حقیقتونو پاندے هغوی د ایمان راوړلو په اړه خلقو ته دعوت ورکوی. هغوی به دا دُنیا خلقو ته پورته په یقین سره داوئیل چه تاسو خو هسے خپل کمانونه زغلوی، او موږ نه د رته هغه خبرے کوو چه موږ ته په خپلو سترګو لیدلی دی. تاسو سره کتاب دے، او موږ سره علم، تاسو پاندہ یئ، او موږ نه بینا، دغه وجه ده چه پیغمبرانو ته فرښتے بنکاره راغلی دی، هغوی ته د زړګے او دا سمانونو د حکومت نظام (ملکوت) خوړلے شوے دے، هغوی ته جنت او دوزخ په سترګو وړاندے شوی دی، د هغوی په مقابل کښ ترګ نه روستو د دوباره ژوندی پاسیدلو نظاره پیش کړے شوی ده. د پیغمبرانو د نبوت نه مخکښ په غیبو باندے ایمان (ایمان بالغیب) وی او د نبوت نه روستو ورته د حقیقت لیدلو ایمان (ایمان بالشهادة) نصیب شی او دا ایمان بالشهادة صرف د پیغمبرانو خاصه ده۔ (د زیاتے تشریح د پاره وګوره تفہیم القرآن جلد دویم صفحه نمبر ۳۳، ۳۴، ۳۳۳)۔

۲۹۸ اُوس خبره بیا هغے سړله لارې کومه چه په دے برشمه رکوع کښ شوی ده. هلته مؤمنانو ته وئیلی شوی وو چه په کوم لوئے مقصد تاسو ایمان راوړے دے هغے د پاره خپله جان او مال قربانی وکړئ. لیکن هیڅوک ترهغے پورے دے خبرے تر لاشی تیار ښکاره نه کیږی چه په یو کار کښ د هغه خپل ذاتی غرض نه وی، او صرف د یو لوئی اخلاقی کار د پاره د خپل مال بے دریغه لګولو چه د هغه د دُنیا مال په پاره کښ خپل خیال بدل شوے نه وی. دکومو خلقو چه صرف په دُنیاوی ګټو نظر وی، پیسه کتل او په پیسه ځان مرکول او هر وخت کتنه تاوان ته په خیال کښ وی، هغوی د لوړ پورته مقصدونو د پاره هیڅ نشی کولے. هغوی که چرے د اخلاقی کار د پاره په بنکاره څه پیسے هم لګوی نو اول د خپل ځان یا د خپل خاندان او یا د خپل قوم د دُنیاوی ګټے حساب لګوی. چه د داسے خیال خلق وی نو هغوئ دهغے دین په لاره یو قدم هم نشی تللے کوم چه دسړی نه د اعلیٰ مطالبه کوی چه د دُنیا کتنے تاوان پروا مسلمان او صرف د اللہ د کلمے د اُچتولو په اړه خپل وخت، خپل طاقت او خپله پښکه ولګوه۔ د داسے کار د پاره یو قسم اخلاقی پاکاړی. نراخه نظر، ورځپه حوصله، لوړ سینه او خالص هدف د رضاالله حاصلولو دینی کار د پاره ضروری دی. او په اجتماعی نظام کښ د داسے بدلون راوستلو ضرورت دے چه په هر سړی کښ د دُنیاوی ګټے نه د هغے دین او اخلاقی صفتونه پیدا شی. نو د دے خیال او صفتونو پیدا کولو د پاره دے څانګے نه تر دیو رکوع پورے مسلسل د کار خبره شوی ده.

۲۹۹ مال خرچ کول که د خپل ضرورت پوره کولو د پاره وی، که د خپل بال بچو د ژوند ساتلو د پاره وی، که د خپلوانو خپلوانو خبر اخستلو د پاره وی، که د محتاجو خلقو د مدد د پاره وی، که د دین خورولو او د جهاد د مقصد د پاره وی، د هر څه د پاره چه وی خو چه د اللہ د تعالیٰ د مطابق وی او خالص د اللہ د رضا د پاره وی نو هغه به د اللہ په لار کښ شمارلے کیږی.

حَبَّةٍ اَنْۢبَتَتْ سَبْعَ سَنَابِلَ فِيْ كُلِّ سُنْۢبُلَةٍ مِّائَةُ حَبَّةٍ ۭ وَاللّٰهُ يُضٰعِفُ لِمَنْ يَّشَاۗءُ ۭ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ﴿٢٦١﴾ اَلَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ثُمَّ لَا يُتْبِعُوْنَ مَآ اَنْفَقُوْا مَنًّا وَّلَآ اَذًى ۙ لَّهُمْ اَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ ۚ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿٢٦٢﴾ قَوْلٌ مَّعْرُوْفٌ وَّمَغْفِرَةٌ خَيْرٌ مِّنْ

یوه دانه وکړے شی اوه هغه نه اوه ویږی زرغون شی او په هر ویږی کښ سل دانے وی۔ دغه شان د الله چه چاله خوښه وی دهغه عمل زیاتوی۔ د هغه لاس هم فراخه دی او هغه په هر څه پوهیږی۔ کوم خلق چه خپل مال د الله په لار کښ خرچ کوی، او بیا د خرچ نه روستو احسان نه زباتی او تکلیف ورته نه رسوی، د هغوئ بدله د خپل رب سره ده، نه به یې ویره وی او نه به یې غم۔ یوه خوږه خبره او کول د هغه نامناسبه خبره باندې ستر کیدل چه هغې پسې خیرات نه

۳۰ یعنی څومره په اخلاص او څومره په بنه جذبه سره چه احسان د الله په لار کښ مال خرچ کړی هغوئ به د الله د طرفه بدله زیاته وی۔ خدائے په یوه دانه کښ دومره برکت اچولے شی چه هغه نه اوته سو دانے راخیژه وی، نو هغه څوک څه ګران نه دی چه ستا خیرات هم دغه شان و پرکړی او دیوے روپئے په نکولو بدله د اوه سوو بدله درکړی۔ دے حقیقت بیانولو نه روستو الله دوه صفتونه بیان شوی دی یو د اچه د الله لاس فراخه دی، تنګ نه دی چه کنې ستا عمل به د یوے بدلے مستحق دی او هغه بدلے درنه کړے شی۔ بل د اچه هغه په هر څه پوهیږی، نا خبره نه دے چه کنې ته سم نه خرچ کړے او په اخلاص او په بنه جذبه به ئے خرچ کړے او هغه به ترے خبر نه شی او ستا حق به ورکړے شی۔

۳۱ یعنی نه دے خبره خه خطره شته چه ثواب به ئے خراب شی او نه به پرے ستا څه وخت راشی چه هغه به په دے خرچ نه پښیمانه شی۔

صَدَقٰتٍ يَتْبَعُهَآ اَذًى ۗ وَاللّٰهُ غَنِيٌّ حَلِيْمٌ ﴿٢٦٣﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ
اٰمَنُوْا لَا تُبْطِلُوْا صَدَقٰتِكُمْ بِالْمَنِّ وَالْاَذٰى ۙ كَالَّذِيْ يُنْفِقُ
مَالَهٗ رِئَآءَ النَّاسِ وَلَا يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ۭ فَمَثَلُهٗ
كَمَثَلِ صَفْوَانٍ عَلَيْهِ تُرَابٌ فَاَصَابَهٗ وَابِلٌ فَتَرَكَهٗ صَلْدًا ۭ

غوره دی چې پټه خبره تکلیف وی. الله بې نیازه دے او بُردبار دی دغه صفت دے۔ اے ایمان
والو! خپلے صدقے پر احسان زبا تلو باندے او په تکلیف ورکولو باندے دغسے سړی پشان مه
برباده وئ، چه هغه خپل مال صرف خلقو ته د ښودنے دپاره خرچ کوی او نه پر الله باندے ایمان
لری او نه پر آخرت۔ دغه د خرچ مثال داسے دے لکه چې یو کټ وُو، د پاسه پرے ډاوره
یوخ پروت وُو، کله چې تیز باران وشو نو تهوله خاوره ئے تر ویوړه او صفاکټ پاتے شو۔

۳۰۲ پر دے یو نقره کښ دوه خبرې شوې دی. یوه دا چه الله تعالیٰ ستاسو خیرات ته حاجت نشته دے.
بله دا چه الله تعالیٰ پخپله بُردبار او صبرناک دے. نو څکه ئے خو بنی هم هغه خلق دی، چه تنګ خیالی او لنډ
خویه نه دی، بلکه لوے حوصلے والا او وړند خویه او بُردبار دی. خدائے پاک چې پر تول ژوند کښ تاسے
بے حسابه نعمتونه درکړی دی او ستاد پیرو خلقو سره تانته بیا بیا سخاوت کوی. هغه په دے خلق ته خو بنی
کړی چې چیرته یو غریب لږ خوراک د پاره یوه ډوډۍ درکړی نو ترهغے پرځپل احسان زباتی چه هغه
د شرم نه پسے زمکه ننباسی. دغه وجه ده چه په حدیث کښ راغلی دی چه الله تعالیٰ به دغسے سړی
سره د قیامت په ورځ خبرے ونکړی او د رحمت په نظر به ورته ونه کوری، چه هغه چاله څه درکړی
او بیا پر احسان زباتی۔

۳۰۳ د هغه دا دریا پخپله دغه خبرے دلیل دے چه هغه پر خدائے او پر آخرت یقین نه لری. دا هغه
چه د خلقو د ښودنے د پاره کار کوی، د دے صفاد اسلوب دے چه د اخلاق د هغه خدائے دے چې خپله
بدله تر هغو اړی، د الله نه ئے د بدلے د ورکولو اُمید نشته او نه ئے د یقین شته چې یوه ورځ به د عملونو
حساب کتاب دی او خلقو ته به خپلے خپلے بدلے ورکړے کیږی۔

۳۰۴ پر دے مثال کښ د باران نه مراد خیرات دے۔ کټ نه مُراد هغه بد نیت او خراب جذبه ده
چې په کوم نیت او جذبے سره خیرات درکړے شوے وی. د خاورے د نرۍ څخه نه مراد د نیکئ هغه
ظاهری شکل دے چې د لاندے تر نیت خراب وی. د دے تشریح سره سره پر مثال بنه پوهیږی.
د باران طرحې کار دا دے چې تخمونه را وڅیژی او پتې شنه ملی۔ خو کله چې زمکه هغه پر نوم

لَا يَقْدِرُوْنَ عَلٰى شَيْءٍ مِّمَّا كَسَبُوْا ؕ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ
الْكٰفِرِيْنَ ﴿۲۶۴﴾ وَمَثَلُ الَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمُ ابْتِغَآءَ مَرْضَاتِ
اللّٰهِ وَتَثْبِيْتًا مِّنْ اَنْفُسِهِمْ كَمَثَلِ جَنَّةٍۭ بِرَبْوَةٍ اَصَابَهَا
وَابِلٌ فَاٰتَتْ اُكُلَهَا ضِعْفَيْنِ ۚ فَاِنْ لَّمْ يُصِبْهَا وَابِلٌ فَطَلٌّ ؕ وَ
اللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿۲۶۵﴾ اَيَوَدُّ اَحَدُكُمْ اَنْ تَكُوْنَ لَهٗ جَنَّةٌ

داسے خلق چه په خپل خیال کښ دخیرات په ذریعه کومه نیکی کتې، دهغے نه به ورله هیڅ په لاس ورنشي، او کافرانو ته نیغه لار ښودل د الله طریقه[۳۰۵] نه ده. ددے نه برخلاف کوم خلق چه خپل مال صرف د الله د رضا حاصلولو د پاره په کلک او په ډاډه زړه خرچ کوي، دهغوئ د خرچ مثال داسے دے لکه چه په وچت ځائے باندې یو باغ وي که تیز باران پرې وشي نو دوچند میوه وکړي، او که چرے تیز باران پرې ونه شي نو نرے پشم ورله هم کافي وي[۳۰۶]. تاسو چه څه کوئ په هغے ټولو د الله نظر دے.

آیا په تاسو کښ څوک دا خوښوي چه د هغه یو تک شین باغ وي،

وچته وي، او دخاورے د نرۍ مخ نه لاندې دکانړي یو کټ وي نو بیا باران د فائدے ورکولو ځائے اُلټا نقصاني وي. دغه شان خیرات هم دے، په خیرات ورکولو کښ ډیر ثوابونه ملاویږي، خو نیت پکښ شرط دے، که نیت نیک او ښه وي نو فائده به وشي ډیر ثوابونه به ملاوشي، خو که نیت نیک نه وي نو بیا صرف مال ضایع کول دي نور هیڅ نه دي.

[۳۰۵] دلته د "کافر" لفظ د ناشکرئ او د نعمت نه د انکار په معنی کښ استعمال شوے دے. څوک چه د الله ورکړے شوے نعمت د الله د رضا د پاره نه خرچ کوي بلکه د خلقو د رضا د پاره ئے خرچ کوي، او یا که څه مال د الله په لار کښ چاله ورکوي خو ورسره ورسره هغه ته تکلیف هم رسوي، هغه په اصل کښ ناشکره انسان دے او د خدائے احسان هیرونکے دے. او چه دے پخپله د خدائے د رضا طلبګار نه دے نو خدائے هم ددهٔ نه بے نیازه دے، ددهٔ دا پروا نه لري چه خامخوا ډورته د خپلے رضا لار اوښائي.

[۳۰۶] د "تیز باران" نه مطلب هغه خیرات دے چه ډیر په نیکه جذبه او په ښه نیت سره ورکړے شي. او د "نرۍ پشم" نه مطلب داسے خیرات دے چه پکښ نیکه جذبه ډیره نه وي.

مِّنْ نَّخِيْلٍ وَّاَعْنَابٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۙ لَهٗ فِيْهَا
مِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ ۙ وَاَصَابَهُ الْكِبَرُ وَلَهٗ ذُرِّيَّةٌ ضُعَفَآءُ ۖ
فَاَصَابَهَآ اِعْصَارٌ فِيْهِ نَارٌ فَاحْتَرَقَتْ ؕ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ
لَكُمُ الْاٰيٰتِ لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُوْنَ ﴿۲۶۶﴾ ع يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْفِقُوْا
مِنْ طَيِّبٰتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّآ اَخْرَجْنَا لَكُمْ مِّنَ الْاَرْضِ ۖ وَلَا

چه په نهرونو اُوبۀ کیږی، دکجورو او دانګورو او دهر قسم دَ میوو نه ډک وی، او هغه عین
په داسے وخت کښ دهوا په یوه تیزه بربوتئ وَسوزی، چه دے پخپله بوډا وی او واړه
واړه ماشومان ئے لا دکار نه وی؟ ۳۰۷ دغه شان الله تاسو ته خپلے خبرے بیانوی، ددے
دپاره چه تاسو غور او فکر وَکړئ ع

اے هغه خلقو چه ایمان مو راوړے دے، کوم مال چه تاسو ګټلے دے او څه چه موږ ستاسو
دپاره دزمکے نه راایستلی دی، دهغے نه هغه ښه ښه مال دخدائے په لار کښ خرڅ کړئ ۔ داسے وَنکړئ

۳۰۷ یعنی که ته دا نه خوښوے چه ستا د ټول عمر ګټه دِ په یو داسے نازک وخت کښ تباه شی، چه ته
ورته د ټولو نه زیات محتاجه ئے او بیا درباندِ داسے وخت نه راځی چه نوره ګټه به وَکړے او په هغه به وخت
تیر کړے، نو دا خبره به ستا څنګه خوښه شی چه په دنیا کښ د ټول عمر کار کولو نه روستو آخرت ته په داسے
حالت کښ لاړ شے چه هلته دِ د ژوند د ټولے عملنامے هیڅ قیمت نه وی، څه چه دِ په دنیا کښ ګټلی
وُو هغه خو په دنیا کښ پاتے شو، او د آخرت دپاره خو دِ څه راوړی نه دی چه دلته درته د هغے فائده ملاؤ
شی. هلته به درله داسے موقع بیا نه راځی چه د آخرت دپاره نوره ګټه وَکړے ۔ د آخرت دپاره د
کار کولو چه څه موقع ده، هغه په دے دُنیا کښ ده ۔ په دنیا کښ دِ که چرے د آخرت فکر وَنه کړو او
ټول عمر دِ دَ دنیا د ګټلو په خیال کښ تیر کړو او خپل ټول کوششونه او طاقتونه دِ دَ دُنیا ئی
فائدے دپاره استعمال کړل، نو د ژوند دَ ختمیدو نه روستو به ستا حالت بالکل د هغے بوډا پشان
افسوسناک وی، چه د ټول عمر ګټه او دَ ژوند سهارائی یو باغ وُو او هغه هم د بوډا والی په حالت
کښ په داسے وخت کښ وَسوزیدو چه نه پخپله بل نوے باغ لګولے شی او نه ئے بچی ددے قابل دی چه
ددۀ سره امداد وَکړی ۔

تَيَمَّمُوا الْخَبِيثَ مِنْهُ تُنْفِقُونَ وَلَسْتُمْ بِآخِذِيهِ إِلَّا أَنْ تُغْمِضُوا
فِيهِ ۚ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ حَمِيدٌ ﴿٢٦٧﴾ الشَّيْطَانُ يَعِدُكُمُ الْفَقْرَ
وَيَأْمُرُكُمْ بِالْفَحْشَاءِ ۖ وَاللَّهُ يَعِدُكُمْ مَغْفِرَةً مِنْهُ وَفَضْلًا ۗ
وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٦٨﴾ يُؤْتِي الْحِكْمَةَ مَنْ يَشَاءُ ۚ وَمَنْ يُؤْتَ
الْحِكْمَةَ فَقَدْ أُوتِيَ خَيْرًا كَثِيرًا ۗ وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّا أُولُو الْأَلْبَابِ ﴿٢٦٩﴾

چه د خدائے په لارکښ دورکولو د پاره د خراب نه خراب څیز د لټولو کوشش شروع کړئ، ځکه که چرے هم دغه څیز تاسو له څوک درکوی نو تاسو به ئے هیچرے قبول نه کړئ، هن دا بیله خبره ده چه سترګے پټے کړئ او قبول ئے کړئ. پکار دی چه تاسو پوهه شئ چه الله بے نیاز دے او په ښه صفتونو سره ستائیلے شوے دے[٣٠٨]. شیطان تاسو د نیستئ نه یَروی او د شرم د کار کولو لمسون درته کوی، خو الله تاسو ته د خپل طرفنه د بخښنے او د فضل اُمید درکوی. الله ډیر فراخ دسته سخی او دانا دے. چاله چه وُغواړی، نو حکمت ورکوی او چه چا ته حکمت ملاؤ شو هغه ته په حقیقت کښ لوئے دولت ملاؤ شو[٣٠٩]. د دے خبرو نه صرف هغه خلق سبق اخلی چه عقلمند دی.

٣٠٨ ښکاره خبره ده چه څوک د ښه اعلیٰ صفتونو مالک وی، هغه د خرابو صفتونو والا نشی خو ښه ولے الله تعالیٰ پخپله سخی دے او خپل مخلوق ته هر وخت د دریاب د اُوبو پشان ورکړه کوی. دا څنګ کیدے شی چه هغه به د تنګ خیاله، د کمے حوصلے او د خرابو اخلاقو والو خلقو سره مینه وکړی.

٣٠٩ د حکمت نه مُراد صحیح سوچ او خیال او د صحیح فیصلے کولو طاقت دے - دلته د دے خبرے مقصد دا دے چه چاله الله تعالیٰ حکمت ورکړے وی هغه به هیچرے د شیطان په لاره لاړ نشی، بلکه هغه به د الله تعالیٰ په ښودلی شوی فراخه لار باندے ځی - د شیطان د تنګ خیاله ملګرو په نظر کښ دا ډیر د هوښیار تیا او د عقلمندئ کار دے چه سړے خپل دولت سنبال سنبال بږدی او هر وختے د زیاتے ګټے په فکر کښ وی - لیکن کومو خلقو له چه الله صحیح سوچ او فکر ورکړے دے، د هغوئ په نظر کښ دا بالکل بے وقوفیتا دد. هغوئ ته حکمت او هوښیار تیا په دے کښ ښکاری چه سړے څه وګټی، په هغے اول خپل درمیانه ضرورت پوره کړی او بیا ئے د زړه د اخلاصه په ښه کارونو کښ خرچ کړی. کیدے شی چه هغه اولنے سړے د دُنیا په دے لږ ژوند کښ د نورو خلقو په نسبت زیات خوشحاله وی، خو د انسان د پاره د دُنیا دا ژوند پوره ژوند نه دے، بلکه د اصلی ژوندیوه وړه غوندے حصه ده. څوک چه د دُنیا د دے لږے خوشحالئ د پاره د همیشه ژوند بدحالی مُفتو کښ اخلی، هغه په حقیقت کښ ډیر بے وقوف سړے دے. هوښیار او عقلمند سړے هغه دے چه د دُنیا

وَمَآ اَنْفَقْتُمْ مِّنْ نَّفَقَةٍ اَوْ نَذَرْتُمْ مِّنْ نَّذْرٍ فَاِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُهٗ ؕ
وَمَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ اَنْصَارٍ ﴿۲۷۰﴾ اِنْ تُبْدُوا الصَّدَقٰتِ فَنِعِمَّا
هِيَ ۚ وَاِنْ تُخْفُوْهَا وَتُؤْتُوْهَا الْفُقَرَآءَ فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ؕ وَيُكَفِّرُ
عَنْكُمْ مِّنْ سَيِّاٰتِكُمْ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ﴿۲۷۱﴾

تاسو هر څه چه خرچ کړی وی او څه مَنَخته چه موصلی وی، الله دهغے نه خبر دے، او د ظالمانو هیڅوک مددګار نشته[۳۱۰] که خپلے صدقے په ښکاره ورکړئ، نو دا هم ښه ده، لیکن که پټ په پرده کښ یے حاجتمندو له ورکړئ، نو دا تاسو له ډیره بهتره ده[۳۱۱]. تاسو ډیرے بدئ په دے طریقے سره ختمیږی[۳۱۲]. او څه چه تاسو کوئ، الله تعالیٰ دَ هغے نه په هر حال کښ خبر دے.

د دے لږ ژوند نه ئے فایده واغستله او په دے لږه سرمایه باندیے په همیشه ژوند کښ د خپلے خوشحالئ بندوبست وکړو.

۳۱۰ خرچ که د خدائے په لار کښ شوے وی یا د شیطان په لار کښ، نذر که د خدائے د پاره منلے شوے وی او که د خدائے نه بغیر د بل چا د پاره، په هر حالت کښ الله تعالیٰ د سړی د نیت او د کار نه ښه خبر دے. چا چه د الله د پاره خرچ کړے وی او د الله د پاره ئے نذر منلے وی، هغه ته به د هغے ثواب ملاؤ شی. او کومو ظالمانو چه د شیطان په لار کښ خرچ کړے وی، او د الله نه بغیر یے د بل چا نذر منلے وی، هغوئ ته به د خدائے د سزا نه د بچ کولو د پاره هیڅوک مددګار ملاؤ نشی.

نذر دے ته وائی چه یو سړے په خپل یو مقصد پوره کیدلو باندِ په ځان دا سے څه خرچ یا خدمت لازمی کړی چه هغه په دهٔ فرض نه وی. که چرے دا مقصد یو حلال او جائز کار وی او د الله نه غوښتلے شوے وی، او د دے مقصد په پوره کیدلو باندِ چه دهٔ کوم کار په ځان باندِ لازمی کړے وی، هغه هم خاص د الله د پاره وی، نو دا نذر د الله د حکم مطابق دے او د دے په پوره کولو کښ ثواب دے. او که چرے نذر په دے شکل نه وی منلے شوے نو دغه نذر پوره کول ګناه ده او پکښ عذاب دے.

۳۱۱ فرض صدقه ښکاره کول بهتر دی، او کومه صدقه چه فرض نه وی هغه پټه ورکول ډیر بهتر دی. دا اصول د ټولو عملولو د پاره دے چه فرض په ښکاره ادا کول غوره دی او نفل پټ ادا کول بهتر دی.

لَيْسَ عَلَيْكَ هُدٰىهُمْ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ ۭ وَمَا
تُنْفِقُوْا مِنْ خَيْرٍ فَلِاَنْفُسِكُمْ ۭ وَمَا تُنْفِقُوْنَ اِلَّا ابْتِغَاۗءَ
وَجْهِ اللّٰهِ ۭ وَمَا تُنْفِقُوْا مِنْ خَيْرٍ يُّوَفَّ اِلَيْكُمْ وَاَنْتُمْ لَا
تُظْلَمُوْنَ ۝۲۷۲ لِلْفُقَرَاۗءِ الَّذِيْنَ اُحْصِرُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ لَا
يَسْتَطِيْعُوْنَ ضَرْبًا فِي الْاَرْضِ ۡ يَحْسَبُهُمُ الْجَاهِلُ اَغْنِيَاۗءَ
مِنَ التَّعَفُّفِ ۚ تَعْرِفُهُمْ بِسِيْمٰهُمْ ۚ لَا يَسْـَٔلُوْنَ النَّاسَ

خلقو تہ د هدایت درکولو ذمہ داری په تا نہ ده، هدایت خو چې الله چا ته غواړي هغه ته درکوي. او په خیرات کښ چې څه مال تاسو خرچ کوئ په هغے کښ ستاسو ښیګړه ده. آخرتا سونو ته هم ددے پاره خرچ کوئ چې د الله رضا درته حاصله شي. نو څه مال چې تاسو خیرات کړو هغے بدله به درته پوره پوره ملاؤ شي او ستاسو حق به هیڅوک نه وهلے کیږي[۳۱۲]

خاص طور د امداد لائق هغه غریبان خلق دی چې د الله په کار کښ داسے ښغلي دی چې دچلے روزی کمائلو د پاره چرته منډه ترړه نشي وهلے. دهغوئ ډاډګر نه غوښتلو په وجه ناخبره سړے په هغوئ د اکمان کوی چې هغوئ کښې خوشحاله دی. تاسو د هغوئ د ښو نونه د هغوئ اصلی حالت معلومولے شئ لیکن هغوئ داسے خلق نه دی چې د غوښتلو

[۳۱۲] یعنی پټ پټ نیکئ کولو سره د سړی نفس د اخلاق رذیلو نه پاکیږی، په هغه کښ نه یوه صفت نه پیدا کیږی چې رذیلے کیږی، او دے په هغه د الله د مرسته خوښ شي چې هغه لږ ډیره ګناه ښے په عملنامه کښ وی، نو هغه هم د دغو ښو په وجه الله تعالیٰ معاف کوی

[۳۱۳] په اول کښ به مسلمانانو د خپلو غیر مسلمه رشتیدارانو د دعا مو غیر مسلمه محتاجانو د مرسته امداد نه کولو. هغوئ به دا خیال کوو چې صرف د مسلمان محتاجانو سړ امداد کول په کار دی په سبیل الله خرچ کښې. چې دے آیت کښ د هغوئ دا غلط خیال لرے کړے شوے دے.

د آیت سطلب دا دے چې دے خلقو زړه نوتړه د هدایت کوزه د لوړ ذمه واری په تا نشته. تا چې حق خپل د رسول نوستاذ واری پوره شوه. او دے د الله اختیار دے چې هغوئ ته د صحیح خیال د رکولو توفیق درکوی او کله نه. لوی. پاتے شو د دُنیا ئی مال سامان په ذریعه د هغوئ حاجتونه پوره کول. نو په دے کښ تاسو دے ته مه کورئ چې هغوئ هدایت نه دے قبول کړے. د الله د رضا د پاره چې

وقف لازم

يَتَخَبَّطُهُ الشَّيْطٰنُ مِنَ الْمَسِّ ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَالُوْٓا اِنَّمَا الْبَيْعُ
مِثْلُ الرِّبٰوا ۘ وَاَحَلَّ اللّٰهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبٰوا ؕ

چه شیطان په لاس وَرو ړلو لیونے کړے وی۔[۳۱۶] او په هغوئ باندِ دَ داسے حال را تللو وجه دا ده چه هغوئ وائی چه "تجارت خو هم دَ سود پشان څیز دے"[۳۱۷]، حالانکه الله تجارت حلال کړے دے او سود ئے حرام کړے دے۔[۳۱۸]

به بل سړی له قرض ورکړو او دا شرط به ئے ورسره کیښو دو چه په دومره موده کښ به دومره پیسے دَ قرض دَ پیسو نه علاوه ماله راکوے۔ یا مثلاً دَ قرض اغستونکی او دَ قرض ورکونکی په منځ کښ به دَ یوے خاصے مودے دپاره په خاص زیاتی پیسو ورکولو باندِ خبره وشوه، نو که په دغے موده کښ به قرض پیسے سره دَ زیاتی پیسو ورنه کړے شوے، نو نور مهلت به ئے په دے شرط ورکوو چه دَ اول نه به زیاتے پیسے ورکوی دے قسمه معاملا تو حکم دلته بیان شوے دے۔

۳۱۶ عربو به دیوانه سړی ته "مجنون" یعنی پیریانے وئیلو، او چه دَ چا په باره کښ به ئے وئیل چه هغه پاګل شوے دے نو داسے به ئے وئیل چه په هغه پیریان دی۔ هم په دغے طرز قرآن دَ سود خور مثال دَ هغے سړی سره ورکړے دے چه عقل ئے کار نه کوی پاګل شوے وی۔ یعنی لکه څنګه چه دغه پاګل دَ لیونو پشان کارونه کوی، دغه سود خور هم په پیسو پسے لیونے وی او دَ خپل غرض په لیونتوب کښ دا هیڅ پروا نه لری چه ددهٔ دَ سود اغستلو په وجه دَ انسان مینه رُوروني، او همدردی څنګه ختمیږی، او دَ شریکے فائدے کارونه څنګه تباه کیږی، او دَ څومره خلقو دَ غریبئ نه دے خپله خوشحالی حاصلوی۔ دا ددهٔ دَ لیونتوب حال په دے دُنیا کښ دے۔ او په آخرت کښ خو به انسان په هغے حالت کښ پاسی چه په کوم حالت کښ ئے په دُنیا کښ روح ورکړے وی، نو سود خور سړے به دَ قیامت په ورځ دَ لیونی او دَ پاګل سړی پشان پاسی۔

۳۱۷ یعنی دَ هغوئ دَ نظریئے دا خرابی ده چه په تجارت کښ په اصلی قیمت باندِ کومه منافع اغستلے کیږی، دَ هغے او دَ سود فرق نه کوی، او دواړو ته یو قسم څیز وائی، او په دلیل کښ دا خبره کوی چه په تجارت کښ کومے روپئ لګیدلی وی او په هغے منافع اغستل جائز وی نو دَ قرض په روپو منافع اغستل ولے جائز نه دی۔ دغه شان دلیلونه دَ نن زمانے سود خوارهٔ هم دَ سود په حق کښ پیش کوی۔ او وائی چه یو سړے دَ خپلو روپو نه پخپله فائده اغستلے شی، او هغه دغه روپئ بل سړی له قرض ورکړی نو هغه بل سړے خو ترهم بهر حال فائده اخلی۔ بیا آخر څه وجه ده چه دَ قرض ورکونکی دَ روپو نه کومه فائده قرض دارے اخلی، نو دَ هغے نه یوه حصه دِ قرض ورکونکی له نه ورکوی؟ خو دا خلق دے خبرے ته سوچ نه کوی چه په دُنیا کښ څومره کاروبارونه دی، که تجارت دے، که کاریګری ده، که کروندهٔ ده، او که په دے کار کښ سړے صرف خپل محنت کوی او که پکښ خپل محنت او سرمایه دواړه لګوی، په دے ټولو کښ داسے کاروبار نشته چه په هغے کښ سړی ته دَ نقصان خطره (RISK) نه وی او خامخا به دهٔ ته یوه مقررهٔ منافع ملاویږی۔ نو بیا آخر دَ دُنیا په

ټولو کاروبارونو کښې دیو قرض ورکونکے سرمایه دار داسے ولے وی چه هغهٔ ته دِ دَ نقصان خطره نه وی او هغه دِ خامخا دَ یوے مقررے منافعے حق دار وی؟ دَ داسے قرض دار مسئله خولا پریږده چه دَ نفعے دَ کار دپاره قرض نه اخلی، او دا هم پریږده چه شرح زیاته ده او که کمه. خیر دے دَ داسے قرض مسئله واخله چه دَ نفعے دَ کارونو دپاره وی او شرح یے هم کمه وی. خبره دا ده چه کوم خلق په کاروبار کښې خپل وخت، خپل محنت او خپله سرمایه شپه او ورځ لګوی او چه صرف هم دَ هغوئ په کوششونو باندِ کاروبار روان وی، دهغوئ دپاره خو دِ دَ نفعے یوه مقرره حصه لازمی نه وی، بلکه دَ نقصان ټوله خطره دِ دَ هغوئ په سر باندِ وی، خو چه چا ورله صرف خپلے پیسے په قرض ورکړی وی هغهٔ ته دِ دَ نقصان تپ نه رسی او دَ نفعے یوه مقرره حصه دِ خامخا اخلی. آخر دے ته کوم عقلمند او کوم کاریګر په کومو اُصولو باندِ ټیک وائی؟ او دا په کومه وجه باندِ صحیح ده چه یو سړے یوے کارخانے ته دَ شلو کالو دپاره قرض ورکړی او هغه نن دا فیصله وکړی چه هغه به دَ راتلونکو شلو کالو پورے په کال کښې په سلو روپو پسے ټیک دَ پنځو روپو په حساب سره دَ منافعے اغستلو حقدار وی، حالانکه هغه کارخانه چه به کوم مال تیاره وی دَ هغے په حقله هیڅ ته دا معلومه نه ده چه په بازار کښې به دَ هغے په قیمتونو کښې په دے شلو کالو کښې څومره کمے زیاتے راځی؟ او دے ته څوک ټیک وائی چه په یو جنګ کښې دِ دَ قوم هر سړے خطره او نقصان برداشت کوی خو په ټول قوم کښے دِ یو قرض ورکونکے سرمایه دار داسے وی چه هغه دِ دَ خطرے او دَ نقصان پځائے سُود اخلی؟

۳۱۸ دَ تجارت او دَ سود هغه اُصولی فرق، چه دَ هغے په وجه دَ دوارو معاشی او اخلاقی حیثیت یو شان نشی کیدے، هغه دا دے:

(۱) په تجارت کښې خرڅونکی او اغستونکی ته یو شان فائده وی، اغستونکے چه کوم څیز واخلی نو هغه دَ هغے څیز نه فائده اخلی، او خرڅوونکے دَ خپل کړاؤ او دَ وخت مزدوری اخلی. دَ دے نه برخلاف دَ سود په لین دین کښې فائده یو شان نه وی. سود خور خو دَ مال یوه مقرره حصه اخلی چه فائده یے دَ هغهٔ دپاره یقینی ده، خو بل خوا سود ورکونکی ته صرف دَ وخت مهلت وی چه په هغے کښې دَ هغه دپاره فائده اغستل یقینی نه وی. که چرے هغه سرمایه د دے دپاره اغستلی وی چه خپل ضروریات دِ پرِ پوره کړی نو ښکاره خبره ده چه مهلت د هغه دپاره بالکل فائده نه لری، او که چرے هغه دَ تجارت، دَ کاریګرئ یا دکروندے دپاره سرمایه اغستلی وی نو بیا هم په دغے مهلت کښې څومره چه دَ نفعے امکان دے دومره دَ نقصان امکان هم شته. نو معلومه شوه چه دَ سود په معامله کښې خو یا یو طرفته فائده او بل طرفته نقصان وی، او یا یو طرفته یقینی او مقرره فائده وی او بل طرفته غیر یقینی او غیر مقرره فائده.

(۲) په تجارت کښې که خرڅوونکے د اغستونکی نه هر څومره زیاته فائده واخلی، خو یو ځل یے واخلی. لیکن دَ سود په معامله کښې سود خور په خپل مال باندِ بیا بیا فائده اخلی او دَ وخت دَ تیریدو سره سره دَ هغهٔ فائده نوره هم زیاتیږی. قرضدارے که دَ هغه دَ مال نه هر څومره فائده واخلی، خو دَ هغے دَ فائدے به یو خاص حد وی. لیکن سود خور چه دَ هغهٔ دَ فائدے په بدله کښې کومه نفع اخلی، دَ هغے هیڅ حد نه وی. کیدے شی چه هغه دَ قرضداری ټوله کټه، دَ هغهٔ دَ روزئ ټول وسائل، تر دے پورے چه دَ هغهٔ دَ بدن کپړے او دَ کور لوښی ټول هضم کړی او بیا ئے هم قرضدارے باقی دار وی.

فَمَنْ جَآءَهٗ مَوْعِظَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ فَانْتَهٰى فَلَهٗ مَا سَلَفَ ؕ وَاَمْرُهٗۤ اِلَى اللّٰهِ ؕ وَمَنْ عَادَ فَاُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا

نوچا تہ چہ دَ خپل رب دَ طرفنہ دا نصیحت وُرسی او دَ بیا دپارہ دَ سُود خوراک نہ منع شی، نو څہ چہ هغہ مخکښ خوړلی. هغہ یے خوړلی دی، دَ هغے معاملہ دَ خدائے پہ[۳۱۹] حوالہ دہ. او چا چہ دَ دے حکم نہ روستو بیا داسے کار وکړو، هغہ دوزخی دے، هغہ بہ هلتہ

(۳) پہ تجارت کښ دَ څیز پہ بدلہ کښ دَ قیمت پہ ورکولو سرہ معاملہ ختم شی، دَ هغے نہ روستو اغستونکے خرڅونکی لہ څہ نہ ورکوی. دَ مکان، دَ زمکے یا دَ سامان پہ کرایہ کښ اصلی څیز خرچ کیږی نہ، صرف دَ استعمال مزدوری ورکیدے شی، هغہ څیز پہ خپل ځائے وی، او هم هغہ څیز کرایہ دار تہ واپس ورکړے کیږی. لیکن دَ سود پہ معاملہ کښ قرض دار سرمایہ خرچ کړی وی او هغہ دغہ خرچ شوے مال بیا پیدا کوی او سرہ د سود نہ یے سرمایہ دار تہ واپس کوی.

(۴) پہ تجارت، پہ کاریګرئ او پہ کروندہ کښ سرے کړاؤ وکړی او وخت ونګوی نو فائدہ واخلی. خو دَ سود پہ معاملہ کښ هغہ صرف چالہ خپل دَ ضرورت نہ زیاتی مال ورکړی او بیا بغیر دَ کړاؤ نہ دَ بل پہ ګټہ کښ شریک جوړ شی. دا هغہ "شریک" نہ وی چہ پہ نفع او نقصان دواړو کښ شریک وی او پہ نفع کښ دَ نفعے پہ تناسب شریک وی، بلکہ هغہ داسے شریک وی چہ دَ نفعے او دَ نقصان پروا دار نہ وی او پہ خاص تناسب سرہ هم نفع نہ اخلی. بلکہ دَ خاص مقررے منافعے دعوہ کوی.

دَ دے وجوهاتو پہ وجہ دَ تجارت او دَ سود پہ فائدو کښ دومرہ لوئے فرق دے چہ تجارت دَ انسان دَ ترقئ او دَ آبادئ دپارہ یو قوت جوړ یږی، او سود دَ انسان دَ زوال او دَ ختمیدلو سبب جوړ یږی. او دَ اخلاقو دَ طرفنہ هم وګورہ. سود پہ خلقو کښ کنجوسی، خود غرضی، سخت دلی، بے رحمی او دَ زرپرستئ صفتونہ پیدا کوی، او بل طرفتہ دَ همدردئ او دَ یو بل سرہ دَ نښیګړے صفتونہ ختموی. پہ دے وجہ پہ سود کښ نہ فائدہ شتہ او نہ ښہ اخلاق پیدا کول نو ځکہ سود د انسان دپارہ دَ تباهئ سبب دے.

[۳۱۹] دائے نہ دی فرمائیلی چہ څہ ئے خوړلی، هغہ بہ اللہ معاف کوی، بلکہ دائے فرمائیلی دی چہ دَ هغہ معاملہ دَ اللہ پہ حوالہ دہ. دَ دے فقرے نہ معلومیږی "چہ مخکښ یے څہ خوړلی، هغہ ئے خوړلی دی" دَ دے دا مطلب نہ دے چہ څہ ئے خوړلی دی هغہ معاف کړے شو بلکہ د دے نہ مراد صرف قانونی رعایت دے. یعنی کوم سود چہ مخکښ خوړلے شوے دے، پہ قانون کښ بہ دَ هغے دَ واپس ورکولو مطالبہ نشی کولے، ځکہ کہ چرے دَ داسے قسمہ سودونو مطالبے شروع شولے نو دَ مقدمو یوہ داسے سلسلہ بہ شروع شی چہ هیچرے بہ ختمہ نشی. خو دا دہ چہ کوم مال پہ سُود را جمع کړے شوے وی دَ هغے مال پلیتی بہ اخلاقی طور پخپل ځائے باقی وی. کہ چرے دغہ سړے پہ حقیقت کښ دَ خدائے نہ یریدونکے وی، او دَ اسلام قبلولو نہ روستو دَ هغہ دَ ګټے وتے خیال او دَ هغہ اخلاق بدل شوی وی، نو هغہ بہ دغہ دَ سود پہ ذریعہ را جمع شوے

خٰلِدُوْنَ ﴿۲۷۵﴾ يَمْحَقُ اللّٰهُ الرِّبٰوا وَيُرْبِي الصَّدَقٰتِ ۗ وَاللّٰهُ

همیشه وی۔ الله سود زیانوی او صدقے زیاتوی ۳۲۰ او الله

حرام مال په خپل ځان نه خرچ کوی، او دا کوشش به کوی چه څوک د رتلو معلوم وی چه هغوئ ته خپله حصه مال واپس کړی، او د کوم حصے د مال چه څوک معلوم نه وی، چه هغه مال د شریکے فائدے په کار کښ خرچ کړی۔ په دے کار سره کیدے شی چه د هغه ئے د سزا نه بچ شی۔ او څوک چه د سود په ذریعه د راجمع شوی مال نه هم دغه شان فائده اخلی نو کیدے شی چه سزا ورسیږی۔

۳۲۰ په دے آیت کښ یو دا سے صداقت بیان شوے دے چه د اخلاقو په حیثیت سره هم حق دے او د خیر بنیګړے د کار په حیثیت سره هم حق دے۔ په ظاهره خو دا سے معلومیږی چه په سود سره مال زیاتیږی او په صدقے او خیرات ورکولو سره مال کمیږی خو په حقیقت کښ خبره اُلټاده۔ دا د خدائے د فطرت قانون دے چه سود د اخلاقو او د خیر بنیګړے د کار د ترقی لاره بنده وی۔ او د دے نه برعکس د خیرات صدقے سره (چه پکښ قرض حسن هم شامل دے) اخلاق او د خیر بنیګړے هر کار وده مومی۔

په اخلاقی او روحانی حیثیت سره ورته ګورئ نو دا خبره واضحه ده چه سود په انسان کښ خود غرضی، کنجوسی، تنګ خیالی او سخت دلی پیدا کوی۔ او دے نه برعکس د خیرات صدقو سره په انسان کښ سخاوت همدردی، فراخ دلی او د وُچت شرافت صفتونه پیدا کیږی۔ دا دا سے څوک دے چه دے اول قسم صفتونو ته به بد او دے دویم قسم صفتونو ته به ښه ژوند وائی۔

د خیر بنیګړے په حیثیت سره ورته ګورئ نو په آسانه پرسرے پوهیږی چه په کومو خلقو کښ هر سرے خود غرضه وی، هغوئ هم د خپل غرض او د خپلے فائدے نه بغیر د چا په کار نه راځی، د یو حاجتمند سړی حاجت بل سړے ځان له د فائدے موقع کمزی او د هغه د حاجت نه ځان له پوره فائده اخلی، او د مالدار د خلقو فائدے د عامو خلقو په نقصانونو کښ وی، نو دغه خلق هیڅرے هم مضبوطیدے نشی۔ په هغوئ کښ به د محبت په ځائے بُغض او حسد ډیروی او د یو بل د غم درد نه به ناخبره یو بل سره بے تعلقه وی۔ او د هر سړی به همیشه انتشار او ځان ځانئی طرفته خیال وی۔ او که په دا سے حالت کښ ورسره لږے ډیرے خیرے نورے هم ملګرے شی نو بیا دا هم څه کرانه نه ده چه دغه په خپلو کښ یو بل سره ژغلی۔ دے نه برعکس چه په کومو خلقو کښ د یو بل سره همدردی وی، او هر سړے د بل په حق کښ د سخاوت نه کار اخلی، او هر سړے د حاجتمند سړی د زړه د اخلاصه امداد کوی، او مالدار د خلق د غریبو خلقو او د بے روزګاره خلقو سره امداد کوی او همدردی ورسره سائی، په دا سے خلقو کښ د یو بل سره مینه، خیرخواهی او د زړه محبت وی۔ د دا سے خلقو په خپلو کښ اتفاق وی او ټول به سیو مرتبه وی۔ خپلو کښ یو بل سره به پکښ جنګ جګړے نه وی۔ او په دے وجه به په دوئ کښ د اول قسم خلقو په نسبت ترقی ډیره وی۔

اوس ورته د فائدے په حیثیت سره ذکوره - په معاشیاتو کښ سودی قرض په دوه قسمه دے:

یو هغه قرض دے چه مجبوره او حاجتمند خلق ئے د خپلو ضرورتو نو پوره کولو د پاره اخلی - بل هغه قرض دے چه کاروباری خلق یئے د تجارت، د کاریګرئ یا د کروندے د پاره اخلی - په دے کښ په اول قسم قرض باندِ سود اغستل خو ټولهٔ دُنیا پیژلی چه ډیره تباه کُن طریقه ده - په دنیا کښ یو ملک داسے نشته چه په هغے کښ سوداګر خلق یا د سوداګرئ ادارے په دے ذریعه د غریبو مزدورانو، کروندګرو او د لږے آمدنئ د خلقو وینه نه څکی. د سود په وجه دا قسم قرض واپس ورکول دے خلقو ته ډیر مشکل شی بلکه اکثر خو ناممکنه شی. بیا هغه د یو قرض ورکولو د پاره بل قرض او د بل د پاره بل قرض را اخلی. د قرض د اصلی پیسو نه په څو څو چنده زیات سود ورکړی خو بیا هم اصلی قرض په ځائے پاتے وی. د مزدورکار سړی د آمدن زیاته حصه سوداګرو اخلی او د دے غریب سره د خپل بال بچ د ساتلو د پاره هم څه پاتے نشی. د دے په وجه د کارکوونکو خلقو د کار سره مینه او دلچسپی ختمه شی. ځکه چه د هغوئ د محنت ګټه بل څوک واخلی نو بیا هغوئ د زړهٔ په مینه کار نشی کولے - دغه شان د سود په قرضو کښ نختی خلق هر وخت دومره فکرمند او پریشانه وی، او د غریبئ په وجه یئے صحیح خوراک او علاج دومره مشکل وی، چه هر وخت بیمار او رنځور وی. د سود د قرضو دا نتیجه وی چه یو څو کسان خو د لکونو خلقو په وینه باندِ غټیږی، خو په شریکه د ټول قوم دولت د خپل حد نه ډیر کمیږی او په آخر کښ دا ظالمان پخپله هم د دے د نقصاناتو نه بچ پاتے نشی. ځکه چه د دے ظالمانو د خود غرضئ د وجے نه چه غریبو خلقو ته کوم تکلیفونه رسی، د هغے په وجه د عامو خلقو په زړونو کښ د مالدارو خلقو خلاف غصے او نفرت را پیدا شی، او کله چه د انقلاب په شکل کښ د غصے دا طوفان زور ؤ کړی نو بیا د دے ظالمانو مالدارانو د خپل مال سره د خپل ځان او د عزت خیر نه وی.

پاتے شو دویم قسم قرض چه خلق یئے د کاروبار د روانولو د پاره اخلی، نو په هغے کښ د مقرر سود ورکولو په وجه بے شمیره نقصانات وی. او په هغے کښ یو څو غټ غټ نقصانات دا دی:

(۱) په کوم کار کښ چه دومره ګټه نه وی چه هغه مقرر سود برابر کړی، هغه کار که د ملک او د قوم د پاره هر څومره ضروری او فائده مند وی، خو خلق د هغے د پاره پیسے نه لګوی، خلق په هغے کاروبار کښ پیسے لګوی چه هغه د مقرر سود برابر یا د هغے نه زیاتی ګټه کوی. خواه که د ملک او د قوم د پاره د هغے ضرورت او فائده ډیره کمه وی یا بالکل نه وی.

(۲) د کومو کارونو د پاره چه په سود پیسے ملاویږی، که هغه تجارتی کار وی یا د کاریګرئ یا د کرکیلے، په هغے کښ یو کار هم داسے نشته چه پکښ د دے خبرے ضمانت وی چه په هر حالت کښ به یوه مقرره منافع ضرور وی مثلاً په سلو کښ پنځه، شپږ یا لس روپئ، یا به د دے نه زیاته منافع وی. د دے خبرے ضمانت خو لا پریږده په هیڅ یو کاروبار کښ د سره دا خبره یقینی نه ده چه په هغے کښ به ضرور منافع وی او نقصان به پکښ هیچرے نه وی. دغه وجه ده چه هر هغه کار چه په هغے کښ د سرمایه دار سرمایه د یو مقرر سود په شرط لګیدلی وی، د نقصان او د خطرے نه هیچرے خالی کیدے نشی.



أَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ لَهُمْ أَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ ۚ وَلَا
خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٢٧٧﴾ يٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوا اتَّقُوا
اللّٰهَ وَذَرُوا مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبٰوٓا إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ ﴿٢٧٨﴾
فَإِنْ لَمْ تَفْعَلُوا فَأْذَنُوا بِحَرْبٍ مِنَ اللّٰهِ وَرَسُولِهٖ ۚ وَإِنْ تُبْتُمْ

مونځ قایم کړي او زکوٰة ورکړي، د هغوئ بدله بیشکه د خپل رب سره ده او د هغوئ د پاره نه ویره ده او نه غم هیڅ موقع نشته۔ ۳۲۲

اے هغه خلقو چه ایمان مو راوړے دے، د خدائ نه وویریږئ او کوم سود چه ستاسو په خلقو باندې باقي پاتے دے، هغه پریږدئ، که چیرے واقعي تاسو ایمان راوړے وی۔ خو که داسے مؤمنان نه کړل نو خبر شئ چه د الله او د هغه د رسول د طرف نه ستاسو خلاف د جنګ اعلان دے۔ ۳۲۳ اوس هم که تاسو توبه کړه (او سود مو پریښود و) نو خپله

۳۲۲ یه دے رکوع کښ الله تعالیٰ د دوه قسمه خلقو عمل نه د یو بل په مقابله کښ بیا بیا پیش کوی۔ یو قسم عمل د هغے خلقو دے چه هغوئ خود غرضه، په پیسو مین او په زره سخت وی، چه د خدائ د حق او د مخلوق د حق پروا نه لری، پیسے په شمار شمار سنبال ږدی او په دے فکر کښ وی چه په هغو هغو کښ او په مبادلت میاشت کښ د ډیر پیسے زیاتے شوے۔ بل قسم عمل د هغه خلقو دے چه هغوئ په خدائ مین، سخی او همدرد وی چه د خدائ او د خلقو د حقونو خیال ساتی، په خپلو مشتوکو کتې په خپله یې هم خوری او نورو له ئے هم درکوی او د زړه د اخلاص سره یې د نیکئ په کارونو کښ لګوی۔ اول قسم عمل د خدائ په بالکل نه دے خوښ۔ په دُنیا کښ په دے قسم عمل باندې یوه نیکه صالحه معاشره نشی جوړیدے، او په آخرت کښ دے قسم عمل د پاره د غمونو او د مصیبتونو نه بغیر بل هیڅ نشته۔ او دا دویم قسم عمل د الله خوښ دے۔ دے نه یوه نیکه صالحه معاشره جوړیږی او هم دغه عمل د انسان د پاره په آخرت کښ د خلاصی سبب دے۔

۳۲۳ د آیت د یو یا دوه ټکے د نبی ﷺ نه روستو نازل شوے دے او د مضمون د مناسبت په وجه دلته درج کړے شوے دے۔ دے نه معلومیږی سود هسے خو یو ناخوښه شے ګڼړے شوے لیکن قانوناً بند کړے شوے نه وو۔ دے له پس په اسلامی حکومت کښ سود یو قانونی جرم شو۔ د عرب و کومو قبیلو چه سود اخستلو، هغه ټول نبی صلی الله علیه وسلم د خپلو کارکنانو په ذریعه خبر کړل چه که چیرے د سود د سُودی کاروبار نه منع نه شول نو هغوئ سره به جنګ کیږی۔ د نجران عیسایانو نه چه کله د اسلامی حکومت لاندې په ملک کښ د ذمه خپلواکی ورکړے شوه نو په معاهده کښ ورسره دا خبره صفا کړے شوه که چیرے تاسو سُودی کاروبار نه ګڼړو نو معاهده به ختمه شی، او زموږ د او ستاسو په مینځ کښ به د جنګ حالت شروع شی۔ د آیت د

فَلَكُمْ رُءُوْسُ اَمْوَالِكُمْ ۚ لَا تَظْلِمُوْنَ وَلَا تُظْلَمُوْنَ ﴿۲۷۹﴾ وَاِنْ
كَانَ ذُوْ عُسْرَةٍ فَنَظِرَةٌ اِلٰى مَيْسَرَةٍ ؕ وَاَنْ تَصَدَّقُوْا خَيْرٌ لَّكُمْ
اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۲۸۰﴾ وَاتَّقُوْا يَوْمًا تُرْجَعُوْنَ فِيْهِ اِلَى
اللّٰهِ ۗ ثُمَّ تُوَفّٰى كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿۲۸۱﴾ ع



اصلی سرمایے تاسو حقدار یئی. مه تاسو ظلم کوئی او نه دِ په تاسو ظلم اُوشی. که ستاسو قرضداری لاس تنګ وی، نو دلاس هر تید و پورے ورته وګورئ، او که صدقه یے کړئ، نو دا ستاسو دپاره زیاته بهتره ده، که تاسو پوهه شوئ[۳۲۴] دهغے ورځے دَ رسوایئ او دمصیبت نه ځان وساتئ چه په هغے کښ به تاسو الله طرفته واپس کیږئ، هلته به هر سړی ته دَ خپلے کتلے شوے نیکئ یا بدئ بدله پوره پوره ملاویږی او هرګز به په چا ظلم زیاتے نه کیږی. ع

آخری الفاظو په وجه دَ ابن عباس، حسن بصری، ابن سیرین او دربیع بن انس دا رائے ده چه کوم سړے په دارالاسلام کښ سود خوری نو اول دِ هغه په توبه ایستلو مجبور کړے شی، خو که بیا هم منع نه شو نو قتل دِ کړے شی. د نورو علماؤ په رائے کښ د دا سے سړی دپاره تید کول کافی دی، تر څو پورے چه ئے توبه نه وی ایستلی او د سود پریښود و وعده ئے نه وی کړی نو تر هغے پورے دِ ئے نه پریږدی ـ

[۳۲۴] د دے آیت نه په شریعت کښ دا حکم را ایستلے شوے دے چه څوک قرض نشی ورکولے نو اسلامی عدالت به دَ هغه قرض غوښتونکے په دے مجبوره وی چه هغه له مهلت ورکړی، او په بعضے حالا تو کښ اسلامی عدالت ته دا اختیار هم وی چه پوره قرض یا د قرض یوه حصه په اغستونکی باندِ معاف کړی. حدیث دے چه یو سړی په کاروبار کښ نقصان وکړو او قرض پر ډیر زیات شو. معامله نبی صلی الله علیه وسلم له راغله. هغه خلقو ته اپیل وکړو چه د دے خپل رُور سره مدد وکړئ نو ډیرو خلقو ورسره امداد وکړو خو قرض بیا هم خلاص نه شو. بیا نبیؐ د هغه قرض غوښتونکو ته وفرمائیل چه دا څه حاضر دی دا واخلئ او دے پریږدئ. د دے نه زیاتے پیسے دے تاسو له نشی درکولے. فقهاؤ نوره هم څرګنده کړی ده چه دَ یو سړی دَ وسیدلو کور، دَ خوراک لوخی، دَ اغوستلو جامے او هغه اوزار چه دے پر خپله روزی ګټی، په هیڅ حالت کښ په قرض کښ نشی ورکړے کیدے.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا تَدَايَنْتُمْ بِدَيْنٍ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى
فَاكْتُبُوْهُ ؕ وَلْيَكْتُبْ بَّيْنَكُمْ كَاتِبٌۢ بِالْعَدْلِ ۪ وَلَا يَاْبَ كَاتِبٌ
اَنْ يَّكْتُبَ كَمَا عَلَّمَهُ اللّٰهُ فَلْيَكْتُبْ ۚ وَلْيُمْلِلِ الَّذِيْ عَلَيْهِ
الْحَقُّ وَلْيَتَّقِ اللّٰهَ رَبَّهٗ وَلَا يَبْخَسْ مِنْهُ شَيْـًٔا ؕ فَاِنْ
كَانَ الَّذِيْ عَلَيْهِ الْحَقُّ سَفِيْهًا اَوْ ضَعِيْفًا اَوْ لَا
يَسْتَطِيْعُ اَنْ يُّمِلَّ هُوَ فَلْيُمْلِلْ وَلِيُّهٗ بِالْعَدْلِ ؕ

اے هغه خلقو چه ایمان مو راوړے دے، کله چه تاسو پخپلو کښ دَ یوے خاص نیټے پورے د قرض لین دین کوئ[۳۲۵] نو هغه لیکئ[۳۲۶] ستاسو تر منځه دِ یو لیکوال په انصاف سره لیکل وُکړی۔ چاله چه الله دَ لیکلو لو ستلو قابلیت ورکړے وی، هغهٔ له پکار دی چه د لیکلو نه انکار نهٔ کوی۔ هغهٔ دِ لیکی او هغه سړے دِ ورته وائی چه په چا باندِ حق راځی (یعنی قرضدارے)، او هغه له پکار دی چه د خپل رب، الله نه وُ یریږی چه څه معامله شوی وی په هغے کښ دِ هیڅ کمے زیاتے نهٔ راولی۔ لیکن که قرضدارے پخپله ناپوهه یا ضعیف وی، یا (منشی ته) سمه خبره نشی کولے، نو دَ هغهٔ وَلی دِ ورته په انصاف سره وُ وائی۔

[۳۲۵] د دے نه دا حکم راوُځی چه د قرض په معامله کښ موده مقرره ول پکار دی۔

[۳۲۶] عام طور د دوستانو او عزیزانو په منځ کښ د قرض په معامله کښ رسید لیکل او گواهان پیش کول بنه کار نشی گڼړلے بلکه دَ بے اعتباری یو دلیل گڼړلے شی۔ لیکن دا الله حکم دا دے چه قرض او تجارتی رُقعے لیکل پکار دی او په هغے باندِ شهادت اغستل هم پکار دی چه د خلقو په منځ کښ معاملے صفا وی۔ په حدیث کښ راځی چه درے قسمه سړی داسے دی چه الله ته فریاد کوی خو فریاد ئے نهٔ اوریدلے کیږی۔ یو هغه سړے دے چه د هغهٔ ښځهٔ بد خویه وی او دے ورله طلاق نهٔ ورکوی۔ بل هغه سړے دے چه یتیم ته دَ حُلمیتوب نه مخکښ خپل مال حواله کړی۔ دریم هغه سړے دے چه چاله خپل مال قرض ورکړی او گواه پکښ کینه نئ۔

وَاسْتَشْهِدُوْا شَهِيْدَيْنِ مِنْ رِّجَالِكُمْ ۚ فَاِنْ لَّمْ يَكُوْنَا
رَجُلَيْنِ فَرَجُلٌ وَّامْرَاَتٰنِ مِمَّنْ تَرْضَوْنَ مِنَ الشُّهَدَآءِ
اَنْ تَضِلَّ اِحْدٰىهُمَا فَتُذَكِّرَ اِحْدٰىهُمَا الْاُخْرٰى ؕ وَلَا
يَاْبَ الشُّهَدَآءُ اِذَا مَا دُعُوْا ؕ وَلَا تَسْـَٔمُوْٓا اَنْ تَكْتُبُوْهُ
صَغِيْرًا اَوْ كَبِيْرًا اِلٰٓى اَجَلِهٖ ؕ ذٰلِكُمْ اَقْسَطُ عِنْدَ اللّٰهِ وَاَقْوَمُ
لِلشَّهَادَةِ وَاَدْنٰٓى اَلَّا تَرْتَابُوْٓا اِلَّآ اَنْ تَكُوْنَ تِجَارَةً حَاضِرَةً
تُدِيْرُوْنَهَا بَيْنَكُمْ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ اَلَّا

بیا دَ خپلو سړو نه[۳۲۷] دوه تنه سړي په هغې باندې ګواهان کړئ. او که دوه تنه سړي نه وي نو یو سړے او دوه ښځے دِوي چه که دَ یوے ښځے نه هیر شي نو هغه بله ښځه به ئے ورته وریاد کړي. دا ګواهان د دا سے خلقو نه پکار دي چه د هغوئ ګواهي ستاسو په منځ کښ مقبوله وي[۳۲۸]. ګواهانو ته چه کله د ګواه جوړید لو د پاره اُوویلے شي نو هغوئ له پکار دي چه د ګواهئ نه انکار ونه کړي. که معامله وړه وي او که لویه خو دَ خاص نیټے سره دَ هغے په لیکلو کښ سُستي مه کوئ. د الله په تر دا طریقه ستاسو د پاره ډیره دَ انصاف طریقه ده، په دے کښ د ګواهئ کولو د پاره زیاته آسانتیا وي او په شک شُبهه کښ دَ پریوتلو امکان ډیر کم وي. هڼ کوم تجارتي لین دین چه تاسو لاس په لاس پخپلو کښ کوئ، که هغه ونه لیکلے شي، نو خیر دے

[۳۲۷] یعنی دَ مسلمانانو سړو نه. د دے نه دا معلومه شوه چه چرته ګواهان نیول دَ خپل اختیار کار وي نو هلته دِ مسلمان صرف مسلمانان سړي خپل ګواهان نیسي - البته د زمیانو ګواه ذمي هم کیدے شي.

[۳۲۸] مطلب دا دے چه هر سړے دَ ګواهئ د پاره موزون نه دے - دا سے خلق ګواهان کوئ چه د خپلو ښو اخلاقو او د دیانتدارئ په وجه په عامو خلقو کښ قابل اعتماد ګڼلے شي -

تَكْتُبُوْهَا ؕ وَاَشْهِدُوْٓا اِذَا تَبَايَعْتُمْ ۪ وَلَا يُضَآرَّ كَاتِبٌ وَّ
لَا شَهِيْدٌ ؕ وَاِنْ تَفْعَلُوْا فَاِنَّهٗ فُسُوْقٌۢ بِكُمْ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ
وَيُعَلِّمُكُمُ اللّٰهُ ؕ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿۲۸۲﴾ وَاِنْ
كُنْتُمْ عَلٰى سَفَرٍ وَّلَمْ تَجِدُوْا كَاتِبًا فَرِهٰنٌ مَّقْبُوْضَةٌ ؕ

څه ګناه پکښې نشته،[۳۲۹] خو د تجارتي معاملو کولو په وخت کښې ګواهان نيئ. ليکونکی او ګواه له دې تکليف نشي ورکيدے.[۳۳۰] که داسے موو کړل نو ګناه به کوئ. د الله د غضب نه ځان ساتئ. هغه تاسو له د عمل د صحيح طريقے تعليم درکوي، او هغه ته د هر څيز علم دے.

که چرے تاسو په سفر کښې يئ او د ليکلو د پاره درته ليکونکے ملاؤ نه شي، نو (خپله) معامله د څه څيز په ګانړه نيولو روا نه کړئ.[۳۳۱]

[۳۲۹] مطلب دا دے چه د ورځے ورځے په سودا اغستلو خرڅولو کښې ليکل کول خو ډير ښه دي، لکه څنګه چه نن صبا د کيش ميمو ليکلو طريقه ده، خو بيا هم که چا داسے ونه کړله نو خير دے لازمي نه ده. دغه شان ګاونډي سوداګران چه د يو بل سره شپه ورځ کوم لين دين کوي، که په هغے کښې هم ليکل ونکړي نو خير دے ګناه پکښې نشته.

[۳۳۰] د دے مطلب دا هم دے چه څوک په دے مه مجبوره وئ چه خامخا ستاسو د پاره ليکل وکړي يا ګواهي وکړي، او د مطلب ئے هم دے چه که ليکونکے يا ګواه ستاسو خلاف ګواهي ورکوي نو هغه مه تنګوئ.

[۳۳۱] دا مطلب نه دے چه ګانړه صرف په سفر کښې کيدے شي او په کور کلي کښې نشي کيدے. دلته دا ذکر په سفر کښې په دے وجه شوے دے چه اکثر داسے حالت په سفر کښې زيات راځي چه ليکونکے نه وي او د سړي حاجت پيښ شي. دغه شان دا هم شرط نه دے چه ليکل ممکن نه وي نو هله د ګانړه کوي، که ليکل ممکن وي او که نه وي ګانړه جائز ده. د دے نه علاوه داسے هم کيدے شي چه کله يو اځے په ليکلو څوک قرض ورکولو ته تيار نه وي نو قرض اغستونکے د څه څيز د هغه سره ګانړه کيدي او قرض د تر را واخلي. ليکن قرآن خپلو منونکو ته د سخاوت تعليم ورکوي، او د ادبنهٔ اخلاقو خبره نه ده چه د يو سړي سره مال وي او هغه د يو ضرورتمند ته تر هغے قرض نه ورکوي تر څو چه ئے د هغه نه څه څيز نه وي ګانړه کړے، او په دے وجه قرآن د دے دويم صورت ذکر قصداً نه دے کړے.

په دے سلسله کښې دا هم پکار دي چه سړي ته معلومه وي چه د څيز په ګانړه نيولو کښې مقصد صرف دا دے چه قرض ورکونکي ته د خپل قرض واپس اغستلو تسلي راشي. قرض ورکونکي ته دا حق حاصل نه دے چه د ګانړه شوي څيز نه فائده واخلي، که چا يو کور د چا نه په ګانړه کښې نيولے وي، نو په هغے کښې په خپله

فَاِنْ اَمِنَ بَعْضُكُمْ بَعْضًا فَلْيُؤَدِّ الَّذِي اؤْتُمِنَ اَمَانَتَهٗ
وَلْيَتَّقِ اللّٰهَ رَبَّهٗ ؕ وَلَا تَكْتُمُوا الشَّهَادَةَ ؕ وَمَنْ يَّكْتُمْهَا فَاِنَّهٗۤ
اٰثِمٌ قَلْبُهٗ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ عَلِيْمٌ ﴿۳۸۳﴾ ع لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَ
مَا فِي الْاَرْضِ ؕ وَاِنْ تُبْدُوْا مَا فِيْۤ اَنْفُسِكُمْ اَوْ تُخْفُوْهُ



که په تاسو کښې یو تن په بل باندې اعتبار وکړی او دهغه سره دلین دین څه معامله وکړی، نو په چا چه اعتبار شوے وی، هغه له پکار دی چه امانت ادا کړی او دخپل رب نه ویر یږی۔ او ګواهی هیچرے مه پټوئ۔[۳۳۲] څوک چه ګواهی پټوی، دهغه زړه په ګناه ککړ دی۔ او خدائے ستاسو دعملونو نه ناخبره نه دے ع

په آسمانونو[۳۳۳] او په زمکه کښې هر څه چه دی، هغه ټول د الله دی۔[۳۳۴] تاسو که دخپل زړه خبرے ښکاره کړئ او یا یے پټے وساتئ

وسیدل یا دهغے کرایه اغستل دواړه په اصل کښې سود خوراک دے۔ په قرض پیسو باندې سود اغستل او دګانړه شوی څیز نه فائده اغستل یو څیز دے د اصولو په لحاظ سره پکښې هیڅ فرق نشته۔ البته که یو ځناور په ګانړه کښې اغستلے شوے وی د هغے پیئ استعمالول په هغے سورلی کول او په هغے بوج وړل روا دی، ځکه چه دا په اصل کښې د هغے خوراک بدله ده کومه چه دے دغه ځناور له ورکوی۔

۳۳۲ د ګواهئ نه ځان بچ کول، یا غلطه ګواهی کول، دواړه په "ګواهئ پټولو" کښې راځی۔

۳۳۳ دا د خبرے خاتمه ده۔ څنګه چه د سورة شروع د دین د بنیادی تعلیماتو نه شوی وه، دغه شان د سورة په آخر کښې هم هغه ټول اصولی حکمونه بیان کړے شوی دی کوم چه د دین اسلام بنیاد دے۔ د دے سره د مقابلے کولو د پاره د دے سورة اوله رکوع بیا وګوره، نو دا به زیاته فائده منده وی۔

۳۳۴ دا د دین اولنے بنیاد دے، چه د زمکے او د آسمانونو مالک الله تعالیٰ دے او دا څه چه په زمکه او په آسمانونو کښې دی دا ټول د الله ملکیت دے نو د دے بنیادی حقیقت په وجه د انسان د پاره د الله وړاندې د اطاعت سر ښکته کول پکار دی۔ د دے نه بغیر بله یوه طریقه هم صحیح او جائزه نه ده۔

يُحَاسِبْكُمْ بِهِ اللّٰهُ ۖ فَيَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ ۗ
وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿٢٨٤﴾ اٰمَنَ الرَّسُوْلُ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِ
مِنْ رَّبِّهٖ وَالْمُؤْمِنُوْنَ ۭ كُلٌّ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَمَلٰٓئِكَتِهٖ
وَكُتُبِهٖ وَرُسُلِهٖ ۣ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْ رُّسُلِهٖ ۣ وَقَالُوْا
سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا ۡ غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَاِلَيْكَ الْمَصِيْرُ ﴿٢٨٥﴾

الله به پهرحال کښ دهغې حساب تاسو سره کوی. بیا دهغه اختیار دے، چه څوک معاف کول غواړی معاف به یې کړي، اوچه چاله سزا ورکول غواړي سزا به ورکړي. هغه په هرشيز باندې طاقت لري۔

رسول په هغې حکمونو باندې ايمان راوړے دے کوم چه دخپل رب طرفنه په هغه باندې نازل شوی دی۔ او کومو خلقو چه دا رسول منلے دے هغوی هم داحکمونه ډاډه منلی دی۔ دوی قبول الله اود هغه فرښتے، اود هغه کتابونه اود هغه رسولان منی۔ او قبول داوائي چه "موږ نه دالله رسولان دیو بل نه نه جدا کوو، موږ ځکه دا وریدو او قبول مو کړو۔ اے زمونږ ربه! موږ نه ستانه دخطا گانو بخښنه غواړو اوهم تا تهه واپس درځوښ

---

۲۳۵ پهه دے فقره کښ نوره دوه خبره شوی دی۔ یوه داچه هر انسان به ځان له الله له جواب ورکوی. بله داچه انسان به ډاډه زړه کے اود آسمانونو کوم بادشاه له جواب ورکوی هغه په پته اوپه بنکاره په دواړو باندې علم دے، ترهغه پورے چه د زړونو پټتیا راته دے اوخیالات ډاډه نه پټ نه دی۔

۲۳۶ دا دالله تعالیٰ دمطلق اختیار اتو بیانوے۔ هغه د څه قانون پابند نه دے چه خامخا به مجبوراً دهغې مطابق عمل کوی، بلکه هغه کل اختیار مالک دے۔ دسزا ورکولو اود معافی کولو پوره اختیارات هغه تر حاصل دی۔

۲۳۷ پهه دے آیت کښ مختصر طور دا سلامی عقیدو اود اسلامی ژوند خلاصه بیان کړے شوی ده. هغه خلاصه دا ده: الله پاک، د هغۀ فرښتے، اود هغه کتابونه منل۔ بغیر د څه فرق نه د هغه قول رسولان منل۔ (فرق دا دے چه څوک منی اوڅوک نه منی) اودا یقین ساتل چه آخرنه آخر موږ به الله ته حاضریږو۔ دا پنځه خبرے دا سلام بنیادی عقیدے دی۔ دده عقیدو قبلو نه روستو دیو مسلمان ډاډه صحیح ژوند دا دے چه دا الله د طرفنه کوم حکم راځی هغه په سرتر کو قبول کړی، هغه د منی اوپه خپل نیک عمل باندې غره نه وی بلکه هر وخت دالله نه معافی غواړی۔

لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا ؕ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا
مَا اكْتَسَبَتْ ؕ رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَآ اِنْ نَّسِيْنَآ اَوْ اَخْطَاْنَا ۚ
رَبَّنَا وَلَا تَحْمِلْ عَلَيْنَآ اِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهٗ عَلَى الَّذِيْنَ

الله په هیچا باندې دهغهٔ دَ وَس نه زیات د ذمه وارئ بوج نهٔ اچوی.[۳۳۸] هرچا چه څه نیکی کړی ده، دهغې ثواب هم دهغهٔ دے، او چه چا بدی کړیده دهغې سزا هم په هغهٔ ده.[۳۳۹]
(اے مومنانو تاسو په دے طریقه دُعا غواړئ) اے زموږ ه ربه که زموږ نه په هیره یا په خطا څه ګناه وشی نو په هغې موږ مهٔ نیسه، اے ربه! په موږ ه هغه بار مهٔ اچوه کوم چه تا زموږ نه

۳۳۸ یعنی د الله په نزد انسان ذمه واری د انسان د خپل وس مطابق ده. دا سے به هیچرے نهٔ وی چه بنده به دیو کار کولو طاقت نهٔ لری او الله به تر تپوس کوی چه تا فلانے کار ولے نهٔ دے کړے. یا به دیو څیز نه بچ کیدل په حقیقت کښ دهغه په وَس کښ نهٔ وی او خدائے به ئے پرنیسی چه تا دے نه ځان ولے بچ نهٔ کړو. لیکن دا یاد لرئ چه د خپل وَس او د طاقت فیصلے کولو والا انسان پخپله نهٔ دے. دا فیصله یو الله کولے شی چه په حقیقت کښ څوک د کوم څیز طاقت لری او د کوم څیز طاقت نهٔ لری.

۳۳۹ دا د الله دَ بدلے ورکولو دویمه قاعده ده. هر سړے به انعام په هغه خدمت اخلی کوم چه هغهٔ پخپله کړے وی. دا کیدے نشی چه دیو سړی په خدمت باندې بل سړے انعام واخلی. او دغه شان هر سړے به په هغه ګناه نیولے کیږی کومه چه هغه پخپله کړی وی. دا نشی کیدے چه دَ یو په ګناه کښ بل راؤ نیولے شی. هڅ که یو سړی دیو نیک کار بنیاد کیښودو، او په دنیا کښ دَ هغې کار اثر د زرګونو کالو پورے چلیدو، نو دا ضرور ممکن ده چه هغه ټول ثوابونه دَ هغه په عملنامه کښ ؤ لیکلے شی. او دغه شان که یو بل سړی دیو بد کار بنیاد کیښودو او په سوؤنو کالو دَ هغې اثر په دنیا کښ چلیدو، نو دا ضرور ممکن ده چه دهغې ګناه دهغې اول ظالم په عملنامه کښ درج کړے شی. لیکن دا ټول بنه یا بد، هر څه چه وی، دا به هم دَ هغه د خپل کار نتیجه وی. خو دا په هیڅ حال کیدے نشی چه په یوه نیکئ یا بدئ کښ د سړی د خپل نیت یا کوشش څهٔ حصه نهٔ وی او د هغې ثواب یا عذاب د دهٔ ته ملاؤ شی. دَ عملونو بدلے یو بل ته د اَوړیدلو څیز نهٔ دے.

مِنْ قَبْلِنَا ۚ رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهٖ ۚ
وَاعْفُ عَنَّا ۙ وَاغْفِرْ لَنَا ۙ وَارْحَمْنَا ۙ اَنْتَ مَوْلٰىنَا
فَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ع (۲۸۶)



په مخکښ خلقو باندې اچولے ؤو۔[۳۴۰] پروردګاره! چه د کوم بار د ورلو طاقت په موږ ه کښ نشته، هغه په موږ ه مه ږده۔[۳۴۱] موږ سره نرمی ؤکه، موږ ه معاف که، په موږ رحم وکه، ته زموږ مولیٰ یې، د کافرانو په مقابله کښ زموږ ه مدد ؤکړه۔[۳۴۲] ع

۳۴۰ یعنی زموږ ه مخکینو مذکرو ته چه ستا په لار کښ کوم آزمیښتونه پیښ شوی دی، او د کومو سختو آزمیښتونو نه چه هغوئ تیر شوی دی او چه کوم مشکلات د هغوئ مخے ته راغلی دی، د هغے نه موږ ه بچ ؤ ساتے۔ اګرچه د الله دا طریقه ده چه څوک هم په حق پسے تلی دی هغوئ په سخت آزمیښتونو او فتنو کښ ګیر شوی دی، او چه کله آزمیښتونه مخے ته راشی نو د مؤمن دا کار دے چه پوره په صبر سره د هغے مقابله ؤکړی۔ لیکن په هر حال کښے مؤمن له دا پکار دی چه د الله نه دا دُعا غواړی چه اے الله موږ ته د حق لاره آسانه کړے۔

۳۴۱ یعنی د مشکلاتو دومره بار په موږ ه اچوه څومره چه موږ ؤړلے شو۔ دومره آزمیښت را باندې کوه چه موږ ه ئے پوره کولے شو۔ داسے نه چه زموږ د طاقت نه زیاتے سختئ په موږ باندې راشی او د حق د لارے نه زموږ ه قدمونه ؤخوئیږی۔

۳۴۲ د دے دُعا په اصل رُوح باندې د پوهیدلو د پاره دا خبره په خیال کښ ساتل پکار دی چه دا آیتونه د هجرت نه تقریباً یو کال مخکښ د معراج په موقع نازل شوی ؤو، په هغه وخت کښ په مکه کښ د کفر او د اسلام جنګ انتها ته رسیدلے ؤو، په مسلمانانو باندې مصیبتونه او سختئ کیدلے، او یواځے مکه نه، بلکه د عرب په زمکه باندې داسے یو ځائے نه ؤو چه هلته د مسلمانانو ؤسیدل ګران شوی نه ؤو۔ په دے حالاتو کښ مسلمانانو ته دا نصیحت کیدو چه د خپل مالک نه دُعا په دے طریقه غواړئ۔ ښکاره خبره ده چه ورکونکے پخپله غوښتونکی ته د غوښتلو طریقه ؤښائی، نو د ملاویدو یقین په خپله پیدا کیږی۔ د غه وجه ده چه دا دُعا په دغے وخت کښ د مسلمانانو د پاره د زړه ټکور شو۔ د دے نه علاوه په دے دُعا کښ پټ مسلمانانو ته دا نصیحت هم شوے دے چه خپل جذبات دِ په غلط طرف نه استعمالوی بلکه خپل جذبات دِ د دے دُعا مطابق استعمال کړی۔ یو طرفته دے ظلمونو ته ؤګوره چه صرف د حق پرستئ د جرم په وجه په خلقو باندې کیږی، او بل طرفته دے دُعا ته ؤګوره چه پکښ د دُشمن خلاف هیڅ تلخی

نشته - یو طرفته هغه بدنی تکلیفونو او هغه مالی نقصانونو ته وګوره چه پکښ دا خلق مبتلا ؤو، او بل طرفته دے دُعا ته وګوره چه پکښ دَ دُنیائی فائدو غوښتلو نوم نشان نشته - یو طرفته د مسلمانانو انتهائی بد حالئی ته وګوره، او بل طرفته هغه وُچتو او پاکو جذباتو ته وګوره چه د کوم نه دا دُعا ډکه ده، ددے نه دا صحیح اندازه لګیدلے شی چه په هغه وخت کښ مؤمنانو ته څنګه اخلاقی او روحانی تربیت ورکیدے شو۔

بقیهٔ حاشیه ۵۵

دَ آدم علیه السلام دَ پیدائیش په وخت کښ دَ الله او دَ فرښتو په منځ کښ چه کومے خبرے اترے شوے وے، د هغے ذکر په تلمود کښ هم راغلے دے، خو دَ هغے نه هم هغه روحانی تسکین چا ته نهٔ ملاویږی کوم چه دَ قرآن دَ بیان کړے شوی قصے نه ملاویږی - بلکه په هغے کښ دا لطیفه هم ده چه کله فرښتو دَ الله نه تپوس وکړو چه انسان ولے پیدا کوے۔" نو الله تعالیٰ ورله جواب ورکړو چه په هغوئ کښ نیکان خلق پیدا شی۔" د بدو خلقو ذکر الله وُ نهٔ کړو. کنئ نو فرښتو به د انسان د پیدائیش منظوری نهٔ وه ورکړے۔

(Talmudic Miscellany, Paul Isaac Hershon-LONDON 1880, P.294-95).

تفہیم القرآن

آل عمران

۳

آلِ عِمْرَان

نوم | په دے سورت کښ په یوځائے کښ دَ "آلِ عمران" ذکر راغلے دے. هم دغه ورله دَ پیژندګلو دَ نښے په طور نوم ایخښو دلے شوے دے۔

دنازلیدو زمانه او دمضمون حصے | په دے کښ څلور تقریرونه دی:

اولنے تقریر دَ سورت دَ شروع نه دَ څلورمے رکوع دَ اولنو دوؤ آیتونو پورے دے او دا تقریر غالباً دجنګ بدر نه روستو ډیر زر نازل شوے دے۔

دَویم تقریر دآیت اِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰٓى اٰدَمَ وَنُوْحًا وَّاٰلَ اِبْرٰهِيْمَ وَاٰلَ عِمْرَانَ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ (الله تعالیٰ آدمؑ او نوحؑ او آلِ ابراهیم او آل عمران دَ دُنیا په نورو خلقو باندِ دَ خپل رسالت دکار دپاره غوریز کړی ؤو) نه شروع کیږی او دَ شپږمے رکوع دَ آخر پورے ختمیږی. دا تقریر په نهمه هجرئ کښ دَ نجران دَ وفد دَ راتلو په وخت نازل شوے دے۔

دَریم تقریر دا ؤومے رکوع نه ددولسمے رکوع دَ آخر پورے دے او دا سے معلومیږی لکه چه دا تقریر دا ولنی تقریر سره متصل نازل شوے وی۔

څلورم تقریر دد یارلسمے رکوع نه د سورت دآخره پورے دے او دجنګ احُد نه روستو نازل شوے دے۔

خطاب او بحثونه | ددے مختلفو تقریرونو مقصد او مدعا او مرکزی مضمون یوشان دے۔ او په دے وجه دا ټول تقریرونه یو روان مضمون دے۔ د سورت دینا خاص طور دوؤ ډلو ته ده: یو اهل کتاب (یهودیان او عیسایان) بل هغه خلق چه په محمد صلی الله علیه وسلم باندِ ئے ایمان راوړے ؤو۔

اولے ډلے ته په هغے طرز تبلیغ شوے دے په کوم طرز چه د سورتِ بقرے نه شروع شوی وه۔ هغوئ ته په غلطر عقیدو او په خرابو اخلاقو باندِ خبردارے ورکړے شوے دے او دا ورته وئیلے شوی دی چه دا رسول او دا قرآن هغه دین ته خلق را بلی کوم دین ته چه دَ اول نه ټولو پیغمبرانو خلق را بللے دے او کوم چه دَ الله د فطرت مطابق یو حق دین دے. ددے دین دَ نیغے لارے نه چه کومے بدلے لارے تاسو اختیار کړی دی، هغه په هغه کتابونو کښ هم صحیح نه دی کوم چه تاسو ئے آسمانی کتابونه منئ۔ لهٰذا دکوم څیز د صداقت نه چه تاسو انکار نشئ کولے هغه صداقت قبول کړئ۔

دویمه ډله، چه اوس دیو بهترین امت په حیثیت دَ حق پورته کوونکی او دَ دُنیا دا صلاح ذمه دار ګرزولے شوی دی، هغوئ ته د کار لورے هغه خبرے شوی دی

کومے چه د سورت بقرے نه هغوئ ته شروع شوی وے. هغوئ ته د مخکینی اُمتونو د مذهب او د اخلاقو د زوال عبرتناکے خبرے شوی دی او د اورته ویلے شوی دی چه د هغوئ پشان د کارکولو نه ځان ساتی. هغوئ ته د خلقو د اصلاح د پاره د کارکولو طریقه ښودلے شوی ده، او د اهل کتابو او د منافقانو سره د معاملے کولو طریقه ورته ښودلے شوی ده. په جنګ اُحد کښ چه کومے کمزورئ د هغوئ نه شوی وے هغه ورته هم د اصلاح په غرض په ګوته کړے شوی دی.

دغه شان دا سورت نه یواځے پخپله یو روان سورت دے بلکه د سورت بقرے سره ئے دومره نزدے تعلق ښکاری لکه چه په دے سورت باندے هغه مکمل شوے وی او داسے معلومیږی لکه چه د دے سورت خپل مقام د سورة بقرے سره متصل وی.

شانِ نزول

د سورت په حقله وړاندے تیر شوے تاریخ دا دے:

(۱) په سورةِ بقره کښ چه مومنانو ته د وخت نه مخکښ د کومو آزمیښتونو او مصیبتونو او مشکلاتو خبر دارے ورکړے شوے وُو، هغه ټول د پوره سختئ سره راغلی وُو. په جنګ بدر کښ مومنانو ته فتح حاصل شوی خو وه، لیکن دا جنګ د مچوګبین له ګوتے وروړل وُو. د کومو طاقتونو چه د دے نوی تحریک (اسلام) سره دشمنی وه، هغه ټول د دے وسله بند جنګ سره را بیدار شوی وُو. هر طرفته د طوفان اثر ښکاره کیدو، مسلمانانو سره هر وخت یره او پریشانی وه، داسے معلومیده چه د مدینے دا ورکوټے کلے، چه د ګیر چاپیره ټولے دنیا سره ئے جنګ ته غاړه ایښودلے وه، دا به د دنیا د مخ نه ختم کړے شی. د دے حالاتو خراب اثر د مدینے په مالی حالت باندے پریوتلے وُو. اول خو د کنړو مهاجرینو په ناسا په راتللو سره د مدینے مالی توازن خراب شوے وُو. او بیا پرے نور مصیبت د دے جنګ په وجه راغے.

(۲) د هجرت نه روستو چه نبی صلی الله علیه وسلم د مدینے د خواؤ شاه یهودی قبیلو سره کومے وعدے کړے وے، هغوئ د خپلو وعدو هیڅ لحاظ وُنه کړو. د جنګ بدر په موقع د اهلِ کتابو همدردی د مسلمانانو ځائے د بُت پرستو مشرکانو سره وه. د بدر د جنګ نه روستو دے خلقو په ښکاره قریش او د عربو نورے قبیلے مسلمانانو ته قهرولے او بدلے اغستلو ته ئے تیاره ول. خاص طور د بنی نضیر قبیلے سردار کعب بن اشرف په مخالفت کښ ډیر زور لګولے وُو. دے یهودیانو د مدینے والو د ګاونډ ګیرئ او د دوستئ هم هیڅ لحاظ وُنه ساتلو. په آخر کښ چه کله د هغوئ شرارتونه او وعده خلافئ د حد نه زیاتے شوے، نو نبی صلی الله علیه وسلم د بدر د جنګ نه یوځو میاشتے روستو په بنی قینقاع قبیله باندے، چه په دے یهودی قبیلو کښ د ټولو نه زیات شریر خلق وُو، حمله وُکړه او د مدینے نه ئے بهر وُو بیستل. لیکن په دے سره د نورو یهودی قبیلو غصه نوره هم زیاته شوه. هغوئ د مدینے د منافق مسلمانانو او د حجاز د مشرکو قبیلو سره ساز باز وُکړو او اسلام او مسلمانانو ته ئے د هر طرفنه خطرے را پیدا کړلے، تر دے پورے چه د نبی صلی الله علیه وسلم

په حقله هروخت دا فکر وُو چه کله به پرِ دوژلو حمله کیږی. صحابهٔ کرام به په دے زمانه کښ دَ وسلے سره وُدهٔ کیدل. د حملے دَ یرے به دَ شپے څو کیداری کیدله. چه نبی صلی الله علیه وسلم به لږ شان د سترګو نه پناه شو نو د صحابهٔ کرامو سره به یَره پیدا شوه او دَ هغهٔ د تلاش د پاره به اخوا دیخوا اُووتل.

(۳) په جنګ بدر کښ د شکست خوړلو نه روستو دَ قریشو په زړونو کښ پخپله د بدلے اغستلو ؤ ور بلیدو او د پاسه پریهودیانو نور تیل واړول. نتیجه ئے دا شوه چه یو کال روستو د مکے نه درے زره لښکر په مدینه باندِ حملے کولو په غرض را روان شو، او دَ اُحد د غونډئ په لمن کښ هغه جنګ وُشو، چه د جنګ اُحد په نوم باندِ مشهور دے. درے جنګ د پاره دَ نبی صلی الله علیه وسلم سره یو زر کسان د مدینے نه را وتلی وُو. خو په لاره کښ ترِ درے سوه منافقان جُدا شو او مدینے ته واپس لاړل. او کوم او وه سوه کسان چه دَ نبیؐ سره پاتی شوی وُو په هغے کښ هم د منافقانو ډله شامله وه چه د جنګ په دوران کښ به ئے په مسلمانانو کښے فتنے اچولو کوشش کولو. دا اوله موقع وه چه پته وُلګیده چه په مسلمانانو کښ د ننه دومره ډیر منافقان موجود دی او هغوئ د بهر دشمنانو سره ملاؤ دی او خپلو رونړو ته نقصان رسوی.

(۴) په جنګ اُحد کښ چه مسلمانانو ته کوم شکست وُشو، اګرچه په هغے کښ دَ منافقانو ډیر لاس وُو لیکن ورسره دَ مسلمانانو د خپلے کمزورئ هم ډیره حصه وه او دا یو د قدرتی خبره وه چه د یو خاص طرز فکر کومه ډله اوس تازه تازه جوړه شوی وه، او چه دَ هغے اخلاقی تربیت لا مکمل شوے نه وُو، او دَ هغوئ د خپلے عقیدے په حق کښ دَ جنګ دا صرف دویمه موقع وُه نو دَ هغوئ په کار کښ به څه کمزوریانے ضرور ښکاره کیدلے. په دے وجه دا یو ضرورت وُو چه د جنګ نه روستو په دے جنګ باندِ ښه په تفصیل سره تبصره وُکړے شی، او په دے جنګ کښ چه کومے کمزوریانے په مسلمانانو کښ وے، هغه یوه یوه کمزوری په ګو ته کړے شی او د هغے دا صلاح په حقله هدایات جاری شی. په دے باره کښ دا خبره په خیال کښ را وستل ضروری دی چه په دے جنګ باندِ قرآن کومه تبصره کړی ده هغه د هغے تبصرو نه څو مره مختلفه ده، کومه چه دَ دُنیا جنریلان دَ جنګونو نه روستو کوی.

آیاتها ۲۰۰ سُوْرَةُ اٰلِ عِمْرٰنَ مَدَنِيَّةٌ رکوعاتها ۲۰

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الٓمّٓ ۝۱ اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّوْمُ ۝۲ نَزَّلَ عَلَيْكَ الْكِتٰبَ
بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ وَاَنْزَلَ التَّوْرٰىةَ وَالْاِنْجِيْلَ ۝۳

ا۔ ل۔ م۔ الله هغه همیشه ژوندے ذات دے، چه ټول کائنات یے په قابو کښ دے، دهغه نه بغیر بل خدائے نشته دے۔[1]

هغه په تا باندِ دا کتاب نازل کړو چه د حق سره راغلے دے او دَ هغے کتابونو تصدیق کوی چه ړومبی تر نازل کړے شوی وُو. دَ دے نه مخکښ هغه دَ انسانانو دَ هدایت د پاره تورات او انجیل نازل کړی دی۔[2]

[1] دَ تشریح د پاره اوګوره سورة بقره، حاشیه ع ۲۷۸۔

[2] عام طور خلق وائی چه د تورات نه مُراد دَ بائیبل دَ پخوانئ زمانے لیکلے شوی اولنی پنځه کتابونه دی او د انجیل نه مراد دَ نوے زمانے لیکلے شوی څلور مشهور انجیلونه دی. په دے وجه سړے پریشانه کیږی چه آیا واقعی دا کتابونه کلام الٰهی دی؟ او آیا قرآن واقعی دَ هغے ټولو خبرو تصدیق کوی کومے چه په دے کتابونو کښ دی؟ لیکن اصلی حقیقت دا دے چه تورات د بائیبل د اولنو پنځو کتابونو نوم نه دے، بلکه تورات په دغے پنځو کتابونو کښ د ننه درج دے، او انجیل دَ نوے زمانے دَ څلورو انجیلونو نوم نه دے بلکه په دغے څلورو کتابونو کښ د ننه درج دے۔

په اصل کښ دَ تورات نه مُراد هغه حکمونه دی کوم چه دَ حضرت موسیٰ علیه السلام دَ نبوت نه د هغه د وفات پورے تقریباً د څلویښتو کالو په دوران کښ په هغه باندِ نازل شوی وُو. په هغے کښ خولس حکمونه هغه وُو، کوم چه الله تعالیٰ د کانړی په تختو باندِ لیکلی هغه له ورکړی وُو. باقی حکمونه حضرت موسیٰؑ په چا لیکلی وُو او دَ هغے دولس[12] نقلونه ئے دَ بنی اسرائیلو دولسو[12] قبیلو له ورکړی وُو. او یو نقل ئے بنی لاوی ته حواله کړے وُو چه هغه ئے په حفاظت کښ وساتی. د دغے کتاب نوم "تورات" وُو. دا کتاب دَ بیت المقدس دَ اولے تباهئ دَ وخته پورے محفوظ وُو. د دے کوم نقل چه بنی لاوی ته د حفاظت د پاره حواله کړے شوے وُو، هغه د کانړی دَ تختو سره دَ عهد په صندق کښ ایښودلے شوے وُو او بنی اسرائیلو ښه پیژندو چه دا "تورات" دے. لیکن د دے نه هغوئ دومره بے پروا شوی وُو چه کله د یهودیه بادشاه یوسیاه په زمانه کښ د هیکل سلیمانی مرمت کیدونو سردار کاهن (یعنی د هیکل په ګدئ ناست او د قوم د ټولو نه لوئے مذهبی مشر) خلقیاه ته چرته اتفاقی په یو ځائے کښ تورات ملاؤ شو او هغه د بادشاه منشی له د یونا آشنا څیز په حیثیت ورکړو او منشی بیا بادشاه له په داسے طریقه ویوړو لکه چه یو ډیر نا آشنا څیز ښکاره شوے وی (وګوره ۲. سلاطین، باب ۲۲. آیت ۸ تا ۱۳)۔

دغه وجه ده چه کله بخت نصر یروشلم فتح کړو او دهیکل سره ئے ټول بنار لوټے لوټے کړو نو د بنی اسرائیلو سره چه د تورات کومے اصلی نسخے څه لږے ډیرے وے، خو هغه هم د بے علمئ په وجه لکه چه بالکل د هغوئ نه هیرے وے، هغه د هغوئ نه د همیشه د پاره ورکے شولے۔ بیا چه کله د عزرا کاهن (په کدئ ناست خلیفه مذهبی مشر عزیر) په زمانه کښ د بنی اسرائیلو څه لږ ډیر پاتی شوی خلق د بابل د قید نه واپس یروشلم ته راغلل او دوباره بیت المقدس آباد شو، نو عزرا د خپل قوم د نورو مشرانو په مدد سره د بنی اسرائیلو ټول تاریخ ولیکو چه اوس پکښ د بائیبل اولنی اولس کتابونه شامل دی۔ د دے تاریخ په څلورو بابونو کښ، یعنی خروج، احبار گنتی او استثنا کښ د حضرت موسیٰ علیه السلام سیرت دے، او په دے سیرت کښ دننه دننه د تورات هغه آیتونه د موقع مطابق، د نزول په ترتیب سره، درج کړے شوی دی، کوم چه عزرا او د هغه نورو مشرانو مددگارانو له پلاس ورغلی وو۔ نو په اصل کښ اوس تورات د هغه خورو ورو حصونوم دے کوم چه د موسیٰ علیه السلام په سیرت کښ دننه خور دور پروت دے۔ موږ ئے صرف په دے نښه پیژندے شو چه د دے تاریخ د بیان په دوران کښ کوم ځائے کښ چه د موسیٰ سیرت لیکونکے ووائی چه خدائے پاک موسیٰ ته دا وفرمائیل، یا موسیٰ ووئیل چه خداوند ستاسو خدائے دا وائی، نو د هغه ځائے نه د تورات یوه حصه شروع شی، او کله چه بیا د سیرت تقریر شروع شی نو هلته هغه حصه ختمه شی۔ په منځ کښ چه د بائیبل لیکونکی د تفسیر په طور څه زیات لیکلی دی، د عام سړی د پاره د هغے پیژندل ډیر سخت مشکل دی چه آیا دا د تورات حصه ده او که تفسیر دے۔ بیا هم چه کوم خلق په آسمانی کتابونو کښ بصیرت لری، هغوئ دا معلومه ولے شی چه په کوم کوم ځائے کښ د تفسیر په طور زیاتے حصے شامل کړے شوی دی۔

قرآن دے خورو ورو حصو ته "تورات" وائی۔ او د دغے حصو تصدیق کوی، او دا حقیقت دے چه که دغه حصے را جمع کړے شی او د قرآن سره ئے مقابله وکړے شی نو د یو څو جزوی حکمونو د اختلاف نه بغیر په اصولی تعلیماتو کښ په دواړو کتابونو کښ د ویخته هومره فرق نشته۔ اوس هم یو لوستونکے ښکاره په دے پوهیدلے شی چه د دے دواړو کتابونو اصل بالکل یو دے۔

دغه شان انجیل هم په اصل کښ د هغے الهامی خطبو او اقوالونوم دے کوم چه مسیح علیه السلام د خپل ژوند په آخری دوه نیم دریو کالو کښ د نبی په حیثیت فرمائیلی وو۔ دغه پاکے کلے د هغوئ په ژوند کښ لیکلے شوی وے او که نه وے د دے زموږ سره هیڅ معلومات نشته۔ کیدے شی چه چا د ځان سره لیکلی وی او چا په یاد و یاد کړی وی۔ بهرحال چه کله ډیره موده روستو د عیسیٰ په سیرت باندے مختلف کتابونه ولیکلے شو په هغے کښ د تاریخی بیان سره سره هغه خطبے او قولونه هم ځائے په ځائے د موقعے مطابق ولیکلے شو کوم چه د دغے کتابونو لیکوالو ته په یاد و یاد لیک په ذریعه را رسیدلی وو۔ نن چه متی، مرقس، لوقا، او یوحنا کتابونو ته انجیلونه وئیلے کیږی، دا په اصل کښ انجیلونه نه دی، بلکه انجیل د حضرت مسیح هغه ونیا او قولونه دی کوم چه په دے کتابونو کښ دننه درج دی۔ موږ سره د دے کلام د پیژندلو صرف دا یوه ذریعه ده چه کوم ځائے کښ سیرت لیکونکی دا وئیلی وی چه مسیح دا وفرمائیل یا مسیح خلقو ته دا تعلیم ورکړو، نو د هغه ځائے نه اصلی انجیل شروع شو۔ قرآن دغے ځایونو ته انجیل وائی او د دغے تصدیق کوی۔ نن که څوک دغه خواره واره قولونه را جمع کړی او د قرآن سره ئے

مِنْ قَبْلُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَاَنْزَلَ الْفُرْقَانَ ؕ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا
بِاٰيٰتِ اللّٰهِ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيْدٌ ؕ وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ ذُو انْتِقَامٍ ﴿۴﴾
اِنَّ اللّٰهَ لَا يَخْفٰى عَلَيْهِ شَيْءٌ فِي الْاَرْضِ وَلَا فِي السَّمَآءِ ؕ ﴿۵﴾
هُوَ الَّذِيْ يُصَوِّرُكُمْ فِي الْاَرْحَامِ كَيْفَ يَشَآءُ ؕ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ
الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿۶﴾ هُوَ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ عَلَيْكَ الْكِتٰبَ

او هغهٔ هغه فرقان نازل کړے دے (چه دَ حق او د باطل فرق ښودونکے دے). اوس چه کوم خلق د الله دَ حکمونو قبلولو نه انکار وکړی، هغوئ ته به یقیناً سخته سزا ملاویږی. الله د لوئ طاقت مالک دے او د بدئ بدله ورکونکے دے.

د زمکے او دَ آسمان هیڅ څیز د الله نه پټ نه دے[۳]. دا خو هم هغه دے چه ستاسو شکلونه ستاسو دَ میندو په خیټو کښ هغسے جوړه وی چه څنګه ئے خوښه شی[۴]. د دغے زبردست حکمت والا نه بغیر بل هیڅ خدائے نشته. هم دغه خدائے دے چه په تائے دا کتاب نازل کړے دے.

مقابله وکړی نو ډیر کم فرق به ورته پکښ ښکاره شی، او که دَ تعصب نه پاک غور او فکر وکړے شی نو بیا دغه لږ ډیر فرق ختمیدے شی.

[۳] یعنی هغهٔ دکائینا تو په ټولو حقیقتونو باندِ عالم دے، نو کوم کتاب چه هغه نازل کړے وی پکار دی چه هغه سراسر حق وی. بلکه خالص حق خو انسان ته صرف په هغے کتاب کښ ملاویدے شی، چه هغه د دغے پوهه او دانا د طرفنه نازل شوے وی.

[۴] په دے کښ دوو لویو حقیقتونو ته اشاره ده: یو دا چه ستاسو فطرت (نیت او طبیعت) څنګه هغه ښه پیژنی دغسے ئے نهٔ تاسو پخپله پیژندے شئ او نهٔ بل څوک. نو ستاسو د پاره په هغه باندِ د اعتبار او د بروسے کولو نه بغیر بله لار نشته. بل دا چه هغه ستاسو دَ مورد خیټے نه راواخله د پیدائش پورے او د پیدائش نه روستو په هره مرحله کښ دَ وړو وړو ضرورتونو پوره کولو انتظام کړے دے، نو دا څنګه کیدے شی چه هغه دَ دُنیا په ژوند کښ تاسو ته د لارے ښودلو انتظام وُ نه کړی، حالانکه تاسو ته چه د کوم څیز د ټولو نه زیات ضرورت دے او تاسو ورته د ټولو نه زیات محتاجه یئ، هغه هم دغه د ژوند صحیح لاره ده.

مِنْهُ اٰيٰتٌ مُّحْكَمٰتٌ هُنَّ اُمُّ الْكِتٰبِ وَ اُخَرُ مُتَشٰبِهٰتٌ ؕ

په دے کتاب کښ دوه قسمه آیتونه دی: یو محکمات، چه د کتاب اصل بنیادی آیاتونه دی[۵] او بل متشابهات آیاتونه دی.[۶]

[۵] محکم کلک او پوخ څیز ته وائی. د "محکمات آیاتونو" نه مراد هغه آیاتونه دی چه وینائے صفا ده، چه مطلب ئے واضحه دے، چه د هغے د الفاظو معنی د خپلے مدعا سره یو شان ده، او چه د هغے د ډیرو معنو کولو موقع په مشکله هم چا ته نه ملاویږی. دا آیاتونه "د کتاب اصلی بنیادی آیاتونه دی" یعنی قرآن چه د کوم غرض د پاره نازل شوے دے هغه غرض دا آیتونه پوره کوی. هم په دغے آیتونو کښ ټولے دُنیا ته د اسلام راوړلو غږ شوے دے، هم په هغے کښ د عبرت او نصیحت خبرے شوی دی، په هغے کښ د ټولو غلطو لارو تردید او د نیغے لارے تشریح شوی ده. په هغے کښ د دین بنیادی اصول بیان شوی دی، په هغے کښ عقیده، عبادت، اخلاق، فرض او د کولو او د نه کولو حکمونه بیان شوی دی. نو کوم سړے چه په حق پسے کړئ او قرآن د دے د پاره کوری چه په کومه لار لاړ شی او په کومه لار نه ځی، نو د هغه د پاره محکمات آیتونه اصل بنیادی آیتونه دی، او د خپل میلان مطابق به د هغه توجه او خیال هم دغے آیتونو ته راکړئ او هم د دغے نه به زیاته فائده اخلی.

[۶] متشابهات یعنی هغه آیتونه چه په مطلب کښ ئے اشتباه راتلے شی.

دا ښکاره خبره ده چه د انسان د پاره تر هغے پورے د ژوند هیڅ یوه لار مقرر کیدے نشی تر څو پورے چه د کائناتو حقیقت، د کائناتو شروع او خاتمه او په هغے کښ د انسان حیثیت او د نورو داسے بنیادی او ضروری خبرو معلومات انسان ته نه وی شوی. او دا هم ظاهره ده چه کوم څیزونه انسان په لاسو څپو، سرسترګو او غوږونو نشی معلومولے یعنی د انسان د حواسونه پورته وی، او هغه د انسان په علم کښ نه چرته راغلی وی او نه راتلے شی، او نه هغه چرته لیدلی وی نه یے څکلی وی او نه یے لاس ورو ړی وی، نو د دا قسم څیزونو د پاره د انسان په ژبه کښ داسے موزون او مناسب الفاظ نه شی ملاویدے چه د هغے په اوریدلو سره د هر سړی په ذهن کښ د هغے صحیح شکل جوړ شی. نو دا ضروری ده چه د دا قسم څیزونو د پاره هغه الفاظ استعمال کړے شی چه د انسان په ژبه کښ اصل حقیقت ته د ډیر نزدے محسوس څیزونو د پاره استعمالیږی. چنانچه د انسان د علم نه پورته څیزونو د پاره په قرآن کښ داسے ژبه استعمال شوی ده او د متشابهات نه مراد هغه آیتونه دی چه په هغے کښ دا قسم ژبه استعمال شوی ده.

لیکن د دے ژبے د استعمال سره د زیاتونه زیاته فائده بس دومره کیدے شی چه سړے حقیقت ته نزدے کړی یا د سړی په خیال کښ د حقیقت نرے نرے شکل پیدا شی. د دے قسم آیتونو په مطلب لټولو کښ چه څومره زیات کوشش کیږی، هغومره به شک شبهه زیاته پیدا کیږی، تر دے چه انسان حقیقت

فَاَمَّا الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ زَيْغٌ فَيَتَّبِعُوْنَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ
ابْتِغَآءَ الْفِتْنَةِ وَابْتِغَآءَ تَاْوِيْلِهٖ ۚ وَمَا يَعْلَمُ تَاْوِيْلَهٗٓ
اِلَّا اللّٰهُ ۘ وَالرَّاسِخُوْنَ فِي الْعِلْمِ يَقُوْلُوْنَ اٰمَنَّا بِهٖ ۙ كُلٌّ مِّنْ عِنْدِ
رَبِّنَا ۚ وَمَا يَذَّكَّرُ اِلَّآ اُولُوا الْاَلْبَابِ ۝۷ رَبَّنَا لَا
تُزِغْ قُلُوْبَنَا بَعْدَ اِذْ هَدَيْتَنَا وَهَبْ لَنَا مِنْ لَّدُنْكَ رَحْمَةً ۚ
اِنَّكَ اَنْتَ الْوَهَّابُ ۝۸ رَبَّنَآ اِنَّكَ جَامِعُ النَّاسِ لِيَوْمٍ

وقف لازم
وقف منزل
وقف النبي صلى الله عليه وسلم

دکوم خلقو په زړونو کښ چه کوږوالے دے، هغوئ دَ فتنے جوړولو په لټون کښ همیشه په متشابهاتو آیتونو پسے ورپسے وی او دهغے د بدَلو بدَلو معنو کولو کوشش کوی، حالانکه دهغے په حقیقی مطلب د الله نه بغیر بل څوک نه پوهیږی. او کوم خلق چه پاخه عالمان دی، هغوئ وائی چه "زمونږ په دے باندِ ایمان دے، دا ټول زمونږه درب د طرفنه نه دی"[۷] او رښتیا داده چه صرف هوښیاران خلق دیو څیز نه صحیح سبق اخلی. هغوئ د الله نه دُعا غواړی چه "اے زمونږ پروردګاره! چه یو ځل دِ مونږ په سیده لارسم کړی یو، نو بیا زمونږه زړونه مه کږه وه. مونږ ته دَ خپلے خزانے رحمتونه را او بخښه، ځکه چه ته حقیقی بخښونکے یئے. اے ربه! ته بیشکه دا ټول خلق په یوه داسے ورځ راجمع کونکے یئے، چه دَ هغے په راتلو کښ

ته د نزدے کیدلو په ځائے نورهم لرے کیږی. نو کوم خلق چه د حق تلاش کونکی دی، او د فضولو او بے فائدو خبرو شوق نه لری، د هغوئ په خیال کښ چه دَ متشابه آیتونو نه د حقیقت کوم خړخړ شکل پیدا کیږی په هغے باندِ صبر کوی، او خپله ټوله توجه محکم آیتونو ته راولی، لیکن څوک چه فضول او شرپسند او فتنه باز خلق دی، د هغوئ ټوله مشغله په متشابه آیتونو کښ بحث او لټون کول وی.

[۷] دلته د چا د اشک رانشی چه کوم خلق دَ متشابهاتو په مطلب نه پوهیږی، نو په هغے به ایمان څنګه راوړی. حقیقت دا دے چه یو هوښیار سړے د محکم آیتونو د مطالعے نه دا یقین حاصلوی چه قرآن د الله کلام دے او د متشابه آیتونو د مطالعے نه ئے نه حاصلوی. او کله چه ورته په محکم آیتونو کښ د غور و فکر کولو نه دا اطمینان حاصل شی چه دا کتاب واقعی د الله کتاب دے نو بیا متشابهات د هغه په زړه کښ شک نه پیدا کوی. تر کومه پورے چه د هغے سیده ساده مطلب د هغه په خیال کښ راځی په هغے عمل کوی، او کوم ځائے کښ چه ورته کړکیچ او مشکلات ښکاره شی هلته د ژور تللو په ځائے د الله په کلام سرسری ایمان راوړی او خپله توجه د کار خبرو ته راګرزوی.

لَّا رَيْبَ فِيْهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُخْلِفُ الْمِيْعَادَ ﴿۹﴾ ع اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا
لَنْ تُغْنِيَ عَنْهُمْ اَمْوَالُهُمْ وَلَآ اَوْلَادُهُمْ مِّنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا ؕ
وَاُولٰٓئِكَ هُمْ وَقُوْدُ النَّارِ ﴿۱۰﴾ لا كَدَاْبِ اٰلِ فِرْعَوْنَ لا وَالَّذِيْنَ
مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا ۚ فَاَخَذَهُمُ اللّٰهُ بِذُنُوْبِهِمْ ؕ وَاللّٰهُ
شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿۱۱﴾ قُلْ لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا سَتُغْلَبُوْنَ وَتُحْشَرُوْنَ
اِلٰى جَهَنَّمَ ؕ وَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴿۱۲﴾ قَدْ كَانَ لَكُمْ اٰيَةٌ فِيْ فِئَتَيْنِ
الْتَقَتَا ؕ فِئَةٌ تُقَاتِلُ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَاُخْرٰى كَافِرَةٌ يَّرَوْنَهُمْ

هیڅ شک نشته. تهٔ هیچرے دَ خپلے وعدے نه اوړیدونکے نهٔ یئے." ع

کومو خلقو چه دکفر لار اختیار کړی ده[۸]، دالله په مقابله کښ به نهٔ دَ هغوئ خپل مال پکار راشی او نهٔ اولاد. دهغوئ نه به دَ دوزخ خشاک جوړیږی. دهغوئ به هغسے انجام وی لکه څنګه چه دفرعون دَ ملګرو او دهغوئ نه مخکښ دنافرمانو خلقو شوے دے چه هغوئ دَ الله آیتونه دروغ وګڼل، نتیجه ئے دا شوه چه الله هغوئ دَ خپلو ګناهونو په وجه راونیول او حق دا دے چه الله سخت سزا ورکونکے دے. پس اے محمدؐ! کومو خلقو چه ستا دعوت نه اِنکار کړے دے هغوئ ته وُوایه چه هغه وخت نزدے دے چه په تاسو باندِ به غلبه وکړے شی او جهنم ته به وُشړلے شئ او جهنم ډیر خراب ځائے دے. ستاسو دپاره په هغه دوُو ډلو کښ دَ عبرت یوه نښه وه، چه (په بدر کښے) دیو بل سره وُجنګیدلے. یوه ډله دالله په لار کښ جنګیدله او بله ډله دکافرانو وه. کتونکو دسر په سترګو لیدله چه دکافرانو ډله

[۸] دَ تشریح دپاره اوګوره سورة بقرة، حاشیه ۱۶۱

مِّثْلَيْهِمْ رَأْيَ الْعَيْنِ ؕ وَاللّٰهُ يُؤَيِّدُ بِنَصْرِهٖ مَنْ يَّشَآءُ ؕ اِنَّ
فِيْ ذٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّاُولِي الْاَبْصَارِ ﴿۱۳﴾ زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ
الشَّهَوٰتِ مِنَ النِّسَآءِ وَالْبَنِيْنَ وَالْقَنَاطِيْرِ
الْمُقَنْطَرَةِ مِنَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَالْخَيْلِ الْمُسَوَّمَةِ

دَ مومنانو دپلے دوه دومره ده[۹]. خو (دَ نتیجے نه ثابته شوه چه) الله چاله وُغواړی هغه له خپله فتح او امداد ورکوی. دَ سترګو دَ خاوندانو دپاره په دے کښ ډیر عبرت پټ پروت دے[۱۰]
دخلقو دپاره زړه غوښتونکی څیزونه - لکه ښځے، اولاد، دَ سرو سپینو ډیری، ښه اسونه،

[۹] اګرچه حقیقی فرق درے چند ه وُو، لیکن کرهسے په سرسری نظر ورته چاکتل نوهم ورته داسے ښکاریدل چه دکفارو لښکر د مسلمانانو نه دوچند دے۔

[۱۰] دجنګ بدر واقعه په دغه وخت کښ په نزدے زمانه کښ تیره شوی وه، ځکه خو دهغے نتیجو ته د عبرت اغستلو دپاره د خلقو پام راګرزولے شوے دے. په دے جنګ کښ درے خبرے ډیرے دَ عبرت دی۔

یوه دا چه مسلمانان او کافران په کوم شان سره دیو بل مقابلے له راغلی وو، دهغے نه دَ دواړو اخلاقی فوق ښکاره معلومیږی. یو طرفته دکافرانو په لښکر کښ دشرابو دورچلیدو، دګډا او دسندرو دپاره ورسره ښځے راغلے وے ښه عیش وعشرت وُو. بل طرفته دَ مسلمانانو په لښکر کښ پرهیزګاری، دَ خدائے نه یره، ښکلی اخلاق، مونځونه او روژے وے، او په خبره خبره باندِ دَ خدائے نوم اغستل وُو. او دَ خدائے نه به دعاګانے غوښتلے کیدے۔ په دواړو لښکرو کښ هرسړی په آسانه معلومولے شوه چه دالله په لاره کښ پکښ څوک جنګ کوی۔

بله دا چه د مسلمانانو تعداد کم وُو، وسله او سامان ورسره لږ وُو خو سره ددے هغوئی دَ کافرانو دَ ګڼړ تعداد او دوسله بند فوج په مقابله کښ کامیاب شو۔ ددے نه دا صفا معلومه شوه چه دَ هغوئی سره دالله تائید او امداد وُو۔

دریمه دا چه کوم خلق دالله دَ لوئی طاقت نه غافله وُو او په خپله وسله سامان او دملګرو په ګڼړ تعداد باندِ غره وُو، دا واقعه دهغوئی دپاره ددے خبرے یو سخت خبردارے وُو چه الله دَ یو څو خوارو غریبو او بے وطنه مهاجرو او دَ مدینے دکروندګرو په ذریعه دعربو دسرقبیلے قریشو له شکست ورکولے شی۔

وَالْاَنْعَامِ وَالْحَرْثِ ؕ ذٰلِكَ مَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ وَاللّٰهُ عِنْدَهٗ
حُسْنُ الْمَاٰبِ ﴿۱۴﴾ قُلْ اَؤُنَبِّئُكُمْ بِخَيْرٍ مِّنْ ذٰلِكُمْ ؕ
لِلَّذِيْنَ اتَّقَوْا عِنْدَ رَبِّهِمْ جَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ
خٰلِدِيْنَ فِيْهَا وَاَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ وَّرِضْوَانٌ مِّنَ اللّٰهِ ؕ
وَاللّٰهُ بَصِيْرٌۢ بِالْعِبَادِ ۚ ﴿۱۵﴾ اَلَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَآ اِنَّنَآ
اٰمَنَّا فَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَا وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ۚ ﴿۱۶﴾ اَلصّٰبِرِيْنَ

څاروی او د فصل زمکے — ډیر ښائسته جوړ کړے شوی دی، خو دا ټول د دنیا د یو څو ورځو د ژوند سامان دے. په حقیقت کښ چه کوم ښه مقام دے، هغه د الله سره دے. ورته ووایه چه آیا زه درته وښایم چه د دے نه زیات ښه څیز څه دے؟ کومو خلقو چه د تقوی لار اختیار کړه، د هغوئ د پاره د خپل رب سره باغونه دی، چه لاندې به تر ولے بهیږی، هلته به هغوئ ته همیشه ژوند حاصل وی، پاکیزه ښځے به د هغوئ ملګری[11] وی او د الله رضا به ورته حاصله وی. الله د خپل بندګانو په هر حرکت باندې ژور نظر لری[12]. دا هغه خلق دی چه وائی چه "اے زمونږه ربه! مونږه ایمان راوړو، زمونږه خطاګانے معاف کړه او مونږه د دوزخ د وور نه بچ کړه". دا خلق صبر کونکی دی،[13]

[11] د تشریح د پاره اوګوره سورة بقره حاشیه ع۲۷

[12] یعنی الله غلط بخشش نه کوی او نه سرسری فیصلے کوی. هغه د بندګانو عملونه نیتونه او ارادے ښه پیژنی. هغه ته ښه معلومه ده چه په بندګانو کښ څوک د هغه د انعام حقدار دی او څوک نه دی.

[13] یعنی په حقه لار کښ پوره کلک دی، په څه نقصان موندلو یا په څه مصیبت رسیدلو همت نه بائیلی، د څه ناکامیابئ سره ئے زړه نه ماتیږی، په لالچ کښ نه راځی، او په داسے حالت کښ ئے هم د حق لمن مضبوطه نیولی وی کله چه په ظاهره د حق د کامیابئ امکان نه وی. (اوګوره سورة بقرة، حاشیه ع۶۰)

وَالصّٰدِقِيْنَ وَالْقٰنِتِيْنَ وَالْمُنْفِقِيْنَ وَالْمُسْتَغْفِرِيْنَ
بِالْاَسْحَارِ ﴿۱۷﴾ شَهِدَ اللّٰهُ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۙ وَالْمَلٰٓئِكَةُ وَ
اُولُوا الْعِلْمِ قَآئِمًا بِالْقِسْطِ ؕ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿۱۸﴾ ؕ
اِنَّ الدِّيْنَ عِنْدَ اللّٰهِ الْاِسْلَامُ ۫ وَمَا اخْتَلَفَ الَّذِيْنَ

رښتنی دی، فرمانبردار او سخیان دی او د شپے په آخری وختونو کښ د الله نه د بخښنے دعا کانے غواړی.
خدائے پخپله گواهی کوی چه د هغه نه بغیر بل خدائے نشته[۱۴] او (د اگواهی)
فرښتو او ټولو عالمانو هم کړی ده[۱۵]. هغه په انصاف قائم دے. واقعی د هغه
زبردست حکیم نه سوا بل خدائے نشته. د الله په نز دین صرف اسلام[۱۶] دے.
د دے دین نه علاوه چه کومے مختلفے طریقے هغه خلقو اختیار کړے چاله چه کتاب

[۱۴] یعنی الله پاک چه د کائناتو د ټولو حقیقتونو علم لری، چه ټول څیزونه بے پردے وینی، چه د هغه نه په زمکه او په آسمان کښ هیڅ څیز پټ نشته، دا د هغه گواهی ده ——— او د هغه نه به زیاته معتبره د ستر گولیدلی گواهی د بل چاوی ——— چه په ټول جهان کښ د هغه د خپل ذات نه بغیر بله داسے هستی نشته چه په هغه کښے د خدائیئ صفت موجود وی، چه هغه د خدائیئ د اقتدار مالک وی او چه هغه د خدائیئ د حقونو حقدار وی.

[۱۵] د الله نه روستو د ټولو نه زیاته معتبره گواهی د فرښتو ده، ځکه چه هغوئ د ټول جهان د بادشاهئ انتظام چلونکی اهل کار دی، او هغوئ د خپل ذاتی علم په وجه د اگواهی ورکوی چه په دے بادشاهئ کښ د الله نه بغیر د بل چا حکم نه چلیږی، او د هغه نه بغیر بله داسے هستی نشته چه هغه ته د فرښتے په انتظامی کارونو کښ ورځی. د فرښتو نه روستو چه کومو خلقو ته د حقیقت په باره کښ څه لږ ډیر علم حاصل شوے دے، هغوئ ټول د اول شروع نه د عن پورے په اتفاق سره د اگواهی ورکوی چه خدائے د دے ټول جهان مالک او چلونکے دے.

[۱۶] یعنی د الله په نز د انسان د پاره د ژوند صرف یو نظام او یوه طریقه صحیح او درسته ده، او هغه دا ده چه انسان الله پاک خپل مالک او د عبادت لائق ومنی او د هغه بندگئ او غلامئ ته خپل ځان ټول حواله کړی، او د هغه د بندگئ کولو طریقه ځان له پخپله نه جوړه وی، بلکه هغه چه د خپلو پیغمبرانو په ذریعه کوم هدایت رالیږلے دے صرف هغه بغیر د څه کمی زیاتی قبول کړی. د دے قسمه فکر و عمل نوم "اسلام" دے او دا خبره سراسر حقه ده چه د کائناتو خالق او مالک د خپل مخلوق او رعیت د پاره د دے اسلام نه بغیر د ژوند بله یوه طریقه هم قبوله نه کړی. سړے په خپله بے وقوفتیا سره ځان له دهریت، شرک یا بت پرستی خوښولے شی، خو دا د کائناتو د بادشاه په نظر کښ بالکل سرکشی او بغاوت دے.

اُوْتُوا الْكِتٰبَ اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَهُمُ الْعِلْمُ بَغْيًاۢ بَيْنَهُمْ ؕ
وَمَنْ يَّكْفُرْ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ فَاِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ﴿۱۹﴾ فَاِنْ
حَآجُّوْكَ فَقُلْ اَسْلَمْتُ وَجْهِيَ لِلّٰهِ وَمَنِ اتَّبَعَنِ ؕ وَقُلْ
لِّلَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ وَالْاُمِّيّٖنَ ءَاَسْلَمْتُمْ ؕ فَاِنْ اَسْلَمُوْا

ورکړے شوے ؤو، دهغوئ ددے مختلفو طریقو اختیار ولو وجه ددے نه بغیر بله هیڅ نه وه چه هغوئ دَ علم راتلو نه روستو په خپلو کښ په یو بل باندې زیاتے کول غوښتل[۱۷] او څوک چه د الله دحکمونو او هدایاتو منلو نه انکار وکړی، نو د هغه نه په حساب اغستلو کښ د الله څه وخت نه لږی. اوس که چرے تاسره د اخلق جګړه کوی نو ته ورته ؤوایه چه " ما او زما پیروکارانو خو د الله حکم ته غاړه کیښودلے ده؛ او بیا دَ اهل کتابو او دَ غیر اهل کتابو امیانو نه تپوس وکړه چه " آیا تاسو هم د هغهٔ حکمونو ته غاړه ایښودلے ده[۱۸]؟" نو که غاړه ئے کیښودله

[۱۷] مطلب دا دے چه دَ دنیا په هر ځائے کښ او په هره زمانه کښ چه کوم پیغمبر د الله دَ طرفنه راغلے دے، دَ هغهٔ دین اسلام ؤو، او دَ دُنیا په هره ژبه کښ هر قوم ته چه کوم کتاب نازل شوے دے هغهٔ دَ اسلام تعلیم ورکړے دے. په دے اصل دین کښ چه د کمی زیاتی راوستلو په وجه کوم مختلف مذهبونه په انسانانو کښ شروع شول، ددے وجه ددے نه بغیر بله هیڅ نه وه چه خلقو دخپل جائز حد نه زیات حقونه او فائدے ؤ غوښتلے او دخپل خواهشاتو مطابق ئے د اصل دین عقیدے، اُصول او حکمونه بدل کړل.

[۱۸] یا دا سے ؤ کنړه چه " ما او زما منګرو خو هغه خالص اسلام قبول کړے دے کوم چه دَ خدائے اصل دین دے. اوس تاسو ؤوایئ چه آیا تاسو هغه زیاتے خبرے پریږدئ کومے چه ستاسو مشرانو دَ دین سره شامل کړی دی، او دے اصل او حقیقی دین طرفته راځئ او که نه؟

فَقَدِ اهْتَدَوْا ۚ وَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنَّمَا عَلَيْكَ الْبَلٰغُ ؕ وَاللّٰهُ
بَصِيْرٌۢ بِالْعِبَادِ ﴿۲۰﴾ ع اِنَّ الَّذِيْنَ يَكْفُرُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَ
يَقْتُلُوْنَ النَّبِيّٖنَ بِغَيْرِ حَقٍّ ۙ وَّيَقْتُلُوْنَ الَّذِيْنَ يَاْمُرُوْنَ
بِالْقِسْطِ مِنَ النَّاسِ ۙ فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ﴿۲۱﴾ اُولٰٓئِكَ
الَّذِيْنَ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ فِى الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ز وَمَا لَهُمْ
مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ﴿۲۲﴾ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ اُوْتُوْا نَصِيْبًا مِّنَ الْكِتٰبِ

نو سمه لارئے بیاموندله، اوکه ددے نه ئے مخ واړه وُو نو په تاباندِ خوصرف دَ پیغام درسَولو ذمه واری وه. وړاندِ الله پخپله دَ خپلو بندګانو معاملات وینی کوری ـ ع

کوم خلق چه دالله دحکمونو منلو نه انکار کوی، او دَ هغه پیغمبران برناحقه وژنی، او هغه خلق وژنی کوم چه دَ خدائے په مخلوق کښ دعدل وانصاف دحکم کولو دپاره راپاسی، نو دغے خلقو ته د دردناکے سزا زیرے واوره وه[19]. دا هغه خلق دی چه په دنیا او په آخرت دواړو کښ ئے عملو نه عبث لاړل[20] او دهغوئ مددګار هیڅوک نشته[21]

تا نه دے لیدلے چه کومو خلقو ته دَ کتاب دَ علم نه څه حصه ملاؤ ده، دَ هغوئ حال څه دے؟

[19] دا هغے دَ ټوقو په طور یوه خبره ده. مطلب دا دے چه هغوئ نن په کومو کارونو باندِ خوشحالیږی او وائی چه مونږ ډیر ښه کار کوو، هغوئ ته وُوایه چه ستاسو دے کارونو انجام دا دے.

[20] یعنی هغوئ خپل ټول طاقتونه او کوششونه په داسے لار کښ لګولی دی چه نتیجه ئے په دنیا کښ هم خرابه ده او په آخرت کښ هم.

[21] یعنی هیڅ یو طاقت داسے نشته چه دهغوئ دا غلط عملونه دفائدے قابل کړی یا کم از کم دومره شی چه دوئ د بد انجام نه خلاص کړی. په کومو کومو طاقتونو چه دوئ دا اعتبار لری چه هغه به په دنیا یا په آخرت یا په دواړو ځایونو کښ د دوئ په کار راشی، په حقیقت کښے به دَ هغه نه هیڅ یو طاقت هم د دوئ په امداد رانشی.

يُدْعَوْنَ إِلَىٰ كِتَٰبِ ٱللَّهِ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ يَتَوَلَّىٰ فَرِيقٌ
مِّنْهُمْ وَهُم مُّعْرِضُونَ ﴿٢٣﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوا لَن تَمَسَّنَا
ٱلنَّارُ إِلَّآ أَيَّامًا مَّعْدُودَٰتٍ ۖ وَغَرَّهُمْ فِى دِينِهِم مَّا كَانُوا
يَفْتَرُونَ ﴿٢٤﴾ فَكَيْفَ إِذَا جَمَعْنَٰهُمْ لِيَوْمٍ لَّا رَيْبَ فِيهِ ۖ وَ
وُفِّيَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿٢٥﴾

هغوئ خوچه کله د الله کتاب ته ددے دپاره راوبللے شي چه هغه د دوئ په منځ کښ فیصله[22] وکړي، نو په هغوئ کښ یوه ډله د هغے نه څنګ کوي او فیصلے ته د راتلو نه مخ اړه وي. دوئ داسے کار ځکه کوي چه دوئ وائي "د دوزخ وُور خو به په مونږ پورے لګي هم نه او که چرے د دوزخ سزا مونږ ته ملاؤ هم شي نو بس یو څو ورځے به وي[23]." هغوئ چه کومے غلطے عقیدے ځان له جوړے کړي دي دغے عقیدو هغوئ د خپل دین په معامله کښ په لویه دوکه کښ اچولي دي. خو څه حال به وي په هغوئ باندِ کله چه هغوئ مونږه په هغه ورځ راجمع کړو چه د هغے راتلل یقیني دي؟ په هغه ورځ به هر سړي ته د هغه د ګټے بدله پوره پوره ورکړے شي او په هیچا به ظلم نه کیږي.

[22] یعنی هغوئ ته وائي چه د خدائے کتاب آخري سند ومنئ، د هغے فیصلے قبول کړئ، په هغے کښ چه څه حق دي هغه حق ومنئ، او چه څه باطل دي هغه باطل ومنئ. یاد لرئ چه په دے ځائے کښ د الله د کتاب نه مُراد تورات او انجیل دے، او د "کتاب د علم نه څه حصه موندونکو" نه مطلب د یهودو او د عیسایانو عالمان دي.

[23] یعنی دا خلق خپل ځان د خدائے نیاز بین ګڼړي. دوئ په دے دوکه کښ پراته دي چه که مونږه هر څه کوؤ خو جنت زمونږه دے. مونږه ایمان والا یُو، مونږه د فلانی اولاد، او د فلانی اُمتیان، او د فلانی مریدان یُو، د دوزخ څه مجال دے چه مونږه وسیزي. او فرض کړه که دوزخ ته واچولے هم شو نو بس هلته به یو څو ورځے یُو دپاره ددے چه د ګناهونو نه صفا شو نو بیا به سیده جنت ته ځو. دے قسم خیالاتو هغوئ دومره زړه ورکړي دي، چه سخت سخت جُرمونه کوي، د بدو نه بد ګناهونه کوي، ښه په ښکاره د حق نه خلاف کوي او په زړه کښ ئے د خدائے نه لږه یره هم نه راځي.

قُلِ اللّٰهُمَّ مٰلِكَ الْمُلْكِ تُؤْتِي الْمُلْكَ مَنْ تَشَآءُ وَتَنْزِعُ
الْمُلْكَ مِمَّنْ تَشَآءُ ۚ وَتُعِزُّ مَنْ تَشَآءُ وَتُذِلُّ مَنْ تَشَآءُ ۖ بِيَدِكَ
الْخَيْرُ ۖ اِنَّكَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿٢٦﴾ تُوْلِجُ الَّيْلَ فِي النَّهَارِ
وَتُوْلِجُ النَّهَارَ فِي الَّيْلِ ۚ وَتُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَتُخْرِجُ
الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ ۚ وَتَرْزُقُ مَنْ تَشَآءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿٢٧﴾
لَا يَتَّخِذِ الْمُؤْمِنُوْنَ الْكٰفِرِيْنَ اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ ۚ

وُوایہ چہ اے خدایہ! دَ بادشاھئ مالکہ، تہ چہ چالہ وُغواړے نو حکومت ورکوے، او دَ چا نہ چہ وُغواړے حکومت اخلے۔ چالہ چہ وُغواړے نو عزت ورکوے او چہ څوک ذلیلہ کول غواړے نو ذلیلہ ئے کړے۔ ټول خیرستاپہ اختیار کښ دے۔ بیشکہ تہ پہ ھر څیز باندے قادر ئے۔ شپہ پہ ورځ کښ ننباسے او ورځ پہ شپہ کښ۔ دساہ والا څیز نہ د بے ساہ څیز راوباسے او دَ بے ساہ څیز نہ ساہ والا څیز۔ او چالہ چہ وُغواړے نو بے حسابہ رزق ورکوے۔[۲۴]

مؤمنان دِ ھرگز د ایمان والو نہ بغیر کافران ځان لہ ملگری او دوستان نہ جوړہ وی۔

[۲۴] انسان چہ کلہ یو طرفتہ دکافرانو او د نافرمانو خلقو ملگرتیا وُکوری او بیا پہ دُنیا کښ د ھغوئ خوشحالئ تہ وُکوری، او بل طرفتہ د ایمان والو فرمانبرداری او اطاعت تہ وُکوری او بیا د ھغوئ فقیرئ لوبے تندے او درد دو نو مصیبتونو تہ وُکوری، لکہ چہ نبی صلی اللہ علیہ وسلم او د ھغہ ملگری صحابۂ کرام پہ دریمہ ھجرئ کښ او د دے پرخلاف د ناز مانہ کښ پہ دے تکلیفونو کښ مبتلا وُو، نو تدرقی خبرہ دہ چہ د ھغہ پہ زړہ کښ یو عجیبہ او افسوسناک فکر راپورتہ کیږی اللہ تعالیٰ دلتہ د دے فکر جواب ورکړے دے او پہ دا سے بنکلی انداز کښ یے ورکړے دے چہ د ھغہ نہ د زیات بنکلی انداز تصور نشی کیدے۔

وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ فَلَيْسَ مِنَ اللّٰهِ فِيْ شَيْءٍ اِلَّآ اَنْ تَتَّقُوْا مِنْهُمْ تُقٰىةً ۭ وَيُحَذِّرُكُمُ اللّٰهُ نَفْسَهٗ ۭ وَاِلَى اللّٰهِ الْمَصِيْرُ ﴿۲۸﴾ قُلْ اِنْ تُخْفُوْا مَا فِيْ صُدُوْرِكُمْ اَوْ تُبْدُوْهُ يَعْلَمْهُ اللّٰهُ ۭ وَيَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۭ وَاللّٰهُ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۲۹﴾ يَوْمَ تَجِدُ كُلُّ نَفْسٍ مَّا عَمِلَتْ مِنْ خَيْرٍ

څوک چې دا سې کوي نو د هغه د الله سره هیڅ تعلق نشته. هر څه کې چې تاسو د هغوی د ظلم نه ډډه کوئ نو د پاره په ظاهره دا سې کار وکړئ نو بیا خیر دے[۲۵] خو الله تاسو د خپل ځان نه یې وی او تاسو هم هغه ته واپس تلل دی[۲۶]۔ اے نبی! د خلقو خبره دا وکړه چې پته تاسو په زړونو کې څه دی، هغه که تاسو پټوئ او که ظاهره وئ، په هر حال کې هغه الله ته معلوم دی، د زمکې او د آسمان هیڅ شے د هغه د علم نه بهر نه دے او د هغه اقتدار په هر شے باندې خو دے۔ هغه ورځ را نو کې ده چې هر نفس به د خپلو عملونو صیغه

[۲۵] یعنی که چرې یو مؤمن د اسلام د دشمنانو په وړاندې کې کمزوری وښیی او هغه د هغوی د ظلم نه یې ډډه کوی، نو هغه ته اجازت دے چې خپل ایمان پټ وساتی او د کافرانو سره په ظاهره دا سې رویه وښیی لکه چې دے د هغوی خپل سړے وی۔ یا که چرې د هغه اسلام ظاهر شوے وی نو هغه د خپل ځان د بچ کولو د پاره د کافرانو سره دوستانه تعلقات تایمو له شی، تر دے پورے که د پرد ښتے حالت وی او په سړې کې د برداشت طاقت نه وی، نو د کفر د کلمے وئیلو اجازت ورته هم شته۔

[۲۶] یعنی د انسانانو د طرفه د دومره یره په تا نړۍ کې چې د خدائے یره د زړه نه وځی، انسان که د یرځه وکړي خو دنیا به د خرابه کړي، خو خدائے تاله همیشه عذاب درکوله شی۔ په دغه وجه که چرے د یر په مجبورۍ سره د کافرانو نه د ځان بچ کولو د پاره ضرورت راشی، نو بس دومره پکار ده چې ته صرف د خپل ځان او د مال حفاظت وکړے خو چې د اسلام په کار کې او د اسلامی جماعت په فایدو کې څه نقصان رانشی او د بل رڼو مسلمان جان و مال ته نقصان ونه رسی۔ خو خبره دا رشه چې د کفر یا د کافرانو د پاره د دے خدمت دلاسونه نه ونشی، چې د هغه په وجه د اسلام په مقابله کې کفر ته فایده وی یا په مسلمانانو باندې د کافرانو غالب کیدو خطره وی۔ بنه پوهه شه چې که چرے د خپل ځان د بچ کولو د پاره تا د الله دین ته، یا د مؤمنانو جماعت ته یا یو رڼو مؤمن ته نقصان ورسولو، یا د خدائے د یا غیا نو د حقیقی خدمت وکړو نو د خدائے د حساب نه به هیڅرے بچ نشے۔ بهرحال کې دا هم هغه ته ورتلل دی۔

مُّحْضَرًا ۚ وَمَا عَمِلَتْ مِنْ سُوْٓءٍ ۚ تَوَدُّ لَوْ اَنَّ بَيْنَهَا وَبَيْنَهٗٓ اَمَدًا بَعِيْدًا ۗ وَيُحَذِّرُكُمُ اللّٰهُ نَفْسَهٗ ۗ وَاللّٰهُ رَءُوْفٌۢ بِالْعِبَادِ ﴿٣٠﴾
قُلْ اِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُوْنِيْ يُحْبِبْكُمُ اللّٰهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ ۗ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٣١﴾ قُلْ اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ ۚ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْكٰفِرِيْنَ ﴿٣٢﴾

حاضره بیاموی که بنه یا بده کړي وی اوکه بد. په هغه ورځ به سړے د آرزو کړي چه افسوس دا ورځ زمانه ډیره لرې وے، الله تاسو د خپل ځان نه ډیره وی اوهغه د خپلو بندګانو ډیر خیرخواه دے ۳۴ ع

اے نبیؐ، خلقو ته ژوایه چه "که چرے تاسو په حقیقت کښ د الله سره مینه لرئ، نو په ما پسے راروان شئ، الله به ستاسو سره مینه وکړي اوستاسو ګناهونه به وبخښي. هغه ډیر معاف کونکے اورحم والا دے" هغوی ته ژوایه چه "د الله اود رسول حکم نه ومنئ" نوکه هغوی ستاد اوینا قبوله نه کړه، نو یقیناً دا ممکنه نه ده چه الله د داسے خلقو سره مینه وکړي، چه هغوی د الله اود رسول د اطاعت نه انکار کوی ۳۵

۳۴ یعنی دا د هغه ډیره خیرخواهی ده چه تاسو ته د وخت نه خبرونه بیانوی چه هغه ستاسو انجام د خرابیدو سبب جوړیدے شی.

۳۵ دلته اول تقریر ختمیږی. دمه په مضمون کښ چه جنګ بدر ته کومه اشاره شوې وه هغه پای ته رسیږی اوه تول مضمون پرېښودل شوے دے. غور کولو نه دا غالب ښکاریږی چه دا تقریر د جنګ بدر نه روستو او د جنګ اُحد نه مخکښ نازل شوے ده. یعنی په ۳ هجرۍ کښ. د محمد بن اسحاق د روایت په وجه عام طور سے خلق په دے وګڼه شوی دی چه دویمه سورت اولنی اتیا آیتونه د نجران د وفد د راتلو په مرتع په نهمه هجرۍ کښ نازل شوی وو. لیکن اول خو اولنی تقریر نه دا معلومیږی چه دا تقریر برابر هغه ډیر مخکښ نازل شوے وی، اوبل د مقاتل بن سلیمان د روایت نه دا صفا معلومیږی چه د نجران د وفد د راتلو په موقع صرف هغه آیتونه نازل شوی دی په کوم کښے چه د حضرت عیسیٰ او د حضرت عیسیٰ علیهما السلام بیان دے، او په شمیر دیرش یا لږ زیات آیتونه دی.

اِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰٓى اٰدَمَ وَنُوْحًا وَّاٰلَ اِبْرٰهِيْمَ وَاٰلَ عِمْرَانَ
عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿۳۳﴾ ذُرِّيَّةًۢ بَعْضُهَا مِنْۢ بَعْضٍ ؕ وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ
عَلِيْمٌ ﴿۳۴﴾ اِذْ قَالَتِ امْرَاَتُ عِمْرٰنَ رَبِّ اِنِّىْ نَذَرْتُ لَكَ مَا

اللہ[۲۹] آدم او نوح او آل ابراهیمؑ او آل عمران[۳۰] دَ دُنیا په نورو خلقو باندِ (دَ خپل رسالت دپاره) خوښ کړی وُو. دَا دیوے سلسلے خلق وُو، چه دُ یو بل دَ نسل نه پیدا شوی وُو. الله هرڅه اوری او په هرڅه عالم دے[۳۱] (هغه په هغے وخت کښ اوریدل) کله چه دَ عمران[۳۲] ښځے دا وینا کوله چه "اے زما ربه! کوم بچے چه زما په خیټه کښے دے زهٔ هغه تا ته نذر کوم

[۲۹] ددے ځائے نه دویم تقریر شروع کیږی. دا په نهمه هجرئ کښ نازل شوے دے کله چه دَ نجران عیسائی وفد نبی صلی الله علیه وسلم له راغلے وُو. دَ نجران علاقه دَ حجاز او دیمن په منځ کښ ده. په هغه وخت کښ په دغه علاقه کښ درے[۳۳] اویا کلی وُو او ویلے کیږی چه یو لاکهه شل زره د جنګ ځوانان دَ دغو کلونه د جنګ دپاره تلے شو. ټول خلق پکښ عیسایان وُو او دَ دریو سردارانو دَ حکم لاندِ وُو. یو ته به ئے عاقب وئیلو، چه دَ قوم امیر به وُو. بل ته به ئے سید وئیلو چه دَ هغوئ دَ کورنو او اولسی کارونو نګرانی به ئے کوله او دریم اُسقف (بشپ) وُو چه مذهبی مشر به وُو. کله چه نبی صلی الله علیه وسلم مکه فتح کړه او دَ ټول عرب دا یقین راغے چه اوس ټول وطن دَ محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم په لاس کښ دے، نو د عربو د مختلف طرفونو نه هغوئ له ډلے ډلے وفدونه راتلل شروع شو. په دے سلسله کښ دَ نجران درے سرداران هم دَ شپیتو کسانو دَ یو وفد سره مدینے ته راؤ رسیدل. جنګ ته خو په هیڅ حال کښ هغوئ تیار نه وُو. خو اوس خبره دا وه چه هغوئ اسلام قبلوی او که دَ زمی په حیثیت ژوند تیرول غواړی. په دے موقع الله تعالیٰ په نبی صلی الله علیه وسلم باندِ دا خطبه نازله کړه چه دَ نجران دغے وفد ته دَ اسلام دعوت ورکړی.

[۳۰] عمران دَ حضرت موسیٰ او دَ هارون دَ پلار نوم وُو، چه په بائیبل کښ ئے "عمرام" لیکلے دے.

[۳۱] دَ عیسایانو دَ ګمراهئ لوئ سبب دا دے چه هغوئ مسیحؑ دَ الله بنده او رسول نه منی، بلکه هغه ته دَ الله ځوے وائی او دَ الله سره ئے په خدائئ کښ شریکوی. که چرے دَ هغوئ دا بنیادی غلطی ختمه شی نو صحیح او خالص اسلام ته به دَ هغوئ واپسے راتلل ډیر آسان شی. په دغه وجه دوے خطبے شروع داسے شوی ده چه آدم او نوح او دَ آلِ ابراهیمؑ او دَ آلِ عمران ټول پیغمبران انسانان وُو، دَ یو دَ نسل نه بل پیدا شوے وُو، په هغوئ کښ یو هم خدائے نه وُو، دومره ده چه خدائے پاک دَ خپل دین دَ تبلیغ او دَ دُنیا دا صلاح دپاره غوره کړی وُو.

فِيْ بَطْنِيْ مُحَرَّرًا فَتَقَبَّلْ مِنِّيْ ۚ اِنَّكَ اَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿۳۵﴾
فَلَمَّا وَضَعَتْهَا قَالَتْ رَبِّ اِنِّيْ وَضَعْتُهَآ اُنْثٰى ؕ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ
بِمَا وَضَعَتْ ؕ وَلَيْسَ الذَّكَرُ كَالْاُنْثٰى ۚ وَاِنِّيْ سَمَّيْتُهَا مَرْيَمَ
وَاِنِّيْٓ اُعِيْذُهَا بِكَ وَذُرِّيَّتَهَا مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ﴿۳۶﴾ فَتَقَبَّلَهَا
رَبُّهَا بِقَبُوْلٍ حَسَنٍ وَّاَنْۢبَتَهَا نَبَاتًا حَسَنًا ۙ وَّكَفَّلَهَا زَكَرِيَّا ۚ

هغه به ستا د کار د پاره وقف وی. زما د انذرانه قبوله کړه. ته اوریدونکے او په هر څه پوهه یے.[۳۳] بیا چه کله د هغے جینئی پیدا شوه نو وے وئیل چه "زما ربه! دا خوم جینئی وُشوه ——— حالانکه چه د هغے څه شوی وُو هغه الله ته ښه معلوم وُو ——— او هلک د جینئی پشان نه وی.[۳۴] خیر، ما ددے نوم مریم کیښودو او زه دا جینئی او ددے اولاد در تلی شوی شیطان د فتنے نه ستا به پناه کښ درکوم." آخر دا چه د هغے رب د غه جینئی په خوشحالئی قبوله کړه او ډیره ښه یے لویه کړه. او زکریا یے د هغے سرپرست کړو.

[۳۲] که د عمران د ښځے نه مراد "د عمران د نکاح ښځه" واغستلے شی نو معنیٰ به ئے دا شی چه ددے نه مراد هغه عمران نه دے د کوم چه دا بره ذکر شوے دے، بلکه دا د حضرت مریم پلار وُو چه شاید نوم ئے عمران وُو. (په مسیحی روایاتو کښ د حضرت مریم د پلار نوم یو آخیم (Ionchim). لیکلے دے) او که د عمران د ښځے نه مراد د آل عمران ښځه واغستلے شی نو معنیٰ به ئے دا شی چه د حضرت مریم مور د دغے قبیلے سره تعلق لرلو. لیکن زمونږ سره د معلوماتو داسے ذریعه نشته چه په دواړو معنو کښ یوے معنیٰ له قطعی ترجیح ورکړو ځکه چه په تاریخ کښ ددے څه ذکر نشته چه د حضرت مریم پلار څوک وُو او مور ئے د کومے قبیلے وه. البته که چرے دا روایت صحیح وُ منلے شی چه د حضرت یحییٰ مور او د حضرت مریم مور په خپلو کښ خویندے وے نو بیا د "عمران د ښځے" معنیٰ به د عمران د قبیلے ښځه نیک وی، ځکه چه په انجیل لوقا کښ ئے دا صفا لیکلی دی چه د حضرت یحییٰ مور د حضرت هارون د اولاد نه وه. (لوقا ۱: ۵).

[۳۳] یعنی ته د خپلو بندګانو دعا ګانے اورے او د هغوئی د نیتونو په حال خبریے.

[۳۴] یعنی هلک د داسے ډیرو قدرتی کمزورو او اُولسی پابندو نه آزاد وی کومے کمزورئی او پابندئی چه په جینئی باندے وی. نو که هلک وے نو هغه مقصد به ښه پوره شوے وُو د کوم مقصد د پاره چه ما خپل بچے ستا په لار کښ نذر کول غوښتل.

كُلَّمَا دَخَلَ عَلَيْهَا زَكَرِيَّا الْمِحْرَابَ ۙ وَجَدَ عِنْدَهَا رِزْقًا ۚ
قَالَ يٰمَرْيَمُ اَنّٰى لَكِ هٰذَا ۭ قَالَتْ هُوَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ
يَرْزُقُ مَنْ يَّشَاۗءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ۝۳۷ هُنَالِكَ دَعَا زَكَرِيَّا رَبَّهٗ ۚ
قَالَ رَبِّ هَبْ لِيْ مِنْ لَّدُنْكَ ذُرِّيَّةً طَيِّبَةً ۚ اِنَّكَ سَمِيْعُ الدُّعَاۗءِ ۝۳۸

زکریاؑ چه به هر کله هغے له محراب[۳۶] ته ورننوتو نو هغے سره به ئے څه نه څه د خوراک څکاک سامان موند و. تپوس به ئے تر ډکړو چه مریم دا تاله د کوم ځائے نه راغے؟ هغے به جواب درکړو چه د الله د طرفنه راغلے دے، الله چه چاله وغواړی نو بے حسابه رزق ورکوی. چه دا حال ئے ولیدو نو زکریا خپل رب ته آوازه ډکړو چه "اے ربه! په خپل قدرت ماله نیک اولاد را کړه. هم ته ئے دعا اوریدونکے یئے."[۳۷]

۳۵ اوس د هغے وخت ذکر شروع شو چه حضرت مریم پیغله شوه او د بیت المقدس عبادتګاه (هیکل) ته داخله کړے شوه او د الله په ذکر کښ شپه او ورځ مشغوله شوه. حضرت زکریا، چه د حضرت مریم پرورش ئے کولو، غالباً په رشته کښ د حضرت مریم د مور د خور (ترور) خاوند وُو او د هیکل منجور ؤ. داهغه ذکریا نبی نه دے د کوم د قتل ذکر چه د بائبل په پخوانئ عهدنامه کښ راغلے دے.

۳۶ د لفظ محراب نه د خلقو په ذهن کښ عام طور هغه محراب راځی کوم چه زمونږ په جامعو کښ د امام د ودریدو د پاره وی. لیکن دلته د محراب مطلب دغه نه دے. په صوامعو او کنیسو کښ د اصل عبادتګاه سره نزدے جوخت د زکے نه وُچت یوه کمره جوړه شوی وی، چه په هغے کښ منجوران، خادمان او اعتکاف کونکی خلق وسیږی، دغے کمرے ته محراب وایی. دوے قسمه کمرو نه به په یوه کمره کښ حضرت مریم په اعتکاف کښ وسیدله.

۳۷ د دغے وخته پورے د حضرت زکریا اولاد نه وُو. دغے خوانے او نیکے جینئ ته چه ئے وُکتل نو قدرتی طور ئے په زړه کښ دا خواهش پیدا شو چه که الله ماله هم دا ډے نیک اولاد راکړو نو څنګ به بنه وی، او چه دا ډیے ولیدل چه الله ورته په خپل قدرت سره څنګه رزق ورسوی، نو اُمید ئے پیدا شو چه که الله وغواړی نو په دے بوډاوالی کښ هم اولاد راکولے شی.

فَنَادَتْهُ الْمَلٰٓئِكَةُ وَهُوَ قَآئِمٌ يُّصَلِّيْ فِي الْمِحْرَابِ ۙ اَنَّ اللّٰهَ
يُبَشِّرُكَ بِيَحْيٰى مُصَدِّقًا ۢ بِكَلِمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ وَسَيِّدًا وَّحَصُوْرًا وَّ
نَبِيًّا مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۳۹﴾ قَالَ رَبِّ اَنّٰى يَكُوْنُ لِيْ غُلٰمٌ وَّقَدْ
بَلَغَنِيَ الْكِبَرُ وَامْرَاَتِيْ عَاقِرٌ ؕ قَالَ كَذٰلِكَ اللّٰهُ يَفْعَلُ مَا
يَشَآءُ ﴿۴۰﴾ قَالَ رَبِّ اجْعَلْ لِّيْٓ اٰيَةً ؕ قَالَ اٰيَتُكَ اَلَّا تُكَلِّمَ النَّاسَ

په جواب کښ ورته فرښتو آواز وکړو، څه وخت چه هغه په محراب کښ ولاړ وُو او مونځ ئے کوو چه "الله تاله د یحیٰی[۳۸] خوشخبری درکوی. هغه به د الله د طرفنه د یو فرمان[۳۹] د تصدیق کونکی په حیثیت سره راځی. په هغه کښ به د سرداری او د بزرګئی شان وی، خپل ځان به په قابو کښ ساتونکے وی. نبی به وی او په نیکانو صالحانو کښ به شمار وی." زکریا وُوئیل چه ربه زما کره به هلک د کوم ځائے نه وُشی زه خو ډیر بوډا شوے یم او ښځه م شنډه ده." جواب ورته ملاؤ شو "هم دغسے به کیږی[۴۰]، خدائے چه څه غواړی هغه کوی." هغه عرض وکړو چه ربه، بیا زما د پاره څه نښه مقرر کړه[۴۱]." ورته یے وُوئیل چه "نښه دا ده چه ته به د دریو ورځو پورے خلقو سره د اشارے نه بغیر

[۳۸] په بائیبل کښ دده نوم "یوحنا غسل ورکونکے" (John the Baptist). لیکلے دے. دده د حالاتو د پاره وګوره متی باب ۳، ۱۱، ۱۴ - مرقس باب ۱، ۶ - لوقا باب ۱، ۳.

[۳۹] د الله د فرمان نه مراد حضرت عیسیٰ علیه السلام دے. چونکه دده پیدائش د الله په فرمان باندے د عادت نه خلاف شوے وُو نو په دے وجه ورته په قرآن مجید کښ "کَلِمَةٌ مِّنَ اللّٰهِ" وئیلے شوی دی.

[۴۰] یعنی ستا د بوډا والی او ستا د ښځے د شنډ والی با وجود به الله تاله ځوے درکړی.

[۴۱] یعنی داسے نښه را ته وُښایه چه کله د زُوړ بوډا او د شنډے بوډئی په کور کښ د هلک د پیدا کیدو خوشحالی راځی نو چه د هغے اطلاع ماته مخکښ وُشی.

ثَلٰثَةَ اَيَّامٍ اِلَّا رَمْزًا ؕ وَاذْكُرْ رَّبَّكَ كَثِيْرًا وَّسَبِّحْ
بِالْعَشِيِّ وَالْاِبْكَارِ ﴿۴۱﴾ ع وَاِذْ قَالَتِ الْمَلٰٓئِكَةُ يٰمَرْيَمُ اِنَّ اللّٰهَ
اصْطَفٰىكِ وَطَهَّرَكِ وَاصْطَفٰىكِ عَلٰى نِسَآءِ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۴۲﴾
يٰمَرْيَمُ اقْنُتِيْ لِرَبِّكِ وَاسْجُدِيْ وَارْكَعِيْ مَعَ الرّٰكِعِيْنَ ﴿۴۳﴾
ذٰلِكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ الْغَيْبِ نُوْحِيْهِ اِلَيْكَ ؕ وَمَا كُنْتَ لَدَيْهِمْ اِذْ
يُلْقُوْنَ اَقْلَامَهُمْ اَيُّهُمْ يَكْفُلُ مَرْيَمَ ۪ وَمَا كُنْتَ لَدَيْهِمْ

نورے خبرے اترے نۀ کوے (یا نه شے کولے). په دے دوران کښ خپل رب ډیر یاد وه او سحر او ماښام د هغه تسبیح کوه[۴۲] ع

بیا هغه وخت راغے چه مریم له فرښتے راغلے او ورته یے وئیل چه "اے مریم تۀ خدائے غوره کړے او پاکه ئے وساتلے، او د ټولے دنیا په ښځو باندے ترجیح درکړه او د خپل خدمت دپاره ئے خوښه کړے. اے مریم، د خپل رب تابع فرمانه اوسه، هغه ته سجدے کوه، او څوک چه خدائے ته ټټیدونکی دی د هغوئ سره تۀ هم ټټیږه."

اے محمدؐ! دا د غیبو خبرونه دی چه موږ ئے تا ته د وحی په ذریعه بنایو، کنئ نو تۀ خو په هغه وخت حاضر نۀ وے کله چه د هیکل خادمانو د دے غرض د پاره خپل خپل قلمونه غورزول[۴۳] چه د مریم سرپرست به څوک شی. او نۀ تۀ په هغه وخت حاضر وے

[۴۲] د دے تقریر اصلی مقصد دا دے چه عیسایانو ته د هغوئ د دے خپلے عقیدے غلطی ښکاره کړی چه هغوئ مسیح علیه السلام د خدائے ځوی او د عبادت لائق کنړلو. په اول کښ یے د حضرت یحیٰی علیه السلام ذکر په دے وجه وکړو چه لکه څنګه د مسیح علیه السلام پیدائش د معجزے په طور شوے وو د غه شان د دۀ نه شپږ میاشتے مخکښ هم په دغے خاندان کښ د حضرت یحیٰی علیه السلام پیدائش هم دیوے بلے معجزے په طور شوے وو. د دے مثال نه الله تعالیٰ عیسایان په دے پوهه کوی چه یحیٰی علیه السلام د معجزے په پیدائش سره د عبادت لائق الٰه نۀ شو نو مسیح علیه السلام صرف د معجزے په پیدائش څنګه د عبادت لائق جوړیدے شی.

إِذْ يَخْتَصِمُونَ ﴿٤٤﴾ إِذْ قَالَتِ الْمَلَائِكَةُ يَا مَرْيَمُ إِنَّ اللَّهَ يُبَشِّرُكِ
بِكَلِمَةٍ مِّنْهُ ق اسْمُهُ الْمَسِيحُ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ وَجِيهًا فِي
الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَمِنَ الْمُقَرَّبِينَ ﴿٤٥﴾ وَيُكَلِّمُ النَّاسَ فِي
الْمَهْدِ وَكَهْلًا وَّمِنَ الصَّالِحِينَ ﴿٤٦﴾ قَالَتْ رَبِّ أَنَّىٰ يَكُونُ
لِي وَلَدٌ وَّلَمْ يَمْسَسْنِي بَشَرٌ ط قَالَ كَذَٰلِكِ اللَّهُ يَخْلُقُ

کله چه ده هغوی په منیځ کښ جګړه وه۔

اوشه وخت چه فرښتو وویل" الله تاله دَ خپل فرمان زیږه درکوی۔ دَ هغه نوم به مسیح عیسیٰ ابن مریم وی، په دنیا او په آخرت کښ به معزز وی، خدائے ته به په نزدے خلقو کښ شمیر وی، د خلقو سره به په ژانکو کښ هم خبرے کوی او په زوړوالی کښ هم، اوهغه به یو صالح انسان وی۔" دے په اورید وسره حضرت مریم وویل" اے پروردګاره! زما به ښځے څنګه وشی، ما له خو چا لاس قدلګلے نه دے راوړے۔" جواب ورته وشو" چه هم دغسے به کیږی، الله چه څه غواړی هغه

۴۳ یعنی څنګه ښځے یے اچولو۔ دے ځکه ضرورت وو چه فرښتو حضرت مریم مور خپله لور هیکل ته دَ خدائے دکار د پاره نذر کړی وه۔ اوهغه چونکه جینئ وه نو مسئله نازکه شوه چه دهیکل په منجورانو کښ به دے سرپرستی څوک کوی۔

۴۴ یعنی سړه دے چه یو سړے هم تاسره نه دے ملا وُ شوے خو ستا خوښ به پیدا کیږی۔ هم دا الفاظ کَذٰلِكِ (داسے به کیږی) حضرت زکریا ته هم ویلے شوے وُو۔ هلته چه دے څه مطلب دے دلته ئے هم هغه مطلب پکار دے۔ هم دغه رنګه د روستنیئ فقره یعنی کَذٰلِكِ روستو تول بیان دے مخے تائید کوی چه حضرت مریم ته دسړی سره د ملا ویدو نه یعنے بچی پیدا کیدو زیږے ورکړے شوے وُو او په حقیقت کښ هم په دغے شکل حضرت عیسیٰؑ پیدا شو۔ اوکه نه خبره داسے وه چه دَ حضرت مریم به کوُ نیا د نورو ښځو په شان بچے پیدا کیدو۔ او یا حضرت عیسیٰ دَ هغو خلقو پشان پیدا شوے وے، نو بیا خو دا تول بیان هیڅ بے فائیدے وے کوم چه دَ څلورے رکوع نه دشپږے رکوع پورے دا روا دے کیږی، او هغه تول بیانات بے مطلبه کیږی کوم چه د مسیح د پیدائیش په باره کښ د قرآن په نورو ځایونو کښ دی۔ عیسا یانو خو حضرت مسیح خپل خدائے او د الله ځویے پرے دے وجه کښ لوچه د هغه پیدائش دَ عادت نه خلاف بغیر دَ پلار د شوے وُو، او یهودیانو په حضرت مریم باندے الزام ځکه وُ لګولو چه دا واقعه دَ تولو په ځښ شوے وه چه یوه نا دا ده کړے جینئ وه او دَ هغے ځویئ پیدا شو۔ کچرے دَ سړے نه دا حقیقت

مَا يَشَآءُ ۭ اِذَا قَضٰٓى اَمْرًا فَاِنَّمَا يَقُوْلُ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ ﴿۴۷﴾
وَيُعَلِّمُهُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَالتَّوْرٰىةَ وَالْاِنْجِيْلَ ﴿۴۸﴾ وَ
رَسُوْلًا اِلٰى بَنِيْٓ اِسْرَاۗءِيْلَ ۙ اَنِّىْ قَدْ جِئْتُكُمْ بِاٰيَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ ۙ
اَنِّىْٓ اَخْلُقُ لَكُمْ مِّنَ الطِّيْنِ كَهَيْــــَٔةِ الطَّيْرِ فَاَنْفُخُ فِيْهِ
فَيَكُوْنُ طَيْرًۢا بِاِذْنِ اللّٰهِ ۚ وَاُبْرِئُ الْاَكْمَهَ وَالْاَبْرَصَ

پیدا کوی۔ هغه چه کله دَ یو کار کولو فیصله وکړي نو بس دومره ورته وایي چه شه او هغه وشي"
(فرښتو ورته بیا خپله خبره شروع کړه) "او الله به هغه ته دَ کتاب او دَ حکمت تعلیم ورکړي،
دَ تورات او دا انجیل علم به ورته وښایي او دَ بني اسرائیلو د پاره به ئې خپل رسول مقرر کړي."
(او کله چه هغه د رسول په حیثیت بني اسرائیلو ته راغے نو ویے ویل) "ما ستاسو درب
دَ طرفنه تاسو له یوه نښه راوړې ده۔ زهٔ ستاسو په مخکښ دَ خټے نه دَ مرغئ پشان یو شکل
جوړ وُم او پُوکے پکښ کوم، نو دَ هغے نه دَ خدائے په حکم سره مرغئ جوړیږي۔
زهٔ دَ خدائے په حکم مُوړ زاړی رُوند او وُجذامی مریض (چه دَ لاس خپوکو تے ئے ریجی) رغوم

نه وُ نو بیا دَ دوارو د لو د پاره بس دومره دینا کافی وه چه تاسو غلط وایئ، هغه جینئ وادهٔ شوی
وه، فلانے د هغه خاوند وُ او دَ هغه دَ نطفے نه عیسیٰ پیدا شوے وُ۔ دوے مختصرے او صفا خبرے
په مُقابله دوے دومره اوږدو اوږدو تاوُ را تاوُ خبرو، او دَ مسیح بن فلاں په مُقابله دَ مسیح بن مریم
ویلو آخر څه ضرورت وُ چه خبره پرے دحل کیدو په مُقابله نوره هم گرانیږي۔ بس سے معلومه شوه
چه کوم خلق قرآن دَ الله کلام منی او بیا د مسیح علیه السلام په باره کښ دوے ثابتو کوشش کوی چه
د هغه پیدائش دَ عامو خلقو پشان دمور او پلار دَ ملاویدو نه شوے وُ، نو هغوئ په اصل کښ
دوے خبرے دثابتولو کوشش کوی چه الله تعالیٰ خپل مراد او مدعا دومره بنه نفی ظاهره وے
څومره چه د حضرات دَ هغه په مطلب پوهیږی۔ (توبه خدایه توبه معاذالله)

وَاُحْيِ الْمَوْتٰى بِاِذْنِ اللّٰهِ ۚ وَاُنَبِّئُكُمْ بِمَا تَاْكُلُوْنَ وَمَا
تَدَّخِرُوْنَ ۙ فِيْ بُيُوْتِكُمْ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ
مُّؤْمِنِيْنَ ۚ ﴿۴۹﴾ وَمُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ التَّوْرٰىةِ

او مړی ژوندی کوم. زهٔ تاسو ته بنایم هغه څه چه تاسو ئے خوری او هغه څه چه په کورونو کښے ئے ذخیره کوئ
په دے کښ ستاسو د پاره بنه کافی نښه ده که تاسو مؤمنان[۴۵] یئ. کوم تعلیم او هدایت
چه زما په زمانه کښ په تورات کښ موجود دے[۴۶] زهٔ د هغے تصدیق کونکے یم.

[۴۵] یعنی دا نښے تاسو له دوے خبرے د پاره کافی دی چه زهٔ د هغے خدائے د طرفنه راليږلے شوے یم چه د کائناتو خالق او کل اختیاره حاکم دے. خو په دے شرط چه تاسو حق منلو ته تیار یئ او ضدیان نه یئ.

[۴۶] یعنی دا زما د خدائے د طرفنه د راتلو یو بل ثبوت دے. که چرے زهٔ د خدائے د طرفنه نه وے راغلے او د دروغو دعوه م کړے وے نو ما به ځان له خپل یو مستقل مذهب جوړ کړے وے او د دے خپلو کملاتو په زور به م تاسو د خپل دین نه اړولے او خپل نوی مذهب ته به م را اړولے. لیکن زهٔ خو هغه اصلی دین منم او هغه تعلیم ته صحیح وایم کوم چه د خدائے د طرفنه د هغه پیغمبرانو زمانه مخکښ راوړے وُو.

او دا خو په موجوده انجیلونو کښ صفا صفا لیکلی شوی دی چه مسیح علیه السلام هغه دین راوړے وُو کوم چه موسیٰ علیه السلام او نورو پیغمبرانو پیش کړے وُو. مثلاً د متی د روایت مطابق د غونډئ په وعظ کښ مسیح علیه السلام فرمائی:

"دا مه وایئ چه زهٔ د توریت یا د پیغمبرانو د کتابونو منسوخ کولو د پاره راغلے یم. منسوخ کولو د پاره نه بلکه د پوره کولو د پاره راغلے یم." (۵ : ۱۷)

یو یهودی عالم د حضرت مسیح نه تپوس وکړو چه د دین په حکمونو کښ اولنے حکم کوم یو دے؟ په جواب کښ ورته هغه وفرمائیل:

"د خداوند خپل خدائے سره د خپل ټول زړهٔ نه او د خپل ټول روح نه او د خپل ټول عقل نه محبت کوه. لوئ اولنے حکم دا دے. او د دے پشان بل حکم دا دے چه د خپل ګاونډی سره د خپل ځان برابر محبت کوه. په دے دوو حکمونو باندے د توریت او د انبیاؤ د صحیفو مدار دے. (متی ۲۲: ۳۷-۴۰)

بیا حضرت مسیح خپلو شاګردانو ته فرمائی:

"فقهاء او فریسیان د موسیٰ په ګدئ باندے ناست دی. څه چه هغوی تاسو ته وائی هغه ټول کوئ او منئ خو د هغوئ پشان کارمه کوئ ځکه چه هغوی وائی او کوی نه. (متی ۲۳: ۲-۳)

وَلِاُحِلَّ لَكُمْ بَعْضَ الَّذِيْ حُرِّمَ عَلَيْكُمْ وَجِئْتُكُمْ بِاٰيَةٍ
مِّنْ رَّبِّكُمْ قف فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ﴿۵۰﴾ اِنَّ اللّٰهَ رَبِّيْ
وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْهُ ط هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيْمٌ ﴿۵۱﴾

او ددے دپاره راغلے یم چه ستاسو دپاره ځنے هغه څیزونه حلال کړم کوم چه په تاسو باندې حرام کړے شوی دی[۴۷] کورئ ما ستاسو د رب د طرفنه تاسو له نښه راوړی ده، نو د الله نه ویرېږئ او چه زه د رته څه وایم هغه کوئ. الله زما رب هم دے او ستاسو رب هم دے نو صرف د هغه بندګی اختیار کړئ، دا نیغه لار ده[۴۸]"

[۴۷] یعنی د الله تعالیٰ په اصلی شریعت باندې چه ستاسو د جاهلانو د لاسه کوم وهمونه زیات شوی دی، ستاسو د عالمانو د لاسه چه پرے کومے قانونی شخړے پرتے دی، ستاسو د دُنیا پریښو خلقو د لاسه چه پرے کومے سختئ او د غیر قومونو د غلبے په وجه چه پرے کومے پابندئ راغلے دی. زه به هغه منسوخ کوم او ستاسو دپاره به هغه څیزونه حلالوم کوم چه الله حلال کړی دی او هغه څیزونه به حرامو م کوم چه الله حرام کړی دی.

[۴۸] ددے نه معلومه شوه چه د ټولو پیغمبرانو پشان د حضرت عیسیٰ علیه السلام د دعوت بنیادی نکتے هم دغه درے وے:

یوه دا چه اقتدار اعلیٰ به صرف او صرف د الله تعالیٰ منلے شی. او ددے په بنیاد باندې به انسان د بندګئ لار اختیاره وی او خپل اخلاقی او اولمی ټول نظام به په دے باندې قایمو ی.

بله دا چه د الله تعالیٰ د نمایندې په حیثیت به د نبی حکم منلے شی.

دریمه دا چه د انسان دپاره د حلالو او د حرامو، د جایزو او د ناجایزو قانون به صرف د الله قانون وی، په دے باره کښ به د بل چا جاری شوی قانونونه منسوخ کیدے شی.

په حقیقت کښ د حضرت عیسیٰ او د حضرت موسیٰ او د حضرت محمد صلی الله علیهم او د نورو پیغمبرانو په مقصد کښ دیو ویخته هومره فرق نشته. کومو خلقو چه د مختلفو پیغمبرانو بیل بیل مقصد ښوولے دے او د هغوئ په مقصدولو کښ ئے فرق کړے دے نو هغوئ سخته غلطی کړی ده. د حقیقی بادشاه د طرفنه چه مخلوق ته څوک د نبی په حیثیت راځی نو د هغه ددے نه بغیر بل څه مقصد کیدے نشی چه هغه مخلوق د بادشاه د نافرمانئ نه او د خود سرئ نه منع کړی، او د شرک نه ئے منع کړی (یعنی چه د هغه سره په بادشاهئ کښ څوک شریک نه کړی او د بل چا عبادت ونه کړی)، او ټول مخلوق صرف د حقیقی بادشاه بندګئ ته راوبلی.

افسوس دے چه په موجوده انجیلونو کښ د مسیح علیه السلام مشن او مقصد دومره په وضاحت سره نه دے بیان شوے په څومره وضاحت سره چه بره په قرآن کښ بیان شوے دے. خو بیا هم په خور وور شکل کښ په هغے کښ هغه درے بنیادی نکتے شته دے کومے چه بره بیان شوی دی. مثلاً دا خبره چه

مسیح صرف د الله د بندګئ قایل وُو، د هغهٔ د دے ارشاد نه معلومیږی:

"تهٔ خداوند خپل خدائے ته سجده کوه او صرف د هغهٔ عبادت کوه." (متی ۴: ۱)

او یوائے د بندګئ قایل نهٔ وُو بلکه د هغهٔ ټول کوششونه د دے د پاره وُو چه په زمکه د د خدائے د شریعت حکمونه هغسے ومنلے شی لکه څنګه چه په آسمان باندِ د هغه امرِ تکوینی منلے کیږی:

"ستا بادشاهی دِ راشی، ستا مرضا چه څنګه په آسمان باندِ پوره کیږی دغه شان دِ په زمکه هم وی." (متی ۶: ۱۰)

بیا د اخبره د هغه د ډیرو قولونو نه معلومیږی چه مسیح علیه السلام خپل ځان ته نبی او د آسمانی بادشاهت نمایندهٔ وئیلو، او خلقو ته ئے وئیل چه زما اطاعت کوئ. هغه چه کله د خپل وطن ناصره نه خپل کار شروع کړو نو اول ئے خپل خپلوان او د ښار خلق مخالف شو. په دے باره کښ د متی، مرقس او لوقا د درے واړو متفقه روایت دے چه هغه وُ فرمائیل: "نبی په خپل وطن کښ مقبول نهٔ وی." او کله چه په یروشلم کښ د هغهٔ د قتل خبرے شروع شوے او خلقو ورله مشوره ورکړه چه چو ته بل خوا لاړ شه نو هغهٔ جواب ورکړو: "ممکن نهٔ ده چه نبی د یروشلم نه بهر هلاک شی." (لوقا ۱۳: ۲۳) په آخری حل چه کله هغه یروشلم ته راتلونو د هغه شاګردانو په وُچت آواز دا شروع وُکړه چه "مبارک دے هغه بادشاه چه د خداوند په نوم راځی." په دے باندِ یهودی عالمان خفه شو او حضرت مسیح ته ئے اُووئیل چه ته دِ دا خپل شاګردان چپ کړه - مسیح ورته وُ فرمائیل: "که دا چپ شو نو کانړی به آواز شروع کړی." (لوقا ۱۹: ۳۸-۴۰) په یوه بله موقع کښ هغه وُ فرمائیل:

"اے محنت کونکو او د پیټی وړونکو خلقو، ټول زما خواله راشئ، زهٔ به تاسو ته آرام درکړم. زما جغ په خپل ځان کیږدئ .... زما جغ نرم دے او زما پیټے سپک دے." (متی ۱۱: ۲۸-۳۰)

بیا د اخبره چه مسیح علیه السلام د انسان د جوړ کړے شوی قانون پځائے باندِ د خدائے قانون غوښتلو، د متی او د مرقس د هغے روایت نه صفا معلومیږی چه خلاصه ئے دا ده: چه یهودی عالمانو دا اعتراض وُکړو چه ستا شاګردان د مشرانو د رواج نه خلاف ډوډئ په ناو نیځلی لاسونو ولے خوری؟ نو حضرت مسیح وُ فرمائیل چه ستاسو د ریاکارو خلقو حالت خو هغه دے چه یسعیاه نبی پرِ دا طعن وئیلے دے چه "دا اُمت خو په ژبه زما عزت کوی خو زړونه ئے زما نه لرے دی ځکه چه دوئ د انسانی حکمونو تعلیم ورکوی." تاسو خلق د خدائے حکم خو باطله وئ او د ځان نه جوړ کړے شوے خپل قانون برقرار ساتئ. خدائے په تورات کښ دا حکم کړے وُو چه د مور او پلار عزت کوئ او څوک چه مور او پلار ته بد وائی هغه دِ مړ کړے شی. خو تاسو وائئ چه څوک خپل مور او پلار ته دا وُوائی چه زما کوم خدمتونه ستاسو په کار راتلل هغه ما د خدائے نذر کړی دی، نو د هغه د پاره دا بالکل جائز ده چه بیا د مور یا د پلار خدمت وُ نهٔ کړی.

(متی ۱۵: ۳-۹، مرقس ۷: ۵-۱۳)

فَلَمَّآ اَحَسَّ عِيْسٰى مِنْهُمُ الْكُفْرَ قَالَ مَنْ اَنْصَارِيْٓ اِلَى اللّٰهِ ؕ
قَالَ الْحَوَارِيُّوْنَ نَحْنُ اَنْصَارُ اللّٰهِ ۚ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ ۚ وَاشْهَدْ بِاَنَّا
مُسْلِمُوْنَ ﴿۵۲﴾ رَبَّنَآ اٰمَنَّا بِمَآ اَنْزَلْتَ وَاتَّبَعْنَا الرَّسُوْلَ

کله چه عیسیٰ ته معلومه شوه چه بنی اسرائیل کفر او انکار ته مائله دی نو وے وئیل چه "څوک د الله په لار کښ زما مددګار کیږی؟" حواریانو[۴۹] جواب ورکړو چه "مونږه د الله مددګار یو[۵۰] مونږه په الله ایمان راوړے دے، ته په دے خبره ګواه ؤ سه چه مونږ ه مسلمانان (یعنی د الله حکمونو ته غاړه ایښودونکی) یو۔ اے ربه کوم فرمان چه تا نازل کړے دے هغه مونږه ؤ منلو او د رسول پیروی مو قبول کړه،

[۴۹] د "حواری" لفظ معنیٰ قریباً هغه ده کومه چه د "انصار" ده. په بائیبل کښ خو عام طور د حواریانو په ځائے د "شاګردانو" لفظ استعمال شوے دے. او په ځینو ځایونو کښ ورته رسول هم وئیلے شوے دے. خو رسول په دے معنیٰ کښ چه مسیح علیه السّلام به هغوئی د تبلیغ د پاره لیږل، په دے معنیٰ کښ نه چه خدائے هغوئی رسولان مقرر کړی وُو۔

[۵۰] د دینِ اسلام په قائمولو کښ حصے اخستلو ته په قرآن مجید کښ اکثر "د الله مددګول" وئیلے شوی دی۔ دا لږه تشریح غواړی۔ په ژوند کښ چه الله تعالیٰ انسان له دخپلے ارادے او د اختیار استعمالولو کومه آزادی ورکړی ده، په هغه کښ الله تعالیٰ څوک دخپلے خدائیئ په طاقت نه مجبوره کوی چه انسان د کفر یا د ایمان، د منلو یا د نه منلو یوه لاره اختیار کړی۔ د دے پځائے الله تعالیٰ انسان په دلیلونو او په نصیحتونو باندے په دے خبره پوهه کوی چه د دے آزادئ باوجود د انسان د کامیابئ او د خلاصی لاره دا ده چه هغه د خپل خالق بندګی او اطاعت اختیار کړی۔ دغه شان د پوهه کولو او د نصیحتونو او د دلیلونو په ذریعه خلق نیغے لارے ته راا ړول په اصل کښ د الله کار دے۔ او څوک چه په دے کار کښ د الله سره ملګرتیا کوی هغه ته الله خپل دوست او مددګار وائی۔ او دا هغه لوړ مقام دے چه دے ته انسان رسیدے شی۔ په مونځ، روژه او په هر قسمه عبادت کښ خو انسان صرف بنده او غلام وی، خو د دین په تبلیغ کولو او د دین د قائمولو په کوشش کښ انسان ته د خدائے د ملګرتیا او د مددګارئ شرف حاصلیږی، چه په دُنیا کښ د روحانی ترقئ د ټولو نه وُچته مرتبه ده۔

فَاكْتُبْنَا مَعَ الشّٰهِدِيْنَ ﴿۵۳﴾ وَمَكَرُوْا وَمَكَرَ اللّٰهُ ؕ وَاللّٰهُ خَيْرُ
الْمٰكِرِيْنَ ﴿۵۴﴾ ع اِذْ قَالَ اللّٰهُ يٰعِيْسٰٓى اِنِّىْ مُتَوَفِّيْكَ وَ

زمونږ نومه په ګواهئ ورکونکو کښې ؤلیکه."

بیا بنی اسرائیلو (دَ مسیح خلاف) پټ تدبیرونه شروع کړل. په جواب کښې الله هم خپل پټ تدبیر ؤکړو او په داسے تدبیرونو کښې الله دَ ټولو نه زیات دے ع (دغه خو دَ الله پټ تدبیر ؤو کنه) چه کله ئے اُووئیل چه "اے عیسیٰ، اُوس به زه تا واپس[۵۱] اخلم او

[۵۱] په اصل کښې لفظ "مُتَوَفِّيْكَ" استعمال شوے دے. دَ توفّی اصلی معنیٰ اغستل او واپس وُصولول دی "روح قبض کول" ددے لفظ مجازی استعمال دے، اصلی لغوی معنیٰ یے نه ده. دلته دا لفظ دَ انګریزی دَ لفظ (To Recall). په معنیٰ کښې استعمال شوے دے، یعنی یو عُهدے والا دَ خپل منصب نه واپس راغوښتل. چونکه بنی اسرائیلو دَ کلونو راسے نافرمانی کوله، دَ بار بار خبرداری او نصیحتونو کولو باوجود دَ هغوئ ټول قوم ښه خرابیدو، پرله پسے ډیر پیغمبران ئے قتل کړی ؤو، او هر هغه نیک بنده به ئے ژوندے نه ؤو خوښ چه دوئ ته به یے دَ نیکئ لار ښودله، دغه وجه وه چه الله تعالیٰ په هغوئ باندے دَ حجت تمامولو او دَ یوے آخری موقعے ورکولو دپاره دوه پیغمبران حضرت عیسیٰ او حضرت یحییٰ علیهما السلام په یو وخت کښې را ؤلیږل، او دَ هغوئ سره دَ الله تعالیٰ دَ طرفنه داسے ښکاره ښکاره نښے وے چه انکار تر صرف هغه خلقو کولے شو چه دَ حق سره په ضد وی او دَ حق په مقابله کښې دَ بے باکئ حد ته رسیدلی وی. خو بنی اسرائیلو دَ دے آخری موقعے نه فائده وانه غستله. یوازے دا نه چه ددے دواړو پیغمبرانو دعوت یے قبول نه کړو، بلکه دَ بنی اسرائیلو یو سردار دَ حضرت یحییٰ علیه السلام سر دَ یوے ډمے په اشاره باندے دَ تنے نه جُدا کړو، او دَ بنی اسرائیلو علماؤ او فقهاؤ دَ یو سازش په ذریعه دا کوشش ؤکړو چه دَ روم سلطنت حضرت عیسیٰ له دَ مرګ سزا ورکړی. ددے نه روستو بنی اسرائیلو ته نصیحت کول هسے وخت خرابول ؤو. ځکه تر الله پاک خپل پیغمبر واپس واغستلو او په بنی اسرائیلو باندے دَ قیامته پورے دَ ذلت دژوند فیصله ؤکړه.

دلته په دے خبره باندے ځان پوهه کول پکار دی چه دَ قرآن دا ټول تقریر په اصل کښې دَ عیسایانو ددے عقیدے "چه مسیح الله دے" ختمولو او دا اصلاح کولو دپاره دے. او په عیسایانو کښې دا عقیده ددریو خبرو په وجه پیدا شوی وه.

(۱) دَ حضرت مسیح دَ معجزے په طور پیدا کیدل.

(۲) دَ هغهٔ ښکاره ښکاره معجزے.

(۳) او دَ هغهٔ آسمان طرفنه ؤچتول چه صفا صفا ذکر یے دَ هغوئ په کتابونو کښې دے.

رَافِعُكَ اِلَيَّ وَمُطَهِّرُكَ مِنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَجَاعِلُ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْكَ فَوْقَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ ج

تا به خپل ځان طرفته را وُچتوم او چاچه ستا انکار کړے دے دَ هغوئ نه (یعنی دَ هغوئ دَ ملګرتیا نه او دَ هغوئ په ګنده ماحول کښ دَ هغوئ سره دَ وُسیدلو نه) به تا پاک کوم او په تا پسے د تلونکی خلق به د قیامته پورے په هغے خلقو باندِ پورته لرم چاچه ستا انکار کړے دے[۵۲]

قرآن دا ولے خبرے تصدیق وُکړو او وے فرمائیل چه دَ مسیح بے پلاره پیدا کیدل دَ الله د قدرت کرشمه وه. الله چه څوک په کومه طریقه پیدا کول وُغواړی په هغه طریقه ئے پیدا کوی. دا ددے خبرے دلیل هیچرے نه دے چه مسیح خدائے وُو یا په خدائیئ کښ شریک وُو.

دَ دویمے خبرے هم قرآن تصدیق وُکړو او په خپله ئے دَ مسیح یوه یوه معجزه بیان کړه خودائے وُوئیل چه دا ټول کارونه هغه دَ الله په حکم سره کړی وُو، په خپل اختیار ئے هیڅ هم نه وُو کړی لهذا په دے کښ هم څه داسے خبره نشته چه سړے اُووائی چه مسیح په خدائیئ کښ حصه دار وُو.

اُوس دَ دریمے خبرے په حقله که چرے دَ عیسایانو خبرے ټولے غلطے وے نو بیا خو صفا صفا هغوئ ته دا خبره کول پکار وُو چه تاسو مسیح ته دَ الله ځوئے او الله وائیئ هغه خو مړ دے خاورے شوے دے، که دَ زړه تسلی غواړئ نو فلانی ځائے ته لاړ شئ قبرئے اُووینئ. لیکن ددے خبرو په ځائے قرآن یوازے داسے نه وائی چه مړ شوے نه دے، بلکه عیسایانو ته اُلټا دا وائی چه مسیح دَ سرنه په صلیب (سولئ) خیژولے شوے نه دے، یعنی چاچه په آخری وخت کښ "ایلی ایلی لما شبقتانی" وئیلی وُو، او دَ چاچه تاسو په سولئ ختلے تصویرا غستلے دے، هغه مسیح نه وُو، مسیح خو ددے نه وړاندِ خدائے وُچت کړے وُو.

ددے نه روستو هم چه څوک دَ قرآن دَ آیاتونو نه دَ مسیح دَ وفات د ثابتولو کوشش کوی هغوئ په اصل کښ ددے خبرے د ثابتولو کوشش کوی چه الله تعالیٰ له په صفا ټکو کښ دَ خبرو کولو چل نه ورځی. اَعاذنا الله مِن ذٰلك.

[۵۲] دا انکار کونکو نه مُراد یهودیان دی چه حضرت عیسیٰ علیه السلام ورته دَ ایمان راوړلو دعوت ورکړو او هغوئ ترِ انکار وُکړو. ددے نه برخلاف که په هغه پسے دَ تلونکو خلقو نه مراد صحیح تلونکی وی نو په هغے کښ عیسایان او مسلمانان دواړه شامل دی.

ثُمَّ اِلَیَّ مَرْجِعُكُمْ فَاَحْكُمُ بَیْنَكُمْ فِیْمَا كُنْتُمْ فِیْهِ
تَخْتَلِفُوْنَ ﴿۵۵﴾ فَاَمَّا الَّذِیْنَ كَفَرُوْا فَاُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا
شَدِیْدًا فِی الدُّنْیَا وَالْاٰخِرَةِ ز وَمَا لَهُمْ مِّنْ نّٰصِرِیْنَ ﴿۵۶﴾
وَاَمَّا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فَیُوَفِّیْهِمْ اُجُوْرَهُمْ ط
وَاللّٰهُ لَا یُحِبُّ الظّٰلِمِیْنَ ﴿۵۷﴾ ذٰلِكَ نَتْلُوْهُ عَلَیْكَ مِنَ
الْاٰیٰتِ وَالذِّكْرِ الْحَكِیْمِ ﴿۵۸﴾ اِنَّ مَثَلَ عِیْسٰی عِنْدَ اللّٰهِ
كَمَثَلِ اٰدَمَ ط خَلَقَهٗ مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ قَالَ لَهٗ كُنْ فَیَكُوْنُ ﴿۵۹﴾

بیا به تاسو ټول آخر ماله راځئ، په هغه وخت کښ به زهٔ د هغے خبرو فیصله کوم چه تاسو په منځ کښ پکښ اختلاف دے. کومو خلقو چه د کفر او د انکار لار اختیار کړی ده هغوئ له به په دنیا او آخرت دواړو کښ سخته سزا ورکوم او هیڅوک به یے مددګار نهٔ وی، او کومو خلقو چه د ایمان او د نیک عمل لار اختیار کړی ده هغوئ له به خپلے بدلے پوره پوره ورکړے شی. او ښهٔ پوهه شئ چه د ظالمانو سره الله هرګز محبت نهٔ کوی."

دا آیتونه دی او د حکمت نه ډکے تذکرے دی چه مونږه ئے تا ته اوره ؤو. د الله په نزد عیسیٰ مثال د آدم په شان دے چه الله هغه د خاورے نه پیدا کړو او حکم یے ورته وکړو چه شهٔ او بس هغه[۵۳] شو.

[۵۳] یعنی که صرف د معجزے د پیدائش په وجه څوک خدائے یا د خدائے ځوے جوړیدے شوے. نو بیا خو پکار وه چه د آدمؑ په حقله هم دا عقیده وے، ځکه چه مسیح خو صرف بے پلاره پیدا شوے ؤو او آدمؑ د مور او پلار دواړو نه بغیر پیدا شوے دے.

اَلْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ فَلَا تَكُنْ مِّنَ الْمُمْتَرِيْنَ ﴿٦٠﴾ فَمَنْ حَآجَّكَ
فِيْهِ مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَكَ مِنَ الْعِلْمِ فَقُلْ تَعَالَوْا نَدْعُ
اَبْنَآءَنَا وَاَبْنَآءَكُمْ وَنِسَآءَنَا وَنِسَآءَكُمْ وَاَنْفُسَنَا وَ
اَنْفُسَكُمْ ثُمَّ نَبْتَهِلْ فَنَجْعَلْ لَّعْنَتَ اللّٰهِ عَلَى الْكٰذِبِيْنَ ﴿٦١﴾

دا اصل حقیقت دے چہ ستا د رب د طرفنہ بنودلے کیږی او تہ پہ هیڅ خلقو کښ مدغم شاملیږہ چہ پہ دے کښ شک کوی[۵۴]

او هم دده علم د راتلونہ روستو چہ څوک ستا سره پہ دے بارہ کښ جګړہ کوی نو اے محمده، هغوی تہ ووایہ چہ "راځئ چہ موبنزه او تاسو پخپله هم راشو او خپل خپل بال بچی هم راولو او خدائے تہ سوال وکړو چہ څوک پہ دروغه وی نو پہ هغہ دے د خدائے لعنت[۵۵] وی۔"

[۵۴] دده ځائے پورے چہ پہ تقریر کښ کومے بنیادی نکتے عیسایانو تہ وراندے شوے د هغے خلاصہ داده: کومه اوله خبره چہ د عیسایانو پہ ذهن کښ د هغے د راوستلو کوشش شوے دے، هغه داده چہ د مسیحؑ د خدایئ کومه عقیده پہ تاسو کښ پہ کومو رجحاناتو سره پیدا شوی ده پہ هغے کښ یوه وسیع هم صحیح نده ده۔ یو انسان ووچہ اللہ د خپل علم مطابق مناسب وګڼلو چہ پہ نا آشنا طریقہ ئے پیدا کړی او هغہ لہ داسے معجزے ورکړی چہ بنکاره د نبوت نښے وی، او منکرین حق تہ ئے پرهہ نږدی چہ پہ سولئ ئے اوخیژوی بلکہ ځان تہ ئے راوځت کړی۔ مالک تہ اختیار دے چہ پہ خپل بنده څه کول غواړی هغہ پرے وکړی۔ صرف دے نا آشنا سلوک پہ وجہ دا نتیجہ را ایستل څنګ صحیح کیدے شی چہ هغہ پہ خپله مالک وو، یا د مالک څرګنے وو یا پہ مملکت کښ د هغہ سره شریک وو۔

پہ دویمہ دے عنصر خبره باندے چہ هغوی پوهہ کړی دی چہ مسیح کوم څیز نہ خلق را یللو هغہ هغه څیز دے کوم نہ چہ محمد صلی اللہ علیہ وسلم خلق را یلی۔ د دواړو پہ مقصد کښ د ویښتو هومره فرق نشتہ۔

دے تقریر د ریښتیا بنیادی خبره داده چہ د مسیح نہ روستو د هغہ د حواریانو مذهب هم دا اسلام وو کوم چہ قرآن پیش کوی۔ روستو بیا عیسائیت نہ د مسیح علیہ السلام پہ تعلیم باندے ټینګ پاتے شو او نہ پہ هغے مذهب پسے لاړ پہ کوم پسے چہ د مسیح حواریان تلی وو۔

[۵۵] دا فیصله چہ ئے پہ دے شکل کولہ نو پہ دے کښ اصلی مقصد دا ثابتول وو چہ د نجران وفد قصداً منډکوی۔ برا پہ تقریر کښ چہ کوم خبرے بیان شوی دی پہ هغے کښ د یوے خبرے جواب هم د دوی سره نده وو۔ د مسیحیت دیرے عقیدے دی او د دوی سره پہ خپلو کتابونو کښ د یوے عقیدے پرحق کښ هم څه داسے سند نده وو چہ د هغے پرو هم دا پہ یقین سره اوږے ټینګے چہ هغوی عقیده درسته ده او د حقیقت مطابق دے۔

إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ الْقَصَصُ الْحَقُّ ۚ وَمَا مِنْ إِلَٰهٍ إِلَّا اللَّهُ ۗ وَإِنَّ
اللَّهَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿٦٢﴾ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَإِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ
بِالْمُفْسِدِينَ ﴿٦٣﴾ ع قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْا إِلَىٰ كَلِمَةٍ سَوَاءٍ

دا بالکل صحیح واقعات دی، او حقیقت دا دے چه د الله نه بغیر بل هیڅوک د عبادت لائق نشته، او دا هم الله دے چه طاقت ئے د ټولو نه لوئے دے او چه حکمت ئے د ټول جهان په نظام کښ چلیږی. بیا که چرے دا خلق (په دے شرط باندِ مقابلے ته رانشی او) مخ واړه وی نو د هغوئی د فساد نیت به صفا ښکاره شی) او الله خو د فسادیانو په حال باندِ ښه خبر دے. ع

ورته اُو وایه چه "اے اهلِ کتابو! یوے دا سے خبرے له راشئ چه هغه زمونږ او ستاسو په

بیا د نبی صلی الله علیه وسلم خوئی خصلت د هغه تعلیم او د هغه کارونو ته چه یئ وکتل نو دوفد د ډیرو خلقو زړونه د هغه د نبوت قائل شوی وو او د خپل انکار په حقله یئ شک پیدا شوے وو. نو دغه وجه وه چه کله ورته اُو ویلے شو چه ډیره ښه ده که ناسو په خپله عقیده کښ صحیح یئ نو راشئ زمونږ خلاف دُعا وکړئ چه څوک په دروغه وی په هغه ډ د خدائے لعنت وی، نو په هغوئی کښ هیڅوک دے ته تیار نشو. دغه شان دا خبره ټول عرب ته ښکاره شوه چه د نجران د عیسائی پیشوا ګانو او پادریانو دا سے عقیده دی چه پخپله ئے پرهم کامل اعتبار نشته.

۵۶ د دے ځائے نه یو دریم تقریر شروع کیږی. د دے تقریر په مضمون چه سړے غور وکړی نو دا سے معلومیږی چه دا تقریر د جنګ بدر او د جنګ اُحد په منځ کښ نازل شوے دے. خو د دے درے واړو تقریرونو مطلبونه یو بل سره دومره نزدے دی چه د سورت د شروع نه را واخله تر دے ځائے پورے ټوله یوه خبره ښکاری. په دے وجه د بعضے مفسرینو دا خیال دے چه دا روستنی آیتونه هم د وفدِ نجران د تقریر سلسله ده. خو د دے ځائے نه چه کوم تقریر شروع کیږی د هغے د انداز نه معلومیږی چه هغه یهودیانو ته دے.

بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ اَلَّا نَعْبُدَ اِلَّا اللّٰهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهٖ شَيْـًٔا
وَّلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا اَرْبَابًا مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ فَاِنْ تَوَلَّوْا
فَقُوْلُوا اشْهَدُوْا بِاَنَّا مُسْلِمُوْنَ ﴿۶۴﴾ يٰۤاَهْلَ الْكِتٰبِ لِمَ تُحَآجُّوْنَ
فِيْۤ اِبْرَاهِيْمَ وَمَاۤ اُنْزِلَتِ التَّوْرٰىةُ وَالْاِنْجِيْلُ اِلَّا مِنْۢ بَعْدِهٖ ؕ
اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۶۵﴾ هٰۤاَنْتُمْ هٰۤؤُلَآءِ حَاجَجْتُمْ فِيْمَا لَكُمْ بِهٖ عِلْمٌ
فَلِمَ تُحَآجُّوْنَ فِيْمَا لَيْسَ لَكُمْ بِهٖ عِلْمٌ ؕ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ

منځ کښې یوشان ده[۵۷]. هغه دا چه مونږ به د الله نه بغیر د بل چا بندګی نه کوو، د هغه سره به څوک نه شریکه وو، په مونږ کښې به یو کس بل کس خپل خدائے نه جوړه وی سوا د الله نه" ـــــ ددے دعوت قبلولو نه که هغوئ مخ واړه وو نو صفا ورته اووایئ چه په دے خبره ګواهان وسیږئ چه مونږ خو مسلمانان (یعنی صرف د خدائے بندګی کونکی او حکم منونکی) یو.

اے اهل کتابو، تاسو د ابراهیم په باره کښې مونږ سره جګړه ولے کوئ؟ تورات او انجیل خو د ابراهیم نه روستو نازل شوی دی. نو په دومره صفا خبره هم نه پوهیږئ[۵۸] ـــــ تاسو ته چه د کومو څیزونو علم وو په هغے کښې خو مونږ بحثونه وکړل اوس په هغے خبرو کښې څله بحثونه کوئ چه تاسو سره د هغے هډو علم نشته. الله پوهیږی

[۵۷] یعنی په یوه داسے عقیده مونږ سره اتفاق وکړئ چه مونږ ه پرهم ایمان راوړے دے او چه د هغے د صحیح والی نه تاسو هم انکار نشئ کولے. ستاسو خپلو پیغمبرانو دا عقیده بیان کړی ده. ستاسو په خپلو مقدسو کتابونو کښې ددے عقیدے تعلیم موجود دے.

[۵۸] یعنی ستاسو د یهودیت او د نصرانیت د تورات او د انجیل د نازلیدو نه روستو پیدا شوی دی او ابراهیم علیه السلام ددے دواړو د نازلیدو نه ډیر مخکښې تیر شوے وو. اوس یو معمولی عقل والا انسان هم په دے خبره په آسانه پوهیږی چه ابراهیم علیه السلام په کوم مذهب وو هغه خو یهودیت یا نصرانیت نه وو. نو چه ابراهیمؑ په نیغه لار وو او یو کامیاب انسان وو او د یهودیت او د نصرانیت نه ډیر مخکښې تیر شوے وو، نو دا صفا معلومه شوه چه د نیغے لارے او د نجات د پاره یهودیت یا نصرانیت هیڅ شرط نه دے. (او ګوره سورة بقرة حاشیه نمبر ۱۳۵ و ۱۴۱).

وَاَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۶۶﴾ مَا كَانَ اِبْرٰهِيْمُ يَهُوْدِيًّا وَّلَا نَصْرَانِيًّا
وَّلٰكِنْ كَانَ حَنِيْفًا مُّسْلِمًا ؕ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿۶۷﴾
اِنَّ اَوْلَى النَّاسِ بِاِبْرٰهِيْمَ لَلَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُ وَهٰذَا النَّبِيُّ وَ
الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ؕ وَاللّٰهُ وَلِيُّ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۶۸﴾ وَدَّتْ طَّآئِفَةٌ مِّنْ
اَهْلِ الْكِتٰبِ لَوْ يُضِلُّوْنَكُمْ ؕ وَمَا يُضِلُّوْنَ اِلَّآ اَنْفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۶۹﴾
يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ لِمَ تَكْفُرُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَاَنْتُمْ تَشْهَدُوْنَ ﴿۷۰﴾

تاسو نۀ پوهیږئ. ابراهیم نۀ یهودی وُو نۀ عیسائی، بلکه هغه خو یو مخیزے مسلمان[۵۹] وُو او هغه هرگز دَ مشرکانو نه نۀ وُو." د ابراهیم سره دَ تعلق ساتلو زیات حقدار که څوک دی نو هغه هغه خلق دی چه دَ هغه پیروی یې کړی ده او اوس دا نبی او ددۀ منونکی ددے تعلق ساتلو زیات حقدار دی. الله صرف دَ هغه خلقو ملګرے او مددګار دے چه ایمان لری.

(اے ایمان والو) په اهل کتابو کښ یوه ډله دا غواړی چه په څه طریقه تاسو دَ نیغے لارے نه واړه وی، خو په حقیقت کښ هغوئ دَ خپل ځان نه بغیر بل څوک دَ نیغے لارے نه نۀ اړه وی خو هغوئ په دے پوهیږی نۀ. اے اهل کتابو تاسو دَ الله دَ آیتونو نه انکار ولے کوئ حالانکه تاسو یې په خپلو سترګو وینئ ګورئ[۶۰]؟

[۵۹] په اصل کښ لفظ حنیف استعمال شوے دے. ددے مطلب دا دے چه یو سړے دَ هر طرف نه مخ واړه وی او په یوه خاصه لار باندِ روان شی. دا مطلب مونږه په "یو مخیزی مسلمان" سره ادا کړے دے.

[۶۰] ددے فقرے دویمه ترجمه دا هم کیدے شی چه "تاسو پرِ پخپله ګواهی کوئ". په دواړو ترجمو سره په مطلب کښ څه فرق نۀ راځی. په خپله دَ نبی صلی الله علیه وسلم پاک ژوند، دَ صحابه کرامو په ژوند باندِ دَ نبی دَ تعلیم زبردست اثر، او دَ قرآن لوړ مقصدی بیانونه، دا ټول څیزونه د الله تعالیٰ دا سے صفا او روښانه نښے وے، چه کوم سړے د پیغمبرانو د احوال نه او د آسمانی کتابونو د طرز نه واقف وی نو د هغه د پاره دَ محمدؐ په نبوت کښ شک کول ډیر ګران وُو. او دا حقیقت دے چه ډیرو اهل کتابو ته (خاص طور د اهل کتابو عالمانو ته) دا معلومه شوے وه چه محمدؐ هغه نبیؐ دے چه مخکښے پیغمبرانو ئے د راتلو وعدے کړے وے،

يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ لِمَ تَلْبِسُوْنَ الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ وَ تَكْتُمُوْنَ الْحَقَّ
وَاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۷۱﴾ ع وَقَالَتْ طَّآئِفَةٌ مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ
اٰمِنُوْا بِالَّذِيْٓ اُنْزِلَ عَلَى الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَجْهَ النَّهَارِ وَ
اكْفُرُوْٓا اٰخِرَهٗ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿۷۲﴾ ج ۚ وَلَا تُؤْمِنُوْٓا اِلَّا لِمَنْ
تَبِعَ دِيْنَكُمْ ؕ قُلْ اِنَّ الْهُدٰى هُدَى اللّٰهِ ۙ اَنْ يُّؤْتٰٓى اَحَدٌ
مِّثْلَ مَآ اُوْتِيْتُمْ اَوْ يُحَآجُّوْكُمْ عِنْدَ رَبِّكُمْ ؕ قُلْ اِنَّ

اے اهلِ کتابو، حق له د باطل رنګ ولے ورکوئ چه یو شکمن شے تر جوړ کړئ؟ او سره د پوهے قصداً حق ولے پټوئ؟ ع

په اهل کتابو کښ یوه ډله وائي چه ددے نبي په منونکو باندِ څه نازل شوی دی په هغے باندِ سحر ایمان راوړئ او ما ښام تر بیا انکار وکړئ، کیدے شي چه په دے چل داخلق دخپل ایمان نه واوړي[۶۱]. دغه شان داخلق په خپلو کښ وائي چه د خپل مذهب دخلقو نه بغیر د بل چا خبره مه منئ. اے نبيؐ، دوئ ته ووایه چه "اصل هدایت خو د الله هدایت دے او داد الله ورکړه ده چه تاسو ته څه درکړے شوی ؤو هغه اوس بل چا ته ورکړے شي، یا دا چه نورو خلقو ته د الله په دربار کښ ستاسو خلاف یو قوی او مضبوط دلیل ملاؤ شي." اے نبيؐ، دوئ ته ووایه چه

نو دے پورے چه کله کله به د حق د زور نه مجبوره شول او په خوله به یے اووئیل چه محمدؐ رښتینی دے او هغه چه کوم تعلیم پیش کوی هغه حق دے. په دے وجه په هغوئ باندِ قرآن بار بار دا الزام لګوی چه د الله کومے ښے علامے تاسو پخپلو سترګو وینئ، او تاسو دا ګواهي کوئ چه هغه حق دی، هغے ته تاسو په قصد باندِ د شرارت په وجه دروغ وائئ.

[۶۱] دا یوه دوکه وه چه کوم یهودي مشران به د مدینے په خوا و شا کښ و سیدل هغوئ به دا دوکه د اسلام د کمزوري کولو د پاره کوله. هغوئ خاص ددے غرض د پاره چه د مسلمانانو زړونه وټکیږي او د نبي صلی الله علیه وسلم نه عام خلق بدګمانه شي، پټ پټ سړي تیاره ول شروع کړل. هغوئ ته به یے وئیل چه اول ښه په اعلان سره اسلام قبول کړئ، او بیا د اسلام نه را واوړئ، او ځائے په ځائے په خلقو کښ دا مشهوره کړئ چه موږ ده په اسلام کښ په مسلمانانو کښ او د هغوئ په پیغمبر کښ

الْفَضْلَ بِيَدِ اللّٰهِ ۚ يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ﴿۷۳﴾ ج لا
يَخْتَصُّ بِرَحْمَتِهٖ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ﴿۷۴﴾ وَ
مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ مَنْ اِنْ تَاْمَنْهُ بِقِنْطَارٍ يُّؤَدِّهٖۤ اِلَيْكَ ۚ وَ
مِنْهُمْ مَّنْ اِنْ تَاْمَنْهُ بِدِيْنَارٍ لَّا يُؤَدِّهٖۤ اِلَيْكَ اِلَّا مَا
دُمْتَ عَلَيْهِ قَآئِمًا ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَالُوْا لَيْسَ عَلَيْنَا فِي

"فضل او شرف خو د الله په اختیار کښ دے، چه چا له یئے ورکول غواړی هغه له یئے ورکوی۔ هغه فراخه[62] نظر والا دے او په هر څه باندِ پوه[63] دے، هغه د خپل رحمت د پاره چه څوک وغواړی هغه خاص کوی او د الله فضل ډیر لوئ دے۔"

په اهل کتابو کښ خو څوک داسے دی که ته پرِ بروسه وکړے او د مالونو یو ډیرے ورسره امانت کیږدے هغه به هغه مال تا ته واپس ادا کوی، او څوک پکښ داسے دی که د یوے اشرفئ اعتبار پرِ وکړے نو تر هغے به یئے نه درکوی تر څو چه هر وخت ورته د سر د پاسه ولاړ نه یئے۔ د دوئ د دے بد اخلاقئ وجه دا ده چه دوئ وائی "د امیانو (د یهودیانو نه علاوه د نورو خلقو) په باره کښ په موږ باندِ

دا او د اخرابئ ولیدلے څکه خو موږ ته اسلام پریښودو او د هغوئ له جدا شو۔

[62] په اصل کښ لفظ "واسع" استعمال شوے دے چه په قرآن کښ عام طور په درے موقعو کښ استعمالیږی۔ یوه هغه موقع چه کله د انسانانو د یوے ډلے د تنګ خیالئ او د تنګ نظرئ ذکر راشی او دغے ډلے ته دا حقیقت ښکاره کول ضروری وی چه الله ستاسو پشان تنګ نظره نه دے۔ دریمه هغه موقع چه کله الله تعالیٰ انسان په خپل بخل او په خپله تنګ دلئ باندِ ملامته کوی او هغه ته دا ښائی چه د الله لاس فراخه دی، هغه ستاسو پشان بخیل نه دے۔ دریمه هغه موقع چه کله انسان د خپل خیال د کمی په وجه الله تعالیٰ هم محدود ګڼړی نو هغه ته دا ثابتوی چه الله غیر محدود دے۔ (او کوره سورة بقرة، حاشیه نمبر ۱۱۶)

[63] یعنی الله ته معلومه ده چه څوک د فضل او د شرف مستحق دے۔

الْاُمِّيّٖنَ سَبِيْلٌ ۚ وَيَقُوْلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ وَهُمْ
يَعْلَمُوْنَ ﴿٧٥﴾ بَلٰى مَنْ اَوْفٰى بِعَهْدِهٖ وَاتَّقٰى فَاِنَّ اللّٰهَ
يُحِبُّ الْمُتَّقِيْنَ ﴿٧٦﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ يَشْتَرُوْنَ بِعَهْدِ اللّٰهِ وَ
اَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيْلًا اُولٰٓئِكَ لَا خَلَاقَ لَهُمْ فِى الْاٰخِرَةِ وَ
لَا يُكَلِّمُهُمُ اللّٰهُ وَلَا يَنْظُرُ اِلَيْهِمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَلَا يُزَكِّيْهِمْ

هیڅ کرنت نشته ګڼي اودا خبره هغوی په الله پورې خالص دروغ ترې، حالانکه دا هغوئ ته معلومه ده (چې الله دا سې هیڅ خبره نه ده کړې) آخر ولې به ده هغوئ نه تپوس نه کیږي؟ هرچا چې خپله وعده پوره کړله، او ده بدئ نه ځان بچ کړلو، هغه به ده الله محبوب بنده وي ځکه چې پرهیزګار خلق ده الله خوښ وي. پلټئ شو هغه خلق چې ده الله وعده او خپل قسمونه په لږ قیمت خرڅوي، نو ده هغوئ د پاره په آخرت کښ هیڅ حصه نشته، ده قیامت په ورځ به الله نه ده هغوئ سره خبره وکړي نه به ورته وګوري او نه به یې پاک کړي،[65]

[64] دا یواځې دیهودیانو د عامو خلقو جاهلانه خیال نه دی بلکه د هغوئ ټول مذهبي تعلیم هم په دې رنګ دی او د هغوئ د لیډرانو دینی حکومت هم د دغسې دی۔ بائبل د قرض او د سود په حکمونو کښ د اسرائیلي سړي او د غیر اسرائیلي سړي په مینځ کښ بنکاره فرق کړې دے (استثناء ۱۵: ۳، ۲۳-۲۰) پټ تلمود کتاب کښ ویلي شوی دي کہ چرے د اسرائیلي غوښې د غیر اسرائیلي غوښې زخمي کړو نو په هغه باندې تاوان نشته، ځکه د غیر اسرائیلي غوښې د اسرائیلي غوښې زخمي کړو نو په هغه باندې تاوان نشته۔ که چا ته په یو ځای کښ غورزیدلے شوے څیز ملاؤ شو نو هغه ډوخواؤ شا آبادئ ته وګوري چې دکومر خلق آبادي ده۔ که د اسرائیلیانو آبادي وه نو هغه له پکار دي چې اعلان وکړي او که د غیر اسرائیلیانو آبادي وه نو اعلان ته ضرورت نشته هغه څیز د ځان سره کیږه دي۔ ربي اسماعیل وائي کہ چرے د یو اُمي او اسرائیلي مقدمه قاضي له راشي نو قاضي کہ خپل مذهبي رُور په اسرائیلي قانون خلاصه ولے شو نو خلاص ورته کړي او وُوائي چې دا زمونږ قانون دے۔ او که چرے د امیانو په قانون کښ ئے خلاصه ولے شو نو د هغوئ د قانون مطابق ورته خلاص کړي او وُوائي چې دا ستاسو قانون دے۔ او که چرے په دوارو قانونو کښ نشو خلاصولے نو بیا چې په کومه بهانه هغه اسرائیلي رور خلاصیدے شو خلاص ورته کړي۔ ربي شموایل وائي چې د غیر اسرائیلي سړي د هرغلطئ نه نا پوهه اعتبار پکار دي (تالموک مشیخی، پال آنزک هرشرن، لندن ۱۸۸۸ء صفحات ۳۷۰-۲۱۰-۲۲۱)

[65] رجه دا ده چې دا خلق ډیر سخت سخت اخلاقي جرمونه کړي او د هغے نه روسته یې

وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۷۷﴾ وَاِنَّ مِنْهُمْ لَفَرِيْقًا يَّلْوٗنَ اَلْسِنَتَهُمْ
بِالْكِتٰبِ لِتَحْسَبُوْهُ مِنَ الْكِتٰبِ وَمَا هُوَ مِنَ الْكِتٰبِ ۚ وَ
يَقُوْلُوْنَ هُوَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ وَمَا هُوَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ۚ وَ
يَقُوْلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿۷۸﴾ مَا كَانَ لِبَشَرٍ
اَنْ يُّؤْتِيَهُ اللّٰهُ الْكِتٰبَ وَالْحُكْمَ وَالنُّبُوَّةَ ثُمَّ يَقُوْلَ
لِلنَّاسِ كُوْنُوْا عِبَادًا لِّيْ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلٰكِنْ كُوْنُوْا

بلکه دَ هغوئ د پاره خو سخته درد ناکه سزا ده.

په دوئ کښ څه خلق داسے دی چه د کتاب لوستلو په وخت کښ ژبه داسے تاؤ را تاؤ کړی چه تۀ به وایئ چه دا دوئ څه وائي دا کښی د کتاب خپل عبارت دے، حالانکه هغه دَ کتاب عبارت نۀ وی[۶۶]، دوئ وائي، دا موږ نه چه څه وائو، دا د الله دَ طرفنه دی حالانکه هغه دَ الله دَ طرفنه نۀ وی، دوئ په قصد باندِ دروغ خبره په الله پورے تړی.

د یو انسان دا کار نۀ دے چه الله ورله کتاب، حکم او پیغمبری ورکړی او هغه د خلقو ته دا وائي چه تاسو د الله په ځائے زما بندګان شئ. هغه خو به دا وائي چه تاسو ربښتینے

هم دا خیال وی چه دَ قیامت په ورځ به بس موږ نه د الله نزدے بندګان یو، الله به موږ ته دَ مهربانئ په نظر ګوری، او که څه لږه ډیره ګناه مو په دُنیا کښ کړیده هغه به هم دَ بزرګانو دَ سفارش په وجه لرے شی. لیکن دَ قیامت په ورځ به د دوئ سره معامله بالکل بَدَلَه وی.

[۶۶] اګرچه دے دا مطلب هم کیدے شی چه دوئ دَ کتاب په معنو کښ بدلون راولی، او یا الفاظ بدل را بدل کړی او څه بل څه مطلب تر راؤ باسی، خو اصلی مطلب یئ دا دے چه دوئ کله کتاب وائي او یو داسے لفظ ته ور ؤ رسیږی، چه که اصلی لفظ وائي خو دَ دوئ پکښ نقصان وی یا دَ دوئ دَ خپلے تحقیدے خلاف راځی، نو په هغے لفظ باندِ ژبه واړوی را واړوی او څه بل څه تر جوړ کړی. د دے مثالونه په قرآن منونکو اهلِ کتابو کښ هم شته دے. مثلاً کوم خلق چه دا وائي چه نبی بشر نۀ دے هغوئ په دے آیت قُلْ اِنَّمَآ اَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ کښ اِنَّمَآ تکے ځان له ځان له یعنی اِنَّ مَا وائي او ترجمه داسے کوی چه "اے نبی، اُو وایه چه په تحقیق سره نۀ یم زۀ یو بشر ستاسو پشان."

رَبّٰنِيّٖنَ بِمَا كُنْتُمْ تُعَلِّمُوْنَ الْكِتٰبَ وَبِمَا كُنْتُمْ
تَدْرُسُوْنَ ۙ﴿۷۹﴾ وَلَا يَاْمُرَكُمْ اَنْ تَتَّخِذُوا الْمَلٰٓئِكَةَ وَ
النَّبِيّٖنَ اَرْبَابًا ؕ اَيَاْمُرُكُمْ بِالْكُفْرِ بَعْدَ اِذْ اَنْتُمْ
مُّسْلِمُوْنَ ﴿۸۰﴾ ع وَاِذْ اَخَذَ اللّٰهُ مِيْثَاقَ النَّبِيّٖنَ لَمَآ اٰتَيْتُكُمْ
مِّنْ كِتٰبٍ وَّحِكْمَةٍ ثُمَّ جَآءَكُمْ رَسُوْلٌ مُّصَدِّقٌ لِّمَا

ربّانی[۶۷] خلق شئ لکه څنګه چه د هغه کتاب د تعلیم تقاضا ده چه تاسو یې پخپله هم وایئ او نورو خلقو ته یې هم وایئ. هغه به تاسو ته هیچرے دا ؤ نه وایئ چه د فرښتو یا د پیغمبرانو نه ځان له خپل رب جوړ کړئ. آیا دا کیدے شی چه تاسو د مسلمانان یئ او یو نبی د تاسو ته د کفر حکم ؤ کړی[۶۸]؟ ع

یاد کړه چه الله د پیغمبرانو نه وعده اغستلی وه چه نن مربږ تاسو له کتاب او حکمت درکړے دے، صبا له که چرے یو بل رسول تاسو له راشی، او کوم تعلیم چه ستاسو سره د مخکښ نه موجود دے د هغے تصدیق کوی،

[۶۷] په یهودیانو کښ به چه کوم عالمان په مذهبی عهده باندؤ، او خلقو ته به یې مذهبی کارونه ښودل، د عبادت او د دینی حکمونو بندوبست به ئے کولو، د هغوی د پاره به لفظ ربانی استعمالیدلو، لکه څنګه چه پخپله په قرآن کښ راغلی دی، لَوْلَا يَنْهٰهُمُ الرَّبَّانِيُّوْنَ وَالْاَحْبَارُ عَنْ قَوْلِهِمُ الْاِثْمَ وَاَكْلِهِمُ السُّحْتَ (د دوئ ربّانیانو او د دوئ عالمانو ولے دوئ د ګناه د خبرو کولو نه او د حرامو د خوړلو نه نه منع کول). دغه شان په عیسایانو کښ د لفظ (Divine) معنی د لفظ ربّانی د معنے پشان ده.

[۶۸] دا د هغے ټولو غلطو خبرو تردید دے چه د دنیا مختلف قومونو د خدائے په پیغمبرانو پورے تړلی دی او بیائے په خپلو کتابونو کښ شامل کړی دی او د دغے په وجه یو پیغمبر یا یوه فرښته د خدایئ درجے ته رسوی. په دے آیت کښ دا یوه قاعده کلیه ښودلے شوی ده چه یو داسے تعلیم چه هغه د الله نه بغیر د بل چا بندګئ او عبادت ته خلق تیاره وی او یا یو بنده د خدایئ مقام ته رسوی، هغه هیچرے د پیغمبر تعلیم نشی کیدے. چرته که په یو مذهبی کتاب کښ د داسے خبرے په نظر راشی نو پوهه شه چه دا د بے لارے کونکو خلقو غلطے خبرے دی.

مَعَكُمْ لَتُؤْمِنُنَّ بِهٖ وَلَتَنْصُرُنَّهٗ ؕ قَالَ ءَاَقْرَرْتُمْ وَ
اَخَذْتُمْ عَلٰى ذٰلِكُمْ اِصْرِيْ ؕ قَالُوْٓا اَقْرَرْنَا ؕ قَالَ فَاشْهَدُوْا
وَاَنَا مَعَكُمْ مِّنَ الشّٰهِدِيْنَ ﴿۸۱﴾ فَمَنْ تَوَلّٰى بَعْدَ ذٰلِكَ
فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿۸۲﴾ اَفَغَيْرَ دِيْنِ اللّٰهِ يَبْغُوْنَ

نو تاسو به ضرور په هغه ایمان راوړئ او د هغه امداد به کوئ[۶۹]" ددے وعدے نه روستو تر الله تپوس وکړو" آیا تاسو ددے اقرار کوئ او په دے باندِ زما د وعدے درنه ذمه واری اخلئ؟" هغوئ اووئیل چه او مونږه اقرار کوو. الله وفرمائیل " ډیره ښه ده تاسو گواهان شئ او زه هم ستاسو سره گواه یم، ددے نه روستو چه څوک د خپل لوظ نه واپس شی نو هم هغه فاسق دے[۷۰]."

اوس ولے د اخلق د الله د اطاعت طریقه (دینُ الله) پریږدی او څه بله طریقه غواړی؟

---

۶۹ مطلب دا دے چه د هر پیغمبر نه ددے خبرے وعده اغستلے شوی ده ـــــ او کومه وعده چه د پیغمبر نه اغستلے شوی وی په هغے کښ د هغهٔ اُمتیان هم شامل وی ـــــ وعده دا ده چه هر کله زمونږ د طرفنه یو نبیؐ درولیږلے شی او هغه هم د هغے دین د قایمولو او د هغے د تبلیغ کوشش کوو د کوم دین د قایمولو او د هغے د تبلیغ کار چه تا ته حواله شوے وو، نو تهٔ به د هغهٔ سره ملګرے کیږے. د هغه سره به تعصّب او بد نیتی نهٔ کوے، ځان به د دین ټیکه دار نهٔ ګڼړے، د حق مخالفت به نهٔ کوے، بلکه چرته چه څوک زمونږ د طرفنه د حق د جهنډے پورته کولو د پاره راوچت کړے شی، تهٔ به د هغهٔ د جهنډے لاندِ کیږے.

د لته په دے خبره ځان پوهه کول پکار دی چه د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم نه وړاندِ د هر نبی نه دا وعده اغستلے شوی ده، او ددے وعدے مطابق هر نبی خپل امت ته د روستو راتلونکی نبی خبر ورکړے ده او دا ئے ورته وئیلی دی چه د هغه ملګرتیا به کوئ. لیکن نهٔ په قرآن کښ او نهٔ په حدیثو کښ چرته ددے خبرے پته لګی چه د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم نه دا ے وعده اغستلے شوی ده یا نبیؐ چرته خپل امت ته دا وئیلی دی چه روستو بل نبی به راځی او په هغهٔ به ایمان راوړئ.

۷۰ اهلِ کتابو ته وائی چه تاسو د الله وعده ماتوئ، تاسو چه د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم نه انکار کوئ او د هغه مخالفت کوئ نو تاسو د هغے وعدے خلاف ورزی کوئ کومه چه ستاسو د پیغمبرانو نه اغستلے شوی وه، نو په دے وجه، اوس تاسو فاسقان یئ یعنی د الله د اطاعت نه وتلی یئ او د خدائے حکم نهٔ منئ.

وَلَهٗٓ اَسْلَمَ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ طَوْعًا وَّكَرْهًا
وَّاِلَيْهِ يُرْجَعُوْنَ ﴿۸۳﴾ قُلْ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَمَآ اُنْزِلَ عَلَيْنَا وَمَآ
اُنْزِلَ عَلٰٓى اِبْرَاهِيْمَ وَاِسْمٰعِيْلَ وَاِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ وَالْاَسْبَاطِ
وَمَآ اُوْتِيَ مُوْسٰى وَعِيْسٰى وَالنَّبِيُّوْنَ مِنْ رَّبِّهِمْ ۖ لَا نُفَرِّقُ
بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْهُمْ ۡ وَنَحْنُ لَهٗ مُسْلِمُوْنَ ﴿۸۴﴾ وَمَنْ يَّبْتَغِ غَيْرَ الْاِسْلَامِ
دِيْنًا فَلَنْ يُّقْبَلَ مِنْهُ ۚ وَهُوَ فِي الْاٰخِرَةِ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿۸۵﴾

حالانکه دَ آسمانونو او دَ زمکے ټول څیزونه چارو ناچار دَ الله حکم منونکی (مسلمانان) دی[۱] او دَ هغه طرفته به واپس ټول ځی؟ اے نبی، ووایه چه "مونږه الله منو، هغه تعلیم منو چه په مونږ باندِ نازل کړے شوے دے، هغه ټولے خبرے منو چه په ابراهیمؑ، اسمٰعیلؑ، اسحٰقؑ، یعقوبؑ او دَ یعقوبؑ په اولاد باندِ نازلے شوے وے، او په هغے هدایاتو باندِ هم ایمان لرو چه موسیٰؑ او عیسیٰؑ او نورو پیغمبرانو ته دَ خپل رب دَ طرفنه ورکړے شوی وُو. مونږ په هغوئ کښ فرق[۲] نه کوو. او مونږه د الله حکم منونکی (مسلمانان) یُو." دَ الله ددے حکم منلو (اسلام) نه بغیر چه څوک څه بله طریقه اختیاره ول غواړی، هغه طریقه به هیچرے قبول نه کړے شی، او هغه به په آخرت کښ ناکامیابه او تاوانی وی.

---

[۱] یعنی د ټولو کائناتو او د کائناتو دَ هر څیز دین خودا اسلام، یعنی د الله حکم منل او بندګی ده، او سے چه ته په دے کائناتو کښ د ننه وُسیږے او اسلام پریږدے نو بله کومه طریقه ګورے؟

[۲] یعنی زمونږ دا طریقه نه ده چه په نبیانو کښ څه منو او څه نه منو، څوک دروغژن کړو او څوک ریښتینے. مونږ دَ بدنیتئ نه پاک یُو دَ جاهلیت سره مینه نه لرو. په دُنیا کښ چه چرته دَ الله بنده د الله د طرفنه حق راوړے دے مونږه د هغه په حقانیت باندِ ګواهی ورکوو.

كَيْفَ يَهْدِي اللّٰهُ قَوْمًا كَفَرُوْا بَعْدَ اِيْمَانِهِمْ وَشَهِدُوْٓا
اَنَّ الرَّسُوْلَ حَقٌّ وَّجَآءَهُمُ الْبَيِّنٰتُ ۭ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ
الظّٰلِمِيْنَ ﴿٨٦﴾ اُولٰۗىِٕكَ جَزَاۗؤُهُمْ اَنَّ عَلَيْهِمْ لَعْنَةَ اللّٰهِ
وَالْمَلٰۗىِٕكَةِ وَالنَّاسِ اَجْمَعِيْنَ ﴿٨٧﴾ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۚ لَا يُخَفَّفُ
عَنْهُمُ الْعَذَابُ وَلَا هُمْ يُنْظَرُوْنَ ﴿٨٨﴾ اِلَّا الَّذِيْنَ تَابُوْا
مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ وَاَصْلَحُوْا ۣ فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٨٩﴾ اِنَّ
الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بَعْدَ اِيْمَانِهِمْ ثُمَّ ازْدَادُوْا كُفْرًا لَّنْ تُقْبَلَ

داځکه کیدے شی چه الله هغے خلقو ته هدایت وکړی کوم خلقو چه د ایمان راوړلو نه روسته بیا کفر اختیار کړو حالانکه هغوئ پخپله ددے خبرے گواهی کړی ده چه د رسول په حقه دے او هغوئ ته صفا او روښانه نښے هم راغلی دی[۴۳] الله خو ظالمانو ته هدایت نه کوی. د دوئ د ظلم صحیح بدله هم داده چه په دوئ باندې د الله او د فرښتو او د ټولو انسانانو لعنت دے، په دے حالت کښ به هغوئ همیشه وی سیږی، نه به ځنے سزا سپکه کړے شی او نه به ورله مهلت درکړے شی. البته هغه خلق به بیخ شی چه ددے نه پس توبه وباسی او د خپل عمل اصلاح وکړی، الله بخښونکے او مهربانه دے. خو کوم خلق چه د ایمان راوړلو نه پس کفر اختیار کړو، او بیا په کفر کښ زیات مخکښ لاړل[۴۴] د هغوئ توبه به هرگز نه

[۴۳] دلته بیا هغه خبره ده کومه چه مخکښے یا ربیان شوی ده چه د نبی صلی الله علیه وسلم په زمانه کښ د عربو یهودی عالمان په دے پوه شوی وُو او په خپله ځے ددے خبرے گواهی کړی وه چه محمدؐ حق نبی ځے د هغه په تعلیم کښے او د مخکښو پیغمبرانو په تعلیم کښ هیڅ فرق نشته. ددے گواهی نه روسته ځه چه هغوئ کړی دی هغه ځے صرف د بد نیتئ د ضد او د حق د دشمنئ په وجه کړی دی. او داده حق سره دشمنی کول د هغوئ هغه پخوانے عادت وُو کوم چه د سوُو نو گالو راسے په هغوئ کښ راروان وُو.

[۴۴] یعنی نه یوازے داچه انکار ځے وکړو بلکه د انکار سره ځے مخالفت هم شروع کړو، او د خدا ځے دلارے نه د خلقو د اړولو په کوشش کښ ځے ډیر زور وُلگوو، شکونه ځے پیدا کړل، بدگمانئ ځے خورے کړے، په زړونو کښ ځے وسوسے واچولے، خطرناک سازشونه او شرارتونه ځے وکړل د اتول ځے ددے وپاره وُکړل چه نبیؐ په خپل مقصد کښ کامیاب نه شی.

تَوْبَتُهُمْ ۚ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الضَّآلُّوْنَ ﴿۹۰﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَمَاتُوْا
وَهُمْ كُفَّارٌ فَلَنْ يُّقْبَلَ مِنْ اَحَدِهِمْ مِّلْءُ الْاَرْضِ ذَهَبًا وَّلَوِ
افْتَدٰى بِهٖ ؕ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ وَّمَا لَهُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ﴿۹۱﴾ ع

لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتّٰى تُنْفِقُوْا مِمَّا تُحِبُّوْنَ ۝

الجزء (۴)

قبلیږی، داسے خلق خو پاخه ګمراهان دی. یقین لرئ چه کومو خلقو کفر اختیار کړو او هم د کفر په حالت کښ مړه شو په هغوئ کښ که څوک دا ټوله زمکه د سرو زرو نه ډکه کړی او د سزا نه د بچ کیدلو د پاره ئے په فدیه کښ پیش کړی خو قبول به نه کړے شی. د داسے خلقو د پاره دردناکه سزا تیاره ده او هغوئ به خپل یو مددګار و نه وینی. ع

تاسو نیکئ ته نشئ رسیدلے ترڅو چه خپل هغه څیزونه (د خدائے په لار کښ) خرچ نه کړی د کومو سره چه تاسو مینه لرئ ۷۵

۷۵ د نیکئ په باره کښ چه د هغوئ کوم غلط خیال وُو، دلته هغه غلط خیال لرے کول مقصد دے. د هغوئ په دماغو کښ د وچتونه وچته نیکی دا وه چه د سوُونو کالو راسے د "شرع د پابندئ" کوم خاص ظاهری شکل په هغوئ کښ جوړ شوے وُو چه هغه ظاهری شکل سړے په خپل ژوند کښ راولی، او د هغوئ عالمانو چه د قانون د نرو نرو خبرو نه کوم اوږد فقهی نظام جوړ کړے وُو چه سړے د هغے مطابق بس صرف د خپل ژوند د وړو وړو معاملو فیصلے کوی. د دے ظاهری شرعی شکل د لاندِ د یهودیانو لویو لویو "دیندارو" خلقو خپل حرص، بُخل، د حق پټولو او د حق خرڅولو خپل ټول عیبونه پټ کړی وُو او د عامو خلقو په نظر کښ هغوئ نیکان خلق ښکاریدل. د هغوئ د دے غلط خیال لرے کولو د پاره هغوئ ته وئیلے کیږی چه د "نیک انسان" جوړیدلو مقام د هغے څیزونو نه ډیر پورته دے کوم څیزونه چه تاسو د نیکئ د پاره یو معیار ګڼړلے دے. د نیکئ اصل روح د خدائے سره مینه ده، داسے مینه چه د الله د رضا په مقابله کښ د دُنیا یو څیز سړی ته غوریز نه وی. د کوم څیز مینه چه د سړی په زړه باندِ دومره غالبه شی چه هغه څیز بیا د خدائے په مینه قربانولے نشی نو بس هم دغه بُت دے، او ترڅو چه دغه بُت سړی مات کړے نه وی، نو تر هغے په هغه باندِ د نیکئ دروازے بندی وی. ظاهری شرعی شکل چه د دے روح نه خالی وی نو د هغے مثال د هغے چمکدار رنګ پشان دے چه هغه په چیخن او روث لرګی د پاسه لګیدلے وی. انسان په داسے رنګ دوکه کیدے شی خو خدائے پرِ نشی دوکه کیدے.

وَمَا تُنْفِقُوْا مِنْ شَيْءٍ فَاِنَّ اللّٰهَ بِهٖ عَلِيْمٌ ﴿٩٢﴾ كُلُّ الطَّعَامِ كَانَ
حِلًّا لِّبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اِلَّا مَا حَرَّمَ اِسْرَآءِيْلُ عَلٰى نَفْسِهٖ مِنْ
قَبْلِ اَنْ تُنَزَّلَ التَّوْرٰىةُ ۭ قُلْ فَاْتُوْا بِالتَّوْرٰىةِ فَاتْلُوْهَآ
اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿٩٣﴾ فَمَنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ
مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ فَاُولٰۗىِٕكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿٩٤﴾ قُلْ صَدَقَ اللّٰهُ

اوشه چه تاسو خرچ کړئ الله به ورځخه نه ناخبره نه وی .

د خوراک دا ټول شیزونه (چه وخحلو په شریعت کښ حلال دی) د بنی اسرائیلو پاره هم حلال وو[۹۶] البته بعضے شیزونه دا سے وو چه هغه د تورات د نازلیدو نه مخکښ اسرائیل پخپله پخپل ځان حرام کړی وو . ورته وو وایه که تاسو (په خپل اعتراض کښ) ریښتینے یئ نو راوړئ تورات ته او هغه عبارت پیش کړئ — ددے نه روستو هم چه څوک خپلے دروغ خبرے په خدائے پورے ترړی هغه په حقیقت کښ ظالمان دی . ورته وو وایه چه خدائے څه وئیلی دی ریښتیا ئے وئیلی دی ،

[۹۶] په قرآن باندے او د محمد صلی الله علیه وسلم په تعلیمات و باندے چه د یهود و عالمانو نوشه اصولی اعتراض وُنه کړے شو (څکه چه د دین بُنیاد په کومو خبرو باندے په هغے کښ او د پخوانو پیغمبرانو په تعلیم کښ او د نبی عربی په تعلیم کښ د یخته هومره فرق نه وُو) نو بیائے فقهی اعتراضونه شروع کړل . په دے سلسله کښ د هغوئ اولنے اعتراض دا وُو چه محمد د خوږک څکاک بعضے داسے شیزونه حلال کړی دی چه هغه د پخوانو پیغمبرانو د زمانے نه حرام راروان دی . ددے اعتراض دلته جواب ورکړے شوے دے .

[۹۷] د "اسرائیل" نه کُمراد بنی اسرائیل او اختلے شی نو مطلب به ئے دا وی چه هغوئ د تورات نازلیدو نه وړاندے بعضے شیزونه هغه د رسم ورواج په طور حرام کړلی وُو . او که د "اسرائیل" نه مراد حضرت یعقوبؑ او اختلے شی نو مطلب به ئے دا وی چه بعضے شیزونه د هغه طبیعت ته نه لګیدل او په دے وجه ئے خوښ نه وُو او یا خوئے د بعضے شیزونو نه د خپل شه مرض په وجه ځان ساتلو او بیا روستو د هغه اولاد هغه شیزونه حرام وُګرځول . دا روسته نے روایت زیات مشهور دے . او ورپسے دے روستو آیت نه دا خبره صفا څرګنده ګرځی چه د اُوښ او د سُویئ وغیره د حرامو والی کوم حکم چه په بائیبل کښ لیکلے شوے دے هغه د اصل تورات حُکم نه دے بلکه یهودی عالمانو پخپل روستو د ځان نه داخل کړے دے .

(د تفصیلی بحث د پاره اوګورئ سورة انعام حاشیه نمبر ۱۲۲)

فَاتَّبِعُوْا مِلَّةَ اِبْرَاهِيْمَ حَنِيْفًا ؕ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿۹۵﴾
اِنَّ اَوَّلَ بَيْتٍ وُّضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِيْ بِبَكَّةَ مُبٰرَكًا وَّهُدًى
لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿۹۶﴾ فِيْهِ اٰيٰتٌۢ بَيِّنٰتٌ مَّقَامُ اِبْرٰهِيْمَ ۚ وَمَنْ

تاسو له پکار دی چه یو مخیزے شئ او د ابراهیمؑ په طریقے پسے روان شئ او ابراهیمؑ د مشرکانو نه نه وُو۔[۷۸]

بیشکه د ټولو نه اولنے عبادت ګاه چه د انسانانو د پاره جوړ شوے دے هغه هم دغه دے چه دا په مکه کښ دے. دے له برکت ورکړے شوے وُو او د ټول جهان والو د پاره د هدایت مرکز جوړ شوے وُو۔[۷۹] په دے کښ څرګندے نښے دی[۸۰]، د ابراهیمؑ د عبادت ځائے دے، او دائے حال دے چه څوک

[۷۸] مطلب دا دے چه په دے فقهی وَړو وړو خبرو کښ ولے نختی یئ. د دین جړړه خو د یو خدا یے بندګی ده چه هغه تاسو پریښودله او د شرک په ګندګئ کښ اخته شوئ. اوس هیله بیله په فقهی مسئلو کښے بحث کوئ، حالانکه دا خو هغه مسئلے دی چه کله تاسو د اصلی ابراهیمی طریقے نه واوړیدئ او د تنزل اوږدے صدئ د رباند تیرے شوے نو ستاسو عالمانو نرو نرو خبرو لټون شروع کړو او دا مسئلے پیدا شوے.

[۷۹] د یهودیانو دویم اعتراض دا وُو چه تاسو بیت المقدس ولے پریښو او د کعبے نه مو قبله ولے جوړه کړه، حالانکه د پخوانو پیغمبرانو قبله بیت المقدس وه. د دے جواب په سورة بقره کښ ورکړے شوے دے. لیکن یهودیان د دے نه روستو هم په خپل اعتراض ټینګ وُو. د دے وجے نه دلته بیا د دے جواب ورکړے شوے دے. د بیت المقدس په عقله خو چنپله په بائیبل کښ دا شهادت موجود دے چه د حضرت موسیٰؑ نه څلور نیم سوه کاله روستو حضرت سلیمانؑ دا آباد کړو (۱. سلاطین، باب ۶ - آیت ۱). او هم د حضرت سلیمانؑ په زمانه کښ د اهل توحید و قبله جوړه کړے شوه (دغه کتاب، باب ۸، آیت ۲۹-۳۰). د دے نه برعکس د ټولو عربو په دے اتفاق دے چه کعبه حضرت ابراهیمؑ جوړه کړیده او هغه د حضرت موسیٰؑ نه اته نهه سوه کاله مخکښ تیر شوے دے. لهذا کعبه اولنئ عبادت خانه ده او دا یو داسے حقیقت دے چه په دے کښ خبرو کولو ته حاجت نشته.

[۸۰] یعنی په دے کور کښ داسے ښکاره علامے دی چه د هغے نه دا ثابتیږی چه دا د الله په در کښ قبول شوے دے او خدائے د خپل کور په حیثیت سره خوښ کړے دے. دا کور په سور بیابان کښ جوړ کړے شوا و بیا د هغے په خوا کښ د وسیدونکو خلقو د پاره الله تعالیٰ د رزق رسولو ښه ښکلے انتظام وُکړو. د دوه نیم زر و کالو پورے په ټول عرب کښے د جاهلیت د وجے سخته بے امنی وه، خو د بے امنئ او د فساد په دے زمکه کښ یوه کعبه او د کعبے خواؤ شا ځائے داسے وُو چه په هغے کښ امن وُو. بلکه د دے کعبے دا برکت وُو چه په ټول کال کښ پوره څلور میاشتے ټول وطن ته د دے په وجه امن

دَخَلَهٗ كَانَ اٰمِنًا ؕ وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ
اسْتَطَاعَ اِلَيْهِ سَبِيْلًا ؕ وَمَنْ كَفَرَ فَاِنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ عَنِ
الْعٰلَمِيْنَ ﴿۹۷﴾ قُلْ يٰۤاَهْلَ الْكِتٰبِ لِمَ تَكْفُرُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ۖ
وَاللّٰهُ شَهِيْدٌ عَلٰى مَا تَعْمَلُوْنَ ﴿۹۸﴾ قُلْ يٰۤاَهْلَ الْكِتٰبِ
لِمَ تَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ مَنْ اٰمَنَ تَبْغُوْنَهَا عِوَجًا
وَّاَنْتُمْ شُهَدَآءُ ؕ وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿۹۹﴾

ور داخل شو نو په امن شو[۸۱] په خلقو باندِ د الله دا حق دے چه څوک دے کور ته
د رسیدلو طاقت لري هغه دِ د دے حج وکړي، او چه څوک د دے حکم د منلو نه انکار وکړي
نو پکار دي چه دا ورته معلومه شي چه الله د ټولے دنیا د مخلوق نه بے نیازه دے۔
ورته وُوایه، اے اهل کتابو، تاسو ولے د خدائے د خبرو منلو نه انکار کوئ؟
تاسو چه څه حرکتونه کوئ هغه ټول الله وینی۔ ورته وُوایه، اے اهلِ کتابو، دا ستاسو
څه طریقه ده چه څوک د الله خبره منی هغه هم د الله د لارے نه منع کوئ او غواړئ
چه هغه په کږه لاره لاړ شي، حالانکه تاسو پخپله گواهان یئ (چه هغه په نیغه لار دے)
ستاسو د حرکتونو نه الله ناخبره نه دے۔

حاصل وُو۔ او بیا اوس پنځوس کاله وړاندِ دا واقعه ټولو لیدلی وه چه کله ابرهه د کعبے د ورانولو د پاره
په مکه باندِ حمله وکړه نو د هغه فوج څنګه د الله په قهر اخته شو او ختم شو۔ د دے واقعے نه
په هغه وخت کښ د عربو بچے بچے خبر وُو، او د دے آیتونو د نازلیدو په وخت کښ هغه خلق موجود
وُو چا چه دا واقعه په خپلو سترګو لیدلی وه۔

[۸۱] د جاهلیت په دور کښ هم د دے کور دا عزت او احترام وُو چه کوم دُشمنان به د یو بل
وینو څکلو ته تیار وُو هغوئ به هلته یو بل بنه لیدلو خو په یو بل به ئے د لاس وُچتولو زړه ور تیا نشوه
کولے۔

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنْ تُطِيْعُوْا فَرِيْقًا مِّنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا
الْكِتٰبَ يَرُدُّوْكُمْ بَعْدَ اِيْمَانِكُمْ كٰفِرِيْنَ ﴿١٠٠﴾ وَكَيْفَ تَكْفُرُوْنَ
وَاَنْتُمْ تُتْلٰى عَلَيْكُمْ اٰيٰتُ اللّٰهِ وَفِيْكُمْ رَسُوْلُهٗ ؕ وَمَنْ
يَّعْتَصِمْ بِاللّٰهِ فَقَدْ هُدِيَ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿١٠١﴾ يٰٓاَيُّهَا
الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ حَقَّ تُقٰتِهٖ وَلَا تَمُوْتُنَّ اِلَّا وَاَنْتُمْ
مُّسْلِمُوْنَ ﴿١٠٢﴾ وَاعْتَصِمُوْا بِحَبْلِ اللّٰهِ جَمِيْعًا وَّلَا تَفَرَّقُوْا ۠

اے هغه خلقو چه ایمان مو راوړے دے، که تاسو په اهل کتابو کښ دیوے ډلے خبره ومنله نو دوئ به تاسو ځ ایمان نه بیا کفر ته واړوی. او ستاسو د پاره کفر ته ځ واپس تللو څه بهانه پاتے ده اوس خو تاسو ته ځ الله آیتونه اوږ ولے کیږی او ځ خدائے رسول په تاسو کښ موجود دے؟ چا چه د الله لمن ښه په مضبوطیا سره ونیوله هغه ضرور نیغه لاره بیا موندله۔

اے هغه خلقو چه ایمان مو راوړے دے، د الله نه ویریږئ لکه څنګه چه د هغه نه ویریدل حق دے. تاسو له په مرګ نه راځئ، خو که راځئ نو په دے حال کښ چه تاسو مسلمانان یئ۔[۱۰۲] تول راجمع شئ او د الله رسۍ[۱۰۳] مضبوطه ونیسئ او په له بازی مه کوئ۔

[۱۰۲] یعنی ځ مرګ پورے ځ الله فرمانبردار او وفادار بندګان جوړ شئ۔

[۱۰۳] د الله د رسۍ نه مراد ځ هغه دین دے، او د رسۍ ورته ځکه ویلے شوی ده چه دا یو طرفته د ایمان والو تعلق د الله سره قایمۍ او بل طرفته تول ایمان والا خپلو کښ را یو ځائے کوی او یو جماعت ترې جوړوی. د دے رسۍ ځ "مضبوط نیولو" څخه مراد دا دے چه ځ مسلمان په تفرکښ د اصلی اهمیت ځ "دین" وی، د دین سره د هغوئ د زړه مینه وی، ځ دین قایمولو د پاره د کوشش کوی او ځ دین ځ خدمت د پاره د یو بل سره امداد کوی۔ چرته چه ځ دین ځ بنیادی تعلیما تو او د هغے ځ قایمولو ځ مقصد نه مسلمانان په ډډه شوے دے او څخه ځ دین ځ روح او روح خبروته راکړ زیدلے ده نو په هغوئ کښ بیا خانخانه هغه له بازی او اختلافی راځی چه هغے ځ پخوا نو پیغمبرانو امتیان په ځ دنیا او آخرت دوارو کښ رسوا کړی دی۔

وَاذْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ اِذْ كُنْتُمْ اَعْدَآءً فَاَلَّفَ بَيْنَ
قُلُوْبِكُمْ فَاَصْبَحْتُمْ بِنِعْمَتِهٖٓ اِخْوَانًا ۚ وَكُنْتُمْ عَلٰى شَفَا حُفْرَةٍ
مِّنَ النَّارِ فَاَنْقَذَكُمْ مِّنْهَا ؕ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ اٰيٰتِهٖ لَعَلَّكُمْ
تَهْتَدُوْنَ ﴿۱۰۳﴾ وَلْتَكُنْ مِّنْكُمْ اُمَّةٌ يَّدْعُوْنَ اِلَى الْخَيْرِ وَيَاْمُرُوْنَ

دَ الله هغه احسان را یاد کړئ کوم چه هغه په تاسو باندِ کړے دے. تاسو دَ یو بل دُشمنان وئ، هغه ستاسو په زړونو کښ محبت واچوؤ او دَ هغه په فضل سره تاسو رونړه رونړه شوئ. تاسو دَ وُور دَ یوے کندے په غاړه ولاړ وئ، الله تاسو دَ هغے نه بچ کړئ[۸۴] دغه شان الله تاسو ته خپلے نښے واضحه ښکاره کوی کیدے شی چه ددے نښو په ذریعه تاسو ته دَ خپل خلاصی نیغه لار په نظر راشی[۸۵]

په تاسو کښ څه خلق ضرور داسے پکار دی چه نیکئ ته را بلل کوی، دَ ښهٔ کار

[۸۴] دا دعربو هغے حالت ته اشاره ده چه دا اسلام نه مخکښ پکښ هغوئ اخته وُو. د قبائیلو په خپلو کښ دشمنی وه، په هره خبره دَ هغوئ جنګ جګړے وے، او شپه او ورځ قتلو نه وُو، ددے په وجه قریبه وه چه ټول عرب قوم ختم شوے وے. په دے وُور کښ دَ سوزیدو نه چه څه څیز هغوئ بچ کړل هغه فقط دا د اسلام نعمت وُو. دا آیتونه چه په کوم وخت کښ نازل شوی دی د هغے نه درے څلور کاله مخکښ د مدینے خلق مسلمانان شوی وُو، او دَ اسلام دا ښکاره نعمت هرچالیدو، چه دا اَوس او دَ خَزْرَج کومے قبیلے دَ کلونو راسے دَ یو بل دینو ته ټکی ناستے وے هغوئ په خپلو کښے خوارۀ شوی وُو، او دے دواړو قبیلو دَ مکے دَ مهاجرینو سره داسے بے مثاله محبت کولو چه دَ یو خاندان خلق هم هغسے محبت په خپلو کښ نشی کولے.

[۸۵] یعنی که چرے تاسو سترګے لرئ نو ددے نښو په لیدلو سره پخپله اندازه لګولے شئ چه آیا ستاسو خلاصے ددے دین په مضبوط نیولو کښ دے او که نه چه دا پریږدئ او واپس هغے خپل زوړ حالت ته لاړ شئ؟ آیا ستاسو اصلی خیرخواه الله او د هغهٔ رسول دے او که نه هغه یهودیان او مشرکان او منافقان خلق دی چه پخوانی حالت ته مو د واپس بوتللو کوشش کوی؟

بِالْمَعْرُوْفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ ؕ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿۱۰۴﴾
وَلَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ تَفَرَّقُوْا وَاخْتَلَفُوْا مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَهُمُ
الْبَيِّنٰتُ ؕ وَاُولٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ۙ﴿۱۰۵﴾ يَّوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوْهٌ
وَّتَسْوَدُّ وُجُوْهٌ ۚ فَاَمَّا الَّذِيْنَ اسْوَدَّتْ وُجُوْهُهُمْ قف اَكَفَرْتُمْ
بَعْدَ اِيْمَانِكُمْ فَذُوْقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُوْنَ ﴿۱۰۶﴾
وَاَمَّا الَّذِيْنَ ابْيَضَّتْ وُجُوْهُهُمْ فَفِيْ رَحْمَةِ اللّٰهِ ؕ هُمْ
فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۱۰۷﴾ تِلْكَ اٰيٰتُ اللّٰهِ نَتْلُوْهَا عَلَيْكَ بِالْحَقِّ ؕ

حکم کوی او دَ بد و نه منع کول کوی. کوم خلق چه دا کار کوی هغوئ به خلاصے بیا مومی. چرته تاسو دَ هغے خلقو پشان نشئ چه په ډلو کښ تقسیم شو، او دَ صفا واضحه هدایا تو موندلو نه روستو بیا په اختلافاتو کښ اخته شو[۸۶] کومو خلقو چه دا طریقه اختیار کړه هغوئ به په هغه ورځ سخته سزا بیا مومی په کومه ورځ چه څه خلق به خوشحاله سپین مخی وی او څه خلق به خفه تور مخی وی، دَ چا مخونه چه تور وی، (هغوئ ته به وُوئیلے شی چه) آیا تاسو دَ ایمان غونډ دَ لوئ نعمت موندلو نه روستو هم دَ کفر لاره اختیار کړه؟ ښه ده نو اوس دَ دے نعمت دَ ناشکرئ په بدله کښ دَ عذاب مزه وُ څکئ. پاتے شو هغه خلق چه مخونه به ئے روښانه وی نو هغوئ ته به دَ الله په رحمت کښ ځائے ملاؤ شی او همیشه به په دغه حالت کښ وُسیږی. دا دالله حکمونه دی چه موږ دے ئے تیک تیک تاته اورَ وُو

[۸۶] دا هغے اُمتونو طرفته اشاره ده چه دَ خدائے د طرفنه ورته دَ پیغمبرانو په ذریعه دَ حق دین خبرے صفا صفا رسیدلے وے خو چه څه موده پرتیره شوه نو هغوئ د دین بنیادی خبرے پریښودلے او دَ وَرو وَرو مسئلو په بنیاد باندے ځان له جُدا جُدا ډلے جوړے کړلے، او بیا په بے مطلبه خبرو باندے په جګړو کښ داسے مشغوله شو چه نه ئے هغه کار په خیال کښ راتلو کوم چه ورته الله حواله کړے وُو او نه ئے دَ عقیدے او دا خلاقو هغے بُنیادی اُصولو سره څه مینه پاتے شوه کوم چه دَ انسان دَ کامیابئ او دَ نیک بختئ د پاره په حقیقت کښ ضروری دی.

وَمَا اللّٰهُ يُرِيْدُ ظُلْمًا لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۰۸﴾ وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا
فِي الْاَرْضِ ؕ وَاِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ ﴿۱۰۹﴾ ع كُنْتُمْ خَيْرَ اُمَّةٍ اُخْرِجَتْ
لِلنَّاسِ تَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُوْنَ
بِاللّٰهِ ؕ وَلَوْ اٰمَنَ اَهْلُ الْكِتٰبِ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ ؕ مِنْهُمُ

ځکه چه الله په دُنیا والو باندِ دَ ظلم کولو هیڅ اراده نه لری[۸۷] دَ زمکے او دَ آسمانونو دَ ټولو څیزونو مالک الله دے او ټولے معاملے به الله ته پیش کیږی ع

اوس په دُنیا کښ دَ ټولو نه بهتره ډله تاسو یئ چه انسانانو ته دَ لار ښودنے او دَ هغوئ دَ حالت درست کولو دپاره میدان ته راایستلی شوی[۸۸] یئ. تاسو دَ نیکئ حکم کوئ، دَ بدئ نه منع کول کوئ او په الله باندِ ایمان لرئ. که دے اهلِ کتابو[۸۹] ایمان راوړے وے نو دا به دَ هغوئ په حق کښ بهتره وه. اګرچه په هغوئ کښ څه خلق

[۸۷] یعنی الله په دُنیا والو باندِ ظلم کول نه غواړی ځکه خو ورته سیده لار ښائی او دوخت نه مخکښ یے ددے خبرے نه خبره وی چه په آخرت کښ به الله تعالیٰ دکومو خبرو تپوس کوی. ددے نه روستو هم چه خلق په کږه لاره لاړ شی او د خپلو غلطو کارونو نه منع نه شی نو هغوئ به پخپله پخپل ځان ظلم کوی.

[۸۸] دا هغه خبره ده چه دسورة بقرے په اولسمه رکوع کښ بیان شوی ده. دَ نبی عربی صلی الله علیه وسلم اُمتیانو ته وائی چه دَ دُنیا دَ مشرئ او دَ رهنمائئ کوم منصب دَ بنی اسرائیلو نه دَ هغوئ دَ نااهلئ په وجه واغستلے شو اوس هغه تاسو ته حواله شوے دے. ځکه چه دَ ښه اخلاقو او دَ ښه عملونو په وجه اوس په دُنیا کښ دَ ټولو نه بهتره ډله تاسو یئ، او په تاسو کښ هغه صفتونه پیدا شوی دی کوم چه دَ انصاف دارے بادشاهئ او مشرئ دپاره ضروری دی. یعنی دَ نیکئ دَ قایمو لوکارا او دَ بدئ دَ ختمولو کارا دیو الله خپل رب او دَ عبادت لایق منل، په دے هم عقیده لرل او ددے مطابق هم کار کول. نو په دے وجه اوس دا کار تاسو ته حواله شوے دے او ستاسو دپاره ضروری ده چه خپلے ذمه وارئ و پیژنئ او دَ هغے غلطونه ځان بچ کړئ کومے چه ستاسو نه مخکښ قومونو کړی دی. (وګوره سورة بقره حاشیه ع ۱۲۳ و ع ۱۴۴)

[۸۹] دلته دَ اهل کتابو نه مُراد بنی اسرائیل دی.

الْمُؤْمِنُوْنَ وَاَكْثَرُهُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿۱۱۰﴾ لَنْ يَّضُرُّوْكُمْ اِلَّآ اَذًى ؕ وَ
اِنْ يُّقَاتِلُوْكُمْ يُوَلُّوْكُمُ الْاَدْبَارَ قف ثُمَّ لَا يُنْصَرُوْنَ ﴿۱۱۱﴾
ضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ اَيْنَ مَا ثُقِفُوْٓا اِلَّا بِحَبْلٍ مِّنَ اللّٰهِ وَ
حَبْلٍ مِّنَ النَّاسِ وَبَآءُوْ بِغَضَبٍ مِّنَ اللّٰهِ وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ
الْمَسْكَنَةُ ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ كَانُوْا يَكْفُرُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَ
يَقْتُلُوْنَ الْاَنْبِيَآءَ بِغَيْرِ حَقٍّ ؕ ذٰلِكَ بِمَا عَصَوْا وَّكَانُوْا
يَعْتَدُوْنَ ق ﴿۱۱۲﴾ لَيْسُوْا سَوَآءً ؕ مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ اُمَّةٌ قَآئِمَةٌ

ایمان دار هم دی خو اکثر خلق ئے نافرمانه دی. دوئ تاسو ته هیڅ ضرر نشی در رسولے، زیات نه زیات بس تنګول کولے شی. او که دوئ تاسو سره جنګ شروع کړو نو په مقابله کښ به شاکوی تختی به، بیا به داسے بے وسه وی چه دَ هیڅ ځائے نه به ورته امداد نه ملاویږی. دوئ چه په کوم ځائے کښ موندلے شوی دی هلته پرِ دَ ذلت شرق را پریوتے دے، او چرته چه دَ الله یا دَ انسانانو پناه ورته ملاؤ شوی ده نو هغه بیله خبره ده[۱]. دوئ دَ الله په غضب کښ ګیر شوی دی، په دوئ باندِ محتاجی او غلامی راوستلے شوی ده، او دا ټول هر څه په دے وجه شوی دی چه دوئ دَ الله دَ آیاتو نو سره کفر کولو، او پیغمبران ئے ناحقه قتل کړل. داد هغوئ دَ نافرمانئ کولو او دحد نه دوتلو انجام دے.

خو دا ټول اهل کتاب یو شان نه دی، په دوئ کښ څه خلق داسے هم دی چه په نیغه لار ولاړ دی،

[۱] یعنی په دُنیا کښ که چرته څه لږ ډیر امن ورته نصیب شوے هم دے نو هغه ورته دَ خپل زور او طاقت په وجه نه دے نصیب شوے بلکه دَ بل په زور او دَ بل دَ مهربانئ په وجه ورته نصیب شوے دے یا خو ورله چرته یو مسلمان حکومت دَ خدائے په نوم امان ورکړے دے او یا چرته یو غیر مسلم حکومت په خپل حمایت کښ اغستلی دی. دغه شان ډیر ځلے ورته په دُنیا کښ ښه دَ زور موقع هم ملاؤ شوی ده، خو دَ خپلو مټو په طاقت نه بلکه صرف دَ بل په مرسته.

يَّتْلُوْنَ اٰيٰتِ اللّٰهِ اٰنَآءَ الَّيْلِ وَهُمْ يَسْجُدُوْنَ ﴿۱۱۳﴾ يُؤْمِنُوْنَ
بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَيَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ
الْمُنْكَرِ وَيُسَارِعُوْنَ فِي الْخَيْرٰتِ ؕ وَاُولٰٓئِكَ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۱۱۴﴾
وَمَا يَفْعَلُوْا مِنْ خَيْرٍ فَلَنْ يُّكْفَرُوْهُ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِالْمُتَّقِيْنَ ﴿۱۱۵﴾
اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَنْ تُغْنِيَ عَنْهُمْ اَمْوَالُهُمْ وَلَآ اَوْلَادُهُمْ مِّنَ
اللّٰهِ شَيْـًٔا ؕ وَاُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۱۱۶﴾
مَثَلُ مَا يُنْفِقُوْنَ فِيْ هٰذِهِ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا كَمَثَلِ رِيْحٍ فِيْهَا صِرٌّ
اَصَابَتْ حَرْثَ قَوْمٍ ظَلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ فَاَهْلَكَتْهُ ؕ وَمَا ظَلَمَهُمُ اللّٰهُ

په شپو کښ د الله آیا تو نه لولی او هغه ته سجده لګوی، په الله او په ورځ د آخرت باندې ایمان لری، د نیکئ حکم کوی او د بدئ نه منع کول کوی او د نیکئ په کارونو کښ منډے وهی. دا صالحان خلق دی او دوئ چه څه نیکی وکړی د هغے به ناقدری نه کیږی، الله پرهیزګار خلق ښه پیژنی. پاتی شو هغه خلق چه د کفر لار ئے اختیار کړی ده نو د الله په مقابله کښ به نه خپل مال د هغوئ څه په کار راشی او نه اولاد، هغوئ وُور ته تلونکی خلق دی او په وُور کښ به همیشه وی. څه چه هغوئ د دے دُنیا په دے ژوند کښ خرچ کوی د هغے مثال د هغے هوا پشان دے چه په هغے کښ سخت یخ والے وی (یعنی چنئ وی) او د هغے خلقو په فصل باندې راشی چه په ځان ئے ظلم کړے وی او هغه ورله تباه[۹۱] برباد کړی. الله په هغوئ باندې ظلم نه دے کړے

[۹۱] په دے مثال کښ د پتې نه مُراد د ژوند پټے دے چه سړے به ترِ فصل په آخرت کښ ریبی. د هوا نه مُراد د نیکئ هغه سرسری جذبه ده چه د هغے په وجه دا کافران د خیر سبیکړے په کارونو کښ دولت لګوی. او د سخت یخوالی نه مُراد صحیح ایمان نه لرل او د خدائے نافرمانی کول دی. په دے مثال بیا نولو کښ د الله تعالیٰ دا مطلب دے چه لکه څنګه هوا د پټو د پاره فایده منده ده خو که پدے هوا کښ سخت یخوالے وی نو بیا پټی له د فایدے پځائے نقصان ورکوی، دغه شان خیرات هم د آخرت پټی ته وده ورکونکے څیز دے. خو چه کله پکښ د کفر زهر ملاؤ وی نو دغه خیرات بیا د فایدے پځائے د تباهئ

وَلٰكِنْ اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿۱۱۷﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا
لَا تَتَّخِذُوْا بِطَانَةً مِّنْ دُوْنِكُمْ لَا يَاْلُوْنَكُمْ خَبَالًا ؕ وَدُّوْا

په حقیقت کښ دوئ پخپله په خپل ځان ظلم کوی۔

۱۱۸ هغه خلقو چه ایمان مو راوړے دے د خپل جماعت د خلقو نه علاوه نور څوک خپل رازدار مه جوړوئ۔ هغوئ ستاسو د خرابولو د پاره یوه موقع نه خطاکوی۔[۹۲] تاسو ته چه په څه څیز

سیب جوړیږی۔ بنکاره خبره ده چه د انسان مالک الله دے او کوم مال چه د انسان په لاس کښ دے د هغے مالک هم الله دے او دا قوله بادشاهی د الله ده چه د انسان پکښ دننه ؤ سیږی او کار و نه کوی۔ اوس که چرے د الله د اغلام خپل مالک د اعلیٰ اختیاراتو والا هستی نه منی، یا په بندګئ کښ ورسره بل څوک شریک کړی، او د الله د مال نه فایده اخلی او د هغهٔ په بادشاهئ کښ کرزی او د هغهٔ قانون نه منی، نو بیا دغه د قوله منډه ترڅه د یو مجرم په حیثیت ده۔ انعام به ورته څنګه ملاؤ شی هغه خو دے مستحق دے چه دے غلطو کارونو په وجه پر مقدمه ؤ چلولے شی۔ د هغه د خیرات مثال داسے دے لکه چه یو نوکر د خپل مالک د اجازت نه بغیر د مالک خزانه پرانزی او په خپله طبعه ئے لکوی

۹۲ د مدینے په اطرافو کښ چه کوم یهودیان ؤسیدل د هغوئ سره د اوس او د خزرج د خلقو د پخوانئ زمانے نه دوستی را روانه وه۔ په چلو کښ یئ د یو بل سره دوستانے هم وے او د یو بل سره ئے کاوند کیږی او معاهدے هم وے۔ کله چه د اوس او د خزرج قبیلے مسلمانے شوے نو بیا روستو ئے هم د یهودیانو سره هغه زاړه تعلقات ؤ او د یو بل سره به په مینه محبت ملاویدل۔ لیکن د یهودو چه د نبی عربی صلی الله علیه وسلم او د هغهٔ د کار سره کومه دشمنی وه د هغے په وجه هغوئ د هغے چا سره خالصے دوستئ کولو ته تیار نه ؤ او څوک چه په دے نوی تحریک کښ شامل شوی ؤ۔ هغوئ خو په ظاهره د انصارو سره هغه پخوانی تعلقات ساتل، خو په زړهٔ کښ ئے اوس سخت دشمنان شوی ؤ، او دے ظاهرے دوستانے نه به ئے ناجائزه فایدے اخیستلے او هر وخت به په دے کوشش کښ ؤ چه په څه طریقه په مسلمانانو کښ فتنه او فساد راپورته کړی، د هغوئ جماعتی راز معلوم کړی او د هغوئ دشمنانو ته ئے ورسوی۔ الله تعالیٰ دلته مسلمانانو ته دا هدایات کوی چه د دوئ دے منافقت نه ځان هوښیار ساتئ۔

مَا عَنِتُّمْ ۚ قَدْ بَدَتِ الْبَغْضَآءُ مِنْ اَفْوَاهِهِمْ ۖ وَمَا تُخْفِیْ
صُدُوْرُهُمْ اَكْبَرُ ۭ قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الْاٰيٰتِ اِنْ كُنْتُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿۱۱۸﴾
هٰٓاَنْتُمْ اُولَاۗءِ تُحِبُّوْنَهُمْ وَلَا يُحِبُّوْنَكُمْ وَتُؤْمِنُوْنَ بِالْكِتٰبِ كُلِّهٖ ۚ
وَاِذَا لَقُوْكُمْ قَالُوْٓا اٰمَنَّا ۖۚ وَاِذَا خَلَوْا عَضُّوْا عَلَيْكُمُ الْاَنَامِلَ
مِنَ الْغَيْظِ ۭ قُلْ مُوْتُوْا بِغَيْظِكُمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿۱۱۹﴾
اِنْ تَمْسَسْكُمْ حَسَنَةٌ تَسُؤْهُمْ ۡ وَاِنْ تُصِبْكُمْ سَيِّئَةٌ يَّفْرَحُوْا
بِهَا ۭ وَاِنْ تَصْبِرُوْا وَتَتَّقُوْا لَا يَضُرُّكُمْ كَيْدُهُمْ شَيْـــًٔا ۭ

تفصیل دررسی هغه د هغوئ خوښ وی. د هغوئ د زړونو بُغض د هغوئ د خولو نه راوتی اوښه چه ته پرې سینو کښ پټ پراته دی هغه دومره نه زیات سخت دی. مونږ تاسو ته صفا صفا هدایات درکړې دی که تاسو عقل لرئ (نو د دوئ سره به په تعلقاتو ساتلو کښ احتیاط کوئ). تاسو خو د دوئ سره مینه کوئ خو د هغوئ ستاسو سره مینه نشته سره د دې چه تاسو ټول آسمانی کتابونه[۹۳] منئ. کله چه هغوئ ستاسو سره ملاویږی نو وایی چه مونږ هم (ستاسو رسول او ستاسو کتاب) منلے دے، خو چه کله ستاسو نه جُدا شی نو ستاسو خلاف د ډیر قهر او د ډیرے غُصے نه خپلے کوتے چیچی ـــــ ورته وایه چه په خپله غصه کښ و سوزئ مره شئ، الله د زړونو پېښو راز ونو پوهیږی ـــــ که ستاسو بنیګړه کیږی نو په هغے خفه کیږی او که په تاسو مصیبت راځی نو په هغے خوشالیږی۔ او د هغوئ د فریب تدبیرونه تاسو ته هیڅ ضرر نشی درسولے خو که تاسو د صبر نه کار واخلئ او د خدائے نه مو په ګیره کار کولو۔

[۹۳] یعنی دا یو عجیبه کار دے، پکار داوه چه تاسو د هغوئ نه کلمه شکایت کولے، نو اُلټا هغوئ ستاسو نه شکایت کوی. تاسو خو د قرآن سره تورات هم منئ نو په دے وجه د هغوئ کلمه بے ځایه ده. البته که کلمه کوئ نو تاسو به تیر کوئ خکه چه هغوئ قرآن نه منی۔

اِنَّ اللّٰهَ بِمَا يَعْمَلُوْنَ مُحِيْطٌ ﴿۱۲۰﴾ ع وَاِذْ غَدَوْتَ مِنْ
اَهْلِكَ تُبَوِّئُ الْمُؤْمِنِيْنَ مَقَاعِدَ لِلْقِتَالِ ؕ

څه چه دوئ کوی هغه دَ الله په قابو کښ دی ع
(اے پیغمبرهٔ، مسلمانانو ته دَ هغے موقعے ذکر وُکړه) کله چه ته سحر وختی دَ خپل کور نه وتلے وے او (دَ اُحد په میدان کښ دِ) مسلمانان دَ جنګ دپاره ځائے په ځائے مقرره ول۔

۹۴ ددے ځائے نه څلورمه خطبه شروع کیږی. دا خطبه دَ جنګ اُحد نه روستو نازله شوی ده او په دے کښ په جنګ اُحد باندِ تبصره شوی ده. دا بَرنئ خطبه چه ختمید له نو په آخر کښ دا وئیلی شوی وُو چه دُ هغوئ دَ دوکو تدبیرونه تاسو له هیڅ ضرر نشی درکولے خو که تاسو دَ صبر نه کار واغستلو او دَ خدائے نه مو په یره یره کار کولو. اوس چونکه دَ اُحد په میدان کښ دَ مسلمانانو دَ شکست وجه دا وه چه په هغوئ کښے دصبر کے وُو او په هغوئ کښ دَ ځنو خلقو ته داسے غلطیانے شوے وے چه دَ خدائے نه یره پکښ نه وه، نو په دے وجه دا خطبه چه هم دغه کمزورئ پکښ په کوته شوی دی، دَ پاسنئ فقرے نه روستو جوخته درج کړے شوه۔

دا خطبه په داسے انداز بیان شوی ده چه دَ جنګ اُحد په سلسله کښ څومره اهمے واقعے راغلے وے په هغے کښ په هره واقعه باندِ په یو څو مکملو فقرو کښ عبرتناکه تبصره شوی ده. په دے باندِ دَ ځان پوهه کولو دپاره دَ دے په وړاندِ تاریخ باندِ نظر اچول ضروری دی۔

دَ هجرت په دریم کال دَ شوال دَ میاشتے په اول کښ دَ قریشو کافرانو دَ دریو زرو لښکر سره په مدینه حمله وُکړه. تعداد ئے هم زیات وُو او ددے نه علاوه سازو سامان ورسره هم دَ مسلمانانو په نسبت ډیر زیات وُو او دَ جنګ بدر دَ بدلے اغستلو سخته غصه ئے هم وه. دَ نبی صلی الله علیه وسلم او دَ تجربه کارو صحابو دارائے وه چه هم په مدینه کښ به یُو او دَ ځان حفاظت به کوو. لیکن یو څو ځوانان چه دَ شهادت مرګ ته لیواله وُو، او په جنګ بدر کښ ورته دَ شریکیدلو موقع نه وه ملاؤ شوی، هغوئ دَ مدینے نه په بهروتلو زور وُ لګوو. دَ هغوئ دَ بار بار دَ وینا دَ وجے نه نبی صلی الله علیه وسلم دَ بهروتلو فیصله وُکړه. زرکسان دَ هغهٔ سره وُ لاتل، خو چه شوط نو مے ځائے ته وُرسیدل نو هلته تر عبدالله بن اُبیّ سره دَ خپلو درے سوُو ملګرو جُدا شو. دَ هغهٔ په جدا کیدلو باندِ دَ مسلمانانو په لښکر کښ ډیره پریشانی خوره شوه، نزدے پورے چه دَ بنو سلمه او دَ بنو حارثه قبیلو خلق دومره زړه ماتے شول چه هغوئ هم دَ واپس کیدلو اراده کړی وه خو بیا دَ حوصله مندو صحابو په کوششو لو دغه پریشانی ختمه شوله. دَ دغے باقی پاتے اُوَّو سوُو کسانو سره نبی صلی الله علیه وسلم مخکښ روان شو او دَ اُحد دَ غونډئ په لمن کښ ئے (چه دَ مدینے نه تقریباً څلور میله لرے ده) خپل فوج په داسے ځائے کښ مقرر کړو چه شا ته ئے غر وُو او مخے ته ئے دَ قریشو لښکر وُو. یو اړخ

وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۱۲۱﴾ اِذْ هَمَّتْ طَّآئِفَتٰنِ مِنْكُمْ اَنْ تَفْشَلَا ۙ

اللہ تولے خبرے اوری او پہ هرڅه خبردار دے۔
دا خبره یاده کړئ چه کله چه تاسو کښ دوه دلے بزدلئ کولو ته تیارے شوے وے، او حال دا

نه صرف یوه ډله داسے وه چه ډیر طرفته ډحملے یره وه۔ بنیٔ هلته پنځوس غشی ویشتونکی ډ عبد اللہ بن جُبیر په مشرئ کښ کینول او په یار بار یے ورته دا اووے چه "څوک موبز ته نزدے مه راپریږدئ، په هیڅ حال کښ ډډے ځائے نه مه خوزئ، که تاسو دا اُوینئ چه مرغئ زمونږه غوښے تښتوی خو بیا هم ددے ځائے نه مه اخواکیږئ"۔ ډډے نږدے ستو بیا جنګ شروع شو۔ اول یرغه مسلمانانو ورغب زیات وُو، ډ دُشمن په فوج کښ کړ بر راغے او پریشانه شو۔ لیکن پکار دا وه چه مسلمانان خپله کامیابی کا ملے نه تړ رسیلے وے خو هغوئ ډ دے په ځائے ډ مال غنیمت طمع وُکړه او د دُشمن لښکرئے لوټ کول شروع کړل۔ او کوم ځائے کښ چه نبی صلی اللہ علیہ وسلم غشی ویشتونکی ډ حفاظت دپاره کینولی وُو، هغوئ چه ولیدل چه دشمن تښتیدلے دے او غنیمت لُوټلے کیږی، نو هغوئ هم خپل ځائے پریښودو او غنیمت طرفته ئے راسنډے کړے۔ حضرت عبدُ اللہ بن جُبیر ورته ډ نبی صلی اللہ علیہ وسلم بار بار وینا یاده کړه او ډ هغوئ ډ راستنیدو کولو ډیر کوشش ئے وُکړو خوډ یوشو کسانو نه علاوه هلته هیڅوک پاتے نه شو۔ ډډے موقعے نه خالد بن ولید، چه هغه کافر انو ډ لښکر کمانډار وُو فایده واخسته او د غونډئ نه راچاپیره شو او هم ډ هغے ډیے نه ئے ډ شا خوا ے حمله وُکړه۔ عبدُ اللہ ابن جُبیر او ورسره پاتے شوی یوشو کسانو ډ هغوئ مقابله وُکړه خو هغوئ ئے منع نه کړے شو او په مسلمانانو ور غلل۔ او ډ دشمن څه خلق چه تښتیدلی وُو هغه هم را واپس شو او ډ هغوئ سره یو حمله کښ شریک شو۔ ډ جنګ رُخ یکدم بدل شو۔ ډ نا ساپه حملے ډ وجه نه اکثر مسلمانان خوارُ وارُ شو او ډ میدان نه وُ تښتیدل۔ خو بیا هم یوشو بهادران سپاهیان لا په میدان کښ مضبوط ولاړ وُو چه دا افواه خوره شوه چه نبی صلی اللہ علیه وسلم شهید شو۔ ډډے افواه په اوریدو سره ډ صحابو حوصلے نور هم خرابے شوے همت یے پاتے شو او په ځائے کښ ناستل۔ په دغه وخت کښ نبی صلی اللہ علیه وسلم پخپله زخمی شوے وُو او صرف دولس کسان صحابه ترڅنګ پاتے وُو۔ شکست یقینی شوے وُو۔ خو لیکن عین په دغه وخت کښے صحابو تہ پته وُلګیده چه نبی صلی اللہ علیه وسلم ژوندے دے، زر زره هر طرفنه بیا راجمع شو او نبیٔ ئے نبۍ په امن سره غونډئ طرفته بوتلو۔ په دے موقع باندے دا معجزه پرځائے پاتے شوه چه ډ هغه کفار په خپله ولے واپس شو، مسلمانان خو دومره خوارُ وارُ شوی وُو چه ډ هغوئ بیا راجمع کیدل او بیا قاعدہ جنګ کول ډیر مشکل وُو۔ که کفار و خپله فتح سرته ړ سَوَله نو په آسانه ئے ړ سَوَلے شوه۔ خو معلومه

وَاللّٰهُ وَلِيُّهُمَا ؕ وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۲۲﴾ وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ
اللّٰهُ بِبَدْرٍ وَّاَنْتُمْ اَذِلَّةٌ ۚ فَاتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۱۲۳﴾
اِذْ تَقُوْلُ لِلْمُؤْمِنِيْنَ اَلَنْ يَّكْفِيَكُمْ اَنْ يُّمِدَّكُمْ رَبُّكُمْ
بِثَلٰثَةِ اٰلٰفٍ مِّنَ الْمَلٰٓئِكَةِ مُنْزَلِيْنَ ﴿۱۲۴﴾ ؕ بَلٰٓى ۙ اِنْ تَصْبِرُوْا وَ
تَتَّقُوْا وَيَاْتُوْكُمْ مِّنْ فَوْرِهِمْ هٰذَا يُمْدِدْكُمْ رَبُّكُمْ بِخَمْسَةِ
اٰلٰفٍ مِّنَ الْمَلٰٓئِكَةِ مُسَوِّمِيْنَ ﴿۱۲۵﴾ وَمَا جَعَلَهُ اللّٰهُ اِلَّا بُشْرٰى
لَكُمْ وَلِتَطْمَئِنَّ قُلُوْبُكُمْ بِهٖ ؕ وَمَا النَّصْرُ اِلَّا مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ

چه الله د دواړو د مدد د پاره موجود ؤوا و مؤمنانو له خو په الله باندې بروسه ساتل پکار دی۔ آخر د دے نه مخکښ په جنګ بدر کښ الله ستاسو امداد کړے ؤوا و حال دا چه په هغه وخت کښ تاسو ډیر کمزوری وئ۔ نو په دے وجه تاسو له پکار دی چه د الله د ناشکرئ نه ځان ساتئ، اُمید دے چه اوس به تاسو شکر ګذاره شئ۔

یاده کړه دا خبره چه کله تا مؤمنانو ته وئیل چه "آیا ستاسو د پاره دا خبره کافی نه ده چه الله ستاسو د امداد د پاره درے زره فرښتے راولیږی؟"[۹۶] — بیشکه که تاسو صبر وکړو او د خدائے نه ؤ یریدئ نو څه وخت چه دشمن په تاسو حمله وکړی نو په هغے وخت به ستاسو رب (په درے زره نه) په پنځو زرو نښه دارو فرښتو سره ستاسو امداد وکړی۔ دا خبره الله تاسو ته ځکه وښودله چه تاسو خوشحاله شئ او زړونه مو په اطمینان شی۔ فتحه او امداد هر څه د الله د طرفنه دی

نه ده چه په څه وجه هغوئ میدان پخپله پریښودو او واپس لاړل۔

[۹۵] دا اشاره ده بنو سلمه او بنو حارثه طرفته چه د عبد الله بن اُبَیّ او د هغه د ملګرو د واپس کیدلو نه روستو ئے حوصلے خرابے شوے وے۔

[۹۶] کله چه مسلمانانو ؤ کتل چه یو طرفته دشمنان درے زره دی او بل طرفته زمونږ د زرو کسانو نه هم درے سوه کسان جُدا شول نو زړونه ئے مات شول۔ په دغے وخت کښے ورته نبی صلی الله علیه وسلم دا الفاظ وئیلی ؤو۔

الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ﴿١٢٦﴾ لِيَقْطَعَ طَرَفًا مِّنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَوْ
يَكْبِتَهُمْ فَيَنْقَلِبُوْا خَآئِبِيْنَ ﴿١٢٧﴾ لَيْسَ لَكَ مِنَ الْاَمْرِ
شَيْءٌ اَوْ يَتُوْبَ عَلَيْهِمْ اَوْ يُعَذِّبَهُمْ فَاِنَّهُمْ ظٰلِمُوْنَ ﴿١٢٨﴾
وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۭ يَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَاۗءُ وَ
يُعَذِّبُ مَنْ يَّشَاۗءُ ۭ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٢٩﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ
اٰمَنُوْا لَا تَاْكُلُوا الرِّبٰٓوا اَضْعَافًا مُّضٰعَفَةً ۠ وَاتَّقُوا اللّٰهَ

چه لوئے طاقت والا او دانا او بینا دے۔ (او هغه به دا مدد څکه تاسو له درکوی چه څوک د کفر په لاره ئی چه د هغوئ یو بازو پریکړی، یا ورله داسے ذلیله شکست ورکړی چه نامُراده واپس لاړ شی (اے پیغمبره) په فیصلے کولو کښ ستاسو هیڅ اختیار نشته، اختیار د الله دے، د هغه خوښه ده که معاف کوی یے او که سزا ورکوی څکه چه هغوئ ظالمان دی۔ په زمکه او آسمانونو کښ چه څه دی د هغه مالک الله دے، د هغه خوښه ده چه څوک بخښی او چاله عذاب ورکوی، هغه معاف کونکے او رحم کونکے دے ع

اے هغه خلقو چه ایمان مو راوړے دے، دا په څو څو چنده زیاتیدونکے سود خوراک پریږدئ[98] او د الله نه ویریږئ،

[97] نبی صلی الله علیه وسلم چه کله زخمی شو نو د هغه د خولے نه دا کافرانو په حق کښ بددُعا ئی اُو وتله او وے فرمائیل چه "هغه قوم به څنګه کامیاب شی چه هغه خپل نبی زخمی کوی"؟ دا آیتونه ورته د دے په جواب کښ راغلی دی۔

[98] د جنګ اُحد د شکست غټ سبب دا وُو چه مسلمانانو له کلهٔ کامیابئ موقع په لاس ورغله نو په هغوئ کښ د مال طمع پیدا شوه او په هغے حادثے چه څل کاره سرتړ سو لے هغوئ غنیمت مال لوټل شروع کړل۔ څکه خو د هغوئ د دے حالت ټیک کولو دپاره الله تعالیٰ په هغوئ باندے د مال و دولت سره په مینه کولو پابندی ولګوله او حکم ئے وکړو چه سُود مه خورئ څکه چه په دیکښ سره شپه او ورځ د څپلے فایدے زیاتولو حساب لګوی او د سړی سره د پیسو حرص بے حده زیاتیږی۔

لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿۱۳۰﴾ وَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِيْٓ اُعِدَّتْ لِلْكٰفِرِيْنَ ﴿۱۳۱﴾
وَاَطِيْعُوا اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴿۱۳۲﴾ وَسَارِعُوْٓا
اِلٰى مَغْفِرَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ
اُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِيْنَ ﴿۱۳۳﴾ الَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ فِي
السَّرَّآءِ وَالضَّرَّآءِ وَالْكٰظِمِيْنَ الْغَيْظَ وَالْعَافِيْنَ عَنِ
النَّاسِ ؕ وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۱۳۴﴾ وَالَّذِيْنَ اِذَا فَعَلُوْا

اُمید دے چه کامیابی بیا مومئی۔ دَ هغے وُور نه ځان اُوساتئی کوم چه دَ کافرانو دپاره تیار کړے شوے دے او دَ الله او دَ رسول حکم اُومئی، اُمید دے چه په تاسو به رحم وُکړے شی۔ په هغه لار په منډه ځئی کومه چه ستاسو دَ رب بخشش ته او هغے جنت ته ځی چه فراخوالے ئے دَ زمکے او دَ آسمانونو هومره دے او چه دَ هغے پرهیزګارو خدا ترسو خلقو دپاره تیار کړے شوے دے چه هغوئی په هر حال کښے خپل مال خرچ کوی خواه که بد حاله وی او که خوشحاله وی او چه هغوئی پخپله غصه قابولوی او دَ نورو خلقو قصور معاف کوی ——— داسے نیکان خلق دَ الله ډیر خوښ دی[۹۹] ——— او چه دَ هغوئی دا حال دے چه چرته دَ بے حیائی کار

[۹۹] په کومو خلقو کښ چه دسودا غستلو ریواج وی په هغوئی کښ دوه قسمه اخلاقی مرضونه پیدا کیږی۔ په سودا غستونکو خلقو کښ حرص، لالچ، شومتیا او خود غرضی را پیدا کیږی او په سود ورکونکو خلقو کښ نفرت، غصه او بُغض او کینه پیدا کیږی۔ دَ اُحد په شکست کښ ددے دواړو قسمو مرضونو څه نه څه حصه شامله وه۔ الله تعالیٰ مسلمانانو ته وائی چه دَ سُود دَ وجے نه کوم اخلاقی صفتونه په دواړو طرفونو کښ پیدا کیږی بالکل دَ هغے نه برخلاف صفتونه دَ الله په لار کښ دَ خرچ کولو نه پیدا کیږی۔ او دَ الله بخښنه او دَ هغه جنت ددے دویم قسم صفتونو په ذریعه حاصلیږی نه چه دَ اول قسم صفتونو په ذریعه۔

(دَ زیاتے تشریح دپاره اوګوره سورة بقره حاشیه ۳۲۰)

فَاحِشَةً اَوْ ظَلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ ذَكَرُوا اللّٰهَ فَاسْتَغْفَرُوْا لِذُنُوْبِهِمْ ص
وَمَنْ يَّغْفِرُ الذُّنُوْبَ اِلَّا اللّٰهُ قف وَلَمْ يُصِرُّوْا عَلٰى مَا فَعَلُوْا
وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۳۵﴾ اُولٰٓئِكَ جَزَآؤُهُمْ مَّغْفِرَةٌ مِّنْ رَّبِّهِمْ
وَجَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ط وَنِعْمَ اَجْرُ
الْعٰمِلِيْنَ ﴿۱۳۶﴾ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِكُمْ سُنَنٌ لا فَسِيْرُوْا
فِي الْاَرْضِ فَانْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِيْنَ ﴿۱۳۷﴾
هٰذَا بَيَانٌ لِّلنَّاسِ وَهُدًى وَّمَوْعِظَةٌ لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿۱۳۸﴾ وَلَا
تَهِنُوْا وَلَا تَحْزَنُوْا وَاَنْتُمُ الْاَعْلَوْنَ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۱۳۹﴾ اِنْ

تړو شي يا دَ څه ګناه کولو په وجه په خپل ځان ظلم وکړي نو زر ورته الله وريا د شي او دَ هغه نه دَ خپلو ګناهونو معافي غواړي ـــ ځکه چه دَ خدائے نه بغير بل څوک دے چه ګناهونه معاف کولے شي ـــ او هغوئ سره دَ پوهے په خپل (غلط) کار باندِ ټينګتيا نه کوي ـ دَ داسے خلقو بدله دَ خپل رب سره داده چه هغوئ به معاف کړي او په داسے باغونو کښ بيئے ورداخل کړي چه لاندِ به تر نهرونه بهيږي او هلته به هغوئ هميشه وسيږي ـ څنګه ښه بدله ده دَ نيک کارکونکو دپاره ـ ستاسونه وړاندِ ډير دَورونه تير شوي دي، دَ زمکے په مخ وګرزئ او وګورئ چه دَ هغه خلقو څه انجام شو چا چه (دَ الله حکمونو ته) دروغ وئيلي وو ـ دا د خلقو دپاره يو صفا او ښکاره خبردارے دے او کوم خلق چه دَ الله نه يَريږي دَ هغوئ دپاره هدايت او نصيحت دے.

زړو نه مه بائيلئ، غم مه کوئ، هم تاسو به غالب راځئ که چرے تاسو مؤمنان يئ. په دے

يَّمْسَسْكُمْ قَرْحٌ فَقَدْ مَسَّ الْقَوْمَ قَرْحٌ مِّثْلُهٗ ؕ وَتِلْكَ الْاَيَّامُ
نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ ۚ وَلِيَعْلَمَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَيَتَّخِذَ
مِنْكُمْ شُهَدَآءَ ؕ وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ الظّٰلِمِيْنَ ۙ﴿۱۴۰﴾ وَلِيُمَحِّصَ اللّٰهُ
الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَيَمْحَقَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۱۴۱﴾ اَمْ حَسِبْتُمْ اَنْ تَدْخُلُوا
الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَعْلَمِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ جٰهَدُوْا مِنْكُمْ وَيَعْلَمَ
الصّٰبِرِيْنَ ﴿۱۴۲﴾ وَلَقَدْ كُنْتُمْ تَمَنَّوْنَ الْمَوْتَ مِنْ قَبْلِ

وخت کښې که تاسو ته زخم در رسیدلے دے نو ستاسو نه وراندِهم دغسے زخم ستاسو مخالفے ولے ته رسیدلے دے[۱۰۰]. داخو دَ زمانے وارے دی چه موږ ئے دَ خلقو ترمنځه اړوو رااړوو. په تاسو باندِ دا وخت ځکه راوستلے شو چه الله معلومول غوښتل چه په تاسو کښې رښتینی مؤمنان څوک دی، او هغه خلق ئے بیلول غوښتل چه واقعی (دحق) گواهان دی[۱۰۱] ـــــ ځکه چه ظالمان خلق دَ الله خوښ نه دی ـــــ او هغه دَ دے آزمیښت په ذریعه مؤمنان ځان له جدا کول غوښتل او کافران ئے تباه کول غوښتل. ولے ستاسو دا خیال دے چه تاسو به دغسے جنت ته لاړ شئ حالانکه اوس خو لا الله دا هم نه دی لیدلی چه په تاسو کښې هغه خلق څوک دی چه دَ هغه په لار کښې جنګ کوونکی او دَ هغه د پاره صبر کوونکی دی. تاسو خو به دَ مرګ آرزو کانے کولے! خو دا دَ هغے وخت خبره وه چه لا مرګ

[۱۰۰] اشاره ده جنګ بدر ظرفته. مطلب دا دے چه دَ جنګ بدر دَ زخمونو دَ وجے نه دَ کافرانو هست او حوصلے خرابے نه شوے نو تاسو ولے دَ دے زخمونو په وجه هست بائیلئ.

[۱۰۱] اصل الفاظ دی وَيَتَّخِذَ مِنْكُمْ شُهَدَآءَ. دَ دے یو مطلب خو دا دے چه الله په تاسو کښې څه خلق شهیدان کول غوښتل یعنی څه خلقو ته یئے دَ شهادت عزت ورکول غوښتل. او بل مطلب یئے دا دے چه دَ مؤمنانو او دَ منافقانو دَ شریکے ولے نه الله تعالیٰ هغه خلق بیلول غوښتل چه په حقیقت کښې شُهَدَآءَ عَلَى النَّاسِ دی، یعنی دَ هغے لوئ منصب مناسب دی کوم چه موږ ته مسلمان امت له ورکړے دے.

اَنْ تَلْقَوْهُ فَقَدْ رَاَيْتُمُوْهُ وَاَنْتُمْ تَنْظُرُوْنَ ﴿۱۴۳﴾ وَمَا
مُحَمَّدٌ اِلَّا رَسُوْلٌ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ اَفَاۡئِنْ
مَّاتَ اَوْ قُتِلَ انْقَلَبْتُمْ عَلٰٓى اَعْقَابِكُمْ وَمَنْ يَّنْقَلِبْ عَلٰى
عَقِبَيْهِ فَلَنْ يَّضُرَّ اللّٰهَ شَيْـًٔا وَسَيَجْزِى اللّٰهُ الشّٰكِرِيْنَ ﴿۱۴۴﴾
وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ اَنْ تَمُوْتَ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ كِتٰبًا مُّؤَجَّلًا

مخے تہ نہ ژړاغلے، ځکہ اوس هغه دے ستاسو مخے تہ راغے او تاسو په خپلو سترګو ولیدو۔ ع

مُحَمَّدٌ نور څه نه دے بس یو رسول دے، ده نه وړاندې نور رسولان هم تیر شوي دي،
نو که دے مړ شي یا قتل کړے شي نو آیا تاسو به په شا بیرته واپس ځئ؟ یاد ساتئ
څوک چه پسې واپس لاړ و هغه به د الله هیڅ نقصان و نه کړي، البته څوک چه د الله شکر
کزاړ بندګان شو هغوئ ته به الله بدله ورکړي۔

یو روح والا څیزه د الله د اجازت نه بغیر نشي مړ کیدے۔ د مړ ک وخت خو یکلے شوے دے۔

۱۴۳ د شهادت هغه آرزو کا نوته اشاره ده چه د هغه د یار باردینا په وجه نبي صلی الله علیه وسلم د مدینے نه بهره جنګ کولو فیصله کړي وه۔

۱۴۴ کله چه د نبي صلی الله علیه وسلم د شهادت خبر خور شو نو د ډیرو صحابو حوصلے خرابے شوے په دغه وخت کښ منافقانو (چه لا د مسلمانانو سره یوځائے ژوند اوسیل ځئ چه عبدالله بن اُبَیّ لړ لار شو چه هغه موبنزله د ابو سفیان نه امان راکړي۔ او ځینو خو کښ دا وویل چه که محمد د خدائے رسول وے نو څنګ به قتل کړے شوے وے ځئ چه د خپل پلار دین ته واپس ځو۔ دے خبرو په جواب کښ وایي که چرے ستاسو "حق پرستي" صرف د محمد د ذات سره تړلی وی او د اسلام بنیاد مو د دومره نازک وی چه د محمد د مړ ک سره تاسو خپل کفر ته واپس ځئ نو بیا د الله د دین تاسو ته هیڅ ضرورت نشته۔

۱۴۵ د مسلمانانو په ذهن کښ داخبره کینول مقصد دی چه د مړ ک د ډیرے نه ستاسو تیښته فضول ده۔ خدائے چه کوم وخت مقرر کړے دے هغوک نه د هغه نه مخکښ مړ کیدے شي او نه تر هغوک روستو ژوندے پاتے کیدے شي۔ نو په دے وجه تاسو له د مړ ک نه ډډ ک کیدو فکر نه دے پکار بلکه دا فکر پکار دے چه د دُنیا په ژوندکښ ستاسو د مندے تر ے مقصد څه دے، دُنیا اوکه آخرت؟

وَمَنْ يُّرِدْ ثَوَابَ الدُّنْيَا نُؤْتِهٖ مِنْهَا ۚ وَمَنْ يُّرِدْ ثَوَابَ الْاٰخِرَةِ
نُؤْتِهٖ مِنْهَا ؕ وَسَنَجْزِي الشّٰكِرِيْنَ ﴿۱۴۵﴾ وَكَاَيِّنْ مِّنْ نَّبِيٍّ
قٰتَلَ ۙ مَعَهٗ رِبِّيُّوْنَ كَثِيْرٌ ۚ فَمَا وَهَنُوْا لِمَآ اَصَابَهُمْ فِيْ

څوک چه په دے اراده کار کوی چه په دُنیا کښ ورته ثواب ملاؤشی هغه له به موږ دَ دنیا نه څه حصه ورکړو، او څوک چه په دے اراده کار کوی چه په آخرت[۱۰۵] کښ ورته ثواب ملاؤشی هغه ته به دَ آخرت ثواب ورکړو او شکر ویستونکو[۱۰۶] له به موږ ه خپله بدله ضرور ورکوؤ. دَ دے نه وړاندِ ډیر پیغمبران داسے تیر شوی دی چه دَ هغوئ سره یو ځائے ډیرو خدا پرستو خلقو شریک جنګونه کړی دی. په هغوئ باندِ چه کوم مصیبتونه دَ الله په لار کښ راغلی دی په هغے ئے

[۱۰۵] دَ ثواب معنیٰ ده دَ عمل نتیجه. په دُنیا کښ دَ ثواب نه مُراد هغه فائده اوګټه ده چه انسان ته دَ خپل عمل په نتیجه کښ هم ددے دُنیا په ژوند کښ ملاؤشی. او په آخرت کښ دَ ثواب نه مراد هغه فائده اوګټه ده چه دَ خپل عمل په نتیجه کښ به دَ آخرت په همیشه ژوند کښ ملاویږی. دَ اسلام په نظر کښ لویه اهمه خبره دا ده چه انسان په دُنیاوی ژوند کښ کومے منډے تړے وهی نو چه آیا ددهٔ په نظر کښ دَ دُنیا نتیجے دی او که دَ آخرت.

[۱۰۶] دَ شکر ویستونکو نه مراد هغه خلق دی چه دَ الله تعالیٰ دَ دے نعمت قدر کوی چه هغه ورله دَ دین صحیح تعلیم ورکړو، او دَ دے دُنیا نه روستو دَ همیشه ژوند دَ یو بل جهان خبرئے ورکړو، او ددے حقیقت نه ئے خبر کړل چه دَ انسان دَ خپلو عملونو نتیجے به یواځے دَ دُنیا په دے ژوند کښ نه وی بلکه ددے نه روستو به په هغه بل جهان کښے دَ انسان دَ عملونو اثرات ښکاره کیږی. دا دومره فراخه نظر او لرے لیدل او دَ آخرت فکر چه چا ته حاصل شی نو هغه که په دے دنیا کښ اول اول خپل کوششونه او محنتونه فائده مند وُنه وینی او یا دَ خپلو کوششونو اُلټا اثر وُوینی، او دَ دے باوجود دَ هغهٔ په الله باندِ اعتماد وی او خپل کار جاری ساتی، او دا ئے پوخ یقین وی چه په آخرت کښ به زما دکار فائده ضرور وی، نو دے شکر ګذاره بنده دے. او دَ دے نه برعکس څوک چه دَ دنیا دَ فائدے دپاره لنډ نظر کوی، او په دُنیا کښ چه ورته په کومو غلطو کارونو کښ پظاهره فائده ښکاری دَ هغے دپاره دَ آخرت دَ بد انجام هیڅ پروا نه لری، او یا چه کله په صحیح کارونو کښ ورته پظاهره څه فائده نه ښکاری یا ورته څه نقصان رسیږی نو که په آخرت کښ ورته ډیره ښه فائده ملاویږی خو دَ هغے دپاره خپل مال، وخت او طاقت ګلولو ته تیار نه وی، دا ناشکره خلق دی او کوم علم چه خدائے ورکړے دے دَ هغے قدر نه پیژنی.

سَبِيْلِ اللّٰهِ وَمَا ضَعُفُوْا وَمَا اسْتَكَانُوْا ؕ وَاللّٰهُ يُحِبُّ الصّٰبِرِيْنَ ﴿۱۴۶﴾
وَمَا كَانَ قَوْلَهُمْ اِلَّآ اَنْ قَالُوْا رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَا وَ
اِسْرَافَنَا فِيْٓ اَمْرِنَا وَثَبِّتْ اَقْدَامَنَا وَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ
الْكٰفِرِيْنَ ﴿۱۴۷﴾ فَاٰتٰىهُمُ اللّٰهُ ثَوَابَ الدُّنْيَا وَحُسْنَ ثَوَابِ الْاٰخِرَةِ ؕ
وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۱۴۸﴾ ع يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنْ تُطِيْعُوا
الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يَرُدُّوْكُمْ عَلٰٓى اَعْقَابِكُمْ فَتَنْقَلِبُوْا خٰسِرِيْنَ ﴿۱۴۹﴾

زړونه نۀ دی مات شوی، کمزوری ئے نۀ ده ښکاره کړے، او (دَ باطل په وړاندې ئے) سرنۀ دے ښکته کړے[۱۰۷]. دا سے صبرناک بندګان دَ الله خوښ وی. دَ هغوئ بس دا دُعا وه چه "اے زمونږه ربه، زمونږه غلطیانے اوګنا هونه معاف کړے، او زمونږ په کار کښ چه مونږه ستا دَ حد وئو نه څه زیاتے کړے وی هغه مونږ ته معاف کړے، زمونږ قدمونه مضبوط کړے او دَ کافرانو په مقابله کښ زمونږه امداد وکړے" نو آخر دا چه الله ورله دَ دنیا ثواب هم ورکړو او دَ دے نه بهتره دَ آخرت ثواب ئے هم ورکړو. او دَ الله دا سے نیکان خلق خوښ وی ع

اے هغه خلقو چه ایمان مو راوړے دے، که چرے تاسو دَ هغے خلقو په اشارو باندِ عمل وکړو چا چه دَ کفر لار اختیار کړی ده نو هغوئ به تاسو واپس په شا بوځی[۱۰۸] او تاسو به نامراده شئ.

[۱۰۷] یعنی هغوئ دَ خپل کمی او دَ خپل کم سامان په وجه او دَ کافرانو په زیاتی او دَ هغوئ دَ زیاتِ طاقت په وجه هیچرے کافرانو، باطل پرستو ته سرنۀ دے ښکته کړے او نۀ دی سلامی شوی.

[۱۰۸] یعنی دَ کفر دَ کوم حالت نه چه تاسو را وتلی یئ دوئ به بیا تاسو هغے حالت ته بوځی. مسلمانانو چه دَ اُحد په جنګ کښ شکست وخوړو نو منافقانو او یهودیانو به مسلمانانو ته وئیل چه که محمد واقعی نبی وے نو شکست به یئ ولے خوړلے. دا خو یو معمولی سړے دے دَ نورو عامو خلقو په شان که نن یئ فتح وکړه نو صباله به شکست وخوری او دا تاسو له چه ئے دا یقین درکړے دے چه زمونږ سره دَ خدائے امداد دے او خدائے زمونږ ملګرے دے دا هسے دوکه ده.

بَلِ اللّٰهُ مَوْلٰىكُمْ ۚ وَهُوَ خَيْرُ النّٰصِرِيْنَ ﴿۱۵۰﴾ سَنُلْقِيْ فِيْ قُلُوْبِ
الَّذِيْنَ كَفَرُوا الرُّعْبَ بِمَآ اَشْرَكُوْا بِاللّٰهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهٖ سُلْطٰنًا ۚ
وَمَاْوٰىهُمُ النَّارُ ؕ وَبِئْسَ مَثْوَى الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۵۱﴾ وَلَقَدْ صَدَقَكُمُ
اللّٰهُ وَعْدَهٗٓ اِذْ تَحُسُّوْنَهُمْ بِاِذْنِهٖ ۚ حَتّٰٓى اِذَا فَشِلْتُمْ
وَتَنَازَعْتُمْ فِي الْاَمْرِ وَعَصَيْتُمْ مِّنْۢ بَعْدِ مَآ اَرٰىكُمْ
مَّا تُحِبُّوْنَ ؕ مِنْكُمْ مَّنْ يُّرِيْدُ الدُّنْيَا وَمِنْكُمْ مَّنْ
يُّرِيْدُ الْاٰخِرَةَ ۚ ثُمَّ صَرَفَكُمْ عَنْهُمْ لِيَبْتَلِيَكُمْ ۚ وَلَقَدْ عَفَا

(دَ دوئ خبرے غلطے دی) حقیقت دا دے چه الله ستاسو ملګرے او مددګار دے او هغه ډیر ښه مددګونکے دے. ډیر زر هغه وخت را تلونکے دے چه مونږ به دَ حق نه دانکار کونکو خلقو په زړونو کښے رُعب غورزَ وُو ځکه چه هغوئ د الله سره داسے څیزونه شریک کړی دی چه دَ هغے دَ شریک کیدلو په حقله خدائے هیڅ سند نه دے نازل کړے. دَ دوئ آخری دَ وُسیدو ځائے جهنم دے. او ډیر خراب دے هغه ځائے دَ وُسیدو چه دے ظالمانو ته به نصیب کیږی.

الله چه (دَ امداد) کومه وعده تاسو سره کړی وه هغه وعده هغه پوره کړه. په اول کښ دَ هغه په حکم تاسو هغوئ قتلول. خو چه کله په تاسو کښ کمزوری ښکاره شوه او په خپل کار کښ مو اختلاف وُکړو، او څه وخت چه الله تاسو ته هغه څیز ښکاره کړو دکوم څیز سره چه ستاسو محبت وُو (یعنی مال غنیمت) نو په هغے وخت مو دَ خپل سردار دحکم خلاف ورزی وُکړه ـــــ ځکه چه په تاسو کښ څه خلق دَ دنیا طلبګار وُو او څه خلقو دَ آخرت خواهش لرلو ـــــ نو پس له هغے نه الله تاسو دَ کافرانو په مقابله کښ په شاکړئ خاص ددے دپاره چه په تاسو آزمیښت وُکړی. او حق دا دے چه الله تعالیٰ بیا هم

عَنْكُمْ ؕ وَاللّٰهُ ذُوْ فَضْلٍ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۵۲﴾ اِذْ تُصْعِدُوْنَ وَلَا
تَلْوٗنَ عَلٰٓى اَحَدٍ وَّالرَّسُوْلُ يَدْعُوْكُمْ فِيْٓ اُخْرٰىكُمْ فَاَثَابَكُمْ
غَمًّا ۢ بِغَمٍّ لِّكَيْلَا تَحْزَنُوْا عَلٰى مَا فَاتَكُمْ وَلَا مَآ اَصَابَكُمْ ؕ وَاللّٰهُ
خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۱۵۳﴾ ثُمَّ اَنْزَلَ عَلَيْكُمْ مِّنْۢ بَعْدِ الْغَمِّ اَمَنَةً

تاسو معاف کړئ[۱۰۹] ځکه چه په مؤمنانو باندِ الله ډیر دَ رحمت نظر لري۔

یاد کړئ هغه وخت کله چه تاسو منډے وهلے، چا ته مو په شا هم نهٔ کتل، او رسولؐ درته دَ شا نه نعرے[۱۱۰] وهلے۔ په دغه وخت کښ الله تاسو له ستاسو دَ دے کار دا بدله درکړه چه دَ غم د پاسه غم ئے درکړو[۱۱۱] چه دَ بیا د پاره تاسو ته دا سبق ملاؤ شي چه څه څیز ستاسو دَ لاس نه لاړ شي یا څه مصیبت در باندِ نازل شي نو چه په هغے باندِ خفګان وُ نهٔ کړئ. الله ستاسو دَ ټولو کارونو نه خبر دے۔

دَ دے غم نه روستو بیا الله په تاسو کښ په څه خلقو باندِ دا طمینان دا سے حالت راوستلو

---

[۱۰۹] یعنی تاسو دا سے غلطی کړی وه چه که چرے خدائے نهٔ معاف کولئ نو په هغه وخت به ختم شوی وئ۔ دا دَ الله فضل وُو او دَ الله ملګرتیا وه چه دَ هغے په وجه ستاسو دَ دشمن وار خطا شو او بغیر دَ څه وجے نه پخپله واپس شو۔

[۱۱۰] کله چه په مسلمانانو باندِ ناسا په دَ دواړو طرفونو نه حمله وُ شوه او هغوئ ګډ وډ شو نو څه خلق مدینے طرفته وُ تښتیدل او څه دَ اُحد غرته وُ ختل، خو نبی صلی الله علیه وسلم یوا نچ قدر له هم دَ خپل ځائے نه وُ نهٔ خوزید و دُشمنان چار چاپیره وُو، صرف دَ لسو دولسو کسانو ډله ورسره وه، خو دَ الله رسول په دے نازک وخت کښ هم دَ غم پشان مضبوط ولاړ وُو او چه څوک تښتیدلی وُو هغوئ ته یئے آواز ونه کول چه اِلَیَّ عِبَادَ اللّٰهِ اِلَیَّ عِبَادَ اللّٰهِ، اے دَ الله بندګانو زما طرفته راشئ، اے دَ الله بندګانو زما طرفته راشئ۔

[۱۱۱] دَ شکست خفګان، دَ دے خبرے خفګان چه نبی صلی الله علیه وسلم شهید شوے دے، په خپلو ډیرو مړو او زخمیانو باندِ خفګان، او دَ دے خبرے خفګان چه اوس دَ کورونو پته هم نه لږی، درے زره دُشمنان، چه دَ مدینے ټولے آبادئ نه هم زیات دی که په دے ستړی ستومانه فوج باندِ راتوتل نو ټول به تباه کړی۔

نُّعَاسًا يَّغْشٰى طَآئِفَةً مِّنْكُمْ ۙ وَطَآئِفَةٌ قَدْ اَهَمَّتْهُمْ اَنْفُسُهُمْ
يَظُنُّوْنَ بِاللّٰهِ غَيْرَ الْحَقِّ ظَنَّ الْجَاهِلِيَّةِ ؕ يَقُوْلُوْنَ هَلْ لَّنَا
مِنَ الْاَمْرِ مِنْ شَيْءٍ ؕ قُلْ اِنَّ الْاَمْرَ كُلَّهٗ لِلّٰهِ ؕ يُخْفُوْنَ فِيْٓ
اَنْفُسِهِمْ مَّا لَا يُبْدُوْنَ لَكَ ؕ يَقُوْلُوْنَ لَوْ كَانَ لَنَا مِنَ الْاَمْرِ
شَيْءٌ مَّا قُتِلْنَا هٰهُنَا ؕ قُلْ لَّوْ كُنْتُمْ فِيْ بُيُوْتِكُمْ لَبَرَزَ الَّذِيْنَ
كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقَتْلُ اِلٰى مَضَاجِعِهِمْ ۚ وَلِيَبْتَلِيَ اللّٰهُ مَا فِيْ

چه هغوئ له خوب جوتې ورکولے[112]. خو یوه بله ډله، چه ټول فکرئ بس په خپلو فائدو باندې وؤ، هغوئ د الله په حقله قسما قسم داسے جاهلانه ګمانونه وکړل چه هغه د حق نه سراسر خلاف وؤ. دا خلق اوس وائي "چه آیا د دے کار په چلولو کښ زمونږه هم څه حصه شته دے؟" ورته وو ایه "(چه د چاپکښ هیڅ حصه نشته) د دے کار ټول اختیارات د الله په لاس کښ دی." په اصل کښ د دے خلقو په وړونو کښ چه کومه خبره پټه پرته ده هغه تاسو ته نه ظاهره وی. د دوئ اصلی مطلب دا دے چه "که چرے (د مشرئ) په اختیارا تو کښ زمونږه څه لږ ډیر اختیار وے نو مونږه به دلته نه وؤ وژلے شوی." ورته اوو ایه چه "که چرے تاسو په خپلو کورونو کښ هم وے خو چه د کومو خلقو د پاره مرګ لیکلے شوے وؤ هغوئ به پخپله د خپل مرګ ځایونو ته راوتلی وے." او دا کوم کار چه وشو، دا ځکه وشو چه څه ستاسو په سینو کښ پټ دی چه هغه الله

[112] دا یو عجیبه شان کار وو چه په هغه وخت کښ د اسلام د لښکر د ځنے خلقو سره وشو. حضرت ابو طلحه رض چه په دے جنګ کښے شریک وؤ پخپله بیان کوی چه په دغے وخت کښ په مونږ باندې د خوب داسے غلبه راتلله چه تورے به مو د لاسونو نه پریوتلے.

صُدُوْرِكُمْ وَلِيُمَحِّصَ مَا فِيْ قُلُوْبِكُمْ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ
الصُّدُوْرِ ﴿۱۵۴﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ تَوَلَّوْا مِنْكُمْ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعٰنِ ۙ
اِنَّمَا اسْتَزَلَّهُمُ الشَّيْطٰنُ بِبَعْضِ مَا كَسَبُوْا ۚ وَلَقَدْ عَفَا اللّٰهُ
عَنْهُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ حَلِيْمٌ ﴿۱۵۵﴾ ع يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا
لَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَقَالُوْا لِاِخْوَانِهِمْ اِذَا ضَرَبُوْا
فِي الْاَرْضِ اَوْ كَانُوْا غُزًّى لَّوْ كَانُوْا عِنْدَنَا مَا مَاتُوْا وَمَا
قُتِلُوْا ۚ لِيَجْعَلَ اللّٰهُ ذٰلِكَ حَسْرَةً فِيْ قُلُوْبِهِمْ ؕ وَاللّٰهُ يُحْيٖ وَ

وآزمایئ او څه خیرے چه ستاسو په زړونو کښ دے چه هغه الله چانړ کړی، الله د زړونو په حال باندِ ښه پوه دے.

په تاسو کښ چه کوم خلق د جنګ په ورځ تښتیدلی وُو د هغوئ د دے غلطئ وجه داوه چه د هغوئ د ځینو کمزورو په وجه شیطان د هغوئ څپے خو یولے وے. الله هغوئ معاف کړل، الله ډیر معاف کونکے او بُرد بارہ دے.ع

اے هغه خلقو چه ایمان مو راوړے دے، د کافرانو پشان خبرے مه کوئ چه خپل خپلوان ئے چرته په سفر لاړ شی یا په جنګ کښ شریک شی (او هلته ورته څه تکلیف پیښ شی) نو وایئ چه که چرے هغوئ زموږ سره پاتے شوی وے لو نه به مړه شوی وے او نه به قتل شوی وے. الله دا قسم خبرے د هغوئ په زړونو کښ د افسوس سبب کرزوی[113]، کنئ نو په اصل کښ خو مړ کونکے اوژوندے کونکے

[113] یعنی په دے خبرو کښ هیڅ حقیقت نشته دے. حقیقت خو دا دے چه د الله حکم د چا په زور نشی منع کیدلے. خو چه څوک په الله ایمان نه لري او وایئ چه هر څه زموږ په تدبیرونو کیږی د هغوئ د پاره دا خپلے خبرے د افسوس سبب جوړ شی او هر وخته منګولے مروړے او وایئ چه هئ افسوس که دا سے شوے وے نو دا سے به شوے وے.

يُمِيتُ ۗ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿١٥٦﴾ وَلَئِنْ قُتِلْتُمْ فِي
سَبِيلِ اللّٰهِ أَوْ مُتُّمْ لَمَغْفِرَةٌ مِّنَ اللّٰهِ وَرَحْمَةٌ خَيْرٌ مِّمَّا
يَجْمَعُونَ ﴿١٥٧﴾ وَلَئِنْ مُّتُّمْ أَوْ قُتِلْتُمْ لَإِلَى اللّٰهِ تُحْشَرُونَ ﴿١٥٨﴾
فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ لِنتَ لَهُمْ ۖ وَلَوْ كُنتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ
لَانفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ ۖ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَ
شَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ ۖ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ ۚ إِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ
الْمُتَوَكِّلِينَ ﴿١٥٩﴾ إِن يَنصُرْكُمُ اللّٰهُ فَلَا غَالِبَ لَكُمْ ۖ وَإِن يَخْذُلْكُمْ

یواللہ دے او ستاسو په تولو حرکتونو هغه نګران دے۔ که چرے تاسو د اللہ په لار کښ ووژلے شئ یا مرہ شئ نو د اللہ څه رحمت او بخښنه چه ستاسو په حصه کښ راځی هغه د هغے تولو څیزونو نه زیات بهتر دے کوم چه دا خلق ځان له راجمع کوی۔ او که تاسو پخپله مرہ شئ یا ووژلے شئ خو په هرحال کښے به اللہ ته ورغونډ یږئ۔

(اے پیغمبرہ،) د اللہ د یرلوئ رحمت دے چه ته د دومره خلقو پاره د یرنرم ئے۔ او که نه چرے ته تُند خویه او په زړه سخت وے نو دا ټول به ستا د خوا نه خواره شوی وو۔ د دوئ خطاګانے معاف کوه، د دوئ د پاره د بخښنے دعاګانے غواړه، او د دین په کار کښ دوئ هم په مشوره کښ شریکوه، بیا چه کله په یوه خبره باندے ستا اراده محکمه شی نو په اللہ بروسه کوه، د اللہ هغه خلق خوښ دی چه د هغه په بروسه باندی کار کوی۔ که اللہ ستاسو په مدد باندے وی نو هیڅوک یو طاقت په تاسو باندے غالب کیدونکے نشته، او که هغه پریښود لئ، نو د هغه نه پس

فَمَنْ ذَا الَّذِیْ یَنْصُرُكُمْ مِّنْۢ بَعْدِهٖ ؕ وَعَلَى اللّٰهِ فَلْیَتَوَكَّلِ
الْمُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۶۰﴾ وَمَا كَانَ لِنَبِیٍّ اَنْ یَّغُلَّ ؕ وَمَنْ یَّغْلُلْ یَاْتِ
بِمَا غَلَّ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ ۚ ثُمَّ تُوَفّٰى كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ وَهُمْ
لَا یُظْلَمُوْنَ ﴿۱۶۱﴾ اَفَمَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَ اللّٰهِ كَمَنْۢ بَآءَ بِسَخَطٍ
مِّنَ اللّٰهِ وَمَاْوٰىهُ جَهَنَّمُ ؕ وَبِئْسَ الْمَصِیْرُ ﴿۱۶۲﴾ هُمْ دَرَجٰتٌ

بیا څوک دی چه ستاسو مدد به وکړے شی؟ نو چه څوک ریښتینی مؤمنان دی هغوی له پکار دی چه په الله باندې بروسه ولري.

د هیڅ پیغمبر دا کار نشی کیدے چه هغه د خیانت وکړی[۱۱۴] ـــــ او څوک چه خیانت وکړی هغه به د قیامت په ورځ د خپل خیانت سره حاضریږی، بیا به هر سړی ته د خپلے کړے پوره پوره بدله ورکړے شی او په چا به هیڅ ظلم نه کیږی ـــــ او دا کله کیدے شی چه یو سړے د همیشه الله په رضا چلیږی، او هغه د هغه سړی پشان کار وکړی چه هغه د الله په غضب کښ گیر شوے وی او چه آخری ځائے یې جهنم وی چه د نه بدلولو ځائے دے؟ د الله په نزد باندې

[۱۱۴] الله کوم غنی او بیتوکے لښکر چه نبی صلی الله علیه وسلم شاته د حفاظت د پاره کینولے وو هغوی چه وګټل چه د دشمن لښکر لوټ گیر ی نو د هغوی سره دا فکر شو چه مونږ هسے نه د غنیمت ټول مال هغه خلقو ته ملاوشی کړو چه په لوټ کښ شامل دی او د تقسیم په وخت کښ مرکز ته هسے هر څوک مراجعه شو. په دے وجه هغوی خپل ځائے پریښودلے وو. د جنګ د ختمیدو وروسته وکله چه نبی صلی الله علیه وسلم مدینے ته تشریف راوړونو هغه ټول غنی او بیتوکے لښکرے را وغونښتو او تپوس ځے ترڅو کړو چه تاسو نافرمانی په څه وجه وکړه لښکر دا و ورته په جواب کښ څه کمزوری کمزوری عذرونه وړاندې کړل. نبی ورته وفرمایل بل ظننتم انا نغل ولا نقسم لکم" اصل خبره دا ده چه ستاسو په موږ ښه باور نه وو، ستاسو دا ګمان وو چه موږ به ستاسو سره خیانت وکړو او تاسولو به حصه د رنه کړو" په دے آیت کښ دے طرفته اشاره ده. دا آیت مطلب دا دے چه کله ستاسو د فوج کمانډر پخپله د الله نبی وو او هر کار د هغه په لاس کښ وو نو تاسو په زړه کښ دا خیال څنګه راپیدا شو چه د نبی په لاس به ستاسو حصه محفوظه نشی. آیا د خدائے د پیغمبر نه مو دا توقع شته چه کوم مال د هغه په نکرانۍ کښ وی هغه به ښے د دیانت، امانت او انصاف نه بغیر په بله طریقه تقسیم کړے شی؟

عِنْدَ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ بَصِيْرٌۢ بِمَا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۶۳﴾ لَقَدْ مَنَّ اللّٰهُ عَلَى
الْمُؤْمِنِيْنَ اِذْ بَعَثَ فِيْهِمْ رَسُوْلًا مِّنْ اَنْفُسِهِمْ يَتْلُوْا عَلَيْهِمْ
اٰيٰتِهٖ وَيُزَكِّيْهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ ۚ وَاِنْ كَانُوْا
مِنْ قَبْلُ لَفِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۱۶۴﴾ اَوَلَمَّآ اَصَابَتْكُمْ
مُّصِيْبَةٌ قَدْ اَصَبْتُمْ مِّثْلَيْهَا ۙ قُلْتُمْ اَنّٰى هٰذَا ؕ

دَ دواړو قسمو خلقو په مینځ کښ لوئ فرق دے او الله ډېول مخلوق په عملونو نظر ساتی۔ په حقیقت کښ الله تعالیٰ په مؤمنانو باندې دا ډېر لوئ احسان کړے دے چې په هغوئ کښ یې دَ هغوئ دَ چنل قوم نه یو داسے پیغمبر راپورته کړو چې دَ الله آیتونه هغوئ تر اوره وی، دَ هغوئ ژوند پاک ساتره کوی، او هغوئ ته دَ کتاب او دَ پوهے تعلیم ورکوی، حالانکه دا خلق دمخه ډېر ښکاره کمراهئ کښ پراته وُو۔

او دا موخه حال دے چې کله د باندې مصیبت راغے نو تاسو وئیل چې دا کوم غاړه راغے؟ حالانکه (په جنګ بدر کښ) دمخه دوه دومره مصیبت تاسو لاسه (مخالفو پلته) رسیدلے دے۔

۱۵ یعنی لږ یو لږ صحابو ته خو حقیقت معلوم وُو دَ هغوئ دَ رکه کیدے نه شو، خو دَ عام مسلمانانو دا خیال وُو چې دَ الله رسول په موږ کښے موجود دے او دَ الله امداد زمونږ سره دے نو په هیڅ حال کښ کافران په موږ نه غلبه نشی حاصلولے۔ دغه وجه وه چې کله په اُحد کښے شکست دَ شو نو هغوئ ته خپله تکلیف ورسیده و هغوئ حیران شوه دا ټپوسونه یې شروع کړل چې دا څه وُشو؟ موږ دَ الله دَ دین د پاره جنګیدلو، دَ الله دَ امداد وعدې زمونږ سره وه، دَ الله رسول مو په میدان جنګ کښے موجود وُو، او بیا هم موږ شکست وَخوړه؟ او شکست هم دَ هغه چا د لاسه چې دَ الله دَ دین دَ خپلو لودپاڼه راغلی وُو؟ دا آیتونه ددے پاره نازل شوی دی چې دَ دوئ دا حیرانتیا لرې کړی۔

۱۶ یعنی په جنګ اُحد کښے مسلمانانو ډېر کسان شهیدان شوی وُو۔ او په جنګ بدر کښ دَ کافرانو اته یا کسان دَ مسلمانانو د لاسه مړه شوی وُو او دوه یا کسان نیولی شوی وُو۔

قُلْ هُوَ مِنْ عِنْدِ أَنْفُسِكُمْ ۗ إِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿١٦٥﴾
وَمَا أَصَابَكُمْ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعَانِ فَبِإِذْنِ اللَّهِ وَلِيَعْلَمَ
الْمُؤْمِنِينَ ﴿١٦٦﴾ وَلِيَعْلَمَ الَّذِينَ نَافَقُوا ۚ وَقِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا
قَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَوِ ادْفَعُوا ۖ قَالُوا لَوْ نَعْلَمُ قِتَالًا لَّا
اتَّبَعْنَاكُمْ ۗ هُمْ لِلْكُفْرِ يَوْمَئِذٍ أَقْرَبُ مِنْهُمْ لِلْإِيمَانِ ۚ
يَقُولُونَ بِأَفْوَاهِهِمْ مَا لَيْسَ فِي قُلُوبِهِمْ ۗ وَاللَّهُ أَعْلَمُ

اے نبیؐ، دوئی تہ اُووایہ، دا مُصیبت تاسو پخپله په ځان راوستلے دے[۱۱۸]، الله په هرشیز قادر دے۔ کوم نقصان چه تاسو ته د جنګ په ورځ درورسید وهغه د الله په حکم سره درورسیدلے وو او دے دپاره وُو چه الله دا معلومه کړي چه په تاسو کښ مؤمنان څوک دی او منافقان څوک دی۔ هغه منافقان چه کله ورته اُوویلے شو چه راشئ د الله په لار کښ جنګ وُکړئ یا کم نه کم (د ځنډل ښار) حفاظت وُکړئ، نو وے ویل چه که موږ ته معلومه وے چه تن به جنګ وی نو موږ به ضرور ستاسو سره تلی وُو[۱۱۹]۔ دا خبره چه ئے کله کوله په هغه وخت کښ هغوئ د ایمان په نسبت کفر ته زیات نژدے وُو۔ هغوئ په خوله هغه خبرے کوی چه په زړونو کښ ئے نه وی، او څه چه هغوئ په زړونو کښ پټ ساتی الله هغ

[۱۱۸] یعنی دا ستاسو د خپلو کمزورو او غلطو وجه ده۔ تاسو صبر نه کړو، څه کار مو د تقوٰی نه خلاف وُکړو حکم مو نه منلو، د مال طمع مو لرله، په خپلو کښے مو اختلاف وُکړو، بیا دا پتوس ولے کوئ چه دا مصیبت د کوم غاړے راغے؟

[۱۱۹] یعنی الله که تاسو له فتح درکولے شی نو شکست هم درکولے شی۔

[۱۱۹] عبد الله بن اُبی چه کله د درے سو منافقانو سره د لارے نه واپس شو نو څه مسلمانان د دوم کونو د پاره ورغلل چه د مسلمانانو سره د تلو د پاره راضی شی۔ خو هغه ورته جواب ورکړو چه زمونږ ده دا یقین دے چه تن به جنګ نه وی، په دے وجه موږ واپس څو، او که زمونږ ده دا اُمید وے چه تن به جنګ وی نو ضرور به موږ تاسو سره تلے وے۔

بِمَا يَكْتُمُوْنَ ﴿١٣٤﴾ اَلَّذِيْنَ قَالُوْا لِاِخْوَانِهِمْ وَقَعَدُوْا لَوْ اَطَاعُوْنَا مَا
قُتِلُوْا ۭ قُلْ فَادْرَءُوْا عَنْ اَنْفُسِكُمُ الْمَوْتَ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿١٣٥﴾
وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ قُتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَمْوَاتًا ۭ بَلْ اَحْيَاۗءٌ
عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُوْنَ ﴿١٦٩﴾ فَرِحِيْنَ بِمَآ اٰتٰىهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ ۙ
وَيَسْتَبْشِرُوْنَ بِالَّذِيْنَ لَمْ يَلْحَقُوْا بِهِمْ مِّنْ خَلْفِهِمْ ۙ اَلَّا
خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿١٧٠﴾ يَسْتَبْشِرُوْنَ بِنِعْمَةٍ
مِّنَ اللّٰهِ وَفَضْلٍ ۙ وَّاَنَّ اللّٰهَ لَا يُضِيْعُ اَجْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿١٧١﴾

وقف لازم

ښځې پیژنی. داهغه خلق دهغه پخپله خوښت پاتے شوا وَدَهغوئ کوم رونړه چه جنګ نه لاړل اوهلته
وُوژلے شونوَ هغوئ په حقله ئے ویلې چه کاشکے دوئ زمونږ خبره منلے وے نو نه به وُوژلے
شوی. ورته اُووایه که تاسو په دے خپله وِپاکئ ریښتینی یئ نو کله چه تاسو له خپل مرګ راشی
هغه دَ چا لمان نه منع کړئ.

کوم خلق چه دَ الله په لار کښ قتل شوی دی هغوئ مړه مَه کنړئ، هغوئ خو په حقیقت کښ
ژوندی دی[۱۳۰]، دَ خپل رب سره ورته رزق ملاویږی، څه چه ورله الله په خپل فضل ورکړی دی
په هغے ښه خوشحالدی[۱۳۱]، اوپه دے خبره مطمئن دی چه کوم مؤمنان دهغوئ نه روستو په دنیا کښ پاتے شوی دی
اولاهلته نه دی رسیدلی دَهغوئ دپاره هم دَ څه یرمه او دَ څه غم موقع نشته وے. هغوئ دَ الله په انعام
اوَ هغه په فضل باندے ډیر خوشحالدی اوهغوئ ته معلومه شوی ده چه الله دَ مؤمنانو اجر نه ضائع کوی[۱۳۲]

۱۳۰ه دَ تشریح دپاره اوګورئ سورة بقره حاشیه نمبر ۱۵۵.

۱۳۱ه په مسند احمد کښے دَ نبی صلی الله علیه وسلم نه یو حدیث روایت شوے دے دَهغے مضمون دادے چه
کوم سړے دَ نیک عمل سره دَ دے دُنیا نه لاړشی هغه ته دَ الله سړه دا هے ښکلے دَ خوشحالئ ژوند ملاوُ شی چه
هغه بیا هیڅرے دُنیا ته دَ واپس راتلو آرزو نه کوی. خو شهید دا سے نه وے. شهید دا آرزو کوی چه
بیا دُنیا ته لاړے او بیا هم هغه خوند، هغه خوشحالی په نصیب شوے کومه خوشحالی چه دَ الله په لار
کښے دَ شهادت په وخت کښے حاصلیږی.

اَلَّذِيْنَ اسْتَجَابُوْا لِلّٰهِ وَالرَّسُوْلِ مِنْۢ بَعْدِ مَآ اَصَابَهُمُ
الْقَرْحُ ۛ لِلَّذِيْنَ اَحْسَنُوْا مِنْهُمْ وَاتَّقَوْا اَجْرٌ عَظِيْمٌ ﴿۱۷۲﴾ مع ۲
اَلَّذِيْنَ قَالَ لَهُمُ النَّاسُ اِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوْا لَكُمْ فَاخْشَوْهُمْ
فَزَادَهُمْ اِيْمَانًا ۖ وَّقَالُوْا حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ
الْوَكِيْلُ ﴿۱۷۳﴾ فَانْقَلَبُوْا بِنِعْمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ وَفَضْلٍ

کوموخلقوچه دَ زخم خوړلو نه پس هم دَ الله او دَ رسول په آواز باندِ ځان حاضر کړو[۱۲۲] په هغوئ کښ چه کوم خلق نیکان او پرهیزګار دی دَ هغوئ دپاره لوئ اجر دے۔ او هغه[۱۲۳] کسان چه خلقو ورته اُووئیل چه "ستاسو خلاف ډیر فوجونه راجمع شوی دی، دَ هغوئ نه وَیریږئ"، نو ددے خبرے په اوریدو سره دَ هغوئ ایمان نور هم زیات شو او هغوئ له ئے جواب ورکړو چه زمونږ دپاره الله کافی دے او هغه ډیر ښه کار سمونکے دے۔ آخر دا چه هغوئ دَ الله تعالیٰ دَ نعمت او دَ فضل سره واپس راغلل، هغوئ ته هیڅ قسمه

۱۲۲ مشرکان چه دَ جنګ اُحد نه واپس شو او یو څو منزله لرے لاړل نو هلته ئے عقل سرله راغے او یو بل ته یئے اُووئیل چه دا مونږه څه وکړل چه دَ محمد دَ طاقت دَ ختمولو قیمتی موقع په لاس راغلی وه او هغه زمونږ دَ لاس نه لاړه۔ نو په یو ځائے کښ وَ دریدل او په خپلو کښ ئے مشوره وکړه چه په مدینه باندِ فوراً بله حمله پکار ده۔ لیکن همت یئے وَ نه کړو او مکے ته واپس لاړل۔ دلته نبی صلی الله علیه وسلم سره هم دا فکر وُو چه چرته دا خلق بیا واپس رانشی۔ په دے وجه نبی ﷺ دَ جنګِ اُحد په دویمه ورځ مسلمانان راجمع کړل او ورته ئے وفرمائیل چه په کافرانو پسے تلل پکار دی۔ دا یوه ډیره نازکه موقع وه، خو بیا هم چه څوک ریښتینی مؤمنان وُو هغوئ دَ ځان قربانولو دپاره تیار شو او دَ نبی صلی الله علیه وسلم سره حمراء الاسد نومے ځائے پورے لاړل چه دَ مدینے نه آته میلے لرے دے۔ په دے آیت کښے دے بهادرانو مسلمانانو ته اشاره ده۔

۱۲۳ دا یو څو آیتونه دَ جنګ اُحد نه یو کال روستو نازل شوی وُو خو تعلق ئے دَ اُحد دَ واقعاتو سره وُو دَ دے وجے نه دا هم په دے خطبه کښے شامل کړے شو۔

لَّمْ يَمْسَسْهُمْ سُوْٓءٌ ۙ وَّ اتَّبَعُوْا رِضْوَانَ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ ذُوْ فَضْلٍ
عَظِيْمٍ ﴿۱۷۴﴾ اِنَّمَا ذٰلِكُمُ الشَّيْطٰنُ يُخَوِّفُ اَوْلِيَآءَهٗ ۪ فَلَا تَخَافُوْهُمْ
وَخَافُوْنِ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۱۷۵﴾ وَلَا يَحْزُنْكَ الَّذِيْنَ
يُسَارِعُوْنَ فِي الْكُفْرِ ۚ اِنَّهُمْ لَنْ يَّضُرُّوا اللّٰهَ شَيْـًٔا ؕ يُرِيْدُ اللّٰهُ

ضرر ؤ نۀ رسیدو، او دَ الله په رضا باندِ دَ تلو شرف ورته هم حاصل شو، الله ډیر فضل کونکے دے۔ اوس درته معلوم شوه چه په اصل کښ هغه شیطان ؤو چه دَ خپلو دوستانو نه ئے خامخا خلق یَرَول۔ بیا دپاره تاسو دَ انسانانو نه مَه یریږئ، ځمانه یَریږئ، که په حقیقت کښ دَ ایمان خاوندان یئ۔[۱۲۴]

اے پیغمبرهٔ، کوم خلق چه دَ کفر په لار کښ ډیرے منډے وهی دَ هغوئ دغه منډے دِ تا خفه نۀ کړی، دوئ الله ته هیڅ نقصان نشی رسولے۔ دَ الله دا اراده

[۱۲۴] کله چه دَ اُحد نه واپس کیدل نو ابو سفیان مسلمانانو ته وئیلی ؤو چه بل کال له به بیا زمونږه او ستاسو په بدر کښ مقابله وی۔ خو کله چه دَ وعدے وخت نزدے راغے نو همت یئے بائیلو ځکه چه په هغه کال په مکه کښے قحط ؤو۔ دَ جنګ نه دَ ځان بچ کولو د پاره ئے داسے چل ؤکړو چه پټ ئے یو سړے مدینے ته ؤلیږو، هغه چه مدینے ته ؤرسیدو نو په مسلمانانو کښے ئے دا خبرے مشهورے کړلے چه سکال قریشو زبردسته تیاری کړی ده او دومره لوئ لښکر ئے جمع کړے دے چه په ټول عرب کښے ئے څوک مقابله نشی کولے۔ دَ دے خبرو مقصد دا ؤو چه مسلمانان ؤ یریږی او په ځائے پاتے شی مقابلے له را نشی او بیا میدان ته دَ نۀ تللو ذمه واری په هغوئ راشی۔ دَ ابو سفیان دَ دے چل دومره اثر ؤ شو چه کله نبی صلی الله علیه وسلم مسلمانانو ته دَ بدر طرفته دَ تللو اپیل ؤکړو نو دَ مسلمانانو دَ طرفنه ورته څه دَ حوصلے جواب ملاؤ نشو۔ آخر دا چه دَ الله رسول په ډک مجلس کښے اعلان ؤکړو که یو تن هم نۀ ځی خوزهٔ به یواځے ځم۔ په دے خبره پنځلس سوه مجاهدان دَ هغه سره تللو ته تیار شوا و نبیؐ هم دَ هغوئ سره بدر ته لاړو۔ دَ بل طرفنه ابو سفیان دَ ذوَ وزرو لښکریانو سره را روان شو خو چه دوه ورځے مزل ئے ؤکړو نو ملګرو ته یئے ؤوئیل چه سکال جنګ کول مناسب نۀ ښکاری بیا بل کال له بیرا شو، ملګرو ئے خبره ؤ منله، هغه او ملګری ئے واپس شو۔ نبیؐ صلی الله علیه وسلم په بدر کښے دَ آتۀ ورځو پورے انتظار ؤکړو او په دے دوران کښے دَ هغه ملګرو دَ یوے تجارتی قافلے سره کاروبار ؤکړو او ډیره فائده ورته ؤ شوه۔ بیا چه کله ورته ددے خبرے پته ؤلګیده چه کافران واپس لاړل نو هغوئ هم واپس مدینے ته راغلل۔

اَلَّا يَجْعَلَ لَهُمْ حَظًّا فِي الْاٰخِرَةِ ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿١٧٦﴾
اِنَّ الَّذِيْنَ اشْتَرَوُا الْكُفْرَ بِالْاِيْمَانِ لَنْ يَّضُرُّوا اللّٰهَ شَيْـًٔا ۚ
وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿١٧٧﴾ وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَنَّمَا نُمْلِيْ
لَهُمْ خَيْرٌ لِّاَنْفُسِهِمْ ۭ اِنَّمَا نُمْلِيْ لَهُمْ لِيَزْدَادُوْٓا اِثْمًا ۚ وَلَهُمْ
عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ﴿١٧٨﴾ مَا كَانَ اللّٰهُ لِيَذَرَ الْمُؤْمِنِيْنَ
عَلٰي مَآ اَنْتُمْ عَلَيْهِ حَتّٰى يَمِيْزَ الْخَبِيْثَ مِنَ الطَّيِّبِ ۭ وَمَا
كَانَ اللّٰهُ لِيُطْلِعَكُمْ عَلَي الْغَيْبِ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَجْتَبِيْ مِنْ

دہ چہ دَ هغوئ دپارہ پہ آخرت کښ هیڅ برخہ مقرر نہ کړی، او آخر هغوئ تہ سخته سزا ملاویدونکی دہ۔ کومو خلقو چہ ایمان پرینبودلے مے او دَ کفر خریدار جوړ شویدی هغوئ یقیناً دَ اللہ هیڅ نقصان نشی کولے، دَ هغوئ دپارہ دردناک عذاب تیار دے۔ ۱۷۸ مهلت چہ موښ دہ دوئ له ورکوُو دا دِ دا کافران دَ هغو پہ حق کښہ ښہ نہ کړی، موښ دخو ورله دا مهلت حکمه ورکوُو چہ دوئ دَ کناهونو پیمانے ښه ډکه کړی، بیا دَ دوئ دپاره سخته ذلیله کونکی سزا ده۔

اللہ تعالیٰ به مؤمنان په دے حالت کښ هیڅرے پریے نږدی پهکوم حالت کښ چه دے وخت کښ تاسو یئ[۱۲۵]۔ هغه به پاک خلق دَ ناپاکو خلقو نه جُدا کوی۔ خوَ اللہ دا طریقه نه ده چه تاسو دَ غیبو نه خبر کړی[۱۲۶]۔ دَ غیبی خبرو ښودلو دپاره خو هغه دَ خپلو رسولانو نه چه څوک غوره کړی

۱۲۵ یعنی اللہ تعالیٰ دَ مسلمانانو له پهدے حال کښے لیدل نه خوښوی چه پهکښ هغوئ کښے مؤمنان او منافقان تهولکه وو وُسیږی۔

۱۲۶ یعنی دَ مؤمن او دَ منافق پهمنځ کښے دَ تمیز کولو دپاره اللہ تعالیٰ دا طریقه نه اختیاره کړی چه غیبی طور مسلمانانو ته دَ خلقو وَرږو نوحال وُښایئ چه فلانے مومن دے او فلانے منافق دے، بلکه دَ اللہ په حکم به دَ امتحان دا سے مرتبے راځی چه په هغے کښے به په تجربے سره دَ مؤمنانو او دَ منافقانو حال ښکاره کیږی۔

رُّسُلِهٖ مَنْ يَّشَآءُ ۖ فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ ۚ وَاِنْ تُؤْمِنُوْا
وَتَتَّقُوْا فَلَكُمْ اَجْرٌ عَظِيْمٌ ﴿۱۷۹﴾ وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ
يَبْخَلُوْنَ بِمَآ اٰتٰىهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ هُوَ خَيْرًا لَّهُمْ ؕ بَلْ هُوَ
شَرٌّ لَّهُمْ ؕ سَيُطَوَّقُوْنَ مَا بَخِلُوْا بِهٖ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ وَلِلّٰهِ مِيْرَاثُ
السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ﴿۱۸۰﴾ ع لَقَدْ
سَمِعَ اللّٰهُ قَوْلَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ فَقِيْرٌ وَّنَحْنُ اَغْنِيَآءُ ۘ

هغه غوره کوی. نو (دَ غیبی کارونو په حقله) په الله او دَ هغهٔ په رسول باندِ ایمان ساتئ. که تاسو دَ ایمان او دَ خدائے دَ یرے په لاره لاړئ نو تاسو ته به ډیر اجر ملاؤ شی.

په کومو خلقو چه الله خپل فضل کړے دے او بیا هم هغوئ شومتیا کوی نو هغوئ دِ دا خیال نهٔ کوی چه دا شومتیا دَ هغوئ دپاره بنهٔ ده. نا، دا دَ هغوئ په حق کښ ډیره بده ده. څه چه هغوئ په خپله شومتیا راجمع کوی هغه به دَ قیامت په ورځ دَ هغوئ دَ غاړے زندی جوړه شی. دَ زمکے او دَ آسمانونو میراث دَ الله دے[۱۲۷] او تاسو چه څه کوئ الله دَ هغے نه خبر دے.

الله دَ هغے خلقو وینا واوریده چه وائی چه الله فقیر دے او مونږ غنیان یو.[۱۲۸]

[۱۲۷] یعنی دَ زمکے او دَ آسمان څه څیز چه مخلوق استعمالوی هغه په اصل کښے دَ الله ملکیت دے او په هغے باندِ دَ مخلوق قبضه او تصرف عارضی دے. دَ هر چا په قبضه کښ چه څه دی هغه به دَ هغے نه بے دخله کیږی او دا ټول هر څه به په آخر کښے الله ته پاتے کیږی. عقلمند او هوښیار هغه سړے دے چه د دے عارضی قبضے په دوران کښے دَ الله مال دَ الله په لار کښے دَ زړهٔ دَ اخلاصه ګڼکوی. او هغه سړے سخت بیوقوف دے چه دَ دے مال دَ بچ کولو او دَ ایښودلو کوشش کوی.

[۱۲۸] دا دیهودیانو وینا وه. په قرآن مجید کښے چه کله دا آیت نازل شو چه مَنْ ذَا الَّذِيْ يُقْرِضُ اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا، "څوک دے چه الله له قرض حسن ورکړی"، نو په دے پورے دَ ټوقو په طور یهودیانو دا وینا شروع کړه چه او کنه، الله غریب شوے دے او سے دَ بندګانو نه قرض غواړی.

سَنَكْتُبُ مَا قَالُوْا وَقَتْلَهُمُ الْاَنْۢبِيَآءَ بِغَيْرِ حَقٍّ ۙ وَّ نَقُوْلُ
ذُوْقُوْا عَذَابَ الْحَرِيْقِ ﴿۱۸۱﴾ ذٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْكُمْ وَ
اَنَّ اللّٰهَ لَيْسَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ ﴿۱۸۲﴾ ج اَلَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ عَهِدَ
اِلَيْنَآ اَلَّا نُؤْمِنَ لِرَسُوْلٍ حَتّٰى يَاْتِيَنَا بِقُرْبَانٍ تَاْكُلُهُ
النَّارُ ؕ قُلْ قَدْ جَآءَكُمْ رُسُلٌ مِّنْ قَبْلِيْ بِالْبَيِّنٰتِ وَ
بِالَّذِيْ قُلْتُمْ فَلِمَ قَتَلْتُمُوْهُمْ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۱۸۳﴾

دَ هغوئ دا خبرے بهم مونږ لیکو، او دَ دے نه مخکښ چه هغوئ کوم پیغمبران په ناحقه قتلول هغه هم دَ هغوئ په اعمال نامه کښ لیکلی شوی دی. (کله چه دَ فیصلے وخت راشی په هغه وخت کښ به) مونږه هغوئ ته وائیو چه هن، اوس دَ جهنم دَ عذاب مزه وَ څکئ، دا ستاسو دَ خپلو لاسونو کټه ده، الله دَ خپلو بندګانو دپاره ظالم نهٔ دے.

کوم خلق چه وائی "چه مونږ ته الله دا هدایت کړے دے چه تر هغے به هیڅوک رسول نهٔ منوتر څو چه هغهٔ زمونږ په مخکښ داسے قربانی وَ نکړی چه (دَ غیبو) وُور راشی او هغه وَ خوری"، هغوئ ته اُووایه، "تاسو ته زمانه مخکښ ډیر رسولان راغلی دی چه ډیرے څرګندے نښے ئے راوړے وے. او هغه نښه ئے هم راوړے وه چه دا تاسو ئے ذکر کوئ، نو که (دَ ایمان راوړو دپاره په دے شرط لګو لو کښ) تاسو ریښتینے یئ نو بیا هغه رسولان تاسو ولے قتل کړل ۱۲۹

۱۲۹ په بائیبل کښے په ډیرو ځایونو کښے دا ذکر راغلے دے چه خدائے ته به کومه قربانی قبوله شوه نو دَ هغے پیژندګلو به دا وه چه دَ غیبونه به اُور راغے او هغه به یئ هیره کړله (قضاة ۶: ۲۰-۲۱ و ۱۳: ۱۹-۲۰) په بائیبل کښے دا هم راغلی دی چه په ځنے موقعو کښے به یو نبی دَ سوزید و دپاره قربانی وَ کړه او یو غیبی وُور به راغے او هغه به یئ وَ خوړله (احبار ۹: ۲۴-۲ - تواریخ ۷: ۱-۲). لیکن دا پکښے په یو ځائے کښے نهٔ دی لیکلے شوی چه دا قسمه قربانی دَ نبوت دپاره یوه ضروری نښه ده، یا دا چه چا ته دا معجزه نهٔ وی ورکړے شوی هغه هیچرے نبی نشی جوړیدلے. دا صرف یوه دَ دروغو بهانه وه چه یهودیانو دَ محمد صلی الله علیه وسلم دَ نبوت نه دَ انکار کولو دپاره جوړه کړی وه. لیکن دَ هغوئ دَ حق سره دَ دُشمنئ دَ دے نه زیات ثبوت دا وو چه پخپله دَ بنی اسرائیلو په پیغمبرانو کښے

فَاِنْ كَذَّبُوْكَ فَقَدْ كُذِّبَ رُسُلٌ مِّنْ قَبْلِكَ جَآءُوْ بِالْبَيِّنٰتِ
وَالزُّبُرِ وَالْكِتٰبِ الْمُنِيْرِ ﴿۱۸۴﴾ كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ ؕ وَاِنَّمَا
تُوَفَّوْنَ اُجُوْرَكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ فَمَنْ زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَاُدْخِلَ
الْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ ؕ وَمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ اِلَّا مَتَاعُ الْغُرُوْرِ ﴿۱۸۵﴾
لَتُبْلَوُنَّ فِيْٓ اَمْوَالِكُمْ وَاَنْفُسِكُمْ قف وَلَتَسْمَعُنَّ مِنَ الَّذِيْنَ

اوس اے محمدؐ، که دا خلق تا ته دروغژن وائي نوستانه وړاندې ډیرو رسولانو ته دروغژن وئیلی شوی دی چه هغوئ ښکاره ښکاره نښے او صحیفے اور نړاورکونکی کتابونه راوړی وُو۔ آخر به هر سړے مری او تاسو ټول به دَ قیامت په ورځ خپله خپله پوره بدله بیا مومئ۔ کامیاب په اصل کښ هغه دے چه هلته دَ دوزخ دَ وُور نه بچ شی او جنت ته داخل کړے شی۔ پاتے شوه دا دُنیا، نو دا صرف یو ظاهری دوکه ورکونکے څیز دے[۱۳۰]

اے مُسلمانانو ستاسو په مالونو او بدنونو دواړو کښ به خامخا آزمیښتونه کیږی، او تاسو به دَ اهلِ کتابو او دَ مشرکانو نه

څخه پیغمبران دا سے تیر شوی دی چه هغوئ دَ وُور دَ قربانئ دا معجزه پیش کړی وه او بیا هم دے بدکارو خلقو هغوئ قتل کړل۔ مثلاً په بائیبل کښے دَ حضرت الیاس (ایلیاه تشبی) په حقله دا لیکلی دی چه هغه دَ بَعل بُت عبادت کونکو خلقو ته اُوویل چه دَ عامو خلقو په مخکښے دَ یو غوئ قربانی تاسو وکړئ او دَ یو غوئ قربانی زه کوم۔ دَ چا قربانی چه غیبی وُور وَ خوړله هغه به په حقه وی۔ بیا دا مقابله دَ کنړو خلقو په مخکښے وَ شوه او غیبی وُور دَ حضرت الیاس هغه قربانی وَ خوړله۔ لیکن دَ دے دا نتیجه راوُوتله چه دَ اسرائیل دَ بادشاه ښځه چه دَ بَعل عبادت به ئے کولو دَ حضرت الیاس دُشمنه شوه، او هغه دَ ښځے تابعدار بادشاه دَ خپلے ښځے دپاره دَ هغه په قتل پسے ورپسے شو او حضرت الیاس په مجبورئ سره دَ وطن نه وُوتلو او دَ بینا په غرونو کښے ئے پناه واغستله (۱- سلاطین، باب ۱۸، ۱۹)۔ په دے وجه ورته دا وُویلے شو چه اے دَ حق دُشمنانو! تاسو په کومه خوله دَ وُور دَ قربانئ معجزه غواړئ؟ کومو پیغمبرانو چه دا معجزه ښکاره کړی وه هغوئ تاسو څه روغ پریښودل۔

[۱۳۰] یعنی دَ دے دُنیا په ژوند کښے چه کومے فائدے او نقصانات حاصلیږی که سړے هم دغے ته اصلی او آخری فائدے یا نقصانات اُووائی او هم دغه دَ حق او دَ باطل دپاره دَ کامیابئ او دَ ناکامئ

اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَمِنَ الَّذِيْنَ اَشْرَكُوْٓا اَذًى كَثِيْرًا ؕ
وَاِنْ تَصْبِرُوْا وَتَتَّقُوْا فَاِنَّ ذٰلِكَ مِنْ عَزْمِ الْاُمُوْرِ ﴿۱۸۶﴾ وَ
اِذْ اَخَذَ اللّٰهُ مِيْثَاقَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ لَتُبَيِّنُنَّهٗ لِلنَّاسِ
وَلَا تَكْتُمُوْنَهٗ ز فَنَبَذُوْهُ وَرَآءَ ظُهُوْرِهِمْ وَاشْتَرَوْا بِهٖ

ډیرے دَ تکلیف خبرے واورئ. کہ په دے ټولو حالاتو کښ تاسو صبر وکړو او دَ تقویٰ په لارتینګ پاتے شوئ نو دا ډیر دَ حوصلے کار دے۔ دے اهلِ کتابو ته هغه وعده هم وریاده کړه چه الله ترا غستلی وه چه تاسو به دَ کتاب تعلیمات په خلقو کښ خوره وئ هغه به پټ نه ږدئ۔[۱۳۲] خو هغوئ کتاب شاته وغورزوو او په لږ قیمت باندِ

معیار جوړ کړی نو په حقیقت کښے دغه سړے سخت په دوکه کښے پریوتلو. په دُنیا کښے چه په چا دَ نعمتونو باران راوریږی دَ دے دا مطلب نه دے چه دے په حقه هم دے او دَ الله خوښ بنده هم دے۔ او دغه شان که په دُنیا کښے په چا مصیبتونه او مشکلات راشی دَ هغے مطلب دا نه دے چه ګنی دے په باطله دے او دَ الله خوښ نه دے۔ اکثر خو دَ دُنیا نتیجے دَ آخرت دَ نتیجو برخلاف وی. او اصلی اعتبار دَ آخرت دَ کامیابئ یا دَ ناکامئ دے۔

۱۳۱ یعنی دَ هغوئ دَ پیغورونو، دَ الزامونو، دَ بے فائدے خبرو او دَ غلطے پروپیګنډے په مقابله کښے داسے نه چه تاسو بے صبره شئ او هغه خبری وکړئ چه دَ صداقت او دَ انصاف او دَ خو اخلاقو خلاف وی۔

۱۳۲ یعنی هغوئ ته خو دا یاد وُو چه ځینو پیغمبرانو ته دَ وُرر دَ قربانئ معجزه ورکړے شوی وه، خو دا ور ته یاد نه وُو چه خدائے ورته کله خپل کتاب حواله کولو نو دَ هغوئ نه ئے څه وعده اغستلی وه او دَ کوم لوئ خدمت ذمه واری ئے په هغوئ باندِ اچولی وه؟

دلته چه دَ کومے وعدے ذکر شوے دے دَ هغے ذکر ځائے پځائے په بائیبل کښے راځی. او خاص طور په استثناء کتاب کښے چه دَ حضرت موسیٰ کوم آخری تقریر نقل شوے دے په هغے کښے خو هغه بیا بیا دَ بنی اسرائیلونه دا وعده اخلی چه کوم حکمونه ما تاسو ته دررسولی دی هغه زړه ته کوز کړئ، خپل نوی نسل ته یئے وُښایئ، که په کور کښے ناست یئ، که په لاره ځئ، که ملاست یئ او که ولاړ یئ هر وختے دا وایئ، دَ کور په درشلو او په پاټکو نو باندِ داؤ لیکئ۔ (۶: ۴-۹) بیا په خپل آخری وصیت کښے یئے دا تاکید کړے دے چه کله دَ فلسطین په سرحد ورداخل شوئ نو دَ ټولونه اول دا کار وکړئ چه دَ عیبال په غر باندِ لوئ لوئ کاڼی وُدروئ او په هغے باندِ

ثَمَنًا قَلِيلًا ۚ فَبِئْسَ مَا يَشْتَرُونَ ﴿١٨٧﴾ لَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ
يَفْرَحُونَ بِمَا أَتَوْا وَّيُحِبُّونَ أَنْ يُّحْمَدُوا بِمَا لَمْ يَفْعَلُوا فَلَا
تَحْسَبَنَّهُمْ بِمَفَازَةٍ مِّنَ الْعَذَابِ ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٨٨﴾
وَلِلَّهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ۗ وَاللَّهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿١٨٩﴾ ع
إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ



ئے خرڅ کړو. څومره خراب کاروبار دے چه دا دوئ ئے کوی. تهٔ هغه خلق دَ عذاب نه محفوظ مهٔ کنړه چه هغوئ پخپلو کارونو باندِ خوشحاله دی او دا غواړی چه په داسے کارونو دِ دَ هغوئ صفتونه وُ شی چه په حقیقت کښ هغوئ کړی نهٔ وی[۱۳۳]. په حقیقت کښ دَ هغوئ دپاره دردناکه سزا تیاره ده. دَ زمکے او دَ آسمانونو مالک الله دے او هغه په هر څه باندِ قدرت لری ع

دَ زمکے[۱۳۴] او دَ آسمانونو په پیدائش کښ او دَ شپے او دَ ورځے په یو بل پسے په بار بار راتللو کښ

دَ توراة حکمونه وُلیکئ (۲۷: ۲-۴) هم دغه رنګے یئے بنی لاوی قبیلے ته دَ توراة یوه نسخه ورکړه او ورته یئے وُ فرمائیل چه هر اُوَم کال پس دَ خیام دَ اختر په موقع دَ قوم ټول سړی، ښځے او بچی ځائے پځائے راجمع کوئ او دا پوره کتاب ورته لفظ په لفظ اوره وئ. لیکن دَ دے باوجود بنی اسرائیل دَ الله دَ کتاب نه دومره بے پرواؤ چه دَ حضرت موسیٰؑ نه اُوَّه سوه کاله روستو دَ هیکلِ سلیمانی منجورانو ته او دَ یروشلم یهودی حاکم ته دا قدر له خبره هم معلومه نهٔ وه چه دَ هغوئ سره توراة نومے یو کتاب لا هم شته دے. (۲- سلاطین - ۲۲: ۸-۱۳).

۱۳۳ مثلاً هغوئ په چنل تعریف کښے دا صفتونه اوریدل غواړی چه خلق اُووائی چه دوئ ډیر پرهیزګاره، دیندار او بزرګان دی، دَ دین خادمان دی، دَ شرعے پابند دی، اصلاح کونکی او پاکان دی، حالانکه هغوئ هیڅ هم نهٔ وی. یا دا غواړی چه دَ دوئ په حق کښے خلق دا مشهوره کړی چه فلانے صاحب ډیر قربانئ والا، اخلاصمند او دیانتدار لیډر (مشر) دے او دَ قوم ډیر خدمت یئے کړے دے، حالانکه فلانے هیڅ نهٔ وی بلکه معامله بالکل برعکس وی.

۱۳۴ دا د کلام خاتمه ده. دَ دے تړون دَ پاسنی نزدے آیتونو سره لټول نهٔ دی پکار بلکه په پوره سورة کښے لټول پکار دی. په دے باندِ دَ ځان پوهه کولو دپاره خصوصی طور دَ سورة په تمهید نظر ساتل ضروری دی.

لَاٰيٰتٍ لِّاُولِي الْاَلْبَابِ ﴿۱۹۰﴾ الَّذِيْنَ يَذْكُرُوْنَ اللّٰهَ قِيٰمًا وَّ
قُعُوْدًا وَّعَلٰى جُنُوْبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُوْنَ فِيْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ
رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هٰذَا بَاطِلًا ۚ سُبْحٰنَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴿۱۹۱﴾
رَبَّنَآ اِنَّكَ مَنْ تُدْخِلِ النَّارَ فَقَدْ اَخْزَيْتَهٗ ؕ وَمَا لِلظّٰلِمِيْنَ
مِنْ اَنْصَارٍ ﴿۱۹۲﴾ رَبَّنَآ اِنَّنَا سَمِعْنَا مُنَادِيًا يُّنَادِيْ لِلْاِيْمَانِ
اَنْ اٰمِنُوْا بِرَبِّكُمْ فَاٰمَنَّا ۖ رَبَّنَا فَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَا وَكَفِّرْ

دَ هغه عقلمند ودپاره ډیرے نښے دی چه په ولاړه، په ناسته او په ملاسته په هر حال کښ خدائے یاده وی او دَ زمکے او دَ آسمانونو په جوړخ کښ غور او فکر کوی۔[۱۳۵] (هغوئ بے اختیاره وائی) چه "پروردګاره! دا ټول هر څه تا بے فائدے او بے مقصده نه دی جوړ کړی، ته پاک ئے دَ عبث کار کولو نه۔ پس اے ربه موږ ته دَ دوزخ دَ عذاب نه بچ کړے[۱۳۶]، تا چه څوک په دوزخ کښ واچوؤ هغه دِ په حقیقت کښ په ډیر ذلت او شرمندګئ کښ واچوؤ، او بیا به دَ داسے ظالمانو دپاره هیڅ مددګار نه وی۔ اے ربه، موږ یو آواز کونکے واوریدو چه خلق ئے ایمان طرفته رابلل او وئیل یئے چه خپل رب ومنئ۔ نو موږ ته دَ هغه بلنه قبول کړه[۱۳۷]، پس اے زموږ ته ربه، کومے خطاګانے چه زموږ نه شوی دی هغه را ته معاف کړے او کومے بدئ چه

[۱۳۵] یعنی دَ دے نښونه هر سړے په آسانه حقیقت ته رسیدلے شی، خو شرط پکښے دا دے چه دَ خدائے نه غافله نه وی، او دَ جهان څیزونو ته دَ ځناور پشان نه ګوری بلکه بنه په غور او فکر سره پرسوچ کوی۔

[۱۳۶] کله چه هغوئ دَ کائناتو نظام ته په غور سره ګوری نو دا حقیقت ورته پخپله ښکاره کیږی چه دا ټول دَ حکمت نه ډک یو نظام دے۔ او دا خبره ټوله دَ حکمت نه خلاف ده چه په کوم مخلوق کښے الله تعالیٰ اخلاق پیدا کړی وی، په خپله اراده دَ کار کولو اختیارات یئے ورکړی وی، عقل او دَ ښه او بد تمیز یئے ورله ورکړے وی، او بیا دِ دَ هغوئ نه دَ دُنیا دَ ژوند دَ کارونو تپوس نه کیږی، هغوئ ته دِ په نیکئ باندِ جزا او په بدئ باندِ سزا نه ورکړے کیږی۔ دغه شان دَ کائناتو په نظام باندِ دَ غور فکر کولو سره هغوئ ته دَ آخرت یقین حاصلیږی او دَ خدائے دَ سزا نه پناه غوښتل شروع کړی۔

[۱۳۷] دغه شان دَ هغوئ دا غور کول هغوئ له دَ دے خبرے تسلی هم ورکوی چه پیغمبر دَ دے کائناتو دَ شروع کیدو او دَ ختمیدو په حقله څه وائی او دَ ژوند تیرولو دپاره کومه لار ښائی هغه بالکل سراسر حقه ده۔

عَنَّا سَيِّاٰتِنَا وَتَوَفَّنَا مَعَ الْاَبْرَارِ ﴿۱۹۳﴾ رَبَّنَا وَاٰتِنَا مَا وَعَدْتَّنَا
عَلٰى رُسُلِكَ وَلَا تُخْزِنَا يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۗ اِنَّكَ لَا تُخْلِفُ الْمِيْعَادَ ﴿۱۹۴﴾
فَاسْتَجَابَ لَهُمْ رَبُّهُمْ اَنِّيْ لَآ اُضِيْعُ عَمَلَ عَامِلٍ مِّنْكُمْ مِّنْ
ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى ۚ بَعْضُكُمْ مِّنْ بَعْضٍ ۚ فَالَّذِيْنَ هَاجَرُوْا وَاُخْرِجُوْا
مِنْ دِيَارِهِمْ وَاُوْذُوْا فِيْ سَبِيْلِيْ وَقٰتَلُوْا وَقُتِلُوْا لَاُكَفِّرَنَّ

په موښو کښ دی هغه راته لږے کړے او زموږ نه خاتمه د ښیکو خلقو سره وکړے، اے خدایه
کوے وعدے چه تا د خپلو رسولانو په ذریعه کړې دی هغه زموږ سره پوره کړه او د
قیامت په ورځ موږ مه شرمنده کوه، بیشکه ته د خپلے وعدے خلاف کو نکے نه یئے۔"[۱۳۸]

په جواب کښ ورته خپل رب فرمایئل" زهٔ په تاسو کښ د هیچا عمل ضایع کو نکے نه
یم۔ که سړی ښځه وکه بنځے، تاسو ټول د یو بل هم جنس[۱۳۹] یئ۔ نو کومو خلقو چه زما
د پاره خپل وطنونه پریښودلی دی او زما په لار کښ د خپلو کورونو نه ایستلے شوی دی
او تکلیفونه ورکړے شوی دی او زما د پاره جنګیدلی او وژلے شوی دی، د هغوی

[۱۳۸] یعنی د هغوئ په دے خبره کښے څه شک نه دے چه الله به خپلے وعدے پوره کړی او کړے نه۔ شک نے په دے کښے دے چه آیا موږ به هم په هغے وعدو پوره اوکړه نه۔ دا دے وجے نه هغوئ د الله نه دُعا کانے غواړی چه اے ربه، په دے وعدو موږه پوره وخیژوه، زموږ سره دغه وعدے پوره کړه، په دُنیا کښے خو موږه په پیغمبرانو ایمان راوړے دے او د هغے په وجه موږ د کافرانو د خندا شوی یُو او سپورے ستنے راته وائی، بلکه نه چه د قیامت په ورځ هم دے کافرانو ته شرمنده شو او هلته هم د چا سره ناوړه وکړي چه سره د ایمانه ورته څه خیر صلا و نه شو۔

عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ وَلَاُدْخِلَنَّهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ج
ثَوَابًا مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ ط وَاللّٰهُ عِنْدَهٗ حُسْنُ الثَّوَابِ ﴿۱۹۵﴾ لَا يَغُرَّنَّكَ
تَقَلُّبُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فِي الْبِلَادِ ﴿۱۹۶﴾ ط مَتَاعٌ قَلِيْلٌ قف ثُمَّ
مَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ط وَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴿۱۹۷﴾ لٰكِنِ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا
رَبَّهُمْ لَهُمْ جَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا
نُزُلًا مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ ط وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرٌ لِّلْاَبْرَارِ ﴿۱۹۸﴾ وَاِنَّ
مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ لَمَنْ يُّؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكُمْ وَمَآ

الثلثة

ټول ګناهونه به زه معاف کړم او داسے باغونو ته به ئے ورداخل کړم چه لاندې به تړولے بهیږی۔ دا د هغوئ بدله ده د الله سره او بهترینه بدله خو د الله سره ده۔[۱۴۰]"

اے نبیؐ، د دنیا په ملکونو کښ دا د نافرمانو خلقو منډے تړے دِ تا دوکه نه کړی۔ دا بس د دے یو څو ورځو د ژوند لږے مزے دی، بیا به دا ټول جهنم ته ځی چه د ټولو نه خراب ځائے د قرار دے۔ د دے نه برعکس چه کوم خلق د خدائے نه په یره یره ژوند تیره وی د هغوئ د پاره داسے باغونه دی چه لاندې تړولے بهیږی، په دے باغونو کښ به هغوئ همیشه وسیږی، دا د الله د طرفنه د هغوئ د پاره د میلمستیا سامان دے، او څه چه د الله سره دی هغه د نیکانو خلقو د پاره د ټولو نه بهتر دی۔ په اهل کتابو کښ هم څه خلق داسے دی چه الله منی او په هغه کتاب باندے ایمان دے چه تاسو ته رالیږلے شوے دے،

[۱۳۹] یعنی تاسو ټول انسانان یئ او زما په نظر کښے یو شان یئ۔ زما دا طریقه نه ده چه د زنانه او د نارینه، د مالک او غلام، د تور او د سور، د مالدار او د غریب د پاره دِ د انصاف جدا جدا اصول وی۔

[۱۴۰] روایت دے چه څنے کافران نبی صلی الله علیه وسلم له راغلل او ورته ئے اووئیل چه موسیٰؑ سره همسا او سپین لاس معجزه وه۔ عیسیٰؑ به راندہ بینا کول د لاسو خپو د ګوتو

اُنْزِلَ اِلَيْهِمْ خٰشِعِيْنَ لِلّٰهِ ۙ لَا يَشْتَرُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ثَمَنًا قَلِيْلًا ؕ
اُولٰٓئِكَ لَهُمْ اَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ﴿۱۹۹﴾
يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اصْبِرُوْا وَصَابِرُوْا وَرَابِطُوْا ۟ وَاتَّقُوا
اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿۲۰۰﴾ ع

اوپه هغے کتاب باندِهم ایمان لری چه ددے نه مخکښ هغوئ ته رالیږلے شوے وُو، دَ خدائے مخکښ ټیټ شوی دی، او دَ الله آیاتو نه په لږ قیمت نهٔ خرڅوی. دَ هغوئ بدله دَ خپل رب سره ده او الله په حساب کولو کښ وخت نهٔ تیروی.

اے هغه خلقو چه ایمان مو راوړے دے، دَ صبر نه کار واخلئ، دَ باطل پرستو په مقابله کښ مضبوط وُسئ[۱۴۱]، دَ حق دَ خدمت دپاره ملا تړلی تیار وُسئ، او دَ الله نه یَریږئ. اُمید دے چه کامیابی به بیا مومئ ع

دَ ریژیدو مرض به یے ښهٔ کولو. تهٔ وُوایه چه تاڅه راوړی دی؟ دَ دے په جواب کښے نبیؐ دا رکوع دَ اول سر نه دَ دے ځائے پورے تلاوت کړه او ورته ئے وُفرمائیل چه ماخودا راوړے دے.

[۱۴۱] اصل عربی لفظ صَابِرُوْا دے. دَ دے دوه معنے دی. یوه دا چه کافران څومره په خپل کفر مضبوط ولاړ دی او دَ کفر دَ وُچتولو دپاره څومره مشکلات برداشت کوی، تاسو دَ هغے په مقابله کښے دَ هغوئ نه زیات مضبوط وُسئ. بله دا چه دَ کافرو په مقابله کښے دَ یو بل نه زیات مضبوط وُسیږئ

تفہیم القرآن

النِّسَآء

(۴)

النّسآء ۴

د نازلید وزمانه او د مضمون حصّے په دے مضمون کښے یو څو خطبے دی چه غالباً د ۶ هجرئ د آخر سرنه را واخله د ۷ هجرے د آخر سر پورے یا د ۸ هجرئ د اول سر پورے په مختلفو وختونو کښے نازل شوی دی۔ اګر چه د اپته لکول کښے مشکل دی چه یو تقریر په کښے د کوم حائے نه د کوم حائے پورے دے او ټیک په کوم وخت کښے نازل شوے دے، خو لیکن څنے حکمونو او څنے واقعاتو طرف ته کښے څه داسے اشارے شوی دی چه د هغے د نازلید وخت موږ ته د روایاتو نه معلومیدے شی او د دے روایاتو په وجه موږ د هغے مختلفو تقریرونو یوه سرسری شان حد بندی لکولے شو په کوم تقریرونو کښے چه داحکمونه او اشارے راغلی دی۔

مثلاً موږ ته دا معلومه ده چه د میراث د تقسیم او د یتیما نو د حقونو په باره کښے حکمونه د جنګ د اُحد نه روستو نازل شوی وُو۔ په جنګ اُحد کښے د مسلمانانو او یا کسان شهیدان شوی وُو او د دے شهادت په وجه د مدینے په ورکوټي شان کلی کښے په اکثرو کورونو کښے داخبره منیځ ته راغلی وه چه د شهیدانو میراث څنګه تقسیم کړے شی او کوم بچی چه د هغوئ نه یتیمان پاتے شوی دی د هغوئ د فائدے و لحاظ څنګه ساتلے شی۔ په دے وجه موږ ته دا قیاس کولے شو چه اولنئ ځلور رکوعګانے او د پنځے رکوع اولنی دیرش آیاتونه ۱۰ هم په دغه زمانه کښے نازل شوی دی۔

په روایاتو کښے د صلوٰۃ خوف (د جنګ په حالت کښے د مونځ کولو) ذکر په ذات الرقاع نومے غزا کښے راغلے دے چه په ځلورمه هجرئ کښے شوے وُو۔ په دے وجه دا قیاس کیدے شی چه هم د دغه غزا په خوا ؤشا زمانه کښے به هغه خطبه نازله شوی وی په کومه کښے چه د صلوٰۃ خوف د مونځ طریقه بیان شوی ده (رکوع ۱۵)۔

د مدینے نه قبیله بنی نضیر د ځلورے هجرئ په ربیع الاول میاشت کښے ایستلے شوی وه نو په دے وجه غالب ګمان دا دے چه دے نه لږه زمانه مخکښے به هغه خطبه نازله شوی وی په کومه کښے چه یهودیانو ته آخری خبردارے ورکړے شوے دے چه ایمان راوړئ مخکښے دا ۷ نه چه موږ د رسول مخونه وران کړو او شاته ئے واړوو۔"

د اُبوداؤد نه د صلاویدو د وجے نه د تیمم اجازت د بنی المصطلق په غزا کښے شوے وُو او دا غزا په پنځمه هجرئ کښے شوی وه لهٰذا د تیمم ذکر چه په کومه خطبه کښے راغلے دے هغه به هم دے سره په تړاو زمانه کښے نازله شوی وی (رکوع ۷)

شانِ نزول او مجموعه د دغه شان د قول سورتو د نازلیدو د زمانه معلومه شوه او س پکار دی چه د دے زمانے په تاریخ باندے یو نظر واچوو چه د هغے په مدّ نظر د سورتونو په مضمون نه پوهه شوه۔

په دغه وخت کښې چه د نبي صلی الله علیه وسلم په وړاندې څه کار وُو هغه په دریو لویو لویو حصو کښې تقسیم دے شي، یو د هغو نو وُ منظمو اسلامي خلقو پرورش کول وُو چه هغوی د مدینې په خوا وُ شا کښې آباد شوي وُو او د جاهلیت زړے طریقے ئے ختمے کړے وے، او د اخلاقو، د استوګنې، د یو بل سره د ؤسیدلو، او په خپلو کښې د ژوند تیرولو او د وطن د انتظام چلولو په نوي اُصولو باندې ئے کار شروع کړے وُو. دوئیم د هغے دُشمنۍ مقابله کول وُو کومه چه د عربو د مشرکانو، د یهودیانو او د منافقانو خلقو سره شروع شوي وُو. دریم د اسلام آواز د دے مشکلاتو یا وجود هر ځائے ته رسول وُو او د نورو خلقو زړونه د اسلام تابع کول وُو. په دے موقع چه د الله تعالیٰ د طرفنه څومره خطبے نازلے شوي دي د هغوئ تعلق د دے درے واړو خبرو سره دے.

د مسلمانانو د تنظیم د پاره چه کوم حکمونه په سورة بقره کښې نازل شوي وُو، اوس د هغے نه د زیاتو حکمونو کولو ضرورت وُو، نو په دے وجه د سورة نسآء په دے خطبو کښې دا خبره ښه زیاته په تفصیل سره وُښودلے شوه چه مسلمانان خپل شریک ژوند په کومه طریقه د اسلام لاندې تیر کړي. په خپلو خاندانونو کښې د نظم ساتلو د پاره اُصول وُښودلے شو. په نکاح باندې پابندیانے وُلګیدلے. په استوګنه کښې د زنانه او د نارینه د تعلقاتو حدبندي وُشوه. د یتیمانو حقونه مقرر شول. د میراث د تقسیم د پاره طریقه مقرر شوه. په ژوند کښې چه کوم مشکلات پیښیږي د هغے په حقله هدایات وُشو. د کورنئ جګړو د اصلاح طریقه اُوښودلے شوه. د سزا قانون جوړ کړے شو. د شرابو په څکلو پابندي وُلګیده. د پاکئ حکمونه وُشو. مسلمانانو ته وُویلے شو چه د یو نیک صالح انسان پشان د خدائے او د مخلوق سره څنګه تعلق ساتل پکار دي. د جماعتي نظم قائمولو د پاره مسلمانانو ته هدایات ورکړے شو. د اهلِ کتابو په اخلاقي او مذهبي رویے باندې خبرے اترے وُشوے او مسلمانانو ته دا خبر دارے ورکړے شو چه د دغے مخکینې اُمتونو پشان د کار کولو نه ځان وُ ساتي. د منافقانو په کار خبرے وُشوے او ریښتینے ایمانداري په ګوته کړے شوه. او د ایمان او د نفاق صفتونه د یو بل نه جُدا جُدا وُښودلے شو.

د کفر سره چه کوم جنګ شروع وُو هغه د جنګ اُحد نه روستو ښه زیات شو. په جنګ اُحد کښې د شکست خوړلو په وجه د مشرکانو، د یهودیانو او د منافقانو حوصلے وُچتے شوے او مسلمانان د هر طرفنه په خطرو کښې ګیر شو. په دے حالاتو کښې الله تعالیٰ د یو طرفنه په دے جُوشیلے خطبو باندې مسلمانان مقابلے کولو ته تیاره ول او د بل طرفنه یے ورته دا هدایات ورکول چه د جنګ په حالاتو کښې په دے طریقه ژوند تیروئ. په مدینه کښې به منافقانو او د کمزوري ایمان والو خلقو هر قسم د یرے خبرونه ښورول چه مسلمانان بے حوصلے شي. حکم وُشو چه دا قسم خبرونه ذمه وارو خلقو ته رسوئ او ترڅو چه هغوئ د ښه تحقیق نه روستو اجازت نه وي کړے تر هغے پورے هغه خبر مه ښوروئ. مسلمانان به هر وخت جنګو نو له تلل او په داسے لارو به تلل چه هلته به اُوبه نه وے. اجازت وُشو چه که اُوبه ملا وُ نشي نو د غسل او د اُوس دواړو د پاره تیمم وهئ. په داسے حالاتو

کښې دَ مونځ مختصر کولو اجازت هم وُ شو. او چه کله خطره بالکل په سر باندې وی نو په هغې وخت کښې دَ صلوٰة خوف کولو طریقه وُ ښودلے شوه. دَ عربو په مختلفو علاقو کښې ځنے مسلمانان دَ کافرانو سره خوارهٔ وارهٔ وُ سیدل او اکثر به په جنګ کښې راګیرهم شو، دَ دغے مسلمانانو معامله دَ مدینے دَ مسلمانانو دپاره دَ سختے پریشانئ سبب وُو. په دے مسئله کښې یو طرفته اسلامی ډلے ته ښه په تفصیل سره هدایات ورکړے شو او بل طرفته دغه خوارهٔ وارهٔ مسلمانان هجرت کولو ته تیار کړے شو چه دَ هر خوانه یو دارالاسلام ته راغونډ شی.

په یهودیانو کښې دَ بنی نضیر قبیلے کار ډیر سخت دَ دُشمنئ وُو، هغوئ دَ معاهدو پروانهٔ ساتله او په ډاګه یې دَ اسلام دَ دُشمنانو مګر تیا کوله. او په مدینه کښې دننه یې هم دَ محمد صلی الله علیه وسلم او دَ هغهٔ دَ جماعت خلاف سازشونه کول. دَ هغوئ په دے کار باندې سختے سختے خبرے وُ شوے او هغوئ ته په صفا الفاظو کښې آخری خبردارے ورکړے شو. دَ دے خبرداری نه روستو بیا هغوئ دَ مدینے نه وُو یتلے شو.

دَ منافقانو ډیرے ډلے وے او دَ هرے ډلے جُدا جُدا کار وُو، او دَ مسلمانانو دپاره داګرانه وه چه دَ ټولو منافقانو سره په کوم طرز سلوک وُ کړی. دا ټول منافقان یې په جُدا جُدا ډلو کښې تقسیم کړل او وے وئیل چه دَ فلانئ ډلے سره دا قسم سلوک ساتل پکار دی.

دا خبره هم واضحه کړے شوه چه دَ کومو قبائیلو سره وعده شوی وی او هغه غیر جانبداره وُ سیږی دَ هغوئ سره دَ مسلمانانو څه سلوک ساتل پکار دی.

دَ ټولو نه زیاته اهمه او ضروری خبره دا وه چه دَ مسلمانانو چل عمل دِ بالکل صفا وی ځکه چه مسلمانانو صرف دَ خپلو ښو اخلاقو په زور باندې ګټه کولے شوه. دَ دے وجے نه مسلمانانو ته دَ ښو وُ چتو اخلاقو تعلیم ورکړے شو او دَ مسلمانانو په جماعت کښې چه څه کمزوری په ظاهره ښکاریدله په هغې باندې سختے سختے خبرے وُ شولے.

په دے سورة کښې دَ دعوت او دَ تبلیغ کار هم نهٔ دے پاتے شوے. دَ جاهلیت په مقابله کښې چه اسلام کومو اخلاقو ته او دَ ژوند تیرولو کومے طریقے ته دُنیا را بلی دَ هغې ښهٔ تشریح شوی ده. دَ دے نه علاوه دَ یهودیانو، دَ عیسایانو او دَ مشرکانو چه کومے غلطے عقیدے او کوم غلط کارونه وُو په هغې بد وُ ویلے شو او هغوی ټولو ته دَ حق دین دعوت ورکړے شو.

آیاتها ۱۷۶ سُوْرَةُ النِّسَآءِ مَدَنِيَّةٌ رکوعاتها ۲۴

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوْا رَبَّكُمُ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ
وَّخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيْرًا وَّنِسَآءً ۚ وَاتَّقُوا
اللّٰهَ الَّذِيْ تَسَآءَلُوْنَ بِهٖ وَالْاَرْحَامَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيْبًا ۝۱
وَاٰتُوا الْيَتٰمٰٓى اَمْوَالَهُمْ وَلَا تَتَبَدَّلُوا الْخَبِيْثَ بِالطَّيِّبِ ص

اے خلقو، دَ خپل رب نه ؤیریږئ چه تاسو ئے دَ یو نفس نه پیدا کړئ او هم دَ هغے نفس نه ئے دَ دغے نفس دپاره جوړه پیدا کړه او دَ دغے دواړو نه ئے ډیر نارینه او زنانه په دُنیا کښ خواره کړل.[1] دَ هغے خدائے نه ؤیریږئ چه دَ هغه په واسطه تاسو دَ یو بل نه خپل حقونه غواړئ او دَ خپلو لئ دَ تعلقاتو ورانولو نه ځان ساتئ. یقین لرئ چه الله په تاسو باندِ نظر ساتی.

دَ یتیمانو مال هغوئ له واپس ورکړئ،[2] بنهٔ مال په خراب مال مَهٔ بدلوئ،[3]

[1] وړاندِ به دَ انسانانو په خپلو کښے حقونه بیانیږی او خاص طور دَ کور دَ انتظام دَ بنهٔ کولو دپاره به ضروری قانونونه ښودلے کیږی، نو دَ دے وجے نه اول شروع په داسے طریقے سره ؤ شوه چه یو طرفته ئے په دے خبره زور ورکړو چه دَ خدائے نه یریږئ او دَ هغه دَ ناراضګئ نه ځان ساتئ او بل طرفته ئے دا خبره ذهن ته راوستله چه دَ ټولو انسانانو اصل یو دے ټول دَ یو بل وینه غوښے دی.

"تاسو ئے دَ یو نفس نه پیدا کړئ" یعنی دَ انسانانو پیدا وښت ئے په اول کښے دَ یو تن نه ؤ کړو. په بل ځائے کښے قرآن پخپله دے تشریح کوی چه هغه اولنے انسان آدم ؤ او دَ هغه نه دَ انسانانو نسل په دُنیا کښے خور شو.

"دَ هغے نفس نه ئے دَ دغے نفس دپاره جوړه پیدا کړه" دا څنګه پیدا شوه دَ دے تفصیلی حالت زمونږ په علم کښے نشته. مفسرین چه کومه عامه خبره بیانوی او چه کومه په بائیبل کښے هم بیان شوی ده، هغه دا ده چه دَ آدمؑ دَ پښتئ نه حوا پیدا کړے شوه (په تلمود کښے زیات تفصیل دا لیکلے شوے دے چه حضرت حوا دَ حضرت آدم علیه السلام دَ ښئ طرف دَ دیار لسمے پښتئ نه پیدا شوی وه). لیکن دَ الله کتاب په دے باره کښ خاموش دے. او کوم حدیث چه دَ دے په دلیل کښے پیش کیږی دَ هغے مطلب هم هغه نه دے کوم مطلب چه تر دا خلق اخلی. نو دَ دے وجے نه زیاته بهتره دا ده چه خبره هم دغه شان مجمله په ځائے پاتے شی څنګه چه الله مجمله پاتی کړی ده او وخت پر ضائع نه کړے شی.

وَلَا تَأْكُلُوْٓا اَمْوَالَهُمْ اِلٰٓى اَمْوَالِكُمْ ؕ اِنَّهٗ كَانَ حُوْبًا كَبِيْرًا ۝۲
وَاِنْ خِفْتُمْ اَلَّا تُقْسِطُوْا فِى الْيَتٰمٰى فَانْكِحُوْا مَا طَابَ لَكُمْ
مِّنَ النِّسَآءِ مَثْنٰى وَثُلٰثَ وَرُبٰعَ ۚ فَاِنْ خِفْتُمْ اَلَّا تَعْدِلُوْا

او دَ هغوئ مال دَ خپل مال سره یو ځائے مَهٔ خورئ، دا ډیره لویه ګناه ده.
که چرے تاسو دَ یتیمانو سره دَ بے انصافئ کولو نه یَرپیږئ نو کومے ښځے چه ستاسو خوښی
شی په هغوئ کښ دَ دَوو دَوو، دریو دریو او دَ څلورو څلورو سره نکاح وَکړئ[۴]. خو
که دا فکر درسره وُو چه دَ هغوئ ترمنځه به انصاف وَ نکړے شئ نو

۲ یعنی ترڅو پورے چه هغوئ واړه وی، دَ هغوئ مالونه دَ هغوئ فائدے دپاره خرچ کوئ او چه کله لوئ
شی نو څه چه دَ هغوئ حق وی هغه ورته واپس کړئ.

۳ دَ دے یو مطلب دا دے چه دَ حلالو ځائے حرام مه خورئ او بل مطلب یے دا دے چه دَ یتیمانو دَ ښه
مال سره خپل خراب مال مه بدلوئ.

۴ مفسرینو دَ دے درے مطلبونه بیان کړی دی.

(۱) حضرت عائشه دَ دے په تفسیر کښے فرمائی چه دَ جاهلیت په زمانه کښے به یتیمانے جینکئ چا ته پاتے شوے، نو
یا دَ هغوئ دَ مالونو او دَ ښائیست په وجه او یا په دے وجه چه څه خو دَ تپوس ئے څوک نشته چه څنګه مو خوښه
وی هغه شان دباؤ به پر کوؤ، هغوئ به ورسره پخپله نکاح کوله او بیا به ئے پر ظلم کولو. نو حکم وُشو چه
که تاسو سره دا فکر وی چه دَ یتیمانو جینکو سره به انصاف وَ نکړے شو نو په دنیا کښے نورے ښځے هم شته په هغے
کښے چه مو کومے ښځے خوښے شوے دَ هغوئ سره نکاح وَکړئ. په دے سورة کښے دَ نور لسمے رکوع اولنے آیت
دَ دے تفسیر تائید کوی.

(۲) ابن عباس او دَ هغه شاګرد عِکرمه دَ دے دا تفسیر بیانوی چه دَ جاهلیت په زمانه کښے دَ نکاح څه حد
نه وُو. یو سړی به لس لس ښځے کولے او کله چه به دَ دے ډیرو ودونو دَ وجے نه خرچونه زیات شو نو دَ مجبورئ
نه به ئے دَ خپلو یتیمانو وریرونو، خوریانو او دَ نورو غریبانو خپلوانو حقونه وهل. نو الله تعالیٰ دَ
نکاح دپاره دَ څلورو ښځو حد مقرر کړو او وے فرمائیل چه که ځان دَ ظلم او دَ بے انصافئ نه ساتئ نو
دَ یوے نه واخلئ دَ څلورو ښځو پورے چه دَ څو مره ښځو سره انصاف کولے شئ هغه په نکاح واخلئ.

(۳) سعید بن جبیر او قتاده او څنے نور مفسرین وائی چه دَ یتیمانو سره بے انصافئ کولو نه به دَ جاهلیت
خلقو هم په ښه نظر نه کتل. لیکن دَ ښځو په معامله کښے دَ هغوئ خیالات دَ عدل او دَ انصاف نه بالکل خالی وُو.
چه څو مره به ئے خوښه وه هغو مره ودونه به ئے کول او بیا به ئے دَ هغوئ سره ظلم کولو. دَ دے وجے نه حکم وُشو
چه دَ یتیمانو سره دَ بے انصافئ کولو نه یَرپیږئ نو دَ ښځو سره دَ بے انصافئ کولو نه هم وَیرپیږئ. اول خو

فَوَاحِدَةً اَوْ مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ ؕ ذٰلِكَ اَدْنٰٓى اَلَّا تَعُوْلُوْا ؕ ﴿۳﴾

بیا یوه ښځه وکړئ[۵] یا هغه وینځې ځان له ښځې کړئ چه ستاسو په قبضه کښ راغلی دی،[۶] دَ بے انصافئ نه دَ بچ کیدلو دپاره دا کار زیات نیه دے۔

دَ څلورو نه زیاتے نکاح کانے مه کوئ او دَ څلورو پورے هم دومره ښځے ساتئ چه دَ څومره سره انصاف کولے شئ۔

دَ دے آیت دَ الفاظو دا درے واړه تفسیرونه کیدے شی، او کیدے شی چه درے واړه مطلبونه ئے ټیک وی۔ او دا یو مطلب ئے هم کیدے شی چه که دَ یتیمانو سره هسے انصاف نشئ کولے نو دَ کومو ښځو سره چه یتیمان بچی دی دَ هغوئ سره نکاح وکړئ۔

[۵] په دے خبره باندے دَ ټول اُمت دَ عالمانو اجماع ده چه په دے آیت کښے دَ ښځو حد مقرر شوے دے او په یو وخت دَ څلورو نه زیاتے ښځے ساتل منع کړے شوی دی۔ دَ دے اجماع تصدیق دَ روایاتو نه هم کیدے شی۔ په حدیث کښے راغلی دی چه دَ طائف سردار غیلان کله اسلام راوړو نو دَ هغه نهه ښځے وے۔ نبی صلی الله علیه وسلم ورته حکم وکړو چه څلور ښځے وساته باقی پریږده۔ دغه شان دَ یو بل سړی (نوفل بن معاویه) پنځه ښځے وے۔ نبیؐ ورته حکم وکړو چه په دوئ کښے یوه ښځه پریږده۔

دغه رنګے په دے آیت کښے دَ ډیرو ښځو ساتلو دپاره دَ انصاف شرط لګولے شوے دے۔ کوم سړے چه انصاف نشی کولے او دَ یوے نه زیاتے ښځے ساتی هغه دَ الله سره دوکه کوی۔ دَ اسلامی حکومت عدالتونو ته دا حق حاصل دے چه دَ کومو ښځو سره سړے انصاف نشی کولے دَ هغو ښځو فریاد دِ واوری۔

کومو خلقو چه دَ مغرب دَ عیسائی رائے نه اثر قبول کړے دے هغوئ دے خبرے دَ ثابتولو کوشش کوی چه قرآن په اصل کښے دَ ډیرو ښځو کولو دا طریقه (چه مغرب ورته خرابه طریقه وائی) ختمول غوښتل، خو دَ ډیرو ښځو کولو ریواج ډیر زیات وُو نو دَ دے وجے نه ئے پر صرف پابندئ وُ لګولے او نوره خبره ئے په ځائے پریښودله۔ لیکن دا قسم خبرے کول دَ ذهنی غلامئ اثر دے۔ ډیرو ښځو کولو ته بدوئیل دَ نه منلو خبره ده، ځکه چه په ځنے حالاتو کښے ډیرے ښځے کول یو اخلاقی ضرورت جوړ شی۔ که چرے دَ یوے نه دَ زیاتو ښځو کولو اجازت نه وی، نو بیا هغه خلق چه په یوه ښځه صبر نشی کولے، هغوئ به دَ بے نکاح ښځو سره دَ خپل خواهش پوره کولو دپاره بدامنی خوره وی، او دَ دے نقصانات دَ هغے نقصاناتو نه ډیر زیات دی کوم چه دَ ډیرو ښځو سره دَ نکاح کولو په وجه رسیدے شی۔ دَ دے وجے نه قرآن دَ ضرورتمندو خلقو دپاره دَ یوے نه دَ زیاتو ښځو کولو اجازت ورکړے دے۔ بیا هم چه دَ کومو خلقو په خیال کښے ډیرے ښځے کول یو خراب کار ښکاری هغوئ ته دا اختیار حاصل دے چه دَ قرآن نه خلاف دے ته بد وُوائی او خلقو ته دَ دے نه دَ منعے کولو مشورے ورکړی۔ لیکن دا حق ورته هیچرے حاصل نه دے چه خپل خیال خامخاه دَ قرآن سره وُتړی۔ ځکه چه قرآن په صفا الفاظو کښے دَ یوے نه زیاتو ښځو کولو ته جائز وئیلی دی او چرته په اشارو کنایو کښے ئے هم دے ته په بد وئیلو کښے دا سے الفاظ نه دی استعمال کړی چه دَ هغے نه دا معلومه شی چه قرآن په حقیقت کښے دَ زیاتو ښځو کولو ریواج ختمول غوښتل۔ (دَ زیاتے تشریح دپاره وګوره زما کتاب "سُنت کی آئینی حیثیت" ص ۳۰۷ تا ۳۱۶)

وَاٰتُوا النِّسَآءَ صَدُقٰتِهِنَّ نِحْلَةً ؕ فَاِنْ طِبْنَ لَكُمْ عَنْ شَیْءٍ مِّنْهُ نَفْسًا
فَكُلُوْهُ هَنِیْٓـًٔا مَّرِیْٓـًٔا ﴿۴﴾ وَلَا تُؤْتُوا السُّفَهَآءَ اَمْوَالَكُمُ الَّتِیْ جَعَلَ اللّٰهُ
لَكُمْ قِیٰمًا وَّارْزُقُوْهُمْ فِیْهَا وَاكْسُوْهُمْ وَقُوْلُوْا لَهُمْ قَوْلًا مَّعْرُوْفًا ﴿۵﴾

اوښځو لږ څیز مهر ورښه د زړه په خوشحالئ سره (په دې خیال چه دا فرض دے) ورکوئ، البته که هغوی په خپله خوښه د مهر څه حصه تاسو ته معاف کړی نو هغه ښه د مزے سره خوړلے شئ ۴

اوخپل هغه مالونه چه الله ستاسو د پاره د ګذران یوه ذریعه جوړه کړیده، ناپوهه خلقو ته مه حواله کوئ، البته هغوی له د خوراک اود پوشاک د پاره ورکوئ او نیکے خبرے ورته کوئ ۵

۴ د دے نه مراد ویښتئ دی، یعنی هغه ښځے چه په جنګ کښے ونیولے شی او د حکومت د طرفنه په خلقو کښے تقسیم کړے شی. مطلب دا دے که د یوے آزاد ے خاندانی ښځے کولو یوج نه شے برداشت کولے نو بیا د ویښځے سره نکاح وکړه، لکه څنګه چه په څلورمه رکوع کښے د رابندې راځی. یا دا مطلب دے چه که د یوے نه د زیاتو ښځو ضرورت درته وی او د آزادو خاندانی ښځو په منځ کښے درته انصاف کول کران وی نو د ښځو طرفته رجوع وکړه، ځکه چه د ښځو په وجه به د رابندې ذمه واری کمه راشی - (محکښے پر حاشیه ۴ کښے به د درته د ښځو په حقله حکمونه ښه په تفصیل سره ملاؤ شی).

۵ د حضرت عمر او د قاضی شریح دا فیصله ده چه کریوے ښځے خپل خاوند ته خپل پوره مهر یا د مهر یوه حصه معاف کړی وی او روستو ئے بیا د غواړی نو خاوند یه په دے مجبوره ولے شی چه دغه مهر ښځے له ورکړی ځکه چه د هغے د غوښتلو دا مطلب دے چه هغه په خپله خوشئ سره خپل ټول مهر یا د مهر څه حصه پریښود ل نه غواړی. (د زیات تفصیل د پاره وګورئ "حقوق الزوجین" عنوان "مهر").

۶ د دے آیت د پرتو رمطلب دے. په دے کښے ټول امت ته ویلے شوی دی چه مالونه د ژوند تیرولو یوه ذریعه ده، داخاطے دا سے ناپوهه خلقو پسے لاس کښے ورکول نه دی پکار چه په غلطه طریقه ئے استعمال کړی او د ژوند د تیرولو ټول نظام خراب کړی - په یوځیز باندې د مملکت څخه چه یوسړی ته حاصل دے هغه دومره لاهم وده نه دے چه که هغه په صحیح طریقه د دغے څخه د استفادے لولو اصل نه وی او که د هغے په استفادے لولو باندې یولوئ فساد راپورته کوی خو بیا د هم د هغه نه د مملکت څخه نشی اغستلے کیدے. تر څو پورے چه د یوسړی د ژوند د ضرورتونو خبره ده هغه خو ضرور پوره کول پکار دی، لیکن ترکومه حده پورے چه د خپل مالکانه حق په آزادئ سره د استعمالولو تعلق دے په هغے باندې پابندی نکول پکار دی هسے نه چه دغه استعمال د اخلاقو او د شریک ژوند تیرولو د پاره نقصانی وی. د دے حکم مطابق د هر مالدار انسان د پاره د دے خبرے لحاظ ساتل پکار دی چه هغه چا ته خپل مال حواله کوی ایا هغه د هغے د استعمالولو

وَابْتَلُوا الْيَتٰمٰى حَتّٰٓى اِذَا بَلَغُوا النِّكَاحَ ۚ فَاِنْ اٰنَسْتُمْ مِّنْهُمْ
رُشْدًا فَادْفَعُوْٓا اِلَيْهِمْ اَمْوَالَهُمْ ۚ وَلَا تَاْكُلُوْهَآ اِسْرَافًا
وَّبِدَارًا اَنْ يَّكْبَرُوْا ؕ وَمَنْ كَانَ غَنِيًّا فَلْيَسْتَعْفِفْ ۚ

او دَ یتیمانو آزمینت کوئ ان تردے پورے چه هغوئ دَ نکاح کولو عمر ته وَرسیږی.[9] پس دَ هغے نه که چرے تاسو په هغوئ کښ هوښیارتیا وُلیدله نو دَ هغوئ مالونه هغوئ ته حواله کړئ.[10] داسے هیچرے مه کوئ چه په بے انصافئ سره دَ هغوئ مالونه دَ دے یَرے دَ وجے نه زر زر وُخورئ چه دوئ به رالوئ شی او خپل حق به وُغواړی. دَ یتیم کوم سرپرست چه مالدار وی هغه دِ دَ پرهیزګارئ نه کار واخلی

قابلیت لری او که نه. او اسلامی حکومت له هم ددے خبرے انتظام پکار دے چه په کومو خلقو کښے پخپله دَ خپل مال دَ لګولو قابلیت نه وی، او یا چه کوم خلق خپل دولت په غلطو طریقو باندِ لګوی، دَ هغوئ مالونه دِ په خپل انتظام کښے واخلی او دَ هغوئ دَ ژوند دَ ضرورتونو بندوبست دِ وُکړی.

[9] یعنی کله چه هغوئ حُلمیتوب ته نزدے کیږی نو کورئ ورته چه عقل ئے څومره کار کوی او دَ خپلے معاملے چلولو قابلیت پکښے څومره پیدا کیږی.

[10] هغوئ ته دَ مال حواله کولو دپاره دوه شرطونه لګولے شوی دی: یو بلوغ دویم هوښیارتیا، یعنی دَ مال دَ صحیح استعمال قابلیت. دَ اول شرط په باره کښے خو دَ ټول اُمت دَ دینی عالمانو اتفاق دے. دَ دویم شرط په باره کښے دَ امام ابوحنیفه رضی الله عنه رائے داده که حُلمیتوب ته دَ رسیدلو نه روستو هم پکښے هوښیارتیا را نغله نو دَ یتیم سرپرست له پکار دی چه اُو وُه کاله انتظار دِ ورته نور وُکړی. ددے نه روستو پکښے که هوښیارتیا راغله او که را نغله، پکار دی چه خپل مال ورته حواله کړی. او دَ امام ابو یوسف، دَ امام محمد او دَ امام شافعی رحمهم الله رائے داده چه دَ مال حواله کولو دپاره په هر حال کښے هوښیارتیا ضروری ده. غالباً چه ددے روستنو حضراتو دَ رائے مطابق دا خبره به زیاته صحیح وی چه په دے معامله کښے دِ دَ قاضی نه تپوس وُکړے شی او که قاضی ته معلومه شوه چه په دهٔ کښے هوښیارتیا نشته نو بیا دِ دَ هغه دَ هر کار دَ نګرانئ دپاره پخپله څه مناسب انتظام وُکړی.

وَمَنْ كَانَ فَقِيْرًا فَلْيَاْكُلْ بِالْمَعْرُوْفِ ؕ فَاِذَا دَفَعْتُمْ
اِلَيْهِمْ اَمْوَالَهُمْ فَاَشْهِدُوْا عَلَيْهِمْ ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ حَسِيْبًا ﴿۶﴾
لِلرِّجَالِ نَصِيْبٌ مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدٰنِ وَالْاَقْرَبُوْنَ ۖ وَ
لِلنِّسَآءِ نَصِيْبٌ مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدٰنِ وَالْاَقْرَبُوْنَ مِمَّا
قَلَّ مِنْهُ اَوْ كَثُرَ ؕ نَصِيْبًا مَّفْرُوْضًا ﴿۷﴾ وَاِذَا حَضَرَ الْقِسْمَةَ
اُولُوا الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنُ فَارْزُقُوْهُمْ مِّنْهُ

او کوم چه غریب وی هغه دِ دَ عامے معلومے طریقے مطابق خوری[11]. بیا چه کله هغوئ ته خپل مالونه حواله کوئ نو خلق پرِ کواهان کړئ، او دَ حساب کتاب دپاره الله کافی دے.

دَ نارینو دپاره په هغے مال کښ حصه ده چه هغه مور او پلار او رشته دارانو پریښودلے وی، او دَ زنانو دپاره هم په هغے مال کښ حصه ده چه هغه مور او پلار او رشته دارانو پریښودلے وی، که لږ وی او که ډیر[12]، او دا حصه (دَ الله دَ طرفنه) مقرر ده.

او کله چه دَ تقسیم په وخت کښ دَ خاندان خلق او یتیمان او مسکینان حاضر شی نو هغے مال نه هغوئ له هم څه ورکړئ

[11] یعنی دَ خپل خدمت کولو حق وتر دومره واخلی چه هر منځګړے سړے ورته مناسب وائی. دغه رنګے چه دَ خدمت څه معاوضه تر اخلی نو په پټه ئے دِ نر نه اخلی ښه په ښکاره دِ ئے دَ خلقو په مخکښے ځان له مقرر کړی او دَ هغے حساب کتاب دَ ځان سره ساتی.

[12] په دے آیت کښے پنځه قانونی حکمونه شوی دی: یو دا چه میراث صرف دَ سړو حصه نه ده بلکه ښځے هم دَ دے حقدارے دی. دویم دا چه میراث په هر حالت کښے تقسیمول پکار دی که هر څومره کم وی، تر دے پورے که دَ مړی نه یو ګز کپړه پاتے شوی وی او دَ هغے لس وارثان وی نو پکار دی چه هغه هم په لسو حصو کښے تقسیم شی. دا بیله خبره ده چه یو وارث دَ نورو ټولو وارثانو حصه واخلی. دریم دے آیت نه دا خبره هم راوځی چه دَ وراثت قانون به په هر قسم مالونو او جائیدادونو باندِ لګی. خواه که هغه دَ یو ځائے نه بل ځائے ته (منقوله) کیدیشی او که نه شی کیدے (غیر منقوله) که دَ کروندے مال وی او که دَ کارګرئ، او که بل قسم مال وی. څلورم دا چه دَ میراث حق هله پیدا کیږی چه مړی څه پریښودلی وی. پنځم دا چه مړی ته تر دے رشته دار موجود وی نو لرے رشته دار ته به میراث نه ملاویږی.

وَقُوْلُوْا لَهُمْ قَوْلًا مَّعْرُوْفًا ﴿۸﴾ وَلْيَخْشَ الَّذِيْنَ لَوْ تَرَكُوْا
مِنْ خَلْفِهِمْ ذُرِّيَّةً ضِعٰفًا خَافُوْا عَلَيْهِمْ ۪ فَلْيَتَّقُوا اللّٰهَ
وَلْيَقُوْلُوْا قَوْلًا سَدِيْدًا ﴿۹﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ يَاْكُلُوْنَ اَمْوَالَ الْيَتٰمٰى
ظُلْمًا اِنَّمَا يَاْكُلُوْنَ فِيْ بُطُوْنِهِمْ نَارًا ؕ وَسَيَصْلَوْنَ سَعِيْرًا ﴿۱۰﴾ ع
يُوْصِيْكُمُ اللّٰهُ فِيْٓ اَوْلَادِكُمْ ۖ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْاُنْثَيَيْنِ ۚ

او دَ شریفانو پشان خبرے ورسره وُکړئ [۱۳]

خلقو له پکار دی چه دا خیال په زړهٔ کښ راولی او وَیریږی چه که دَ هغوئ نه پخپله داسے بے وسه اولاد پاتے شی نو دَ مرګ په وخت کښ به دَ هغوئ دَ خپلو بچو په باره کښ څه څه دَ یرے فکر ونه کړ زیدلے نو پکار دی چه هغوئ دَ خدائے نه یره وُکړی او دَ راستئ حقه خبره وُکړی. کوم خلق چه په ظلم سره دَ یتیمانو مال خوری په حقیقت کښ هغوئ په خپلو خیټو کښ وُوراچوی او هغوئ به ضرور دَ دوزخ بلو لمبو ته اچولے کیږی [۱۴] ع

ستاسو د اولاد په باره کښ الله تاسو ته حکم کوی چه:
چه دَ نارینه حصه دَ دوو زنانو برابر ده [۱۵]،

[۱۳] دَ مړی وارثانو ته وائی چه دَ میراث دَ تقسیمولو په وخت کښے کوم لرے نزدے خپلوان او دَ دغے کورنئ غریب او مسکین خلق او یتیمان بچی راشی نو زړهٔ ورته مه تنګوئ. که په شریعت کښے دَ هغوئ حصه نه وی نو نه ډوی، تاسو زړهٔ فراخه کړئ او دَ میراث نه هغوئ له هم څه نه څه حصه ورکړئ او دَ هغوئ سره داسے خبرے مه کوئ چه دَ هغوئ زړونه پرخفه شی، دا دَ زړهٔ تنګو خلقو کار دے چه په داسے موقع هغه خبرے کوی چه زړهٔ پرتمق چوی.

[۱۴] په حدیث کښے راغلی دی چه دَ جنګ اُحد نه روستو دَ حضرت سعد بن ربیع بڅه دَ دوو وړو وړو ماشومانو سره دَ نبی صلی الله علیه وسلم په خدمت کښے حاضره شوه او عرض ئے وُکړو چه "اے رسول الله! دا دَ هغے سعد وړے وړے لو نړه دی چه ستاسره په اُحد کښے شهید شوے دے. دَ دوئ ترهٔ په ټول جائیداد باندے قبضه کړی ده او دَ دوئ دپاره ئے یوه دانه قدر له هم نه ده پریښودلے. اوس به دَ دے بچو سره څوک نکاح وُکړی!" په دے باندے دا آیتونه نازل شو.

[۱۵] دَ میراث په معامله کښے دا اولنے اُصولی حکم دے چه دَ نارینه حصه دَ زنانه نه دوچند ده. په خاندانی ژوند کښے شریعت په نارینه باندے دَ روزئ کټلو زیاتے ذمه وارئ اچولی دی او زنانه

فَاِنْ كُنَّ نِسَآءً فَوْقَ اثْنَتَيْنِ فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَ ۚ وَاِنْ كَانَتْ
وَاحِدَةً فَلَهَا النِّصْفُ ؕ وَلِاَبَوَيْهِ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا السُّدُسُ
مِمَّا تَرَكَ اِنْ كَانَ لَهٗ وَلَدٌ ۚ فَاِنْ لَّمْ يَكُنْ لَّهٗ وَلَدٌ وَّ وَرِثَهٗۤ
اَبَوٰهُ فَلِاُمِّهِ الثُّلُثُ ۚ فَاِنْ كَانَ لَهٗۤ اِخْوَةٌ فَلِاُمِّهِ السُّدُسُ

کہ (دَ مړی وارثانے) دَ دَوُو نہ زیاتے جینکئی وی نو هغوئ لہ دِ دَ میراث پہ دریو کښ دوہ حصے ورکړے شی[16]

اوکہ صرف یوہ جینئی وارثہ وہ نو نیم میراث دَ هغے دے۔

کہ دَ مړی اولاد وُو نو مور او پلار هر یو لہ دَ میراث شپږمہ حصہ ورکول پکار دی[17]۔

اوکہ اولادئے نہ وُو او مور او پلار ئے وارثان وُو نو مور لہ دِ دریمہ حصہ[18] ورکړے شی۔

اوکہ دَ مړی خور رورهم وُو نو مور بہ بیا دَ شپږمے حصے حق دارہ وی[19]۔

ئے دَ روزئ کتلو دَ بوج نہ خلاصہ کړی دہ، نو پہ دے وجہ انصاف دا پکار وُو چہ پہ میراث کښے دَ ښځے حصہ دَ سړی پہ نسبت کمہ کیښودلے شی۔

[16] کہ یواځے دوہ جینکئی وے نو بیا هم دغہ حکم دے۔ مطلب دا دے کہ دَ سړی هلک نہ وی او بچی یئے ټولے جینکئی وی، نو کہ دوہ جینکئی وی یا دَ دَوُو نہ زیاتے، خو دَ ټول میراث دَ دریو حصو نہ دوہ حصے بہ پہ هغے جینکو باندِ تقسیمولے شی، او باقی یوہ حصہ بہ پہ نورو وارثانو باندِ تقسیمولے شی۔ لیکن کہ دَ مړی صرف یو هلک وی نو پہ دے باندِ اجماع دہ کہ نور وارثان ئے نہ وُو نو هغہ بہ دَ ټول مال وارث وی، اوکہ نور وارثان ئے وُو نو چہ هغوئ لہ ترِ خپلے حصے ورکړے شی نو باقی ټول بہ دوہ شی۔

[17] یعنی چہ دَ مړی اولاد وی نو دَ مړی مور او پلار هر یو بہ دَ شپږمے حصے حق دار وی، خواہ کہ دَ مړی وارثان صرف جینکئی وی، یا صرف ځامن وی، یا لونړہ او ځامن دواړہ وی، یا یو ځوئے وی یا یوہ لور وی، پاتے شوے پہ دریو کښے دوہ حصے، نو پہ دے کښے بہ نور وارثان شریک وی۔

[18] کہ دَ مور او پلار نہ بغیر نور وارثان ئے نہ وُو نو باقی دواړہ حصے بہ دَ پلار شی۔ اوکہ نور وارثان یئے وُو نو پہ دغے دواړو حصو کښے بہ پلار او نور وارثان شریک وی۔

[19] کہ دَ مړی رُور خور وُو نو دَ مور حصہ دَ دریمے حصے پځائے شپږمہ حصہ کړے شوی دہ، دغہ شان دَ مور دَ حصے نہ چہ کومہ شپږمہ حصہ اخستلے شوی دہ هغہ بہ دَ پلار پہ حصہ کښے شاملہ

مِنۢ بَعۡدِ وَصِيَّةٍ يُّوۡصِىۡ بِهَاۤ اَوۡ دَيۡنٍ ؕ اٰبَآؤُكُمۡ وَاَبۡنَآؤُكُمۡ لَا تَدۡرُوۡنَ اَيُّهُمۡ اَقۡرَبُ لَكُمۡ نَفۡعًا ؕ فَرِيۡضَةً مِّنَ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيۡمًا

(دا ټولے حصے به هغه وخت ویشلے شی) کله چه مړی وصیت کړے وی هغه پوره کړے شی او په مړی چه څه قرضه وی هغه ورکړے شی[20]

تاسو نه پوهیږئ چه ستاسو په مور او پلار او ستاسو په اولاد کښ څوک د نفعے په لحاظ تاسو ته زیات نزدے دی. دا حصے الله مقرر کړی دی، او الله یقیناً د ټولو حقیقتونو نه

کړے شی ځکه چه د رور خور په موجودګئ کښے د پلار ذمه وارئ زیاته وی. دا یاد لرئ که د مړی مور او پلار ژوندی وُو نو د خویندو رونړو پکښے برخه نه رسی.

(پخپله ئے برخه نه رسی خو د مور په برخه اثر غورزوی یعنی د دریمے نه شپږمه حصه شی. مترجم)

[20] د وصیت ذکر د قرض نه مخکښے وُ شو دا ځکه چه دا ضروری نه ده چه هر مړے د قرضدارے وی او وصیت کول خو د هر مړی د پاره ضروری دی. لیکن په دے خبره د ټول اُمت اجماع ده چه د قرض ورکولو حکم په وصیت باندِ مخکښے دے. یعنی که په مړی باندِ قرض وی نو د ټولو نه اول به د مړی د مال نه هغه قرض ورکړے شی بیا به روستو وصیت پوره کړی، او پس د هغے نه به میراث په وارثانو تقسیم شی. د وصیت په باره کښے د سورة بقرے په حاشیه ۱۸۲ کښے مونږ ویلی دی چه سړی ته د خپل ټول مال د دریمے حصے پورے د وصیت کولو اختیار دے، او د وصیت کولو دا قاعده ځکه مقرر کړے شوی ده چه د میراث په قانون کښے کومو خپلوانو عزیزانو ته د میراث نه څه حصه نه ملاویږی نو په هغوئ کښے چه څوک د امداد مستحق وی د هغوئ د پاره د په خپل اختیار باندِ حصه مقرر کړی. مثلاً یو یتیم نوسے یا نوسئ ده، یا د ځوی کونډه ښځه ده چه د غریبئ ژوند تیروی، یا یو رور یا خور یا ورندار یا ورارهٔ یا خورئے یا یو بل خپل داسے دے چه د امداد حقدار ښکاری، نو د هغه په حق کښے د وصیت په ذریعه حصه مقرر کیدے شی. او که په خپلوانو کښے څوک د امداد حقدار نه وی نو د نورو حقدارو د پاره یا د عامے فایدے د کار د پاره هم وصیت کیدے شی. خلاصه دا ده چه د سړی مال به ټول درے حصے شی د یوے حصے یا د یوے حصے نه د کم په باره کښے به مړے وصیت وکړی او باقی دوه حصے یا د دوُو حصو نه لږے زیاتے به د شریعت مطابق په وارثانو تقسیم کړے شی. بیا که چرے یو سړے په وصیت کښے زیاتے وکړی یا خپل اختیار په غلطه طریقه داسے استعمال کړی چه د بل جائز حق ته پرے نقصان رسی، نو د هغے د پاره دا طریقه ده چه د خپل خاندان خلق د د یو بل په رضا سره هغه وصیت ټیک کړی او یا د د شریعت قاضی ته درخواست وکړی چه وصیت ټیک کړی. (د زیات تفصیل د پاره وګوره زما رساله "سیتیم پوتے کی وراثت").

حَكِيمًا ﴿١١﴾ وَلَكُمْ نِصْفُ مَا تَرَكَ أَزْوَاجُكُمْ إِنْ لَّمْ يَكُنْ لَّهُنَّ
وَلَدٌ ۚ فَإِنْ كَانَ لَهُنَّ وَلَدٌ فَلَكُمُ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْنَ مِنْ
بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصِينَ بِهَا أَوْ دَيْنٍ ۚ وَلَهُنَّ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْتُمْ
إِنْ لَّمْ يَكُنْ لَّكُمْ وَلَدٌ ۚ فَإِنْ كَانَ لَكُمْ وَلَدٌ فَلَهُنَّ الثُّمُنُ
مِمَّا تَرَكْتُمْ مِّنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ تُوصُونَ بِهَا أَوْ دَيْنٍ ۗ

خبرے او پہ هر مصلحت پوهه دے[۲۱]

او ستاسو نیکونه چه ژر لیږئ وی د هغے یمه برخه تاسو ته ملاویږی ولے هله که هغوی بے اولاده وی، او که د هغوی اولاد وُو نو بیا د میراث څلورمه حصه ستاسو ده او هله چه اول د هغوی وصیت پوره کړے شی، او کوم قرض چه پرے پاتے وی هغه ورکړے شی۔ او ښځے ستاسو د میراث په مال کښ د څلورمے حصے حقدارے دے که تاسو بے اولاده وئ، او که اولاد مو وُو نو بیا به د هغوی اتمه[۲۲] حصه وی، د هله چه اول ستاسو وصیت پوره کړے شی او کوم قرض چه پرتاسو پاتے وی هغه ورکړے شی۔

[۲۱] د د هغے تر لوناپوهانو نوخلقو جواب دے چه خدائے د میراث کوم قانون چور کړے دے په هغے نړۍ پوهیږی او په خپل نیمګړی عقل هغه کے پوره کول غواړی کوم چه د هغوی په خیال د الله په جور شوی قانون کښے پاتے شوے دے۔

[۲۲] یعنی که د سړی یوه ښځه وی او که دیرے ښځے وی، خوچه اولاد لے وی نو اته حصے شے دے او چه اولاد نه وی نو څلورمه حصه لے دے، او دا اتمه یا څلورمه حصه به په ټولو ښځو یو شان برابر تقسیمیږے شی۔

وَاِنْ كَانَ رَجُلٌ يُّوْرَثُ كَلٰلَةً اَوِ امْرَاَةٌ وَّلَهٗٓ اَخٌ اَوْ
اُخْتٌ فَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا السُّدُسُ ۚ فَاِنْ كَانُوْٓا اَكْثَرَ مِنْ
ذٰلِكَ فَهُمْ شُرَكَآءُ فِى الثُّلُثِ مِنْۢ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُّوْصٰى
بِهَآ اَوْ دَيْنٍ ۙ غَيْرَ مُضَآرٍّ ۚ وَصِيَّةً مِّنَ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ

اوکه هغه سړے یا ښځه (چه میراث به ئے تقسیمیږی) بے اولاده هم وی او مور او پلار ئے هم ژوندی نه وی، خو یو رور یا یوه خور ئے وی، نو رور او خور هر یو ته به شپږمه حصه ملاویږی، اوکه رور او خور د یو نه زیات وو نو بیا به د ټول میراث په دریمه حصه کښې ټول شریک وی[۲۳]، دا هله چه اول تر وصیت پوره کړے شی او کوم قرض چه په مړی پاتے وی هغه تر ورکړے شی په دے شرط چه هغه نقصان ورکونکے نه[۲۴] وی۔ دا حکم دے د الله د طرفنه او الله پوهه دے

۲۳ باقی د شپږو نه ښځه یا د دریو نه دوه حصے چه کومے پاتے شوے په هغے کښے که بل وارث وو خو هغه ته به حصه ملاؤ شی، اوکه نه بل وارث نه وو نو د دغے باقی پاتے ټول مال په باره کښے دغه سړی ته د وصیت کولو حق حاصل دے۔
د دے آیت په حقله د مفسرینو اجماع ده چه په دے کښے د رونړو خویندو نه مراد هغه رور او خور دی چه مور ئے شریکه وی او پلاران یے جدا جدا وی۔ پاتے شو سکه رور او خور او هغه رونړه خویندے چه پلار ئے یو وی او میندے یے جدا جدا وی، نو د هغوی حکم د دے سورة په آخر کښے دے۔
۲۴ په وصیت کښے نقصان ورکول دا دی چه په داسے طریقه وصیت وکړی چه د حقدارو وارثانو حق پر برباد کړی۔ او په قرض کښے ضرر ورکول دا دی چه په ځان باندے د داسے قرض اقرار وکړی چه په اصل کښے ده د چا نه اغستلے نه وی، خو دا ئے غرض وی چه د میراث حقداران د میراث د حصو نه محروم شی۔ یا بل څه داسے چل وکړی چه غرض ئے پکښے وارثانو له حصه نه ورکول وی۔ دے قسم ضرر ورکولو ته گناه کبیره ویلے شوی ده۔ په حدیث کښے راغلی دی چه په وصیت کښے نقصان ورکول لویه گناه ده۔ او په یو بل حدیث کښے د نبی صلی الله علیه وسلم ارشاد دے چه سړے ټول عمر د جنتیانو پشان کار کوی خو د مرگ په وخت کښے د ضرر ورکولو وصیت وکړی او خپل ژوند په داسے کار ختم کړی چه د دوزخ حقدار شی۔ دا نقصان ورکول او د بل حق وهل په هر حال کښے گناه ده خو دلته د "کلاله" په مسئله کښے الله تعالیٰ د دے ذکر ځکه کړے دے چه د کوم سړی نه اولاد وی او نه ئے مور او پلار وی د هغه اکثر دا خیال وی چه خپل جائیداد په څه طریقه برباد کړی او لرے رشته داران د حصے نه محروم کړی۔

حَلِيْمٌ ﴿۱۲﴾ تِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ ؕ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ يُدْخِلْهُ
جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ وَذٰلِكَ الْفَوْزُ
الْعَظِيْمُ ﴿۱۳﴾ وَمَنْ يَّعْصِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَيَتَعَدَّ حُدُوْدَهٗ
يُدْخِلْهُ نَارًا خَالِدًا فِيْهَا ۪ وَلَهٗ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ﴿۱۴﴾ ع

او نرم خُو یه دے۔[۲۵]

دا دَ الله مقرر کړے شوی حدونه دی. څوک چه دَ الله او دَ هغه دَ رسول حکم ؤ منی هغه به الله داسے باغونو ته داخل کړی چه لاندِ به ترِ نهرونه بهیږی او په دغه باغونو کښ به هغه همیشه ؤ سیږی او دا لویه کامیابی ده۔ او څوک چه دَ الله او دَ هغه دَ رسول حکم ؤ نه منی او دَ هغه دَ مقرر کړے شوؤ حدونو نه واوړید و هغه به الله ؤ ورته واچوی چه په هغے کښ به همیشه ؤ سی او دَ هغه دپاره رسوا کونکی سزا ده۔[۲۵ الف]

[۲۵] دلته دَ الله تعالیٰ دَ علم دَ صفت بیانولو دوه وجے دی: یوه دا که څوک دَ هغه دَ قانون خلاف ورزی ؤ کړی نو دَ الله نه هیچرے په هیڅ شان ځان نشی خلاصولے. دَ ویم دا چه کومے حصے الله په څه طریقه مقرر کړی دی هغه بالکل صحیح دی ځکه چه دَ بنده په څه کښے خیروی هغه دَ بنده نه الله ډیر ښه پیژنی. او دَ الله دَ نرم خویئ صفت ئے ځکه بیان کړے دے چه په دے قانون مقرره ولو کښے الله سختی نه ده کړے بلکه الله داسے قاعدے مقرر کړی دی چه پکښے دَ انسانانو دپاره دَ زیاتو نه زیاته آسانتیا ده او دَ دے دپاره ئے مقرر کړی دی چه انسان ته ګرانه نه شی۔

[۲۵ الف] دا ډیر دَ یرے آیت دے، الله چه دَ وراثت دپاره کوم قانون مقرر کړے دے څوک چه هغه بدل کړی یا هغه نور قانونونه مات کړی کوم چه الله په خپل کتاب کښے صفا بیان کړی دی، دَ هغوئ دپاره دَ همیشه عذاب خبردارے ورکړے شوے دے. لیکن په دے خبره ډیر افسوس دے چه دَ دے سخت عذاب اوریدلو با وجود مسلمانانو خاص دَ یهودیانو پشان زړورتیا ؤ کړه، دَ خدائے قانون ئے هم بدل کړو او دَ قانون حدونه ئے هم مات کړل۔ دَ دے میراث دَ قانون په باره کښے چه څومره نافرمانیانے شوی دی هغه ټولے دَ بغاوت حد ته رسیدلی دی یعنی هغه ټول دَ خدائے دَ قانون خلاف بغاوت دے۔ چا زنانه دَ میراث نه مستقل طور محروم کړی دی. چا مشر ځوئے دَ میراث حقدار ګرزولے دے. چا دَ سرنه دَ میراث طریقه پریښودلی ده او دَ "مشترک خاندانی جائیداد" طریقه ئے اختیار کړی ده. چا دَ زنانو او دَ نارینو حصه برابر کړی ده. او اوس خو دَ دے زړه سرکشئ سره یوه نوی سرکشی دا ده چه

وَالّٰتِیْ یَاْتِیْنَ الْفَاحِشَةَ مِنْ نِّسَآئِكُمْ فَاسْتَشْهِدُوْا
عَلَیْهِنَّ اَرْبَعَةً مِّنْكُمْ ۚ فَاِنْ شَهِدُوْا فَاَمْسِكُوْهُنَّ فِی
الْبُیُوْتِ حَتّٰی یَتَوَفّٰهُنَّ الْمَوْتُ اَوْ یَجْعَلَ اللّٰهُ لَهُنَّ سَبِیْلًا ﴿۱۵﴾
وَالَّذٰنِ یَاْتِیٰنِهَا مِنْكُمْ فَاٰذُوْهُمَا ۚ فَاِنْ تَابَا
وَاَصْلَحَا فَاَعْرِضُوْا عَنْهُمَا ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ تَوَّابًا رَّحِیْمًا ﴿۱۶﴾

ستاسو د زنانو نه چه څوک بدکاری وکړی، په هغوئ باندې د خپلو کسانو نه څلور تنه ګواهان کړئ، او که څلورو تنو پرې ګواهی وکړه نو هغوئ ترهغې پورې په خپلو کورونو کښې بندے کړئ چه مرګ ورله راشی یا الله پاک ورله څه بله لار راوباسی۔ او په تاسو کښې چه څوک دوه تنه دا بدکاری وکړی نو دواړو له تکلیف ورکړئ، بیا که هغوئ توبه وباسی او خپل ځانونه سم کړی نو پرے ئې ږدئ ځکه چه الله ډیر توبه قبلونکے او رحم کونکے دے ۲۶

ځنے مسلمان وطنونه په مغربي خلقو پسے روان دی او د هغوئ پشان په خپلو وطنونو کښے وفات ټیکس (DEATH DUTY) له ریواج ورکوی، د دے مطلب خو دا دے چه د مړی په وارثانو کښے یو وارث حکومت هم دے چه د هغه حصه مقرره ول د الله نه هیر شوی وو! حالانکه په اسلامی اصولو باندې که د مړی میراث د حکومت رسی نو صرف په داسے حالت کښے رسی چه د مړی هیڅ یو نزدے یا لرے رشته دار موجود نه وی او د هغه پاتے شوے مال د اشیاء متروکه (Unclaimed Properties) پشان بیت المال ته داخل شی۔ او یا خو که مړے په خپل وصیت کښے د حکومت د پاره څه حصه مقرر کړی نو هغه حصه د حکومت رسی۔

۲۶ په دے دواړو آیتونو کښے د زنا سزا بیان شوی ده۔ اولنے آیت صرف د زنا کارو زنانو په باره کښے دے او سزائے دا ده چه هغوئ دې د بل حکم د راتللو پورے قیدے کړے شی۔ دوئم آیت د زنا کار سړی او د زنا کارے ښځے دواړو د پاره دے۔ د دواړو په باره کښے دا حکم دے چه دواړو له دې تکلیف ورکړے شی یعنی وُدې وهلے شی، سختے سپورے دې ورته وویلے شی او ذلیله دې کړے شی۔ دا د زنا په حقله اولنے حکم وُو۔ روستو بیا په سورة نور کښے هغه آیت نازل شو چه پکښے د نارینه او زنانه دواړو د پاره یو حکم وُ شو چه دواړو ته به سل سل کوړے ورکولے شی۔ د دغے وخته پورے د عربو خلق د حکومت لاندې او د عدالت او د سزا د قانون لاندې د ژوند تیرولو عادت نه وُو، نو که د اسلامی حکومت د قایمیدلو سره ناسا په په هغوئ باندې د سزا قانون جاری

اِنَّمَا التَّوْبَةُ عَلَى اللّٰهِ لِلَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ السُّوْٓءَ بِجَهَالَةٍ ثُمَّ
يَتُوْبُوْنَ مِنْ قَرِيْبٍ فَاُولٰٓئِكَ يَتُوْبُ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ
عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴿۱۷﴾ وَلَيْسَتِ التَّوْبَةُ لِلَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ السَّيِّاٰتِ ۚ
حَتّٰٓى اِذَا حَضَرَ اَحَدَهُمُ الْمَوْتُ قَالَ اِنِّىْ تُبْتُ الْـٰٔنَ

هن په دے ځان پوهه کړئ چه په الله باندې د هغے کسانو د توبے قبلولو حق دے چه د ناپوهئ په وجه څه بد کارؤ کړی او د هغے نه روستو زر توبه ؤ باسی. په داسے خلقو باندې الله د خپلے مهربانئ نظر بیا کوی او الله د هرے خبرے خبر اغستونکے او حکمت والا دے. خو توبه د هغے خلقو د پاره نه ده چه په مخه بد کارونه کوی آن تر دے پورے چه په دوئ کښ د چا د مرګ وخت راشی نو په هغه وخت کښ ؤ وائی چه اوس م توبه ده.

کړے شوے وے نو دا خبره به د حکمت نه ډیره خلاف وه. الله تعالی رُو رُو هغوئ د سزا د قانون سره د عادتولو د پاره اول د زنانه په باره کښے دا سزا ګانے مقرر کړے، بیائے رُو رُو درجه په درجه د زنا، د زنا د الزام لګولو او د غلا حدونه مقرر کړل او په آخر کښے د سزا ګانو هغه لوئ قانون جوړ شو کوم چه د نبی صلی الله علیه وسلم او د خلفائے راشدینو په حکومتونو کښے جاری ؤو.

سُدّی نوے تفسیر کونکی د دے دواړو آیتونو ظاهری فرق ته کتلی دی او په مطلب اغستو کښے غلط شوے دے هغه وائی چه اولنے آیت د نکاح شوؤ نځو د پاره دے او دوئم آیت د ناواده کړی نارینه او زنانه د پاره دے. لیکن دا یو کمزورے تفسیر دے. د دے په مرسته کښے څه وزندار دلیل نشته. او د دے نه زیاته کمزورے خبره هغه ده چه ابو مسلم اصفهانی لیکلی ده هغه وائی چه اولنے آیت د یوے زنانه د بلے زنانه سره د بد کارئ په باره کښے دے او دوئم آیت د یو نارینه د بل نارینه سره د بد کارئ په باره کښے دے. په دے خبره ډیر تعجب دے چه د ابو مسلم پشان د عالم سړی نظر دے حقیقت ته ولے نه تللو چه قرآن خو د انسان د ژوند د پاره د قانون او د اخلاقو لویه لار جوړه وی او په هغے مسئلو باندې بحث کوی چه په دغه لویه لار باندې پیښے شی. پاتے شوے کوڅے او نرئ نرئ لارے، نو دے ته توجه ورکول او د هغے په وړو وړو مسئلو باندې بحث کول د شاهانه کلام سره هیڅ کله مناسب نه دی. داسے کارونه هغه د اجتهاد د پاره پریښودلی دی. دغه وجه ده چه د نبوت د زمانے نه روستو کله دا خبره پیښه شوه چه د یو نارینه د بل نارینه سره د بد کارئ کولو څه سزا ده، نو په صحابه کرامو کښے یو هم داؤنه وئیل چه د سورة نسآء په دے آیت کښے د دے حکم موجود دے.

وَلَا الَّذِيْنَ يَمُوْتُوْنَ وَهُمْ كُفَّارٌ ؕ اُولٰٓئِكَ اَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿۱۸﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا يَحِلُّ لَكُمْ اَنْ تَرِثُوا النِّسَآءَ كَرْهًا ؕ وَلَا تَعْضُلُوْهُنَّ لِتَذْهَبُوْا بِبَعْضِ مَآ اٰتَيْتُمُوْهُنَّ

او دغه شان توبه د هغه چا د پاره هم نه ده چه د مرګه پورے کافران پاتے شي. د داسے خلقو د پاره خو مونږه درد ناکه سزا تیاره کړي ده [۲۷]

اے هغه خلقو چه ایمان مو راوړے دے، ستاسو د پاره دا حلال نه دي چه په زور زبردستۍ ځان د ښځو وارثان کړئ [۲۸] او نه دا حلال دي چه هغوئ د دے غرض د پاره تنګے کړئ چه د خپل هغے مهر څه حصه تر راؤ شو کوئ کوم چه تاسو هغوئ له ورکړے دے.

[۲۷] د توبے معنی واپس کیدل دي. د ګناه کولو نه روستو د بنده خدائے ته د توبے ایستلو دا مطلب دے چه یو غلام د خپل مالک نه مرور شوے وو او د هغه فرمان ئے نه منلو، اوس پښیمانه شوے دے، پخو لاکیدو او فرمان منلو ته واپس راغلے دے. او د خدائے د طرفنه په بنده باندے د توبے دا مطلب دے چه د مالک د مهربانئ نظر د غلام نه اوړیدلے وو خو په غلام د مهربانئ نظر بیاؤ شو. الله تعالیٰ په دے آیت کښے فرمائي چه زما سره معافي صرف د هغے بندګانو د پاره ده چه په قصدا ګناه نه کوي بلکه د ناپوهئ په وجه چه تر کله ګناه وشي او دے پر پوهه شي نو ذر شرمنده شي او د خپلے ګناه معافي وغواړي. هر کله چه داسے بندګان په خپلو ګناهونو شرمنده شي او خپل مالک طرفته راؤ کرزي نو هغوئ ته به دروازے پرانستے وي ؎

این درگهِ ما درگه نومیدی نیست ‖ دا زما در بار د نا امیدئ دربار نه دے
صد بار اگر توبه شکستی باز آ ‖ سل ځله که توبه وباسے واپس راشه

خو توبه د هغے خلقو د پاره نه ده چه د خپل خدائے یره ئے د زړه نه وځي، بے پروا شي او ټول عمر ګناهونه کوي خو چه کله ورته د مرګ فرښته مخامخ ودریږي نو معافي غوښتل شروع کړي. دا خبره نبي صلی الله علیه وسلم په دے الفاظو کښے بیان کړي ده چه "ان الله یقبل توبة العبد مالم یغرغر" الله د بنده توبه د هغے وخته پورے قبلوي د کوم وخته پورے چه د مرګ علامے نه دي شروع شوي" ځکه چه کله د امتحان وخت پوره شي او د ژوند کتاب ختم شي نو بیا د واپس کیدو څه موقع وي. دغه شان چه یو سړے د کفر په حالت کښے د دنیا نه لاړ شي، په دویم ژوند کښے ور داخل شي او په خپلو سترګو وویني چه معامله خو هغه نه ده کومه چه ما په دنیا کښے ګنړله نو بیا په دغه وخت کښے د معافئ غوښتلو هیڅ موقع نشته.

[۲۸] د دے نه مراد دا دے چه د خاوند د مرګ نه پس د د مړي وارثان د مړي ښځه خپل د میراث سامان نه ګڼړي. د ښځے خاوند چه کله مړ شو نو هغه آزاده شوه. چه عدت تیر کړي بیا چه چرته تلل غواړي هلته ځي او چه د چا سره نکاح کول غواړي هغه سره د نکاح کوي.

اِلَّآ اَنْ يَّاْتِيْنَ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ ۚ وَعَاشِرُوْهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ ۚ
فَاِنْ كَرِهْتُمُوْهُنَّ فَعَسٰٓى اَنْ تَكْرَهُوْا شَيْـًٔا وَّيَجْعَلَ اللّٰهُ فِيْهِ
خَيْرًا كَثِيْرًا ﴿۱۹﴾ وَاِنْ اَرَدْتُّمُ اسْتِبْدَالَ زَوْجٍ مَّكَانَ

هن که چرے هغوئ څرګنده بدکاری شروع کړی (نو بیا تاسو ته د هغوئ د تنګولو حق حاصل دے[۲۹]) ۔ د هغوئ سره په ښهٔ طریقه ژوند تیروئ ۔ که چرے هغوئ ستاسو خوښے نهٔ وی نو کیدے شی چه یو څیز ستاسو خوښ نهٔ وی خو الله به په هغے کښ ستاسو ډیره ډیرے فایدے ایښو دلے وی[۳۰] ۔ او که چرے تاسو د یوے ښځے پځائے د بلے ښځے درا وستلو ارا ده

[۲۹] د مال راشوکولو دپاره نهٔ بلکه د بدکارئ د سزا ورکولو دپاره ۔

[۳۰] یعنی که چرے ښځه ښکلے نهٔ وی، یا په هغے کښے بل څه داسے کے وی چه د هغے په وجه د خاوند نهٔ وی خوښه، نو دا مناسبه نهٔ ده چه خاوند فوراً د ښځے پریښو دلو ته تیار شی ۔ تر څو پورے چه کیدے شی د صبر نه کار اغتل پکار دی ۔ اکثر داسے وشی چه یوه ښځه ښکلے نهٔ وی خو په هغے کښے نورے داسے ډیرے خوبئ وی چه د شریک ژوند تیرولو دپاره د ښکلا نه زیات اهمیت لری ۔ که چرے هغے له د چنلو خو بو ښکاره کولو موقع په لاس ورغله نو کیدے شی چه خاوند د هغے د بدشکلئ پروا و نهٔ لری او د هغے د ښهٔ خوئ په وجه ئے هغه خوښه شی ۔ دغه شان کله داسے وشی چه د وادهٔ په اولنو ورځو کښے د ښځے ځنے خبرے د خاوند خوښے نشی او د ښځے نه ئے زړهٔ موړ شی، لیکن که هغه د صبر نه کار واخلی او ښځے له د کارکولو موقع ورکړی نو دُته به پخپله پته وُلکی چه په ښځه کښے خو د بدو په نسبت خوبئ ډیرے دی ۔ نو دا ښهٔ خبره نهٔ ده چه سړے په خپل کور ورانه ولو کښے تیزی وکړی ۔ طلاق خو بالکل د ټولو نه آخری خبره ده چه په هیڅ شان کورسم نشی نو بیا هله طلاق استعمالول پکار دی ۔ د نبی صلی الله علیه وسلم ارشاد دے چه ابغض الحلال الی الله الطلاق یعنی طلاق که جائز دے خو په ټولو جائزو کارونو کښے طلاق د خدائے خوښ نهٔ دے ۔ په بل حدیث کښے دی چه نبی وُ فرمایئل "تزوجوا ولا تطلقوا فان الله لا یحب الذواقین والذواقات، یعنی نکاح وکړئ او طلاق مه ورکوئ ځکه چه الله داسے نارینه او زنانه نهٔ خوښه وی چه د بونړا پشان د یو یو ګل نه مزه اخلی ۔

زَوْجٍ ۙ وَّاٰتَيْتُمْ اِحْدٰىهُنَّ قِنْطَارًا فَلَا تَاْخُذُوْا مِنْهُ شَيْـًٔا ؕ
اَتَاْخُذُوْنَهٗ بُهْتَانًا وَّاِثْمًا مُّبِيْنًا ﴿۲۰﴾ وَكَيْفَ تَاْخُذُوْنَهٗ وَقَدْ
اَفْضٰى بَعْضُكُمْ اِلٰى بَعْضٍ وَّاَخَذْنَ مِنْكُمْ مِّيْثَاقًا غَلِيْظًا ﴿۲۱﴾
وَلَا تَنْكِحُوْا مَا نَكَحَ اٰبَآؤُكُمْ مِّنَ النِّسَآءِ اِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ ؕ

وُکړه نوکه هغې له تاسو ډیر مالونه ورکړی وی خو هیڅ ترِ واپس مَهٔ اخلئ۔ آیا تاسو به دغه مال په تور پورے کولو او په ښکاره ظلم کولو سره واپس اخلئ؟ او آخر تاسو به ئے ترِ اخلئ څنګه هر کله چه تاسو دَ یو بل نه مزے اغستلی دی او هغوئ ستاسو نه کلکه وعده اغستلی ده[۳۱]؟

او دَ کومو زنانو سره چه ستاسو پلارانو نکاح کړی وی دَ هغوئ سره هرګز نکاح مَهٔ کوئ، خو مخکښ چه څه شوی دی هغه شوی دی۔[۳۲]

[۳۱] دَ کلکے وعدے نه مراد نکاح ده، ځکه چه نکاح په حقیقت کښے دَ وفاداری یوه داسے مضبوطه وعده ده چه په هغے باندِ یوه ښځه اعتبار وُکړی او خپل ځان یو سړی ته حواله کړی، اوس که یو سړے په خپلے خواهش باندِ دغه وعده ماتوی نو کوم مال چه سړی دوعدے کولو په وخت کښے ښځے ته ورکړے وی دَ هغے دَ واپس اغستلو حق سړی ته نشته (وګوره سورة بقره حاشیه ع۲۵۱)

[۳۲] دَ کلی کلو یعنی په معاملو کښے چه دَ جاهلیت دَ کومو غلطو طریقو ریواج وی، قرآن چه کله دغه غلطے طریقے حرامو ی نو دا خبره ورسره ضرور کوی چه "څه شوی دی هغه شوی دی" دَ دے دوه مطلبونه دی؛ یو دا چه دَ ناخبرئ او دَ ناپوهئ په وخت کښے کومے غلطیانے ستاسو نه شوی وی په هغے به تاسو نشئ نیولے کیدے، خو شرط پکښے دا دے چه دَ دے حکم دَ راتللو نه روستو خپل ځانونه سم کړئ او غلط کارونه پریږدئ بل دا چه که مخکښئ یوه طریقه اوس حرامه کړے شوی ده نو دَ هغے نه دا مطلب اغستل صحیح نهٔ دی چه دَ مخکښی قانون یا ریواج مطابق کوم کارونه مخکښے شوی دی هغه ټول ختم کړے شو، او دَ دغه کارونو ټولے فائدے ناجائزه کړے شوے، او څه ذمه وارئ چه په چاراځی هغه ټولے واپس کړے شوے۔ مثلاً که دَ میرنئ مور سره نکاح کول اوس حرام شوی ده نو ددے دا مطلب نهٔ دے چه ترا وسه پورے څومره خلقو داسے نکاحونه کړی وی دَ هغوئ اولاد حرامیان وګرزولے شو او دَ هغوئ دَ خپلو پلارانو په مال کښے دَ میراث حق ختم شو۔ دغه شان که دَ لین دین یوه طریقه حرامه ګرزولے شوی ده نو دَ هغے دا مطلب نهٔ دے چه مخکښے په دے طریقه څومره معاملے شوی دی هغه ټولے ختم کړے شوے او اوس به هغه ټول دولت چه په دے طریقه چاکتلے وی دَ هغه نه واپس اغستلے کیږی یا به دغه مال حرام ګرزولے کیږی۔

اِنَّهٗ كَانَ فَاحِشَةً وَّمَقْتًا ؕ وَسَآءَ سَبِيْلًا ﴿۲۲﴾ ع حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ
اُمَّهٰتُكُمْ وَبَنٰتُكُمْ وَاَخَوٰتُكُمْ وَعَمّٰتُكُمْ وَخٰلٰتُكُمْ

پہ حقیقت کښے دا یو د بے حیائی کار دے، ناخونبہ کار دے او بدہ لار دہ[۳۳] ع
پہ تاسو باندِ حرامے کړے شوے ستاسو میندے[۳۴] لونړہ[۳۵]، خویندے[۳۶]،، د پلار خویندے، د مور خویندے،

[۳۳] پہ اسلامی قانون کښے دا کار د فوجداری (د جنګ فساد) یو جرم دے، پہ دے جرم کښے پولیس مداخلت کولے شی۔ پہ ابوداؤد، پہ نسائی او پہ مسند احمد کښے دا روایتونہ دی چہ نبی صلی اللہ علیہ وسلم د دے قسمہ جرم کونکو خلقو تہ د مرګ او د جائیداد د ضبط کولو سزا ورکړی دہ۔ او ابن ماجہ چہ د ابن عباس نہ کوم روایت نقل کړے دے د هغے نہ معلومیږی چہ نبی دا قاعدہ مقرر کړی وہ "من وقع علی ذات محرم فاقتلوہ" کوم سړی چہ پہ حرامو کړے شوو ښځو کښے د چا سرہ زنا وکړہ هغہ قتل کړئ"۔ د فقهاؤ پہ منځ کښے پہ دے مسئلہ کښے اختلاف دے۔ امام احمد خو د دے خبرے قائل دے چہ دا سے سړے دِ قتل کړے شی او د هغہ مال دِ ضبط کړے شی۔ د امام ابوحنیفہ، د امام مالک او د امام شافعیؒ دا رائے دہ کہ یو سړی پہ حرامو کړے شوو ښځو کښے د چا سرہ زنا کړی وی نو پہ هغہ دِ د زنا حد جاری شی او کہ صرف نکاح ئے ورسرہ کړی وی نو هغہ تہ دِ سخته عبرتناکہ سزا ورکړے شی۔

[۳۴] مور کہ سکہ مور وی او کہ میرنئی مور وی دواړہ میندے حرام دی۔ دغہ رنګے پہ دے حکم کښے د پلار مور او د مور مور هم شامل دی۔

پہ دے خبرہ کښے اختلاف دے چہ د کومے ښځے سرہ د پلار ناجائزہ تعلقات تیر شوی وی چہ هغہ هم پہ ځوی باندِ حرامہ دہ او کہ نہ دہ۔ پہ پخوانو عالمانو کښے ځنے د دا سے ښځے د حرامو الی قائل نہ دی، او ځنے دا قسمہ ښځہ هم حرامہ ګرز وی، بلکہ هغوئ خو وائی چہ کومے ښځے لہ پلار د شهوت پہ غرض لاس قدر لہ وروړے وی هغہ هم پہ ځوئ حرامہ دہ۔ دغہ شان پہ پخوانو عالمانو کښے پہ دے خبرہ باندِ هم اختلاف پاتے شوے دے چہ د کومے ښځے سرہ د ځوئ ناجائزہ تعلقات تیر شوی وی چہ هغہ پہ پلار باندِ حرامہ دہ او کہ نہ دہ۔ او چہ د کوم سړی سرہ د مور یا د لور ناجائزہ تعلقات پاتے شوی وی یا روستو جوړ شوی وی چہ د هغہ سرہ نکاح دِ دے مور او لور دواړہ لہ حرامہ دہ او کہ نہ دہ۔ پہ دے بارہ کښے ډیر اوږدہ اوږدہ عالمانہ بحثونہ شوی دی خو دا خبرہ پہ لږ سوچ سرہ پہ دماغو کښے راتلے شی چہ د یو سړی پہ نکاح کښے دا سے ښځہ وی چہ هغے تہ د هغہ پلار یا د هغہ ځوئ هم بد خیال لری، یا د ښځے مور یا د ښځے لور تہ هم د سړی خیال بد وی، نو دا د یو نیک صالح کور د پارہ هیڅکلہ مناسب نشی کیدے۔ د اللہ تعالیٰ شریعت پہ دے بارہ کښے هغہ نرئ باریکے قانونی خبرے نہ قبلوی چہ د هغے پہ وجہ پہ معمولی معمولی خبرو کښے فرق کولے شی لکہ دا چہ نکاح ئے ورسرہ شوے دہ او کہ نہ وہ، د نکاح نہ مخکښے وُو او کہ راستو، لاس ئے وروړلے وُو او کہ هسے ئے ورتہ کتلی وُو۔ وغیرہ وغیرہ۔ سید دا وصفا خبرہ دا دہ چہ د کور پہ ژوند کښے د یوے ښځے سرہ د پلار او د ځوی، یا د یو سړی سرہ د مور او د لور غلط تعلقات

وَبَنٰتُ الْاَخِ وَبَنٰتُ الْاُخْتِ وَاُمَّهٰتُكُمُ الّٰتِيْٓ اَرْضَعْنَكُمْ وَ
اَخَوٰتُكُمْ مِّنَ الرَّضَاعَةِ وَاُمَّهٰتُ نِسَآئِكُمْ وَرَبَآئِبُكُمُ الّٰتِيْ

وریرے، خورزے[۳۷]، اوستاسو هغه میندے چه تاسوله ئے تے درکړے وی، اوستاسو دَ تی
شریکے خویندے[۳۸]، اوستاسو دَ ښځو میندے[۳۹]، اوستاسو دَ ښځو هغه لونړه چه ستاسو

جوړیدل دَ سخت فساد ذریعه ده او شریعت دا هیچرے نشی برداشت کولے. دَ نبی صلی الله علیه وسلم ارشاد دے چه "من نظر الی فرج امرأة حرمت علیه امها وابنتها" کوم سړی چه دَ یوے ښځے شرمګاه ته اوکتل دَ ښځے مور او لور دواړه په دهٔ حرامے دی" او "لا ینظر الله الی رجل نظر الی فرج امرأة وابنتها" خدائے دَ هغه سړی شکل لیدل نهٔ خوښه وی چه په یو وخت دَ مور او دَ لور دَ دواړو شرمګاهونو ته وګوری. دَ دے روایتونو نه دَ شریعت مطلب صفا صفا څرګندیږی.

[۳۵] دَ لور په حکم کښے نوسئ یعنی دَ ځوئ لور او دَ لور لور هم شاملے دی. البته په دے خبره کښے اختلاف دے چه په ناجائزه تعلقاتو سره یوه جینئ شوی وی چه هغه هم حرامه ده او که نهٔ ده. دَ امام ابوحنیفه، مالک او احمد بن حنبل رحمهم الله علیهم په نزد غه لور هم دَ جائزے لور په شان په حرامو کړے شوو ښځو کښے شامله ده، او دَ امام شافعی په نزد غه لور په حرامو کړے شوو ښځو کښے شامله نهٔ ده، خو په حقیقت کښے یو صفا زړهٔ هیڅکله دا نهٔ منی چه دَ یوے جینئ په باره کښے سړی ته دا معلومه وی چه دا زما دَ نطفے نه پیدا شوی ده او بیا دَ هغے سره نکاح وکړی.

[۳۶] سکه خور او دَ مور شریکه خور او پلار شریکه خور درے واړه په دے حکم کښے برابر دی.

[۳۷] په دے ټوله خپلوئ کښے سکه او میرنئ برابر دی. دَ پلار او دَ مور خور که سکه وی او که میرنئ، یا پلار شریکه خور وی، خو بهرحال هغه په ځوی باندے حرامے دی. دغه شان رور او خور که سکه وی او که میرنی وی یا پلار شریک وی، خو دَ هغوی لونړه دَ یو سړی دپاره دَ خپلے لور پشان حرامے دی.

[۳۸] په دے خبره دَ ټول امت اتفاق دے چه یو هلک یا جینئ دَ کومے ښځے پئ وڅکل دَ هغه دپاره دغه ښځه مور ده او دَ دغے ښځے خاوند ئے پلار دے، او دَ خپل سکه مور او پلار دَ طرفنه چه کومے رشتے په دهٔ حرامے دی هغه ټولے رشتے په دهٔ باندے دَ رضاعی مور او پلار دَ طرفنه هم حرامیږی. دے حکم بنیاد دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم دا ارشاد دے چه "یحرم من الرضاع ما یحرم من النسب." البته په دے خبره کښے اختلاف دے چه دَ رشتے حرامو الے په څومره پیوڅکلو سره ثابتیږی. دَ امام ابوحنیفه او دَ امام مالک په نزد چه په څومره پیوڅکلو سره روژه ماتیږی په هغومره پیوڅکلو سره په بچی باندے دَ رشتے حرامو الے راځی. خو دَ امام احمد په نزد په درے ځله پیوڅکلو سره او دَ امام شافعیؒ په نزد په پنځه ځله پیوڅکلو سره رشته حرامیږی. بیا په دے حکم کښے هم اختلاف دے چه په څومره عمر کښے په پیوڅکلو سره دا رشتے حرامیږی. په دے باره کښے دَ فقهاؤ دا لاندینی قولونه دی:

فِیْ حُجُوْرِكُمْ مِّنْ نِّسَآئِكُمُ الّٰتِیْ دَخَلْتُمْ بِهِنَّ ز فَاِنْ لَّمْ تَكُوْنُوْا دَخَلْتُمْ بِهِنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَیْكُمْ ز وَحَلَآئِلُ اَبْنَآئِكُمُ

په غیږو کښې لوئے شوی دی[۳۸] ـــــ دَ هغو ښځو لونړه چه ستاسو ورسره کور والے شوے وی. او که نهٔ چرے (صرف نکاح شوی وی او) کور والے مو ورسره نهٔ وی شوے نو (که هغه پریږدئ او دَ هغوئ دَ لونړو سره نکاح وکړئ) نو بیا هیڅ گناه نشته ـــــ او ستاسو دَ خپلو

(۱) چه بچے لا دَ تی نه نهٔ وی پریکړے شوے او صرف دَ تی پئ دَ هغهٔ خوراک وی او په دغے زمانه کښے هغهٔ دَ یوے زنانه پئ وڅکی نو هله رشتے حرامیږی. او که نهٔ چرے بچے دَ تی نه پریکړے شوے وی او بیا روستو دَ یوے ښځے تے وخوری نو هغه داسے ده لکه چه اُوبهٔ وڅکی. دا رائے دَ اُم سلمه او دَ ابن عباس ده. دَ حضرت علیؓ نه هم دغسے یو روایت شوے دے. زُهریؒ، حَسن بصری، قتاده، عکرمه او اوزاعی دَ دے خبرے قائل دی.

(۲) په دوه کاله کښے دننه دننه چه یو بچی دَ یوے ښځے پئ څکلی وی نو هله رشته حرامیږی. دا دَ حضرت عمرؓ، ابن مسعود، ابوهریره او دَ ابن عمر قول دے او په فقهاؤ کښے امام شافعی، امام احمد، امام ابویوسف، امام محمد، او سُفیان ثوری دا قول قبول کړے دے. دَ امام ابو حنیفه نه هم یو قول دَ دے په مرسته کښے نقل کړے شوے دے. امام مالک هم دَ دے مودے قائل دے، خو هغه وائی چه که دَ دوو کالو نه میاشت دوه میاشتے زیات عمر وی او په هغے کښے ئے پئ وڅکل نو هم دغه حکم دے.

(۳) دَ امام ابوحنیفه او دَ امام زُفر مشهور قول دا دے چه دَ پیو ورکولو زمانه دوه نیم کاله ده او په دے موده کښے دننه په پیو څکلو سره دَ رشتے حرامولے راځی.

(۴) که په هر عمر کښے دَ بلے ښځے پئ وڅکی نو حرامولے ثابتیږی. یعنی اصلی اعتبار دَ پیو څکلو دے دَ عمر نهٔ دے. پیو څکلو والا که بوډا هم وی خو هغه حکم ئے دے کوم چه دَ تی خوړونکی بچی دے. دا رائے دَ حضرت عائشے ده. او دَ حضرت علی نه هم زیات صحیح روایت ددے قول په مرسته کښے نقل شوے دے. او په فقهاؤ کښے عُروه بن زبیر، عطاء، لیث بن سعد او ابن حزم دا قول اختیار کړے دے.

[۳۹] په دے کښے اختلاف دے چه دَ کومے ښځے سره صرف نکاح شوی وی چه دَ هغے مور حرامه ده او که نهٔ ده. امام ابوحنیفه، مالک، احمد او شافعیؒ رحمهم الله دَ هغے دَ حرامولی قائل دی او دَ حضرت علیؓ دا رائے ده چه تر څو پورے دَ یوے ښځے سره کور والے نهٔ وی شوے تر هغے پورے پرِ دَ هغے مور نهٔ حرامیږی.

[۴۰] دَ داسے جینئ دَ حرامولی دپاره دا څه شرط نهٔ دے چه هغه دِ خانه دَ میرنی پلار په کور کښے لویه شوی وی. دا الفاظ خو الله تعالیٰ صرف دَ دے رشتے دَ باریکوالی دَ ظاهر ولو دَ پاره استعمال کړی دی.

الَّذِيْنَ مِنْ اَصْلَابِكُمْ ۙ وَاَنْ تَجْمَعُوْا بَيْنَ الْاُخْتَيْنِ اِلَّا
مَا قَدْ سَلَفَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ۙ (۲۳)

وَالْمُحْصَنٰتُ مِنَ النِّسَآءِ اِلَّا مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ

كِتٰبَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ ۚ وَاُحِلَّ لَكُمْ مَّا وَرَآءَ ذٰلِكُمْ اَنْ تَبْتَغُوْا

حقیقی ځامنو[41] ښځے۔ او دا هم په تاسو باندِ حرام کړے شوی دی چه په یو وخت کښ دوه خویندے دَ یو سړی په نکاح کښ یو ځائے کړئ[42]، خو مخکښ چه څه شوی دی هغه شوی دی، الله بخښونکے او رحم والا دے[43]۔ او هغه زنانه هم په تاسو باندِ حرامے دی چه دَ بل په نکاح کښ وی (مُحْصَنَات) البته هغه ښځے حرامے نه دی چه (په جنګ کښ) ستاسو لاس له راشی[44]۔ دا دَ الله قانون دے او دَ دے پابندی په تاسو باندِ لازم کړے شوی ده۔

ددے نه ماسوا چه څومره ښځی دی دَ هغوئ حاصلول دَ خپلو مالونو په ذریعه ستاسو دپاره

دَ اُمّت دَ ټولو عالمانو تقریباً په دے خبره باندِ اجماع ده چه میرنئ لور یعنی پرکټئ په هرحال کښے په سړی باندِ حرامه ده که هغه دَ میرنی پلار په کور کښے لویه شوی وی او که نه وی۔

[41] دا "حقیقی" لفظ ئے ورسره ځکه زیات کړے دے چه چاهسے یو هلک ته خپل ځوئے ویلے وی نو دَ هغه نه پاتے شوی کونډه ښځه یا دَ هغه طلاقه کړے ښځه په سړی باندِ حرامه نه ده۔ حرامه صرف دَ هغے ځوئ ښځه ده چه دَ سړی دَ خپلے نطفے نه حقیقی ځوئے وی۔ او دَ ځوئ په شان دَ نوسی (که دَ ځوی ځوے وی او که دَ لور ځوے وی) ښځه په نیکه یعنی دَ پلار په پلار باندِ او دَ مور په پلار باندِ حرامه ده۔

[42] دَ نبی صلی الله علیه وسلم حکم دے چه دَ موږ خور (ترور) او خورزه، او دَ پلار خور او وریره په یو وخت په نکاح کښے ساتل حرام دی۔ دَ دے دپاره دا اصول دی چه دا سے دوه زنانه په یو نکاح کښے ساتل حرام دی چه که یوه ورته سړے شی نو دَ بلے نکاح ورسره حرامه وی۔

[43] یعنی دَ جاهلیت په زمانه کښے چه تاسو ظلم کولو او دَ دوؤ دوؤ خویندو سره مو په یو وخت کښے نکاح کوله دَ هغے به تپوس نه کیږی خو که اوس دَ دے کار نه منع شوئ (وګوره حاشیه ع۳۲)۔ په دے وجه دا حکم دے چه کوم سړی دَ کفر په حالت کښے دوه خویندے په یو ځائے په نکاح ساتلی وی نو هغه به دَ اسلام راوړلو نه روستو یوه خور ساتی او بله خور به پریږدی۔

[44] یعنی کومے ښځے چه په جنګ کښے ونیولے شی نو که دَ هغوئ کافران خاوندان په دار حرب کښے موجود هم وی خو هغوئ حرامے نه دی، ځکه چه دَ دار الحرب نه دار الاسلام ته دَ راتللو سره دَ هغوئ نکاحونه مات شول۔ ددا سے ښځو سره نکاح هم کیدے شی او چه څوک دَ هغوئ مالکان شو نو هغوئ

ترِ بے نکاح فائدہ (تمتُّع) هم اغستے شي. البته دَ فقهاؤ په دے خبره کښے اختلاف دے چه کہ ښځه خاوند دواره په یو ځائے وُنیولے شي نو دَ هغوئ څه حکم دے. امام ابوحنیفه او دَ هغه ملګري وائي چه دَ هغوئ به خپله نکاح په ځائے وي او امام مالک او شافعي وائي چه دَ هغوئ نکاح هم ماتیږي.

دَ ونیځونه دَ فائدے اغستلو (تمتُّع) په باره کښے ډیرے غلطے خبرے دَ خلقو په ذهن کښے دي، دَ دے وجے نه پدے لاندینو مسئلو ځان بنۀ پوهه کول پکار دي.

(۱) کومے ښځے چه په جنګ کښے وُنیولے شي نو دَ نیولو سره سم یو سپاهي ته دَ هغوئ سره دَ کوروالي کولو اجازت نشته. بلکه اسلامي قانون دا دے چه دا سے ښځے دِ حکومت ته حواله کړے شي. دَ حکومت خوښه ده چه که هغوئ پریږدي، او که دَ هغوئ نه پیسے (فدیه) اخلي، او که دَ مسلمانانو دَ قیدیانو دَ خلاصولو په بدل کښے هغوئ دشمن له ورکوي، او که په خپلو سپاهیانو باندے تقسیمه وي. یو سپاهي ته صرف دَ هغے ښځے نه دَ فائدے اغستلو (تمتُّع) اجازت دے چه دَ حکومت دَ طرفنه ورته باقاعده دَ ملکیت په طور ورکړے شوي وي

(۲) کومه ښځه چه باقاعده دَ حکومت دَ طرفنه چاله ورکړے شي دَ هغے سره هم دَ هغے وخته پورے کوروالے نشي کولے ترڅو چه هغے ته یو ځل میاشتیزے مرض نۀ وي راغلے او ترڅو چه دا یقین نۀ وي راغلے چه دا دَ بچي اُمیدواره نۀ ده. دَ دے نه مخکښے کوروالے هغے سره حرام دے. او که په خیټه ئے بچے وي نو دَ بچي دَ پیدا کیدو نه مخکښے ورسره کوروالے ناجائزه دے.

(۳) دَ ونیځو نه دَ فائدے اغستلو (تمتُّع) په باره کښے دا شرط نشته چه هغوئ دِ دَ اهلِ کتابونه وي. دَ هغوئ مذهب که هر څه وي خو چه کله تقسیم کړے شي او دَ چا په حصه کښے راشي نو بیا دَ هغوئ نه فائدہ اغستلے شي.

(۴) یوه ونیځه چه چا ته حواله کړے شوي وي صرف هغه سړے تر فائدہ اغستلے (تمتُّع) شي. بل چا ته دَ هغے سره دَ لاس لګولو حق نشته. چا سره چه ونیځه وي او دَ هغے اولاد وشو نو هغه به دَ هغه سړي جائز اولاد وي. دغے بچو ته به هغه قانوني حقونه حاصل وي کوم چه په شریعت کښے دَ حقیقي بچو دپاره مقرر وي. چه اولاد ئے تر پیدا شي نو بیا به دغه ونیځه نشي خرڅولے کیدے. او چه مالک ئے مړ شي نو نچپله به آزاده وي.

(۵) که مالک خپله ونیځه بل چا ته په نکاح ورکړي نو بیا تر مالک نور هر څه خدمت اغستلے شي خو دَ کوروالي حق یے ورسره نشته.

(۶) لکه څنګه چه شریعت دَ څلورو ښځونه په زیاتو ښځو کولو باندِ پابندي لګولي ده دغه شان ئے په ونیځو باندے دا پابندي نۀ ده لګولي. خو دَ دے نه دَ شریعت دا مطلب نۀ دے چه مالدار خلق دِ بے شمیره ونیځے واخلي او په کور کښے دِ را جمع کړي او دَ خپل کور نه دِ عیاش خانه جوړه کړي. بلکه په حقیقت کښے دَ ونیځو دَ تعداد نۀ مقرره ولو وجه دَ جنګي حالاتو په قابو کښے نۀ راتلل دي.

(۷) دَ ملکیت دَ نورو ټولو حقونو په شان هغه مالکانه حقونه هم دَ یو نه بل ته اوړیدلے شي کوم چه دَ یو جنګي قیدي په حقله حکومت چا ته ورکړي وي.

(۸) حکومت چه چا ته باقاعده دَ ملکیت حق ورکړي هغه یو داسے قانوني او رواکار دے لکه څنګه چه نکاح یو قانوني او رواکار دے. نو څوک چه نکاح خوښه وي نو دَ هغه دپاره هیڅ معقوله وجه

بِاَمْوَالِكُمْ مُّحْصِنِيْنَ غَيْرَ مُسٰفِحِيْنَ ؕ فَمَا اسْتَمْتَعْتُمْ بِهٖ مِنْهُنَّ
فَاٰتُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ فَرِيْضَةً ؕ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيْمَا تَرٰضَيْتُمْ بِهٖ مِنْۢ
بَعْدِ الْفَرِيْضَةِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴿۲۴﴾ وَمَنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ مِنْكُمْ
طَوْلًا اَنْ يَّنْكِحَ الْمُحْصَنٰتِ الْمُؤْمِنٰتِ فَمِنْ مَّا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ مِّنْ
فَتَيٰتِكُمُ الْمُؤْمِنٰتِ ؕ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِاِيْمَانِكُمْ ؕ بَعْضُكُمْ مِّنْۢ بَعْضٍ ۚ

حلالے کړے شوی دی، خو په دے شرط چه هغوئ د نکاح په قلعه کښے محفوظے وساتی، نه داچه تش
خپل شهوتونه پوره کوئ. بیا چه تاسو د هغوئ نه د کورولو مزه واخلئ نو په بدله کښ ورله
خپل مهر ورنه د فرض په حیثیت ورکړئ، البته که د مهر مقرر ولو نه روستو تاسو په مینځ کښ
په خپله رضا سره څه سمجوتہ وشوه نو په هغه کښ هیڅ ګناه نشته، الله علیم او پوهه دے - او په
تاسو کښ چه د چاد وسره وس نه کیږی چه د خاندانی مسلمانو نجونو (محصنات) سره نکاح وکړی
نو هغه له پکار دی چه تاسو په قبضه کښ کړے د مینځے وی د هغوئ نه د مؤمنانو د مینځو سره
نکاح وکړی. الله ته ستاسو د ایمانونو حال ښه معلوم دے، تاسو ټول د یوے د بله خلق یئ،

نشته چه د ورکړے نه فائده اخستل (تمتع) ناجائزه نه ګڼی.

(۹) حکومت چه یو مُلک او ښځه چا له په ملکیت کښے ورکړی نو بیا ئے ترې واپس اخستلو حق نشته. لکه څنګه چه یو سړے خپله لور یا خور چا له په نکاح ورکړی او بیا ورته د واپس اخستلو حق نه وی.

(۱۰) که یو فوجی کمانډر صرف د یو وخت د پاره عارضی طور خپلو سپاهیانو ته قیدی ښځے د شهوت پوره کولو د پاره ورکړی او صرف د یو وخت د پاره ئے په فوج باندے تقسیم کړی نو دا په اسلامی قانون کښے قطعاً یو ناجائزه کار دے. په دے کښے او په زنا کښے هیڅ فرق نشته، دواړه په اسلامی قانون کښے جرم دے. د زیات بحث د پاره وګورئ زما کتاب "تفہیمات" حصه دوم، او "رسائل و مسائل" حصه اول.

۴۵ یعنی په خلقو کښے چه د مرتبو کوم فرق مه د اصرف یو اعتباری څیز دے، که ئے نو په اصل کښے ټول مسلمانان یو شان دی، او د برتری حقیقی وجه صرف ایمان دے چه یوائے د ډیټو کور نو حصه نه ده کیدے شی چه یوه ورنځه په ایمان او په اخلاقو کښے د یوے خاندانی مینځے نه غوره وی -

فَانْكِحُوْهُنَّ بِاِذْنِ اَهْلِهِنَّ وَاٰتُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ
مُحْصَنٰتٍ غَيْرَ مُسٰفِحٰتٍ وَّلَا مُتَّخِذٰتِ اَخْدَانٍ ۚ فَاِذَآ اُحْصِنَّ
فَاِنْ اَتَيْنَ بِفَاحِشَةٍ فَعَلَيْهِنَّ نِصْفُ مَا عَلَى الْمُحْصَنٰتِ
مِنَ الْعَذَابِ ۭ ذٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ الْعَنَتَ مِنْكُمْ ۭ وَاَنْ

نو په دے وجه د هغوئ د سرپرستانو په اجازت د هغوئ سره نکاح وکړئ او د ریواج مطابق هغوئ تدخیل مهرونه ورکړئ، دپاره د دے چه هغوئ د نکاح په قلعه کښ محفوظے (مُحصَنات) پاتے شی، د شهوت پوره کولو دپاره آزادے و نه کړئ او نه پټ پنا آشنایانے وکړی. بیاهر کله چه هغوئ د نکاح په قلعه کښ محفوظ کړے شی او د هغے نه روستو څه بدکاری وکړی نو په هغوئ باندې د هغے سزا په نسبت نیمه سزا ده کومه چه د خاندانی ښځو (مُحصَنات) دپاره مقرره ده[۴۶]. دا آسانتیا[۴۷] په تاسو کښ د هغه چا دپاره پیدا کړے شوی دی چا سره چه د واده د نه کولو په وجه د تقوٰی د حد مایتیدلو یره وی. لیکن که

[۴۶] په ظاهره دلته یو کړکیچ نبکاری چه د هغے نه خوارجو او هغو خلقو فایده اخستلے ده چه د رجم (په کانړو د ویشتلو سزا) نه منکر دی. هغوئ وایی چه د اسلام په شریعت کښے د یوے آزاده واده کړے شوی ښځے دپاره د زنا سزا رجم کول دی، نو د دے نیمه سزا به څه وی چه هغه ویشتلے (ورکړے شی)؟ په دے وجه دا آیت د دے خبرے ثبوت دے چه په اسلام کښے د رجم کولو سزا نشته." لیکن د هغے خلقو د قرآن په الفاظو غور نه دے کړے. په دے د کوم کښے لفظ مُحْصَنٰتُ (محفوظے ښځے) په دوو مختلفو معنوسره استعمال کړے شوے دے یو "واده شوے ښځے" چه د خاوند په حفاظت کښے وی. بل "خاندانی ښځے" چه د خاندان په حفاظت کښے وی، اګوکه نه وی واده شوی. په دے آیت کښے "مُحْصَنات" لفظ د دویمے ښځے په مقابله کښے د خاندانی ښځو دپاره په دے دویمه معنٰی سره استعمال شوے دے نه چه پهاوله معنٰی سره، لکه څنګه چه د آیت د مطلب نه صفا ظاهر یږی. دے برخلاف د دویمو دپاره د مُحصَنات لفظ په اوله معنٰی سره استعمال شوے دے او په الفاظو کښے یے صفا اشاره فرمایلی دی چه هغوئ کله د نکاح په حفاظت کښے راشی (فَاِذَآ اُحْصِنَّ) نو پس د هغے نه د هغوئ دپاره په زنا کولو باندې هغه سزا ده کومه چه ذکر شوه. اوس که په ژور نظر سره وکتے شی نو دا خبره صفا واضحه ده چه خاندانی ښځه په دوو حفاظتو نو کښے وی. یو د خاندان حفاظت دے چه د دے په وجه هغه د واده نه بغیر هم محصنه ده. بل د خاوند حفاظت دے چه د خاندان د حفاظت د پاسه یو بل حفاظت جوړیږی. د دے برخلاف دویمه ښځه چه



تَصْبِرُوْا خَيْرٌ لَّكُمْ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۲۵﴾ ع يُرِيْدُ اللّٰهُ
لِيُبَيِّنَ لَكُمْ وَيَهْدِيَكُمْ سُنَنَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَ
يَتُوْبَ عَلَيْكُمْ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿۲۶﴾ وَاللّٰهُ يُرِيْدُ اَنْ

تاسو صبرو کړئ نو دا ستاسو دپاره بهتره ده، الله بخښونکے او رحم والا دے ع
الله غواړي چه تاسو ته هغه طریقے وښائي او په هغو طریقو مو روان کړي چه په هغے
باندې به ستاسو نه وړاندې تیر شوي صالحان خلق تلل. هغه دَ خپل رحمت سره ستاسو طرفته دَ
متوجه کیدو اراده لري، او هغه علیم هم دے او حکمت والا هم[۴۸]. او کنه، الله خو په تاسو باندې د رحمت سره

ترڅو وینځه ده نو محصنه نه ده، ځکه چه هغے ته دَ خاندان حفاظت حاصل نه دے. البته چه نکاح ئے وُشي
نو صرف دَ خاوند حفاظت ورته حاصل شي او هغه هم نیمګړے حفاظت وي، ځکه چه دَ خاوند په حفاظت
کښے دَ راتللو نه روستو هم نه خو وینځه دَ خپل مالک دَ خدمت نه آزاده وي او نه ورته په خلقو کښے هغه
مرتبه حاصله وي کومه مرتبه چه خاندانی ښځے ته حاصله وي. دغه وجه ده چه وینځے ته کومه
سزا ورکړے کیږي هغه به دَ ناوادهٔ کړے خاندانی ښځے دَ سزا نیمه وي، دَ وادهٔ کړے خاندانی ښځے دَ
سزا نیمه به نه وي. دغه رنګے دَ دے ځائے نه دا خبره هم معلومه شوه چه دَ سورة نور په دوئیم آیت
کښے دَ زنا کومه سزا ذکر شوي ده هغه صرف دَ ناواده کړے خاندانی ښځو دپاره ده او دَ دے په مقابله
کښے دلته دَ وادهٔ شوے وینځے سزا نیمه بیان کړے شوي ده. پاتے شوے وادهٔ شوي خاندانی ښځے،
نو هغه خو دَ ناوادهٔ شوي خاندانی (محصنات) نه زیاتے دَ سختے سزا حقدارے دي، ځکه چه
هغوئ دوه حفاظتونه ماتوي. اګر که قرآن دَ هغوئ دپاره دَ رجم کولو دَ سزا صفا بیان نه دے کړے،
لیکن ډیر په باریکے طریقے سره یے ورته اشاره کړي ده، دا سے اشاره ده چه که دَ پلیت ذهن والا
خلقو نه پټه پاتے شي خو پاتے به شي، لیکن دَ نبي دَ پاک او صحیح ذهن نه پټه نه شوه پاتے کیدے.

[۴۷] یعنی دا آسانتیا چه که دَ خاندانی ښځو سره دَ نکاح کولو وَس دَ چانه کیږي نو دَ یوے وینځے
سره دِ دَ هغے دَ مالک په اجازت نکاح وُکړي.

[۴۸] دَ سورة دَ شروع نه دَ دے ځائے پورے چه کوم هدایات شوي دي، او دَ دے سورة
دَ نازلیدو نه وړاندې په سورة بقره کښے چه دَ استوګنے په باره کښے کوم هدایات شوي وُو، هغے ټولو
ته په جمع اشاره کوي او وائي چه دا دَ شریک ژوند تیرولو هغه اخلاقي قانون دے چه دَ پخوا زمانے
راسے پرې په هر دور کښے دَ پیغمبرانو او دَ هغه دَ صالحانو ملګرو عمل را روان دے، او دا دَ الله

يَتُوبَ عَلَيْكُمْ ۗ وَيُرِيدُ الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الشَّهَوَاتِ أَنْ تَمِيلُوا مَيْلًا
عَظِيمًا ﴿٢٧﴾ يُرِيدُ اللَّهُ أَنْ يُخَفِّفَ عَنْكُمْ ۚ وَخُلِقَ الْإِنْسَانُ ضَعِيفًا ﴿٢٨﴾

توجّه کول غواړی خوڅوک چه پخپلو خواهشاتو پسے ځی هغوئ دا غواړی چه تاسو دَ صحیح لارے نه بچ بچ ډیر لرے[۴۹] لاړ شئ. خدائے په تاسو باندِ پابندئ سپکول غواړی ځکه چه انسان کمزورے پیدا کړے شوے دے.

مهربانی ده چه تاسو دَ جاهلیت دَ حال نه راوباسی او دَ صالحانو خلقو دَ ژوند طریقه درته بنائی.

[۴۹] دا اشاره منافقانو ته او زړو جاهلانو ته او دَ مدینے یهودیانو ته ده. دَ منافقانو او دَ زړو جاهلانو خو هغه اصلاحات هډو خوښ نهٔ وُو کوم چه دَ هغوئ دَ پخوانو رسمونو ریواجونو خلاف وُو کوم چه دَ کلونو راسے په خلقو کښے راچلیدل. په میراث کښے دَ ښځو حصه. دَ کونډے ښځے دَ خپلے مخرانے نه خلاصیدل او دَ عدت نه روستو په خپله طبع نکاح کول. دَ میرنئ مور سره نکاح حرامیدل. دوه خویندے په یو وخت کښے دَ یو سړی په نکاح کښے یو ځائے کولو ته ناجائزه وئیل. هسے تش په نوم ځوے دَ میراث نه محرومه کول او دَ هغه کونډه او یا دَ هغه طلاقه کړے ښځه پلار له حلالیدل دا او دَ دے تسه نور ډیر اصلاحات داسے وُو چه په هغے باندِ لویو زړو او دَ رسمونو ریواجونو پتنګانو چغے اُووهلے. ډیره موده ددے حکمونو په باره کښے خبرے اترے کیدلے. شرارتیانو خلقو به دَ دے خبرو په ذریعه خلق کښے صلی الله علیه وسلم او دَ هغه دَ دعوت خلاف غصه کول. مثلاً چه یو سړے به دَ داسے مور او پلار نه پیدا شوے وُو چه اسلامی شریعت به دَ هغوئ نکاح اوس اوس تازه حرامه ګرزولے وه، نو هغه ته به ئے په دے خبره غصه ورویستله چه وُ ګوره ځوانه نن چه کوم نوی حکمونه راغلی دی په هغے کښے خوستا دَ مور او پلار نکاح ناجائزه ګرزولے شویده. په دے طریقه به دے کم عقلو خلقو په اصلاحی کارونو کښے بندیز پیدا کولو.

بل طرفته یهودیان وُو چه دَ پیړو راسے یئے دَ معمولی معمولی خبرو د پاره دَ ځان نه حکمونه او قانونونه جوړ کړی وُو او دَ خدائے اصلی شریعت ئے پکښے په منځ کښے پټ کړے وُو. بے شمیره پابندیانے باریکے او سختے سختے خبرے هغوئ په شریعت کښے زیاتے شاملے کړے وے. ډیر حلال څیزونه هغوئ حرام کړی وُو. ډیرے دَ وهم خبرے هغوئ دَ خدائے په قانون کښے داخلے کړے وے. اوس دا خبره دَ هغوئ دَ عامو خلقو او دَ هغوئ دَ عالمانو دَ ذهن نه بالکل خلاف وه چه هغوئ دَ قرآن دَ سیده ساده شریعت قدر پیژندلے وے. هغوئ چه به دَ قرآن حکمونه اوریدل نو غصه به ورتلله. په یو یو حکم به ئے سل سل اعتراضونه کول. هغوئ به وئیل چه یا خو د قرآن دَ هغوئ دَ عالمانو هغه ټولو حکمونو، وهمونو او عبثو خبرو ته دَ خدائے قانون اُووائی، کنئ نو دا هرګز دَ خدائے کتاب نهٔ دے. دَ مثال په طور دَ یهودیانو دا دستور وُو چه په میاشتیزے ناجوړتیا کښے به ښځه پلیته ګنړلے شوه. نهٔ به ئے دَ هغے دَ

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَاْكُلُوْٓا اَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ اِلَّآ اَنْ تَكُوْنَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِّنْكُمْ ۫ وَلَا تَقْتُلُوْٓا اَنْفُسَكُمْ ؕ

اے هغه خلقو چه ایمان مو راوړے دے، په خپل منځ کښ دَ یو بل مالونه په باطلو طریقو سره مه خورئ، اغتلاو خرڅول په خپلو کښ په رضامندئ سره پکار دی[۵۰]۔ او خپل ځانونه مه قتلوئ[۵۱]۔

لاس پوخ شوے خوراک خوړو۔ نه به یے دَ هغے دَ لاس اوبه څکلے۔ نه به ورسره یو ځائے کیناستل۔ بلکه دَ هغے دَ لاس سره به یے خپل لاس لګول هم نه غوښتل۔ په دے یو څو ورځو کښے به ښځه په خپل کور کښے ځان له یواځے یواځے وه۔ دَ یهودیانو دَ اثر دَ وجے نه دا ریواج دَ مدینے په انصارو کښے هم وو هر کله چه نبی صلی الله علیه وسلم مدینے ته راغے نو دَ دے په باره کښے تر تپوس وشو۔ په جواب کښے ورته هغه آیت راغے کوم چه دَ سورة بقرے دَ اتیشتمے رکوع په شروع کښے دے۔ نبی صلی الله علیه وسلم ورته دَ دے آیت په رڼا کښے حکم وکړو چه په میاشتیزے ناجوړتیا کښے دَ ښځے سره صرف کوروالے کول ناروا دے، نور ټول کارونه ورسره دَ نورو ورځو پشان روا دی۔ یهودیانو په دے شور جوړ کړو او وے وئیل چه دے سړی خو قسم خوړلے دے چه هغه ټول څیزونه به حلالوی کوم چه زمونږ په نر باندے حرام دی، او کوم کوم څیزونو ته چه مونږه ناپاک وایو هغے ټولو ته به پاک وائی۔

[۵۰] دَ "باطلو طریقو" نه مراد هغه ټولے طریقے دی چه دَ حق خلاف وی او دَ شریعت او دَ اخلاقو په لحاظ سره ناجائزه وی۔ دَ "اغتلو او خرڅولو" نه مراد دا دے چه په خپلو کښے دَ فائدے او دَ منافعے تبادله کول پکار دی لکه څنګه چه په تجارت او په کاریګرئ کښے وی چه یو سړے دَ بل سړی دَ ضرورت پوره کولو دپاره محنت وکړی او هغه ورله دَ هغے محنت بدله ورکړی۔ په خپلو کښے په رضامندئ سره دَ دے مطلب دا دے چه په اغتلو او خرڅولو کښے دِ نه دوکه وی او نه دِ دَ څه دباؤ لاندِ وی۔ په رشوت او په سود کښے خو په ظاهره رضامندی وی خو په حقیقت کښے هغه دَ مجبورئ رضامندی وی او دَ څه خاص دباؤ په وجه وی۔ په جوارئ کښے هم په ظاهره رضامندی وی خو په حقیقت کښے په جوارئ کښے حصه اغستونکے هر سړے په دے غلط امید باندِ رضا شوے وی چه ګټه به زما وی۔ دَ بائیلات په ارادے سره څوک هم جوارئ کولو ته راضی نه وی۔ دَ دوکے په کاروبار کښے هم په ظاهره رضامندی وی خو دَ دے ناپوهتیا په وجه وی چه ګنی په دے کښے دننه دوکه نشته۔ که بل ته دا پته وَلګی چه ته دَ هغه سره دوکه کوے نو هغه به هیچرے په دے راضی نشی۔

[۵۱] دا فقره دَ تیرے شوے فقرے سره هم لګی او پخپله ځان له یوه مستقله فقره هم ده۔ که دَ اولے فقرے سره ولګولے شی نو بیائے مطلب دا دے چه دَ بل مال په ناجائزه خوړل پخپله خپل ځان هلاکول دی۔ دَ دے نه په دنیا کښے دَ وَسیدلو نظام خرابیږی او دَ دے دَ خراب انجام نه حرام خور سړے پخپله هم نشی بچ کیدے۔ او دَ دے په وجه په آخرت کښے سړے دَ سختے سزا حقدار جوړیږی۔

اِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيْمًا ﴿۲۹﴾ وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ عُدْوَانًا وَّ
ظُلْمًا فَسَوْفَ نُصْلِيْهِ نَارًا ؕ وَكَانَ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرًا ﴿۳۰﴾ اِنْ
تَجْتَنِبُوْا كَبَآئِرَ مَا تُنْهَوْنَ عَنْهُ نُكَفِّرْ عَنْكُمْ سَيِّاٰتِكُمْ وَ نُدْخِلْكُمْ

یقین وُکړئ چه الله په تاسو باندِ ډیر مهربانه دے[۵۲]. څوک چه په ظلم او زیاتی سره داسے کارونه کوی هغه به مونږه ضرور وُورته غورزَوُو او دا کار خدائے ته هیڅ ګران نهٔ دے. که تاسو دَ هغے لویو لویو ګناهونو نه ځان وساتلو دکومونه چه تاسو منع کړے شوی یئ نو ستاسو واړه واړه غلط کارونه به مونږه ستاسو په حساب کښ نهٔ راولو[۵۳] او تاسو به

اوکه دا ځان له یوه مستقله فقره وُګڼړلے شی نو دَ دے دوه معنے دی: یو دا چه یو بل مهٔ قتلوئ. بل دا چه خودکشی مهٔ کوئ. الله تعالیٰ داسے جامع الفاظ استعمال کړی دی او کلامیئے په داسے ترتیب سره لګولے دے چه دَ دے نه دا درے واړه معنے راوځی او دریواړه حق دی.

۵۲ یعنی الله ستاسو خیرخواه دے، ستاسو ښیګړه غواړی، او داد هغه مهربانی ده چه هغه تاسو دَ داسے کارونو نه منع کوی چه په هغے کښے ستاسو بربادی او هلاکت دے.

۵۳ یعنی مونږه زړهٔ تنګی او تنګ نظره نهٔ یُو چه په وړو وړو خبرو به خپلو بندګانو له سزا ورکوُو. که ستاسو عملنامه دَ لویو لویو جُرمونو نه خالی وی نو وړے وړے غلطئ به درته معاف کړے شی او ستاسو په حساب کښے به نهٔ راځی. البته که دَ لویو لویو جُرمونو سره را غللئ نو بیا چه څه مقدمه په تاسو باندِ جوړه شی نو په هغے کښے به وړے وړے خطاګانے هم حسابیږی.

دلته په دے ځائے ځان پوه کول پکار دی چه په لویه ګناه او په وړه ګناه کښے څه فرق دے. ترکومه حده پورے چه ما په قرآن او په سنت باندِ غور کړے دے نو ما ته معلومه شوی ده (والله اعلم بالصواب) چه درے څیزونه دی چه په هغے دَ یو کار نه لویه ګناه جوړیږی.

(۱) حق وهل: مثلاً دَ خدائے حق وهل، یا دَ مور او پلار حق وهل، یا دَ بل انسان حق وهل، یا پخپله دَ خپل نفس حق وهل. بیا چه دَ چا حق څومره زیات وی هغومره دَ هغه حق وهل زیاته لویه ګناه ده. په دے وجه ګناه ته "ظلم" هم ویلے شی او په دے وجه شرک ته په قرآن کښے لوئ ظلم ویلے شوے دے.

(۲) دَ الله نه نهٔ یریدل او دَ هغه په مقابله کښے ځان غټ ګڼړل: د دے خیال په وجه سړے دَ الله دَ امر او دَ نهی پروا نهٔ لری او دَ نافرمانئ په خیال په قصد باندِ هغه کارونه کوی چه الله تر منع کړی وی، او په قصد باندِ هغه کارونه نهٔ کوی چه دَ کومو کارونو الله حکم کړے وی. دا نافرمانی چه څومره

مُّدْخَلًا كَرِيمًا ﴿٣١﴾ وَلَا تَتَمَنَّوْا مَا فَضَّلَ اللَّهُ بِهِ بَعْضَكُمْ عَلَىٰ
بَعْضٍ ۚ لِلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا اكْتَسَبُوا ۚ وَلِلنِّسَاءِ نَصِيبٌ مِّمَّا
اكْتَسَبْنَ ۚ وَسْئَلُوا اللَّهَ مِن فَضْلِهِ ۚ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا ﴿٣٢﴾

دَ عزّت ځائے تہ داخل کړو۔

او الله تعالیٰ چه په تاسو کښ یو تن له دَ بل په مقابله کښ څه زیات ورکړی دی تاسو دَ هغے آرزو کانے مۀ کوئ۔ نارینو چه څه کټلی دی دَ هغے مطابق دَ هغوئ حصه ده او زنانو چه څه کټلی دی دَ هغے مطابق دَ هغوئ حصه ده۔ او دَ الله نه دَ هغه دَ فضل دُعا کانے غواړئ، بیشکه چه الله دَ هر څه علم لری۔[۵۴]

زیاته په ضد او په زړورتیا سره او دَ خدائے نه بے یرے وی هغو مره به گناه هم سخته وی۔ دَ دے معنے په لحاظ سره دَ گناه د پاره دَ "فسق" او دَ "معصیت" الفاظ استعمال کړے شوی دی۔

(۳) هغه تړون پریکول او هغه تعلقات خرابول چه دَ هغے په تړلو او په مضبوتیا او په سالمتیا باندے دَ انسانی ژوند دَ امن دارومدار دے، خواه که دا تړون دَ بندهٔ او دَ خدائے په منځ کښے وی او که دَ بنده او دَ بندهٔ په منځ کښے وی۔ بیا چه یوه رابطه (تړون) څومره زیاته اهمه وی او چه دَ هغے په ختمیدلو امن ته څومره زیات نقصان رسیږی هغو مره دَ هغے دَ پریکولو او دَ خرابولو گناه زیاته لوییږی۔ مثلاً دَ زنا او دَ هغے په مختلفو اړخونو غور وکړئ۔ دَ زنا کارئ سره دَ استوګنے نظام خرابیږی او د دے وجے نه دا پخپله یوه لویه گناه ده خو په مختلفو شکلونو کښے د دے گناه نوره هم زیاتیږی۔ چه واده ئے کړے وی دَ هغے سړی زناکول دَ ناوادهٔ کړی سړی دَ زنا په نسبت زیاته سخته گناه ده۔ دَ نکاح شوے ښځے سره زناکول دَ بے نکاح ښځے په نسبت زیاته گناه ده۔ دَ کاونډئ ښځے سره زناکول دَ غیر کاونډئ ښځے په نسبت زیات بدکار دے۔ دَ حرامو ښځو مثلاً دَ خور، یا لور، یا مور سره زناکول دَ حلالو ښځو په نسبت زیات دَ گناه کار دے۔ په جُمات کښے زناکول دَ بل ځائے په نسبت زیاته سخته گناه ده په دے مثالونو کښے هم دا یو کار په مختلفو شکلونو کښے دَ گناه په حیثیت سره فرق لری۔ چرته چه دَ امن توقع څومره زیاته ده، چرته چه انسانی رابطه څومره قابل احترام ده او چرته چه دَ انسانی تړون دَ پریکولو نه څومره زیات فساد جوړیږی، هغو مره دَ زناکولو گناه ښه زیاتیږی۔ دَ دے معنے په لحاظ سره دَ گناه د پاره دَ "فجور" لفظ استعمالیږی۔

[۵۴] په دے آیت کښے یو ډیر لوئ اهم اخلاقی حکم شوے دے، که دَ دے حکم لحاظ وساتلے شی نو په اجتماعی ژوند کښے به انسان ته ډیر لوئ امن نصیب شی۔ الله تعالیٰ ټول انسانان یو شان نه دی جوړ کړی، هر انسان دَ بل انسان نه په هر حیثیت سره بدل دے۔ څوک ښکلی دی او څوک بدشکله۔ دَ چا آواز خوږ دے او دچا نه دے۔ څوک طاقتور دی او څوک کمزوری۔ څوک په اندامونو روغ دی او څوک پیدائشی نیمګړی دی۔ په جسمانی او ذهنی قوتونو کښے چاله یو قوت زیات ورکړے شوے دے او چاله بل څوک په ښه حالاتو کښے پیدا

وَلِكُلٍّ جَعَلْنَا مَوَالِيَ مِمَّا تَرَكَ الْوَالِدٰنِ وَالْاَقْرَبُوْنَ ؕ وَالَّذِيْنَ عَقَدَتْ
اَيْمَانُكُمْ فَاٰتُوْهُمْ نَصِيْبَهُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدًا ﴿۳۳﴾ ع

او کوم میراث چه مور او پلار او رشته داران پریږدی مونږه دَ هغې حقداران مقرر کړی دی. پاتی شو هغه خلق چه ستاسو ورسره لوزونه دی نو دَ هغوئ حصه هغوئ له ورکړئ، یقیناً دَ الله په هر څه باندِ نظر دے ۵۵ ع

کړے شوے دے او څوک په بد وحالاتو کښے. چاله ئے ډیر څه ورکړی دی او چاله ئے کم. دَ دے فرق او بیلتون په وجه په انسانی ژوند کښے بنایست برقرار دے او دا بالکل دَ حکمت مطابق دے. چرته چه انسان دا فرق دَ خپل فطری حد نه آړولے دے او دَ خپله ځانه ئے پکښے زیاتے را وستلے دے نو هلته یو قسم له فساد را پورته شوے دے، او چرته چه دَ دے فرق دَ ختمولو د پاره دَ فطرت سره دَ جنګ کولو کوشش شوے دے هلته یو بل قسم فساد را پورته شوے دے. انسان چه څوک دَ ځان نه زیات وینی نو خفه او پریشانه شی، دَ انسان دا قسم خیال دَ حسد، دَ ځان برابره ولو، دَ تربګنئ او دَ دشمنئ او دَ جنګ جګړو بنیاد دے، او دَ دے خیال بیا دا نتیجه را وځی چه یو څیز انسان ته په جائزه طریقه نه حاصلیږی نو هغه بیا په ناجائزه طریقه دَ هغے دَ حاصلولو کوشش شروع کړی الله تعالیٰ په دے آیت کښے دَ دے خیال نه دَ بچ کیدو حکم کوی. دَ خدائے دَ حکم دا مطلب دے چه څه فضل الله په بل باندِ کړے وی دَ هغے آرزو ته مه کوه، البته دَ الله نه دَ فضل دُعا غواړه، هغه به دَ خپل علم او حکمت مطابق چه څه فضل ستاد پاره مناسب وی، تاله درکړی. او دا ئے چه فرمائیلی دی "چه نارینو څه ګټلی دی دَ هغے مطابق دَ هغوئ حصه ده او زنانه چه څه ګټلی دی دَ هغے مطابق دَ هغوئ حصه ده" نو ترڅو پورے چه پرِ زهٔ پوهه شوے یم نو دَ دے مطلب دا دے چه په نارینو او زنانو کښے الله چا ته څه ورکړی دی دَ هغے په استعمال سره چه چا څومره او څه رنګے بدی یا نیکی وکړه هغومره او هغه رنګے به دَ الله سره خپله حصه بیا مومی.

۵۵ دَ عربو په خلقو کښے دا قاعده وه چه دَ کومو خلقو په منځ کښے به دَ دوستئ او دَ رورولئ لوزونه شوی وُو هغوئ به دَ یو بل دَ میراث حقدار وُو. دغه شان چه چا به چا ته هسے خپل ځوئے ویلے وُو نو هغه به هم دَ دغے تش په نوم پلار وارث ګڼړلے شو. په دے آیت کښے دَ جاهلیت دَ زمانے دا طریقه منسوخ شوی ده او حکم شوے دے چه دَ میراث کومه قاعده مونږه مقرر کړی ده میراث هم دَ هغے مطابق په رشته دارانو کښے تقسیمیدل پکار دی. البته چه دَ کومو خلقو سره تاسو لوزونه کړی وی نو هغوئ له په خپل ژوند کښے چه څه ورکول غواړئ هغه ورکولے شئ.

اَلرِّجَالُ قَوّٰمُوْنَ عَلَى النِّسَآءِ بِمَا فَضَّلَ اللّٰهُ بَعْضَهُمْ عَلٰى
بَعْضٍ وَّبِمَآ اَنْفَقُوْا مِنْ اَمْوَالِهِمْ ؕ فَالصّٰلِحٰتُ قٰنِتٰتٌ
حٰفِظٰتٌ لِّلْغَيْبِ بِمَا حَفِظَ اللّٰهُ ؕ وَالّٰتِيْ تَخَافُوْنَ نُشُوْزَهُنَّ
فَعِظُوْهُنَّ وَاهْجُرُوْهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ وَاضْرِبُوْهُنَّ ۚ

نارینہ پر زنانو باندِ حاکمان[۵۶] دی، پدے وجہ چہ اللہ پہ هغوئ کښ یولہ پہ بل باندِ فضیلت[۵۷] ورکړے دے، اوپہ دے وجہ چہ نارینہ خپل مال لکوی۔ پس کومے ښځے چہ نیکے صالحانے دی هغوئ حکم منونکی وی او د نارینو نه پټے شا د اللہ پہ حفاظت اونکرانئ کښ د هغوئ د حقونو[۵۸] حفاظت کوی۔ او د کومو ښځو نافرمانئ یې چہ ستاسو سره پیدا شوه نو پہ نصیحت ئے بند پوه کړئ، د خوب بستره تنه جدا کړئ او دے وهئ[۵۹]،

۵۶ قوّام (حاکم) یا قیّم (ناظم) هغه سړی ته وائی چہ د یو سړی یا د یو ډیر اداره یا د یو نظام د معاملاتو د صحیح چلولو ذمه دار وی، او د هغے د حفاظت او د نگرانئ ذمه واری هم ورپسے وی۔

۵۷ دلته د فضیلت معنی شرف او عزت نه ده، لکه چې یو عام سړے ته یې مطلب اخلی، بلکه دلته پدے لفظ کښے دا معنی پرته ده چہ پدے دوئ کښے یو طرف (یعنی سړی) ته الله تعالیٰ څه دا سے خاصیتونه او قوتونه طبعًا ورکړی دی چہ بل طرف (یعنی ښځو) ته نه دی ورکړی یا ئے د هغوئ نه کم ورکړی دی۔ د څه وجه ده چہ د کور پہ نظام کښے سړے د ماکولئ اهلیت لری او ښځه فطرتًا دا سے جوړه کړے شوی ده، چہ هغے له پہ کور کښے د سړی د حفاظت او د نگرانئ لاندے د سیدل پکار دی۔

۵۸ پہ حدیث کښے دی چہ نبی صلی اللہ علیہ وسلم فرمائیلے "بهترینه ښځه هغه ده چہ کله ورته وگورے نو ستا زړه خوشاله شی، چہ د څه خبرے ورته وائے نو هغه ستا خبره ومنی، او چہ کله تۀ پہ کور کښے نه ئے نو هغه ستا پښے شا ستا د مال او د خپل ځان حفاظت کوی۔" دا حدیث د دے آیت د یوې برخې تفسیر کوی۔ نو دلته پہ دے ځان بند پوه کول پکار دی چہ ښځے له د خپل خاوند د حکم منلو نه او د خپل خالق حکم منل ضروری دی۔ نو کله چې یو خاوند خپلے ښځے ته د خدائے نه د نافرمانئ کولو حکم وکړی، یا د خدائے د فرائضو د منع کولو کوشش وکړی، نو بیا د هغے نه منل د ښځے فرض دی۔ پدے کښے که ښځه د خاوند د ځنی نسو هغه پرکنا هگاره وی۔ دے له برخلاف که خاوند خپلے ښځے ته د نفل منع نه کولو یا د نفل روژو نه نیولو حکم وکړی نو بیا ضروری ده چہ ښځه د خاوند حکم ومنی۔ که ښځې د نه منلو او نفل ئے سرته د رسول نوه او به قبول نه وی۔

فَإِنْ أَطَعْنَكُمْ فَلَا تَبْغُوا عَلَيْهِنَّ سَبِيلًا ۗ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيًّا كَبِيرًا ﴿٣٤﴾ وَإِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا فَابْعَثُوا حَكَمًا مِّنْ أَهْلِهِ وَحَكَمًا مِّنْ أَهْلِهَا ۚ إِنْ يُرِيدَا إِصْلَاحًا يُوَفِّقِ اللَّهُ بَيْنَهُمَا ۗ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا خَبِيرًا ﴿٣٥﴾

بیاکہ هغوئ ستاسو خبرے تہ غاړہ کیښودہ نو خامخا پہ هغوئ باندے د ظلم کولو د پارہ بہانے مَہ لټوئ، یقین لرئ چہ ﷲ موجود مے چہ ډیر لوئ اوډھر چاد پاسہ دے۔ او که ستاسو دا ډیرہ وہ چہ د مینځے خاوند تعلقات برخراب شی نو یو فیصلے والا د سړی د خپلوانو نہ او بل د مینځے د خپلوانو نہ مقرر کړئ، نو که هغوئ دواړو[۶۰] روغہ کول غوښتل نو ﷲ بہ د هغوئ پہ مینځ کښ د روغے څہ لار راوباسی، ﷲ تہ هر څہ معلوم دی اوډھر څہ تہ خبر دے[۶۱]

۵۹ ے دا مطلب نہ دے چہ درے وارہ کارونہ ډِ پہ یو وخت وکړے شی، بلکہ مطلب دا مصیبہ د نافرمانئ پہ حالت کښے د مے درے وارہ کارونو اجازت دے۔ اوس پاتے شو پہ دے باندے عمل کول، نو پہ دے کښے د نافرمانئ د کار یعنی د قصور اوسزا پہ مینځ کښے تناسب ساتل پکار دی، چرتہ چہ پہ آسانہ روغہ کیدے شی هلتہ د سختی کولو نہ کار نہ دی اخستل پکار۔ نبی صلی ﷲ علیہ وسلم چہ کلہ د بغاوت د دھلو اجازت درکړہ دہ نو د یو پہ نازړہ ئے درکړے دہ او بیائے پرهم ناخوبی بیکارہ کړی دہ۔ خو بیاهم څنے مینځے پکښے داسے دی چہ د دھلو نہ بغیر نہ سمیږی۔ پہ داسے حالت کښے نبی صلی ﷲ علیہ وسلم فرمایلی دی چہ پرے مخ دے نہ وهلی، پرے ږمئ سره ډِ ئے نہ وهی او پہ داسے ځیزونو ئے نہ وهی چہ هغہ پہ بدن[۵۹] نښہ کوی۔

۶۰ ے د دواړو نہ مراد فیصلے والا هم دی او منځګړی هم۔ پرهر جګړہ کښے د روغے امکان دی خو شرط پکښے دا دے چہ دواړہ طرفونہ هم صلح خوښہ دی او منځګړی هم داغواړی چہ د دواړو پہ مینځ کښے د روغہ وشی۔

۶۱ ے پہ دے آیت کښے دا هدایت شوے دے چہ هرکلہ د مینځے خاوند پہ مینځ کښے نالږی راشی نو نہ ډِ خپل تعلقات ختمہ وی او نہ ډِ خبرہ عدالت تہ رسوی بلکہ پہ کورنئ د دا اصلاح کولو کوشش وکړی او د هغے طریقہ دا دہ چہ د مینځے او د خاوند د خاندان نہ ډِ یو یو سړے د مے فرض د پارہ مقرر کړی چہ دواړہ پہ شریکہ د هغوئ د ځګړ وجہ معلومہ کړی او بیا پہ خپلو کښے سره کیني او د اصلاح او د روغے څہ لار راوباسی۔ څوک بہ دا فیصلے والا مقرر ہ وی؟ دا خبرہ ﷲ تعالیٰ پہ خپلے پرینبودے دہ، څکہ چہ کرښہ خاوند پخپلہ د غواړی نو د خپلو خپلو رشتہ دارانو نہ ډِ یو یو سړے د فیصلے کولو

وَاعْبُدُوا اللّٰهَ وَلَا تُشْرِكُوْا بِهٖ شَيْئًا وَّ بِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا
وَّبِذِي الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنِ وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبٰى وَ
الْجَارِ الْجُنُبِ وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْبِ وَابْنِ السَّبِيْلِ ۙ وَ مَا

او تاسو ټول د الله بندګی کوئ، د هغه سره څوک مه شریکوئ، د مور او پلار سره بنه سلوک کوئ، د خپلوانو او د یتیمانو او د مسکینانو سره بنه سلوک ساتئ، د رشته دار ګاونډی سره، د غیر رشته دار ګاونډی سره، د سنګ د ملګری سره او د مسافر سره او د هغه ونیځو غلامانو سره چه

د پاره خوښ کړی، او کنئ نو د دواړو د طرفنه د مشران پکښې مداخلت وکړی او جرګه د مقرر کړی، او که چرے مقدمه عدالت ته ورسیدله نو عدالت د هم د خپلے کاروائی شروع کولو نه مخکښے د دواړو د خپلوانو نه یوه جرګه مقرر کړی او د هغے په ذریعه د د اصلاح کولو کوشش وکړی.

په دے خبره کښے اختلاف دے چه د فیصله کونکو ثالثانو اختیارات به څه وی. په دینی عالمانو کښے یوه ډله وائی چه دے ثالثانو ته د فیصلے کولو اختیار نشته. البته دومره خبره ده چه د صفائی د پاره هغوی ته څه خبره مناسب ښکاره شی د هغے سفارش کولے شی. باقی منل او نه منل د ښځے خاوند په اختیار کښے دی. او که ښځے خاوند دغه ثالثان د طلاقو یا د خلعے یا د څه بلے خبرے د فیصلے کولو د پاره خپل ځان له وکیلان مقرر کړی وو نو بیا به د هغوی فیصله منل د ښځے خاوند د پاره واجب وی. دا د حنفی او د شافعی علماؤ مسلک دے. د بلے ډلے په نزد ثالثانو ته دا اختیار شته دے چه د روغے راوستلو فیصله وکړی، خو د جدائی راوستلو فیصله هغوی نشی کولے. دا د حسن بصری او قتاده او د ځنے نورو فقهاؤ قول دے. یوه بله ډله د دے خبرے قائله ده چه دے ثالثانو ته د یوځائے کولو او د جدا کولو پوره اختیارات حاصل دی. ابن عباس، سعید بن جبیر، ابراهیم نخعی، شعبی، محمد بن سیرین او ځنے نورو حضراتو دا رائے اختیار کړی ده.

د حضرت عثمانؓ او د حضرت علیؓ د فیصلو کوم مثالونه چه مونږ ته را رسیدلی دی د هغے نه معلومیږی چه کله به دے دواړو ثالثان مقرر کړل نو د عدالت د طرفنه به ئے هغوی ته حاکمانه اختیارات ورکول. کله چه د حضرت عقیل بن ابی طالب او د هغه د ښځے فاطمه بنت عتبه بن ربیعه مقدمه د حضرت عثمان په عدالت کښے پیش شوه نو هغه د خاوند د خپلوانو نه حضرت ابن عباسؓ او د ښځے د خپلوانو نه حضرت معاویه بن ابی سفیان مقرر کړل او ورته ئے وویل چه که ستاسو د دواړو په رائے د دوئ جدا کول مناسب وی نو جدائے کړئ. دغه شان په یوه مقدمه کښے حضرت علیؓ ثالثان مقرر کړل او دا اختیار ئے ورله ورکړو چه که تاسو غواړئ نو یوځائے ئے کړئ او که جدا کول ئے غواړئ نو جدائے کړئ. د دے نه معلومه شوه چه ثالثانو ته خو په خپله عدالتی اختیارات حاصل نه دی. خو که عدالت د هغوی د مقرره ولو په وخت کښے هغوی

مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ مَنْ كَانَ مُخْتَالًا
فَخُوْرَا ۙ ﴿۳۶﴾ الَّذِيْنَ يَبْخَلُوْنَ وَيَاْمُرُوْنَ النَّاسَ بِالْبُخْلِ وَ
يَكْتُمُوْنَ مَآ اٰتٰىهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ ؕ وَاَعْتَدْنَا لِلْكٰفِرِيْنَ
عَذَابًا مُّهِيْنًا ۚ ﴿۳۷﴾ وَالَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ رِئَآءَ

ستا سو په قبضه کښ وی، بنهٔ سلوک کوئ، یقین وکړئ چه الله هیڅ یو داسے سړے نهٔ خوښوی چه هغه په خپل خیال گمان کښ مغروره وی او په خپله لویئ باندِ فخر کوی۔ او داسے خلق هم د الله خوښ نهٔ دی چه شومتیا کوی او نورو ته هم د شومتیا سبق ښائی او الله چه ورله د خپل فضل نه څه ورکړی دی هغه پټوی۔[۶۲] د داسے نعمت ناشکره خلقو د پاره موږ ذلیل کونکے عذاب تیار ساتلے دے۔ او هغه خلق هم د الله خوښ نهٔ دی چه خپل مالونه صرف خلقو ته د خود نے د پاره

لا اختیارات ورکړی وو نو بیا به د هغوئ فیصله یوه عدالتی فیصله وی۔

[۶۲] په عربئ کښے لفظ "الصاحب بالجنب" دے، د دے نه مراد د یو ځائے د ناستے پاستے دوست هم دے او داسے سړے هم دے چه چرته په یو وخت کښے د سړی ملګرے شی. مثلاً تهٔ په بازار کښے روان ئے او یو سړے ستا سره یو ځائے روان وی، یا د یو دوکان نه تهٔ سودا اخلے او بل څوک ترهم اخلی، یا څوک ستا سره یو ځائے ناست وی یا په سفر کښے د چا سره ملګرے شی۔ دا د لږ ساعت یو ځائے کیدل هم په شریف انسان باندِ دا حق راولی چه د خپله وسه پورے د هغه سره نیک سلوک وکړی او چه د دهٔ د لاسه هغه ته څه تکلیف ونهٔ رسی۔

[۶۳] د الله فضل پټول دا دی چه سړے په داسے شان وسیږی لکه چه الله پر هیڅ فضل نهٔ وی کړے۔ مثلاً چا له الله دولت ورکړے وی او هغه د خپل حیثیت نه لاند ژوند تیروی۔ نهٔ په خپل ځان خرچ کوی او نهٔ په خپل بال بچ، نهٔ د خدائے د بندګانو امداد کوی، او نهٔ په نیکوکارونو کښے حصه اخلی چه خلق یے وینی نو وائی چه د غریب ډیر بد حال دے۔ دا په اصل کښے د الله تعالیٰ سخته ناشکری ده۔ په حدیث کښے دی چه نبی صلی الله علیه وسلم وفرمائیل اِنَّ اللّٰهَ اِذَا انعم نعمة علی عبد احبّ ان یظهر اثرها علیه، الله چه یو بنده ته نعمت ورکوی نو هغه دا خوښه وی چه د دغے نعمت اثر د په بنده باندِ ښکاره شی۔ یعنی د هغه د خوراک، څکاک، د وسیدلو، د جامو او د کور او د هغه د خیر خیرات او سخاوت او د هر څیز نه د د الله د دغے ورکړے شوی نعمت اظهار کیږی

النَّاسِ وَلَا يُؤْمِنُونَ بِاللّٰهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ۭ وَمَنْ يَّكُنِ
الشَّيْطٰنُ لَهٗ قَرِيْنًا فَسَاۗءَ قَرِيْنًا ۝۳۸ وَمَاذَا عَلَيْهِمْ لَوْ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ
وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَاَنْفَقُوْا مِمَّا رَزَقَهُمُ اللّٰهُ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ بِهِمْ عَلِيْمًا ۝۳۹
اِنَّ اللّٰهَ لَا يَظْلِمُ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ ۚ وَاِنْ تَكُ حَسَنَةً يُّضٰعِفْهَا وَ
يُؤْتِ مِنْ لَّدُنْهُ اَجْرًا عَظِيْمًا ۝۴۰ فَكَيْفَ اِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ
اُمَّةٍۢ بِشَهِيْدٍ وَّجِئْنَا بِكَ عَلٰي هٰٓؤُلَاۗءِ شَهِيْدًا ۝۴۱ يَوْمَىِٕذٍ
يَّوَدُّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَعَصَوُا الرَّسُوْلَ لَوْ تُسَوّٰى بِهِمُ الْاَرْضُ ۭ

خرچ کوی او په حقیقت کښ نۀ په الله باندِ ایمان لری او نۀ په ورځ د آخرت باندِ۔ ریښتیا خبره دا ده چه شیطان د چا ملګرے شو نو هغه ته ډیر خراب ملګرے ملاؤ شو۔ آخر په دے خلقو باندِ څه آفت راتلو که په الله او په ورځ د آخرت باندِ ئے ایمان راوړے وے او څه چه ورله الله ورکړی دی د هغے نه ئے خرچ کولے۔ که دوئ دا سے کولے نو د الله نه د دوئ د نیکئ حال پټ نۀ پاتے کیدو۔ الله په چا باندِ د زرے هومره ظلم نۀ کوی۔ که څوک یو د نیکی وکړی نو الله هغه دوچند کوی او بیا د خپل طرفه ورله زیات اجر ورکوی۔ بیا سوچ وکړه چه هغوئ به دوئ څه کوی کله چه موږ د هر امت نه یو یو ګواه راولو او په دے خلقو باندِ تا (یعنی محمد صلی الله علیه وسلم) ګواه کړو۔[۶۴] په دغے وخت کښ به هغه ټول خلق چه د رسول خبره ئے نۀ وی منلی او د هغه نافرمانی ئے کړی وی، دا آرزو وکړی چه افسوس دا زمکه وشلیدے او دغوئ ټول پکښ ورځائے شوے۔

[۶۴] یعنی د هرے زمانے پیغمبر به د خپلے زمانے په خلقو یا نو د الله په عدالت کښے دا ګواهی ورکوی چه اے الله تا چه د ځوند کومه ښځه لاره او د فکر او د کار کومه صحیح طریقه مانه ښودلی وه هغه مادے خلقو ته رسولی وه۔ بیا د هغه شهادت په محمد صلی الله علیه وسلم د خپلے زمانے په خلقو باندِ وکړی، او د قرآن نه دا معلومیږی چه د نبی صلی الله علیه وسلم زمانه د هغۀ د نبوت نه را وا خله تر قیامت پورے ده۔ (آلِ عمران حاشیه ۶۹)

وَلَا يَكْتُمُوْنَ اللّٰهَ حَدِيْثًا ۝۴۲ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَقْرَبُوا الصَّلٰوةَ
وَاَنْتُمْ سُكٰرٰى حَتّٰى تَعْلَمُوْا مَا تَقُوْلُوْنَ وَلَا جُنُبًا اِلَّا عَابِرِيْ سَبِيْلٍ
حَتّٰى تَغْتَسِلُوْا ۭ وَاِنْ كُنْتُمْ مَّرْضٰٓى اَوْ عَلٰي سَفَرٍ اَوْ جَاۗءَ اَحَدٌ مِّنْكُمْ
مِّنَ الْغَاۗىِٕطِ اَوْ لٰمَسْتُمُ النِّسَاۗءَ فَلَمْ تَجِدُوْا مَاۗءً فَتَيَمَّمُوْا صَعِيْدًا
طَيِّبًا فَامْسَحُوْا بِوُجُوْهِكُمْ وَاَيْدِيْكُمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَفُوًّا غَفُوْرًا ۝۴۳

ژباړه فتح محمد جالندهری علیه الرحمه

وَلَا يَكْتُمُونَ اللّٰهَ حَدِيثًا ﴿٤٢﴾ ع يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَقْرَبُوا
الصَّلٰوةَ وَاَنْتُمْ سُكٰرٰى حَتّٰى تَعْلَمُوْا مَا تَقُوْلُوْنَ وَلَا
جُنُبًا اِلَّا عَابِرِيْ سَبِيْلٍ حَتّٰى تَغْتَسِلُوْا ؕ وَاِنْ كُنْتُمْ

هلته به هغوئ د الله نه خپله هیڅ خبره پټه نکړے شي ع

اے هغه خلقو چه ایمان مو راوړے دے، کله چه تاسو د نشے په حالت کښې یئ نو مونځ[65] له نزدے مه ورځئ. مونځ هغه وخت کول پکار دی چه تاسو څه وایئ چه په هغے پوهیږئ[66]. دغه شان د جنابت[67] په حالت کښې هم مانځه له تر هغے نزدے مه ورځئ تر څو چه مو غسل نه وی کړے. او که په لاره تیریدئ[68] نو بیا خیر دے. او که چرے تاسو بیماران یئ

[65] دا د شرابو په حقله دویم حکم دے. اولنے حکم هغه وو چه د سورة بقرے په آیت ۲۱۹ کښے تیر شوے دے. په هغے کښے صرف دومره خبره شوی وه چه شراب خراب څیز دے او د خدا ئے خوښ نه دے. نو ډیرو مسلمانانو د دے حکم نه روستو د شرابو نه ځان ساتلے وو. خو ډیرو خلقو به بیا هم شراب استعمالول او اکثر به د نشے په حالت کښے په مانځه وو دریدل او د مونځ په ځائے به ئے بل بل څه وئیل. غالباً د څلورے هجرئ په شروع کښے دا دویم حکم راغے او د نشے په حالت کښے مونځ کول منع کړے شو. د دے دومره اثر وشو چه خلقو د شرابو څکلو خپل وختونه بدل کړل او د مانځه په وختونو کښے ئے شراب څکل پریښودل. د دے نه لږه مروه روستو د شرابو د بالکل حرامولی هغه حکم راغے چه د سورة مائدے په آیت ۹۰-۹۱ کښے دے. دلته په دے خبره ځان پوه کول پکار دی چه په آیت کښے د سکر یعنی د نشے لفظ راغلے دے. د دے وجے نه دا حکم یوائے د شرابو د پاره خاص نه دے بلکه د هر نشیز څیز د پاره عام دے. او اوس هم د دے حکم باقی دے. اګرچه د نشیز وڅیزونو استعمال حرام دے، لیکن د نشے په حالت کښے مونځ کول دوچنده او لویه ګناه ده.

[66] په دے وجه نبی صلی الله علیه وسلم دا فرمائیلی دی چه کله په چا خوب غلبه وکړی او په مانځه کښے بیا بیا جوته خوری نو هغه له پکار دی چه مونځ پریږدی او اوده شی. ځنے خلق د دے آیت نه دا مطلب راوباسی چه څوک د مونځ د عربئ په مطلب نه پوهیږی نو د هغه مونځ نه کیږی. دا یوه بے ځایه سخته خبره ده او د قرآن خپل الفاظ هم د دے خبرے سره ملګرتیا نه کوی. په قرآن کښے حتی تفقهوا یا حتی تفهموا ما تقولون نه دی فرمائیلی بلکه حتی تعلموا ما تقولون ئے فرمائیلی دی. یعنی په مانځه کښے دومره ضروری ده چه سړے په دے پوهیږی چه هغه په ژبه څه وائی. داسے نه چه دلاړ په مانځه وی او را شروع کړی پکښے یو غزل.

[67] د جنابت اصلی معنے لرے والے او ناآشنائی ده. اجنبی لفظ درے نه وتلے دے. د شرعے په اصطلاح کښے د جنابت نه مراد هغه پلیتی ده چه د کور والی په وجه یا د خوب لیدو په وجه د منئ او به د سړی نه وځی او غسل پر واجب شی، ځکه چه د دے په وجه سړے د پاکوالی نه لرے او ناآشنا شی.

مَّرْضٰٓى اَوْ عَلٰى سَفَرٍ اَوْ جَآءَ اَحَدٌ مِّنْكُمْ مِّنَ الْغَآئِطِ اَوْ لٰمَسْتُمُ
النِّسَآءَ فَلَمْ تَجِدُوْا مَآءً فَتَيَمَّمُوْا صَعِيْدًا طَيِّبًا فَامْسَحُوْا
بِوُجُوْهِكُمْ وَاَيْدِيْكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَفُوًّا غَفُوْرًا ﴿۴۳﴾

یا په سفر کښې یئ، یا په تاسو کښې څوک د اودس ماتی نه واپس راشی، یا تاسو د ښځو سره لمس وکړئ[۶۹] او اوبه بیا و نه مومئ نو د پاکے خاورے نه کار واخلئ او د هغے نه په خپلو مخونو او لاسونو باندې مسح وکړئ، بیشکه الله د نرمئ نه کار اغستونکے او بخښونکے دے۔

[۶۸] د فقهاؤ او د مفسرینو یوه ډله وائي چه د دے آیت مفهوم دا دے چه د جنابت په حالت کښې جمات ته تلل نه دی پکار، او که د څه کار د پاره د جمات نه اخوا تیریدل وو نو بیا خیر دے که په جمات تیر شئ۔ دا رائے عبدالله بن مسعود، انس بن مالک، حسن بصری او ابراهیم نخعی وغیره اختیار کړی ده۔ بله ډله د دے نه مراد سفر اخلی، یعنی که د سفر په حالت کښې سړی ته جنابت راغے نو تیمم وهلے شی۔ د جمات په باره کښې د دے ډلے رائے دا ده چه که جنب سړے اودس وکړی او په جمات کښې کینی نو جائز دی۔ دا رائے حضرت علی، ابن عباس، سعد بن جبیر او ځنے نورو علماؤ اختیار کړی ده۔ په دے خبره خو تقریباً د ټولو اتفاق دے چه د سفر په حالت کښې څوک جنب شو او غسل کول ممکن نه وو نو په تیمم باندې مونځ کولے شی۔ لیکن اولئ ډله دا مسئله د حدیثونه را اخلی او دویمه ډله وائي چه د دے بنیاد د قرآن دا پاسنے آیت دے۔

[۶۹] په دے خبره کښې اختلاف دے چه د لمس یا د ګوتو وروړلو نه څه مراد دے۔ د حضرت علی، ابن عباس، ابو موسیٰ اشعری، ابی بن کعب، سعید بن جبیر، حسن بصری او د نورو ډیرو امامانو دا رائے ده چه د دے نه مراد د ښځے سره کو روالے کول دی۔ او دا رائے امام ابو حنیفه او د هغه ملګرو او امام سفیان ثوری اختیار کړی ده۔ د دے نه برخلاف د حضرت عبدالله بن مسعود او د حضرت عبدالله ابن عمرؓ دا رائے ده۔ او د ځنے روایاتو نه دا معلومیږی چه د حضرت عمر ابن خطاب هم دا رائے ده چه د دے نه مراد ګوتے وروړل یا لاس لګول دی او دا رائے امام شافعیؒ اختیار کړی ده ځنے امامانو د منځ منځ لارهم اختیار کړی ده مثلاً د امام مالکؒ دا رائے ده که ښځه او سړے د شهوت په غرض لاس ولګوی نو اودس ئے ماتیږی او د مانځه د پاره به نوے اودس کوی۔ لیکن که هسے بغیر د شهوت نه د یو بدن د بل سره ولګی نو په دے هیڅ نه کیږی۔

[۷۰] د دے حکم تفصیل دا دے چه که سړے بے اودسه وی یا پر غسل اوړیدلے وی او اوبه ورته نه ملاویږی نو په تیمم مونځ کولے شی۔ که مریض وی او د غسل یا د اودس کولو په وجه ورته د نقصان رسیدو ویره وی نو که اوبه موجود هم وی خو تیمم وهلے شی۔

د تیمم معنیٰ قصد کول دی۔ مطلب دا دے چه کله اوبه ملاؤ نشی یا وی خو استعمالول یئ سړی ته نقصان رسوی نو بیا د پاکے خاورے قصد وکړه۔

اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ اُوْتُوْا نَصِيْبًا مِّنَ الْكِتٰبِ يَشْتَرُوْنَ الضَّلٰلَةَ
وَيُرِيْدُوْنَ اَنْ تَضِلُّوا السَّبِيْلَ ﴿۴۴﴾ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِاَعْدَآئِكُمْ

تا هغه خلق هم ولیدل چه د کتاب د علم نه څه حصه ورله ورکړے شوی ده؟ هغوئ پخپله د ګمراهئ خریدار جوړ شوی دی او دا غواړی چه تا هم بے لارے شئ. الله ستاسو دشمنان بنهٔ پیژنی

د تیمم په طریقو کښے د فقهاؤ په منځ کښے اختلاف دے. د یوے ډلے په نز د تیمم طریقه دا ده چه یو ځلے په خاورو باندے لاس ووهه په مخ ئے را کاږه او بل ځلے بیا لاس په خاورو باندے اووهه او په لاسونو باندے ئے تر د سنګلو پورے را کاږه. د امام ابو حنیفه، امام شافعی، امام مالک او د ډیرو فقهاؤ دا مذهب دے. او د صحابو او د تابعینو نه حضرت علی، عبد الله بن عمرؓ، حسن بصری، شعبی او سالم بن عبد الله وغیره هم د دے قائل وُو. د بلے ډلے په نز باندے صرف یو ځل لاس په خاورو باندے وهل کافی دی. هم ئے په مخ را کاږه او بیائے د مروندونو پورے په لاسونو باندے هم را کاږه. د سنګلو پورے د مسح کولو ضرورت نشته. دا د عطاء او د مکحول او د اوزاعی او د احمد بن حنبل رحمهم الله مذهب دے او عموماً اهل حدیث حضرات د دے قائل دی.

د تیمم د پاره دا ضروری نه ده چه خا مخا د په زمکه باندے لاس اووهی. د دے غرض د پاره هر ګرد جن څیز او د زمکے د اجزاؤ نه هر وچ څیز کافی دے.

ځنے خلق دا اعتراض کوی چه په زمکه باندے د لاس وهلو او په مخ او په لاس باندے د راښکلو سره آخر پاکی څنګه راتلے شی. خو دا په حقیقت کښے یو ډیر اهم نفسیاتی کار دے دا په سړی کښے د پاکوالی خیال قائم ساتی او د مونځ عزت او احترام برقرار ساتی. د دے دا فائده ده که سړے هر څو مره مرده اوبه استعمال نه کړی خو په ده کښے به د پاکوالی احساس برقرار وی. شریعت چه د پاکئ راوستلو د پاره کوم قانون مقرر کړے دے، دے به د هغے قانون پابندی هر وخت برابر کوی، او د ده په زړه کښے به هر وخت دا خیال تازه وی چه په دے حالت کښے د مونځ کولو قابل یم او په دے حالت کښے د مونځ کولو قابل نه یم.

ﻟﻪ د اهل کتابو د عالمانو په خلق قرآن اکثر دا الفاظ استعمال کړی دی چه "هغوئ ته د کتاب څه حصه ورکړے شوی ده." د دے وجه دا ده چه اول خو هغوئ د کتاب الٰهی یوه حصه ورکه کړی وه. بیا چه څه د الله د کتاب نه د هغوئ سره موجود وُو د هغے د مطلب او د هغے د مقصد او مدعا نه هم نا اشنا شوی وُو. د هغوئ ټول زور په لفظی بحثونو او د حکمونو په جزئیاتو باندے وُو او ټول له مینه ئے د هغے حکمت سره وه چه عقیدے پرکړ کیجئے کیږی او ګرانیږی. دغه وجه ده چه هغوئ د دین د حقیقت نه نا اشنا وُو او د دینداری د اصل نه خالی وُو، اګرچه خلقو به ورته د دین عالمان او د ملت پیشوا ګان وئیل.

وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَلِيًّا ۙ وَّكَفٰى بِاللّٰهِ نَصِيْرًا ﴿۴۵﴾ مِنَ الَّذِيْنَ هَادُوْا
يُحَرِّفُوْنَ الْكَلِمَ عَنْ مَّوَاضِعِهٖ وَيَقُوْلُوْنَ سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا
وَاسْمَعْ غَيْرَ مُسْمَعٍ وَّرَاعِنَا لَيًّا ۢ بِاَلْسِنَتِهِمْ وَطَعْنًا فِى
الدِّيْنِ ؕ وَلَوْ اَنَّهُمْ قَالُوْا سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا وَاسْمَعْ وَانْظُرْنَا

او ستاسو دمرستې او مدد کولو ئې پاره الله کافی دی۔ ۴۵ ځینې خلق چې یهودیت پیروان شوی دی[۵۲] هغوی کلمې ځای پر ځای کوي[۵۳] او په حق دین کې د خپل اچولو پاره خپلې ژبې تاوې راتاوې کړي او وایي سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا او اِسْمَعْ غَيْرَ مُسْمَعٍ[۵۴] او رَاعِنَا۔ حالانکه که هغوی دا سې ویلې چې سَمِعْنَا وَ اَطَعْنَا، او اِسْمَعْ او اُنْظُرْنَا

۵۲ دا ئې وُنه فرمائیل چې "یهودیان دی" بلکه دا ئې وفرمائیل چې "یهودیان شوی دی" ځکه چې په اول کښې خو هغوی هم مسلمانان وو، لکه څنګه چې په اول کښې د هر نبي اُمت په اصل کښې مسلمانان وی، خو روستو هغوی صرف یهودیان پاتې شول۔

۵۳ دې درې مطلبونه دی، یو دا چې د الله د کتاب په لفظونو کښې ردوبدل کوی۔ دوهم دا چې د کتاب د آیتونو صفحې د خپلې تشریح په ذریعه بدلوی۔ دریم دا چې د اخلاق به د محمد صلی الله علیه وسلم او د هغه د مکرو مجلسونو تر راتلل او د هغوی خبرې به ئې اوریدلے او چې واپس به لاړل نو خلقو ته به ئې په غلطه طریقه بیان کولو۔ خبره به بل څه شوی وه او هغوی به په خلقو کښې بل رنګ مشهوره کړه۔ غرض به ئې د دوی چې دوی بدنام کړے شی او د دوی په حقله بدګمانۍ خوړے شی او خلق اسلامی جماعت ته د راتلو نه منع شی۔

۵۴ یعنی هغوی ته چې کله د خدائ حکمونه او رسولے کیږی نو په زوره وایی چې سَمِعْنَا (مونږه واوریدل) او رسوه وایی چې عَصَيْنَا (مونږه قبول نه کړو) یا به ئې د اَطَعْنَا (مونږه قبول کړو) لفظ ویلو په ژبه کښې داسې تاوې راتاوې کړه چې عَصَيْنَا به تر یوې شوه۔

۵۵ یعنی د ویلو په دوران کښې چې کله هغوی څه خبره محمد صلی الله علیه وسلم ته کول غواړی نو وایی چې اِسْمَعْ (واوره) او بیا وسره غَيْرَ مُسْمَعٍ هم وایی چې دوه معنې ئې دی۔ د دې یوه معنی داده چې ته دوسره عزتمند ئے چې تا ته ستا د مرضئ نه خلاف څوک خبره نشی کولے۔ بله معنی ئې داده چې ته دومره قابل نه ئے چې تا ته څوک خبره وکړی۔ او یوه بله معنی ئې داده چې خدائے دې تا کوڼ کړی۔

لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ وَاَقْوَمَ ۙ وَلٰكِنْ لَّعَنَهُمُ اللّٰهُ بِكُفْرِهِمْ فَلَا
يُؤْمِنُوْنَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۴۶﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ اٰمِنُوْا بِمَا
نَزَّلْنَا مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَكُمْ مِّنْ قَبْلِ اَنْ نَّطْمِسَ وُجُوْهًا
فَنَرُدَّهَا عَلٰۤى اَدْبَارِهَاۤ اَوْ نَلْعَنَهُمْ كَمَا لَعَنَّاۤ اَصْحٰبَ السَّبْتِ ؕ
وَكَانَ اَمْرُ اللّٰهِ مَفْعُوْلًا ﴿۴۷﴾ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ اَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ وَ
يَغْفِرُ مَا دُوْنَ ذٰلِكَ لِمَنْ يَّشَآءُ ۚ وَمَنْ يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ فَقَدِ

نو دا دَ هغوئ د پاره غوره وه او زیاته صحیح طریقه وه. خو په هغوئ باندِ دَ خپلے باطل پرستئ په وجه دَ الله لعنت شوے دے ځکه پکښ کم خلق ایمان راوړی.

اے هغه خلقو چه کتاب درکړے شوے وُو، اوس چه کوم کتاب مونږ نازل کړے دے دا وُمنئ، دا د هغے کتاب تصدیق کوی کوم چه ستاسو سره دا ول نه موجود وُو[۷۶]. په دے باندِ ایمان راوړئ رومبے دَ دے نه چه مونږ ه مخونه په بله ګونه کړو او شا غاړے ته ئے واړ وُو یا په هغوئ باندِ هغه شان لعنت وُکړو لکه څنګه چه په سبت والو باندِ مونږ کړے وُو[۷۷] او یاد لرئ چه دَ الله حکم خامخا جاری کیږی. الله خو بس یو شرک نهٔ معاف کوی[۷۸]، دَ دے نه بغیر نور چه څومره ګناهونه دی هغه چه ئے دَ چا د پاره خوښه شی نو معاف کوی[۷۹] یئے. او دَ الله سره چه چا څوک شریک کړل

[۷۶] دَ تشریح د پاره وُګوره سورة بقرة حاشیه نمبر ۱۰۸.

[۷۷] دَ تشریح د پاره وُګوره سورة آل عمران حاشیه نمبر ۲

[۷۸] وُګوره سورة بقرة حاشیه نمبر ۸۲، ۸۳.

[۷۹] دا یئے ځکه وُفرمائیل چه اهلِ کتاب اګرکه دَ پیغمبرانو او دَ آسمانی کتابونو دَ پیروئ دعوی کوونکی وُو خو په شرک کښے اخته شوی وُو.

[۸۰] دَ دے دا مطلب نهٔ دے چه سړے دِ بس شرک نهٔ کوی او نور ټول ګناهونه دِ دَ زړهٔ دا خلاصه کوی. بلکه دَ دے مطلب دا دے چه شرک دِ دے خلقو ډیر معمولی څیز ګڼړے وُو خو په اصل کښے دا دَ ټولو ګناهونو نه لویه ګناه ده، تر دے پورے چه دَ نورو ګناهونو معافی کیدے شی خو شرک یوه داسے لویه ګناه ده چه دا معاف کیدے هم نشی. دَ یهو دو

افْتَرٰٓى اِثْمًا عَظِيْمًا ﴿۴۸﴾ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ يُزَكُّوْنَ اَنْفُسَهُمْ ؕ بَلِ
اللّٰهُ يُزَكِّيْ مَنْ يَّشَآءُ وَلَا يُظْلَمُوْنَ فَتِيْلًا ﴿۴۹﴾ اُنْظُرْ كَيْفَ
يَفْتَرُوْنَ عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ ؕ وَكَفٰى بِهٖٓ اِثْمًا مُّبِيْنًا ﴿۵۰﴾ ع اَلَمْ تَرَ
اِلَى الَّذِيْنَ اُوْتُوْا نَصِيْبًا مِّنَ الْكِتٰبِ يُؤْمِنُوْنَ بِالْجِبْتِ

نو هغه ډیر غټ دروغ جوړ کړل او ډیره سخته د ګناه خبره ئې وکړه.

تا هغه خلق هم ولیدل چه د خپل ځان د پاکئ غټه دعوی کوی؟ حالانکه پاکوالے خو چه الله چاته وغواړی هغه له ئې ورکوی، او (دا دوئ ته چه پاکی نه ملاویږی نو په حقیقت کښ) په دوئ باندې د ذرے هومره ظلم هم نه کیږی. ګوره کنه، دوئ په الله باندې هم د دروغو تړلو نه نه منع کیږی او د دوئ د ښکاره ګنهګاریدو د پاره بس دا یوه ګناه کافی ده ع

آیا تا هغه خلق نه دے لیدلے چه د کتاب د علم نه ورته څه حصه ورکړے شوی ده او حال ئې دا دے چه جبت ۱

علمانو به د شریعت د وړو وړو حکمونو ډیر خیال ساتلو، بلکه د هغوئ ټول وخت به د هغے وړو وړو مسئلو په کچ میچ کښے تیریدلو کوم چه به د هغوئ فقها ؤ د نورو مسئلو نه را ایستلے وے، خو شرک ورته په نظر کښے ډیر سپک او وړوکے کار ښکاریدو، نه ئې ترڅپله د ځان بچ کولو فکر کولو او نه ئې خپل قوم د شرک د خیالاتو او د شرک د اعمالو نه د بچ کولو کوشش کولو او نه ورته د مشرکانو په دوستئ او ملګرتیا کښے څه ګناه ښکاریدله.

۱ د جبت اصلی معنی ده، بے حقیقته، بے اصله او بے فائده څیز. په اسلام کښے جادو، د غیبو خبرے وئیل، علم نجوم، فال نیول، منتر ټوټکے، څه څیز د ځان د پاره ښه یا بد ګڼړل او په ستورو پورے قسمتونه تړل او نورو هر ووهمی او خیالی خبرو ته "جبت" وئیلے شی. په حدیث کښے راغلی دی النیاقة والطرق والطیر من الجبت. یعنی د ځناورو په آوازونو پورے فال نیول، په زمکه باندې د ځناورو د خپو د نښو نه فال را ایستل او د فالونو نیولو نورے ټولے طریقے په "جبت" کښے شاملے دی. پس د "جبت" مطلب هغه دے چه په اردو (پښتو) ژبه کښے ورته وهم وائی او په انګریزی کښے ورته (Superstitions).

وَالطَّاغُوْتِ وَيَقُوْلُوْنَ لِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا هٰٓؤُلَآءِ اَهْدٰى مِنَ
الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا سَبِيْلًا ﴿٥١﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ لَعَنَهُمُ اللّٰهُ ۭ وَ
مَنْ يَّلْعَنِ اللّٰهُ فَلَنْ تَجِدَ لَهٗ نَصِيْرًا ﴿٥٢﴾ اَمْ لَهُمْ نَصِيْبٌ
مِّنَ الْمُلْكِ فَاِذًا لَّا يُؤْتُوْنَ النَّاسَ نَقِيْرًا ﴿٥٣﴾ اَمْ يَحْسُدُوْنَ
النَّاسَ عَلٰي مَآ اٰتٰىهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ ۚ فَقَدْ اٰتَيْنَآ اٰلَ

او طاغوت منی او دَ کافرانو په حق کښ وایی چه دَ مؤمنانو نه خو دوئ زیات په صحیح لار باندِ دی[۸۳] هم دغسے خلق دی چه په هغوئ باندِ الله لعنت کړے دے او په چا چه الله لعنت وکړی نو ستا دپاره هیڅوک مدد گار نه موندے۔ ولے په حکومت کښ دَ دوئ څه حصه ده څه؟ که چرے داسے وے نو دوئ به نو روخلقو له یو ماتہ پیسه هم نه وه ورکړی[۸۴]۔ یا بیا دوئ دَ خلقو سره په دے وجه حسد کوی چه الله په هغوئ باندِ خپل فضل ولے کړے دے[۸۵]؟ که داخبره وی نو دَ دے نه پرے هم خبر ئی چه مونږ خو دَ ابراهیمؑ

[۸۲] دَ تشریح دپاره وګوره سورۃ بقرۃ حاشیه نمبر ۲۸۶ او ۲۸۸۔

[۸۳] یهودی عالمان په ضد کښے دے حد تر رسیدلی وو چه کومو خلقو په محمد صلی الله علیه وسلم باندِ ایمان راوړے وو هغه به څه دَ عربو دَ مشرکانو نه زیات بے لارے کنړل او ویل به ئے چه دَ دوئ نه خو دا مشرکان زیات په صحیح لار باندِ دی۔ حالانکه هغوئ به بنکاره لیدل چه یوطرفته خالص سوچه توحید وو چه دَ شرک هیڅ شُبهه پکښے نه وه او بل طرفته بنکاره بُت پرستی وه چه په ټول بابُل کښے تر بده بده ځایه شوی وه۔

[۸۴] یعنی دَ خدائے دَ حکومت په څه حصه باندے دَ دوئ څه تبضه ده څه چه دوئ دا فیصله کوی چه څوک په نیغه لار دی او څوک په نیغه لار نه دی؟ که داسے وے نو دَ دوئ دلاسه به چا ته یو ماتہ پیسه هم نه وه نصیب شوی حکمه چه دَ دوئ دومره وړوکے زړه دے چه حق نه حق هم نشی ویلے۔ بل مطلب ئے دا هم کیدے شی چه ولے دَ دوئ سره دَ یو ملک حکومت دے نه شه چه په هغه کښے دوسره نور خلق شریک کیدل خوښ نه وی او دوئ ورته څه حصه نه ورکوی؟ دا ټوله خبره صرف دَ حق منلو دده او په هغه کښے هم دوئ دَ شومئ نیت نه کار اخلی۔

[۸۵] هرکله چه الله دَ دے نا اهلو خلقو پرځای په نورو خلقو خپل فضل او انعام وکړو او دَ عربو په امیانو کښے ئے یو عظیم الشان نبی پیدا کړو چه دَ هغه په وجه په عربو کښے روحانی، اخلاقی،

اِبْرٰهِيْمَ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَاٰتَيْنٰهُمْ مُّلْكًا عَظِيْمًا ﴿۵۴﴾
فَمِنْهُمْ مَّنْ اٰمَنَ بِهٖ وَمِنْهُمْ مَّنْ صَدَّ عَنْهُ ؕ وَكَفٰى
بِجَهَنَّمَ سَعِيْرًا ﴿۵۵﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِنَا سَوْفَ
نُصْلِيْهِمْ نَارًا ؕ كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُوْدُهُمْ بَدَّلْنٰهُمْ جُلُوْدًا
غَيْرَهَا لِيَذُوْقُوا الْعَذَابَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَزِيْزًا حَكِيْمًا ﴿۵۶﴾
وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ سَنُدْخِلُهُمْ جَنّٰتٍ

اولاد ته کتاب او حکمت ورکړو او مُلکِ عظیم مو[۸۶] ورله ورکړو، خو د هغوئ نه څه خلقو په هغے ایمان راوړو او څه خلقو تر مخ واړ[۸۷] وو، او د مخ اړونکو د پاره خو بس د دوزخ لمبے کافی دی. کومو خلقو چه زموږ د آیتونو منلو نه انکار کړے دے یقین لرئ چه هغوئ به موږ ته غورزوو او هر کله چه د هغوئ د بدن څرمنے خوړینے شی نو موږ به ورته د هغے بچائے نورے څرمنے د دے د پاره پیدا کړو چه د عذاب مزه ښه وڅکی، الله لوئ قدرت لری او د خپلو فیصلو په حکمت ښه پوهیږی. او کومو خلقو چه زموږ ته آیتونه ومنل او نیک عملونه ئے وکړل هغوئ به موږ داسے باغونو کښ ورداخل کړو

ذهنی او عملی ژوند پیدا شو او ټول عرب د ترقئ په طرف روان شو، نو اوس دوئ په دے وجه حسد کوی او دے حسد په وجه ئے دا خبرے د خولو نه راوځی.

[۸۶] د "ملکِ عظیم" نه مراد د دُنیا امامت او مشری ده او په ټول عالم باندے د مشرئ کولو اختیار حاصلول دی. څوک چه د الله د کتاب علم حاصل کړی او د هغے علم و حکمت مطابق عمل وکړی نو دا مشری ورته لازماً حاصلیږی.

[۸۷] یاد لرئ چه دا د بنی اسرائیلو د حسد جواب دے. د دے جواب مطلب دا دے چه تاسو آخر په کومه خبره باندے سوزئ؟ تاسو هم د ابراهیم اولاد یئ او دا بنی اسماعیل هم د ابراهیم اولاد دے. د ابراهیم سره چه موږ ته د دنیا د امامت کومه وعده کړی وه هغه خو د ابراهیم په اولاد کښے صرف د هغے خلقو د پاره وه چه زموږ د رالیږلی شوی کتاب او حکمت پیروی وکړی. دا کتاب او حکمت اول موږ تاسو ته رالیږلے وو خو دا ستاسو خپل نالائقتوب وو چه تاسو تر مخ واوړ وو. اوس هم هغه څیز موږ بنی اسماعیل له ورکړے دے او دا د هغوئ خوش نصیبی ده چه هغوئ پر ایمان راوړے دے.

تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ؕ لَهُمْ فِيْهَآ
اَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ ز وَّنُدْخِلُهُمْ ظِلًّا ظَلِيْلًا ﴿۵۷﴾
اِنَّ اللّٰهَ يَاْمُرُكُمْ اَنْ تُؤَدُّوا الْاَمٰنٰتِ اِلٰٓى اَهْلِهَا ۙ وَ
اِذَا حَكَمْتُمْ بَيْنَ النَّاسِ اَنْ تَحْكُمُوْا بِالْعَدْلِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ
نِعِمَّا يَعِظُكُمْ بِهٖ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ سَمِيْعًا بَصِيْرًا ﴿۵۸﴾

چه لاندې به ترولے بهيږي، هلته به هميشه هميشه وسيږي، او پاکے بيبيانے به ورته ملاوشي او موږ به ئے په درنو سورو کښ ساتو۔

اے مسلمانانو، الله تاسو ته حکم کوي چه امانتونه د امانت خاوندانو ته حواله کړئ، او کله چه د خلقو په مينځ کښ فيصله کوئ نو په انصاف سره[88] فيصله کوئ، الله تاسو ته ډير ښه نصيحت کوي او دا يقيني ده چه الله هر څه اوري او هر څه ويني۔

[88] يعني تاسو د هغے بد وکارونو نه ځان ساتئ کوم چه بني اسرائيلو کول۔ د بني اسرائيلو په بنيادي غلطيو کښے يوه غلطي دا وه چه هغوئ د خپل تنزل په زمانه کښے امانتونه، يعني د ذمه دارئ عهدے او مذهبي مشري او د قومي سرداري مرتبے (Positions of Trust). دا سے خلقو ته ورکول شروع کړل چه نااهله، کمے حوصلے والا، بد اخلاقه، خيانتکار او بدکاره وو۔ نتيجه ئے دا شوه چه د بدانو خلقو په مشرئ کښے ټول قوم په خرابيدو شو۔ مسلمانانو ته دا نصيحت کيږي چه تاسو دا سے ونه کړئ، امانتونه هغه خلقو ته حواله کړئ چه په هغوئ کښے د امانت د بوج د وچتولو صلاحيت وي۔ د بني اسرائيلو دويمه لويه کمزوري دا وه چه هغوئ د انصاف نه لاس وينځلي وو۔ هغوئ به د خپلے ذاتي او قومي غرضونو د پاره په آسانه خپل ايمانونه بربا د ول۔ ښکاره به په ضد ټينګ ولاړ وو۔ د انصاف په مرئ باندې به ئے ښه په راستئ چاره رانبکله۔ د هغوئ د بے انصافئ بد حال په هغه زمانه کښے پخپله مسلمانانو ته معلوم شوے وو۔ يو طرفته د هغوئ وړاند د محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم او په هغه باند د ايمان راوړونکو پاک ژوند وو۔ بل طرفته هغه خلق وو چه د بتانو عبادت به ئے کولو، لونړه به ئے ژوندئ ښخه ولے، د ميرنئ ميندو سره به ئے نکاحونه کول، او د کعبے نه به ئے چاپيره په لغړه طواف کولو۔ دے تش په نوم اهل کتابو به دے دويئے ډلے له په اوله ډله باندې ترجيح ورکوله او په دے خبره کولو باندې به هيڅ نه شرميدل چه د اولے ډلے په مقابله کښے دا دويمه ډله زياته په صحيح لار باندې ده۔ الله تعالى اوس

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ ۖ فَإِنْ تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ

اے هغه خلقو چه ایمان مو راوړے دے، حکم منئ د الله او حکم منئ د رسول او د هغے خلقو منئ چه په تاسو کښ حاکمان وی، بیا که ستاسو په منځ کښ په څه خبره باندِ جګړه راشی نو هغه د الله او د رسول[89] طرفته واړوئ

مسلمانانو ته دا نصیحت کوی چه تاسو چرته داسے بے انصافی ونه کړئ، که د چا سره مو دوستی وی او که دښمنی، په هر حال کښے چه خبره کوئ نو د انصاف خبره کوئ او کله چه فیصله کوئ نو په انصاف ئے کوئ۔

[89] دا آیت د اسلام د مذهبی نظام او د شریک ژوند تیرولو او د سیاسی نظام بنیاد دے او د اسلامی ریاست د دستور اولنئ دفعه ده۔ په دے کښے دا لاندینی مستقل اصول دی:

(۱) په اسلامی نظام کښے په حقیقت کښے حکم د الله منلے کیږی۔ یو مسلمان د ټولو نه اول د خدائے بنده دے، بیا هر څه چه دے هغه د دے نه روستو دے۔ هر مسلمان به ځان له په خپل ژوند کښے د خدائے فرمان منی او د هغه وفادار بنده به وی او دغه شان ټول مسلمانان به په شریکه هم د خدائے فرمان منی او د هغه وفادار بندګان به وی۔ نورے ټولے خبرے به هله منظور وی چه هغه د خدائے د حکم مطابق وی۔ هغه فرمان او حکم به هیڅ رے نشی منلے کیدے چه هغه د خدائے د اطاعت نه مخالف وی ځکه چه د مسلمان دپاره اصلی او بنیادی اطاعت د الله اطاعت دے۔ هم دا خبره نبی صلی الله علیه وسلم په دے الفاظو کښے فرمائیلی ده چه لا طاعة لمخلوق فی معصیة الخالق۔ چه مخلوق به هیڅ داسے حکم نه منی چه د خالق نافرمانی پکښے راځی۔

(۲) په اسلامی نظام کښے دویم بنیاد د رسول اطاعت دے۔ دا څه مستقل ذاتی اطاعت نه دے بلکه د خدائے د اطاعت کولو یو عملی شکل دے۔ د رسول خبره په دے وجه منلے کیږی چه هم دا یوه داسے محکمه او مضبوطه واسطه ده چه د دے په ذریعه مونږ ته د خدائے تعالی حکمونه را رسیږی۔ مونږ ته د خدائے اطاعت صرف په دے طریقه کولے شو چه د رسول اطاعت وکړو۔ د خدائے هر یو داسے اطاعت چه د رسول د واسطے نه بغیر وی هغه معتبر نه دے، او د رسول د اطاعت نه مخ اړول د خدائے خلاف بغاوت او سرکشی ده۔ دا خبره په دے حدیث کښے بنه واضحه شوی ده چه من اطاعنی فقد اطاع الله ومن عصانی فقد عصی الله۔ "چا چه زما اطاعت وکړو هغه د خدائے اطاعت وکړو او چا چه زما نافرمانی وکړه هغه د خدائے نافرمانی وکړه۔" او هم دا خبره مخکښے په قرآن کښے بنه په تفصیل سره را روانه ده۔

(۳) د دے دوو خبرو منلو نه روستو په اسلامی نظام کښے چه کومه دریمه خبره منل په مسلمانانو باندِ واجبه ده هغه د هغے "حاکمانو" اطاعت دے چه هغه د مسلمانانو نه وی۔ په "اولی الامر" کښے هغه ټول خلق شامل دی چه د مسلمانانو د اجتماعی کارونو سربراهان وی، که هغه ذهنی او فکری کارکونکی عالمان وی، یا سیاسی رهنمایان وی، یا د ملک انتظام کونکی حاکمان وی، یا عدالتی فیصلے کونکی منصفان وی، یا د کلو محلو مشران وی۔ غرض دا چه څوک په هر حیثیت سره د مسلمانانو حاکم وی هغه د اطاعت

حقدار دے، دَ هغهٔ په مخالفت سره دَ مسلمانانو په اجتماعي ژوند کښې خلل اچول درست نهٔ دي. خو دا شرط پکښې دے چه هغه دَ مسلمانانو نه وي او دَ خدائے او دَ رسول منونکے وي. دا دواړه شرطونه دَ اطاعت دپاره لازمي شرطونه دي، او دا نهٔ یواځے په دے آیت کښې ذکر شوي دي بلکه په حدیث کښې نبي صلی الله علیه وسلم بنهٔ په تفصیل سره بیان کړي دي. مثلاً دا لاندې حدیث وګوره.

السمع والطاعة على المرء المسلم في ما احب وكره مالم يؤمر بمعصية فاذا امر بمعصية فلا سمع ولا طاعة.
(بخاري ومسلم)

په مسلمانانو باندې لازم دي چه دَ خپل حاکم خبره واوري او وے منی که دده خوښه وي او که نهٔ وي خوښه، ترڅو پورے چه ئے ورته دَ ګناه حکم نهٔ وي کړے. او کله چه ئے ورته دَ ګناه حکم وکړو نو بیائے نهٔ خبره اوریدل پکار دي او نهٔ ئے منل پکار دي.

لا طاعة في معصية، انما الطاعة في المعروف (بخاري ومسلم)

دَ خدائے او دَ رسول په نافرمانۍ کښې اطاعت نشته، اطاعت په "معروف" یعنی نیکۍ کښې دے.

يكون عليكم امراء تعرفون وتنكرون فمن انكر فقد برئ ومن كره فقد سلم ولكن من رضي وتابع فقالوا افلا نقاتلهم؟ قال لا ما صلوا.
(مسلم)

نبيؐ فرمائیلي دي چه په تاسو باندې به داسے خلق هم حکومت کوي چه ځنے خبرے به ئے تاسو ته دَ نیکۍ ښکاري او ځنے دَ بدي. نو چا چه دَ هغوئ په بد وکارونو باندې ناراضګي ښکاره کړه نو هغه خلاص شو. او چا چه پرې ناخوښي ښکاره کړه هغه هم بچ شو. خو که څوک پرې راضي شو او ورپسے روان شو نو هغه ګیر شو. صحابو تپوس وکړو چه دَ داسے حاکمانو وخت راشي نو جنګ ورسره نهٔ کوو؟ نبيؐ وفرمائیل چه نهٔ ترڅو چه هغوئ مونځ کوي.

یعنی مونځ پریښودل به داسے علامه وي چه صحابه ترې دا معلومیږي چه دے دَ خدائے او دَ رسول دا طاعت نه بهر شوے دے، نو بیا به دَ هغه خلاف کوشش کول صحیح وي.

شرار ائمتكم الذين تبغضونهم ويبغضونكم وتلعنونهم ويلعنونكم قلنا يا رسول الله افلا ننابذهم عند ذلك؟ قال لا مالا اقاموا فيكم الصلوٰة، ما لا اقاموا فيكم الصلوٰة. (مسلم)

نبيؐ فرمائي چه ستاسو دَ ټولو نه بد سرداران هغه دي چه ستاسو ورته په زړهٔ کښې بغض وي او دَ هغوئ تاسو ته بغض وي تاسو په هغوئ لعنت وائي او هغوئ په تاسو لعنت وائي. صحابو عرض وکړو چه اے دَ الله رسوله! کله چه داسے حالت راشي نو مقابلے له ورته نهٔ راپاسو؟ نبيؐ وفرمائیل چه نهٔ ترڅو چه هغوئ ستاسو په منځ کښې مونځ قائمه وي نهٔ ترڅو چه هغوئ ستاسو په منځ کښې مونځ قائمه وي.

په دے حدیث کښې دا پاسنے شرط نور هم زیات واضح کړے شوے دے. دَ هغه بل حدیث نه دا ګمان کیدے شو چه که هغوئ ځان له ذاتي طور دَ مونځ پابند وي نو دَ هغوئ خلاف بغاوت نشي کیدے. لیکن دَ دے حدیث نه دا پته لګي چه دَ مونځ کولو نه مراد په اصل کښې په مسلمانانو کښې دَ مونځ نظام قائمه ول دي. یعنی یواځے دا کافي نهٔ ده چه هغوئ پخپله دَ مونځ پابند وي، بلکه دا ورسره هم ضروري ده چه هغوئ کوم حکومت

چلوی په هغه کښې دِ کم از کم دَ مونځ قایمو لو انتظام وی. دا به دَ دے خبرے علامه وی چه دَ هغوئ حکومت دَ اصولو په اعتبار سره یو اسلامی حکومت دے. او که نه چرے دَ مونځ قایمه ولو انتظام پکښې هم نه وی نو بیا به دا مطلب وی چه دَ هغوئ حکومت دَ اسلام نه په ډډه شوے دے، دَ هغوئ دَ بدلولو کوشش به دَ مسلمانانو دپاره جائز وی. هم دا خبره په یو بل روایت کښې دا سے بیان شوی ده چه "نبی صلی الله علیه وسلم زمونږ نه دَ فور وخبرو سره دے خبرے وعده هم واغتله چه ان لاننازع الامر اهله الا ان تروا کفرا بواحا عندکم من الله فیه برهان، یعنی دا چه "مونږه به دَ خپلو سردارانو او حاکمانو سره جګړه نه کوو، خو که دَ هغوئ په کارونو کښې مونږ دا سے ښکاره کفر ولیدو چه هغه زمونږ دپاره دَ خدائے په دربار کښې یو دلیل وی نو بیا دَ جنګ کولو اجازت دے؟ (بخاری و مسلم)

(۴) څلورم مستقل اصول په دے آیت کښې دا دے چه په اسلامی نظام کښې دَ خدائے حکم او دَ رسول طریقه یو بنیادی قانون او آخری سند (Final Authority). دے. دَ مسلمانانو په منځ کښې، یا دَ حکومت او دَ رعیت په منځ کښې چه په څه خبره ورائے راشی نو فیصله به په قرآن او په سنت کولے شی، او چه څه فیصله وشی نو هغه به ټول منی. دغه شان دَ ژوند په ټولو مسئلو کښې دَ خدائے کتاب او دَ رسول سنت آخری سند منل، دَ اسلامی نظام حکومت یو لازمی خاصیت دے په کوم نظام کښې چه کتاب الله او سنت رسول الله آخری سند نه وی هغه به په یقین سره یو غیر اسلامی نظام وی.

څنے خلق دلته دا شبه کوی چه دَ ژوند دَ ټولو مسئلو فیصلے په کتاب الله او سنت رسول الله کښې څنګه وګورو چه په هغے کښې دَ ښار دَ صفائی انتظام، دَ ریلوائی او دَ ډاک خانے قاعدے ضابطے او نور دا سے بے شمیره کارونه هډو شته دے نه. لیکن حقیقت دا دے چه دا شبه هله پیدا کیږی چه سړے دَ دین دَ اصولو نه بیخی ناخبره وی. دَ مسلمان او دَ کافر په منځ کښې فرق دا دے چه کافر ځان بالکل آزاد کړی او مسلمان په اصل کښې ځان بنده ګڼړی او دَ بنده کیدو نه روستو دَ خپل رب په ښودلی شوی دائره کښې دننه دَ آزادئ نه فائده اخلی. کافر دَ خپلو ټولو معاملاتو فیصلے دَ خپلو جوړ شوو اصولو او قانونو مطابق کوی، ځان هډو دَ خدائے دَ فیصلے حاجتمند نه ګڼړی. دَ دے نه برعکس مسلمان پخپله هره معامله کښې دَ ټولو نه اول دَ خدائے او دَ هغه دَ رسول (صلی الله علیه وسلم) طرفته رجوع کوی، چه دَ هغه ځائے نه څه حکم ملاؤ شی نو هغه په سرسترګو منی، خو که څه حکم ملاؤ نشی نو بیا خپل ځان آزاد ګڼړی، خو دَ دے آزادئ په حقله هغه دا وائی چه په دے معامله کښې خدائے او دَ هغه رسول حکم نه دے کړے نو دا یو دلیل دے زمونږ دپاره چه په دے مسئله کښې خدائے او دَ هغه رسول مونږ نه آزادی راکړی ده.

اِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ ذٰلِكَ خَيْرٌ وَّ
اَحْسَنُ تَاْوِيْلًا ﴿۵۹﴾ ع اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ يَزْعُمُوْنَ اَنَّهُمْ
اٰمَنُوْا بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ وَمَآ اُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ يُرِيْدُوْنَ
اَنْ يَّتَحَاكَمُوْٓا اِلَى الطَّاغُوْتِ وَقَدْ اُمِرُوْٓا اَنْ يَّكْفُرُوْا

کہ تاسو واقعی په الله او په ورځ د آخرت باندِ ایمان لرئ۔ دا یوه صحیح طریقه ده او د انجام په اعتبار سره هم بهتره ده[۹۰] ع

اے نبی، تاؤ نه لیدل. هغه خلق چه دعوی دا کوی چه موږ ایمان راوړے دے په هغه کتاب باندِ چه په تا نازل کړے شوے دے او په هغه کتابونو باندِ چه ستا نه ړومبی نازل کړے شوی وو، خو غواړی دا چه خپلے معاملے د فیصلے کولو د پاره طاغوت ته وړاندِ کړی، حالانکه هغوئ ته دا حکم شوے وو چه د طاغوت سره

---

[۹۰] قرآن مجید یو اځے د قانون کتاب نه دے بلکه دا د تعلیم او د وعظ و نصیحت کتاب هم دے، دغه وجه ده چه په اوله فقره کښے کوم قانونی اُصول بیان کړے شوی وو او س په دے دویمه فقره کښے د هغے حکمت او مصلحت بنائی په دے کښے دوه خبرے شوی دی؛ یوه دا چه چا ایمان راوړے وی د هغوئ د پاره لازمی ده چه په پاسنو څلورو واړو اُصولو باندِ عمل وکړی۔ چه یو سړے ځان ته مسلمان وائی او بیا په دے اصولو باندِ عمل نه کوی نو دا دواړه خبرے یو ځائے نشی جمع کیدے۔ دویمه دا چه مسلمانان په دے اُصولو باندِ خپل ژوند تیروی نو په دے کښے د هغوئ د پاره بهتری هم ده۔ په دُنیا کښے به په نیغه لار قائم وی او آخرت به ئے هم صحیح وی۔ دا نصیحت تیک د هغے تقریر نه روستو شوے دے چه په هغے کښے د یهودیانو په اخلاقی او دینی حالت باندِ تبصره کیدله۔ په دے کښے مسلمانانو ته یوه نرئ اشاره شوی ده چه ستاسو نه هغکښے امت د دین د دے اصولو نه مخ واړوو او د ترقئ د چت نه ښکته راپریوتل، نو د دے نه عبرت واخلئ۔ هر کله چه یوه ډله د خدائے کتاب او د هغه د رسول حکمونه شاته وغورزوی او په داسے سردارانو او مشرانو پسے روان شی چه د خدائے او د رسول حکم نه منی، او د خپل مذهبی پیشواګانو او سیاسی حاکمانو خبره بے سنده منی، نو هغه بیا د هغے خرابونه په هیڅ شان نشی بچ کیدے کومے خرابئ چه په بنی اسرائیلو کښے وے۔

بِهٖ ؕ وَيُرِيْدُ الشَّيْطٰنُ اَنْ يُّضِلَّهُمْ ضَلٰلًا بَعِيْدًا ﴿۶۰﴾ وَاِذَا
قِيْلَ لَهُمْ تَعَالَوْا اِلٰى مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ وَاِلَى الرَّسُوْلِ رَاَيْتَ
الْمُنٰفِقِيْنَ يَصُدُّوْنَ عَنْكَ صُدُوْدًا ﴿۶۱﴾ ۚ فَكَيْفَ اِذَآ اَصَابَتْهُمْ
مُّصِيْبَةٌۢ بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْهِمْ ثُمَّ جَآءُوْكَ يَحْلِفُوْنَ ۖ

کفر وکړی[۹۱] ـــــ شیطان دا غواړی چه دوئ د ښیغے لارے نه ډیر لرے بوځی۔ او هر کله چه ورته ووئیلے شی چه هغے څیز له راشئ چه خدائے نازل کړے دے او رسول له راشئ نو ته وینے چه دا منافقان ستا طرف ته د راتلونه ځان بچ کوی[۹۲]۔ بیا هغه وخت څه حال وی کله چه د دوئ د خپلو لاسونو مصیبت په دوئ راشی؟ هغه وخت دوئ تا له راځی او قسمونه خوری[۹۳]

[۹۱] دلته د "طاغوت" نه مراد هغه حاکم دے چه د خدائے د قانون نه بغیر د بل قانون مطابق فیصله کوی، او د دے نه مراد د عدالت هغه نظام دے چه نه د الله اقتدار اعلیٰ منی او نه د الله کتاب آخری سند منی۔ د دے آیت دا معنی بالکل صفا ده چه کوم عدالت طاغوتی عدالت وی هغے له فیصلے وړل د مؤمنانو کار نه دے او چه څوک په الله او د الله په کتاب باندِ ایمان لری د هغوئ د پاره دا ضروری ده چه د داسے طاغوتی عدالت منلو نه انکار وکړی۔ د قرآن د حکم مطابق په الله باندِ ایمان او د طاغوت سره کفر کول، دواړه ضروری دی، او خدائے او طاغوت دواړه په یو وخت منل منافقت دے۔

[۹۲] د دے نه دا معلومیږی چه دا د منافقانو عامه طریقه وه چه په کومه مقدمه کښے به ئے د کټے امید وو نو هغه مقدمه به ئے نبی صلی الله علیه وسلم له وړله او په کومه مقدمه کښے چه به د ییلات خطره وه نو هغه به ئے نبی له نه وړله او س هم د ډیرو منافقانو دا حال دے چه که د شریعت فیصله ئے په حق کښے راځی نو په سر ستر کوئے منی او که په شریعت کښے پرړاځی نو بیا هر هغه قانون، هر هغه رسم وریواج او هر هغه عدالت له خپله فیصله وړی چه د دهٔ پکښے دا امید وی چه فیصله به د دهٔ په رضا وشی۔

[۹۳] غالباً د دے نه دا مراد دے چه هر کله د دوی د منافقت د یو کار پته مسلمانانو ته ولګی او د دوئ سره دایره شی چه او س به را نه تپوس کوی او سزا به را کوی نو په دغه وخت کښے دوئ د خپل ایمان د ثابتو لو د پاره قسمونه خوری۔

بِاللّٰهِ اِنْ اَرَدْنَآ اِلَّآ اِحْسَانًا وَّتَوْفِيْقًا ﴿۶۲﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ يَعْلَمُ
اللّٰهُ مَا فِيْ قُلُوْبِهِمْ ق فَاَعْرِضْ عَنْهُمْ وَعِظْهُمْ وَقُلْ لَّهُمْ
فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ قَوْلًا ۢ بَلِيْغًا ﴿۶۳﴾ وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا
لِيُطَاعَ بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ وَلَوْ اَنَّهُمْ اِذْ ظَّلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ جَآءُوْكَ
فَاسْتَغْفَرُوا اللّٰهَ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُوْلُ لَوَجَدُوا اللّٰهَ
تَوَّابًا رَّحِيْمًا ﴿۶۴﴾ فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُوْنَ حَتّٰى يُحَكِّمُوْكَ
فِيْمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوْا فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا

او وائي چه په خدائے مودِ قسم وی مونږ خو صرف ښیګړه غوښتل او دا مونیت وُو چه دَ دواړو ډلو په منځ کښ په څه طریقه موافقت پیدا شي ـــ څه چه دَ دوئ په زړونو کښ دی هغه الله ته معلوم دی، تهٔ دَ هغوئ مخے له مهٔ ورځه، هغوئ پوهه کوه او دا سے نصیحت ورته کوه چه زړونو ته یئے کوز شي. (هغوئ ته اُووایه) مونږ ه چه هر یو رسول رالیږلے دے نو دَ دے دپاره مو رالیږلے دے چه دَ خدائے په حکم سره دَ هغه اطاعت وُکړے[۹۴] شي. که دوئ دا سے کار کړے وے چه کوم وخت ئے په ځانونو باندِ زیاتے کړے وُو او تاله راغلی وے او دَ الله نه ئے معافی غوښتلی وے او رسول هم دَ هغوئ دپاره د معافئ درخواست کړے وے، نو یقیناً چه الله به ئے بخښونکے او رحم کونکے موندلے وے. نا، اے محمدﷺ، ستا په رب م دِ قسم وی چه دوئ هیڅکله تر هغے مومنان نشی کیدے تر څو چه دوئ په خپلو اختلافاتو کښے تا فیصله کونکے وُ نهٔ منی او بیا چه تهٔ څهٔ فیصله وُکړے نو په هغے باندِ په خپلو زړونو کښے څه

[۹۴] یعنی دَ خدائے دَ طرفنه رَسول دَ دے دپاره نهٔ راځی چه بس دَ رسول په رسالت باندِ ایمان راوړه او بیا چه زړهٔ دِ دَ چا خبره منل غواړی هغه منه. بلکه د رسول دَ رسالت دَ راتلو غرض دا وی چه دَ ژوند دپاره کوم قانون هغهٔ راوړے دے، نو ټول قانونونه به پریږدے او صرف دَ هغے پیروی به کوے، او دَ خدائے دَ طرفنه چه هغهٔ کوم حکمونه راوړی دی نو نور ټول حکمونه به پریږدے او صرف دَ خدائے په حکمونو باندِ به عمل کوے که چا دا سے دَ نهٔ کړل نو بیا رسول صرف دَ یو رسول په حیثیت سره منل هیڅ مطلب نهٔ لری.

قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا ﴿٦٥﴾ وَلَوْ اَنَّا كَتَبْنَا عَلَيْهِمْ اَنِ اقْتُلُوْٓا
اَنْفُسَكُمْ اَوِ اخْرُجُوْا مِنْ دِيَارِكُمْ مَّا فَعَلُوْهُ اِلَّا قَلِيْلٌ
مِّنْهُمْ ؕ وَلَوْ اَنَّهُمْ فَعَلُوْا مَا يُوْعَظُوْنَ بِهٖ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ
وَاَشَدَّ تَثْبِيْتًا ﴿٦٦﴾ وَّاِذًا لَّاٰتَيْنٰهُمْ مِّنْ لَّدُنَّآ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿٦٧﴾
وَّلَهَدَيْنٰهُمْ صِرَاطًا مُّسْتَقِيْمًا ﴿٦٨﴾ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ

تنکسیارانه ولی، بلکه پوره پوره ئے ومنی[95] که مونږه دوئ ته حکم کړے وے چه خپل ځانونه
قتل کړئ یا د خپلو کورونو نه بهرو ځئ نو په دوئ کښ به ډیرو کمو خلقو په دے عمل کړے وو[96]۔
حالانکه دوئ ته چه کوم نصیحت کیږی که دوئ په هغے عمل کولے نو دا به د دوئ د پاره زیات د
بهترئ او زیات د مضبوطیا سبب[97] وے او چه دا سے ئے کولے نو مونږ به ورله د خپل طرفنه
ډیر اجر ورکولے او بیغه لار به مو ورته خودلے[98]۔ څوک چه د الله او د رسول

[95] د دے آیت حکم صرف د نبی د ژوندۍ پورے نه دے بلکه د قیامته پورے دے۔ څه چه د الله د طرفنه نبی
صلی الله علیه وسلم راوړی دی او هغه چه په کومه طریقه د الله په حکم باندې عمل کړے دے هغه د مسلمانانو
د پاره یو سند دے او د دے سند په منلو یا نه منلو باندې د سړی د مؤمن کیدو او د نه مؤمن کیدو فیصله ده۔
په حدیث کښے دا خبره نبی صلی الله علیه وسلم په دے الفاظو فرمائیلے ده چه لا یؤمن احدکم حتی یکون هواه تبعا
لما جئت به۔ په تاسو کښے یو سړے تر هغے مؤمن نشی جوړیدے تر څو چه د هغه د نفس خواهشات د هغے طریقے
تابع نه وی کومه طریقه چه ما راوړی ده۔

[96] یعنی هر کله چه د هغوئ دا حال دے چه د شریعت په پابندئ کښے لږ شان نقصان او لږ شان
تکلیف هم نشی برداشت کولے نو د هغوئ نه دلویے قربانئ اُمید هیڅکله نشی کیدے۔ که د ځان مړ کولو یا د کور
پریښودلو مطالبه تر وشوه نو دوئ به وتښتی او د ایمان پځائے به د کفر په لاره روان شی۔

[97] یعنی که دے خلقو شک نه کولے او بنه په اطمینان سره په رسول پسے کلک روان شوی وے نو
ټول ژوند به ئے د شک شبے نه پاک وے۔ د هغوئ خیالات، اخلاق او هر کار به مضبوط وے او د نیغے
لارے ټول برکتونه به ورته حاصل شوی وے۔ کوم سړے چه په شک کښے وی، کله په یوه لار ځی او
کله په بله لار، او د یوے لارے په حقله ئے دا اطمینان نه وی چه دا صحیح ده نو د هغه ټول ژوند دا سے
تیریږی لکه د اُوبو د پاسه نقشه، او ټول کوششونه ئے بے فائدے شی۔

فَاُولٰٓئِكَ مَعَ الَّذِيْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِّنَ النَّبِيّٖنَ وَ
الصِّدِّيْقِيْنَ وَ الشُّهَدَآءِ وَالصّٰلِحِيْنَ ۚ وَحَسُنَ اُولٰٓئِكَ
رَفِيْقًا ؕ ﴿۶۹﴾ ذٰلِكَ الْفَضْلُ مِنَ اللّٰهِ ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ عَلِيْمًا ﴿۷۰﴾ ع



حکمونه مَنی هغه به دَ هغه خلقو سره وی چه الله پر نعمتونه وَرَولی دی یعنی پیغمبرانه صدّیقان، شهیدان او صالحان.[۹۹] څنګه بنه دی دا ملګری چه دَ چا نصیب شی.[۱۰۰] دا هغه حقیقی فضل دے چه دَ الله دَ طرفنه ملاویږی او دَ حقیقت پیژندلو دپاره بس دَ الله علم کافی دے ع

[۹۸] یعنی که هغوئ شک پریښودلے وے او بنه په یقین سره ئے دَ رسول دَ اطاعت فیصله کړے وے نو دَ خدائے په فضل به هغوئ ته نیغه لار صفا ښکاره شوی وه او دا به ورته معلومه شوی وه چه خپل منزل دَ رسید ودپاره په کومه لار قدم واخلی۔

[۹۹] صدّیق هغه څوک دے چه ډیر رښتینے وی، په هغه کښے رښتینولی او حق پرستی کمال درجے ته رسیدلی وی، په خپله هره معامله او په هر کار کښے سیده او صفا لار اختیاره وی، هر وخت دَ زړه دَ خلاصه دَ حق ملګرے وی، او څه چه دَ حق نه خلاف وی دَ هغے په مقابله کښے مضبوط ولاړ وی یوه ذره کمزوری نه ښکاره کوی۔ دومره سپین صفا او بے داغه انسان وی چه خپل پردے هر څوک تر دَ رښتیاؤ نه بغیر دَ بلے خبرے اُمید نه لری۔

دَ شهید معنی ګواه ده۔ شهید هغه چا ته وائی چه په خپل ایمان باندِ خپل عمل ګواه کړی۔ دَ خدائے په لار کښے چه څوک سرور کوی هغه ته هم شهید په دے وجه وائی چه هغه په خپل سرور کولو دا ثابته کړی چه په کوم څیز باندِ هغه ایمان راوړے وُو هغه ئے په رښتیا سره حق منلے وُو او دومره ورته ګران وُو چه دَ هغے دپاره ئے دَ سر قربانولو نه هم مخ وانه ړوُو۔ هغه رښتینو خلقو ته هم شهید وئیلے کیږی چه دومره پرِ دَ خلقو باوروی چه هغوئ په څه څیز باندِ ګواهی وکړی نو دَ هغے په حقیقت او صحیح والی کښے بیا څوک خبرے نه کوی۔

صالح هغے سړی ته وائی چه په خپله عقیده او نیت کښے، په خپله وینا او کار کښے په نیغه لار باندِ روان وی او په خپل ټول ژوند کښے ئے دَ نیکئ لار اختیار کړی وی۔

[۱۰۰] یعنی هغه سړے خوش قسمته دے، چه په دُنیا کښے ورته داسے ملګری ملاؤ شی او په آخرت کښے ورته هم دَ داسے خلقو ملګرتیا نصیب شی۔ چه یو سړے نه پوهیږی خو هغه بیله خبره ده، او که نه څه لږ ډیر پوهیږی نو په حقیقت کښے دَ بد خویه او دَ بد عمله خلقو سره ژوند تیرول خو په دنیا کښے یو دردناک عذاب دے پاتے شو لا په آخرت کښے چه هلته هم سړے دَ بد عملو سره ملګرے شی نو بیا ډیره ګرانه ده۔ دغه وجه ده چه دَ الله دَ نیکو بندګانو همیشه دا آرزو وی چه دَ نیکانو

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا خُذُوْا حِذْرَكُمْ فَانْفِرُوْا ثُبَاتٍ اَوِ انْفِرُوْا
جَمِيْعًا ﴿۷۱﴾ وَاِنَّ مِنْكُمْ لَمَنْ لَّيُبَطِّئَنَّ ۚ فَاِنْ اَصَابَتْكُمْ مُّصِيْبَةٌ
قَالَ قَدْ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيَّ اِذْ لَمْ اَكُنْ مَّعَهُمْ شَهِيْدًا ﴿۷۲﴾ وَلَئِنْ
اَصَابَكُمْ فَضْلٌ مِّنَ اللّٰهِ لَيَقُوْلَنَّ كَاَنْ لَّمْ تَكُنْۢ بَيْنَكُمْ

اے هغه خلقو چه ایمان مو راوړے دے، د مقابلے د پاره هر وخت تیار وسئ[101]، بیا موقعے ته ګورئ که ځان له ځان له د ډلو په شکل کښ وزئ او که په جمع وزئ. او په تاسو کښ یو نیم تن داسے هم شته چه د جنګ نه ځان بچ کوی[102]، که په تاسو څه مصیبت راشی نو وائی چه خدائے په ما ډیر فضل وکړو چه زه د دے خلقو سره لا نه ړم، او که د الله د طرفنه په تاسو فضل وشی نو وائی ——— او داسے وائی لکه چه تاسو او د هغه په منځ کښ

خلقو سره ئے ژوند نصیب شی او چه د مرګ نه روستو هم د نیکانو خلقو سره یو ځائے وی.

[101] یاد لرئ چه دا خطبه په هغه وخت کښے نازله شوی وه کله چه د اُحد د شکست د وجے نه د خوا وشا د قبائلو حوصلے وچتے شوی وے او مسلمانان د هر طرفنه په خطرو کښے ګیر شوی وو. هره ورځ به دا خبرونه راتلل چه د فلانئ قبیلے نیت مسلمانانو ته خراب دے، فلانئ قبیله دشمنئ ته تیاره ده، په فلانی ځائے باندے د حملے کولو تیاره کیږی. د مسلمانانو سره به په مخه دوکے کیدلے. مسلمانانو تبلیغ کونکوله به په دوکه دعوت ورکړے شو او بیا به قتل کړے شو. د مدینے د حدونو نه بهر هغوئ په امن نه شو ګرځیدلے. په دے حالا تو کښے مسلمانانو له سخت کوشش کول پکار وو چه د دے ډیرو خطرو د وجے نه د اسلام دا تحریک ختم نشی.

[102] یو مطلب ئے دا هم دے چه پخپله خو ځان بچ کوی، خو د نورو حوصلے هم خرابه وی او هغوئ ته داسے خبرے کوی چه هغوئ هم د ډوئ پشان جهاد له لاړ نشی او په ځائے کیږی.

وَبَيْنَهٗ مَوَدَّةٌ يّٰلَيْتَنِيْ كُنْتُ مَعَهُمْ فَاَفُوْزَ فَوْزًا عَظِيْمًا ﴿٧٣﴾
فَلْيُقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ الَّذِيْنَ يَشْرُوْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا
بِالْاٰخِرَةِ ۭ وَمَنْ يُّقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَيُقْتَلْ اَوْ يَغْلِبْ فَسَوْفَ
نُؤْتِيْهِ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿٧٤﴾ وَمَا لَكُمْ لَا تُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ
وَالْمُسْتَضْعَفِيْنَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاۗءِ وَالْوِلْدَانِ الَّذِيْنَ
يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَآ اَخْرِجْنَا مِنْ هٰذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ اَهْلُهَا ۚ وَاجْعَلْ
لَّنَا مِنْ لَّدُنْكَ وَلِيًّا ۙ وَّاجْعَلْ لَّنَا مِنْ لَّدُنْكَ نَصِيْرًا ﴿٧٥﴾

د دوستۍ څه تعلق هډ وۏ نږ — چه هغۍ افسوس کړۍ ده دوئ سره وے نو لوئ کار به شوے وۏ۔ (دا سے خلق د خبرشی چه) د الله په لار کښ هغے خلقو له جنګیدل پکار دی چه د آخرت د ژوند دپاره د دُنیا ژوند خرڅوی،[۱۰۳] بیا چه څوک د الله په لار کښے وجنګیږی نو که وُوژلے شی او که غالب شی نو هغه له به مونږ ضرور لوئ اجر ورکوو۔ آخر څه وجه ده چه تاسو د الله په لار کښ د هغے بے وسه نارینو، زنانو او وړو وړوماشومانو د خاطره جنګ نه کوئ چه د کمزورئ په وجه پرے ظلم کیږی او هغوئ فریاد کوی چه اے خدایه مونږ دے کلی نه د وبا سے چه خلق ئے ظالمان دی، او د خپل طرفنه زمونږه څوک مدګرے او مدد ګار پیدا کړے[۱۰۴]

[۱۰۳] یعنی د الله په لار کښے جنګیدل د دُنیا دار و خلقو کار نه دے۔ دا د دا سے خلقو کار دے چه د هغوی مقصد صرف د الله رضا حاصلول وی، چه په الله او په آخرت باندے پوره باور لری، او په دُنیا کښے خپلے هرے خوشحالئ او خپلے هرے فائدے تر بانو لو ته په دے اُمید باندے تیاروی چه خپل رب به تر راضی شی او که په دُنیا کښے نه وی نو په آخرت کښے به خامخا د تر بانو فائدے[۱] هغه تر ملاؤ شی۔ پاتے شو هغه خلق چه په اصل کښے ورته د دُنیا فائدے لوئ بنکاری، نو په حقیقت کښے دا لاره د هغوئ دپاره نږدے۔

[۱۰۴] اشاره ده هغے ماشومانو، زنانو او نارینو ته چه په مکه کښے او د عرب په نورو قبائلو کښے ئے اسلام قبول کړے وُو او ظلم به پرکیدو خو نه ئے هجرت کولے شو او نه ئے خپل ځان د ظلم نه پرے کولے شو۔ په دے غریبانو به هر قسم ظلم کیدو او هغوئ به د دُعا کانے غوښتلے چه څوک داسے وے چه مونږه د دے ظلم نه پرے کړی وے۔

اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۚ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا
يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ الطَّاغُوْتِ فَقَاتِلُوْٓا اَوْلِيَآءَ الشَّيْطٰنِ ۚ اِنَّ
كَيْدَ الشَّيْطٰنِ كَانَ ضَعِيْفًا ﴿۷۶﴾ ع اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ قِيْلَ
لَهُمْ كُفُّوْٓا اَيْدِيَكُمْ وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ ۚ فَلَمَّا
كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقِتَالُ اِذَا فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ يَخْشَوْنَ النَّاسَ كَخَشْيَةِ
اللّٰهِ اَوْ اَشَدَّ خَشْيَةً ۚ وَقَالُوْا رَبَّنَا لِمَ كَتَبْتَ

کومو خلقو چه دا ایمان لار اختیار کړی ده، هغوئ د الله په لار کښې جنګ کوی او کومو خلقو چه د کفر لار اختیار کړی ده، هغوئ د طاغوت په لار کښې جنګ کوی[۱۰۵]. نو د شیطان د ملګرو سره جنګ کوئ او یقین لرئ چه د شیطان د دوکے چلونه په حقیقت کښې ډیر کمزوری دی[۱۰۶] ع

تا هغه خلق هم ولیدل چه هغوئ ته وئیلے شوی وو چه خپل لاسونه و نیسئ او مونځ قایم کړئ او زکوٰة ورکوئ؟ اوس چه ورته د جنګ کولو حکم ورکړے شونو په هغوئ کښې د یوے ډلے دا حال دے چه د خلقونه داسے یریږی لکه څنګه چه د خدائے نه یریدل پکار دی یا څه لږ د دے نه هم زیات[۱۰۷]. او وائی چه خدایه دا په مونږ باندې

[۱۰۵] دا د الله صفا فیصله ده. د الله په لار کښې د دے غرض د پاره جنګ کول چه په زمکه باندې د الله دین قایم شی، دا د ایمان والو کار دے او څوک چه په حقیقت کښې مؤمن وی هغه به د دے کار نه هیچرے مخ وانه ړوی. او د طاغوت په لار کښې د دے غرض د پاره جنګ کول چه د خدائے په زمکه باندې د خدائے نه د باغیانو خلقو راج راشی، دا د کافرانو کار دے او یو ایمان والا سړے دا کار نشی کولے.

[۱۰۶] یعنی په ظاهره خو شیطان او د هغه ملګری ډیر په شان شوکت سره راوچتیږی او زبردستے دوکے او چلونه کوی، لیکن ایمان والو له نه د هغوئ د شان شوکت نه یره پکار ده او نه د هغوئ د دوکو نه. آخر انجام د هغوئ ناکامی ده.

[۱۰۷] د دے آیت درے مطلبونه دی او درے واړه په خپل خپل ځائے صحیح دی.

یو مطلب ئے دا دے چه اول دا خلق جنګ ته ډیر لیواله وو. هر وخت به یئ وئیل چه په مونږ ظلم کیږی، مونږ له تکلیف را کولے کیږی، دهلے کیږو، کنځے را ته کیږی، آخر مونږ به تر کو... پورے صبر کوو، مونږ له د د مقابلے کولو اجازت را کړے شی. په هغه وخت کښې به ورته دا وئیلے شو چه صبر کوئ او د مونځ او د زکوٰة په ذریعه لا د خپل ځان اصلاح کوئ، نو دوئ ته به دا د صبر او د برداشت

عَلَيْنَا الْقِتَالَ ۚ لَوْلَآ اَخَّرْتَنَآ اِلٰٓى اَجَلٍ قَرِيْبٍ ۗ قُلْ مَتَاعُ الدُّنْيَا
قَلِيْلٌ ۚ وَالْاٰخِرَةُ خَيْرٌ لِّمَنِ اتَّقٰى ۣ وَلَا تُظْلَمُوْنَ فَتِيْلًا ﴿۷۷﴾
اَيْنَ مَا تَكُوْنُوْا يُدْرِكْكُّمُ الْمَوْتُ وَلَوْ كُنْتُمْ فِيْ بُرُوْجٍ
مُّشَيَّدَةٍ ۗ وَاِنْ تُصِبْهُمْ حَسَنَةٌ يَّقُوْلُوْا هٰذِهٖ
مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ۚ وَاِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَّقُوْلُوْا هٰذِهٖ

ډ دَجنګ حکم ولے وَلیکو، ولے ډیر نور مهلت موښ له را نه کړو؟ دوئ ته وُوایه چه د دُنیا دَ ژوند سامان لږ دے، او آخرت دَ پرهیزګار سړی د پاره زیات بهتر دے او په تاسو باندې به دَ ذرے هومره ظلم هم نه کیږی ۔ پلټے شو مرګ، نو په هرځائے کښ چه تاسو یئ هغه به تاسو ته دَ رسی اګرکه په ډیرو مضبوطو قلاګانو کښ یئ ۔

که دوئ ته څه فایده ورسی نو وایئ چه دا د الله دَ طرفنه ده، او که څه نقصان ورسی نو وایئ چه دا

حکم کړان وُو ۔ خو چه اوس ورته دَ جنګ کولو حکم ورکړے شو نو هغه کسان چه اول جنګ ته لیوالے وُو په هغوئ کښے یوه ډله اوس دَ دُشمنانو دَ تعداد او دَ جنګ دَ خطرونه ډیریږی ۔

دویم مطلب ئے دا دے چه ترڅو پورے دَ دوئ نه دَ صبر او دَ زکوٰة او دَ دا سے بے خطره کارونو سوال نه کیدله او لا دَ جنګ خبره په مینځ کښے نه وه راغلے نو دوئ پاخه دیندار وُو ۔ خو اوس چه دَ حق د پاره دَ سر او دَ مال ورکولو کار شروع شو نو په دوئ باندې ډیر ګران راغلل ۔

دریم مطلب ئے دا دے چه اول خو به دَ لوت مار او دَ خپلے مرضئ دَ جنګونو د پاره دوئ خپله ټوره هروخت په لاس کښے نیولے وے او شپه ورځ ئے دَ جنګ نه بغیر بل څه کار نه وُو ۔ په هغه وخت کښے مغزئ دَ دینے تویه ولو نه منع کړے شوی وُو او ورته ویلے شوی وُو چه دَ صبر او دَ زکوٰة په ذریعه دَ خپلو ځانونو اصلاح وکړئ ۔ اوس چه ورته دَ خدائے د پاره دَ توږے وَ چتو لو حکم وُشو نو هغه خلق چه دَ خپلے مرضئ په جنګ کښے ازمویان وُو، هغوئ دَ خدائے د پاره په جنګ کښے بزدله شو ۔ هغه لاس چه دَ نفس او دَ شیطان په لاره کښے به ډیر تیز چلیدل اوس دَ خدائے په لاره کښے شل کوډه شو ۔

دا دوه واړه مینځے دَ مختلفو مختلفو خلقو سره لګی او دَ آیت الفاظ دوسره جامع دی چه په دے واړو محذورونو یو شان دلالت کوی ۔

۱۰۵ یعنی که تاسو دَ خدائے دَ دین خدمت وکړو او دَ هغه په لاره کښے مو هسنت وکړو نو داکیدے

مِنْ عِنْدِكَ ؕ قُلْ كُلٌّ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ ؕ فَمَالِ هٰٓؤُلَآءِ الْقَوْمِ لَا
يَكَادُوْنَ يَفْقَهُوْنَ حَدِيْثًا ﴿۷۸﴾ مَآ اَصَابَكَ مِنْ حَسَنَةٍ
فَمِنَ اللّٰهِ ۫ وَمَآ اَصَابَكَ مِنْ سَيِّئَةٍ فَمِنْ نَّفْسِكَ ؕ وَاَرْسَلْنٰكَ
لِلنَّاسِ رَسُوْلًا ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا ﴿۷۹﴾ مَنْ يُّطِعِ الرَّسُوْلَ
فَقَدْ اَطَاعَ اللّٰهَ ۚ وَمَنْ تَوَلّٰى فَمَآ اَرْسَلْنٰكَ عَلَيْهِمْ حَفِيْظًا ﴿۸۰﴾ ؕ

ستا دَ وجے نه دے[۱۰۹]۔ ورته وُ وایه چه هر څه دَ خدائے دَ طرفنه دی۔ آخر په دے خلقو څه شوی دی چه په هیڅ خبره نهٔ پوهیږی۔

اے انسانه، تا ته چه څه ښیګړه دررسی دا دَ الله په مهربانئ دررسی، او څه مصیبت چه په تا راځی هغه ستا دَ عمل په وجه راځی۔

اے محمدؐ، مونږه تهٔ دَ ټولو خلقو د پاره د رسول په حیثیت لیږلے یئے او په دے باندِ دَ خدائے ګواهی کافی ده۔ چا چه د رسولؐ اطاعت وُکړو هغه په اصل کښ دَ خدائے اطاعت وُکړو۔ او چا چه مخ واړ وُو، نو تهٔ خو څه مونږه په دوئ باندِ دَ یو نګران په حیثیت نهٔ[۱۱۰] لیږلے۔

نشی چه دَ خدائے سره به ستا سو بدله ضائع شی۔

[۱۰۹] یعنی هر کله چه فتح، کامیابی او خوشحالی نصیب شی نو وائی چه دا دَ الله فضل دے او دا خبره یئے هیره شی چه دا فضل خو الله تعالیٰ په دوئ باندِ دَ نبی په ذریعه کړے دے۔ خو هر کله چه دَ خپلو کمزورو او غلطو په وجه شکست وُ خوری او پشا شی نو ټول الزام په نبی باندِ وُ ګوی او نخپله ځان سپین باز ښکاره کړی۔

[۱۱۰] یعنی دَ خپل عمل دوئ پخپله ذمه وار دی۔ دَ دوئ دَ عملونو تپوس به ستا نه نهٔ کیږی۔ تا ته چه کوم کار حواله کړے شوے دے هغه صرف دا دے چه دَ الله حکمونه دوئ ته وُ رسوه۔ دا کار تا ډیر ښه سرته وُ رسولو۔ اوس دا کار ستا نهٔ دے چه تهٔ ئے دَ لاس نه وُ نیسے او په زور ئے په نیغه لار روال کړے۔ کومه لار چه ورته تهٔ ښایئے او دوئ په هغے باندِ نهٔ ځی، نو دَ هغے هیڅ ذمه واری په تا باندِ نشته، تا نه به دا تپوس نهٔ کیږی چه دے خلقو ولے حکم نهٔ وُ منلے۔

وَيَقُولُونَ طَاعَةٌ ۖ فَإِذَا بَرَزُوا مِنْ عِنْدِكَ بَيَّتَ طَائِفَةٌ مِّنْهُمْ
غَيْرَ الَّذِي تَقُولُ ۚ وَاللَّهُ يَكْتُبُ مَا يُبَيِّتُونَ ۖ فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ
وَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ ۚ وَكَفَىٰ بِاللَّهِ وَكِيلًا ﴿٨١﴾ أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ
الْقُرْآنَ ۚ وَلَوْ كَانَ مِنْ عِنْدِ غَيْرِ اللَّهِ لَوَجَدُوا فِيهِ اخْتِلَافًا
كَثِيرًا ﴿٨٢﴾ وَإِذَا جَاءَهُمْ أَمْرٌ مِّنَ الْأَمْنِ أَوِ الْخَوْفِ أَذَاعُوا بِهِ ۖ
وَلَوْ رَدُّوهُ إِلَى الرَّسُولِ وَإِلَىٰ أُولِي الْأَمْرِ مِنْهُمْ لَعَلِمَهُ الَّذِينَ

دوئ په خوله باندِ وائي چه مونږ فرمان منونکي يو۔ خو هر کله چه ستا دَ خوانه بهر وځي نو په دوئ کښې يوه ډله دَ شپې راجمع کيږي او ستا دَ خبرو خلاف مشورے کوي۔ الله دَ دوئ دا ټولے دَ غوږ خبرے ليکي۔ تهٔ دَ دوئ پروا مه کوه او په الله بروسه کوه، هم هغه دَ بروسے دپاره کافي دے۔ آيا دا خلق په قرآن باندِ غور نهٔ کوي؟ که دا د الله نه بغير دَ بل چا دَ طرفنه وے نو دوئ به په دے کښې ډير اختلاف موندلے وو۔[1]

دا خلق چه په هر ځائے کښے دَ اطمينان يا دَ يرے خبر وَاوري نو هغه خورَوي، حالانکه که دوئ دغه خبر رسول ته او دَ خپل جماعت ذمه وارو کسانو ته وُرسوي نو دغه خبر به په دوئ کښے دَ داسے قابلانو خلقو په عِلم کښے راشي

[1] په پاسنو آيتونو کښے چه منافقانو او دَ کمزوري ايمان والو خلقو ته کوم خبردارے ورکړے شوے دے دَ هغے لويه او اصلي وجه دا وه چه دَ هغوئ په قرآن کښے شک وُو چه آيا دا دَ الله دَ طرفنه دے او که نهٔ دے۔ دَ هغوئ دا يقين نهٔ راتلو چه واقعي رسول ته وحي راځي او دا رسول چه کومے خبرے کوي دا نيغ په نيغه دَ خدائے نه راځي۔ دَ منافقت په دے کار باندِ دَ ملامته کولو نه روستو ورته دا ويلے کيږي چه دا خلق په قرآن باندِ غور نهٔ کوي کنئ نو دَ قرآن کلام پخپله گواهي کوي چه دا دَ خدائے نه بغير دَ بل چا کلام نشي کيدے۔ هيڅ يو انسان په دے خبره باندِ قادر نهٔ دے چه دَ کلونو راسے دِ په مختلفو حالاتو کښے، په مختلفو موقعو کښے او په مختلفو بحثونو باندِ تقريرونه کوي، او دَ اول نه را داخله تر آخره پورے دِ دَ هغه ټول تقريرونه داسے هوار او په يو رنګ برابر وي چه يوه حصه دِ دَ بلے حصے نه مخالفه نهٔ وي او خيالات دِ ئے پکښے چرته بدل شوي نهٔ وي، او دَ خپل نفس دَ جذباتو هيڅ ګډون دِ ئے پکښے نهٔ وي، او په هغے باندِ دِ دَ دوباره نظر اچولو هيڅ ضرورت نهٔ راځي۔

يَسْتَنْۢبِطُوْنَهٗ مِنْهُمْ ۭ وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ
لَاتَّبَعْتُمُ الشَّيْطٰنَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿٨٣﴾ فَقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۚ لَا
تُكَلَّفُ اِلَّا نَفْسَكَ وَحَرِّضِ الْمُؤْمِنِيْنَ ۚ عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّكُفَّ
بَاْسَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ۭ وَاللّٰهُ اَشَدُّ بَاْسًا وَّاَشَدُّ تَنْكِيْلًا ﴿٨٤﴾
مَنْ يَّشْفَعْ شَفَاعَةً حَسَنَةً يَّكُنْ لَّهٗ نَصِيْبٌ مِّنْهَا ۚ

چه هغوی به ډهغې نه صحیح مطلب راوباسي[۱۱۲]. که په تاسو باندې د الله مهربانی اورحمت نه وه نو (ستاسو کمزورۍ ته ځیر وه چه) ډیرو څوکسانو نه بغیر نور ټول به په شیطان پسې روان شوی وی.

پس اے نبیؐ، تړه د الله په لار کښے جنګ کوه، تړه د ځپل ځان نه بغیره بل چا پاڼه مه وارنه ځه. البته مؤمنانو ته په جنګ باندې ډوډۍ تیزولو خبری کوه، لږے نږدې چه الله د کافرانو زور مات کړی، د الله زور د ټولو نه زیات زبردست دے او د هغه سزا د ټولو نه سخته ده. څوک چه ښکلی سفارش کوی هغه ته به د هغې نه حصه ملاویږی

[۱۱۲] دغه د هغوی هغه وخت وړاندوینه ده چه هر طرف نه افواګانې خوریدلے. کله به د خطرې به بنیاد ه خبرونه راغلل او د هغې په وجه به د مدینې په ښار کښے او پخوا وګڼا علاقه کښے پریشانی خوره شوه. کله به د دشمن چالاکۍ وکړوا او د خطرې پټولو دپاره به ټه د امن خبرونه خوارۍ کړل او د هغې په وجه به خلق د خطرې نه بے پرواشو. په دے افواګانو کښے به هغه خلقو ډیره دلچسپی اخسته چه د هغوی به هغے هنګامه خوښه وه، او د اسلام او د جاهلیت د جنګ به ورته څه لویه خبره نه ښکاریده، د وجې په دے هډو پوهیدل نه چه د دے قسم افواګانو خورولو انجام به څومره خراب راوځی. چه په غوږ به ټه څه واوریدل هغه به ټے بے تحقیقه خاته پځلئ خورول. هم دے خلقو ته په دے آیت کښے زور نه ورکړے شوی ده او په سختۍ سره ورته خبردار یه ورکړے شوے ده چه د افواګانو خورولو نه منع شئ او کومه خبره چه د زړې هغه ذمه وار و خلقو ته د رسوئ او بیا چپ کیئ.

وَمَنْ يَّشْفَعْ شَفَاعَةً سَيِّئَةً يَّكُنْ لَّهٗ كِفْلٌ مِّنْهَا ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى
كُلِّ شَيْءٍ مُّقِيْتًا ﴿۸۵﴾ وَاِذَا حُيِّيْتُمْ بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّوْا بِاَحْسَنَ مِنْهَآ اَوْ رُدُّوْهَا ؕ
اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ حَسِيْبًا ﴿۸۶﴾ اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ؕ لَيَجْمَعَنَّكُمْ
اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ لَا رَيْبَ فِيْهِ ؕ وَمَنْ اَصْدَقُ مِنَ اللّٰهِ حَدِيْثًا ﴿۸۷﴾ ع

النصف

او څوک چه د بدئ سفارش کوی هغه ته به د هغے نه حصه ملا ویږی[113]. او الله په هر څیز باندِ نظر لرونکے دے.

او کله چه څوک تاسو ته په عزت سره سلام وکړی نو تاسو ورته د هغے نه په ښه طریقه جواب ورکړه یا کم از کم د هغے پشان[114]، الله د هر څیز حساب اغستونکے دے. الله هغه دے چه د هغه نه بغیر بل خدائے نشته، هغه به تاسو ټول د هغے قیامت په ورځ را جمع کړی چه د هغے په راتلو کښ هیڅ شک شُبه نشته، او د خدائے د خبرے نه زیاته رښتینے خبره د بل چاکیدے[115] شی. ع

[113] یعنی دا خو د هر چا خپله خپله خوښه او خپل خپل نصیب دے چه څوک د خدائے په لار کښے کوشش کوی او د حق وُچتولو دپاره خلق تیاره وی او د هغے ثوابونه حاصلوی، او څوک خلق دوکه کوی او د هغوئ د حوصلو خرابولو کوشش کوی او دائے زُور وی چه خلق د کلمے د وُچتولو د کوشش نه منع کړی او ځان د الله د سزا مستحق کړی.

[114] په دغه وخت کښے د مسلمانانو او د کافرانو په منځ کښے تعلقات ډیر خراب وُو، او د دے خبرے یره وه چه هسے نه مسلمانان د نورو خلقو سره په بدخوئ ملا ویدل شروع کړی. د دے وجے نه هغوئ ته دا حکم وُشو چه څوک تاسو سره د عزت او احترام سلوک کوی تاسو هم د هغوئ سره هغه شان سلوک کوئ بلکه د هغے نه زیات په عزت سره ملا ویږئ. د ښه خوئ جواب خوښه خوئ دے، بلکه ستاسو مرتبه دا ده چه د نورو نه زیات ښه خوئ والا جوړ شئ. یوه داسے ډله چه د دُنیا خلق ښیغے لارے ته د را بللو دپاره او د حق طرفته د دعوت ورکولو دپاره راپورته شوی وی، د هغے ډلے دپاره بدخوئ تر یو تندے او ترخے خبرے کول مناسب نه دی. د دے نه هغے مقصد ته نقصان رسیږی د کوم مقصد دپاره چه دا ډله راپورته شوی ده.

[115] یعنی کافران او مشرکان او د هر یه خلق چه څه کوی د هغے په وجه د خدائے په خدائی کښے هیڅ کمے نه راځی. د الله یو والے او د هغه مطلقه خدائی یو داسے حقیقت دے چه د چا په په بدلولو بدلیدے

فَمَا لَكُمْ فِي الْمُنٰفِقِيْنَ فِئَتَيْنِ وَاللّٰهُ اَرْكَسَهُمْ بِمَا كَسَبُوْا ؕ

بیا دا په تاسو باندې څه شوی دی چې د منافقانو په باره کښ ستاسو په منځ کښ دوه رائے دی[۱۱۵]، حالانکه چې هغوئ کومے بدئ کړې دی د هغے په وجه الله هغوئ واپس کړز ولی دی[۱۱۶]۔

نشی، بیا به هغه یو وینے دا قبول انسانان راجمع کړی ادهر یو ته به د خپل عمل انجام او بنایئ د هغه قبضے نه څوک تښتیدے نشی۔ نو په دے وجه خدائے تعالیٰ دے خبرے حاجتمند نه دے چه څوک د الله په باغیانو باندې زړه براس وباسی او د هغوئ سره د بد خوئ وچلوی۔

د اخرۍ پاسنی آیت سره دے آیت تعلق دے۔ لیکن کوم تقریر چه د تیرو شوو دوو دریو رکوع کانو نه راروان دے، د ۱۱ آیت د هغے تقریر خاتمه هم دے په دے لحاظ سره د آیت مطلب دا دے چه په دنیا کښے څوک په کومه طریقه ژوند تیره ول غواړی په هغے طریقه ژوند تیره وی، آخر به قبول یوه ورځ خدائے ته حاضر پیږی، بیا به هسې د خپل عمل انجام وویني۔

۱۱۵ دلته د هغه منافقانو مسلمانانو په مسئله باندې بحث شوے دے چه اسلام خوښ قبول کړے وو خو د هغه او د هغوئ نورو خپلوانو نسبتونه دار الاسلام ته هجرت نه کولو او د خپل کافر قوم سره یوځائے وسیدل او چه کله به د اسلام او د مسلمانانو خلاف څه کارکیدلو نو اکثر به پکښے دوئ شریک وو۔ د مسلمانانو دوئ اره دا یوه سخته مسئله وه چه آخر د دوئ سره څه وکړی۔ څنے مسلمانانو به وئیل که هرڅه دی، آخر دی خو مسلمانان۔ کلمه وائی، مونځ کوی، روژے نیسی د قرآن تلاوت کوی۔ د هغوئ سره د دکافرانو پشان معامله څنګه وکړے شی۔ الله تعالیٰ په دے رکوع کښے دے دے اختلاف فیصله کړی ده۔

دلته په یوه خبره باندې ځان پوهول ضروری دی، کنئ نو نه یوائے په دے ځائے کښے، بلکه د قرآن مجید په هغه ټولو ځایونو باندې به سرے هیڅ پوه نشی کوم ځائے کښے چه هجرت نه کونکی مسلمانان په منافقانو کښے شمار کړے شوی دی۔ حقیقت دا دے چه کله نبی صلی الله علیه وسلم مدینے ته هجرت وکړو او د عربو په زړه کښے د اسلام د روڼ کی شان ټوکړه ملا وشوه چه هلته مؤمنانو د خپل دین او د ایمان کار په آزاده کولے شو، نو عام حکم وکړے شو چه هر چرته مؤمنان د کافرانو زیږا ژوند په آزاده نشی تیرولے، نو د هغه ځائے نه دے هجرت وکړی، او د مدینے دار الاسلام ته دے راشی۔ په هغه وخت کښے چه کومو خلقو د هجرت کولو طاقت لرلو او بیا ئے صرف په دے وجه هجرت ونه کړو چه هغوئ ته خپلے کورا و خپلې عزیزان او خپلے فایدے د اسلام نه کرانے دے، نو هغه ټول په منافقانو کښے شمار کړے شو۔ او کوم خلق چه په حقیقت کښے مجبوره وو هغوئ په "مُسْتَضْعَفِيْنَ" کښے شمار کړے شو، لکه څنګه چه د باندې په څوارلسمه رکوع کښے راځی۔

او سه خبره واضحه شوه هرکله چه د دار الاسلام د طرفنه دا سے ټولو مسلمانانو ته چه هغوئ د کفر په وطن کښے وسیږی، د دا تلو عام دعوت وشی او یا ورته هغوئ د راتلو د پاره خپلے دروازے هر وخت پرانستے ولږی، او بیا هم هغوئ هجرت نه کوی او په دار الکفر کښے وسیدل غواړی، نو

اَتُرِيْدُوْنَ اَنْ تَهْدُوْا مَنْ اَضَلَّ اللّٰهُ ؕ وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَلَنْ
تَجِدَ لَهٗ سَبِيْلًا ﴿۸۸﴾ وَدُّوْا لَوْ تَكْفُرُوْنَ كَمَا كَفَرُوْا فَتَكُوْنُوْنَ
سَوَآءً فَلَا تَتَّخِذُوْا مِنْهُمْ اَوْلِيَآءَ حَتّٰى يُهَاجِرُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ
فَاِنْ تَوَلَّوْا فَخُذُوْهُمْ وَاقْتُلُوْهُمْ حَيْثُ وَجَدْتُّمُوْهُمْ ۪ وَ
لَا تَتَّخِذُوْا مِنْهُمْ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ﴿۸۹﴾ اِلَّا الَّذِيْنَ يَصِلُوْنَ

آیا تاسو دا غواړئ چه الله چا ته هدایت نه دے کړے هغوئ ته تاسو لارو بنایئ؛ حالانکه چه الله څوک بے لارے کړی دی د هغوئ د پاره ته څه لار نشی موندلے. هغوئ خو دا غواړی لکه څنګه چه هغوئ پخپله کافران دی چه دغسے تاسو هم کافران شئ او تاسو او هغوئ ټول یو برابر شئ. په دے وجه په هغوئ کښ هیڅوک ځان له دوستان مه جوړوئ تر څو چه هغوئ د الله په لار کښ هجرت ونه کړی، او که هغوئ د هجرت نه منع شول، نو چه په کوم ځائے کښ ئے مومئ هلته ئے نیسئ او وژنئ ئے[۱۱۸] او د هغوئ نه هیڅوک ځان له دوست او مددګار مه جوړوئ. البته هغه منافقان په دے حکم کښ نه راځی چه کا یو داسے

هله ورته منافقان ویلے کیږی. په دے مسئله کښے به هغه ټول مسلمانان بے شکه منافقان وی چه په دار الکفر کښے د دار الاسلام جوړولو کوشش هم نه کوی او که د راتلو طاقت ئے وی نو هجرت هم نه کوی. لیکن که د دار الاسلام د طرفنه ورته نه دعوت شوے وی او نه ئے خپلے دروازے مهاجرینو ته پرانستے وی نو بیا که د کفر د وطن نه یو مسلمان دار الاسلام ته هجرت نه کوی نو هغه ته به منافق نه شی ویلے کیدے هغه به هله منافق وی چه په حقیقت کښے د منافقت څه کارو کړی.

[۱۱۷] یعنی کوم منافقت او مطلب پرستی چه هغوئ کړی ده او د آخرت په بدله کښے ئے دنیا له ترجیح ورکړی ده، د دے په وجه الله تعالیٰ دوئ هغه طرفته ګرزولی دی چه د کوم طرفنه دوئ راغلی وو. دوئ د کفر نه اسلام طرفته راغلی خو وو لیکن په اسلام باندے د ټینګ پاتے کیدلو د پاره د خپلے فائدے قربانولو ضرورت وو او په آخرت باندے د پوخ یقین ساتلو د پاره د خپلے دنیا قربانولو ضرورت وو، او هغه ټول دوئ خوښ نه کړل. نو په دے وجه چه هغوئ د کوم ځائے نه راغلی وو په شا واپس هغه ځائے ته لاړل. او س د هغوئ په باره کښے د اختلاف کولو څه نه دی پاتے شوی.

[۱۱۸] دا حکم د هغے منافقانو مسلمانانو په باره کښے دے چه تعلق ئے د هغے کافر قوم سره وی چه د مسلمانانو سره جنګیږی او دوئ په دغے جنګ کښے د مسلمانانو خلاف د کافرانو مرسته کوی.

اِلٰى قَوْمٍۭ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِّيْثَاقٌ اَوْ جَآءُوْكُمْ حَصِرَتْ صُدُوْرُهُمْ
اَنْ يُّقَاتِلُوْكُمْ اَوْ يُقَاتِلُوْا قَوْمَهُمْ ؕ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَسَلَّطَهُمْ عَلَيْكُمْ
فَلَقٰتَلُوْكُمْ ۚ فَاِنِ اعْتَزَلُوْكُمْ فَلَمْ يُقَاتِلُوْكُمْ وَاَلْقَوْا اِلَيْكُمُ
السَّلَمَ ۙ فَمَا جَعَلَ اللّٰهُ لَكُمْ عَلَيْهِمْ سَبِيْلًا ﴿۹۰﴾ سَتَجِدُوْنَ اٰخَرِيْنَ
يُرِيْدُوْنَ اَنْ يَّاْمَنُوْكُمْ وَيَاْمَنُوْا قَوْمَهُمْ ؕ كُلَّمَا رُدُّوْٓا اِلَى الْفِتْنَةِ
اُرْكِسُوْا فِيْهَا ۚ فَاِنْ لَّمْ يَعْتَزِلُوْكُمْ وَيُلْقُوْٓا اِلَيْكُمُ السَّلَمَ وَيَكُفُّوْٓا
اَيْدِيَهُمْ فَخُذُوْهُمْ وَاقْتُلُوْهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوْهُمْ ؕ وَاُولٰٓئِكُمْ

قوم سره ملاؤ شي چه دَ هغوئ سره ستاسو معاهده[119] وي. دغه شان هغه منافقان هم په دے حکم کښ نه راځي چه ستاسو خواله راشي او دجنګ نه ئے زړونه مات شوي ونه ستاسو سره جنګ کول غواړي او نه دَ خپل قوم سره. که خدائے غوښتلے نو دوئ به ئے په تاسو باندِ مسلط کړي وے او دوئ به درسره هم جنګونه کول. نو که چرے دوئ ستاسو نه څنګ وکړي او دَ جنګ نه منع شي او تاسو ته دَ صلح دپاره لاس راوږد کړي، نو بیا الله تعالیٰ تاسو له په هغوئ باندِ دَ حملے کولو څه حق نه دے درکړے. یو بل قسم منافقان به درته داسے ملاؤ شي چه دا غواړي چه ستاسو نه هم په امن کښ پاتے شي او دَ خپل قوم نه هم په امن کښ پاتے شي، خو چه کله ورته دَ شر موقع ملاویږي نو په هغے کښ به وردانګي. داسے خلق که ستاسو دَ مقابلے نه منع نه شو او تاسو ته ئے صلح دروړاندِ نه کړه او خپل لاسونه ئے بند نه کړل نو چه کوم ځائے درته ملاؤ شي هلته ئے نیئي او وژنئي یے

[119] دَ دے حکم دا مطلب نه دے چه "دَ هغوئ سره که بیا دوستانے جوړوئ نو خیر دے" بلکه دَ دے مطلب دا دے چه دوئ بیا مه وژنئ. یعنی که هغه منافق مسلمان چه قتل ئے واجب وي چرته دَ یو داسے قوم سره پناه واخلي چه دَ هغوئ سره دَ اسلامي حکومت معاهده وي نو هلته ورپسے تله نه دي پکار او نه دا جائز دي چه دَ دار الاسلام یو مسلمان چرته په یو غیر جانبدار ملک کښے یو منافق وُوینی او هلته ئے مړ کړي. دا احترام په اصل کښے دَ منافق دَ وینے نه دے بلکه دَ معاهدے دے.

جَعَلْنَا لَكُمْ عَلَيْهِمْ سُلْطٰنًا مُّبِيْنًا ﴿۹۱﴾ ع وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ اَنْ
يَّقْتُلَ مُؤْمِنًا اِلَّا خَطَاً ۚ وَمَنْ قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَاً فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ
مُّؤْمِنَةٍ وَّدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ اِلٰٓى اَهْلِهٖٓ اِلَّآ اَنْ يَّصَّدَّقُوْا ؕ فَاِنْ
كَانَ مِنْ قَوْمٍ عَدُوٍّ لَّكُمْ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ ؕ

په هغوئ باندِ دَ لاس وُچتولو دپاره موږ ته تا سوله واضحه دلیل درکړے دے۔ ع

دیو مومن دا کار نه دے چه بل مومن قتل کړی، سوا دَ دے نه چه دَ هغه نه غلطی وُشی۔[۱۲۰]
او څوک چه یو مومن په غلطئ سره قتل کړی نو دَ هغے کفاره دا ده چه یو مومن دِ دَ غلامئ
نه آزاد کړی او دَ مړی وارثانو له دِ دَ وینے قیمت ورکړی،[۱۲۱] لیکن که وارثان دَ وینے
قیمت معاف کړی نو بیا دِ ئے نه ورکوی۔ او که چرے دغه مومن مړے دَ یو داسے قوم سړے
وُو چه دَ هغوئ سره ستاسو دشمنی وه نو دَ هغے کفاره یو مومن غلام آزاده ول دی۔

[۱۲۰] دلته خبره دَ هغه منافقانو مسلمانانو نه ده چه په پاسنی آیت کښے ئے دَ وژلو اجازت شوے دے، بلکه دا خبره دَ هغے مسلمانانو ده چه یا دَ دارالاسلام وُسیدونکے وی، او یا خو په دارالکفر کښے وی خو داسے هیڅ ثبوت پرِ نه وی چه ګنی دَ دُشمنانو سره په کاروائی کښے شریک دے۔ په هغه وخت کښے دیر خلق داسے هم وُو چه دَ اسلام قبلولو نه روستو دَ خپلو خاصو مجبورو په وجه په دُشمنانو کښے وُسیدل۔ او اکثر به داسے هم وُشوه چه مسلمانانو به په یو دشمن قبیله باندِ حمله وُکړه او په هغے کښے به په غلطئ سره څه مسلمانان دَ هغوئ دلاسه مړه شول۔ نو په دے وجه الله تعالی دلته دَ دے خبرے حکم بیان کړے دے چه کله په غلطئ سره یو مسلمان دَ بل مسلمان دلاسه مړ شی۔

[۱۲۱] چونکه وژلے شوے یو مؤمن سړے وو نو دَ دے وجے نه دَ هغه دَ قتل کفاره دَ یو مؤمن غلام آزادول مقرر کړے شوه۔

[۱۲۲] نبی صلی الله علیه وسلم دَ وینے قیمت سل وَښان یا دوه سوه غواګانے یا دوه زره بیزے مقرر کړی دی۔ که په بل شکل کښے څوک دَ وینے قیمت ورکول غواړی نو دَ هغے مقدار به دَ دے څیزو نو دَ قیمت په لحاظ سره مقرره ولے شی۔ مثلاً دَ نبی صلی الله علیه وسلم په زمانه کښے دَ وینے نقد قیمت اته سوه دیناره یا اته زره درهمه مقرر وُو۔ کله چه دَ حضرت عمرؓ زمانه راغله نو هغه وُفرمائیل چه دَ وُښانو قیمت زیات شویدے نو دَ دے وجے نه اوس به دَ سرو دَ سکے نه یو زر دیناره او دَ سپینو دَ سکے نه دولس زره درهمه خون بها ورکولے کیږی۔ خو دا په ذهن کښے یاده لرئ چه دَ وینے دا کوم قیمت مقرر کړے شوے دے دا دَ هغے قتل دپاره دے چه په خطا کښے شوے وی، نه چه په قصد شوے وی۔

وَاِنْ كَانَ مِنْ قَوْمٍۢ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِّيْثَاقٌ فَدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ
اِلٰٓى اَهْلِهٖ وَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ ۚ فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ
مُتَتَابِعَيْنِ ۫ تَوْبَةً مِّنَ اللّٰهِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴿۹۲﴾

اوکه چرے هغه دَ یو داسے غیر مسلمه قوم سرے وُوچه ستاسو ورسره معاهده وه نو دَ هغهٔ وارثانو له به دَ وینے قیمت ورکوی او یو مومن غلام به آزاده وی.[۱۲۳] که چا غلام پیدا نهٔ کړو نو هغه دِ مسلسل دوه میاشتے روژے وُنیسی.[۱۲۴] دا په دے گناه باندِ الله تعالیٰ ته دَ توبے ایستلو طریقه ده[۱۲۵] او الله په هر څه پوهه دے او دَ حکمت خاوند دے.

[۱۲۳] په دے آیت کښے چه کوم حکمونه دی دَ هغے خلاصه داده:

که مړے دَ دار الاسلام وُسیدونکے وُو نو قاتل به دَ وینے قیمت هم ورکوی او دَ خدائے نه به دَ معافئ غوښتلو دپاره یو غلام هم آزاده وی.

که مړے دَ دار الحرب وُسیدونکے وُو نو قاتل به صرف غلام آزاده وی. دَ وینے قیمت ورکول پرِ نشته.

که مړے دَ یو داسے دار الکفر وُسیدونکے وُوچه دَ هغے سره دَ اسلامی حکومت معاهده وه نو قاتل به یو غلام آزاده وی او دَ وینے قیمت (خون بها) به هم ورکوی. لیکن دا دَ وینے قیمت به هغو مره وی څو مره چه دَ دغے قوم سره دَ معاهدے مطابق فیصله شوی وی.

[۱۲۴] یعنی روژے به پرله پسے نیسی، په منځ کښے به ناغه نه کوی. که څوک دَ شرعی عذر نه بغیر یوه روژه هم په منځ کښے پریږدی، نو روژے به بیا دَ سر نه شروع کوی.

[۱۲۵] یعنی دا "جرمانه" نهٔ ده بلکه "توبه" او "کفاره" ده. جرمانه اکثر خلق نه خوښه وی بلکه دَ مجبوری نه ئے ورکوی، او دَ ورکولو په وخت کښے نهٔ په زړهٔ کښے شرم محسوسه وی او نهٔ ئے دبیا دپاره دَ ځان تیک کولو خیال وی، او په دے وجه دَ سړی په زړهٔ کښے نفرت او بے زاری پیدا کیږی. دَ دے نه برعکس الله تعالیٰ دا غواړی چه دَ کوم بنده نه گناه شوی وی هغه دِ دَ خپلے گناه اثر دَ عبادت او دَ ښه کار او دَ حقونو ادا کولو په ذریعه لرے کړی، او په شرمندگی سره دِ الله طرفته رجوع وَکړی، چه هم ئے گناه معاف شی او دَ بیا دپاره خپل ځان دَ گناهونو نه محفوظ وُساتی. دَ کفارے معنیٰ ده "پټونکے څیز" یو ښه کار دَ گناه دپاره دَ کفارے گرځولو مطلب دا دے چه دا نیکی په هغه گناه باندِ ورو غوړیږی او ټوله گناه داسے پټه کړی لکه چه په دیوال تور داغ په سفیدئ پټ شی.

وَمَنْ يَّقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهٗ جَهَنَّمُ خٰلِدًا فِيْهَا وَ
غَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهٗ وَاَعَدَّ لَهٗ عَذَابًا عَظِيْمًا ﴿۹۳﴾
يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا ضَرَبْتُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَتَبَيَّنُوْا وَلَا
تَقُوْلُوْا لِمَنْ اَلْقٰٓى اِلَيْكُمُ السَّلٰمَ لَسْتَ مُؤْمِنًا ۚ تَبْتَغُوْنَ عَرَضَ

او څوک چه یو مومن په قصد قتل کړی نو د هغهٔ جزا جهنم ده چه همیشه به پکښ ؤ سیږی. په هغه باندې د الله غضب او د هغه لعنت دے او الله د هغه د پاره سخت عذاب تیار ساتلے دے.

اے هغه خلقو چه ایمان مو راوړے دے، کله چه تاسو د الله په لار کښ د جهاد د پاره ؤ ځئ نو په دوست دشمن کښ تمیز کوئ او څوک چه په تاسو اول سلام واچوی نو هغه ته فوراً دا مهٔ وایئ چه ته مؤمن نهٔ یئ[۱۲۶]. که تاسو د دُنیا فائده

[۱۲۶] دا سلام په اول کښے د "السَّلامُ علیکم" لفظ د مسلمانانو د پاره شعار اولو یه نسبنه وه، یو مسلمان چه به بل مسلمان ؤلید و نو دا لفظ به ئے د دے مطلب د پاره استعمالولو چه زهٔ ستاسو د ډلے سړے یم، ستا دوست او خیرخواه یم، زما د طرفنه تاسو ته امن او سلامتیا ده، نو په دے وجه مه تاسو زما سره دشمنی کوئ او نهٔ زما د طرفنه د دُشمنئ او د ضرر څه فکر کوئ. لکه څنګه چه په فوج کښے یو لفظ (Password). د یوے علامے په طور مقرر وی او د شپے چه یو فوجی د بل فوجی سره تیریږی نو دا لفظ خاص د دے غرض د پاره وائی چه د مخالف فوجی پته ورته ؤ لګی، نو دغه شان د سلام دا لفظ هم په مسلمانانو کښے د علامے په طور مقرر شوے ؤ. خاص طور د دے شعار یا نښے ضرورت په هغه زمانه کښے په دے وجه نو د هم زیات ؤ چه په کوم وخت کښے د نوی مسلمانانو او کافرانو په منځ کښے د جامے او د ژبے او د نورو څیزونو څه خاص فرق نهٔ ؤ چه د هغے په وجه به یو مسلمان بل مسلمان زر پیژندے شو.

لیکن د جنګ په موقع کښے به دا مشکلات مخے له راتلل چه کله به مسلمانانو په دشمن حمله ؤ کړه او مخے له به ورله یو مسلمان ورغے نو هغه به زر "السَّلام علیکم" یا "لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ" د دے غرض د پاره اُووے چه زهٔ هم مسلمان یم او ستاسو دینی رُور یم. خو د مسلمانانو به کله کله دا شک راتلو چه دا کافر دے خو هسے د ځان بچ کولو د پاره دا الفاظ وائی. نو اکثر به ئے هغه قتل کړو او د هغوئ مال به ئے د غنیمت په طور لوټ کړو. نبی صلی الله علیه وسلم به په هره داسے موقع باندې سخته رټنه کوله خو بیا به هم داسے واقعات پیښیدل. آخر دا چه الله تعالیٰ په قرآن مجید کښے دا مسئله حل کړه. د آیت مطلب دا دے چه څوک ځان ته مسلمان اُووائی نو تاسو د هغهٔ په حقله زر دا فیصله مهٔ کوئ چه دے د ځان بچ کولو د پاره دروغ وائی. کیدے شی چه هغه رینتینے وی او دا هم کیدے شی چه دروغ وائی. حقیقت خو په تحقیق سره معلومیدے شی. که بے

الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا فَعِنْدَ اللّٰهِ مَغَانِمُ كَثِيْرَةٌ ؕ كَذٰلِكَ كُنْتُمْ مِّنْ قَبْلُ
فَمَنَّ اللّٰهُ عَلَيْكُمْ فَتَبَيَّنُوْا ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا ﴿۹۴﴾
لَا يَسْتَوِي الْقٰعِدُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ غَيْرُ اُولِي الضَّرَرِ وَ
الْمُجٰهِدُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ ؕ فَضَّلَ
اللّٰهُ الْمُجٰهِدِيْنَ بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ عَلَى الْقٰعِدِيْنَ دَرَجَةً ؕ
وَكُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ الْحُسْنٰى ؕ وَفَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجٰهِدِيْنَ عَلَى

غواړئ نو دَ الله سره ستاسو دپاره دَ غنیمت ډیر مالونه دی. دَ دے نه مخکښ خو آخر تاسو هم په دغسے حالت کښ وئ، بیا الله په تاسو باندِ احسان وکړو[۱۲۷] نو په دے وجه اوس ښه تحقیق کوئ، څه چه تاسو کوئ الله دَ هغے نه خبردار دے.

په مسلمانانو کښ هغه خلق چه بے دَ څه عذر نه په کور کښ ناست وی او هغه خلق چه د الله په لار کښ په سرو مال جهاد کوی، دواړه یو شان نه دی. الله په سرو مال باندِ جهاد کونکوله دَ ناستو خلقو په نسبت لویه درجه ورکړی ده. اګرچه دَ هر یو دپاره الله تعالیٰ د نیکئ وعده کړی ده، خو دَ الله سره دَ مجاهدینو دَ خدمتونو بدله

دَ تحقیق نه ئے پریږدئ نو څو مره چه دَ دے خبرے امکان دے چه یو کافر به په دروغ دینا باندِ ځان بچ کړی نو هغو مره امکان دَ دے خبرے هم دے چه بے دَ تحقیق نه ئے قتل کړئ نو یو بے ګناه مؤمن به ستا دلاسه مړ شی. او که یو کافر په غلطئ سره پریښودلے شی نو دا خبره دَ دے نه په څو څو چنده بهتره ده چه یو مؤمن په غلطئ سره قتل کړے شی.

[۱۲۷] یعنی یو وخت په تاسو داسے هم تیر شوے دے چه په کافرانو کښے یو یو وُسیدلئ، دَ ظلم دَ لاسه په خپل اسلام پټولو باندِ مجبور وئ، دَ خپل ایمان دَ ثبوت دپاره درسره دَ ژبے دَ اقرار نه سوا بل څه نه وو. اوس دا دَ الله احسان دے چه یو ځائے ژوندمو نصیب شو او دَ دے خبرے قابل شوئ چه دَ کافرانو په مقابله کښے مو دَ اسلام جنډه راوچته کړی ده. دَ دے احسان دا صحیح شکریه نه ده چه کوم مسلمانان په اول حالت کښے وی او تاسو دَ هغوئ سره دَ نرمئ نه کار وانه خلئ.

الْقٰعِدِيْنَ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿۹۵﴾ دَرَجٰتٍ مِّنْهُ وَمَغْفِرَةً وَّرَحْمَةً ؕ وَ
كَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿۹۶﴾ ع اِنَّ الَّذِيْنَ تَوَفّٰىهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ ظَالِمِيْٓ
اَنْفُسِهِمْ قَالُوْا فِيْمَ كُنْتُمْ ؕ قَالُوْا كُنَّا مُسْتَضْعَفِيْنَ فِي الْاَرْضِ ؕ



دَ ناستو خلقونه ډیره زیاته ده[۱۲۸] دَ هغوئ د پاره دَ الله دَ طرفنه لوئے درجے دی بخښانه ده او رحمت دے، او الله ډیر معاف کونکے او رحم کونکے دے۔ ع

کومو خلقو چه په خپل نفس باندِ ظلم کولو[۱۲۹] دَ هغوئ روحونه چه کله فرښتو قبض کړل نو تپوس ئے تر وکړو چه دا تاسو په څه حال کښ مبتلا وئ؟ هغوئ ورله جواب ورکړو چه موږ ده په زمکه کښ کمزوری او مجبوره وو۔

[۱۲۸] دلته دَ هغے ناستو خلقو ذکر نه دے چه دَ جهاد حکم ورته وشی او هغوئ څه بهانه وکړی او پاتے شی، یا عام اعلانِ جنګ وشی او جهاد په ټولو خلقو باندِ فرض عین شی او بیا هم هغوئ دَ جنګ نه په څه طریقه ځان بچ کوی. دلته دَ هغے ناستو خلقو ذکر دے چه جهاد فرضِ کفائی وی او دوئ میدانِ جنګ ته لاړ نشی او دَ هغے پځائے نورکارونه شروع کړی. په اولنو دوو حالتو کښے چه څوک جهاد ته لاړ نشی هغه منافق وی او دَ الله دطرفنه ددهٔ د پاره هیڅ دَ نیکئ وعده نشته، سوا دَ هغے صورت نه چه په حقیقی عذر پاتے شوے وی. دَ دے نه برخلاف دا آخری داسے حالت دے چه په هغے کښے دَ اسلامی جماعت ټول فوجی طاقت ته ضرورت نهٔ وی بلکه صرف دَ یوے حصے ضرورت وی۔ په داسے حالت کښے که دَ بادشاه (امام) دَ طرفنه اپیل وشی چه میدانِ جنګ ته دَ تلو د پاره څوک سرور کولو ته تیار دی. نو کوم خلق چه سرور کولو ته تیار شی هغه ډیر بهتر دی په نسبت دَ هغے خلقو چه په نورو کارونو کښے مشغول پاتے شی، خواه که هغه نورکار پخپل ځائے باندِ ډیر دَ فائدے کار هم وی۔

[۱۲۹] دوے نه مراد هغه خلق دی چه دَ اسلام راوړلو نه روستو هم بے دَ څه مجبوری او بے دَ څه عذر نه په خپل کافر قوم کښے دننه وسیدل، په نیمه مسلمانئ او په نیمه کافرئ کښے ئے ژوند تیرول خوښ وو، او حال دا وو چه دارالاسلام تیار شوے وو او هلته دَ خپلے عقیدے مطابق دَ پوره اسلامی ژوند تیرولو د پاره دوئ تللے شو۔ دا دَ هغوئ په خپل نفس باندِ ظلم وو ځکه چه دا دَ هغوئ څه حقیقی مجبوری نهٔ وه چه دَ پوره اسلامی ژوند تیرولو پځائے په ګډ وډه ژوند تیرولو باندِ صبرناک شوی وو بلکه صرف دَ خپل نفس خوښه وه او دَ خپل خاندان او دَ خپل جائیداد او دُنیاوی فائدو مینه وه، چه هغوئ ورله دَ دین په مقابله کښے ترجیح ورکړی وه۔ (دَ زیاتے تشریح د پاره وګوره حاشیه نمبر ۱۱۶)

قَالُوْٓا اَلَمْ تَكُنْ اَرْضُ اللّٰهِ وَاسِعَةً فَتُهَاجِرُوْا فِيْهَا ؕ فَاُولٰٓئِكَ مَاْوٰىهُمْ
جَهَنَّمُ ؕ وَسَآءَتْ مَصِيْرًا ۙ﴿۹۷﴾ اِلَّا الْمُسْتَضْعَفِيْنَ مِنَ الرِّجَالِ وَ
النِّسَآءِ وَالْوِلْدَانِ لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ حِيْلَةً وَّلَا يَهْتَدُوْنَ سَبِيْلًا ۙ﴿۹۸﴾
فَاُولٰٓئِكَ عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّعْفُوَ عَنْهُمْ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَفُوًّا غَفُوْرًا ﴿۹۹﴾
وَمَنْ يُّهَاجِرْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ يَجِدْ فِي الْاَرْضِ مُرٰغَمًا كَثِيْرًا وَّسَعَةً ؕ
وَمَنْ يَّخْرُجْ مِنْۢ بَيْتِهٖ مُهَاجِرًا اِلَى اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ثُمَّ يُدْرِكْهُ
الْمَوْتُ فَقَدْ وَقَعَ اَجْرُهٗ عَلَى اللّٰهِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿۱۰۰﴾ ع



فرښتو ورته اووے، ولے د خدائے زمکه فراخه نه وه چه تاسو پکښ هجرت کړے وے[۱۳۰]؟ دا هغه خلق دی چه جهنم ئے ځائے دے او جهنم ډیر بد ځائے دے. هن کوم نارینه، زنانه او ماشومان چه واقعی بے وسه دی او د وتلو څه لار او ذریعه نه مومی، نزدے ده چه الله هغوئی معاف کړی، الله ډیر معاف کونکے او بخښونکے دے. څوک چه د الله په لار کښ هجرت وکړی هغه به په زمکه کښ د پناه اغستلو پاره ډیر ځائے او د استوګنے د پاره فراخه ځائے بیا مومی، او څوک چه د خپل کور نه د الله او د رسول طرف ته د هجرت د پاره وځی. او بیا په لاره کښ ورله مرګ راشی نو د هغه اجر د الله په ذمه واجب شو، الله ډیر بخښونکے او مهربانه دے[۱۳۱] ع

[۱۳۰] یعنی هر کله چه په یو ځائے کښے د خدائے د باغیانو غلبه وه او د خدائے په قانون باندِ عمل کول ممکن نه وو نو هلته د وسیدو څه ضرورت وو؟ د هغه ځائے نه بل یو داسے ځائے ته ولے نه تلے چه هلته د خدائے په قانون باندِ عمل کول ممکن وو؟

[۱۳۱] دلته په دے خبره پوهیدل پکار دی چه چا د الله په دین باندِ ایمان راوړو نو د هغه د پاره د کفر د نظام لاندِ ژوند تیرول صرف په دوه حالته کښے جائز کیدے شی. یو دا چه هغه هم په دغه زمکه کښے د اسلام د غالب کولو او د کفر نظام د اسلام په نظام کښے د بدلولو کوشش کوی لکه څنګه چه پیغمبرانو علیهم السلام او د هغوئی اولنو ملګرو کول. دویم دا چه په حقیقت کښے د هغه د هغه ځائے نه د وتلو څه لار نه وی او ډیر په خفګان سره هلته د مجبوری نه وسیږی. د دے دوو حالتونه بغیر په هر حالته کښے په دار الکفر کښے وسیدل یوه مستقله ګناه ده او د دے ګناه د پاره دا هیڅ عذر نه دے چه څوک دا اووائی چه په دنیا کښے یو داسے دار الاسلام نشته چه هلته موږ هجرت وکړو. که دار الاسلام نشته نو ولے د خدائے په زمکه کښے یو غر یا یو ځنګل هم داسے

وَاِذَا ضَرَبْتُمْ فِي الْاَرْضِ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ اَنْ تَقْصُرُوْا مِنَ الصَّلٰوةِ ق صلے

اوکله چه تاسو په سفر روان شئ نو هیڅ ګناه نه ده چه په مونځ کښ اختصار[۱۳۲] وکړی (خصوصًا)

نشته چه هلته سړے د ونو په پانړو او د بیزو په پیو باندې ګذاره وکړی او د کفر د حکمونو منلو نه ځان وساتی

ځنے خلق د دے حدیث نه په مطلب اغتلو کښے غلط شوی دی چه لا هجرت بعد الفتح، یعنی د مکے د فتح کولو نه روستو اوس هجرت نشته۔ حالانکه دا حدیث د همیشه د پاره نه دے بلکه صرف د هغے وخت د حالاتو مطابق د عربو وسیدونکو ته داسے ویلے شوی وو۔ ترڅو پورے چه د عربو زیاته حصه دار الکفر وه او صرف په مدینه کښے او د مدینے په اطرافو کښے اسلامی حکمونه جاری کیدل، نو مسلمانانو ته دا حکم وو چه د هر طرف نه راشی او دار الاسلام ته راجمع شی۔ خو چه کله مکه فتح شوه او د کفر زور ختم شو او تقریبًا ټول ملک د اسلام د اثر لاندې راغے نو نبی اکرم صلی الله علیه وسلم وفرمایئل چه اوس هجرت ته هیڅ حاجت نشته۔ د دے نه دا مراد هیڅکله نه وو چه د دنیا د ټولو مسلمانانو د پاره په هر حالت کښے د قیامته پورے د هجرت فرضیت ختم شوے دے۔

[۱۳۲] چه د امن زمانه وی او سړے په سفر روان شی نو په سفر کښے قصر دا دے چه د کومو وختونو په مونځونو کښے څلور رکعته فرض وی نو د څلورو پځائے به دوه رکعته کوی۔ او د جنګ په حالت کښے د قصر د پاره هیڅ حد مقرر نه دے۔ د جنګ په حالاتو کښے چه څنګه آسانه وی هغه شان د مونځ کوی۔ که د امامتی موقع وه نو په امام پسے د کوی کنئ نو ځان له ځان له د کوی۔ که قبلے ته مخ نه شو کیدے نو هر خوا ته که مخ شو۔ په سورلئ سور او په روانه روانه کښے هم کولے شی۔ که رکوع او سجده ممکنه نه وه نو په اشاره سره د وکړی۔ که ضرورت راغے نو په مونځ کښے ګرځیدے هم شی۔ که په جامو باندے وینه وی نو هم پکښے ګناه نشته که بیا هم خطره زیاته وی او مونځ کول ګران وی نو مونځ روستو کولے هم شی لکه څنګه چه په جنګ خندق کښے شوی وو۔

په دیکښے اختلاف دے چه په سفر کښے به صرف فرض کوی او که سنت به ورسره هم کوی۔ د نبی صلی الله علیه وسلم نه دا ثابته ده چه هغه به په سفر کښے د سحر سنت او د ماسختن وتر ضرور کول او په باقی وختونو کښے به ئے صرف فرض کول او د سنتو کولو ثبوت تر نشته۔ البته د نفل مونځ وخت که به ملاویدو نو کول به یے ان تر دے پورے چه په سورلئ سور به ئے هم نفل کول۔ په دے وجه عبد الله بن عمر خلق په سفر کښے د سحر د سنتو نه بغیر د نورو وختونو د سنتو کولو نه منع کړی دی۔ خو اکثر عالمان سنت پریښودلو او کولو دواړو ته جائز وائی او د بنده اختیار ته ئے پریږدی۔ د حنفیانو غوره مذهب دا دے چه مسافر کله په لاره روان وی نو سنت نه کول بهتر دی او کله چه دمه کوی او اطمینان ورته حاصل شی نو بیا کول بهتر دی۔

ځنے امامانو د قصر د سفر د پاره دا شرط لګولے دے چه هغه سفر د فی سبیل الله وی، لکه جهاد، حج، عمره او علم زده کول وغیره۔ د ابن عمرؓ، د ابن مسعودؓ او د عطاء دا فتویٰ ده۔ امام شافعیؒ او امام احمدؒ وائی

چه سفر دِ دَ داسے مقصد د پاره وی چه هغه په شریعت کښے جائز وی، دَ حرام او دَ ناجائزه غرض د پاره چه کوم سفر وی په هغے کښے دَ قصر کولو اجازت نشته - حنفیه علماء وائی چه قصر په هر سفر کښے کیدے شی، پاتے شو سفر، نو هغه پخپل ځائے باندِ دَ ثواب یا د عذاب مستحق کیدے شی، خو دَ قصر په حکم باندِ دَ هغے هیڅ اثر نه پریوځی -

څنے امامانو دَ "فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ" (هیڅ ګناه نه ده) نه دا مطلب اغستے دے چه په سفر کښے قصر کول ضروری نه دی صرف دَ قصر اجازت دے، که څوک غواړی نو قصر دِ وکړی کنئی نو پوره مونځ دِ وکړی - دا رائے امام شافعیؒ اختیار کړی ده، خو بیا هم هغه قصر کول بهتر ګڼړی او قصر نه کولو ته ډهتره څیز پریښودل وائی. دَ امام احمدؒ په نزباندِ قصر کول واجب خو نه دی، خو نه کول ئے مکروه دی. دَ امام ابوحنیفهؒ په نزباندِ قصر کول واجب دی او په یو روایت کښے دا رائے دَ امام مالکؒ هم ده. دَ حدیث نه ثابته ده چه نبی صلی الله علیه وسلم همیشه په سفر کښے قصر کړے دے او په یو معتبر روایت کښے دا نشته چه نبیؐ چرته په سفر کښے څلور رکعته مونځ کړے دے. ابن عمرؓ فرمائی چه زهٔ دَ نبی صلی الله علیه وسلم او دَ ابوبکر او دَ عمر او دَ عثمان رضی الله عنهم سره په سفرونو کښے پاتے شوے یم او ما چرته نه دی لیدلی چه هغوئی پوره مونځ کړے دے. دَ دے په تائید کښے دَ ابن عباس او دَ نورو ډیرو صحابو نه هم مستند روایتونه نقل کړے شوی دی. حضرت عثمان چه کله دَ حج په موقع باندِ په منیٰ کښے څلور رکعته مونځ ورکړو نو صحابو پرے اعتراض وکړو او حضرت عثمانؓ په دے جواب خلق مطمئن کړل چه ما په مکه کښے وادهٔ کړے دے، او ما دَ نبی صلی الله علیه وسلم نه اوریدلی دی چه څوک په یو بنار کښے وادهٔ وکړی نو لکه چه دے دَ هغه بنار وسیدونکے شو په دے وجه ما دلته قصر و نه کړو. دَ دے ډیرو روایتونو خلاف دوه روایتونه دَ حضرت عائشےؓ نه روایت شوی دی چه دَ هغے نه دا معلومیږی چه قصر کول او پوره مونځ کول دواړه صحیح دی، لیکن دا روایتونه یو خو دَ سند په لحاظ سره ضعیف دی او بل پخپله دَ حضرت عائشے دَ مسلک نه خلاف دی. البته دا صحیح ده چه یو نیم حالت دَ سفر او دَ غیر سفر په منځ کښے وی چه په هغے کښے په یو عارضی دمه ځائے باندِ دَ موقعے مطابق کله قصر او کله پوره مونځ دواړه کیدے شی - او غالباً حضرت عائشےؓ به د دے حالت په حقله فرمائیلی دی چه نبی صلی الله علیه وسلم په سفر کښے قصر هم کړے دے او پوره مونځ ئے هم کړے دے - پاتے شو دَ قرآن دا الفاظ چه "هیڅ ګناه نه ده که قصر وکړی" نو د دے مثال دَ سورة بقرے په نولسمه رکوع کښے تیر شوے دے چه هلته دَ صفا او دَ مروه په منځ کښے دَ سعی په حقله هم دا الفاظ ویلے شوی دی، حالانکه دا سعی دَ حج په کارونو کښے واجب ده - په اصل کښے په دے دواړو ځایونو کښے دَ دے الفاظو دَ ویناء مقصد دَ خلقونه دا یره لرے کول دی چه په داسے کولو کښے نه ګناه شته او نه په ثواب کښے څه کیے -

دَ ظاهریه په نزباندِ دَ قصر د پاره دَ سفر هیڅ مقدار نشته، په هر سفر کښے قصر کیدے شی که کم وی او که زیات وی. دَ امام مالک په نزباندِ دَ اته څلویښتو میلو (یعنی دَ اوه اویا کلومیټرو) نه په کم

اِنْ خِفْتُمْ اَنْ يَّفْتِنَكُمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ؕ اِنَّ الْكٰفِرِيْنَ كَانُوْا لَكُمْ عَدُوًّا مُّبِيْنًا ﴿۱۰۱﴾ وَاِذَا كُنْتَ فِيْهِمْ فَاَقَمْتَ لَهُمُ

چه کله تاسو سره فکر وی چه کافران به موتنګوی[۱۳۳] ځکه چه کافران ښکاره ستاسو دشمنئ ته تیار ولاړ دی.

او اے نبیؐ، هر کله چه ته په مسلمانانو کښ موجود ئے او (د جنګ په وخت کښ) هغوئ له د

یا دیرے ورځے او دیوے شپے نه په کم سفر کښ قصر نشته. هم دا رائے د امام احمدؒ ده. دا مسلک د ابن عباسؓ هم دے او د امام شافعیؒ نه هم یو قول د دے په تائید کښ روایت شوے دے. حضرت انسؓ د پنځلسو میلو (یعنی ۲۴ کلومیټره) په سفر کښ قصر کولو ته جائز وائی. امام اوزاعی او امام زهری د حضرت عمرؓ دا رائے خوښه کړی ده چه دیوے ورځے سفر د قصر د پاره کافی دے. حسن بصری د دوو ورځو او امام ابو یوسف د دوو ورځو نه په زیات سفر کښ قصر کولو ته جائز وائی. د امام ابو حنیفه په نزد باندے چه په کوم سفر کښ پیاده یا د اوښ په مزل درے ورځے لګی (یعنی تقریباً اتلس فرسنګ یا څلور پنځوس میله یا څه د پاسه ۸۶ کلومیټره) په دے کښ قصر کیدے شی. هم دا رائے د ابن عمرؓ، د ابن مسعود او د حضرت عثمان رضی الله عنهم ده.

په سفر کښ د ننه د قیام کولو موده د مختلفو امامانو په نزد مختلفه ده. د امام احمد په نزد چه چا د څلورو ورځو د قیام اراده وکړه هغه به پوره مونځ کوی. د امام مالک او د امام شافعی په نزد چه چرته د څلورو ورځو نه زیات د قیام کولو اراده وی هلته قصر جائز نه دے. امام اوزاعی د یارلس ورځے او امام ابو حنیفه پنځلس ورځے یاد دے نه زیاتے ورځے د قیام کولو په اراده د پوره مونځ کولو حکم کوی. د نبی صلی الله علیه وسلم نه په دے باره کښ څه تفصیلی حکم روایت کړے شوے نه دے. او که په یو ځائے کښ څوک د مجبوری نه حصار شوے وی او هر وخت ئے دا خیال وی که مجبوری ختم شوه نو وطن ته به ځم، نو په دے مسئله کښ د ټولو اتفاق دے چه تر څو پورے حصار وی تر هغه پورے به قصر کوی. د صحابه کرامو ډیر مثالونه دا سے نقل شوی دی چه هغوئ په دا سے حالاتو کښ دوه دوه کاله مسلسل قصر کړے دے. امام احمد بن حنبل په دے قیاس کړے دے او قیدی ته ئے د قید په ټوله زمانه کښ د قصر کولو اجازت ورکړے دے.

۱۳۳ ظاهریانو او خارجیانو د دے فقرے نه دا مطلب اغستے دے چه قصر صرف د جنګ د حالت د پاره دے او د امن په حالت کښ په سفر کښ قصر کول د قرآن خلاف دے. لیکن په حدیث کښ د مستند روایت نه ثابته ده چه کله حضرت عمرؓ هم دا شبه نبی صلی الله علیه وسلم ته وړاندے کړه نو نبیؐ وفرمائیل صدقة تصدق الله بها علیکم فاقبلوا صدقته "د قصر دا اجازت یو انعام دے چه الله په تاسو باندے کړے دے، نو د هغه انعام قبول کړئ" دا خبره قریباً په تواتر سره ثابته ده چه نبی صلی الله علیه وسلم د امن او د خطرے په دواړو

الصَّلٰوةَ فَلْتَقُمْ طَآئِفَةٌ مِّنْهُمْ مَّعَكَ وَلْيَاْخُذُوْٓا اَسْلِحَتَهُمْ قف
فَاِذَا سَجَدُوْا فَلْيَكُوْنُوْا مِنْ وَّرَآئِكُمْ ص وَلْتَاْتِ طَآئِفَةٌ اُخْرٰى
لَمْ يُصَلُّوْا فَلْيُصَلُّوْا مَعَكَ وَلْيَاْخُذُوْا حِذْرَهُمْ وَاَسْلِحَتَهُمْ ج
وَدَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوْ تَغْفُلُوْنَ عَنْ اَسْلِحَتِكُمْ وَاَمْتِعَتِكُمْ

مونځ ورکړلو دپاره ودریږے[۱۳۴] نو پکار دی چه په هغوئ[۱۳۵] کښ یوه ډله ستا سره ودریږی او خپله وسله دِ دځان سره واخلی، نو بیا چه کله هغوئ سجده وکړی نو روستو دِ لاړ شی او بله ډله چه لا مونځ ئے نه دے کړے هغه دِ راشی او ستا سره دِ مونځ وکړی هغه دِ هم بیدار وسی او دځان سره دِ خپله وسله[۱۳۶] واخلی، ځکه چه کافران په دے انتظار کښ دی چه که تاسو دَ خپلو وسلو او دَ خپلو سامانو نو نه لږ شان غافله شئ نو

حالتونو کښے په سفر کښے قصر کړے دے. ابن عباس صفا بیان کوی چه "ان النبی صلی الله علیه وسلم خرج من المدینة إلی مکة لا یخاف الا رب العلمین فصلی رکعتین". نبی صلی الله علیه وسلم د مدینے نه مکے ته تشریف ویوړو او په هغه وخت کښے د هغه په زړه کښے د رب العلمین نه بغیر د بل چا یره نه وه، خو بیا هم دوه رکعته ئے وکړل." په دے وجه ما په ترجمه کښے د "خصوصاً" لفظ په دوو کړ خو کښے د ننه زیات لیکلے دے.

۱۳۴ امام ابو یوسف او حسن بن زیاد دے الفاظونه دا کمان کړے دے چه صلوٰة خوف یوائے د نبی صلی الله علیه وسلم د زمانے دپاره خاص وو. لیکن په قرآن کښے دا سے ډیر مثالونه موجود دی چه یو حکم نبی صلی الله علیه وسلم ته شوے دے هم هغه حکم د هغه نه روستو د هغه د جانشینو دپاره دے. ځکه خو هیڅ وجه دا سے خشی کیدے چه صلوٰة خوف د نبی سره خاص کړے شی. بیا د ډیرو قدر منو صحابو نه دا ثابته ده چه هغوئ د نبی نه روستو هم صلوٰة خوف کړے دے او په دے باره کښے د یو صحابی اختلاف نشته.

۱۳۵ د صلوٰة خوف دا حکم د هغے حالت دپاره دے چه د دشمن د حملے خطره وی خو لا میدان جنګ ګرم نه وی. او چه جنګ بالکل ګرم وی نو بیا د حنفیانو په نږ مونځ روستو کولے شی. د امام مالک او د امام ثوری په نږ که رکوع او سجده نشی کیدے نو په اشاره دِ مونځ کوی. د امام شافعی په نږ د مانځه په حالت کښے لږ شان وهل ټکول هم کولے شی. د نبی صلی الله علیه وسلم نه دا ثابته ده چه هغه په غزوه خندق کښے څلور مونځونه نه وو کړی او بیائے روستو په ترتیب سره ادا کړل. حالانکه د غزوه خندق نه وړاندے د صلوٰة خوف حکم راغلے وو.

۱۳۶ د صلوٰة خوف کولو زیات تعلق د جنګی حالاتو سره دے. نبی صلی الله علیه وسلم په مختلفو حالاتو کښے په مختلفو طریقو سره مونځ کړے دے او د هغه وخت امام ته اجازت دے چه د جنګی حالاتو مطابق په دغه طریقو کښے یوه طریقه اختیار کړی

فَيَمِيلُونَ عَلَيْكُمْ مَّيْلَةً وَّاحِدَةً ۗ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِن كَانَ
بِكُمْ أَذًى مِّن مَّطَرٍ أَوْ كُنتُم مَّرْضَىٰ أَن تَضَعُوا
أَسْلِحَتَكُمْ ۚ وَخُذُوا حِذْرَكُمْ ۗ إِنَّ اللَّهَ أَعَدَّ لِلْكَافِرِينَ
عَذَابًا مُّهِينًا ﴿١٠٢﴾ فَإِذَا قَضَيْتُمُ الصَّلَوٰةَ فَاذْكُرُوا اللَّهَ قِيَامًا

چه په یو ځل درباندِ حمله وکړی البته که د باران د وجې نه تاسو ته تکلیف وی یا ناروغه یئ نو په وسله ایښودو کښې گناه نشته، خو بیا هم بیدار وسئ. یقین لوئ چه الله د کافرانو د پاره رسوا کونکے عذاب تیار ساتلے دے[۱۳۷]. بیا چه کله د مانځه نه فارغه شئ نو په ولاړه

یوه طریقه دا ده چه د فوج یوه حصه د د امام سره مونځ کوی او بله حصه د د دشمن مقابلے ته ودریږی بیا چه کله یو رکعت پوره شی نو اوله حصه د سلام واړه وی او لاړه د شی او بله حصه د راشی دویم رکعت د د امام سره پوره کړی په دے طریقه د امام به دوه رکعته وشی او د فوج به یو یو رکعت وشی.

دویمه طریقه دا ده چه یوه حصه د د امام سره یو رکعت وکړی او بیا د لاړه شی، بیا دویمه حصه د راشی یو رکعت د د امام سره وکړی، بیا دواړه حصے د په نمبر نمبر راځی او چنل یو یو رکعت د ځان له ځان له کوی. په دے طریقه به یو یو رکعت د امام سره وشی او یو یو رکعت به ځان له ځان له.

دریمه طریقه دا ده چه د فوج یوه حصه د د امام سره دوه رکعته وکړی او د تشهد نه روستو د سلام واړه وی او لاړه د شی. بیا دویمه حصه د د امام سره په دریم رکعت کښے شامله شی او د امام سره د سلام واړه وی. په دے طریقه به د امام څلور رکعته او د فوج دوه دوه رکعته وشی.

څلورمه طریقه دا ده چه د فوج یوه حصه د د امام سره یو رکعت وکړی او کله چه امام دویم رکعت ته پاسی نو مقتدی د باقی یو رکعت ځان له وکړی او سلام د واړه وی. بیا د دویمه حصه د امام سره په دویم رکعت کښے شریکه شی چه امام سلام واړه وی نو دوئ د پاسی او یو رکعت د ځان له وکړی. په دے طریقه کښے به امام په دویم رکعت کښے قیام اوږد کوی.

اولنئ طریقه ابن عباس، جابر بن عبدالله او مجاهد روایت کړی ده. دویمه طریقه عبدالله ابن مسعود روایت کړی ده او حنفیانو دے ته ترجیح ورکړی ده. دریمه طریقه حسن بصری د ابوبکره نه روایت کړی ده. او څلورمه طریقه سهل بن ابی حثمه روایت کړی ده او دے طریقے ته امام شافعی او امام مالک د څه لږ اختلاف سره ترجیح ورکړی ده.

د دے نه علاوه د صلوٰة خوف نورے طریقے هم شته چه تفصیل ئے په مبسوطات کښے ملاویدے شی.

[۱۳۷] یعنی د کوم احتیاط کولو چه تاسو ته حکم کیږی د هسے یو دنیاوی تدبیر دے، په اصل کښے خو فتح او

وَّقُعُوْدًا وَّعَلٰى جُنُوْبِكُمْ ۚ فَاِذَا اطْمَاْنَنْتُمْ فَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ ۚ
اِنَّ الصَّلٰوةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ كِتٰبًا مَّوْقُوْتًا ﴿١٠٣﴾ وَلَا
تَهِنُوْا فِي ابْتِغَآءِ الْقَوْمِ ۭ اِنْ تَكُوْنُوْا تَاْلَمُوْنَ فَاِنَّهُمْ يَاْلَمُوْنَ
كَمَا تَاْلَمُوْنَ ۚ وَتَرْجُوْنَ مِنَ اللّٰهِ مَا لَا يَرْجُوْنَ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا
حَكِيْمًا ﴿١٠٤﴾ اِنَّآ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ لِتَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ

او په ناستا او په ملاستا او په هر حال کښ الله یاد وئ. او کله چه اطمینان د رتہ نصیب شی نو پوره مونځ کوئ. مونځ په حقیقت کښ داسے فرض دے چه د وخت پابندئ سره په مؤمنانو باندې لازم کړے شوے دے۔

۱۳۸ په دغه ولړ پیے وتلو کښ کمزورئ مه ښکاره کوئ. که تاسو ته تکلیف رسیږی نو ستاسو پشان هغوئ ته هم تکلیف رسیږی. او تاسو د الله نه د هغه څیز اُمید لرئ چه هغے امید د هغوئ نشته ۱۳۹ الله په هر څه پوهه دے او د حکمت خاوند دے۔

۱۴۰ اے نبی، مونږه دا کتاب تا ته د حق سره نازل کړے دے، د دے د پاره چه الله

شکست ستاسو په تدبیرونو باندې نه وی، بلکه د الله په فیصله باندې وی۔ حکمه خو تاسو نه پکار دی چه په دے احتیاطی کارونو باندې د عمل کولو سره دے خبرے یقین ولرئ چه څوک د الله نور په پوکو باندې مرکوی، الله به هغوئ رسوا کوی.

۱۳۸ یعنی د کفارو دله چه په هغه وخت کښے د اسلام په لاړ کښے یو لوی خنډ وه.

۱۳۹ یعنی د یره د تعجب خبره ده چه مؤمنان د حق د پاره هغومره تکلیفونه هم برداشت نه کړی څومره چه کفار د باطل د پاره برداشت کوی، حالانکه د کفارو لخ نه صرف دُنیا او د دُنیا نیمگړے فایدے دی او مؤمنان د خپل پروردګار د رضا او د هغه د هسیڼه انعامونو اُمید لرونکی دی۔

۱۴۰ په دے رکوع کښے او دے نه په دے روستو رکوع کښے په یو واحد اهم معامله باندې بحث شوے دے چه په هغه زمانه کښے پیښه شوے وه. قصه داده چه د انصارو په قبیله بنی ظفر کښے یو سړے ډوچه نوم ۷ طُعمه یا بشیر بن اُبیرق وو. ده د یو انصاری نه یوه زغره پته کړله. کله چه په هغے پسے لټون شروع شو نو هغه د یو یهودی سره کیښود له. د زغرے مالک نبی صلی الله علیه وسلم ته مقدمه پیش کړه او په طُعمه باندې شک ظاهر کړو، خو طُعمه او د هغه غړو یانو او د بنی ظفر قبیلے نورو د یرو خلقو په خپلو کښے اتفاق او کړو او په یهودی باندې ۷ الزام او اکولو. د یهودی نه چه تپوس وشو نو هغه خپله صفا پیش کړه. لیکن د طُعمه خلق د طُعمه په حق کښے وکالت کولو او وئیل ۷ چه د دا یهودی خبیث دے، د حق نه انکار کوی او د الله رسول نه منی، د دغه په خبره څه اعتباره دے. خبر وموښنل پکار دی چه هغه مسلمانان نیولو۔ قریب وه چه نبی د ظاهرو خبرو نه متاثره شوے وے او فیصله ۷ یهودی خلاف کړے وے او د زغرے مالکانو ته ۷ هم په بنی اُبیرق باندے

بِمَآ اَرٰىكَ اللّٰهُ ۭ وَلَا تَكُنْ لِّلْخَاۗىِٕنِيْنَ خَصِيْمًا ۝۱۰۵ وَّاسْتَغْفِرِ اللّٰهَ ۭ
اِنَّ اللّٰهَ كَانَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ۝۱۰۶ وَلَا تُجَادِلْ عَنِ الَّذِيْنَ يَخْتَانُوْنَ
اَنْفُسَهُمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ مَنْ كَانَ خَوَّانًا اَثِــيْمًا ۝۱۰۷ يَّسْتَخْفُوْنَ

تاته کومه نیغه لار خودلے دے دَ هغے مطابق په خلقو کښ فیصلے کوه۔ تړه دَ خیانت کړو سړو پر جګړه کښ طرفدارۍ مه جوړیږه، او د الله نه معافی غواړه، هغه ډیر بخښونکے او رحم والا دے۔ څوک چه دَ خپلو ځانونو سره خیانت کوی[۱۴۱] تړه دَ هغوی حمایت مه کوه۔ دَ الله دا سے سړے خوښ نه دے چه خیانت کروی او پیشه ئے دَ ګناه وی۔ دا خلق خپل کارونه دَ

په الزام ټکولو خبردارے ورکړے وے۔ په دیکښے وی راغله او تهول حقیقت بنکاره شو۔

که چرے نبی صلی الله علیه وسلم دَ ظاهری خبرو مطابق فیصله کړے وے نو دَ یوقاضی په حیثیت سره دا هغه د پاره ګناه نه وه۔ او قاضیانو له اکثر دا سے متدّعے راځی چه غلطے ګواهئ ورته خلق دَ کړی او دحقیقت نه خلاف فیصلے ترې حاصلے کړی۔ لیکن په یوداسے وخت کښے چه دَ اسلام او دَ کفر په مینځ کښے یو زبردست کشمکش شروع وُو، که نبی صلی الله علیه وسلم دَ ظاهری خبرو مطابق دَ یهودی خلاف فیصله کړے وے نو دَ اسلام مخالفینو ته به دَ پیغمبر خلاف او دَ اسلام خلاف او دَ مسلمانانو خلاف یوه زبردسته وسله په لاس ورغلے وے هغوی به هر ځائے کښے دا وئیل چه ګیره حق د انصاف په دوئ کښے کوم ځائے دے، دوئ کښے خو هم هغه ډله بازی او بدنیتی ده چه دَ کوے خلاف دوئ تبلیغ کوی۔ دَ دے خطرے نه دَ بچ کیدلو د پاره الله تعالیٰ خاص طور په دے مقدمه کښے مداخلت وکړو۔

په دے رکوعونو کښے یوطرفته هغه مسلمانان سخت ملامته کړے شوی دی چه صرف دَ خاندان او دَ قبیلے د خاطره ئے دَ مجرمانو طرفداری کړی وه۔ بل طرفته عام مسلمانانو ته دا سبق ورکړے شوے دے چه دَ انصاف په معامله کښے د له بازی مه کوئ۔ دا هغه دنیا ده چه دلته د له بازی نه ده چه د خپلے دلے سړے که په ناحقه وی خو طرفداری ئے کوئ او دَ بلے دلے سړے که په حقه وی خو بے انصافی ورسره کوئ۔

[۱۴۱] څوک چه دَ بل سړه خیانت کوی هغه په اصل کښے دَ تولو نه اول دَ ځان سره خیانت کوی حکه چه دَ زړه او دَ دماغو کوم طاقتونه دَ دغه سړه دَ امانت په طور دی، په هغوی باندے دَ زور راوړی چه په خیانت کولو کښے دَ دغه سړه ملګری شی۔ او خپل زړه دوسره دباؤ کړی چه هغه بیا دَ خیانت په کار کښے د له مخے نه ځنی راتلے۔ انسان چه کله په خپل ځان کښے دننه دا ظالمانه طاقت حد ته ورسوی نو پرے دَ هغے بهرنۍ هغه نه دَ خیانت او ګناه کار کیږی

مِنَ النَّاسِ وَلَا يَسْتَخْفُوْنَ مِنَ اللّٰهِ وَهُوَ مَعَهُمْ اِذْ يُبَيِّتُوْنَ
مَا لَا يَرْضٰى مِنَ الْقَوْلِ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ بِمَا يَعْمَلُوْنَ مُحِيْطًا ﴿١٠٨﴾
هٰٓاَنْتُمْ هٰٓؤُلَاۗءِ جٰدَلْتُمْ عَنْهُمْ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۣ فَمَنْ يُّجَادِلُ اللّٰهَ
عَنْهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اَمْ مَّنْ يَّكُوْنُ عَلَيْهِمْ وَكِيْلًا ﴿١٠٩﴾ وَمَنْ يَّعْمَلْ
سُوْۗءًا اَوْ يَظْلِمْ نَفْسَهٗ ثُمَّ يَسْتَغْفِرِ اللّٰهَ يَجِدِ اللّٰهَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿١١٠﴾
وَمَنْ يَّكْسِبْ اِثْمًا فَاِنَّمَا يَكْسِبُهٗ عَلٰي نَفْسِهٖ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا
حَكِيْمًا ﴿١١١﴾ وَمَنْ يَّكْسِبْ خَطِيْۗـــَٔةً اَوْ اِثْمًا ثُمَّ يَرْمِ بِهٖ بَرِيْۗـــًٔا فَقَدِ

انسانانو نه پټولے شی خو د خدائے نه نشی پټولے ۔ هغه خو په هغه وخت کښ هم د دوئ سره وی کله چه دوئ پټ په شپو کښ د هغهٔ د مرضئ خلاف مشورے کوی ۔ د دوئ په ټولو عملونو باندِ الله قابو لرونکے (محیط) دے ۔ بله ! تاسو خو په دے دنیا کښ د مجرمانو د طرفنه جګړه وکړه ، خو د قیامت په ورځ به د دوئ د طرفنه څوک جګړه کوی ؟ آخر هلته به د دوئ وکیل څوک وی ؟ که څوک غلط کار وکړی یا په خپل ځان باندِ ظلم وکړی او بیا الله تر د معافئ درخواست وکړئ نو الله به معاف کونکے او رحم کونکے بیا مومی ۔ خو چه څوک بدی وکړی نو د هغهٔ داګټه به د هغه د پاره وبال وی ، الله د هرڅه نه خبر دے او هغه حکیم او دانا دے ۔ او چا چه خطا کار وکړو او یا ئے ګناه وکړه بیا ئے د هغے الزام په بے ګناه سړی باندِ ولږ و نو

احْتَمَلَ بُهْتَانًا وَّاِثْمًا مُّبِيْنًا ﴿۱۱۲﴾ وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكَ وَرَحْمَتُهٗ
لَهَمَّتْ طَّآئِفَةٌ مِّنْهُمْ اَنْ يُّضِلُّوْكَ ؕ وَمَا يُضِلُّوْنَ اِلَّآ اَنْفُسَهُمْ
وَمَا يَضُرُّوْنَكَ مِنْ شَيْءٍ ؕ وَاَنْزَلَ اللّٰهُ عَلَيْكَ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ
وَعَلَّمَكَ مَا لَمْ تَكُنْ تَعْلَمُ ؕ وَكَانَ فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكَ عَظِيْمًا ﴿۱۱۳﴾
لَا خَيْرَ فِيْ كَثِيْرٍ مِّنْ نَّجْوٰىهُمْ اِلَّا مَنْ اَمَرَ بِصَدَقَةٍ اَوْ مَعْرُوْفٍ
اَوْ اِصْلَاحٍ بَيْنَ النَّاسِ ؕ وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ ابْتِغَآءَ مَرْضَاتِ
اللّٰهِ فَسَوْفَ نُؤْتِيْهِ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿۱۱۴﴾ وَمَنْ يُّشَاقِقِ الرَّسُوْلَ

هغه خودَ غلطوده دوغوا وَ مثرکند ے گناه پیتے پہ ځان بار کړو.ع

اے نبیؐ، که دَ الله فضل په تا باندِ نه وے او دَ هغهٔ رحمت درسره شامل نه وے نو په دوئ کښ یوه ډله دا فیصله کړې وه چه تا په دوکه کښ واچو ی، حال دا وُو چه په حقیقت کښ هغوئ دَ ځان نه بغیر بل څوک نه دوکه کول او تا ته هیڅ نقصان نه شو در رسولے[۱۴۲] الله په تا باندِ کتاب او حکمت نازل کړے دے او تا ته دَ هر هغه څه خودلی دی چه تا ته معلوم نه وُو او دَ هغه فضل په تا باندِ دیر دے.

دَ خلقو دَ غوږ په پټو خبرو کښ اکثر څه بنیګړه نه وی. هڅ که څوک په پټه باندِ دَ صدقے او دَ خیرات ورکولو چا ته څه اُووایئ یا دَ یو نیک کار د پاره یا دَ خلقو په معاملاتو کښ دا صلاح را وشلو د پاره چا ته څه اُووایئ نو دا بیا نه خبره ده، او څوک چه دَ الله دَ رضا د پاره دا سے کوی هغه له به مونږ دیر اجر ورکوُو. خو چه چا دَ رسولؐ مخالفت ته ملا تړلی وی او

[۱۴۲] یعنی که هغوئ په خپلو غلطو خبرو تا ته دوکه کړے هم وے او ستا نه ئے دَ ښے انصافئ فیصلهٔ هم حاصله کړے وے خو نقصان دَ هغوئ وُو تا ته هیڅ نقصان نه وُو. ځکه چه دَ خدا الله په نزد به مجرمان هغوئ وُو نه به نه وے. څوک چه حاکم له دوکه ورکړی او په هغه غلطه فیصله دَ کړی نو هغه پخپله خپل ځان په دے دوکه کښے اچوی چه ګنی په دَ ځپل ځان زما سره شو، حالانکه دَ الله په نزد چه حق دچا دے هغهٔ هم دهغه دے، او دَ دوکه ښوی حاکم په فیصله حقیقت نه بدلیږی. (وګورهٔ سورهٔ بقره حاشیه نمبر ۱۹)۔

مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدٰى وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيْلِ الْمُؤْمِنِيْنَ
نُوَلِّهٖ مَا تَوَلّٰى وَنُصْلِهٖ جَهَنَّمَ ؕ وَسَآءَتْ مَصِيْرًا ﴿۱۱۵﴾ ع اِنَّ اللّٰهَ
لَا يَغْفِرُ اَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ وَيَغْفِرُ مَا دُوْنَ ذٰلِكَ لِمَنْ يَّشَآءُ ؕ وَمَنْ
يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًا ۢ بَعِيْدًا ﴿۱۱۶﴾ اِنْ يَّدْعُوْنَ مِنْ
دُوْنِهٖٓ اِلَّآ اِنٰثًا ۚ وَاِنْ يَّدْعُوْنَ اِلَّا شَيْطٰنًا مَّرِيْدًا ﴿۱۱۷﴾ لا

دَ مؤمنانو دلارے نه بغیر په بله لار روان شی، او حال داوی چه نیغه لار ورته ښکاره شوی وی، نو هغه به موږ هم هغے طرفته بوځو کوم طرفته چه هغه په خپله وګرزیدی[۱۴۳] و او هغه به جهنم ته غورزوو چه بد ترین ځائے دَ قرار دے ع

دالله سره[۱۴۴] خو بس دَ یو شرک بخښنه نشته، دَ دے نه بغیر نور هر څه معاف کیدے شی چه هغه ئے معاف کول وُ غواړی، چا چه دالله سره څوک شریک کړل هغه خو دَ نیغے لارے نه ډیر لرے لاړو۔ هغوئ دَ الله پځائے دَ زنانه بُتانو عبادت کوی۔ هغوئ دَ هغے باغی شیطان عبادت کوی[۱۴۵]

---

[۱۴۳] هر کله چه په دے پاسنئ مقدمه کښے نبی صلی الله علیه وسلم دَ مسلمان خلاف او دَ یهودی په حق کښے فیصله وُکړه نو دغے منافق خپل جاهلیت شروع کړو دَ مدینے نه مکے ته لاړو او د اسلام او دَ نبی صلی الله علیه وسلم دَ دُشمنانو سره ملاؤ شو او مخالفت ئے شروع کړو۔ په دے آیت کښے د هغهٔ دے حرکت ته اشاره ده۔

[۱۴۴] په دے رکوع کښے دغه پاسنئ خبره جاری روانه ده۔ وائی چه دغه جاهل سړے په غصه کښے په کومه لار روان شو هغه څنګه لار ده، او چه دَ صالحانو خلقو نه جُدا شو نو دَ څنګه خلقو سره ملګړے شو۔

[۱۴۵] هیڅوک دَ شیطان په داسے طریقه عبادت نهٔ کوی چه خدائے ترجوړ کړی او بیا دَ هغه په وړاندِ سر په سجده وُلګوی۔ البته چه سړے دَ خپل نفس واګے دَ شیطان په لاس کښے ورکړی، چه کوم خواته ئے هغه بوځی هلته دَ ځی، لکه چه دَ دے دَ هغهٔ بنده وی او هغه ددهٔ خدائے وی، نو دے ته دَ شیطان عبادت وائی۔ دَ دے نه دا معلومه شوه چه څوک د چا حکمونه بے پتوسه منی او په رند وسترګو په هغه پسے روان وی نو دے ته هم عبادت وائی او په حقیقت کښے دَ دے دَ هغه عبادت کوی۔

لَعَنَهُ اللّٰهُ ۘ وَقَالَ لَاَتَّخِذَنَّ مِنْ عِبَادِكَ نَصِيْبًا مَّفْرُوْضًا ﴿۱۱۸﴾
وَّلَاُضِلَّنَّهُمْ وَلَاُمَنِّيَنَّهُمْ وَلَاٰمُرَنَّهُمْ فَلَيُبَتِّكُنَّ اٰذَانَ الْاَنْعَامِ
وَلَاٰمُرَنَّهُمْ فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلْقَ اللّٰهِ ۭ وَمَنْ يَّتَّخِذِ الشَّيْطٰنَ
وَلِيًّا مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ فَقَدْ خَسِرَ خُسْرَانًا مُّبِيْنًا ﴿۱۱۹﴾ يَعِدُهُمْ

چه الله پرلعنت کړے دے. (هغوی دا هغے شیطان خبره منی) چه الله ته یے ویلی وو چه "ستا د بندیانو نه به ضرور یوه مقرره حصه (الحمد لله) زه به هغوی بے لارے کوم، زه به ځے په طمع امید ونوکښ اچوم او زه به ورته حکم کوم او هغوی به (له ما په حکم د خدائے) غوږونه ځیرے وی او زه به ورته حکم کوم او هغوی به (له ما په حکم د خدائے په) جوړښت کښ ردوبدل راولی." دا شیطان چه چا د الله پرځائے خان له خپل ولی او سرپرست جوړ کړو هغه خپل کاره په نقصان کښ پریوتو. هغه ددے خلقو سره وعدے کوی

۱۴۶ یعنی زه به هغوی په دوکه دواړه کوم چه هغوی به د خپلو دښمنو، کوشښونو، هڅونو او د خپلو قوتونو او قابلیتونو او د خپلو اولادونو او خپلو مالونو د ډیرے حصے (۱/۵) په لاره کښے لګوی.

۱۴۷ دا د عربو وهمونه تر اشارې وه. په عربو کښے دا قاعده وه چه یوه اوښه به پنځه یاله ځلی راوړل نو د هغے غوږونه به ځیرې کړل او د یوبت په نوم به ځے پریښودله او د هغے نه به ځے بیا کار اخستل حرام کړل. دغسے چه د یو اوښ د نطفے نه به له پنځو څخه نر غوږونه ځیرے کړل او د یوبت په نوم به ځے خیراتی پریښودو. ځیرې غوږ به ددے خبرے علامه وه چه دا صدقه شوے څاروے دے.

۱۴۸ د خدائے په جوړښت کښے د ردوبدل راوستلو مطلب دا نه دے چه د څیزونو په پیدائشی شکل کښے ردوبدل څوک راولی. کله چه مطلب شی بیا خو د انسان د زړه کړه ټول کارونه د شیطان په لمسه کیږی. ځکه چه تهذیب خو نوم د هغے تبدیلئ دے چه انسان ځے د خدائے په جوړشوو څیزونو کښے کوی. دلته چه کوم ردوبدل د شیطانی کارونو ته شوے دے هغه دادے چه انسان د یو څیز نر هغه کار واخلی چه د هغے د پاره خدائے هغه نه وی پیدا کړے، او د یو څیز نه هغه کار واخلی چه د هغے د پاره خدائے هغه پیدا کړے وی. یعنی هغه ټول کارونه چه انسان ځے د خپل فطرت نه خلاف کوی او د نورو څیزونو د فطرت نه ځے خلاف کوی، هغه د دے آیت په رنړا

وَيُمَنِّيهِمْ ۖ وَمَا يَعِدُهُمُ الشَّيْطٰنُ اِلَّا غُرُوْرًا ﴿۱۲۰﴾ اُولٰٓئِكَ
مَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ۖ وَلَا يَجِدُوْنَ عَنْهَا مَحِيْصًا ﴿۱۲۱﴾ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا
وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ سَنُدْخِلُهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ
خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ۭ وَعْدَ اللّٰهِ حَقًّا ۭ وَمَنْ اَصْدَقُ مِنَ اللّٰهِ قِيْلًا ﴿۱۲۲﴾
لَيْسَ بِاَمَانِيِّكُمْ وَلَآ اَمَانِيِّ اَهْلِ الْكِتٰبِ ۭ مَنْ يَّعْمَلْ سُوْٓءًا

او دوئ له اُمیدونه ورکوی،[۱۴۹] خو دَ شیطان ټولے وعدے دَ دوکے نه سوا بل څه نه دی۔ دَ دے خلقو ځائے جهنم دے چه دَ هغے نه به دَ خلاصی هیڅ صورت وَ نه موفی. پاتے شو هغه خلق چه ایمان راوړی او نیک عمل وَکړی، نو هغوئ به مونږ داسے باغونو ته ور داخل کړو چه لاندِ به تِرولے بهیږی او هلته به هغوئ همیشه همیشه وَسیږی۔ دا د الله ریښتینی وعده ده او دَ الله نه زیاته رښتیا خبره به دَ چا وی۔

آخری انجام نه ستاسو په آرزوګانو منحصر دے او نه د اهل کتابو په آرزوګانو باندِ منحصر دے، چا چه بدی وَکړه

کښے ټول شیطانی حرکتونه دی. مثلاً د لوط دَ قوم عمل (یعنی نارینو سړو سره بدکاری کول)، بچی بند ول، دَ دنیا نه کناره کشی کول، برهمچرج (پاک لمنه وسیدل)، نارینه او زنانه بے اولاده کول، دَ سړی نه هجرا جوړه ول، زنانه چه فطرتاً د کوم خدمت د پاره پیدا دی هغوئ دَ هغے خدمت نه منع کول او د هغوئ نه دَ سړو کار اغستل۔ دا او داسے ډیر نور کارونه چه دَ شیطان شاګردان ئے په دُنیا کښے کوی، د دے په اصل کښے دا مطلب دے چه دا خلق دَ خدائے پاک قانون غلط ګڼړی او دوئ په هغے کښے اصلاح کول غواړی۔

[۱۴۹] دَ شیطان ټول کارونه دَ وعدو او دَ اُمیدونو په طاقت باندِ روان دی۔ شیطان چه یو اځے یو تن یا دَ انسانانو یوه ډله کله په غلطه لار بوتلل غواړی نو مخکښے ورته دَ اُمیدونو شین باغ وَښائی. چاله دَ مزو او دَ خوندونو او دَ کامیابئ اُمیدونه ورکړی، څوک دَ قوم دَ ترقئ په طمع کینوی، چاله دَ انسانانو دَ فلاح او دَ ښیګړے یقین ورکړی، چاله صداقت ته دَ رسید و تسلی ورکړی، چاله دا بروسه ورکړی چه نه خدائے شته او نه آخرت، بس خو دَ مرګ نه روستو خاورے کیدل دی، او چاله دا تسلی ورکړی که آخرت وی هم نو هغه به دَ فلانی فلانی په وجه بچ شے۔ غرض دا چه څوک په څه دوکه کیدے شی هغه په هغے دوکه کوی۔

يُّجْزَ بِهٖ ۙ وَلَا يَجِدْ لَهٗ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ﴿۱۲۳﴾ وَمَنْ
يَّعْمَلْ مِنَ الصّٰلِحٰتِ مِنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى وَهُوَ مُؤْمِنٌ
فَاُولٰٓئِكَ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ وَلَا يُظْلَمُوْنَ نَقِيْرًا ﴿۱۲۴﴾ وَمَنْ اَحْسَنُ
دِيْنًا مِّمَّنْ اَسْلَمَ وَجْهَهٗ لِلّٰهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ وَّاتَّبَعَ مِلَّةَ
اِبْرٰهِيْمَ حَنِيْفًا ؕ وَاتَّخَذَ اللّٰهُ اِبْرَاهِيْمَ خَلِيْلًا ﴿۱۲۵﴾ وَلِلّٰهِ مَا
فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ مُّحِيْطًا ﴿۱۲۶﴾ ع
وَيَسْتَفْتُوْنَكَ فِي النِّسَآءِ ؕ قُلِ اللّٰهُ يُفْتِيْكُمْ فِيْهِنَّ ۙ

دَ هغے بدله به مومی او دَ الله په مقابله کښ به دَ خپل ځان دپاره هیڅوک حمایت کونکے او مددګار بیا نهٔ مومی۔ او څوک چه نیک عملونه کوی، که هغه سړے وی او که ښځه، خو چه ایماندار وی نو دغسے خلق به جنت ته داخلیږی او دَ ذرے هومره حق به ئے نهٔ وهلے کیږی۔ دَ هغه سړی نه دَ ژوند بهتره طریقه دَ بل چاکیدے شی چه الله ته ئے خپل سرټیټ کړو او خپله رویه ئے نیکه وساتله او سیده یو مخیزے دَ ابراهیم په طریقه روان شو، دَ هغے ابراهیم په طریقه چه خدائے ځان له دوست کړے وو۔ په آسمانونو او په زمکه کښ چه څه دی دا د الله دی[۱۵۰] او هر څیز د الله په قابو کښ دے[۱۵۱] ع

خلق ستا نه دَ ښځو په معامله کښ فتوی تپوسی[۱۵۲]۔ ورته وَوایه چه الله تاسو له دهغوی په معامله کښ فتوی درکوی

[۱۵۰] یعنی دَ خدائے وړاندے خپل سرټیټول او دَ خپل اختیار نه منع کیدل په دے وجه ښه بهتره طریقه ده چه بالکل دَ حقیقت مطابق ده۔ هر کله چه الله دَ زمکے او دَ آسمانونو او دَ هغے ټولو څیزونو مالک دے چه په زمکه او آسمانونو کښے دی نو بیا د انسان دپاره صحیح طریقه دا ده چه سرکشی او خپل اختیار پریږدی او دَ الله په بندګئ او اطاعت باندے راضی شی۔

[۱۵۱] یعنی که انسان الله ته سرټیټ نهٔ کړی او د سرکشئ نه منع نهٔ شی نو دَ الله نه چرته تښتیدے نشی۔ د الله قدرت ددهٔ نه هر طرفته چاپیره دے۔

[۱۵۲] دائے صفا نهٔ دی وئیلی چه خلقو به دَ ښځو په معامله کښے څه تپوس کوو۔ خو هغه کښے چه کومه فتوی ورکړے شوی ده دَ هغے نه دَ تپوس پته لګی۔

وَمَا يُتْلٰى عَلَيْكُمْ فِي الْكِتٰبِ فِيْ يَتٰمَى النِّسَآءِ الّٰتِيْ لَا تُؤْتُوْنَهُنَّ مَا كُتِبَ لَهُنَّ وَتَرْغَبُوْنَ اَنْ تَنْكِحُوْهُنَّ وَالْمُسْتَضْعَفِيْنَ مِنَ الْوِلْدَانِ ۙ وَاَنْ تَقُوْمُوْا لِلْيَتٰمٰى بِالْقِسْطِ ؕ وَمَا تَفْعَلُوْا مِنْ خَيْرٍ

او ورسره درته هغه حکمونه هم یادوی چه د اول نه تاسو ته په دے کتاب کښ اَوْرَ وَلے کیږی[۱۵۳]. یعنے هغه حکمونه چه د هغے یتیمانو جینکو په حقله دی چه د هغوئ حقونه تاسو نه ورکوئ[۱۵۴] او نکاح ورسره نه کوئ (یا د لالچ په وجه ورسره تاسو پخپله نکاح کول غواړئ[۱۵۵]). او هغه حکمونه چه د کمزورو بے وسو ماشومانو په حقله دی[۱۵۶]. الله تاسو ته حکم کوی چه د یتیمانو سره په انصاف قایم وسئ. او څه نیکی چه تاسو کوئ

۱۵۳ـه دا د اصلی تپوس جواب نه دے بلکه د جواب ورکولو نه اوّل الله تعالیٰ د هغے حکمونو په پابندئ بیا زور ورکړے دے کوم چه د دے سورة په شروع کښے د یتیمانو جینکو او د یتیمانو بچو په باره کښے شوی وُو. د دے نه معلومیږی چه د الله په نظر کښے د یتیمانو حقونه څومره زیات اهم دی. په اولنو دوُو رکوعکانو کښے د یتیمانو د حقونو سخت تاکید شوے وُو خو په هغے باندِ اکتفا وُ نه شوه. او س چه د استوګنے په باره کښے د مسئلو خبره راغله، نو خلقو له د جواب ورکولو نه مخکښے د یتیمانو د فایدے ذکرئے پخپله ذکرو.

۱۵۴ـه هغه آیت ته اشاره ده چه په هغه کښے ویلے شوی وُو چه "که د یتیمانو سره د بے انصافئ کولو نه یَریږئ نو کومے زنانه چه ستاسو خوښے شی ....." (سورة نساء. آیت ۳)

۱۵۵ـه د "تَرْغَبُوْنَ اَنْ تَنْكِحُوْهُنَّ" دا مطلب هم کیدے شی چه "تاسو ورسره نکاح کول غواړئ" او دا هم کیدے شی چه "تاسو ورسره نکاح کول نه غواړئ"! د دے په تشریح کښے حضرت عائشه فرمائی چه د کومو خلقو په سرپرستئ کښے به دا سے یتیمانے جینکئ وے چه هغوئ ته به د مور او پلار دولت پاتے شوے وُو، نو د هغوئ سره به ئے په مختلفو طریقو ظلمونه کول. که جینکئ به مالدارے هم وے او ښائسته به هم وے نو دے خلقو به د هغوئ سره پخپله نکاح کوله او مهر او نفقه به ئے نه ورکوله او د هغے د مال او د ښائست نه به ئے فایده اغستله. او که جینئ به بد شکله وه نو دوئ به ورسره نه پخپله نکاح کوله او نه به ئے بل له په نکاح ورکوله چه هسے نه چه څوک د سرسړے ئے پیدا شی او صباله رانه د دے د حق تپوس ذکړی.

۱۵۶ـه هغه حکمونو ته اشاره ده چه د دے سورة په اولنئ او دویمه رکوع کښے د یتیمانو د حقونو په باره کښے شوی دی.

فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِهٖ عَلِيْمًا ﴿۱۲۷﴾ وَاِنِ امْرَاَةٌ خَافَتْ مِنْۢ بَعْلِهَا
نُشُوْزًا اَوْ اِعْرَاضًا فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَآ اَنْ يُّصْلِحَا بَيْنَهُمَا صُلْحًا ؕ
وَالصُّلْحُ خَيْرٌ ؕ وَاُحْضِرَتِ الْاَنْفُسُ الشُّحَّ ؕ وَاِنْ تُحْسِنُوْا وَتَتَّقُوْا

هغه به د الله نه پټه نۀ پاتے کیږی.

۱۵۷ هر کله چه یوے ښځے ته د خپل خاوند د بد سلوکئ یا د بے پروایئ خطره وی نو هیڅ ګناه نۀ ده که ښځه خاوند (د څه حقونو په کمی زیاتی باندِ) پخپلو کښ صلح وکړی. صلح په هر حال کښ بهتره ده.۱۵۸ زړونه په لږ څه زر تنګیږی،۱۵۹ خو که تاسو احسان وکړئ او د خدائے نه ویریږئ نو

۱۵۷ د دے ځائے نه د اصلی ټپوس جواب شروع کیږی. په دے جواب باندِ د پوهیدو د پاره اول په سوال ځان پوهه کول پکار دی. د جاهلیت په زمانه کښے به یو سړی بے شمیره ښځے کولے او د دغے ټولو ښځو به خپل هیڅ حقونه نۀ وو. کله چه د سورة نساء اولنی آیتونه نازل شو نو د ښځو په باره کښے دوه قسمه پابندئ ولګیدے. یو دا چه د ښځو کولو تعداد زیات نه زیات څلور مقرر کړے شو. دویم دا چه که څوک د یوے نه زیاتے ښځے کوی نو د هغوئ په منځ کښے انصاف کول (یعنی برابر سلوک ساتل) شرط کړے شو. اوس پکښے دا سوال راپیدا شو چه که د چا ښځه شنډه وی، یا په همیشه مرض پرته وی، یا د خاوند حق نشی ادا کولے، او هغه دویمه ښځه وادۀ کوی نو آیا دے مجبوره دے چه د دواړو سره به یوشان مینه لری، او یوشان کور والے به کوی؟ او که دے دا سے ونۀ کړی نو آیا انصاف بیا دا دے چه د دویم وادۀ کولو د پاره دِ اولنئ ښځه پریږدی؟ او که چرے اولنئ ښځه پخپله مرضئ جدا کیدل نۀ غواړی نو آیا بیا د ښځے خاوند په منځ کښے څه دا سے معامله کیدے شی چه دغه اولنئ ښځه خپل څنے حقونه پریږدی او خاوند د طلاقو ورکولو نه منع کړی؟ او آیا دا سے کول خو به د انصاف نه خلاف نۀ وی؟ دا سوالونه دی چه جواب ئے په دے آیتونو کښے شوے دے.

۱۵۸ یعنی د طلاقو نه دا بهتره ده چه په خپلو کښے صلح وکړی او ښځه د خپل زوړ خاوند سره ژوند تیر کړی.

۱۵۹ د ښځے د طرفنه زړۀ تنګی دا ده چه پخپله ورته ښه معلومه وی چه په دے وجه د خاوند زما سره نالګی ده او بیا هم دا غواړی چه خاوند دِ زما سره هغسے سلوک کوی لکه څنګه چه د دوو مینو وی. د سړی د طرفنه زړۀ تنګی دا ده چه یوه ښځه د زړۀ په مینه د دۀ سره وسیدل غواړی او دے دا کوشش کوی چه هغه د ټولو نه زیاته دباؤ کړی او د هغے حقونه بے حد کم کړی.

فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا ﴿۱۲۸﴾ وَلَنْ تَسْتَطِيْعُوْٓا اَنْ
تَعْدِلُوْا بَيْنَ النِّسَآءِ وَلَوْ حَرَصْتُمْ فَلَا تَمِيْلُوْا كُلَّ الْمَيْلِ
فَتَذَرُوْهَا كَالْمُعَلَّقَةِ ؕ وَاِنْ تُصْلِحُوْا وَتَتَّقُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ

یقین لرئ چه ستاسو ددے کار نه به الله ناخبره نه وی۔[۱۶۰] د ښځو په منځ کښې پوره انصاف کول ستاسو په وس کښې نه دی۔ که تاسو ئے غواړئ هم خو کولے ئے نشئ۔ نو (د الله د قانون د منشا پوره کولو د پاره دا کافی ده چه) یوے ښځے ته داسے مه مائله کیږئ چه بله بے آسرے آویزانده پریږدئ۔[۱۶۱] که تاسو خپل عمل درست کړو او د الله نه ویریدئ نو الله

[۱۶۰] دلته بیا الله تعالیٰ سړی ته وائی چه په دے معاملو کښے زړهٔ فراخه ساته۔ کومے ښځے چه ډیر کلونه ستا سره یو ځائے ژوند تیر کړے دے نو که هغه ستا خوښه هم نه وی خو ته ورسره احسان کوه او د هغے خدائے نه ویریږه چه که د انسان نه د ګناهونو په وجه خفه شو او د هغه په کمی راغے نو بیا به ئے په دنیا کښے چرته ځائے نه وی۔

[۱۶۱] مطلب دا دے چه سړے په هر وخت کښے او په هر څیز کښے د دوؤ یا د زیاتو ښځو په منځ کښے برابرے نشی ساتلے۔ یا به یوه ښکلی وی او بله بد رنګه، یا به یوه ځوانه وی او بله پخه، یا به یوه همیشه مریضه وی او بله روغه رمټه، یا به یوه بد خویه وی او بله ښه خوئ والا او دغه شان نورے ډیرے خبرے کیدے شی چه د هغے په وجه به یوے ښځے سره مینه زیاته وی او د بلے سره کمه۔ په داسے حالاتو کښے قانون دا نه وائی چه په مینه محبت او کور والی کښے د ضرور د دواړو په منځ کښے برابرے وساتلے شی۔ بلکه قانون صرف دا مطالبه کوی چه هر کله ستا د یوے ښځے سره مینه نشته او طلاق ورله نه ورکوے او د ځان سره ئے په خپل خواهش یا د هغے په خواهش ساتے، نو بیا دومره تعلقات ورسره ضرور ساته چه هغه خلقو ته بے خاونده نه ښکاری۔ په داسے حالاتو کښے د یوے په نسبت د بلے سره زیاته مینه لرل یوه قدرتی خبره ده، خو داسے هم نه دی کول پکار چه هغه بله ښځه داسے اویزانده شی لکه چه هډو خاوند ئے نه وی۔

د دے آیت نه ځنے خلقو دا مطلب را ایستلے دے چه قرآن خو یو طرفته د څلورو ښځو کولو پورے اجازت ورکوی ولے هله چه په انصاف ئے ساتلے شی، او بل طرفته وائی چه په ډیرو ښځو کښے انصاف کول ناممکنه دی۔ نو داسے معلومیږی لکه چه د ډیرو ښځو کولو اجازت منسوخ شوے دے لیکن په حقیقت کښے د داسے مطلب را ایستلو د پاره په دے آیت کښے هیڅ ګنجائش نشته۔ که صرف دومره ویئلے شوے وے چه "تاسو د ښځو په منځ کښے انصاف نشئ کولے" نو بیا تر دا مطلب را ایستلے کیدے شو، خو چه روستو ورپسے دا وفرمائیلے شو چه "یوے ښځے ته بالکل مه مائیله کیږئ" نو کوم مطلب چه تر په مسیحی یورپ پسے تلونکی خلق

غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿۱۲۹﴾ وَاِنْ يَّتَفَرَّقَا يُغْنِ اللّٰهُ كُلًّا مِّنْ سَعَتِهٖ ؕ وَ
كَانَ اللّٰهُ وَاسِعًا حَكِيْمًا ﴿۱۳۰﴾ وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ
وَلَقَدْ وَصَّيْنَا الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَاِيَّاكُمْ اَنِ
اتَّقُوا اللّٰهَ ؕ وَاِنْ تَكْفُرُوْا فَاِنَّ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ
وَكَانَ اللّٰهُ غَنِيًّا حَمِيْدًا ﴿۱۳۱﴾ وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ
وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيْلًا ﴿۱۳۲﴾ اِنْ يَّشَاْ يُذْهِبْكُمْ اَيُّهَا النَّاسُ وَيَاْتِ
بِاٰخَرِيْنَ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى ذٰلِكَ قَدِيْرًا ﴿۱۳۳﴾ مَنْ

معاف کونکے اورحم کونکے دے[۱۶۲] لیکن که ښځه خاوند دَ یو بل نه جُدا شي نو خدائے به پخپل لوئ قدرت سره هر یو دَ بل دَ محتاجئ نه خلاص کړي. دَ الله سینه ډیره فراخه ده او هغه هوښیار او پوهه دے. په آسمانونو او په زمکه کښ چه څه دي هغه دَ الله دي ستاسو نه مخکښ چه چا ته موږ کتاب ورکړے وُو هغوئ ته هم موږ دا وئیلي وُو او اُوس تاسو ته هم دا وایُو چه دَ خدائے نه په یَره یَره کار کوئ. لیکن که تاسو نه منئ نو مئے منئ، دَ زمکے او دَ آسمانونو دَ ټولو څیزونو مالک الله دے او هغه بے نیازه غني دے، دَ هر تعریف لائق دے. هن، الله مالک دے دَ هغه ټولو څیزونو چه په آسمانونو کښ دي او چه په زمکه کښ دي او دَ کارسازئ دپاره بس هم هغه کافي دے. که هغه وَ غواړي نو اے خلقو تاسو به لرے کړي او ستاسو په ځائے به نور خلق راولي، او هغه ددے پوره قدرت لري. څوک

را ایستل غواړي، هغے ته هیڅ حاجت پاتے نه شو.

[۱۶۲] یعنی دَ خپله وسه پورے که ته په قصد ظلم نه کوے او دَ انصاف کولو کوشش کوے نو دَ مجبورئ دَ وجے نه که څه لږه ډیره غلطي دَ انصاف په معامله کښے درنه وَشي نو هغه به الله معاف کړي.

كَانَ يُرِيْدُ ثَوَابَ الدُّنْيَا فَعِنْدَ اللّٰهِ ثَوَابُ الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ؕ
وَكَانَ اللّٰهُ سَمِيْعًا بَصِيْرًا ﴿١٣٤﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُوْنُوْا
قَوّٰمِيْنَ بِالْقِسْطِ شُهَدَآءَ لِلّٰهِ وَلَوْ عَلٰٓى اَنْفُسِكُمْ اَوِ الْوَالِدَيْنِ

چه یوازے د دُنیا د ثواب طلبگاری هغه لمحان خبرول پکار دی چه د الله سره د دُنیا ثواب هم شته او د آخرت ثواب هم، الله اوید ونکے او لیدونکے دے[۱۶۳]۔ ع

اے هغه خلقو چه ایمان مو راوړے دے، دا نصاف[۱۶۴] جنډه وُچتونکی او د خدائے[۱۶۵] پاره گواهی کونکی جوړشئ اگرکه ستاسو انصافی او ستاسو گواهی پخپله ستاسو د خپل ځان یا ستاسو د مور او پلار

[۱۶۳] عام طور چه کله قانونی حکمونه بیان شی، او خصوصًا چه کله په صیغه ژوند تیرولو باندے زور ورکړے شی، نو الله تعالیٰ په یو څو اژنا کو جملو کښے یو مختصر وعظ کوی او مقصد یه داوی چه خلق د دغے حکمونو پابندی ته تیار کړے شی۔ دا هم دغه شان یو مختصر وعظ دے۔ د دے نه مخکښے د بتانو او د یتیانو په بحث سره د انصاف او د ښځو سلوک سائلو حکم شوے دے نو اوس دا ضروری وه چه یو څو د نصیحت خبرے مؤمنانو ته وکړے شی۔

یوه دا چه ته هیڅرے په دے مه دوکه کیږه چه د چا ست جوړول او ورانول ستا په لاس کښے دی، که تا د چا نه لاس واخستل نو هغه به بے آسرے پاتے شی۔ نا، ستا او د هغه او د ټولو د قسمتونو مالک الله دے او الله چه د څه پوښتنه سره امداد کول غواړی نو د هغے د پاره یو اسان ته ذریعه نه ځے۔ د الله سره د ډیرے ذریعے دی او هغه څپلے ټولے ذریعے په حکمت استعمالولے شی۔

دویمه دا چه د تیرو شوو پیغمبرانو امتونو ته او تاسو ته هیشه دا نصیحت کیږی چه په هرکار کښے د خدائے نه ډیره کوئ۔ که دا نصیحت مؤمنو په دے کښے ستاسو خلاص دے، د خدائے هیڅ فائده پکښے نشته۔ او که تاسو نه منونو مخکښے امتونو هم نافرمانی کړے وه هغوئ خدائے ته څه نقصان ورسولے چه تاسو به ئے هم ورته ورسوئ۔ خدائے نه مخکښے د چا پروا سائلی دی او نه د اوس ستاسو څه پروا ساتی، که د هغه د حکم نه مونځ وار وو نو تاسو به لرے کړی او بل قوم به راپورته کړی، ستاسو په لرے کیدو به د هغه په بادشاهئ کښے هیڅ فرق رانشی۔

دریمه دا چه د خدائے سره د دُنیا فائدے هم شته او د آخرت فائدے هم شته، عارضی او د ښو وخت فائدے هم شته او مضبوطے او هیشه فائدے هم شته۔ او د استاد څپلے حوصلے او همت خبره ده چه له د هغه نه د څه قسمه فائدے غواړے۔ که ته د دُنیا د ډیرو څیزونو فائدے غواړے او د دے په خلائے د هیشه ژوند فائدے وغواړے نو ته تیارئ نوخدے به د دله د اهرڅه دلته په دنیا کښے زور کړی، خو آخرت په هیشه فائدے کښے به د بیا هیڅ حصه نه وی۔ د ریاب خوښتا د پتې او بهٔ کولو د پاره هیشه تیار څه،

وَالْاَقْرَبِيْنَ ۚ اِنْ يَّكُنْ غَنِيًّا اَوْ فَقِيْرًا فَاللّٰهُ اَوْلٰى بِهِمَا قف
فَلَا تَتَّبِعُوا الْهَوٰٓى اَنْ تَعْدِلُوْا ۚ وَاِنْ تَلْوٗٓا اَوْ تُعْرِضُوْا
فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا ﴿۱۳۵﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا
اٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَالْكِتٰبِ الَّذِيْ نَزَّلَ عَلٰى رَسُوْلِهٖ

او دَ رشته دارانو خلاف راځئ. مخالفې ډلې والا که مالدار وي او که غریب وي، الله ستاسو نه زیات دَ هغوئ خیرخواه دے. خو هسے نه چه دَ خپل نفس په خواهشاتو پسے لاړ شئ او بے انصافی وَ کړئ. او که تاسو دَ طرفدارئ خبره وَ کړه او یا مو دَ رښتیاؤ نه مخ واړونو په دے ځان پوهه کړئ چه دا تاسو څه کوئ الله دَ دے نه خبر دے.

اے هغه خلقو چه ایمان مو راوړے دے، ایمان راوړئ په الله باندې او دَ هغه په رسول باندې او په هغه کتاب باندې چه الله په خپل رسول باندې نازل کړے دے

خو چه اوس ته تر صرف یو فصل اُوبۀ کړے او بیا د همیشه د پاره سُوکړه خو ښوے نو دا ستا خپله ناپوهتیا ده. که څه لږ هم پوهیږے نو دَ اطاعت او دَ بندګئ هغه لار اختیار کړه چه دَ دُنیا او دَ آخرت فائدے حاصلے کړے.

په آخر کښے ئے وَ فرمائیل چه الله اوریدونکے او لیدونکے دے. نو دے دا مطلب دے چه الله څه ړوند کونړ نه دے چه دَ یو بے خبره بادشاه پشان په ړندو کار کوی او په ورکړه کښے دَ ښه او بد تمیز نه کوی. هغه په دے خپل کائینا تو باندې داسے حکومت کوی چه دَ هر څه نه خبر دے. دَ هر چا حوصلے او قابلیت ته کوری. په چا کښے چه څه صفتونه وی هغه ټول ورته معلوم دی. هغه ته ښه معلومه ده چه تاسو په کومه لار کښے محنتونه او کوششونه کوئ. که دَ الله دَ نافرمانئ لار د اختیار کړه نو بیا دَ هغے بخششونو اُمید مه ساته کوم چه به الله صرف خپلو فرمانبردارو بندګانو له ورکوی.

۱۶۴ صرف په دے خبره ئے اکتفاء وَ نه کړه چه په انصاف باندې چلیږئ، بلکه دا ئے وَ فرمائیل چه دَ انصاف جنډه وُچتونکی جوړ شئ. ستاسو کار صرف انصاف کول نه دی بلکه دَ انصاف جنډه راغستل او پاسیدل دی. تاسو له پکار دی چه دے خبرے ته ملاوَ تړئ چه ظلم ختم شی او دَ هغے په ځائے عدل و انصاف قایم شی. دَ عدل و انصاف قایمولو د پاره چه دَ کومے سهارے ضرورت دے، نو دَ مؤمن په حیثیت دا ستاسو مقام دے چه تاسو دَ عدل سهارا شئ.

۱۶۵ یعنی تاسو له پکار دی چه صرف دَ خدائے د پاره ګواهی کوئ، دَ چا مخ ملازه پکښے مه کوئ، مه خپلو ذاتی فائدو ته ګورئ او مه دَ خدائے نه علاوه دَ بل چا رضا ته ګورئ.

۱۶۶ مؤمنانو ته دا وینا چه ایمان راوړئ هسے خو یوه عجیبه خبره ښکاری. لیکن په اصل کښے دلته

وَالْكِتٰبِ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ مِنْ قَبْلُ ؕ وَمَنْ يَّكْفُرْ بِاللّٰهِ وَمَلٰٓئِكَتِهٖ
وَكُتُبِهٖ وَرُسُلِهٖ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًاۢ بَعِيْدًا ﴿۱۳۶﴾
اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ثُمَّ كَفَرُوْا ثُمَّ اٰمَنُوْا ثُمَّ كَفَرُوْا ثُمَّ ازْدَادُوْا
كُفْرًا لَّمْ يَكُنِ اللّٰهُ لِيَغْفِرَ لَهُمْ وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ سَبِيْلًا ؕ ﴿۱۳۷﴾

او په هر هغه کتاب چه الله دَ دے نه وړاندِ نازل کړے دے. چا چه دَ الله نه او دَ هغهٔ دَ فرښتو نه او دَ هغه دَ رسولانو نه او دَ ورځ دَ آخرت نه انکار وکړو[۱۶۷] نو هغه په ګمراهئ کښ ډیر لرے لاړو. او هغه خلق چه ایمان ئے راوړو، بیائے کفر وکړو، بیائے ایمان راوړو، بیائے کفر وکړو، بیا په خپل کفر کښ وړاندِ لاړل،[۱۶۸] نو الله به هیچرے هغوئ معاف نه کړی او نه به ورته نیغه لار وښایئ.

دَ ایمان لفظ په دوؤ جُدا جُدا معنو کښے استعمال شوے دے. دَ ایمان راوړلو یو مطلب دا دے چه سړے دَ انکار پځائے اقرار وکړی، دَ نه منونکو نه جُدا شی او دَ منونکو سره شامل شی. او بل مطلب ئے دا دے چه یو څیز په رښتیا سره دَ زړهٔ نه وُمنی. ښه پوره په اخلاص سره ئے وُمنی. او خپل فکر او خپله خوښه ناخوښه او خپله دوستی او دُشمنی او خپل هر کوشش بالکل دَ هغے عقیدے مطابق جوړ کړی چه په کومه باندِ دهٔ ایمان راوړے وی. په دے آیت کښے دَ ټولو منونکو مسلمانانو نه دا مطالبه شوی ده چه په رښتیا سره دَ زړهٔ دَ اخلاصه مؤمنان شئ.

[۱۶۷] دَ انکار کولو هم دوه مطلبونه دی. یو دا چه سړے صفا انکار وکړی. بل دا چه په ژبه ئے منی خو دَ زړهٔ نه ئے نه منی یا په خپل عمل دا ثابته کړی چه دَ کوم څیز دَ منلو دعوٰی دے کوی هغه په حقیقت کښے دے نه منی. دلته دَ کفر نه دا دواړه معنے مراد دی. او دَ آیت مقصد دا دے چه خلق په دے خبره خبردار کړی چه چا دَ کفر ددے دواړو قسمونو نه هر یو قسم سلوک دا اسلام دَ بنیادی عقیدو سره وکړو نو هغه به دَ حق نه ښه لرے شی او دَ باطل په لارو کښے به ګډ وډ سرګردانه کړئ.

[۱۶۸] ددے نه مُراد هغه خلق دی چه دین ورته هسے دَ زړهٔ دَ آزادئ یوه لوبه ښکاری. او دَ خپل خیالاتو او خواهشاتو مطابق ورسره لوبے کوی. کله چه ئے په دماغو کښے یو څه راشی نو مسلمان شی او کله چه پکښے بل څه راشی نو کافر شی. یا چه ورته په مسلمانیدو کښے فائده ښکاره شی نو مسلمان شی او کله چه ورته فائده په بل څه کښے ښکاره شی نو هغے طرفته منډه کړی. بس دَ خپلے فائدے عبادت کوی. دا دے خلقو دپاره دَ الله سره نه بخښنه شته او نه هدایت. او دا چه ئے وفرمائیل چه "بیا په خپل کفر کښے وړاندِ لاړل" نو دَ دے دا مطلب دے چه یو سړے صرف په خپل کافر کیدو اکتفا ونه کړی بلکه دَ کافر کیدو نه روستو دا کوشش کوی چه نور خلق هم دَ اسلام نه واوړی، دَ اسلام خلاف پټ پټ سازشونه او ښکاره ښکاره تدبیرونه

بَشِّرِ الْمُنٰفِقِيْنَ بِاَنَّ لَهُمْ عَذَابًا اَلِيْمَا ۙ﴿۱۳۸﴾ الَّذِيْنَ يَتَّخِذُوْنَ
الْكٰفِرِيْنَ اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ ؕ اَيَبْتَغُوْنَ عِنْدَ
هُمُ الْعِزَّةَ فَاِنَّ الْعِزَّةَ لِلّٰهِ جَمِيْعًا ؕ﴿۱۳۹﴾ وَقَدْ نَزَّلَ
عَلَيْكُمْ فِي الْكِتٰبِ اَنْ اِذَا سَمِعْتُمْ اٰيٰتِ اللّٰهِ يُكْفَرُ بِهَا وَ
يُسْتَهْزَاُ بِهَا فَلَا تَقْعُدُوْا مَعَهُمْ حَتّٰى يَخُوْضُوْا فِيْ حَدِيْثٍ
غَيْرِهٖ ۖ اِنَّكُمْ اِذًا مِّثْلُهُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ جَامِعُ الْمُنٰفِقِيْنَ

او کوم منافقان چه مومنان پریږدی او کافران ځان له دوستان کوی هغوئ ته دا خوشخبری
واوره وه چه د هغوئ دپاره درد ناکه سزا تیاره ده. آیا دوئ د هغوئ خوا ته د عزت لټولو
دپاره ځی؟[۱۶۹] حالانکه ټول عزتونه خو د الله دپاره دی. الله په دے کتاب کښ تاسو ته د مخکښ نه
دا حکم کړے دے چه په کوم ځائے کښ تاسو دا واوړئ چه د الله د آیتونو خلاف د کفر خبرے
کیږی او ټوټے ورپورے کیږی نو هلته تر هغے پورے مه کینئ تر څو چه هغوئ څه
بله خبره نه وی شروع کړی. او سر کپړے تاسو داسے کوئ نو تاسو هم د هغوئ پشان یئ. یقین لرئ چه الله به منافقان

شروع کړی، او په دے کوشش کښے زور لګوی چه کفر ترقی وکړی او د الله د دین جنډه ښکته شی. دا په
کفر کښے وړاند تلل او ترقی ده او د یو جرم دپاسه پرله پسے نور جرمونه کول دی، نو پکار دی چه د دے عذاب
یوائے د کفر نه وی بلکه چه د کفر د عذاب نه ضرور زیات وی.

[۱۶۹] د "عزت" مطلب په عربئ ژبه کښے ډیر زیات وسیع دے. په اردو پښتو ژبه کښے د "عزت"
معنی صرف احترام او قدر کول دی. خو په عربئ کښے د عزت مطلب دا دے چه یو سړی ته داسے وچت او د
هر څه نه محفوظ حیثیت حاصل شی چه بیا ئے هیڅوک څه نشی کولے. یعنی داسے عزت چه څوک ئے سپکاوے
نشی کولے.

[۱۷۰] یعنی که چرے یو سړے دا اسلام دعوی لری او سره د هغے د کافرانو په داسے مجلسونو کښے شریکیږی
چه هلته د الله د آیاتونو خلاف د کفر خبرے کیږی او دے د خدائے او د رسول خلاف ټوټے بنه په
اطمینان سره اوری، نو په دهٔ کښے او په کافرانو کښے هیڅ فرق نشته. (په دے آیت کښے چه د کوم حکم
ذکر شوے دے هغه د سورة انعام په آیت ۶۸ کښے بیان شوے دے).

وَالْكٰفِرِيْنَ فِيْ جَهَنَّمَ جَمِيْعَا ۙ﴿۱۴۰﴾ الَّذِيْنَ يَتَرَبَّصُوْنَ بِكُمْ ۚ فَاِنْ
كَانَ لَكُمْ فَتْحٌ مِّنَ اللّٰهِ قَالُوْٓا اَلَمْ نَكُنْ مَّعَكُمْ ۖ وَاِنْ كَانَ
لِلْكٰفِرِيْنَ نَصِيْبٌ ۙ قَالُوْٓا اَلَمْ نَسْتَحْوِذْ عَلَيْكُمْ وَنَمْنَعْكُمْ
مِّنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ؕ فَاللّٰهُ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ وَلَنْ يَّجْعَلَ
اللّٰهُ لِلْكٰفِرِيْنَ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ سَبِيْلًا ﴿۱۴۱﴾ ع اِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ
يُخٰدِعُوْنَ اللّٰهَ وَهُوَ خَادِعُهُمْ ۚ وَاِذَا قَامُوْٓا اِلَى الصَّلٰوةِ
قَامُوْا كُسَالٰى ۙ يُرَآءُوْنَ النَّاسَ وَلَا يَذْكُرُوْنَ اللّٰهَ اِلَّا

او کافران په جهنم کښ یو ځائے راجمع کوی. دا منافقان ستاسو په معامله کښ انتظار کوی (چه اوښ به په کومه ډډه څملی). که د الله د طرفنه فتح ستاسو نصیب شی نو دوئ به وائی چه ولے موږ ستاسو سره نه وُوځه؟ او که د کافرانو طرف ته روند شی نو هغوئ به وائی چه آیا موږ ستاسو خلاف په جنګ کولو قادر نه وو او بیا هم موږ ته تاسو د مسلمانانو نه بچ کړئ؟[۱۷۱] بس الله به ستاسو او د دوئ د معاملے فیصله د قیامت په ورځ کوی. او (په دے فیصله کښ) الله تعالیٰ په مسلمانانو باندے د کافرانو د غالب کیدو هیڅ لاره هرګز نه ده پریښودلے ع

دا منافقان د الله سره دوکه بازی کوی حالانکه په حقیقت کښ الله تعالیٰ دوئ په دوکه کښ اچولی دی. کله چه دوئ د مانځه د پاره پاسی نو په زړه ماتی سست سست پاسی او خلقو ته د ښودنے د پاره پاسی او خدائے ډیر کم

[۱۷۱] د هرے زمانے د منافقانو دا کار دے چه په مسلمانیدو سره کومے فائدے حاصلولے شی نو هغه تش د ژبے په اقرار او د مسلمانئ په نوم حاصله وی. او کومے فائدے چه په کافر کیدو سره حاصلوی نو د هغے د پاره د کافرانو سره ملاویږی او په هره طریقه چه وی خو د هغوئ دا یقین را ولی چه موږ خو څه هغه مسلمانان نه یو چه د کافرانو سره بد نیتی کوو. هسے په نوم خو مو تعلقات د مسلمانانو سره ضرور شته دے خو زموږ زړونه تاسو سره لګیدلی دی او ستاسو وفادار ملګری یو، زموږ ته او ستاسو فکر او تهذیب یو شان دے، او د کفر او د اسلام په جنګ کښے چه زموږ نه څه کیږی نو ستاسو سره به ئے کوو.

قَلِيلًا ﴿۱۴۲﴾ مُّذَبْذَبِينَ بَيْنَ ذَٰلِكَ لَا إِلَىٰ هَٰؤُلَاءِ وَلَا
إِلَىٰ هَٰؤُلَاءِ ۚ وَمَن يُضْلِلِ اللَّهُ فَلَن تَجِدَ لَهُ سَبِيلًا ﴿۱۴۳﴾

یا دوی[۱۴۲] د کفر او د ایمان په منځ کښ پریشانه دی۔ نه پوره دے طرف ته دی او نه پوره هغے طرف ته۔ الله چه څوک بے لارے کړے وی د هغهٔ د پاره تهٔ هیڅ لاره نشے موندلے[۱۴۳]

۱۴۲ یعنی صلی الله علیه وسلم په زمانه کښے به یو سړے د مسلمانانو په ډله کښے نر هغے پورے شمارید لے نهٔ شو تر څو چه به هغه د منځ پاینه نهٔ وو۔ لکه څنګه چه د دنیاوی ډلو او هجلونو په اجتماعاتو کښ یو ممبر به د څه عذر نه شریک نشی نو وائی چه دده ډلے سره دده مینه نشته۔ او بیا لکه څنګه چه پرله پسے په یو څو اجتماعاتو کښ شریک نشی نو د ممبرئ نهٔ وُباسی، د غه شان د اسلامی جماعت یو رکن چه به د امامتئ د منځ نه پاتے شونو هغے به د امطلب وُوچه دده مینه د اسلام سره نشته او که چرے هغه به پرله پسے یو څو ځله جماعت ته حاضر نهٔ شو نو خلقو به وے چه دے مسلمان نهٔ دے۔ د غه وجه وه چه که د سخت نه سخت منافق به وُوخو په هغه زمانه کښ به پخپله وخته جماعت ته ضرور حاضر ید و، ځکه چه دده نه بغیر به د مسلمانانو په ډله کښ شمارید لے نشو۔ البته یو څیز وُوچه په هغے به منافق پیژند لے شوا و هغه دا وُوچه ربستونے مومن به په شوق سره د وخت نه مخکښ جُمات ته رسیدو، د مانځهٔ نه روستو به هم په جُمات کښ ناست وُو، او د هغه د هرکار نه به دا معلومیدله چه په حقیقت کښ د مونځ سره دده مینه ده۔ دده برخلاف به په منافق باندِ د اذان آواز تند رلکید و، څان به ئے په زور پاسوُو، د هغه د راتلو نه به صفا پته لګیدله لکه چه پخپله نه راځی او څوک ئے په زور راولی، د مونځ د ختمید و سره به دا سے په منډه زغلید و لکه چه د قید نه راخلاص شی، او دهر حرکت نه به ئے دا معلومیدله چه د خدائے د ذکر سره ئے هیڅ مینه نشته۔

۱۴۳ یعنی چاچه د خدائے د کلام او د هغهٔ د رسول د طریقے نه ځان له لاره نه کړه، او چاچه پخپله د حق نه مخ واړوُو او یا طل طرفته وُکرزید و او بیا خدائے هم هغے طرفته وُکرز وُوکو طرفته چه دهٔ تلل غوښتل او دده د خپلے رضا مطابق پرے خدائے د بیغے لارے دروازے بند ے کړے او صرف د کمراهئ لارئ ورته پرانستے پریښودے، نو دا سے سړی ته نیغه لار نه ښودل په حقیقت کښ د انسان د وَس کار نهٔ دے۔ دَدے معاملے مثال لکه د رزق دے۔ دا یو حقیقت دے چه د رزق ټولے خزانے د الله سره دی۔ انسان ته چه څه ملاو پږی دا د الله د طرفنه ملاو پږی۔ خو څوک چه په کومه طریقه رزق حاصلول غواړی الله هم په هغے طریقه هغه له رزق ورکوی۔ که څوک رزق په حلاله طریقه کتل غواړی نو الله ورته حلالے لارے پرانزی او بیا چه څومره د سړی نیت صفا وی هغومره ورته الله د حرامو لارے بندے کړی۔ دده نه برخلاف چه څوک په حرامو پسے منډے تررے وهی نو هغه ته د خدائے

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوا الْكٰفِرِيْنَ اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِ
الْمُؤْمِنِيْنَ ؕ اَتُرِيْدُوْنَ اَنْ تَجْعَلُوْا لِلّٰهِ عَلَيْكُمْ سُلْطٰنًا
مُّبِيْنًا ﴿۱۴۴﴾ اِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ فِي الدَّرْكِ الْاَسْفَلِ مِنَ النَّارِ ۚ
وَلَنْ تَجِدَ لَهُمْ نَصِيْرًا ﴿۱۴۵﴾ لا اِلَّا الَّذِيْنَ تَابُوْا وَاَصْلَحُوْا

اے هغه خلقو چه ایمان موراوړے دے، دَ مومنانو په ځائے کافران خپل دوستان مهٔ جوړوئ. آیا تاسو غواړئ چه الله له دَ خپل ځان خلاف ښکاره دلیل ورکړئ؟ یقین وُلرئ چه منافقان به دَ جهنم دَ ټولو نه په لاندِ درجه کښ وی او تهٔ به هیڅوک دَ هغوئ مددګار بیا نهٔ موے. البته چه په هغوئ کښ څوک توبه وَباسی او دَ خپل عمل اصلاح وَکړی

په حکم باندِ دحرامو رزق ملاویږی او بیائے په نصیب کښ دَ حلالو رزق نهٔ وی. بالکل هم دغه شان دایو حقیقت دے چه په دُنیا کښ دَ فکرو عمل ټولے لارے دالله تعالیٰ په اختیار کښ دی هیڅوک هم دالله دَ حکم او دَ هغهٔ دَ توفیق نه بغیر په یوه لاره نشی تلے. پاتے شوه دا خبره چه چاته په کومه لار باندِ د تللو اجازت ملاویږی او په کومه لار ورته دَ تللو اسباب په آسانه جوړیږی، نو داد سړی دَ خپلے مینے او دکوشش سره تعلق لری. که دَ سړی دَ خدائے سره مینه وی، دَ رښتیاؤ او دحق طلبګار وی او په خالص نیت دَ خدائے په لاره دَ تللو کوشش کوی، نو الله هم ددے اجازت ورکوی او هم په دغے لار باندِ ورته د تللو اسباب جوړه وی. ددے برخلاف چه څوک پخپله ګمراهی خوښه وی او په غلطو لارو باندِ دَ تللو کوشش کوی، نو دَ الله دَ طرفنه دَ هغه دپاره د هدایت دروازے بندے شی او هغه لارے ورته پرانستے شی کومے چه دهٔ دَ ځان دپاره په خپله غوره کړی وی. بیا داد هیچا په اختیار کښ نهٔ ده چه داسے سړے دَ غلطو سوچونو، دَ غلطو کارونو او په غلطو لارو کښ دکوشش کولو نه بچ کړی. دَ خپل نصیب نیغه لار چه چا پخپله ورکه کړه او الله ترِ محروم کړو نو دَ هغه دپاره دا نعمت موندل بیا ګران دی.

وَاعْتَصَمُوْا بِاللّٰهِ وَاَخْلَصُوْا دِيْنَهُمْ لِلّٰهِ فَاُولٰٓئِكَ مَعَ الْمُؤْمِنِيْنَ
وَسَوْفَ يُؤْتِ اللّٰهُ الْمُؤْمِنِيْنَ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿۱۴۶﴾ مَا يَفْعَلُ اللّٰهُ
بِعَذَابِكُمْ اِنْ شَكَرْتُمْ وَاٰمَنْتُمْ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ شَاكِرًا عَلِيْمًا ﴿۱۴۷﴾

او دَ الله لمن وَنیسی او خپل دین دَ الله دپاره خالص کړی[۱۷۴]، دغه خلق دَ مومنانو سره دی او الله به مؤمنانو له ضرور لوئ اجر ورکوی. آخر په الله څه ضرور دے چه تاسو له خامخا سزا درکوی که تاسو شکر گذاره بندگان جوړ شئ[۱۷۵] او دَ ایمان په لاره روان شئ. الله ډیر قدردان دے[۱۷۶] او دَ ټولو دَ حال نه خبر دے.

[۱۷۴] خپل دین دَ الله دپاره دخالص کولو مطلب دا دے چه سړے خالص دَ الله وفادار بنده شی، خپله مینه او محبت دَ الله وړاندې نذر کړی، او دَ څه څیز سره ئے دَ زړهٔ مینه دومره پاتے نشی چه هغه بیا دَ الله درضا دپاره قربانولے نشی، یعنی هر څیز دَ الله درضا دپاره قربانولے شی.

[۱۷۵] دشکر اصلی معنیٰ نعمت منل یا احسان مند کیدل دی. دآیت مطلب دا دے چه که چرے تا دَ الله احسان هیر نه کړو او دَ نمک حرامئ لار دِ اختیار نه کړه، بلکه په صحیح طور دِ دَ هغهٔ احسان وَمنو، نو بیا هیڅ وجه نشته چه الله تاله خامخا سزا درکړی.

دَ یو احسان کونکی سره دَ صحیح احسان کولو طریقه دا کیدے شی چه سړے دِ د زړهٔ نه دَ هغه احسان وَمنی، په ژبه دَ هغے اقرار وَکړی او په عمل ئے ثابته کړی چه زهٔ ستا احسان مند یم. دا درے واړه کارونه چه رایو خائے شی نو دے ته شکر وائی. او شکر ایستل دے ته وائی چه اول نه اول خو سړے احسان دَ هغه چا وَمنی چه په اصل کښ ورسره چا احسان کړے وی او بل څوک ورسره په شکریه کښ منګرے نه کړی. دویمه دا چه دسړی په زړهٔ کښ دَ خپل احسان کونکی سره مینه او وفاداری وی او دَ هغه دَ مخالفینو سره یوه ذره دَ مینے او دَ وفاداری تعلق نه لری. دریمه دا چه دے دخپل احسان کونکی منونکے او فرمانبردار بنده وی او هغه چه کوم نعمت ورکړے وی هغه دَ خپل محسن دَ رضا نه خلاف نه استعماله وی.

[۱۷۶] په اصل کښ لفظ شاکر استعمال شوے دے چه دهغے ترجمه موږ "قدردان" کړی ده. شکر چه کله دَ الله دَ طرفنه بنده ته وی نو دَ هغے معنیٰ به "خدمت منل" یا قدردانی کول وی، او کله چه دَ بنده دطرفنه الله تعالیٰ ته وی نو دهغے معنیٰ به نعمت منل یا احسان مند کیدل وی. دالله دطرفنه دَ بندګانو دشکریے ایستلو مطلب دا دے چه الله قدردان دے، بنده چه هر څومره او هر څنګه خدمت دَ هغهٔ وَکړی الله دَ هغے قدر کوی، دَ چا خدمت بے بدلے نه پریږدی. بلکه دَ هغه خو دومره سخا ده چه هر سړی ته دَ هغهٔ دَ خدمت نه زیاته بدله ورکوی. دَ بندګانو خو دا حال دے چه څوک ئے خدمت

لَا يُحِبُّ اللّٰهُ الْجَهْرَ بِالسُّوْٓءِ مِنَ الْقَوْلِ اِلَّا مَنْ ظُلِمَ ؕ

وَكَانَ اللّٰهُ سَمِيْعًا عَلِيْمًا ﴿۱۴۸﴾ اِنْ تُبْدُوْا خَيْرًا اَوْ تُخْفُوْهُ اَوْ
تَعْفُوْا عَنْ سُوْٓءٍ فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَفُوًّا قَدِيْرًا ﴿۱۴۹﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ
يَكْفُرُوْنَ بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ وَيُرِيْدُوْنَ اَنْ يُّفَرِّقُوْا بَيْنَ اللّٰهِ

الله دانۀ خوښوی چه سړے په بده وینا ژبه وُ خوزه وی، بغیر دَ هغه چا نه چه په چا ظلم شوے وی، او الله هر څه اوریدونکے او په هر څه پوهیدونکے دے. (چه مظلوم ئے نو دَ بدے وینا حق اکو چه تا ته حاصل دے) لیکن که تۀ نیکی وُ کړے که په ښکاره وی او که په پټه وی یا کم از کم بدی معاف کړے، نو دَ الله صفت هم دا دے چه هغه ډیر معاف کونکے دے حالانکه په سزا ورکولو باندِ پوره قدرت لری.[۱۷۷]

کوم خلق چه دالله او دَ هغه دَ رسولانو سره کفر کوی، او غواړی چه دَ الله او دَ هغه دَ رسولانو

وُ کړی نو قدرئے کم کوی او چه څوک ورله څه وُ نکړی نو بیائے ډیر په سختئ سره رانیسی. لیکن دالله دا حال دے چه څوک څه وُ نکړی نو په حساب کتاب کښ ورسره ډیره نرمی او چشم پوشی کوی، او چه څوک څه وُ کړی نو دَ هغے قدر دَ هغے نه زیات کوی.

[۱۷۷] په دے آیت کښ مسلمانانو ته ډیر دَ وُ چتو اخلاقو تعلیم ورکړے شوے دے. په هغے وخت کښ منافقانو، یهودیانو او بت پرستانو ټولو دَ اسلام په لار کښ مشکلاتو پیدا کولو ته ملا تړلی وه، او چا چه اسلام قبول کړے وُو دَ هغوئ دَ تنګولو او دَ هغوئ دَ پریشانه کولو کلکه اراده ئے کړی وه، یو بدترین تدبیر دا سے نۀ وُو چه هغوئ ددے نوی تحریک خلاف نۀ استعمالولو. دا ضروری خبره وه چه په دے سره دَ مسلمانانو په زړونو کښ نفرت او غصه راپیدا شی. الله تعالیٰ چه کله دَ مسلمانانو په زړونو کښ دا قسمه جذبات راپورته کیدل وُ لیدل نو وے فرمائیل چه په بده وینا باندِ ژبه خوزه ول دَ خدائے خوښه نۀ ده. په دے کښ هیڅ شک نشته چه په تاسو باندِ ظلم کیږی او که مظلوم دَ ظالم خلاف بده ژبه وُ خوزوی نو هغه په حقه دے. لیکن بیا هم بهتره خبره دا ده چه که په پټه وی او که په ښکاره وی په هر حال کښ نیکی کوه او بدئ معاف کوه، ځکه چه تاله پکار دی چه دَ خدائے دَ اخلاقو سره ځان نزدے کړے، دَ کوم خدائے نزدیکت چه تۀ غواړے دهغه دا شان دے چه ډیر صبرناک او بار وُ رونکے دے، دَ سخت نه سخت مجرمانو ته رزق ورکوی او ډیر لوئ لوئ ګناهونه هم معاف کوی. نو دَ هغۀ سره دَ نزدیکت دپاره تاله هم پکار دی چه دَ وُ چتے حوصلے او فراښه سینے والا جوړ شے.

وَرُسُلِهٖ وَيَقُوْلُوْنَ نُؤْمِنُ بِبَعْضٍ وَّنَكْفُرُ بِبَعْضٍ ۙ وَّيُرِيْدُوْنَ
اَنْ يَّتَّخِذُوْا بَيْنَ ذٰلِكَ سَبِيْلًا ۙ﴿۱۵۰﴾ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْكٰفِرُوْنَ
حَقًّا ۚ وَاَعْتَدْنَا لِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابًا مُّهِيْنًا ﴿۱۵۱﴾ وَالَّذِيْنَ
اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ وَلَمْ يُفَرِّقُوْا بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْهُمْ اُولٰٓئِكَ
سَوْفَ يُؤْتِيْهِمْ اُجُوْرَهُمْ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿۱۵۲﴾ ع



پہ منځ کښې فرق وکړي، او دا وائي چه څوک به منو او څوک به نه منو، او غواړي چه د کفر او د ایمان په منځ کښې یوه لار وباسي، نو دا ټول پاخه کافران دي[۱۷۸] او د داسې کافرانو د پاره موږ هغه سزا تیاره کړې ده چه دوئ به خوار و ذلیله کړي ـــــ د دې برخلاف کوم خلق چه الله او د هغه ټول رسولان منی، او د هغوئ په منځ کښې فرق نه کوي، هغوئ ته به موږ ضرور خپلې بدلې ورکړو،[۱۷۹] او الله ډیر معاف کونکے او رحم کونکے دے[۱۸۰] ع

[۱۷۸] یعنی هغه خلق چه نه خدائے منی او نه د هغه رسولان، او هغه خلق چه خدائے منی خو رسولان نه منی، او څوک چه ځنے رسولان منی او ځنے نه منی دا ټول یو شان کافران دي. د دوئ په کفر کښې یو ذره شک نشته۔

[۱۷۹] یعنی کوم خلق چه دیو خدائے عبادت کوي او هغه خپل مالک منی او د هغه د رالیږلو شوو پیغمبرانو پیروي قبوله کړي، نو صرف هغوئ په خپلو عملو نو باندې د اجر اغستلو مستحق دي، او هغوئ چه څومره نیک عمل وکړي د هغے اجر به بیا مومي۔ پاتې شو هغه خلق چه د الله بے شریکه خدائي او پالنه نه منی، یا د خدائے په نمائندګانو کښې ځنے منی او ځنے نه منی، نو د هغوئ د پاره دا سوال د سر نه نه پیدا کیږي چه د هغوئ په عمل باندې څه اجر هغوئ له ورکړے شي، ځکه چه د داسے خلقو یو عمل هم د خدائے په نظر کښې قانوني عمل نه دے۔

[۱۸۰] یعنی کومو خلقو چه د الله او د هغه په رسولانو باندې ایمان راوړے دے د هغوئ سره به الله تعالیٰ په حساب کولو کښې سختي نه کوي بلکه ډیره نرمي به ورسره کوي او معاف کوي به ئے۔

يَسْئَلُكَ اَهْلُ الْكِتٰبِ اَنْ تُنَزِّلَ عَلَيْهِمْ كِتٰبًا مِّنَ السَّمَآءِ فَقَدْ
سَاَلُوْا مُوْسٰٓى اَكْبَرَ مِنْ ذٰلِكَ فَقَالُوْٓا اَرِنَا اللّٰهَ جَهْرَةً
فَاَخَذَتْهُمُ الصّٰعِقَةُ بِظُلْمِهِمْ ۚ ثُمَّ اتَّخَذُوا الْعِجْلَ مِنْۢ بَعْدِ
مَا جَآءَتْهُمُ الْبَيِّنٰتُ فَعَفَوْنَا عَنْ ذٰلِكَ ۚ وَاٰتَيْنَا مُوْسٰى

دا اهل کتاب که تن ستانه دا مطالبه کوی چه تۀ په دوئ باندِ دَ آسمان نه څه لیکل را نازل کړے[۱۸۱] نو دوئ مخکښ دَ موسیٰؑ نه ددے نه ډیره غټه دَ جرم مطالبه کړی وه. هغه ته خو دوئ وئیلی وُو چه موږ ته خدائے په ډاګه وُ ښایه او دَ دے سرکشئ په وجه په هغوئ باندِ ناسا په دَ بجلئ یو تندر را پریوتے وُو.[۱۸۲] بیا هغوئ دَ سخی عبادت شروع کړو حالانکه دا ښکاره ښکاره نښے ئے لیدلے وے.[۱۸۳] بیا هم موږ هغوئ معاف کړل. موږ موسیٰؑ له

[۱۸۱] دَ مدینے یهودیانو چه به دَ نبی صلی الله علیه وسلم نه کومے عجیبه عجیبه مطالبے کولے په هغے کښ یوه دا هم وه چه موږ ته تا تر هغه وخته پورے رسول نه منو تر څو پورے چه یو لیکلے شوے کتاب زموږ په مخکښ دَ آسمان نه نازل شوے نه وی، یا تر څو چه زموږ ته دَ هر سړی په نوم باندِ دَ آسمان نه دا لیکل را نشی چه دا محمدؐ زموږ ته رسول دے په دۀ باندِ ایمان راوړئ.

[۱۸۲] دلته دَ څه واقعے تفصیل بیانول مقصد نه دی، بلکه دَ یهودیانو دَ جرمونو یوه مختصره نقشه پیش کول مقصد دی، دغه وجه ده چه دَ هغوئ دَ قومی تاریخ یو څو خاص خاص واقعاتو طرفته سرسری اشارے شوی دی. په دے آیت کښ چه دَ کومے واقعے ذکر دے هغه دَ سورة بقرے په آیت ۵۵ کښ هم تیر شوے دے. (وګوره سورة بقره، حاشیه نمبر ۷۱)

[۱۸۳] د ښکاره نښو نه مُراد هغه نښے دی چه کله موسیٰ علیه السلام رسول مقرر کړے شو دَ هغے نه را واخله د فرعون دَ غرق کیدو پورے او دَ بنی اسرائیلو دَ مصر نه دَ وتلو پورے پر لَپسے دے خلقو لیدلے وے. ظاهره خبره ده چه دَ مصر غوندِ عظیم الشان طاقت د پنجو نه بنی اسرائیل چا خلاص کړی وُو هغه څه دَ غوا بچے نه وُو بلکه الله رب العلمین وُو. خو دا قوم په باطل پرستئ کښ دومره انتها ته رسیدلے وُو چه دَ خدائے قدرت او دَ هغه دا روښانه نښے ئے په خپلو سترګو ښه وُلیدلے او بیا هم دَ خپل احسان کوونکی خدائے په وړاندِ ټیټ نشو بلکه دَ یو جوړ کړے شوی سخی بُت ته وړاندِ ټیټ شو.

سُلْطٰنًا مُّبِيْنًا ﴿۱۵۳﴾ وَرَفَعْنَا فَوْقَهُمُ الطُّوْرَ بِمِيْثَاقِهِمْ وَقُلْنَا
لَهُمُ ادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا وَّقُلْنَا لَهُمْ لَا تَعْدُوْا فِي السَّبْتِ
وَاَخَذْنَا مِنْهُمْ مِّيْثَاقًا غَلِيْظًا ﴿۱۵۴﴾ فَبِمَا نَقْضِهِمْ مِّيْثَاقَهُمْ وَ
كُفْرِهِمْ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَقَتْلِهِمُ الْاَنْبِيَآءَ بِغَيْرِ حَقٍّ وَّقَوْلِهِمْ
قُلُوْبُنَا غُلْفٌ ؕ بَلْ طَبَعَ اللّٰهُ عَلَيْهَا بِكُفْرِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُوْنَ

څرګند فرمان ورکړو او دَ دے خلقو د پاسه موطور وُچت کړو او دَ دوئ نه مو (دَ دغے فرمان دَ منلو) وعده واغستله[۱۸۴]. موږ ده دوئ ته حکم وُکړو چه دروازے ته دَ سجدے په حالت کښ ورننوځئ[۱۸۵]. موږ ده دوئ ته وُوئیل چه دَ سبت قانون مه ماتوئ او په دے باندِ مو دَ دوئ نه بنه پخه وعده واغستله[۱۸۶]. آخر دا چه دَ دوی دَ خپلے وعدے دَ ماتولو په وجه، او په دے وجه چی دوئ دَ الله دَ آیتونو نه انکار اوکړو، او ډیر پیغمبران ئے په ناحقه اُووژل، او تر دے پورے چی دا خبره ئے اوکړه چی زموږ زړونه په پردو کښے محفوظ دی[۱۸۷] ـــ[۱۸۸] حال دا دے چه په حقیقت کښ دَ دوئ دَ باطل پرستئ په وجه الله تعالیٰ دَ دوئ په زړونو باندِ ټاپه لګولے ده او ددے وجے نه دوئ ډیر کم

---

[۱۸۴] دَ څرګند فرمان نه مُراد هغه حکمونه دی چه حضرت موسیٰ علیه السلام له په تختو باندِ لیکلی ورکړے شوی وُو. دَ سورة اعراف په اوولسمه رکوع کښ به دَ دے ذکر زیات په تفصیل سره راشی. او دَ وعدے نه مراد هغه وعده ده چه دَ طور دَ غر په لمن کښ دَ بنی اسرائیلو دَ نمائندګانو نه اغستے شوی وه. دَ سورة بقرے په آیت ۶۳ کښ ددے ذکر تیر شوے دے او دَ سورة اعراف په آیت ۱۷۱ کښ به بیا ددے طرفته اشاره وُشی.

[۱۸۵] وُګوره سورة بقره آیت ۵۸ ـ ۵۹ او حاشیه نمبر ۷۵.

[۱۸۶] وُګوره سورة بقره آیت ۶۵ او حاشیه نمبر ۸۲، ۸۳.

[۱۸۷] دَ یهودیانو دے قول ته دَ سورة بقرے په آیت ۸۸ کښ هم اشاره شوی ده. په حقیقت کښ به دے خلقو د نورو جاهلانو پشان په دے خبره فخر کولو چه کوم خیالات، پره جنمبه او رسم ریواج موږ ته د پلار نیکۀ نه پاتے شوی دی، په هغے باندِ زموږ عقیده دومره پخه شوی ده چه اوس موږ ده دے نه هیڅوک نشی اړولے. هر کله چه دَ خدائے دَ طرفنه پیغمبران راغلی دی او دَ دوئ د پوهه کولو کوشش ئے کړے دے، نو دوئ ورله دا جواب ورکړے دے چه که تاسو هر څومره دلیلونه او آیتونه راوړئ خو په موږ باندِ ستاسو دَ خبرے اثر نه کیږی، څه چه موږ منلی دی او غه کار چه موږ کوو، هم هغه به منو او هم هغه کار به کوو. (وُګوره سورة بقره حاشیه نمبر ۹۴).

اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۱۵۵﴾ وَّبِكُفْرِهِمْ وَقَوْلِهِمْ عَلٰى مَرْيَمَ بُهْتَانًا عَظِيْمًا ﴿۱۵۶﴾

ایمان راوړی ـــــ [۱۸۹] بیا په خپل کفر کښ دومره وړاندې لاړل چه په مریم باندې ئې سخت بهتان ونکوو [۱۹۰]

[۱۸۸] دا د روان تقریر په منځ کښ بله خبره ده۔

[۱۸۹] منځنۍ خبره ختمه شوه او اصل تقریر بیا شروع شو۔

[۱۹۰] یهودی قوم په حقیقت کښ د حضرت عیسیٰ علیه السلام د پیدائش په معامله کښ یوه ذره هم شکمن نه وو بلکه په کومه ورځ چه هغه پیدا شوے وو د هغے ورځ نه الله تعالیٰ ټول قوم په دے خبره باندې گواه کړے وو چه دا بچے لوئ شخصیت والا دے، د دهٔ پیدائش په معجزه شوے دے په اخلاقی جرم نه دے شوے. کله چه د بنی اسرائیلو دیوے شریفے او د مذهبی کورنئ ناوادهٔ شرے جینئ په غیږ کښ بچے راغستے وو او کورته راغله، او د قوم لوئ واړهٔ په زرګونو خلق د هغے کورته راغلل نو هغے په خاموشئ سره دے ماشوم بچی طرف ته اشاره وکړه او وے وئیل چه ستاسو د ټولو تپوسونو جوابونه به دا ماشوم تاسو له درکړی۔ ټول خلق حیران شو چه د هغے بچی نه به موږ څه تپوس وکړو چه په زانګو کښ پروت دے۔ خو ناسا په هغه بچی شروع وکړه او ډیر په صفا ژبه کښ ئې خلقو ته وئیل چه اِنِّیْ عَبْدُ اللّٰهِ قف اٰتٰنِیَ الْکِتٰبَ وَ جَعَلَنِیْ نَبِیًّا۔ "زهٔ د الله بنده یم، الله ماله کتاب راکړے دے او زهٔ ئې نبی جوړ کړے یم" (سورته مریم رکوع ۲)۔ په دے طریقه الله تعالیٰ هغه شک د همیشه د پاره ختم کړے وو چه د مسیح د پیدائش په باره کښ راپیدا کیدے شو۔ او دغه وجه وه چه حضرت عیسیٰ علیه السلام ځوانئ ته ورسید و خو هیچا نه په حضرت مریم باندې د زنا الزام ونکوو او نه چا حضرت عیسیٰ ته د ناجائزه پیدائش پیغور ورکړو۔ خو کله چه دیر شو کالو ته ورسید و او د نبوت کار ئې شروع کړو، او یهودیان ئې په خپله بدعملئ ملامته کول شروع کړل، او د هغوئ عالمان ئې په دے وټوکل چه ریاکاری مه کوئ، او د هغوئ عوام او خواص ټول ئې د خپل اخلاقی زوال نه خبر کړل، او هغے خطرناکے لارے ته ئې خپل قوم له دعوت ورکړو چه په هغے کښ د خدائے د دین قایمه ولو د پاره د هر قسمه قربانی برداشت کول وو او هر طرفته د شیطانی طاقتونو سره جنګ کول وو، نو دا بے باکه مجرمان د دے رښتینی آواز د دبا وهلو د پاره تیار شول او د هر قسمه ګنده چلونه استعمالول ئې شروع کړل۔ په دے وخت کښ دوئ هغه خبرے شروع کړے چه د دیر شو کالو پورے ئې نه وے کړے یعنی چه مریم علیها السلام، توبه خدایه توبه، زناکاره وه، او عیسیٰ ابن مریم ولد زنا دے۔ حالانکه دے ظالمانو ته بنه په یقین سره معلومه وه چه دا دواړه مور او ځوئے د دے ګندګئ نه بالکل پاک دی۔ نو په حقیقت کښ د هغوئ په زړونو کښ هیڅ شک نه وو، بلکه دا خالص بهتان وو چه د حق په مخالفت کښ ئې قصداً په هغوئ باندې نکولے وو۔ په دے وجه ورته الله تعالیٰ د ظلم او د دروغو پځاے کفر وئیلے دے ځکه چه د دے الزام د نکولو نه د هغوئ اصلی مقصد د خدائے د دین لاره بندول وو، دا نه چه په یوه بے ګناه نښځه باندې ئې الزام نکول مقصد وو۔

وَّقَوْلِهِمْ اِنَّا قَتَلْنَا الْمَسِيْحَ عِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ رَسُوْلَ اللّٰهِ ۚ وَمَا
قَتَلُوْهُ وَمَا صَلَبُوْهُ وَلٰكِنْ شُبِّهَ لَهُمْ ؕ وَاِنَّ الَّذِيْنَ

او پخپله ئے وُوئیل چه موږ ده مسیح، عیسیٰ دَ مریم ځوئے، دَ الله رسول قتل کړے دے[191]
او حال[192] دا دے چه په حقیقت کښ هغوئ نهٔ هغه قتل کړو او نهٔ ئے په سولئ وخیژوو
بلکه دَ هغوئ دپاره دا معامله شکمنه کړے شوه[193] او کومو خلقو چه

[191] په جرم کښ تر دے حده پورے زړور شوی وُو چه ښهٔ به ئے پیژندو چه دا رسول دے او بیا به ئے هم قتل کړو، او ښهٔ په فخر سره به ئے وئیل چه موږ ده د الله رسول قتل کړو۔ بَره چه موږ ده دَ زانګو د واقعے کومه حواله ورکړی دے چه په هغے غور وُکړے شی نو دا خبره صفا کیږی چه دیهودیانو دَ مسیح علیه السّلام په نبوت کښ هیڅ شک نهٔ وُو۔ بیا هغه روښانه نښے چه هغوئ دَ عیسیٰؑ نه په خپلو سترګو وُلیدے (چه ذکر ئے دَ سورة آلِ عمران په رکوع ۵ کښ تیر شوے دے) د هغے نه روستو خو بیا په دیکښ هډو څه شک نهٔ وُو چه هغه دَ الله پیغمبر دے حقیقت دا دے چه هغوئ دَ عیسیٰؑ سره څه کول نو هغوئ څه دوکه شوی نهٔ وُو بلکه ښهٔ ئے پیژندلو چه دا موږ ده دَ هغے انسان سره کوُو چه د الله پیغمبر دے۔

هسے خو دا خبره ډیره عجیبه معلومیږی چه یو قوم یو سړے پیژنی چه دا نبی دے او منی ئے هم او بیا ئے قتل کړی۔ خو حقیقت دا دے چه دخرابو قومونو کارونه وی څه دا سے عجیبه شان۔ هغوئ په خپل منځ کښ دا سے سړے نهٔ پریږدی چه هغوئ له په بدو کارونو زور نه ورکوی او د ناجائزه کارونو نه ئے منع کوی۔ دا سے سړے که پیغمبر هم وی خو هغه همیشه د بد عمله قومونو دلاسه د قید او د قتل سزاګانے خوړلی دی۔ په تلمود کتاب کښ ئے لیکلی دی چه بخت نصر کله بیت المقدس فتح کړو او سلیمانی هیکل ته ورننوتلو او سیل ئے کولو۔ نو د قربانئ ځائے ته مخامخ په دیوال باندِ یو ځائے کښ ئے د غشی نشان وُلیدو۔ هغهٔ دیهودیانو نه تپوس وُکړو چه دا څه نښه ده؟ نو هغوئ ورته اُووئیل چه "دلته زکریا نبی موږ ده قتل کړے وُو۔ هغهٔ به موږ ده په غلطو کارونو باندِ ملامته کولو آخر دا چه تنګ شو نو قتل موکړو" په بائیبل کښ دَ یرمیاه نبی په باره کښ ئے دا لیکلی دی چه کله بنی اسرائیل دَ حد نه زیات بد اخلاقه شو او حضرت یرمیاه نبی ورله دا خبره اړه ورکړو چه د دے بد عملئ په وجه به خدائے تاسو په نورو قومونو باندِ وُوهی نو په هغه ئے دا الزام وُلګوُ چه دے دَ کسدیانو (کلدانیانو) سره ملاؤ شوے دے او دَ قوم غدار دے۔ په دے الزام کښ هغه جیل ته وُلیږلے شو۔ په خپله دَ حضرت مسیحؑ دَ سُولئ د واقعے نه دوه دوه نیم کاله مخکښ د حضرت یحییٰ معامله پیښه شوی وه۔ عامو یهودیانو هغه پیژندو چه دے نبی دے او کم از کم دومره خوئے منله چه یو نیک صالح انسان دے۔ خو چه کله هغه د هیرودیس (دیهودیانو د ریاست والی) دَ دربار په بدو کارونو تنقید شروع کړو نو اول ئے جیل ته وُلیږو او بیا ئے دَ والئ ریاست د معشوقے په وینا باندِ د هغهٔ نه سر پریکړو۔ دیهودیانو دے کارونو ته چه سړے وُګوری نو دا دَ څه حیرانتیا خبره نهٔ ده

اخْتَلَفُوْا فِيْهِ لَفِيْ شَكٍّ مِّنْهُ ؕ مَا لَهُمْ بِهٖ مِنْ عِلْمٍ اِلَّا
اتِّبَاعَ الظَّنِّ ۚ وَمَا قَتَلُوْهُ يَقِيْنًا ۙ﴿۱۵۷﴾ بَلْ رَّفَعَهُ اللّٰهُ

دَ هغه په باره کښ اختلاف کړے دے هغوی هم ټول په شک کښ پراته دی، دَ هغوی سره په دے معامله کښ هیڅ علم نشته، تش په گمان پسے روان دی[۱۹۴] هغوی حضرت عیسیٰ په یقین سره قتل نه کړو بلکه الله هغه چپل ځان طرفته

چه کله هغوی په خپل خیال کښ مسیحؑ په سولئ وُخیژوُو او بیائے روستو په فخر سره داوئیلی وی چه "مونږه دا الله رسول قتل کړے دے"۔

[۱۹۲] دا بیا په منځ کښ یوه خبره ده۔

[۱۹۳] دا آیت دا خبره صفا کوی چه حضرت مسیح علیه السلام په سولئ باندِ دَ خیژولو نه وړاندِ پورته کړے شوے وُو او دَ عیسایانو او دیهودیانو دا خیال صرف یوه دوکه ده چه مسیح په سولئ باندِ ساه ورکړی ده۔ دَ قرآن او دَ بائیبل دَ بیانونو نه مونږ ته دا معلومیږی چه غالباً د پیلاطس بادشاه په عدالت کښ خو دَ مسیحؑ پیشی شوی وه خو چه کله ئے دَ مرگ دَ سزا فیصله واوره وله، او یهودیانو ددے پاک انسان په مقابله کښ یو ډاکو زیات قیمتی وُګڼلو او په خپل ځان ئے دَ حق سره دَ دشمنئ کولو او دباطل سره دَ مینے کولو آخری مُهرهم وُلګولو، نو پس دَ هغے ترِ الله پاک په څه وخت کښ حضرت مسیحؑ پورته کړو۔ روستو چه یهودیانو کوم سړے په سُولئ وُخیژوُو نو هغه عیسیٰؑ نه وُو بل څوک وُو خو معلومه نه ده چه په څه وجه ورته هغوی عیسیٰ ابن مریم وئیلو۔ هر څه چه وُو په دے سره دَ هغوی جُرم کمیږی نه، ځکه چه هغوی چا ته دا زغوتاج په سره وُو او دَ چا په مخ ئے لاړے تُوکلے او په سُولئ ئے خیژوُو نو هغوی په خپل خیال کښ دا وئیل چه عیسیٰ ابن مریم دے۔ اوس ددے معلومولو دپاره زمونږ سره هیڅ ذریعه نشته چه دا معامله په هغوی باندِ څنګه مشتبه کړے شوه۔ په دے باره کښ هیڅ یقینی معلومات نشته دے نو ددے وجے نه صرف په قیاس او په گمان باندِ دانشی وئیلے کیدے چه هغه دَ څه قسم شک وُو چه یهودیانو دا وئیل چه مونږ عیسیٰ ابن مریم په سولئ خیژولے دے او حال دا وُو چه هغه دَ هغوی د لاس نه وتلے وُو

[۱۹۴] دا اختلاف کونکو نه مُراد عیسایان دی۔ دمسیحؑ علیه السلام دپانسئ په باره کښ دَ عیسایانو څه یوه خبره نه ده بلکه دَ هغوی په دے باره کښ شل قسمه خبری دی او دَ هغوی دا ډیرے خبرے په دے دلالت کوی چه اصل حقیقت ورته معلوم نه دے او په شک کښ پراته دی۔ څوک وائی چه کوم سړے په سُولئ خیژولے شوے وُو هغه مسیحؑ نه وُو بلکه دَ مسیحؑ په شکل بل څوک وُو چه یهودیانو او د روم سپایانو په سُولئ خیژولو او مسیحؑ هلته چرته یو ځائے کښ ولاړ وُو او په دے بیوقوفانو پورے ئے خندل۔ څوک وائی چه په سُولئ خو مسیحؑ خیژولے شوے وُو خو روح ترِ په سولئ دپاسه نه وو ختلے چه کله راکوز کړے شو نو ساه ترِ وُختله۔ او څوک وائی چه هغه دَ سولئ دپاسه وفات شو او بیا راژوندے شو او تقریباً لس ځله د خپلو ملګرو حواریانو سره ملاؤ شو او خبرے ئے ورسره وُکړے۔ څوک وائی چه دَ مسیح انسانی جسم په سُولئ

اِلَيْهِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَزِيْزًا حَكِيْمًا ﴿۱۵۸﴾ وَاِنْ مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ اِلَّا

پورته کړو، [۱۹۵] الله زبردست طاقت والا او حکمت والا دے - او په اهل کتابو کښ به هیڅوک داسے نه وی

سره مړ شو او هغه ښخ کړے شو خو په هغه کښ چه کوم اُلوهیت روح وُو هغه پورته کړے شو. او څوک وائی چه دَ مرګ نه روستو مسیح علیه السلام ژوندے شو او دَ جسم سره پورته کړے شو. دا ښکاره خبره ده که دَ هغوئ سره دَ حقیقت علم وے نو دا دومره مختلفے خبرے به پکښ مشهورے شوی نه وے.

[۱۹۵] دا ددے معاملے اصلی حقیقت دے چه الله تعالیٰ خو دلے دے. په دیکښ ښه په صفائی سره دا وئیلی شوی دی چه دَ حضرت مسیح په قتلولو کښ یهودیان کامیاب نه شو او هغه الله تعالیٰ خپل ځان طرفته پورته کړو. او سے پاتے شوه دا خبره چه څنګه ئے پورته کړو ددے په باره کښ قرآن هیڅ تفصیل نه دے ښودلے. په قرآن کښ نه صفا داسے دی چه هغه الله تعالیٰ دَ جسم او د روح سره دَ زمکے نه آسمان ته چرته ویوړو او نه ئے صفا دا وئیلی دی چه هغه په زمکه باندِ مړ شو او صرف روح ئے پورته کړے شو. ددے وجے نه د قرآن په بنیاد باندِ نه خو ددے نه انکار کیدے شی او نه ئے سړے منلے شی - لیکن دَ قرآن د بیان نه دا خبره صفا معلومیږی چه که په هر شکل مسیح علیه السلام پورته کړے شوے دے خو بهرحال الله په یوه ناآشنا طریقه پورته کړے دے. دا ناآشنا والے دَ دریو څیزونو نه ظاهریږی.

یو دا چه دا ول نه دَ عیسایانو دا عقیده وه چه مسیح علیه السلام د جسم او دَ روح سره پورته کړے شوے دے، او هم دغه وجه وه چه دَ عیسایانو یوه لویه ډله دَ مسیح دَ خدائی قائله شوی ده، لیکن سره ددے قرآن داسے نه وائی چه دَ عیسایانو دا عقیده غلطه ده بلکه چه عیسایان ددے واقعے د پاره کوم لفظ "رفع" (Ascension) استعمالوی، هم هغه لفظ ئے استعمال کړو. او دا خبره د کتاب مبین د شان نه خلاف ده چه هغه یو خیال ته غلط وئیل غواړی او بیا د هغے د پاره داسے ژبه استعمال کړی چه هغه خیال پرنور هم مضبوطیږی.

دویم دا که مسیح علیه السلام دَ دُنیا دَ نورو مړو پشان پورته کړے شوے وے او یا که دَ پورته کیدو نه مطلب دَ هغه درجے او مرتبے پورته کول وے لکه چه څنګه دَ حضرت ادریس په باره کښ فرمائیلی شوی دی چه رَفَعْنَاهُ مَكَانًا عَلِيًّا، نو دا بیان به په دے طریقه نه وُو لکه چه دا په کومه طریقه دے. بیا خو چه ئے په دے طریقه بیان کړے وے نو زیاته به مناسبه وه چه "یقین لرئ چه هغوئ مسیح قتل نه کړو بلکه الله ژوندے بچ کړو او بیا په خپل مرګ مړ شو. یهودیانو د هغه ذلت غوښتلو خو الله هغه له لوئ درجے ورکړلے."

دریم دا چه که دا هغے عام پورته کیدل وُو لکه څنګه چه مرنږه دَ یو مړی په باره کښ وائیو چه هغه الله واغستو یا پورته کړو، نو بیا روستو دا فقره مناسبه نه وه چه "الله زبردسته طاقت والا او حکمت والا دے." دا فقره خو دَ یوه داسے واقعے نه روستو مناسب وی چه په هغے کښ دا الله دَ قهری قوت او دَ هغه د لوئ حکمت اظهار شوے وی.

لَيُؤْمِنَنَّ بِهٖ قَبْلَ مَوْتِهٖ ۚ وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ يَكُوْنُ عَلَيْهِمْ شَهِيْدًا ۚ ﴿۱۵۹﴾

چہ د هغہ د مرګ نه مخکښ په هغه باندې ایمان راوړي[۱۹۶] او د قیامت په ورځ به هغه په هغوئ باندې ګواهي کوي،[۱۹۷]

دې په جواب کښ د قرآن نه صرف یو دلیل پیش کیدے شی چه په سورة آل عمران کښ الله تعالیٰ لفظ مُتَوَفِّيْكَ استعمال کړے دے (آیت ۵۵). لیکن هلته هم مونږه په حاشیه نمبر ۵۲ کښ وئیلی دی چه د دے لفظ معنیٰ یوائے خپل طبعی مرګ نه دے، بلکه د روح اغستل او د روح او د جسم دواړو اغستل معنیٰ ګڼ هم کیدے شی. نو ه دلیل د هغے مناسبتونو خو تولو دپاره کافی نه دے کوم چه مونږه بره بیان کړی دی. کوم خلق چه د مسیحؑ په خپل طبعی مرګ باندې ډیر زور ورکوی هغوئ دا ټپوس کوی چه آیا چرته بل داسے مثال هم شته چه د تَوَفّی لفظ د روح او د جسم د دواړو اغستلو دپاره استعمال شوے وی؟ لیکن دا ټپوس خوبے مطلبه ځکه دے چه هر کله د روح او د جسم د دواړو په برخه د اغستلو واقعه په انسانی تاریخ کښ راغلی یو ځل نه نو څنګه به په دے معنیٰ کښ د دے لفظ بل استعمال راشی. غور په دے خبره پکار دے چه په دے ټکی کښ د دے معنیٰ د استعمال ګنجائش شته او که نه؟ که چرے وی نو بیا به د اصل ضروری وی چه قرآن د دے عقیدے نه انکار نه کوی چه مسیح د جسم سره پورته شوے دے، بلکه د دے لفظ په استعمال سره د دے عقیدے له نور تقویت ورکوی، ځکه خو د مرګ دپاره بنکاره لفظ "موت" پریږدی. او د دوو معنو لفظ "وفات" استعمالوی. بیا و یرحدیثونه دا سے وی چه د مسیح د جسم سره د پورته کیدو د عقیدے له زیات تقویت ورکوی، په هغے حدیثونو کښ دا بیان دے چه د قیامت نه مخکښ به عیسیٰ ابن مریم علیه السلام دوباره دنیا ته راځی او د دجال سره به جنګ کوی. (د سورة احزاب په آخر کښ دا حدیثونه مونږ نقل کړیدی). د دے حدیثونو نه د حضرت عیسیٰؑ په دویم ځل راتلل خو قطعی طور ثابت دی. او دے د اندازه هر سړے په خپله بنه لګولے شی چه د مرګ نه روستو دوباره دنیا ته راتلل زیات مناسب دی، یا دا چه د خدائے په خدائیۍ کښ چرته ژوندے وی او بیا واپس دنیا ته راشی.

[۱۹۶] دے فقرے دوه معنے استعمال شوی دی او دواړه معنے ئے مطلب کیدے شی. یوه معنیٰ هغه ده چه مونږ په ترجمه کښ لیکلی ده. دویمه دا چه "په اهل کتابو کښ دا سے هیڅوک نشته چه د خپل مرګ نه مخکښ په مسیحؑ باندې ایمان راوړی". د اهل کتابو نه مراد یهود بان دی او کیدے شی چه عیسایان هم وی. د اوله معنے په لحاظ سره به دا مطلب وی چه کله د مسیح خپل طبعی مرګ وی نو په هغے وخت کښ چه څومره اهل کتاب موجود وی هغوئ تولو به په مسیحؑ باندې (یعنی د هغه په رسالت باندې) ایمان راوړے وی. د دویم معنے په لحاظ سره به مطلب دا وی چه په تولو اهل کتابو باندې عین د مرګ نه لږ مخکښ د مسیح د رسالت حقیقت بنکاره کیږی او هغوئ په مسیح باندې ایمان راوړی، خو په هغے وخت کښ ایمان راوړل هیڅ فائده نه لری. دا دواړه معنے د پیرو صحابو، تابعینو او د نورو مفسرینو نه نقل شوی دی او صحیح مطلب ئے صرف د الله په علم کښ دے.

فَبِظُلْمٍ مِّنَ الَّذِيْنَ هَادُوْا حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ طَيِّبٰتٍ اُحِلَّتْ
لَهُمْ وَبِصَدِّهِمْ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ كَثِيْرًا ﴿۱۶۰﴾ وَّاَخْذِهِمُ
الرِّبٰوا وَقَدْ نُهُوْا عَنْهُ وَاَكْلِهِمْ اَمْوَالَ النَّاسِ بِالْبَاطِلِ ؕ

غرض[۱۹۸] دا چه د دے یهودیان شو خلقو د ظلم په وجه، او په دے وجه چه دوئ خلق ډیر زیات د الله د لارے نه منع کوی،[۱۹۹] او سود اخلی چه د هغے نه دوئ منع کړے شوی وو،[۲۰۰] او د خلقو مالونه په ناجائزو طریقو سره خوری، (نو په دے وجه) موږ په دوئ باندے ډیر هغه پاک څیزونه حرام کړل چه مخکښ د دوئ د پاره حلال وو،[۲۰۱]

[۱۹۷] یعنی یهودیانو او عیسائیانو چه د مسیح علیه السلام سره او د هغه د پیغام سره کومه معامله کړی ده په هغے باندے به مسیح د خدائے تعالیٰ په عدالت کښ گواهی کوی. دے گواهئ څه تفصیل مخکښ د سورة مائدے په آخری رکوع کښ راتلونکے دے.

[۱۹۸] د تقریر په منځ کښ چه کومه بیله خبره وه هغه ختمه شوه او کوم تقریر چه را روان وو هغه بیا شروع شو.

[۱۹۹] یعنی یواځے په دے اکتفا نه کوی چه پخپله د الله د لارے نه اوړیدلی دی، بلکه په جرم کښ دومره بے باکه شوی دی چه په دنیا کښ د خلقو د گمراه کولو د پاره څه تحریک راوچتیږی اکثر په هغے کښ د یهودیانو لاس وی، او حق ته د رابللو د پاره چه څه تحریک شروع کیږی د هغے د ختمولو د پاره اکثر یهودیان مقابلے ته راځی، او حال دا دے چه دے کمبختو ته د الله کتاب راغلے دے او د پیغمبرانو وارثان دی. د هغوئ د ټولونه تازه جرم دا اشتراکی تحریک دے چه یهودی دماغو جوړ کړے دے او د یهودیانو په مشرئ کښ ئے ترقی کړی ده، د دے تش په نوم اهل کتابو په نصیب کښ دا جرم هم وو چه د دنیا په تاریخ کښ د ټولونه اول کوم نظام دا سے جوړ شو چه د خدائے د وجود نه انکار کوی، د خدائے سره دشمنی کوی او د خدا پرستی ختمولو اراده لری نو د هغے جوړونکے او مشر د موسیٰ علیه السلام نوم اغستونکے وو. د اشتراکیت نه روستو د نوے زمانے د گمراهئ دویمه ذریعه د فرائډ فلسفه وه، او هغه هم د بنی اسرائیلو یوم نسان دے.

[۲۰۰] په تورات کښ په صفاتکو کښ دا حکم موجود دے چه:

"که چرے ته زما په خلقو کښ یو داسے محتاج له قرض ورکړے چه ستا خواته وسیږی نو د قرض غوښتونکو پشان سلوک ورسره مکوه او مه تر سود اخله. که چرے ته په څه وخت کښ د خپل گاونډی جامے د ځان سره کانړه کیږ دے نو د سر پریوتو نه مخکښ ئے ورته واپس کړه ځکه چه هم دغه یو د هغه اغوستن دے او دغه ئے د بدن جامه ده، هغه به بیا په څه کښ اوده کیږی. نو چه کله بیا هغه فریاد کوی، زه به د هغه خبره اورم ځکه چه زه مهربانه یم." (خروج باب ۲۲: ۲۵-۲۷)

د دے نه علاوه په نورو ډیرو ځایونو کښے په تورات کښ د سود حرامولے راغلے دے. لیکن د دے باوجود

وَاَعْتَدْنَا لِلْكٰفِرِيْنَ مِنْهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿۱۶۱﴾ لٰكِنِ الرّٰسِخُوْنَ
فِي الْعِلْمِ مِنْهُمْ وَالْمُؤْمِنُوْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ
وَمَآ اُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ وَالْمُقِيْمِيْنَ الصَّلٰوةَ وَالْمُؤْتُوْنَ

او کوم خلق چه په دوئ کښ کافران دی د هغوئ د پاره موږ دردناک عذاب تیار کړے دے[۲۰۲]
لیکن په دوئ کښ چه کوم خلق پاخه عالمان دی او ایماندار دی هغوئ ټول په هغے تعلیم
باندِ ایمان راوړی کوم چه په تا نازل کړے شوے دے او کوم چه ستا نه وړاندِ نازل
کړے شوے وُو[۲۰۳] د غسے ایماندارو خلقو له او د مونځ او د زکوٰة پایندو

تن په دُنیا کښ د ټولو نه زیات سُود خوارهٔ ددے توراة منونکی یهودیان دی چه په شومتیا او په سختیا باندِ
مشهور دی.

[۲۰۱] غالباً دا هغے مضمون طرفته اشاره ده چه وړاندِ د سورة انعام په آیت ۱۴۶ کښ راتلونکے دے. یعنی
دا چه په بنی اسرائیلو باندِ ټول هغه ځناور حرام کړے شو چه د هغوئ نوکان وی او د غوا او د چیلئ واز که پرِ
هم حرام کړے شوه. ددے نه علاوه دا هم ممکنه ده چه اشاره هغه پابندو او سختو طرفته وی کومے پابندئ
او سختئ چه په یهودی فقه کښ دی. چه د یوے ډلے د پاره د ژوند دائره تنګه کړے شی نو دا په حقیقت
کښ د هغوئ د پاره یو قسم سزا ده. (د تفصیلی بحث د پاره وګوره سورة انعام حاشیه نمبر ۱۲۲)

[۲۰۲] یعنی ددے قوم کوم خلق چه دا ایمان نه پشادی، بغاوتیان او انکاریان دی د هغوی د پاره د خدائے
د طرفنه په دنیا او په آخرت کښ دردناکه سزا تیاره ده. په دُنیا کښ چه ورته کومه د عبرت سزا ملاؤ شوه
او لا ملاویږی ورته هغه چرته یو بل قوم ته نهٔ ده ملاؤ شوے. دوه زره کاله شوی دی چه د زمکے
په سر ورته چرته د عزت ځائے ملاؤ شوے نهٔ دے. په دُنیا کښ خوارهٔ وارهٔ کړے شوی دی او په هر
ځائے کښ مسافران دی. یو دور داسے نهٔ تیریږی چه په هغے کښے دوئ د دنیا په یوه حصه کښے نهٔ ذلیله کیږی. او د ډیر دولت باوجود
یو ځائے چرته داسے نشته چه هلته دوئ ته د عزت په نظر کتلے شی. بیا غضب دا دے چه قومونه پیدا کیږی او ختمیږی خو دا قوم ختمیږی هم نهٔ. دوئ ته
په دُنیا کښ د لَا يَمُوْتُ فِيْهَا وَلَا يَحْيٰى سزا ورکړے شوی ده چه تر قیامته پورے د دُنیا د قومونو د پاره
د عبرت یوه نمونه وی، او چه خلق تر دا سبق واخلی چه د چا سره د خدائے کتاب موجود وی او هغوئ
د خدائے په مقابله کښ بغاوت شروع کړی نو د هغوئ به دا انجام وی. پاتے شو آخرت نو انشاء الله چه
هلته بهٔ عذاب ددے نه هم زیات دردناک وی. (په دے موقع باندِ چه د اسرائیلی ریاست د جوړیدلو
په وجه کومه شُبه راپیدا کیږی د هغے د ختمولو د پاره وګوره سورة آلِ عمران آیت ۱۱۲.)

[۲۰۳] یعنی په دوئ کښ چه کوم خلق د آسمانی کتابونو د حقیقی تعلیم نه خبر دی، او د هر قسمه بدنیتئ نه
د ضد نهٔ د پلار نیکه د طریقو او د نفس د بندګئ نه آزاد دی او د آسمانی کتابونو حقیقت په رښتیا سره
منی، نو د هغوئ په طور طریقو کښ او د کافرانو، ظالمانو یهودیانو په طور طریقو کښ ډیر فرق دے.

الزَّكٰوةَ وَالْمُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ اُولٰٓئِكَ
سَنُؤْتِيْهِمْ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿۱۶۲﴾ ع اِنَّآ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ كَمَآ اَوْحَيْنَآ
اِلٰى نُوْحٍ وَّالنَّبِيّٖنَ مِنْۢ بَعْدِهٖ ۚ وَاَوْحَيْنَآ اِلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ وَ
اِسْمٰعِيْلَ وَاِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ وَالْاَسْبَاطِ وَعِيْسٰى وَاَيُّوْبَ
وَيُوْنُسَ وَهٰرُوْنَ وَسُلَيْمٰنَ ۚ وَاٰتَيْنَا دَاوٗدَ زَبُوْرًا ﴿۱۶۳﴾ ج

خلقوله، او په الله او په ورځ د آخرت باندِ رښتینے عقیدے لرونکو خلقوله به مونږ ضرور لوئ اجر ورکوو ع

اے محمدؐ، مونږه تا ته هغه شان وحی رالیږلی ده لکه څنګه چه مونږه نوحؑ او د هغهٔ نه روستو پیغمبرانو ته رالیږلی وه[۲۰۴]. مونږه ابراهیمؑ، اسماعیلؑ، اسحٰقؑ، یعقوبؑ او د هغهٔ اولاد ته، عیسیٰؑ، ایوبؑ، یونسؑ، هارونؑ او سلیمانؑ ته وحی راولیږله. مونږه داؤدؑ ته زبور ورکړو[۲۰۵]

هغوئ ته په یو نظر پته لګی چه پخوانو پیغمبرانو کوم تعلیم ورکړے وُو هم هغه تعلیم قرآن ورکوی نو ځکه په دواړو باندِ په حقه سره ایمان راوړی.

[۲۰۴] ددے مقصد دا دے چه محمد صلی الله علیه وسلم څه داسے یو نا آشنا څیز نهٔ دے راوړے چه چرته مخکښ نهٔ دے راغلے. هغه دا دعوای نهٔ کوی چه زهٔ دنیا ته په اول ځل یو نوے څیز پیش کوم. بلکه هغه ته هم د علم د هغے یوے خزانے نه هدایت ملاؤ شوے دے د کومے نه چه پخوانو پیغمبرانو ته هدایت ملاویدو، او هغه هم هغه صداقت او حقیقت پیش کوی کوم چه د دُنیا په مختلفو ځایونو کښ مخکینو پیغمبرانو پیش کوؤ.

د وحی معنیٰ ده اشاره کول، په زړهٔ کښ خبره اچول، په پټه طریقه خبره کول، پیغام لیږل.

[۲۰۵] نن صبا چه په بائیبل کښ د زبور په نوم کوم کتاب دے هغه ټول سرتر سره د داؤدؑ زبور نهٔ دے. په هغے کښ د نورو خلقو ډیر "مزامیر" شامل کړے شوی دی. البته د کومو "مزامیر" سره چه دا لیکلی شوی دی چه دا د حضرت داؤدؑ دی نو په هغے کښ واقعی د حق کلام رڼا ښکاریږی. دغه شان چه په بائیبل کښ د "امثالِ سلیمانؑ" نومے کوم کتاب موجود دے په هغے کښ هم ډیر ګډون شوے دے. او دا آخری دوه بابونه خوئے ورسره په ښکاره روستو لګولی دی خو بیا هم ددے امثالو ډیره حصه صحیح او حقه معلومیږی. په بائیبل کښ ددے دوؤ کتابونو سره یو بل کتاب هم د حضرت ایوبؑ په نوم درج دے، په دیکښے ډیرے د حکمت خبرے هم دی خو د لوستلو په دوران کښ د سړی دا یقین نهٔ راځی چه واقعی دا د حضرت ایوبؑ کتاب دے. ځکه چه په قرآن کښ اوپخپله ددے کتاب په

وَرُسُلًا قَدْ قَصَصْنٰهُمْ عَلَيْكَ مِنْ قَبْلُ وَرُسُلًا لَّمْ نَقْصُصْهُمْ
عَلَيْكَ ؕ وَكَلَّمَ اللّٰهُ مُوْسٰى تَكْلِيْمًا ﴿۱۶۴﴾ ج رُسُلًا مُّبَشِّرِيْنَ
وَمُنْذِرِيْنَ لِئَلَّا يَكُوْنَ لِلنَّاسِ عَلَى اللّٰهِ حُجَّةٌ ۢ بَعْدَ

مونږه هغه رسولانو ته هم وحی نازله کړه چه د هغوئ ذکر مونږ ددے نه مخکښے تاته کړے دے او هغه رسولانو ته هم چه د هغوئ ذکر مونږه تاته نه دے کړے. مونږه د موسیٰؑ سره هغه شان خبرے وکړے لکه څنګه چه خبرے کیږی. ۲۰۶ دا ټول رسولان د زیری ورکونکو او د یرونکو په حیثیت لیږلے شوی وو د پاره ددے چه ۲۰۷ د هغوئ د راتلو نه روستو د خلقو سره د خدائے په مقابله کښ هیڅ عذر

اول کښے چه حضرت ایوبؑ د کوم لوئ صبر تعریف شوے دے د هغے نه بالکل برخلاف دا کتاب وائی چه حضرت ایوبؑ د خپل مصیبت په زمانه کښ د الله تعالیٰ نه شکایت کونکے وو، تر دے پورے چه خپلو منکرو به ورله دلاسه ورکوله چه خدائے ظالم نه دے خوده به نه منله.

ددے صحیفو نه علاوه په بائیبل کښ د بنی اسرائیلو د پیغمبرانو او ولس صحیفے نورے هم درج دی چه زیاته حصه ئے صحیح معلومیږی. خاص طور د یسعیاه، یرمیاه، حزقی ایل عاموس او د ځنے نورو صحیفو اکثر ځایونه داسے دی چه سړے یے وائی نو د سړی روح په وجد کښ راځی. په هغے کښ الهامی کلام ښکاره ښکاری، د هغوئ اخلاقی تعلیم، د هغوئ د شرک خلاف جهاد، د هغوئ د توحید په حق کښ دلیلونه او د هغوئ د بنی اسرائیلو په پریوتی اخلاقو باندے سختے خبرے چه سړے وائی نو داسے ورته معلومیږی چه په انجیلو نو کښ د حضرت مسیح تقریرونه او قرآن مجید او دا صحیفے ټولے د یوے خزانے نه راوتلی چینی دی.

۲۰۶ په نورو پیغمبرانو باندے به وحی په دے طریقه راتلله چه یو آواز به راتلو یا یوے فرښتے به پیغام اورولو او هغوئ به اوریدو. لیکن د موسیٰ علیه السلام سره دا خاص کار وشو چه الله تعالیٰ ورسره پخپله خبرے وکړے. د بنده او د خدائے په منځ کښ به داسے خبرے کیدلے لکه چه دوه کسان په خپلو کښ خبرے کوی. د مثال په طور په سورة طٰه کښ د هغوئ خبرے شوی دی. په بائیبل کښ هم د حضرت موسیٰؑ په باره کښ دغه شان لیکلی شوی دی چه "لکه څنګه یو سړے د خپل دوست سره خبرے کوی دغه شان به خدائے د موسیٰ سره مخامخ خبرے کولے" (خروج ۳۳: ۱۱).

۲۰۷ یعنی د هغوئ د ټولو اګی یو کار وو او هغه دا چه کوم خلق د خدائے په رالیږلی شوی تعلیم باندے ایمان راوړی او خپلے ټولے طور طریقے د هغے مطابق ټیک کړی، نو چه هغوئ ته د کامیابئ او د نیک بختئ زیرے ورکړی، او څوک چه د فکر او د عمل په غلطو لارو لاړشی نو چه هغوئ ددے د بد انجام نه خبر کړی.

الرُّسُلِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَزِيْزًا حَكِيْمًا ﴿۱۶۵﴾ لٰكِنِ اللّٰهُ يَشْهَدُ بِمَآ
اَنْزَلَ اِلَيْكَ اَنْزَلَهٗ بِعِلْمِهٖ ۚ وَالْمَلٰٓئِكَةُ يَشْهَدُوْنَ ؕ وَكَفٰى
بِاللّٰهِ شَهِيْدًا ﴿۱۶۶﴾ ؕ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ
قَدْ ضَلُّوْا ضَلٰلًا بَعِيْدًا ﴿۱۶۷﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَظَلَمُوْا لَمْ
يَكُنِ اللّٰهُ لِيَغْفِرَ لَهُمْ وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ طَرِيْقًا ﴿۱۶۸﴾ لا اِلَّا طَرِيْقَ
جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ؕ وَكَانَ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرًا ﴿۱۶۹﴾

پاتی نشی او الله په هر حالت کښ غالب پاتے کید ونکے او حکیم و دانا دے۔ (خلق که نۀ منی نو نۀ دِ منی) خو الله گواهی کوی چه څه هغه په تا نازل کړی دی هغه ئے په خپل علم سره نازل کړی دی، او په دے باندِ فرښتے هم گواهانے دی اگرچه دَ خدائے گواه کیدل بالکل کافی دی کوم خلق چه د دے دَ منلو نه پخپله انکار کوی او نور خلق دَ خدائے دَ لارے نه منع کوی یقیناً چه هغوئی په گمراهئ کښ دَ حق نه ډیر لرے وتلی دی۔ دغه شان کومو خلقو چه دَ کفر او دَ بغاوت طریقه اختیار کړه او ظلمونه ئے شروع کړل الله به هغوئی هیچرے معاف نۀ کړی او هغوئی ته به دَ جهنم دَ لارے نه بغیر بله لار ونۀ ښائی چه همیشه به پکښ وُ سیږی۔ دَ الله دپاره دا څه گران کار نۀ دے۔

۲۰۸ یعنی دَ هغے ټولو پیغمبرانو درالیږلو هم یو غرض وُو او هغه دا وُو چه الله تعالیٰ دَ انسانانو دا عذر ختمول غوښتل چه دَ آخری عدالت په موقع چرته یو گمراه مجرم دا وُ نۀ وائی چه موږ ته خبر نۀ وُو او تا زموږ دَ خبر ولو دپاره څه انتظام نۀ وُو کړے۔ د دے غرض دپاره الله تعالیٰ دَ دُنیا مختلفو ځایونو ته پیغمبران وُلیږل او کتابونه ئے نازل کړل۔ دے پیغمبرانو ډیرو انسانانو ته دحقیقت دا علم وُ رسوُو او دځان نه روستو ئے کتابونه پریښودل چه دَ هغے نه په هره زمانه کښ دا انسانانو دَ لار ښودنے دپاره څه نه څه کتاب موجود وُو۔ اوس که چرے څوک بے لارے کیږی نو الزام په خدائے باندِ او دهغۀ په پیغمبرانو باندِ نۀ راځی بلکه یا خو پخپله په هغه سړی باندِ الزام راځی چه پیغام ورته وُ رسید وا وقبول ئے نۀ کړو، او یا په هغه خلقو باندِ الزام راځی چه نیغه لار ورته معلوم وه او لیدل ئے چه دَ خدائے بندگان بے لارے دی خو نیغه لار ئے ورته نۀ ښودله۔

يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَكُمُ الرَّسُوْلُ بِالْحَقِّ مِنْ رَّبِّكُمْ فَاٰمِنُوْا
خَيْرًا لَّكُمْ ؕ وَاِنْ تَكْفُرُوْا فَاِنَّ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ
وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴿۱۷۰﴾ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ لَا تَغْلُوْا فِيْ
دِيْنِكُمْ وَلَا تَقُوْلُوْا عَلَى اللّٰهِ اِلَّا الْحَقَّ ؕ اِنَّمَا الْمَسِيْحُ عِيْسَى
ابْنُ مَرْيَمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ وَكَلِمَتُهٗ ۚ اَلْقٰهَآ اِلٰى مَرْيَمَ

اے خلقو، دے رسول تاسو ته ستاسو د رب د طرفنه حق راوړے دے، ایمان راوړئ
دا ستاسو د پاره بهتره ده، او که انکار کوئ نو ځان پوهه کړئ چه په آسمانونو او په زمکه
کښ څه دی هغه ټول د الله دی[209] او الله په هر څه پوهه هم دے او حکمت والا هم دے[210]
اے اهل کتابو، په خپل دین کښ د حد نه بهر مه اوزئ[211] او د حق نه بغیر
د بلے خبرے نسبت د الله طرفته مه کوئ. مسیح د مریم ځوے عیسیٰ ددے نه سوا بل
هیڅ نه وو چه د الله یو رسول وو او یو فرمان[212] وو چه الله مریم ته ولیږو

[209] یعنی د زمکے او د آسمان د مالک نافرمانی چه وکړے نو د هغه څه نقصان نشے کولے نقصان چه څه
وی هغه به ستا خپل نقصان وی.

[210] یعنی ستا خدائے څه بے خبره نه دے چه د هغه په بادشاهئ کښ به ته شرارتونه کوے او هغه ته
به معلوم نه وی، او نه هغه نادان دے چه خپلو مخالفینو له د سزا ورکولو په چل نه پوهیږی.

[211] دلته د اهل کتابو نه مراد عیسایان دی او د غلو معنیٰ ده د څه څیز په حق کښ د حد نه بهر
وتل. د یهودیانو جرم دا وو چه هغوئ د مسیح په انکار او په مخالفت کښ د حد نه بهر لاړل، او د عیسایانو
جرم دا دے چه هغوئ د مسیح سره په مینه کښ د حد نه بهر وتل.

[212] په اصل کښ لفظ "کلمه" استعمال شوے دے. مریم ته د کلمے لیږلو مطلب دا دے چه الله
تعالیٰ د حضرت مریم علیها السلام په خیټه باندے دا فرمان نازل کړو چه د سړی د نطفے نه بغیر
بچے وساته. عیسایانو ته د اول نه د مسیح علیه السلام د بے پلاره پیدا کیدو دا راز ښودلے شوے وو
خو هغوئ د یونانی فلسفے په وجه گمراه شوا او اولئے د لفظ کلمے نه "کلام" یا "نطق" یعنی "دینا"
مطلب وا فستلو. بیائے ددے کلام او نطق نه د الله تعالیٰ د کلام ذاتی صفت مراد وا فستلو.
بیائے دا قیاس وکړو چه د الله تعالیٰ کا ذاتی صفت د مریم علیها السلام خیټے ته ورداخل شو
او د مسیح په جسمانی شکل کښ ظاهر شو. دغه شان په عیسایانو کښ د مسیح علیه السلام د خدائیئ

وَرُوْحٌ مِّنْهُ ز فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ ج قف وَلَا تَقُوْلُوْا ثَلٰثَةٌ ط اِنْتَهُوْا

او یو روح وُو دَ الله دَ طرفنه[۲۱۳] (چه دَ مریم په خیټه کښ ئے دَ بچی شکل اختیار کړو) نو تاسو په الله او دَ هغهٔ په رسولانو باندِ ایمان راوړئ[۲۱۴] او مهٔ وایئ چه "درے" دی[۲۱۵]. منع شئ

غلطه عقیده پیدا شوه او دا غلط خیال پکښ پوخ شو چه خدائے پخپله خپل ځان یا دَ خپل ازلی صفتونو نه دَ کلام صفت دَ مسیح په شکل کښ ظاهر کړے دے۔

۲۱۳ دلته پخپله مسیح ته رُوْحٌ مِّنْهُ (دَ خدائے دَ طرفنه یو روح) ویلے شوے دے، او په سورة بقره کښ دا خبره په دے طرز شوی ده چه اَیَّدْنٰهُ بِرُوْحِ الْقُدُسِ (موږ ده په پاک روح سره د مسیح مدد وُکړو)۔ د دواړو عبارتونو مطلب دا دے چه الله تعالیٰ مسیح علیه السلام ته هغه پاک روح ورکړے وُو چه دَ بدئ نه ناآشنا وُو۔ ټول حق وُو او راست بازی وه، او سرتر پایه ښهٔ اخلاق وُو۔ دَ مسیح علیه السلام دا تعریف عیسایانو ته هم ښودلے شوے وُو۔ خو هغوئ په دے کښ هم دحد نه واوړیدل او دَ رُوْحٌ مِّنَ الله نه ئے روح الله جوړ کړو او دَ روح القدس (Holy Ghost) نه ئے مطلب دا واخستو چه هغه د الله تعالیٰ خپل پاک روح وُو چه په مسیح کښ ئے دننه حلول کړے وُو۔ دغه شان دَ الله او دَ مسیح سره ئے یو دریم خدائے روح القدس جوړ کړو۔ دا دَ عیسایانو دویم دحد نه وتل وُو چه دهغے په وجه بے لاره شو۔ او مزه خو دا ده چه نن هم دَ متی په انجیل کښ دا فقره موجود ده چه "فرښتے هغه ته (یعنی یوسف نجار ته) په خوب کښ اُووے چه اے دَ داؤد ځویه یُوسفَ، خپله ښځه مریم خپل کورته دَ راوستلو نه مه یَریږه ځکه چه دَ هغے په خیټه کښ څه دی هغه د روح القدس په قدرت سره دی" باب ۱۔ آیت ۲۰)۔

۲۱۴ یعنی الله یو خدائے وُمنئ او د ټولو رسولانو پیغمبری وُمنئ چه په هغوئ کښ یو رسول مسیح هم دے۔ دا د مسیح علیه السلام اصلی تعلیم وُو او پکار دی چه دَ مسیح رښتینے پیروکار ئے وُمنی۔

۲۱۵ یعنی دَ دریو خدایانو عقیده پریږدئ۔ حقیقت دا دے چه عیسایان په یو وخت یو خدائے هم منی او درے هم منی۔ په انجیلونو کښ چه دَ مسیح علیه السلام کوم قولونه دی دهغے په وجه یو عیسائی دے نه انکار نشی کولے چه خدائے بس یو خدائے دے او دَ هغهٔ نه بغیر بل خدائے نشته۔ دهغوئ دپاره دے نه بغیر بله څه لار نشته چه دا وُمنی چه اصل دین توحید دے (یعنی خدائے یو منل دی) خو کومه غلطی چه تر په اول کښ شوی وه چه ویل ئے چه د الله کلام دَ مسیح په شکل کښ ظاهر شو او دَ الله روح پکښ دننه حلول وُکړو، دے په وجه هغوئ د ټول جهان د بادشاه سره د مسیح او د روح القدس خدائی منل په ځان باندِ خامخواه لازم کړه چه اوس ورته دا مسئله حل کول ګران دی چه دَ یو خدائے سره درے خدایان او دَ دریو خدایانو سره یو خدائے په څه طریقه وُمنی۔ تقریباً دا تلسو سوؤ کالو راسے مسیحی عالمان دے مسئلے په حل کولو کښ خپل مازغه خوری۔ دَ مختلفو تشریحاتو په وجه پکښ شل ډلے یعنی ډیرے ډلے جوړے شوی دی او هره ډله بلے ډلے ته کافر وائی۔ په دے جګړو کښ

وقف لازم

خَيْرًا لَّكُمْ ۭ اِنَّمَا اللّٰهُ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۭ سُبْحٰنَهٗٓ اَنْ يَّكُوْنَ لَهٗ وَلَدٌ ۘ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۭ وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيْلًا ﴿۱۷۱﴾ ع

داستاسو دپاره بهتره ده. الله خو بس یوازے یو خدائے دے. هغه ډیر اُوچت دے ددے نه چه څوک ډ د هغه ځوے شی[۲۱۶] دَ زمکے او دَ آسمانونو ټول څیزونه دَ هغه ملکیت دے[۲۱۷]. او دَ هغے دَ ساتنے او دَ خبر اغستلو دپاره بس هغه کافی دے[۲۱۸] ع

یوه کلیسا دبلے نه جدا شوے ده او عالمانو ئے دخپل علم ټول زور په دے کښ ختم کړے دے. حالانکه دا مسئله ورته نه خدائے پیدا کړی وه او نه مسیح، او نه دَ دے مسئلے څه حل ممکن دے، چه درے خدایان ډ هم ؤمنلے شی او بیا دَ یو خدائے عقیده ډ هم په ځائے وی. دا مسئله صرف دَ هغوئ دحد نه په بهر وتلو سره پیدا شوی ده او دائے حل دے چه بس دَ حد نه بهر نه ؤځی، دَ مسیح او د روح القدس دَ خدائیئ خیال پریږدی، یو اځے یو خدائے ؤمنی او مسیح صرف دهغه پیغمبر ؤمنی او په خدائیئ کښ دے ئے ورسره نه شریکه وی.

[۲۱۶] دا دعیسایانو دَ څلورم زیاتی جواب دے. په بائیبل کښ چه کومه خبره ده هغه که چرے صحیح هم وی، نو په هغے کښ بس دومره قدر له خبره ثابته ده چه مسیح علیه السلام وائی چه دَ خدائے او د بندګانو دَ تعلق مثال داسے دے لکه د پلار او دَ بچو تعلق چه وی، او دَ خدائے په ځائے به ئے لفظ "پلار" په مجازی معنی سره استعمالولو. دا یوازے مسیح داسے نه دی وئیلی. دَ پخوا زمانے نه بنی اسرائیلو به دَ خدائے په ځائے لفظ پلار وئیلو او دَ دے ډیر مثالونه دَ بائیبل په زړه عهد نامه کښ شته دے. مسیح دا لفظ دَ خپل قوم د وینا مطابق استعمال کړے وُو او خدائے ته ئے یوازے خپل پلار نه بلکه د ټولو انسانانو پلار وئیلو. لیکن عیسایان دلته بیا دخپل حد نه بهر ؤوتل او مسیح ته ئے دخدائے یو ځوئے اُووے. په دے باره کښ دَ هغوئ یوه عجیبه نظریه ده هغوئ وائی چه خدائے دَ مسیح په شکل کښ ظاهر شوے دے، او د الله کلمے او د الله روح دَ مسیح بدنی شکل اختیار کړے دے، ځکه هغه دَ خدائے یو نیازنین ځوئے دے، او خدائے دغه نیاز بین ځوئے ځکه زمکے ته راؤلیږو چه دَ ټولو انسانانو ګناه په خپل سر واخلی او په سولئ ؤ خیژی او دَ انسانانو دګناه کفاره په خپلے وینے سره ادا کړی. حالانکه دا یوه داسے خبره ده چه عیسایان دَ دے په ثبوت کښ نچپله دَ مسیح علیه السلام یو قول هم نشی پیش کولے. دا هغوئ دخپلو خیالاتو نه دځانه یوه عقیده جوړه کړی ده او دا عقیده په دوئ کښ دَ هغے زیاتی په وجه پیدا شوی ده کوم زیاتے چه دوئ دخپل پیغمبر په لوئ شان کښ کړے وُو.

الله تعالیٰ دلته دکفارے دَ عقیدے جواب ؤ نکړو، ځکه چه په عیسایانو کښ دا څه مستقله عقیده نه وه بلکه دا خو هغوئ هسے دے خبرے یوه ګمانی وجه بیان کړی ده چه هر کله مسیح دَ خدائے یو نیاز بین ځوئے وُو نو په سولئ دپاسه په بے عزتئ سره ولے مړ شو. (یعنی هغوئ وائی چه دا ځکه

لَنْ يَّسْتَنْكِفَ الْمَسِيْحُ اَنْ يَّكُوْنَ عَبْدًا لِّلّٰهِ وَلَا الْمَلٰٓئِكَةُ
الْمُقَرَّبُوْنَ ؕ وَمَنْ يَّسْتَنْكِفْ عَنْ عِبَادَتِهٖ وَيَسْتَكْبِرْ
فَسَيَحْشُرُهُمْ اِلَيْهِ جَمِيْعًا ﴿۱۷۲﴾ فَاَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا
الصّٰلِحٰتِ فَيُوَفِّيْهِمْ اُجُوْرَهُمْ وَيَزِيْدُهُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ ۚ
وَاَمَّا الَّذِيْنَ اسْتَنْكَفُوْا وَسْتَكْبَرُوْا فَيُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا
اَلِيْمًا ۙ وَّلَا يَجِدُوْنَ لَهُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلِيًّا وَّلَا
نَصِيْرًا ﴿۱۷۳﴾ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَكُمْ بُرْهَانٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ

مسیح هیچرے دا خبره عار نه ګڼړي چه هغه دِ دَ الله یو بنده شي او نه مقربے فرښتے دا دَ ځان دپاره عار ګڼړي. او که څوک دَ الله بندګي دَ خپل ځان دپاره عار ګڼړي او تکبر کوي نو یو وخت به راشي چه الله به دا ټول راګیر کړي او ځان ته به ئے حاضر کړي. په دغه وخت کښ به هغه خلق چه ایمان ئے راوړے دے او نیک عمل ئے اختیار کړے دے خپله بدله پوره پوره بیا مومي او الله به ورله په خپل فضل سره زیات اجر ورکړي، او کومو خلقو چه بندګي عار ګڼړلي ده او تکبر ئے کړے دے هغوئ له به الله دردناکه سزا ورکوي او دَ الله نه بغیر چه دَ هغوئ دَ چا په سرپرستئ او امداد باندِ بروسه وي په هغوئ کښ به هیڅوک هلته بیاؤ نه مومي اے خلقو، ستاسو دَ رب دَ طرفنه تاسو ته روښانه دلیل راغلے دے

مرشو چه دَ انسانانو دَ ګناه کفاره ئے اداکوله). نو هر کله چه هغوئ ته دا وو ئیلے شو چه مسیح دَ الله ځوئے نه دے او نه په سولئ خیژولے شوے دے نو دَ هغوئ دَ کفارے عقیده پخپله ختمه شوه.

۲۱۷ یعنی په زمکه او په آسمانونو کښ چه څه دي دهغے سره دَ خدائے تعلق دپلار او دَ ځوئ پشان نه دے بلکه دَ مالک او دَ مملوک پشان دے.

۲۱۸ یعنی خدائے دَ خپلے خدائئ دَ انتظام دپاره پخپله کافي دے، دَ هغه چا ته حاجت نشته چه ګڼي دَ امداد دَ پاره ځان له ځوئے ونیسي.

وَاَنْزَلْنَآ اِلَيْكُمْ نُوْرًا مُّبِيْنًا ﴿۱۷۴﴾ فَاَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ
وَاعْتَصَمُوْا بِهٖ فَسَيُدْخِلُهُمْ فِيْ رَحْمَةٍ مِّنْهُ وَفَضْلٍ ۙ وَّ
يَهْدِيْهِمْ اِلَيْهِ صِرَاطًا مُّسْتَقِيْمًا ﴿۱۷۵﴾ ؕ يَسْتَفْتُوْنَكَ ؕ قُلِ اللّٰهُ
يُفْتِيْكُمْ فِي الْكَلٰلَةِ ؕ اِنِ امْرُؤٌا هَلَكَ لَيْسَ لَهٗ وَلَدٌ وَّ
لَهٗ اُخْتٌ فَلَهَا نِصْفُ مَا تَرَكَ ۚ وَهُوَ يَرِثُهَآ اِنْ لَّمْ يَكُنْ

او مونږه تاسو ته داسے رڼا رالیږلی ده چه تاسو ته صفا صفا لاره بنائي. اوس چه کوم خلق د الله خبره منی او د هغه سره پناه اخلی نو هغوی به الله د خپل رحمت او د خپل فضل وکرم د سوری لاندې راولی او خپل طرفته د راتلو نیغه لار به ورته وبنائي.

خلق[۲۱۹] ستا نه د کلاله په[۲۲۰] حقله د فتوے تپوس کوی. ورته ووایه چه الله تاسو له فتوی درکوی. که چرے یو داسے سړے مړشی چه اولادے نه وی او یوه خورے[۲۲۱] وی نو د هغے د هغه په میراث کښ نیمه حصه ده، او که چرے خورے اولاده مړه شی

۲۱۹ دا آیت دے سورة د نازلیدو نه ډیر روستو نازل شوے دے. د ځنے روایتونو نه خو داسے معلومیږی چه دا د قرآن د ټولو نه آخری آیت دے. دا بیان که چرے صحیح هم نه وی خو بیا هم کم از کم دومره خو ثابته ده چه دا آیت په نهمه هجری کښ نازل شوے دے. او سورة نسآء د دے نه ډیر مخکښ د یو مکمل سورة په حیثیت لوستلے کیدو. د غه وجه ده چه دا آیت د هغے آیتونو په سلسله کښ شامل نه کړے شو کوم چه د میراث په باره کښ د دے سورة په شروع کښ درج شوی دی، بلکه د سورة په آخره کښ د ضمیمے په طور درج کړے شو.

۲۲۰ د کلاله په معنی کښ اختلاف دے. ځنے وائي چه کلاله هغه سړے دے چه اولادے هم نه وی او مور او پلارے هم ژوندی نه وی. او ځنے وائي چه بے اولاده سړے مړشی هغه ته کلاله وائي. حضرت عمر رضی الله عنه تر آخر وخته پورے په دے معامله کښ په شک کښ پروت وو. لیکن عامر عالمانو د حضرت ابوبکر رضی دا رائے منلی ده چه کلاله هغه سړی ته وائي چه اولادیے هم نه وی او مور او پلارے هم ژوندی نه وی. او پخپله د قرآن نه هم د دے خبرے تائید کیږی، ځکه چه دلته د کلاله خور د نیم میراث حقداره کړے شوی ده، او که چرے د کلاله پلار ژوندے وی نو بیا پکښ د سر نه د خور حصه نه رسی.

۲۲۱ دلته د هغے رونړو خویند و ذکر کیږی چه د مړی سره په مور او پلار دواړو کښ شریک وی، یا یوازے په پلار کښ شریک وی، حضرت ابوبکر رضی الله عنه یو ځل په یوه خطبه کښ دا معنی کړی ده او په صحابو کښ هیچا د هغه اختلاف و نکړو، نو په دے وجه دا یوه اجماعی مسئله ده.

لَّهَا وَلَدٌ ؕ فَاِنْ كَانَتَا اثْنَتَيْنِ فَلَهُمَا الثُّلُثٰنِ مِمَّا تَرَكَ ؕ وَاِنْ
كَانُوْٓا اِخْوَةً رِّجَالًا وَّنِسَآءً فَلِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْاُنْثَيَيْنِ ؕ
يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ اَنْ تَضِلُّوْا ؕ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ع ﴿۱۷۶﴾

رُور بہ دَ هغے وارث وی۔[۲۲۲] او که دَ مړی وارثانے دوه خویندے وی نو هغوئ به دَ ټول میراث نه په دریو کښ دَ دوو حصو حقدارے[۲۲۳] وی، او که ډیر رو نړه خویندے وی نو دَ ښځو به یوه حصه او دَ سړو به دوه حصے وی۔ الله ستا سو دپاره حکمونه ځکه واضحه کوی چه بے لارے نشئ او الله دَ هر څیز علم لری۔ ع

۲۲۲ یعنی که چرے بل څوک میراث خورنه وُو نو بیا به رور دَ هغے دَ ټول مال وارث وی۔ او که چرے بل وارث موجود وُو، مثلاً خاوند، نو خاوند ته دَ هغه دَ حصے دَ ادا کولو نه روستو به باقی ټول مال رور ته ملاویږی۔

۲۲۳ دا حکم دَ دوؤ نه دَ زیاتو خویندو هم دے۔

تفهم القرآن

المائدة

(٥)

اَلْمَآئِدَة

نوم دَدے سورة نوم دَ پنځلسمے رکوع په آیت هَلْ يَسْتَطِيعُ رَبُّكَ اَنْ يُّنَزِّلَ عَلَيْنَا مَآئِدَةً مِّنَ السَّمَآءِ کښ دَ لفظ "مائده" نه اغتلے شوے دے. دَ قرآن د ډیرو سورتونو دَ نومونو پشان دا نوم هم د سورة دَ موضوع سره څه خاص تعلق نه لري. صرف دَ نورو سورتونو نه د پیژندلو دپاره دَ نښے په طور دا نوم ایښودلے شوے دے.

دنزول زمانه د سورة دَ مضمونونو نه دا ظاهر یږي او دَ روایتونو نه دَ هغے تصدیق کیږي چه دا سورة دَ صلح حدیبیے نه روستو دَ شپږمے هجري په آخره کښ یا د اُوومے هجري په اول کښ نازل شوے دے. دَ شپږمے هجري دَ ذي القعدے دَ میاشتے واقعه ده چه نبي صلی الله علیه وسلم دَ څوارلسے سوؤ مسلمانانو سره د عمرے ادا کولو دپاره مکے ته لاړو. خو دَ قریش کافرانو دَ دُشمنۍ دَ تاوه عمرے کولو ته پرے نښودو او د ډیر بحث کولو نه روستو په دے خبره راضي شو چه تاسو بل کال له زیارت له راتلے شئ. په دے موقع باندې د دے خبرے ضرورت وُو چه مسلمانانو نه دَ کعبے د زیارت دپاره د سفر کولو آداب وښودلے شي ځکه چه بل کال له دَ عمرے سفر پوره په اسلامي شان سره وَشي، او بل ورته په دے خبره زور ورکړے شي چه کافرانو ستاسو سره کوم زیاتے کړے دے چه عمرے ته ئے نه یئ پریښودلی نو چه په بدله کښ ورسره تاسو څه ناروا زیاتے ونکړئ، دا ځکه چه دَ کافرانو د ډیرو قبیلو دَ حج لاره په مسلمانانو باندې ورتلله او مسلمانانو هغوئ دَ کعبے د زیارت نه منع کولے شو لکه څنګه چه دوئ ئے منع کړي وُو. دا سبب دے دَ هغے اولنی تقریر چه دَ هغے نه دَ سورة شروع شوي ده. وړاندې په دیارلسمه رکوع کښ بیا په دے مسئله بحث شوے دے، دَ دے نه دا معلومه شوه چه دَ څوارلسے رکوع پورے دا ټول یو تقریر دے. د دے نه علاوه په دے سورة کښ چه کوم نور مضمونونه دي هغه هم ټول د دغے یوے زمانے معلومیږي.

د دے سورة بیان ټول مسلسل روان دے. نو په دے وجه دا غالب ګمان راځي چه دا ټول سورة به یوه خطبه وي او په یو وخت به نازل شوے وي. کیدے شي چه ځنے آیتونه ځان له ځان له روستو نازل شوي وي او د دے سورة په مختلفو ځایونو کښ په دے وجه ایښودلے شوي وي چه مضمون ئے د دے سره یو شان دے، لیکن دَ بیان سلسله ئے دومره روانه ده چه دا قیاس هډو کیدے نشي چه دا سورة ګڼي دَ دوؤ یا دَ دریو خطبو مجموعه ده.

شانِ نزول دَ سورة آلِ عمران او د سورة نسآء د نازلیدو د زمانے نه د دے سورة د نازلیدو پورے په حالاتو کښ ډیر فرق راغلے وُو. یا خو هغه وخت وو چه دَ جنګ اُحد دَ شکست دَ وجے نه مسلمانانو ته دَ مدینے خواؤ شا علاقه خطرناکه شوي ده، او یا بیا داسے وخت راغے

چه په عربو کښې د اسلام د مقابلې کولو څوک په نظر نه راتلو او اسلامي ریاست یو طرفته د نجد پورې بل طرفته د شام پورې، دریم طرفته د بحر احمر د غاړې پورې او څلورم طرفته د مکې د نږدې علاقې پورې خور شوې وو. د اُحد په جنګ کښې چه کوم نقصان مسلمانانو ته ملاؤ شوې وو د هغې په وجه د هغوئ حوصلې او ارادې نورې هم وچتې شولې. هغوئ د زخمي ازمري پشان په جوش کښې راغلل، راپاسیدل او په درې کاله کښې دننه دننه ئې ټوله نقشه بدله کړله. د هغوئ د کوششونو او د قربانو وجه وه چه د مدینې څلورو واړو طرفونو ته د دوو دوو سوو میلو پورې د مخالف قبائلو حوصلې خرابې شولې. د یهودیانو د طرفته خطره د همیشه دپاره ختمه شوله او په حجاز کښې هم چه په کوم ځائې کښې یهودیان وو هغه د مدینې د حکومت منونکی شو. د اسلام د ختمولو دپاره قریشو خپل آخري کوشش په جنګ خندق کښې وکړو او په هغې کښې ئې سخت شکست وخوړو. د دې نه روستو د عربو یقین راغې چه اسلام اوس یو نه ختمیدونکې تحریک دے. اوس اسلام یوازې یوه داسې عقیده نه وه چه صرف د خلقو په زړونو کښې دوی، بلکه اسلام اوس یو ریاست وو چه د خپلو ټولو وسیدونکو په ژوند باندې ئې حکمرانی وه. اوس مسلمانان د داسې طاقت مالکان شوی وو چه په کومه عقیده باندې ئې ایمان وو نو بنه په آزادئ باندې ئې د هغې مطابق ژوند تیرولے شو او بله هره عقیده یا قانون ئې د خپل ژوند د میدان نه ایستلے شو.

بیا په دې څوکالو کښې دننه د اسلامي اصولو مطابق د مسلمانانو یو نښکلے ژوند جوړ شوے وو. په اخلاقو کښې، په استوګنه کښې او په کلي والئ کښې او په هر څه کښې مسلمانان د کافرانو نه بدل وو. مسلمانانو چه کوم خایونه قبضه کړي وو په هغې ټولو کښې د جماتونو او د امامتئ د مونځ نظم قایم شوے وو. په هر کلي او په هره قبیله کښې امامان مقرر شوي وو. د عدالت ټول کارونه د اسلامي قانون لاندې فیصله کیدل. د اغستلو او د خرڅولو نوے اسلامي طریقې شروع شوے وے. د میراث قانون جوړ شوے وو. د نکاح او د طلاقو قانون، د پردې او د اجازت غوښتلو حکمونه، د زنا او د تور پورې کولو (قذف) سزا ګانې شروع شوے وے. د مسلمانانو د ناستې پاستې، د خبرو اترو، د خوراک څکاک او د وسیدلو ځان له طریقې جوړې شوے وے. د نه وجه وه چه ټول کافران د دې خبرې نه نااُمیده شوي وو چه مسلمانان به ګڼي بیا د دوئ خواله کفر ته راشي.

د صلح حدیبیې پورې د قریشو کافران د مسلمانانو په لار کښې یو لوئ بندیز وو او مسلمانانو ته د خپل دعوت خورولو موقع په [illegible] نه ورتلله. د صلح حدیبیې سره دا بندیز ختم شو. مسلمانان په خپل ریاست کښې په امن هم شو او په خواؤ شا علاقه کښې ورته د اسلام خورولو موقع هم په لاس ورغله. نبي صلی الله علیه وسلم د ایران، د روم، د مصر او د عربو بادشاهانو او سردارانو ته خطونه لیکل شروع کړل او مسلمانان د الله دین ته د خلقو را بللو دپاره په مختلفو قومونو او قبیلو کښې خواره شو.

پښتونه د حالاتو وجې سورة مائده نازل شوه. په دې سورة کښ درې لوئ مضمونونه بیان شوی دی.

(۱) د مسلمانانو د استوګنې په حقله نور حکمونه. په دې پاره کښ د حج د پاره د سفر کولو آداب مقرر کړې شوی، د شعائرُ الله د احترام کولو حکم ورشوی او د احکامو شوچې شوک کښې ته ئې هغوئ مه منع کوئ، د خوراک څکاک په شیزونو کښ د حلالو او د حرامو حدود نه قایم کړې شوی او د جاهلیت د زمانې بندیزونه مات کړې شوی، د اهلِ کتابو سره د خوراک څکاک کولو او د هغوئ د ښځو سره د نکاح کولو اجازت ورکړې شوی، د اودس د غسل او د تیمم قاعده مقرر کړې شوې، د بغاوت او د فساد جوړولو او د غلا کولو سزا کانې مقرر کړې شوې، شراب او جواری قطعاً حرام کړې شوه، د قسم ماتولو کفاره مقرر شوه او د شهادت په قانون کښ یو څو خبرې زیاتې کړې شوې.

(۲) مسلمانانو ته نصیحت، چونکه د مسلمانانو نړیوه حکمرانه ډله جوړه شوې وه، په لاس کښ ئې طاقت راغلے وُو، او په لاس کښ د طاقت د راتلو وجه نه اکثر قومونه گمراه کیږی، د مظلومئ دور په خپلې وُو خود دې نه زیات په آزمیښتی دور کښ مسلمانانو قدم ایښودلو، نو په دې وجه ورته ښه ښه د نصیحت وُشوچه په عدل او انصاف باندې قایم وُسیږئ، د اهلِ کتابو پشان کار مکوئ، د الله د حکم منلو کومه وعده چه موکړې ده په هغه کلک وُسئ او د یهودیانو او د عیسایانو پشان مه ماتوئ، د خپلو ټولو کارونو فیصلے د الله د کتاب مطابق کوئ او منافقت نه ځان ساتئ.

(۳) یهودیانو او عیسایانو ته نصیحت، د یهودیانو زور اوس ختم شوے وُو او د شمالی عرب تقریباً ټول یهودیان کلي د مسلمانانو په قبضه کښې راغلی وُو. هغوئ ته یو ځل بیا په خپله غلطئ باندې خبرداره ورکړې شوه دې او نیغه لاره ته د راتلو دعوت ورکړې شوه دې. د فدرنګ د صلح حدیبیه په وجه په عرب او په خواوُشا ملکونو کښ مسلمانانو ته د اسلام د خورولو موقع په لاس ورغلې وه نو ځکه عیسایانو ته هم ښه په تفصیل سره دا وُویلے شو چه سته سره عقیده، غلطه ده او په نبی عربی باندې ایمان راوړئ. په کاونډی ملکونو کښ چه کوم قومونه بُت پرست او مجوسیان وُو هغوئ ته نیغ په نیغه خطاب ونکړې شو، ځکه چه د هغوئ د پاره هغسې خطابے کافی وه کوم چه د عرب مشرکانو ته په مکه کښ نازل شوے وه.

اٰیاتہا ۱۲۰ سُوْرَۃُ الْمَآئِدَۃِ مَدَنِیَّۃٌ رکوعاتہا ۱۶

بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

یٰٓاَیُّہَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْٓا اَوْفُوْا بِالْعُقُوْدِ ؕ اُحِلَّتْ لَکُمْ بَہِیْمَۃُ الْاَنْعَامِ اِلَّا مَا یُتْلٰی عَلَیْکُمْ غَیْرَ مُحِلِّی الصَّیْدِ وَاَنْتُمْ حُرُمٌ ؕ

اے ھغہ خلقو چہ ایمان مو راوړے دے، د بندیزونو پوره پابندی کوئ[1]۔ ستاسو د پاره د څارو د قسمه ټول څناور حلال کړے شوے[2] ماسوا دھغے نه چه وړاندے به تاسو ته وخودلے شی۔ لیکن د احرام په حالت کښ نیکاره څان د پاره حلال مه کڼئ[3]

[1] یعنی په دے سوره کښ چه په تاسو باندے کوم حدود نه لګی دھغے پابندی کوئ، او دھغے حدودو نو پابندی کوئ چه د خدائے په شریعت کښ په تاسو باندے لګولے شوی دی۔ په دے وړے جملے پسے ھغه حدود نه او بندیزونه بیانیږی په کومو باندے چه د پوره پابندئ کولو حکم شوے دے۔

[2] "انعام" په عربئ ژبه کښ اُوښانو، غویانو، اوکړو وبیزو ته ویلے شی۔ او "بهیمه" هر څښتن ورکی څاروی ته ویلے شی۔ کله الله تعالیٰ صرف دا فرمائیلی وے چه انعام ستاسو د پاره حلال کړے شوی دی نو صرف هغه څلور قسمه څاروی به حلال وے چه کومو ته په عربئ کښ "انعام" وائی۔ لیکن حکم په دے سره شوے دے چه "د څارو د قسمه ټول څښتن ورکی څناور حلال کړے شو"۔ په دے سره حکم عام شو او هغه ټول څښتن ورکی څناور پکښ راغلل چه د څارو د قسمه دی۔ یعنی چه د اریشو نه دی، کیا خوری او په نور څناور تو ډب کښ د عربو د "انعام" سره یو شان وی۔ هم دارنګه د دے نه مخکښ چه تر اشلمے پورے کومو څناورو د اړه دی او نور څناور څان له خوراک جوړ وی، هغه حلال نه دی۔ دا اشاره نبی صلی الله علیه وسلم صفا کړی ده او په حدیث کښ یے حکم کړے دے چه درندکان ټول حرام دی۔ د غه شان نبی هغه مرغئ هم حرام کړے دی چه د هغوئ پنجے وی او د خوراک د پاره نور څناور ښکار کوی یا مُړار ته خوری۔ د ابن عباس روایت دے چه نهی رسول الله صلی الله علیه وسلم عن کل ذی ناب من السباع وکل ذی مخلب من الطیر۔ د نورو دیرو صحابو نه هم دے سے روایات نقل کړے شوی دی۔

[3] "احرام" د فقیرئ هغے جامے ته وائی چه کعبے د زیارت د پاره اغوستے کیږی۔ د کعبے نه چار چاپیره د څو منزلو په فاصله باندے یو حد مقرر کړے شوے دے چه دهغے نه وړاندے د حج او د زیارت کونکی ته ترهغه پورے نشته ترڅو پورے چه هغه خپل هغه جامے و نه باسی او د احرام جامے و نه اغوندی۔ د احرام په جامه کښ صرف یو لنګ او یو څادر وی چه د پاسه اغوستے کیږی۔ دے ته احرام وائی او جمعه نه وائی چه د احرام د نیت کولو نه روستو په سړی باندے یو هغه څیز د نه حرام شی چه هغه په عام حالت کښ حلال وی، مثلاً حجامت کول (د ویښته پریکول)، خوشبوئی لګول، د هر قسمه بناڼست کول، او کوره والے کول وغیره۔ په دے پابند کښ ښځه

إِنَّ اللَّهَ يَحْكُمُ مَا يُرِيدُ ① يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُحِلُّوا
شَعَائِرَ اللَّهِ وَلَا الشَّهْرَ الْحَرَامَ وَلَا الْهَدْيَ وَلَا الْقَلَائِدَ

بیشکه چه الله څه غواړي د هغه حکم کوي[۴]

اے هغه خلقو چه ایمان مو راوړے دے، د خدا پرستۍ د نښو بے حرمتي مه کوئ[۵] —
په حرامو میاشتو کښ یوه هم حلاله مه کنړئ، د قربانئ په ځناورو باندې حمله مه کوئ
او مه په هغے ځناورو باندې حمله کوئ چه په غاړو کښ ئے د نذر پټئ د نښے په طور پرتے وي،

پابندئ دا هم ده چه د هیڅ قسمه ځناور به نه هلاکوے او نه به ئے بنکار کوے او نه به چاته د هغے د بنکار پته ورکوے۔

[۴] یعنی الله مطلق حاکم دے، هغه ته د دے خبرے پوره اختیار دے چه څه وغواړي نو چه د هغے حکم وکړي۔ بندګانو ته د هغه په حکمونو کښ د خبرو کولو هیڅ حق نشته۔ اګرچه د الله تعالیٰ ټول حکمونه د حکمت او د ښیګړے نه ډک دي، خو مسلمان د هغه حکم په دے وجه نه مني چه په دے کښ حکمت او ښیګړه ده، بلکه په دے وجه ئے مني چه دا د مالک حکم دے۔ چه کوم څیز هغه حرام کړے دے نو دا صرف په دے وجه حرام دے چه هغه حرام کړے دے، او دغه شان چه څه هغه حلال کړي دي هغه هم صرف په دے وجه حلال دي چه الله خپلو بندګانو ته د هغے څیز د استعمال اجازت ورکړے دے۔ دغه وجه ده چه د څیزونو د حراموالي او د حلالوالي په حقله د قرآن دا اصول دي چه د دے اصل بنیاد د مالک اجازت او غیر اجازت دے یعنی د کوم څیز اجازت چه مالک ورکړے دے هغه د بنده د پاره جائز دے او د کوم څیز اجازت چه مالک نه دے ورکړے هغه د بنده د پاره ناجائزه دے۔ د دے بنیاد نه بغیر بل په هیڅ بنیاد باندې یو څیز نه حرامیدے شي او نه حلالیدے شي۔

[۵] هر هغه څیز چه هغه یوے طریقے یا یوے عقیدے یا یو فکر او یا یو نظام طرفته اشاره کوي هغه د هغے د پاره "شعار" وي ځکه چه هغه د هغے نظام یوه نښه وي۔ سرکاري جنډه، د فوج او د پولیس خاص وردي، سکه، نو ټونه او استامپ د حکومت شعائر دي او هغه د خپل رعیت نه، بلکه د هر هغه چا نه چه په چائے وس رسي، د دے شعائرو د احترام کولو مطالبه کوي۔ ګرجا او د قربانئ ځائے او د سولئ نښه د عیسائیت شعار دي۔ سرئ، زنار او مندر د برهمنیت شعار دي۔ اوږده ویخته، کړه او کرپان وغیره د سکهه مذهب شعائر دي۔ سټک او لور د اشتراکیت شعائر دي۔ سواستیکا د آریه نسل پرستئ شعار دے۔ دا ټول نظامونه د خپل خپل پیروکارونه د دے شعائرو د احترام کولو مطالبه کوي۔ که چرے یو سړے د یو نظام د شعائرو (نښو) نه د یو شعار سپکاوے کوي نو د دے مطلب دا دے چه دے په اصل کښ د دغے نظام دشمن دے، او که چرے دے پخپله د هغے نظام سره تعلق لري د کوم د شعائرو چه دے سپکاوے کوي نو مطلب دا دے چه دے د خپل نظام نه مرتد او باغي دے۔

د "شعائر الله" نه مراد هغه ټولے نښے دي چه د شرک او د کفر او د دهریت په مقابله کښ خالص د خدا پرستئ طریقے ته اشاره کوي۔ دا سے نښے او علامتونه چه هر چرته وي، په هره طریقه او په هر نظام کښ چه وي مسلمانانو ته دا حکم دے چه د هغے احترام او عزت به کوي، ولے هله چه دغه علامے خالص د خدائے

وَلَآ اٰمِّيْنَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ يَبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنْ رَّبِّهِمْ وَ
رِضْوَانًا ؕ وَاِذَا حَلَلْتُمْ فَاصْطَادُوْا ؕ وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَاٰنُ

او مهٔ دَ هغے خلقو سره چیر کوئ چه دَ خپل رب دَ فضل او دَ هغهٔ دَ رضا په تلاش کښ دَ محترم کور (کعبے) طرفته روان وی۔[۶] او چه کله دَ احرام حالت ختم شی نو ښکار تاسو کولے شئ[۷] او کورئ، یوے ډلے چه ستاسو دپاره دَ مسجد حرام لار بنده کړی ده نو په دے دِ تاسو له

دَ عبادت دپاره وی او دَ کفر او دَ شرک یو کار ورسره شامل کړے شوے نهٔ وی۔ یو سړے که مسلمان نهٔ هم وی خو چه هغه په خپله عقیده او عمل کښ دَ یو خدائے دَ بندګئ او دَ عبادت یو کار کوی، نو دَ دغے کار دحده پورے به ورسره مسلمان مګرتیا کوی، او کوم شعائر چه دَ هغهٔ په مذهب کښ خالص دَ خدا پرستئ علامت وی دَ هغے په احترام کښ به ورسره مګرتیا کوی۔ په خدا پرستئ کښ زمونږه او دَ هغهٔ جګړه نشته۔ زمونږه دَ هغهٔ سره جګړه په دے خبره نهٔ ده چه هغه دَ خدائے بندګی ولے کوی، بلکه جګړه په دے خبره ده چه هغه دَ خدائے دَ بندګئ سره دبل چا بندګی ولے شریکوی۔

دا یاد ساتل پکار دی دَ شعائر الله دَ احترام ساتلو دا حکم په هغه زمانه کښ شوے وُو کله چه دَ مسلمانانو او دَ عربو دَ مشرکانو په منځ کښ جنګ شروع وُو، په مکه باندِ دَ مشرکانو قبضه وه، دَ عربو دَ هر ځائے نه به دَ مشرکانو قبائل خلق دَ حج او دَ زیارت دپاره کعبے ته تلل او دَ ډیرو قبیلو لاره په مسلمانانو باندِ ورتلله په دغے وخت کښ دا حکم وُ شو که دا خلق مشرکان هم دی، او که ستاسو او دَ دوئ په منځ کښ جنګ هم دے، خو هر کله چه دوئ دَ خدائے کور له ځی نو بیا دوئ مهٔ چیړئ، دَ حج په میاشتو کښ پرِ حمله مهٔ کوئ، دَ خدائے دربار ته چه دَ نذر دپاره کوم ځناور بوځی هغے ته نقصان مهٔ رسوئ، ځکه چه دَ هغوئ په مات کوډ مذهب کښ دَ خدا پرستئ څومره حصه پاتے ده دَ هغے احترام پکار دے نهٔ چه بے احترامی

[۶] دَ "شعائر الله" دَ احترام کولو عام حکم وُ شو، بیا روستو دَ یو څو شعائرو نومونه واغستلے شو او دَ هغوئ دَ احترام کولو خاص حکم ځکه وُ شو چه په هغه وخت کښ دا خطره پیدا شوی وه چه دَ جنګ په جوش کښ چرته دَ مسلمانانو نه دَ هغے سپکاوے وُ نشی۔ ددے دا مقصد نهٔ دے چه بس هم ددے یو څو شعائر دَ احترام پکار دے۔

[۷] احرام پخپله په شعائر الله کښ شامل دے، او په دے کښ چه کومے پابندئ دی په هغے کښ یوه پابندی ماتول دَ احرام بے حرمتی ده۔ ځکه خو دَ شعائر الله په بیان کښ دَ احرام ذکر هم ذکرے شو چه ترڅو پورے تاسو په احرام کښ یئ نو ښکار کول دَ شعائر سپکاوے او توهین دے۔ البته کله چه دَ شرعی قاعدے مطابق دَ احرام وخت ختم شی نو بیا دَ ښکار کولو اجازت دے۔

قَوْمٍ اَنْ صَدُّوْكُمْ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ اَنْ تَعْتَدُوْا ۘ وَتَعَاوَنُوْا
عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوٰى ۖ وَلَا تَعَاوَنُوْا عَلَى الْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ ۖ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ
اِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿۲﴾ حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَالدَّمُ
وَلَحْمُ الْخِنْزِيْرِ وَمَآ اُهِلَّ لِغَيْرِ اللّٰهِ بِهٖ وَالْمُنْخَنِقَةُ وَالْمَوْقُوْذَةُ
وَالْمُتَرَدِّيَةُ وَالنَّطِيْحَةُ وَمَآ اَكَلَ السَّبُعُ اِلَّا مَا ذَكَّيْتُمْ قف

وقف لازم

الربع

دومره غصه نه درځی چه تاسو هم د هغوی په مقابله کښ ناروا زیاتے شروع کړی[۸] نه! چه کوم کارونه د نیکئ او د خدائے د یری دی په هغے کښ د ټولو سره امداد کوئ او کوم کارونه چه د گناه او د زیاتی دی په هغے کښ د هیچا سره امداد مه کوئ. د الله نه یره کوئ، د هغه سزا ډیره سخته ده.

په تاسو باندے حرام کړے شو مُردار[۹] وینه، د خنزیر غوښه، هغه ځناور چه د خدائے نه بغیر د بل چا په نوم حلال کړے شوے وی[۱۰]، او هغه ځناور چه د مرئ د خفه کیدو په وجه، یا د وهلو په وجه، یا د وچت ځائے نه د راغورزیدو په وجه او یا د ټکرے خوړلو په وجه مړ شوے وی او یا یو درنده مات کړے وی ـــــ بغیر د هغے نه چه کوم تاسو ژوندے ومومئ او حلال ئے کړئ[۱۱] ـــــ

[۸] لکه څنګه چه کافرانو په هغه وخت کښ مسلمانان د کعبے د زیارت نه منع کړی وو او د عربو د خپل نچوانی دستور نه خلاف ئے د حج کولو نه مسلمانان محرومه کړی وو، دغه شان د مسلمانانو په زړه کښ هم دا خیال راپیدا شو چه د کومو کافرانو لاره په مسلمانانو باندے ورځی چه هغه په کافرانو باندے د حج د پاره بنده کړی او کومے قافلے چه پرورځی په هغوی باندے حملے شروع کړی. خو الله تعالیٰ د دے آیت په نازلیدو سره مسلمانان د دے ارادے نه منع کړل.

[۹] یعنی هغه ځناور چه په خپل مرګ مړ شوے وی.

[۱۰] یعنی د ذبحه کولو په وخت کښ پر د خدائے نه بغیر د بل چا نوم اغستلے شوے وی، یا د ذبحه کولو نه مخکښ پر دا نیت شوے وی چه دا به د فلانی بزرګ یا د فلانی بت نذر وی. (وګورئ سورة بقره حاشیه نمبر ۱۷۱).

[۱۱] یعنی په کوم ځناور چه په پاسنو حالتونو کښ یو حالت راغے او هغه لا مړ شوے نه وو سا پکښ وه، او ذبحه کړے شو نو هغه حلال دے. د دے نه دا معلومه شوه چه د حلال ځناور غوښه صرف په ذبحه کولو سره حلالیږی، په بله هیڅ یو طریقه د هغے هلاکول صحیح نه دی. "ذبح" او "ذکاة" دواړه د اسلام په علمی ژبه کښ استعمالیږی. د دے مطلب دا دے چه د مرئ دومره حصه پریکړے شی چه د بدن ټوله وینه په ښه طریقه بهرته وځی. په جټکے سره یا په مرئ خفه کولو سره یا په بله څه طریقه سره د څاروی نه د ساه ایستلو د انقصان دے چه زیاته وینه په بدن کښ پاتے شی او هغه ځائے په ځائے

وَمَا ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ وَاَنْ تَسْتَقْسِمُوْا بِالْاَزْلَامِ ؕ

او هغه ځناور چه په دربار[12] باندې ذبح کړے شوے وی[13] دا رنګے دا هم ستاسو دپاره ناجائز دی چه د نال نیولو په ذریعه خپل قسمتونه معلوم کړئ[14]

تېنګه شی او د غوښے سره ونخلی. ددے نه برخلاف په ذبحه کولو سره د بدن تعلق د دماغو سره د ډیر ساعته پورے باقی وی چه د هغے په وجه د هر ډک نه وینه بهرته راوځی، او ټوله غوښه د وینے نه ښه صفا شی. ددے وینے په باره کښ اوس دا خبره مخکښ تیره شوی ده چه حرامه ده، نو د غوښے د پاکوالی او د حلال والی د پاره دا ضروری ده چه وینه د غوښے نه ښه جدا شی.

[12] په اصل کښ لفظ "نُصُب" استعمال شوے دے، دمے نه مطلب هغه ټول ځایونه دی چه هغه خلقو د الله نه بغیر د بل چا د نذر او نیاز د پاره مقرر کړی وی، اګر که هلته د کانړی یا د لرګی بت وی او که نه وی. زمونږ په ژبه کښ ددے پشان لفظ دربار دے چه تعلق ئے د یو مشر یا د یو دیوتا سره وی یا ورسره څه خاص مشرکانه عقیده تړلی شوی وی.

[13] دلته په دے خبره ځان ښه پوهه کول پکار دی چه د خوراک څکاک په څیزونو کښ شریعت کوم څیزونه حلالوی یا حرامو ی نو د هغے وجه د هغے څیزونو خپلے طبی فائدے یا نقصانات نه وی، بلکه د هغے وجه د هغے څیزونو اخلاقی فائدے یا نقصانات وی. طبیعی ټول کارونه الله تعالیٰ د انسان خپل کوشش او تحقیق ته پریښودلی دی. دا معلومول د انسان خپل کار دے چه کوم څیزونه د هغه د بدن د پاره فائده مند دی او کوم څیزونه نقصان ورکونکی دی. شریعت په دے قسم کارونو کښ ذمه واری په خپل سر نه اخلی. که د شریعت دا ذمه واری وے نو د ټولو نه اول به ئے سنکیا حرامه کړی وے. لیکن تاسو وینئ چه په قرآن او په حدیث کښ ددے او ددے قسم نورو مهلکو څیزونو هیڅ ذکر نشته. شریعت د خوراک په معامله کښ په دے طرف باندې نړا اچوی چه د خوراک د انسان په اخلاقو باندې څه اثر وی، او د نفس د پاکئ د پاره کوم کوم خوراکونه ښه دی او کوم کوم نه دی ښه، او د خوراک حاصلولو په طریقو کښ کومے طریقے د عقیدے او د نظریئے په لحاظ سره صحیح دی یا غلطے دی. چونکه دمے خبرے تحقیق کول د انسان د وس کار نه دے، او نه ورسره ددے د معلومولو څه ذریعے شته، او په دے وجه انسان په ډیرو کارونو کښ غلط شوے هم دے، نو دغه وجه ده چه شریعت صرف په دے کارونو کښ انسان ته لار ښائی. کوم څیزونه چه شریعت حرام کړی دی نو د هغے وجه یا خو دا ده چه په اخلاقو خراب اثر کوی، یا د پاکوالی نه خلاف دی یا د هغوئ تعلق د خرابے عقیدے سره دے. او کوم څیزونه چه شریعت حلال کړی دی نو د هغے وجه دا ده چه په هغے کښ ددے خرابونه یوه خرابی هم نشته.

تپوس کیدے چه څه لئے تعالیٰ موږ ته ددے څیزونو د حرامو الی وجه ولے نه ده ښودلے چه موږ ته پر پوهه حاصله شوے وے. ددے جواب دا دے چه د څیز د حرامو الی په وجه موږ ده هیڅ کله نشو پوهیدلے. مثلاً دا خبره شوه چه د وینے، یا د خنزیر د غوښے یا د مردارے د خوړلو په وجه

په مونږ کښې کومے اخلاقی خرابئ پیدا کیږی، په څومره مقدار کښې پیدا کیږی او په کومه طریقه پیدا کیږی، دا پته مونږ په هیڅ شان نشو لګولے ځکه چه دا اخلاقو د ناپ کولو ذریعے مونږ سره نشته. فرض کړه که هغه ټولے خرابئ بیان کړے شوے هم وے خو شک کونکی شک به نه ختمیدو ځکه چه هغه ته به دا پته آخر په څه خبره لګیده چه دا بیان صحیح دے یا غیر صحیح. نو دے دیے نه الله تعالیٰ د حرامو او د حلالو د پابندئ خبره په ایمان باندې پریښود لے ده. څوک چه په دے خبره باندې مطمئن شی چه قرآن د الله کتاب دے او محمدؐ د الله رسول دے، او الله په هرشے پوهه او حکمت والا دے، نو هغه به د الله د مقرر کړے شوی حدونو پابندی کوی، خواه که د هغے فائدے ته په عقل کښې راځی او که نه راځی. او څوک چه په دے بنیادی عقیده باندې مطمئن نه وی نو هغه به صرف د هغے څیزونو نه ځان پرې ساتی چه د کومو څیزونو نوښتوالے د انسان په علم کښې راغلے دے او پاتے شو هغه څیزونه چه د هغے په نقصانا تو باندې لا انسان نه دے پوهه نو هغه به سره د نقصاناتو استعمالوی.

۱۱ په دے آیت کښې چه کوم څیز حرام کړے شوے دے د هغے په دنیا کښې درے لوئ قسمونه دی او د دے آیت په حکم کښے هغه درے واړه قسمونه راځی.

(۱) مشرکانه نالوُنه نیول، په دے کښې د "دیوتا" نه خپل قسمت تپوسی، یا تر د غیبو څه خبره معلومول، یا پر د خپلو جګړو فیصلے کوی. (هندوان "دیوتا" هغه بړک انسان ته وائی چه د هغه په باره کښې د هغوئ دا عقیده وی چه خدائے دے دے انسان په شکل کښې دُنیا ته د اصلاح کولو په غرض راغلے دے). د مکے مشرکانو په کعبه کښې دننه د هُبَل نوم ے دیوتا یوُټ ایښودلے وَو. دے بُت په دربار کښې د اُدَوه غشی ایښودلی وُو چه په هغے باندې د مختلفو خبرو لیکلے وے. چه دچا به د څه کار کولو یا د نه کولو راده وه، یا به د ډرک شوے څیز معلومولو یا به د مرګ د مقدمے فیصله کوله، غرض دا چه د هرکار دپاره به د هُبَل هغه مجور (صاحب الفداح) له راغے چه فالونه به ے را ایستل، نذرانه به ے ورکړه او د هُبَل نه به ے د خپلے فیصلے دُعا او غرښتله. بیا به ورله هغه فالونو والا د غشی په ذریعه فال را د ډیتلو، چه په فال کښې به کوم غشے راوُتلو په هغے غشی به چه څه لیکلی وُو هغه به د هُبَل فیصله وه.

(۲) کسانی اووهمی فالونه نیول. په دے کښې د معاملا تو فیصلے د عقل پر ځائے د یووهمی څیز یا د څه اتفاقی کار په ذریعه کیږی. یا کښې د قسمت حال په دا سے ذریعه معلومیږی چه هغه په هیڅ علمی طریقه ثابته نه وی. د نجوم علم، د غیبو خبرے کول، پر څیز پسے بده یا په بښه ښګون اوده قسمه فالونه نیول په دیکښې شامل دی.

(۳) د جواری هغه ټولے لوبے او کارونه چه په هغے کښې فیصلے د حق، د خدمت او د عقل پر ځائے صرف په یو اتفاقی کار باندې کیږی. مثلاً په لاټرئ کښې چه دچا نوم راوُختلو نو صرف د نوم راختلو په وجه د ده ټولو خلقو پیسے د ده جیب ته لاړے شی. یا د چا د مخے حل اتفاقی طور د هغے مخے سره سمون وُخوړی کوم چه مخے والو په صندق کښې بند کړے دے، او صرف دے اتفاق برابرید و په وجه د انعام هغه ټوله ملا وُشی، اګرچه نور حلونکے هم جوړ کیدلے شی.

دا درے واړه قسمونه حرام دی. صرف دا سے قُرعه اندازی (څټرے) په اسلام کښې جائز ده، چه د دوُ جائزو کارونو په منځ کښې یا د دوُ برابر حقونو په منځ کښې فیصله کول وی. مثلاً په یو څیز باندې د دوُ

ذٰلِكُمْ فِسْقٌ ؕ اَلْيَوْمَ يَئِسَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ دِيْنِكُمْ فَلَا
تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِ ؕ اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَاَتْمَمْتُ
عَلَيْكُمْ نِعْمَتِيْ وَرَضِيْتُ لَكُمُ الْاِسْلَامَ دِيْنًا ؕ فَمَنِ

دا ټول کارونه فسق دے. نن کافران ستاسو دَ دین دَ غاړے نه ښه پوره نا امیده شوی دی نو دَ هغوئ نه تاسو مه یَریږئ بلکه زمانه یَریږئ[15]. نن ما ستاسو دین ستاسو دپاره مکمل کړے دے او خپل نعمت م په تاسو تمام کړے دے او ستاسو دپاره م اسلام ستاسو دَ دین په حیثیت سره قبول کړے دے (نو په دے وجه دَ حلالو او د حرامو کومے پابندئ چه په تاسو کښ لګولے شوی دی دَ هغے پابند وسئ)[16]. البته چه څوک

کسانو حق په هر حیثیت سره برابر دے او فیصلے کولو والا یو له په بل باندِ ترجیح نشی ورکولے او هغه دواړه پخپله هم یو بل ته خپل حق نه پریږدی. نو په داسے معامله کښ دَ دواړو په رضا باندِ په څخنړی فیصله کول جائز دی. یا په مثال کښ دده کارونه یو شان صحیح دی او سړے پکښ حیران شی چه کوم یو وکړی، نو که ضرورت وی نو څخنړے کولے شی. نبی صلی الله علیه وسلم به په داسے موقع کښ چه دَ دوو حقدارانو په منځ کښ به یو له د ترجیح ورکولو ضرورت راغے او که هغه یو له ترجیح ورکوله نو بل به خفه کیدو، نو په داسے فیصلو کښ به ئے دَ څخنړی طریقه اختیار وله.

[15] دَ "نن" نه مطلب څه خاص ورځ یا تاریخ نه دے. بلکه ددے نه مراد هغه زمانه ده چه په هغے کښ دا آیتونه نازل شوی دی. زمونږ په ژبه کښ هم دَ "نن" لفظ دَ موجوده زمانے دپاره استعمالیږی.

"کافران ستاسو دَ دین دَ غاړے نه ښه پوره نا امیده شوی دی" یعنی اوس ستاسو دین یو مستقل نظام دے او خپل حکمونه پخپله چلوئ. دَ اوسه پورے چه کافران ستاسو دین په لاره کښ یو خنډ وُر هغوئ اوس ددے خبرے نه نا امیده شوی دی چه کښ ستاسو دین به ختم کړی او تاسو به بیا جاهلیت ته واړه وی. "نو دَ هغوئ نه تاسو مه یَریږئ"، یعنی اوس ددے دین په حکمونو باندِ دَ عمل کولو په لار کښ دَ کافرانو د طرفنه هیڅ خطره پاتے شوی نه ده. اوس دا نسانانو د طرفنه دَ یرے کولو هیڅ وجه نشته. اوس تاسو له پکار دی چه دَ خدائے نه وَیریږئ، که دَ هغه په حکمونو منلو کښ تاسو څه سستی وکړه نو هیڅ داسے عذر نشته چه د هغے په وجه تاسو سره نرمی وکړے شی. اوس که تاسو دَ شریعت نه خلاف کوئ نو د هغے مطلب به دا نه وی چه تاسو دَ نورو نه مجبوره وئ بلکه دَ هغے به دا مطلب وی چه تاسو د خدائے حکم منل نه غواړئ.

[16] دَ دین دَ مکمل کولو نه مراد دا دے چه دا د فکر او دَ عمل یو مستقل نظام دے او دَ ژوند تیرولو یو داسے مکمل نظام دے چه دَ ژوند ټولے مسئلے په کښ حل کیږی او دَ رهنمائی حاصلولو دپاره په هیڅ حال کښ ددے نه دَ بهر تللو ضرورت نه راځی. دَ نعمت تمامولو نه مطلب د هدایت نعمت تمامول دی. او اسلام دَ دین د حیثیت نه دَ قبلولو مطلب دا دے چه تاسو زما د حکم منلو او د بندګئ کولو کوم اقرار کړے دو

اضْطُرَّ فِيْ مَخْمَصَةٍ غَيْرَ مُتَجَانِفٍ لِّاِثْمٍ ۙ فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۳﴾
يَسْـَٔلُوْنَكَ مَاذَآ اُحِلَّ لَهُمْ ؕ قُلْ اُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبٰتُ ۙ

دَ لوږے دَ لاسه مجبوره شي او په زړه کښ ئے گناه طرفته څه میلان نه وي او دَ دغے څیزونو نه څه وُخوري، نو بیشکه الله معاف کونکے او رحم کونکے دے [۱۷]

خلق تپوس کوي چه دَ دوئ دپاره څه څه څیزونه حلال کړے شوي دي، ورته اُووایه چه ستاسو دپاره ټول پاک څیزونه حلال کړے شوي [۱۸] دي۔

هغه تاسو دَ خپل عمل او دَ اخلاص په وجه صحیح ثابت کړے دے، نو ځکه هغه ما قبول کړے دے او تاسو م دے حالت ته را رسولی یئ چه اوس به په حقیقت کښ زمانه بغیر دَ بل چا اطاعت او بندگی نه کوئ. اوس چه لکه څنګه تاسو په عقیده کښ زمامونکی یئ دغه شان په عملی ژوند کښ زمانه بغیر دَ بل چا د منلو مجبوري په تاسو باندِ نه ده پاتے شوي۔ د دے احسانا تو د ذکر کولو نه روستو الله تعالیٰ خاموشي اختیار کړي ده خو دَ اندازے نه پخپله دا خبره معلومیږي چه هر کله ما په تاسو باندِ دا دومره احسانات وُکړل نو پکار دي چه تاسو هم زما د قانون پابندي وُکړئ۔

دَ مستند روایتونو نه معلومیږي چه دا آیت دَ حجة الوداع په موقع باندِ په لسمه هجرئ کښ نازل شوے وُو۔ لیکن اوس چه دا آیت دَ کلام په کومه سلسله کښ دے هغه دَ صلح حدیبیے نه روستو زمانه (شپږمه هجري) ده۔ او په روان عبارت کښ دواړه فقرے داسے جوختے معلومیږي چه څوک دا گمان هم نشي کولے چه گنی په اول کښ په دے تقریر کښ دا فقرے نه وے او بیا روستو چه کله نازلے شوے نو د دے تقریر په منځ کښ کیښودے شوے۔ زما قیاس دا دے، او اصلي علم دَ الله سره دے، چه په اول کښ دا آیت هم د دے کلام سره نازل شوے وُو خو خلق د دے په حقیقي اهمیت باندِ پوهه نه شو۔ روستو چه کله ټول عرب دَ مسلمان تابع شو او دَ اسلام طاقت زیات شو نو الله تعالیٰ دوباره دا فقرے په خپل نبي نازلے کړے او د دے دَ اعلان کولو حکم ئے وُکړو۔

[۱۷] وګوره سورة بقره، حاشیه نمبر ۱۷۲۔

[۱۸] په دے جواب کښ یوه باریکه خبره پټه پرته ده۔ دَ مذهبي قسمه خلقو اکثر دا خیال وي چه دَ دنیا هر څیز حرام دے تر څو پورے چه دهغے دَ حلالوالي ښه صفا بیان نه وي شوے۔ د دے خیال په وجه په خلقو باندِ دَ وهم او دَ قانون غلبه وي۔ هغوئ دَ ژوند په هره څانګه کښ دَ حلالو څیزونو او دَ جائز کارونو شماره غواړي۔ او په هر کار او په هر څیز کښ ئے دا شک وي چه چرته حرام خو به نه وي۔ دلته قرآن د دے خیال اصلاح کوي۔ د تپوس کونکو خلقو دا مقصد وو چه هغوئ ته دِ ټول حلال څیزونه وُښودلے شي چه هغوئ بیا دَ هغے نه بغیر بل هر څیز حرام وُګڼړي۔ په جواب کښ ورته الله تعالیٰ حرام څیزونه وُښودل او دَ هغے نه روستو ئے ورته دا عام حکم وُکړو چه ټول پاک څیزونه حلال دي۔ په دے طریقے سره پخوانئ مذهبي نظریه بالکل اُلټا شوه۔ پخوانئ نظریه دا وه چه هر څه حرام دي

وَمَا عَلَّمْتُمْ مِّنَ الْجَوَارِحِ مُكَلِّبِيْنَ تُعَلِّمُوْنَهُنَّ مِمَّا عَلَّمَكُمُ اللّٰهُ ز فَكُلُوْا مِمَّآ اَمْسَكْنَ عَلَيْكُمْ وَاذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ

او کوم ښکاری ځناور چه تاسو عادت کړی وی ـــ چه تاسو ورله د هغې علم په وجه کوم چه خدائے تاسو له درکړے دے د ښکار تعلیم ورکوئ ـــ هغوئ چه کوم ځناور ستاسو د پاره ونیسی هغه هم تاسو خوړے شئ[19]، البته په هغه باندې (د وړ پرېښودلو په وخت کښې) د الله نوم

بغیر د هغې څیزونو نه چه کومو ته حلال اووئیلے شی. قرآن د دے نه برعکس دا اصول مقرر کړل چه هر څه حلال دی بغیر د هغه څیزونو نه چه په کومو صفاد حرام والی حکم وشی، دا یوه ډیره لویه اصلاح وه د دے په وجه د انسانانو ژوند د قیدونو نه آزاد شو او د دنیا د فراخئ دروازے ورته پرانستے شوے. اول د یو څو څیزونو نه علاوه د دنیا نور ټول څیزونه حرام وو. اوس صرف یو څو څیزونه حرام شو او باقی د ټولے دنیا څیزونه ورته حلال شو.

د حلالو څیزونو سره ئے د پاکوالی شرط ځکه لګولے دے چه هسے نه څوک چرته د دے دلیل ترمخه ناپاک څیزونه حلال نه کړی. پاتے شوه دا خبره چه د څیز پاکوالے به څنګه معلومیږی نو د دے جواب دا دے، چه کوم څیزونه د شریعت د اصولو لاندې ناپاکه ګرزولے شوی وی، یا کوم څیزونه چه پاک طبیعت والا انسان نه خوښه وی، د هغے نه بغیر نور ټول څیزونه پاک دی.

[19] د ښکاری ځناورونه مراد سپے، پړانګ، باز، شکرے او هغه ټول ځناور او مارغان دی چه انسان ترځان له د ښکار خدمت اخلی. د عادت کړے شوی ځناور دا خاصیت وی چه هغه ښکار د عامو درندګانو پشان ځان له نه خوری بلکه د خپل مالک د پاره ئے نیسی. په دے وجه د عامو درندګانو نیولے شوے ښکار حرام دے او د عادت شوی درندګانو ښکار حلال دے.

په دے مسئله کښې د فقهاؤ په منځ کښې اختلاف دے. یوه ډله وائی که ښکاری ځناور که هغه درنده وی او که مارغه وی، خو چه د ښکار نه ئے څه وخوړل نو هغه حرام دی ځکه چه د هغه د خوراک مطلب دا دے چه هغه ښکار د مالک د پاره نه ور نیولے بلکه د ځان د پاره ئے نیولے وو. دا د امام شافعیؒ مسلک دے. دویمه ډله وائی که د ښکار نه ئے څه وخوړل نو بیا هم نه حرامیږی، که دریمه حصه ئے ټوله وخوړه نو هغه باقی دوه حصے هم حلالے دی، او په دے معامله کښې درنده او مارغه یو شان دی، دا مسلک د امام مالکؒ دے. دریمه ډله وائی که ښکاری ځناور د ښکار نه څه وخوړل نو هغه به حرامه وی، او که ښکاری مارغه ترڅه وخوړل نو نه حرامیږی. ځکه چه ښکاری ځناور له داسے عادت ورکړے کیدے شی چه هغه ښکار د مالک د پاره ونیسی او پخپله ترڅه ونه خوری لیکن دا خبره په تجربے سره ثابته ده چه ښکاری مارغه داسے نشی عادتیدلے. دا مسلک د امام ابو حنیفه او د هغه د ملګرو دے. د دے نه برخلاف حضرت علی رضی الله عنه فرمائی چه د ښکاری مارغه ښکار هډو جائز نه دے، ځکه چه هغه ته دا خبره هډو رخودلے کیدے نشی چه ښکار د مالک د پاره نیسی او پخپله د نه خوری.

عَلَيْهِ ۖ وَاتَّقُوا اللَّهَ ۚ إِنَّ اللَّهَ سَرِيعُ الْحِسَابِ ﴿٤﴾ الْيَوْمَ
أُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبَاتُ ۖ وَطَعَامُ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ حِلٌّ لَّكُمْ ۖ
وَطَعَامُكُمْ حِلٌّ لَّهُمْ ۖ وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ الْمُؤْمِنَاتِ

اخلئی[20] او د خدائے د قانون ماتولو نه یره کوئ، د الله په حساب اغستلو وخت نه لږی.
نن ستاسو د پاره ټول پاک څیزونه حلال کړے شوی دی. د اهلِ کتابو خوراک ستاسو د پاره حلال دے او
ستاسو خوراک د هغوئ د پاره[21]. او محفوظے ښځے هم ستاسو د پاره حلالے دی خواه که هغه د مومنانو د ډلے نه وی

[20] یعنی ښکاری ځناور په ښکار باندِ د پریښودلو په وخت کښ بسم الله وائی. په حدیث کښ راځی چه حضرت عدی بن حاتم د نبی صلی الله علیه وسلم نه تپوس وکړو چه زه په سپی ښکار کولے شم؟ نبی وفرمایل چه "که د پریښودلو په وخت کښ د الله نوم واغستلو نو بیائے ښکار خوره او کنئ نومه ئے خوره. او که د ښکار نه ئے څه وخوړل نو بیائے هم مه خوره ځکه چه هغه ښکار د ځان د پاره نیولے دے." هغه بیا تپوس وکړو که زه په ښکار باندِ خپل سپے ور پریږدم او روستو هلته اوویم چه بل سپے موجود دے. نبی جواب ورکړو "دا ښکار مه خوره. ځکه چه تا د خدائے نوم په خپل سپی اغستے وو د بل په سپی دِ نه وو اغستے."

دے آیت نه دا مسئله معلومه شوه چه په ښکار باندِ د پریښودلو په وخت کښ په ښکاری ځناور باندِ د خدائے نوم اغستل ضروری دی. دے نه روستو که ښکار ژوندے وموندلے شو نو پکار دی چه بیا پرِ د خدائے نوم واخلی او ذبحه ئے کړی، او که ژوندے نه وو نو بغیر د ذبحے نه حلال دے ځکه چه د پریښودلو په وخت کښ په ښکاری ځناور باندِ د الله نوم اغستلے شوے وو. دا حکم د غشی هم دے.

[21] د اهلِ کتابو په خوراک کښ د هغوئ د لاس ذبحه هم شامله ده. زموږ د پاره د هغوئ د خوراک او د هغوئ د پاره زموږ ده د خوراک د حلالیدو مطلب دا دے چه زموږ ده او د هغوئ په منځ کښ د خوراک څکاک په څیزونو کښ هیڅ بندیز او څه پلیتی وغیره نشته. موږ د هغوئ سره خوراک کولے شو او هغوئ زموږ سره خوراک کولے شی. لیکن دے عام اجازت ورکولو نه وړاند دا خبره دوباره وکړے شوه چه "ستاسو د پاره پاک څیزونه حلال کړے شوی دی." دے نه معلومه شوه چه که چرے اهلِ کتاب د پاکوالی د هغے قانون پابندی نه کوی کوم چه د شریعت په نظر کښ ضروری دے، یا که چرے د هغوئ په خوراک کښ حرام څیزونه شامل وی، نو بیا د هغے نه پرهیز یعنی ځان ساتنه پکار ده. مثلاً که چرے هغوئ یو ځناور بغیر د خدائے د نوم اغستلو نه ذبح کړی، یا په هغه باندِ د خدائے د نوم نه علاوه د بل چا نوم واخلی، نو د هغے خوراک زموږ د پاره جائز نه دے. دغه شان که د هغوئ په خوراک کښ شراب یا د خنزیر غوښه یا بل یو حرام څیز وو نو بیا ورسره زموږ ده شریک والے نشی کیدے.

د اهلِ کتابو نه علاوه د نورو غیر مسلمو خلقو هم دا حکم دے. فرق صرف دا دے چه د اهلِ کتابو د لاس ذبحه جائز ده ولے هله چه د خدائے نوم ئے پرے اغستلے وی، پاتی شو د اهلِ کتابو نه علاوه نور غیر مسلمه خلق،

وَالْمُحْصَنٰتُ مِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ اِذَآ اٰتَيْتُمُوْهُنَّ
اُجُوْرَهُنَّ مُحْصِنِيْنَ غَيْرَ مُسٰفِحِيْنَ وَلَا مُتَّخِذِيْٓ اَخْدَانٍ ؕ وَمَنْ
يَّكْفُرْ بِالْاِيْمَانِ فَقَدْ حَبِطَ عَمَلُهٗ ۫ وَهُوَ فِي الْاٰخِرَةِ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ۝۵

یا دَ هغے قومونو نه وی چه ستاسو نه مخکښ ورته کتاب ورکړے شوے وُو.[22] خو شرط پکښ دا دے چه تاسو هغوئ ته خپل مهرونه ورکړئ او دَ نکاح په قلعه کښ دَ هغوئ محافظ جوړ شئ، نه دا چه تش خپل شهوت پوره کوئ یا پټ پناه یا رانے کوئ. او چا چه دَ ایمان په لاره باندِ دَ تللو نه انکار وکړو نو دَ هغه دَ ژوند ټول عملونه به ضائع شی او په آخرة کښ به تاوانی وی ع[23]

نو هغوئ چه کوم ځناور وژلے وی هغه موږ نشو خوړلے.

[22] دَ دے نه مُراد یهودیان او عیسایان دی. صرف دَ دوئ دَ زنانو سره دَ نکاح کولو اجازت شوے دے او ورسره ئے دا شرط هم لګوے دے چه هغه دِ مُحصَنات (محفوظے ښځے) وی. ددے حکم په تشریح کښ دَ عالمانو اختلاف دے. د ابن عباسؓ دا خیال دے چه دلته دَ اهل کتابو نه مُراد هغه اهلِ کتاب دی چه دَ اسلامی حکومت وُسیدونکی وی. دَ دارالحرب او دَ دارالکفر دَ یهودیانو او دَ عیسایانو دَ زنانو سره نکاح کول صحیح نه دی. حنفیان ددے نه لږ اختلاف کوی. هغوئ وائی چه دَ بهروطن دا اهلِ کتابو دَ زنانو سره نکاح کول حرام خو نه دی خو مکروه ضرور دی. ددے نه برخلاف سعید بن المُسَیّبؒ او حَسَن بصریؒ ددے خبرے قایل دی چه دَ آیت حکم عام دے، په دے کښ دَ ذمی او دَ غیر ذمی فرق کولو ته ضرورت نشته. بیا دَ مُحصَنات ټکی په معنی کښ هم دَ فقهاؤ (عالمانو) اختلاف دے. دَ حضرت عمرؓ په نزیاندِ ددے نه مراد پاک لمنے حیادارے زنانه دی، او په دے وجه هغه دَ اهلِ کتابو دَ آزاد طبیعته زنانو سره دَ نکاح کولو اجازت نه ورکوی. دا رائے دَ حسن بصریؒ، شعبیؒ او دَ ابراهیم نخعیؒ ده. او حنفیانو هم دا رائے خوښه کړی ده. دَ امام شافعیؒ دا رائے ده چه دلته دا لفظ دَ ونیځو په مقابله کښ استعمال شوے دے. یعنی دَ دے نه مُراد دَ اهلِ کتابو هغه زنانه دی چه وینځے نه وی.

[23] دَ اهلِ کتابو دَ زنانو سره دَ نکاح دا اجازت کولو نه روستو دا فقره دَ خبرداری په طور فرمائیلی شوی ده، چه څوک ددے اجازت نه فائده واخلی هغه دِ دَ خپل ایمان او دَ خپلو اخلاقو حفاظت په بیداری سره کوی. هسے نه چه دَ کافرے ښځے په عشق کښ دَ خپلے عقیدے او دَ خپل ایمان نه لاس اُوو ینځی، یا دا ایمان نه خلاف کافرانه استوګنه شروع کړی.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا قُمْتُمْ اِلَى الصَّلٰوةِ فَاغْسِلُوْا وُجُوْهَكُمْ
وَاَيْدِيَكُمْ اِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَحُوْا بِرُءُوْسِكُمْ وَاَرْجُلَكُمْ اِلَى الْكَعْبَيْنِ ؕ
وَاِنْ كُنْتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوْا ؕ وَاِنْ كُنْتُمْ مَّرْضٰٓى اَوْ عَلٰى سَفَرٍ اَوْ
جَآءَ اَحَدٌ مِّنْكُمْ مِّنَ الْغَآئِطِ اَوْ لٰمَسْتُمُ النِّسَآءَ فَلَمْ تَجِدُوْا
مَآءً فَتَيَمَّمُوْا صَعِيْدًا طَيِّبًا فَامْسَحُوْا بِوُجُوْهِكُمْ وَاَيْدِيْكُمْ
مِّنْهُ ؕ مَا يُرِيْدُ اللّٰهُ لِيَجْعَلَ عَلَيْكُمْ مِّنْ حَرَجٍ وَّلٰكِنْ يُّرِيْدُ

اے هغه خلقو چه ایمان مو راوړے دے، کله چه تاسو د مانځه د پاره پاسئ نو پکار دی چه تاسو خپل مخونه او د څنګلو پورے خپل لاسونه اووینځئ، په سرونو باندې لاس راکاږئ او د ګیټو پورے خپے اووینځئ۔ او که په جنابت کښ یئ نو په لمبلو سره پاکی حاصل کړئ۔ او که ناجوړه یئ، یا په سفر کښ یئ یا په تاسو کښ څوک د اودس ماتی نه راشی یا تاسو خپلو بښځو له ورځئ، او اوبه درته ملاؤ نشی، نو د پاکے خاورے نه کار واخلئ، پس خو په هغے باندې لاسونه اووهئ او په خپلو مخونو او لاسونو باندې یے راکاږئ۔ الله په تاسو یا ندې ژوند تنګول نه غواړی، خو هغه دا غواړی چه

۲۴ نبی صلی الله علیه وسلم چه د دے حکم کومه تشریح کړی ده هغے نه معلومیږی چه په مخ اینځلو کښ خولے تنه اوبه اچول او پوره پاکول هم شامل دی، بغیر د دے نه مخ اینځل نه پوره کیږی۔ او غوږونه خو د سر یو حصه دی نو په دے وجه د سر چه مسح کښ د غوږونو بهرنی او دننه مسح کول هم شامل دی۔ د اودس شروع کولو نه د مخ او لاسونه اینځل پکار دی ځکه چه په کومو لاسونو سره اودس کوی چه هغه خو پخپله اول پاک وی۔

۲۵ جنابت که د بښځے سره د کوروالی په وجه وی او که د خوب لید لو په وجه وی، په دواړو حالتونو کښ غسل واجبیږی۔ د جنابت په حالت کښ مونځ کول یا قرآن له کوتے ورډل جائز نه دی۔ (د زیاتے تشریح د پاره وګورئ سورۃ نساء حاشیه نمبر ۶۷، ۶۸، ۶۹)۔

۲۶ ۔ د تشریح د پاره وګورئ سورۃ نساء حاشیه نمبر ۶۹ ۔

لِيُطَهِّرَكُمْ وَلِيُتِمَّ نِعْمَتَهٗ عَلَيْكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ۝۶ وَاذْكُرُوْا
نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَمِيْثَاقَهُ الَّذِيْ وَاثَقَكُمْ بِهٖٓ ۙ اِذْ قُلْتُمْ
سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا ۫ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ
الصُّدُوْرِ ۝۷ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُوْنُوْا قَوّٰمِيْنَ لِلّٰهِ
شُهَدَآءَ بِالْقِسْطِ ۫ وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَاٰنُ قَوْمٍ عَلٰٓى اَلَّا
تَعْدِلُوْا ؕ اِعْدِلُوْا قف هُوَ اَقْرَبُ لِلتَّقْوٰى ۫ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ
خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ۝۸ وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ۙ

تاسو پاک کړی او خپل نعمت په تاسو باندِ تمام کړی[27] چه تاسو شکر گزاره جوړ شئ۔
الله چه تاسو له کوم نعمت درکړے[28] دے دَ هغے خیال ساتئ او هغه پخه وعده مه هیره وئ کومه چه هغه ستاسو نه اغتلے ده، یعنی ستاسو دا وینا چه "مونږه واوریدل او اطاعت موقبول کړو" دَ الله نه ویریږئ، الله دَ زړونو په راز هم پوهیږی۔ اے هغه خلقو چه ایمان مو راوړے دے، دَ الله دپاره په حق باندِ قایم وسیدونکی او دَ انصاف گواهی ورکونکی[29] جوړ شئ۔ دَ یوے ډلے دُشمنی دِ تاسو له دوهره غصه نه درولی چه دَ انصاف نه وَاوړئ۔ تل انصاف کوئ دا دَ خدائے نه دَ یریدو دپاره زیاته مناسبه ده۔ او په هر کار کښ دَ الله نه یره کوئ، تاسو چه څه کوئ الله دَ هغے نه ښه خبر دے۔ کوم خلق چه ایمان راوړی او نیک عمل وکړی،

[27] څنګه چه دَ نفس پاکی یو نعمت دے دغه شان دَ بدن پاکی هم یو نعمت دے۔ په انسان باندِ دَ الله نعمت هله مکمل کیدے شی کله چه انسان ته دنفس او د بدن دَ پاکئ دپاره پوره هدایت ملاؤ شی۔

[28] یعنی دا نعمت چه دَ ژوند نیغه لار تاسو ته ښکاره کړے شوه او دُنیا ته دَ نیغے لارے ښودلو منصب تاسو ته حواله کړے شو۔

[29] وَ کوره سورة نسآء، حاشیه نمبر ۱۶۴، ۱۶۵۔

لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّاَجْرٌ عَظِيْمٌ ﴿٩﴾ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا
بِاٰيٰتِنَآ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَحِيْمِ ﴿١٠﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا
اذْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ اِذْ هَمَّ قَوْمٌ اَنْ يَّبْسُطُوْٓا
اِلَيْكُمْ اَيْدِيَهُمْ فَكَفَّ اَيْدِيَهُمْ عَنْكُمْ ج
وَاتَّقُوا اللّٰهَ ط وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ﴿١١﴾ ع



الله دَ هغوئ سره وعده کړی ده چه دَ هغوئ خطاګانے به معاف کوی او هغوئ له به لویه بدله ورکوی. پاتی شو هغه خلق چه کفرئے وکړو او دَ الله آیتونو ته ئے دروغ اُووے، نو هغوئ دوزخ ته تلونکی خلق دی.

اے هغه خلقو چه ایمان مو را وړے دے، دَ الله هغه احسان را یاد کړئ چه هغه (اوس، اوس) په تاسو کړے دے، کله چه یوے ډلے په تاسو باندِ دَ حملے کولو اراده کړی وه خو الله تعالیٰ دَ هغوئ لاسونه په تاسو باندِ دَ حملے کولو نه منع کړل[۳۰] په هر کار کښ دَ الله نه یَره کوئ. ایمان والو له پکار دی چه خاص په الله باندِ بروسه کوی. ع

[۳۰] دَ کومے واقعے چه حضرت عبدالله بن عباس روایت کړے دے، هغے واقعے ته اشاره ده. هغه وائی چه په یهودیانو کښ یوے ډلے نبی صلی الله علیه وسلم او دَ هغهٔ خاص خاص صحابو ته دَ ډوډئ دعوت ورکړے وُو او پټ ئے دا سازش کړے وُو چه ناسا په به پرِ حمله کوؤ او په دے طریقه به دَ اسلام جړړه ختموؤ. لیکن دَ الله په فضل سره نبی صلی الله علیه وسلم ته ددے سازش حال بالکل په وخت باندِ معلوم شو او دعوت له لا نړو. چونکه دے ځائے نه خطاب بنی اسرائیلو ته شروع کیږی نو ځکه ئے په اول کښ دا واقعه ذکر کړله.

ددے ځائے نه چه کوم تقریر شروع کیږی دَ هغے دوه مقصدونه دی. اوّل مقصد ئے دا دے چه مسلمانان په هغے لار باندِ دَ تللو نه منع کړے شی په کومه لار باندِ چه دَ دوئ نه وړاندِ اهل کتاب تلل. په دے سلسله کښ مسلمانانو ته وُو ئیلے شو چه نن څنګه ستاسو نه وعده واغتلے شوه دغه شان پرون هم دغه وعده دَ بنی اسرائیلو او دَ مسیح علیه السلام دَ اُمت نه اغتلے شوی وه. هسے نه چه څنګه هغوئ خپله وعده ماته کړله او په ګمراهئ کښ اخته شو، تاسو هم دَ هغوئ پشان دغه وعده ماته کړئ او ګمراه شئ. بل مقصد ئے دا دے چه یهودیان او عیسایان دواړه پخپلو غلطو باندِ خبردار کړے شی او دَ حق دین طرفته ورله دعوت ورکړے شی.

وَلَقَدْ اَخَذَ اللّٰهُ مِيْثَاقَ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ۚ وَبَعَثْنَا مِنْهُمُ
اثْنَيْ عَشَرَ نَقِيْبًا ؕ وَقَالَ اللّٰهُ اِنِّيْ مَعَكُمْ ؕ لَئِنْ اَقَمْتُمُ الصَّلٰوةَ
وَاٰتَيْتُمُ الزَّكٰوةَ وَاٰمَنْتُمْ بِرُسُلِيْ وَعَزَّرْتُمُوْهُمْ وَ
اَقْرَضْتُمُ اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا لَّاُكَفِّرَنَّ عَنْكُمْ سَيِّاٰتِكُمْ

الله دَ بنی اسرائیلو نه پخه وعده اغستلی وه او په هغوئ کښ ئے دولس مشران[۳۱] مقرر کړی وُو او ورته ئے وئیلی وُو چه "زهٔ ستاسو سره یم، که تاسو مونځ قایم وُ ساتلو او زکوٰة مو ورکړو او زما په رسولانو باندِ مو ایمان راوړو او دَ هغوئ مدد مو وکړو[۳۲] او خپل خدائے له مو قرضِ حسن[۳۳] ورکوؤ نو یقین لرئ چه زهٔ به ستاسو بدئ ستاسو نه لرے کړم[۳۴]

[۳۱] دَ نقیب معنی "خبر اغستونکے او دحالاتو پته لګونکے" ده - دَ بنی اسرائیلو دولس قبیلے وے او الله تعالیٰ په هغوئ کښ په هره قبیله باندِ دَ یو یو نګران مقرره ولو حکم کړے وو چه دَ هغوئ په حالاتو باندِ نظر ساتی او دَ هغوئ دَ بے دینئ او دَ بد اخلاقئ نه دَ بچ کولو کوشش کوی - دَ بائیبل په ګنتی نوے کتاب کښ دَ دولسو "سردارانو" ذکر موجود دے، خو بائیبل ورته تش سرداران وئیلی دی او قرآن وائی چه هغوئ دَ خپلے خپلے قبیلے اخلاقی او دینی نګرانان وُو -

[۳۲] یعنی هر رسول چه زما د طرفنه راشی، تاسو که دَ هغه دعوت وُ منو او د هغه امداد مو وکړو -

[۳۳] یعنی دَ خدائے په لار کښ مو خپل مال خرچ کوؤ. چونکه الله دا وعده کوی چه که انسان دَ الله په لار کښ یوه پیسه هم خرچ کړی، هغه به ورله الله تعالیٰ په څوڅو چنده زیاته ورکوی، نو ددے وجے نه په قرآن کښ ځائے په ځائے دَ الله په لار کښ خرچ کولو ته قرض وائی - خو شرط پکښ دا دے چه هغه قرضِ حسن وی، یعنی په جائزه طریقه ګټلے شوے مال خرچ کړی، دَ خدائے دَ قانون مطابق ئے خرچ کړی او بنهٔ په اخلاص او په بنه نیت سره ئے خرچ کړی -

[۳۴] دَ بدئ لرے کولو دوه مطلبونه دی. یو دا چه سړے نیغه لار اختیار کړی او دَ خدائے دَ حکمونو مطابق فکر او عمل وُ کړی نو دا ضروری ده چه دَ سړی زړهٔ به دَ ډیرو بدونه پاک شی او ژوند به ئے دَ ډیرو خرابونه صفا شی. دوئم دا چه که سړے دَ اصلاح سره سره کاملے مرتبے ته وُ نهٔ رسیدے شی او دَ څه نه څه بدئ پکښ پاتے شی نو الله به په خپل فضل سره په هغے ګرفت نهٔ کوی او هغه به دَ حساب نه لرے کړی، ځکه چه چا بنیادی حکمونه قبول کړی وی او دَ ځان بنیادی اصلاح ئے کړی وی نو دَ وړو ګناهونو په حساب کښے به ورسره الله تعالیٰ سختی نهٔ کوی.

وَلَاُدْخِلَنَّكُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۚ فَمَنْ كَفَرَ
بَعْدَ ذٰلِكَ مِنْكُمْ فَقَدْ ضَلَّ سَوَآءَ السَّبِيْلِ ﴿۱۲﴾ فَبِمَا

او تاسو به داسے باغونو ته ور داخل کړم چه لاندې به تر ولے بهیږی، خو د دے نه روستو چه چا په تاسو کښ د کفر لار اختیار کړه نو په حقیقت کښ هغه سواء السبیل[۳۵] ورکه کړه." بیا دا د هغوئ

۳۵ یعنی هغه "سواء السبیل" د موندلو نه روستو بیا ورکه کړه او د تباهئ په لار وکښ ورک شو. د "سواء السبیل" ترجمه "میانهله او د انصاف لویه لار" کیدے شی خو په دے سره پوره مطلب نه ادا کیږی. د دے وجے نه مونږ په ترجمه کښ هم د عربئ هغه لفظ استعمال کړے دے.

په دے لفظ باندې د پوهه کیدلو د پاره اول ځان په دے پوهه کول پکار دی چه انسان پخپله یوه وړه دنیا ده په دهٔ کښ بے شمیره مختلف قوتونه او قابلیتونه دی، خواهشات، جذبات او میلانات دی، نفس او بدن، روح او طبیعت ځان له ځان له څیزونه غواړی. بیا د یو یو انسان د یو ځائے جمع کیدونه چه کوم شریک ژوند جوړ شی په هغے کښ هم بے حسابه پیچیدګئ وی او د انسان د ترقئ سره دغه پیچیدګئ نورے هم زیاتیږی. بیا په دنیا کښ د انسان نه چار چاپیره د ژوند تیرولو ډیر سامان موجود دے، او انسان چه کله دغه سامان په خپل استعمال کښ راولی او د هغے نه کار واخلی، نو د هغے نه نورے ډیرے مسئلے پیدا کیږی.

انسان ډیر کمزورے دے او د دے خپلے کمزورئ په وجه هغه په خپل ټول ژوند باندې په یو وخت یو شان برابر نظر نشی اچولے. دغه وجه ده چه انسان د خپل ځان د پاره د ژوند تیرولو هیڅ یوه داسے لاره نشی جوړولے چه په هغے کښ د انسان د ټولو قوتونو سره انصاف وشی، چه د انسان د هر خواهش ټیک ټیک حق ادا شی، چه د انسان په هر د جذبه او په هر میلان کښ برابرے راشی. چه د انسان ټول امیدونه یو شان پوره شی چه د انسان د اجتماعی ژوند د هرے مسئلے لحاظ وساتلے شی، او چه د دنیا ټول څیزونه په انصاف سره استعمال شی. هر کله چه انسان پخپله د خپل ځان مشر شی او ځان له د ژوند تیرولو لار جوړه وی نو د حقیقت د مختلفو اړخونو نه صرف یو اړخ، د ژوند د ضرورتونو نه صرف یو ضرورت، او د ډیرو ضروری مسئلو نه صرف یوه مسئله را واخلی او نور ټول اړخونه، ضرورتونه او مسئلے په اراده باندې یا بغیر دا راده نه په ځائے پریږدی. او کله چه انسان دا خپل خیال په زور جاری کول شروع کړی نو د هغے په وجه د ژوند برابرے خراب شی او ټول ژوند په بے انصافئ سره یو انتها طرفته کوږ روان شی. بیا چه کله د ژوند دا کوږ رفتار آخری حد ته ورسیږی او انسان ئے نور نشی برداشت کولے نو هغه مسئلے او ضرورتونه چه انسان ورسره مخکښ بے انصافی کړی وه او په ځائے پریښودلئ وو، بغاوت شروع کړی او دا زور لګوی چه د هغوئ سره د انصاف وشی. خو انصاف بیا هم نه کیږی. ځکه چه بیا هغے کار شروع شی، په ضرورتونو کښ هغه یو ضرورت چه مخکښ ورسره ډیر زیاتے او بے انصافی شوی وه، انسان هغه را واخلی او د خپلے رضا مطابق ئے په یو خاص طرف روان کړی او نورے ټولے مسئلے او ضرورتونه پځائے پریږدی.

په دے طریقے سره انسان ته هیچرے هم نیغ او سیده تلل نه نصیب کیږی، همیشه ټالئ وهی او د تباهئ د یوے غاړے نه بلے غاړے ته په تند کونو ځی راځی. انسان چه ځان له د خپل ژوند د پاره کومے لارے جوړے کړے دی هغه ټولے کږے کرښے دی، په غلط طرف ځی، او په غلط طرف ختمیږی او بیا د بل غلط طرفنه شروع کیږی.

د دے ټولو کږو او غلطو لارو ترمنځه یوه داسے لار چه بالکل د ټولو په منځ کښ وی، چه په هغے کښ انسان د ټولو قوتونو او خواهشاتو سره، د انسان د ټولو جذباتو او میلاناتو سره، د انسان د روح او د بدن د ټولو مطالبو سره او د انسان د ژوند د هرے مسئلے سره پوره پوره انصاف شوے وی، چه په هغے کښ هیڅ کوږوالے نه وی، دیوارخ سره ډیره نرمی او د بل ارخ سره ظلم او بے انصافی پکښ نه وی، نو داسے لار د انسان د ژوند د ترقئ او د کامیابئ د پاره ډیره ضروری ده. انسان په حقیقت کښے د داسے لار طلب کوټے دے، او انسان چه داد مختلفو کږو لارو نه بیا بیا بغاوت کوی، د هغے اصل وجه داده چه هغه ځان له دا نیغه لار کوی. خو د انسان دومره قدرت نشته چه هغه ځان له دا لار پخپله معلومه کړی. دا لاره صرف خدائے انسان ته خودلے شی او خدائے خپل رسولان دے د پاره رالیږلی دی چه انسان ته دا نیغه لار وښائی قرآن دے لارے ته سواء السبیل او صراط مستقیم وائی. دا لویه لار د دنیا د دے ژوند نه واخله د آخرت د ژوند پورے د بے شمیره کږو لارو په منځ کښ سیده نیغه تیریږی. څوک چه په دغه نیغه لار روان شو هغه په دنیا کښ صحیح دے او په آخرت کښ کامیاب دے، او څوک چه د دغے لارے نه بے لارے شو هغه په دنیا کښ په غلطه دے او په آخرت کښ به خامخا دوزخ ته ځی، ځکه چه د ژوند ټولے کږے لارے دوزخ طرفته ځی.



د موجوده زمانے ځنے ناپوهه فلسفیانو ته چه دا معلومه شوه چه د انسان ژوند پر لپسے د یوے انتهانه بلے انتهانه دیکی وهی روان دے، نو هغوئ تر دا غلطه نتیجه واخستله چه "جنگی عمل" (Dialectical Process) د انسان د ژوند د ترقئ خپله فطری طریقه ده. هغوئ په خپله ناپوهتیا داؤ کړله چه د انسان د ترقئ هم دا لار ده چه اول یوه انتهاپسندانه دعوی (Thesis). انسان یو طرفته بوځی، بیا د هغے په مقابله کښ هم هغے یوه بله انتهاپسندانه دعوی (Antithesis). انسان بلے انتها طرفته راکاږی، او بیا د دواړو د یو ځائے کیدو (امتزاج ← (Synthesis). نه د ژوند د ترقئ لاره جوړه شی. حالانکه دا په اصل کښ د ترقئ لار نه ده بلکه داد بدنصیبئ هغه دیکی دی چه د انسان ژوند صحیح ترقئ ته نه پریږدی، هره یوه انتهاپسندانه دعوی ټول ژوند د ژوند یو ارخ ته راتاؤ کړی او په ځان پسے ئے راکاږی. تر دے پورے چه کله دغه ژوند

نَقْضِهِمْ مِّيْثَاقَهُمْ لَعَنّٰهُمْ وَجَعَلْنَا قُلُوْبَهُمْ قٰسِيَةً ۚ
يُحَرِّفُوْنَ الْكَلِمَ عَنْ مَّوَاضِعِهٖ ۙ وَنَسُوْا حَظًّا مِّمَّا ذُكِّرُوْا
بِهٖ ۚ وَلَا تَزَالُ تَطَّلِعُ عَلٰى خَآئِنَةٍ مِّنْهُمْ اِلَّا قَلِيْلًا مِّنْهُمْ

دَ خپلے وعدے دَ ماتولو وجه وه چه مونږه هغوئ دَ خپل رحمت نه لرے کړل او زړونه مو ورله سخت کړل. اوس دَ هغوئ دا حال دے چه د الفاظو په بدلولو سره خبره دَ یو ځاے نه بل ځائے ته وړی، او کوم تعلیم چه ورکړے شوے وُو دَ هغے ډیره حصه تر هیره شوی ده، او همیشه به تا ته دَ دوئ دَ څه نڅه دَ خیانت پته لږی. په هغوئ کښ ډیر کم خلق ددے عیب نه بچ دی. (چه مے حال ته هغوئ را رسیدلی دی نو اوس چه هغوئ څه شرارتونه کوی نو کیله تر نشته)

دَ سواء السبیل نه ډیر لرے لاړ شی نو بخپله ددغے ژوند ځنے نور حقیقتونه، چه ورسره بے انصافی شوی وی، دَ هغے نه خلاف بغاوت شروع کړی او دا بغاوت دَ هغے سره مقابله کوی او ژوند مخالف طرفته روان کړی. رُو رُو چه ورله سواء السبیل (نیغه لاره) نزدے راځی نو دَ جګړے دَ دواړو طرفونو په منځ کښ صلح شروع شی او دَ دواړو دهوؤ دَ یو ځائے کیدو نه داسے خبرے منځ ته راشی چه دَ انسان دپاره فایده مندی وی. لیکن دلته چه ورسره دَ نیغے لارے دَ لیدلو دپاره رنړا نه وی او نه ورسره هغه پوخ ایمان وی چه په سواء السبیل باندِ مضبوط پاتے شی، نو دغه مقابله کونکی دعوی ژوند په دے ځائے باندِ ودریدو ته نه پریږدی بلکه په زور باندِ ئے بلے انتها طرفته روان کړی، آن تر دے پورے چه بیا دَ ژوند ځنے نور حقیقتونه انکار شروع کړی او یو بل بغاوت سر راپورته کړی. که چرے دے ناپوهه فلسفیانو ته دَ قرآن رنړا رسیدلی وے او هغوئ سواء السبیل (نیغه لار) لیدلی وے نو هغوئ ته به معلومه شوی وه چه دَ انسان دپاره دَ ارتقاء او دَ کامیابئ صحیح لاره هم دا سواء السبیل ده، او په کږو لارو باندِ دَ یوے انتها نه بلے انتها ته ډغرے خوړل صحیح لار نه ده.

فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاصْفَحْ ۚ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ ﴿١٣﴾ وَمِنَ
الَّذِينَ قَالُوا إِنَّا نَصَارَىٰ أَخَذْنَا مِيثَاقَهُمْ فَنَسُوا حَظًّا
مِّمَّا ذُكِّرُوا بِهِ ۖ فَأَغْرَيْنَا بَيْنَهُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاءَ
إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ ۚ وَسَوْفَ يُنَبِّئُهُمُ اللَّهُ بِمَا كَانُوا
يَصْنَعُونَ ﴿١٤﴾ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ قَدْ جَاءَكُمْ رَسُولُنَا يُبَيِّنُ لَكُمْ
كَثِيرًا مِّمَّا كُنتُمْ تُخْفُونَ مِنَ الْكِتَابِ وَيَعْفُو عَن كَثِيرٍ ۚ

نو په دے وجه هغوئ معاف کړه او ډهغوئ په حرکتو نو باندې ځان ناغوښه کوه، الله هغه خلق خو ښوی چه د احسان کار ونه کوی۔

۳۶ دغه شان مونږه د هغه خلقونه هم پخه وعده اغتلی وه چه هغوئ وئیلی وو چه مونږه "نصاری" یو، خو هغوئ ته هم چه کوم سبق ورياد کړے شوے وو د هغے یوه لویه برخه هغوئ هیره کړه، آخر دا چه مونږه د قیامت پورے د هغوئ په منځ کښ د دُشمنئ او د بُغض و عناد تخم وکرلو، او ضرور یو وخت به راشی چه الله به ورته وښایئ هر هغه شے چه دوئ په دُنیا کښ کړی دی۔

اے اهلِ کتابو، زمونږه رسول تاسو ته راغلے دے چه د کتاب الٰہی د ډیرے هغه خبرے تاسو ته رابرسیره کوی په کومو چه به تاسو پرده اچولے، او ډیرے خبرے د ورته معاف کوی هم ۳۷

۳۶ د خلقو دا خیال غلط دے چه لفظ "نصاری" د "ناصره" نه اغتلے شوے دے چه د مسیح علیه السلام د وطن نوم وو۔ په اصل کښ داد "نصرت" لفظ نه اغتلے شوے دے، او دے بنیاد د حواریانو هغه قول دے چه هغوئ د مسیح علیه السلام دے سوال په جواب کښ وئیلے وو چه مَنْ اَنْصَارِیْ اِلَی اللّٰهِ (د خدائ په لار کښ زما څوک مدد کار دی) نو په جواب کښ ورته حواریانو اووے چه نَحْنُ اَنْصَارُ اللّٰهِ (مونږ د الله په کار کښ مدد کاریو)۔ عیسائی لیکوالان په ظاهره په دے دوکه شوی دی چه د عیسائیت په اولنی تاریخ کښ د "ناصریه" (Nazarenes). په نوم کومه فرقه وه او چه خلقو ورته د سپکاوی نه ناصری او ایبونی وئیل، چه قرآن کنی هم دا نوم د تولو عیسایانو د پاره استعمال کړے دے۔ لیکن قرآن دلته د اصفاوائیو چه هغوئ پخپله وئیلی وو چه مونږه "نصاری" یو، او دا هر چا نه پته ده چه عیسایانو ځان له ناصری نوم نه وو ایښودے۔ (په دے مسئله باندې د زیاتے تشریح د پاره په صفحه نمبر ۵۱ باندې ځان له یوه ضمیمه درج ده۔)

۳۷ یعنی ستاسو څخه غلا کاڼه او خیانتونه خلقو ته بنایئ چه د هغے بندول د دین حق قائمولو د پاره ضروری دی، او کومو مودو بندولو چه څه حقیقی ضرورت نشته هغه نه بنکاره کوی، په هغے چشم پوشی کوی۔

قَدْ جَآءَكُمْ مِّنَ اللّٰهِ نُوْرٌ وَّكِتٰبٌ مُّبِيْنٌ ﴿۱۵﴾ يَّهْدِيْ بِهِ اللّٰهُ مَنِ
اتَّبَعَ رِضْوَانَهٗ سُبُلَ السَّلٰمِ وَيُخْرِجُهُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ
اِلَى النُّوْرِ بِاِذْنِهٖ وَيَهْدِيْهِمْ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۱۶﴾ لَقَدْ
كَفَرَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْمَسِيْحُ ابْنُ مَرْيَمَ ؕ قُلْ

تا سو ته د الله د طرفنه رڼا راغلی ده او یو داسے حق ښودونکے کتاب راغلے دے چه د هغے په ذریعه الله تعالیٰ هغه خلقو ته چه د الله د رضا طلبګار دی، د سلامتیا لار ښائی[۳۸] او په خپل حکم سره هغوئ د تیرو نه رڼا ته راوباسی او نیغه لار ورته ښائی۔
یقیناً هغه خلقو کفر وکړو چه وائی چه مسیح ځوئے د مریم خدائے دے[۳۹]۔ اے محمدؐ، دوئ ته او وایه

۳۸ د "سلامتیا" مطلب د غلط فکر او د غلط سوچ او د غلط کار نه بچ کیدل او د هغے د خرابو نتیجو نه محفوظه کیدل دی۔ څوک چه د الله د کتاب نه او د هغه د رسول د ژوند نه رڼا حاصلوی نو هغه ته په هر سوچ او عمل کښ د دے غلطیانو نه د ځان ساتلو معلومات کیږی۔

۳۹ عیسایانو په اول کښ مسیحؑ ته هم انسان او هم خدائے وئیلو، او دا هغه غلطی وه چه د دے په وجه د مسیح حقیقت د هغوئ د پاره یوه معمّه جوړه شوه، او د دے معمّے د حل کولو د پاره چه د هغوئ عالمانو څومره کوشش کولو نو هغومره دا معمه ښه ګرانیدله۔ په هغوئ کښ چه چا وئیل چه مسیحؑ انسان هم دے نو هغوئ په دے خبره ډیر زور ورکړو چه مسیحؑ د الله ځوئے هم دے او په درے مستقل خدایانو کښ یو خدائے هم دے۔ او د چا په ذهن کښ چه د مسیحؑ د الهیت اثر زیات وُو نو هغوئ اُو وئیل چه مسیح حقیقی خدائے دے خو په انسانی شکل کښ ظاهر شوے دے، او د دے وجے نه ئے د مسیح عبادت کولو۔ او چا چه وئیل چه نه، خبره د دے په منځ منځ کښ ده تو هغوئ په داسے تشریح کولو کښ خپل ټول زور ولګوؤ چه مسیحؑ ته انسان هم وُوئیلے شی او ورسره خدائے هم وُګڼلے شی، چه خدائے تعالیٰ او مسیح ځان له ځان له هم وی او بیا دواړه یو هم وی۔ (وګوره سورة نساء حاشیه نمبر ۲۱۲، ۲۱۳، ۲۱۵)

فَمَنْ يَّمْلِكُ مِنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا اِنْ اَرَادَ اَنْ يُّهْلِكَ الْمَسِيْحَ
ابْنَ مَرْيَمَ وَاُمَّهٗ وَمَنْ فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا ؕ وَلِلّٰهِ مُلْكُ
السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ؕ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ
عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۱۷﴾ وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ وَالنَّصٰرٰى نَحْنُ
اَبْنٰٓؤُا اللّٰهِ وَاَحِبَّآؤُهٗ ؕ قُلْ فَلِمَ يُعَذِّبُكُمْ بِذُنُوْبِكُمْ ؕ بَلْ اَنْتُمْ
بَشَرٌ مِّمَّنْ خَلَقَ ؕ يَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ ؕ

چه که چرے الله وغواړی چه مسیح ځوئے د مریم او د هغه مور او د زمکے ټول مخلوق هلاک کړی نو د چا طاقت شته چه هغه د دے ارادے نه منع کړے شی؟ الله خو د زمکے او د آسمانونو او د هغے ټولو څیزونو مالک دے چه د زمکے او د آسمانونو په منځ کښ دی، چه څه غواړی هغه پیدا کوی او د هغه په قدرت کښ هر څیز رابند دے.

یهودیان او عیسایان وائی چه مونږه د الله ځامن او د هغه نیازبین یو. د هغوی نه تپوس وکړه چه بیا ولے تاسو له ستاسو په ګناهونو باندِ سزا ګانے درکوی؟ په حقیقت کښ تاسو هم هغسے انسانان یئی لکه څنګه چه خدائے نور انسانان پیدا کړی دی. خدائے چه څوک معاف کول غواړی هغه معاف کوی او چه چا له سزا ورکول غواړی هغه له سزا ورکوی

۴۰ په دے فقره کښ یوه نرئ اشاره دے خبرے ته ده چه څوک د مسیح د معجزانه پیدائش دوجے نه او د هغه د اخلاقو او د معجزو د وجے نه په دے دوکه شوی دی چه مسیح حقیقی خدائے دے، نو په حقیقت کښ هغوی ویر ناپوهان دی. مسیح خو د الله تعالیٰ د بے شمیره عجیبه عجیبه پیدا وخت نه صرف یوه نمونه ده چه په لید وسره ئے د دے کمزوری نظر والا خلقو سترګے و بریښیدلے، که چرے د دے خلقو نظر لږ شان فراخه وے نو دوئ ته به معلومه شوے وے چه الله تعالیٰ په خپل پیدا وخت کښ د دے نه هم زیات د حیرانتیا کارونه کړی دی او د هغه قدرت بے شانه فراښه دے. نو د اویره لویه بے عقلی ده چه څوک د مخلوق کمالات اُووینی او په هغه باندِ د خالق ګمان وکړی. عقلمند هغه خلق دے چه د مخلوق په کمالاتو کښ د خالق عظیم الشان قدرت وینی او د هغے نه د ایمان رڼا حاصلوی.

وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۫ وَاِلَيْهِ الْمَصِيْرُ ﴿١٨﴾
يٰۤاَهْلَ الْكِتٰبِ قَدْ جَآءَكُمْ رَسُوْلُنَا يُبَيِّنُ لَكُمْ عَلٰى فَتْرَةٍ مِّنَ
الرُّسُلِ اَنْ تَقُوْلُوْا مَا جَآءَنَا مِنْۢ بَشِيْرٍ وَّلَا نَذِيْرٍ ۫ فَقَدْ
جَآءَكُمْ بَشِيْرٌ وَّنَذِيْرٌ ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿١٩﴾ ع
وَاِذْ قَالَ مُوْسٰى لِقَوْمِهٖ يٰقَوْمِ اذْكُرُوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ
اِذْ جَعَلَ فِيْكُمْ اَنْۢبِيَآءَ وَجَعَلَكُمْ مُّلُوْكًا ۖ وَّاٰتٰىكُمْ مَّا لَمْ يُؤْتِ
اَحَدًا مِّنَ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٢٠﴾ يٰقَوْمِ ادْخُلُوا الْاَرْضَ الْمُقَدَّسَةَ

زمکه او آسمانونه او دَ دے په منځ کښ هر څه دَ الله ملکیت دے، او هم دَ هغه طرفته دَ ټولو تګ دے۔
اے اهل کتابو، زمونږه دا رسول تاسو ته په داسے وخت کښ راغلے دے او تاسو ته په داسے وخت کښ دَ دین واضحه تعلیم درکوی چه دَ پیغمبرانو دَ راتلو سلسله دَ یوے مودے راسے بنده وه، دَ پاره ددے چه تاسو بیا دا وُ نه وائیی چه مونږ ته څوک زیری والا او یَرُونکے نه دے راغلے۔ نو کوری، اوس هغه زیری والا او یَرُونکے راغے ——— او الله په هر څیز باندِ قادر دے[41] ع
رایاد کړئ کله چه موسیٰ خپل قوم ته وئیلی وُو چه اے زما دَ قوم خلقو، دَ الله دَ هغے نعمت خیال ساتئ چه هغه تاسو له درکړے وُو۔ هغه په تاسو کښ پیغمبران پیدا کړل، تاسو ئے بادشاهان کړئ، او تاسو له ئے هر هغه څه درکړل چه په دُنیا کښ ئے چا ته نه وُو ورکړی[42] اے زما دَ قوم رونړو دے پاکے زمکے ته ور داخل شئ

[41] په دے موقع باندِ دا فقره ډیره دَ مطلب او ډیره باریکه ده۔ ددے مطلب دا هم دے چه کوم خدائے اول د زیری والا او دَ یرونکی په رالیږلو قادر وُو هم هغه محمد صلی الله علیه وسلم ته دا خدمت حواله کړے دے او هغه په داسے کولو قادر وُو۔ دوئیم مطلب ئے دا دے چه که چرے تاسو ددے بشیر او نذیر خبره وُ نه منله نو یاد لرئ چه الله قادر دے او قدرت والا دے، هر قسمه سزا چه تاسو له درکول وُ غواړی نو څه له ئے څوک نشی راتلے۔

[42] دا د بنی اسرائیلو هغه لوئی شان شوکت طرفته اشاره ده چه دَ حضرت موسیٰ علیه السلام نه ډیر مخکښ هغوئی ته حاصل وُو۔ یو طرفته دَ هغوئی په قوم کښ دَ حضرت ابراهیمؑ، دَ حضرت اسحٰقؑ دَ حضرت یعقوبؑ او دَ حضرت یوسفؑ غوندِ لوئی لوئی قدر من پیغمبران پیدا شول۔ او بل طرفته دَ حضرت یوسف علیه السلام په زمانه کښ او دَ هغه نه روستو په مصر کښ هغوئی ته لوئی اقتدار نصیب شو۔ دَ ډیرے مودے

الَّتِیْ كَتَبَ اللّٰهُ لَكُمْ وَلَا تَرْتَدُّوْا عَلٰۤى اَدْبَارِكُمْ فَتَنْقَلِبُوْا
خٰسِرِیْنَ ﴿۲۱﴾ قَالُوْا یٰمُوْسٰۤى اِنَّ فِیْهَا قَوْمًا جَبَّارِیْنَ ۖ وَاِنَّا لَنْ
نَّدْخُلَهَا حَتّٰى یَخْرُجُوْا مِنْهَا ۚ فَاِنْ یَّخْرُجُوْا مِنْهَا فَاِنَّا دٰخِلُوْنَ ﴿۲۲﴾
قَالَ رَجُلٰنِ مِنَ الَّذِیْنَ یَخَافُوْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَیْهِمَا

کومه چه الله ستاسو دَ پاره لیکلی ده[۴۳] په شاکیږئ مهٔ کنئ نو ناکامه او نامراده به[۴۴] واپس کیږئ"
هغوئ جواب ورکړو" اے موسیٰ، هلته خو ډیر زبردست خلق وُسیږی، مونږه هلته
هرګز نهٔ ځو ترڅو چه دَ هغه ځائے نه هغوئ نهٔ وی وتلی۔ هَن، که چرے هغوئ ترِ
وُوتل نو مونږ بیا ورد اخلیدو ته تیار یُو" په دغے یریدونکو خلقو کښ دوه
کسان داسے هم وُو چه[۴۵] خدائے پرِ خپل نعمت کړے وُو۔ هغوئ اُووے چه

پورے دوئ په دغه زمانه کښ په ټوله دنیا کښ د ټولو نه لوئ حکمرانان وُو او هم دَ دوی قانون په مصر او په خواؤ
شا علاقه کښ چلیدو۔ عام طور خلق دَ بنی اسرائیلو دَ ترقئ تاریخ د حضرت موسیٰؑ نه شروع کوی۔ لیکن دلته قرآن
دا صفاوائی چه دَ بنی اسرائیلو دَ ترقئ اصل زمانه دَ حضرت موسیٰؑ نه وړاندِ تیره شوی وه، او موسیٰؑ خپل
قوم ته پخپله تیر شوے شاندار وخت وریاده وی۔

۴۳ ددے نه مراد دَ فلسطین زمکه ده چه دَ حضرت ابراهیمؑ، دَ حضرت اسحٰقؑ او دَ حضرت یعقوبؑ دَ وُسیدو
ځائے وُو۔ بنی اسرائیل چه کله دَ مصر نه راوُوتل نو الله تعالیٰ ورته دا زمکه وُښودله او حکم ئے ورته
وکړو چه لاړ شئ او دغه زمکه ځان له فتح کړئ۔

۴۴ حضرتِ موسیٰؑ دا تقریر په هغه موقع کړے وو کله چه هغوئ دَ مصر دراتلو نه تقریباً دوه کاله
روستو د فاران په صحرا کښ دَ خپل قوم سره په خیمو کښ وُسیدو۔ دا صحرا په سینا نومے ځائے کښ دَ عربو دَ قطبی سرحد
سره او دَ فلسطین دَ سوئیلی سرحد سره یو ځائے متصله ده۔

۴۵ دَ "قَالَ رَجُلٰنِ مِنَ الَّذِیْنَ یَخَافُوْنَ" دوه مطلبونه کیدے شی۔ یو دا چه کوم خلق د جبارانو
خلقو نه یریدل نو په هغوئ کښ دوُو کسانو اُووے۔ بل دا چه کوم خلق دَ خدائے نه یریدل په هغے
کښ دوُو کسانو دا خبره وُکړه۔

ادْخُلُوْا عَلَيْهِمُ الْبَابَ ۚ فَاِذَا دَخَلْتُمُوْهُ فَاِنَّكُمْ غٰلِبُوْنَ ۚ وَعَلَى
اللّٰهِ فَتَوَكَّلُوْٓا اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۲۳﴾ قَالُوْا يٰمُوْسٰٓى اِنَّا
لَنْ نَّدْخُلَهَآ اَبَدًا مَّا دَامُوْا فِيْهَا فَاذْهَبْ اَنْتَ وَرَبُّكَ
فَقَاتِلَآ اِنَّا هٰهُنَا قٰعِدُوْنَ ﴿۲۴﴾ قَالَ رَبِّ اِنِّيْ لَآ اَمْلِكُ اِلَّا
نَفْسِيْ وَاَخِيْ فَافْرُقْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ الْقَوْمِ الْفٰسِقِيْنَ ﴿۲۵﴾ قَالَ
فَاِنَّهَا مُحَرَّمَةٌ عَلَيْهِمْ اَرْبَعِيْنَ سَنَةً ۚ يَتِيْهُوْنَ فِي الْاَرْضِ ؕ

"ددے جبّارانو په مقابله کښ (دښار) دروازے ته دننه ورننوځئ، نو کله چه تاسو دننه ورو رسیدئ نو هم تاسو به غالب کیږئ. په خدائے بروسه ساتئ که تاسو مؤمنان یئ." لیکن هغوئ بیا دا اووے چه "اے موسیٰ، موږ خو هلته هیڅکله نه ځو تر څو چه هغوئ هلته موجود وی. بس ته اوستا رب دواره لاړ شئ او جنګ وکړئ، موږ ده لته ناست یو." په دے باندِ موسیٰ اووے، "اے زما ربه زما په اختیار کښ هیڅوک نشته خو یا زما خپل ځان دے او یا زما رور، اوس ته موږ ده دے نافرمانه خلقو نه جدا کړے." الله جواب ورکړو، "ښه ده نو دغه ملک د څلویښتو کالو پورے په دوئ باندِ حرام دے. دوئ به په زمکه کښ سرګردانه در په در کرځی[۴۶]

[۴۶] دا قیصه د بائیبل په ګنتی، استثناء، او یشوع نومے کتابونو کښ ملاویږی. د هغے خلاصه دا ده چه حضرت موسیٰ د فاران د صحرا نه د بنی اسرائیلو دولس سرداران فلسطین ته د هغه ځائے د حالاتو معلومولو د پاره ولیږل. دے خلقو څلویښت ورځے دوره وکړه او بیا د هغه ځائے نه واپس راغلل او په عام مجلس کښ ئے خپل قوم ته اووے چه واقعی هلته د پیو او د شهد ونهرونه بهیږی، "لیکن کوم خلق چه هلته وسیږی هغه زوره وردی .... موږ ددے مناسب نه یو چه په هغوئ باندِ حمله وکړو .... هلته چه موږ ده څو مره خلق ولیدو هغه ټول دنګ دنګ دی او موږ هلته بنی عناق هم ولیدل چه زبردست دی او د زبردستو د نسل نه دی، موږ ته ځان پخپله هم داسے ښکاریدو لکه مولخان او هم د هغوئ په نظر کښ موږ ښکاریدو." چه دا خبرے ئے واوریدے نو ټول مجلس په چغه شو چه "افسوس موږ په مصر کښ مړه شوی وے! یا افسوس چه موږ په دے بیابان کښ مړه وے! خدائے ولے موږ ده ملک ته بوځی او ولے موږ ده په توره قتلول غواړی؟ بیا خو به زموږ ښځے او بال بچ د لوټ سامان شی. آیا زموږ د پاره به دا ښه نه وی چه موږ ده مصر ته واپس لاړ شو." بیائے په خپلو کښ یو بل ته اووے چه راځئ څوک به ځان له سردار کړو او مصر ته به واپس لاړ شو. په دے خبره باندِ په هغه دولسو

فَلَا تَاْسَ عَلَى الْقَوْمِ الْفٰسِقِيْنَ ﴿٢٦﴾ وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَاَ
ابْنَيْ اٰدَمَ بِالْحَقِّ ۘ اِذْ قَرَّبَا قُرْبَانًا فَتُقُبِّلَ مِنْ اَحَدِهِمَا
وَلَمْ يُتَقَبَّلْ مِنَ الْاٰخَرِ ۭ قَالَ لَاَقْتُلَنَّكَ ۭ قَالَ اِنَّمَا
يَتَقَبَّلُ اللّٰهُ مِنَ الْمُتَّقِيْنَ ﴿٢٧﴾ لَىِٕنْۢ بَسَطْتَّ اِلَيَّ يَدَكَ

وقف لازم

دَدے نافرمانو خلقو پہ حالت باندِ ھرکز ترس مہ کوہ ۴۵ ع
اولږہ شان دا آدم ۴۶ دوُ وحا منو قصہ هم دوئی ئے پورہ پورہ صحیح واورہ وہ۔ کلہ چہ هغے دوارو قربانی وکړہ نو دَ یو قربانی قبولہ کړے شوہ او دَ بل هغہ قبولہ نہ کړے شوہ۔ هغہ ورتہ اُووے "زہ بہ تا ووژنم"۔ هغہ جواب ورکړو "اللہ خو دَ متقیانو نذرانے قبلوی ۴۷ کہ تاپہ ما باندِ دَ قتلو لاس پارہ

سردارانو کښ، کوم چہ د فلسطین پہ دورہ لږ لی شوی وُو، دوہ سرداران، یُوشع او کالب پاسیدل او پہ دے ګږدلئی باندِ ئے خپل قوم ملامتہ کړو۔ کالب اووے "خئی چہ مونږہ پہ یودم لار شو او پرهغہ ملک باندِ قبضہ وکړو، ځکہ چہ مونږہ پر هغوئی باندِ دَ قبضے کولو قابل یُو"۔ بیا دواړو ورتہ پہ ټیرا اووے "کہ چرے خدائے زمونږ نہ راضی شو نو هغہ پہ مونږہ دغے ملک تہ ورسوی۔۔۔۔ صرف دومرہ دہ چہ تاسو دَ خدائے نہ بغاوت مہ کوئی او مہ ددے ملک د خلقو نہ یَرَ ږیږئی۔۔۔۔۔۔ او زمونږ سره خدائے دے نو دَ هغوئی نہ مہ یَرَ ږیږئی"۔ خو قوم هغوئی له دا جواب ورکړو چہ "دوئی سنګسار کړئی"۔ آخر دا چہ اللہ پہ غضب شو او دا فیصلہ ئے وکړہ چہ اوس بہ دیو شع او کالب نہ علاوہ دے قوم مشران دغے زمکے تہ ورداخل نشی۔ دا قوم بہ دشل ویښتو کالو پورے بے کورہ درپہ درکړئی، تردے پورے چہ کلہ پہ دوئی کښ دشلو کالو نہ د پورتہ عمرہ پورے ټول خلق مړہ شی او نوے نسل خوانان شی، پس دَ هغے لږ بہ دغے خوا نانو تہ د فلسطین د فتح کولو موقع ورکړے شی۔ دغہ وجہ وہ چہ بنی اسرائیل دفاران دَ صحرا نہ شرقی اردن تر رسیدل نو پورہ اَتہ دیرش کالہ پریتیر شو۔ پردے دوران کښ هغہ ټول خلق مړہ شو چہ دَ خوانئ پہ عمر کښ دَ مصر نہ راوتلی وُو۔ د شرقی اُردن فتح کولو نہ روستو دَ حضرت موسیٰ انتقال هم وُشو۔ ددے نہ روستو د حضرت یوشع بن نون دَ خلافت پہ زمانہ کښ بنی اسرائیل دَ فلسطین فتح کولو قابل شو۔

۴۵ دلتہ ددے واقعے د ذکر کولو مطلب دادے چہ بنی اسرائیلو تہ دَ تیهے پہ طور دا ورپاده وی چہ دَ موسیٰ پہ زمانہ کښ تاسو کومہ نافرمانی کړی ده، دحق نہ اوریدلی وئ، او بے همتہ شوی وئ، او دهغے پہ وجہ درتہ سزا ملاؤ شوہ نو اوس بہ درتہ دهغے نہ زیاتہ سزا ملاؤ شی کہ د محمد صلی اللہ علیہ وسلم پہ مقابلہ کښ موده بغاوت لا راختیار کړے۔

۴۶ یعنی ستاسو قربانی کہ قبولہ نہ شوہ نو دا زما د څہ قصور وے نہ نہ ده بلکہ ددے د خپلہ ده چہ پہ تاکښ تقویٰ نشتہ، نو تالہ پکار دی چہ زما د مرګ پہ ځای پہ ځان کښ دَ تقویٰ پیدا کولو کوشش وکړے۔

لِتَقْتُلَنِیْ مَآ اَنَا بِبَاسِطٍ یَّدِیَ اِلَیْكَ لِاَقْتُلَكَ ۚ اِنِّیْٓ اَخَافُ
اللّٰهَ رَبَّ الْعٰلَمِیْنَ ﴿۲۸﴾ اِنِّیْٓ اُرِیْدُ اَنْ تَبُوْٓاَ بِاِثْمِیْ وَاِثْمِكَ فَتَكُوْنَ
مِنْ اَصْحٰبِ النَّارِ ۚ وَذٰلِكَ جَزٰٓؤُا الظّٰلِمِیْنَ ﴿۲۹﴾ فَطَوَّعَتْ لَهٗ
نَفْسُهٗ قَتْلَ اَخِیْهِ فَقَتَلَهٗ فَاَصْبَحَ مِنَ الْخٰسِرِیْنَ ﴿۳۰﴾

لاس پورته کړو نو زهٔ به په تا باندِ دَ قتلولو دپاره لاس نهٔ پورته کووم[۴۹]، زهٔ دَ الله رب العٰلمین نه یریږم. زهٔ غواړم چه تهٔ زما او خپله گناه په خپل سر واخلے[۵۰] او دوزخی شی. دَ ظالمانو دَ ظلم هم دا صحیح بدله ده؟ آخر دا چه خپل نفس دَ هٔ ته دَ خپل رُور وژل آسان کړل او هغهٔ قتل کړو او په هغه خلقو کښ شامل شو چه نقصانیان دی.

[۴۹] ددے دا مطلب نهٔ دے چه که چرے تهٔ زما د قتلولو دپاره راغلے نو زهٔ به لاس تړلے تا ته ناست یم او د خپل ځان دبچ کولو کوشش به نه کوم. بلکه ددے مطلب دا دے که تهٔ زما په مرگ پسے راپسے کیږے نو راپسے شه، زهٔ ستا په مرگ پسے نهٔ در پسے کیږم. که تهٔ زما د قتل کولو بندوبست کول غواړے نو ستا خپل اختیار دے، لیکن کله چه ما ته دا معلومه شوه چه تهٔ زما د قتلولو تیارے کوے، نو ددے نه پس به زهٔ دا کوشش نهٔ کوم چه زهٔ اول تا قتل کړم. دلته په دے خبره ځان پوهه کول پکار دی چه قاتل ته خپل ځان دَ قتل دپاره وړاندِ کول او د ظالمانه حملے نه ځان تهٔ بچ کول څه نیکی نهٔ ده. البته نیکی دا ده چه که چرے څوک زما په وژلو پسے راپسے شی او ما ته پته ولږی چه هغه زما د وژلو دپاره وخت گوری، نو بیا به هم زهٔ دَ هغهٔ د وژلو فکر نهٔ کوم او دا خبره به غوره گڼرم چه دا ظلم دَ هغهٔ دَ طرفنه وُشی نهٔ چه زما د طرفنه. دا مطلب وُو د آدمؑ دَ هغے نیک بچی دَ خبرے.

[۵۰] یعنی په ځائے ددے چه دیو بل دَ وژلو په کوشش کښ موږ د دواړه گنهگار شو، زما دا خبره خو ښه ده چه د دواړو گناه یو ځائے ستا په سر باندِ راشی، چه زما د قتلولو گناه هم په تا راشی او زهٔ چه دَ خپل ځان دَ بچ کولو څه کوشش کوم او په هغے کښ زما د لاسه تا ته څه نقصان در ورسی، چه دَ هغے گناه هم په تا راشی.

فَبَعَثَ اللّٰهُ غُرَابًا يَّبْحَثُ فِي الْاَرْضِ لِيُرِيَهٗ كَيْفَ يُوَارِيْ سَوْءَةَ
اَخِيْهِ ؕ قَالَ يٰوَيْلَتٰٓى اَعَجَزْتُ اَنْ اَكُوْنَ مِثْلَ هٰذَا الْغُرَابِ
فَاُوَارِيَ سَوْءَةَ اَخِيْ ۚ فَاَصْبَحَ مِنَ النّٰدِمِيْنَ ۚ ﴿۳۱﴾ مِنْ اَجْلِ
ذٰلِكَ ۛۚ كَتَبْنَا عَلٰى بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اَنَّهٗ مَنْ قَتَلَ نَفْسًۢا بِغَيْرِ

وقف النبی صلی اللہ علیہ وسلم معانقہ

بیا الله یو کارغه راولیږ وچه زمکه کنستل ئے شروع کړل دَ پاره دَ دے چه دهٔ ته چل وَ ښائی چه دَ خپل رُور مړه بوټئ څنګه پټه کړی. دَ دے په لید دئے دا اُووے چه په ما باندِ افسوس دے؛ چه زهٔ دَ دے کارغه پشان هم نهٔ شوم چه دَ خپل رُور دَ مړے بوټئ دَ پټولو بندوبست م کړے وے[51] دَ دے نه پس هغه په خپلو کړو باندِ ډیر ستومانه شو[52]

دَ دے وجے نه مونږ په بنی اسرائیلو باندِ دا حکم لیکلے وو چه[53] چا یو انسان دَ وینے دَ بدلے نه

[51] په دے طریقه الله تعالیٰ دَ یو کارغه په ذریعه دَ آدمؑ دے غلط کاره ځوئ ته خبردارے ورکړو چه دا ډیر دَ جهالت او دَ ناپوهتیا کار کړے دے، او هر کله چه یو ځلے دَ هغهٔ خپل ځان ته فکر شو نو هغهٔ یو اځے په دے خبره باندِ شرمنده نهٔ وُو چه زهٔ دَ مړے بوټئ په پټولو کښ دَ کارغه نه ولے ناپوهه شوم، بلکه هغه په دے هم خفه وُو چه ما دَ خپل رور دَ قتل دا کار ډیر دَ ناپوهتیا کار کړے دے. دَ دے روستنئ فقرے نه چه "هغه پخپلو کړو باند ښیمانه شو" هم دا مطلب دے.

[52] دلته دَ دے واقعے دَ ذکر کولو مقصد دا دے چه په یوه نرمه طریقه سره یهودیان په خپل هغے کار باندِ ملامته کړی کوم چه هغوئ دَ نبی صلی الله علیه وسلم او دَ هغه دَ قدر منو صحابو دَ قتلولو دپاره کړے وُو. (وُګوره دَ دے سورة حاشیه نمبر ۳۰) په دواړو واقعو کښ یو شان والے صفا معلومیږی. الله تعالیٰ چه دَ عربو اَمیان قبول کړل او هغه پخوانی اهلِ کتاب ئے رد کړل، نو دَ دے اصلی بنیاد دا وُو چه یو طرفته تقویٰ وه او بل طرفته تقویٰ نهٔ وه. نو پکار خو دا وه چه کوم خلق رد کړے شوی وُو نو چه هغوئ دَ خپلے رد کید و په وجه باندِ غور کړے وے او دَ خپل کمی پوره کولو کوشش ئے کړے وے. لیکن دَ دے پځائے په هغوئ باندِ دَ جهالت دوره راغلله لکه څنګه چه دَ آدمؑ په هغه غلط کاره ځوئ باندِ دَ جهالت دوره راغلی وه، او دَ هغهٔ پشان دوئ هم دَ هغے خلقو په قتل پسے ورپسے شو کوم چه الله تعالیٰ قبول کړی وُو. حالانکه دا ښکاره خبره وه چه په داسے جاهلانه کارونو باندِ هغوئ دَ خدائے تعالیٰ قبول شوی مخلوق نشو جوړیدلے، بلکه نور هم دَ خدائے زیات ناخوښه کیدل.

[53] یعنی په بنی اسرائیلو کښ دَ آدمؑ دَ ظالم ځوئ پشان صفتونه پیدا شوی وُو نو په دے وجه الله تعالیٰ هغوئ ته دَ نفس دَ نهٔ قتلولو سخت تاکید کړے وُو او په خپل حکم کښ ئے ورته دا الفاظ لیکلی وُو. افسوس دے چه نن کوم بائیبل موجود دے په هغے کښ دَ خدائے دَ دے حکم دا قیمتی لفظونه نشته. البته په تلمود کتاب کښ

نَفْسٍ اَوْ فَسَادٍ فِي الْاَرْضِ فَكَاَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيْعًا ؕ وَمَنْ
اَحْيَاهَا فَكَاَنَّمَآ اَحْيَا النَّاسَ جَمِيْعًا ؕ وَلَقَدْ جَآءَتْهُمْ رُسُلُنَا
بِالْبَيِّنٰتِ ۫ ثُمَّ اِنَّ كَثِيْرًا مِّنْهُمْ بَعْدَ ذٰلِكَ فِي الْاَرْضِ لَمُسْرِفُوْنَ ﴿۳۲﴾
اِنَّمَا جَزٰٓؤُا الَّذِيْنَ يُحَارِبُوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَيَسْعَوْنَ فِي الْاَرْضِ

علاوه یا په زمکه کښ دَ فساد خورولو نه علاوه، په بله څه وجه سره قتل کړو نو لکه چه ټول انسانان ئے قتل کړل او چا چه دَ بل نفس بچ کړو نو لکه چه هغه ټولو انسانانو له ژوند ورکړو.[۵۴] خو دَ هغوئ دا حال دے چه زمونږ رسولانو هغوئ ته صفا صفا حکمونه راوړل خو بیا هم په هغوئ کښ ډیر خلق په زمکه کښ زیاتی کونکی دی۔

کوم خلق چه دَ الله او دَ هغه دَ رسول سره جنګ کوی او په زمکه کښ ددے دپاره منډے ترړے وهی

دا خبره په دے طریقه بیان شوی ده۔ "چا چه دا اسرائیلو یو سړے مړ کړو، نو دَ الله دَ کتاب په رڼا کښ لکه چه هغهٔ ټوله دُنیا هلاکه کړه، او چا چه دَ اسرائیلو یو سړے محفوظ وساتلو، نو دَ الله دَ کتاب مطابق لکه چه هغه دَ ټولے دُنیا حفاظت وکړو." دغه شان په تلمود کښ دا بیان هم شوے دے چه دَ قتل په مقدمو کښ به دَ بنی اسرائیلو قاضیانو ګواهانو ته وئیل: "چا چه یو انسان هلاک کړو نو دَ هغهٔ نه به په دا سے طریقه تپوس کیږی لکه چه هغه دَ ټولے دُنیا انسانان قتل کړی وی۔"

[۵۴] مطلب دا دے چه په دُنیا کښ انسان هله ژوند تیرولے شی کله چه دَ هر انسان په زړهٔ کښ دَ بل انسان دروح احترام موجود وی او دَ هر سړی په زړهٔ کښ دا جذبه وی چه دَ بل دَ ژوند حفاظت وکړی، څوک چه په ناحقه بل وژنی نو هغه یوائے په یو انسان ظلم نهٔ کوی، بلکه دَ هغهٔ ددے کار نه دا ثابتیږی چه دَ هغهٔ په زړهٔ کښ دَ انسان دَ ژوند احترام نشته او نهٔ ئے دَ انسان سره دَ همدردئ جذبه شته، نو په دے وجه هغه دَ ټولو انسانانو دشمن دے، ځکه چه په دهٔ کښ دا سے صفت دے که چرے دا صفت په ټولو انسانانو کښ راپیدا شی نو ټول انسانان به ختم شی۔ ددے برعکس څوک چه دَ انسان دَ ژوند په بچ کولو کښ امداد کوی نو هغه په حقیقت کښ دَ ټولو انسانانو مددګار دے، ځکه چه په دهٔ کښ دا سے صفت دے چه دَ هغے په وجه انسانان باقی پاتے کیدے شی۔

فَسَادًا اَنْ يُّقَتَّلُوْٓا اَوْ يُصَلَّبُوْٓا اَوْ تُقَطَّعَ اَيْدِيْهِمْ وَاَرْجُلُهُمْ
مِّنْ خِلَافٍ اَوْ يُنْفَوْا مِنَ الْاَرْضِ ؕ ذٰلِكَ لَهُمْ خِزْيٌ فِي

یادِ دَ هغوی لاسونه او چې ادے بدلے پریکړے شی، یادِ دو
ذلت او شرمندګی خو دَ هغوئ دپاره په دُنیا کښ د
نه لویه سزا ده. خو کوم خلق چه توبه وَباسی ړومبے دد
باندِ قابو بیا مومئی ——— نو تاسو ته د

۵۵ دزمکے نه مُراد دلته هغه وطن یا هغه علاقه ده چه په هغے کښ
ذمه واری د اسلامی حکومت په سر باندِ وی، او دَ خدائے او دَ رسول س
نیک او صالح نظام اسلامی حکومت په ملک کښ قایم کړے وی، د هغے خ
داده، او هم ددے دپاره هغه خپل رسول رالیږلے وُو، چه په زمکه باندِ یو
ته، ځناورو او وُنو ته، او دَ زمکے هر څیز ته امن ورکړی، چه دَ هغے نظ
او دَ زمکے ټول څیزونه په داسے طریقه استعمال کړی چه په هغے د
تباهی. داسے نظام چه کله په زمکه باندِ قایم شی نو دَ هغے دخرابولو کو
او دَ رسول خلاف جنګ دے. دخرابولو دا کوشش که په وړه پیمانه
شو کول او ډاکے اچول، او که په لویه پیمانه باندِ وی یعنی دا صالح نظ
نظام قایمول، خو دا دَ خدائے او دَ رسول خلاف جنګ دے. ددے م
سزا ګانو کښ هغه سړے چه څوک دهندوستان دانګریزی حکومت دا
"بادشاه خلاف جنګ" (Waging War against the King).
معمولی سپاهی خلاف وی او دبادشاه نه ډیر لرے وی.

۵۶ دا سزا ګانے مختصر طور ددے دپاره بیان کړے شوی دی چه
سره هر مُجرم ته دَ هغه دَ خپل جرم مطابق سزا ورکړی. اصل مقصد
په اسلامی حکومت کښ دننه وَسیږی او هغه دَ اسلامی نظام اړولو کو
او په دے سختو سزا ګانو کښ هغه ته هره سزا ورکیدے شی.

...ن نه وسړے شی.
...ه او په آخرت کښ ورله ددے
...ے نه چه تاسو په هغوئ
معلومه وی چه

...امن قایمولو او دانتظام چلولو
...ر، دجنګ کولو مطالب دادے چه کوم
...لاف څوک جنګ کوی. دالله تعالیٰ مرضا
...داسے صالح نظام قایم شی چه انسان
...ام لاندِ انسان خپل کمال ته وَرسیږی
انسان ترقی کیږی نه چه دانسان
...وشش کول په اصل کښ دَ خدائے
...باندِ وی یعنی که قتل، لوټ، لاړے
...ظام ختمول او دَ هغے په ځائے فاسد
...ثال داسے دے لکه چه دَ هند په
...ړولو کوشش وُکړی هغه به دَ
...کونکے مُجرم وی، اګر که هغه دیو

...قاضی یا دَ وخت امام په خپل اجتهاد
...ے دا خبره ښکاره کول دی چه څوک
...شش وُکړی، نو دا ډیر لوئ مُجرم دے

اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۳۴﴾ ع يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَابْتَغُوْٓا
اِلَيْهِ الْوَسِيْلَةَ وَجَاهِدُوْا فِيْ سَبِيْلِهٖ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿۳۵﴾

اللہ معاف کوٗ نکے او رحم کوٗ نکے دے ۵۷ ع

اے هغه خلقو چه ایمان مو راوړے دے، د الله نه وُ یرېږئ او د هغه دربار ته د داخلید وذریعه وُ کورئ ۵۸ او د هغه په لار کښ محنت او کوشش وُ کړئ ۵۹، شاید چه تاسو ته کامیابی نصیب شی۔

۵۷ یعنی که چرے هغوئ د فساد راپورته کولو نه منع شوی وی، او د صالح نظام د خرابولو یا داړولو کوشش ئے پرېښودلے وی، او د هغوئ د روستنی عمل نه دا ثابته شی چه هغوئ امن خوښونکی او قانون منونکی او نیکوکاره انسانان جوړ شوی دی، او بیا پس ددے نه د هغوئ د پخوانی جرمونو پته وُلږی نو په هغے سزا گانو کښ به یوه سزا هم هغوئ له نه ورکولے کیږی کومے چه بره بیان شوی دی۔ البته که د انسانانو حقونه پرِ باند پاتے وی نو د هغے د ذمه وارئ نه نه خلاصیږی۔ مثلاً که چرے څوک ئے قتل کړے وی او یا د چا مال ئے اغتلے وی یا بل څه داسے جُرم ئے کړے وی نو د دغے جُرم په باره کښ به پرِ مقدمه چلولے کیږی، لیکن د بغاوت او دغدارئ او د خدائے او د رسول خلاف د جنګ کولو څه مقدمه به پرِ نه چلولے کیږی۔

۵۸ یعنی د هر هغه ذریعے طلب کونکی او تلاش کونکی شئ چه تاسو پرِ خدائے ته نزدے شئ او د هغه رضا درته حاصله شی۔

۵۹ په اصل کښ لفظ جَاهِدُوْا استعمال شوے دے چه د هغے مطلب صرف په "محنت او کوشش" سره پوره نه ادا کیږی۔ د مجاهده په لفظ کښ د مقابلے معنی شامله ده او ددے صحیح مطلب دا دے چه کوم طاقتونه د الله په لار کښ بندیز راولی، او یا تاسو د الله د رضا مطابق تللو ته نه پرېږدی او د الله د لارے نه داړولو کوششونه کوی، او یا دا چه تاسو دے ته نه پرېږدی چه تاسو پوره د خدائے بندګان شئ او یا تاسو په دے مجبوره کوی چه تاسو د هغوئ یا د الله نه بغیر د بل چا بندګان جوړ شئ، نو تاسو د هغوئ خلاف په خپلو ټولو طاقتونو سره د بحث و تکرار او د جنګ جګړے ښه پوره کوشش وُ کړئ، په دے کوشش باندِ به تاسو ته د خدائے نزدیکت او کامیابی حاصلیږی۔

په دے آیت کښ مومن انسان ته دا حکم دے چه په هر محاذ کښے د څلورو واړو طرفونو ته جنګیږی۔ یو طرفته ابلیس لعین دے او د هغه لښکر دے۔ بل طرفته د انسان خپل نفس او د هغه خراب خواهشات دی۔ دریم طرفته د خدائے نه پشا هغه ډیر انسانان دی چه د هغوئ سره د سړی د ناستے پاستے او د اغتلو خرڅولو د هر قسمه تعلقات جوړ شوی وی۔ څلورم طرفته هغه غلط مذهبی نظام او د کلی کلو یعنی هغه غلط رسمونه ریواجونه او د وطن هغه غلط سیاسی نظام دے چه بنیاد ئے د خدائے نه په بغاوت باندِ قایم شوے وی او انسان د حق د بندګئ پځائے د باطل په بندګئ باندِ مجبوره کوی۔ ددے ټولو مختلفے مختلفے طریقے دی خود ټولو دا یو کوشش دے چه سړے د خدائے په ځائے د ځان تابع کړی۔ ددے نه برخلاف د انسان ترقی او د خدائے ته نزدیکت په دے خبره باندِ دے چه هغه د

اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوْ اَنَّ لَهُمْ مَّا فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا وَّمِثْلَهٗ
مَعَهٗ لِيَفْتَدُوْا بِهٖ مِنْ عَذَابِ يَوْمِ الْقِيٰمَةِ مَا تُقُبِّلَ مِنْهُمْ ۚ
وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۳۶﴾ يُرِيْدُوْنَ اَنْ يَّخْرُجُوْا مِنَ النَّارِ
وَمَا هُمْ بِخٰرِجِيْنَ مِنْهَا ۫ وَلَهُمْ عَذَابٌ مُّقِيْمٌ ﴿۳۷﴾ وَالسَّارِقُ
وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوْٓا اَيْدِيَهُمَا جَزَآءًۢ بِمَا كَسَبَا

بنه پوه شئ چه کومو خلقو دَ کفر لار اختیار کړی ده، که چرے دَ هغوئ سره دَ زمکے ټول دولت وی او دومره ورسره نورهم وی، او هغوئ دا وُغواړی چه دا په فدیه کښ ورکړی او دَ قیامت دَ ورځے دَ عذاب نه بچ شی، بیا به هم دا فدیه دَ هغوئ نه قبوله نه کړے شی او هغوئ له به ضرور دردناکه سزا ورکولے کیږی. هغوئ به غواړی چه دَ دوزخ دَ وُورنه بهر وُتښتی خو بهر به وتلے نشی او هغوئ له به همیشه عذاب ورکولے کیږی.

او غل که نارینه وی او که زنانه وی، دَ دواړو نه لاسونه پریکړئ[۶۰]، دا دَ هغوئ دَ عمل بدله ده

خدائے فرمان منونکے او پټ په ظاهره خالص دخدائے بنده شی. دغه وجه ده چه انسان خپل مقصد ته تر هغے نه شی رسیدلے تر څو چه هغه دَ خپلو ټولو مخه بندُونکو طاقتونو خلاف جنګ وُنکړی، او په هر وخت او په هر حالت کښ ورسره بحث وتکرار ته تیار نشی. انسان به هله خپل مقصد ته رسی چه دا ټول خنډان هوار کړی او دخدائے په لاره باندِ آزادروان شی.

[۶۰] دواړه لاسونه نه بلکه یو لاس. او د ټول اُمت په دے باندِ اتفاق دے چه په اول ځل غلا کولو باندِ به نبئ لاس پریکولے کیږی.

نبی صلی الله علیه وسلم صفا وئیلی دی چه لاقطع علی خائن. دے له دا معلومه شوه چه خیانت وغیره ته غلا نشی وئیلے بلکه غلا صرف دے ته وئیلے شی چه سړے دَ چا مال دَ هغه دحفاظت نه پټ کړی او پخپله پر قبضه وکړی.

نبی صلی الله علیه وسلم دا حکم هم کړے دے چه دیو ډال دَ قیمت نه دَ کم قیمت والا څیز څوک پټ کړی نو په هغے دِ دغل لاس نه پریکوی. دعبدالله ابن عباسؓ د روایت مطابق دنبی صلی الله علیه وسلم په زمانه کښ دیو ډال قیمت لس درهمه وُو، او دابن عمرؓ د روایت مطابق درے درهمه وُو، او دانس بن مالکؓ د روایت مطابق پنځه درهمه وُو، او دَ حضرت عائشےؓ د روایت مطابق دیو دینار دڅلورمے حصے برابر وُو. په دے وجه دَ فقهاؤ په منځ کښ دَ غلا په کم نصاب مقرر ولو کښ اختلاف دے. د امام ابوحنیفهؒ په تر باندِ د غلا دکم نه کم نصاب لس درهمه دے، او د امام مالکؒ، شافعیؒ او احمدؒ په تر باندِ د دینار څلورمه حصه ده (دهغے زمانے په درهم کښ به درے ماسے یوه رتئ او دیوے رتئ پنځمه حصه سپین زر وُو. او دَ

نَكَالًا مِّنَ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿۳۸﴾ فَمَنْ تَابَ مِنْۢ بَعْدِ
ظُلْمِهٖ وَاَصْلَحَ فَاِنَّ اللّٰهَ يَتُوْبُ عَلَيْهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ

او د الله د طرفنه عبرتناکه سزا ده. د الله قدرت په ټولو باندې غالب دے او هغه حکمت والا دے.
بیا چه څوک د ظلم کولو نه روستو توبه وباسي او خپله اصلاح وکړي نو د الله د مهربانۍ
نظر به بیا په هغه باندې وشي[۶۱]، الله ډیر معاف کونکے

دینار څلورمه حصه د دریو درهمو برابر وه).

نورهم داسے ډیر څیزونه دي چه د هغے په غلا باندې به د لاس پریکولو سزا نه ورکړے کیږي. مثلاً د نبي صلی الله علیه وسلم حکم دے چه لا قطع فی ثمرة ولا کثر (د میوے او د سبزۍ ترکارۍ په غلا باندې به لاس نه پریکولے کیږي). لا قطع فی طعام (د خوراک (د ډوډۍ) په پټولو باندې لاس پریکول نشته). او د حضرت عائشه رض حدیث دے چه لم یکن قطع السارق علی عهد رسول الله صلی الله علیه وسلم فی الشئ التافه. (د معمولي څیزونو په غلا باندې به د نبي صلی الله علیه وسلم په زمانه کښې لاس نه پریکیدو). د حضرت علي رض او د حضرت عثمان رض فیصله ده او په صحابه کرامو کښې چا ددے نه اختلاف نه دے کړے چه لا قطع فی الطیر (د مرغۍ په غلا باندې د لاس پریکولو سزا نشته). دغه رنګے سیدنا عمر رض او علي رض دواړو د بیت المال نه د غلا کونکي نه لاس نه دے پریکړے، او په صحابو کرامو کښې پرچا هم اعتراض نه دے کړے. ددے بنیاد په وجه باندې د فقهے مختلفو امامانو مختلف څیزونه د لاس پریکولو د حکم نه بهر کړي دي. د امام ابو حنیفه رح په نزد باندې د ترکارۍ، د میوے، د غوښے، د پوخ خوراک، د ناغوبل کړے غلے، د لوبو او د ټنګ ټکور د سامانونو په غلا باندې د لاس پریکولو سزا نشته. دغه رنګے په ځنګل کښې د څریدونکو څناورو په غلا باندې او د بیت المال نه په غلا کولو باندې امام ابو حنیفه رح د لاس پریکولو قائل نه دے. دغه شان نورو امامانو هم ځنے څیزونه ددے حکم نه بهر کړي دي. لیکن ددے مطلب دا نه دے چه په دے غلا کانو باندې به د سر نه هډو سزا نه ورکولے کیږي. سزا به ضرور ورکولے کیږي خو صرف لاس به تر نه پریکولے کیږي.

[۶۱] ددے مطلب دا نه دے چه لاس د تر نه پریکړے کیږي، بلکه ددے مطلب دا دے چه د لاس پریکولو نه روستو څوک توبه وباسي او ځان د غلا د نسیت نه پاک کړي او د خدائے صالح او نیک بنده جوړ شي هغه به د الله د غضب نه بچ شي، او الله یه د هغه د لمن نه دا داغ لرے کړي. لیکن که چرے یو سړي د لاس پریکیدو نه روستو هم خپل نسیت سم نه کړو او په زړه کښې ئے هغه شان هغه ګنده خیالات او جذبات ساتل چه د هغے په وجه تر لاس پریکړے شو، نو ددے مطلب دا دے چه لاس خو ئے د بدن نه جدا شو خو د غلا نیت ئے په زړه کښې هغه شان پاتے شو، نو په دے وجه هغه د خدائے د غضب هغه شان مستحق دے لکه څنګه چه د لاس پریکیدو نه مخکښې وو. یعنی په سزا هم د خدائے د غضب نه خلاص نشو. ددے وجے نه قرآن مجید غل ته دا حکم کوي چه د الله نه معافي غواړه او د خپل ځان اصلاح کړه. ځکه چه لاس پریکول خو په کلي کلو یغئ کښې د وسیدو د انتظام د پاره دي. په دے سزا سره زړه نه پاکیږي. د نفس پاکوالے صرف په توبه او د الله طرفته په رجوع کولو سره حاصلیږي. په احادیثو کښې د نبي صلی الله علیه وسلم په حقله راغلي دي چه یو ځلے د رسول ص د حکم

رَّحِيْمٌ ﴿٣٩﴾ اَلَمْ تَعْلَمْ اَنَّ اللّٰهَ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ يُعَذِّبُ
مَنْ يَّشَآءُ وَيَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿٤٠﴾
يٰۤاَيُّهَا الرَّسُوْلُ لَا يَحْزُنْكَ الَّذِيْنَ يُسَارِعُوْنَ فِي الْكُفْرِ

اورحم کونکے دے ۔ ولے تاته معلومه نهٔ ده چه الله دَ زمکے او دَ آسمانونو دَ بادشاهئ مالک دے ؟ چه چاله سزا ورکول غواړی هغه له سزا ورکوی او چه څوک معاف کول غواړی هغه معاف کوی، هغه دَ هر څیز اختیار لری۔

اے پیغمبرهٔ، ښاد پاره دِ هغه کسان دَ خفګان باعث نهٔ وی چه دَ کفر په لاره کښ ډیره تیزی ښکاره کوی[62]

مطابق دَ یوغل لاس پریکړے شونو نبیؐ هغه راوغوښتلو او ورته ئے وَفرمائیل "قُلْ استغفر الله واتوب الیه" اُووایه چه زهٔ دَ خدائے نه معافی غواړم او دهغهٔ طرفته راګرځم ۔ هغهٔ دَ نبیؐ دَ وینا مطابق دا الفاظ اووے ۔ بیا نبیؐ دَ هغهٔ په حق کښ دُعاوُ کړه چه "اَللّٰهُمَّ تُبْ عَلَيْهِ" "اے خدایه دے معاف کړه ۔"

[62] یعنی چه دَ هغوئ پوهه او ټولے منډے ترړے او کوششونه ددے دپاره وی چه دا ول نه دجاهلیت کوم حالت را روان دے هغه پخپل ځائے برقرار پاتے شی او دَ اسلام ټول دا صلاح کوششونه کامیاب نشی۔ دے خلقو به دَ نبی صلی الله علیه وسلم خلاف دَ بد اخلاقئ هر قسمه ذلیله او سپک کارونه کول ۔ قصداً به ئے دَ حق نه سترګے پټولے ۔ نبی صلی الله علیه وسلم چه به کوم کار دعامو انسانانو دَ فایدے دپاره او پخپله دَ دوئ دَ فایدے دپاره بالکل په بے غرضی سره کولو، نو دوئ به دَ هغے دَ ناکام کولو دپاره دهر قسمه دروغ، دوکے دړکے او مکرونه او چالبازی کوله ۔ دَ هغوئ دا حرکتونه چه به نبی صلی الله علیه وسلم وَلیدل نو زړهٔ به ئے خفه کیدو، او دَ هغهٔ دا خفګان بالکل فطری خبره وه ۔ کله چه دَ یو پاکیزه انسان معامله دَ بد اخلاقو خلقو سره راشی او هغوئ دَ خپلے ناپوهتیا او دَ خود غرضئ په وجه ددغے نیک انسان دَ خیر ښیګړے هر کار په خرابه طریقے سره بنده وی نو خامخا به دَ هغهٔ زړهٔ دړدیږی ۔ نو دَ الله تعالیٰ دَ وینا دا مطلب نهٔ دے چه دَ کافرانو په دے حرکتونو باندِ کوم خفګان ستا زړهٔ له راځی هغه نهٔ را تلل پکار دی بلکه دَ الله دارشاد په اصل کښ مطلب دا دے چه په دے سره زړهٔ ماتے نشی، همت حوصله وَ نهٔ بائیلے، ښهٔ په صبر سره دَ خدائے دَ مخلوق دَ اصلاح دپاره کار کوه ۔ پاتے شو دا خلق، نو کومه بد اخلاقی چه دوئ په ځان کښ را پیدا کړی ده دَ هغے په وجه دَ هغوئ سره دا خپل کارونه مناسب ښکاری ۔ یو کار هم دَ هغوئ په کارونو کښ دَ ګیلے نهٔ دے ۔

مِنَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اٰمَنَّا بِاَفْوَاهِهِمْ وَلَمْ تُؤْمِنْ قُلُوْبُهُمْ ۚ
وَمِنَ الَّذِيْنَ هَادُوْا ۚ سَمّٰعُوْنَ لِلْكَذِبِ سَمّٰعُوْنَ لِقَوْمٍ اٰخَرِيْنَ ۙ
لَمْ يَاْتُوْكَ ؕ يُحَرِّفُوْنَ الْكَلِمَ مِنْۢ بَعْدِ مَوَاضِعِهٖ ۚ يَقُوْلُوْنَ اِنْ
اُوْتِيْتُمْ هٰذَا فَخُذُوْهُ وَاِنْ لَّمْ تُؤْتَوْهُ فَاحْذَرُوْا ؕ وَمَنْ يُّرِدِ اللّٰهُ

خواه که هغوئ دَ هغه کسانو نه وی چه هسے په خوله وائی چه مونږه ایمان راوړے دے لیکن دَ هغوئ زړونو ایمان نهٔ وی راوړے، او یا که هغوئ دَ هغه کسانو نه وی چه یهودیان شوی دی، چه دائے حال دے چه دَ دروغو د پاره غوږونه ږدی،[63] او دَ نورو داسے خلقو د پاره چه ستا خواله هیچرے نهٔ وی راغلی، پټ پټ رازونه اوری،[64] او دَ کتابُ الله الفاظ، باوجود ددے چه دَ هغوئ خپل صحیح ځائے مقرر شوے وی، دَ اصلی معنونه اړه وی،[65] او خلقو ته وائی که چرے تا سو ته دا حکم درکړے شو نو وے منئ او که دا نهٔ وُو نو مه ئے منئ۔[66] الله چه چا ته په فتنه

[63] ددے دوه مطلبونه دی: یو دا چه دا خلق دَ خپلو خواهشاتو بندګان جوړ شوی دی نو ددے وجے نه دَ رښتیاؤ سره دَ دوئ هیڅ مینه نشته - دروغ دَ دوئ خوښ وی او هم هغه ښهٔ دَ زړهٔ په مینه اوری ځکه چه دَ زړهٔ تنده ئے په هغے مړه کیږی. دویم مطلب ئے دا دے چه دَ نبی صلی الله علیه وسلم او دَ مسلمانانو په مجلسونو کښ به دوئ دَ دروغو د پاره کښیناستل. مطلب به ئے دا وُو چه دلته څه اُووینی او څه واوری نو چه هغه په غلط رنګ کښ په خلقو کښ خواره کړی او یا ورسره دَ خپل ځان نه غلطے خبرے شاملے کړی او دَ نبیؐ او دَ مسلمانانو د بدنامولو د پاره ئے په خلقو کښ خورے کړی.

[64] ددے هم دوه مطلبونه دی: یو دا چه دَ مخبرئ د پاره راځی او دَ نبی صلی الله علیه وسلم او دَ مسلمانانو په مجلسونو کښ ددے د پاره اوړی را اوړی چه څه د راز خبره واوری او دَ هغوئ دُشمنانو ته ئے ورسوی. دویم دا چه دَ دروغو الزامونو ټکولو د پاره څه خبرے راجمع کوی - او بیا ددے په ذریعه په هغه خلقو کښ بدګمانئ خورے کړی چه دَ هغوئ دَ نبی صلی الله علیه وسلم او دَ مسلمانانو سره هډو مخامخ ملاقات نهٔ وی شوے.

[65] یعنی د توراة کوم حکمونه چه دَ هغوئ دَ خواهشاتو مطابق نهٔ وی، په هغے کښ ښهٔ په قصد باندے ردو بدل کوی، او دَ الفاظو معنے بدلے کړی او دَ خپلے خوښے حکمونه تر راؤ باسی.

[66] یعنی نا پوهه عوامو ته وائی چه کوم حکم درته مونږ ښایو که محمد صلی الله علیه وسلم درته هم دغه حکم ښودلونو قبول ئے کړئ او که نهٔ بل څه حکم ئے درته ښودلونو بیائے مهٔ قبلوئ.

فِتْنَتَهٗ فَلَنْ تَمْلِكَ لَهٗ مِنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا ؕ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ لَمْ
يُرِدِ اللّٰهُ اَنْ يُّطَهِّرَ قُلُوْبَهُمْ ؕ لَهُمْ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ ۚۖ وَّلَهُمْ
فِي الْاٰخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿۴۱﴾ سَمّٰعُوْنَ لِلْكَذِبِ اٰكّٰلُوْنَ
لِلسُّحْتِ ؕ فَاِنْ جَآءُوْكَ فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ اَوْ اَعْرِضْ عَنْهُمْ ۚ

کښ دَ اچولو اراده کړی وی نو دَ الله دَ گرفت نه دَ بچ کولو د پاره دَ هغه سره ته هیڅ نه شے کولے[۶۷]، دا هغه خلق دی چه دَ هغوئ زړونه پاکول الله ؤ نه غوښتل[۶۸] دَ دوئ د پاره په دنیا کښ شرمندګی ده او په آخرت کښ سخته سزا ده.

دوئ دروغ اوریدونکی دی او دَ حرامو مال خوړونکی دی[۶۹]، نو که دوئ تا ته (خپلے مقدمے راوړی او) حاضر شی نو ستا اختیار دے که فیصله ورله کوے نو وکړه کنئ نو انکار تر وکړه.

---

[۶۷] دالله تعالیٰ د طرفنه څوک په فتنه کښ دا چولو مطلب دا دے چه په کوم سړی کښ الله تعالیٰ دَ څه قسمه غلط میلانات په زیاتیدو اُووینی نو مخے له ورله داسے موقعے راولی چه په هغے کښ دده سخت ازمیښت وی. که چرے هغه لا په بدئ کښ پوره نه وی اخته شوے نو په دے آزمیښتو نو سره ځان ټینګ کړی او د بدئ سره دَ مقابلے کولو د پاره پکښ دَ نیکئ طاقتونه راپیدا شی. لیکن که هغه په بدئ کښ پوره اخته شوے وی او په نیکئ باندے بدی غالبه شوی وی نو بیا په هر آزمیښت سره ښه په بدئ کښ نخلی. دا د الله تعالیٰ هغه فتنه ده چه څوک په دے کښ یو ځل پریوتو نو بیائے دَ الله یو نیک بنده هم دَ هغے نه نشی بچ کولے. او په دے فتنه کښ نه یوازه افراد اچولے کیږی بلکه قومونه پکښ هم اچولے کیږی.

[۶۸] په دے وجه چه هغوئ پخپله ځان پاکول نه غوښتل. څوک چه د پاکوالی خواهش مند وی او د ځان د پاکئ د پاره کوشش کوی نو دا د الله دستور نه دے چه هغه د پاکوالی نه محرومه کړی. الله خو هغه انسان پاکول نه غواړی څوک چه پخپله ځان پاکول نه غواړی.

[۶۹] دلته خاص طور هغے فتوی ورکونکو او قاضیانو طرفته اشاره ده چه د درو غوګواهئ اخلی او دَ درو غو بیانونه اوری او دَ هغه خلقو په حق کښ د انصاف نه خلاف فیصلے کوی چه څوک ورله رشوتونه ورکوی یا تر دوئ ته څه نورے نا جائزه فائدے رسیږی.

وَاِنْ تُعْرِضْ عَنْهُمْ فَلَنْ يَّضُرُّوْكَ شَيْـًٔا ؕ وَاِنْ حَكَمْتَ فَاحْكُمْ
بَيْنَهُمْ بِالْقِسْطِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِيْنَ ﴿۴۲﴾ وَكَيْفَ
يُحَكِّمُوْنَكَ وَعِنْدَهُمُ التَّوْرٰىةُ فِيْهَا حُكْمُ اللّٰهِ ثُمَّ
يَتَوَلَّوْنَ مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ ؕ وَمَآ اُولٰٓئِكَ بِالْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۴۳﴾ ع



که انکار دِ تر وکړو نو دوئ ستا هیڅ نقصان نشی کولے، او که فیصله ئے کوے نو بیائے ټیک ټیک په انصاف سره کوه ځکه چه الله انصاف کونکی کسان خوښوی[۷۰] ——— او دوئ تا څنګه مُنصف جوړ وی، دَ دوئ سره خو توراة موجود دے چه پکښ دَ الله حکم لیکلے شوے دے او بیا هم دوئ دَ هغے نه مخ اړوی[۷۱]؟ اصل خبره داده چه په دے خلقو کښ هډوایمان نشته ع

[۷۰] یهودیان لا ددے وخته پورے دَ اسلامی حکومت با قاعده رعیت نه وُو بلکه د اسلامی حکومت سره د هغوئ د تعلقاتو بنیاد په معاهدو باندِ وُو. د دے معاهدو په وجه یهودیانو ته په خپلو کورنو معاملاتو کښ آزادی حاصله وه او دَ هغوئ دَ مقدمو فیصلے به دَ هغوئ د قانون مطابق د هغوئ خپلو ججانو (قاضیانو) کولے. په قانون کښ هغوئ په دے مجبوره نه وُو چه خپلے فیصلے نبی صلی الله علیه وسلم له یا د هغه مقرر کړے شوی قاضیانو له راوړی. لیکن دے خلقو چه به په کومو معاملاتو کښ د خپل مذهبی قانون مطابق فیصلے نه کول غوښتل نو دَ هغے معاملو فیصلے به ئے نبی صلی الله علیه وسلم له راوړے او په زړه کښ به ئے دا امید لرلو چه کیدے شی چه دَ هغه په شریعت کښ بل څه حکم وی او مونږ دَ خپل مذهبی قانون نه بچ شو.

دلته چه خاص طور کوے مقدمے طرفته اشاره ده، هغه دا وه چه په خیبر کښ دَ یهودیانو دیوے درنے کورنئ دیوے ښځے او دَ یو سړی په منځ کښ ناجائزه تعلقات وُو. په تورات کښ دَ هغوئ سزا سنګسار کول وو (استثناء باب ۲۲- آیت ۲۳-۲۴). لیکن یهودیانو نه غوښتله چه دا سزا هغوئ له ورکړی. په دے وجه هغوئ په خپلو کښ مشوره وُکړه چه په دے مقدمه کښ به محمد صلی الله علیه وسلم منصف جوړ کړو، که دَ سنګسار کولو نه بغیر بل څه حکم ئے وُکړو نو قبول به ئے کړو او که دَ سنګسار کولو حکم ئے وُکړو نو نه به ئے قبلوُو. نو مقدمه ئے نبی له راوړه. نبی پر د سنګسارولو حکم وُکړو، هغوئ د دے حکم منلو نه انکار وُکړو. نبی تر تپوس وُکړو چه ستاسو په مذهب کښ د دے څه سزا ده؟ هغوئ ورته اووے چه د دے سزا په کوړو وهل، او مخ تورول او بیا په خر سوره ول دی. نبی صلی الله علیه وسلم د هغوئ عالمانو له قسم ورکړو او تپوس ئے تر وُکړو، چه په توراة کښ دَ واده کړی زناکارو دا سزا ده؟ هغوئ ورله بیا هغه دروغ جواب ورکړو. لیکن په هغوئ کښ یو سړے چه نوم ئے ابن صوریا وُو او دَ توراة غټ عالم وُو، چپ ناست وُو. نبی هغه ته مخ کړو او وئے فرمائیل چه زه تا له په هغه خدائے قسم درکوم چه تاسو ئے د فرعون نه آزاد کړئ او په کوه طور کښ ئے تاسو له شریعت درکړو، آیا واقعی په توراة کښ دَ زناکارو دا سزا ده؟

إِنَّآ أَنزَلْنَا التَّوْرٰىةَ فِيهَا هُدًى وَنُورٌ ۚ يَحْكُمُ بِهَا
النَّبِيُّونَ الَّذِينَ أَسْلَمُوا لِلَّذِينَ هَادُوا وَالرَّبَّانِيُّونَ
وَالْأَحْبَارُ بِمَا اسْتُحْفِظُوا مِن كِتٰبِ اللَّهِ وَكَانُوا عَلَيْهِ

مونږ توراة نازل کړو چې په هغې کښ هدایت وُو او رڼا وه، ټول پیغمبران چې مسلمانان وُو، هغوی به ددے کتاب مطابق دَ ډے یهودو[۴۲] یانو دَ معاملو فیصلے کولے او دغه شان ربّانیانو او احبارو[۴۳] هم (په دے کتاب باندې فیصلے کولے) حُکمه چې هغوی دَ کتاب الله دَ محافظت ذمه وار کړے شوی وُو او هغوی پرے باندې

هغه جواب ورکړو چې "کړیه تا مالـه دا سـه غټ قسم نـه وے راکړے نو ملـځیره نـه کوله. حقیقت دا دے چې دَ زنا پـه خوهم دغه سنګساری ده خوکله چې په مونږ کښ زنا زیاتـه شوه نو زمونږه حاکمانو دا طریقه اختیار کړه چې لږ یو خلـق به زنا کوله نو هغوی بـه ټـه پریښودل او ډیر خلـق به چې زنا کوله نو هغوی له به ټـه دَ سنګسار ولـو سزا ورکوله. بیا چې دے نه په عوامو کښ خفګان پیدا شو نو مونږه دَ تورات قانون بدل کړو او دا قانون مو جوړ کړو چې زنا کار ته ډکوړے ورکولے کیږی، مخ ډیر له تور کړی او په خر باندې مخ په شا سور کړی" دے نه دوستو بیا یهودیانو هیڅ نشو ویلے او د نبی صلی الله علیه وسلم دحکم مطابق ټـه زنا کار سنګسار کړل.

[۴۲] په دے آیت کښ الله تعالیٰ دے خلقو خبـاثت کړی او چې ایمانی بنکاره کړی ده. دے نه "مذهبی خلقو" چې په ټول عرب ټـه دَ خپلے دینداری اوچ خپل علم بودګـ ګټم ساتلے وُو، داحال وُو چې کوم کتاب ته ټـه د الله کتاب وئیلو او وئیل ټـه چې زمونږه په دے باندې ایمان دے نو په هغه کتاب ټـه فیصله نـه کوله او خپله مقدمه ټـه نبی صلی الله علیه وسلم له راوړله او حال دا دے چې دَ هغه دَ پیغمبرۍ نـه ټـه انکار کولو. دے نه خبره نه دا راز معلوم شو چې په هیڅ شیل باندې دَ دوی ربښتینے ایمان نشته، په اصل کښ دَ دوی ایمان په خپل نفس او خواهشاتو باندې دے، کوم کتاب ته چې دوی دا الله کتاب وائی دهغے دَ حکم منلو نه صرف په دے وجه راوړی چې هغه حکم دَ دوی خوښ نـه دے، او معاذ الله کوم نبی ته چې دوی دروغ نبی وائی هغه له صرف په دے امید باندې چې کیدے شی هلته فیصله دَ دوی دخواهشاتو مطابق وُشی.

[۴۳] دلته دے حقیقت ته هم اشاره شوی ده چې پیغمبران ټول "مسلمانان" وُو، او دا یهودیان د اسلام نه اوړیدلی وُو. او په دے لړ باندې کښ اخته شوی وُو او صرف "یهودیان" پاتے شوی وُو.

[۴۳] ربّانی: عالمان. احبار: فقهاء، دَ دین پوهان.

شُهَدَآءَ ۚ فَلَا تَخْشَوُا النَّاسَ وَاخْشَوْنِ وَلَا تَشْتَرُوْا بِاٰيٰتِيْ ثَمَنًا
قَلِيْلًا ؕ وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْكٰفِرُوْنَ ﴿۴۴﴾
وَكَتَبْنَا عَلَيْهِمْ فِيْهَآ اَنَّ النَّفْسَ بِالنَّفْسِ ۙ وَالْعَيْنَ بِالْعَيْنِ وَ
الْاَنْفَ بِالْاَنْفِ وَالْاُذُنَ بِاالْاُذُنِ وَالسِّنَّ بِالسِّنِّ ۙ وَالْجُرُوْحَ
قِصَاصٌ ؕ فَمَنْ تَصَدَّقَ بِهٖ فَهُوَ كَفَّارَةٌ لَّهٗ ؕ وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ اَنْزَلَ
اللّٰهُ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۴۵﴾ وَقَفَّيْنَا عَلٰٓى اٰثَارِهِمْ بِعِيْسَى ابْنِ
مَرْيَمَ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ التَّوْرٰىةِ ۖ وَاٰتَيْنٰهُ الْاِنْجِيْلَ فِيْهِ

گواهان وُو (نواے دَ يهودو ډلے) تاسو دَ خلقونه مه يريږئ بلکه زمانه يريږئ او زما ايتونه په لږ قيمت خرڅول پريږدئ. څوک چه دَ الله دَ نازل کړے شوی قانون مطابق فيصله وُنه کړی هغوئ کافران دی۔

په توراة کښ موږ په يهودو باندِ دا حکم ليکلے وُو چه دَ انسان په بدل کښ انسان دَ سترګے په بدل کښ سترګه، دَ پوزے په بدل کښ پوزه، دَ غوږ په بدل کښ غوږ، دَ غاښ په بدل کښ غاښ او دَ ټولو زخمونو دَ پاره دَ برابرئ بدله ده[۷۴] او بيا چا چه خپله بدله وُ بخښله نو دا بخښنه ورله کفاره ده[۷۵]۔ او کوم خلق چه دَ الله دَ نازل کړے شوی قانون مطابق فيصله اُونه کړی هغوئ ظالمان دی۔

بيا موږ ده دَ دغے پيغمبرانو نه روستو دَ مريم ځوے عيسیٰؑ را وليږو۔ په توراة کښ چه څه دَ هغه دَ وړاندِ موجود وُو هغه دَ هغے تصديق کونکے وُو۔ او موږ ده هغه له انجيل ورکړو چه

[۷۴] دَ تصديق را وستلو دپاره وُ کوره دَ توراة خروج لومے کتاب باب ۲۱۔ آيت ۲۳ ۔ ۲۵۔

[۷۵] څوک چه دَ صدقے په نيت سره خپله بدله معاف کړی نو دا نيکی به دده دَ ډير وګناهونو دپاره کفاره شی دَ نبی صلی الله عليه وسلم ارشاد دے چه "من جرح فی جسده جراحة فتصدق بها کفر عنه ذنوبه بمثل ما تصدق به"۔ يعنی دَ چا بدن چه زخمی کړے شو او هغه دَ هغے معافی وُ کړه نو چه په څو مره جذبه هغه معافی کړی وی هم هغو مره ګناه به دَ هغه معاف کړے شی۔

هُدًى وَّنُوْرٌ ۙ وَّمُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ التَّوْرٰىةِ وَهُدًى
وَّمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿۴۶﴾ وَلْيَحْكُمْ اَهْلُ الْاِنْجِيْلِ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ
فِيْهِ ؕ وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿۴۷﴾

په هغې کښې رهنمائي او رڼا وه، او د توراة نه چه څه په هغه وخت کښې موجود وو هغه هم د هغې تصديق کونکے وو[۷۶] او د خدائے نه يره لرونکو خلقو د پاره سراسر هدايت او نصيحت وو. زمونږه حکم وو چه د انجيل منونکي و د هغې قانون مطابق فيصله کوي کوم قانون چه الله په انجيل کښې نازل کړے دے او کوم خلق چه د الله د نازل کړے شوي قانون مطابق فيصله ونه کړي هغوئ فاسقان دي[۷۷]

[۷۶] يعني مسيح عليه السلام څه نوے مذهب نه وو راوړے بلکه هغه يو دين، چه د پخوانو ټولو پيغمبرانو دين وو، د مسيح دين هم وو او هم دغے دين طرفته ئے خلق رابلل. د توراة د اصلي تعليماتو نه چه څه د هغه په زمانه کښې محفوظ وو هغه مسيح پخپله هم منل او انجيل هم د هغې تصديق کوو (ګوره متي باب ۵، آيت ۱۷، ۱۸) قرآن ددے حقيقت بيا بيا ذکر کوي چه د خدائے د طرفته څومره پيغمبران د دنيا په هر ځائے کښې راغلي دي په هغوئ کښې يو هم ددے د پاره نه وو راغلے چه د خپل ځان نه د مخکيني پيغمبر د کار د ختمولو اعلان وکړي او خپل نوے مذهب شروع کړي، بلکه هر پيغمبر به د خپل ځان نه د مخکيني پيغمبر تصديق کولو او هم هغې کار له به ئے په وړاندې ترقي ورکوله کوم چه به مخکيني پيغمبر د يو پاک ميراث په حيثيت پرېښودلے وو. دغه رنګے الله تعالیٰ هيڅکله خپل يو کتاب د وړاندني کتاب د ترديد د پاره نه دے راليږلے بلکه هر کتاب به د وړاندني کتاب تصديق کونکے وو.

[۷۷] دلته الله تعالیٰ د هغې خلقو په حق کښې درے حکمونه کړي دي څوک چه د الله تعالیٰ د نازل کړے شوي قانون مطابق فيصلے نه کوي. يو دا چه هغوئ کافران دي، دويم دا چه هغوئ ظالمان دي، دريم دا چه هغوئ فاسقان دي. د دے نه دا صفا معلومه شوه چه څوک د خدائے حکم او د هغه نازل کړے شوے قانون پريږدي او ددے په ځائے باندې په خپل قانون يا د نورو انسانانو په جوړ کړے شوي قانون باندې فيصلے کوي، نو هغه په اصل کښې درے جرمونه کوي. اول دا چه د هغه ددے کار مطلب دا دے چه هغه د خدائے د حکم نه انکار کوي او دا کفر دے. دويم دا چه د هغه دا کار د انصاف نه خلاف دے، ځکه چه د خدائے حکم ټيک ټيک د انصاف مطابق دے، او کله چه دهٔ د خدائے د حکم نه بغير په بل څه فيصله وکړه نو دهٔ ظلم وکړو. دريم دا چه انسان د خدائے بنده دے او هر کله چه دهٔ د خپل مالک د قانون نه مخ واړه وو، او خپل يا د بل چا قانون ئے جاري کړو نو دهٔ په حقيقت کښې د بندګئ د حد نه بهر قدم کيښود او دا فسق دے. دا کفر او ظلم او فسق په حقيقت کښې د خدائے د حکم نه مخ اړه ول او انکار کول دي. چرته چه د خدائے د حکم نه مخ اړولے شوے دے هلته دا دريواړه خبرے ضرور موجود دي. خو لکه څنګه چه د بے لارے کيدو په درجو او مرتبو کښې فرق دے دغه شان ددے دريو خبرو په مرتبو کښې هم فرق دے. څوک چه د الله د حکم نه خلاف په دے وجه فيصلے کوي چه هغه د الله حکم ته غلط وائي او خپل حکم ته يا د بل انسان حکم ته صحيح وائي نو هغه مکمل کافر

وَاَنْزَلْنَا اِلَيْكَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ الْكِتٰبِ وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ وَلَا

بیا اے محمدؐ، موږ ته تا ته دا کتاب را ولیږو چه د حق سره را غلے دے او د الکتاب نه چه څه دده په وړاندې موجود دی د هغې تصدیق کونکے دے[۷۸] او د هغې حفاظت کونکے او ساتونکے دے[۷۹]. نو په دے وجه ته د خدائے د نازل کړے شوی قانون مطابق د خلقو د معاملو فیصلے کوه او کوم حق

او ظالم او فاسق دے. او د چا چه دا عقیده وی چه د الله حکم حق دے خو عمل پرې نه کوی او د هغې نه خلاف په بل څه فیصلے کوی نو اګرچه د ملت نه خو وتلے نه دے خو خپل ایمان د کفر او د ظلم او د فسق سره خلط کوی. د غه شان چا چه په خپله هره معامله کښ د الله د حکم نه بدله لار اختیار کړی ده نو هغه په خپلو ټولو معاملو کښ کافر او ظالم او فاسق دے. او څوک چه په ځنو معاملو کښ د الله حکم منی او په ځنو کښ نه منی نو د دغے منلو او نه منلو مطابق د هغه په ژوند کښ ایمان او اسلام او کفر او ظلم او فسق شریک دی. ځنو مفسرینو دا وئیلی دی چه دا آیتونه د اهل کتابو سره خاص دی. خو د الله د کلام په الفاظو کښ د دے قسمه د معنی کولو هیڅ ځائے نشته. د دے قسمه د معنی کولو بهترین جواب هغه دے کوم چه حضرت حذیفه رضی الله عنه کړے دے. هغوی ته چا اووے چه دا درے واړه آیتونه خو د بنی اسرائیلو په حق کښ دی. د هغه وئیونکی دا مطلب ؤو چه که په یهودیانو کښ پخلے د نازل کړے شوی حکم خلاف فیصله وکړه، هغه به کافر او هغه به ظالم او هغه به فاسق وی. نو حضرت حذیفهؓ وفرمائیل "نعم الاخوة لکم بنو اسرائیل ان کانت لهم کل مرة ولکم کل حلوة کلا والله لتسلکن طریقهم قدر الشراک" "څومره ښه رونړه دی ستاسو د پاره دا بنی اسرائیل چه تراخه تراخه ټول د هغوی د پاره دی او خواږه خواږه ټول ستاسو د پاره ؛ نه، هیچرے داسے نه ده، په خدائے م د قسم دی چه تاسو به د هغوی په طریقه باندې هو به هو عمل کوئ".

[۷۸] دلته یو لوئ حقیقت طرفته اشاره شوی ده. اګرچه دا خبره په دے طرز هم کیدے شوه چه "پخوانی کتابونو" نه څه په اصلی او صحیح شکل کښ باقی دی، قرآن د هغې تصدیق کوی، لیکن الله تعالیٰ د "پخوانو کتابونو" پځائے باندې "الکتاب" استعمال کړو. د دے نه د دے راز پته ولګیدله چه قرآن او نور ټول هغه کتابونه چه په مختلفو زمانو او په مختلفو ژبو کښ د الله تعالیٰ د طرفنه نازل شوی دی، هغه ټول په اصل کښ یو کتاب دے. یوے مصنف دے، د ټولو یوه مدعا او یو مقصد دے، یو تعلیم او یو علم دے چه د دے کتابونو په ذریعه انسان ته ورکړے شوے دے. فرق که پکښ دے نو هغه صرف د عبارت فرق دے چه د یو مقصد د پاره د مختلفو خلقو په لحاظ سره په مختلفو مختلفو ژبو کښ لیکلے شوے دے. پس دا یو حقیقت دے چه دا ټول کتابونه د یو بل مخالف نه دی، بلکه د یو بل تائید کونکی او تصدیق کونکی دی. بلکه اصلی

تَتَّبِعْ اَهْوَآءَهُمْ عَمَّا جَآءَكَ مِنَ الْحَقِّ ؕ لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنْكُمْ شِرْعَةً
وَّمِنْهَاجًا ؕ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَجَعَلَكُمْ اُمَّةً وَّاحِدَةً وَّلٰكِنْ لِّيَبْلُوَكُمْ

چه تا ته راغلے دے دَ هغے ټچائے دَ دوئ دَ خواهشاتو پیروی مه کوه ——— ۸۰ مونږ په تاسو
کښ دَ هر یو د پاره یو شریعت او دَ عمل یوه لار مقرر کړه. که ستاسو خدائے غوښتلے نو
تاسو ټول ئے یو اُمّت هم جوړولے شولئ، لیکن هغه داد دے دَ پاره وکړل چه څه هغه تاسو له درکړی

حقیقی خبره خو داده چه دا ټول کتابونه دَ یو "الکتاب" په مختلف رنګ کښ شائع شوی کتابونه دی.

۷۹ په اصل کښ لفظ "مُهَيْمِن" استعمال شوے دے. په عربئ ژبه کښ دَ هیمن یهیمن هیمنة معنیٰ ده حفاظت کول، نګرانی کول، شهادت، امانت، تائید او مرسته کول. هیمن الرجل الشیئ، یعنی یو سړی دَ فلانی څیز حفاظت وکړو. هیمن الطائر علی فراخه، یعنی مرغئ خپل بچے په وزرو کښ محفوظ کړو. حضرت عمرؓ یو ځلے خلقو ته اُووے، انی داعٍ فهیمنوا، یعنی زه دُعا کوم تاسو په تائید کښ آمین وائئ. دَ دے نه لفظ همیان وتلے دے چه په پښتو کښ ورته همیانئ وائئ، یعنی هغه تیلئ چه په هغے کښ سړے خپل مال محفوظ بدی. پس دَ قرآن په باره کښ چه دا ارشاد شوے دے چه قرآن په "الکتاب" باندِ مُهَيْمِن دے نو دے دا مطلب دے چه په مخکینو ټولو آسمانی کتابونو کښ چه کوم حق تعلیمات دُو هغه ټول په قرآن کښ محفوظ دی. قرآن دَ هغے ساتونکے دے چه دے معنیٰ سره چه اوس به دحق دَ تعلیماتو څه حصه نه ضائع کیږی. قرآن دَ هغے تائید کونکے دے په دے معنیٰ سره چه په هغه کتابونو کښ دخدائے کلام دکومه حده پورے موجود دے قرآن دَ هغے تصدیق کوی. او قرآن په مخکینو کتابونو باندِ ګواه دے په دے معنیٰ سره چه په هغے کښ دَ خدائے دکلام سره دخلقو کوم کلام شریک شوے دے دَ قرآن په ګواهئ سره هغه بیلیدے شی، څه چه په هغے کښ دقرآن مطابق دی هغه دَ خدائے کلام دے او څه چه دقرآن خلاف دی هغه دَ خلقو کلام دے.

۸۰ دا په منځ کښ یوه بله خبره ده. دا پاسنے تقریر چه څوک و اوری نو په زړه کښ ئے یو سوال راپیدا کیږی دا دهغے سوال تشریح ده. سوال دا دے چه هر کله د ټولو پیغمبرانو او دَ ټولو کتابونو دین یو دے او هر یو دَ بل تصدیق او تائید کوی نو هر یو شریعت دبل نه بدل ولے دے؟ څه وجه ده چه دَ مختلفو پیغمبرانو او دَ آسمانی کتابونو په شریعتونو کښ دَ عبادت طریقے، دَ حلالو او دَ حرامو حدونه او دَ استوګنے طریقے بدلے بدلے دی؟

فِيْ مَآ اٰتٰىكُمْ فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرَاتِ ؕ اِلَى اللّٰهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيْعًا
فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ فِيْهِ تَخْتَلِفُوْنَ ۙ﴿۴۸﴾ وَاَنِ احْكُمْ بَيْنَهُمْ

چه په هغے کښ ستاسو آزمیښت وکړی. نو په نیکو کښ دَ یو بل نه دَ وړاندِ کیدلو کوشش وکړئ. آخر ستاسو دَ ټولو الله طرفته واپس تله دی، بیا چه تاسو په څه کښ اختلاف کوئ نو دَ هغے اصلی حقیقت به درته وښائی[۸۱] ـــــ پس اے محمدؐ، ته دَ الله دَ نازل کړے شوی قانون

[۸۱] دا د پاسنی سوال پوره جواب دے. د دے جواب تفصیل دا دے:

(۱) صرف په دے وجه چه دهر پیغمبر شریعت دَ بل نه بدل دے، دا خبره کول بالکل غلط دی چه د دے شریعتونو ماخذ او اصلی زیږون هم مختلف مختلف دے. په اصل کښ هم دغه یو الله دے چه دَ مختلفو قومونو د پاره ئے په مختلفو زمانو او په مختلفو حالاتو کښ ځان له ځان له قاعدے ضابطے مقرر کړی دی.

(۲) په دیکښ هیڅ شک نشته چه دا خبره ممکنه وه چه دا ول نه دَ ټولو انسانانو د پاره یو قانون مقرر شوے وے او ټول اُمت یو وے. لیکن الله تعالیٰ چه دَ مختلفو پیغمبرانو په شریعتونو کښ کوم فرق کړے دے په هغے کښ دَ نورو ډیرو حکمتونو سره یو لوئ حکمت دا هم وُو چه الله تعالیٰ په دے طریقه دَ خلقو آزمیښت کول غوښتل. کوم خلق چه په اصلی دین باندِ او دَ دین په حقیقت باندِ پوهیږی، او په دین کښ ورته د دے قاعدو ضابطو حقیقی حیثیت معلوم دے، او په زړه کښ ئے دَ څه قسمه بدنیتی نشته، نو هغوئ ته چه حق په کوم شکل کښ راشی نو پیژنی ئے هم او قبلوی ئے هم. هغوئ دَ پخوانو حکمونو په ځائے باندِ دَ روستنو حکمونو په منلو کښ څه شک نه کوی. د دے نه برخلاف کوم خلق چه دَ دین دَ روح نه ناآشنا وی او دَ دین دغه قاعدے ضابطے او دَ هغے تشریحات ئے اصل دین کنړلے وی، او دَ خدائے تعالیٰ د دین سره ئے خپلے خبرے شاملے کړی وی او په هغے ټینګ ولاړ وی، نو بیا روستو چه دَ خدائے دَ طرفنه څه حکم او هدایت راشی هغه هغوئ رد کوی. دَ دے دَ وُو قسمو خلقو دَ بیلولو د پاره دا آزمیښت ضروری وُو، نو په دے وجه الله تعالیٰ شریعتونه مختلف کړل.

(۳) دَ ټولو شریعتونو اصلی مقصد دَ نیکئ او دَ ښیګړے لاره موندل دی، او دا په دے طریقه موندلے شی چه په څه وخت کښ ورته دَ خدائے حکم وُشی په هغه وخت کښ ئے وُمنی. دغه وجه ده چه کومو خلقو ته اصلی مقصد معلوم دے نو دَ هغوئ د پاره دَ شریعتونو په مختلف کیدو کښ دَ جګړے کولو پځائے دَ عمل کولو صحیح طریقه دا ده چه خپل مقصد ته په هغه لار روان شی چه کومه الله منظوره کړی وی.

(۴) کوم اختلافات چه انسانانو دَ خپل ضد، بدنیتئ، طرفدارئ او دَ خپل ذهن دَ نوؤ نوؤ خبرو دَ وجه نه پیدا کړی دی دَ هغه آخری فیصله نه دَ مناظرے په مجلس کښ کیدے شی او نه په میدانِ جنګ

بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَآءَهُمْ وَاحْذَرْهُمْ اَنْ
يَّفْتِنُوْكَ عَنْۢ بَعْضِ مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ اِلَيْكَ ؕ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَاعْلَمْ
اَنَّمَا يُرِيْدُ اللّٰهُ اَنْ يُّصِيْبَهُمْ بِبَعْضِ ذُنُوْبِهِمْ ؕ وَاِنَّ
كَثِيْرًا مِّنَ النَّاسِ لَفٰسِقُوْنَ ﴿۴۹﴾ اَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ
يَبْغُوْنَ ؕ وَمَنْ اَحْسَنُ مِنَ اللّٰهِ حُكْمًا لِّقَوْمٍ يُّوْقِنُوْنَ ﴿۵۰﴾ ع

مطابق دَ دے خلقو دَ معاملو فیصلے کوه او دَ دوئ په خواهشاتو پسے مه ځه. هوښیار وُسه چه دا خلق تا په فتنه کښ وانه چوی او دَ هغے هدایت نه دِیوه ذره وانه ړوی کوم چه خدائے تا ته نازل کړے دے. بیا که چرے دوئ دَ دے نه مخ واړوی نو پوهه شه چه الله تعالیٰ دا اراده کړی ده چه دَ دوئ دَ ځنے ګناهونو په وجه دوئ په مُصیبت کښ اَچوی، او دا حقیقت دے چه په دے خلقو کښ زیات فاسقان دی. (دوئ چه دَ خدائے دَ قانون نه مخ اړوی) نو آیا بیا دَ جاهلیت[۸۳] فیصلے غواړی؟ حالانکه چه څوک په الله باندِ یقین لری دَ هغوئ په نزدَ الله نه بهتر فیصله کوئکے بل هیڅوک نشته ع

[۸۲] دَ دے ځائے نه بیا هغه تقریر شروع شو کوم چه دَ مخکښ نه را روان وُو.

[۸۳] دَ جاهلیت لفظ دَ اسلام په مقابله کښ استعمالیږی. دَ اسلام طریقه سراسر علم دے ځکه چه دَ دے ښود نه دا الله دَ طرفنه ده او الله دَ ټولو حقیقتونو علم لری. دَ دے نه برعکس هر هغه طریقه چه دا اسلام نه مختلفه ده، هغه دَ جاهلیت طریقه ده. دا اسلام دَ راتللو نه مخکښ دَ عربو حالت ته دَ جاهلیت زمانه ځکه وائی چه په دغه زمانه کښ خلقو دَ خپل ژوند ستیرولو دپاره دا سے طریقے مقرر کړے وے چه دَ علم نه بغیر صرف دَ وَهم یا دَ قیاس او دَ ګمان یا دَ خواهشاتو په بنیاد باندِ وے. دَ عمل دا طریقه چه په کوم ځائے کښ او په کوم دور کښ انسانانو ځان له اختیار کړه نو هغے ته به دَ جاهلیت طریقے ویلے کیږی. په سکولونو او په یونیورسټو کښ چه تن صباڅه خودلے کیږی هغه صرف یو جُزوی علم دے او هیڅکله هم دَ انسان دَ رهنمائیئ دپاره کافی نه دے. دغه وجه ده چه دَ خدائے تعالیٰ دَ نازل کړے شوی علم نه بغیر دَ ژوند کوم نظام دَ دے جُزوی علم سره شریک دَ ګمانونو او دَ قیاسونو او دَ خواهشاتو نه جوړ شی هغه هم هغه شان "جاهلیت" دے لکه څنګه چه دَ پخوانئ زمانے جاهلی طریقے وے.

وقف لازم
وقف غفران
وقف منزل عند البعض

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوا الْيَهُوْدَ وَالنَّصٰرٰٓى اَوْلِيَآءَ ۘ
بَعْضُهُمْ اَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ؕ وَمَنْ يَّتَوَلَّهُمْ مِّنْكُمْ فَاِنَّهٗ مِنْهُمْ ؕ
اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۵۱﴾ فَتَرَى الَّذِيْنَ فِىْ
قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ يُّسَارِعُوْنَ فِيْهِمْ يَقُوْلُوْنَ نَخْشٰٓى اَنْ
تُصِيْبَنَا دَآئِرَةٌ ؕ فَعَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّاْتِىَ بِالْفَتْحِ اَوْ اَمْرٍ مِّنْ

اے هغه خلقو چه ایمان مو راوړے دے، یهودیان او عیسایان ځان له دوستان مه جوړه وئ، دوئ په خپلو کښ دَ یو بل دوستان دی. او که چرے په تاسو کښ څوک هغوئ ځان له دوستان کوی نو هغه به هم بیا دَ هغوئ نه شمیرلے شی، دا یقینی ده چه الله تعالیٰ ظالمان دَ خپلے رهنمائی نه محرومه کوی.

تاسو وینئ چه دَ کومو خلقو په زړونو کښ دَ منافقت بیماری ده هغوئ هم په هغوئ کښ دَ منډے ترړے کوشش کوی. وائی چه "مونږه یَریږو چه چرته دَ مُصیبت په چکر کښ راګیر نه شو"[۸۴] خولرے نه ده، چه کله الله تاسو له کامیابه فتح درکړی یا دَ خپل طرفنه څه

[۸۴] ددغه وخته پورے لا دکفر او د اسلام دَ جګړے فیصله نه وه شوی. اګرچه اسلام دَ مسلمانانو دَ قربانو په وجه یو طاقت جوړ شوے وُو لیکن په مقابله کښ ورسره نور طاقتونه هم مضبوط وُو. څنګه چه د اسلام دَ فتحے امکان وُو دغه شان دَ کفر دَ فتحے امکان هم وُو. دغه وجه وه چه په مسلمانانو کښ کوم خلق منافقان وُو نو هغوئ په اسلامی جماعت کښ دُوسید لو سره سره دَ یهودیانو او دَ عیسایانو سره راز باز ساتل غوښتل. غرض ئے دا وُو چه که چرے اسلام شکست وَخوری نو بیا چه دَ هغوئ دپاره دَ پناه څه ځائے وی ددے نه علاوه په هغه وخت کښ په عربو کښ دَ عیسایانو او دَ یهودیانو مالی حالت دَ ټولو نه زیات بهتره وُو. تجارت او سوداګری زیات تر دَ هغوئ په لاس کښ وه. دَ عربو زرخیزے علاقے دَ هغوئ په لاس کښ وے. دَ هغوئ دَ سودونو جال هر طرفته خور وُو. نو دَ مالی اسبابو په وجه هم ددے منافقانو خلقو دا خواهش وُو چه دَ دوئ سره خپل زاړه تعلقات په ځائے برقرار وُ ساتی. دَ هغوئ دا ګمان وُو چه که چرے دَ اسلام او دکفر په دے جګړه کښ مونږه پوره پوره وُ نخلو او دَ هغے ټولو قومونو سره خپل تعلقات ختم کړو دکومو سره چه اوس اسلام جنګیږی، نو زمونږ دا کار به زمونږ دپاره دسیاسی او معاشی هر لحاظ نه خطرناک وی.

عِنْدِهٖ فَيُصْبِحُوْا عَلٰى مَآ اَسَرُّوْا فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ نٰدِمِيْنَ ﴿۵۲﴾ وَ
يَقُوْلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَهٰٓؤُلَآءِ الَّذِيْنَ اَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ جَهْدَ
اَيْمَانِهِمْ ۙ اِنَّهُمْ لَمَعَكُمْ ۭ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ فَاَصْبَحُوْا خٰسِرِيْنَ ﴿۵۳﴾
يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَنْ يَّرْتَدَّ مِنْكُمْ عَنْ دِيْنِهٖ فَسَوْفَ
يَاْتِي اللّٰهُ بِقَوْمٍ يُّحِبُّهُمْ وَيُحِبُّوْنَهٗٓ ۙ اَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ
اَعِزَّةٍ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ۡ يُجَاهِدُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَ

بله خبره ظاهره کړي نود اخلق به په خپل هغه منافقت باندې چه په زړونو کښې ئې پټ ساتلې دے، شرمنده وی ـ او په هغې وخت کښې به مومنان وایی چه "ښه دا هغه خلق دی چه ډیاورورکولو د پاره به ئې د الله په نوم باندې غټ غټ قسمونه خوړل چه موږ ده ستاسو سره یو؟" ——— د دوی ټول عملونه عبث لاړل او آخر دا چه ناکام او نامراد پاتی شوه۔[۸۶]

اے هغه خلقو چه ایمان مو راوړے دے، که په تاسو کښې څوک د خپل دین نه اوړی (نو وا ډ وړی) الله بدله درسره خلق پیدا کړي چه هغوی به د خدائ خوښ وی او الله به د هغوی خوښ وی، په مؤمنانو به نرم وی او په کافرانو به سخت وی،[۸۷] د الله په لاره کښې به کوشش کوی او

۸۵ یعنی د کامیابے فتحے نه د کفر د رڅے څرښل شیز، چه د هغے به عاموسنفوته دا یقین راشی چه د کفر ټیلات آخری فیصله به د اسلام په حق کښې وی۔

۸۶ یعنی څرچه هغوی د اسلام په پیروئ کښې کړی دی، مونځونه ئې کړی دی، روژے ئې نیولی دی، زکوا تونه ئې ورکړی دی، په جهاد کښې شریک شوی دی، یا د اسلام قانون ترئ غاړه ایښودلے ده، نو دا ټول په دے وجه عبث شول چه د هغوی په زړونو کښې د اسلام د پاره خلوص نه وو، او هغوی د هغه څه نه بے تعلقه شوی او د یو خدائ شوی نه وو، بلکه د دُنیا د پاره هغوی خپل ځان د خدائ او د خدائ د باغیانو په منځ کښې لږ لږ تقسیم کړے وو۔

۸۷ "په مؤمنانو باندې د نرمیدلو" مطلب دا دے چه یو مؤمن به د مؤمنانو په مقابله کښې خپل طاقت هیڅ ځیر به هم استعمال نه کړي۔ د مؤمن تابلیت، هوښیارتیا، اثر رسوخ، او د هغه مال او د هغه بدنی طاقت او د هغه هیڅ شیز به هم د مسلمانانو د تنکولو د پاره او مسلمانانو ته د نقصان رسولو د پاره استعمال نه شی۔ مسلمانانو ته به هغه هیڅه نرم خوئ، رحم دله، همدرد او صبرناک وی۔

لَا يَخَافُوْنَ لَوْمَةَ لَآئِمٍ ؕ ذٰلِكَ فَضْلُ اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ مَنْ
يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ﴿۵۴﴾ اِنَّمَا وَلِيُّكُمُ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ
وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوا الَّذِيْنَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُوْنَ
الزَّكٰوةَ وَهُمْ رٰكِعُوْنَ ﴿۵۵﴾ وَمَنْ يَّتَوَلَّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ
وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فَاِنَّ حِزْبَ اللّٰهِ هُمُ الْغٰلِبُوْنَ ﴿۵۶﴾ ع



دَ هیڅ یو ملامته کونکی دَ ملامتیانه به نه یَر یږی۔[۸۸] دا دَ الله فضل دے چه چاله ئے خوښه شی هغه له ئے ورکوی۔ الله دَ فراښه ذریعو مالک دے او په هرڅه باندِ عالم دے۔

ستاسو دوست خو په حقیقت کښ صرف الله، او دَ الله رسول او هغه مؤمنان دی چه مونځ قایموی، زکوٰة ورکوی او الله ته راښکته کیدونکی دی۔ او څوک چه الله او دَ هغه رسول او مؤمنان ځان له خپل دوستان کړی نو هغه ته دِ معلومه وی چه دَ الله جماعت غالب پاتی کیدونکے دے ع

په "کافرانو باندِ دَ سختیدلو" مطلب دا دے چه مؤمن به دَ خپل ایمان دَ پوخوالی په وجه، په دینداری کښ دَ اخلاص په وجه، دَ اُصولو دَ مضبوطیا په وجه او دَ خپل کردار او دایمان دَ طاقت په وجه دَ کافرانو په مقابله کښ دکانړی دَ کټ پشان وی چه په هیڅ شان سره به دَ خپل ځائے نه دَ خوزیدو نه وی۔ کافر ته دِ مومن هیچرے یو کوډاکے او نرمه پسته حلوا نه ښکاری۔ دَ کافرانو چه کله دَ مومنانو سره څه واسطه راشی نو چه هغوی ته دا خبره ثابته شی چه دا دَ الله بنده به مړ شی خو په هیڅ قیمت به خرڅ نه شی او دَ چا په دباؤ ولو به دباؤ نه شی۔

[۸۸] یعنی دَ الله په دین او دَ الله په حکمونو باندِ په عمل کولو کښے به هیڅ قسم شرم نه کوئ، او دَ دین ترمخه چه څه حق دی هغے ته په حق وئیلو کښ او چه څه باطل دی هغے ته په باطل وئیلو کښ به هیڅ باک نه کوی۔ دَ چا دَ مخالفت، دَ چا دَ پیغورونو، دَ چا دَ اعتراضونو او دَ بد وردو ویناکانو هیڅ پروا نه کوی۔ که چرے عام خلق دَ اسلام مخالف وی او دَ اسلام په طریقو باندِ تلل ځان بدنامول وی، خو بیا به هم دے په هغه لار باندِ ځی چه کومه ورته دَ زړهٔ نه حقه ښکاری۔

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوا الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا دِيْنَكُمْ هُزُوًا وَّ
لَعِبًا مِّنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَالْكُفَّارَ اَوْلِيَآءَ ۚ
وَاتَّقُوا اللّٰهَ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۵۷﴾ وَاِذَا نَادَيْتُمْ اِلَى الصَّلٰوةِ
اتَّخَذُوْهَا هُزُوًا وَّلَعِبًا ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْقِلُوْنَ ﴿۵۸﴾
قُلْ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ هَلْ تَنْقِمُوْنَ مِنَّآ اِلَّآ اَنْ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَمَآ
اُنْزِلَ اِلَيْنَا وَمَآ اُنْزِلَ مِنْ قَبْلُ ۙ وَاَنَّ اَكْثَرَكُمْ فٰسِقُوْنَ ﴿۵۹﴾
قُلْ هَلْ اُنَبِّئُكُمْ بِشَرٍّ مِّنْ ذٰلِكَ مَثُوْبَةً عِنْدَ اللّٰهِ ؕ

اے هغه خلقو چه ایمان مو راوړے دے، ستاسو نه وړاندې په اهلِ کتابو کښ چه کومو خلقو ستاسو دَ دین نه دَ لوبو تهوقو سامان جوړ کړے دے، هغوئ او نور کافران ځان له دوستان مهٔ جوړه وئ۔ دَ الله نه وَیَریږئ که تاسو مومنان یئ۔ کله چه تاسو دَ مونځ د پاره آذان کوئ نو دوئ په هغے پورے تهوقے لوبے کوی[89]۔ ددے وجه دا ده چه دوئ عقل نهٔ لری[90]۔ دوئ ته اُووایه "اے اهلِ کتابو، ستاسو چه په کومه خبره زمونږ سره نهٔ لږی هغه دَ دے نه بغیر بله څه ده چه مونږه په الله باندې او دَ دین په هغه تعلیم باندې ایمان راوړے دے کوم چه مونږ ته نازل شوے دے او زمونږ نه مخکښ هم نازل شوے وُو، او په تاسو کښ زیات خلق فاسقان دی"۔ بیا ورته اُووایه "آیا زهٔ درته دَ هغه خلقو نښه وښایم چه دَ هغوئ انجام دَ خدائے په نږدَ فاسقانو دَ انجام نه هم خراب دے؟

[89] یعنی دَ آذان آواز چه واوری نو دَ هغے پیښے کوی، دَ تهوقو د پاره دَ آذان الفاظ بدلوی او مسخرے ورپورے کوی۔

[90] یعنی دَ هغوئ ددے کارونو وجه صرف بے عقلی ده۔ که چرے دوئ ناپوهه نهٔ وے نو دَ مسلمانانو سره مذهبی اختلاف به ئے وُو، خو داسے سپک سپک حرکتونه به ئے نهٔ کول۔ آخر کوم عقلمند سړے دا خوښولے شی چه هر کله یوه ډله دَ خدائے دَ عبادت د پاره آواز شروع کړی او په هغے پورے دِ تهوقے کیږی۔

مَنْ لَّعَنَهُ اللّٰهُ وَغَضِبَ عَلَيْهِ وَجَعَلَ مِنْهُمُ الْقِرَدَةَ وَالْخَنَازِيْرَ
وَعَبَدَ الطَّاغُوْتَ ؕ اُولٰٓئِكَ شَرٌّ مَّكَانًا وَّاَضَلُّ عَنْ
سَوَآءِ السَّبِيْلِ ﴿۶۰﴾ وَاِذَا جَآءُوْكُمْ قَالُوْٓا اٰمَنَّا وَقَدْ
دَّخَلُوْا بِالْكُفْرِ وَهُمْ قَدْ خَرَجُوْا بِهٖ ؕ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا كَانُوْا
يَكْتُمُوْنَ ﴿۶۱﴾ وَتَرٰى كَثِيْرًا مِّنْهُمْ يُسَارِعُوْنَ فِى الْاِثْمِ وَ
الْعُدْوَانِ وَاَكْلِهِمُ السُّحْتَ ؕ لَبِئْسَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۶۲﴾
لَوْلَا يَنْهٰهُمُ الرَّبّٰنِيُّوْنَ وَالْاَحْبَارُ عَنْ قَوْلِهِمُ الْاِثْمَ وَ

هغه (هغه خلق دی) چه په هغوئ باندِ خدائے لعنت کړے دے، چه په هغوئ باندِ الله غضب کړے دے، او چه په هغوئ کښ ئے دَ چا نه شادوګان او خنزیران جوړ کړی دی او هغوئ دَ طاغوت بندګی کړی ده. دَ هغوئ درجه نوره هم زیاته خرابه ده او هغوئ دَ سَوآءِ السبیل (نیغے لارے) نه په غلطه لار ډیر لرے تلی دی"[۹۱]

کله چه دوئ ستا خواله راځی نو وائی چه مونږه ایمان راوړے دے، حالانکه کفر ئے دَ ځان سره راوړے وُو او هم کفر ئے دَ ځان سره واپس ویوړو، او خدائے ته بنه معلوم دی څه چه دوئ په زړونو کښ پټ ساتی. ته وینے چه په دوئ کښ زیات خلق دَ ګناه په کارونو کښ او دَ ظلم زیاتی په کارونو کښ منډے ترړے وهی او دَ حرامو مالونه خوری. ډیر خراب حرکتونه دی چه دا دوئ ئے کوی. دَ دوئ عالمان او دینی بزرګان دوئ ولے دَ ګناه دَ خبرو کولو نه او دَ

[۹۱] دا پخپله دَ یهودیانو طرفته یوه نرئ اشاره ده، دَ هغوئ په خپل تاریخ کښ دا دی چه ډیر کرته هغوئ دَ خدائے په غضب او لعنت کښ راغلل، دَ سَبْتُ په قانون ماتولو باندِ دَ هغوئ په قوم کښ د ډیرو خلقو شکلونه بدل شول، او دومره وُغورزیدل چه دَ طاغوت بندګی ئے شروع کړه. مطلب دا دے چه آخر ستاسو دَ بے حیائی او په ګناه کښ دَ بے شرمئ څه حد شته او که نه چه پخپله خو دَ فسق او فجور او دَ بد اخلاقئ په کارونو کښ اخته یئ خو چه بل څوک په خدائے ایمان راوړی او د رښتینے دینداری طریقه اختیار کړی نو په هغوئ پسے ور پسے شئ او تنګوئ ئے.

اَكْلِهِمُ السُّحْتَ ؕ لَبِئْسَ مَا كَانُوْا يَصْنَعُوْنَ ﴿۶۳﴾ وَ قَالَتِ
الْيَهُوْدُ يَدُ اللّٰهِ مَغْلُوْلَةٌ ؕ غُلَّتْ اَيْدِيْهِمْ وَ لُعِنُوْا بِمَا قَالُوْا ۘ
بَلْ يَدٰهُ مَبْسُوْطَتٰنِ ۙ يُنْفِقُ كَيْفَ يَشَآءُ ؕ وَ لَيَزِيْدَنَّ كَثِيْرًا
مِّنْهُمْ مَّآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ طُغْيَانًا وَّ كُفْرًا ؕ وَ

حرامو خوړلو نه نه منع کوی؟ واقعی ډیر خراب دَ ژوند سامان دے کوم چه دوئ تیار وی۔
یهودیان وائی چه دَ الله لاس تړلے شوی دی[۹۲] ——— تړلے شوی دَ دوئ لاسونه دی[۹۳]،
او لعنت دے په دوئ باندِ ددے بکواس په وجه چه دوئ ئے کوی[۹۴] ——— دَ الله لاس خو
فرا بنه دی، څنګه چه غواړی هغسے خرچ کوی۔
حقیقت دا دے چه کوم کلام تا ته ستا دَ رب دَ طرفنه نازل شوے دے هغه په دوئ کښ دَ ډیرو
خلقو دَ پاره دَ زیاتے سرکشئ او دَ باطل پرستئ سبب جوړ شوے دے، او[۹۵] (ددے په سزا کښ)

[۹۲] په عربئ ژبه کښ دَ تړلو شوو لاسونو مطلب دا دے چه هغه شوم دے د لاس نه ئے ورکړه او بخښنه نه کیږی۔ نو دَ یهودیانو ددے وینا مطلب دا نه دے چه واقعی کښ دَ الله لاسونه تړلی شوی دی، بلکه دا ئے مطلب دے چه الله شوم دے۔ چونکه دَ ډیرو مودو راسے یهودیان په ذلت کښ اخته وُو او هغوئ د تیر شوی شان شوکت نه هسے یوه زړه قیصه جوړه شوی وه او دَ نبے ورځے دَ واپس راتلو امید ئے نه وُو پاتے شوے، نو په دغه وجه به هغوئ دَ خپلو بدو ورځو په خفګان کښ دا وئیل چه (معاذالله) خدائے شوم شوے دے، دَ هغه دَ خزانو دروازے بندے دی، او س ورسره دَ آفتونو او دَ مصیبتونو نه علاوه نور هیڅ نشته چه مونږ له ئے راکړی۔ دا خبره یوازے یهودیانو نه کوله دَ نورو قومونو دَ جاهلانو هم دا حال دے چه کله پرِ سخت وخت راشی، نو ځائے ددے چه خدائے ته رجوع وکړی، هغوئ دَ زړه دتاوه دا قسمه دَ بے ادبئ او دَ بے شرمئ خبرے کوی۔

[۹۳] یعنی شومان خو دوئ دی۔ په ټوله دُنیا کښ په خپله شومتیا او په زړه تنګئ باندِ مشهور دی۔

[۹۴] یعنی دوئ ددے قسمه دَ بے ادبئ او دَ پیغورونو نه ډکے خبرے هم کوی او بیائے دا هم خیال دے چه خدائے به پرِ مهربانه شی نو دا هیڅکله نشی کیدے۔ بلکه ددے خبرو اُلټا نتیجه دا ده چه دوئ دَ خدائے دَ مهربانئ او دَ رحمت نه زیات لرے شو۔

اَلْقَيْنَا بَيْنَهُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَآءَ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ ؕ كُلَّمَآ
اَوْقَدُوْا نَارًا لِّلْحَرْبِ اَطْفَاَهَا اللّٰهُ ۙ وَيَسْعَوْنَ فِى الْاَرْضِ
فَسَادًا ؕ وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ الْمُفْسِدِيْنَ ﴿۶۴﴾ وَلَوْ اَنَّ اَهْلَ الْكِتٰبِ
اٰمَنُوْا وَاتَّقَوْا لَكَفَّرْنَا عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ وَلَاَدْخَلْنٰهُمْ جَنّٰتِ
النَّعِيْمِ ﴿۶۵﴾ وَلَوْ اَنَّهُمْ اَقَامُوا التَّوْرٰىةَ وَالْاِنْجِيْلَ وَمَآ
اُنْزِلَ اِلَيْهِمْ مِّنْ رَّبِّهِمْ لَاَكَلُوْا مِنْ فَوْقِهِمْ وَمِنْ تَحْتِ

مونږ دَ دوئ په منځ کښ تر قیامته پورے عداوت او دُشمنی اچولی ده. هرکله چه دوئ دَ جنګ وُور تیزوی الله هغه سَره وی. دوئ په زمکه کښ دَ فساد خورولو کوشش کوی خو الله فساد راپورته کونکی خلق هرګز نه خوښوی.

که چرے (دَ دے سرکشئ په ځائے باندِ) دے اهلِ کتابو ایمان راوړے وَے او دَ خدائے نه ئے یَره اختیار کړے وے نو مونږ به دَ دوئ ګناهونه دَ دوئ نه لرے کړی وُو او دَ نعمتونو نه ډک جنتونو ته به مو رَسولی وُو. کاش که دوئ توراة او انجیل او نور هغه کتابونه قایم کړے وے چه دوئ ته دَ خپل رب دَ طرفنه رالیږلی شوی وُو نو دَ دوئ دَ پاره به رزق دَ بَره نه راوریدو او دَ لاندِ نه

۹۵ یعنی پکار خو دا وه چه ددے کلام په اوریدو سره هغوئ ښهٔ سبق حاصل کړے وے، دَ خپلو غلطو کارونو نه منع شوی وے، او دَ خپل خراب حالت اصلاح ئے کړے وے، خو دَ دے پځائے په هغوئ باندِ اُلټا اثر دا وُشو چه په ضد کښ را غلل او دَ حق مخالفت ئے شروع کړو. کله چه دوئ دَ خیر او دَ نیکئ هغه هیر شوے سبق واوریدو نو ددے په اوریدو سره پخپله په نیغه لار باندِ راتلل خو پریږده، هغوئ اُلټا دا کوشش شروع کړو چه څوک دا سبق خلقو ته وریاده وی چه هغه لری کړی او نو د څوک ئے هم وانوری.

اَرْجُلِهِمْ ؕ مِنْهُمْ اُمَّةٌ مُّقْتَصِدَةٌ ؕ وَكَثِيْرٌ مِّنْهُمْ سَآءَ مَا يَعْمَلُوْنَ ﴿۶۶﴾ ع
يٰۤاَيُّهَا الرَّسُوْلُ بَلِّغْ مَاۤ اُنْزِلَ اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ ؕ وَاِنْ لَّمْ تَفْعَلْ
فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهٗ ؕ وَاللّٰهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا
يَهْدِى الْقَوْمَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۶۷﴾ قُلْ يٰۤاَهْلَ الْكِتٰبِ لَسْتُمْ عَلٰى شَىْءٍ
حَتّٰى تُقِيْمُوا التَّوْرٰىةَ وَالْاِنْجِيْلَ وَمَاۤ اُنْزِلَ اِلَيْكُمْ مِّنْ رَّبِّكُمْ ؕ

به راتهوکیدو[۹۶] اگرچه په دوئ کښ څه خلق په نیغه لارهم دی لیکن د دوئ زیات خلق سخت بد عمله دی ع
اے پیغمبرهٔ، ستا د رب د طرفنه چه په تا باندې څه نازل شوی دی هغه خلقو ته ورسوه.
که چرے داسے دِ ؤ نه کړل نو د هغه د پیغمبرئ حق دِ ادا نه کړو. او الله ستا بچ کولو والا
دے د خلقو د شر نه. یقین لره چه هغه به کافرانو ته (ستا په مقابله کښ) د کامیابئ
لار هیچرے نه بنائی. صفا ورته اُووایه چه "اے اهلِ کتابو، تاسو په هیڅ بنیاد باندې
ولاړ نه یئ تر څو چه توراة او انجیل او هغه نور کتابونه
قائم نه کړئ کوم چه تاسو ته ستا سو د رب د طرفنه نازل کړے شوی دی[۹۷]"

[۹۶] د بائیبل په کتاب احبار (باب ۲۶) او کتاب استثناء (باب ۲۸) کښ د حضرت موسیٰ علیه السلام
یو تقریر نقل کړے شوے دے چه په هغے کښ هغه بنه په تفصیل سره بنی اسرائیلو ته وئیلی دی چه که تاسو
د الله په حکمونو باندې ټیک ټیک عمل وکړو نو په تاسو باندې به د الله رحمتونه او برکتونه راوُوریږی، او که د
الله کتاب موشاته غوزار کړو او نافرمانی مو وکړه نو د هر طرفنه به په مصیبتونو او تباهو کښ اخته
شئ. د حضرت موسیٰ دغه تقریر د قرآن د دے وړے فقرے نیکلے تفسیر دے.

[۹۷] د تورات او د انجیل د قائمولو نه مراد دا دے چه په رښتیا سره د هغے پیروی وکړئ او د
هغے مطابق خپل ژوند تیر کړئ. په دے موقع باندې ځان په دے خبره باندې پوهه کول پکار دی چه
د بائیبل د مقدس کتابونو په مجموعه کښ یو قسم عبارت هغه دے چه یهودیانو او عیسائیانو
پخپله د خپل طرفنه لیکلے دے. او بل قسم عبارت هغه دے چه هغه د الله ارشادات، یا د حضرت
موسیٰ، عیسیٰ او د نورو پیغمبرانو قولونه دی د هغے سره دا لیکلی شوی دی چه الله داسے وُوئیل یا
فلانی پیغمبر داسے اُووئیل، په دے کښ چه د اول قسمه عبارت جدا کړے شی او یواځے د دویم قسمه
عبارت په غور سره وکتلے شی نو په آسانه دا معلومیږی چه په دے تعلیم کښ او د قرآن په تعلیم کښ څه
خاص فرق نشته. اگرچه د ترجمه کونکو او د تشریح کونکو دلاسه او د راویانو د غلطئ د وجه نه دا دویم

وَ لَيَزِيْدَنَّ كَثِيْرًا مِّنْهُمْ مَّآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ طُغْيَانًا وَّ
كُفْرًا ۚ فَلَا تَاْسَ عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۶۸﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ
الَّذِيْنَ هَادُوْا وَالصّٰبِئُوْنَ وَالنَّصٰرٰى مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ
الْاٰخِرِ وَعَمِلَ صَالِحًا فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿۶۹﴾

کوم فرمان چه په تا باندِ دَ خپل رب دَ طرفنه نازل کړے شوے دے هغه بیخامخا په دوئ کښے دَ ډیرو خلقو سرکشی او انکار نور هم زیات کړی[۹۸]. خو دَ انکار کونکو خلقو په حال باندِ افسوس مه کوه. (یقین لره چه دلته اجاره داری دَ هیچا نشته) مسلمان وی که یهودی وی، صابی وی که عیسائی وی هرچا چه په الله او په ورځ دَ آخرت باندِ ایمان راوړو او نیک عمل ئے وکړو بیشکه چه دَ هغه دَ پاره نهٔ دَ څه یرے مقام شته او نهٔ دَ غم[۹۹].

قسمه عبارت هم پوره محفوظ نهٔ دے پاتے شوے، لیکن بیا هم سړے داسے محسوسوی چه په دے کښ هم هغه خالص توحید دے کوم چه په قرآن کښ دے، په دے کښ هغه عقیدے بیان کړے شوی دی کوم چه قرآن پیش کوی او په دیکښ دَ ژوند تیرولو هغه طریقے ښودلے شوی دی کومے طریقے چه قرآن ښائی. حقیقت دا دے چه که یهودیان او عیسایان په هغے تعلیم باندِ قایم ولاړ وے کوم چه په دے کتابونو کښ دَ خدائے او د پیغمبرانو د طرفنه نقل کړے شوے دے نو دَ نبی صلی الله علیه وسلم په وخت کښ به هغوئ یوه حق پرسته ډله وے، او په قرآن کښ به ورته هغه رلړا په نظر راتلله کومه چه په پخوانو کتابونو کښ وه. که داسے وے نو بیا به هغوئ دَ نبی صلی الله علیه وسلم په پیروئ کولو کښ دَ مذهب دَ بدلیدلو خبره هډ وکړی نهٔ وه، بلکه په یوه نیغه لار باندِ به دَ اول نه برابر راروان وُو. او په آخر کښ به ئے دَ نبی صلی الله علیه وسلم پیروی اختیار کړی وه او سیده به تلل.

۹۸ یعنی دے خبرے په اوریدلو سره به هغوئ دَ غور کولو او په حقیقت باندِ دَ ځان پوهه کولو پځائے په ضد کښ راشی او نور زیات سخت مخالفت به شروع کړی.

۹۹ وګوره سورة بقره، آیت ۶۲، او حاشیه نمبر ۸۰

لَقَدْ اَخَذْنَا مِيْثَاقَ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ وَاَرْسَلْنَآ اِلَيْهِمْ رُسُلًا ؕ
كُلَّمَا جَآءَهُمْ رَسُوْلٌۢ بِمَا لَا تَهْوٰٓى اَنْفُسُهُمْ ۙ فَرِيْقًا كَذَّبُوْا
وَفَرِيْقًا يَّقْتُلُوْنَ ۝۷۰ وَحَسِبُوْٓا اَلَّا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ فَعَمُوْا وَ
صَمُّوْا ثُمَّ تَابَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ ثُمَّ عَمُوْا وَصَمُّوْا كَثِيْرٌ مِّنْهُمْ ؕ وَ
اللّٰهُ بَصِيْرٌۢ بِمَا يَعْمَلُوْنَ ۝۷۱ لَقَدْ كَفَرَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ
اللّٰهَ هُوَ الْمَسِيْحُ ابْنُ مَرْيَمَ ؕ وَقَالَ الْمَسِيْحُ يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ
اعْبُدُوا اللّٰهَ رَبِّيْ وَرَبَّكُمْ ؕ اِنَّهٗ مَنْ يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللّٰهُ
عَلَيْهِ الْجَنَّةَ وَمَاْوٰىهُ النَّارُ ؕ وَمَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ اَنْصَارٍ ۝۷۲

مونږ دَ بنی اسرائیلو نه پخه وعده واغستله او هغوئ ته مو ډیر رسولان راولیږل، خو چه هر کله هغوئ ته یو رسول دَ هغوئ دَ نفس دَ خواهشاتو نه خلاف څه راوړل نو څوک ئے دروغژن کړل او څوک ئے قتل کړل، او دا ئے وګڼړله چه هیڅ فتنه به نهٔ واقع کیږی، نو په دے وجه هغوئ ړانده او کانړه شول. بیا الله هغوئ معاف کړل خو دَ هغوئ نه ډیر خلق نور هم زیات ړانده او کانړه جوړیدل شروع شول الله دَ هغوئ دا ټول حرکتونه وینی۔

یقیناً چه هغه خلقو کفر وکړو چا چه اُووے چه الله خو هم دغه مسیح ابن مریم دے۔ او حال دا دے چه مسیح وئیلی وُو چه "اے بنی اسرائیلو، دَ الله بندګی کوئ چه زما هم رب دے او ستاسو هم رب دے" چا چه دَ الله سره څوک شریک کړل په هغوئ باندِ الله جنت حرام کړو، او دَ هغه ځائے جهنم دے او دَ داسے ظالمانو هیڅوک مددګار نشته۔

لَقَدْ كَفَرَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ ثَالِثُ ثَلٰثَةٍ ۘ وَمَا مِنْ اِلٰهٍ اِلَّآ
اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ؕ وَاِنْ لَّمْ يَنْتَهُوْا عَمَّا يَقُوْلُوْنَ لَيَمَسَّنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا
مِنْهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۷۳﴾ اَفَلَا يَتُوْبُوْنَ اِلَى اللّٰهِ وَيَسْتَغْفِرُوْنَهٗ ؕ
وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۷۴﴾ مَا الْمَسِيْحُ ابْنُ مَرْيَمَ اِلَّا رَسُوْلٌ ۚ قَدْ
خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ ؕ وَاُمُّهٗ صِدِّيْقَةٌ ؕ كَانَا يَاْكُلٰنِ الطَّعَامَ ؕ
اُنْظُرْ كَيْفَ نُبَيِّنُ لَهُمُ الْاٰيٰتِ ثُمَّ انْظُرْ اَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ ﴿۷۵﴾

وقف لازم

یقیناً چه هغه خلقو کفر وکړو چه دائے اُووے چه الله په دریو کښ یو دے، حالانکه دَ یو خدائے نه بغیر بل خدائے نشته. که دا خلق ددے خپلو خبرو نه منع نه شو نو په دوئ کښ چه کومو خلقو کفر کړے دے هغوئ له به دردناکه سزا ورکړے کیږی. نو آیا دوئ به الله ته توبه نه وباسی او دَ هغهٔ نه به معافی نه غواړی؟ الله ډیر معاف کونکے او رحم کونکے دے.

مسیحؑ دَ مریمؑ خوئے بل هیڅ نه وُو، بس یو رسول وُو، دَ هغه نه مخکښ نور هم ډیر رسولان تیر شوی وُو، دَ هغهٔ مور یوه رښتینے ښځه وه، او هغوئ دواړو به ډوډئ خوړله. وګوره چه مونږ دوئ ته څنګه دَ حقیقت نښے بیا نوو، خو بیا دوئ ته وګوره چه کوم خوا اړولی روان کړے شوی دی.[۱۰۰]

[۱۰۰] په دے یو څو لفظونو کښے دَ مسیح دَ خدائی په باره کښے دَ عیسایانو دَ عقیدے دا سے صفا تردید شوے دے چه ددے نه زیات صفا نشی کیدے. دَ مسیح په باره کښ که څوک دا معلومول غواړی چه په حقیقت کښ هغه څه وُو نو ددے نښو نه دا معلومولے شی چه هغه بس یو انسان وُو. دا خو ښکاره خبره ده چه څوک دَ یوے ښځے دَ خیټے نه پیدا شوے وی، چه نسب ئے معلوم وی، چه انسانی جسم لوی، او ټول صفتونه پکښ د انسان پشان وی، چه وُده کیږی، خوراک کوی، ګرمی او یخنی محسوسه وی، آن تر دے پورے چه دَ شیطان په ذریعه په آزمیښت کښ هم اچولے شوے وی، نو ددا سے انسان په باره کښ څوک دا تصور کولے شی چه دے په خپله خدائے دے یا دَ خدائے سره په خدائی کښ شریک او منګرے دے.

قُلْ اَتَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَّلَا
نَفْعًا ؕ وَاللّٰهُ هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿۷۶﴾ قُلْ يٰۤاَهْلَ الْكِتٰبِ لَا تَغْلُوْا
فِيْ دِيْنِكُمْ غَيْرَ الْحَقِّ وَلَا تَتَّبِعُوْۤا اَهْوَآءَ قَوْمٍ قَدْ ضَلُّوْا
مِنْ قَبْلُ وَاَضَلُّوْا كَثِيْرًا وَّضَلُّوْا عَنْ سَوَآءِ السَّبِيْلِ ﴿۷۷﴾ ع

دوئ ته اُووایه چه آیا تاسو خدائے پریږدئ او دَ هغه چا عبادت کوئ چه نه تاسو له نقصان درکولے شی او نه نفع؟ حالانکه دَ هر چا خبره اوریدونکے او په هر څه پوهیدونکے خو یو الله دے۔ ورته اُووایه، اے اهل کتابو، پخپل دین کښے ناحق زیاتے مه کوئ او دَ هغه خلقو په خیالاتو پسے مه ځئ چه ستاسو نه مخکښ هغوئ پخپله گمراه شوی دی او نور ډیر خلق ئے گمراه کړی دی او دَ "سَوَآءَ السَّبِيْلِ" نه بے لارے[۱۰۱] شوی دی ع

لیکن دا دَ انسان دَ گمراهئ یوه عجیبه کارنامه ده چه عیسایان پخپله په خپل مذهبی کتابونو کښ وینی چه دَ مسیحؑ ژوند خالص دَ یو انسان پشان دے، او بیا هم په دے خبره باندِ زور ورکوی چه په هغه کښ دَ خدائی صفات شته دے حقیقت دا دے چه دا خلق دَ هغے تاریخی مسیحؑ قائل نه دی کوم چه په حقیقت کښ واقعی ظاهر شوے وُو، بلکه دوئ په خپل گمان کښ یو خیالی مسیحؑ جوړ کړے دے او هغه ته خدائے وائی۔

[۱۰۱] دا اشاره ده هغه گمراه قومونو ته چه د هغوئ نه عیسایانو غلطے عقیدے او باطلے طریقے خپلے کړی دی۔ خصوصاً اشاره دَ یونان فلسفیانو طرفته ده چه دَ هغوئ دَ خیالاتو نه عیسایان متأثره شوی وُو او دَ صراط مستقیم نه بے لارے شوی وُو۔ دَ مسیحؑ دَ اولنو ملگرو عقیدے دَ خپل رهنما دَ تعلیم مطابق وے۔ خو روستنو عیسایانو یو طرفته دَ مسیحؑ سره په مینه کولو کښ او دَ هغه په قدر عزت کولو کښ دَ حد نه ډیر زیاتے وکړو، او بل طرفته دَ گاونډی قومونو دَ خیالاتو نه متأثره شوا ویو داسے نوے مذهب ئے جوړ کړو چه دَ هغے دَ مسیحؑ دَ اصلی تعلیماتو سره هډو څه واسطه پاتے نه شوه۔ په دے باره کښ پخپله دَ یو مسیحی عالم دینیات (ریورینډ چارلس اینډرسن اسکاټ) بیان دَ کتلو قابل دے۔ دَ انسائیلو پیډیا برټانیکا په څوارلسم اشاعت کښ دَ "یسوع مسیح" (Jesus Christ). په عنوان باندِ هغه یو اُوږد مضمون لیکلے دے، په هغے کښ وائی:

"په اولنی دریو انجیلونو (متی، مرقس، لوقا) کښ خو هیڅ داسے خبره نشته چه دَ هغے نه دا گمان پیدا شی چه دَ دغے انجیلونو لیکوالو یسوع دَ انسان نه بغیر بل څه گڼړلو۔ دَ هغوئ په نظر کښ هغه یو انسان وُو، داسے انسان چه خاص طور دَ خدائے دَ روح نه فائده موندونکے وُو او دَ خدائے سره ئے داسے پوخ تعلق وُو چه که دَ هغے په وجه هغه ته دَ خدائے ځوئے اووئیلے شی نو مناسب ده۔ پخپله متی دَ مسیح ذکر دَ یو ترکانړ دَ ځوی په حیثیت کوی، او په یو ځائے کښ وائی چه پطرس

ؤ منله چه دے "مسیح" دے، خو دَ منلو نه روستوئے هغه "ځان له یو ځائے ته بوتلو او ملامته ے کړو" (متی ۱۶، ۲۲) - په لوقا کښ مونږه وینو چه کله دَ سُولئ خیژولو واقعه ؤ شوه نو دَ هغے نه روستو دَ یُسوع دوه شاګردان اماؤس طرفته تلل او دَ هغه ذکر ئے په داسے حیثیت سره کوؤ چه "هغه دَ خدائے او دَ ټول امّت په نِز باندِ په کار او په کلام کښ قدرت لرونکے نبی وُو" (لوقا ۲۴، ۱۹) - دا خبره خاص طور دَ توجّه قابله ده چه اګرچه دَ "مرقس" دَ لیکلو نه مخکښ په عیسایانو کښ دَ یُسوع دَ پاره دَ "خداوند" لفظ استعمالیدو، لیکن نهٔ دَ مرقس په انجیل کښ یُسوع ته چرته دا لفظ ویلے شوے دے او نهٔ دَ متی په انجیل کښ. البته په دواړو کتابونو کښ دا لفظ دَ الله د پاره زیات استعمال شوے دے. په درے واړو انجیلونو کښ دَ یُسوع دَ آزمیښت ذکر ښهٔ په مناسبه طریقے سره شوے دے، خو دَ مرقس دَ "ندیے" والا عبارت نه علاوه (مرقس ۱۰، ۴۵) او آخری فَسَح په موقع باندِ دَ یو څو الفاظو نه علاوه په دے کتابونو کښ دا واقعه په هغه طرز نهٔ ده بیان شوی لکه څنګه چه بیا روستو په کومه طریقه بیان کړے شوی ده. تر دے پورے چه دے خبرے ته پکښ هډو اشاره نهٔ ده شوے چه دَ یُسوع دَ مرګ دَ انسان دَ ګناه او دَ هغے دَ کفارے سره ګڼی څه تعلق وُو."

وړاندِ هغه بیالیکی:

"دا خبره دَ انجیلونو دَ ډیرو عبارتونو نه معلومیږی چه یُسوع به خپل ځان دَ یو نبی په حیثیت سره پیش کولو. مثلاً دا چه "زهٔ به نن او صبا او بل صبا په خپله لار باندِ ضرور ځم، ځکه چه دا کیدے نشی چه نبی دِ دَ یروشلم نه بهر هلاک شی" (لوقا ۱۳، ۲۳). هغه اکثر خپل ذکر دَ "ابنِ آدم" دَ نوم نه کوی..... یُسوع په هیڅ ځائے کښ ځان ته "ابن الله" نهٔ دے ویلے. دَ هغهٔ دَ زمانے نور ملګری چه کله دا لفظ دَ هغه متعلق استعمالوی نو غالباً چه دَ هغوئ مطلب هم بس دا وی چه هغه دَ خدائے ممسوح (مسح کړے شوے) دے. البته ځان ته مطلقاً دَ "ځوی" لفظ وائی.... او دَ خدائے سره دَ خپل تعلق بیانولو د پاره لفظ "پلار" هم استعمالوی..... و دے تعلق په باره کښ هغه خپل ځان یواځے نهٔ ګڼړی، بلکه دَ اول نه نور انسانان هم دَ خدائے سره په دے خاص تعلق کښ خپل ملګری شمیری. البته دَ خپلے تجربے او دَ عامو انسانانو دَ طبیعتونو معلومولو نه روستو هغه په دے خیال کولو مجبوره شو چه بس په دے معامله کښ زهٔ یواځے یم."

دا مُصنّف بیالیکی:

دَ عیدِ پُنتِکُسْت په موقع باندِ دَ پطرس دا الفاظ چه "یو انسان چه دَ خدائے د طرفنه وُو" دَ یُسوع هغه حیثیت ښکاره کوی په کوم حیثیت سره چه هغه دَ خپلے زمانے ملګرو پیژندلو..... دَ انجیلونو نه مونږ ته معلومیږی چه یُسوع دَ وړوکوالی نه دَ ځوانئ پورے دَ عامو انسانانو پشان لوئ شوے دے. هغه به وُږے کیدو تږے کیدو، هغه به ستړے کیدو او وُده کیدو، په هغه به حیرانتیا راتلله، دَ حالاتو معلومولو د پاره محتاجه وُو، ډیر تکلیفونه ورته وُرسیدل او مړ شو....

که دا دعوی وکړے شي چه هغه حاضر ناضر دے نو په حقیقت کښ به دا خبره د هغے تصوّر نه بالکل خلاف وي کوم تصوّر چه موږ ته د انجیلونو نه حاصل شوے دے. بلکه د دے دعوے سره د آزمیښت واقعه او د کتسمنی او د کهوپړی په مقام باندِ چه کوم واقعات تیر شوي دي په هغے کښ یوه واقعه هم مطابقت نهٔ شي خوړلے. ترڅو پورے چه دے واقعاتو ته ناحقه نهٔ وي ویلے شوي، نو دا به ضرور منو چه هر کله په مسیح باندِ دا ټول حالات راتلل نو د هغهٔ د عامو انسانانو پشان محدود علم وُو، او که څهٔ لږ ډیر معلومات ورته وُو نو هغه صرف دومره وُو څومره چه د پیغمبرئ په وجه او په خدائے باندِ د پوخ یقین په وجه وي. بیا دا خبره چه مسیحؑ قادرِ مطلق دے نو دا په انجیلونو کښ نوره هم ډیره کمه ذکر شوي ده. چرته دے خبرے ته پکښ یوه نرئ اشاره هم نشته چه هغه د خدائے نه په بے پروائیئ سره په خپل اختیار باندِ کار کوُو. بلکه د هغه هر وختے دُعا غوښتل او دا قسمه الفاظ ویل چه "دا څیز د دُعا نه بغیر په بل څه نشي لرے کیدے" د دے خبرے صفا اقرار دے چه د هغه ټوله بروسه په خدائے باندِ وه. حقیقت دا دے چه د انجیل دا کتابونه په تاریخي حیثیت سره معتبر کتابونه دي، ځکه چه دا کتابونه لا په هغه وخت کښ نهٔ وُو مکمل شوي کله چه مسیحي کلیسا مسیحؑ ته خدائے ویل شروع کړي وُو. خو بیا هم په دے کښ دا شهادت محفوظ دے چه مسیحؑ په حقیقت کښ انسان وُو او هغه هیچرے هم خپل ځان خدائے نهٔ وُو ګڼړلے."

د دے نه روستو دے بیا لیکي:

"هغه سینټ پال وُو چه دا اعلان ئے وکړو چه آسمان ته د پورته کیدو په وخت کښ یُسوع ته د پوره اختیاراتو سره د "ابن الله" مرتبه وُسپارلے شوه..... د ابنُ الله په دے لفظ کښ ذاتي طور ځوي والئ ته یوه اشاره شته، ځکه چه دهٔ بل ځائے کښ پال یُسوع ته د "خدائے خپل ځوے" ویلي دي. د دے خبرے فیصله اوس نشي کیدے چه آیا هغه د عیسایانو اولنئ ډله وه او که "پال" وُو چه د مسیحؑ د پاره ئے د "خداوند" لفظ په اصلي مذهبي معنیٰ کښ استعمال کړو. کیدے شي چه دا کار اولنئ ډلے کړے وي. لیکن په دے کښ هیڅ شک نشته چه پال دا لفظ په پوره معنیٰ سره استعمالول شروع کړل. او بیلئ خپله مدّعا په دے طریقے سره نوره هم زیاته واضحه کړله چه "خداوند یسوع مسیحؑ طرفته ئے زیات هغه خیالات او الفاظ منتقل کړل کوم چه په پخوانو مقدسو کتابونو کښ د خداوند یَهُوَه (الله تعالیٰ) د پاره مخصوص وُو. د دے سره سره هغه مسیحؑ د خدائے د علم او د خدائے د لویئ سره برابر کړو او مطلق ئے ورته د خدائے ځوے اُووے خو د دے باوجود بیا هم هغه مسیح ته قطعي طور الله نهٔ دے ویلے."

د انسائیکلوپیډیا برټانیکا په یویل مضمون "مسیحیت" (Christinnity). کښ ریورنډ جارج ولیم ناکس د مسیحي کلیسا په بنیادي عقیدے باندِ بحث کوي او لیکي:

"د دریو خدایانو د عقیدے فکری سانچہ یونانی ده او یهودی تعلیمات پکښ اچولے شوی دی۔ په دے وجه دا زمونږ د پاره یو عجیبه شان مرکب دے۔ مذهبی خیالات د بائیبل دی او اچولے شوی په یوه ناآشنا فلسفه کښ دی۔

پلار، څوے او روح القدس دا ټکی د یهودی ذریعو نه راسیدلی دی۔ دا آخری ټکے اگرچه یسوع پخپله هم کله ناکله استعمال کړے وُو، او پال هم چه دا ټکے استعمال کړے وُو نو معنیٔ واضحه نه وه، خو بیا هم په یهودی کتابونو کښ دا ټکے شخصیت اختیار ولو ته نزدے شوے وُو۔ پس دے عقیدے سامان یهودی دے (اگرچه دے نه هم کښ دا هم د یونانی اثراتو نه متأثر وُو) او مسئله خالص یونانی ده۔ اصلی سوال چه په هغے باندے دا عقیده جوړه شوه نه اخلاقی سوال وُو او نه مذهبی، بلکه یو فلسفیانه سوال وُو، یعنی دا چه دے دریو اقانیمو (پلار، څوے او روح) په منځ کښ د تعلق څه حقیقت دے؟ کلیسا چه دے کوم جواب ورکړو هغه په هغه عقیده کښ درج دے کومه چه د نیقایه کونسل کښ مقرر کړے شوی وه، او هغه چه څوک وُکوړی نو صفا معلومیږی چه دا بالکل د یونانی فکر شونده وه۔"

په دے سلسله کښ د انسائیکلوپیډیا برټانیکا یو بل مضمون د کلیسا تاریخ (Church History) دا عبارتونه هم د کتلو قابل دے:

"د دریځے عیسوی صدیٔ د ختمیدو نه مخکښ مسیح په دے حیثیت سره منلے شوے وُو چه دے د "کلام" بدنی ظهور دے، خو بیا هم د عیسایان دا ے وُو چه د مسیحؑ د خدایئ قائل نه وُو۔ په څلورمه صدیٔ کښ په دے مسئله باندے سخت بحثونه شوی وُو۔ آخر دا چه په ۳۲۵ء کښ د نیقا کونسل سرکاری طور باندے د مسیحؑ د خدایئ عقیده او اصلی عیسائی عقیده وُکړوله او په خاصو الفاظو کښ ے ولیکله۔ اگرچه دے نه روستو هم د څه مودے پورے جګړه روانه وه۔ لیکن په آخر کښ هم د غه د نیقا فیصله وُمنلے شوه او د مشرق نه تر مغربه پورے دا فیصله وُشوه چه د مسیح عقیدے والا عیسایان به هر یه دے باندے ایمان راوړی۔ د څوئ د خدائ سره د روح خدائ هم وُمنلے شوه او د روح د اصطباغ (یعنی د غسل ورکولو) د کلے سره او د هغے په شعائرو کښ ے د پلار او د څوئ سره یو ځائے کړو۔ د غه شان په نیقا کښ چه د مسیحؑ کوم تصور قائم کړے شو د هغے دا نتیجه راوُتله چه د دریو خدایانو عقیده دا صلی مسیحی مذهب یوه ضروری حصه جوړه شوه۔

بیا په دے عبره باندے چه "د څوئ خدائ د مسیحؑ د ذات په شکل کښ وه" یوه بله مسئله جوړه شوه چه په هغے باندے په څلورمه صدیٔ کښ او دے نه روستو د دیرے مودے پورے بحث چلیدو۔ مسئله دا وه چه په مسیحؑ کښ د خدائ والی او د انسان والی په منځ کښ څه تعلق دے؟ په ۴۵۱ء کښ د کالسیدن کونسل دا فیصله وُکړه چه د مسیح په ذات کښ دوه مکمل طبیعتونه، یوالهی طبیعت او بل انسانی طبیعت، یوځائے

شنوی دی، او دَ یو ځائے کید و نه روستوم دَ دوی خپل ځان له ځان له خاصیتونه بے دَ څه تغیر نه برقرار دی. په ۶۸۱ء کښ په قسطنطنیه کښ دریم کونسل وُ شو، په هغے کښ خبره دومره نوره زیات شوه چه: دواړه طبیعتو نه ځان له ځان له خپل خپل ارادے (مشیت) هم لری یعنی په مسیح کښ په یو وخت باندے دوه مختلفے ارادے دی..... په دغه دوران کښ مغربی کلیسا دَ گناه اودَ فضل په مسئله باندے خاص توجه وکړه او په دے سوال دَ ډیرے مودے پورے بحث وُ شو چه دَ نجات په معامله کښ دَ خدائے کارځه دے او دَ انسان کارځه دے؟ آخر دا چه په ۵۲۹ء کښ اورَنج په دوم کونسل کښ..... دا نظریه اختیار کړه شوه چه دَ آدم دَ راکوزید ودَ وجے نه هر انسان په دے حالت کښ مبتلا دے چه هغه نجات طرفته د هغے قدم نشی اغستلے ترڅو چه هغه دَ خدائے دَ هغے فضل په وجه، چه په اصطباغ کښ ورکړے کیږی، نوے ژوند نه وی حاصل کړے، او دا دَ خدائے فضل ځ همیشه مدد گار نه وی. او دَ خدائے دَ فضل دا همیشه امداد انسان ته صرف دَ کیتهولک کلیسا په ذریعه حاصلیدے شی؟

دَ مسیحی عالمانو دَ دے بیانا تو نه دا خبره بالکل واضح کیږی چه په اول اول کښ دَ کوم څیز دَ وجے نه مسیحیان بے لارے شوه هغه بے څه عقیدت او بے څه مینه محبت وُ دَ دے ژباړے مینے په وجه دَ مسیح علیه السلام دپاره دَ "خداوند" او دَ "ابن الله" الفاظ استعمال کړے شو، دَ خدائی صفتونو نسبت ورته وکړے شو، دَ کفارے عقیده جوړه شوه، حالانکه دَ مسیح په تعلیماتو کښ دَ دے خبرو هیڅ نوم نه وُ. بیا چه کله عیسایانو ته دَ فلسفے هوا ورُ رسیده نو هغوئ له دا کوشش پکار وُ چه دَ کمزورئ نه ځان بچ کړے وے، خو دَ دے په ځائے هغوئ دَ خپلو مشرانو دَ غلطیانو پاره وجے کتل شروع کړل اودَ مسیح اصلی تعلیما تو تهے رجوع وُ نه کړه اودَ منطق اودَ فلسفے په مدد سره ځ دَ عقیدے دپاسه بله عقیده جوړول شروع کړل. دا هغه کمراهی اوضلالت دے چه په دے باندے قرآن په دے آیتو نو کښ عیسایان خبرداره کړل.

لُعِنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْۢ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ عَلٰى لِسَانِ دَاوٗدَ وَ
عِيْسَى ابْنِ مَرْيَمَ ؕ ذٰلِكَ بِمَا عَصَوْا وَّكَانُوْا يَعْتَدُوْنَ ﴿۷۸﴾
كَانُوْا لَا يَتَنَاهَوْنَ عَنْ مُّنْكَرٍ فَعَلُوْهُ ؕ لَبِئْسَ مَا كَانُوْا يَفْعَلُوْنَ ﴿۷۹﴾
تَرٰى كَثِيْرًا مِّنْهُمْ يَتَوَلَّوْنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ؕ لَبِئْسَ مَا قَدَّمَتْ لَهُمْ
اَنْفُسُهُمْ اَنْ سَخِطَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ وَفِي الْعَذَابِ هُمْ خٰلِدُوْنَ ﴿۸۰﴾ وَلَوْ
كَانُوْا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالنَّبِيِّ وَمَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِ مَا اتَّخَذُوْهُمْ اَوْلِيَآءَ

پہ بنی اسرائیلو کښ چه کومو خلقو دَ کفر لار اختیار کړه، په هغوئ باندِ دَ داؤد او دَ عیسیٰ ابن مریم په ژبه لعنت اُو وئیلے شو ځکه چه هغوئ سرکشه شوی وُو او زیاتے کول ئے شروع کړی وُو، هغوئ یو بل دَ بدو کارونو نه منع کول پریښودی وُو،[۱۳] دَ عمل ډیره خرابه طریقه هغوئ اختیار کړی وه. نن تهٔ په هغوئ کښ ډیر داسے خلق وینی چه (دَ مومنانو په مقابله کښ) دَ کافرانو مرسته او ملګرتیا کوی. یقیناً چه ډیر خراب دے هغه انجام کوم چه دَ دوئ نفسونو دَ خپل ځان دَ پاره تیار کړے دے، خدائے ورته په غضب شوے دے او همیشه به په عذاب کښ پراتهٔ وی. که چرے واقعی دا خلق دَ الله او دَ پیغمبر او دَ هغه څیز منونکی وے کوم چه په پیغمبر باندِ نازل شوے وُو نو هیچرے به ئے (دَ مومنانو په مقابله کښ) کافران ځان له دوستان نهٔ جوړ ولے.[۱۴]

[۱۳] دَ هر قوم خرابتیا په اول کښ دَ یو څوکسانو نه شروع کیږی. که چرے قوم بیدار وی نو دغه خراب خلق دباؤ ساتی او ټول دَ خرابیدو نه بچ پاتی شی. لیکن که قوم دَ دغے خلقو په باره کښ سُستی وُکړه او هغوئ ئے په غلطو کارونو ملامته نهٔ کړل بلکه په خلقو کښ ئے دَ غلط کارئ دپاره آزاد پریښودل، نو بیا دغه خرابی چه اول په یو څوکسانو کښ وی رُو رُو په ټول قوم کښ خوره شی. هم دا څیز وُو چه دَ بنی اسرائیلو دَ خرابتیا سبب وُګرزیدو.

دَ حضرت داؤدؑ او دَ حضرت عیسیٰؑ په ژبه باندِ چه کوم لعنت په بنی اسرائیلو باندِ وئیلے شوے دے، دَ هغے دپاره وګوره زبور ۱۰ او ۵۰ او متی ۲۳ -

وَلٰكِنَّ كَثِيْرًا مِّنْهُمْ فٰسِقُوْنَ ﴿۸۱﴾ لَتَجِدَنَّ اَشَدَّ النَّاسِ عَدَاوَةً
لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوا الْيَهُوْدَ وَالَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا ۚ وَلَتَجِدَنَّ اَقْرَبَهُمْ
مَّوَدَّةً لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوا الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّا نَصٰرٰى ؕ ذٰلِكَ
بِاَنَّ مِنْهُمْ قِسِّيْسِيْنَ وَرُهْبَانًا وَّاَنَّهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ ﴿۸۲﴾

وَاِذَا سَمِعُوْا مَآ اُنْزِلَ اِلَى الرَّسُوْلِ تَرٰٓى اَعْيُنَهُمْ
تَفِيْضُ مِنَ الدَّمْعِ مِمَّا عَرَفُوْا مِنَ الْحَقِّ ۚ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَآ اٰمَنَّا
فَاكْتُبْنَا مَعَ الشّٰهِدِيْنَ ﴿۸۳﴾ وَمَا لَنَا لَا نُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَمَا جَآءَنَا

خو په دوئ کښ ډیر خلق د خدائے د اطاعت نه وتلی دی۔

تۀ به د مومنانو سره په دشمنئ کولو کښ د ټولو نه زیات سخت یهودیان او مشرکان بیا مومے، او د ایمان والو سره به په دوستئ کولو کښ د ټولو نه زیات نزدے هغه خلق بیا مومے چه مے وئیلی وو چه مونږه نصاریٰ یو۔ دا په دے وجه چه په دوئ کښ عبادت گزاره عالمان او دنیا پریښودونکی فقیران (درویشان) دی او په هغوئ کښ د نفس غرور نشته۔ کله چه هغوئ هغه کلام اوری کوم چه په رسول باندِ نازل کړے شوے دے نو تۀ وینے چه د حق د پیژندلو په وجه د هغوئ سترگے د اوښکو نه ډکے شی۔ او وائی چه "پروردِگاره، مونږه ایمان راوړے دے، زمونږه نوم په گواهی کونکو کښ ولیکه۔" او وائی چه "آخر ولے به مونږه په الله ایمان نۀ راوړو او ولے به هغه حق نۀ منو کوم چه مونږ ته راغلے دے،

۱۰۳ مطلب دا دے چه کوم خلق خدائے او نبی او کتاب منونکی وی د هغوئ قدرتی طور د مشرکانو په مقابله کښ د هغے خلقو سره زیاته همدردی وی څوک چه د هغوئ پشان د خدائے او د وحی او د رسالت سلسله منی، اگرچه په مذهب کښ د هغوئ نه مختلف وی۔ لیکن دا یهودیان عجیبه قسم اهلِ کتاب دی چه د توحید او د شرک په جنگ کښ ښکاره د مشرکانو ملگرتیا کوی، د نبوت منلو او نۀ منلو په جنگ کښ د هغوئ همدردئ ښکاره د نبوت د نۀ منونکو سره وی، او بیا هم ښه په بے شرمئ او په بے حیائئ سره دا دعویٰ کوی چه مونږه خدائے او پیغمبران او کتابونه منو۔

مِنَ الْحَقِّ ۙ وَنَطْمَعُ اَنْ يُّدْخِلَنَا رَبُّنَا مَعَ الْقَوْمِ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۸۴﴾
فَاَثَابَهُمُ اللّٰهُ بِمَا قَالُوْا جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ
خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ وَذٰلِكَ جَزَآءُ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۸۵﴾ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا
وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَآ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَحِيْمِ ﴿۸۶﴾ ع
يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُحَرِّمُوْا طَيِّبٰتِ مَآ اَحَلَّ اللّٰهُ لَكُمْ وَ

هر کله چه مونږه دا خواهش لرو چه زمونږه رب د مونږه د صالحانو خلقو سره شامل کړي؟ د هغوئ د دے وینا د وجے نه الله هغوئ له دا سے جنتونه ورکړل چه لاندې تر ولے بهیږي او په هغے کښے به همیشه وسیږي. دا بدله ده د نیکانو خلقو د پاره. او چا چه زمونږه د آیاتونو منلو نه انکار وکړو او هغه ئے دروغ وګڼړل نو هغوئ د جهنم مستحق دي ع

اے هغه خلقو چه ایمان مو راوړے دے، کوم پاک څیزونه چه الله ستاسو د پاره حلال کړیدي هغه مه حرامو ئے[۱۰۴]

[۱۰۴] په دے آیت کښ دوه خبرے شوي دي. یوه دا چه پخپله د حلالو او د حرامو اختیارمند کیږئ مه. هغه څیزونه حلال دي کوم چه الله حلال کړي دي او حرام هغه دي کوم چه الله حرام کړي دي. که په خپل اختیار مو حلال څیز حرام کړو نو د خدائے د قانون پځائے به د خپل نفس د قانون پیروي وکړئ. دویمه دا چه د عیسایانو د دنیا پریښودونکو (راهبانو) پشان، د هندوانو د عبادت ګذارو (جوګیانو) پشان، د بدهه مذهب د خیرات غوښتونکو (بهکشا) پشان او د اشراقیانو د صوفیانو پشان د دنیا نه تیښته مه کوئ او د دنیا خوندونه پځان مه بندوئ. د مذهبي او نیک مزاجه خلقو همیشه دا خیال وي چه څوک د نفس او د بدن حقونه پوره پوره ادا کوي نو هغوئ روحاني ترقي نشي حاصلولے، د هغوئ دا ګمان وي چه څوک څومره ځان په تکلیف کښ واچوي، او ځان څومره د دنیا د مزونه را بند کړي، او د دنیا د سامانونو سره تعلق ختم کړي، نو دا پخپله یوه نیکي ده او خدائے ته نزدیکت بغیر د دے نه حاصلیدے نشي. په صحابه کرامو کښ هم ځنے خلق دا سے وو چه دا قسمه خیال ئے لرلو. یو ځلے نبي صلی الله علیه وسلم ته معلومه شوه چه ځنے صحابو دا وعده کړي ده چه همیشه به روژے نیسي، د شپے به خوب نه کوي او په عبادت کښ به شپه په ونځه تیره وي، غوښه او غوړي به نه استعمالوي، او د ښځو سره به څه تعلق نه لري. په دے باندې نبي په یوه خطبه کښ وفرمائیل چه "ما ته د دے قسم خبرو حکم نه دے شوے. ستاسو د نفس هم په تاسو حقونه دي. روژه هم نیسئ او خوراک څکاک هم کوئ، د شپے عبادت هم کوئ او وده کیږئ هم. ما ته ګورئ، زه وده کیږم

لَا تَعْتَدُوْا ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِيْنَ ﴿۸۷﴾ وَكُلُوْا مِمَّا رَزَقَكُمُ
اللّٰهُ حَلٰلًا طَيِّبًا ۪ وَّاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِيْٓ اَنْتُمْ بِهٖ مُؤْمِنُوْنَ ﴿۸۸﴾
لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللّٰهُ بِاللَّغْوِ فِيْٓ اَيْمَانِكُمْ وَلٰكِنْ يُّؤَاخِذُكُمْ

دَ حد نه زیاتے مه کوئ، [۱۰۵] زیاتی کونکی خلق دَ الله ډیر بدی شی. کوم حلال او پاک رزق چه الله تاسو له درکړے دے هغه خورئ څکئ او دَ هغے خدائے دَ نافرمانئ نه ځان ساتئ چه تاسو پر ایمان راوړے دے.

تاسو چه کوم بے مطلبه قسمونه خورئ په هغے باندِ الله تاسو نه نیسی، خو کوم قسمونه چه قصداً خورئ

هم او عبادت نه ودریږم هم - روژے هم نیسم او نه نیسم هم - غوښه هم خورم او غوړی هم. نو څوک چه زما طریقه نه خوښوی هغه زمانه نه دے؛ بیائے وَفرمائیل "دا په دے خلقو څه شوی دی چه دوئ ښځے، ښه خوراک، خوشبوئ، خوب او دَ دُنیا خوندونه په ځان حرام کړی دی؟ ما خو تاسو له دا تعلیم نه دے درکړے چه تاسو راهبان او پادریان شئ. زما په دین کښ دا نشته چه دَ ښځو نه او دَ غوښے نه ځان ساتئ او نه پکښ داشته چه دَ خلقو نه ځان له په یو کوټ کښ کینئ. دَ خپل نفس دَ قابو کولو دپاره زما سره روژه ده، دَ رهبانیت ټولے فائدے دلته په جهاد کښ حاصلیږی. دَ الله بندګی کوئ، دَ هغه سره څوک مه شریکوئ، حج او عمره کوئ، مونځ قایموئ او زکوٰة ورکوئ او دَ رمضان روژے نیسئ. ستاسو نه وړاندے چه کوم خلق هلاک شو هغه په دے وجه هلاک شو چه هغوئ په خپل ځان باندِ سختی کوله، او کله چه هغوئ په خپل ځان باندِ سختی وکړه نو الله پرهم سختی وکړه. دا صوامع (ګرجے) او خانقاګانے (درویش خانے) چه تاسو وینئ دا دَ هغوئ پاتے شوی اثرات دی؟ په دے سلسله کښ دَ ځنے روایاتو نه دا خبره تر دے پورے معلومه شوه چه دَ یو صحابی په باره کښ نبی صلی الله علیه وسلم واوریدل چه هغه دَ ډیرے مودے راسے خپلے ښځے له نه دے ورغلے او شپه او ورځ په عبادت کښ مشغول وی، نو نبیؐ راوغوښتو او حکم ئے ورته وکړو چه اوس خپلے ښځے له لاړ شه. هغه ورته اووے چه زما روژه ده. نبیؐ ورته وَفرمائیل چه روژه ماته کړه او لاړ شه. دَ حضرتِ عمر په زمانه کښ یوے ښځے شکایت وکړو چه زما خاوند دَ ورځے روژه نیسی او ټوله شپه عبادت کوی او زما سره هیڅ تعلق نه ساتی، حضرت عمرؓ مشهور تابعی بزرګ، کعبؓ بن سور الازدی دَ دے مقدمے دپاره مقرر کړو، او هغه دا فیصله وکړه چه ددے ښځے خاوند ته دَ درے شپو پورے اختیار دے چه څومره عبادت غواړی کوی دے، خو څلورمه شپه خامخا ددهٔ دَ ښځے حق دے.

[۱۰۵] "دَ حد نه زیاتے کول" ډیره لویه معنی لری. حلال څیزونه حرامول او خدائے چه کوم څیزونو ته پاک ویلی دی دَ هغے نه داسے ځان ساتل لکه دا چه ناپاکه وی، دا پخپله یو زیاتے دے. بیا دَ پاک څیزونو په استعمال کښ اسراف او زیاتے کول هم زیاتے دے. بیا دَ حلالونه حرامو ته اوریدل هم زیاتے دے. دا دریواړه خبرے دَ الله خوښے نه دی.

بِمَا عَقَّدْتُّمُ الْاَيْمَانَ ۚ فَكَفَّارَتُهٗٓ اِطْعَامُ عَشَرَةِ مَسٰكِيْنَ
مِنْ اَوْسَطِ مَا تُطْعِمُوْنَ اَهْلِيْكُمْ اَوْ كِسْوَتُهُمْ اَوْ تَحْرِيْرُ
رَقَبَةٍ ؕ فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلٰثَةِ اَيَّامٍ ؕ ذٰلِكَ كَفَّارَةُ
اَيْمَانِكُمْ اِذَا حَلَفْتُمْ ؕ وَاحْفَظُوْٓا اَيْمَانَكُمْ ؕ كَذٰلِكَ
يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ اٰيٰتِهٖ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۸۹﴾

پہ هغے بہ ضرور الله تاسو نیسی. (دَ داسے قَسم ماتولو) کفارہ دادہ چہ پہ لسو مسکینانو دَ اوسط درجے هغہ ډوډئ او خوروئ کوم چہ پہ خپل بال بچ باندِ تاسو خوروئ، یا هغوئ پہ جامہ پټ کړئ، یا یو غلام آزاد کړئ، او څوک چہ دَ دے طاقت نہ لری هغہ دِ درے ورځے روژے ونیسی. دا ستاسو دَ قَسمونو کفّارہ دہ کلہ چہ تاسو قسمونہ وَخورئ او بیائے مات کړئ.[۱۰۶] دَ خپلو قَسمونو حفاظت کوئ.[۱۰۷] دغہ شان الله ستاسو دَ پارہ خپل حکمونہ واضحہ کوی ښائیږی چہ تاسو شکر ادا کړئ.

---

[۱۰۶] ځنے خلقو حلال څیزونہ پځان باندِ حرام کړی وُو او قَسم ئے ورتہ خوړلے وُو، نو پہ دے وجہ الله تعالیٰ پہ دے سلسلہ کښ دَ قسم حکم هم بیان کړو. کہ چرے دَ چا دَ خولے نہ بے ارادے دَ قسم لفظ وتلے وی نو دَ هغے دَ پابندئ هیڅ ضرورت نشتہ، ځکہ چہ پہ داسے قَسم باندِ څہ گرفت نشتہ. او کہ چرے چا پہ ارادے سرہ قصداً قسم خوړلے وُو نو هغہ دِ خپل قسم مات کړی او کفارہ دِ ورکړی، ځکہ چہ چا دَ څہ گناہ کولو قسم خوړلے وی نو هغہ لہ پکار دی چہ پہ قسم باندِ ټینگ نشی. (وګورہ سورۃ بقرہ، حاشیہ نمبر ۲۴۳، ۲۴۴، دا رنګے دَ کفارے دَ تشریح دَ پارہ وګورہ سورۃ نساء حاشیہ نمبر ۱۲۵-)

[۱۰۷] دَ قسم دَ حفاظت کولو ډیر مطلبونہ دی. یو دا مطلب دے چہ قسم پہ صحیح ځائے کښ استعمالوئ پہ فضول خبرو او دَ گناہ پہ کارونو کښ ئے مہ استعمالوئ. دویم مطلب ئے دا دے چہ څوک یوے خبرے تہ قسم وَخوری نو بیا دِ هغہ یادہ لری، هسے نہ چہ دَ بے پروائئ دَ وجے نہ دَ دہ نہ هیرہ شی او دَ هغے خلاف ورزی وَکړی. دریم مطلب ئے دا دے چہ څوک پہ یوہ صحیح معاملہ کښ ښہ پہ ارادہ سرہ قسم وَخوری نو هغہ دِ پورہ کړی، او کہ خلاف ورزی ئے وَکړہ نو کفارہ دِ ورکړی.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْاَنْصَابُ وَالْاَزْلَامُ رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشَّيْطٰنِ فَاجْتَنِبُوْهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿۹۰﴾

اے هغه خلقو چه ایمان موراوړے دے، دا شراب او جواری او دا دربارونه او فالونه[۱۰۸]، دا ټول ګنده شیطانی کارونه دی، دَدے نه ځان ساتئ، اُمید دے چه تاسو ته به کامیابی نصیب شی[۱۰۹].

[۱۰۸] دَ دربارونو او دَ فالونو دَ تشریح دپاره وَګوره سورة مائدة حاشیه نمبر ۱۲، ۱۴. دَ جوارئ تشریح هم په حاشیه نمبر ۱۴ کښ ده. فالُونه (اَزْلام) هم دَ جوارئ (مَیْسِر) یو قسم دے. لیکن دَ دواړو په منځ کښے فرق دا دے چه په عربئ ژبه کښ اَزْلام هغه فالُونو او هغه قرعه اندازئ ته وائی چه په هغے کښ ورسره مشرکانه عقیدے او وهمونه شریک وی. او مَیْسِر هغه لوبو او کارونو ته وائی چه په هغے کښ اتفاقی او اټکلی کارونه دَ ګټے او دَ قسمت او دَ مالونو دَ تقسیمولو ذریعه وی.

[۱۰۹] په دے آیت کښ څلور څیزونه قطعی حرام کړے شوی دی. یو شراب - دویم جواری. دریم هغه ځایونه چه دَ خدائے نه بغیر دَ بل چا دَ عبادت دپاره مقرر وی او یا دَ خدائے نه بغیر دَ بل چا په نوم باندِ دَ قربانئ کولو او دَ نذر کولو دپاره مخصوص وی. څلورم فالونه. ددے روستنو دریواړو تشریح مخکښ شوی ده. دَ شرابو په حقله حکمونه لاندِ دی.

ددے نه مخکښ دَ شرابو دَ حراموالی په سلسله کښ دوه حکمونه راغلی وُو، چه دَ سورة بقره په آیت ۲۱۹ او دَ سورة نساء په آیت ۴۳ کښ تیر شوی دی. دَ دے آخری حکم دَ راتلو نه مخکښ نبی صلی الله علیه وسلم په یوه خطبه کښ خلقو ته وئیلی وُو چه شراب دَ الله تعالیٰ ډیر سخت بدی شی، ډیر زر به دَ دے دَ قطعی حراموالی حکم راشی، دَ چاسره چه شراب موجود وی هغه ډ خرڅ کړی. ددے نه لږه موده روستو دا آیت نازل شو او نبیؐ اعلان وَکړو چه اوس دَ چاسره شراب وی هغه دِ نه څکی او نه دِ خوڅوی بلکه هغه ډاړوی او ضائع دِ کړی. دَ دے خبر سره دَ مدینے په کوڅو کښ شراب واړولے شو. ځنے خلقو تپوس وَکړو چه یهودیانو له ئے په تحفه کښ ولے نه ورکوُ؟ نبیؐ وَ فرمائیل "چا چه دا څیز حرام کړے دے هغه دا په تحفه کښ ورکول هم منع کړی دی." ځنے خلقو تپوس وَکړو چه دَ شرابو نه سرکه ولے نه جوړه وُو؟ نبیؐ دَ هغے نه هم منع کړل او حکم ئے وَکړو چه "نه، دا واړوئ." یو صاحب بیا بیا تپوس کوُ چه دَ دوا په طور دَ استعمالولو خو اجازت دے؟ نبیؐ وَ فرمائیل چه "نه، دا دوائی نه ده، بلکه بیماری ده." یو بل صاحب عرض وَکړو چه اے رسول الله زمونږه علاقه ډیره یخه ده او مونږه محنت هم ډیر کوُ. مونږ په شرابو ستړے والے لرے کوُ او دَ یخنئ مقابله پرِ کوُ. نبیؐ تر تپوس وَکړو کوم څیز چه تاسو څکئ هغه نشه راولی؟ هغوئ او وے او. نبیؐ وَ فرمائیل دَ هغے نه ځان ساتئ. هغوئ عرض وَکړو چه زمونږ دَ علاقے خلق خو به ئے وَ نه منی. نبیؐ وَ فرمائیل "که هغوئ وَ نه منله نو جنګ ورسره وَکړئ."

دَ ابن عمرؓ نه روایت دے چه نبیؐ وَ فرمائیل لعن الله الخمر و شاربها و ساقیها و بائعها و مبتاعها

و عاصرها و معتصرها و حاملها والمحمولة الیه۔" لعنت وئیلے دے الله تعالیٰ په شرابو[1] باندِ او دَ شرابو[2] په څکونکی باندِ او په څکوونکی[3] باندِ او په خرڅونکی[4] باندِ او په اغستونکی[5] باندِ او دَ شرابو[6] په نچوړونکی باندِ او چه څوک ئے په چا نچوړه وی په هغه باندِ او دَ شرابو[8] په وړونکی باندِ او په هغه سړی[9] باندِ چه دَ چا دَپاره وړے کیږی۔

په یو بل حدیث کښ دی چه نبی صلی الله علیه وسلم په هغے دسترخوان باندِ دَ دوډئ خوړلو نه منع کړی ده چه په هغے کښ شراب څکلے کیږی۔ په اول کښ خو نبی صلی الله علیه وسلم دَ شرابو دَ لوخو دَ استعمالولو نه منع کړی وه خو روستو چه کله دَ شرابو دَ حرامولی حکم بنهٔ جاری شو نو بیا دا پابندی ختمه کړے شوه۔

دخمر لفظ په عربو کښ دَ انګورو دَ شراب دَپاره استعمالیدو، او هسے به دَ غنمو، دَ وربشو، دَ دَ سکو، دَ کجورو او دَ شهدو شرابو ته هم دا لفظ وئیلے کیدو، خو نبی صلی الله علیه وسلم دَ حرامولی دا حکم په هغے ټولو څیزونو باندِ وَلږ وُو چه نشه راوستونکی وُو۔ په حدیث کښ دا الفاظ دی چه کل مسکر خمر و کل مسکر حرام۔" هر نشه راوستونکے څیز خمر دے او هر نشه راوستونکے څیز حرام دے۔" کل شراب اسکر فهو حرام۔" دَ څکلو هر هغه څیز چه نشه راولی حرام دے۔" و انا انهی عن کل مسکر۔" او زهٔ دَ هر نشه راوستونکی څیز نه منع کوم۔" حضرت عمرؓ دَ جمعے په خطبه کښ دَ شرابو دا تعریف بیان کړے وُو چه الخمر ما خامر العقل۔" دَ خمر نه مراد هر هغه څیز دے چه هغه عقل پټ کړی۔"

دا نګے نبی صلی الله علیه وسلم دا اصول هم بیان کړی دی چه ما اسکر کثیره فقلیله حرام۔ "دَ کوم څیز چه ډیر مقدار نشه راولی دَ هغے لږ مقدار هم حرام دے۔" اَوْ ما اسکر الفرق منه فملء الکف منه حرام۔" دَ کوم څیز چه پوره قرابه (صُراحی) نشه راولی دَ هغے یو کوټ څکل هم حرام دی۔"

دَ نبی صلی الله علیه وسلم په زمانه کښ دَ شراب خورد پاره څه سزا مقرر نهٔ وه۔ کوم سړے چه به په دے جُرم کښ وَنیولے شو هغه به دَ څپلو، لَنو، مُکو، دَ تاؤ کړی څادر په ډبلئ او دَ کجورو په لاټو باندِ وهلے کیدو۔ دَ نبیؐ په زمانه کښ په دے جُرم باندِ زیات نه زیات څلویښت ګذارو نه په مُجرمانو لګولے شوی دی۔ دَ حضرت ابوبکرؓ په زمانه کښ به څلویښت کوړے وے۔ دَ حضرت عمرؓ په زمانه کښ هم په اول کښ څلویښت کوړے سزا وه۔ خو چه کله هغه وَکتل چه خلق د دے جُرم نه نهٔ منع کیږی نو هغه دَ صحابه کرامو په مشوره باندِ اتیا کوړے سزا مقرر کړه۔ هم دا سزا امام مالکؒ او امام ابوحنیفهؒ او دَ یو روایت مطابق امام شافعیؒ هم، دَ شرابو حد ګرزولے دے۔ خو امام احمدؒ بن حنبل او دَ یو بل روایت مطابق امام شافعیؒ دَ څلویښتو کوړو قائل دی۔ او حضرت علیؓ

اِنَّمَا يُرِيْدُ الشَّيْطٰنُ اَنْ يُّوْقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَآءَ
فِي الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ وَيَصُدَّكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ وَعَنِ الصَّلٰوةِ ۚ فَهَلْ
اَنْتُمْ مُّنْتَهُوْنَ ﴿۹۱﴾ وَاَطِيْعُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ وَاحْذَرُوْا ۚ
فَاِنْ تَوَلَّيْتُمْ فَاعْلَمُوْٓا اَنَّمَا عَلٰى رَسُوْلِنَا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿۹۲﴾
لَيْسَ عَلَى الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ جُنَاحٌ فِيْمَا طَعِمُوْٓا
اِذَا مَا اتَّقَوْا وَّاٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ثُمَّ اتَّقَوْا وَّاٰمَنُوْا
ثُمَّ اتَّقَوْا وَّاَحْسَنُوْا ؕ وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۹۳﴾ ع
يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَيَبْلُوَنَّكُمُ اللّٰهُ بِشَيْءٍ مِّنَ الصَّيْدِ

شیطان خو دا غواړي چه دَ شرابو او دَ جوارئ په ذریعه ستاسو په منځ کښ دُشمنی او بغض واچوی او تاسو دَ خدائے دَ ذکر او دَ مانځه نه منع کړی. نو آیا تاسو به دَ دے څیزونو نه منع شئ؟ دَ الله او دَ هغهٔ دَ رسول خبره وَمنئ او منع شئ، لیکن که تاسو دَ حکم نه مخ واړ وُو نو پوهه شئ چه زمونږه په رسول باندِ صرف دَ صفا صفا حکم رسولو ذمه واری وه.

کومو خلقو چه ایمان راوړو او نیک عمل ئے شروع کړو نو هغوئ چه مخکښ څه خوړلی څکلی وُو په هغے باندِ به هیڅ گرفت نهٔ وی خو په دے شرط چه آئینده دَ هغے څیزونو نه ځان وُساتی کوم چه حرام کړے شوی دی او په ایمان باندِ ټینګ پاتی شی او نیک کارونه کوی، بیا چه دَ کوم کوم څیز نه دوئ منع کړے شی دَ هغے نه منع شی او دَ الله چه څه فرمان وی هغه وَمنی، بیا دَ خدائے دَ یرے سره نیکه لار اختیار کړی. الله نیک عمله خلق خوښوی ع

اے هغه خلقو چه ایمان مو راوړے دے، الله به تاسو دَ هغے ښکار په ذریعه په سخت آزمیښت کښ اچوی

رضی الله عنهم دا سزا خوښه کړی وه.

دَ شریعت ترمخه دا خبره دَ حکومتِ اسلامی په فرائضو کښ شامله ده چه دَ شرابو دَ بند ولو دَ پاره دِ دا حکم په زُور باندِ جاری کړی. دَ حضرت عمرؓ په زمانه کښ دَ بنی ثقیف قبیلے دُرَویشد نومے سړی دوکان په دے وجه سوزولے شوے وُو چه هغه به پټ پټ شراب خرڅول. او په یوه بله موقع باندِ پوره یو کلے دَ حضرت عمرؓ بسکم په دے وجه وُسوزولے شو چه هلته به په پټه شراب جوړیدل او خرڅیدل به.

تَنَالُهٗٓ اَيْدِيْكُمْ وَرِمَاحُكُمْ لِيَعْلَمَ اللّٰهُ مَنْ يَّخَافُهٗ بِالْغَيْبِ ۚ
فَمَنِ اعْتَدٰى بَعْدَ ذٰلِكَ فَلَهٗ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٩٤﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا
لَا تَقْتُلُوا الصَّيْدَ وَاَنْتُمْ حُرُمٌ ۭ وَمَنْ قَتَلَهٗ مِنْكُمْ مُّتَعَمِّدًا
فَجَزَاۗءٌ مِّثْلُ مَا قَتَلَ مِنَ النَّعَمِ يَحْكُمُ بِهٖ ذَوَا عَدْلٍ مِّنْكُمْ هَدْيًۢا
بٰلِغَ الْكَعْبَةِ اَوْ كَفَّارَةٌ طَعَامُ مَسٰكِيْنَ اَوْ عَدْلُ ذٰلِكَ صِيَامًا
لِّيَذُوْقَ وَبَالَ اَمْرِهٖ ۭ عَفَا اللّٰهُ عَمَّا سَلَفَ ۭ وَمَنْ عَادَ

چہ بالکل ستاسو لاسونہ او نیزے بہ ورتہ رسی، د دے معلومولو د پارہ چہ پہ تاسو کښ څوک د هغہ نہ غائبانہ یرہ لری، بیا چہ څوک دے خبرداری نہ روستو د الله د مقرر کړے شوی حد ونہ واوړی د نو د هغہ د پارہ دردناکہ سزا دہ ۔ اے خلقو چہ ایمان مو راوړے دے، د احرام پہ حالت کښ بنکار مہ ولئ[1] او کہ چرے پہ تاسو کښ چا قصداً دا کار وکړو نو کوم حنا ورچہ هغہ وژلے وی د هغے برابر یو حنا ور بہ د څارو نہ نذر کوی، چہ فیصلہ بہ ئے پہ تاسو کښ دوہ عادلان سړی کوی، او دا نذرانہ بہ کعبے تہ رسولے کیږی، یا کہ دا نہ وی نو د دے گناہ پہ کفارہ کښ بہ پہ یو څو مسکینانو باندے د وړی خوراک ورکول وی، یا بہ د هغے پہ اندازہ روژے نیول وی[2] دا څکہ چہ د خپل عمل مزہ وڅکی ۔ هغہ چہ څہ شوی دی هغہ الله معاف کړل ۔ لیکن او س کہ چرے چا دا حرکت دوبارہ وکړو

[1] بنکار کہ سړے پخپلہ وکړی، یا د بل چا سرہ پہ بنکار کښ پہ څہ طریقہ امداد وکړی، د دارہ کار دنہ د احرام پہ حالت کښے منع دی ۔ کہ چرے د احرام والا سړی لہ بل چا بنکار ویشتلے وی نو بیا هم د هغے خوراک د احرام والا سړی د پارہ جائز نہ دی ۔ البتہ کہ چرے یو سړی د خپل ځان د پارہ بنکار کړے وی او بیا د هغے نہ د احرام والا سړی لہ د تحفے پہ طور څہ ورکړی نو د هغے خوراک ورلہ جائز دے ۔ پہ دے عام حکم کښ ضرر رسونکی حنا ور شامل نہ دی ۔ مار، لړم، لیونے سپے او نور داسے حنا ور چہ انسان تہ نقصان رسونکی وی، د احرام پہ حالت کښ د هغے وژل جائز دی ۔

[2] دا فیصلہ بہ هم دوہ عادلان سړی کوی چہ د کوم حنا ور پہ وژلو باندے بہ سړے څومرہ مسکینانو تہ وړی ورکوی، یا بہ څومرہ روژے نیسی ۔

فَيَنْتَقِمُ اللّٰهُ مِنْهُ ؕ وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ ذُو انْتِقَامٍ ﴿۹۵﴾ اُحِلَّ لَكُمْ صَيْدُ الْبَحْرِ
وَطَعَامُهٗ مَتَاعًا لَّكُمْ وَلِلسَّيَّارَةِ ۚ وَحُرِّمَ عَلَيْكُمْ صَيْدُ الْبَرِّ مَا دُمْتُمْ
حُرُمًا ؕ وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِيْٓ اِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿۹۶﴾ جَعَلَ اللّٰهُ الْكَعْبَةَ
الْبَيْتَ الْحَرَامَ قِيٰمًا لِّلنَّاسِ وَالشَّهْرَ الْحَرَامَ وَالْهَدْيَ وَالْقَلَآئِدَ ؕ
ذٰلِكَ لِتَعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ

نو دَ هغه نه به الله بدله اخلی، الله په ټولو باندِ غالب دے او دَ بدلے اغستلو طاقت لری.
ستاسو دَ پاره دَ سمندر ښکار او دَ هغے خوړل حلال کړے شو[112]، کوم ځائے کښ چه تاسو وَدریږئ
هلته هم دا خوړے شئ او دَ قافلے دَ پاره تر دَ لارے توښه هم جوړولے شئ. البته دَ وچے ښکار په
تاسو باندِ حرام کړے شوے دے تر څو چه تاسو دَ احرام په حالت کښ یئ. نو دَ هغے خدائے دَ نافرمانئ نه
ځان ساتئ چه دَ هغه مخے ته به تاسو ټول ګیر کړی حاضر کړے شئ.
الله تعالیٰ کعبه، چه محترم مکان دے، دَ خلقو دَ پاره (دَ اجتماعی ژوند) دَ قیام ذریعه جوړه کړه،
او دَ حرم میاشت او دَ قربانئ څاروی او پټئ ئے هم (په دے کار کښ دَ امداد دَ پاره[113] شامل کړل)
دا ځکه چه تاسو ته معلومه شی چه الله تعالیٰ دَ آسمانونو او دَ زمکے دَ ټولو حالاتو نه خبر دے

[112] ډیر ځله داسے وُشی چه دَ سمندر په سفر کښ دَ لارے توښه خلاصه شی او دَ خوراک دپاره دَ سمندر دَ ځناورو نه بغیر بل څه ممکن نه وی نو دے وجے نه سمندری ښکار حلال کړے شو.

[113] په عربو کښ کعبه یوازے دَ عبادت یو پاک ځائے نه وُو بلکه دا یو داسے مقدس او مرکزی ځائے وُو چه دَ دے په وجه دَ ټول ملک مالی حالت هم ښه وُو او دَ خلقو ژوند هم په آرام تیریدو. دَ حج او دَ عمرے دپاره به دَ ملک دَ هر طرف نه خلق کعبے ته راتلل او په یو ځائے کښ به راجمع کیدل او دَ دے په وجه به دَ عربو په خور وُور قوم کښ اتحاد راپیدا شو، دَ شاعرانو مقابلے به کیدلے او دَ دے په وجه به عربئ ژبے نوره هم ترقی کوله، دَ یو بل سره به تجارت کیدو چه دَ هغے په وجه به دَ ملک مالی حالت بهتر شو، په عزتمنو میاشتو کښ به دَ عربو مسافرانو ته امن نصیب شو. په ټول کال کښ دا یو وخت داسے وُو چه دَ عربو قافلے به دَ ملک دَ یو سر نه دَ بل سره پورے په آسانه تلے راتلے شوے. دَ قربانئ دَ څاروُو او دَ هغوئ په غاړو کښ دَ پټو په وجه به په تلو راتلو کښ نوره هم آسانتیا شوه، ځکه چه کله به عربیانو دَ څاروُو په غاړو کښ دَ نذر پټئ وُلیدلے نو دَ هغوئ به ئے ډیر احترام کولو او یوے قبیلے به هم په هغے باندِ دَ حملے کولو جرأت نه کوؤ.

وَاَنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿٩٧﴾ اِعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ
الْعِقَابِ وَاَنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٩٨﴾ مَا عَلَى الرَّسُوْلِ اِلَّا الْبَلٰغُ ؕ
وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تُبْدُوْنَ وَمَا تَكْتُمُوْنَ ﴿٩٩﴾ قُلْ لَّا يَسْتَوِي
الْخَبِيْثُ وَالطَّيِّبُ وَلَوْ اَعْجَبَكَ كَثْرَةُ الْخَبِيْثِ ۚ فَاتَّقُوا

او هغه تہ ډهر څیز علم دے[۱۱۴]۔ خبردار شئ چه الله په سزا ورکولو کښ هم سخت دے او دے سره د یر معاف کونکے او رحم کونکے هم دے۔ په رسول باندې خو صرف د پیغام رسولو ذمه واری ده، او رانډې ستاسو بنکاره او پټ حالات الله ته معلوم دی۔ اے پیغمبره! دوئ ته اووایه چه پاک او ناپاک یو برابر نۀ دی[۱۱۵] اګر که د ناپاکو څیز دنو د یر والے هر څومره ستا زړۀ له خوشحالی درولی، نو اے د عقل خاوندانو

[۱۱۴] یعنی که تاسو په دے انتظام باندې غور وکړو نو تاته به پخپله ډډے ملک پرځوند او په مالی حالت کښ ډډے خبرے پته ولږی چه الله تعالیٰ د خپل مخلوق د ګټې دے او د مخلوق ضرورتونو څومره مکمل او ژور علم لری او بیا د یو یو حکم په ذریعه د ژوند څومره څومره د یرو ګټو ګوته ګټه رسوی. ډیر امنی او په سوو نو کلونه چه د محمدؐ عربی د راتلونه مخکښ تیر شوی دی، په دے کښ تاسو د خپلو ګټو او نه ګټه خبره وئ او پخپله تباهئ پسے لګیدلی وئ، خو الله تعالیٰ ته ستاسو د ضرورتونو علم ؤ او هغه صرف د کتنے نه یو مرکز جوړ کړو او ستاسو د پاره ئے دا سے انتظام وکړو چه د هغے په وجه ستاسو قومی ژوند پخپلو پاتے شو. چه نوره تهولے خبرے پریږدئ او صرف په دے یوه خبره غور وکړئ نو ستاسو به یقین راشی چه د الله د حکمونو په پابندئ کښ ستاسو څومره خیر دے او په دے حکمونو کښ هغه ګټے ستاسو د پاره پټے پرتے دی چه نۀ پرې تاسو پخپله پوهیږئ او نۀ هغه پخپلو تدبیرونو سره پوره کولے شئ۔

[۱۱۵] دا آیت د قدر و قیمت یو بل قسم معیار پیش کوی چه په ظاهره د انسان د معیار نه بالکل مختلف دے. په ظاهره چه کوم نوټ سل روپئ د پنځو روپو په مقابله کښ زیاته دی ځکه چه هغه سل دی او دا پنځه۔ لیکن په دے آیت کښ د ارشاد دے چه سل روپئ کړے په ناجائزه حاصلے کړی وی نو هغه ناپاک دی او پنځه روپئ کړے په جائزه کمائی وی هغه پاکے دی، او ناپاک که هر څومره زیات وی خو د پاکو برابر کیدے په هیڅ شان نشی۔ د کنډکئ د یرې نه د عطر یو څاڅکے زیات قدر لری او د متیازو د یو ډک خانک په مقابله کښ د پاکو او بو یوه لپه زیات وزن لری۔ نو په دے وجه پکار دی چه یو هوښیار انسان په حلالو باندې صبر وکړی اګرکه په ظاهره هغه حلال لږ وی او په قدرلوی، او د غه شان پکار دی چه

اللّٰهَ يٰٓاُولِي الْاَلْبَابِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿۱۰۰﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا
لَا تَسْـَٔلُوْا عَنْ اَشْيَآءَ اِنْ تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ ۚ وَاِنْ تَسْـَٔلُوْا عَنْهَا
حِيْنَ يُنَزَّلُ الْقُرْاٰنُ تُبْدَ لَكُمْ ؕ عَفَا اللّٰهُ عَنْهَا ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ حَلِيْمٌ ﴿۱۰۱﴾

دَ اللهَ دَ نافرمانئ نه ځان ساتئ، اُمید دے چه ستاسو به کامیابی نصیب شي ع

اے هغه خلقو چه ایمان مو راوړے دے، د داسے خبرو تپوس مه کوئ چه که هغه درته ظاهرے کړے شي نو بیا به موخو ښے نه وي[۱۱۶]، لیکن که تاسو دَ هغے په داسے وخت کښ تپوس وکړو چه کله قرآن نازلیږي نو هغه به درته ضرور څرګند ولے کیږي. دَ او سه پورے چه تاسو څه کړي دي هغه درته الله معاف کړل هغه معاف کونکے او بُرد بارہ دے۔

حرامو ته په هیڅ حال کښ لاس نه کړئ اګرکه په ظاهره هغه هرڅو مره ډیر او شاندار وي۔

[۱۱۶] ځنے خلقو به دَ نبي صلی الله علیه وسلم نه عجیبه عجیبه فضول سوالونه تپوسل چه نه به ئے دَ دین په څه معامله کښ ضرورت وُو او نه به ئے دَ دُنیا په څه معامله کښ ضرورت وُو۔ مثلاً یو ځلے یو سړي په ډک مجلس کښ دَ نبيؐ نه دا تپوس وکړو چه "زما اصلي پلار څوک دے؟" او دغه شان ځنے خلقو به دَ شرعي حکمونو په باره کښ غیر ضروري تپوسونه کول او خامخا به ئے په تپوسونو تپوسونو خبره داسے ځائے له ور ورسوله چه هغه به په شریعت کښ دَ څه مصلحت دَ وجے نه نه وه مقرر کړے شوي. مثلاً په قرآن کښ دا حکم شوے وُو چه حج په تاسو باندِ فرض کړے شوے دے. یو صاحب چه دا حکم واوریدو نو دَ نبي صلی الله علیه وسلم نه ئے تپوس وکړو چه "آیا هر کال فرض کړے شوے دے؟" هغویؐ جواب ورنه کړو. هغه بیا تپوس وکړو. هغویؐ بیا خاموش پاتے شو. چه په دریم ځل تپوس ئے وکړو نو هغویؐ وَ فرمائیل "تالره افسوس دے. که زما دَ خولے نه "اَو" وَځي نو حج به هر کال فرض شي. بیا به پرِ تاسو عمل نشئ کولے. او نافرمانی به شروع کړئ." دَ داسے بے مطلبه او غیر ضروري تپوسونو کولو نه په دے آیت کښ منع شوي ده۔

نبي صلی الله علیه وسلم به پخپله هم خلق دَ ډیرو تپوسونو کولو نه او خامخا دَ هرے خبرے دَ لټون کولو نه منع کول. په حدیث کښ دي ان اعظم المسلمین فی المسلمین جرما من سئل عن شیئ لم یحرم علی الناس فحرم من اجل مسألته." دَ مسلمانانو په حق کښ دَ ټولو نه لوئ مُجرم هغه سړے دے چه هغه دَ داسے څیز په باره کښ تپوس وکړو چه په خلقو باندِ حرام نه وُو خو صرف ددهٔ دَ تپوس په وجه هغه څیز حرام کړے شو." په یو بل حدیث کښ دي ان الله فرض فرائض فلا تضیعوها وحرم حرمات فلا تنتهکوها وحدّ حدودا فلا تعتدوها وسکت عن اشیاء من غیر نسیان فلا تبحثوا عنها." الله څه فرائض په تاسو مقرر کړي دي، هغه مه ضائع کوئ. څه څیزونه ئے حرام کړي دي هغے ته نزدے هم مه ورځئ. څه حدونه ئے مقرر کړي دي دَ هغے نه مه اړوئ. او دَ څه څیزونو په باره کښ ئے خاموشي اختیار کړي ده دا نه چه هیر شوي دي تر، نو

قَدْ سَاَلَهَا قَوْمٌ مِّنْ قَبْلِكُمْ ثُمَّ اَصْبَحُوْا بِهَا كٰفِرِيْنَ ﴿۱۰۲﴾ مَا جَعَلَ اللّٰهُ مِنْۢ بَحِيْرَةٍ وَّلَا سَآئِبَةٍ وَّلَا وَصِيْلَةٍ وَّلَا حَامٍ ۙ وَّلٰكِنَّ

ستا سونه مخکښ یوے ډلے ددے قسمه تپوسونه کړی وُو، بیا هغوئ دَ دغے خبرو په وجه په کفر کښ مبتلا شو۔[۱۱۷]

الله نه څه بحیره مقرر کړی ده نه سائبه او نه وصیله او نه حام۔[۱۱۸] خو

دَ هغے لټون مه کوئ" په دے دواړو حدیثونو کښ یو لوئ حقیقت طرفته اشاره شوی ده. کومے خبرے چه الله مجملے بیان کړی دی او دَ هغے تفصیل ئے نه دے ښودلے، او یا کوم حکمونه چه ئے لنډ بیان کړی دی او په هغے کښ ئے څه مقدار یا تعداد یا نوره مقرر تیا نه ده کړے، نو دَ هغے دا وجه نه ده چه ګنی دَ هغه نه هیر شوی دی، تفصیل ښودل پکار وُو خو وے نه ښودهٔ، بلکه ددے اصل وجه دا ده چه هغه دا نه غواړی چه دَ دے خبرو تفصیلات دِ محدود شی هغه په دے حکمونو کښ دَ خلقو د پاره فراخی ساتل غواړی او س چه یو سړے خامخا تپوسونه کوی او خبره یو خاص ځائے ته دَ رسولو کوشش کوی، او که دَ الله او دَ رسولؐ دَ کلام نه یوه خبره په هیڅ طریقه نه راوځی او دے په قیاس او دَ استنباط په ذریعے سره دَ مجمل نه مفصل، دَ مطلق نه مقید او دَ غیر معین نه معین جوړه وی، نو په حقیقت کښ دا سړے مسلمانان په لویه خطره کښ اچوی. دا ځکه چه کومے خبرے دَ انسان دَ عقل نه پورته دی په هغے کښ چه څومره زیاتے خبرے کوے نو هغومره به زیات پریشانه کیږے، او په حکمونو کښ چه څومره زیات بندیزونه وی نو هغومره دَ خلاف ورزئ زیات امکانات وی۔

[۱۱۷] یعنی اول هغوئ پخپله په عقیدو او حکمونو کښ باریکی لټول شروع کړل او دَ یو یو څیز په باره کښ ئے په تپوسونو تپوسونو دَ بندیزونو یو جال ځان له تیار کړو، بیا په خپله په هغے کښ و لختل او په غلطو عقیدو او بدعملونو کښ مبتلا شو ——— ددے ډلے نه مُراد یهودیان دی، قرآن او محمد صلی الله علیه وسلم ټول مسلمانان خبردار کړی دی چه ددے خلقو په نقش قدم باندِ مه ځئ، خو سره ددے مسلمانانو دَ یهودو په پیروئ کښ څه کمے نه دے پریښودلے۔

[۱۱۸] لکه څنګه چه زموږ په ملک کښ غوا، غوئے او چیلئ دَ خدائے په نوم یا دَ یو بُت یا دَ قبر یا دَ دیوتا یا دَ یو پیر په نوم پریښودلے کیږی، او دَ هغے نه خدمت اغستل یا هغه ذبح کول یا دَ هغے نه څه فائده اغستل حرام ګڼلے کیږی، هم دغه شان دَ جاهلیت په زمانه کښ به عربیانو په مختلفو طریقو ځناور صدقه کړل او بیا به ئے پریښودل او ځان له ځان له نومونه به ئے ورله کیښودل۔

بحیره هغے اُوښے ته وائی چه پنځه ځی ئے راوړی وی او په آخره کښ ئے نر بچے شوے وی۔ نو دَ هغے غوږ به ئے څیرے کړو او آزاده به ئے پریښودله۔ بیا به پر نه څوک سوریدل، نه به دَ

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يَفْتَرُوْنَ عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ ؕ وَاَكْثَرُهُمْ
لَا يَعْقِلُوْنَ ﴿۱۰۳﴾ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ تَعَالَوْا اِلٰى مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ وَ
اِلَى الرَّسُوْلِ قَالُوْا حَسْبُنَا مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ اٰبَآءَنَا ؕ اَوَلَوْ
كَانَ اٰبَآؤُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ شَيْئًا وَّلَا يَهْتَدُوْنَ ﴿۱۰۴﴾

دا کافران په الله باندِ دَ دروغو تهمت لګوی او په دوئ کښ اکثر بے عقله دی (چه دا سے وهمیّات مَنی) ۔ او هر کله چه ورته اُوو ییلے شی چه راشئ دے قانون ته کوم چه الله نازل کړے دے او دَ پیغمبرؐ طرفته راشئ نو په جواب کښ وائی چه زمونږ دَ پاره خو بس هغه طریقه کافی ده چه په کومه باندِ مونږ خپل پلار نیکونه موندلی دی۔ آیا دوئ به په پلار نیکۀ پسے ځی اګر که هغوئ په هیڅ نۀ پوهیدل او دَ صحیح لارے نه هډو خبر نۀ وُو؟

هغے پئ چا څکل، نۀ به چا ذبح کوله او نۀ به ترچا وَړئ څکولوله۔ دَ هغے به خوښه وه چه په کوم پټی او باغ کښ به څرید له او چه دَ کوم ګودر نه به ئے اُوبۀ څکلے۔

سائبه هغه اُوښ یا اُوښے ته وائی چه هغه به دَ څه مُراد په پوره کید و باندِ یا به دَ څه بیماری نه په شفا موندلو باندِ یا به دَ څه خطرے نه په بچ کید و باندِ دَ شکرانے په طور خیرات کړے شوه۔ دغه رنګے چه دَ کومے اُوښے به لس ښځے بچئ پیدا شوے نو هغه به ئے هم آزاده پریښودله۔

وصیله۔ که دَ چیلئ به اولنے نر بچے پیدا شو نو هغه به ئے دَ خدایانو په نوم ذبحه کوؤ۔ او که په اول ځل به ښځه بچئ پیدا شوه نو هغه به ئے ځان له پریښوده۔ لیکن که نر او ښځه به دواړه یو ځائے پیدا شو نو بیا به ئے نر دَ ذبح کولو پځائے باندِ هم دغسے دَ خدایانو په نوم آزاد پریښودو او دَ هغه نوم به وصیله وُو۔

حام۔ که دَ یو اُوښ نوسے به دَ سورلئ کولو قابل شو نو دغه بوډا اُوښ به ئے آزاد پریښودو۔ دغه رنګے چه دَ کوم اُوښ دَ نطفے نه به لس بچی پیدا شو نو هغه به ئے هم آزاد پریښودو۔

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا عَلَيْكُمْ اَنْفُسَكُمْ ۚ لَا يَضُرُّكُمْ مَّنْ ضَلَّ
اِذَا اهْتَدَيْتُمْ ؕ اِلَى اللّٰهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيْعًا فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ
تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۰۵﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا شَهَادَةُ بَيْنِكُمْ اِذَا حَضَرَ اَحَدَكُمُ
الْمَوْتُ حِيْنَ الْوَصِيَّةِ اثْنٰنِ ذَوَا عَدْلٍ مِّنْكُمْ اَوْ اٰخَرٰنِ مِنْ
غَيْرِكُمْ اِنْ اَنْتُمْ ضَرَبْتُمْ فِي الْاَرْضِ فَاَصَابَتْكُمْ مُّصِيْبَةُ

اے هغه خلقو چه ایمان مو راوړے دے، دَ خپل ځان فکر کوئ، چه تاسو پخپله په نیغه لار باندې یئ نو دَ بل دَ ګمراهئ نه تاسو ته هیڅ نقصان نه رسی، [۱۱۹] ستاسو دَ ټولو تګ الله طرفته دے، بیا هغه به درته وښائ چه تاسو څه څه کول.

اے هغه خلقو چه ایمان مو راوړے دے، هر کله چه په تاسو کښې دَ چا دَ مرګ وخت راشی او هغه وصیت کوی نو دے دَ پاره دَ شهادت نصاب دا دے چه ستاسو دَ ډلے نه دِ دوه تنه عادلان [۱۲۰] سړی ګواهان مقرر کړے شی، یا که چرے تاسو دَ سفر په حالت کښې یئ او هلته درته دَ مرګ مصیبت پیښ شی نو دَ غیر مسلمو نه دِ دوه تنه

[۱۱۹] یعنی پځائے ددے چه سړے هر وختے دِ ے ته ګوری چه فلانے څه کوی او دَ فلانی په عقیده کښې څه خرابی ده او دَ فلانی په عمل کښې څه کمے دے، هغه له دا پکار دی چه دا ګوری چه دے پخپله څه کوی. هغه له دا فکر کول پکار دی چه چرته ددهٔ خپل خیالات، خپل اخلاق او خپل اعمال خراب خو نه دی. چه سړے مخنیا دَ خدائے حکمونه منی، دَ خدائے دَ مخلوق چه کوم حقونه په دهٔ باندې راځی هغه ادا کوی، او دَ صحیح ژوند تیرولو کوشش کوی چه پکښې امر بالمعروف او نهی عن المنکر هم شامل دی، نو یقیناً چه دَ بل چا دَ ګمراهئ نه دهٔ ته هیڅ نقصان نشی رسیدے.

دَ دے آیت دا مطلب هرګز نهٔ دے چه سړے دِ بس دَ خپلے کامیابئ فکر کوی او دَ بل چا دَ اصلاح فکر دِ نهٔ کوی. حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه په خپله یوه خطبه کښې دا غلطی دُرسته کړی ده او فرمائی چه "اے خلقو، تاسو دا آیت لولئ او دَ دے غلطه معنی کوئ. ما دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دا اوریدلی دی چه فرمائیل ئے چه هر کله دَ خلقو دا حال شی چه هغوئ بدی وینی او دَ هغے دَ لرے کولو کوشش نهٔ کوی، ظالم وینی چه ظلم کوی او منع کوی ئے نهٔ، نو دا خبره څه لرے نهٔ ده چه خدائے په ټولو عذاب راولی په خدائے مې دِ قسم وی چه په تاسو باندې لازم ده چه دَ نیکئ حکم کوئ او دَ بدئ نه خلق منع کوئ، کنئ نو الله به په تاسو باندې داسے خلق مُسلّط کړی چه په تاسو کښې به دَ ټولو نه زیات خراب خلق وی او هغوئ به تاسو ته سخت تکلیفونه دررسوی، بیا به ستاسو نیکان خلق دَ خدائے نه دُعا ګانے غواړی خو قبلیږی به نهٔ.

الْمَوْتِ ؕ تَحْبِسُوْنَهُمَا مِنْۢ بَعْدِ الصَّلٰوةِ فَيُقْسِمٰنِ بِاللّٰهِ اِنِ ارْتَبْتُمْ
لَا نَشْتَرِيْ بِهٖ ثَمَنًا وَّلَوْ كَانَ ذَا قُرْبٰى ۙ وَلَا نَكْتُمُ شَهَادَةَ ۙ اللّٰهِ
اِنَّاۤ اِذًا لَّمِنَ الْاٰثِمِيْنَ ﴿۱۰۶﴾ فَاِنْ عُثِرَ عَلٰۤى اَنَّهُمَا اسْتَحَقَّاۤ اِثْمًا
فَاٰخَرٰنِ يَقُوْمٰنِ مَقَامَهُمَا مِنَ الَّذِيْنَ اسْتَحَقَّ عَلَيْهِمُ
الْاَوْلَيٰنِ فَيُقْسِمٰنِ بِاللّٰهِ لَشَهَادَتُنَاۤ اَحَقُّ مِنْ شَهَادَتِهِمَا
وَمَا اعْتَدَيْنَا ۖ اِنَّاۤ اِذًا لَّمِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۰۷﴾ ذٰلِكَ اَدْنٰۤى

ګواهان[۱۲۱] واغستے شي. بیا موکه څه شک راشي نو دَ مانځه نه روستو دِ دواړه ګواهان (په جومات کښ) حصار کړے شي او هغوئ دِ په خدائے قسم وُخوري او وُ دِ وائي چه "مونږه دَ خپلے فائدے دَ پاره ګواهي نهٔ خرڅوو اګرچه زمونږه څوک رشته دار وي (خو مونږه دَ هغوی رعایت نهٔ کوو)، او نهٔ مونږه دَ هغے ګواهئ پټوونکي یُو چه هغه دَ خدائے دَ پاره وي، که مونږه داسے وُکړه نو په ګنهګارانو کښ به شمار شو" لیکن که دا پته وُلږي چه دے دواړو په ګناه کښ ځان را وستلے دے نو بیا دِ دَ دوئ پځائے دوه نور سړي، چه دَ دوئ په نسبت دَ ګواهئ دَ پاره زیات مناسب وي، دَ هغے خلقونه ودریږي چه دَ چا حق وهلے شوے وي، او هغوئ دِ په خدائے قسم وُخوري او وُ دِ وائي چه "زمونږه شهادت دَ هغوئ دَ شهادت نه زیات په حقه دے او مونږه پخپله ګواهئ کښ هیڅ زیاتے نهٔ دے کړے، او که مونږه داسے وُکړه نو ظالمان به یُو" په دے طریقے سره زیات امید کیدے شي

[۱۲۰] یعنی دیندار، رښتینے او با اعتماده مسلمانان۔

[۱۲۱] ددے نه معلومه شوه چه دَ مسلمانانو په معاملو کښ صرف په هغے حالت کښ غیر مسلمه خلق ګواهان ښول دُرست دي کله چه مسلمان دَ ګواهئ دَ پاره موجود نهٔ وي۔

اَنْ يَّاْتُوْا بِالشَّهَادَةِ عَلٰى وَجْهِهَآ اَوْ يَخَافُوْٓا اَنْ تُرَدَّ اَيْمَانٌۢ
بَعْدَ اَيْمَانِهِمْ ؕ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاسْمَعُوْا ؕ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ
الْفٰسِقِيْنَ ﴿۱۰۸﴾ ع يَوْمَ يَجْمَعُ اللّٰهُ الرُّسُلَ فَيَقُوْلُ مَاذَآ اُجِبْتُمْ ؕ
قَالُوْا لَا عِلْمَ لَنَا ؕ اِنَّكَ اَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ ﴿۱۰۹﴾ اِذْ قَالَ اللّٰهُ
يٰعِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ اذْكُرْ نِعْمَتِىْ عَلَيْكَ وَعَلٰى وَالِدَتِكَ ۘ اِذْ
اَيَّدْتُّكَ بِرُوْحِ الْقُدُسِ قف تُكَلِّمُ النَّاسَ فِى الْمَهْدِ وَكَهْلًا ۚ وَ

چه خلق به تیک تیک شهادت کوی، یا کم از کم دَ دے خبرے نه به یَریږی چه زمونږ دَ قسمونو نه روستو چرته دَ نورو په قسمونو باندِ زمونږ تردید وَنه شی. دَ الله نه وَیریږئ او واورئ، چه الله نافرمانه خلقو ته هدایت (لار ښودنه) نه کوی ع

په کومه[۱۲۲] ورځ چه به الله ټول رسولان را جمع کړی او تپوس به تر وکړی چه تاسو له[۱۲۳] څه جواب درکړے شو، نو هغوئ به عرض وکړی چه مونږ ته هیڅ علم[۱۲۴] نشته، ټول پټ حقیقتونه هم تا ته معلوم دی. بیا هغه وخت په خیال کښ راولئ چه څه وخت به الله تعالیٰ عیسیٰ ابن مریم ته فرمائی[۱۲۵] چه "اے دَ مریم ځویه عیسیٰ، را یاد کړه زما هغه نعمت چه ما په تا او ستا په مور باندِ کړے وُو، ما په رُوح پاک سره ستا مدد وکړو، تا به په زانګو کښ هم دَ خلقو سره خبرے کولے او چه ډیر عمر ته وَرسیدے. نو هم، ما تا ته

۱۲۲ یعنی دَ قیامت په ورځ.

۱۲۳ یعنی چه تاسو په دنیا کښ خلقو ته دَ اسلام دعوت ورکولو نو هغوئ تاسو له څه جواب درکړو.

۱۲۴ یعنی مونږ ته خُو صرف هغه لږ ظاهری جواب معلوم دے کوم چه زمونږ پخپل ژوند کښ مونږ ته راکړے شوے وُو. باقی پاتے شوه دا خبره چه په حقیقت کښ زمونږ ه ددعوت اثر څومره وُو، دَ کوم ځلے پورے وُو او په څه شکل کښ وُو، نو ددے صحیح علم ستا نه بغیر بل چا ته نشی کیدے.

۱۲۵ اولنے تپوس به دَ ټولو رسولانو نه په جمع کیږی. بیا به دَ یو یو رسول نه ځان له ځان له شهادت اغستلے کیږی لکه څنګه چه په قرآن کښ په ډیرو ځایونو کښ دا ارشاد شوے دے. په دے سلسله کښ چه به دَ حضرت عیسیٰ علیه السلام نه کوم تپوس کیږی هغه ئے خاص طور دلته ذکر کړے دے.

اِذْ عَلَّمْتُكَ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَالتَّوْرٰىةَ وَالْاِنْجِيْلَ ۚ وَاِذْ تَخْلُقُ مِنَ
الطِّيْنِ كَهَيْـَٔةِ الطَّيْرِ بِاِذْنِيْ فَتَنْفُخُ فِيْهَا فَتَكُوْنُ
طَيْرًا بِاِذْنِيْ وَتُبْرِئُ الْاَكْمَهَ وَالْاَبْرَصَ بِاِذْنِيْ ۚ وَاِذْ
تُخْرِجُ الْمَوْتٰى بِاِذْنِيْ ۚ وَاِذْ كَفَفْتُ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ عَنْكَ اِذْ
جِئْتَهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ فَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْهُمْ اِنْ هٰذَآ اِلَّا
سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿۱۱۰﴾ وَاِذْ اَوْحَيْتُ اِلَى الْحَوَارِيّٖنَ اَنْ اٰمِنُوْا بِيْ وَ
بِرَسُوْلِيْ ۚ قَالُوْٓا اٰمَنَّا وَاشْهَدْ بِاَنَّنَا مُسْلِمُوْنَ ﴿۱۱۱﴾ اِذْ قَالَ

دَ کتاب او دَ حکمت، دَ تورات او دَ انجیل تعلیم درکړو، تا به زما په حکم دَ ختې نه دَ مرغئ شکل جوړ ولو او په هغې کښې به دَ پوکے کولو او دَ هغې نه به زما په حکم مرغئ جوړیدله، تا به مور زادی ړوند او جذامی مریض (بڼکے یا چه ئے کوتے ریژی) زما په حکم ښه کولو، تا به مړی زما په حکم را ایستل[۱۲۶] بیا چه تا کله بنی اسرائیلو ته ښکاره نښې وِ یوړے او په هغوئ کښ چه څوک دَ حق نه منکر وُو هغوئ اُووے چه دا نښې خو دَ جادو نه سِوا بل هیڅ نه دی نو ته ما دَ هغوئ نه بچ کړے، او کله چه ما حواریانو ته اشاره وکړه چه په ما باندِ او زما په رسول باندِ ایمان راوړئ نو هغوئ اُووے چه موږ ایمان راوړو او ته ئے کواه اوسه چه موږ[۱۲۷] مُسلمانان یُو" ——— (دَ حواریانو[۱۲۸] په سلسله کښ) دا واقعه

۱۲۶ یعنی دَ مرګ دَ حالت نه به دِ دَ ژوند حالت ته را ایستل۔

۱۲۷ یعنی حواریانو چه په تا باندِ ایمان راوړے وُو هغه هم زمونږ دَ فضل وجه وه او موږ ورله توفیق ورکړے وُو، کنئی نو په تا کښ خو دومره طاقت نه وُو چه په دغه ټوله آبادئ کښ دِ یو تصدیق کونکے په خپل طاقت پیدا کړے وے ——— په اشاره کښ ئے دلته دا هم وُښودله چه دَ حواریانو اصلی دین اسلام وُو عیسائیت نه وُو۔

۱۲۸ چونکه دَ حواریانو ذکر راغے نو په دے وجه دَ روان تقریر په منځ کښ دَ حواریانو په خقله دَ یوے بلے واقعے طرفته اشاره وکړے شوه۔ دَ دے واقعے نه دا خبره صفا ظاهریږی چه کوموشا کردا نو دَ مسیح نه مخامخ تعلیم حاصل کړے وُو هغوئ ته مسیح یو انسان او صرف یو بنده ښکاریدو او دَ هغوئ په خوا خاطر کښ هم دَ خپل مرشد (لار ښودونکی) په خقله دا خیال نه وُو چه دے یا خو خدائے دے یا په خدائیئ کښ شریک

الْحَوَارِيُّونَ يٰعِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ هَلْ يَسْتَطِيعُ رَبُّكَ أَنْ يُنَزِّلَ
عَلَيْنَا مَائِدَةً مِنَ السَّمَاءِ ۖ قَالَ اتَّقُوا اللَّهَ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ ﴿١١٢﴾
قَالُوا نُرِيدُ أَنْ نَأْكُلَ مِنْهَا وَتَطْمَئِنَّ قُلُوبُنَا وَنَعْلَمَ أَنْ قَدْ
صَدَقْتَنَا وَنَكُونَ عَلَيْهَا مِنَ الشَّاهِدِينَ ﴿١١٣﴾ قَالَ عِيسَى ابْنُ
مَرْيَمَ اللَّهُمَّ رَبَّنَا أَنْزِلْ عَلَيْنَا مَائِدَةً مِنَ السَّمَاءِ تَكُونُ لَنَا
عِيدًا لِأَوَّلِنَا وَآخِرِنَا وَآيَةً مِنْكَ ۖ وَارْزُقْنَا وَأَنْتَ خَيْرُ

هم یاده سائتی چه هرکله حواریانو ووے "اے عیسیٰ ابن مریم، آیا ستاسو به موږ باندې د آسمان نه د خوراک یوه خوانچه نازلولے شی؟" نو عیسیٰ درته اووې "د الله نه وویریږئ که تاسو مومنان یئ. هغوئ درته اووے "موږ غواړو چه د دغے خوانچے نه خوراک وخورو او زمونږه زړونه مطمئن شی او موږ تر معلومه شی چه تا موږ ته ځه ویلی دی هغه رښتیا دی او موږ به په هغے باندې گواهان شو." نو عیسیٰ ابن مریم دُعا وکړه "اے خدایا! زمونږه ربه، په موږ باندې د آسمان نه یوه خوانچه نازله کړے چه هغه زمونږ د پاره او زمونږه د مخکښو او روستنو خلقو د پاره د خوشحالئ یوه موقع وګرزی او ستا د طرفه یوه نښه وی، موږ له روزی راکه او ته به بهترین

دے او دیا د خدائ خوے دے. او دا شک میم چې په هم هغوئ ته څرګند شان د یو بے اختیاره بنده په شان پیش کړے وُو.

دلته دا سوال راپیدا کیږی چه کوے خبرے او ترے به د قیامت په ورځ کیږی، په هغے کښ به دده خبرے کولو څه موقع وی؟ د دے جواب دا دے چه دده خبرے د هغے خبرو سره هیڅ تعلق نشته کوے چه به د قیامت په ورځ کیږی بلکه د قیامت د ورځے کوم حالات چه په دُنیا کښ د عبرت د پاره بیانیږی دده تعلق د هغے سره دے. کوے خبرے چه به په قیامت کښ کیږی د هغے ذکر دلته په دُنیا کښ دده د پاره کیږی چه عیسایان ترعبرت داخلی او بیغه لارے تر راشی. دا وجه ده چه د قیامت په خبرو کښ د حواریانو د دے واقعے ذکر منځ کښ راوستل په هیڅ شان سره بے تعلقه نه دے.

الرّٰزِقِيْنَ ﴿۱۱۴﴾ قَالَ اللّٰهُ اِنِّيْ مُنَزِّلُهَا عَلَيْكُمْ ۚ فَمَنْ يَّكْفُرْ بَعْدُ مِنْكُمْ
فَاِنِّيْٓ اُعَذِّبُهٗ عَذَابًا لَّآ اُعَذِّبُهٗٓ اَحَدًا مِّنَ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۱۵﴾ ع
وَاِذْ قَالَ اللّٰهُ يٰعِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ ءَاَنْتَ قُلْتَ لِلنَّاسِ اتَّخِذُوْنِيْ
وَاُمِّيَ اِلٰهَيْنِ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ قَالَ سُبْحٰنَكَ مَا يَكُوْنُ لِيْٓ اَنْ

روزی ورکونکے یئے." خدائے جواب ورکړو "زهٔ دا په تاسو باندِ نازلونکے یم[۱۲۹]، خو ددے نه روستو چه چا په تاسو کښ کفر وکړو هغه له به زهٔ داسے سزا ورکوم چه په دُنیا کښ به مِ چاله نهٔ وی ورکړی." ع ـــــــ غرض دا چه کله (ددے احسانا تو یادو لو نه پس) الله وُ فرمائی چه "اے عیسیٰ ابن مریم، آیا تا خلقو ته وئیلی وُو چه دَ خدائے نه سوا ماته او زما مورته هم خدائے[۱۳۰] وایئ؟" نو هغه به په جواب کښ وُوائی چه "سبحان الله، زما دا کار نهٔ وُو چه

۱۲۹ قرآن په دے باره کښ خاموش دے چه دا خوانچه په حقیقت کښ نازله شوه او که نهٔ. د بلے څه معتبرے ذریعے نه هم دَ دے سوال جواب نهٔ ملاوېږی. دا ممکنه ده چه دا خوانچه نازله شوی وی او دا هم ممکنه ده چه ددے سختے د همکئ نه روستو حواریانو خپل درخواست واپس اغستلے وی.

۱۳۰ عیسایانو دَ الله سره صرف مسیح او روح القدس په خدائئ کښ نهٔ وُو شریک کړی، بلکه دَ مسیح دَ مور دَ حضرت مریمؑ نهٔ هم معبود جوړ کړے وُو. دَ حضرت مریم علیها السلام دَ خدائئ یا دَ هغے دَ قدوسیت متعلق اشاره قدر له هم په بایئبل کښ نشته. دَ مسیحؑ نه روستو دَ دریو سوو کالو پورے عیسایان ددے خیال نه بالکل ناآشنا وُو. دَ دریمے عیسوی صدئ په آخره کښ دَ سکندریئے دَ دینیاتو څنو عالمانو په اول ځل دَ حضرت مریم دپاره دَ "اُمّ الله" یا "دَ خدائے مور" الفاظ استعمال کړل. ددے نه روستو رُو رُو دَ مریم دَ خدائئ عقیده او دَ مریم دَ عبادت طریقه په عیسایانو کښ شروع شوه. لیکن په اول ځل کښ چرچ (CHURCH) ددے منلو ته تیار نهٔ وُو، بلکه دَ مریم عبادت کوونکو ته به یئے دَ خرابے عقیدے والا وئیل. دَ نسطوریس دا عقیده وه چه دَ مسیح په یو ذات کښ دوه ځان له ځان له مستقل شخصیتونه راجمع شوی دی. کله چه عیسایانو دَ نسطوریس په دے عقیده باندِ گرم گرم بحثونه شروع کړل، نو دَ صفائئ کولو دَ پاره په سنه ۴۳۱ کښ په بنار افسوس کښ یوه غونډه مقرر شوه، په دے غونډه کښ په اول ځل دَ کلیسا په سرکاری ژبه کښ دَ حضرت مریم دَ پاره "دَ خدائے مور" لقب استعمال کړے شو. نتیجه ئے دا راوُوتله چه دَ مریم دَ عبادت کوم مرض دَ کلیسا نه بهر خورید و اوس په کلیسا کښ دننه په تیزئ سره خوریدل شروع شو، او دَ قرآن دَ نازلیدو پورے خبره دے ته ورسیده چه دَ حضرت مریمؑ نه یوه دومره لویه "دیوی" جوړه شوه چه دَ هغے وړاندِ پلار، ځوے او روح القدس هیڅ پاتے نهٔ شو. دَ هغے بُت ځائے په ځائے په کلیسا گانو کښ ایښودلے شوے وُو. دَ هغے وړاندِ به دَ عبادت تولے

وقف النبی صلی اللہ علیہ وسلم

اَقُوْلَ مَا لَيْسَ لِيْ ۗ بِحَقٍّ ؕ اِنْ كُنْتُ قُلْتُهٗ فَقَدْ عَلِمْتَهٗ ؕ تَعْلَمُ مَا
فِيْ نَفْسِيْ وَلَآ اَعْلَمُ مَا فِيْ نَفْسِكَ ؕ اِنَّكَ اَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ ﴿۱۱۶﴾
مَا قُلْتُ لَهُمْ اِلَّا مَآ اَمَرْتَنِيْ بِهٖٓ اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ رَبِّيْ وَرَبَّكُمْ ۚ
وَكُنْتُ عَلَيْهِمْ شَهِيْدًا مَّا دُمْتُ فِيْهِمْ ۚ فَلَمَّا تَوَفَّيْتَنِيْ كُنْتَ
اَنْتَ الرَّقِيْبَ عَلَيْهِمْ ؕ وَاَنْتَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ ﴿۱۱۷﴾ اِنْ

هغه خبره م کړے وے چه دَ هغے دَ کولو ما ته حق نه وو، که چرے ما دا سے خبره کړے وے نو تا ته به ضرور معلومه وه، تا ته ښهٔ معلوم دی هر هغه څه چه زما په زړهٔ کښ دی او ما ته هغه نه دی معلوم څه چه ستا په زړهٔ کښ دی، ته خو په ټولو پټو حقیقتونو عالم ئے۔ ما هغوئ ته دَ هغے نه سوا هیڅ نه دی وئیلی کوم چه تا ما ته حکم کړے وُو، یعنی دا چه دَ الله بندګی وکړی چه زما هم رب دے او ستا سو هم رب دے۔ تر هغے وخته پورے زهٔ دَ هغوئ نګران وُوم تر څو چه زهٔ دَ هغوئ په منځ کښ موجود وُوم۔ کله چه تا زهٔ واپس راوُغوختلم نو بیا په هغوئ باندِ ته نګران وے او ته خو په ټولو څیزونو باندِ نګران یئے۔ اوس

طریقے ادا کیدلے، هم دَ هغے نه به دُعا ګانے غوښتلے کیدے، هم هغه فریاد اوریدونکی، حاجت پوره کونکی، مشکل آسانه ونکی او دَ غریبو مددګاره وه، او دَ عیسایانو دَ بروسے او دَ اعتماد لویه ذریعه دَ "خدائے دَ مور" حمایت او مرسته حاصلول وُو۔ دَ جسټینین قیصر دَ چنل یو قانون په سر کښ دا لیکلی دی چه زما دَ سلطنت مددګار حضرت مریمؑ ده۔ دَ هغه مشهور نرسیس نومے جرنیل په میدانِ جنګ کښ دَ حضرت مریمؑ هدایت او رهنمائی غواړی۔ دَ نبی صلی الله علیه وسلم په زمانه کښ هرقل نومے قیصر په خپله جنډه باند دَ "خدائے دَ مور" تصویر جوړ کړے وُو او دَ هغهٔ دا پوره یقین وُو چه دے تصویر په برکت به دا جنډه نه ښکته کیږی۔ اګرچه په روستنو صدو کښ دَ تحریک اصلاح دَ اثر دَ وجے نه دَ پرو ټسټنټ عیسایانو دَ مریمؑ دَ عبادت خلاف آواز ښهٔ په زور سره وُچت کړو، لیکن رومن کیتهولک کلیسا دَ نن ورځے پورے په دے طریقه باندِ روان دے۔

تُعَذِّبْهُمْ فَاِنَّهُمْ عِبَادُكَ ۚ وَاِنْ تَغْفِرْ لَهُمْ فَاِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِيْزُ
الْحَكِيْمُ ﴿۱۱۸﴾ قَالَ اللّٰهُ هٰذَا يَوْمُ يَنْفَعُ الصّٰدِقِيْنَ صِدْقُهُمْ ؕ
لَهُمْ جَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ؕ
رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ ؕ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿۱۱۹﴾ لِلّٰهِ
مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا فِيْهِنَّ ؕ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۱۲۰﴾ ع

کہ تہ ھغوئ لہ سزا ورکړے نو ستا بندګان دی او کہ معاف ئے کړے نو تہ غالب او حکمت والا یئے ۔" نو بیا بہ اللہ وفرمائی "دا ھغہ ورځ دہ چہ پکښ ریښتونو خلقو تہ خپلہ رښتیا وینا فائدہ ورکوی، دَ ھغوئ دَ پارہ داسے باغونہ دی چہ لاندِ ترولے بھیږی، دلتہ بہ ھغوئ ھمیشہ وسی، اللہ دَ ھغوئ نہ راضی شو، او ھغوئ دَ اللہ نہ، دالویہ کامیابی دہ ۔"

دَ زمکے او دَ آسمانونو او دَ ټولو څیزونو بادشاھی خاص دَ اللہ دہ او ھغہ پہ ھر څیز باندِ قدرت لری ع

ضمیمہ

(دَ حاشیے نمبر ۳۶ پہ سلسلہ کښ تشریح)

پہ دے سلسلہ کښ دا خبرہ دَ ذکر قابلہ دہ چہ حضرت عیسیٰ علیہ السلام ھیڅکلہ دَ خپل پیروکارانو نوم "عیسائی" یا "مسیحی" نہ وُو ایښودلے ۔ ځکہ چہ ھغہ پہ خپل نوم باندِ دَ یونوی مذھب جوړولو دَ پارہ نہ وُو راغلے ۔ دَ عیسیٰ دعوت دَ ھغے دین تازہ کولو دَ پارہ وُو کوم چہ حضرت موسیٰ علیہ السلام او دَ ھغہ نہ مخکښ روستو پیغمبرانو راوړے وُو ۔ پہ دے وجہ ھغہ دَ عامو بنی اسرائیلو نہ او څوک چہ دَ موسیٰ پہ شریعت باندِ وُو دَ ھغوئ نہ ئے نہ یوہ جدا ډلہ جوړہ کړہ او نہ ئے دَ ھغوئ تہ یو مستقل نوم کیښودو ۔ دَ عیسیٰ اولنی پیروکارانو نہ خپل ځان دَ اسرائیلی ملت نہ جدا ګڼړلو، نہ یوہ مستقلہ ډلہ وہ او نہ ئے ځان لہ یو خاص نوم یا نښہ جوړہ کړی وہ ۔ ھغوئ بہ دَ عبادت دَ پارہ دَ عامو یھودیانو سرہ دَ بیت المقدس عبادت خانے تہ تلل او خپل ځان ئے دَ موسیٰ دَ شریعت پابند ګڼړو ۔ (وګورہ کتاب اعمال ۳: ۱ - ۱۰: ۱۴ - ۱۵: ۱، ۵ - ۲۱: ۲۱) ۔

روستو بیا دَ جدائی عمل دَ دوواړخونہ شروع شو ۔ یو طرفتہ دَ حضرت عیسیٰ پہ پیروکارانو کښ پولوس

(سینټ پال) دَ شریعت پابندی ختمه کړه او دا اعلان ئے وکړو چه دَ نجات دپاره صرف په مسیحؑ باندِ ایمان راوړل کافی دی۔ او بل طرفته دَ یهودیانو عالمانو د مسیحؑ ملګرو ته یوه ګمراهه فرقه اُوو ئیله او دَ عامو بنی اسرائیلو نه ئے بیل کړل۔ لیکن سره دَ دے جُدا ئیئ په اول کښ دَ دے نوے فرقے څه خاص نوم نه وُو۔ پخپله دَ مسیحؑ ملګرو به کله دَ خپل ځان دَ پاره دَ "شاګرد" لفظ استعمالولو، او کله به ئے دَ خپلو ملګرو ذکر دَ "رونړو" (اخوان)، "ایمان دارو" (مؤمنین)، "چه ایمان ئے راوړے" (اَلَّذِیْنَ اٰمَنُوْا) او دَ "مقدسیانو" په الفاظو سره کولو۔ (کتاب اعمال ۲: ۴۴-۴: ۳۲-۹: ۲۶-۱۱: ۲۹-۱۳: ۵۲-۱۵: ۱-۲۳- رومیوں ۱۵: ۲۵- کُلُسیّوں ۱: ۲)۔ ددے برخلاف یهودیانو به دے خلقو ته کله "ګلیلی" وئیل او کله به ئے ورته "دَ ناصریانو بدعتی فرقه" وئیله (اعمال ۲۴: ۵- لوقا ۱۳: ۲)۔ دا نوم هغوئ دَ ټوقے مسخرے په طور ځکه ایښودو چه دَ عیسیٰؑ دَ وطن نوم ناصره وُو او دَ فلسطین په ضلع ګلیل کښ وُو۔ لیکن داد ټوقو نومونه دومره مشهور نه شو چه دَ مسیحؑ دَ ملګرو نوم شوے وے۔

ددے ډلے موجوده نوم مسیحی (CHRISTIAN) اول ځل په ۴۳ء یا ۴۴ء کښ دا نطاکیے مشرکانو ایښودلے وُو، او کله چه سینټ پال او بَرنَباس هلته وَرسیدل نو دَ خپل مذهب عام تبلیغ ئے شروع کړو۔ (اعمال ۱۱: ۲۶)۔ دا نوم هم په اصل کښ دَ ټوقے مسخرے په طور مخالفینو ایښودلے وُو، او دَ مسیح ملګری په ځان باندِ دَ دے نوم ایښودلو ته تیار نه وُو۔ لیکن هر کله چه ورته دُشمنانو هم دا نوم وئیلو نو دَ هغوئ لیډرانو مشرانو اُوو ئیل چه ستاسو نسبت مسیح ته کوی او "مسیحیان" ورته وائی نو تاسو له پرِشرم نه دے پکار۔ (۱. پطرس ۴: ۱۶)۔ دغه شان رُو رُو دوئ هم ځان ته هغه نوم وئیل شروع کړل کوم چه پر دُشمنانو دَ ټوقے په طور ایښودلے وُو، ان تر دے پورے چه په آخر کښ دَ هغوئ نه دا خبره هډو هیره شوه چه دا په اصل کښ یو خواب نوم وُو۔

دغه وجه ده چه قرآن مجید دَ مسیح ملګری په مسیحی یا عیسائی نوم سره نه دی یاد کړی۔ بلکه هغوئ ته ئے دا خبره وریاده کړه چه تاسو په اصل کښ دَ هغے خلقو بچی یئ چه عیسیٰؑ ورته آواز کړے وُو چه مَنْ اَنْصَارِیْ اِلَی اللّٰهِ، "څوک دے چه دَ الله په لار کښ زما مدد وکړی" او هغوئ ورته جواب ورکړے وُو چه نَحْنُ اَنْصَارُ اللّٰهِ "مونږه دَ الله په لار کښ مددګار یُو" په دے وجه تاسو په حقیقت کښ انصار یا نصاریٰ یئ۔ لیکن نن عیسائی تبلیغیان پځائے ددے چه دَ قرآن شکریه ادا کړی، هغوئ اُلټا دا شکایت کوی چه قرآن مونږ ته دَ مسیحی پځائے نصاریٰ ولے اُووے۔

تفهم القرآن

الأنعام

(٦)

الانعام

نوم | ددے سورة په رکوع شپاړسمه او وَلَسَمَه کښې دَ ځنې هغه څارو (انعام) دَ حرامو الی او دَ حلالو الی تردید شوے دے کوم چه دَ اهل عربو په خیال کښې حرام او حلال وُو. په دے مناسبت سره ددے نوم "الانعام" ایښودلے شوے دے.

دنازلیدو زمانه | دَ ابن عباسؓ روایت دے چه دا ټول سورة په یو وخت په مکه کښې نازل شوے وُو. دَ حضرت مُعاذ بن جَبَل دَ تره لور اَسماء بنت یزید وائی چه "کله دا سورة په نبی صلی الله علیه وسلم باندِ نازلیدونو هغه په اُوښه باندِ سور وُو، ماځے پرے نیولے وُو او دَ زیات بوج دَ وجے نه دا اُوښه داسے ښکاریده لکه چه هډوکی ئے ماتیږی." په روایاتو کښې دا هم راځی چه په کومه شپه دا سورة نازل شونو په هغے شپه نبی صلی الله علیه وسلم په چاو لیکلو.

ددے سورة دَ مضمونونو نه دا صفا معلومیږی چه دا به دَ مکی دور په آخر وخت کښې نازل شوے وی. دَ حضرت اسماء بنت یزید روایت هم ددے خبرے تصدیق کوی. ځکه چه هغه دَ انصارونه وه او دَ هجرت نه روستو ئے ایمان راوړے وُو. که چرے هغه دَ مسلمانیدو نه مخکښې صرف دَ عقیدت په وجه دَ نبی صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې مکے ته حاضره شوی وی نو یقیناً چه دا به دَ مکی دور په آخری کال کښې راغلی وی. دَ دے نه ړومبے دَ یثرب والو (مدینے والو) سره دَ مکے والو تعلقات دومره نه وُو زیات شوی چه دَ هغه ځائے نه پکښې نبیؐ له دَ یوے ښځے راتلل ممکن وُو.

شانِ نزول | چه دَ نزول زمانه مقرر شوه نو موږ ته اوس په آسانه باندِ هغه حالات معلومولے شو په کومو حالاتو کښې چه دا خطبه ارشاد شوی وه. په دغه وخت کښې دَ اسلام په دعوت دولس کاله تیر شوی وُو. دَ قریشو ظلم زیاتے انتها ته رسیدلے وُو. ډیرو مسلمانانو دَ هغوئ دَ ظلم زیاتی دَ وجے نه وطن پریښودلے وُو او حبش ته تلی وُو. دَ نبی صلی الله علیه وسلم دَ مرستے دَ پاره په دغه وخت کښې نه ابو طالبؓ روندے وُو او نه حضرت خدیجهؓ او دغه شان بغیر دَ څه دُ نیوی سهارے نبیؐ په سخت وخت کښې دَ رسالت کار کولو. دَ هغه دَ تبلیغ دَ وجے په مکه کښې او په خواؤ شا قبائیلو کښې نیکان صالحان خلق مسلمانیدل، لیکن دَ قوم زیاتو خلقو انکار ته ملا تړلی وه. چرته چه به چا د اسلام طرفته لږ شان خواهش ظاهر کړو نو هغه به خلقو ملامته کوؤ، پیغورو نه به ئے ورکول، وَهو به ئے او دَ کلی محلت نه به ئے ایستلو. دَ مُصیبت په دے سخت وخت کښې صرف دَ اُمید یوه نرئی شان رڼا دَ یثرب دَ طرفنه ښکاریدله، ځکه چه دَ هغه ځائے دَ اَوس او دَ خَزرَج قبیلے با اثره خلقو دَ نبی صلی الله علیه وسلم په لاس باندِ بیعت کړے وُو او هلته ښه په آزادئ سره اسلام خوریدو. خو په دغه نرئ رڼا کښې چه کوم امکانات پټ پراته وُو هغه په ظاهره نه ښکاریدل. په ظاهره خو داسے معلومیده چه اسلام یو کمزورے تحریک دے، دَ مال دولت زور ورپسے نشته،

دَ مشرئے هم دَ خپلوانو دَ مرستے نه علاوه نور څه زور نشته، او کومو لږو، بے وَسو، او هغه د غه خلقو چه اسلام قبول کړے دے، هغوئ هم دَ خپل قوم دَ دین نه اوړیدلی دی او دَ خپل اُولس دَ خلقو نه داسے جُدا شوی دی لکه چه پا نړے دَ وُنے نه را پریوزی او په زمکه باندِ خورے ورے شی۔

بحثونه | په دے حالاتو کښ دا خطبه ارشاد شوی ده او ددے مضمونو نه په اُدولویو لویو عنوانونو کښ تقسیمیدے شی۔

(۱) شرک ختمول او دَ توحید عقیدے ته دعوت ورکول۔

(۲) دَ آخرت دَ عقیدے تبلیغ او ددے خیال تردید چه دَ دُنیا دَ ژوند نه روستو بل ژوند نشته۔

(۳) دَ جاهلیّت دَ توهماتو تردید۔

(۴) دَ اخلاقو هغه لوئ لوئ اصول ښودل چه اسلام په هغے باندِ دَ خلقو ژوند جوړول غواړی۔

(۵) دَ نبی صلی الله علیه وسلم او دَ اسلام خلاف دَ خلقو دَ اعتراضونو جوابونه۔

(۶) دوېر کوشش باوجود چه دَ دعوت څه فائده ښکاره نه شوه نو دَ هغے دَ وجے نه چه دَ نبی صلی الله علیه وسلم او دَ عامو مسلمانانو په زړونو کښ کومه پریشانی پیدا شوی وه، په هغے باندِ تسلی ورکول۔

(۷) انکار کونکو او مخالفینو ته دَ هغوئ په غفلت او ناپوهتیا باندِ نصیحت، خبردارے اویره۔

لیکن خطبه په داسے انداز نه ده چه په یو یو عنوان باندِ ځان له ځان له بحث شوے دے۔ بلکه خطبه دَ دریاب پشان روانه ده او دا عنوانات پکښ په مختلفو طریقو سره په نوی نوی انداز کښ بیا بیا راځی او هر ځل پرِ په نوی انداز کښ خبرے کیږی۔

دمکے دژوند حصے | دَ قرآن لوستونکی ته په اول ځل یو مکی سورة مخے له راغے نو ځکه دا مناسب ده چه مونږ دلته دَ مکی سورتونو تاریخی حالات ښه په تفصیل سره بیان کړو چه بیا مونږ ده دَ مکی سورتونو کوم تفسیر کوُو چه په هغے پوهیدل آسان شی۔

په مدنی سورتونو کښ خو دَ هر یو سورة دَ نازلیدو زمانه معلومه ده یا کنئ نو په لږ شان محنت سره معلومیدے شی۔ بلکه دَ مدنی سورتونو دا کثرو آیتونو ځان له ځان له شانِ نزول په معتبرو روایاتو کښ ملاویږی۔ لیکن دَ مکی سورتونو په باره کښ زمونږ سره هغو مره دَ معلوماتو تفصیلی ذرائع نشته۔ ډیر کم سورتونه یا آیتونه داسے دی چه دَ هغے دَ نازلیدو دَ زمانے په باره کښ صحیح او معتبر روایت ملاویږی۔ ځکه چه دَ هغے زمانے تاریخ دومره په تفصیلاتو سره نه دے لیکلے شوے لکه څنګه چه دَ مدنی دور تاریخ لیکلے شوے دے۔ په دے وجه دَ مکی سورتونو په باره کښ مونږه دَ تاریخ په ځائے زیات تر اعتماد په هغے اشاراتو باندِ کوُو کوم چه دَ سورة دَ موضوع، دَ مضمون، دَ اندازِ بیان او دَ مخکښ روستو حالاتو نه معلومیږی۔ او دا ظاهره خبره ده چه دَ دے قسمه دَ حالاتو په مدد سره دَ یو یو سورة او دَ یو یو آیت تاریخ، کال، یا دَ نازلیدو موقع معلومول ګران دی۔ دَ زیاتو نه زیات چه څه صحیح کیدے شی هغه صرف دا دی چه یو طرفته دَ مکی سورتونو د تنه حالات، او بل طرفته دَ نبی صلی الله علیه وسلم دَ مکی ژوند تاریخ یو بل ته مخامخ کیدو او بیا دَ دواړو مقابله وکړو او

دارائے قایم کړو چه کوم سورة دَ کوم دور سره تعلق لری.

کله چه ددے تحقیق مطابق موږ ده دَ نبی صلی الله علیه وسلم په مکی ژوند باندِ نظر وکړو نو هغه په څلورو لویو لویو حصو کښ تقسیم شوے دے:

اولنئی حصّه، دَ پیغمبرئ دَ شروع نه دَ نبوت دَ اعلان پورے، تقریباً درے کاله، چه په پټه پټه به پکښ خاصو خاصو خلقو ته دعوت ورکړے کیدو او دَ مکے عامو خلقو ته دَ هغے پته نه وه.

دویمه حصّه، دَ نبوت دَ اعلان نه را واخله تر دَ ظلم زیاتی او دَ فتنے (Persecution). دَ شروع کیدو پورے، تقریباً دوه کاله، چه پکښ اول مخالفت شروع شو، بیائے مخه بند ول شروع کړل بیا خبره خند اکانو، ټهوقو مسخرو، الزامونو، کنځلو، دَ دروغو پروپیګنډے او مخالفه ډلے جوړولو ته ورسیده، او په آخر کښ په هغے مسلمانانو باندِ زیاتے شروع شو چه زیات غریبانان، کمزوری او بے تپوسه خلق وُو.

دریمه حصّه، دَ فتنے دَ شروع (سنه ۵ نبوی) نه را واخله تر دَ ابو طالب او دَ حضرت خدیجے رض دَ وفاته (سنه ۱۰ نبوی) پورے تقریباً پنځه شپږ کاله. په دے کښ مخالفت انتهائی سخت شو، ډیر مسلمانان دَ مکے دَ کافرانو دَ ظلم نه تنګ شوا و حبشے ته ئے هجرت وکړو، دَ نبی صلی الله علیه وسلم او دَ هغه دَ خاندان او دَ باقی مسلمانانو سره ئے په لین دین او راشه درشه باندِ پابندی وُلګوله او په شِعب ابی طالب کښ نبی سره دَ خپلو ملګرو راګیر کړے شو.

څلورمه حصّه، دَ سنه ۱۰ نبوی نه را واخله تر د سنه ۱۳ نبوی پورے تقریباً درے کاله. دا انتهائی سخته زمانه وه. دَ نبی دَ پاره په مکه کښ ژوند تیرول مشکل وُو، طائف ته لاړ وهلته ورته هم پناه ملاؤ نه شوه، دَ حج په موقع باندِ به ئے دَ عربو یوے یوے قبیلے ته دا اپیل کولو چه دَ اسلام دعوت قبول کړئ او زما ملګری شئ خو دَ هر طرفنه به ورته سخت جواب ملاویدو. دیخوا به مکے والو دَ هغوئ دَ قتل یا دَ قید یا دَ وطن نه دَ شړلو مشورے کولے. آخر دا چه دَ الله په فضل سره انصارو اسلام قبول کړو او دَ هغوئ په دعوت باندِ هغه مدینے ته هجرت وکړو.

په دے هر دور کښ چه کوم سورتونه نازل شوی دی دَ هغے مضمونونه او انداز بیان دَ بل دَور دَ سورتونو نه مختلف دے. په هغے کښ اکثر داسے اشارے وی چه دَ هغے نه دَ حالاتو پته لګیدے شی. دَ هر دور دَ حالاتو اثر دَ هغے دور په کلام کښ دَ ډیره حده پورے ښکاره معلومیږی. په دے علاماتو باندِ دَ اعتماد دَ وجے نه موږ به دَ هر مکی سورة په اول کښ دا وایو چه دا دَ مکے په کوم دور کښ نازل شوے دے.

آیاتها ۱۶۵ سُوْرَةُ الْاَنْعَامِ مَكِّيَّةٌ رکوعاتها ۲۰

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَجَعَلَ الظُّلُمٰتِ
وَالنُّوْرَ ؕ ثُمَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ يَعْدِلُوْنَ ① هُوَ الَّذِيْ
خَلَقَكُمْ مِّنْ طِيْنٍ ثُمَّ قَضٰۤى اَجَلًا ؕ وَاَجَلٌ مُّسَمًّى عِنْدَهٗ

تعریف دَ هغې الله دَ پاره دے چه زمکه او آسمانونه ئے جوړ کړي دي، رڼا او تیرے ئے پیدا کړي دي. بیا هم هغه خلق چه دَ دعوتِ حق نه انکاریان دي هغوئ نور څوک دَ خپل رب سره برابره[1] دي. دا خو هم هغه دے چه تاسو ئے دَ خاورے نه پیدا[2] کړئ، بیا ئے ستاسو دَ پاره دَ ژوند یوه موده مقرر کړه او یوه دویمه موده بله هم ده چه دَ هغه سره مقرره پرته[3] ده.

[1] یاد لرئ چه دا خبره دَ عربو هغه مشرکانو ته ده چه دا به ئے منله چه دَ زمکے او دَ آسمانونو خالق الله دے، ورځ او شپه هغه راولي، او نمر او سپومئ هغه پیدا کړي دي. په هغوئ کښ دَ هیچا دا عقیده نه وه چه دا کار دَ لات یا دَ هُبَل یا دَ عُزّٰی یا دَ یو بل دیوتا دے. په دے وجه هغوئ ته وائي چه اے ناپوهه خلقو، چه تاسو پخپله دا منئ چه زمکه او آسمانونه الله پیدا کړي دي او ورځ او شپه الله راولي نو دا نور څوک دي چه تاسو ورته سجدے کوئ، نذر پرمنئ، دعاګانے ترغواړئ او خپل حاجتونه ورته اوړئ. (وګوره سورة فاتحه حاشیه نمبر ۲- سورة بقره حاشیه نمبر ۱۶۳).

دَ رڼا په مقابله کښ دَ تیرے دَ پاره دَ جمع صیغه بیان کړے شوي ده، دا ځکه چه تیاره نوم دے دَ غیر رڼا او دَ غیر رڼا بے شمیره درجے دي. نو ځکه رڼا یوه ده او تیرے ډیرے دي.

[2] دَ انسان دَ بدن ټول اجزاء دَ زمکے نه حاصلیږي، یو ذره پکښ هم بے دَ زمکے نه دَ بل څیز نشته، په دے وجه ئے وفرمائیل چه تاسو دَ خاورے نه پیدا کړے شوي یئ.

[3] یعنی دَ قیامت وخت، چه دا مخکښ روستو ټول انسانان به بیا ژوندي کیږي او دَ حساب دَ پاره به دَ خپل رب په مخکښ ودریږي.

ثُمَّ اَنْتُمْ تَمْتَرُوْنَ ۝۲ وَهُوَ اللّٰهُ فِي السَّمٰوٰتِ وَفِي الْاَرْضِ ؕ
يَعْلَمُ سِرَّكُمْ وَجَهْرَكُمْ وَيَعْلَمُ مَا تَكْسِبُوْنَ ۝۳ وَمَا تَاْتِيْهِمْ
مِّنْ اٰيَةٍ مِّنْ اٰيٰتِ رَبِّهِمْ اِلَّا كَانُوْا عَنْهَا مُعْرِضِيْنَ ۝۴
فَقَدْ كَذَّبُوْا بِالْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ ؕ فَسَوْفَ يَاْتِيْهِمْ اَنْۢبٰٓؤُا مَا
كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ۝۵ اَلَمْ يَرَوْا كَمْ اَهْلَكْنَا مِنْ قَبْلِهِمْ
مِّنْ قَرْنٍ مَّكَّنّٰهُمْ فِي الْاَرْضِ مَا لَمْ نُمَكِّنْ لَّكُمْ وَاَرْسَلْنَا
السَّمَآءَ عَلَيْهِمْ مِّدْرَارًا ۖ وَّجَعَلْنَا الْاَنْهٰرَ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهِمْ

خودا تاسو خلق یئ چه په شک کښ پراته یئ. دغه یو خدائے په آسمانونو کښ هم دے او په زمکه کښ هم، ستاسو پټ ښکاره هر حال ورته معلوم دے او کومه بدی یا نیکی چه ځان له کټئ دَ هغے نه خبر دے.

دَ خلقو دا حال دے چه دَ خپل رب دَ نښونه څه نښه کله دوئ ته راغلی ده نو دوئ تر مخ اړولے دے. اوس چه ورته کوم حق راغے نو هغے ته ئے هم دروغ اُووے. ښهٔ ده، په کوم څیز پورے چه دوئ دَ اوسه پورے لګیا دی ټوقے کوی ډیر زر یه دَ هغے په حقله څه خبرُو نه دوئ ته راوَرسی[۴]. دوئ نه کورئ چه دَ دوئ نه مخکښ څومره داسے قومونه مونږه هلاک کړی دی چه دَ هغوئ په خپله خپله زمانه کښ دَ ورد وران وُو؟ هغوئ ته مونږه په زمکه کښ هغه اقتدار ورکړے وُو چه تاسو ته مونږ دے درکړے، په هغوئ باندِ مونږه دَ آسمان نه ښهٔ بارانونه وَ ورول او لاندِ مونږ وَلے وَ بَیَولے،

[۴] دا هجرت طرفته اشاره ده او دَ هجرت نه روستو چه کومے کامیابیانے اسلام ته پر لَپسے حاصلیدونکے وے هغے ته اشاره ده. په کوم وخت کښ چه دا اشاره شوی وه په هغه وخت کښ نهٔ کافرانو دا ګمان کولے شو چه دَ څه قسمه خبرونه به هغوئ ته رسی او نهٔ دَ مسلمانانو په ذهن کښ دَ دے خبرے څه خیال وُو. بلکه نبی صلی الله علیه وسلم پخپله هم ددے راتلونکو امکاناتو نه ناخبره وُو.

فَاَهْلَكْنٰهُمْ بِذُنُوْبِهِمْ وَاَنْشَاْنَا مِنْۢ بَعْدِهِمْ قَرْنًا اٰخَرِيْنَ ۝۶ وَ
لَوْ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ كِتٰبًا فِيْ قِرْطَاسٍ فَلَمَسُوْهُ بِاَيْدِيْهِمْ لَقَالَ
الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِنْ هٰذَآ اِلَّا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ۝۷ وَقَالُوْا لَوْلَآ
اُنْزِلَ عَلَيْهِ مَلَكٌ ؕ وَلَوْ اَنْزَلْنَا مَلَكًا لَّقُضِيَ الْاَمْرُ ثُمَّ لَا
يُنْظَرُوْنَ ۝۸ وَلَوْ جَعَلْنٰهُ مَلَكًا لَّجَعَلْنٰهُ رَجُلًا وَّلَلَبَسْنَا عَلَيْهِمْ

(خو چه کله هغوئ د نعمت ناشکری وکړه نو) آخر دا چه موږ ده هغوئ د خپلو ګناهونو په بدله کښ تباه کړل او د هغوئ پځائے مو د بل د ورقومونه راوچت کړل.

اے پیغمبرهٔ، که چرے موږ ده په تاباندِ په کاغذ کښ لیکلے شوے کتاب نازل کړے وے او خلقو هغه په خپلو لاسونو کتلے هم وے خو چا چه د حق نه انکار کړے دے هغوئ به بیا هم دا وئیلے چه دا خو ښکاره جادو دے. دوئ وائی چه په دے نبی باندِ یوه فرښته ولے نازله نه کړے شوه[۵] که چرته موږ فرښته نازله کړے وے نو د اوسه پورے به پخوا فیصله شوی وه، بیا به دوئ ته هیڅ مهلت نه وو ورکړے شوے[۶]. او که چرے موږ ده فرښته نازلوله نو هغه به مو هم د انسان په شکل کښ نازلوله او دوئ به مو هغسے په شک کښ غورزولی وو

[۵] یعنی د کله نه چه دا سړے د خدائے د طرفنه پیغمبر مقرر کړے شوے دے نو پکار دا وو چه د هغے وخت نه یوه فرښته نازله شوے وے او خلقو ته ئے وئیلے چه دا د خدائے پیغمبر دے، ددهٔ خبره ومنئ کنئ نو تاسو له به سزا درکړے شی. دا ناپوهه اعتراض کونکی په دے خبره حیران وو چه د زمکے او د آسمان مالک د څوک پیغمبر مقرر کړی او بیا د هغه دا سے بے آسرے پریږدی چه کانړی د پر وریږی او کنځلی د ورته کیږی. د دومره لوئ بادشاه د سفیر سره که ډیر سپاهیان نه وو نو کم از کم یوه فرښته خو ورسره په ملګرتیا کښ پکار وه چه ددهٔ حفاظت ئے کولے، ددهٔ رعب ئے په خلقو راوستلے او ددهٔ د پیغمبرئ یقین ئے خلقو له ورکولے او په غیبی طریقه ئے ددهٔ کار سرته رسولے.

[۶] دا د دوئ د اعتراض اولنے جواب دے. ددے مطلب دا دے چه د ایمان راوړلو او د خپل عمل د درست کولو د پاره چه تاسو ته کوم مهلت ملاؤ شوے دے نو دا خو تر هغه وخته پورے دے تر څو پورے چه حقیقت پټ وی. او کله چه حقیقت ښکاره شو بیا به د مهلت وخت ختم وی. د حقیقت ښکاره کیدو نه روستو خو به صرف حساب افتل باقی وی. ځکه چه د دنیا ژوند ستاسو د پاره د امتحان یو ځائے دے، او امتحان ددے خبرے دے چه تاسو حقیقت ته بغیر د لیدو نه د عقل او د فکر په صحیح استعمال سره رسیدے شئ او که نه، او بیا حقیقت

مَّا يَلْبِسُوْنَ ﴿٩﴾ وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِّنْ قَبْلِكَ فَحَاقَ
بِالَّذِيْنَ سَخِرُوْا مِنْهُمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿١٠﴾ ع قُلْ
سِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ ثُمَّ انْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ
الْمُكَذِّبِيْنَ ﴿١١﴾ قُلْ لِّمَنْ مَّا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ قُلْ لِّلّٰهِ ؕ

لکه څنګه چه اوس په شک کښ مُبتلا دی ۷ه

اے محمدؐ، ستا نه مخکښ هم په ډیرو رسولانو پورے ټوټے شوی دی، خو آخر په دغه ټوټو کونکی باندِ هغه حقیقت راغے چه دوئ به ورپورے ټوټے کولے ع دوئ ته اُووایه، لږ شان په زمکه کښ وګرځئ او وګورئ چه د دروغ کنړونکو څه انجام شوے دے ۸ه.

د دوئ نه تپوس وکړه، چه په آسمانونو او په زمکه کښ څه دی دا د چا دی؟ — ته اُووایه چه دا ټول هر څه د الله دی ۹ه

ته د رسیدونه روستو په خپل نفس او خواهشاتو باندِ قابو راوستے شئ او که نه، او خپل عملونه د حقیقت مطابق ټیک کولے شئ او که نه. د دے امتحان د پاره حقیقت پټ پاتے کیدل یو لازمی شرط دے، او ستاسو د دُنیا ژوند، چه هغه په اصل کښ د امتحان وخت دے، تر هغه وخته پورے قایم پاتے کیدے شی تر څو پورے چه حقیقت پټ وی. هر کله چه حقیقت ښکاره شو نو دا مُهلت به ضرور ختمیږی او د امتحان په ځائے به د نتیجے وخت راځی. نو دا تاسو چه کومه مطالبه کوئ د هغے په جواب کښ دا ممکنه نه ده چه تاسو ته فرښتے په اصلی شکل کښ ښکاره کړے شی. ځکه چه الله تعالیٰ ستاسو د امتحان وخت لاختمول نه غواړی. (وګورئ سورة بقرة حاشیه نمبر ۲۲۸).

۷ه دا د هغوئ د اعتراض دویم جواب دے. یو خو دا ده چه فرښتے په خپل اصلی غیبی شکل کښ خلقو ته راشی لیکن د دے په باره کښ دا اووئیلے شو چه لا د دے وخت نه دے راغلے. اوس پاتے شوه دا چه فرښتے د انسان په شکل کښ راشی نو هم هغے به په شک کښ یئ چه دا د الله د طرفنه دی او که نه دی لکه څنګه چه د محمد صلی الله علیه وسلم په باره کښ په شک کښ یئ چه دا د الله د طرفنه دے او که نه دے.

۸ه یعنی د تیرو شوو قومونو د آثار قدیمه او د هغوئ د تاریخی قیصونه به درته دا ثبوت ملاؤ شی چه کوم قومونه د صداقت او د حقیقت نه مخ اړوی او په باطل پرستئ باندِ زور ورکوی نو د هغوئ څنګه هم تناک انجام شو.

۹ه دا د خبرے کولو یوه نرمه طریقه ده. اول حکم وشو چه د هغوئ نه تپوس وکړه چه دا د زمکے او د آسمانونو څیزونه د چا دی. تپوس کونکی دا تپوس وکړو او د جواب په انتظار کښ ودریدو. د چا نه چه تپوس شوے دے هغوئ د دے خبرے قائل دی چه هر څه د الله دی، لیکن هغوئ نه خو د غلط جواب زړه ورتیا کولے شی، او نه صحیح جواب ورکول غواړی، ځکه که صحیح جواب ورکوی نو د دے نه یریږی چه دا خو

كَتَبَ عَلٰى نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ ؕ لَيَجْمَعَنَّكُمْ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ لَا
رَيْبَ فِيْهِ ؕ اَلَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ فَهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۲﴾
وَلَهٗ مَا سَكَنَ فِي الَّيْلِ وَالنَّهَارِ ؕ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿۱۳﴾
قُلْ اَغَيْرَ اللّٰهِ اَتَّخِذُ وَلِيًّا فَاطِرِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَهُوَ
يُطْعِمُ وَلَا يُطْعَمُ ؕ قُلْ اِنِّيْٓ اُمِرْتُ اَنْ اَكُوْنَ اَوَّلَ مَنْ اَسْلَمَ

هغه دَ رحم وکرم طریقه په ځان باندِ لازم کړې ده (ددے وجے نه هغه تاسو ستاسو په نافرمانو او سرکشو باندِ زرنهٔ نیسی)، دَ قیامت په ورځ به ضرور تاسو ټول را جمع کوی، دا بالکل یو بے شکه بے شبے حقیقت دے، خو کومو خلقو چه پخپله خپل ځان دَ تباهئ په خطره کښ اچولے دے هغوئ دا نهٔ منی۔

دَ شپے په تیارهٔ کښ او دَ ورځے په رڼا کښ چه څه ؤ سیږی، هغه ټول دَ الله دی او هغه هر څه اوری او په هر څه پوهه دے۔ ورته ؤوایه، چه آیا الله پریږدم او بل څوک ځان له سرپرست جوړ کړم؟ هغه الله پریږدم چه دَ زمکے او دَ آسمانونو خالق دے او چه روزی ورکوی، روزی اخلی نهٔ؟[۱۰] ورته ؤوایه، چه ما ته خو دا حکم را کړے شوے دے چه زهٔ دَ ټولو نه اول دَ هغه وړاندِ سرښکته کړم (او دا تاکید را ته شوے دے چه څوک شرک کوی نو کوی دی)

دَ شرک دَ عقیدے نه خلاف راځی۔ نو ددے وجے نه هغوئ هیڅ جواب نهٔ ورکوی۔ پس دَ هغے دا حکم ؤشی چه ته ورته پخپله ؤوایه چه دا هر څه دَ الله دی۔

[۱۰] په دیکښ یو باریک اعتراض دے۔ مشرکانو چه دَ الله نه بغیر ځان له څوک خدایان جوړ کړی دی هغه ټول خپلو بندګانو له دَ رزق ورکوئ ځائے اُلټا دَ هغوئ نه دَ رزق اغستلو محتاجه دی۔ یو فرعون هم دَ خپلے خدائی شان تر هغے نشی ساتلے تر څو چه دَ هغه بندګان هغهٔ له ټیکس او نذرانے نهٔ ورکوی۔ دَ یو قبر والا دَ بزرګئ شان تر هغے پورے نشی جوړیدلے تر څو چه دَ هغه ملنګان دَ هغه قبر په شاندار طریقه جوړ نهٔ کړی۔ دَ دیوتا دربار تر هغے نشی ښائسته کیدے تر څو چه دَ هغه پجاری (عبادت کونکے) دَ هغه بُت جوړ نهٔ کړی او بیائے په یو عالیشان مندر کښ کینږدی او دَ ښائست په سلمانونو ئے ښائسته نهٔ کړی۔ ټول دَ دروغو بے وسه خدایان پخپله دَ خپلو بندګانو محتاج دی۔ صرف یو دَ جهانونو بادشاه هغه حقیقی خدائے دے چه دَ هغه خدائی دَ هغه په خپل طاقت قائمه ده او چه دَ چا مدد ته محتاجه نهٔ دے بلکه ټول هغه محتاجه دی

وَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿۱۴﴾ قُلْ اِنِّيْٓ اَخَافُ اِنْ
عَصَيْتُ رَبِّيْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ﴿۱۵﴾ مَنْ يُّصْرَفْ عَنْهُ
يَوْمَىِٕذٍ فَقَدْ رَحِمَهٗ ۭ وَذٰلِكَ الْفَوْزُ الْمُبِيْنُ ﴿۱۶﴾ وَاِنْ
يَّمْسَسْكَ اللّٰهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهٗٓ اِلَّا هُوَ ۭ وَاِنْ يَّمْسَسْكَ
بِخَيْرٍ فَهُوَ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۱۷﴾ وَهُوَ الْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهٖ ۭ
وَهُوَ الْحَكِيْمُ الْخَبِيْرُ ﴿۱۸﴾ قُلْ اَيُّ شَيْءٍ اَكْبَرُ شَهَادَةً ۭ قُلِ اللّٰهُ ۙ
شَهِيْدٌۢ بَيْنِيْ وَبَيْنَكُمْ ۣ وَاُوْحِيَ اِلَيَّ هٰذَا الْقُرْاٰنُ لِاُنْذِرَكُمْ

خو تہ پہ مشرکانو کښ پہ هیڅ حال مہ شاملیږہ۔ ورتہ وُوایہ، کہ چرے ما دَ خپل رب نافرمانی وکړہ نو یَر یږم چہ مالہ بہ دَ لویے (خوفناکے) ورځے سزا راکړے کیږی۔ پہ دغہ ورځ چہ څوک دَ سزا نہ بچ شو پہ هغہ باندِ اللہ لوئ رحم وکړو او دا شاندارہ کامیابی دہ۔ کہ چرے اللہ تا تہ څہ نقصان درورسوی نو دَ هغہ نہ بغیر بل هیڅوک نشتہ چہ تا دَ هغے نقصان نہ بچ کړے شی، او کہ چرے هغہ تاسرہ څہ ښیګړہ وکړی نو هغہ پہ هر څیز قادر دے۔ هغہ پہ خپلو بندګانو باندِ پورہ اختیار لری او پوهہ او خبردار دے۔

دَ دوئ نہ تپوس وکړہ چہ دَ چا ګواهی دَ تولو نہ لویہ دہ؟ ——— ورتہ وُوایہ، چہ زما او ستاسو پہ منځ کښ اللہ ګواہ[1] دے، او دا قرآن ما تہ دَ وحی پہ ذریعہ رالیږلے شوے دے دَ پارہ دے چہ تاسو او چہ چا تہ دا وُرسی،

[1] یعنی پہ دے خبرہ باندِ ګواہ دے چہ زہ دَ هغہ دَ طرفہ رالیږلے شوے یم او زہ چہ څہ ولیم دَ هغہ پہ حکم ےے وایم۔

بِهٖ وَمَنْۢ بَلَغَ ؕ اَئِنَّكُمْ لَتَشْهَدُوْنَ اَنَّ مَعَ اللّٰهِ اٰلِهَةً اُخْرٰى ؕ
قُلْ لَّاۤ اَشْهَدُ ۚ قُلْ اِنَّمَا هُوَ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ وَّ اِنَّنِیْ بَرِیْٓءٌ مِّمَّا
تُشْرِكُوْنَ ﴿۱۹﴾ اَلَّذِیْنَ اٰتَیْنٰهُمُ الْكِتٰبَ یَعْرِفُوْنَهٗ كَمَا یَعْرِفُوْنَ
اَبْنَآءَهُمْ ؕ اَلَّذِیْنَ خَسِرُوْۤا اَنْفُسَهُمْ فَهُمْ لَا یُؤْمِنُوْنَ ﴿۲۰﴾ ع وَ
مَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا اَوْ كَذَّبَ بِاٰیٰتِهٖ ؕ اِنَّهٗ

وقف لازم
اختلاف
وقف لازم

هغوئ تول خبردار کړم - آیا واقعی تاسو دا گواهی ورکولے شئ چه د الله سره نور خدایان هم شته[۱۲]؟ ورته وُوایه، زهٔ خو دا گواهی هرگز نشم کولے[۱۳]. وُوایه چه خدائے خو یس هغه یو دے او په کوم شرک کښ چه تاسو مبتلا یئ زهٔ د هغے شرک نه قطعاً آزاد یم. کومو خلقو له چه مونږ کتاب ورکړے دے هغوئ دا خبره داسے بے شکه بے شبے پیژنی لکه څنګه چه د خپلو ځامنو په پیژندګلو کښ ورته څه شک نهٔ راځی[۱۴]. خو چا چه خپل ځان پخپله په نقصان کښ اچولے دے هغوئ دا نهٔ منی ع. او د هغه چا نه به زیات ظالم څوک وی چه په الله باندِ د دروغو بهتان وُلګوی[۱۵]، یا د الله نښو ته دروغ وُوائی[۱۶]؟ یقیناً داسے

۱۲ـ د گواهی ورکولو د پاره صرف قیاس یا ګمان کافی نهٔ دے بلکه د دے د پاره علم ضروری دے چه د هغے په وجه سړے په یقین سره دا وُوئیلے شی چه کار داسے دے. نو د تپوس مطلب دا دے چه آیا واقعی تاسو ته دا علم شته چه په دے جهان کښ د خدائے نه بغیر بل څوک هم داسے بادشاه او اختیار والا شته چه هغه د بندګئ او د عبادت لائق وی؟

۱۳ـ یعنی که تاسو هسے د دروغو گواهی کوئ نو وکړئ، زهٔ خو داسے گواهی نشم کولے.

۱۴ـ یعنی چا سره چه د آسمانی کتابونو علم دے هغوئ دا حقیقت بیشکه بے شُبے پیژنی چه خدائے یو دے او په خدائیئ کښ ورسره څوک شریک نشته. لکه څنګه چه د چا چے په ډیرو بچو کښ یو ځائے ولاړ وی نو هغه به پکښ خپل بچے د ورایه پیژنی، دغه شان چه څوک د کتاب الٰهی علم لری نو هغوئ د خدائیئ په باره کښ د خلقو د بے شمیره مختلفو عقیدو او نظریو په منځ کښ بے د څه شک شُبے نه دا پیژنی چه حق کوم یو دے.

۱۵ـ یعنی دا دعوے وکړی چه د خدائے سره په خدائیئ کښ نورے هم ډیرے هستئ شریکے دی، د خدائیئ صفتونه پکښ شته دے، د خدائے پشان اختیارات لری، او د دے لائق دی چه انسان ئے بندګی اختیار کړی. دا رنګے دا هم په الله باندِ بهتان دے چه څوک دا وُوائی چه خدائے پاک ځان له فلانے او فلانے خاص ملګری مقرر کړی دی. او الله دا حکم کړے دے، یا دا چه الله په دے راضی دے چه د خدائیئ د صفتونو نسبت دِ دوئ ته وُشی او د خدائے پشان تعلق دِ ورسره وُساتلے شی.

لَا يُفْلِحُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۲۱﴾ وَيَوْمَ نَحْشُرُهُمْ جَمِيْعًا ثُمَّ نَقُوْلُ
لِلَّذِيْنَ اَشْرَكُوْٓا اَيْنَ شُرَكَآؤُكُمُ الَّذِيْنَ كُنْتُمْ تَزْعُمُوْنَ ﴿۲۲﴾
ثُمَّ لَمْ تَكُنْ فِتْنَتُهُمْ اِلَّآ اَنْ قَالُوْا وَاللّٰهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا
مُشْرِكِيْنَ ﴿۲۳﴾ اُنْظُرْ كَيْفَ كَذَبُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ وَضَلَّ عَنْهُمْ
مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿۲۴﴾ وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّسْتَمِعُ اِلَيْكَ ۚ وَجَعَلْنَا

ظالمان هیچرے کامیابی نشی موندلے۔

په کومه ورځ چه به موږ دوئ ټول را جمع کړو او د مشرکانو نه به تپوس وکړو چه اوس ستاسو هغه شریکان څه شو چه تاسو خدایان ګڼل نو هغوئ به ددے (دروغو) نه بغیر بل څه شرارت (فتنه) نشی راپورته کولے چه وُ به وائي اے زموږ پروردګاره، په تامو دِ قسم وی موږ ه هرګز مشرکان نه وو۔ وګوره په دغه وخت به دوئ څنګه پخپل ځان باندِ پخپله دروغ جوړ کړی، او هلته به تر هغه خپل د دروغو خدایان ټول ورک شی۔

په دوئ کښ څنے داسے خلق دی چه ستا خبرو ته غوږ نیسی خو حال دا دے چه موږ ه

[۱۶] د خدائے د نښو نه مراد هغه نښے هم دی چه پخپله په انسان کښ او په ټول کائنات کښ خورے دی، او هغه نښے تر هم مراد دی چه د پیغمبرانو په کردار او د هغوئ په کارنامو کښ ظاهر شوی دی، او هغه هم چه په آسمانی کتابونو کښ پیش کړے شوی دی۔ دا ټولے نښے بس یو حقیقت ته اشاره کوی چه په دے ټول عالم کښ صرف یو خدائے دے او باقی ټول بندګان دی۔ اوس چه ددے ټولو نښو په مقابله کښ څوک د حقیقی شهادت نه بغیر، د علم او د تجربے نه بغیر، صرف په قیاس او په ګمان یا د مشرکانو د تقلید په بنا باندِ، نور څوک د خدائیئ د صفتونو حقدار ګرزوی، نو ښکاره خبره ده چه د هغه نه زیات ظالم بل څوک نشی کیدے۔ هغه په حقیقت او په صداقت باندِ ظلم کوی، هغه په خپل نفس باندِ ظلم کوی او د کائناتو په هر هغه څیز باندِ ظلم کوی چه دے ورسره ددے غلطے نظریئے په بنیاد باندِ څه معامله کوی۔

عَلٰى قُلُوْبِهِمْ اَكِنَّةً اَنْ يَّفْقَهُوْهُ وَفِيْٓ اٰذَانِهِمْ وَقْرًا ۭ وَاِنْ يَّرَوْا كُلَّ اٰيَةٍ لَّا يُؤْمِنُوْا بِهَا ۭ حَتّٰٓى اِذَا جَاۗءُوْكَ يُجَادِلُوْنَكَ يَقُوْلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِنْ هٰذَآ اِلَّآ اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۲۵﴾

دَ هغوئ په زړونو باندې پردے اچولی دی دَهغے په وجه هغوئ په هغے هیڅ نۀ پوهیږی او دَ هغوئ په غوږونو کښ مودرُوند والے اچولے دے (چه هرڅه اوری) او بیا هم هیڅ نۀ اوری)[۱۵]۔ اوکه هرڅومره نښے اُووینی خوایمان به پرې رانوړی۔ حَد خو دا دے چه کله دوئ تالـه راشی اوجګړے درسره کوی نو په دوئ کښ چه کوم خلق دَ نۀ منلو فیصله کړی ده هغوئ (دَ ټولو خبرو اوریدو نه روستو) داوایی چه دا خو بل څه نۀ دی پس هغه پخوانئ قیصی دی[۱۶]۔

[۱۵] دلته په دے خبره غور پکار دے چه دا په دُنیا کښ هرڅه دَ خاص قاعدے او قانون لاندې کیږی، دَ دے لسبت الله څان ته کړے دے، ځکه چه په حقیقت کښ دَ قاعدے اودَ قانون جوړوُنکے الله دے اودے قانون لاندې چه څه کیږی هغه دَ الله په اجازت اودَهغه په ارادے سره کیږی۔ دا دَحق نه منکرین صنديان چه سره دَ هرڅه اَوریدو هیڅ نۀ اَوری اوچه حقه خبره ئے زړهٔ ته نۀ کوزیږی نو دا دَ هغوئ دَ خپل صنداودَ طرز دَ اوپه یو حالت باندې دَ تینګ وُسیدو نتیجه ده۔ دَفطرت قانون (یعنی عامه قاعده) داده چه څوک په صندکښ راشی دَپاک اودَ ریښتینی انسان پشان په بیغه لار روان نۀ شی، نو بیا دَهغه دَ زړهٔ دروازے دَهرهغه ریښتیا وَ دَ پاره بندے شی کوم چه دَ هغه دَ خواهشاتو نه خلاف وی۔ داخبره چه موږ چا ته کوُ نو وایو چه دَ فلانی دَ زړهٔ دروازے بندے دی۔ اوهم داخبره چه کله الله بیانوی نو هغه وائی چه دوهٔ دَ زړهٔ دروازے موږه بندے کړی دی۔ ځکه چه موږه خو صرف واقعه بیانوُ اوالله تعالیٰ دَ واقعے حقیقت بنکاره کوی۔

[۱۶] دَ ناپوهانو خلقو دا عامه قاعده وی چه کله ئے څوک حق طرفته راغواړی نو وائی چه تاپکښ نوے خبره څه کړه، داخو ټولے هغه پخوانئ خبرے دی چه موږه اَورو راَورو۔ تۀ به وے چه دوے بیوقوفانو دا خیال دے چه دَ حق دَ پاره کښ داخبره ضروری ده چه هغه دِ نوے دی او کوم خبره چه زړه وی هغه حق نۀ دی۔ او حال دا دے چه حق خو په هرِ زمانه کښ یو دے او همیشه به یو وی۔ کوم خلق ته چه الله علم ورکړے دے او هغوئ انسانانو ته دَ نبیغے لارے بنود ودپاره را دَ راندِ شوی دی هغوئ ټول دَ پخوانئ زمانے بعد غه یو حق خلق ته پیش کوی۔ او په راتلونکی وخت کښ چه څوک دَ الله دَ علم دَ خزانے نه څه پیش کوی هغه به هم دَ هغه زړه خبرے کړاني کوی۔ البته نوے خبره صرف هغه خلق راایستلے شی چه دَ خدائے دَ رښتیا نه څه ورسره وی او حقیقت نشی لیدلے او په خپل خیال کښ څه خبرے را جوړے کړی او هغه دَ حق په نوم باندې پیش کوی۔ نو دے قسم خلق هغه نااشنا خبره کولے شی چه دَ هغوئ نه مخکښ په دُنیا کښ هیڅوک نۀ وی کړی۔

وَهُمْ يَنْهَوْنَ عَنْهُ وَيَنْـَٔوْنَ عَنْهُ ۚ وَاِنْ يُّهْلِكُوْنَ اِلَّآ اَنْفُسَهُمْ
وَمَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۲۶﴾ وَلَوْ تَرٰٓى اِذْ وُقِفُوْا عَلَى النَّارِ فَقَالُوْا
يٰلَيْتَنَا نُرَدُّ وَلَا نُكَذِّبَ بِاٰيٰتِ رَبِّنَا وَنَكُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۲۷﴾
بَلْ بَدَا لَهُمْ مَّا كَانُوْا يُخْفُوْنَ مِنْ قَبْلُ ؕ وَلَوْ رُدُّوْا لَعَادُوْا
لِمَا نُهُوْا عَنْهُ وَاِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ﴿۲۸﴾ وَقَالُوْٓا اِنْ هِيَ اِلَّا حَيَاتُنَا
الدُّنْيَا وَمَا نَحْنُ بِمَبْعُوْثِيْنَ ﴿۲۹﴾ وَلَوْ تَرٰٓى اِذْ وُقِفُوْا عَلٰى رَبِّهِمْ ؕ

هغوئ ددے حق قبلولو نه خلق منع کوی او پخپله هم ترلرے لرے تختی. (دَ هغوئ دا خیال دے چه په دے چل تا ته هغوئ نقصان دررسوی) او حال دا دے چه هغوئ پخپله خپل ځان تباه کوی خو هغوئ ته ددے پته نه لګی. کاش چه تا دَ دوئ دَ هغے وخت حالت لیدلے شوے چه کله به دوئ دَ دوزخ په غاړه وَ درولے شی. هغه وخت به دوئ وَوائی چه افسوس څه شکل دا سے وے چی مونږه بیا واپس دنیا ته اولیږلے شو او دخپل رب نښے دروغ اُونه ګڼړو او په ایمان راوړونکو خلقو کښے شامل شو په حقیقت کښے هغوئ به دا خبره صرف په دے وجه کوی، چه په دغه وخت کښے به دوئ ته هغه حقیقت بسکاره شوے وی چه په کوم باندِ دوئ مخکښ پرده اچولی وه[19]، او که نه چرے دوئ واپس تیر شوی ژوند ته وَلیږلے شو نو بیا به هغه کارونه کوی چه دَ کومو نه منع کړے شوی دی، دوئ خو دی دروغژن (دَ دوزخ نه دَ وتلو دَ پاره به هم دروغ وائی). نن دا خلق وائی، ژوند چه څه دے هغه خو هم بس دا دَ دُنیا ژوند دے او مونږ به دَ مرګ نه روستو دوباره هیچرے را ژوندی نه کړے شو. کاش چه تا هغه حالت ولیدلے څه وخت چه دوئ دَ خپل رب مخے ته ودرولے شی.

[19] یعنی دَ دوئ ددے وینا وجه به دا نه وی چه عقل ئے صحیح فیصله وکړه یا ګڼی په رښتیا پکښ تبدیلی را غله بلکه دا به ځکه وائی چه حق به پخپلو سترګو اُووینی، او دا خو ښکاره خبره ده چه کله حق ظاهر شی نو بیا خو دَ پوخ نه پوخ کافر هم دَ هغے نه انکار نشی کولے.

قَالَ اَلَيْسَ هٰذَا بِالْحَقِّ ؕ قَالُوْا بَلٰى وَرَبِّنَا ؕ قَالَ فَذُوْقُوا الْعَذَابَ
بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُوْنَ ﴿۳۰﴾ ع قَدْ خَسِرَ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِلِقَآءِ اللّٰهِ ؕ حَتّٰٓى
اِذَا جَآءَتْهُمُ السَّاعَةُ بَغْتَةً قَالُوْا يٰحَسْرَتَنَا عَلٰى مَا فَرَّطْنَا فِيْهَا ۙ
وَهُمْ يَحْمِلُوْنَ اَوْزَارَهُمْ عَلٰى ظُهُوْرِهِمْ ؕ اَلَا سَآءَ مَا يَزِرُوْنَ ﴿۳۱﴾
وَمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ اِلَّا لَعِبٌ وَّلَهْوٌ ؕ وَلَلدَّارُ الْاٰخِرَةُ

په هغه وخت کښې به تر الله تپوس وکړي چه "آيا دا حقيقت نه دے؟" دوئ به ووائي چه "هو اے زمونږ ربه دا حقيقت دے". نو الله به ورته وفرمائي چه "بنه ده، اوس د دے حقيقت نه د انکار کولو په بدله کښې د عذاب مزه وڅکئ". ع

په نقصان کښې پريوتل هغه خلق چه د خدائے سره ئے د خپل ملاقات خبره دروغ وګڼله. څه وخت چه پرناسا په هغه ساعت راشي نو دا خلق به ووائي "افسوس دے! زمونږ نه په دے معامله کښې څنګه کوتاهي وشوه" او د هغوئ به دا حال وي چه پخپلو شاکانو باندې ئے د خپلو ګناهونو پيټي بار کړي وي. کوره! څنګه خراب پيټي دي چه دوئ راغستي دي. د دنيا ژوند خو يوه لوبه او يوه تماشا ده،[۲۰] په حقيقت کښې د آخرت مقام

[۲۰] ددے دا مطلب نه دے چه د دنيا په ژوند کښې هيڅ وقعت نشته او دا دنيا هسے د لوبو تماشو په طور جوړه شوي ده. په اصل کښې ددے مطلب دا دے چه د آخرت د هميشه ژوند په مقابله کښې دا ژوند داسے دے لکه چه څوک د لږ ساعت د پاره په لوبو زړه خوشحاله کړي او بيا خپل اصلي کار نه واپس لاړ شي. دا نګے د دنيا ژوند ته په دے وجه لوبه او تماشے ويلے شوي دي چه دلته حقيقت پټ دے او کوم خلق چه ظاهر ته کوري د هغوئ د پاره د دوکه کيد و ډير اسباب موجود دي او څوک چه يو ځل دوکه شو او د حقيقت نه خلاف روان شو نو هغه بيا داسے عجيبه عجيبه کارونه کوي چه د دنيا دا ژوند ئے هسے لوبه او تماشا ښکاري. مثلاً چه څوک دلته بادشاه شي نو هغه بالکل د ډرامے د هغے بادشاه پشان وي چه تاج پسر کړي او داسے حکم کوي لکه چه دے واقعي بادشاه وي. حالانکه د حقيقي بادشاهئ بوئ پرهم نه وي لږ يدلے. هغه د ډرامے د جوړونکي په يوه اشاره باندې ختميږي. هم دا قسم تماشے په دنيا کښې هر طرفته کيږي. چرته د يو ولي يا د يو بت د دربار نه حاجتونه پوره کيږي، حالانکه هلته د حاجت پوره کولو هيڅ طاقت موجود نه وي. چرته څوک دا کمال ظاهره وي چه زه په غيبو پوهيږم حالانکه هلته د غيبو د علم هډوڅه امکان نه وي. يو ځائے کښې څوک وائي چه زه خلقو له رزق ورکوم حالانکه هغه غريب پخپله د رزق د پاره د بل چا محتاج دے. يو ځائے کښې چرته چا د ځان نه د عزت ورکولو والا او د ذلت ورکولو والا، او د نفع او د نقصان رسولو والا جوړ کړے دے

خَيْرٌ لِّلَّذِيْنَ يَتَّقُوْنَ ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۳۲﴾ قَدْ نَعْلَمُ اِنَّهٗ لَيَحْزُنُكَ
الَّذِيْ يَقُوْلُوْنَ فَاِنَّهُمْ لَا يُكَذِّبُوْنَكَ وَلٰكِنَّ الظّٰلِمِيْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ
يَجْحَدُوْنَ ﴿۳۳﴾ وَلَقَدْ كُذِّبَتْ رُسُلٌ مِّنْ قَبْلِكَ فَصَبَرُوْا عَلٰى

دَ هغے خلقو دَ پاره بهتر دے چه دَ نقصان نه ځان بچ کول غواړی، آیا بیا به هم تاسو دَ عقل نه کار نه اخلئ؟۔

اے محمدؐ، مونږ ته معلومه ده چه دا خلق کومے خبرے کوی په هغے تاله خفګان درځی، لیکن دا خلق تا ته دروغژن نه وائی بلکه دا ظالمان په اصل کښ دَ الله دَ آیتونو نه انکار کوی[۲۱]۔ ستا نه روسے هم ډیر رسولان دروغ ګڼړلے شوی دی، خو هغوئ ته چه خلقو دَ دروغو نسبت وکړو او تکلیفونه ئے ورو رسول نو هغوئ په هغے باندِ

او دَ خپلے لوئی دا سے شهرت کوی لکه چه دے دَ خوا و شا مخلوقاتو خدائے وی، حالانکه دَ بندګئ داغ پخپله دَ هغه په تندی لګیدلے وی، او چه تست ورله لږه شان دیکه ورکړی نو دَ غرور دَ لوړ ځائے نه ئے دَ هغے خلقو په خپو کښ را غوزار کړی چه دَ پرونه پورے ئے پرِ خدائی کوله۔ دا هر څه لوبے چه دَ دُنیا په دے ژوند کښ کیږی، دَ مرګ دَ راتلو سره به بالکل ختم شی او اَخوا به انسان هغه جهان ته وُرسی چه هر څه به پکښ دَ حقیقت مطابق وی او هر انسان ته به دا وُ ښودلے شی چه دَ دُنیا دَ دوکو نه ئے څومره حقیقت دَ ځان سره راوړے دے چه دلته پرِ ددهٔ دَ حق تله درنه شی۔

[۲۱] حقیقت دا دے چه ترڅو پورے محمد صلی الله علیه وسلم دَ الله آیتونه خلقو ته اورول نه وُو شروع کړی نو ټولو خلقو به هغه ته امین او صادق وے او هر چا دَ هغه په رښتیولئ باندِ بروسه لرله۔ دروغژن ئے ورته هغه وخت کښ اُووے کله چه هغهؐ دَ الله دَ طرفنه پیغام رسول شروع کړل۔ په دے دویم دور کښ هم دَ هغه سخت مخالف هیچرے دا الزام نه دے لګولے چه هغهؐ دَ دُنیا په معامله کښ چرے دروغ وئیلی دی۔ هغوئ صرف ستا دَ نبوت حیثیت ته دروغ وائی۔ دَ هغهؐ دَ ټولو نه لوئ دشمن ابوجهل وُو۔ او دَ حضرت علیؓ نه روایت دے چه یو ځلے هغهٔ پخپله دَ نبی صلی الله علیه وسلم سره خبرے کولے او وئیل ئے چه "انا لا نکذبك ولکن نکذب ما جئت به" مونږ تا ته دروغژن نه وایو، خو څه چه ته پیش کوے هغے ته دروغ وایو۔ دَ جنګ بدر په موقع باندِ اَخنس بن شریق ځان له دَ ابوجهل نه تپوس وکړو چه دلته زما او ستا نه بغیر بل څوک نشته، رښتیا وُوایه چه محمدؐ ته رښتیا ګڼړے که دروغژن؟ هغهٔ جواب ورکړو چه "په خدائے مِ دِ قسم وی محمدؐ رښتینے سړے دے، ټول عمر ئے چرته دروغ نه دی وئیلی، خو چه جنډه، دَ اُوبو څکولو کار او دَ دروازه واک اختیار او نبوت

مَا كُذِّبُوْا وَاُوْذُوْا حَتّٰٓى اَتٰىهُمْ نَصْرُنَا ۚ وَلَا مُبَدِّلَ لِكَلِمٰتِ اللّٰهِ ۚ
وَلَقَدْ جَآءَكَ مِنْ نَّبَاِى الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۳۴﴾ وَاِنْ كَانَ كَبُرَ عَلَيْكَ
اِعْرَاضُهُمْ فَاِنِ اسْتَطَعْتَ اَنْ تَبْتَغِىَ نَفَقًا فِى الْاَرْضِ اَوْ سُلَّمًا
فِى السَّمَآءِ فَتَاْتِيَهُمْ بِاٰيَةٍ ؕ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَجَمَعَهُمْ عَلَى الْهُدٰى

صبر وکړو، تر دے پورے چه هغوئ ته زمونږ مدد ورو رسیدو. دا طاقت په هیچا کښ نشته چه د الله خبرے بدلے کړی[۲۲]، او د پخوانو پیغمبرانو سره چه څه شوی دی د هغے خبرونه هم تا ته درر سیدلی دی. بیا هم که ته ددے خلقو دا مخ اړول برداشت کولے نه شے نو که وس درسی نو په زمکه کښ څه سرنګ ولټوه یا آسمان ته اندر پایه ونکوه او دوئ له د څه نښے راوړلو کوشش وکه[۲۳]. که چرے الله غوښتلے نو دوئ ټول ئے په هدایت باندرا جمع کولے شو،

هر څه د نبی قصی په حصه کښ راشی نو ته وو ایه چه د باقی قریشو سره څه پاتے شو؟ دغه وجه ده چه د لته الله تعالیٰ خپل نبی له تسلی ورکوی چه د دروغو نسبت په اصل کښ تا ته نه بلکه ما ته کیږی، او چه زه صبر او برداشت کوم او مهلت ورکوم نو ته ولے پریشانه کیږے.

۲۲ یعنی الله چه د حق او د باطل د جګړے د پاره کوم قانون جوړ کړے دے د هغے د بدلولو طاقت په هیچا کښ نشته. د حق مرسته کونکو د پاره دا ضروری ده چه ډیره موده په سختو سختو آزمیښتونو کښ پراته وی د خپل صبر د خپلے ریښتینولئ، د خپلے قربانئ او د خپل عشق، د خپل ایمان د مضبوطیا او په خدائے باندے د توکل امتحان ورکړی. د مصیبتونو او د سختو د دور نه تیر شی او داسے صفتونه ځان کښ پیدا کړی چه هغه په دغه سخته لار کښ ښه تازه کیږی. او اول اول د ښو اخلاقو او د نیک عمل په سبب په جاهلیت باندے فتح حاصله کړی. دغه شان چه په دے طریقه هغوئ د ټولو نه زیات صالحان نیکان خلق شی نو بیا به د هغوئ د پاره د الله امداد نیک په وخت باندے را رسیږی. د وخت نه مخکښ د الله امداد څوک ځان له نشی راوستلے.

۲۳ نبی صلی الله علیه وسلم چه به کله وکتل چه ددے خلقو په پوهه کولو باندے ډیره موده تیره شوله او دوئ نیغے لارے ته را نغلل نو اکثر به ئے په زړه کښ دا خواهش را پیدا شو چه د خدائے د طرفنه یوه داسے نښه ظاهره شوے چه دا خلق پرے د کفر نه را واوړی او زما خبره ومنی، په دے آیت کښ د نبی ددے خواهش جواب شوے دے. مطلب دا دے چه د بے صبرئ نه کار مه اخله. په کومه طریقه او په کوم ترتیب سره چه مونږه رو رو دا کار چلوو هم په هغے طریقه ښه په صبر سره کار کوه. که په معجزو م کولے نو ولے ما پخپله نشو کولے؟ خو زه پوهیږم چه د کوم کار د پاره ته مونږه لیږلے یئے د هغے د پاره دا صحیح لار نه ده. ستا کار خو د انسان په فکر او اخلاقو کښ انقلاب راوستل دی او د نیک صالحه ژوند جوړولو د پاره کار کول دی. خو که ته د خلقو دے فکر او انکار ته کورے او صبر نشی

فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْجٰهِلِيْنَ ﴿۳۵﴾ اِنَّمَا يَسْتَجِيْبُ الَّذِيْنَ يَسْمَعُوْنَ ؕ

نوتۀ ناپوهه مۀ جوړیږه. دَ حق بَلنه هغه څوک قبلوی چه اَوریدونکی وی،

کولے او ستا دا خیال وی چه دَ دے دَ پاره څه ښکاره نښه ښکاره کول پکار دی، نو بیا تۀ پخپله زور ؤ لګوه او که څه طاقت دِ وی نو په زمکه کښ ورننوځه یا آسمان ته ؤخیژه او دَ داسے معجزے راوړلو کوشش ؤکړه چه ستا په خیال هغه دَ یقین پیدا کولو دَ پاره کافی وی۔ خو زمانه اُمید مه لره چه زۀ به په دے کښ ستا امداد ؤکړم، ځکه چه زما په سکیم کښ دا قسم تدبیر نشته۔

۲۴ یعنی که صرف دا خبره وے چه ټول انسانان دِ په څه طریقه په نیغه لار روان شی، نو بیا دَ نبی دَ لیږلو، دَ کتابونو دَ نازلولو، دَ مؤمنانو دَ کافرانو سره دَ جهاد کولو او دَ حق آواز په رُو رُو دَ کامیابولو څه ضرورت ؤو۔ دا کار خو الله په یوه اشاره سره کولے شو۔ لیکن الله دا کار په دے طریقه باندِ کول نۀ غوښتل۔ دَ الله دا خوښه ده چه حق دِ سره دَ دلیلونو خلقو ته پیش کړے شی۔ بیا کومو خلقو چه صحیح فکر ؤکړو او حق ئے ؤ پیژندونو هغوئ دِ په خپل اختیار باندِ په هغے ایمان راوړی۔ خپل عملونه دِ دَ هغے مطابق کړی او دَ باطل پرستو په مقابله کښ دِ دَ خپلو اخلاقو ثبوت ورکړی۔ په خلقو کښ دِ صالحان خلق دَ خپل مضبوط دلیلونو، دَ خپل لوړ مقصد، دَ خپل بهترین اُصولو، او دَ خپل پاک ژوند په زور دَ ځان سره شامل کړی۔ او دَ باطل خلاف دِ مسلسل کوشش شروع کړی او دَ ترقئ په حقیقی لاره دِ دَ دینِ حق دَ قائمولو منزل ته ځان ؤرسوی۔ الله به په دے کار کښ دَ هغوئ رهنمائی کوی او چه دَ څه امداد مستحق وی هغه به هم ورسره کوی۔ لیکن که څوک دا غواړی چه دا حقیقی لار دِ پځائے پاتے شی او الله تعالیٰ دِ یواځے په خپل زبردست طاقت سره غلط او فاسد خیالات لوے کړی او په خلقو کښ دِ نیک صالح خیالات خواره کړی او دا غلط او فاسد ژوند دِ ختم کړی، او نیک صالحه ژوند دِ جور کړی، نو داسے به هیچ ؤ نۀ شی، ځکه چه دا طریقه دَ الله تعالیٰ دَ هغے حکمت نه خلاف ده دَ کوم حکمت دَ لاندِ چه الله تعالیٰ په دُنیا کښ انسان پیدا کړے دے۔ انسان یو ذمه وار مخلوق دے، دۀ ته دَ کار کولو پوره اختیارات حاصل دی، دَ منلو او دَ نۀ منلو آزادی ئے ورکړی ده، دَ امتحان مُهلت ئے ورکړے دے، او دَ هغه دَ عمل مطابق دَ جزا او دَ سزا ورکولو دَ پاره ئے دَ فیصلے یو وخت مقرر کړے دے۔

وقف منزل عند البعض علی یسمعون

وَالْمَوْتٰى يَبْعَثُهُمُ اللّٰهُ ثُمَّ اِلَيْهِ يُرْجَعُوْنَ ﴿۳۶﴾ وَقَالُوْا لَوْلَا نُزِّلَ
عَلَيْهِ اٰيَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ ؕ قُلْ اِنَّ اللّٰهَ قَادِرٌ عَلٰٓى اَنْ يُّنَزِّلَ اٰيَةً
وَّلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۳۷﴾ وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ فِى الْاَرْضِ
وَلَا طٰٓئِرٍ يَّطِيْرُ بِجَنَاحَيْهِ اِلَّآ اُمَمٌ اَمْثَالُكُمْ ؕ مَا فَرَّطْنَا
فِى الْكِتٰبِ مِنْ شَىْءٍ ثُمَّ اِلٰى رَبِّهِمْ يُحْشَرُوْنَ ﴿۳۸﴾
وَالَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا صُمٌّ وَّبُكْمٌ فِى الظُّلُمٰتِ ؕ مَنْ يَّشَاِ اللّٰهُ

او پاتی شو مړی[۲۵]، نو هغوئ خو به بس الله د قبرونو نه راپورته کوی او بیا به هغوئ (د الله عدالت ته د پیش کیدو د پاره) واپس را وستلے کیږی.

دا خلق وائی چه په دے نبی باندِ د خپل رب د طرفنه څه نښه ولے نازله نه شوه؟ ورته وُ وایه چه الله د نښے نازولو پوره قدرت لری، خو په دوئ کښ اکثر خلق ناپوهان دی[۲۶]. په زمکه کرزیدونکو ځناورو ته او په هوا کښ الوتونکو مارغانو ته وګورئ، دا ټول ستاسو غوندِ قسمونه دی، موږ ددے ټولو په نصیبه لیکلو کښ څه کمے نه دے پریښودے، بیا دا ټول خپل رب طرفته ورغونډیږی. خو کوم خلق چه زموږ نښے دروغ ګڼړی هغوئ کانړه دی او چاړاکان دی، په تیرو کښ پرانه دی[۲۷]. الله چه څوک ګمراه کول غواړی

۲۵ـه د اوریدونکو نه مراد هغه خلق دے چه د هغوئ زړونه (ضمیرونه) ژوندی دی، چه هغوئ خپل عقل او فکر بے کاره نه دے پریښودے، او چه خپلو زړونو ته ئے د طرفداری (تعصب) او د ضد جرندے نه دی اچولی. او مړه هغه خلق دی چه په نچوانو رسمونو او ریواجونو باندِ د ړند و پشان روان دی او بل یوے خبرے قبلولو ته تیار نه دی اګرکه هغه حقه وی.

۲۶ـه د نښے نه مراد ښکاره معجزه ده. د معجزے نه ښکار کولو وجه دا نه ده چه الله ئے ښکاره کولے نشی، بلکه ددے وجه بله ده چه دا خلق پر د خپلے ناپوهتیا په سبب نه پوهیږی.

۲۷ـه مطلب دا دے چه که ستاسو صرف د تماشے کتلو شوق نه وی بلکه په حقیقت کښ ددے خبرے معلومولو د پاره نښه لیدل غواړئ چه دا نبی څه وائی چه دا حق دی او که نه دی، نو سترګے وغړوئ او وګورئ ستاسو نه چار چاپیره هر طرفته نښے نښے دی. د زمکے د ځناورو او د هوا د مارغانو نه صرف دیو قسم د ځناور په ژوند باندِ غور وکړئ. څه رنګے د هغوئ شکل او جوړښت تیک تیک د هغوئ د حال سره

يُضْلِلْهُ ۗ وَمَنْ يَّشَاْ يَجْعَلْهُ عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۳۹﴾ قُلْ

نو هغه گمراه کوی او چه چا ته نیغه لار ښودل غواړی نو هغه په تیغه لار روانوی۔[۲۸] دوئ ته ووایه،

مناسب جوړ شوے دے۔ څه رنګے هغوئ له دَ ضرورت مطابق طاقتونه ورکړے شوی دی۔ څه رنګے دَ هغوئ دَ رزق انتظام کیږی۔ څه رنګے دَ هغوئ یوه اندازه مقرر ده چه دَ هغے نه نه وړاندِ تلے شی او نه روستو تلے شی۔ څه رنګے دَ یو یو ځناور او دَ یو وړوکی نه وړوکی چنجی په خپل ځائے باندِ نګرانی او حفاظت او رهنمائی کیږی۔ څه رنګے دَ هغوئ نه دَ یو مقرر سکیم مطابق کار اغستلے کیږی۔ څه رنګے دَ یوے قاعدے پابند جوړ کړے شوی دی او څه رنګے دَ هغوئ دَ پیدا کیدو، دَ بچو راوړو او دَ مرګ سلسله ښه په باقاعدګئ سره روانه ده۔ که چرے دَ خدائے په بے شمیره نښو کښ صرف په دے یوه نښه غور وکړئ نو تاسو ته به معلوم شی چه دا پیغمبر تاسو ته دَ خدائے دَ یووالی او دَ خدائے دَ صفتونو کوم تصوّر پیش کوی او دَ هغے تصوّر مطابق په دُنیا کښ دَ ژوند تیرولو کومه طریقه تاسو ته ښائی هغه بالکل حق ده۔ لیکن تاسو نه پخپله سترګے غړوئ او نه دَ بل خبره اوری۔ دَ جهالت په تیږو کښ پراته یئ او غواړئ چه دَ قدرت نا اشنا نا اشنا کارونه اوونیئ او خپل زړو نه خوشحاله کړئ۔

[۲۸] دَ خدائے ګمراهه کول دا دی چه یو جاهل انسان ته دا توفیق ورنه کړے شی چه هغه دَ خدائے په نښو (آیاتِ الٰهی) باندِ غور وکړی، او که یو داسے سړے چه هغه حقیقت نه خوښوی او طرفدار وی هغه که دَ خدائے نښے هم ووینی خو حقیقت ته دَ رسیدو نښے دَ هغه دَ سترګو نه پناه وی او په دوکه کښ اچونکی څیزو نه هغه دَ حق نه ښه لرے راکاږی۔ او دَ دے برخلاف دَ الله هدایت دا دے چه دَ حق تلاش کونکی ته دَ علم نه دَ فائدے اغستلو توفیق ورکړے شی، او دَ الله په نښو (آیات الله) کښ ورته حقیقت ته دَ رسیدو نښے ښکاریږی۔ دَ دے مثالونه هر وختے زمونږ ه دَ سترګو دَ وړاندِ راځی۔ ډیر انسانان داسے دی چه دَ هغوئ مخے ته دَ الله بے شمیره نښے په دُنیا کښ او په مخلوق کښ خورے ورے پرتے دی خو هغوئ ورته دَ ځناور پشان هسے کوری او څه سبق ترنه حاصلوی۔ او ډیر انسانان داسے دی چه دَ ځناورو (Zoology)، دَ بوټو (Botany)، دَ ژوند (Biology)، دَ زمکے (Colony)، دَ بدن دَ اندامونو (Physiology) او دَ سائینسی علمونو په فورو څانګو باندِ غور کوی، په تاریخ، په آثارِ قدیمه او په اجتماعی علمونو (Social Sciences) باندِ تحقیق کوی، او داسے داسے نښے ورله مخے له راځی چه زړه پرِ دَ ایمان نه ډکیږی۔ خو چه هغه دَ اول نه طرفدار او بدلیته وی او دَ دُنیا دَ فائدو نه سوا بل هیڅ مقصدے نه وی، نو هغه ته هغه نښے نه ښکاری چه دے پرِ صداقت ته رسی، بلکه چه څه نښے ورله مخے له راځی هغه دے دهرّیت، کفر، ماده پرستئ او نیچریت طرفته راکاږی۔ (یعنی دا عقیده ئے جوړیږی چه فطرت هر څه کوی)۔ دَ دے خلقو په مقابله کښ داسے خلق هم شته چه په غړیدلو سترګو دَ دُنیا دے نظام ته ګوری او دَ هغوئ دا حال دے چه،

اَرَءَيْتَكُمْ اِنْ اَتٰىكُمْ عَذَابُ اللّٰهِ اَوْ اَتَتْكُمُ السَّاعَةُ اَغَيْرَ
اللّٰهِ تَدْعُوْنَ ۚ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۴۰﴾ بَلْ اِيَّاهُ تَدْعُوْنَ
فَيَكْشِفُ مَا تَدْعُوْنَ اِلَيْهِ اِنْ شَآءَ وَتَنْسَوْنَ مَا تُشْرِكُوْنَ ﴿۴۱﴾ ع

چه لږ غور وکړی او ووایئ، که په تاسو باندې د الله د طرفنه څه لوئ مصیبت راشی یا در باندې آخری ساعت راشی نو کنی په هغه وخت کښ به تاسو د الله نه بغیر بل چا ته آواز کوئ؟ او وایئ که تاسو رښتینی یئ - په هغه وخت کښ خو خاص یو الله ته آواز کوئ، بیا که هغه وغواړی نو دغه مصیبت ستاسو نه لرے کړی. په داسے موقعو باندې ستاسو نه خپل شریکان هیر شی[۲۹] ع

برگ درختان سبز در نظر هوشیار
هر ورقے دفتریست معرفت کردگار

د هوښیارانو په نظر کښ د شنو ونو هره پانړه د خدائے د پیژندو د پاره یو لوئ دفتر دے.

۲۹ په تیر شوی آیت کښ داوئیلے شوی وو چه تاسو د یوے نښے مطالبه کوئ او حال دا دے چه ستاسو نه هر طرفته چارچاپیره نښے خورے دی. د دے په باره کښ اوّل د مثال په طور اووئیلے شو چه تاسو د ځناورو په ژوند باندې غور وکړئ. اوس ورته اووئیلے شو چه یوے بلے نښے ته غور وکړئ چه هغه د حق نه د منکرینو په خپل نفس کښ موجود ده. کله چه په انسان باندې یو لوئ مصیبت راشی، یا ورته د مرګ وخت نزدے راشی، نو په دغه وخت کښ ورته د پناه اغستلو د پاره د الله نه بغیر بل څوک په نظر نه راځی. د لویو لویو مشرکانو نه په داسے موقعه خپل معبودان هیر شی او یو خدائے ته آوازونه شروع کړی. د سخت نه سخت دهریه خدائے ته د دعا د پاره لاسونه غوړوی. دلته د حق ښودلو د پاره دا نښه په کوته کړے شوی ده، ځکه چه دا نښه په دے خبره باندې یو دلیل دے چه د خدائے د عبادت او د خدائے د یووالی ګواهی د هر انسان په نفس کښ موجود ده، که د غفلت او د ناپوهئ په وجه پرهر څومره پردے پرے وی، خو بیا هم کله نا کله ښکاره کیږی. د ابوجهل ځوئ عکرمه ته د دے نښے د ښکاره کیدو په وجه ایمان نصیب شو. کله چه د نبی صلی الله علیه وسلم په لاس باندې مکه معظمه فتح شوه نو عکرمه جدّے طرفته وتښتیدو او په یوه کشتئ کښ حبشو ته روان شو. په لاره پرې سخت طوفان راغے او د کشتئ د اوړیدو خطره پیدا شوه. اوّل اوّل ئے خو دیوتا ګانو ته آوازونه کول. خو چه کله طوفان سخت شو او د مسافرانو یقین راغے چه کشتئ ډوبیږی نو ټولو اووے چه دا وخت د الله نه بغیر بل چا ته د آواز کولو نه دے، که یو الله وغواړئ نو

وَلَقَدْ اَرْسَلْنَآ اِلٰٓى اُمَمٍ مِّنْ قَبْلِكَ فَاَخَذْنٰهُمْ بِالْبَاْسَآءِ
وَالضَّرَّآءِ لَعَلَّهُمْ يَتَضَرَّعُوْنَ ﴿۴۲﴾ فَلَوْلَآ اِذْ جَآءَهُمْ بَاْسُنَا
تَضَرَّعُوْا وَلٰكِنْ قَسَتْ قُلُوْبُهُمْ وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطٰنُ مَا كَانُوْا
يَعْمَلُوْنَ ﴿۴۳﴾ فَلَمَّا نَسُوْا مَا ذُكِّرُوْا بِهٖ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ
اَبْوَابَ كُلِّ شَيْءٍ ؕ حَتّٰٓى اِذَا فَرِحُوْا بِمَآ اُوْتُوْٓا اَخَذْنٰهُمْ
بَغْتَةً فَاِذَا هُمْ مُّبْلِسُوْنَ ﴿۴۴﴾ فَقُطِعَ دَابِرُ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ

ستانه مخکښ ډیرو قومونو ته موږ ه رسولان ولیږل او هغه قومونه مو په مصیبتونو او تکلیفونو کښ مبتلا کړل د پاره د دے چه هغوئ په عاجزئ سره موږ ته راټیټ شی. نو چه کله زموږ د طرفنه په هغوئ باندِ سختی راغله نو هغوئ عاجزی ولے اختیار نه کړه؟ بلکه د هغوئ زړونه خو نور هم سخت شوا و شیطان ورله تسلی ورکړه چه تاسو څه کوئ دا ښه کوئ. بیا چه هغوئ ته کوم نصیحت شوے وو هغه یئ هیر کړو نو موږ ه پرِ د هر قسم د خوشحالئ دروازے پرانستے، تر دے پورے چه کوم بخشش په هغوئ شوے وو هغوئ د هغے په خوشحالئ کښ ښه مست شو نو ناسا په موږ ه هغوئ راونیول او دا حال یئ وو چه بیا د هر خیر نه نا اُمیده وو. په دے طریقه د هغے خلقو جرړه پریکړے شوه چه

موږ بچ کیدے شو. په دغه وخت کښ د عِکرِمه سترګے وغړیدے او د زړه نه ئے یو آواز راپورته شو چه دلته د الله نه بغیر بل څوک مددګار نشته نو په بل ځائے کښ به الله ولے مددګار نه وی. دا خو هغه خبره ده چه د الله هغه نیک بنده ئے د شلو کالو راسے موږ ته وائی او موږ ورسره جنګ کوو. دا د عِکرِمه په ژوند کښ هغه وخت وو چه هغه د خدائے سره وعده وکړه چه که زه د دے طوفان نه بچ شوم نو سیده به د محمد صلی الله علیه وسلم خواله ځم او ایمان به راوړم. هغه دا خپله وعده پوره کړه چه د طوفان نه بچ شو نو مسلمان شو او خپل باقی عمر یئ د اسلام د پاره په جهاد کښ تیر کړو.

ظَلَمُوْا ؕ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۴۵﴾ قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ اَخَذَ اللّٰهُ
سَمْعَكُمْ وَاَبْصَارَكُمْ وَخَتَمَ عَلٰى قُلُوْبِكُمْ مَّنْ اِلٰهٌ غَيْرُ اللّٰهِ يَاْتِيْكُمْ
بِهٖ ؕ اُنْظُرْ كَيْفَ نُصَرِّفُ الْاٰيٰتِ ثُمَّ هُمْ يَصْدِفُوْنَ ﴿۴۶﴾ قُلْ اَرَءَيْتَكُمْ
اِنْ اَتٰىكُمْ عَذَابُ اللّٰهِ بَغْتَةً اَوْ جَهْرَةً هَلْ يُهْلَكُ اِلَّا الْقَوْمُ
الظّٰلِمُوْنَ ﴿۴۷﴾ وَمَا نُرْسِلُ الْمُرْسَلِيْنَ اِلَّا مُبَشِّرِيْنَ وَمُنْذِرِيْنَ ۚ
فَمَنْ اٰمَنَ وَاَصْلَحَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿۴۸﴾
وَالَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا يَمَسُّهُمُ الْعَذَابُ بِمَا كَانُوْا يَفْسُقُوْنَ ﴿۴۹﴾

ظالمے کړے وَاو تعریف دَ اللہ رب العلمین دَ پارہ دے (چه هغه دَ هغوئ جرړه پریکړه).
اے محمدؐ، دوئ ته وَوایه، چه چرے تاسو پدے خبره سوچ کړے دے چه که خدائے ستاسو نه لیدل او اوریدل واخلی او په زړونو درله تاپے وَلکوی[۳۰] نو دَ اللہ نه بغیر بل کوم خدائے دے چه دا قوتونه به درله واپس درکړے شی؟ وَکوره، موږه دوئ ته څنګه خپلے نښے بیا بیا پیش کوُو او بیا دوئ تر څنګه نظر اَړوی راَړوی - و رته وَوایه، چه آیا تاسو چرته داسوچ هم کړے دے چه که دَ اللہ دَ طرفنه ناسا په یاجهرًا په تاسو باندے عذاب راشی نو آیا دَ ظالمانونه علاوه به نور څوک هلاکیږی؟ موږه چه کوم پیغمبران لیږو خو دے غرض دَ پارهٔ لیږو چه دَ نیکانو خلقو دپاره خوشخبری ورکونکی وی او دَ بدانو خلقو دَ پاره یَرونکی وی - بیا چه چا دَ هغوئ خبره وَ منله او دَ خپل عمل اصلاح ئے وَکړه نو دَ هغوئ دَ پاره دَ یَرے او دَ غم هیڅ موقعه نشته - او چا چه زموږ آیتونه دروغ اُووے نو هغوئ به دَ خپلو نافرمانو په بدله کښ ضرور سزا خوری -

۳۰ دلته په زړونو باندے دَ مهر لګولو مطلب دا دے چه دَ هغوئ نه دَ سوچ کولو او دَ پوهیدلو قوتونه واخلی -

قُلْ لَّآ اَقُوْلُ لَكُمْ عِنْدِيْ خَزَآئِنُ اللّٰهِ وَلَآ اَعْلَمُ الْغَيْبَ وَ
لَآ اَقُوْلُ لَكُمْ اِنِّيْ مَلَكٌ ۚ اِنْ اَتَّبِعُ اِلَّا مَا يُوْحٰٓى اِلَيَّ ؕ قُلْ
هَلْ يَسْتَوِي الْاَعْمٰى وَالْبَصِيْرُ ؕ اَفَلَا تَتَفَكَّرُوْنَ ع (۵۰)

اے مُحَمَّدؐ، دوئ ته ؤوایه چه "زهٔ تاسو ته دا نهٔ وایم چه زما سره دَ الله خزانے دی. نهٔ زهٔ دَ غیبو علم لرم، او نهٔ دا درته وایم چه زهٔ فرښته یم. زهٔ خو بس په هغے وحی پسے روان یم کومه چه په ما باندِ نازلیږی[۳۱]" بیا ترِ تپوس وکړه چه روند او سترګو والا دواړه برابر کیدے شی[۳۲]؟ تاسو غور نهٔ کوئ؟ ع

[۳۱] دَ ناپوهه خلقو په خیال کښ همیشه دا غلط تصوّر وی چه څوک دَ خدائے نیاز ولے وی نو پکار دی چه هغه دَ انسانانو نه ډیر پورته وی او پکار دی چه هغه نا اشنا نا اشنا کارونه کوی، چه هغه یوه اشاره وکړی او غرد سروشی، چه حکم وکړی او دَ زمکے نه خزانے راوځی، هغهٔ ته دِ دَ خلقو مخکښ روستو ټول حالات معلوم وی، ورک شوی څیزونه دِ خو دلے شی، دا دِ ورته معلومه وی چه مریض به بچ شی که مړ به شی، دَ بار دارے ښځے په خیټه کښ بچے نر دے که ښځه، هغهٔ له دا هم پکار دی چه انسانی کمزورئ پکښ نهٔ وی. هغه هم لا دَ خدائے نیاز بین کیدے شی چه لوږه او تنده پرِ راځی، چه وده کیږی، چه ښځه او بچی ئے وی چه دَ خپل ضرورتونو پوره کولو د پاره دَ اغستلو خرڅولو د پاره ګرځی، چه کله قرضونه کوی او کله دَ غریبئ دَ لاسه پریشانه وی. دا قسم خیالات دَ نبی صلی الله علیه وسلم دَ زمانے دَ خلقو په ذهن کښ وُو. هغوئ چه به کله دا وریدل چه محمد صلی الله علیه وسلم دَ پیغمبرئ دعوی کړی ده نو د رښتینولئ دَ پاره به ئے ترِ دَ غیبو تپوسونه کول، دَ عادت ته خلاف کارونه به ئے ترِ غوښتل، او چه دا به ئے وَلیدل چه هغهٔ خو دَ عامو انسانانو په شان انسان دے نو دا اعتراضونه به ئے کول چه دا ښه پیغمبر دے، خوری او څکی، ښځه او بچی ئے دی او په بازارونو کښ ګرځی. د دے خبرو جواب په دے آیت کښ شوے دے.

[۳۲] مطلب دا دے چه زهٔ کوم حقیقتونه تاسو ته وړاندِ کوم، هغه ما کتلی دی، هغه زما په تجربه کښ راغلی دی، ما ته دَ وحی په ذریعه ټیک ټیک علم راکړے شوے دے، دَ هغے په باره کښ زما ګواهی دَ سترګو لیدلی ګواهی ده. او تاسو چه یئ نو د دے حقیقتونو دَ طرفنه ړانده یئ، دَ دے په باره کښ چه ستاسو څه خیالات دی هغه خو یا قیاس دے یا ګمان دے او یا په پټو سترګو په چا پسے تلل دی. نو زما او ستاسو په منځ کښ دَ بینا او دَ نابینا پشان فرق دے او د دے وجے نه ما ته په تاسو باندِ فوقیت حاصل دے، زما فوقیت د دے وجے نه نهٔ دے چه زما سره دَ خدائے خزانے دی یا زما سره دَ غیبو علم دے او یا زهٔ دَ انسانی کمزورونه پاک یم.

وَاَنْذِرْ بِهِ الَّذِيْنَ يَخَافُوْنَ اَنْ يُّحْشَرُوْٓا اِلٰى رَبِّهِمْ لَيْسَ لَهُمْ
مِّنْ دُوْنِهٖ وَلِيٌّ وَّلَا شَفِيْعٌ لَّعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ ﴿۵۱﴾ وَلَا تَطْرُدِ
الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَدٰوةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيْدُوْنَ وَجْهَهٗ ؕ
مَا عَلَيْكَ مِنْ حِسَابِهِمْ مِّنْ شَيْءٍ وَّمَا مِنْ حِسَابِكَ عَلَيْهِمْ مِّنْ شَيْءٍ

او اے محمدؐ، تۀ ددے (وحی) پہ ذریعہ هغہ خلقو تہ نصیحت وکړہ چہ ددے خبرے یرہ ورسرہ وی چہ خپل رب تہ بہ پہ داسے حال کښ پیش کیږی چہ هلتہ بہ دَ هغہ نہ بغیر بل څوک (داسے اقتدار والا) نۀ وی چی هغہ دَ هغوی مرستیال او مددگار وی، یا دَ هغوی سفارش اوکړی کیدے شی چی هغوی (ددے نصیحت پہ ذریعہ خبردار شی او) دَ خدائے نہ اُویریږی[۳۳] او کوم خلق چہ خپل رب شپہ او ورځ رابلی او دَ هغہ دَ رضا پہ تلاش کښ مشغول وی نو هغوی دَ ځان نہ مہ شړہ[۳۴]، دَ هغوی دَ حساب هیڅ بوج پہ تا باندِ نشتہ او ستا دَ حساب هیڅ بوج پہ هغوی باندِ نشتہ۔

[۳۳] مطلب دا دے چہ څوک دَ دُنیا پہ ژوند کښ داسے بیهوشہ پراتۀ دی چہ دَ هغوی سرہ نۀ دَ مرګ فکر شتہ او نۀ ئے دا خیال شتہ چہ دَ خدائے سرہ بہ مخامخیږی، نو دا نصیحت بہ پہ هغوی باندِ هرګز اثر ونۀ کړی۔ دغہ شان پہ هغہ خلقو باندِ بہ هم ددے نصیحت هیڅ اثر نۀ وی چہ پہ دے بے بنیادہ بروسہ باندِ ژوند تیر وی چہ کہ پہ دُنیا کښ مونږ هر څہ کوو خو پہ آخرت کښ بہ را تہ هیڅ عذاب نۀ ملاویږی ځکہ چہ مونږ دَ فلانی مُریدان یُو، یا فلانے بہ زمونږ سفارش کوی یا فلانے بہ زمونږ دپارہ کفارہ وی۔ نو داسے خلق پریږدہ او هغہ خلقو تہ نصیحت شروع کړہ چہ دَ خدائے سرہ دَ مخامخید ویرہ هم پہ زړہ کښ لری او ورسرہ ورسرہ دَ بے بنیادہ طمعے خیال هم نۀ لری۔ دَ دے نصیحت اثر هم پہ داسے خلقو باندِ کیدے شی او هم دَ داسے خلقو دَ صحیح کید و اُمید کیدے شی۔

[۳۴] دَ قریشو دَ لویو لویو سردارانو او دَ مالدارو خلقو پہ نبی صلی اللہ علیہ وسلم باندِ دَ نورو اعتراضونو سرہ یو دا اعتراض هم وُو چہ ستانہ کیر چاپیرہ غلامان، نوکران او دَ ادنیٰ طبقے خلق را جمع شوی دی۔ هغوی بہ دَ پیغور پہ طور وئیل چہ دا تہ خو ښہ بنہ عزتمند خلق ملاؤ شوی دی لکہ بلال، عمار، صهیب او خباب۔ پہ مونږ کښ بس دا خلق اللہ تہ ملاؤ شو چہ عزتمند جوړیدے شو او نور څوک نۀ؟۔ دَ مومنانو پہ بد حالتی پورے بہ ئے تړتے کولے خو پہ دے بہ ئے هم زړہ نۀ یخید وا و دَ هغوی نہ چہ بہ مخکښ څہ اخلاقی کمزوری شوے وے هغہ بہ ئے یاد ولے او وئیل بہ ئے چہ هغہ فلانے چہ دَ پرونہ پورے بہ ئے دا دا کارونہ کول نن هغہ هم پہ عزتمندو کښ شامل دے۔ دلتہ ددے خبرو جواب ورکړے شوے دے۔

فَتَطْرُدَهُمْ فَتَكُوْنَ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۵۲﴾ وَكَذٰلِكَ فَتَنَّا بَعْضَهُمْ
بِبَعْضٍ لِّيَقُوْلُوْٓا اَهٰٓؤُلَآءِ مَنَّ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِّنْۢ بَيْنِنَا ؕ اَلَيْسَ اللّٰهُ
بِاَعْلَمَ بِالشّٰكِرِيْنَ ﴿۵۳﴾ وَاِذَا جَآءَكَ الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِاٰيٰتِنَا فَقُلْ
سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ كَتَبَ رَبُّكُمْ عَلٰى نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ ۙ اَنَّهٗ مَنْ عَمِلَ مِنْكُمْ
سُوْٓءًۢا بِجَهَالَةٍ ثُمَّ تَابَ مِنْۢ بَعْدِهٖ وَاَصْلَحَ فَاِنَّهٗ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۵۴﴾

که تا بیا هم هغوئ دَ ځان نه وُشرل نو په ظالمانو کښ[۳۵] به شمار شے ۔ په اصل کښ موږ ته په دے طریقه دا خلق دَ یو بل په ذریعه په آزمیښت[۳۶] کښ وَدے دَ پاره اچولی دی چه هغوئ دوئ وُوینی او وُوائی "چه بنه هغه دا خلق دے چه په موږ کښ الله په دوئ باندِ فضل وکرم کړے دے؟"

هو کنه، ولے خدائے خپل شکرگذاره بندیان دَ دوئ نه بنه نه پیژنی؟ او کله چه تا له هغه خلق راشی چه زموږ په آیتونو باندِ ئے ایمان راوړے وی نو هغوئ ته وُوایه چه "په تاسو باندِ سلامتیا ده ۔ ستاسو پروردگار دَ رحم وکرم طریقه په ځان باندِ لازم کړی ده. (دا خو دَ هغه رحم وکرم دے) چه کچرے په تاسو کښے چا په ناپوهتیا سره څه بدکار کړے وی او بیا دَ هغے نه روستو توبه وُباسی او خپله اصلاح وُکړی نو هغه ئے معاف کوی او دَ نرمئ نه کار[۳۷] اخلی"

۳۵ یعنی هر سړے دَ خپل عیب او دَ بهترئ (صواب) ذمه وار پخپله دے ۔ په دے مسلمانانو کښ به تهٔ دَ چا دَ طرفنه دَ جواب دَ پاره نهٔ وُ دریږے او نهٔ به ستا دَ جواب ورکولو دَ پاره دَ هغوئ نه څوک وُدریږی ستا دَ حصے نه څه نیکی دوئ نشی تختولے او نهٔ دَ خپلے حصے بدی په تا راچولے شی ۔ بیا چه کله دوئ صرف دَ حق دَ تلاش دَ پاره ستا خواله راشی نو آخر ته ئے ولے دَ خپل ځان نه شړے ۔

۳۶ یعنی موږ ته په کلی محلت کښے دَ ټولو نه اول غریبانو، محتاجو او ادنیٰ ادنیٰ خلقو له دَ ایمان راوړلو توفیق ورکړو او په دے طریقه مو دا مالداران خلق په آزمیښت کښ واچول ۔

۳۷ کومو خلقو چه په دغه وخت کښ په نبی صلی الله علیه وسلم باندِ ایمان راوړے وُو په هغوئ کښ ډیر خلق داسے هم وُو چه دَ جاهلیت په زمانه کښے تر لوئ لوئ گناهونه شوی وُو اگرچه دَ اسلام قبلولو نه روستو دَ هغوئ په ژوند کښ ډیره بدلی راغلی وه، لیکن دَ اسلام مخالفینو به هغوئ له دَ پخوانی عیبونو او بدو کارونو پیغورونه ورکول ۔ ددے په باره کښ حکم دے چه مؤمنانو له تسلی ورکوه ۔ هغوئ نه وُوایه چه څوک توبه وُباسی او خپل ژوند صحیح کړی نو بیا به تیرو شو گناهونو باندِ الله تعالیٰ څوک نهٔ نیسی دا دَ الله طریقه نهٔ ده ۔

وَكَذٰلِكَ نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ وَلِتَسْتَبِيْنَ سَبِيْلُ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿۵۵﴾ ع
قُلْ اِنِّيْ نُهِيْتُ اَنْ اَعْبُدَ الَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ قُلْ لَّآ
اَتَّبِعُ اَهْوَآءَكُمْ ۙ قَدْ ضَلَلْتُ اِذًا وَّمَآ اَنَا مِنَ الْمُهْتَدِيْنَ ﴿۵۶﴾
قُلْ اِنِّيْ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّيْ وَكَذَّبْتُمْ بِهٖ ؕ مَا عِنْدِيْ مَا
تَسْتَعْجِلُوْنَ بِهٖ ؕ اِنِ الْحُكْمُ اِلَّا لِلّٰهِ ؕ يَقُصُّ الْحَقَّ وَهُوَ خَيْرُ

او دغه شان موږ ده خپلے نښے ښه واضحه پیش کوو د پاره د دے چه د مجرمانو لاره بالکل ښکاره شی[۳۸] ع
اے محمد ﷺ، دوئی ته ووایه چه "تاسو د الله نه بغیر نور چا ته آواز ونه کوئی د هغوئی د بندګئی کولو زه نه
منع کړے شوے یم" ورته ووایه، "زه ستاسو په خواهشاتو پسے نه ځم که داسے م وکړه نو بیا خو ګمراه شوم
او د نیغے لارے موندونکو نه نه شوم" ورته ووایه، "زه د خپل رب د طرفنه په
یو روښانه دلیل باندے ولاړ یم او تاسو هغه دورغ ګڼړلے دے، او س د کوم څیز
د پاره چه تاسو تلوار کوئی هغه څیز زما په اختیار کښ[۳۹]
نه دے، د فیصلے ټول اختیار خو د الله دے، حق هم هغه بیانوی او هم هغه

[۳۸] دا "دغه شان" اشاره هغه ټول تقریر طرفته ده کوم چه د څلورے رکوع د دے آیت نه شروع شوے وو
"دا خلق وائی چه په دهٔ باندے څه نښه ولے نازله نه شوه" مطلب دا دے چه د داسے صفا او ښکاره
دلیلونو او نښو نه روستو هم چه څوک په خپل کفر باندے ټینګ و دریږی نو هغه بیشکه مجرم
دے، ځکه چه د هغهٔ د ګمراهئی سره مینه ده نو په دے وجه په کفر ټینګ ولاړ دے، دا وجه نه ده
چه د حق لارے دلیلونه ورته نه دی واضح شوی او یا د دهٔ سره د خپلے ګمراهئی په حق کښے څه دلیلونه
هم شته.

[۳۹] د الله د عذاب طرفته اشاره ده. مخالفینو به وے چه که ته د خدائے تعالیٰ د طرفنه
رالیږلے شوے نبی ئے او موږ درته جهرًا وایو چه ته دروغژن ئے نو د خدائے عذاب په موږ باندے
ولے رانغے؟ چه ته د الله د طرفنه راغلے وے نو پکار خو دا وه چه چا تا ته دروغژن ویلو
یا ستا سپکاوے ئے کوو نو چه فورًا زمکه شلیدے او هغه پکښ ننوتلے او یا پر
تندر راپریوتلے او هغه خاوری پرے کیدلے. دا څه دی چه د خدائے پیغمبر

الْفٰصِلِيْنَ ﴿۵۷﴾ قُلْ لَّوْ اَنَّ عِنْدِيْ مَا تَسْتَعْجِلُوْنَ بِهٖ لَقُضِيَ
الْاَمْرُ بَيْنِيْ وَبَيْنَكُمْ ۭ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِالظّٰلِمِيْنَ ﴿۵۸﴾ وَعِنْدَهٗ مَفَاتِحُ
الْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَآ اِلَّا هُوَ ۭ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ ۭ وَمَا تَسْقُطُ
مِنْ وَّرَقَةٍ اِلَّا يَعْلَمُهَا وَلَا حَبَّةٍ فِيْ ظُلُمٰتِ الْاَرْضِ وَلَا رَطْبٍ
وَّلَا يَابِسٍ اِلَّا فِيْ كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ ﴿۵۹﴾ وَهُوَ الَّذِيْ يَتَوَفّٰىكُمْ بِالَّيْلِ
وَيَعْلَمُ مَا جَرَحْتُمْ بِالنَّهَارِ ثُمَّ يَبْعَثُكُمْ فِيْهِ لِيُقْضٰٓى اَجَلٌ
مُّسَمًّى ۚ ثُمَّ اِلَيْهِ مَرْجِعُكُمْ ثُمَّ يُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۶۰﴾ ع

بهترین فیصله کونکے دے." ورته وویل، "که چرته هغه څیز زما په اختیار کښ وے کوم څیز نه چه تاسو تلوارکوئ نو زما او ستاسو په منځ کښ به پخوا فیصله شوی وه. خو الله ډیر ښه پیژنی چه د ظالمانو سره څه معامله کول پکار دی. د هغه سره د غیبو کنجیانے دی چه د هغه نه بغیر بل چاته معلوم نه دی. په وچه او په لوند چه څه دی د هغے ټولو نه خبر دے. د ونے نه را پریوتونکی یو وه پاڼه داسے نه وی چه هغه ترخبر نه وی. د زمکے په تورو تیرو کښ یو وه دانه داسے نشته چه هغه ترخبر نه وی. وچ اولوانده هر څه په یو واضحه اوروښانه کتاب کښ لیکلے شوی دی. دا هم هغه دے چه د شپے ستاسو روحونه قبض کوی او د ورځے چه تاسو څه کوئ هغه ورته معلوم دی، بیا بله ورځ دے کاروباری دُنیا ته هغه واپس تاسو رالیږی د پاره ددے چه د ژوند مقرره موده پوره شی. آخر دا چه هم د هغه طرف ته تاسو واپسی ده، بیا هغه به درته دا وښائی چه تاسو څه کول ع

او په هغه باندے ایمان راوړونکی د په مصیبتونو او په ذلتونو کښ وی او څوک چه هغوئی ته کنځلے کوی او په کانړو ځولی نو هغوئی د په آرام وی؟

وَهُوَ الْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهٖ وَيُرْسِلُ عَلَيْكُمْ حَفَظَةً ؕ حَتّٰٓى اِذَا جَآءَ
اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ تَوَفَّتْهُ رُسُلُنَا وَهُمْ لَا يُفَرِّطُوْنَ ﴿۶۱﴾ ثُمَّ رُدُّوْٓا
اِلَى اللّٰهِ مَوْلٰىهُمُ الْحَقِّ ؕ اَلَا لَهُ الْحُكْمُ ۟ وَهُوَ اَسْرَعُ الْحٰسِبِيْنَ ﴿۶۲﴾
قُلْ مَنْ يُّنَجِّيْكُمْ مِّنْ ظُلُمٰتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ تَدْعُوْنَهٗ تَضَرُّعًا وَّ
خُفْيَةً ۚ لَئِنْ اَنْجٰىنَا مِنْ هٰذِهٖ لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الشّٰكِرِيْنَ ﴿۶۳﴾ قُلِ
اللّٰهُ يُنَجِّيْكُمْ مِّنْهَا وَمِنْ كُلِّ كَرْبٍ ثُمَّ اَنْتُمْ تُشْرِكُوْنَ ﴿۶۴﴾

هغه په خپلو بندیانو باندِ پوره قدرت لري او په تاسو باندِ نګرانی کوونکی رالیږي،[۴۰] تر دے پورے چه کله په تاسو کښ د چا د مرګ وخت راشي نو د هغه رالیږلی شوے فرښتے د هغه نه روح اخلي او په خپل کار کښے هیڅ کوتاهي نه کوي، بیا به ټول الله طرفته واپس راوستلے کیږي چه د دوئ حقیقي مولیٰ دے. خبردار شئ، د فیصلے کولو ټول اختیارات د هغه دي او هغه په حساب اغستلو کښ ډیر تیز دے"

اے محمدؐ، د دوئ نه تپوس وکړه، چه په صحرا کښ او د سمندر په تورو تیرو کښ تاسو څوک د خطرونه بچ کوي؟ هغه څوک دے چه تاسو تر (د مصیبت په وخت کښ) په عاجزئ سره او په پټه پټه دعاګانے غواړئ؟ تاسو چاته دا وایئ چه که د دے بلا نه تا مونږ بچ کړو نو مونږ به خامخا شکر ګزاره شو؟ ورته وایه چه الله مو د دغے بلا ګانو او د هر تکلیف نه خلاصوي او بیا هم تاسو هغه له شریکان پیدا کوئ۔[۴۱]

[۴۰] یعنی داسے فرښتے چه ستاسو یو یو حرکت او یوے یوے خبرے ته ګوري او ستاسو د هر کار ریکارډ محفوظ ساتي۔

[۴۱] یعنی دا یو حقیقت دے چه یو اځے الله په هر څه باندِ قادر دے، او صرف هغه د ټولو اختیاراتو مالک دے، او ستاسو د ښیګړے او د نقصان واک اختیار د هغه سره دے، او ستاسو قسمتونه د هغه په لاس کښ دي۔ او د دے حقیقت ګواهي ستاسو په خپل نفس کښ موجود ده۔ کله چه سخت وخت راشي او د خلاصیدو ظاهري اسباب ختم شي نو په هغه وخت کښ تاسو بے اختیاره خدائے پاک ته رجوع کوئ۔ لیکن سره د دے غټ دلیل نه تاسو په خدائیئ کښ د هغه سره نور خلق شریک کړي دي۔ غټیږئ خو د هغه په رزق باندِ او پالونکي مو نور څوک نیولي دي، امداد در سره د هغه په فضل و کرم کیږي او مددګاران نور چاته وائیئ۔ بندګان د هغه یئ او بندګي د نور چا کوئ۔ سخته در له هغه آسانه وي او په سخت وخت کښ د هغه

قُلْ هُوَ الْقَادِرُ عَلٰٓى اَنْ يَّبْعَثَ عَلَيْكُمْ عَذَابًا مِّنْ فَوْقِكُمْ اَوْ مِنْ
تَحْتِ اَرْجُلِكُمْ اَوْ يَلْبِسَكُمْ شِيَعًا وَّيُذِيْقَ بَعْضَكُمْ بَاْسَ بَعْضٍ ؕ
اُنْظُرْ كَيْفَ نُصَرِّفُ الْاٰيٰتِ لَعَلَّهُمْ يَفْقَهُوْنَ ﴿۶۵﴾ وَكَذَّبَ بِهٖ
قَوْمُكَ وَهُوَ الْحَقُّ ؕ قُلْ لَّسْتُ عَلَيْكُمْ بِوَكِيْلٍ ﴿۶۶﴾ ؕ لِكُلِّ نَبَاٍ

ورته ووایه، هغه په دے باندِ قادر دے چه په تاسو باندِ څه عذاب دَ بَره نه نازل کړی، یا ئے ستاسو دَ خپو دَ لاندِ نه را برخیره کړی، یا تاسو په ډلو ډلو کښ تقسیم کړی او یوے ډلے ته دَ بلے ډلے دَ طاقت مزه ورو څکوی او کوره، مونږه څه رنګے بیا بیا په مختلفو طریقو سره خپلے نښے دوئ ته وړاندِ کوو، شاید چه دوئ په حقیقت باندِ پوهه شی[۴۲]۔ ستا قوم دَ هغے نه انکار کوی حالانکه هغه حقیقت دے۔ دوئ ته ووایه چه زهٔ په تاسو باندِ حوالدار نهٔ ئیم جوړ کړے شوے[۴۳]، دَ هر خبر

نه دعاګانے غواړئ، او چه کله دَ سختے وخت تیر شی نو مشکل کشا مو نور څوک وی او نذرانے دَ بل چا په نوم کوئ

[۴۲] کومو خلقو ته چه دَ الله عذاب لرے ښکاریدو او دَ حق سره په دُشمنئ کښ ښهٔ زړه ورکیدل هغوئ ته دا خبر دارے دے چه دَ الله دَ طرفته په عذاب راتلو کښ څه وخت نهٔ لګی۔ دَ هوا یو طوفان چه دَ باندِ ناسا په راشی هغه تاسو تباه کولے شی۔ دَ زلزلے یو جړق ستاسو دَ کلو ورانولو دَ پاره کافی دے دَ قبیلو قبیلو او دَ قومونو او دَ ملکونو په منځ کښ دَ دُشمنئ یوه سکروټه هغه تباهی راوستلے شی چه بیا به پکښ په کلونو کلونو امن رانشی۔ نو که عذاب نهٔ راځی نو دا دِ ستاسو دَ پاره دَ غفلت سبب نهٔ جوړ یږی چه ښهٔ په اطمینان سره ډ په ښهٔ او بد کښ فرق نهٔ کوئ او دَ رند و پشان ډ ژوند تیروئ۔ دا غنیمت وګڼړئ چه الله تاسو له مهلت درکوی او هغه نښے درته ښائی چه تاسو پرحق وُ پیژنئ او په صحیح لاره روان شئ۔

[۴۳] یعنی زما دا کار نهٔ دے چه څه تاسو ته نهٔ ښکاری هغه درته زهٔ په زور وُښایم او چه څه ستاسو په ذهن کښ نهٔ راځی هغه درله په زور په ذهن کښ کینه وُم۔ او دا زما کار نهٔ دے چه عذاب دَ باندِ راولم۔ زما کار صرف حق او باطل بیلول دی۔ او بیا ستاسو وړاندِ ئے پیش کول دی۔ او س که تاسو نهٔ منئ نو دَ کوم انجام نه چه زهٔ تاسو یَروَم هغه به پخپل وخت باندِ پخپله ستاسو مخے ته راشی۔

مُسْتَقَرٌّ وَّسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ﴿۶۷﴾ وَاِذَا رَاَيْتَ الَّذِيْنَ يَخُوْضُوْنَ فِيْٓ
اٰيٰتِنَا فَاَعْرِضْ عَنْهُمْ حَتّٰى يَخُوْضُوْا فِيْ حَدِيْثٍ غَيْرِهٖ ۭ وَاِمَّا
يُنْسِيَنَّكَ الشَّيْطٰنُ فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ الذِّكْرٰى مَعَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۶۸﴾
وَمَا عَلَي الَّذِيْنَ يَتَّقُوْنَ مِنْ حِسَابِهِمْ مِّنْ شَيْءٍ وَّلٰكِنْ ذِكْرٰى
لَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ ﴿۶۹﴾ وَذَرِ الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا دِيْنَهُمْ لَعِبًا وَّلَهْوًا

د ظاهر بیدو یووخت مقرر دے، او دہ یو زر بہ تاسو تر خپل انجام معلوم شی۔

او اے محمد ﷺ، کلہ چہ تہ اُووینی چہ خلق زمونږ پہ آیتونو کښ عیبونہ لټوی نو تہ د هغوی د خوا نه لرہ شہ تردے چہ پورے چہ هغوی هغہ خبرہ پریږدی او بہ نورو خبرو کښے مشغول شی۔ او کہ چیرے شیطان درنہ هیر کړی[۴۴]، نو بیا کلہ چہ دریاد شی نو د هغے نه روستو د ظالمانو خلقو سره مه کیښه۔ د هغوی د حساب کتاب هیڅ ذمه واری په پرهیزګارانو خلقو باندے نشته، البته نصیحت کول د هغوی فرض دی شاید چہ هغوی په غلطه لارباندے د تللو نه بچ شی[۴۵]۔ پریږده هغه خلق چه هغوی د خپل دین نه لوبه تماشه جوړه کړی ده

[۴۴] یعنی کلہ چہ زمونږ ده احکامو تانته یاد نه وی او تہ پرهیره باندے ددا سے خلقو په مجلسونو ناست پاتے شے۔

[۴۵] مطلب دادے چہ کوم خلق د خدائے د نافرمانئ نه ځان ساتی په هغوی باندے د نافرمانو خلقو د عمل ذمه واری نشته، نو بیا هغوی خامخا وَلے داخبره په ځان باندے لازمَوی چه د دغے نافرمانو سره به ضرور بحث او مناظره کوی او هغوی به ضرور قائلوی، او د هغوی د هر بے مطلبه اعتراض جواب به ضرور کوی، او کہ هغوی نه منی نو خامخا به ئے پریږدی۔ پس دوهمه خبره په هغوی فرض ده چه کوم خلق په کفر او شرک کښ اُووینی چه هغوی ته نصیحت وکړی او حق خبره ورته پیش کړی۔ بیا که هغوی نه منی او جګړه او دلیلونه شروع کړی نو د حق پرسته

وَّغَرَّتْهُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا وَذَكِّرْ بِهٖٓ اَنْ تُبْسَلَ نَفْسٌۢ بِمَا كَسَبَتْ ۖ
لَيْسَ لَهَا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلِيٌّ وَّلَا شَفِيْعٌ ۚ وَاِنْ تَعْدِلْ كُلَّ عَدْلٍ
لَّا يُؤْخَذْ مِنْهَا ؕ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ اُبْسِلُوْا بِمَا كَسَبُوْا ۚ لَهُمْ
شَرَابٌ مِّنْ حَمِيْمٍ وَّعَذَابٌ اَلِيْمٌۢ بِمَا كَانُوْا يَكْفُرُوْنَ ﴿٧﴾ ع قُلْ
اَنَدْعُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَنْفَعُنَا وَلَا يَضُرُّنَا وَنُرَدُّ عَلٰٓى
اَعْقَابِنَا بَعْدَ اِذْ هَدٰىنَا اللّٰهُ كَالَّذِى اسْتَهْوَتْهُ الشَّيٰطِيْنُ
فِى الْاَرْضِ حَيْرَانَ ۖ لَهٗٓ اَصْحٰبٌ يَّدْعُوْنَهٗٓ اِلَى الْهُدَى ائْتِنَا ؕ

اوچه دَ دُنيا ژوند په دوکه کښ غورزولی دی. هن، خو دَ دے قرآن په ذريعه ورته نصيحت کوه او خبردارے ورکوه هسے نه چه څوک دَ خپل عملونو په عذاب کښ گرفتار شی، او بيا ئے دَ الله نه دَ بچ کولو څوک ملګرے او مددګار او څوک سفارشی نه وی، او بيا که هغه دَ خلاصی دَ پاره هر څومره فديه ورکول غواړی خو قبليدے به نشی، ځکه چه داسے خلق خو به دَ خپلو عملونو په سزا کښ نيولے کيږی، هغوئ له به دَ حق نه دَ انکار کولو په بدله کښ جوشيدلے اُوبه او دردناک عذاب ورکولے کيږی ع

اے محمدؐ، دَ دوئ نه تپوس وکړه چه آيا مونږه الله پريږدو او هغو ته آواز وکړو چه نه مونږ له نفع راکولے شی او نه نقصان؟ او چه الله مونږ ته نيغه لار ښودلی ده نو آيا اوس دَ هغے نه پشا بيا واپس شو؟ آيا مونږه خپل حال دَ هغے سړی پشان کړو چه شيطانانو په صحرا کښ بے لارے کړے وی او هغه حيرانه سرګردانه کړئ حالانکه خپل ملګری ورته آوازونه کوی چه دے خوا راشه نيغه لار شته دے؟

دا کار نه دے چه خامخا دَ هغوئ سره مالغه خوری او خپل وخت دَ ضايع کوی. هغوئ له پکار دی چه دَ داسے کمراهانو پځائے خپل وخت او خپل قوتونه دَ هغے خلقو په تعليم او تربيت او په اصلاح باندے ونګوی چه هغوئ پخپله دَ حق طلبګار وی.

قُلْ اِنَّ هُدَى اللّٰهِ هُوَ الْهُدٰى ؕ وَاُمِرْنَا لِنُسْلِمَ لِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۙ﴿۷۱﴾
وَاَنْ اَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاتَّقُوْهُ ؕ وَهُوَ الَّذِيْٓ اِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿۷۲﴾
وَهُوَ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ ؕ وَيَوْمَ يَقُوْلُ

ورته وُوایه چه په حقیقت کښ صرف دَ الله رهنمائی صحیح رهنمائی ده او دَ هغه دَ طرفته مونږ ته دا حکم شوے دے چه دَ کائناتو مالک ته سر ښکته کړئ، مونځ قایم کړئ، او دَ هغه دَ نافرمانئ نه ځان ساتئ او هم دَ هغه طرفته به ټول ورغونډیږئ. هم هغه دے چه زمکه او آسمانونه ئے په حقه پیدا کړی دی.[۴۶] او په کومه ورځ چه هغه وُوائی

[۴۶] په قرآن کښ دا خبره ځائے ځائے بیان شوی ده چه الله زمکه او آسمانونه برحق پیدا کړی دی یائے دَ حق سره پیدا کړی دی. په دیکښ ډیر لوئ مطلب پروت دے.

ددے یو مطلب دا دے چه زمکه او آسمانونه صرف دَ لوبے په طور نه دی پیدا کړے شوی. دا دَ الله لوبے نه دی. دا دَ بچو دَ لوبو څیز نه دے چه صرف دَ زړهٔ خوشحالولو دَ پاره ورسره لوبے کوی او بیائے هم دغه شان مات را مات کړی او غوزارئے کړی. په اصل کښ دا یو مطلبی کار دے په دے کښ دننه لوئ حکمت او لوئ مقصد پروت دے، او ددے دَ یو دَ ورد تیریدو نه روستو دا ضروری ده چه خالق دَ هغے کار پوره پوره حساب وُکړی کوم چه په دغے دور کښ شوے وی او دَ هغے په نتیجو باندِ دَ دویم دور بنیاد کیدی. هم دا خبره ده چه په نور وځایونو کښ په دے طریقه بیان شوی ده. رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هٰذَا بَاطِلًا۔ "اے زمونږ پروردِګاره، تا دا ټول هر څه فضول نه دی پیدا کړی." وَمَا خَلَقْنَا السَّمَآءَ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا لٰعِبِيْنَ۔ "مونږه آسمان او زمکه او څه چه دَ آسمان او دَ زمکے په منځ کښ دی، دَ لوبو په طور نه دی پیدا کړی. اَفَحَسِبْتُمْ اَنَّمَا خَلَقْنٰكُمْ عَبَثًا وَّاَنَّكُمْ اِلَيْنَا لَا تُرْجَعُوْنَ۔ "آیا ستاسو دا خیال دے چه مونږه تا سو داسے فضول پیدا کړی یئ او تاسو به زمونږ طرفته واپس را نه وستلے شئ؟"

دویم مطلب ئے دا دے چه الله تعالیٰ ددے ټول کائنات نظام دَ حق په مضبوط بنیادونو باندِ قایم کړے دے او ددے هر څیز دَ انصاف او دَ حکمت او دَ راستئ په قانون باندِ روان دے. په دے نظام کښ دَ باطل دَ مضبوتیا او دَ خوریدو دَ پاره هیڅ ګنجائش نشته. دا بیله خبره ده چه الله تعالیٰ باطل پرستو له موقع ورکړی چه که چرے هغوئ خپل دروغ او ظلم خورول غواړی نو خپل کوشش دِ وُکړی وُ دِ ګوری. لیکن آخر به دا زمکه دَ باطلو هر تخم بهر ته دا غوزار کړی او هر باطل پرست به وُوینی چه کوم کوششونه هغه دَ دے ناکاره بوټی دَ کرلو دَ پاره کړی دی هغه ټول عبث شو.

دریم مطلب ئے دا دے چه خدائے دا ټول کائنات دَ حق په بنیاد پیدا کړی دی او دا د هغه خپل ذاتی حق دے چه په دے حکومت وُکړی. دَ هغهٔ حکم دلته ځکه چلیږی چه هغه دا دُنیا پیدا کړی ده او دا صرف

كُنْ فَيَكُوْنُ ۚ قَوْلُهُ الْحَقُّ ۚ وَلَهُ الْمُلْكُ يَوْمَ يُنْفَخُ فِي
الصُّوْرِ ۚ عٰلِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ ۚ وَهُوَ الْحَكِيْمُ الْخَبِيْرُ ﴿۷۳﴾ وَاِذْ
قَالَ اِبْرٰهِيْمُ لِاَبِيْهِ اٰزَرَ اَتَتَّخِذُ اَصْنَامًا اٰلِهَةً ۚ اِنِّيْٓ

چه قیامت دِ وُشی نو هم په هغے ورځ به کیږی. دَ هغه وینا بالکل حقه ده. او په کومه ورځ چه صُور پوک وهلے شی[۴۷] په هغے ورځ به بادشاهی دَ هغه وی[۴۸]، هغه دَ غیبو او دَ ښکاره[۴۹] څیزونو عالم دے او حکمت والا او خبردار دے.

دَ ابراهیمؑ واقعه یاده کړئ کله چه هغه خپل پلار آزر ته وئیلی وُو آیا ته بُتانو ته خدائے وائے[۵۰]؟ زه خو

دَ هغه حق دے چه حکمرانی پرِ وُکړی. که په ظاهره داسے ښکاری چه دلته دَ نور چا حکم چلیږی نو په دے مه دوکه کیږئ، په حقیقت کښ نهٔ دَ هغوی حکم چلیږی او نهٔ چلیدے شی، ځکه چه دَ کائناتو په یو څیز باندِ دَ هغوئ هیڅ خو نشته چه هغوئ پرِ خپل حکم وُچلوی.

۴۷ دَ صُور پوک وهلو صحیح حالت به څه وی، دا خبره زمونږ دَ پوهے نه بهر ده. دَ قرآن نه چه مونږ ته څه معلوم شوی دی هغه صرف دومره خبره ده، چه دَ قیامت په ورځ به دَ الله په حکم باندِ یو ځلے صُور پوک وهلے شی او هر څه به هلاک شی. او بیا، دا صرف الله ته معلومه ده چه څومره موده روستو به په دویم ځل صُور پوک وهلے شی او ټول دَ اول نه تر آخره پورے هر څه به بیا راژوندی شی او په میدانِ حشر کښ به حاضر وی. په اول صُور به ټول نظام ګډوډ شی او په دویم صور سره به یو بل نظام په نوی شکل کښ دَ نوو قانونو سره قایم شی.

۴۸ دا مطلب نهٔ دے چه نن بادشاهی دَ هغهٔ نهٔ ده. بلکه مطلب دا دے چه په هغه ورځ کله دَ حقیقت نه پرده وُچته شی او حقیقت بالکل ښکاره شی نو پته به وُلږی چه په دُنیا کښ څوک اختیار والا ښکاریدل یا خلقو اختیار والا ګڼل هغه ټول بالکل بے اختیاره دی او ټول اختیارات دَ هغے یو الله دی چه کائنات ئے پیدا کړی دی.

۴۹ غیب: هغه ټول هر څه چه دَ مخلوق نه پټ دی.

شهادت: هغه ټول هر څه چه مخلوقاتو ته ښکاره او معلوم دی.

۵۰ دلته دَ حضرت ابراهیمؑ دَ واقعے ذکر دَ دے خبرے په تائید کښ شوے دے چه لکه څنګه دَ الله دَ هدایت په وجه نن محمد صلی الله علیه وسلم او دَ هغه ملګرو دَ شرک نه انکار کړے دے او دَ دروغو ټول خدایان ئے پریښودلی دی او دَ یو مالک حکم ئے منلے دے دغه شان مخکښ ابراهیمؑ هم کړی دی. او چه لکه څنګه نن محمد صلی الله علیه وسلم او دَ مومنانو سره دَ هغوئ جاهل قوم جګړے کوی دغه شان پرون دَ ابراهیم علیه السلام سره خپل قوم

اَرٰىكَ وَقَوْمَكَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۷۴﴾ وَكَذٰلِكَ نُرِيْٓ اِبْرٰهِيْمَ
مَلَكُوْتَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَلِيَكُوْنَ مِنَ الْمُوْقِنِيْنَ ﴿۷۵﴾

تا او ستا قوم په ښکاره ګمراهئ کښ وینم ۔ دغه رنګے به مو ښوده ابراهیمؑ ته د زمکے او د آسمانونو نظامِ سلطنت ښودلو[۵۱] او ددے د پاره به مو ورته ښودلو چه هغه د یقین کونکو نه شی[۵۲] ۔

دا جګړے کړی دی ۔ او پرون چه کوم جواب ابراهیم علیه السلام خپل قوم له ورکړے وُو نن د محمد صلی الله علیه وسلم او د هغه د ملګرو د طرفنه هم دغه جواب خپل قوم ته دے ۔ محمد صلی الله علیه وسلم په هغے لار باندے دے کومه چه د نوحؑ او د ابراهیمؑ او د هغه د نسل د ټولو پیغمبرانو لار ده ۔ او س چه څوک په هغه پسے د تللو نه انکار کوی نو هغه د پوهه شی چه هغه د پیغمبرانو د طریقے نه بل طرفته د ګمراهئ په لار ځی ۔

دلته په دے بله خبره هم ځان پوهه کول پکار دی چه د عربو خلقو عموماً حضرت ابراهیمؑ خپل مشر او پیشوا منلو ۔ او خاص طور قریشو خو به په دے خبره باندے فخر کولو چه هغوئ د ابراهیمؑ اولاد دی او د هغه د لاس د جوړی کړے شوی خانه کعبه خادمان دی ۔ نو په دے وجه هغوئ ته د ابراهیمؑ د توحید د ذکر کولو او د شرک نه د انکار کولو او د مشرکانو سره د جګړے د ذکر کولو مطلب دا وُو چه قریش د په ابراهیمؑ باندے نور فخر نه کوی ځکه چه نن مسلمان په هغے مقام باندے ولاړ دے په کوم مقام باندے چه حضرت ابراهیمؑ وُو او قریش د هغے خلقو پشان دی چه د ابراهیمؑ سره به ئے جګړے کولے ۔ د دے مثال بالکل دا سے دے لکه چه څوک د شیخ عبدالقادر جیلانی رحمة الله علیه مُریدانو ته او د قادریئے پیرزادګانو ته د حضرت شیخ اصلی تعلیمات او د هغه د ژوند واقعات وړاندے کړی او ورته دا وُوائی چه تاسو د کوم بزرګ نوم اخلئ او ځان د هغه مُریدان حسابوئ نو ستاسو خپله طریقه د حضرت شیخ نه بالکل خلاف ده او د کوم ګمراهانو خلاف چه ستاسو پیشوا او پیر ټول عمر جهاد کړے دے نن ستاسو حیثیت د هغے ګمراهانو پشان دے ۔

۵۱ یعنی لکه څنګه چه تاسو ته د کائناتو آثار ښکاره دی او د الله نښے ورته ښودلے کیږی دغه شان د ابراهیمؑ په وړاندے هم دا آثار وُو او هم دا نښے وے ۔ خو تاسو سره د لیدلو د ړندو پشان هیڅ نه وینئ او ابراهیمؑ دا هر څه په غړیدلو سترګو ولیدل ۔ دا نمر او سپومئ او ستوری چه ستاسو په مخکښ راخیژی او پریوزی او روزانه چه راخیژی نو هم تاسو ګمراهان یئ او چه پریوزی نو هم تاسو ګمراهان یئ ، هم دغه څیزونه ابراهیمؑ لیدلی وُو او هم د دغے نښونه هغه حقیقت ته وُرسیدو ۔

۵۲ په دے ځائے باندے او د قرآن په نورو هغو ځایونو باندے چرته چه د ابراهیمؑ او د هغه د قوم د جګړے ذکر راغلے دے ، د ځان پوهه کولو د پاره دا ضروری ده چه د حضرت ابراهیمؑ د قوم په مذهبی حالاتو باندے او د هغوئ په خپلو کښ د وُسیدلو په حالاتو یو نظر واچولے شی ۔ د نوی اثری تحقیقاتو مطابق هغه ښار هم معلوم شوے دے کوم ځائے کښ چه حضرت ابراهیمؑ پیدا شوے وُو او په هغے دور کښ د هغے علاقے د خلقو حالات هم معلوم شوی دی ۔ سر لیونارد وولی ، (Sir Leonard Woolley). چه په خپل کتاب

"Abraham" London 1935. کښ ددے تحقیقاتو کومے نتیجے شایع کړی دی دَ هغے خلاصه موږ لاندې لیکو:

دا اندازه لګولے شوی ده چه دَ مسیحؑ نه مخکښ سنه ۲۱۰۰ په خواؤ شا زمانه کښ، چه اوس ئے عام طور محققین دَ حضرت ابراهیمؑ زمانه تسلیم کوی، دَ اُر نومے ښار آبادی تقریباً دوه نیم لاکه وه او کیدے شی چه پنځه لاکه وه۔ دَ تجارت او دَ کاریګرئ لوئ مرکز وُو۔ یو طرفته به دَ پامیر او دَ نیلګرئ نه هلته مالونه راتلل او بل طرفته دَ اناطولیه پورے دَ دغے ښار تجارتی تعلقات وُو۔ دا ښار چه دَ کوم ریاست مقام وُو هغه ریاست دَ موجوده عراق نه په شمال طرف کښ لږ کم وُو او په مغرب طرف کښ لږ زیات وُو۔ دَ ټول ملک دَ خلقو پیشه زیاته کاریګری او تجارت وه۔ ددے زمانے کوم خطونه چه دَ آثار قدیمه په کنډراتو کښ ملاویږی دَ هغے نه دا معلومیږی چه دغه خالص ماده پرست خلق وُو۔ دولت ګټل او دَ زیات نه زیات آرام حاصلول دَ هغوئ دَ ژوند لوئ مقصد وُو۔ سُود اغستل پکښ زیات وُو۔ ښه سخت کاروباری خلق وُو۔ هر یو به په بل باندې شک کوؤ او په خپلو کښ به ئے ډیرے مقدمے وے۔ دَ خپلو خدایانو نه به ئے زیاتے دُعاګانے دَ وُږد عمر، دَ خوشحالئ او په کاروبار کښ دَ ترقئ دَ پاره وے۔ ټول درے طبقے خلق وُو:

(۱) عَمیلو۔ دا دَ وُچتے طبقے خلق وُو۔ په دے کښ منجوران دَ حکومت عهده داران او فوجی افسران شامل وُو۔

(۲) مِشکینو۔ دا سوداګران، کاریګران او زمیداران خلق وُو۔

(۳) اَردو۔ یعنی غلام۔

په دوئ کښ اولنئ طبقے یعنی عَمیلو ته خاص امتیازات حاصل وُو۔ دَ هغوئ عدالتی حقوق دَ نورو نه مختلف وُو او دَ هغوئ دَ سر او دَ مال قیمتونه دَ نورو نه زیات وُو۔

دا ښار او دا خلق وُو چه په هغوئ کښ حضرت ابراهیمؑ پیدا شو۔ په تَلمود کتاب کښ چه دَ هغوئ دَ خاندان کوم حال بیان شوے دے دَ هغے نه معلومیږی چه هغه دَ عمیلو طبقے سړے وُو۔ او پلار ئے دَ ریاست دَ ټولو نه لوئ عهده دار وُو۔ (وُګورۀ سورة بقره، حاشیه نمبر ۲۹۰)۔

دَ اُر په لیکلو شوؤ تختو کښ تقریباً دَ پنځو زرو خدایانو نومونه ملاویږی۔ دَ ملک دَ مختلفو ښارونو ځان له ځان نه خدایان وُو۔ دَ هر ښار به یو حفاظت کونکے خدائے وُو چه دَ ټولو خدایانو سردار به ګڼلے شو او دَ هغه عزت او احترام به دَ نورو خدایانو نه زیات کیدو۔ دَ اُر ښار حفاظت کونکے خدائے "نَنّار" (چاند دیوتا) وُو او په دے وجه دے ښار ته روستنو خلقو "قمرینه" نوم هم وئیلے دے۔ دویم لوئ ښار لَرسه وُو چه روستو بیا دَ اُر په ځائے باندې دَ بادشاهئ مرکز شو۔ دَ دے ښار حفاظت کونکے لوئ خدائے (ربُّ البلد) "شماش" (سورج دیوتا) وُو۔ ددے لویو خدایانو ماتحت واړه واړه خدایان به هم وُو چه هغه زیات دَ آسمانی ستورونه او ډیر کم دَ زمکے نه خوښ کړے شوی وُو، او خلقو به خپل واړه واړه ضرورتونه دَ دوئ نه غوښتل۔ ددے ټولو خدایانو شکلونه به ئے دَ بُتانو په شکل کښ جوړ کړی وُو او دَ هغوئ مخے ته به ئے عبادت کولو۔

دَ "نَنّار" بُت په اُر ښار کښ دَ ټولو نه په وُچت غر باندې په یو لوئ عمارت کښ دننه پروت وُو۔ دَ هغے

خواته د "ننّار" د ښځې د "نن کل" د عبادت ځائے وُو. د ننّار عبادت گاه د یو شاهی محل پشان وُو. د هغه د خوب په ځائے کښ به هره شپه یوه ښځه حاضر یدله او د هغه ناوے به جوړیده. په مندر کښ ډیرے ښځے د دیوتا په نوم باندِ وقف وے او د هغوئ حیثیت د پیغلو منجورو (دیوداسیان (Religious Prostitutes) په شان وُو. کومو ښځو چه به خپله ځوانی د "خدائے" په نوم قربان کړه هغوئ به ډیرے عزتمنے گڼلے شوے. اخوا دے بیان کولو ته هیڅ ضرورت نشته چه د دغے پیغلو منجورو نه به زیاته فایده هم دغے منجورانو صاحبانو اغستله.

ننّار یواځے دیوتا نه وُو، بلکه د ملک لوئ زمیدار، لوئ سوداگر، لوئ کارخانه دار او لوئ سیاسی حاکم هم وُو. ډیر باغونه، مکانونه او زمکے د دے مندر د پاره وقف وے. د دے جائیداد د آمدنئ نه علاوه به کروندگرو، زمیدارانو، سوداگرانو د هر قسمه غلے، پئ، سره زر، کپړه او نور څیزونه راوړل او مندر ته به ئے په نذر کښ ورکول. د دے څیزونو د اغستلو د پاره په مندر کښ ډیر خلق ناست وُو. د مندر د طرفنه ډیرے کارخانے چلیدے او غټ تجارتی کاروان وُو. دا ټول کارونه به د دیوتا په نمائندگئ کښ منجورانو سرته رسول. د ملک لوئ عدالت به په مندر کښ وُو. منجور به د هغے جج وُو او د هغه فیصلے به د "خدائے" فیصلے گڼلے شوے. اصل بادشاه ننّار وُو او د ملک حاکم به د هغه د طرفنه حکومت کولو. د دے تعلق د وجے نه به بادشاه هم په خدایانو کښ شامل وُو او د خدایانو پشان به د هغه هم عبادت کیدے شو.

د حضرت ابراهیمؑ په زمانه کښ د اُر د شاهی خاندان چه کوم حکمران وُو د هغه نوم اُر نمّو وُو ده ۲۳۰۰ کاله د مسیح نه مخکښ یو لوئ سلطنت قایم کړے وُو. د هغه بادشاهی مشرق طرفته د سوسے نه راواخله مغرب ته د لُبنان پورے وه. په دے بادشاهئ کښ په دے خاندان پورے "نمّو" نوم پورے شو چه بیا په عربئ ژبه کښ تر نمرود جوړ شو. د حضرت ابراهیمؑ د هجرت نه روستو د دے خاندان او د دے قوم تباهی شروع شوه. اوّل عیلامیانو اُر تباه کړو او د نمرود د ننّار بُت سره ئے وَینول. بیا په لرسه کښ یو عیلامی حکومت قایم شو چه د اُر علاقه ئے ماتحته وه. آخر دا چه د یو عربی النسل خاندان ماتحت د بابل زور زیات شو او لرسه او اُر دواړه ئے د قبضے لاندِ شول. د دے تباهو په وجه د اُر د خلقو چه د ننّار سره کومه عقیده وه هغه ختمه شوه ځکه چه ننّار د هغوئ حفاظت وَنه کړے شو.

دا خاص په تعین سره څوک نشی ویلے چه د دے ملک خلقو د حضرت ابراهیمؑ تعلیم څومره قبول کړو. لیکن د مسیح نه مخکښ په سنه ۱۹۱۰ کښ د بابل بادشاه حمورابی (د بائیبل اَمرافیل) چه کوم قانون جوړ کړے وُو په هغے کښ د څه حده پورے د پیغمبرئ د تعلیم رنړا ضرور وه. د دے قانون تفصیلی کتبه د مسیح نه روستو په سنه ۱۹۰۲ کښ یو فرانسیسی ته ملاؤ شوه چه هغه د آثارِ قدیمه لټولو کار کولو، او بیا د هغے په انگریزئ کښ ترجمه (C.H.W John) په سنه ۱۹۰۳ بعد مسیح کښ (The Oldest Code of Law) په نوم شائع شوه. د دے قانون ډیر اُصول او فروعیات د موسیٰؑ د شریعت سره مشابهت لری.

د وَسه پورے چه څومره اثری تحقیقات شوی دی که هغه صحیح وی نو دا خبره تر بالکل واضحه معلومیږی چه د ابراهیمؑ په قوم کښ شرک یواځے د بُتانو عبادت او یواځے یوه مذهبی عقیده نه وه

فَلَمَّا جَنَّ عَلَيْهِ الَّيْلُ رَاٰ كَوْكَبًا ۚ قَالَ هٰذَا رَبِّيْ ۚ فَلَمَّآ اَفَلَ قَالَ
لَآ اُحِبُّ الْاٰفِلِيْنَ ﴿۷۶﴾ فَلَمَّا رَاَ الْقَمَرَ بَازِغًا قَالَ هٰذَا رَبِّيْ ۚ
فَلَمَّآ اَفَلَ قَالَ لَئِنْ لَّمْ يَهْدِنِيْ رَبِّيْ لَاَكُوْنَنَّ مِنَ الْقَوْمِ
الضَّآلِّيْنَ ﴿۷۷﴾ فَلَمَّا رَاَ الشَّمْسَ بَازِغَةً قَالَ هٰذَا رَبِّيْ هٰذَآ
اَكْبَرُ ۚ فَلَمَّآ اَفَلَتْ قَالَ يٰقَوْمِ اِنِّيْ بَرِيْٓءٌ مِّمَّا تُشْرِكُوْنَ ﴿۷۸﴾ اِنِّيْ

نو هر کله چه شپه پر راغله نو هغه یو ستورے وَلیدو، وے وئیل چه دا زمارب دے. خو چه هغه کله پریوتو نو وے وئیل چه ډوبیدونکی خوم نه دی خوښ. بیائے چه کله سپومئ وَلیدله چه ځلیږی نو وے وئیل چه دا دے زمارب. خو کله چه هغه هم پریوتله نو وے وئیل که چرے زمارب زما رهنمائی نه وے کړے نو زهٔ به هم په گمراهانو کښ شامل شوے وے. بیا ئے چه نمرو ښانه وَلیدو نو وے وئیل چه دا دے زمارب، دا دَ ټولو نه لوئ دے. خو چه هغه هم پریوتو نو آوازئے وَکړو چه "اے زما قومَ، زما دَ هغے ټولو سره هیڅ تعلق نشته کوم چه تاسو دَ خدائے سره شریک جوړه وئ. ما خو

بلکه په حقیقت کښ دَ دغے قوم ټوله کټه وټه، رسمونه رواجونه، سیاست او دَ استوګنے ټول نظام په دغه عقیده باندِ جوړ وُو. دَ دے په مقابله کښ حضرت ابراهیمؑ چه دَ توحید کوم دعوت شروع کړے وُو دَ هغے اثر صرف دَ بُتانو په عبادت باندِ نه پریوتلو بلکه دَ هغے سره دَ شاهی خاندان خدائی او حاکمیّت بدلیدو، دَ منجورانو او دَ وُچتے طبقے کرمه کرمی، لوئ حیثیت، دولت او سیاست ختمیدو او دَ ټول ملک اجتماعی ژوند بدلیدو. دَ ابراهیمؑ دَ دعوت قبلولو مطلب دا وُو چه دَ لاندِ نه راواخله دَ پاسه پورے دَ ټول ژوند نقشه دِ وَرانه کړے شی او بیا دِ دَ نوے سرنه دَ توحید اِلٰه په بنیاد باندِ آباده کړے شی. دغه وجه وه چه دَ ابراهیمؑ په آواز باندِ عام خلق او خاص خلق، پوجاریان منجوران او نمرود ټول په یو وخت دَ هغه مخالف شو:

۵۳ دلته دَ ابراهیمؑ دَ فکر کولو هغه اولنے حالت بیان کړے شوے دے کوم چه دَ نبوّت نه مخکښ وُو او بیا هم دغه فکر دَ هغه دَ پاره حقیقت ته دَ رسیدو یوه ذریعه جوړه شوه. په دے کښ دے خبرے ته اشاره شوے ده چه یو صحیح دماغ والا او صحیح فکر والا انسان، چه خالص دَ شرک په ماحول کښ پیدا شوے وُو، او دَ توحید تعلیم ورته دَ هیڅ ځائے نه نه حاصلیدو، هغه څه زنګے دَ کائناتو په څیزونو باندِ غور وَکړو او صحیح طرفته لاړو او په حق معلومولو کښ کامیاب شو. بَره چه دَ ابراهیمؑ دَ قوم کوم حالات بیان کړے شوی دی دَ هغے نه معلومیږی چه ابراهیمؑ کله په ښه بد پوه شو نو دَ هغه نه چارچاپیره هر طرفته دَ نمر او دَ سپومئ او دَ ستورو دَ خدائی شهرت وُو. دغه وجه وه چه کله ابراهیمؑ دَ حقیقت

تلاش شروع کړو نو قدرتی طور د تولو نه اوّل دے خبرے معلومول پکار دی چه آیا واقعی په دے څیزونو کښ څه څیز و نه رب جوړیدے شی؟ په دے مرکزی سوال باندے هغه غور شروع کړو او آخر داچه د څل قوم تهول مذاہبان ے د یو نړ بدلید ونکی قانون لاندے غلامانو پشان بے وسه ولیدل او دے نتیجے ته ورسید وچه کوموشیزونو ته رب ویلے کیږی په هغوی کښ د رب والی هیڅ حقیقت نشته، رب خو صرف هغه یودے چه دا تهول هرشے ے پیدا کړل او په بندګی کولو باندے مجبور ے کړل۔

دا دے قصے د الفاظو نه عام طور د خلقو په ذهن کښ یو شک پیدا کیږی۔ داخبره، چه کله شپه شوه نو هغه یو ستورے ولیدو او وچه کله هغه پریوتو نو دا ے اووے، بیا چه سپومئ ے ولیدو او هغه چه دوبه شوه نو دا ے اووے، بیا چه نمر ے ولیدو او چه هغه هم وروب شو نو دا ے اووے، په دے خبره باندے عام سړی په ذهن کښ فوراً داسوال راپیدا کیږی چه آیا د ورځ کوالی نه به په ابراهیم باندے روزانه شپه نه راتلله؟ او آیا هغه به هره ورځ د ستورو سپومئ او د نمر خاته پریوات نه لیدل؟ بنکاره خبره ده چه داغورونکربه هغه د هوښیار تیاپه عمر کښ کړے وی۔ نو بیا دا قصه په دے طریقه ولے بیان شوی ده چه کله شپه شوه نو دا ے ولیدلی او چه کله ورځ شوه نو دا ے ولیدل؟ ولے دے خاص واقعے نه مخکښ هغه داشیزونه نه ولیدلی، حالانکه د دے شیزونو نه لیدل د هغه نه لرے خبره ده۔ دے شک لرکول د خلقو د پاره دومره کران شوچه بل څه تړ ونړ شو نو د ابراهیم د پیدائش او د هغه د غټیدو د پاره ے یوه نااشنا قصه جوړه کړله۔ وائی چه د ابراهیم پیدائش او پرورش په یوغار کښ شوے وو چه هلته د عقل د لمخیدو پورے هغه ستوری سپومئ او نمر نه وو لیدلی۔ حالانکه خبره بالکل سفاده او دے قسمه قیصو جوړو لو هیڅ ضرورت نشته د "نیوټن" متعلق دا مشهوره ده چه هغه ړوه ورځے په باغ کښ ولیدل چه یوه مڼه د ونے نه راپریوتله او دے نه ے ناسا په دے خبرے ته خیال شوچه داشیزونه زمکے ته ولے راپریوزی، په دے خبره ے غور کولو کولو تردے حده پورے چه د جذب و کشش قانون ے تړ راوویستلو۔ دلته هم داسوال پیدا کیږی چه آیا دے واقعے نه مخکښ نیوټن چرته په زمکه باندے څیز راپریوتل نه وو لیدلی؟ بنکاره خبره ده چه ضرور به ے څوځولے لیدلی وی۔ نو بیا څه وجه ده چه په دے خاص ورځ باندے د نیوټن په ذهن کښ هغه خاص خیال راپیدا شوکوم چه مخکښ نه وو راپیدا شوے حالانکه هغه به مخکښ په سوګو نو مڼے راپریوتل لیدلی وو؟ دے جواب دا دے چه د غور و فکر کو نکی په ذهن باندے همیشه د یوشیز په لید وسره یو قسم اثر نه کیږی۔ اکثر داسے کیږی چه سړے یو شیز همیشه وینی راوینی خو په ذهن کښ ے هیڅ حرکت نه راځی، خو یو نیم وخت هم د دغے څیز په لید وسره ناسا په په ذهن کښ داسے یوه خبره راپیدا شی چه د فکر تهول قوتونه په یو خاص طرف باندے کار کول شروع کړی۔ یا د مخکښ نه یوه خبره د سړی په ذهن کښ نختلی وی او ناسا په ے په عام شیزونو کښ په یو څیز باندے نظر ولکی او هغه تهولے مسئلے او مشکلات ے حل شی۔ د ابراهیم معامله هم دغه شان وه۔ شپے به ے تلے او تیریدے به۔ نمر او سپومئ او ستوری به ے غتل پریوتل۔ لیکن هغه یوه خاصه ورځ وه چه هغه یو ستورے ولیدو او د هغے په

وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ حَنِيْفًا وَّمَآ
اَنَا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿۷۹﴾ وَحَآجَّهٗ قَوْمُهٗ ؕ قَالَ اَتُحَآجُّوْٓنِّيْ فِي اللّٰهِ
وَقَدْ هَدٰىنِ ؕ وَلَآ اَخَافُ مَا تُشْرِكُوْنَ بِهٖٓ اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ رَبِّيْ شَيْئًا ؕ
وَسِعَ رَبِّيْ كُلَّ شَيْءٍ عِلْمًا ؕ اَفَلَا تَتَذَكَّرُوْنَ ﴿۸۰﴾ وَكَيْفَ

خپل مخ دَ ټولو طرفونو نه راؤګرز ؤوا وهغه هستئ طرفته م کړو چه زمکه او آسمانونه ئے پیدا کړی دی او زهٔ هرګز په شرک کونکو کښ نه یم ؟ دَ هغه قوم دَ هغه سره جګړے شروع کړے نو هغه قوم ته اووے چه "ښه، تاسو زما سره دَ الله په حقله جګړے کوئ؟ حالانکه هغه ما ته نیغه لار ښودلی ده. زهٔ ستاسو دَ جوړو کړو شریکانو نه نه یَریږم، هن که چرے زما رب څه ؤغواړی نو هغه به ضرور کیږی. زما دَ رب علم په هر څه باندِ خوردے، نو آیا اوس به هم په هوش کښ نه راځئ؟ او آخر زهٔ ستاسو

لید و سره دَ هغه ذهن په داسے لار لاړ چه آخر دَ توحیدِ الٰه حقیقت ته ؤرسیدو. ممکنه ده چه ابراهیمؑ دَ اول نه په دے خبره باندِ غور کولو چه دَ کومے عقیدے لاندِ دا ټول قوم ژوند تیرَوی په دے کښ تر کومه پورے صداقت دے، او بیائے ناسا په یو ستوری ته خیال شوے وی او دَ هغے نه ورته ټوله مسئله حل شوی وی. او دا هم ممکنه ده چه دَ ستوری په لید و سره ئے دا خیال راپیدا شوے وی.

په دے سلسله کښ یو بل سوال هم راپیدا کیږی. او هغه دا چه کله ابراهیمؑ ستورے ؤلید و اووے وئیل چه دا زما رب دے، او چه کله سپو مئی نمرئے ؤلیدل نو هغوئ ته ئے خپل رب اووے، نو آیا په دغه وخت کښ، اګر که عارضی خبره وه، هغه په شرک کښ را نغے؟ دَ دے جواب دا دے چه کله دَ حق تلاش کونکے دَ تلاش په لار کښ سفر کوی او هغه په منیځ کښ دَ غور و فکر کولو دَ پاره په څه ځایونو کښ ؤدریږی، نو دغے ؤدریدو له هیڅ اعتبار نشته بلکه اصل اعتبار دَ هغے طرف دے کوم طرفته چه دے روان دے، او اعتبار دَ هغے آخری مقام دے کوم مقام ته چه دے رسیدل غواړی. دَ منیځ په پړاؤ نو تیریدل دَ هر یو حق تلاش کونکی دَ پاره ضروری دی. په دغے پړاؤ نو ؤدریدل دَ تلاش دَ پاره وی او دَ ځان پوهه کولو دَ پاره وی دَ دے غرض دَ پاره نه وی چه دهٔ دَ ؤدریدلو فیصله وکړه. کله چه تلاش کونکے په دغے منزل باندِ ؤدریږی او دا ؤوائی چه "داسے ده" نو په اصل کښ دا دَ هغهٔ آخری رائے نه وی بلکه دَ هغهٔ مطلب دا وی چه "داسے ده او که نه ده"؟ او دَ تحقیق کولو نه روستو چه هغے نه وی نو بیا مخکښے روان شی. په دے وجه دا خیال کول بالکل غلط دی چه دَ تلو په دوران کښ هغه په کوم ځائے کښ ؤدریدو نو هغه کښ هلته عارضی طور په کفر یا په شرک کښ مبتلا شو.

اَخَافُ مَآ اَشْرَكْتُمْ وَلَا تَخَافُوْنَ اَنَّكُمْ اَشْرَكْتُمْ بِاللّٰهِ
مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهٖ عَلَيْكُمْ سُلْطٰنًا ؕ فَاَيُّ الْفَرِيْقَيْنِ اَحَقُّ بِالْاَمْنِ ۚ
اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ۘ﴿۸۱﴾ اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَلَمْ يَلْبِسُوْٓا
اِيْمَانَهُمْ بِظُلْمٍ اُولٰٓئِكَ لَهُمُ الْاَمْنُ وَهُمْ مُّهْتَدُوْنَ ﴿۸۲﴾ ع

وقف لازم

۹ ۱۲ ۱۵

دَ جوړ کړو شریکانو نه څنګه وَ یریږم هر کله چه تاسو ددے نه نه یریږئ چه دَ الله سره هغه څیزونه په خدایئ کښ شریکوئ چه دَ هغے دَ پاره الله په تاسو باندِ څه سَند نه دے نازل کړے؟ په موږ دواړو کښ څوک زیات دَ زړه ورتیا او دَ اطمینان مستحق دے؟ وُوایئ که چرے تاسو څه علم لرئ. په حقیقت کښے خو امن دَ هغے خلقو دَ پاره دے او په نیغه لار باندِ هم هغه خلق دی، کومو خلقو چه ایمان راوړو او خپل ایمان ئے دَ ظلم سره ګډ وډ نه کړو۔[۵۵] ع

[۵۴] په اصل کښ لفظ تَذَكَّرُ استعمال شوے دے چه صحیح مطلب ئے دا دے چه یو سړے په غفلت کښ پروت وی او هغه ته ناسا په هغه څیز وریاد شی چه دَ کوم نه دے غافله وی. نو ددے وجے نه موږ دَ اَفَلَا تَتَذَكَّرُوْنَ دا ترجمه کړی ده. دَ حضرت ابراهیمؑ دَ وینا مطلب دا وُو چه تاسو څه کوئ، ستاسو اصلی او حقیقی رب دَ هغے نه ناخبره نه دے، دَ هغه علم په هر څیز باندِ خور دے نو آیا تاسو چه ددے حقیقت نه خبر شئ نو بیا به هم په هوش کښ نه راځئ؟

[۵۵] دا ټول تقریر په دے خبره باندِ ګواه دے چه هغه قوم دَ الله دَ ذات نه، چه دَ آسمانونو او دَ زمکے خالق دے، منکر نه وُو. بلکه دَ هغوئ اصلی جُرم دا وُو چه دَ الله سره به ئے نور څوک دَ خدایئ په صفتونو کښ او دَ خدایئ په حقونو کښ شریکول. اول خو حضرت ابراهیمؑ په خپله دا وائی چه تاسو دَ الله سره نور څیزونه شریکوئ. دویمه دا چه په کومه طریقه هغه خلقو ته دَ الله ذکر کوی نو په هغه طریقه صرف هغے خلقو ته خبرے کیدے شی چه هغوئ دَ الله دَ ذات نه منکر نه وی. نو په دے وجه دَ هغے مفسرینو رائے درسته نه ده کومو چه په دے ځائے کښ یا دَ ابراهیمؑ په باره کښ په نورو ځایونو کښ دَ قرآنی بیاناتو په دے رنګ تفسیر کړے دے چه دَ ابراهیمؑ قوم دَ الله نه منکر وُو یا دَ الله نه ناخبره وُو او صرف خپل بُتان ئے دَ خدایئ پوره پوره مالکان ګڼړل.

په آخری آیت کښ چه دا کومه فقره ده "چا چه خپل ایمان دَ ظلم سره ګډ وډ نه کړو" په دے کښے ځنی صحابه دَ لفظ ظلم نه په مطلب افستو کښے غلط شوی وُو هغوئ وے چه ددے مطلب ګناه ده. لیکن نبی صلی الله علیه وسلم پخپله دا خبره صفا کړله چه دلته دَ ظلم نه مراد شرک دے. نو دَ آیت مطلب دا شو چه کوم خلق الله وُمنی او بیا دا خپل ایمان دَ شرک دَ یوے عقیدے یا دَ یو عمل سره ګډ وډ نه کړی، نو امن او

وَتِلْكَ حُجَّتُنَآ اٰتَيْنٰهَآ اِبْرٰهِيْمَ عَلٰى قَوْمِهٖ ؕ نَرْفَعُ دَرَجٰتٍ مَّنْ
نَّشَآءُ ؕ اِنَّ رَبَّكَ حَكِيْمٌ عَلِيْمٌ ﴿۸۳﴾ وَوَهَبْنَا لَهٗٓ اِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ ؕ
كُلًّا هَدَيْنَا ۚ وَنُوْحًا هَدَيْنَا مِنْ قَبْلُ وَمِنْ ذُرِّيَّتِهٖ دَاوٗدَ
وَسُلَيْمٰنَ وَاَيُّوْبَ وَيُوْسُفَ وَمُوْسٰى وَهٰرُوْنَ ؕ وَكَذٰلِكَ
نَجْزِى الْمُحْسِنِيْنَ ۙ﴿۸۴﴾ وَزَكَرِيَّا وَيَحْيٰى وَعِيْسٰى وَاِلْيَاسَ ؕ

داوُز موږ ده هغه دلیل چه موږ ابراهیمؑ ته دَ هغه دَ قوم په مقابله کښ ورکړو. موږ چه چا ته غواړو هغه ته وُچتے درجے ورکوو. حق دا دے چه ستا رب حکمت والا دے او په هر څه پوهه دے.

بیا موږ ده ابراهیمؑ له اسحٰقؑ او یعقوب نومے اولاد ورکړل او هر یو ته مو صحیح لار وُښودله. (هغه صحیح لاره چه) دهغه نه مخکښ مو نوحؑ ته ښودلی وه. او هم دَ هغه دَ نسل نه مو داوُدؑ، سلیمٰنؑ، ایوبؑ، یوسفؑ، موسیٰؑ او هارونؑ ته (صحیح لار وښودله). دغه شان موږ نیکانو خلقو ته دَ هغوئ دَ نیکئ بدله ورکوو. (او هم دَ هغه دَ اولاد نه مو) زکریاؑ، یحییٰؑ، عیسیٰؑ او الیاسؑ ته (صحیح لار وُښودله).

اطمینان صرف دَ هغوئ دَ پاره دے او هم هغوئ په صحیح لار باندِ دی.

په دے موقع باندِ یوه دِ لچسپه او نا اشنا خبره دا ده چه دَ حضرت ابراهیمؑ دا واقعه په بائیبل کښ نشته. البته په تلمود کښ ددے واقعے ذکر شته. لیکن په هغے کښ دوه خبرے دَ قرآن نه مختلفے دی. یوه دا چه هغه دَ ابراهیمؑ دَ تلاشِ حق کوشش دَ نمر نه شروع کوی او بیا دَ ستورو پورے او دَ خدائے پورے دغه کوشش رسوی. بله دا چه هغه وائی چه ابراهیمؑ کله نمر ته هٰذا رَبِّی او وے نو ورسره ئے دَ هغه عبادت هم وُکړو، او دغه شان چه سپوږمئ ته ئے هٰذا رَبِّی او وے نو دَ هغے عبادت ئے وُکړو.

كُلٌّ مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۸۵﴾ وَاِسْمٰعِيْلَ وَالْيَسَعَ وَيُوْنُسَ وَلُوْطًا ؕ
وَكُلًّا فَضَّلْنَا عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿۸۶﴾ وَمِنْ اٰبَآئِهِمْ وَذُرِّيّٰتِهِمْ وَ
اِخْوَانِهِمْ ۚ وَاجْتَبَيْنٰهُمْ وَهَدَيْنٰهُمْ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۸۷﴾
ذٰلِكَ هُدَى اللّٰهِ يَهْدِيْ بِهٖ مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ ؕ وَلَوْ
اَشْرَكُوْا لَحَبِطَ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۸۸﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ
الْكِتٰبَ وَالْحُكْمَ وَالنُّبُوَّةَ ۚ فَاِنْ يَّكْفُرْ بِهَا هٰٓؤُلَآءِ فَقَدْ

هر یو په هغوئ کښ صالح وُو. (او هم دَ هغه دَ خاندان نه مو) اسمٰعیلؑ، الیسعؑ، او یونسؑ او لوطؑ ته (دغه صحیح لارو ښودله). په دوئ کښ هر یو له مونږه په ټولو دُنیا والو باندِ فضیلت ورکړو. او دغه رنګے مو دَ دوئ دَ پلارنیکونو نه او دَ دوئ دَ اولاد نه او دَ دوئ دَ رونړو نه ډیرو له فضیلت ورکړو، او دَ خپل خدمت دَ پاره مو غوره کړل او نیغے لارے طرفته مو سم کړل. دا د الله هدایت دے چه دَ هغه پخپلو بندیانو کښ څوک خوښ وی په دے سره هغوئ ته نیغه لار ښائي. لیکن که چرے دے خلقو شرک کړے وے نو دَ دوئ ټول عملونه به برباد شوی وُو.[۵۶] دا هغه کسان وُو چه مونږ ورله کتاب او حُکم او نبوّت[۵۷] ورکړے وُو. اوس که چرے دا خلق ددے دَ منلو نه انکار کوی نو (پروا نشته)

[۵۶] یعنی په کوم شرک کښ چه تاسو مبتلائیئ که چرے هغوئ هم په دے کښ مبتلا شوے وے نو دا مرتبه به ورته هیچرے نه وه ملاؤ شوے. دا ممکنه وه چه یو سړی په کامیاب ډاکوتوب کښ په ټوله دنیا کښ نوم پیدا کړے وے، یا په مال و دولت کښ ئے دَ قارون پشان شهرت حاصل کړے وے، یا دَ دُنیا په نورو بدو کارونو کښ په څه شکل ښه مشهور بدکار جوړ شوے وے. لیکن دَ نیکے لارے پیشوا جوړیدل او دَ پرهیزګارانو خلقو امام جوړیدل او دَ ټولے دُنیا د پاره دَ خیر ښیګړے په مقام وُدریدل، دا عظیم الشان مقام دوئ هرګز نه شو موندلے تر څو چه دوئ دَ شرک نه ځان نه وے ساتلے او خالص دَ خدا پرستئ په لار باندِ نه وے ټینګ شوے.

[۵۷] دلته دا ذکر شوے دے چه پیغمبرانو ته درے څیزونه ورکړے شوی دی. یو کتاب یعنی دَ الله هدایت نامه ——— دویم حکم یعنی په دغے هدایت نامه باندِ صحیح پوهه، او دا سے صلاحیت چه د دغے هدایت نامے اُصول دَ ژوند په معاملاتو باندِ صحیح برابر راولی، او دا سے قابلیت چه دَ ژوند په مسئلو کښ صحیح رائے قایم کړی او صحیح فیصلے وُکړی. دریم نبوت، یعنی دا منصب چه هغه ددے هدایت نامے مطابق دَ الله مخلوق ته صحیح لارو ښائي.

وَكَّلْنَا بِهَا قَوْمًا لَّيْسُوْا بِهَا بِكٰفِرِيْنَ ﴿٨٩﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ هَدَى اللّٰهُ
فَبِهُدٰىهُمُ اقْتَدِهْ ؕ قُلْ لَّآ اَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ اَجْرًا ؕ اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٰى
لِلْعٰلَمِيْنَ ﴿٩٠﴾ ع وَمَا قَدَرُوا اللّٰهَ حَقَّ قَدْرِهٖٓ اِذْ قَالُوْا مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ عَلٰى
بَشَرٍ مِّنْ شَيْءٍ ؕ قُلْ مَنْ اَنْزَلَ الْكِتٰبَ الَّذِيْ جَآءَ بِهٖ مُوْسٰى نُوْرًا وَّهُدًى

موږ ه نورو داسے خلقو ته دا نعمت سپارلے دے چه هغه ددے نه منکر نه دی[۵۸]
اے محمدؐ! دغه خلقو ته د الله د طرفنه هدایت شوے وو، هم د هغوی په لاره باندِ ته ځه،
او دوی ته ووایه چه زه (د تبلیغ او د هدایت) په دے کار باندِ ستاسو نه څه اجر نه غواړم، دا خو
یو عام نصیحت دے د ټولے دنیا والو د پاره ع
دے خلقو د الله ډیره غلطه اندازه ولګوله هر کله چه دا ئے ووئیل چه الله په یو بشر باندِ هم هیڅ نه دی
نازل کړی[۵۹]. د دوی نه تپوس وکړه، بیا هغه کتاب چه موسیٰؑ راوړے وو، چه د ټولو انسانانو د پاره رڼا او هدایت

[۵۸] مطلب دا دے چه که چرے دا کافران او مشرکان د الله د دے هدایت قبلولو نه انکار کوی نو د ډکړی
موږ ه د مومنانو داسے یوه ډله پیدا کړی ده چه هغوی د دے نعمت قدر کونکی دی۔

[۵۹] د تیر شوی بیان او د روستنی تقریر نه دا صفا معلومیږی چه دا وینا د یهودیانو وه۔ چونکه
نبی صلی الله علیه وسلم دا دعوی کړی وه چه زه نبی یم او په ما باندِ کتاب نازل شوے دے، نو قدرتی طور
به د قریشو کافران او د عربو نور مشرکان د تحقیق کولو د پاره یهودیانو او عیسایانو له راتلل او دا تپوس به ئے
تر کوو چه تاسو سره هم کتاب دے، پیغمبران منئ، تاسو موږ ته ووایئ چه آیا واقعی په دے سړی
باندِ د الله کتاب نازل شوے دے؟ نو چه هغوی له به دوی کوم جواب ورکړو نو هغه به د نبی صلی الله
علیه وسلم مخالفینو ځائے پځائے بیانولو او خلق به ئے تر اړول۔ ددے وجے نه دلته د یهودیانو هغه
وینا نقل شوی ده او د هغے جواب شوے دے، کومه چه د اسلام مخالفینو د ځان د پاره دلیل ګرزولے وو۔
دا شک راتلے شی چه یو یهودی به دا څنګه ووائی چه خدائے په یو بشر باندِ هم څه نه دی نازل کړی
حالانکه یهودیان پخپله دا منی چه تورات د خدائے د طرفنه نازل شوے دے۔ لیکن دا شک صحیح نه دے؛
ځکه چه کله څوک په ضد کښ راشی او د بل سړی رښتیا خبره رد کوی نو د هغے د پاره هغه بیا داسے خبرے
هم کوی چه پخپله پر د هغه اصول غلط ثابتیږی۔ دا خلق د محمد صلی الله علیه وسلم د نبوت نه منلو ته په
ضد شوی وو او په مخالفت کښ دومره راندہ شوی وو چه د محمد صلی الله علیه وسلم پیغمبری ئے نه منله
نو د سر نه ئے د پیغمبری نه ورپسے انکار وکړو۔
او دا خبره "چه دے خلقو د الله ډیره غلطه اندازه ولګوله چه وے وئیل" ددے دا مطلب دے چه دوی د
الله د حکمت او د هغه د قدرت په اندازه لګولو کښ غلطی کړی ده۔ څوک چه دا وائی چه خدائے په یو بشر باندِ

لِلنَّاسِ تَجْعَلُوْنَهٗ قَرَاطِيْسَ تُبْدُوْنَهَا وَتُخْفُوْنَ كَثِيْرًا ۚ وَعُلِّمْتُمْ مَّا لَمْ تَعْلَمُوْٓا اَنْتُمْ وَلَآ اٰبَآؤُكُمْ ۭ قُلِ اللّٰهُ ۙ ثُمَّ ذَرْهُمْ فِيْ خَوْضِهِمْ يَلْعَبُوْنَ ﴿۹۱﴾ وَهٰذَا كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ مُبٰرَكٌ مُّصَدِّقُ الَّذِيْ بَيْنَ يَدَيْهِ وَلِتُنْذِرَ اُمَّ الْقُرٰى وَمَنْ حَوْلَهَا ۭ

وُو، چه تاسوئ سپارے سپارے کوئ اوساتئ ئے، څه بنکاره کوئ او ډیر پکښ پټ ساتئ، اوچه د هغے په ذریعه تاسوته هغه علم درکړے شوے دے چه نه تاسو حاصل کړے وُو او نه ستاسو پلار نیکونو، آخر د هغے نازلوونکے څوک وُو؟ —— بس دومره ورته اُووایه چه الله، بیا یئے پریږده چه هغوئ پخپلو دلیل بازو کښ لوبے کوی۔ (د دغے کتاب پشان) دا یو کتاب څه چه موږ نازل کړے دے۔ ډیر د خیر او برکت والا کتاب دے۔ د هغے څیز تصدیق کوی کوم چه دده نه مخکښ راغلے وُو۔ او دده د پاره نازل کړے شوے دے چه دده په ذریعه ته د کلو دا مرکز (یعنی مکّه) او د دے په خوا وُشاکښ وُسیدونکی خلق خبردار کړے

هم د خپل علم او د هدایت کتاب نه دے نازل کړے نو هغوئ خو یا په بشر باندے وحی نازلیدل ناممکنه کنړی او دا د خدائے د قدرت غلطه اندازه ده، یا بیا د هغوئ دا خیال دے چه خدائے خوانسان له ذهن او د تصرف کولو اختیارات ورکړل خو هغه ته د صحیح لارے د ښودلو انتظام ونه کړو، بلکه هغه ئے په دُنیا کښ د آپکل کار کولو د پاره داسے پریښودو، او دا د خدائے د حکمت غلطه اندازه ده۔

۹۱ دا جواب چونکه یهودیانو ته دے نو ددے وجه نه د دلیل په طور یے موسیٰ علیه السلام باندے د تورات د نازلیدو مثال پیش کړے شو، حکه چه هغوئ پخپله د دے قائل وُو۔ بنکاره خبره ده چه کله هغوئ دا منی چه په موسیٰ باندے توراة نازل شوے وُو نو د هغوئ دا خبره پخپله غلطه شوه چه خدائے په هیڅ یو بشر باندے څه نه دی نازل کړی۔ دا رنګه د دے نه خو کم از کم دومره خبره ثابتیږی چه په بشر باندے د خدائے کلام نازلیدے شی او نازل شوے هم دے۔

وَالَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ وَهُمْ عَلٰى صَلَاتِهِمْ
يُحَافِظُوْنَ ﴿۹۲﴾ وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا اَوْ قَالَ
اُوْحِيَ اِلَيَّ وَلَمْ يُوْحَ اِلَيْهِ شَيْءٌ وَّمَنْ قَالَ سَاُنْزِلُ مِثْلَ مَآ اَنْزَلَ
اللّٰهُ ؕ وَلَوْ تَرٰٓى اِذِ الظّٰلِمُوْنَ فِيْ غَمَرٰتِ الْمَوْتِ وَالْمَلٰٓئِكَةُ

کوم خلق چه آخرت منی هغوئ په دے کتاب باندِ ایمان راوړی او دَ هغوئ دا حال دے چه دَ خپلو مونځونو پابندی کوی[1]. او دَ هغه سړی نه به زیات ظالم نور څوک وی چه په خدائے پورے دروغ تړی، یا داؤ وائی چه په ما باندِ وحی راغلی ده او حال دا وی چه په هغه باندِ هیڅ وحی نه وی نازل کړے شوی، یا داؤ وائی چه زهٔ به هم درته دَ الله دَ نازل کړے شوی څیز غونډِ یو څیز نازل کړم؟ کاش چه تا ظالمان په هغے حالت کښ ولیدے شوے، کله چه دوئ دَ مرګ په سلګو کښ غوپے خوری او فرښتے ورته

[1] اولنے دلیل دَ دے خبرے په ثبوت کښ وُو چه په بشر باندِ دَ خدائے کلام نازلیدے شی او نازل شوے هم دے. اوس دا دویم دلیل دَ دے خبرے په ثبوت کښ دے چه دا کوم کلام په محمد صلی الله علیه وسلم باندِ نازل شوے دے دا هم دَ خدائے کلام دے. دَ دے حقیقت ثابتولو دَ پاره څلور خبرے دَ شهادت په طور پیش کړے شوی دی

یو دا چه دا کتاب دَ ډیر خیر او دَ ډیر برکت والا کتاب دے. یعنی په دے کښ دَ انسان دَ فائدے دَ پاره بهترین اُصول پیش کړے شوی دی. دَ صحیح عقیدے تعلیم دے، نیکو طرفته رغبت دے، دَ ښو اخلاقو خپلولو تاکید دے، دَ پاک ژوند تیرولو هدایت دے، او بیا دَ دے جهالت، خود غرضئ، تنګ نظرئ، دَ ظلم، دَ بے حیائئ او دَ هغے ټولو بدو کارونو نه چه تا سو په پاکو کتابونو کښ راغونډ کړی دی، دا کتاب بالکل پاک دے.

دویم دا چه دَ دے نه مخکښ دَ خدائے دَ طرفنه کوم کتابونه راغلی وُو دا کتاب دَ هغے نه بدل څه نه پیش کوی بلکه دَ هغے څیز تصدیق او تائید کوی کوم څیز چه په هغے کتابونو کښ پیش کړے شوے وُو.

دریم دا چه دا کتاب دَ هغے مقصد دَ پاره نازل کړے شوے دے دَ کوم مقصد دَ پاره چه په هره زمانه کښ دَ الله دَ طرفنه کتابونه نازلیدل، یعنی په غفلت کښ پراته خلق را بیدارول او دَ کوږ رفتار په بد انجام باندِ خبردارے ورکول.

څلورم دا چه دَ دے کتاب په دعوت سره هغه خلق نه دی راغونډ شوی کوم چه دُنیا پرست دی او دَ نفس دَ خواهشاتو بندیان دی، بلکه دے کتاب دا سے خلق دَ خپل ځان نه راچاپیره کړی دی چه نظرئے دَ دے دُنیا دَ سرحدونو نه وړاندِ لګی، او دَ دے کتاب په وجه چه کوم انقلاب دَ هغوئ په ژوند کښ راغلے دے دَ هغے دَ ټولو نه فتنه نښه دا ده چه په نورو انسانانو کښ هغوئ دَ خدا پرستئ په لحاظ سره ممتاز دی او لوئ شان لری. آیا دا خوبئ چرته په دا سے کتاب کښ راتلے شی چه یو دومره دروغژن انسان جوړ کړے وی چه دَ خپل کلام په باره کښ وائی چه دا دَ خدائے کلام دے؟

بَاسِطُوْٓا اَيْدِيْهِمْ ۚ اَخْرِجُوْٓا اَنْفُسَكُمْ ؕ اَلْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ
الْهُوْنِ بِمَا كُنْتُمْ تَقُوْلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ غَيْرَ الْحَقِّ وَكُنْتُمْ عَنْ اٰيٰتِهٖ
تَسْتَكْبِرُوْنَ ﴿۹۳﴾ وَلَقَدْ جِئْتُمُوْنَا فُرَادٰى كَمَا خَلَقْنٰكُمْ اَوَّلَ مَرَّةٍ وَّ
تَرَكْتُمْ مَّا خَوَّلْنٰكُمْ وَرَآءَ ظُهُوْرِكُمْ ۚ وَمَا نَرٰى مَعَكُمْ
شُفَعَآءَكُمُ الَّذِيْنَ زَعَمْتُمْ اَنَّهُمْ فِيْكُمْ شُرَكٰٓؤُا ؕ لَقَدْ
تَّقَطَّعَ بَيْنَكُمْ وَضَلَّ عَنْكُمْ مَّا كُنْتُمْ تَزْعُمُوْنَ ﴿۹۴﴾ ع اِنَّ اللّٰهَ
فَالِقُ الْحَبِّ وَالنَّوٰى ؕ يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَمُخْرِجُ

لاسونه راؤ ږده کړی او ورته وائی چه "راوړئ، خپل رُوحونه راؤباسئ، نن به تاسو ته دَ هغے خبرو په بدله کښ دَ ذِلّت عذاب درکړے کیږی کومے چه به تاسو ناحقه په الله پورے کولے او دَ هغه دَ آیتونو په مقابله کښ به مو سرکشی کوله." (او الله به وَ فرمائی) "کوری کنه، اوس تاسو هم هغسے یوازے زمونږ مخے ته حاضر شوئ لکه څنګه چه مونږه اول ځل تاسو پیدا کړی وئ، څه چه مونږه تاسو له په دُنیا کښ درکړی وُو هغه مو روستو پریښودل، او اوس خو مونږه تاسو سره ستاسو هغه سفارشیان هم نهٔ وینو چه تاسو به دَ هغوئ په باره کښ داګمان کوؤ چه زمونږ په کار جوړولو کښے دَ هغوئ هم څه حصه ده، ستاسو مچنپلو کښ ټول تعلقات ختم شو او هغه ټول درنه ورک شو دَ کومو چه تاسو ګمان لرو" ع

دَ دانے او دَ زړی چوونکے الله دے[۶۲]. هغه دَ مړی نه ژوندے راؤباسی او هم هغه دَ

[۶۲] یعنی په زمسکه کښ لاندِ تخم چوونکے او دَ هغے نه تیغ راا ستونکے.

الْمَيِّتِ مِنَ الْحَيِّ ۚ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ فَاَنّٰى تُؤْفَكُوْنَ ﴿۹۵﴾ فَالِقُ الْاِصْبَاحِ ۚ وَ
جَعَلَ الَّيْلَ سَكَنًا وَّالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ حُسْبَانًا ۚ ذٰلِكَ تَقْدِيْرُ
الْعَزِيْزِ الْعَلِيْمِ ﴿۹۶﴾ وَهُوَ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ النُّجُوْمَ لِتَهْتَدُوْا
بِهَا فِيْ ظُلُمٰتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ ۚ قَدْ فَصَّلْنَا الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ
يَّعْلَمُوْنَ ﴿۹۷﴾ وَهُوَ الَّذِيْٓ اَنْشَاَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ
فَمُسْتَقَرٌّ وَّمُسْتَوْدَعٌ ۚ قَدْ فَصَّلْنَا الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّفْقَهُوْنَ ﴿۹۸﴾

ژوندی نه مړے را ایستونکے[۶۳] دے، ددے ټولو کارونو کولو والا خو الله دے، بیا تاسو کوم خوا دوکه کړے شوی روان یئ؟ هم هغه د شپے د تیرے نه صبا راوباسی. هغه د شپے نه د آرام وخت جوړ کړے دے، هغه د نمر او د سپومئ د راختلو او د پریوتلو حساب مقرر کړے دے. دا ټولے د هغه زبردست قدرت او علم والا مقررے اندازے دی. او هم هغه دے چه ستاسو د پاره ئے په صحرا کښ او د سمندر په تورو تیرو کښ د استوری د لارے معلومولو ذریعه جوړه کړه. کورئ موږ نښے صفا صفا بیان کړی دی د هغے خلقو د پاره چه علم لری[۶۴]. او هم هغه دے چه د یو نفس نه ئے تاسو پیدا کړئ بیا[۶۵] د هر یو انسان د پاره یو ځائے د قرار دے او یو ځائے د سپارختنے دے. دا نښے موږ واضحه بیان کړی دی د هغے خلقو د پاره چه پوهه لری[۶۶].

[۶۳] د مړی نه د ژوندی را ایستلو مطلب د بے روحه مادے نه ژوندی مخلوقات پیدا کول دی، او د ژوندی نه د مړی د خارج کولو مطلب د روح والا جسم نه بے روحه مادے خارج کول دی.

[۶۴] یعنی ددے حقیقت نښے چه خدائے صرف یو دے، بل څوک نه د خدائی صفت لری، نه بل څوک د خدائی په اختیارا تو کښ حصه دار دے، او نه بل څوک د خدائی په حقو نو کښ د څه حقدار دے. خو ددے نښو په ذریعه حقیقت ته رسیدل د جاهلانو د وس خبره نه ده، د دے نه فایده صرف هغه خلق اغستلے شی څوک چه په علمی طریقه د کائناتو په څیزونو باندے غور کوی.

[۶۵] یعنی د انسانی نسل شروع ئے د یو نفس نه وکړه.

[۶۶] یعنی د انسان په پیدائش باندے، او په انسانانو کښ د ښځے او د سړی په پیدا کیدو باندے او د اولاد پیدا کولو په ذریعه د انسانانو په ډیریدو باندے، او د مور د خپټے نه راواخله ان تر زمکے ته د راتلو پورے د انسان د ژوند په مختلفو حالاتو باندے که نظر واچولے شی نو په دے کښ بے شمیره داسے نښے د انسان مخے له راځی چه هغه پر هغه حقیقت پیژندلے شی کوم چه بره بیان شوے دے. خو ددے نښو نه حقیقت ته رسیدل د هغے خلقو کار دے چه څه پوهه لری. څوک چه د ځنا ورو پشان ژوند تیروی او صرف د خپلو خواهشاتو

وَهُوَ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً ۚ فَاَخْرَجْنَا بِهٖ نَبَاتَ كُلِّ شَيْءٍ
فَاَخْرَجْنَا مِنْهُ خَضِرًا نُّخْرِجُ مِنْهُ حَبًّا مُّتَرَاكِبًا ۚ وَمِنَ النَّخْلِ مِنْ
طَلْعِهَا قِنْوَانٌ دَانِيَةٌ وَّجَنّٰتٍ مِّنْ اَعْنَابٍ وَّالزَّيْتُوْنَ وَالرُّمَّانَ
مُشْتَبِهًا وَّغَيْرَ مُتَشَابِهٍ ؕ اُنْظُرُوْٓا اِلٰى ثَمَرِهٖٓ اِذَآ اَثْمَرَ وَيَنْعِهٖ ؕ
اِنَّ فِيْ ذٰلِكُمْ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۹۹﴾ وَجَعَلُوْا لِلّٰهِ شُرَكَآءَ الْجِنَّ

او هم هغه دے چه دَ آسمان نه ئے اُوبه راؤ ورولے، بیائے دَ هغے په ذریعه هر قسم شینکے راؤ خیژوؤ، بیائے دَ هغے نه شنه شنه فصلونه اوونے پیدا کړے، بیائے دَ هغے نه قط په قط دانے راؤ ځکلے او دَ کجورو دَ غوټو نه ئے دَ میوؤ غونچکو نه پیدا کړل چه دَ دروند والی دَ وجے نه ښکته زوړند وی، او دَ انګورو، دَ خونانو (زیتون) او دَ انارو باغونه ئے ؤ لګول چه میوے ئے دَ یو بل سره یو شان هم دی او بیا دَ هرے یوے میوے خصوصیات جُدا جُدا هم دی. دا ؤ نے چه کله میوے نیسی نو ددے دَ میوؤ نیولو او بیا دَ هغے دَ پخیدلو په حالت باندِ لږ دَ غور په نظر سره ؤ ګورئ، په دے څیزونو کښ نښے دی دَ هغے خلقو دَ پاره چه ایمان راوړی - ددے دَ پاسه هم خلقو پیریان دَ الله سره شریکان[۶۷] کړل،

پوره کولو سره ئے غرض وی، هغوئ په دے نښو کښ هیڅ نشی لیدے.

[۶۷] یعنی دَ خپل وهم وګمان نه دا وائی چه دَ کائناتو په انتظام کښ او دَ انسان په قسمت جوړولو او ورانولو کښ دَ الله سره نورے پټے هستئ هم شریکی دی، څوک باران وره وی، څوک بوټی راخیژه وی، څوک دولت ورکوی او څوک بیماری راولی وغیر ذٰلك مِنَ الْخُرَافَاتِ. دا قسم غلطے عقیدے دَ دنیا په ټولو مشرکانو قومونو کښے دَ ارواحانو او دَ شیطانانو او دَ وحشی انسانانو او دَ دیوتاګانو په حقله موندے کیږی.

وَخَلَقَهُمْ وَخَرَقُوْا لَهٗ بَنِيْنَ وَبَنٰتٍۭ بِغَيْرِ عِلْمٍ ؕ سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى
عَمَّا يَصِفُوْنَ ﴿۱۰۰﴾ ع بَدِيْعُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ اَنّٰى يَكُوْنُ لَهٗ وَلَدٌ
وَّلَمْ تَكُنْ لَّهٗ صَاحِبَةٌ ؕ وَخَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ ۚ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ
عَلِيْمٌ ﴿۱۰۱﴾ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ ۚ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ
فَاعْبُدُوْهُ ۚ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ وَّكِيْلٌ ﴿۱۰۲﴾ لَا تُدْرِكُهُ الْاَبْصَارُ ز
وَهُوَ يُدْرِكُ الْاَبْصَارَ ۚ وَهُوَ اللَّطِيْفُ الْخَبِيْرُ ﴿۱۰۳﴾ قَدْ جَآءَكُمْ
بَصَآئِرُ مِنْ رَّبِّكُمْ ۚ فَمَنْ اَبْصَرَ فَلِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ عَمِيَ فَعَلَيْهَا ؕ وَ

حالانکه هغه دَ هغوئ خالق دے، او بغیر دَ علم نه ئے خدا ے له ځامن او لونړه جوړے کړے،[۶۸] حالانکه هغه پاک او ډیر وَچت دے د هغے خبرونه کومے چه دوئ وائي ع هغه خو دَ زمکے او دَ آسمانونو ایجاد کونکے دے۔ دَ هغهٔ ځوے څنګه کیدے شي هر کله چه دَ هغه دَ ژوند ملګرے نشته۔ هغه هر څیز پیدا کړے دے او هغه دَ هر څیز علم لري۔ دا دے الله ستاسو رب، بل خدائے دَ هغه نه بغیر نشته، دَ هر څیز پیدا کوونکے دے، بس هم دَ هغه عبادت کوئ او هغه دَ هر څیز ذمه وار دے۔ سترګے هغه نشي موندلے او هغه سترګے وینی، او هغه ډیر باریک لیدونکے او خبردار دے۔

ګورئ، تاسو ته ستاسو دَ رب دَ طرفنه دَ پوهے رڼا ګانے راغلی دی، اوس چه چا سترګے وغړولے نو خپله فائده به وَکړي او چه چا سترګے پټے کړے نو خپل نقصان به وَکړي،

---

[۶۸] دَ عربو جاهلانو خلقو به فرښتو ته دَ خدائے لونړه وئیلے۔ دغه شان دَ دُنیا نورو مشرکانو قومونو هم دَ خدائے سره دَ نسب سلسله چلولی ده او بیائے په خپل وهم وګمان باندے دَ دیوتا ګانو (دَ خدایانو) یو پوره نسل جوړ کړے دے۔

مَآ اَنَا عَلَيْكُمْ بِحَفِيْظٍ ﴿۱۰۴﴾ وَكَذٰلِكَ نُصَرِّفُ الْاٰيٰتِ وَلِيَقُوْلُوْا دَرَسْتَ
وَلِنُبَيِّنَهٗ لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ﴿۱۰۵﴾ اِتَّبِعْ مَآ اُوْحِيَ اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ ۚ

زهٔ په تاسو باندِ څه څوکیدار نهٔ یم۔[۶۹]

دغه رنګے مونږه خپل آیتونه بیا بیا په مختلفو طریقو سره بیانوؤ او دَ دے دَ پاره ئے بیانوؤ چه دا خلق وُوائي چه دا تا دَ بل چا نه لوستلی دی، او کوم خلق چه علم لری نو چه په هغوئ باند حقیقت ښکاره کړو۔ اے محمدؐ، په هغے وحی پسے څه کومه چه په تا باندِ ستا دَ رب دَ طرفنه نازله شوی ده

[۶۹] دا فقره اګرچه دَ الله کلام دے خو دَ نبیؐ دَ طرفنه بیانیږی۔ په قرآن مجید کښ لکه څنګه چه مخاطب بیا بیا بدلیږی، کله نبیؐ ته خطاب وی، کله مومنانو ته، کله اهلِ کتابو ته، کله کافرانو او مشرکانو ته، کله قریشو ته کله عربیانو ته او کله عامو انسانانو ته خطاب وی، حالانکه اصل غرض ټول انسانیت ته هدایت کول دی، دغه شان متکلم یعنی خبری کونکے هم بیا بیا بدلیږی یو ځائے کښ خدائے تعالیٰ خبری کونکے (متکلم) وی بل ځائے کښ وحی راوړونکی فرښته خبری کونکی وی، یو ځائے کښ دَ فرښتو یوه ډله خبری کونکی وی بل ځائے کښ نبیؐ او بل ځائے کښ مومنان، حالانکه په هر ځائے کښ کلام هم دَ دغے یو خدائے وی۔

"زهٔ په تاسو باندِ څوکیدار نهٔ یم" یعنی زما کار بس دومره دے چه دا رنړا در مخے ته کړم۔ ددے نه روستو سترګے غړول او نه غړول ستاسو خپل کار دے۔ ما ته دا خدمت نهٔ دے حواله کړے شوے چه کومو خلقو سترګے بندے کړے دی دَ هغوئ سترګے په زور وُغړوم او څه چه هغوئ نهٔ وینی هغه ورته څامخا وُ ښایم۔

[۷۰] دا هم هغه خبره ده چه دَ سورة بقرے په دریمه رکوع کښ بیان شوی ده چه دَ حق تلاش کونکے کله دَ ماشی او جولاکی وغیره مثالونه واوری نو هغه پرِ حقیقت ته رسی، خو چه کوم خلق منکر او ضدیان دی هغوئ دَ ټوقے په طور وائي چه ښه دَ الله په کلام کښ ددے سپکو څیزونو بیانولو څه ضرورت دے۔ هم دا خبره دلته په بل شکل کښ بیان شوی ده۔ مطلب ئے دا دے چه دا کلام دَ خلقو دَ پاره یو آزمیښت ګرزیدلے دے په خلقو کښ کره او کوټه معلوموی۔ یو قسم خلق هغه دے چه دا کلام واوری یائے وُوائي نو په مقصد باندے غور وُکړی او په هغے کښ چه دَ حکمت او دَ نصیحت کومے خبرے وی دَ هغے نه فائده واخلی۔ او بل قسم خلق دا سے دے چه کله دا کلام واوری یائے پخپله وُوائي نو دَ کلام په مقصد باندِ دَ غور کولو پځائے په دے خبره پسے ورپسے شی چه آخر دے اُمّي سړی دا خبرے دَ کوم ځائے نه وُکړے، او دَ مخالفت په ضد کښ خو دَ مخکښ نه پراته وی نو دَ خدائے دَ طرفنه دَ نازلیدو ټول امکانات په ځائے پریږدی او باقی چه دَ دے کلام دَ جوړولو مطابق څومره دَ دوئ نه کیدے شی هغه ټول سوچونه وُکړی او بیائے په دا سے طرز بیانوی لکه چه دوئ ددے کتاب په بنیاد باندِ ډیر تحقیق کړے وی۔

لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ وَاَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿۱۰۶﴾ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ مَآ
اَشْرَكُوْا ؕ وَمَا جَعَلْنٰكَ عَلَيْهِمْ حَفِيْظًا ۚ وَمَآ اَنْتَ عَلَيْهِمْ
بِوَكِيْلٍ ﴿۱۰۷﴾ وَلَا تَسُبُّوا الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ
فَيَسُبُّوا اللّٰهَ عَدْوًا بِغَيْرِ عِلْمٍ ؕ كَذٰلِكَ زَيَّنَّا لِكُلِّ اُمَّةٍ

ځکه چه دَ دغې یو رب نه بغیر بل خدائے نشته. او په دے مشرکانو پسے مه ورپسے کیږه. که چرے الله غوښتلے
نو (هغه پخپله داسے بند وبست کولے شو چه) دے خلقو به شرک نه کولے. ته مونږه په دوئ باندِ
څوکیدار نه ئے مقرر کړے او نه ته په دوئ باندِ حوالدار ئے[۱] - او (اے مومنانو) دا خلق چه دَ الله
نه بغیر چا ته آواز ونه کوی هغوئ ته کنځلے مه کوئ، هسے نه چه دَ شرک نه وړاندِ لاړ شی او دَ ناپوهتیا په
وجه الله ته کنځلے شروع کړی[۲] او غم رنګے خو مونږه دَ هرے یوے ولے دَ پاره دَ هغوئ عمل بنائسته ښکاره

[۱] مطلب دا دے چه ته دعوت ورکونکے (داعی) او خبره رسونکے (مبلغ) ئے، کوتوال نه ئے. ستا کار صرف
دا دے چه خلقو ته دا رنړا مخے ته کړه او دَ حق په ظاهرولو کښ دَ خپله وَسه پورے هیڅ کمے مه کوه. بیا که څوک
دا حق نه قبلوی نو نه دِ قبلوی. تا ته نه دا کار حواله شوے دے چه خامخا خلق حق پرست کړه، او نه دا
ستا ذمه واری ده او نه به درنه ددے خبرے تپوس کیږی چه کوَرَے ستا په نبوت کښ څوک باطل پرست
پاتی نه شی. نو په دے فکر کښ خامخا ځان مه پریشانه کوه چه دَ ړندو نه به څنګه سترګو والا جوړ شی
او څوک چه کتل نه غواړی هغوئ ته به څنګه یو څیز وَښودلے شی. که چرے په حقیقت کښ دَ الله دَ حکمت
مطلب دا وے چه په دُنیا کښ دِ یو سړے باطل پرست پاتی نشی نو بیا دے خبرے هیڅ ضرورت نه وُو چه
الله دا کار ستا نه افتلے وے. ولے دَ الله په یوه اشاره دا ټول انسانان حق پرست نشو جوړیدلے؟ خو
مقصد دَ سر نه دا دے نه. مقصد خو دا دے چه انسان دَ حق او دَ باطل په خوښولو کښ آزاد وی او بیا
ورته دَ حق رنړا مخے ته پیش کړے شی او دا آزمیښت پرِ وَشی چه په دے دواړو کښ کوم څیز خوښه وی. بس
ستا دَ پاره صحیح کار دا دے چه کومه رنړا تا ته ښکاره کړے شوی ده په هغے کښ ته په سپیده لار
باندِ پخپله ځه او نورو خلقو ته دعوت ورکوه. کوم خلق چه ستا دعوت قبول کړی هغوئ خو اته رانزدے
کړه او که هغوئ هر څومره دَ دُنیا په نظر کښ سپک وی خو ته دَ هغوئ منګرتیا مه پریږده. او کوم خلق
چه ستا دعوت قبول نه کړی ته په هغوئ پسے مه ورپسے کیږه. کوم بد انجام ته چه هغوئ پخپله تلل غواړی
او دَ تلو دَ پاره زور لګوی هغے ته ئے پریږده چه ځی.

[۲] دا نصیحت دَ نبی صلی الله علیه وسلم اُمتیانو ته شوے دے چه دَ تبلیغ په جوش کښ دومره مه بے قابو
کیږئ چه دَ مناظرو او دَ بحث دَ تکرار کولو نه خبره دَ غیر مسلمه خلقو په عقیدو باندِ سختے حملے کولو ته وَرسی

عَمَلَهُمْ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّهِم مَّرْجِعُهُمْ فَيُنَبِّئُهُم بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١٠٨﴾
وَأَقْسَمُوا بِاللَّهِ جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ لَئِن جَاءَتْهُمْ آيَةٌ لَّيُؤْمِنُنَّ
بِهَا ۚ قُلْ إِنَّمَا الْآيَاتُ عِندَ اللَّهِ وَمَا يُشْعِرُكُمْ ۙ أَنَّهَا إِذَا جَاءَتْ
لَا يُؤْمِنُونَ ﴿١٠٩﴾ وَنُقَلِّبُ أَفْئِدَتَهُمْ وَأَبْصَارَهُمْ كَمَا لَمْ

کړنه ۱۰۸ ، بیاد هغوی چې رب طرفته واپس تلل دی، په هغه وخت به ورته هغه خبر ورکړی چې څه څه کارونه هغوی کول.

۱۰۹ داخلق پاخه قسمونه خوړی او وایي چې که چېرې څه نښه موږ ته ولیږل شي نو موږ به په هغې ایمان راوړو - اے محمده، دوی ته وایه چې نښې خو الله سره دي، او تا سو څوک پوه کړی چې که چېرې غه نښې راهم شي خو دوی ایمان راوړونکي نه دي. موږ هغه رنګې دوی زړونه او سترګې اړوه وو لکه څرنګه چې دوی

او که هغوی پیشوا کانوا و مشرانوا و معبودانو ته پکښې ګټه وشي، ځکه چې دوی په وچه به هغوی حق ته ډیر نږدې کید و پخپله ښه ورهم ډیر حق نه لرلے شي.

۱۰۸ دلته بیا هغه حقیقت طرفته اشاره شوې ده کوم چې موږ په هغې پېښو حاشیو کې بیان کړے دے چې کوم کارونه ډیر فطري قانون لاندې کیږي ډیر په ساده ټکي الله تعالیٰ فرمایلي چې دا موږ نه کار دے، ځکه چې فطري قانون خو موږ نګې هم هغه دے او کوم کارونه چې ډیر قانون لاندې کیږي هغه هم ډیر هغه پر حکم سره کیږي. کیدے خبره چې الله تعالیٰ په دے طریقه بیانوي چې دا کار موږ دا سے کړے دے نو هم دغه خبره که موږ انسانان بیانوو نو دا سے به وایو چې فطرةً دا سے کیږي.

۱۰۹ ډ نښې نه مراد یوه دا سے نښه لیدونکي معجزه ده چې هغه په لید وسره ډ نبي صلی الله علیه وسلم ډ صداقت مسلمانه بغیر بله څه چاره نه وي.

۱۱۰ یعنې ډ نښو جوړولو او بیا ډ هغوی ډ پېښ کولو قدرت ماته نه دے حاصل، دے اختیار الله سره دے، که خوښه ځپلو کوم نښې بنایي او که خوښه ځپلو نشي نو ډ هغې نه بنایي.

۱۱۰ دا خطاب مسلمانانو ته دے چې آرزوکانې به ځپلې او وکله کله به ځپه خولهم دوی خواهش اظهار کولو چې یوه دا سے نښه ښکاره شوې چې ډ هغې په ذریعه ډ هغوی قلبي لاړه رونړه په یقین لاس باندې راشي. ډ هغوی دغه آرزو او ډ خواهش جواب دے چې آخر تاسو به په کومه طریقه پوهیږئ چې دوی خلق ایمان راوړل نه غواړي ظاهر یدو ته بند نه دی.

يُؤْمِنُوْا بِهٖٓ اَوَّلَ مَرَّةٍ وَّ نَذَرُهُمْ فِيْ طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُوْنَ ﴿۱۱۰﴾ ع

وَلَوْ اَنَّنَا نَزَّلْنَآ اِلَيْهِمُ الْمَلٰٓئِكَةَ وَكَلَّمَهُمُ الْمَوْتٰى وَ

حَشَرْنَا عَلَيْهِمْ كُلَّ شَيْءٍ قُبُلًا مَّا كَانُوْا لِيُؤْمِنُوْٓا اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ

اللّٰهُ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ يَجْهَلُوْنَ ﴿۱۱۱﴾ وَكَذٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ

عَدُوًّا شَيٰطِيْنَ الْاِنْسِ وَالْجِنِّ يُوْحِيْ بَعْضُهُمْ اِلٰى بَعْضٍ

پہ اول ځل پہ دے باندِ ایمان نہ وُو راوړے[۷۷]۔ مونږ دوئ هم پہ دے خپلہ سرکشئ کښ دَ پریشانہ کید و دَ پارہ پریږدو۔ ع کہ چرے مونږہ فرښتے هم پہ دوئ باندِ نازلی کړے وے او مړو ورسرہ خبرے هم کړے وے او دَ ټولے دنیا څیزونہ مونږ دَ دوئ وړاندِ جمع کړے وے خو بیا هم دوئ ایمان راوړلو والا نہ وُو، بغیر دَ هغے نہ چہ الله غوښتلے (چہ دوئ دَ ایمان راوړی[۷۸])، خو اکثر خلق دَ ناپوهتیا خبری کوی، او مونږ دَ خو دغہ رنګے همیشہ شیطانان انسانان او شیطانان پیریان دَ هر نبی دُشمنان جوړ کړی دی چہ یو بل تہ خوږے پستے خبرے

---

[۷۷] یعنی دَ هغوئ پہ ذهن کښ هم هغہ خبرہ دہ دَ کومے خبرے پہ وجہ چہ هغوئ پہ اول ځل دَ محمد صلی الله علیہ وسلم دَ دعوت منلو نہ انکار کړے وُو، دَ هغوئ پہ خیال کښ تر اوسہ پورے څہ تغیر نہ دے راغلے۔ لکہ څنګہ چہ هغکښ ئے صحیح سوچ نہ وُو دغہ شان لن ئے هم صحیح سوچ نشتہ۔

[۷۸] یعنی دے خلقو خو پہ خپل اختیار او پخپلہ خوښہ پہ حق باندِ باطل غورہ کړے دے او حق تہ راوړیدو والا نہ دی۔ اوس دَ هغوئ حق تہ دَ راوړیدو صرف یو شکل دے او هغہ دا دے چہ لکہ څنګہ ټول بے اختیارہ مخلوق پیدائشی حق پرست پیدا کړے شوی دی چہ دغہ شان دوئ هم بے اختیارہ کړے شی او پیدائشی حق پرست جوړ کړے شی۔ خو دا کار دَ هغے حکمت نہ خلاف دے دَ کوم حکمت لاندِ چہ الله انسان جوړ کړے دے۔ لهٰذا استا سو دا اُمید ساتل فضول دی چہ الله تعالیٰ بہ پخپل تکوینی امر باندِ دوئ مومنان کړی۔

زُخْرُفَ الْقَوْلِ غُرُورًا ۭ وَلَوْ شَاۗءَ رَبُّكَ مَا فَعَلُوْهُ فَذَرْهُمْ وَ
مَا يَفْتَرُوْنَ ﴿۱۱۲﴾ وَلِتَصْغٰٓى اِلَيْهِ اَفْـِٕدَةُ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ

دَ دوکے په طور باندې کوي[۱۱۱] کله چې ستا رب دا غوښتلے چې هغوي دِ داسے ونه کړي نو هغوي
به هیڅ چې نه وے کړے[۱۱۲] پس ته هغوي په خپل حال باندې پرېږده چې د دروغو په الزام لګولو کښ
لګیا وي. (ددے تولو هرڅه کولو اجازت مونږ هغوي له حکمه ورکوو) چې کوم خلق په آخرت باندې ایمان نه لري

[۱۱۱] یعنی نن کله چې د انسانانو او د پیریانو شیطانان تهول راجمع شوي دي او ښه په زور سره ستا مقابله کوي نو د بیدو هیڅ خبره نه ده. داخو نوے خبره نه ده چې بس ستاسو کیږي. په هره زمانه کښ داسے شوي دي چې هرکله یو پیغمبر دُنیا ته د ښیغے لارے ښودلو د پاره راپاسید لے دے نو تهول شیطاني طاقتونه د هغه د نا کام کولو د پاره تیار شوي دي.

د خوږو پستو خبرو نه مُراد هغه تهول چلونې دي او هغه تهول سوچونه او شکونه او اعتراضونه دي چې د دې پر د اعئ حق خلاف او د هغه د دعوت خلاف لسوي. بیائے دے تهولو خبرو ته د دوکے او د فریب خبرې وئیلې دي. حُکمه چې د حق مخالفین کومه وسله د حق سره د جنګیدو د پاره استعمالوي هغه په حقیقت کښ هیڅ یوه دوکه وي اګرچې په ظاهره باندې هغه هغوي ته ډیره فائده مند او کامیابه وسله ښکاري.

[۱۱۲] دلته دا حقیقت ښه په ذهن کښ کینول پکار دي چې د قرآن په رنړا کښ د الله تعالیٰ په مشیّت (اجازت) او د هغه په رضا کښ ډیرلوئ فرق دے او چې څوک دا دے فرق پرو او ونه لري نو عام طور په ډیره سخته غلطئ کښ پرېوځي. یو کار چې د الله د مشیت او د هغه د اجازت لاندې کیږي نو د هغے خامخا مطلب نه وي چې الله د هغے کار نه راضي هم دے او د هغه کار خو ښه وي هم. په دُنیا کښ یو کار ترهغے پورے نه ځي کیدے ترڅو پورے چې الله د هغے د کولو اجازت نه وي درکړے او په خپل عظیم الشان سکیم کښ ئے ورته ځائے نه وي ورکړے او د هغے د کولو د پاره ئے اسباب نه وي برابر کړي. یو غل چې فلاکوي، یو قاتل چې تتل کوي، یو ظالم او مفسد چې ظلم او فساد کوي او یو کافر او مشرک چې کفر او شرک کوي، دا تهول د الله د مشیت نه بغیر نه کیږي. او د هغه شان د یو مومن او د یو پرهیزګار انسان ایمان او کیدل او پرهیزګار کیدل د الله د مشیت نه بغیر ناممکن دي. دواړه قسمه کارونه یو شان د الله د مشیت لاندې کیږي. خو اول قسم کارونه الله راضي نه دے او د دوم قسم کارونو نه الله راضي دے او خوښ ئے دي. اګرچې د دوئ د غیر د پاره د الله مشیت کار کوي، لیکن د هغے لوئ خیر د څرګند ید ولاړ هدف کیږي چې د رنړا د تیرے، د خیر او د شر، او د اصلاح او د فساد د مختلف قوتونو د یو بل سره په ټکر د وئ او د هغه وجه ده چې الله تعالیٰ فرمانبردارانو نافرمانانو له، ابراهیمیت او نمرودیت له، موسویت او فرعونیت له، انسانیت او شیطانیت له، دواړو له د خپل خپل کار کولو موقع ورکوي. هغه اختیار والا مخلوق (پیریانو او انسانانو) له دا آزادي ورکړي ده

بِالْاٰخِرَةِ وَلِيَرْضَوْهُ وَلِيَقْتَرِفُوْا مَا هُمْ مُّقْتَرِفُوْنَ ﴿۱۱۳﴾
اَفَغَيْرَ اللّٰهِ اَبْتَغِيْ حَكَمًا وَّهُوَ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ اِلَيْكُمُ الْكِتٰبَ

چه دَ هغوئ زړونه دے (ښکلے دوکے) طرفته مائله شي او هغوی د هغے نه راضي شي او هغه
گناهونه وکړي کوم چه هغوئ کول غواړي ـــــ بیا هر کله چه حال دا دے نو آیا زهٔ
دَ الله نه بغیر بل څوک فیصله کونکے وګورم، حالانکه هغه ښهٔ په تفصیل سره تاسو ته

چه په خیر او شر کښ څه ځان له خوښوی په هغے کښ دِ یو ځان له خوښ کړی. چه څوک ځان له خیر خوښوی
هغه دِ خیر ځان له خوښ کړی او چه څوک ځان له شر خوښوی هغه دِ شر ځان له خوښ کړی.
دواړو قسمو کارکونکو ته به، چه دَ کومه مده پورے دَ خدائے خوښه وی، دَ کارکولو اسباب برابر یږی. لیکن
دَ الله رضا او خوښه صرف دَ خیر دَ پاره دَ کارکونکو سره ده، او دَ الله دا خبره ډیره خوښه ده چه دَ هغه
بندیان ددے آزادئ له فایده واخلی او خیر دَ ځان دَ پاره خوښ کړی نه چه شر.
ددے سره دا خبره هم په ذهن کښ کینول پکار دی چه الله تعالیٰ کله دَ حق دَ دُشمنانو دَ مخالفت
ذکر وکړی نو ورسره ورسره دَ خپل مشیت حواله هم ورکوی، دَ دے مقصد په اصل کښ دا دے چه نبی صلی الله
علیه وسلم او دَ هغه په ذریعه مومنان په دے خبره پوه شي چه دَ مومنانو کار دَ فرښتو دَ کار پشان نه دے چه
بے دَ څه بندیز نه دَ الله حکم مني. بلکه دَ مومنانو کار دا دے چه دَ شریرانو او دَ باغیانو خلقو په مقابله کښ هغه
طریقه غالبه کړي کومه چه دَ الله تعالیٰ خوښه ده. الله تعالیٰ دَ خپل مشیت لاندِ هغه خلقو ته هم دَ کارکولو موقع
ورکوی چه هغوئ پخپله خوښه دَ الله نه دَ بغاوت لار اختیار کړی ده، او دغه شان مومنانو ته هم دَ کارکولو
پوره موقع ورکوی چه هغوئ دَ ځان دَ پاره دَ طاعت او دَ بندګئ لار اختیار کړی ده. اګرچه دَ الله تعالیٰ
رضا او هدایت او رهنمائي او امداد دَ مومنانو سره دے ځکه چه هغوئ هغه کار کوی کوم چه دَ الله خوښ دے
لیکن مومنانو له پکار دی چه په دے اُمید نه کیني چه الله تعالیٰ به دَ خپل طاقت په زور هغه خلق
په ایمان راوړلو باندِ مجبوره کړي چه هغوئ په خپله خوښه ایمان نه راوړي، او یا به هغه
شیطانان دَ مومنانو دَ لارے نه په زور لرې کړي کومو شیطانانو چه دَ خپلو ټولو طاقتونو سره
او دَ خپلو ټولو وسائلو سره دَ حق دَ لارے دَ بندولو فیصله کړی ده. نهٔ، هیچرے داسے نه ده. که چرے
تاسو واقعي دَ حق دَ پاره دَ کارکولو اراده کړی وی نو تاسو به دَ باطل سره په سخته مقابله کښ دَ خپل حق
پرستئ ثبوت ورکوئ. او که نه چرے دَ معجزو په زور باندِ باطل لرے کول او حق غالب کول وے نو بیا
ستاسو هیڅ ضرورت نه وُو، الله تعالیٰ پخپله داسے انتظام کولے شو چه په دنیا کښ به یو شیطان نه
وے او دَ شرک او دَ کفر هیڅ امکان به نه وُو.

مُفَصَّلًا ؕ وَالَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ يَعْلَمُوْنَ اَنَّهٗ مُنَزَّلٌ مِّنْ
رَّبِّكَ بِالْحَقِّ فَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُمْتَرِيْنَ ﴿۱۱۴﴾ وَتَمَّتْ كَلِمَتُ
رَبِّكَ صِدْقًا وَّعَدْلًا ؕ لَا مُبَدِّلَ لِكَلِمٰتِهٖ ۚ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿۱۱۵﴾
وَاِنْ تُطِعْ اَكْثَرَ مَنْ فِي الْاَرْضِ يُضِلُّوْكَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ
اِنْ يَّتَّبِعُوْنَ اِلَّا الظَّنَّ وَاِنْ هُمْ اِلَّا يَخْرُصُوْنَ ﴿۱۱۶﴾

کتاب نازل کړے دے[۸۱]؟ او کومو خلقو ته چه موږ ته (ستا نه مخکښ) کتاب ورکړے وو هغوئ پوهیږی چه دا کتاب ستا د رب د طرفنه د حق سره نازل شوے دے نو ته په شک کونکو خلقو کښ مه شامل یږه[۸۲] ستا د رب خبره د رښتنو لئ او د انصاف په لحاظ سره کامله ده، د هغه فرمانونه بدلولو والا هیڅوک نشته او هغه هر څه اوری او په هر څه پوه دے۔

او اے محمد ﷺ، که چرے ته د هغے خلقو د اکثریت په وینا پسے روان شوے کوم چه په زمکه کښے وسیږی نو هغوئ به تا د الله د لارے نه بے لارے کړی۔ هغوئ خو صرف په ګمانونو پسے روان دی او قیاسونه لګوی[۸۳]

[۸۱] په دے فقره کښ متکلم نبی صلی الله علیه وسلم دے او خطاب مسلمانانو ته دے۔ مطلب دا دے چه هر کله الله تعالیٰ په خپل کتاب کښ دا ټول حقیقتونه صفا صفا بیان کړی دی او دا فیصله ئے هم کړی ده چه حق پرست خلق به د عامے قاعدے (فطری طریقے) مطابق د حق غالب کولو د پاره کوشش کوی او د عامے قاعدے خلاف (فوق الفطری) د خدائی زور د استعمال هیڅ طمع به نه لوی، نو آیا زه اوس د الله نه بغیر بل څوک داسے وګورم چه د الله په دے فیصله باندے دوباره نظر واچوی او څه داسے معجزه را ولیږی چه دا خلق په ایمان راوړلو مجبوره شی؟

[۸۲] یعنی دا څه لوے خبره نه ده چه نن جوړه کړے شوی ده۔ هغه ټول خلق چه د آسمانی کتابونو علم لری او د پیغمبرانو د مقصد نه واقف دی۔ هغوئ په دے خبره ګواه دی چه دا څه په قرآن کښ بیانیږی دا حق دی او هغه ازلی او ابدی حقیقت دے چه په هغے کښ هیچرے فرق نه دے راغلے۔

[۸۳] یعنی زیات تر خلق چه په دنیا کښ وسیږی هغوئ د علم په ځائے په قیاس او په ګمان پسے روان دی۔ د هغوئ عقیدے، خیالات، فلسفے، د هغوئ د ژوند اصول او د کار کولو قانون ټول په قیاس باندے جوړ وی۔ د دے نه برخلاف د الله لاره، یعنی په دنیا کښ د ژوند تیرولو هغه طریقه چه د الله د رضا مطابق ده، بس صرف هغه یوه ده چه هغه پخپله الله انسان ته ښودلی ده، نه دا چه خلقو پخپلو قیاسونو معلومه کړی ده۔ نو هیڅ یو حق پرست له دے ته کتل نه دی پکار چه د دنیا زیات انسانان په کومه لار باندے روان دی، بلکه هغه له پکار دی چه ښه په صبر سره په هغے لار باندے روان شی کومه لار چه الله ښودلی ده، اګر که په ټوله دنیا کښ په هغه لار باندے دے یو اځے وی۔

إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ مَنْ يَضِلُّ عَنْ سَبِيلِهِ ۚ وَهُوَ أَعْلَمُ
بِالْمُهْتَدِينَ ﴿١١٧﴾ فَكُلُوا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ إِنْ كُنْتُمْ بِآيَاتِهِ
مُؤْمِنِينَ ﴿١١٨﴾ وَمَا لَكُمْ أَلَّا تَأْكُلُوا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ وَ
قَدْ فَصَّلَ لَكُمْ مَا حَرَّمَ عَلَيْكُمْ إِلَّا مَا اضْطُرِرْتُمْ إِلَيْهِ ۗ

په حقیقت کښ ستا رب زیات ښه پوهیږی چه څوک د هغه د لارې نه بې لارې دے او څوک په سیده لار باندې روان دے.

بیا که چرے تاسو د الله په آیتونو باندې ایمان لرئ نو چه په کوم ځناور باندې د الله نوم افتلے شوے وی د هغه غوښه خورئ[۸۴] آخر څه وجه ده چه تاسو هغه څیز نه خورئ چه په هغے باندې د الله نوم افتلے شوے وی، حالانکه د کومو څیزونو استعمال چه د مجبورئ د حالت نه بغیر په هر حالت کښ الله حرام کړے دے د هغے تفصیل ئے تاسو ته ښودلے دے[۸۵].

[۸۴] اکثر خلقو په خپل قیاس د ګمان باندې ډیرے غلطے طریقه جوړی کړی دی او بیا هغے طریقو یو مذهبئ ګک اختیار کړے دے. د ځه شان د خوراک څکاک په څیزونو کښ د مختلفو قومونو په منځ کښ مختلفے پابندئ دی. خلقو ځنے څیزونه د خپل ځان نه حلال کړی دی حالانکه د الله په نظر کښ هغه حرام دی. او ځنے څیزونه ئے پخپله حرام کړی دی حالانکه الله هغه حلال کړی دی. خاص طور د قولونه زیاته د جهالت خبره چه په هغه باندې اول هم د ډیرو خلقو زور وُو او لن پرهم د دُنیا ډیر خلق زُور ورکوی، هغه دا ده چه په کوم ځناور باندې د الله نوم وافتلے شی او ذبحه شی نو هغه د هغوئ په نږ باندې ناجائزه دے او په کوم ځناور چه د الله نوم وافتلے شی او ذبحه کړے شی نو هغه بالکل جائزه دے. الله تعالیٰ دلته مسلمانانو ته حکم کوی چه که چرے تاسو په حقیقت کښ په الله باندې ایمان راوړے وی او د هغه حکمونه منئ نو هغه قول و همونه او تعصبات پریږدئ کوم چه په کافرانو او مشرکانو کښ وُو، او هغه قولے پابندیانے ختمے کړئ چه خلقو د ځان نه جوړے کړے وے، حرام صرف هغه څیز وګڼړئ چه خدائے حرام کړے وی او حلال صرف هغه څیز وګڼړئ چه خدائے حلال کړے وی.

[۸۵] ذکر ۱۱ سورة نحل آیت ۱۱۵ د دے اشارے نه دا تحقیق هم وُشو چه سورة نحل دے نه هکښ نازل شوے وُو.

وَاِنَّ كَثِيْرًا لَّيُضِلُّوْنَ بِاَهْوَآئِهِمْ بِغَيْرِ عِلْمٍ ۭ اِنَّ رَبَّكَ هُوَ
اَعْلَمُ بِالْمُعْتَدِيْنَ ﴿١١٩﴾ وَذَرُوْا ظَاهِرَ الْاِثْمِ وَبَاطِنَهٗ ۭ
اِنَّ الَّذِيْنَ يَكْسِبُوْنَ الْاِثْمَ سَيُجْزَوْنَ بِمَا كَانُوْا
يَقْتَرِفُوْنَ ﴿١٢٠﴾ وَلَا تَاْكُلُوْا مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللّٰهِ عَلَيْهِ
وَاِنَّهٗ لَفِسْقٌ ۭ وَاِنَّ الشَّيٰطِيْنَ لَيُوْحُوْنَ اِلٰٓى اَوْلِيٰٓـئِهِمْ
لِيُجَادِلُوْكُمْ ۚ وَاِنْ اَطَعْتُمُوْهُمْ اِنَّكُمْ لَمُشْرِكُوْنَ ﴿١٢١﴾

د ډیرو خلقو دا حال دے چې د علم نه صرف د خپلو خواهشاتو په بنیاد باندې گمراه کوونکی خبرې کوی، ستا رب د هغه نه ورانده تیریدونکی خلق ښه پیژنی۔ تاسو د ښکارا ګناهونو نه هم ځان ساتئ او د پټو ګناهونو نه هم، څوک چې د ګناهونو کسب کوی هغوی به د خپل کسب بدله ضرور ومومی۔ او کوم ځناور چې بې د الله نوم نه وژبه کړے شوے وی د هغه خوښه مه خورئ، دا ځکه کول فسق دے۔ شیطانان د خپلو ملګرو په زړونو کښے شکونه او اعتراضونه اچوی د دې اړه د دے چې هغوی تاسو سره جګړه وکړی۔ لیکن که چرے تاسو د هغوی خبره ومنله نو یقیناً تاسو مشرکان یئ ۱۶ ع

۱۱۹ے د حضرت عبدالله ابن عباس نه روایت دے چې یهودو د مسلمانو په عربو جاهلانو ټوکه په نبی صلی الله علیه وسلم باندې د اعتراض کولو د پاره کوم سوالونه پوښتل په هغه کښ یو سوال دا هم وو چې "آخر دا څه معامله ده چې کوم ځناور مخکښې هغه د حرام وی او چې کوم ځناور موږ یې مړ کړو هغه د حلال وی"۔ د اهلِ کتابو د کې د ذهن پوه معمولی خبره وه۔ هغوی به وې ویل چې سوالونه ځانه جوړول او غرض به ئې داوو چې د هغوی په زړونو کښې شکونه واچوی او د حق سره د جنګیدو د پاره وړل وسله وکړی۔

۱۲۰ے یو طریقه د الله د حد (یئ اقرار کول) او بل طریقه د الله نه د ځانلپاره حکمونو باندې چلیدل او د هغوی د طریقو پابندی کول، شرک دے۔ توحید دا دے چې ټول ژوند سره سره د الله په اطاعت کښې وی۔ د الله سره که نور شرک د اړې طور په عقیده کښې د اطاعت قابل د مخلوق نه وی اقتدار شرک دے، او که عملاً د دے خلقو اطاعت ډکه ټکی چې هغوی د الله د هدایت نه بغیر پخپله د ژوند تیرولو حکمونه جوړ کړی وی نو دا عملی شرک دے۔

أَوَمَنْ كَانَ مَيْتًا فَأَحْيَيْنَاهُ وَجَعَلْنَا لَهُ نُورًا يَمْشِي بِهِ
فِي النَّاسِ كَمَنْ مَثَلُهُ فِي الظُّلُمَاتِ لَيْسَ بِخَارِجٍ مِنْهَا ۚ
كَذَٰلِكَ زُيِّنَ لِلْكَافِرِينَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١٢٢﴾ وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا

اے هغه سړے چه اول مړے وو بیا مو ژوندی کړ او هغه ته مو ورځ ورکړه چه د هغې په وجه هغه د خلقو په منځ کښ د ژوند په لار روان دے، چې د هغې سره پشان کیدئ شي چه هغه په تیارو کښ پروت وي او په هیڅ طریقه د هغې نه نه راوځي؟ د کافرانو د پاره خو د هغوی عملونه دغه شان ښائسته جوړ کړې شوي دي،

۱۲۲ دلته د مړ کلمه د جهالت او د ناپوهیا حالت دے، او د ژوند کلمه د علم، او د پوهې او د حقیقت پیژندلو حالت دے۔ کوم سړے چه په صحیح او په غلط کښ تمیز نشي کولے او د اور نه نړۍ وی معلوم چه صحیح او ښه لار کومه ده نو هغه که بدئی لحاظ سره ژوندے وی نو دی به خو په حقیقت کښ هغه ته د انسانیت ژوند حاصل نه دے۔ هغه یو ژوندے حیوان دے خو یو ژوندے انسان نه دے۔ ژوندے انسان په حقیقت کښ صرف هغه سړے دے چه هغه حق او باطل، نیکی او بدی او صحیح او غلط پیژني۔

۱۲۳ یعنی ته څنګه د توقع کولے شي چه کوم انسان ته د انسانیت پوهه نصیب شوی ده او د علم په رڼا سره د کفر او لاروې منځ کښ د حق ښه لاره صاف ښکاره ده د هغه نابینا خلقو پشان په د نیا کښ ژوند تیر کړي چه د جهالت په تیارو کښ پریشانه او سرګردانه ګرځي۔

۱۲۴ یعنی کومو خلقو ته چه رڼا ورانده کړې شي او هغوی د هغې قبلولو نه انکار وکړي، او کومو خلقو ته چه د نیغې لارې سره د هغې د پیژندلو توفیق ورکړې شي او هغوی په حق کولو او لاروې تللو ته ترجیح ورکړي، نو د هغوی د پاره د الله دا قانون دے چه بیا هغوی ته تیاره ښه معلومیږي۔ د هغوی د ړهند و پشان لاسونه ټول او د غرمې خوړل خوښ وی۔ هغوی ته جارې جانونه یا غوښه ښکاري او ازغی ورته کلونه ښکاري۔ هغوی له هره بدکاري منډه ورکوی، هره بې عقلي ټپل تحقیق کړي، او د هر فساد نه روستو د بل لوی فساد د پاره په دے اُمید تیاریږي چه اول خو هیڅ اتفاقي خبره ده چه په بل شوی انکار باندې لاس راغے دے حُسن له به لعنت له په لاس راځي۔

فِيْ كُلِّ قَرْيَةٍ اَكٰبِرَ مُجْرِمِيْهَا لِيَمْكُرُوْا فِيْهَا ۭ وَمَا يَمْكُرُوْنَ
اِلَّا بِاَنْفُسِهِمْ وَمَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۱۲۳﴾ وَاِذَا جَاۗءَتْهُمْ اٰيَةٌ قَالُوْا لَنْ
نُّؤْمِنَ حَتّٰى نُؤْتٰى مِثْلَ مَآ اُوْتِيَ رُسُلُ اللّٰهِ ۘ اَللّٰهُ اَعْلَمُ حَيْثُ
يَجْعَلُ رِسَالَتَهٗ ۭ سَيُصِيْبُ الَّذِيْنَ اَجْرَمُوْا صَغَارٌ عِنْدَ اللّٰهِ وَ
عَذَابٌ شَدِيْدٌۢ بِمَا كَانُوْا يَمْكُرُوْنَ ﴿۱۲۴﴾ فَمَنْ يُّرِدِ اللّٰهُ اَنْ يَّهْدِيَهٗ
يَشْرَحْ صَدْرَهٗ لِلْاِسْلَامِ ۚ وَمَنْ يُّرِدْ اَنْ يُّضِلَّهٗ يَجْعَلْ صَدْرَهٗ
ضَيِّقًا حَرَجًا كَاَنَّمَا يَصَّعَّدُ فِي السَّمَاۗءِ ۭ كَذٰلِكَ يَجْعَلُ اللّٰهُ الرِّجْسَ

پہ هر کلی کښ د هغه ځانګې فتې فتې هرمان لکولی دی چې هلته د خپل مکر و فریب جالونه خوارہ کړی۔
په اصل کښ هغوی د خپل فریب په جال کښ پخپله ځان، خو هغوی په هغه پوهیږی نه۔

هرکله چې دوی ته ویلی شی نو دوی وایی "موږ نه ترهغه نه منو تر څو چې هغه
څیز موږ ته پخپله رانکړه شی کوم چې د الله رسولانو ته ورکړه شوی دی"[1] الله وبه
ښه پوهیږی چې د خپل پیغام رسولو کاره چا نه وټاکی او په کومه طریقه ټټر واخلی۔
هغه وخت نږدې دی چې دا مجرمان به د خپلو مکرونو په بدله کښ د الله سره ذلت
او سخت عذاب وویني۔

پس (د حقیقت دا دی چې) چا ته الله د هدایت کولو اراده کوی نو د هغه سینه د اسلام
لپاره پرانزی او د چا چې په گمراهۍ کښ د غورزولو اراده کوی نو د هغه سینه داسې
تنګه، تنګه کړی چې (د اسلام تصور کول) هغه ته داسې بښکاری لکه چې آسمان
ته خیژی۔ وغه شان الله تعالیٰ (د حق نه د تښتې او د نفرت کولو) ناپاکی

[1] یعنی موږ د رسولانو په دې بیان باندې ایمان نه راوړو چې هغوی ټیږه فرښته راته راولی چې هغه
پیغام ځه ورته راوړی، بلکه موږ به هغه ایمان راوړو چې فرښته پخپله موږ ته راشی او موږ ته ووایی چې د
د الله پیغامبر دې۔

عَلَى الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۲۵﴾ وَهٰذَا صِرَاطُ رَبِّكَ مُسْتَقِيْمًا ؕ
قَدْ فَصَّلْنَا الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّذَّكَّرُوْنَ ﴿۱۲۶﴾ لَهُمْ دَارُ السَّلٰمِ عِنْدَ
رَبِّهِمْ وَهُوَ وَلِيُّهُمْ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۲۷﴾ وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ
جَمِيْعًا ۚ يٰمَعْشَرَ الْجِنِّ قَدِ اسْتَكْثَرْتُمْ مِّنَ الْاِنْسِ ۚ وَقَالَ
اَوْلِيٰٓؤُهُمْ مِّنَ الْاِنْسِ رَبَّنَا اسْتَمْتَعَ بَعْضُنَا بِبَعْضٍ وَّبَلَغْنَآ
اَجَلَنَا الَّذِيْٓ اَجَّلْتَ لَنَا ؕ قَالَ النَّارُ مَثْوٰىكُمْ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اِلَّا

پہ هغه خلقو باندې مسلط کوي چه ایمان نه راوړي، حالانکه دا لارستا د رب نیغه لار ده او دے
لښې د هغې خلقو د پاره واضح کړے شوي دي چه نصیحت قبلوي. د هغوئ د پاره د هغوئ د رب
سره د سلامتیا کور دے[۹۳] او هغه د هغوئ سرپرست دے د هغې صحیح عمل په وجه چه کوم هغوئ اختیار کړے دے
په کومه ورځ چه به الله دا قول خلق را جمع کړي، نو په هغه ورځ به هغه پیریانو[۹۴] ته ووائي چه
اے د پیریانو ډلے، تاسو خو په انسانانو باندې ښه زړه یخ کړو" په انسانانو کښې چه څوک د هغوئ
دوستان وو، هغوئ به عرض وکړي چه پروردګاره، په موږ کښې هر یو د بل نه ښه کار اغستلے دے[۹۵]،
او اوس موږ ته هغه وخت ته را رسیدلی یو کوم چه تا زموږ د پاره مقرر کړے دے" الله
به وفرمائي، "ښه اوس دورستاسو د وسیدو ځائے دے، په هغې کښې به تاسو
همیشه وسئ." د هغې نه به بچ کیږي صرف هغه خلق

۹۲ د سینې پرانستلو نه مراد د اسلام په صداقت باندې پوره مطمئن کول دي او شک شبے او حیرانتیا او پریشانی لرے کول دي.

۹۳ "د سلامتیا کور" یعنی جنت، چه هلته به انسان د هر آفت نه محفوظ وي او د هرے خرابئ نه به په امن وي.

۹۴ دلته د پیریانو نه مراد د پیریانو شیطانان دي.

۹۵ یعنی په موږ کښې هر یو د بل نه ناجائزه فائده اغستلی دي، هر یو بل په دوکه کښې اچولے دے او خپل خواهشاتئ پوره کړي دي.

مَا شَآءَ اللّٰهُ ؕ اِنَّ رَبَّكَ حَكِيْمٌ عَلِيْمٌ ﴿۱۲۸﴾ وَكَذٰلِكَ نُوَلِّيْ
بَعْضَ الظّٰلِمِيْنَ بَعْضًا ۢ بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿۱۲۹﴾ ع يٰمَعْشَرَ الْجِنِّ وَ
الْاِنْسِ اَلَمْ يَاْتِكُمْ رُسُلٌ مِّنْكُمْ يَقُصُّوْنَ عَلَيْكُمْ اٰيٰتِيْ وَ
يُنْذِرُوْنَكُمْ لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هٰذَا ؕ قَالُوْا شَهِدْنَا عَلٰٓى اَنْفُسِنَا
وَغَرَّتْهُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا وَشَهِدُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ اَنَّهُمْ

چه الله ئے بچ کول وغواړي، بیشکه ستا رب د حکمتونو خاوند دے او علیم دے۔[۹۶] ګورئ، موږ
به دغه شان (په آخرت کښ) ظالمان د یو بل ملګري کړو د هغوی د هغے کټے په وجه چه هغوی
به (په دنیا کښ د یو بل سره په شریکه) کوله۔[۹۷] (په دے موقع به الله د هغوی نه دا تپوس
هم وکړي چه) "اے د پیریانو او د انسانانو ډلے، آیا تاسو ته هم ستاسو نه هغه
پیغمبران نه وو درغلي چه تاسو ته به ئے زموږ ده آیتونه اوړول او دے ورځے د
انجام نه به ئے یرولئ؟" هغوی به ووائي، "هو، موږ د ځان خلاف په خپله
ګواهي کوو۔[۹۸]" نن د دنیا ژوند دا خلق په دوکه کښ اچولی دی، خو په دغے
وخت به هغوی پخپله د خپل ځان خلاف ګواهي وکړي چه هغوی

[۹۶] یعنی اګرچه الله ته پوره اختیار دے چه که چا ته سزا ورکول غواړي او که چا ته معافي کول غواړي، خو
دا سزا او معافي به هسے بلاوجه د خواهشاتو په بنیاد باندے نه وي، بلکه د علم او د حکمت په بنیاد باندے به وي۔
خدائے به هغه مجرم معاف کوي چه د هغه په عقله به هغه ته معلوم وي چه دے پخپله د خپل جرم ذمه وار
نه دے، او د الله حکمت به د هغه په عقله دا فیصله وکړي چه ده له سزا ورکول نه دي پکار۔

[۹۷] یعنی لکه څنګه چه په دنیا کښ هغوی په ګناه کولو کښ او د بدئ په ګټلو کښ شریک وو دغه
شان به هغوی په آخرت کښ په سزا کښ هم شریک وي۔

[۹۸] یعنی موږ ده دا اقرار کوو چه ستا د طرفنه به رسولان را تلل او موږ ده به ئے د حقیقت نه
خبرولو، خو دا زموږ خپل قصور وو چه موږ ده د هغوی خبره ونه منله۔

كَانُوْا كٰفِرِيْنَ ﴿١٣٠﴾ ذٰلِكَ اَنْ لَّمْ يَكُنْ رَّبُّكَ مُهْلِكَ الْقُرٰى بِظُلْمٍ
وَّاَهْلُهَا غٰفِلُوْنَ ﴿١٣١﴾ وَلِكُلٍّ دَرَجٰتٌ مِّمَّا عَمِلُوْا ؕ وَمَا رَبُّكَ
بِغَافِلٍ عَمَّا يَعْمَلُوْنَ ﴿١٣٢﴾ وَرَبُّكَ الْغَنِيُّ ذُو الرَّحْمَةِ ؕ اِنْ يَّشَاْ

کافران دُو۔[۱۳۰] (دا کواهی به هغوی نه دَدے د پاره د انتخاب شی چه د ثابته شی) چه ستاسو[۱۳۱] پر ظلم سره د کلو تباه کونکے نه وُو هر کله چه دَهغے وَسیدونکی د حقیقت نه[۱۳۲] ناخبره وی۔

دَهر سړی درجه دَهغه دَعمل په لحاظ سره ده او ستاسو رب دَخلقو دَ عملونو نه ناخبره نه دے۔ ستاسو رب بے نیازه دے او مهربانه دَهغه دستور دے[۱۳۳] کہ چرے هغه وُ غواړی

[۱۳۰] یعنی بے خبره او ناپوهه نه وُو بلکه کافران وُو۔ هغوی به پخپله داخبره وُمنی چه حق موږ ته رارسیدلے وُو خو موږ به پخپله دَهغه د قبلولو نه انکار کړے وُو۔

[۱۳۱] یعنی الله خپلو بندګانو له د موقعه نه ورکول غواړی چه هغوی ډِ د الله په عنکښ د احتجاج وُکړی چه موږ خو تاهد وُ د حقیقت نه خبر کړی نه یُو، او نه زموږ د پاره د صحیح لارے ښودلو انتظام کړے وُو، خو چه کله موږ د ناپوهتیا په وجه په غلطه لار روان وُو نو موږ ته پیغمبران راولیږل، او کتابونه نازل کړل د پاره دے چه پیریانو او انسانانو ته صفا صفا خبر ورکړے شی۔ اوس که خلق په غلطه لار باندے شی او الله هغوی له سزا ورکوی نو دَهغے الزام پخپله په هغوی باندے راځی نه په الله تعالیٰ باندے نه راځی۔

[۱۳۲] "ستاسو رب بے نیازه دے" یعنی دَهغه په تاسو کښ څه غرض نشته، او نه څه ستاسو نه فایده ده چه ستاسو د نافرمانئ د وجه نه به کنی دَهغه څه نقصان وُشی، یا ستاسو د فرمانبرداری د وجه نه به کنی هغه ته څه فایده وُرسی۔ که تاسو ټول خلق نافرمان شئ نو دَهغه په بادشاهئ کښ هیڅ کمے نشئ راوړے، او که ټول فرمانبرداره عبادت ګزاره شئ نو دَهغه په بادشاهئ کښ څه زیاتے نشئ کولے۔ هغه نه ستاسو د سلامونو محتاج دے او نه ستاسو د نذرونیازونو۔ خپلے بے شماره خزانے په تاسو خرچ کوی او دَهغے په بدله کښ ستاسو نه هیڅ نه غواړی۔

"مهربانی دَهغه دستور دے" دلته د موقعے په لحاظ سره دے نقره دوه مطلبونه دی۔ یَو دا چه دا ستاسو رب تاسو ته وایی چه په نیغه لار باندے څئ او د حقیقت نه خلاف عملونه مه کوئ نو دے وجه دا نه ده چه تاسو په نیغه لار لارښئ نو کنی هغه ته فایده ده او که په غلطه لار لارښئ نو کنی هغه ته نقصان دے، بلکه دے اصل وجه دا ده چه په نیغه لار باندے په تلو کښے ستاسو خپله فایده ده او په غلطه لار باندے په تلو کښے ستاسو خپل نقصان دے۔ دا سراسر د هغه مهربانی ده چه هغه تاسو ته هغے صحیح عمل تعلیم درکړی چه د هغه په وجه تاسو وُچتو وُچتو درجو ته ترقی کولے شئ او د هغے غلط عملونو نه تاسو منع کړی چه د هغه

يُذْهِبْكُمْ وَيَسْتَخْلِفْ مِنْۢ بَعْدِكُمْ مَّا يَشَآءُ كَمَآ اَنْشَاَكُمْ مِّنْ
ذُرِّيَّةِ قَوْمٍ اٰخَرِيْنَ ﴿١٣٣﴾ اِنَّ مَا تُوْعَدُوْنَ لَاٰتٍ ۙ وَّمَآ اَنْتُمْ
بِمُعْجِزِيْنَ ﴿١٣٤﴾ قُلْ يٰقَوْمِ اعْمَلُوْا عَلٰى مَكَانَتِكُمْ اِنِّيْ عَامِلٌ ۚ فَسَوْفَ
تَعْلَمُوْنَ ۙ مَنْ تَكُوْنُ لَهٗ عَاقِبَةُ الدَّارِ ۭ اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿١٣٥﴾

نو تاسو به لرے کړی او ستاسو په ځلئ به نور څوک، چې کوم خلق ډېر هغه خوښ وی، راولی، لکه څنګه چې تاسئ د نورو خلقو د نسل نه پیدا کړی یئ۔ تاسو سره چې د کوم څیز وعده کیږی هغه یقیناً واقع کیدونکی دے[۱۰۲] او تاسو د خدائ د عاجزه کولو طاقت نه لرئ۔ اے محمدؐ، وایه چې اے خلقو، تاسو په خپل ځائے عمل کوئ او زهٔ هم په خپل ځائے باندې عمل کوم،[۱۰۳] ډیر زر به تاسو ته معلومه شی چې آخری انجام به د چا ښه وی، بهرحال دا حقیقت دے چې ظالمان هیڅ رڼا نه لیدلے شی موندلے۔

په وجه تاسو لا ډیر مرتبو نه ځئ۔ بلکې دا چې ستاسو رب سخت مزاج نه دے، تاسو له په سزا درکولو کښې هغه لږ منډ نه وړئ، هغه خو ځنځا ستاسو په ټیولو او په وهلو پیے نه دے ورپسے شیے چې ستاسو نه لږ ډیر ګناه وشی او فوراً سزا درکړی۔ په حقیقت کښ هغه په خپلو مخلوقاتو باندې ډیر مهربان دے۔ نه په رحم وکوم سره خپله خدائی کوی، او نه معامله د انسانانو سره هم ده۔ دغه وجه ده چې هغه ستاسو ګناهونه په ځنډ معاف کوی۔ ستاسو نافرمانی کوئ، ګناهونه کوئ، جرمونه کوئ، د هغه په رزق باندې عیشونه کوئ او د هغه حکمونه نه منئ، خو هغه د صبر او د عفوے نه کار اخلی او تاسو ته د پوهے د پاره او د خپل ځان د اصلاح د پاره مهلتونه درکوی۔ او که نه چرے هغه سخت ګیروے نو داد هغهٔ د پاره څه مشکله خبره نه ده چې تاسئ د دنیا نه رخصت کړی وئ او ستاسو پرځائے ئے بل قوم راوچت کړے وے، او یا ټول انسانان ئے ختم کړے وے او بل مخلوق ئے پیدا کړے وے۔

۱۰۲؎ یعنی قیامت، چې د هغے نه روستو به ټول مخکښ روستو انسانان بیا راژوندی کړے شی او خپل رب ته به د آخری فیصلے د پاره پیش شی۔

۱۰۳؎ یعنی که زما په خبره تاسو نه ځیږئ او د خپلو غلطو کارونو نه نه صنعر کیږئ نو چې په کومه لار تاسو ځئ نو په هغے باندې ځئ، او ما په خپله لار ځم۔ تر پرېږدئ، آخری انجام چې څه وی هغه به تاسو هم وګورئ او زهٔ به ئے هم وګورئم۔

وَجَعَلُوْا لِلّٰهِ مِمَّا ذَرَاَ مِنَ الْحَرْثِ وَالْاَنْعَامِ نَصِيْبًا فَقَالُوْا هٰذَا لِلّٰهِ بِزَعْمِهِمْ وَهٰذَا لِشُرَكَآئِنَا ۚ فَمَا كَانَ لِشُرَكَآئِهِمْ فَلَا

دے[۱۰۴] خلقو د الله د پاره، د هغه فصلونه او څارویو نه چې هم الله پیدا کړي دي، یوه حصه مقرر کړي ده او په خپل ګمان وایي چې دا د الله د پاره ده، او دا زمونږ د شریکانو د پاره ده[۱۰۵]۔ بیا کومه حصه چې د هغوئ د شریکانو د پاره ده هغه خو الله ته

[۱۰۴] په دې تقریر سلسله په دې ځیره باندې ختمه شوې وه چې کړچې د اخلق نصیحت قبلولو ته تیار نه دي او په خپل جاهلیت باندې تینګ ولاړ دي نو دوئ ته وویل چې بنه ده تاسو په خپله طریقه باندې عمل کوئ او زه به په خپله طریقه باندې عمل کوم، قیامت به یو وخ ضرور راځي، په هغې وخت به تاسو ته معلومه شي چې دې طریقې به څه انجام وي، بهرحال په دې باندې ځان بنه پوهه کړئ چې هلته به ظالمان خلاص نه شي۔ دغه نه درستو هغه جاهلیت بنودلے کیږي چې په هغې باندې د اخلق تینګ ولاړ دي او د هغې پرېښودلو ته تیار نه دي۔ دغې جاهلانو نوټو ویلے کیږي چې ستاسو هغه "ظلم" څه دے چې د هغې په وجه تاسو غلامي امید نشئ کولے۔

[۱۰۵] دے خبرے هغوئ پخپله قائل وو چې زمکه د الله ده او فصلونه هغه راخیژي۔ دغه رنګه هغه ځناور هم الله پیدا کړي دي د کومو نه چې دوئ ځان لخدمت اخلئ۔ لیکن د هغوئ د خیال وو چې په هغوئ باندې د الله د افضل د هغې دیوتاګانو، فرښتو او پیرو یانو، د آسمانی ستورو او د پخوانو بزرګانو د روحونو د برکت د وجې نه دے چې د هغوئ په موږ باندې د کرم نظر دے۔ او په دے وجه به هغوئ د خپلو پتو د پیدا وار نه او د خپلو څارویو نه دوه حصے بیلوله۔ یوه حصه به د الله د نوم په دے شکریه کښې وه چې هغه د اپتي او څارویو ورکړي دي۔ او بله حصه به د هغوئ د سرپرستانو معبودانو د نذر د پاره وه چې د هغوئ د هر بانیانے د هغوئ سره شامله دي۔ الله تعالیٰ د فصلونه او ل هغوئ په دے ظلم باندې رانیسي چې د اپنو ل څارویو موږ ه پیدا کړي دي او موږ ه درکړي دي، نو په دے کښې د ا بل چا نذر رونیازځنګه راغے؟ دا نیک حرامی نذ ده نوځه ده چې تاسو د خپل احسان کونکی هغه احسان، چې هغه درسره صرف د خپل فضل وکرم په وجه کړے دے، د بل چا د فضل وکرم نتیجه ګڼئ او په شکریه ادا کولو کښې هغه هم د خدائے سره شریکوئ۔ دویم کولت ئے د هغوئ په دے خبره باندې کړے دے چې هغوئ د الله کومه حصه مقرر کړي ده د ائے هم په خپل ګمان باندې مقرر کړې ده، چې کومه حصه ئے په خپله د الله د پاره مقرره ول غوښتل هغه ئے د الله د پاره مقرر کړه او چې کومه ئے د نورو د پاره مقرره ول غوښتل هغه ئے د نورو د پاره مقرر کړه۔ حالانکه دے بخښش اصلی مالک او اختیارمند پخپله الله پاک دے او دا فیصله د هغه د شریعت مطابق کول پکار دي چې د هغه د بخښش نه څومره حصه د هغه د شکریې د پاره وویلے شي او په باقی کښې بیا څوک څوک حقدار دي۔ نو په حقیقت کښې چې کومه حصه د اخلق په خپل باطل خیال کښې د خدائے د پاره وُ یاسي او په فقیرانو

يَصِلُ إِلَى اللّٰهِ ۖ وَمَا كَانَ لِلّٰهِ فَهُوَ يَصِلُ إِلَىٰ شُرَكَائِهِمْ ۗ سَاءَ
مَا يَحْكُمُونَ ﴿٣٦﴾ وَكَذٰلِكَ زَيَّنَ لِكَثِيرٍ مِّنَ الْمُشْرِكِينَ

نۀ رسی خوکومہ چہ د اللہ د پارہ دہ نوھغہ د ھغوئ شریکانو تہ رسی ۱۰۶ ځنګہ خرابے فیصلے کوی داخلق۔

اودغہ شان د ھغوئ شریکانو د پیرومشرکانو د پارہ د خپل اولاد قتلول

اومیکنا نو باندے خیرات کوی ھغہ ھم څہ نیکی نۀ دہ ۔ ھیڅ وجہ نشتہ چہ ھغہ د خدائے پہ درکئ تبولہ شی ۔

۱۰۶ دا یو باریک طنز دے د ھغوئ پہ دے کار باندے چہ ھغوئ بہ کومہ حصہ د خدائے پہ نوم ایستلہ نو پہ ھغے کئ بہ ھم ھغوئ قسما قسم چلونہ کول او کلے بہ ئے پکئ زاو ستلو او د خپلو خود ساختہ شریکانو د حصو زیاتولو کوشش بہ ئے کولو، د دے نہ بہ دا معلومیدلہ چہ څومرہ مینہ د ھغوئ د دے شریکانو سرہ دہ ھغہ مینہ ئے د خدائے سرہ نشتہ ۔ مثلاً کومہ غلہ یا میوہ چہ بہ د خدائے پہ نوم باندے وہ ځغے نو چہ بہ څہ بنکتہ راپریوتلہ نو ھغہ بہ ئے د شریکانو پہ حصہ کئ شاملولہ، او کہ د شریکانو د ھغے حصے نہ بہ څہ راپریوتل، یا بہ ترڅہ د خدائے پہ ھغہ حصہ کئ شامل شول نو ھغہ بہ ئے ھم د ھغہ شریکانو حصے تہ واپس کولہ۔ کوم پتې چہ بہ د شریکانو د نذر د پارہ مخصوص کړے شوی وُو کہ چرے د ھغے نہ بہ اُوبۀ ھغے پتو طرفتہ راپھیدلے کوم چہ بہ د خدائے د نذر کړے پارہ مخصوص وُو نو د ھغے ټول پیدا وار بہ د شریکانو پہ حصہ کئ داخلیدو، لیکن کہ داکار بہ برعکس رُو نو د خدائے پہ حصہ کئ بہ ھیڅ اضافہ نۀ کیدلہ ۔ او کلہ چہ بہ د سوکړے د وجے نہ د نذرونیاز غلے تہ پخپلہ ضرورت پیښ شو نو د خدائے ھغہ حصہ بہ ئے خورلہ او د شریکانو حصے تہ بہ ئے دے ویرے نہ لاس نۀ ورکولو چہ چرتہ څہ بلا پرے نازلہ نۀ شی ۔ او کہ پہ څہ وجہ بہ د شریکانو پہ حصہ کئ کمے راغلے نو ھغہ بہ ئے د خدائے د حصے نہ پورہ کولو، لیکن کہ د خدائے پہ حصہ کئ بہ کمے راغلے نو د شریکانو د حصے نہ بہ ئے ورتہ یو دانہ ھم نۀ وراچولہ ۔ پہ دے کار چہ بہ چا اعتراض کړُو نو قسما قسم جوابونہ بہ ئے ورلہ وایکول ۔ مثلاً دا بہ ئے ویل چہ خدائے خوغنی دے، د ھغہ د حصے نہ کہ څہ کم ھم شی نو د ھغۀ پرھیڅ پروا نۀ وی ۔ او دا شریکان خوبندکان دی، د خدائے پشان غنیان نۀ دی، نو د دوئ پہ حصہ کئ کہ لږ شان کمے راشی نو دوئ پیر موږ ژاړلے شی ۔

دے رھنو اصلی جړ ہ څہ وہ، پہ دے باندے د ځان پوھکولو د پارہ دے نہ ځان خبرول ضروری دی چہ د ھر بوجا ھلانو یہ د خپل مال نہ کومہ حصہ د خدائے د پارہ جُدا کولہ نو ھغہ بہ ئے د فقیرانو، د مسکینانو، د مسافرانو او د یتیمانو پہ امداد کئ خرچ کولہ، او کومہ حصہ چہ بہ ئے د شریکانو د نذرونیاز د پارہ مُقرر کولہ نو ھغہ خو بہ یا د مذھبی خلقو خیټہ لہ تللہ او یا بہ پہ دربارونو باندے د نذر پہ شکل کئ پیش کړے شولہ او پہ دے طریقہ بہ مجبوراً لواد عبادت کئ راوتہ ژوبیدلہ۔ ھم دغہ وجہ وہ چہ دے خود غرضہ مذھبی پیشواګانو د خلکو لرا دے وے جاھلانو تہ داخبرہ پہ زړہ کئ کیښولے وہ چہ کہ د خدائے پہ حصہ

قَتْلَ اَوْلَادِهِمْ شُرَكَآءُهُمْ لِيُرْدُوْهُمْ وَلِيَلْبِسُوْا عَلَيْهِمْ دِيْنَهُمْ

بنائیسته ښکاره کړی دی[107] دپاره ددے چه هغوئ په هلاکت کښ[108] مبتلا کړی او په هغوئ باندِ خپل دین[109] شکمن کړی۔

کښ کے راشی نو هیڅ گناه نشته، خو چه "د خدائے د نیاز بینو" په حصه کښ څه کے رانشی بلکه که څه پکښ زیات شی نو لا بهتره ده۔

[107] دلته د "شریکانو" دا لفظ په یوه بله معنیٰ کښ استعمال شوے دے چه د برنئ معنیٰ نه مختلفه ده. په برنی آیت کښ چه چا ته "شریک" وئیلے شوے دے، هغه د هغوئ معبودان وُو، چه د هغوئ په برکت یا سفارش باندِ به هغوئ مدد حاصلولو او د نعمت په شکر ایستلو کښ به ئے د خدائے سره حصه دار کنړل۔ ددے نه برخلاف په دے آیت کښ د "شریک" نه مراد هغه انسانان او شیطانان دی چه هغوئ د اولادو قتلول د دے خلقو په نظر کښ یو جائز او غوره کار ښکاره کړے وُو۔ دوئ ته د شریک وئیلو وجه داده چه په اسلام کښ څنګه د عبادت حقدار یوازے الله تعالیٰ دے، دغه شان د بندیانو د پاره د قانون جوړولو او د حلال حرام مقرره ولو حقدار هم صرف الله دے۔ نو لکه څنګه چه د بل چا عبادت کول د خدائے سره شریک جوړول دی، نو دغه شان د بل چا قانون حق کنړل او د هغے پابندی کول او د هغے حکمونه منل هم د خدائے سره شریک جوړول دی دا دواړه کارونه د شرک دی، خواه که ددے کارونو کوونکے هغه هستو ته په ژبه باندِ الله او رب اُووائی او که ؤ نه وائی کومو هستو ته چه دوئ نذرو نیاز پیش کوی یا چه د کومو هستو د قانون حکمونه منی۔

د اولاد د قتلولو درے طریقے په عربو کښ جاری وے او په قرآن کښ دے درے واړو طرفته اشاره شوی ده

(۱) د جینکو قتل، په دے خیال سره چه څوک د هغه ځوم نشی، یا په قبائلی جنګولو کښ د دُشمن په قبضه کښ رانشی، یا په څه بله وجه د دوئ د پاره د شرم سبب جوړ نشی۔

(۲) د بچو قتل، په دے خیال سره چه د هغوئ د پالنے بوج پرِ رانشی او په کټه کښ ئے کے رانشی۔

(۳) بچی د خپلو معبودانو د رضا د پاره قربانی کول۔

[108] دا د هلاکت لفظ ډیر د مطلب لفظ دے۔ ددے نه مراد اخلاقی هلاکت هم دے چه د یو انسان زړه دومره سخت شی چه خپل بچی په خپل لاس قتلوی په هغه کښ انسانیت خو پریږده چه حیوانیت پکښ هم نه وی۔ او ددے نه مراد انسانی او قومی هلاکت هم دے ځکه چه د بچو د قتلولو سره خو نسل ختمیږی او آبادی هم کمیږی، چه د هغے نه انسانانو ته هم نقصان رسی او هغه قوم پخپله هم تباه کیږی چه خپل وارثان په خپلو لاسونو ختموی او ددے نه مراد د آخری انجام هلاکت هم دے ځکه چه څوک په خپلو معصومانو بچو باندِ دا ظلم کوی او چه د انسان سره او پخپله د خپل قوم سره دا دشمنی کوی، هغوئ خپل ځان د خدائے د سخت عذاب مستحق کوی۔

[109] د جاهلیت په زمانه کښ به عربیانو خپل ځان ته د حضرت ابراهیمؑ او د اسماعیلؑ معتقدین وئیل او په دے وجه د هغوئ دا خیال وُو چه هغوئ په کوم مذهب دی نو هم دغه مذهب الله ته غوره دے۔ لیکن کوم دین چه هغوئ د حضرت ابراهیمؑ او اسماعیلؑ نه زده کړے وُو نو په روستو صدو کښ په هغے کښ

وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ مَا فَعَلُوْهُ فَذَرْهُمْ وَمَا يَفْتَرُوْنَ ﴿۱۳۷﴾ وَقَالُوْا
هٰذِهٖٓ اَنْعَامٌ وَّحَرْثٌ حِجْرٌ ۖ لَّا يَطْعَمُهَآ اِلَّا مَنْ نَّشَآءُ بِزَعْمِهِمْ
وَاَنْعَامٌ حُرِّمَتْ ظُهُوْرُهَا وَاَنْعَامٌ لَّا يَذْكُرُوْنَ اسْمَ اللّٰهِ
عَلَيْهَا افْتِرَآءً عَلَيْهِ ؕ سَيَجْزِيْهِمْ بِمَا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿۱۳۸﴾

کہ چرے اللہ غوښتلے نو دوئ بہ داسے نہ کولے، دوئ پریږده چه دَ دروغو په الزامونو لګولو کښ مشغول وی۔[۱۱۰]
دوئ وائی چه دا ځناور او دا فصلونه محفوظ دی، دا صرف هغه خلق خوړے شی چه زمونږ
خوښ وی، حالانکه دا پابندی دوئ دَ ځانه لګولی ده۔[۱۱۱] بیا څه ځناور داسے دی چه په هغوئ
باندِ سورلی او بار وړل حرام کړے شوی دی او څه ځناور داسے دی چه په هغے باندِ دَ
الله نوم نه اخلی،[۱۱۲] او دا ټول هر څه هغوئ په الله باندِ دَ دروغو الزام لګولے دے،[۱۱۳] ډیر زر به
الله هغوئ له ددے دروغو بدله ورکړی۔

مذهبی پیشواګانو، دَ قبائیلو سردارانو او دَ خاندان مشرانو قسما قسم عقیدے او قسما قسم عملونه او رسمونه
شامل کړی وُو چه هغه روستنو خلقو اصل مذهب وُګنړو او په پخه عقیده سره ئے په هغے عمل کولو. چونکه
په روایاتو کښ، یا په تاریخ کښ یا په یو کتاب کښ داسے قسم څه ریکارډ محفوظ نه وُو چه دَ هغے نه دا معلومه
شوے وے چه اصل مذهب څه وُو او روستو پکښ بیا څه څه څیزونه، په کومه زمانه کښ، کومو کومو
خلقو، په څه طریقه شامل کړل۔ نو په دے وجه دَ عربو دَ پاره دَ هغوئ خپل دین شکمن او مشتبه جوړ
شوے وُو۔ نه به ئے دَ یو څیز په حقله دا په یقین سره وئیلے شو چه دا هغه اصلی دین دے کوم چه دَ خدائے
دَ طرفنه راغلے دے، او نه به ئے دا پیژندل چه ګنی دا بدعتونه او غلط رسمونه دی چه روستو پکښ خلقو شامل
کړی دی۔ ددے حال ترجمانی په دے فقره کښ شوی ده۔

[۱۱۰] یعنی که چرے الله غوښتلے چه دوئ دِ داسے وَ نکړی نو دوئ به هیڅکله داسے نه وے کړے، لیکن چونکه
دَ الله مشیّت دا وُو چه څوک په کومه لار تلل غواړی هغوئ له دِهم په هغے لار باندِ دَ تللو موقع ورکړے شی،
نو ځکه دا ټول هر څه وَ شو۔ اوس که چرے دا خلق ته پوهه کوے او دوئ نه پوهیږی او خبره نه منی او
په خپلو دروغو باندِ ټینګ وی، نو دوئ پریږده چه څه کول غواړی هغه دِ وُکړی، په دوئ پسے دَ وړ پسے
کیدو هیڅ ضرورت نشته۔

[۱۱۱] دَ عربو دَ خلقو دا قاعده وه چه دَ ځنے ځناور یا دَ ځنے فصل په حقله به ئے نذر وَ منلو
چه دا دَ فلانی دلبار یا دَ فلانی حضرت دَ پاره تحفه شوله۔ دغه برکتنا که تحفه به بیا هر چا نشوه خوړلے

وَقَالُوْا مَا فِيْ بُطُوْنِ هٰذِهِ الْاَنْعَامِ خَالِصَةٌ لِّذُكُوْرِنَا وَمُحَرَّمٌ
عَلٰٓى اَزْوَاجِنَا ۚ وَاِنْ يَّكُنْ مَّيْتَةً فَهُمْ فِيْهِ شُرَكَآءُ ؕ سَيَجْزِيْهِمْ
وَصْفَهُمْ ؕ اِنَّهٗ حَكِيْمٌ عَلِيْمٌ ﴿۱۳۹﴾ قَدْ خَسِرَ الَّذِيْنَ قَتَلُوْٓا اَوْلَادَهُمْ
سَفَهًا ۢ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَّحَرَّمُوْا مَا رَزَقَهُمُ اللّٰهُ افْتِرَآءً عَلَى اللّٰهِ ؕ قَدْ ضَلُّوْا

او دوئ وائي چه ددے څاروو په خيټو کښ څه دی دا زموږ ه د نارينو د پاره مخصوص دی او زموږ په ښځو باندې حرام دی، ليکن که چرے هغه بچے مړوی نو بيا دواړه ددے په خوراک کښ شريک کيدے شي۔[۱۱۳] دا کومے خبرے چه دوئ د ځانه جوړے کړی دی ددے بدله به الله دوئ له ضرور ورکوی۔ يقيناً چه هغه حکيم دے او د ټولو خبرو نه خبر دے۔ يقيناً چه هغه خلق په خساره کښ را غلل کوموچه خپل اولاد د جهالت او د ناپوهتيا په وجه قتل کړل او کوم رزق چه ورله خدائے ورکړے وُو نو په خدائے پورے ئے دروغ وُتړل او هغه ئے په ځان باندې حرام کړو۔ يقيناً چه دغه خلق گمراه شو

بلکه د هغے د پاره د هغوئ يو خاص قانون وُو چه خاص قسم نذرونه به خاص قسم خلقو خوړلے شو۔ الله تعالیٰ د هغوئ دے کارته نه يواځے مشرکانه کاروائي بلکه دا هم وائي چه دا قانون دوئ د خپله ځانه جوړ کړے دے۔ يعني د کوم خدائے د رزق نه چه دوئ دا نذرونه او نيازونه مني هغے خدائے ددے نذرونو حکم نه دے کړے او نه ئے ددے نذرونو د خوراک د پاره دا قاعدے جوړے کړی دی۔ دا هر څه دے خودسره او باغيانو انسانانو په خپل اختيار سره د ځانه جوړ کړی دی۔

[۱۱۲] د روايا تونه دا معلوميږی چه د عربو په خلقو کښ د ځنے خاص نذرونو او قربانو ځناور داسے وُو چه په هغے باندې د خدائے نوم اغستل جائز نه وُو۔ په هغے باندې د حج د پاره سورلی منع وه، ځکه چه د حج د پاره لَبَّيْكَ اَللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ دُعا کول وُو۔ دغه شان د هغوئ د لوشولو په وخت کښ، يا په هغوئ باندې د سوريدالو په وخت کښ، يا د هغوئ د ذبحه کولو په وخت کښ، يا د هغوئ د خوراک په وخت کښ به دا خاص خيال ساتلے کيدو چه د خدائے نوم په ژبه باندې رانشي۔

[۱۱۳] يعني دا قاعدے خدائے نه دی مقرر کړی، خو هغوئ ددے پابندی په دے عقيدے سره کوی چه دا خدائے مقرر کړی دی، او ددے عقيدے لرلو د پاره د هغوئ سره د خدائے د څه حکم سند نشته، بلکه صرف دا سند دے چه د پلارينکه د وخته خبره داسے را روانه ده۔

وَمَا كَانُوا مُهْتَدِينَ ﴿١٤٠﴾ وَهُوَ الَّذِي أَنشَأَ جَنَّاتٍ مَّعْرُوشَاتٍ وَّ
غَيْرَ مَعْرُوشَاتٍ وَّالنَّخْلَ وَالزَّرْعَ مُخْتَلِفًا أُكُلُهُ وَالزَّيْتُونَ
وَالرُّمَّانَ مُتَشَابِهًا وَّغَيْرَ مُتَشَابِهٍ ۚ كُلُوا مِن ثَمَرِهِ إِذَا

اوهر کړهغوئ نیغه لار موند ونکی نۀ وُو ع ۱۵

هغه هم الله دے چه په بل څیزۀ پاسه غوړیدلی قما قسم باغونه[۱۱۶] اوپه خپلو تنو ولاړ باغونه اودَ کجورو باغونه ئے پیدا کړل، اوداسے فصلونه ئے راوخیژول چه دَ هغے نه قسما قسم مختلف خوراکونه حاصلیږی، دَ زیتون (خونانو) اودَ انارو وُنے ئے پیدا کړے چه میوے ئے په شکل کښ یوشان وی اوخوند ونه ئے مختلف وی - خوړئ دده پیدا وار هر کله چه

[۱۱۴] په عربو کښ چه دَ نذرانے اودَ قربانئ دَ څناورو په خلقو کوم خود ساخته شریعت جوړ شوے وُو دَ هغے شریعت یوه دفعه داهم وه چه دده څناورو دَ ښځینه نه کوم بچے پیدا شی دَ هغے غوښه صرف سړی خوړلے شی. د ښځو دپاره دَ هغے خوراک جائز نه دے. لیکن که دغه بچے مړی یا مړئی نو دَ هغے غوښے په خوراک کښ سړی اوښځے تهول شریک کیدے شی.

[۱۱۵] یعنی کوم خلق چه دا رسمونه رواجونه جوړ کړی وُو اګرچه هغوی ستاسو پلاران اوښکونه وُو، ستاسو مذهبی بزرګان وُو، ستاسو پیشوا کان اوسردا ران وُو، لیکن حقیقت خوبهرحال حقیقت دی، دَ هغوی دا غلط طریقے صرف په دے وجه صحیح او متدے نشوے کیدے چه هغوی ستاسو مشران او بزرګان وُو - کومو ظالمانو چه دا او لادودَ قتل غوندِ وحشیانه کارونو لره ریواج ورکړے وُو، دَ خدائے رزق ئے دَ خدائے په مخلوق باندِ حرام کړے وُو، په دین کښ ئے نوے نوے خبرے شامل کړے وے اودَ هغے نسبت ئے خدائے ته کولو، هغوئ آخرځکه کامیاب اوصحیح خلق کیدے شی - خواه که هغه ستاسو مشران او بزرګان وُو خوبهرحال هغه ګمراه وُو اودَ خپلے ګمراهئ پدا نجام به ضرور وینی.

[۱۱۶] په اصل کښ جَنّٰتٍ مَّعْرُوْشٰتٍ وَّغَيْرَ مَعْرُوْشٰتٍ الفاظ استعمال شوی دی چه دده قسمه باغونه ترمراد دی، یوهغه باغ چه دَ هغے بوټی په لرګو باندِ غوړیدلے کیږی، بل هغه باغ چه وُنے ئے په خپلو تنو باندِ مضبوطے ولاړے وی - ددے وجے نه مونږه دَ جَنّٰتٍ مَّعْرُوْشٰتٍ ترجمه "په بل څیزۀ پاسه غوړیدلی باغونه" کړی ده، اودَ جَنّٰتٍ غَيْرَ مَعْرُوْشٰتٍ ترجمه "په خپلو تنو ولاړ باغونه" کړی دی.

اَثْمَرَ وَاٰتُوْا حَقَّهٗ يَوْمَ حَصَادِهٖ ۖ وَلَا تُسْرِفُوْا ؕ اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ
الْمُسْرِفِيْنَ ۙ﴿۱۴۱﴾ وَمِنَ الْاَنْعَامِ حَمُوْلَةً وَّفَرْشًا ؕ كُلُوْا مِمَّا
رَزَقَكُمُ اللّٰهُ وَلَا تَتَّبِعُوْا خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ ؕ اِنَّهٗ لَكُمْ عَدُوٌّ
مُّبِيْنٌ ۙ﴿۱۴۲﴾ ثَمٰنِيَةَ اَزْوَاجٍ ۚ مِنَ الضَّاْنِ اثْنَيْنِ وَمِنَ الْمَعْزِ
اثْنَيْنِ ؕ قُلْ ءٰٓالذَّكَرَيْنِ حَرَّمَ اَمِ الْاُنْثَيَيْنِ اَمَّا اشْتَمَلَتْ عَلَيْهِ

میوے ونیسی، او دَ الله حق تر ورکړئ هرکله چه د دے فصل وُریږئ، او دَ حد نه مه اوړئ ځکه چه الله دَ حد نه اوړیدونکی نه خوښوی. بیا هغه هم الله دے چه په څارو وکښ ئے هغه ځناور هم پیدا کړی دی چه دَ هغے نه دَ سورلئ او دَ بار وړلو کار اغستلے کیږی او هغه ځناور هم چه دَ خوراک او دَ فرش (یعنی دَ غوړیدلو) په کار راځی.[۱۱۷] خورئ دَ هغه څیزونو نه کوم چه درله الله درکړی دی او په شیطان پسے مه ځئ ځکه چه هغه ستاسو ښکاره دُشمن دے.[۱۱۸] دا اته نر ښځی دی دوه دَ ګډو دَ قسم نه او دوه دَ چیلو دَ قسم نه، اے محمدؐ، دَ دوئ نه تپوس وکړه چه الله دَ دے نران حرام کړی دی او که ښځے، یا هغه بچی چه دَ ګډو او دَ

[۱۱۷] په اصل کښ لفظ فرش استعمال شوے دے. ځناور وته فرش وئیل یا خو په دے وجه دی چه دَ هغوئ قد و نه واړه دی او په زمکه پورے لګیدلی روان وی. یا په دے وجه دی چه هغه دَ ذبحے دَ پاره په زمکه سملولے کیږی، یا په دے وجه چه دَ هغوئ دَ څرمنو او دَ ویختو نه فرشونه جوړیږی.

[۱۱۸] دلته درے خبرے الله تعالیٰ زمونږ په ذهن کښ کینول غواړی. یوه دا چه دا باغ او پټی او دا ځناور کوم چه ستاسو سره دی، دا ټول الله درکړی دی، په دے کښ دَ بل چا ورکړه نشته، نو دَ دے په شکریه کښ هم بل څوک نشی مذکرے کیدے. دویمه دا چه هرکله دا څیزونه الله درکړی دی نو دا دَ الله دَ قانون مطابق استعمالول پکار دی. دَ بل چا دا حق نه دے چه دَ دے په استعمال باندِ دَ خپل طرفنه پابندی ولګوی. دَ الله نه بغیر دَ بل چا دَ مقرر کړے شوو رسمونو پابندی کول او دَ الله نه بغیر بل چا ته دَ نعمت دَ شکریے نذر پیش کول دَ حد نه وړیدل دی او دا دَ شیطان پیروی ده. دریمه دا چه دا ټول څیزونه الله تعالیٰ دَ انسان دَ خوراک څکاک او دَ استعمال دَ پاره پیدا کړی دی، د دے دَ پاره ئے نه دی پیدا کړی چه دا دِ خامخا حرام کړے شی. په خپل وهم او قیاس باندِ چه کومے پابندئ خلقو دَ خدائے په رزق او دَ هغه دَ څیزونو په استعمال باندِ لګولی دی هغه ټولے دَ الله دَ منشاء نه خلاف دی.

اَرْحَامُ الْاُنْثَيَيْنِ ؕ نَبِّئُوْنِيْ بِعِلْمٍ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۱۴۳﴾ وَ
مِنَ الْاِبِلِ اثْنَيْنِ وَمِنَ الْبَقَرِ اثْنَيْنِ ؕ قُلْ ءٰٓالذَّكَرَيْنِ
حَرَّمَ اَمِ الْاُنْثَيَيْنِ اَمَّا اشْتَمَلَتْ عَلَيْهِ اَرْحَامُ الْاُنْثَيَيْنِ ؕ
اَمْ كُنْتُمْ شُهَدَآءَ اِذْ وَصّٰىكُمُ اللّٰهُ بِهٰذَا ۚ فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ
افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا لِّيُضِلَّ النَّاسَ بِغَيْرِ عِلْمٍ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا
يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۴۴﴾ ع قُلْ لَّآ اَجِدُ فِيْ مَآ اُوْحِيَ اِلَيَّ



چیلو په خیټو کښ وی؟ ما ته په علم سره ټیک ټیک ووایئ که چرے تاسو رښتنی یئ[119] او دغه شان دوه د اوښانو د قسم نه دی او دوه د غواګانو د قسم نه. تپوس تر وکړه چه ددے نران الله حرام کړی دی او که ښځے، یا هغه بچی چه د اوښو او د غواګانو په خیټو کښ وی؟[120] آیا تاسو په هغه وخت کښ حاضر وئ کله چه الله ددے د حرامید و حکم تاسو ته کولو؟ نو بیا د هغه سړی نه به زیات ظالم نور څوک وی چه په الله پورے ددے د پاره دروغ وتړی چه د علم نه بغیر د خلقو غلطه رهنمائی وکړی. یقیناً الله داسے ظالمانو ته صحیح لار نه بنائی ع

اے محمدؐ، دوئ ته ووایه چه کومه وحی ما ته راغلی ده په هغے کښ خوزه هیڅ څیز داسے نه ویم چه هغه په

---

[119] یعنی ګمان او وهم او د پلارنیکه روایتونه مه پیش کوئ بلکه علم پیش کړئ که تاسو سره وی.

[120] دا سوال دومره په تفصیل سره هغوئ ته ځکه پیش کړے شو چه هغوئ ته پخپله د خپل وهمونو غلطی ښکاره شی. دا خبره چه د یو ځناور نر د حلال وی او ښځه د حرام وی، یا ښځه حلاله وی او نر د حرام وی، یا د ځناور پخپله حلال وی خو د هغه بچے د حرام وی، دا ښکاره داسے غلطه خبره ده چه صحیح عقل ددے منلو ته تیار نه دے او یو عقلمند انسان دا تصور تشی کولے چه خدائے به داسے لغوه او فضول حکمونه کړی وی. بیا لکه چه په کومه طریقه قرآن د هر بو خلقو ته په غلطو وهمونو باندے د پوهه کولو کوشش کړے دے بالکل هم په دغه طریقه د دنیا نورو هغو قومونو ته د هغوئ په فضول او لغوه وهمونو باندے خبردارے ورکړے کیدے شی، چه هغوئ د خوراک څکاک په څیزونو کښ د حرامولی او د حلالولی غلطے او نامناسبه پابندئ لګولی وی.

مُحَرَّمًا عَلٰى طَاعِمٍ يَّطْعَمُهٗٓ اِلَّآ اَنْ يَّكُوْنَ مَيْتَةً اَوْ دَمًا
مَّسْفُوْحًا اَوْ لَحْمَ خِنْزِيْرٍ فَاِنَّهٗ رِجْسٌ اَوْ فِسْقًا اُهِلَّ لِغَيْرِ اللّٰهِ بِهٖ ۚ
فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَّلَا عَادٍ فَاِنَّ رَبَّكَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۴۵﴾

یو خوړونکی باندِ حرام وی، ماسوا دے نه چه هغه مردار وی، یا بیولے شوی وینه وی، یا دَ خنزیر غوښه وی ځکه چه هغه پلیته ده، یا فسق وی چه دَ الله نه بغیر دَ بل چا په نوم باندِ ذبحه کړے شوے وی[۱۲]. بیا چه چا دَ مجبورئ په حالت کښ (ددے څیزونو نه څه وخوړل) ولے هله چه دَ نافرمانئ اراده ئے نه وی او دَ ضرورت نه زیاتے نه کوی، نو یقیناً چه ستا سو رب معاف کونکے او رحم کونکے دے۔

[۱۲] دا خبره دَ سورة بقرے په آیت ۱۷۳ کښ او دَ سورة مائدے په آیت ۳ کښ تیره شوی ده او وړاندِ دَ سورة نحل په آیت ۱۱۵ کښ راتلونکی ده۔

دَ سورة بقرے په آیت کښ او په دے آیت کښ په ظاهره دومره اختلاف دے چه هلته صرف "وینه" ویلے شوی ده او دلته دَ وینے سره دَ مَسْفُوْحٌ لفظ لګولے شوے دے، یعنی داسے وینه چه دَ یو ځناور نه په زخمی کیدو یا په ذبح کیدو وتلے شوی وی. خو په اصل کښ دا اختلاف نه دے بلکه دا دَ هغے حکم تشریح ده۔ دغه شان دَ سورة مائدے په آیت کښ ددے څلورو څیزونو نه علاوه دَ یو څو نورو څیزونو حرامولے هم ذکر شوے دے، یعنی هغه ځناور چه مرئ ئے بنده شوی وی یا ئے ګذار خوړلے وی یا دَ لوړے نه راغورزیدلے وی یا ئے ټکره خوړلی وی او مړ شوے وی یا یو درنده مات کړے وی۔ لیکن په حقیقت کښ دا هم اختلاف نه دے بلکه یوه تشریح ده چه دا تر معلومیږی چه کوم ځناور په دے طریقه هلاک شوے وی هغه هم مُردار وی۔

دَ دین اسلام په فقهاؤ کښ یوه ډله ددے خبرے قائله ده چه په حیوانی خوراکونو کښ بس هم دا څلور څیزونه حرام دی او دَ دے نه علاوه دَ بل هر څیز خوراک جائز دے۔ دا مسلک دَ حضرت عبد الله ابن عباسؓ او دَ حضرت عائشےؓ ؤو۔ لیکن دَ ډیرو احادیثونه دا معلومیږی چه نبی صلی الله علیه وسلم دَ ځنے څیزونو دَ خوراک نه یا خو منع کړی ده یا ئے په هغے باندِ دَ ناخوښئ اظهار کړے دے مثلاً کورنی خره، دَ داړو والا درندګان او دَ پنجو والا مارغان۔ دَ دے وجے نه اکثر فقهاء وائی چه بس صرف دا څلور څیزونه حرام نه دی بلکه نور څیزونه ورسره هم حرام دی۔ خو دَ دے نه روستو بیا دَ مختلفو څیزونو په حلالوالی او حراموالی کښ دَ فقهاؤ اختلاف دے۔ مثلاً کورنے خر دَ امام ابو حنیفهؒ، دَ امام مالکؒ او دَ امام شافعیؒ په نزباندِ حرام دے۔ لیکن ځنے نور فقهاء وائی چه حرام نه دے بلکه په څه وجه سره نبی صلی الله علیه وسلم په یوه موقع باندِ دا منع کړے ؤو۔ درنده ځناور او ښکاری مارغان او مُردار خور ځناور و ته حنفیه علماء مطلقاً حرام وائی۔ خو دَ امام مالک او دَ اوزاعی په نزباندِ ښکاری مارغان حلال دی۔ دَ لیث په نزباندِ پیشو حلاله ده۔ دَ امام شافعیؒ په نزباندِ صرف هغه درندګان حرام دی چه په انسان باندِ حمله کوی۔ شرمخ، زمرے او پړانګ وغیره۔ دَ عکرمه په نزباندِ کارغه

وَعَلَى الَّذِيْنَ هَادُوْا حَرَّمْنَا كُلَّ ذِيْ ظُفُرٍ ۚ وَمِنَ الْبَقَرِ وَالْغَنَمِ
حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ شُحُوْمَهُمَآ اِلَّا مَا حَمَلَتْ ظُهُوْرُهُمَآ اَوِ الْحَوَايَآ
اَوْ مَا اخْتَلَطَ بِعَظْمٍ ؕ ذٰلِكَ جَزَيْنٰهُمْ بِبَغْيِهِمْ ۖ وَاِنَّا لَصٰدِقُوْنَ ﴿۱۴۶﴾

او کومو خلقو چه یهودیت اختیار کړو په هغوئ باندِ مونږه ټول نوکونو والا ځناور حرام کړی وُو، او دَ غوا او دَ چیلئ وازګه پرِهم مونږه حرامه کړی وه بغیر دَ هغے وازګے نه چه دَ هغوئ دَ شاګانو یا دَ هغوئ دکولمو سره نختلی وی یا دَ هډوکی سره لګیدلی وی - دا ورله مونږه دَ سرکشئ سزا ورکړی وه او دا څه چه مونږه وایو دا بالکل رښتیا وایو۔

او کوم کخ (بجو) دواړه حلال دی. دغه شان حنفی عالمان وائی چه دَ زمکے ټول واړه واړه زنده سری حرام دی، خو دَ ابن ابی لیلی، امام مالک او دَ اوزاعی په نزِ باندِ مار حلال دے۔

دَ دے ټولو مختلفو قولونو او دَ هغے په دلیلونو باندِ دَ غور کولو نه دا خبره صفا معلومیږی چه په اصل کښے په شریعت الٰهی کښ قطعی حراموالے صرف دَ هغے څلورو څیزونو دے چه دَ هغے ذکر په قرآن کښ شوے دے۔ دَ دے نه علاوه په نورو حیوانی خوراکونو کښ دَ مختلفو درجو مکروهوالے دے. دَ کومو څیزونو مکروهوالے چه دَ صحیح روایاتو مطابق دَ نبی صلی الله علیه وسلم نه ثابت دے هغه حراموالی ته ډیر نزدے دی، او په کومو څیزونو کښ چه دَ فقهاؤ په منځ کښ اختلاف راغلے دے دَ هغے مکروهوالے شکمن دے. پاتے شوه دَ طبیعت ناخوښتیا چه ځنے خلق دَ ځنے څیزونو خوړل نه خوښوی، یا دَ طبقے په لحاظ سره ناخوښتیا چه دَ انسانانو ځنے طبقے ځنے څیزونه نه خوښه وی، یا دَ قوم په لحاظ سره ناخوښتیا چه ځنے قومونه دَ ځنے څیزونو نه نفرت کوی، نو شریعت الٰهی هیڅوک په دے نه مجبوره وی چه هغوی دِ خامخا هر هغه څیز ضرور خوری کوم څیز چه حرام کړے شوے نه دے. او دغه شان شریعت هیچا ته دا حق هم نه ورکوی چه دَ خپلے ناخوښتیا نه دِ قانون جوړ کړی او په هغه خلقو دِ الزامونه لګوی څوک چه دده دَ ناخوښتیا څیزونه په استعمال کښ راولی۔

۱۲۲ دا خبره په قرآن مجید کښ په درے ځایونو کښ بیان شوی ده. په سورة آل عمران کښ دی "دَ خوراک دا ټول څیزونه (چه دَ محمد په شریعت کښ حلال دی) دَ بنی اسرائیلو دَ پاره هم حلال وُو، البته ځنے څیزونه داسے وُو چه هغه دَ توراة دَ نازلیدو نه مخکښ اسرائیلو پخپله په ځان باندِ حرام کړی وُو۔ دوئ ته وُوایه چه راوړئ توراة او دَ هغے یو عبارت پیش کړئ که تاسو (په خپل اعتراض کښ) رښتینی یئ۔" آیت ۹۳۔ بیا په سورة نساء کښ دی چه دَ بنی اسرائیلو دَ جرمونو په وجه "مونږه ډیر هغه پاک څیزونه په هغوئ باندِ حرام کړل چه اول دَ هغوئ دَ پاره حلال وُو۔" آیت ۱۶۰ - او دلته دا ارشاد دے چه دَ هغوئ دَ سرکشئ په بدله کښ مونږه په هغوئ باندِ ټول دَ نوکونو والا ځناور حرام کړل او دَ چیلئ او دَ غوا وازګے مو پرِهم حرام کړلے - دا درے واړه آیتونه چه راجمع کړے شی نو دا ترِ معلومیږی چه دَ حیوانی

فَإِنْ كَذَّبُوكَ فَقُلْ رَّبُّكُمْ ذُو رَحْمَةٍ وَّاسِعَةٍ ۚ وَلَا يُرَدُّ بَأْسُهُ
عَنِ الْقَوْمِ الْمُجْرِمِينَ ﴿١٤٧﴾ سَيَقُولُ الَّذِينَ أَشْرَكُوا لَوْ شَاءَ اللَّهُ

اوس که چرے دوئ تا تہ دروغژن وَوایئ نو تہ ورتہ وَوایه چه ستاسو ربّ فراخه رحمت خاوند مے اود
مُجرمانو نه دَ هغه عذاب شوک نشی واپس کولے [۱۲۳]
دامشرکان به (ستاد خبرو په جواب کښ) ضرور وایئ چه "که الله غو بښتے

خوراکونو دَ حلالوالی اودَ حرامواليٰ په باره کښ دَ شریعت محمدیؐ او دَ یهودی فقهے په مینځ کښ کوم فرق دے دهغے
دوه وجے دی۔
یَوه داچه دَ توراة دَ نازلیدو نه په سوو نو کاله مخکښ حضرت یعقوب (اسرائیل) علیه السلام دَ څه څیزونو
استعمال پریښودلے وُو اودَ هغه نه روستو هغه اولادهم دغه څیزونه پریښودلی وُو، نو په دے وجه یهودی
علما نو دغه څیزونه یا قاعده حرام وُنکړل اودَ هغے حراموالے ئے په توراة کښ وَلیکلو۔ په دے څیزونو کښ اُوښ او
سُرے اوسافان شامل دی۔ نن په بائیبل کښ چه دَ توراة کوم جزُونه مروّج ترملا ویږی په هغے کښ دَ دریو
څیزونو دَ حراموالی ذکر شته (احبار ۱۱: ۴-۶ - استثناء ۱۴: ۷)۔ لیکن په قرآن مجید کښ چه یهودیانو ته
ویلے شوی وُو چه راوړئ توراة وُ بنایئ کوم څائے کښ لیکلی دی چه دا څیزونه حرام دی، نو دَ دے نه معلومه
شوه چه په توراة کښ دَ دے حکمونو اضافه دَ دے نه روستو شوی ده۔ شکه چه که چرے هغه وخت په
توراة کښ دا حکمونه موجود وے نو بنی اسرائیلو به فوراً پیش کړے وے۔

دویمه وجه داده چه هرکله یهودیانو دَ الله تعالیٰ دَ نازل کړے شوی شریعت نه بغاوت وُکړو او په
خپله شریعت جوړونکی شونو و پریښود څیزونه ئے پکښ دَ دیرا حتیاط په وجه پخپله حرام کړل او الله تعالیٰ
دَ سزا په طور هغوئ په دے حال کښ هم دغه شان پریښودل۔ په دے څیزونو کښ یُو نوکونو والا مُنارو
شامل دی، یعنی شُتر مرغ، لُوبه بطه او وږه بطه وغیره، اوبلڼ غواوه چیلئ وازګه شامله ده۔ په
بائیبل کښ دَ دے دواړو قسمونو حراموالے دَ توراة په حکمونو کښ داخل کړے شوے دے۔ (احبار ۱۱: ۱۶-
۱۸ - استثناء ۱۴: ۱۴ - ۱۵ - ۱۶ - احبار ۳: ۱۴ وګ ۲۲: ۲۲ - ۲۳)۔ لیکن دَ سورۃ نسآء نه معلومیږی چه دا څیزونه
په توراة کښ حرام نه وُو بلکه دَ حضرت عیسیٰ علیه السلام نه روستو حرام شوی دی، او تاریخ هم دا کوا هی
کوی چه دا موجوده یهودی شریعت دَ دویمے عیسوی صدئ په آخیر کښ رَبّی یهوداه مکمل کړے دے۔

پاتے شو دا سوال چه بیا دے څیزونو په حلالتہ او په سورۃ نسآء کښ الله تعالیٰ دَ حَرَّمْنَا (مونږ حرام
کړل) لفظ ولے استعمال کړو، نو دے جواب دادے چه خدائے چه یو څیز حرامولی نو دَ هغے صرف دا یو صورت
نه دے چه هغه دَ یو پیغمبر اودَ یو کتاب په ذریعه څه څیز حرام کړی۔ بلکه دَ هغے یو صورت داهم دے چه هغه
په خپلو باغیانو بندګانو باندے بنا وتی شریعت جوړونکی اوجعلی قانون سازان مقرر کړی او بیا هغوی پریږدی
څیزونه حرام کړی۔ اولنے قسم حراموالے دَ خدائے دَ طرفنه دَ رحمت په طور باندے وی او دا دویم قسم حراموالے

مَآ اَشْرَكْنَا وَلَآ اٰبَآؤُنَا وَلَا حَرَّمْنَا مِنْ شَيْءٍ ؕ كَذٰلِكَ كَذَّبَ
الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ حَتّٰى ذَاقُوْا بَاْسَنَا ؕ قُلْ هَلْ عِنْدَكُمْ مِّنْ
عِلْمٍ فَتُخْرِجُوْهُ لَنَا ؕ اِنْ تَتَّبِعُوْنَ اِلَّا الظَّنَّ وَاِنْ اَنْتُمْ اِلَّا
تَخْرُصُوْنَ ﴿۱۴۸﴾ قُلْ فَلِلّٰهِ الْحُجَّةُ الْبَالِغَةُ ۚ فَلَوْ شَآءَ لَهَدٰىكُمْ

نو نۀ به مونږ شرک کړے وے او نۀ به زمونږ پلار نیکونو او نۀ به موڅه څیز حرام کړے وے۔"[۱۲۴]
هم په دغسے خبرو باندِ دَ دوئ نه ړومبو خلقو حق دروغ ګڼلے وُو تر دے پورے چه آخر زمونږ
دَ عذاب خوندے وُڅکو۔ دوئ ته وُوایه "آیا تاسو سره څۀ علم شته چه هغه
مونږ ته پیش کړئ؟ تاسو خو بس صرف په ګمان پسے ځئ او قیاسونه لګوئ۔"
بیا ورته وُوایه (ستاسو ددے حُجت په مقابله کښ) "حقیقت ته رسیدونکے
حجّت خو دَ الله سره دے، بیشکه که خدائے غوښتلے نو تاسو ټولو ته

دَ الله دَ لعنت او دَ سزا په طور باندوی۔

۱۲۳ یعنی که چرے تاسو اوس هم نافرمانی پریښودله او دَ بندګئ صحیح لار مو اختیار کړله نو وُ به وِنیئ چه ستاسو دَ رب رحمت ډیر فراخه دے۔ لیکن که په خپل جُرم او بغاوت باندِ ټینګ شوئ نو بنۀ پوهه شئ چه دَ هغه دَ غضب نه مونږ کولو والا هم بیا څوک نشته۔

۱۲۴ یعنی هغوئ به دَ خپل جُرم او دَ خپلو غلطو کارونو دَ پاره هغه پخوانی عذرونه پیش کوی چه همیشه یئ مُجرمان خلق پیش کوی۔ هغوئ به وائی چه زمونږ په حق کښ الله داغواړی چه مونږ شرک وُکړو او کوم څیزونه چه مونږ ه حرام ګرزولی دی هغه حرام کړو۔ ځکه که چرے خدائے نۀ غوښتلے نو بیا دا څنګه ممکنه وُ چه مونږ به دا کار کړے وے۔ نو چونکه مونږ ه ټول کارونه دَ الله دَ مشیّت مطابق کوُ نو په دے وجه هغه صحیح دی، دَ دے که څه الزام راځی نو په مونږ ه باندِ نۀ راځی، بلکه په خدائے باندِ راځی۔ او دا مونږ چه څه کوُ نو په داسے کولو مونږ ه مجبور یُو ځکه چه ددے نه بغیر مونږ ه دَ بل کار قدرت نۀ لرو۔

اَجْمَعِيْنَ ﴿۱۴۹﴾ قُلْ هَلُمَّ شُهَدَآءَكُمُ الَّذِيْنَ يَشْهَدُوْنَ اَنَّ
اللّٰهَ حَرَّمَ هٰذَا ۚ فَاِنْ شَهِدُوْا فَلَا تَشْهَدْ مَعَهُمْ ۚ وَلَا

به ئے هدایت کړے وے۔[۱۲۵]

دوئ ته وُوایه چه "راولئ خپل هغه گواهان چه ددے خبرے گواهی وُکړی چه خاص هم الله دا څیزونه حرام کړی دی"۔ بیا که چرے هغوئ گواهی وُکړی نو ته دَ هغوئ سره گواهی مه کوه،[۱۲۶] او هرگز دَ هغے خلقو

[۱۲۵] دا د هغوئ دَ عذر مکمل جواب دے۔ ددے جواب تشریح دا ده۔

اولنئ خبره ئے دا وُکړه چه دا دَ مجرمانو پخوانے دستور دے چه دَ خپلو غلطو کارونو او دَ گمراهئ دَ پاره دَ الله مشیّت دَ عذر په طور پیش کوی او دَ دے په بهانه دَ صحیح لارے قبلولو نه انکار کوی۔ خو دَ داسے مجرمانو همیشه دا انجام وی چه آخر تباه شی او انجام ئے خراب شی۔

بیا ئے دا وُفرمائیل چه کوم عذر تاسو پیش کوئ دا خو څه حقیقی علم نه دے بلکه صرف ستاسو گمان او اندازه ده۔ تاسو دَ مشیّت لفظ هسے چرته اوریدلے دے او بیا مو په هغے باندِ قیاسونه لګول شروع کړی دی۔ تاسو په دے پوهه نه یئ چه دَ انسان په حق کښ واقعی دَ الله مشیّت څه دے۔ تاسو دَ مشیّت دا معنیٰ اغتلی ده چه غل که چرے دَ الله دَ مشیت لاندِ غلا کوی نو هغه مجرم نه دے، ځکه چه هغه دا کار دَ خدائے دَ مشیّت لاندِ کړے دے۔ حالانکه دَ انسان په حق کښ دَ خدائے مشیّت دا دے چه انسان دَ شکر او دَ کفر، دَ هدایت او دَ گمراهئ، دَ فرمانبرداری او دَ نافرمانئ نه کومه لار دَ ځان دَ پاره خوښوی نو خدائے به ورته هم هغه لار پرانزی، او بیا چه کوم کار انسان کول غواړی، خواه که هغه غلط وی او که صحیح، نو خدائے به ورته دَ خپل عالمگیر مصلحت مطابق دَ هغے کار کولو اجازت ورکوی او دَ هغے کار دَ کولو توفیق به هم ورکوی۔ نو دا تاسو او ستاسو پلارانو او نیکونو چه دَ الله دَ مشیّت لاندِ دَ شرک کولو او دَ پاکو څیزونو دَ حرامولی توفیق موندلے دے نو دَ دے دا مطلب نه دے چه ستاسو نه به دَ دے کارونو تپوس نه کیږی۔ او دا تاسو چه غلطه لار ځان له خوښه کړی ده او دا غلطے ارادے او غلط کوششونه کوئ نو ددے ذمه واری خو په تاسو باندِ پخپله ده۔

په آخر کښ ئے په یوه فقره کښ دَ هغوئ دَ پوهه کولو خبره هم وُفرمائیله چه فَلِلّٰهِ الْحُجَّةُ الْبَالِغَةُ فَلَوْ شَآءَ لَهَدٰىكُمْ اَجْمَعِيْنَ۔ یعنی تاسو دَ خپل معذرت دَ پاره دا حُجت پیش کوئ چه "که چرے الله غوښتلے نو مونږ به شرک نه وو کړے"، دا پوره خبره نه ده۔ پوره خبره کول که غواړئ نو داسے وایئ چه "که چرے الله غوښتلے نو ټولو ته به ئے هدایت کړے وے"۔ یعنی تاسو پخپله خوښه نیغے لارے اختیارولو ته تیار نه یئ، بلکه دا غواړئ چه لکه څنګه الله تعالیٰ فرښتے پیدائشی طور په نیغه لاره او فرمانبرداره جوړی کړی دی چه دغه شان تاسو هم جوړ کړی۔ نو بیشکه که دَ الله مشیّت دَ انسان په حق کښ دا وے نو هغه ضرور داسے کولے شوه، لیکن دا د هغه مشیّت نه دے، نو کومه گمراهی چه تاسو دَ خپل ځان دَ پاره پخپله خوښه کړی ده الله به هم په دغے گمراهئ کښ تاسو پریږدی۔

[۱۲۶] یعنی که هغوئ دَ شهادت ذمه واری وُپیژندله او په دے پوهه شو چه شهادت د هغے خبرے پکار دے

تَتَّبِعْ اَهْوَآءَ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَالَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ
بِالْاٰخِرَةِ وَهُمْ بِرَبِّهِمْ يَعْدِلُوْنَ ﴿۱۵۰﴾ ع قُلْ تَعَالَوْا اَتْلُ
مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ عَلَيْكُمْ اَلَّا تُشْرِكُوْا بِهٖ شَيْئًا

پہ خواهشاتو پسې مه ځه کومو خلقو چه زمونږه آیتونه دروغ ګڼلی دی، او چه د آخرت نه منکر دی، او چه نور څوک د خپل رب برابر جوړه وی۔ ع

اے محمدؐ، دوئ ته ووایه چه راشئ چه زه تاسو ته واوره ووم چه ستاسو رب په تاسو باندې کومے پابندیانے لګولی دی:[۱۲۷]

(۱) دا چه د هغه سره هیڅوک مه شریکوئ،[۱۲۸]

چه د هغے سړی ته علم وی، نو هیچرے به د دے خبرے ګواهی ونکړی چه د خوراک څکاک کومے پابندئ مونږ کوو د اټولے د خدائے د طرفنه مقرر دی۔ لیکن که دے خلقو د شهادت ذمه واری ونه پیژندله او دومره بے حیا شو چه د خدائے په نوم باندې د دروغو ګواهئ کوی، نو ته ورسره په دے دروغو کښ مه شامل یږه۔ ځکه چه د هغوئ نه د ګواهئ اغستلو دا مطلب نه دے چه که چرے دوئ ګواهی وکړی نو ته به د دوئ خبره منے، بلکه د دے غرض صرف دا دے چه په دوئ کښ په کومو خلقو کښ څه لږه ډیره راست بازی موجود ده هغوئ ته چه کله دا ووئیلے شی چه واقعی تاسو د دے خبرے ګواهی کوئ چه دا پابندیانے خدائے مقرر کړی دی نو هغوئ به د خپلو رسمونو په حقیقت باندې غور وکړی، او چه دا ثبوت ورته ملاؤ نشی چه دا د خدائے د طرفنه دی نو بیا به د دے فضول رسمونو د پابندئ نه منع شی۔

[۱۲۷] یعنی ستاسو رب چه کومے پابندیانے لګولی دی هغه هغه پابندیانے نه دی چه د کومو تاسو پابندیئ، بلکه اصل پابندیانے هغه دی کومے چه الله د دے د پاره لګولی دی چه انسانی ژوند په ترتیب کښ راولی او کومے چه همیشه د الله د هر شریعت بنیادی اصول دی۔ (د مقابلے د پاره وګوره د بائیبل کتاب خروج، باب ۲۰)۔

[۱۲۸] یعنی مه د خدائے په ذات کښ څوک د هغه سره شریکوئ، نه د هغه په صفاتو کښ، نه د هغه په اختیاراتو کښ او نه د هغه په حقونو کښ۔

د خدائے په ذات کښ شرک دا دے چه د الله سره په ذات کښ څوک شریک کړے شی۔ مثلاً د عیسایانو په عقیده تثلیث کښ عیسیٰؑ ته د خدائے ځوئے وئیل، د عربو د مشرکانو فرښتو ته د خدائے لونړه وئیل، او د نورو مشرکانو خپل دیوتاګان او خپل شاهی خاندانونه د الله په ذات کښ شریکول دا ټول شرک فی الذات دے۔

د خدائے په صفاتو کښ شرک دا دے چه د خدائے کوم خاص صفتونه دی هغه د بل چا د پاره ثابتوی۔ مثلاً

وَّبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا ۚ وَلَا تَقْتُلُوْٓا اَوْلَادَكُمْ مِّنْ اِمْلَاقٍ ؕ نَحْنُ
نَرْزُقُكُمْ وَاِيَّاهُمْ ۚ وَلَا تَقْرَبُوا الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ ۚ

(۲) او د مور او پلار سره نیک سلوک کوئ،[۱۲۹]

(۳) او خپل اولاد د غریبئ د یرے نه مه وژنئ، مونږه تاسو له هم رزق درکوؤ او هغوئ له به هم ورکوؤ۔

(۴) او د بے شرمئ خبرو ته نزدے هم مه ورځئ[۱۳۰] خواه که هغه ښکاره وی او که پټے وی۔

د چا په حقله دا عقیده لرل چه دهٔ ته د غیبو ټول حقیقتونه ښکاره دی، یا هغه هر څه اوری او وینی، یا هغه د هر نقص او د هرے کمزورئ نه پاک دے او د هغه نه بالکل خطا نه کیږی۔

په اختیاراتو کښ شرک دا دے چه کوم اختیارات د الله سره خاص دی هغه د الله نه بغیر د بل چا ؤ منلے شی مثلاً په غیر فطری طریقه باندې یعنی غیبی چا ته نفع یا نقصان رسول، د چا حاجت پوره کول، د چا امداد کول، د چا حفاظت کول، دعا ګانے اوریدل، قسمتونه جوړه ول او ورانول۔ دغه رنګے د حلالو او د حرامو او د جائزو او د ناجائزو د پاره حدونه مقرره ول او د انسانی ژوند د پاره قانون جوړول۔ دا ټول اختیارات خاص د الله دی په دے اختیاراتو کښ نور څوک شریکول شرک دے۔

په حقونو کښ شرک دا دے چه د خدائے تعالیٰ کوم خاص حقونه په بندګانو باندې دی هغه ټول حقونه یا د هغے نه څه لږ حقونه د خدائے نه بغیر د بل چا د پاره ؤ منلے شی۔ مثلاً رکوع او سجده، لاس په نامه وه ریدل، سلامی او دلبار ښکلول، د شکریے یا د لویئ د پاره نذر او قربانی کول، د حاجت پوره کولو او د مشکلاتو د لرے کولو د پاره نذر منل یا قربانی کول، په مصیبت کښ د مدد د پاره آواز کول، دغه شان د عبادت، د عظمت او د بزرګئ نور ټول صورتونه د الله خاص حقونه دی۔ دغه شان دا سے قسم محبت لرل چه نور ټول محبتونه پر قربان کړے شی، او دا سے قسم یریدل چه په ښکاره او په پټه د هغهٔ د ناراضګئ او د هغه د حکم د خلاف ورزئ نه یریږی، دا هم صرف د الله حق دے۔ او دا هم د الله حق دے چه بغیر د څه شرط نه د هغه حکم ؤ منلے شی، او د هغه هدایت د صحیح او د غلط معیار ؤ منلے شی، او یو دا سے حکم ته غاړه کیښودے شی چه هغه د الله د اطاعت نه آزاد یو مستقل اطاعت وی او چه د هغے د پاره د الله د حکم سند نه وی۔ په دے حقونو کښے چه حق هم بل چا له ورکړے شی هغه به د الله شریک وی اګر که خدائی نوم ورته څوک اخلی او که نه اخلی۔

[۱۲۹] په نیک سلوک کښ ادب، عزت کول، خبره منل، د هغه د رضا خیال ساتل او خدمت کول ټول داخل دی۔ په قرآن کښ په هر ځائے کښ د مور او پلار دا حق د توحید د حکم نه روستو بیان کړے شوے دے چه د دے نه دا صفا معلومیږی چه د خدائے نه روستو د انسانانو په حقونو کښ د ټولو نه اولنے حق د مور او پلار دے۔

وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِيْ حَرَّمَ اللّٰهُ اِلَّا بِالْحَقِّ ؕ ذٰلِكُمْ
وَصّٰىكُمْ بِهٖ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿۱۵۱﴾ وَلَا تَقْرَبُوْا مَالَ
الْيَتِيْمِ اِلَّا بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ حَتّٰى يَبْلُغَ اَشُدَّهٗ ۚ

(۵) او کوم روح چه الله محترم کړے دے هغه مه وژنئ مګر په حقه سره.[۱۳۱]
دا هغه خبرے دی چه ددے هدایت الله تاسو ته کړے دے شاید چه د عقل نه کار واخلئ.
(۶) او دا چه د یتیم مال ته مه نزدے کیږئ مګر په داسے طریقے سره چه هغه بهترینه وی،[۱۳۲]
نزدے پورے چه هغه د پوهید وعمر ته ورسی،

[۱۳۰] په اصل کښ لفظ "فواحش" استعمال شوے دے، دا هغه ټولو کارونو ته وائی چه د هغے ناکار والے بالکل واضحه وی. په قرآن مجید کښ زنا، د قوم لوط عمل (یعنی په نرانسان باندے خپل شهوت پوره کول)، لغړوالے، د دروغو تهمت، او د کومے ښځے سره چه د پلار نکاح شوی وی د هغے سره نکاح کول، دا کارونه په فحش کارونو کښ شمار کړے شوی دی. په حدیث کښ غلا کولو او شراب څکلو او سوال کولو ته د فحش کارونه ویلے شوی دی. دغه شان نور ټول د شرم کارونه هم په فواحشو کښ داخل دی او د الله دا حکم دے چه دا قسم کارونه مه په ښکاره کوئ او مه په پټه.

[۱۳۱] یعنی انسانی روح، چه په اصل کښ د خدائے د طرفنه حرام ګرزولے شوے دے، هغه مه وژنئ مګر په حقه سره. او سے پاتے شوه دا خبره چه د "په حقه سره" څه مطلب دے، نو ددے درے قسمونه په قرآن کښ بیان کړے شوی دی او دوه قسمونه نور نبی صلی الله علیه وسلم بیان کړی دی. قرآن چه کوم قسمونه بیان کړی دی هغه دا دی:

(۱) چه چا بل انسان په قصد باندے قتل کړے وی او په هغه باندے د قصاص حق قائم شوے وی.
(۲) چه د دین حق د قائمولو په لار کښ څوک یو خنډ جوړ شوے وی او د هغه سره د جنګ کولو نه بغیر بله څه چاره نه وی.
(۳) چه په دار اسلام کښ بد امنی خوره وی یا د اسلامی حکومت د اړولو کوشش کوی.

باقی هغه دوه قسمونه چه په حدیث کښ راغلی دی، هغه دا دی:

(۴) چه واده ئے کړے وی او ښځه ئے وی او زنا وکړی.
(۵) چه د اسلام نه واپس کفر ته لاړ شی او د اسلامی جماعت نه وځی.

ددے پنځو قسمونو نه علاوه بل په هیڅ شکل کښ د انسان د پاره د انسان قتل حلال نه دے، خواه که هغه مومن وی یا ذمی وی یا کافر وی.

[۱۳۲] یعنی داسے طریقه چه په هغے کښے ئے خپل هیڅ څه غرض نه وی، نیت ئے پکښ صفا وی او د یتیم ښیګړه

وَاَوْفُوا الْكَيْلَ وَالْمِيْزَانَ بِالْقِسْطِ ۚ لَا نُكَلِّفُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا ۚ
وَاِذَا قُلْتُمْ فَاعْدِلُوْا وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبٰى ۚ وَبِعَهْدِ اللّٰهِ اَوْفُوْا ؕ

(۷) او په ناپ تول کښ پوره انصاف کوئ، مونږه په هر چا باندِ د ذمه وارئ هغو مره بارږدو څو مره چه د هغه په وس کښ وی، [۱۳۳]

(۸) او هر کله چه خبره کوئ نو د انصاف خبره کوئ اګر که معامله د رشته دارانو سره وی،

(۹) او د الله وعده پوره کړئ [۱۳۴]

ئے په خیال کښ وی، چه نه پرِ د خدائے د طرفنه څه اعتراض راځی او نه د مخلوق د طرفنه -

[۱۳۳] دا اګر چه د الله تعالیٰ د شریعت یو مستقل اُصول دے، لیکن دلته د دے د بیانولو مقصد دا دے چه چا د خپله وسه پورے د ناپ تول او د لین دین په معاملا تو کښ د رښتنولئ او د انصاف نه کار واغستلو نو هغه د خپلے ذمه وارئ نه خلاص شو. په هیره یا په ناپوهتیا سره چه څه کمے زیاتے راغے نو د هغے به تر تپوس نه کیږی -

[۱۳۴] د "الله د وعدے" نه مراد هغه وعده هم ده چه انسان ئے د خپل خدائے سره وکړی، او هغه وعده هم ده چه د خدائے په نوم ئے د بل انسان سره وکړی، او هغه وعده تر هم مراد ده چه د انسان او د خدائے په منځ کښ او د یو انسان او د بل انسان په منځ کښ په هغه وخت کښ خود بخود وشی څه وخت چه یو انسان د خدائے په زمکه باندِ په انسانانو کښ پیدا شی -

اولنئ دواړه وعدے د پوهے او د ارادے وعدے دی، او دا دریمه وعده یوه فطری وعده (Natural Contract). ده، او اګر چه په دے کښ د انسان د ارادے څه دخل نه وی لیکن د اولنو دواړو وعدو نه په احترام کښ هیڅ کمه نه ده - دا انسان له چه خدائے وجود ورکړے دے، هر قسم طاقتونه او اندامونه ئے ورکړی دی، د هغه د زمکے او د رزق او د اسبابو نه فائدے اخلی، او د قدرت د قانون لاندِ د ژوند نه فائده اخلی، د دے ټولو فائدو په وجه په انسان باندِ د خدائے څه حقونه، فطری لحاظ سره پخپله راځی. او دغه شان چه یو سړے د یوے مور په خیټه کښ د هغے په وینه غټیږی او د پلار په محنت سره په ودان کور کښ پیدا شی، او بیا په مختلفو شکلونو کښ د اجتماعی ژوند د بے شماره مختلفو ادارو نه فائدے اخلی، نو د دے په وجه د ډیرو افرادو او د اجتماعی ادارو حقونه هم خود بخود په ده باندِ راځی. د انسان چه د خدائے سره او د یو انسان چه د بل انسان سره کومه وعده ده دا څه په کاغذ باندِ نه ده لیکلے شوی بلکه د انسان په هر و یخته باندِ لیک ده - دا وعده انسان په خپلے ارادے سره نه ده کړی خو د انسان ټول وجود د دے وعدے احسان مند دے - دے وعدے طرفته د سورة بقرے په آیت ۲۷ کښ اشاره شوی ده چه فاسقان خلق هغه دی څوک چه "د الله وعده د وعدے د مضبوتیانه روستو

ذٰلِكُمْ وَصّٰىكُمْ بِهٖ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ ﴿۱۵۲﴾ وَاَنَّ هٰذَا صِرَاطِيْ
مُسْتَقِيْمًا فَاتَّبِعُوْهُ ۚ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ
عَنْ سَبِيْلِهٖ ۚ ذٰلِكُمْ وَصّٰىكُمْ بِهٖ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿۱۵۳﴾

دے خبرو هدایت الله تاسوته کړے دے۔ شاید چه تاسو نصیحت قبول کړئ۔

(۱۰) دا رنګه ډهغه هدایت دادے چه دا زما نیغه لاره ده نو تاسو خاص پرې باندې ځئ او په نورو لارو باندې مه ځئ، ځکه چه نورے لارے به تاسو د خدائے ډلارے نه واړوی او تاسو به خواره واره کړی۔[۱۳۵] دادے هغه هدایت چه ستاسو رب تاسو ته کړے دے شاید چه تاسو کوږ رفتار نه پرځ شئ۔

ماتوی، او الله چه د کوم څیز د ترلو حکم کړے دے هغه پریکوی او په زمکه کښ فساد خوروی ۔ هم دے وعدے ذکر ولاندې د سورة اعراف په آیت ۱۷۲ کښ راځی چه په ازل کښ الله تعالیٰ د آدم د شا ندې د هغوی اولاد راایستلے ؤو او د دا کواهی ئے ترې غښتلی وه چه آیا زه ستاسو رب نړیم؟ او هغوی اقرار کړے ؤو چه هو، موږ ته کواهان یو۔

[۱۳۵] یوه چه کومه فطری وعده ذکر شوه، نو د دغے وعدے ترڅنګه انسان له پکار دی چه د خپل رب په خولی شوی لارباندې لاړ شی، ځکه چه د هغه د حکم نه څخ آړول او خود مختاره جوړیدل یا د غیر بندګی کول دغے وعدے اولنۍ خلاف ورزی ده، او د دے خلاف ورزۍ کولو نه روستو بیا په هر قدم باندې د دغے وعدے لوظونه ماتیږی۔ د دے نه علاوه د دے نازکے اولوئ او بهیجیدو وعدے ذمه واری انسان ترهغے پورے نشی پوره کولے ترڅوچه هغه د خدائے په خولی شوی لارباندې ژوند تیر نه کړی۔ د خدائے د رهنمائی د نه قبلولو دوه لوئ نقصانات دی۔ یو دا چه بله هر یو لاره انسان د هغه لارے نه بهلوی کوی کومه چه خدائے ته د تردیکت او د هغه د رضا د حاصلولو اک یوه لاره ده۔ دویم دا چه د دغے لوئے لارے نه د لوے کید و سره بے شماره نرۍ نرۍ لارے انسان ته مخلوقات پیدا کړی چه یو ځلے په هغے لارو کښ ورک شی نو بیا بهتول انسانان خواره واره شی او د تارتار کید و سره انسان بیا خپله ترقی په خوب کښ هم نشی لیدلے۔ دا دوه نقصانونه په دے فقره کښ بیان کړے شوی دی چه "په نورو لارو باندې مه ځئ ځکه چه نورے لارے به تاسو د خدائے د لارے نه واړوی او تاسو به خواره واره کړی"۔

(د ګورئ سورة مائده حاشیه نمبر ۳۵)

ثُمَّ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ تَمَامًا عَلَى الَّذِيْٓ اَحْسَنَ وَتَفْصِيْلًا
لِّكُلِّ شَيْءٍ وَّهُدًى وَّرَحْمَةً لَّعَلَّهُمْ بِلِقَآءِ رَبِّهِمْ
يُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۵۴﴾ ع وَهٰذَا كِتَابٌ اَنْزَلْنٰهُ مُبٰرَكٌ فَاتَّبِعُوْهُ وَ
اتَّقُوْا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴿۱۵۵﴾ لا اَنْ تَقُوْلُوْٓا اِنَّمَآ اُنْزِلَ الْكِتٰبُ عَلٰى
طَآئِفَتَيْنِ مِنْ قَبْلِنَا ص وَاِنْ كُنَّا عَنْ دِرَاسَتِهِمْ
لَغٰفِلِيْنَ ﴿۱۵۶﴾ لا اَوْ تَقُوْلُوْا لَوْ اَنَّآ اُنْزِلَ عَلَيْنَا الْكِتٰبُ لَكُنَّآ

بیا موږ موسیٰؑ ته کتاب ورکړے وُو چه دَ نعمت تکمیل وُو په هغه انسان باندِ چه نیکه لارے اختیار کړی وه او دَ هر ضروری څیز تفصیل وُو او سراسر هدایت او رحمت وُو (او ددے دَ پاره بنی اسرائیلو ته ورکړے شوے وُو چه) بنا ئیږی چه خلق دَ خپل رب په مُلاقات باندِ ایمان راوړی[۱۳۶] ع او دغه شان دا کتاب موږ نازل کړے دے، چه یو برکت والا کتاب دے. پس تاسو په دے پسے روان شئ او دَ تقویٰ لار اختیار کړئ، لرے نه ده چه په تاسو باندِ رحم وکړے شی. او س تاسو دا نشئ وئیلے چه کتاب خو زموږ نه ړومبنو دوُو ډلوله ورکړے شوے وُو، او[۱۳۷] موږ هیڅ خبر نه وُو چه هغوئ پکښ څه لوستل. او اوس تاسو دا بهانه هم نشئ کولے چه که چرے په موږ باندِ کتاب نازل کړے شوے وے نو موږ به

[۱۳۶] دَ رب په مُلاقات باندِ دَ ایمان راوړلو نه مُراد دا دے چه هر سړے دا وګڼړی چه خدائے له به جواب ورکوی او بیا دَ ذمه دارئ ژوند تیره وی. دلته ددے وُوه مطلبونه کیدے شی. یو دا چه بنی اسرائیل ددے کتاب دَ حکمت نه ډک تعلیمات وګوری او دَ ذمه دارئ احساس پکښ پخپله را بیدار شی. بل دا چه عام خلق دا دَ اعلیٰ درجے ژوند وګوری او په نیکانو خلقو کښ ددے هدایت اثرات اُووینی او دا پته ورته وُلږی چه څوک دَ آخرت نه دَ انکار په وجه غیر ذمه دارانه ژوند تیروی دَ هغوئ په مقابله کښ دَ هغے خلقو ژوند په هر لحاظ سره بهتر دے چه آخرت منی او بیا دَ ذمه دارئ ژوند تیره وی، او په دے لید لوکتلو سره هغوئ دَ انکار دَ لارے نه دَ ایمان لارے ته راشی.

[۱۳۷] یعنی یهودیانو او عیسایانو له.

اَهْدٰى مِنْهُمْ ۚ فَقَدْ جَآءَكُمْ بَيِّنَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَهُدًى وَّ
رَحْمَةٌ ۚ فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ كَذَّبَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَصَدَفَ عَنْهَا ؕ
سَنَجْزِى الَّذِيْنَ يَصْدِفُوْنَ عَنْ اٰيٰتِنَا سُوْٓءَ الْعَذَابِ بِمَا كَانُوْا
يَصْدِفُوْنَ ﴿۱۵۷﴾ هَلْ يَنْظُرُوْنَ اِلَّآ اَنْ تَاْتِيَهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ اَوْ يَاْتِىَ
رَبُّكَ اَوْ يَاْتِىَ بَعْضُ اٰيٰتِ رَبِّكَ ؕ يَوْمَ يَاْتِىْ بَعْضُ اٰيٰتِ رَبِّكَ
لَا يَنْفَعُ نَفْسًا اِيْمَانُهَا لَمْ تَكُنْ اٰمَنَتْ مِنْ قَبْلُ اَوْ كَسَبَتْ
فِىْٓ اِيْمَانِهَا خَيْرًا ؕ قُلِ انْتَظِرُوْٓا اِنَّا مُنْتَظِرُوْنَ ﴿۱۵۸﴾

دَ هغوئ نه زيات په صحيح لاره ثابت شوے وے. تا سو ته ستا سو دَ رب دَ طرفنه يو روښانه دليل او هدايت او رحمت راغلے دے، اوس به دَ هغه چا نه زيات ظالم څوک وي چه دَ الله آيتونو ته دروغ ووائي او مخ تِنه واړوي.[۱۳۸] کوم خلق چه زمونږ دَ آيتونو نه مخ اړوي هغوئ له به ددے مخ اړولو په بدله کښ مونږه بد ترينه سزا ورکوو. آيا اوس دا خلق دهے خبرے انتظار کوونکي دي چه فرښتے ورته مخے ته ودريږي، يا ستا رب ورله پخپله راشي، يا ستا دَ رب ځنے څرګندے نښے ورته ښکاره شي؟[۱۳۹] په کومه ورځ چه ستا دَ رب ځنے خاص نښے ښکاره شي بيا به داسے سړي ته دَ هغه ايمان هيڅ فائده نه ورکوي چه هکښ ئے ايمان نه وي راوړے او يا چه چا په خپل ايمان کښ څه نيکي نه وي کټلي.[۱۴۰] اے محمدﷺ، دوئ ته ووايه چه ښه ده تا سو هم انتظار کوئ او مونږه هم انتظار کوو.

[۱۳۸] دَ الله دَ آيتونو نه مُراد هغه ارشادات هم دي چه دَ قرآن په شکل کښ خلقو ته وړاندے کيدل، او هغه نښے ترهم مراد دي چه دَ نبي صلی الله عليه وسلم په شخصيت کښ او دَ مومنانو په پاک ژوند کښ صفا ښکاريدلے، او دَ کائنات هغه آثار ترهم مراد دي چه قرآن دَ خپل دعوت په تائيد کښ دَ شهادت په طور پيش کول.

[۱۳۹] يعني دَ قيامت آثار، يا عذاب، يا څه بله داسے نښه چه حقيقت تر بالکل ښکاره کيږي او چه دَ هغے دَ ظاهريدو نه روستو بيا دَ امتحان او دَ ازمېښت هيڅ ضرورت پاتے نشي.

[۱۴۰] يعني دداسے نښو ليدلو نه روستو که چرے يو کافر دکفر نه توبه وباسي او ايمان راوړي نو دَ هغه دَ ايمان راوړلو فائده نشته، او که يو نافرمانه مومن خپله نافرماني پريږدي او دَ الله حکم ته غاړه کيدي نو ددے هم

اِنَّ الَّذِيْنَ فَرَّقُوْا دِيْنَهُمْ وَكَانُوْا شِيَعًا لَّسْتَ مِنْهُمْ فِيْ
شَيْءٍ ؕ اِنَّمَآ اَمْرُهُمْ اِلَى اللّٰهِ ثُمَّ يُنَبِّئُهُمْ بِمَا كَانُوْا يَفْعَلُوْنَ ﴿۱۵۹﴾
مَنْ جَآءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهٗ عَشْرُ اَمْثَالِهَا ۚ وَمَنْ جَآءَ بِالسَّيِّئَةِ

کومو خلقو چه خپل دین ټوټے ټوټے کړو او ډلے ډلے شو یقیناً چه د هغوئ سره ستا هیڅ واسطه نشته،[۱۴۱] د هغوئ معامله الله ته حواله ده. هم هغه به ورته وښائي چه هغوئ څه کړي دي. څوک چه د نیکئ سره الله ته حاضر شي نو د هغه د پاره لس چنده اجر دے، او څوک چه د بدئ سره حاضر شي

فائده نشته، ځکه چه د ایمان راوړلو او د اطاعت کولو قدر خو د هغے وخته پورے دے تر څو پورے چه حقیقت پټ وي، او خپل عمر لا سړي ته ډیر ښکاري، او په دے دُنیا کښ زه دے دوکے امکان موجود وي چه خدائے څه ته وائي آخرت چرته دے، بس خُو خوره او څکه او مزے کوه۔

[۱۴۱] خطاب نبي صلی الله علیه وسلم ته دے، او د هغه په واسطه سره بیا ټولو حق پرستو ته خطاب دے۔ د ارشاد مدّعا دا ده چه د همیشه راسے اصل دین دا دے او اوس هم دا اصل دین دے چه انسان یو خدائے خپل معبود او رب ومني۔ د الله په ذات کښ، په صفاتو کښ، په اختیاراتو کښ او په حقونو کښ څوک د هغه سره شریک نه کړي۔ الله له د جواب ورکولو په غرض په آخرت باندِ ایمان راوړي، او د هغے لویو اُصولو مطابق ژوند تیر کړي کوم چه الله تعالیٰ د خپلو رسولانو او د خپلو کتابونو په ذریعه ښودلي دي۔ دا دین ټولو انسانانو ته د اولے ورځے نه ورکړے شوے وُو۔ روستو چه بیا څو مره مذهبونه جوړ شو هغه ټول په دے طریقه جوړ شو چه په مختلفو زمانو کښ خلقو د خپل ذهن د غلطو خیالاتو نه، یا د خپل نفس د خواهشاتو د غلبے نه، یا په عقیده کښ د زیاتي کولو نه، دا دین بدل کړو او په دے کښ ئے نوے نوے خبرے شاملے کړلے۔ د دے دین په عقائدو کښ ئے د خپلو وهمونو او قیاسونو او فلسفو د وجے نه کمے زیاتے او ادلون بدلون راوستلو۔ په حکمونو کښ ئے د بدعاتو اضافے وکړلے، د ځانه ئے قانونونه جوړ کړل۔ په وړو وړو مسئلو کښ باریکئ ته لاړل، په فروعي اختلافاتو کښ ئے مبالغه وکړه۔ د اهم نه ئے غیر اهم او د غیر اهم نه ئے اهم جوړ کړل۔ په پیغمبرانو کښ او په دیني بزرګانو کښ د چا سره په عقیدت کښ د حد نه بهر وُوتل او د چا سره ئے بغض او مخالفت شروع کړو۔ په دے طریقه بے شماره مذهبونه او فرقے جوړے شولے، او هر یو مذهب او فرقه چه به پیدا کیدله نو انسانان به ئے په دوو مخالفو ډلو کښ تقسیمول۔ اوس چه څوک په اصلي دین حق پسے ځي نو د هغه د پاره دا خبره ضروري ده چه د دے ټولو ډلو نه جُدا شي او د دے ټولو نه خپله لاره جُدا کړي۔

فَلَا يُجْزٰٓى اِلَّا مِثْلَهَا وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿١٦٠﴾ قُلْ اِنَّنِيْ هَدٰىنِيْ
رَبِّيْٓ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۚ دِيْنًا قِيَمًا مِّلَّةَ اِبْرٰهِيْمَ
حَنِيْفًا ۚ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿١٦١﴾ قُلْ اِنَّ صَلَاتِيْ وَنُسُكِيْ
وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِيْ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٦٢﴾ لَا شَرِيْكَ لَهٗ ۚ
وَبِذٰلِكَ اُمِرْتُ وَاَنَا اَوَّلُ الْمُسْلِمِيْنَ ﴿١٦٣﴾ قُلْ اَغَيْرَ اللّٰهِ

نو هغه تر به هم هغومره بدله ورکړے کیدے شی څومره چه هغه قصور کړے وی، او په هیڅاباندې به ظلم نه کیږی۔

اے محمدؐ، ووایه زما رب ماته دَ یقین سره سیدا لار ښودلی ده، بالکل ټیک دین چه هیڅ کوږ والے پکښ نشته، دَ ابراهیم طریقه چه هغه دَ تولو طرفونو نه[۱۴۲] یو طرف اختیار کړے وُو او هغه دَ مشرکانو نه نه وُو۔ ووایه، زما مونځ، زما دَ عبادت[۱۴۳] طریقے، زما ژوند او زما مرګ، تول هر څه دَ الله رب العالمین دَ پاره دی چه دَ هغه هیڅوک شریک نشته۔ ماته دے حکم راکړے شوے دے او دَ تولو نه اول حکم منونکے زه یم۔ ووایه، چه آیا زه دَ الله نه بغیر

[۱۴۲] "دَ ابراهیمؑ طریقه" دا هغے لاره دَ معلومولو دَ پاره یو بل صفت دے۔ اګرچه دے ته دَ موسیٰؑ او دَ عیسیٰؑ طریقه هم وئیلے کیدے شوه۔ خو چه حضرت موسیٰؑ پورے د یهودخلقو یهودیت ترلے دے او حضرت عیسیٰؑ پورے د یهودخلقو عیسائیت ترلے دے، نو دے وجه نه ورته "دَ ابراهیم طریقه" ووئیله۔ یهودیانو او عیسایانو دواړو ته حضرت ابراهیم منلو او دواړو ته دا هم معلومه وه چه ابراهیمؑ دَ یهودیت او دَ عیسائیت دَ پیدا کیدو نه ډیر هګۍ تیر شوے وُو۔ دغه رنګه دَ عربو مشرکانو هم دا منله چه ابراهیم په نیغه لاره روان وُو، او سره دَ جهالت نه دا هم منله چه دَ کعبے بنیاد ونه کوم انسان اینبودلی وُو هغه خالص هدا پرست وُو، بُت پرست نه وُو۔

[۱۴۳] په اصل کښ لفظ "نُسُك" استعمال شوے دے چه معنیٰ ئے قربانی هم ده او دَ عبادت هر قسم طریقو ته هم وئیلے شی۔

أَبْغِي رَبًّا وَّهُوَ رَبُّ كُلِّ شَيْءٍ ۚ وَلَا تَكْسِبُ كُلُّ نَفْسٍ إِلَّا عَلَيْهَا ۚ
وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ أُخْرَىٰ ۚ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُم مَّرْجِعُكُمْ
فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ ﴿١٦٤﴾ وَهُوَ الَّذِي
جَعَلَكُمْ خَلَائِفَ الْأَرْضِ وَرَفَعَ بَعْضَكُمْ فَوْقَ بَعْضٍ
دَرَجَاتٍ لِّيَبْلُوَكُمْ فِي مَا آتَاكُمْ ۗ إِنَّ رَبَّكَ سَرِيعُ الْعِقَابِ ۖ

بل رب وګورم حالانکه هم هغه د هر څیز رب[۱۴۴] دے؟ هر څوک چه څه کتي د هغے ذمه وار هغه پخپله دے،
هیڅ یو بار وړونکے د بل بار نه وړي[۱۴۵]، بیا ستاسو د ټولو واپس تلل د خپل رب طرف ته دی، هغه
وخت به هغه ستاسو د اختلافاتو حقیقت تاسو ته بښکاره کړي. دا خو هم هغه دے چه تاسوئے د زمکے
خلیفه کان جوړ کړئ او په تاسو کښے بعضو ته د بعضو په مقابله کښ زیات درجے ورکړلے، د دے پاره
دے چه څه تاسو له درکړي دی چه په هغے کښ ستاسو ازمیښت وکړي[۱۴۶]. بیشکه
چه ستا رب په سزا ورکولو کښ هم ډیر تیز دے

[۱۴۴] یعنی د کائناتو د ټولو څیزونو رب خو الله دے، زما رب بل څوک څنګه کیدے شی؟ دا خبره
به څنګه مناسب وی چه ټول کائنات خو د الله حکومت وی او د هغه په حکم او چلیږی، او زما خپل وجود
او هم د کائناتو یو جزء په حیثیت د هغه په نظام باندې چلیږی، خو لږه د خپل اختیاری ژوند د پاره څوک
بل رب وګورم؟ آیا د ټولو کائناتو خلاف بغاوت زه په بل طرف روان شم؟

[۱۴۵] یعنی هر سړے پخپله د خپل عمل ذمه وار دے، د یو عمل ذمه وارئ په بل باندې نشته.

[۱۴۶] په دے فقره کښ درے حقیقتونه بیان شوی دی:

یو دا چه ټول انسانان په زمکه کښ د خدائے خلیفه کان دی، په دے شان سره خلیفه کان
دی چه خدائے ورله د څیزونه د امانت په طور ورکړی دی او په هغے څیزونو باندے ورله
د تصرف کولو اختیارات ورکړی دی.

دویم دا چه په دے خلیفه کانو کښ د مرتبو فرق هم الله کړے دے، د چا په امانت کښ ډیر
څیزونه دی او د چا کم، چا له ډیر اختیارات درکړی دی او چا له کم، چا له د کار کولو
زیات طاقت ورکړے دے او چا له کم، او څنګه انسانان هم د خپلو انسانانو په امانت کښ دی.



وَاِنَّهٗ لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۶۵﴾ ع

اوډیر بخښونکے او رحم کونکے هم دے. ع

دریمه دا چه دا ټول هرڅه په اصل کښ دَ امتحان سامان دے، ټول ژوند دَ امتحان یوځائ دے، او چاله چه څه الله ورکړی دی هم په هغے کښ دَ هغه امتحان دے چه هغه څنګه دَ خدائے امانت استعمال کړو، ترڅو مرد پورے ئے دَ امانت حق ادا کړو، او دَ کوم حده پورے ئے دَ خپل قابلیت ثبوت ورکړو. هم په دے امتحان باندِ دَ ژوند په دویمه مرحله کښ دَ انسان درجے مقرر یږی.





تشریح: حضرت ابراهیم پہ عراق کښے پہ اُر نو ځائے کښے پیدا شو. د دور نه د چکیدو نه روستو هغه خپل وطن پریښودو او حران (یا حاران) ته لاړو. بیا د هغه ځائے فلسطین ته لاړو. او پہ بیت ایل، حبرون او بیرشبع کښے ئے د خپل دعوت مرکز ونه قائم کړل. بیا ئے د بحر لوط پہ نمر خانه کښے خپل وراره حضرت لوط پہ تبلیغ مقرر کړو. او خپله مصر ته لاړو چه پہ هغه زمانه کښے د عراق نه روستو دویم غټ وطن وو خو. پته نه لګی چه پہ مصر کښے ئے هم تبلیغی کار شروع کړے وو او که نه. د دے نه روستو هغه بیا حجاز ته لاړو او پہ مکه کښے ئے بیت الله شریف جوړ کړو او خپل خوئے حضرت اسماعیل علیه السلام ته ئے د هغے خدمت حواله کړو. بیا پہ فلسطین کښے ئے حبرون ځان له مستقل مرکز مقرر کړو او هم دلته وفات شو. د هغه نه روستو د هغه دویم خوئے حضرت اسحق علیه السلام پہ دغه مرکز کښے د هغه پہ ځائے کښاستو او د هغه نه د میراث حضرت یعقوب علیه السلام ته وریدو.

دَجنگ اُحد نقشہ



د بنی اسرائیلو په صحرا کښے کړځیدل

صفحه ۴۶۰ - ۴۶۱



تشریح: حضرت موسیٰ علیه السلام بنی اسرائیلو ته د مصر څخه روان کړل او د سینا په جزیره نما کښ د صحارا د تیه نومیدونکی پرلاړه باندے د سینا غرنۍ راوستل. او دلته یو کال نه څه لږه موده زیاته پاتے وه خو بنی اسرائیل د تورات د پرحکمونه دلته په موسیٰ باندے نازل شو. بیا ورته حکم وشو چه بنی اسرائیل فلسطین طرفته بوځه. او فلسطین فتح کړئ خکه چه هغه تاسولره پرمیراث کښ درکړے شوے دے. نو حضرت موسیٰ بنی اسرائیل د تجهیز او دفعیتو پرلاړه د فاران صحرا ته راوستل. او دے خائے نه یوځه جرګه د حالاتو معلومولو پاره فلسطین ته ولیږلے نه. د جرګه قائدین ته واپس راغله او د فلسطین د حالاتو پورتنے پیش کړو. د حضرت یوشع او د کالب نه علاوه د جرګے هر سړی دا سے خبرے وکړے چه بنی اسرائیلو د ویرے نه د فلسطین د نلولو نه انکار وکړو. پس دهغے نه الله تعالیٰ حکم وکړه چه دوئ به د څلویښتو کالو پورے پورے دے علاقه کښ سرګردان کړے شی. او د یوشع او د کالب نه علاوه به دوئ د فلسطین علاقه نه ویني. پدے وجه دوئ کښ بنی اسرائیل د فاران په صحرا کښ د شور په بیابان کښ او د سینا په دشت کښ سرګردانی کوهلی. او د عمالقه، اموریانو، او د میانو، دیابنیانو او د مواب د خلقو سره به ځکړے کوے. چه څلویښت کاله پدیدې وتنه نزدے شو نو د اردن د سرحد څنګه نزدے د هور په غر باندے حضرت هارون فوت شو. بیا حضرت موسیٰ د بنی اسرائیلو سره د مواب علاقه تیره. خو شو. او د اموریانو علاقه یے فتح کړله او د حسبون او شطیم تر ځایه پورے. د شه د دیا په غر باندے حضرت موسیٰ فوت شو او د هغه ځائے نه یوشع خلیفه حضرت موسیٰ د یردن سره پورے وتو. او د یریحو اریحا بنارته نژدے د فلسطین د بنے بنار څخه بنی اسرائیلو په قبضه کښ راغله. او بیا په لږه مودے کښ تول فلسطین فتح شو.

په دے نقشه کښ ایدے چه پخوانه نوم د بلدات او (بنے نوم د عقبه) هغه ځائے دے چه بنی کښ د اصحاب السبت هغه مشهوره واقعه شوې وه چه د هغے ذکر د سورة بقره په اته دیرشمه کوع کښ او د سورة اعراف په یو ویشتمه رکوع کښ راغلے دے.